تاج

# تاج البخاری

## پښتو شرح صحیح البخاری








شارح: مولانا ظهور الباری اعظمی فاضل دارالعلوم دیوبند

پښتو ترجمه: مولانا محمد امین درانی

نظرثانی: حافظ قاری فضل کریم

اهتمام: دکتور محمد دین البشاوری

(رجسٹرڈ)
تاج کتب خانہ قصہ خوانی پشاور پاکستان


www
Maktaba Tul Ishaat .com




# جلد ۴ پاره ۱٦ تا ۲۰

شارح: مولانا ظهور الباری اعظمی فاضل دارالعلوم دیوبند

پښتو ترجمه: مولانا محمد امین درانی

نظرثانی: حافظ قاری فضل کریم

اهتمام: دکتور محمد دین البشاوری

تاج کتب خانه رجسٹرڈ

قصه خوانی پشاور
فون: 214454

C-20

# تاج البخاري پاره ۱۶ دمضامینو فهرست



تمت

# شپاړلسمه پاره

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## كِتَابُ الْمَغَازِيْ

## (دَ نبي اکرم ﷺ دَ غزاګانو بیان)

**باب ۱: غَزْوَةِ الْعُشَيْرَةِ اَوِ الْعُسَيْرَةِ** قَالَ ابْنُ اِسْحٰقَ اَوَّلُ مَا غَزَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْاَبْوَاءُ ثُمَّ بُوَاطُ ثُمَّ الْعُشَيْرَةُ.

**باب ۱: جنګ عشیره یا عسیره.** ابن اسحاق وائي، نبي صلی الله علیه وسلم ورمبنے د ابوآء غزا اوکړله. بیا دَ بواط بیا د عشیره.

۱: حَدَّثَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ ابْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا وَهْبٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ اَبِيْ اِسْحٰقَ كُنْتُ اِلٰى جَنْبِ زَيْدِ بْنِ اَرْقَمَ فَقِيْلَ لَهُ كَمْ غَزَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَزْوَةٍ قَالَ تِسْعَ عَشَرَةَ قِيْلَ كَمْ غَزَوْتَ اَنْتَ مَعَهُ قَالَ سَبْعَ عَشَرَةَ قُلْتُ فَاَيُّهُمْ كَانَتْ اَوَّلَ قَالَ الْعُسَيْرَةُ اَوِ الْعُشَيْرَةُ فَذَكَرْتُ لِقَتَادَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَقَالَ الْعُشَيْرَةُ.

۱: عبدالله بن محمد. وهب. شعبه. ابو اسحاق نه روایت کوي، ابو اسحاق. زید بن ارقم سره ناست وو. چا ترے تپوس اوکړ، رسول الله صلي الله علیه وسلّم څومره غزاګانے کړے دي، هغۀ جواب ورکړ، نورلس بیا ترے تپوس اوشو، چه تاسو څو ځله رسول الله صلي الله علیه وسلّم سره غزاګانو کښې شرکت کړے دے، نو جواب ورکړ، اوولسو کښې. ابو اسحاق وائي، ما تپوس اوکړ، دَ ټولونه مخکښې کومه غزا واقع شوے وه، نوے فرمائیل، عسیره یا عشیره. شعبه وائي، ما دا خبره د قتاده نه اوپښتۀ، نو هغۀ جواب راکړ، عشیره.

**باب ۲: ذِكْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يُقْتَلُ بِبَدْرٍ.**

**باب ۲: دَ بدر دَ مقتولین متعلق دَ نبي اکرم صلي الله علیه وسلّم فرمان.**

۲: حَدَّثَنِيْ اَحْمَدُ بْنُ عُثْمَانَ حَدَّثَنَا شُرَيْحُ ابْنُ مَسْلَمَةَ حَدَّثَنَا اِبْرٰهِيْمُ بْنُ يُوْسُفَ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ اَبِيْ اِسْحٰقَ قَالَ حَدَّثَنِيْ عَمْرُو بْنُ مَيْمُوْنٍ

۲: احمد بن عثمان. شریح بن مسلمه. ابراهیم بن یوسف بن اسحاق. ابو اسحاق سبیعي نه روایت کوي، عمرو بن میمون ماته اووے، عبدالله بن مسعودؓ نه ما آوریدلے دي، دَ سعد بن معاذ او اُمیه بن خلف مینځ کښې کلکه دوستي وه. اُمیه چه به مدینے ته راتۀ، نو دَ سعد

اَنَّهُ سَمِعَ عَبْدَ اللّٰهِ ابْنَ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ حَدَّثَ عَنْ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ اَنَّهُ قَالَ كَانَ صَدِيْقًا لِاُمَيَّةَ بْنِ خَلَفٍ وَ كَانَ اُمَيَّةُ اِذَا مَرَّ بِالْمَدِيْنَةِ نَزَلَ عَلٰى سَعْدٍ وَ كَانَ سَعْدٌ اِذَا مَرَّ بِمَكَّةَ نَزَلَ عَلٰى اُمَيَّةَ فَلَمَّا قَدِمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِيْنَةَ انْطَلَقَ سَعْدٌ مُعْتَمِرًا فَنَزَلَ عَلٰى اُمَيَّةَ بِمَكَّةَ فَقَالَ لِاُمَيَّةَ انْظُرْ لِيْ سَاعَةَ خَلْوَةٍ لَعَلِّيْ اَنْ اَطُوْفَ بِالْبَيْتِ فَخَرَجَ بِهٖ قَرِيْبًا مِنْ نِصْفِ النَّهَارِ فَلَقِيَهُمَا اَبُوْ جَهْلٍ فَقَالَ يَا اَبَا صَفْوَانَ مَنْ هٰذَا مَعَكَ فَقَالَ هٰذَا سَعْدٌ فَقَالَ لَهٗ اَبُوْ جَهْلٍ اَلَا اَرٰكَ تَطُوْفُ بِمَكَّةَ اٰمِنًا وَّقَدْ اٰوَيْتُمُ الصُّبَاةَ وَ زَعَمْتُمْ اَنَّكُمْ تَنْصُرُوْنَهُمْ وَ تُعِيْنُوْنَهُمْ اَمَا وَاللّٰهِ لَوْلَا اَنَّكَ مَعَ اَبِيْ صَفْوَانَ مَا رَجَعْتَ اِلٰى اَهْلِكَ سَالِمًا فَقَالَ لَهٗ سَعْدٌ وَّ رَفَعَ صَوْتَهٗ عَلَيْهِ اَمَا وَاللّٰهِ لَئِنْ مَنَعْتَنِيْ هٰذَا لَاَمْنَعَنَّكَ مَا هُوَ اَشَدُّ عَلَيْكَ مِنْهُ طَرِيْقَكَ عَلَى الْمَدِيْنَةِ فَقَالَ لَهٗ اُمَيَّةُ لَا تَرْفَعْ صَوْتَكَ يَا سَعْدُ عَلٰى اَبِي الْحَكَمِ سَيِّدِ اَهْلِ الْوَادِيْ فَقَالَ

مکان کښې به پاتې کیدو' او سعد بن معاذ چه به مکې ته راتـهٔ نـو اُمیـه سره به ئې قیام کولو' د هجرت نه پس چه رسـول اکـرم صـلي الـلـه عـلیه وسلم د مکې نه تشریف راوړلـو نـو سـعـد بن معاذ یو ځل عُمرې د پاره مدینې نه مکې تـه لاړلـو. او حسـب سـابقه اُمیه سره مقیم شولو' اووې فـرمـانیـل' اُمیـه مـاته څهٔ د سکون او تنهائي وخت اوښـایـه' چه زهٔ اطمینان سره د کعبې طواف او کړې شم' نـو اُمیه د تکنه غرمې په وخت سعد خان سره کهٔ' د کور نـه اووتـلـو. لار کـښې ابـو جهل دواړه اولیدل' تپوس ئې ترې او کهٔ اې ابو صفوان (اُمیه) تاسره څوک دې. اُمیه جـواب ورکـهٔ. دا سـعـد دې. ابـوجـهـل' سعد طرف تـه مـخـاطب شو' اوونیلې' څومره بې خوفې سره مکې کښې ګـرځې او طواف کوې' زهٔ دې وینم. او تا دین بدلونکو تـه خپـل مـلـک کـښې اطـمینـان سره ذ اوسیدو موقعه ورکـړې ده. او ذ هغوي مـدد او حـمایت هم کوې' په خـدائـې م دې قسم وي' کـه تهٔ د ابو صفوان ملګرې نهٔ وې' نو خپل کور والو ته سلامت نهٔ شوې واپس کیدې. حـضرت سعد ابو جهل ته اوچت آواز سره جواب ورکهٔ' خـدائـې ګـواه دې' کـه تـا زهٔ ذ طواف نه منع کړم' نو یاد سـاتـه' زهٔ بـه سـتـا هغه لار اونیسم' چه ذ دې نه به هم تاته ګرانه شي' یعني تهٔ به ذ مدینې نه ذ شام په طرف نهٔ شې تیریـدې. اُمیـه حـضـرت سـعد ته اووې' دا ابو الحکم د مکې سـردار دې. دهٔ سره په مزه (رو) خبره کوه. سعد اووې' اې اُمیـه' اوس زیات حمایت مهٔ کوه' په خدائې م دې قسـم وي' مـا ذ رسـول الـلـه صلي الله علیه وسلم نه آوریدلې دي' چه مسلمانان به قاتل تا قتلوي. اُمیه اووې'

سَعْدُ دَعْنَا عَنْكَ يَا أُمَيَّةُ فَوَاللّٰهِ
لَقَدْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى
اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ
اِنَّهُمْ قَاتِلُوْكَ قَالَ بِمَكَّةَ قَالَ لَا
اَدْرِيْ فَفَزِعَ لِذٰلِكَ أُمَيَّةُ فَزَعًا
شَدِيْدًا فَلَمَّا رَجَعَ أُمَيَّةُ اِلٰى اَهْلِهٖ
قَالَ يَا اُمَّ صَفْوَانَ اَلَمْ تَرَىْ مَا قَالَ
لِيْ سَعْدٌ قَالَتْ وَمَا قَالَ لَكَ قَالَ
زَعَمَ اَنَّ مُحَمَّدًا اَخْبَرَهُمْ اَنَّهُمْ
قَاتِلِيَّ فَقُلْتُ لَهُ بِمَكَّةَ قَالَ لَا اَدْرِيْ .
فَقَالَ أُمَيَّةُ وَاللّٰهِ لَا اَخْرُجُ مِنْ مَّكَّةَ
فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ بَدْرٍ اِسْتَنْفَرَ اَبُوْ جَهْلٍ
النَّاسَ قَالَ اَدْرِكُوْا عِيْرَكُمْ فَكَرِهَ أُمَيَّةُ
اَنْ يَّخْرُجَ فَاَتَاهُ اَبُوْ جَهْلٍ فَقَالَ يَا اَبَا
صَفْوَانَ اِنَّكَ مَتٰى مَا يَرَاكَ النَّاسُ قَدْ
تَخَلَّفْتَ وَ اَنْتَ سَيِّدُ اَهْلِ الْوَادِيْ
تَخَلَّفُوْا مَعَكَ فَلَمْ يَزَلْ بِهٖ اَبُوْ جَهْلٍ
حَتّٰى قَالَ اَمَا اِذَا غَلَبْتَنِيْ فَوَاللّٰهِ
لَاَشْتَرِيَنَّ اَجْوَدَ بَعِيْرٍ بِمَكَّةَ قَالَ اُمَيَّةُ
يَا اُمَّ صَفْوَانَ جَهِّزِيْنِيْ فَقَالَتْ لَهُ يَا اَبَا
صَفْوَانَ وَقَدْ نَسِيْتَ مَا قَالَ لَكَ اَخُوْكَ
الْيَثْرِبِيُّ قَالَ لَا مَا اُرِيْدُ اَنْ اَجُوْزَ
مَعَهُمْ اِلَّا قَرِيْبًا فَلَمَّا خَرَجَ اُمَيَّةُ اَخَذَ لَا
يَنْزِلُ مَنْزِلًا اِلَّا عَقَلَ بَعِيْرَهٗ فَلَمْ يَزَلْ
بِذٰلِكَ حَتّٰى قَتَلَهُ اللّٰهُ عَزَّ وَ جَلَّ
بِبَدْرٍ .

آیا په مکه کښې به م قتلوي' هغه اووے . زهٔ نهٔ پوهیږم.
اُمیه چه د سعد دا خبره واوریده' نو ډیر اُویریدو' کله چه
اُمیه خپل کور ته لاړو' نو وے ونیلے' اے اُم صفوان' تا د
سعد خبره واوریده . هغې اووے ولے تاته سعد څهٔ ونیلے
دي' اُمیه اووے' سعد وائي' د محمدﷺ بیان دے چه
مسلمانان به تا وژني' نو ما هغهٔ ته اووے په مکه کښې' نو
هغه اووے' زهٔ نهٔ پوهیږم' نو اُمیه قسم اوخوړو چه ذ مکے
نه به بهر ته اونه خم۔ کله چه د بدر ورځ شوه' نو
ابوجهل خپلو سړو ته اُووے چه د جنګ د پاره اُوځئ'
خپله قافله بچ کړئ. اُمیه ذ مکے نه بهرته وتل خوښ نهٔ
کړل (ځکه چه هغه سره ذ خپل خان ویره وه) لیکن
ابوجهل هغه له راغے او ورته ئے اووے' تهٔ خو ددے
وادي سردار ئے. که خلق دے اوګوري چه تهٔ نهٔ اوځے
نو هیڅوک به اونه ځي. غرض دا چه ابوجهل هغه پوئے
کړو' آخر (مجبور شو) اُمیه اووے چه تهٔ په هیڅ شان نهٔ
منے (یعني ما خامخا بوځې) نو په خدائے م دے قسم وي
چه یو داسے تیزے منډے واله ښ . اوښ به واخلم' چه ذ
هغے ثاني مکه کښې نه وي. بیا اُمیه اُم صفوان ته اووے
چه خما د سفر سامان تیار کړه' هغې اووے' اے ابو
صفوان' آیا تانه د مدینے واله رور (سعد) خبره هیره
شوه. هغهٔ اووے' نه' مانه' نهٔ ده هیره شوے. مګر لږ خائے
پورے دے خلقو سره خم. کله چه اُمیه اووتلو' نو په لار
کښې به چه چرته کوزیدلو نو اُوښ به ئے خان سره تړلو
(یعني چه د منډے موقع د لاس نه اونه ځي) هغهٔ به برابر
داسے احتیاط کولو. حتي چه اللّٰه تعالي هغه اووژلو په
بدر کښې.

۱. د مکے خلق به شام ته تجارت د پاره تلل او د هغوی لاره به په مدینے باندے وه، چونکه د مکے د معاش دارومدار د شام په تجارت باندے وو په دے وجه قدرتي طور سره دا بندش به د هغوی د مرګ او ژوند سوال جوړ شوے وو.

۲. د حضور اکرم صلي الله علیه وسلّم ژبے مبارکے نه به چه کوم الفاظ هم اووتل هغه به رښتیا وو، او قریشو د هغے د صداقت همیشه تجربه کړے وه. دا خو محض یو ضد وو چه د حضورؐ د مخالفت نه باز نه راتلل، او د حضورؐ دعوت نه اعراض ئے ضروري ګڼړلو. شعوري طور باندے هم هغوئ پاک حضرتؐ رښتینے ګنړلو. همدا وجه وه چه د حضورؐ پیشین ګوئي اوریدلو سره په اُمیه باندے ویره راغله او د مدینے نه بهر نه وتلو لوظ ئے کړے وو.

بـــــــاب۳: قِـــــصَّةِ غَـــــزْوَةِ بَـــدْرٍ. وَ قَـــوْلِ اللّٰهِ تَـعَـالٰـي وَلَـقَـدْ نَـصَرَكُمُ اللّٰـهُ بِبَـدْرٍ وَ اَنْتُـمْ اَذِلَّةٌ فَـاتَّـقُوا اللّٰـهَ لَـعَـلَّـكُـمْ تَشْـكُـرُوْنَ اِذْ تَـقُـوْلُ لِـلْـمُـؤْمِنِيْـنَ اَلَـنْ يَّـكْـفِيَـكُـمْ اَنْ يَّـمُـدَّكُـمْ رَبُّـكُـمْ بِثَـلٰثَةِ اٰلَافٍ مِّـنَ الْـمَـلٰٓـئِـكَةِ مُـنْـزَلِيْـنَ بَـلٰـى اِنْ تَـصْبِـرُوْا وَ تَتَّـقُـوْا وَ يَـاْتُـوْكُـمْ مِّـنْ فَـوْرِهِـمْ هٰـذَا يُـمْـدِدْكُـمْ رَبُّـكُـمْ بِـخَـمْسَةِ اٰلَافٍ مِّـنَ الْـمَـلٰٓـئِـكَةِ مُسَوِّمِيْـنَ وَمَـا جَـعَـلَـهُ اللّٰـهُ اِلَّا بُشْـرٰى لَـكُـمْ وَ لِتَـطْـمَـئِـنَّ قُـلُـوْبُـكُـمْ بِـهٖ وَمَـا الـنَّـصْـرُ اِلَّا مِـنْ عِنْدِ اللّٰهِ الْـعَـزِيْـزِ الْـحَـكِيْـمِ لِيَـقْـطَـعَ طَـرَفًـا مِّـنَ الَّـذِيْـنَ كَـفَـرُوْا اَوْ يَـكْـبِتَهُـمْ فَيَـنْـقَـلِبُـوْا خَـآئِبِيْـنَ وَ قَـالَ وَحْشِيٌّ قَـتَـلَ حَـمْـزَةُ

باب۳: ذَ بدر ذَ غزا قِصَه. او ذَ الله تعالٰي قول (سوره اٰل عمران) او خامخا په تحقیق سره مدد کړے وو له تاسے سره الله تعالٰي ذَ بدر په جنګ کښ، څه وخت چه تاسو عاجزان (کمزوري) وئ. پس اویریږئ له الله تعالٰي نه، ښائیږي چه تاسو شکر اوباسئ. یاد که هغه وخت (اے پیغمبرهٔ) چه تا اوونیل مؤمنانو ته چه آیا بس به نهٔ شي ستاسے دا چه مدذ اوکړي له تاسے سره رب ستاسے په درے زره سره له ملائکو نه چه رالیږلے شوے وي له پاسه هاؤ بس به شي که تاسو صبر اوکړئ او پرهیزګاري اوکړئ، او راشي دا کافران تاسے لره له قهره ذَ دوي نه چه دا دے نو مدد به اُوکړي لهٔ تاسو سره رب ستاسے په پنځو زرو سره له ملائکو نه چه علامه دارے به وي او نهٔ وو ګرځولے دا مدد الله تعالٰي مګر زیرے تاسو لره او ذَ پاره ذَ دے چه په آرام شي زړونه ستاسے په دے باندے، اونهٔ دے دا مدد مګر له طرفه ذَ الله تعالٰي نه چه غالب دے ښتن ذَ حکمت دے ذَ پاره ذَ دے چه پریکړي دے یو ټولے له هغه کسانو نه چه کافران شوي دي او یائے خوار کړي، پس وګرځي دوئ نا اُمیده له خپل یرے نه. او وحشي (بن حرب وحشي) اووے،

طُعَيْمَةَ بْنَ عَدِيّ ابْنِ الْخِيَارِ يَوْمَ بَدْرٍ وَ قَوْلُهُ تَعَالٰى وَ اِذْ يَعِدُكُمُ اللّٰهُ اِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ اَنَّهَا لَكُمْ الْآيَةَ.

حضرت حمزةؓ دَ بدر په ورځ طعیمه بن عدي بن خیار اووژلو. او اللّٰه تعالٰي اوفرمائیل' مسلمانانو' هغه وخت یاد کړئ کله چه اللّٰه تعالٰي تاسو نه دَ دوو ډلو نه دَ یوے وعده کوله یو به تاسوته ضرور ملاویږي. آخر پورے.

۳: حَدَّثَنِيْ يَحْيٰى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ ابْنِ عَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ كَعْبٍ اَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ ابْنِ كَعْبٍ قَالَ سَمِعْتُ كَعْبَ ابْنَ مَالِكٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَقُوْلُ لَمْ اَتَخَلَّفْ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَزْوَةٍ غَزَاهَا اِلَّا فِيْ غَزْوَةِ تَبُوْكَ غَيْرَ اَنِّيْ تَخَلَّفْتُ عَنْ غَزْوَةِ بَدْرٍ وَلَمْ يُعَاقَبْ اَحَدٌ تَخَلَّفَ عَنْهَا اِنَّمَا خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرِيْدُ عِيْرَ قُرَيْشٍ حَتّٰى جَمَعَ اللّٰهُ بَيْنَهُمْ وَ بَيْنَ عَدُوِّهِمْ عَلٰى غَيْرِ مِيْعَادٍ.

۳: یحیٰي بن بکیر. لیث. عقیل. ابن شهاب. عبدالرحمٰن بن عبدالله بن کعب. دَ هغهٔ پلار عبدالله بن کعب' ما دَ خپل پلار کعب بن مالک نه واوریدل' هغهٔ اووے' زهٔ په هر جنګ کښ حضور صلي اللّٰه علیه وسلّم سره شامل شوے یم. روستو نه یم پاتے شوے' علاوه دَ جنګِ تبوک نه. پاتے شو جنګ بدر' نو هغه اتفاقیه طور سره واقع شوے وو' دَ جنګ کولو نیت نهٔ وو' نو کوم خلق چه ورستو پاتے شوے وو' په هغوي اللّٰه تعالٰي عتاب نهٔ دے فرمائیلے' هغه وخت خو رسول اللّٰه صلي اللّٰه علیه وسلّم دَ قریشو دَ قافلے په خیال وتلے وو' خو بے طمعے' دَ مسلمانانو او دَ دُشمنانو په مینځ کښ جنګ راغے.

بَابٌ ۴: قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى اِذْ تَسْتَغِيْثُوْنَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ اَنِّيْ مُمِدُّكُمْ بِاَلْفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُرْدِفِيْنَ وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ اِلَّا بُشْرٰى وَلِتَطْمَئِنَّ بِهٖ قُلُوْبُكُمْ وَمَا النَّصْرُ اِلَّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ اِذْ يُغَشِّيْكُمُ النُّعَاسَ اَمَنَةً مِّنْهُ وَ يُنَزِّلُ عَلَيْكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَآءً

باب ۴: دَ اللّٰه تعالٰي ارشاد' چه کوم وخت تاسو خپل مالک ته فریاد کولو' هغهٔ ستاسو فریاد واوریدلو. بیائے اوفرمائیل' زهٔ به مسلسل یو زر فریښتے دراولیږم' ستاسو امداد به اوکړم' او مدد چه الله اوکهٔ' هغه صرف ستاسو دَ خوشحالولو او ستاسو دَ زړهٔ دَ تسلّي دَ پاره وو' کني اصل فتح خو دَ خدائے دَ طرف نه ده' ځکه چه الله تعالٰي زبردست او حکمت واله دے. دا هغه وخت وو' چه اللّٰه تعالٰي ستاسو دَ بے خوفه کولو دَ پاره باران او

لِيُطَهِّرَكُمْ بِهِ وَ يُذْهِبَ عَنْكُمْ رِجْزَ الشَّيْطٰنِ وَلِيَرْبِطَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ وَ يُثَبِّتَ بِهِ الْاَقْدَامَ اِذْ يُوْحِيْ رَبُّكَ اِلَى الْمَلٰٓئِكَةِ اَنِّيْ مَعَكُمْ فَثَبِّتُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا سَاُلْقِيْ فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا الرُّعْبَ فَاضْرِبُوْا فَوْقَ الْاَعْنَاقِ وَاضْرِبُوْا مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ شَآقُّوا اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهُ وَمَنْ يُّشَاقِقِ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهُ فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ.

وررولو چه تاسو نه د شيطان وسوسه لرې كړي او ستاسو زړونه محكم شي او تاسو ثابت قدم پاتې شئ. اې محمده! كوم وخت چه ستا رب فرېښتو ته حكم وركړ چه زه تاسو سره يم تاسو ورشئ د مسلمانانو زړونه مضبوط كړئ زه د كافرو په زړونو كښې رُعب كينوم تاسو د هغوي كردنونه او جوړ جوړ وهئ د هغوي دغه سزا ده خكه چه هغوي الله او د هغه رسول سره مخالفت كړې دې. او څوک چه د الله او رسول مخالفت اوكړي هغه له په دې پوهيدل پكار دي چه د الله عذاب ډير سخت دې.

۴: حَدَّثَنَا اَبُوْ نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا اِسْرَآئِيْلُ عَنْ مُخَارِقٍ بْنِ شِهَابٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ مَسْعُوْدٍ يَّقُوْلُ شَهِدْتُّ مِنَ الْمِقْدَادِ بْنِ الْاَسْوَدِ مَشْهَدًا لَاَنْ اَكُوْنَ صَاحِبَهُ اَحَبُّ اِلَيَّ مِمَّا عُدِلَ بِهِ اَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَدْعُوْ عَلَى الْمُشْرِكِيْنَ فَقَالَ لَا نَقُوْلُ كَمَا قَالَ قَوْمُ مُوْسٰى اِذْهَبْ اَنْتَ وَ رَبُّكَ فَقَاتِلَا وَلٰكِنَّا نُقَاتِلُ عَنْ يَّمِيْنِكَ وَ عَنْ شِمَالِكَ وَ بَيْنَ يَدَيْكَ وَ خَلْفَكَ فَرَاَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَشْرَقَ وَجْهُهُ وَ سَرَّهُ يَعْنِيْ قَوْلَهُ.

۴: ابو نعيم. اسرائيل بن يونس. مخارق بن عبدالله بجلي. طارق بن شهاب نه روايت كوي ما د ابن مسعود نه واوريدل هغه فرمائيل ما د مقداد بن اسود نه يو داسې خبره آوريدلې ده كه هغه ماته حاصله شوې وې نو د هغې مقابله كښې به ما د دُنيا هيڅ نعمت محبوب كړې نه وو. هغه خبره داده چه رسول الله صلي الله عليه وسلّم مسلمانانو ته كافرو سره د جنګ كولو ترغيب وركولو دې كښې مقداد راغې او هغه عرض اوكه يا رسول الله مونږ داسې نه وايو څنګه چه د موسيٰ قوم وئيلې وه چه ته او ستا خدائې لاړ شئ او عمالقه قوم سره جنګ اوكړئ بلكه مونږ به ستاسو ښي كس او مخكښې او روستو جنګيږو. ابن مسعود فرمائي د مقداد دې خبرې سره د رسول الله صلي الله عليه وسلّم مخ مبارک اوځليدلو او د مقداد په دې جواب حضور صلي الله عليه وسلّم خوشحاله شو.

۵: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ

۵: محمد بن عبدالله بن حوشب. عبدالوهاب.

عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ حَوْشَبٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ بَدْرٍ اَللّٰهُمَّ اَنْشُدُكَ عَهْدَكَ وَ وَعْدَكَ اَللّٰهُمَّ اِنْ شِئْتَ لَمْ تُعْبَدْ فَاَخَذَ اَبُوْبَكْرٍ بِيَدِهٖ فَقَالَ حَسْبُكَ فَخَرَجَ وَهُوَ يَقُوْلُ سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَ يُوَلُّوْنَ الدُّبُرَ.

خالد. عكرمه. عبدالله بن عباسؓ نه روايت كوي' حضورؐ د بدر په ورځ اوفرمائيل يا الله' زۀ تاته سوال كوم' چه تۀ خپله وعده او اقرار پوره كړے' يا الله' كه تۀ غواړے' چه په مونږ كافر غالب شي' نو بيا به په زمكه ستا عبادت نۀ كيږي. حضورؐ دغه قدرے فرمائيلي وو' چه حضرت ابوبكرؓ د حضورؐ لاس مبارك اونيولو' او عرض ئے اوكړ' يا رسول الله' بس كړئ دے نه پس حضورؐ دے ونيلو سره تشريف راوړلو' عنقريب كافر به شكست اوخوري' او مخ په شا' به اوتښتي.

**باب ۵ :**

**باب ۵ :** (د دے باب څۀ سرخي نشته).

۶ : حَدَّثَنِيْ اِبْرَاهِيْمُ بْنُ مُوْسٰى اَخْبَرَنَا هِشَامٌ اَنَّ ابْنَ جُرَيْجٍ اَخْبَرَهُمْ قَالَ اَخْبَرَنِيْ عَبْدُ الْكَرِيْمِ اَنَّهٗ سَمِعَ مِقْسَمًا مَوْلٰى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الْحَارِثِ يُحَدِّثُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّهٗ سَمِعَهٗ يَقُوْلُ لَا يَسْتَوِى الْقَاعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ عَنْ بَدْرٍ وَّ الْخَارِجُوْنَ اِلٰى بَدْرٍ.

۶ : ابراهيم بن موسي. هشام. ابن جريج. عبدالكريم بن مالك. مقسم (د عبدالله بن حارث غلام) عبدالله بن عباسؓ نه روايت كوي' حضورؐ اوفرمائيل' د دے آيت: لا يستوى القاعدون من المؤمنين: نه مراد دا دے' چه جنگ بدر كښ شامليدونكي او كورونو كښ ناسته كونكي مرتبه كښ برابريدے نشي.

**باب ۶ : عِدَّةُ اَصْحَابِ بَدْرٍ.**

**باب ۶ :** د بدر د غزا' د شركاؤ د تعداد بيان.

۷ : حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ اَبِيْ اِسْحٰقَ عَنِ الْبَرَآءِ قَالَ اسْتُصْغِرْتُ اَنَا وَابْنُ عُمَرَؓ.

۷ : مسلم بن ابراهيم. شعبه. ابو اسحاق. براء بن عازب نه روايت كوي' زۀ او عبدالله ابن عمر د بدر جنگ كښ واړۀ او كڼرلے شو (يعني جنگ كښ شامل نۀ كړے شو).

۸ : حَدَّثَنِيْ مَحْمُوْدٌ حَدَّثَنَا وَهْبٌ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ اَبِيْ اِسْحٰقَ عَنِ

۸ : محمود. وهب. شعبه. ابو اسحاق. حضرت براء نه روايت كوي' زۀ او ابن عمرؓ دواړه د بدر جنگ

الْبَرَآءِ قَالَ اسْتُصْغِرْتُ اَنَا وَ ابْنُ عُمَرَ يَوْمَ بَدْرٍ وَّ كَانَ الْمُهَاجِرُوْنَ يَوْمَ بَدْرٍ نِيِّفًا عَلٰى سِتِّيْنَ وَالْاَنْصَارُ نِيِّفًا وَّ اَرْبَعِيْنَ وَ مِائَتَيْنِ.

كښې كم عمره اګڼرلے شو. او دے جنګ كښې د مهاجرينو تعداد څۀ د پاسه شپيته وو، او دوه سوه څلويښت څه د پاسه انصار وو (چه د مدينے باشندګان وو).

٩ : حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا اَبُوْ اِسْحٰقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ يَقُوْلُ حَدَّثَنِيْ اَصْحَابُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا اَنَّهُمْ كَانُوْا عِدَّةَ اَصْحَابِ طَالُوْتَ الَّذِيْنَ جَاوَزُوْا مَعَهُ النَّهَرَ بِضْعَةَ عَشَرَ وَ ثَلٰثَ مِائَةٍ قَالَ الْبَرَاءُ لَا وَاللّٰهِ مَا جَاوَزَ مَعَهُ النَّهَرَ اِلَّا مُؤْمِنٌ.

٩ : عمرو بن خالد. زهير بن معاويه. ابو اسحاق. براء بن عازب نه روايت كوي، هغه فرمائي، ماته د حضورؐ اصحابو بيان اوكۀ، چه جنګ بدر كښې حاضريدونكي د هغے اصحاب طالوت برابر وو، چه نهر باندے پوريوتلے وو. او هغوي د درے سوه لس سرو نه زيات وو. حضرت براء وائي، په خدائے مې دے قسم وي د طالوت په ملګرو كښې هغه ملګري پوريوتل، كوم چه ايمان دار وو.

١٠ : حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ رَجَاءٍ حَدَّثَنَا اِسْرَائِيْلُ عَنْ اَبِيْ اِسْحٰقَ عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ كُنَّا اَصْحَابَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَتَحَدَّثُ اَنَّ عِدَّةَ اَصْحَابِ بَدْرٍ عَلٰى عِدَّةِ اَصْحَابِ طَالُوْتَ الَّذِيْنَ جَاوَزُوْا مَعَهُ النَّهَرَ وَلَمْ يُجَاوِزْ مَعَهُ اِلَّا مُؤْمِنٌ بِضْعَةَ عَشَرَ وَ ثَلٰثَ مِائَةٍ.

١٠ : عبدالله بن رجاء. اسرائيل. ابو اسحاق. حضرت براءؓ نه روايت كوي، هغه فرمائي، مونږ ټولو اصحاب محمد صلي الله عليه وسلّم به خپلو كښې وئيلے، چه بدريان د درے سوه لس سرو نه زيات وو. او تقريباً د اصحاب طالوت برابر وو، او څوک چه هغۀ سره په نهر پوريوتلے وو، هغه ټول ايماندار وو. (الله پاک دے خمونږ هم ايمان نصيب كړي. اللّٰهم آمين).

١١ : حَدَّثَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ اَبِيْ شَيْبَةَ حَدَّثَنَا يَحْيٰى عَنْ سُفْيَانَ عَنْ اَبِيْ اِسْحٰقَ عَنِ الْبَرَاءِ. ح وَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيْرٍ اَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنْ اَبِيْ اِسْحٰقَ عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ كُنَّا نَتَحَدَّثُ اَنَّ اَصْحَابَ بَدْرٍ ثَلٰثُ مِائَةٍ

١١ : عبدالله بن ابي شيبه. يحيٰي بن سعيد. سفيان. ابو اسحاق. حضرت براء. محمد بن كثير. سفيان ثوري. ابو اسحاق. حضرت براء بن عازبؓ نه روايت كوي، هغه فرمائي، مونږ به خپلو كښې وئيلے، د شركائے بدر تعداد د درے سوه لس نه زيات

وَ بِضْعَةَ عَشَرَ بِعِدَّةِ أَصْحَابِ طَالُوتَ الَّذِيْنَ جَاوَزُوْا مَعَهُ النَّهْرَ وَمَا جَاوَزَ مَعَهُ إِلَّا مُؤْمِنٌ.

وو، گویا خومره کسان چه طالوت سره په نهر پوریوتلي وو. او سه نهر هغه څوک پوریوتلي وو، چه ایماندار وو.

## باب ۷: دُعَآءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى كُفَّارِ قُرَيْشٍ شَيْبَةَ وَ عُتْبَةَ وَالْوَلِيْدِ وَ أَبِيْ جَهْلِ بْنِ هِشَامٍ وَ هَلَاكِهِمْ.

## باب ۷: دَ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم دُعا، دَ کفار قریش یعني دَ شیبه، عتبه، ولید بن عتبه او ابوجهل بن هشام دَ هلاکت دَ پاره.

۱۲: حَدَّثَنِيْ عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا أَبُوْ إِسْحٰقَ عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُوْنٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اسْتَقْبَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكَعْبَةَ فَدَعَا عَلٰى نَفَرٍ مِّنْ قُرَيْشٍ عَلٰى شَيْبَةَ بْنِ رَبِيْعَةَ وَ عُتْبَةَ بْنِ رَبِيْعَةَ وَالْوَلِيْدِ بْنِ عُتْبَةَ وَ أَبِيْ جَهْلِ بْنِ هِشَامٍ فَأَشْهَدُ بِاللّٰهِ لَقَدْ رَأَيْتُهُمْ قَدْ غَيَّرَتْهُمُ الشَّمْسُ وَ كَانَ يَوْمًا حَآرًّا.

۱۲: عمرو بن خالد. زهیر بن معاویه. ابو اسحاق. عمرو بن میمون. عبداللّٰه بن مسعودؓ نه روایت کوي، هغهٔ اوفرمائیل، نبي صلي اللّٰه علیه وسلّم کعبې طرف ته مخ کړلو، او دَ قریشو دَ څو کافرو دَ پاره ئې بددُعا اوکړله، یعني شیبه، عتبه، ولید او ابوجهل بن هشام دَ پاره. حضرت ابن مسعودؓ فرمائي، خدائې ګواه دې، ما دا ټول دَ بدر په ورځ په میدان کښې پراته اولیدل، چه دَ نمر دَ ګرمي په وجه دَ هغوي لاشونه بدبوداره شوي وو. او په هغه ورځ سخته ګرمي وه.

## باب ۸: قَتْلِ أَبِيْ جَهْلٍ.

## باب ۸: دَ ابوجهل دَ قتل بیان.

۱۳: حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ حَدَّثَنَا أَبُوْ أُسَامَةَ حَدَّثَنَا إِسْمٰعِيْلُ أَخْبَرَنَا قَيْسٌ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ أَنَّهُ أَتٰى أَبَا جَهْلٍ وَّ بِهٖ رَمَقٌ يَّوْمَ بَدْرٍ فَقَالَ أَبُوْ جَهْلٍ هَلْ أَعْمَدُ مِنْ رَّجُلٍ قَتَلْتُمُوْهُ.

۱۳: ابن نمیر. ابو اسامه. اسمٰعیل. قیس. عبداللّٰه بن مسعودؓ نه روایت کوي، هغه دَ بدر په ورځ ابوجهل له هغه وخت راغې، چه دَ هغهٔ ساه په ختو وه، ابوجهل، ابن مسعودؓ ته اووې، څهٔ عجیبه خبره ده، چه څما په شان سړې دې خلقو اُووژلو. کني څما نه به لوئې څوک وي چه هغه تاسو وژلې وي.

۱۴: حَدَّثَنِيْ عَمْرُو بْنُ

۱۴: عمرو بن خالد. زهیر. سلیمان تیمي.

خَالِدٍ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ عَنْ سُلَيْمَانَ التَّيْمِيِّ عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَّنْظُرُ مَا صَنَعَ اَبُوْ جَهْلٍ فَانْطَلَقَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ فَوَجَدَهُ قَدْ ضَرَبَهُ ابْنَا عَفْرَآءَ حَتّٰى بَرَدَ قَالَ اَنْتَ اَبُوْجَهْلٍ قَالَ فَاَخَذَ بِلِحْيَتِهٖ قَالَ وَهَلْ فَوْقَ رَجُلٍ قَتَلْتُمُوْهُ اَوْ رَجُلٍ قَتَلَهُ قَوْمُهُ قَالَ اَحْمَدُ بْنُ يُوْنُسَ اَنْتَ اَبُوْ جَهْلٍ.

حضرت انسؓ نه روايت كوي رسول د خدائي اوفرمائيل ځوك دي چه دا معلومه كړي چه د ابوجهل څه حال شو. نو عبدالله بن مسعودؓ لاړلو اووې ليدل چه د عفراء دواړو ځامنو ابوجهل دومره سخت وهلے دے چه هغه سلګئي وهي ابن مسعودؓ ذ كيرے نه اونيولو او ورته ئې اووې آيا ته ابوجهل ئې هغهٔ اووې آيا دا څه غټه خبره ده چه يو سړے ذ هغهٔ قوم قتل كړلو. يعني ذ هغې سړي نه لوئے ځوک كيدے شي چه هغه ذ برادرئ خلقو قتل كړلو كويا دا څهٔ بده خبره نهٔ ده. احمد بن يونس چه د بخاري شيخ دے: انت ابوجهل: روايت كوي.

۱۵ : حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنّٰى حَدَّثَنَا ابْنُ اَبِيْ عَدِيٍّ عَنْ سُلَيْمٰنَ التَّيْمِيِّ عَنْ اَنَسٍؓ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ بَدْرٍ مَنْ يَّنْظُرُ مَا فَعَلَ اَبُوْ جَهْلٍ فَانْطَلَقَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ فَوَجَدَهُ قَدْ ضَرَبَهُ ابْنَا عَفْرَآءَ حَتّٰى بَرَدَ فَاَخَذَ بِلِحْيَتِهٖ فَقَالَ اَنْتَ اَبَا جَهْلٍ قَالَ وَهَلْ فَوْقَ رَجُلٍ قَتَلَهُ قَوْمُهُ اَوْ قَالَ قَتَلْتُمُوْهُ.

۱۵ : محمد بن مثني. ابن ابي عدي. سليمان تيميؒ نه روايت كوي حضور صلي الله عليه وسلّم ذ بدر په ورځ اوفرمائيل ذ ابوجهل ذ حال به ماله ځوک خبر راوړي. دے آوريدو سره عبدالله مسعودؓ لاړلو اووې ليدل چه د عفراء ځامنو ابوجهل په وهلو وهلو بې دمه كړے دے هغهٔ ابوجهل د كيرے نه اونيولو او ورته ئې اووې آيا هغه ابوجهل ته ئې هغهٔ جواب وركه خما نه لوئے سړے ځوک كيدے شي چه هغه د هغهٔ قوم يا تاسو خلقو هلاک كړلو.

۱۶ : حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنّٰى اَخْبَرَنَا مُعَاذُ بْنُ مُعَاذٍ حَدَّثَنَا سُلَيْمٰنُ اَخْبَرَنَا اَنَسُ بْنُ مَالِكٍ نَحْوَهُ.

۱۶ : محمد بن مثني. معاذ بن معاذ. سليمان تيمي. انس بن مالک نه هم ددے حديث په شان روايت كړے دے.

۱۷ : حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ كَتَبْتُ عَنْ يُوْسُفَ ابْنِ الْمَاجِشُوْنِ عَنْ صَالِحِ بْنِ اِبْرٰهِيْمَ عَنْ

۱۷ : علي بن عبدالله مديني. يوسف بن ماجشون. صالح بن ابراهيم. ابراهيم. حضرت عبدالله

اَبِيهِ عَنْ جَدِّهٖ فِي بَدْرٍ يَعْنِي حَدِيثَ ابْنَيْ عَفْرَآءَ.

بـن عـوف نـه دا قـصـه روايـت كـړے ده.

۱۸ : حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ الرَّقَاشِيُّ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ قَالَ سَمِعْتُ اَبِيْ يَقُوْلُ حَدَّثَنَا اَبُوْ مِجْلَزٍ عَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ عَنْ عَلِيِّ بْنِ اَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهٗ قَالَ اَنَا اَوَّلُ مَنْ يَجْثُوْا بَيْنَ يَدَيِ الرَّحْمٰنِ لِلْخُصُوْمَةِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَ قَالَ قَيْسُ بْنُ عُبَادٍ وَّ فِيْهِمْ اُنْزِلَتْ هٰذَانِ خَصْمَانِ اخْتَصَمُوْا فِيْ رَبِّهِمْ قَالَ هُمُ الَّذِيْنَ تَبَارَزُوْا يَوْمَ بَدْرٍ حَمْزَةُ وَ عَلِيٌّ وَ عُبَيْدَةُ اَوْ اَبُوْ عُبَيْدَةَ بْنُ الْحٰرِثِ وَ شَيْبَةُ بْنُ رَبِيْعَةَ وَ عُتْبَةُ وَالْوَلِيْدُ بْنُ عُتْبَةَ.

۱۸ : محمد بن عبداللّٰه رقاشي. معتمر بن سليمان. ابو مجلز (لاحق بن حميد) قيس بن عباد. حضرت علي بن ابي طالب نه روايت كوي، ذ قيامت په ورځ به زهٔ ذ ټولونه مخكښې ذ خپل خدائے په مخكښې ذ جګړے ذ ختمولو ذ پاره دوزانو (په زنګونونو) كېنم. قيس بن عباد وائي، چه ذ سورة حج دا آيت دے سلسله كښې نازل شوے دے: هٰذان خَصْمَان اخْتصموا في ربهم: دا دوه فريقه دي، ذ يو بل دشمن، چه ذ خپل پروردګار په مقدمه كښې په جګړه شو. ذ دے دواړو فريقو نه مراد هغه خلق دي، چه ذ جنګ ذ پاره ذ بدر په ورځ وتلے وو، يعني يو طرف ته حمزه، علي او عبيده يا ابو عبيده بن حارث او دوئم طرف ته شيبه او عتبه ذ ربيعه ځامن او وليد بن عتبه.

۱۹ : حَدَّثَنَا قَبِيْصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ اَبِيْ هَاشِمٍ عَنْ اَبِيْ مِجْلَزٍ عَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ عَنْ اَبِيْ ذَرٍّ قَالَ نَزَلَتْ هٰذَانِ خَصْمَانِ اخْتَصَمُوْا فِيْ رَبِّهِمْ فِيْ سِتَّةٍ مِّنْ قُرَيْشٍ عَلِيٍّ وَ حَمْزَةَ وَ عُبَيْدَةَ بْنِ الْحَارِثِ وَ شَيْبَةَ بْنِ رَبِيْعَةَ وَ عُتْبَةَ بْنِ رَبِيْعَةَ وَالْوَلِيْدِ بْنِ عُتْبَةَ.

۱۹ : قبيصه. سفيان. ابو هاشم. ابو مجلز. قيس بن عباد. حضرت ابوذر غفاريؓ نه روايت كوي، هغهٔ اوفرمائيل. ذ سورة حج دا آيت: هٰذٰنِ خَصْمَانِ اخْتَصَمُوْا فِيْ رَبِّهِمْ: ذ دوو فريقو په حق كښې نازل شو، چه آخره پورے د يو بل دشمنان وو، او هغه شپږ دي: (۱) علي (۲) حمزهٔ (۳) عبيده بن حارثؓ اول فريق دے. او (۱) شيبه بن ربيعه (۲) عتبه بن ربيعه (۳) وليد بن عتبه، دا دوئم فريق دے.

۲۰ : حَدَّثَنَا اِسْحٰقُ بْنُ اِبْرٰهِيْمَ الصَّوَّافُ حَدَّثَنَا يُوْسُفُ بْنُ يَعْقُوْبَ كَانَ يَنْزِلُ فِيْ بَنِيْ ضُبَيْعَةَ وَهُوَ

۲۰ : اسحٰق بن ابراهيم صواف. يوسف بن يعقوب (چه د بني ضبيعه په محله كښې اوسيدلو او د بني سدوس غلام وو)

مَوْلَى لِبَنِيْ سَدُوْسَ حَدَّثَنَا سُلَيْمٰنُ التَّيْمِيُّ عَنْ اَبِيْ مِجْلَزٍ عَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ قَالَ قَالَ عَلِيٌّ فِيْنَا نَزَلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ هٰذٰنِ خَصْمَانِ اخْتَصَمُوْا فِيْ رَبِّهِمْ.

سليمان. ابو مجلز. حضرت قيس بن عباد نه روايت كوي، هغه فرمائي، حضرت عليؓ اوفرمائيل، دا آيت: هٰذٰن خصمان الخ: خمونږ په حق كښې نازل شوې دې.

۲۱: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ جَعْفَرٍ اَخْبَرَنَا وَكِيْعٌ عَنْ سُفْيَانَ عَنْ اَبِيْ هَاشِمٍ عَنْ اَبِيْ مِجْلَزٍ عَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ سَمِعْتُ اَبَا ذَرٍّ يُقْسِمُ لَنَزَلَتْ هٰٓؤُلَاءِ الْاٰيَاتِ فِيْ هٰٓؤُلَاءِ الرَّهْطِ السِّتَّةِ يَوْمَ بَدْرٍ نَحْوَهُ.

۲۱: يحيي بن جعفر. وكيع بن جراح. سفيان. ابو هاشم. ابو مجلز. قيس بن عباد نه روايت كوي، هغه فرمائي، ما حضرت ابوذر غفاريؓ نه قسم سره آوريدلے دي، چه دا آيتونه كوم چه مخكښې ذكر شو، دَ بدر په ورځ دَ شپږو سړو په حق كښې نازل شولو، چه دَ بدر په ورځ مقابل شولو، او دَ هغوي نومونه مخكښې ذكر شولو

۲۲: حَدَّثَنَا يَعْقُوْبُ بْنُ اِبْرٰهِيْمَ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ اَخْبَرَنَا اَبُوْ هَاشِمٍ عَنْ اَبِيْ مِجْلَزٍ عَنْ قَيْسٍ قَالَ سَمِعْتُ اَبَا ذَرٍّ يُقْسِمُ قَسَمًا اِنَّ هٰذِهِ الْاٰيَةَ هٰذَانِ خَصْمَانِ اخْتَصَمُوْا فِيْ رَبِّهِمْ نَزَلَتْ فِي الَّذِيْنَ بَرَزُوْا يَوْمَ بَدْرٍ حَمْزَةَ وَ عَلِيٍّ وَّ عُبَيْدَةَ بْنِ الْحَارِثِ وَ عُتْبَةَ وَ شَيْبَةَ ابْنَيْ رَبِيْعَةَ وَالْوَلِيْدِ بْنِ عُتْبَةَ.

۲۲: يعقوب بن ابراهيم. هشيم. ابو هاشم. ابو مجلز. حضرت قيسؓ نه روايت كوي، هغه اوفرمائيل، ما دَ ابوذرؓ نه قسم خوړلو سره آوريدلے دي، چه دا آيت: هٰذان خصمان الخ دَ هغے خلقو په حق كښې نازل شوې دے، چه دَ بدر په ورځ جنګ ته راكوز شوے وو، حضرت حمزه، علي، او عبيده دَ مسلمانانو دَ طرف نه او عتبه او شيبه چه دَ ربيعة خامن وو، او وليد بن عتبهؓ دا دَ كافرو دَ طرف نه وو.

۲۳: حَدَّثَنِيْ اَحْمَدُ بْنُ سَعِيْدٍ اَبُوْ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا اِسْحٰقُ بْنُ مَنْصُوْرٍ حَدَّثَنَا اِبْرٰهِيْمُ بْنُ يُوْسُفَ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ اَبِيْ اِسْحٰقَ سَاَلَ رَجُلٌ الْبَرَاءَ وَ اَنَا اَسْمَعُ قَالَ اَشَهِدَ عَلِيٌّ بَدْرًا قَالَ بَارَزَ وَ ظَاهَرَ.

۲۳: احمد بن سعيد. ابو عبدالله. اسحاق بن منصور. ابراهيم بن يوسف. دَ خپل پلار نه. هغهٔ دَ ابو اسحاق سبيعي نه روايت كوي، هغهٔ اوفرمائيل، يو سړي د حضرت براء رضي الله عنه نه تپو او كړو چه آيا حضرت عليؓ په جنګ بدر كښې شريک وو؟ هغه اووے چه مقابله ئے كړے وه او غالب شوے وو.

۲۴ : حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيْزِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ حَدَّثَنِيْ يُوْسُفُ بْنُ الْمَاجِشُوْنُ عَنْ صَالِحِ بْنِ إِبْرٰهِيْمَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ قَالَ كَاتَبْتُ أُمَيَّةَ بْنَ خَلَفٍ فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ بَدْرٍ فَذَكَرَ قَتْلَهُ وَ قَتْلَ ابْنِهٖ فَقَالَ بِلَالٌ لَا نَجَوْتُ إِنْ نَجَا أُمَيَّةُ.

۲۴ : عبدالعزیز بن عبدالله. یوسف بن ماجشون. صالح بن ابراهیم. عبدالرحمن بن عوف نه روایت کوي' خما او د اُمیه بن خلف مینځ کښې (د جائیداد متعلق) یوه تحریري معاهده اوشوه. بیا هغه د بدر په ورځ د امیه او د هغه د خوي د قتل کیدو واقعه بیان کړه' او بلال اووې' چه د بدر په ورځ' که اُمیه بن خلف بچ شولو' نو زه هیڅ خوشحالي نهٔ محسوسومه.

۲۵ : حَدَّثَنَا عَبْدَانُ بْنُ عُثْمَانَ قَالَ أَخْبَرَنِيْ أَبِيْ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ أَبِيْ إِسْحٰقَ عَنِ الْأَسْوَدِ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَرَأَ وَالنَّجْمِ فَسَجَدَ بِهَا وَ سَجَدَ مَنْ مَّعَهُ غَيْرَ أَنَّ شَيْخًا أَخَذَ كَفًّا مِّنْ تُرَابٍ فَرَفَعَهُ إِلٰى جَبْهَتِهٖ فَقَالَ يَكْفِيْنِيْ هٰذَا قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ فَلَقَدْ رَأَيْتُهُ بَعْدُ قُتِلَ كَافِرًا.

۲۵ : عبدان بن عثمان. عثمان بن جبله. شعبه. ابو اسحاق سبیعي. اسود بن یزید. عبدالله بن مسعودؓ نه روایت کوي' هغهٔ اووې حضور صلي الله علیه وسلّم سورهٔ والنجم اولوست. او هغې کښې ئې سجده اوکړله. حضورؐ سره چه څوک ملګري وو' هغې ټولو هم سجده اوکړله' خو یو امیه بن خلف سجده اونهٔ کړله' بلکه لږه شان خاوره ئې د زمکې نه اوچته کړه اوپه خپل تندي ئې اولږوله' اووې وئیل' بس ما د پاره دا کافي ده. ابن مسعود فرمائي' ما هغه د بدر په ورځ د کفر په حالت قتل شوې بیامُند.

۲۶ : أَخْبَرَنِيْ إِبْرٰهِيْمُ بْنُ مُوْسٰى حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ يُوْسُفَ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ هِشَامٍ عَنْ عُرْوَةَ قَالَ كَانَ فِي الزُّبَيْرِؓ ثَلٰثُ ضَرَبَاتٍ بِالسَّيْفِ إِحْدَاهُنَّ فِيْ عَاتِقِهٖ قَالَ إِنْ كُنْتُ لَأُدْخِلُ أَصَابِعِيْ فِيْهَا قَالَ ضُرِبَ ثِنْتَيْنِ يَوْمَ بَدْرٍ وَّ وَاحِدَةً يَوْمَ الْيَرْمُوْكِ

۲۶ : ابراهیم بن موسٰي. هشام بن یوسف. معمر. هشام. عروه بن زبیرؓ نه روایت کوي' د زبیرؓ په جسم د تورې درې ژور زخمونه وو. هغې کښې یو په اوږه موجود وو' ما به خپله ګوته په هغې (زخم) کښې ورخکته کوله. عروه وائي' هغې کښې دوه زخمونه خو د بدر په ورځ ورته لږیدلې وو. او دریم زخم ورته جنګ یرموک کښې راغلې وو. عروهؓ وائي کوم وخت چه عبدالله بن زبیرؓ شهید شولو نو عبدالملک تپوس اوکهٔ'

قَالَ عُرْوَةُ وَ قَالَ لِيْ عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ مَرْوَانَ حِيْنَ قُتِلَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ الزُّبَيْرِ يَا عُرْوَةُ هَلْ تَعْرِفُ سَيْفَ الزُّبَيْرِ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَمَا فِيْهِ قُلْتُ فِيْهِ فَلَّةٌ فُلَّهَا يَوْمَ بَدْرٍ قَالَ صَدَقْتَ. بِهِنَّ فُلُوْلٌ مِنْ قِرَاعِ الْكَتَائِبِ. ثُمَّ رَدَّهُ عَلٰى عُرْوَةَ قَالَ هِشَامٌ فَاَقَمْنَاهُ بَيْنَنَا ثَلٰثَةَ اٰلَافٍ وَّ اَخَذَهُ بَعْضُنَا وَلَوَدِدْتُ اَنِّيْ كُنْتُ اَخَذْتُهُ.

عروهؓ ته د خپل پلار زبير توره پېژندلې شي. ما اووې او' هغه تپوس او کړ' څه علامت ئې اوښايه' ما ورته اووې' د بدر په ورځ د هغې يو دهار د يو ځائې نه مات شوې وو. نو هغه اووې' واقعي ته ريښتيا وائې' دې نه پس ئې دا مصرع اووې (ترجمه) جنګ کولو' کولو کښې د هغوي د تورو مخونه مات شوې دي. دې نه پس عبدالملک کوم وخت چه مونږ د هغې د قيمت مشوره او کړله' نو د درې زرو اندازه مو اولګوله' مونږ نه يو سړي هغه توره په درې زره درهمه په بيع واخسته. کاش چه ما هغه آخستې وې.

۲۷ : حَدَّثَنَا فَرْوَةُ عَنْ عَلِيٍّ عَنْ هِشَامٍ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ كَانَ سَيْفُ الزُّبَيْرِ مُحَلًّى بِفِضَّةٍ قَالَ هِشَامٌ وَّ كَانَ سَيْفُ عُرْوَةَ مُحَلًّى بِفِضَّةٍ.

۲۷ : فروه. علي. هشام. حضرت عروه نه روايت کوي' هغه اوفرمائيل' څما د پلار حضرت زبيرؓ په توره د چاندي کار شوې وو. هشام وائي' څما د پلار' عروه توره هم چاندۍ سره مُزيَن شوې وه' شايد چه دا د زبيرؓ توره وه.

۲۸ : حَدَّثَنَا اَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ اَخْبَرَنَا هِشَامُ ابْنُ عُرْوَةَ عَنْ اَبِيْهِ اَنَّ اَصْحَابَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوْا لِلزُّبَيْرِ يَوْمَ الْيَرْمُوْكِ اَلَا تَشُدُّ فَنَشُدُّ مَعَكَ فَقَالَ اِنِّيْ اِنْ شَدَدْتُ كَذَبْتُمْ فَقَالُوْا لَا نَفْعَلُ فَحَمَلَ عَلَيْهِمْ حَتّٰى شَقَّ صُفُوْفَهُمْ فَجَاوَزَهُمْ وَمَا مَعَهُ اَحَدٌ ثُمَّ رَجَعَ مُقْبِلًا فَاَخَذُوْا بِلِجَامِهِ فَضَرَبُوْهُ ضَرْبَتَيْنِ عَلٰى

۲۸ : احمد بن محمد. عبدالله. هشام. خپل پلار حضرت عروه نه روايت کوي' د جنګ يرموک په ورځ صحابه کرامؓ څما پلار زبيرؓ ته اووې' ځې چه ځو' اوپه کافرو حمله او کړو' زبيرؓ ورته اووې' ما سره آنديښنه ده' چه تاسو به ماسره ملګرتيا کښې ټينګ پاتې نهٔ شئ. هغوي ورته اووې مونږ به ضرور درسره ملګرې يو (چه ئکر اُونه کړې) آخر حضرت زبيرؓ حمله او کړله' د کافرو صفونو څيرولو سره ترې په بل مخ اووتلو' او هغه سره هيڅوک قائم پاتې نهٔ شو. بيا چه هغه راواپس شو' نو کافرو د هغهٔ د اَس واږې اونيولې. او د حضرت زبيرؓ په اُوږه ئې دوه ګزاره او کړل. د دې ګزارونو په مينځ

عَاتِقِهِ بَيْنَهُمَا ضَرْبَةٌ ضُرِبَهَا يَوْمَ بَدْرٍ قَالَ عُرْوَةُ كُنْتُ اُدْخِلُ اَصَابِعِيْ فِيْ تِلْكَ الضَّرَبَاتِ اَلْعَبُ وَ اَنَا صَغِيْرٌ قَالَ عُرْوَةُ وَ كَانَ مَعَهُ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ الزُّبَيْرِ يَوْمَئِذٍ وَهُوَ ابْنُ عَشْرِ سِنِيْنَ فَحَمَلَهُ عَلٰى فَرَسٍ وَ وَكَّلَ بِهٖ رَجُلًا.

كښې هغه زخم هم وو، چه هغه ته ذ بدر په ورځ رسيدلے وو. عروه وائي، کوم وخت چه زهٔ ورو کے ووم، نو ذ هغې زخمونو په غار کښې به ما ګوتے وردننه کړے او هغې سره به مې لوبے کولے. عروه وائي، يرموک کښې زبيرؓ سره عبداللّٰه بن زبيرؓ هم وو، حالانکه ذ هغهٔ عمر دغه وخت لس (يا دولس) کاله وو. زبيرؓ هغه په اَس سور کړلو، او ذ يو سړي په حفاظت کښې ئے ور کړے وو.

۲۹ : حَدَّثَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ سَمِعَ رَوْحَ ابْنَ عُبَادَةَ حَدَّثَنَا سَعِيْدُ بْنُ اَبِيْ عَرُوْبَةَ عَنْ قَتَادَةَ قَالَ ذَكَرَ لَنَا اَنَسُ بْنُ مَالِكٍؓ عَنْ اَبِيْ طَلْحَةَ اَنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَمَرَ يَوْمَ بَدْرٍ بِاَرْبَعَةٍ وَّ عِشْرِيْنَ رَجُلًا مِنْ صَنَادِيْدِ قُرَيْشٍ فَقُذِفُوْا فِيْ طَوِيٍّ مِنْ اَطْوَاءِ بَدْرٍ خَبِيْثٍ مُخْبِثٍ وَّ كَانَ اِذَا ظَهَرَ عَلٰى قَوْمٍ اَقَامَ بِالْعَرْصَةِ ثَلٰثَ لَيَالٍ فَلَمَّا كَانَ بِبَدْرٍ اَلْيَوْمَ الثَّالِثَ اَمَرَ بِرَاحِلَتِهٖ فَشُدَّ عَلَيْهَا رَحْلُهَا ثُمَّ مَشٰى وَاتَّبَعَهٗ اَصْحَابُهٗ وَ قَالُوْا مَا نُرٰى يَنْطَلِقُ اِلَّا لِبَعْضِ حَاجَتِهٖ حَتّٰى قَامَ عَلٰى شَفَةِ الرَّكِيِّ فَجَعَلَ يُنَادِيْهِمْ بِاَسْمَآئِهِمْ وَ اَسْمَآءِ اٰبَآئِهِمْ يَا فُلَانُ بْنُ فُلَانٍ وَ يَا فُلَانُ بْنُ فُلَانٍ اَيَسُرُّكُمْ اَنَّكُمْ اَطَعْتُمُ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ فَاِنَّا قَدْ وَجَدْنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقًّا فَهَلْ وَجَدْتُّمْ مَّا وَعَدَ رَبُّكُمْ

۲۹ : عبداللّٰه بن محمد. روح بن عباده. سعيد بن ابي عروبه. حضرت قتادةؓ نه روايت کوي، ذ هغه بيان دے، حضرت انسؓ ذ ابو طلحه نه روايت اوکړ، چه رسول اکرم صلي اللّٰه عليه وسلّم ذ بدر په ورځ ذ مکے ذ څليريشت سردارانو ذ لاشونو ذ بدر په يو ګنده کوهي کښې ذ غورځولو حکم ورکړلو، او ذ رسول پاک صلي اللّٰه عليه وسلّم عادت وو چه کله به په يو قوم غالب شولو، نو درے شپے به ئے هلته قيام کولو، نو بدر کښې ئے هم درے ورځے قيام اوکړلو. په دريمه ورځ ذ حضورؐ حکم سره په اُوښه زين کس کړے شو. بيا حضورؐ روان شو، صحابهؓ ؤ خيال اوکهٔ، چه حضورؐ څهٔ حاجت ذ پاره ځي. اصحاب ورسره شو تلو، تلو کښې د هغې کوهي غاړے ته تشريف يوړلو، اودريدلو، او قتل شوے قريشو ته ئے نوم په نوم آواز اوکړلو، او دا شان ئے اوفرمائيل، چه اے فلان ابن فلان او اے فلان ابن فلان اوس تاته دا ښهٔ معلوميږي، چه تا ذ اللّٰه تعالي او ذ هغهٔ ذ رسول حکم منلے وے. مونږ سره چه څمونږ رب کومه وعده کړے وه، هغه مونږ حقه بيامنده نو تاسو هم د خپل رب وعده حقه بياموندهٔ؟

خفًا قَالَ فَقَالَ عُمَرُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا تُكَلِّمُ مِنْ اَجْسَادٍ لَا اَرْوَاحَ لَهَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهٖ مَا اَنْتُمْ بِاَسْمَعَ لِمَا اَقُوْلُ مِنْهُمْ قَالَ قَتَادَةُ اَحْيَاهُمُ اللّٰهُ حَتّٰى اَسْمَعَهُمْ قَوْلَهٗ تَوْبِيْخًا وَّ تَصْغِيْرًا وَ نِقْمَةً وَّ حَسْرَةً وَّ نَدَمًا.

حضرت طلحهٔ واني: دے آوریدو سره حضرت عمرؓ عرض اوکړ: یا رسول الله! تاسو داسې لاشونو ته خطاب کوے چه هغوي کښ څه ساه نشته دے. حضورؐ ورته اوفرمائیل، په هغه ذات م دے قسم وي چه د هغهٔ په لاس کښ د محمدؐ ساه ده، زهٔ چه کومې خبرے کوم، تاسو هغه د هغوي نه زیاتے نهٔ شے آوریدے. قتاده اووے، چه الله هغه هغه وخت ژوندي کړي وو، چه هغوي ته د خپل ذلت او رسوائي او د هغے سزا نه شرم ورشي.

۳۰: حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا عَمْرٌو عَنْ عَطَاءٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَلَّذِيْنَ بَدَّلُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ كُفْرًا قَالَ هُمْ وَاللّٰهِ كُفَّارُ قُرَيْشٍ قَالَ عَمْرٌو وَهُمْ قُرَيْشٌ وَّ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِعْمَةُ اللّٰهِ وَ اَحَلُّوْا قَوْمَهُمْ دَارَ الْبَوَارِ قَالَ النَّارَ يَوْمَ بَدْرٍ.

۳۰: حمیدي. سفیان بن عیینه. عطاء بن ابي رباح فرمائي، ابن عباسؓ د: اَلَّذِیْنَ بَدَّلُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ کُفْرًا: د تفسیر په سلسله کښ اوفرمائیل، مراد ددے نه کفار قریش دي. او نعمت نه مراد رسول پاک صلي الله علیه وسلّم دے. عمرو بن دینار واني دے آیت کښ د خلقو نه مراد کفار او نعمت نه مراد د رسول پاک صلي الله علیه وسلّم ذات مبارک دے. او دارالبوار نه مراد هغه دوزخ دے، چه هغے کښ د بدر په ورځ داخل کړے شو.

۳۱: حَدَّثَنِيْ عُبَيْدُ بْنُ اِسْمٰعِيْلَ حَدَّثَنَا اَبُوْ اُسَامَةَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ ذُكِرَ عِنْدَ عَائِشَةَ اَنَّ ابْنَ عُمَرَ رَفَعَ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ الْمَيِّتَ يُعَذَّبُ فِيْ قَبْرِهٖ بِبُكَاءِ اَهْلِهٖ فَقَالَتْ اِنَّمَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّهٗ لَيُعَذَّبُ بِخَطِيْئَتِهٖ وَ ذَنْبِهٖ وَ اِنَّ اَهْلَهٗ لَيَبْكُوْنَ عَلَيْهِ الْاٰنَ قَالَتْ

۳۱: عبید بن اسماعیل. ابو اسامه. هشام بن عروه نه روایت کوي: هغهٔ اوفرمائیل: د بي بي عائشےؓ مخکښ د حضور اکرم صلي الله علیه وسلّم د دے ارشاد ذکر راغے، چه په مړو د هغوي د عزیزانو د ژړا په وجه عذاب کیږي. او ابن عمرؓ دا حدیث رسول اکرم صلے الله علیه وسلّم ته رسیدلے بنائي، نو بي بي عائشےؓ اوفرمائیل، رسول اکرم صلي الله علیه وسلّم خو دا فرمائیلے دي، په مړي د خپلو خطاګانو او ګناهونو په وجه عذاب کیږي، او د هغهٔ عزیزان ژړا کوي. یا بالکل داسې مضمون دے، لکه چه ابن عمرؓ دا واني، چه حضور

وَ ذَاكَ مِثْلُ قَوْلِهِ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ عَلَى الْقَلِيْبِ وَ فِيْهِ قَتْلٰى بَدْرٍ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ فَقَالَ لَهُمْ مَّا قَالَ اِنَّهُمْ لَيَسْمَعُوْنَ مَا اَقُوْلُ اِنَّمَا قَالَ اِنَّهُمُ الْاٰنَ لَيَعْلَمُوْنَ اَنَّ مَا كُنْتُ اَقُوْلُ لَهُمْ حَقٌّ ثُمَّ قَرَاَتْ اِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰى وَمَا اَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَّنْ فِي الْقُبُوْرِ تَقُوْلُ حِيْنَ تَبَوَّءُوْا مَقَاعِدَهُمْ مِنَ النَّارِ.

اکرم صلي اللّٰه عليه وسلّم د مشرکين بدر د لاشونو کندے سره اودريدلو، او حضورؐ اوفرمائيل، چه هغوي خما خبرے آوري، حالانکه حضورؐ فرمائيلے وو، چه اوس هغوي ته معلومه شوه، چه ما څۀ هغوي ته ونيلے هغه رينبتيا او حق وو. دے نه پس بي بي عائشےؓ د سورۀ نمل دا آيت تلاوت کړلو (ترجمه) اے پيغمبره، تۀ مړو ته خپله خبره نۀ شے آورولے. او اے پيغمبره تۀ قبر والو ته خپله خبره نۀ شے آورولے. حضرت عروه وائي، د بي بي عائشےؓ مراد د دے آيت د لوستونه دا وو، چه هر کله هغوي ته دوزخ کښې خپله ټيکاؤنړه حاصله شي.

۳۲: حَدَّثَنِيْ عُثْمَانُ حَدَّثَنَا عَبْدَةُ عَنْ هِشَامٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنِ ابْنِ عُمَرَؓ قَالَ وَقَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى قَلِيْبِ بَدْرٍ فَقَالَ هَلْ وَجَدْتُّمْ مَّا وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا ثُمَّ قَالَ اِنَّهُمُ الْاٰنَ يَسْمَعُوْنَ مَا اَقُوْلُ فَذُكِرَ لِعَائِشَةَؓ فَقَالَتْ اِنَّمَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّهُمُ الْاٰنَ لَيَعْلَمُوْنَ اَنَّ الَّذِيْ كُنْتُ اَقُوْلُ لَهُمْ هُوَ الْحَقُّ ثُمَّ قَرَاَتْ اِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰى حَتّٰى قَرَاَتِ الْاٰيَةَ.

۳۲: عثمان بن ابي شيبه. عبده بن سليمان. هشام. حضرت عروه نه روايت کوي، عبداللّٰه ابن عمر اوفرمائيل، رسول د خدائے د بدر په ورځ د کوهي په غاړه اودريدلو، اووے فرمائيل، آيا تاسو د خپل رب وعده رينبتنے بيامنده. بيائے اوفرمائيل، اے مشرکانو، ستاسو رب چه تاسو سره کومه وعده کړے وه، بيشکه هغه تاسو بيامنده. بيائے اوفرمائيل، دا خلق دا وخت خما وينا آوري. د ابن عمرؓ دا روايت د بي بي عائشےؓ مخکښې بيان کړے شو، نو هغے اوفرمائيل، رسول د خدائے داسے فرمائيلے وو، اوس معلومه شوه، چه ما هغوي ته څه وے هغه رينبتيا وو. بيا هغے د سورۀ نمل دا آيت اولوست: اِنَّکَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰى آخر پورے يعني اے پيغمبره، تۀ مړو ته نۀ شے آورولے.

## بَاب ۹: فَضْلِ مَنْ شَهِدَ بَدْرًا.

## باب ۹: د شرکائے اصحاب بدر د فضيلت بيان.

۳۳: حَدَّثَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ

۳۳: عبداللّٰه بن محمد. معاويه بن عمرو. ابو

بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو حَدَّثَنَا اَبُوْ اِسْحٰقَ عَنْ حُمَيْدٍ قَالَ سَمِعْتُ اَنَسًا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَقُوْلُ اُصِيْبَ حَارِثَةُ يَوْمَ بَدْرٍ وَّهُوَ غُلَامٌ فَجَآءَتْ اُمُّهُ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَدْ عَرَفْتَ مَنْزِلَةَ حَارِثَةَ مِنِّيْ فَاِنْ يَّكُنْ فِي الْجَنَّةِ اَصْبِرْ وَ اَحْتَسِبْ وَ اِنْ تَكُ الْاُخْرٰى تَرٰى مَا اَصْنَعُ فَقَالَ وَيْحَكِ اَوَ هَبِلْتِ اَوَجَنَّةٌ وَّاحِدَةٌ هِيَ اِنَّهَا جِنَانٌ كَثِيْرَةٌ وَّ اِنَّهٗ فِيْ جَنَّةِ الْفِرْدَوْسِ.

۳۴: حَدَّثَنِيْ اِسْحٰقُ بْنُ اِبْرٰهِيْمَ اَخْبَرَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ اِدْرِيْسَ قَالَ سَمِعْتُ حُصَيْنَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ عَنْ اَبِيْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ السُّلَمِيِّ عَنْ عَلِيٍّ قَالَ بَعَثَنِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ اَبَا مَرْثَدٍ وَّالزُّبَيْرَ وَ كُلُّنَا فَارِسٌ قَالَ انْطَلِقُوْا حَتّٰى تَأْتُوْا رَوْضَةَ خَاخٍ فَاِنَّ بِهَا امْرَاَةً مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ مَعَهَا كِتَابٌ مِّنْ حَاطِبِ بْنِ اَبِيْ بَلْتَعَةَ اِلَى الْمُشْرِكِيْنَ فَاَدْرَكْنَاهَا تَسِيْرُ عَلٰى بَعِيْرٍ لَّهَا حَيْثُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَا الْكِتَابَ فَقَالَتْ مَا مَعَنَا كِتَابٌ

اسحاق. حضرت حمیدؒ نه روایت کوي' هغه' اوفرمائیل' ما ذَ حضرت انسؓ نه واوریدل' حارثه بن سراقه' ذ بدر په ورځ شهید شولو' هغه هلک وو' ذ هغهٔ مور ذ حضرت انسؓ ترور (پهوپهی) حضور صلي اللّٰه علیه وسلّم له راغلـه' او عرض ئے او کهٔ' یا رسول اللّٰه' تاسو ته معلومه ده' چه حارثه سره خما خومره محبت وو' اوس که هغه جنت کښ وي' نو زهٔ به صبر کوم' او ذ ثواب اُمید به لرم. او که څهٔ بد حال کښ وي' نو تاسو به اُوینئے' چه زهٔ څنګه ژړا کوم. حضور اکرمؐ ورته اوفرمائیل' افسوس ته لیونئے شوے ئے' او آیا تهٔ ذَ اللّٰه یو جنت ګنړے. جنتونه خو ډیر دي او ستا خوئے حارثه خو جنت فردوس کښ دے.

۳۴: اسحٰق بن ابراهیم. عبداللّٰه بن ادریس. حصین بن عبدالرحمٰن. سعد بن عبیده. عبدالرحمٰن سلمي نه روایت کوي حضرت عليؓ اوفرمائیل' رسول اکرم صلي اللّٰه علیه وسلّم زهٔ او ابو مرثدؓ روضه خاخ طرف ته اولیږلو' اووے فرمائیل' په اَس لاړ شئے هلته به تاسو یوه مشرکه ښځه بیامومئے (نوم ئے ساره وو) هغې سره ذ حاطب بن اَبي بلتعه یو خط دے' چه هغه مشرکین مکه ته لیکلے دے' هغه خط راوړئے. حضرت عليؓ فرمائي کوم ځائے چه حضور اکرمؐ ښودلے وو' هلته مونږ هغه ښځه اونیوله' هغه په اوښ سوره وه' مونږ ترې خط اوغښتلو هغې اووے' ماسره څهٔ خط نشته. مونږ ذ هغې اُوښ کینولو' تالاشي مو واخسته' خو څه خط مو ورسره بیانهٔ موندلو' آخر مونږ ورته اووے ذ رسول اللّٰه صلي اللّٰه علیه وسلّم خبره هیڅ کله غلطهٔ کیدے نشي' خط

فَاَنَخْنَاهَا فَالْتَمَسْنَا فَلَمْ نَرَ كِتَابًا فَقُلْنَا مَا كَذَبَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَتُخْرِجَنَّ الْكِتَابَ اَوْ لَنُجَرِّدَنَّكِ فَلَمَّا رَاَتِ الْجِدَّ اَهْوَتْ اِلٰى حُجْزَتِهَا وَ هِيَ مُحْتَجِزَةٌ بِكِسَاءٍ فَاَخْرَجَتْهُ فَانْطَلَقْنَا بِهَا اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عُمَرُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَدْ خَانَ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهُ وَالْمُؤْمِنِيْنَ فَدَعْنِيْ فَلَاَضْرِبُ عُنُقَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا حَمَلَكَ عَلٰى مَا صَنَعْتَ قَالَ حَاطِبٌ وَاللّٰهِ مَا بِيْ اَنْ لَا اَكُوْنَ مُؤْمِنًا بِاللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَرَدْتُ اَنْ يَكُوْنَ لِيْ عِنْدَ الْقَوْمِ يَدٌ يَدْفَعُ اللّٰهُ بِهَا عَنْ اَهْلِيْ وَ مَالِيْ وَ لَيْسَ اَحَدٌ مِنْ اَصْحَابِكَ اِلَّا لَهُ هُنَاكَ مِنْ عَشِيْرَتِهٖ مَنْ يَدْفَعُ اللّٰهُ بِهٖ عَنْ اَهْلِهٖ وَ مَالِهٖ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدَقَ وَلَا تَقُوْلُوْا لَهُ اِلَّا خَيْرًا فَقَالَ عُمَرُ اِنَّهُ قَدْ خَانَ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهُ وَالْمُؤْمِنِيْنَ فَدَعْنِيْ فَلَاَضْرِبَ عُنُقَهُ فَقَالَ اَلَيْسَ مِنْ اَهْلِ بَدْرٍ فَقَالَ لَعَلَّ اللّٰهَ اطَّلَعَ اِلٰى اَهْلِ بَدْرٍ فَقَالَ اعْمَلُوْا مَا شِئْتُمْ فَقَدْ وَجَبَتْ لَكُمُ الْجَنَّةُ اَوْ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ فَدَمَعَتْ عَيْنَا عُمَرَ وَ قَالَ اللّٰهُ وَ

راو کاږه، کښي مونږ دې بربنډه کوو، چه تالاشي دې واخلو، هغې چه دومره سختي اولیده، نو ذ خپلې کمسی نه ئې تېکره کښې تړلې خط راوښکلو، او مونږ ته ئې راکړلو، مونږ خط واخست او ذ حضور اکرم صلي الله علیه وسلّم په خدمت کښې حاضر شو. حضرت عمرؓ عرض اوکړ، یا رسول الله، حاطب، الله، ذ هغهٔ رسول او مسلمانانو سره خیانت کړے دے، اجازت راکړئې، چه ګردن ئې والوخوم، حضورؐ حاطب راوغښتلو، او ذ دے خط ذ لیکلو وجه ئې اوپښتله، چه دا دے څهٔ کړے دي، حاطب عرض اوکړ، قسم په خدائے زه زړهٔ سره په الله او رسول ایمان لرم. ذ دے خط نه څما غرض صرف دا دے، چه په قریشو څما څهٔ احسان اوشي، چه هغوي ذ دے لحاظ نه څما جائید، او بال بچ وغیره برباد نهٔ کړي او اللّٰه ذ هغوي په ذریعه هغه محفوظ اوساتي څکه چه ستاسوؐ ذ ټولو اصحابوؓ هلته داسې رشته داران شته، چه ذ هغوي په وجه ئې اللّٰه مال بچ کوي، او څما هلته هیڅوک نشته. حضورؐ چه ذ حاطب بیان واوریدلو، نو وې فرمائیل، دے ریښتیا وائي، نو دهٔ ته بد مهٔ وائې، او مسلمانان ئې کښي. حضرت عمرؓ بیا عرض اوکړ، یا رسول الله، دے ذ الله، رسول او ذ مسلمانانو خائن دے، حکم اوکړئې، چه ګردن ئې والوخوم، حضورؐ ورته اوفرمائیل، حاطب ذ بدر په جنګ کښې شریک وو، او تاته نهٔ دهٔ معلومه، چه اللّٰه بدر والو ته کتل، او وې فرمائیل، اوس چه تاسو څنګه غواړئې، کار کوئې، ستاسو ذ پاره جنت واجب شولو، یا ما تاسو اوبښلئې، نو ذ حضرت عمرؓ اوښکې اوبهیدلې، اووې فرمائیل، الله او

رَسُوْلُهُ اَعْلَمُ.

رسول ښهٔ پوهيږي.

**باب ۱۰ :**

**باب ۱۰ :** (دا باب بې سُرخي دې).

۳۵: حَدَّثَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدِ الْجُعْفِيُّ حَدَّثَنَا اَبُوْ اَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ الْغَسِيْلِ عَنْ حَمْزَةَ بْنِ اَبِيْ اُسَيْدٍ وَّالزُّبَيْرِ بْنِ الْمُنْذِرِ بْنِ اَبِيْ اُسَيْدٍ قَالَ قَالَ لَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ بَدْرٍ اِذَا اَكْثَبُوْكُمْ فَارْمُوْهُمْ وَاسْتَبْقُوْا نَبْلَكُمْ.

۳۵: عبدالله بن محمد جعفي. ابو احمد زبيري. عبدالرحمٰن بن غسيل. حمزه بن ابي اسيد. زبير بن منذر. حضرت ابو اسيدؓ نه روايت كوي' هغه فرمائي' رسول الله صلي الله عليه وسلّم د بدر په ورځ خلقوته ارشاد فرمائيلې وو' چه كوم وخت كافر تاسوته نزدې راشي' نو په غشو' ئې اوولئې' او خپل غشي محفوظ ساتې.

۳۶: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيْمِ حَدَّثَنَا اَبُوْ اَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ الْغَسِيْلِ عَنْ حَمْزَةَ بْنِ اَبِيْ اُسَيْدٍ وَّالْمُنْذِرِ بْنِ اَبِيْ اُسَيْدٍ قَالَ قَالَ لَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ بَدْرٍ اِذَا اَكْثَبُوْكُمْ يَعْنِيْ كَثَرُوْكُمْ فَارْمُوْهُمْ وَاسْتَبْقُوْا نَبْلَكُمْ.

۳۶: محمد بن عبدالرحيم. ابو احمد زبيري. عبدالرحمٰن بن غسيل. حمزه بن ابي اسيد. منذر بن ابي اسيد. حضرت ابو اسيد نه روايت كوي' هغه فرمائي' حضورؐ دَ بدر په ورځ ارشاد اوفرمائيلو' كوم وخت چه كافر په تاسو حمله اوكړي' نو په غشو' ئې اُوولئې' او خپل غشي ضرورت دَ پاره محفوظ ساتئې.

۳۷: حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا اَبُوْ اِسْحٰقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَآءَ بْنَ عَازِبٍؓ قَالَ جَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الرُّمَاةِ يَوْمَ اُحُدٍ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ جُبَيْرٍ فَاَصَابُوْا مِنَّا سَبْعِيْنَ وَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ وَسَلَّمَ وَ اَصْحَابُهُ اَصَابُوْا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ يَوْمَ بَدْرٍ اَرْبَعِيْنَ وَ

۳۷: عمرو بن خالد. زهير. حضرت ابو اسحاق نه روايت كوي' هغهٔ اووې' ما دَ براء بن عازب نه آوريدلې دي' رسول الله صلي الله عليه وسلّم جنګ اُحد كښې عبدالله بن جبيرؓ په پنځوس تير اندازو سردار مقرر كهٔ كافرو اويا مسلمانان شهيد كړل. او جنګ بدر كښې دَ حضورؐ اصحابوؓ يو سل څلويښت كافر قتل كړې وو' او قيديان ئې جوړ كړې وو. اويا كسان ئې قيد كړې وو'

مِائَةً سَبْعِيْنَ اَسِيْرًا وَّ سَبْعِيْنَ قَتِيْلًا قَالَ اَبُوْ سُفْيَانَ يَوْمٌ بِيَوْمِ بَدْرٍ وَّ الْحَرْبُ سِجَالٌ.

اوبیا' نیے وژلے وو. د جنګ اُحد پـه ورځ ابوسفیان اووے' نن ذ بدر ذ ورځے بدلـه ده. او جنګ د ډول په شان دے.

۳۸: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ حَدَّثَنَا اَبُوْ اُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدٍ عَنْ جَدِّهٖ اَبِيْ بُرْدَةَ عَنْ اَبِيْ مُوْسٰى اُرَاهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَ اِذَا الْخَيْرُ مَا جَآءَ اللّٰهُ بِهٖ مِنَ الْخَيْرِ بَعْدُ وَ ثَوَابُ الصِّدْقِ الَّذِيْ اٰتَانَا بَعْدَ يَوْمِ بَدْرٍ.

۳۸: محمد بن علاء. ابو اسامه. برید. ذ خپل نیکه (دادا) حضرت ابو برده نه روایت کوي' زهٔ ګمان کوم (خـما ګمان دے) چه ابو موسٰي ذ رسول الله صلي الله علیه وسلّم نه روایت اوکهٔ' حضورؐ اوفرمائیل' ما خوب کښې ذ خیر لفظ اولید' چه خدائے به ذ جنګ اُحد په ورځ مسلمانانوله فتح ورکړي' او ذ ریښتیاؤ بدله هغه ده' چه ذ بدر جنګ کښې الله پاک مونږ ته عطا کړله.

۳۹: حَدَّثَنِيْ يَعْقُوْبُ حَدَّثَنَا اِبْرٰهِيْمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ قَالَ قَالَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ اِنِّيْ لَفِي الصَّفِّ يَوْمَ بَدْرٍ اِذِ الْتَفَتُّ فَاِذَا عَنْ يَّمِيْنِيْ وَ عَنْ يَّسَارِيْ فَتَيَانِ حَدِيْثَ السِّنِّ فَكَاَنِّيْ لَمْ اٰمَنْ بِمَكَانِهِمَا اِذْ قَالَ لِيْ اَحَدُهُمَا سِرًّا مِّنْ صَاحِبِهٖ يَا عَمِّ اَرِنِيْ اَبَا جَهْلٍ فَقُلْتُ يَا ابْنَ اَخِيْ وَمَا تَصْنَعُ بِهٖ قَالَ عَاهَدْتُّ اللّٰهَ اِنْ رَاَيْتُهٗ اَنْ اَقْتُلَهٗ اَوْ اَمُوْتَ دُوْنَهٗ فَقَالَ لِيَ الْاٰخَرُ سِرًّا مِّنْ صَاحِبِهٖ مِثْلَهٗ قَالَ فَمَا سَرَّنِيْ اَنِّيْ بَيْنَ رَجُلَيْنِ مَكَانَهُمَا فَاَشَرْتُ لَهُمَا اِلَيْهِ فَشَدَّا عَلَيْهِ مِثْلَ الصَّقْرَيْنِ حَتّٰى ضَرَبَاهُ وَهُمَا ابْنَا

۳۹: یعقوب. ابراهیم بن سعد. ذ خپل پلار' نیکهٔ (دادا) حضرت عبدالرحمٰن بن عوف نه روایت کوي' هغهٔ اوفرمائیل' ذ بدر په ورځ زهٔ صف کښې ولاړ ووم' خوا کښې م او کتل نو ښي او کس پله دوه خلموتي هلکان ولاړ وو' ما چه هغوي اولیدل' نو خوف م محسوس کهٔ' او اطمینان م لاړلو' دے کښې یو کس پټ شان ما نه تپوس اوکهٔ' چه کاکا جي' ماته ابوجهل لږ اوښایه' چه زه وے وینم' هغه کوم سړے دے. ما ورته اووے وراره' تهٔ د ابوجهل څهٔ کولے شے. خلمي اووے' ما خدائے سره عهد کړے دے. چه ابوجهل اووینم' نو قتلوم به ئے' یا به خپله سر داؤ کړم. بیا هغے دوئم خلمي هم ذ خپل ملګري نه په پټه مانه دغه تپوس اوکهٔ. اوس خما هغوي سره دلچسپي پیدا شوه. آخر ما اشارے سره هغوي ته ابوجهل په ګوته کړلو. دے آوریدو سره دواړو ذ عقاب په شان په هغه حمله اوکړه' او په وهلو وهلوئے ذ هغه کار تمام کړلو. دا دواړه خلموتي ذ عفراء خامن

عَفْرَآءَ.

۴۰: حَدَّثَنَا مُوْسَى بْنُ اِسْمٰعِيْلَ حَدَّثَنَا اِبْرٰهِيْمُ اَخْبَرَنَا ابْنُ شِهَابٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ عُمَرُ بْنُ اَسِيْدِ بْنِ جَارِيَةَ الثَّقَفِيُّ حَلِيْفُ بَنِيْ زُهْرَةَ وَ كَانَ مِنْ اَصْحَابِ اَبِيْ هُرَيْرَةَؓ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَؓ قَالَ بَعَثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشَرَةً عَيْنًا وَ اَمَّرَ عَلَيْهِمْ عَاصِمَ بْنَ ثَابِتٍ الْاَنْصَارِيَّ جَدَّ عَاصِمِ بْنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ حَتّٰى اِذَا كَانُوْا بِالْهَدَّةِ بَيْنَ عُسْفَانَ وَ مَكَّةَ ذُكِرُوْا لِحَيٍّ مِنْ هُذَيْلٍ يُقَالُ لَهُمْ بَنُوْ لِحْيَانَ فَنَفَرُوْا لَهُمْ بِقَرِيْبٍ مِنْ مِائَةِ رَجُلٍ رَامٍ فَاقْتَصُّوْا اٰثَارَهُمْ حَتّٰى وَجَدُوْا مَاْكَلَهُمُ التَّمْرَ فِيْ مَنْزِلٍ نَزَلُوْهُ فَقَالُوْا تَمْرُ يَثْرِبَ فَاتَّبَعُوْا اٰثَارَهُمْ فَلَمَّا حَسَّ بِهِمْ عَاصِمٌ وَ اَصْحَابُهٗ لَجَئُوْا اِلٰى مَوْضِعٍ فَاَحَاطَ بِهِمُ الْقَوْمُ فَقَالُوْا لَهُمُ انْزِلُوْا فَاَعْطُوْا بِاَيْدِيْكُمْ وَلَكُمُ الْعَهْدُ وَالْمِيْثَاقُ اَنْ لَّا نَقْتُلَ مِنْكُمْ اَحَدًا فَقَالَ عَاصِمُ بْنُ ثَابِتٍ اَيُّهَا الْقَوْمُ اَمَّا اَنَا فَلَا اَنْزِلُ فِيْ ذِمَّةِ كَافِرٍ ثُمَّ قَالَ اَللّٰهُمَّ اَخْبِرْ عَنَّا نَبِيَّكَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَمَوْهُمْ بِالنَّبْلِ فَقَتَلُوْا عَاصِمًا وَ نَزَلَ اِلَيْهِمْ ثَلٰثَةُ نَفَرٍ عَلٰى

معاذ او معوذ وو.

۴۰: موسى بن اسماعيل. ابراهيم. ابن شهاب. زهري. عمر بن اسيد بن جاريه ثقفي. چه د بنو زهره حليف او د ابوهريرهؓ دوست وو، حضرت ابوهريرهؓ نه روايت كوي، هغهٔ اوفرمائيل، رسول الله صلي الله عليه وسلّم دَ لس سړو په يو جماعت عاصم بن ثابت انصاري سردار مقرر كړٌ او جاسوسئ دَ پاره ئے اوليږل، كوم وخت چه دا خلق هده ته اورسيدل، چه دَ عسفان او مكے په مينځ كښې دے، نو قبيلهٔ لحيان چه دَ قبيلهٔ هذيل يو شاخ دے، هغوي ته چا دَ دوي دَ راتلو خبر وركړ، هغوي سل تير انداز دَ دوي دَ پتے لګولو دَ پاره دوي پسے واستول يوځائے چه هلته دے جماعت قيام كړے وو، او دَ مدينے قجورے ئے خوړلے وے دَ هغے هډوكي چه ئے اوليدل، نو هغه تير انداز پوه شو، او بيا دَ پښو په نښه ئے دَ هغوي پته اولګوله. كوم وخت چه حضرت عاصم او دَ هغهٔ ملګرو اوليدل، چه دوي نزدے راغلل، نو په يوه غونډۍ ئے پناه واخسته، تير اندازو غونډۍ په ګهيره كښې واخسته، اوونيلے، مونږ تاسو سره وعده كوو، كه تاسو خان مونږ ته حواله كړٌ، نو هيچا ته به نقصان نهٔ رسوو، حضرت عاصم ملګرو ته اووے، زهٔ خو دَ كافرو پناه نهٔ خوښوم. بيائے اووے، اے الله، خمونږ دَ حال نه خمونږ نبي صلي الله عليه وسلّم خبردار كړے. بني لحيان په هغوي غشي ورول شروع كړل، آخر حضرت عاصمؓ او دَ هغهٔ اوه ملګري شهيدان شو. او خبيب، زيد

الْعَهْدِ وَالْمِيْثَاقِ مِنْهُمْ خُبَيْبٌ وَّ زَيْدُ
بْنُ الدَّثِنَةِ وَ رَجُلٌ اٰخَرُ فَلَمَّا
اسْتَمْكَنُوْا مِنْهُمْ اَطْلَقُوْا اَوْتَارَ
قِسِيِّهِمْ فَرَبَطُوْهُمْ بِهَا قَالَ الرَّجُلُ
الثَّالِثُ هٰذَا اَوَّلُ الْغَدْرِ وَاللّٰهِ لَا
اَصْحَبُكُمْ اِنَّ لِيْ بِهٰؤُلَاءِ اُسْوَةً يُّرِيْدُ
الْقَتْلٰى فَجَرَّرُوْهُ وَ عَالَجُوْهُ فَاَبٰى اَنْ
يَّصْحَبَهُمْ فَانْطُلِقَ بِخُبَيْبٍ وَّ زَيْدِ بْنِ
الدَّثِنَةِ حَتّٰى بَاعُوْهُمَا بَعْدَ وَقْعَةِ بَدْرٍ
فَابْتَاعَ بَنُوْ الْحَارِثِ بْنِ عَامِرِ بْنِ
نَوْفَلٍ خُبَيْبًا وَّ كَانَ خُبَيْبٌ هُوَ قَتَلَ
الْحَارِثَ بْنَ عَامِرٍ يَوْمَ بَدْرٍ فَلَبِثَ
خُبَيْبٌ عِنْدَهُمْ اَسِيْرًا حَتّٰى اَجْمَعُوْا
قَتْلَهُ فَاسْتَعَارَ مِنْ بَعْضِ بَنَاتِ
الْحَارِثِ مُوْسٰى يَسْتَحِدُّ بِهَا فَاَعَارَتْهُ
فَدَرَجَ بُنَيٌّ لَّهَا وَ هِيَ غَافِلَةٌ حَتّٰى اَتَاهُ
فَوَجَدَتْهُ مُجْلِسَهُ عَلٰى فَخِذِهٖ
وَالْمُوْسٰى بِيَدِهٖ قَالَتْ فَفَزِعْتُ فَزْعَةً
عَرَفَهَا خُبَيْبٌ فَقَالَ اَتَخْشَيْنَ اَنْ
اَقْتُلَهٗ مَا كُنْتُ لِاَفْعَلَ ذٰلِكَ قَالَتْ وَاللّٰهِ
مَا رَاَيْتُ اَسِيْرًا قَطُّ خَيْرًا مِّنْ خُبَيْبٍ
وَاللّٰهِ لَقَدْ وَجَدْتُهٗ يَوْمًا يَاْكُلُ قِطْفًا
مِنْ عِنَبٍ فِيْ يَدِهٖ وَ اِنَّهٗ لَمُوْثَقٌ
بِالْحَدِيْدِ وَمَا بِمَكَّةَ مِنْ ثَمَرَةٍ وَّ كَانَتْ
تَقُوْلُ اِنَّهٗ لَرِزْقٌ رَزَقَهُ اللّٰهُ خُبَيْبًا فَلَمَّا
خَرَجُوْا بِهٖ مِنَ الْحَرَمِ لِيَقْتُلُوْهُ فِيْ

بن دثنه او عبدالله بن طارق مجبورًا خپل ځان کافرو ته
حواله کړلو. کافرو د لیندے نه جے اوښکلے، او په هغے
نے د هغوي متهے اوتړلے، نو عبدالله بن طارق اووے، دا
ورمبنے غداري ده. په خدائے مِ دے قسم وي، زهٔ تاسو
سره هيڅ کله نه ځم، زهٔ خو خپلو ملګرو کښ تلل
خوښوم. کافرو ډیر راښکلو چه په څهٔ طریقه نے مکے ته
بوځي، خو هغه لانهٔ رلو، آخر حضرت خبیب د حارث بن
عامر بن نوفل خامنو په بیع واخستلو، ځکه چه خبیبؓ
بدر کښ حارث بن عامر قتل کړے وو. حضرت خبیب
ډیرے ورځے قید کښ وو. کوم وخت چه د هغهٔ د قتل
اراده نے اوکړله، نو یوه ورځ حضرت خبیبؓ د حارث د
لور نه اُستره (پاکي) اوغوښتله هغے ورکړله. اتفاق سره
هغه وخت د هغے بچے خبیبؓ له ورغے. خبیبؓ هغه په
خپل پتون کینولو. ښځے چه دا اولیدل، چه بچے نے د
خبیب په پتون ناست دے. او استره د خبیبؓ په لاس
کښ وه، نو هغه سخته پریشانه شوه. او خبیبؓ د هغے په
پریشانی پوهه شو. نو ورته نے اووے آیا ته په دے یرے
آخستے نے، چه زهٔ به دا بچے مړ کړمه، زهٔ داسے نهٔ کوم.
نو هغے ښځے اووے په خدائے مِ دے قسم وي، ما یو
ورځ اولیدل چه خبیب سره د انګورو غنچک دے، لګیا
دے خوري نے، حالانکه هغه د اوسپنے په زنځیرونو کښ
تړلے شوے وو. او بیا هغه زمانه کښ داسے څهٔ میوه هم
مکه کښ نهٔ وه. د هغے ښځے بیان دے چه دا میوه الله
تعالي خبیب ته (د غیب نه) رالیږلے وه. غرض کوم
وخت چه د حارث خامنو خبیبؓ د قتل د پاره د حرم نه
بهر بوتلو نو خبیبؓ اووے، ما یو دوه رکعاته نفلو ته

الْحِلِّ قَالَ لَهُمْ خُبَيْبٌ دَعُوْنِيْ أُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ فَتَرَكُوْهُ فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ فَقَالَ وَاللّٰهِ لَوْلَا اَنْ تَحْسِبُوْا اَنَّ مَابِيْ جَزَعٌ لَزِدْتُ ثُمَّ قَالَ اللّٰهُمَّ اَحْصِهِمْ عَدَدًا وَّاقْتُلْهُمْ بَدَدًا وَّلَا تُبْقِ مِنْهُمْ اَحَدًا ثُمَّ اَنْشَأَ يَقُوْلُ.

پريږدئي' اجازت نه پس دوه ركعاته نفل ئې اوكړل. بيائې اووې' خدائېكو' كه ستاسو دا خيال نهٔ وې' چه زهٔ دَ مرګ نه يريږم' نو زيات مونځ به مې كړې وې. دې نه پس خبيبٌ دا دُعا اوغښتله' يا اللّٰه' دوي تباه كړې' او يو په كښې هم ژوندې مهٔ پريږدې. بيائې دا اشعار اووې (ترجمه):

فَلَسْتُ اُبَالِيْ حِيْنَ اُقْتَلُ مُسْلِمًا
عَلٰى اَيِّ جَنْبٍ كَانَ لِلّٰهِ مَصْرَعِيْ
وَ ذٰلِكَ فِيْ ذَاتِ الْاِلٰـهِ وَ اِنْ يَّشَأْ
يُبَارِكْ عَلٰى اَوْصَالِ شِلْوٍ مُمَزَّعِ

هر كله چه زهٔ په اسلام مرم' نو بيا هيڅ پرواه نشته په كوم اړخ چه پريوځم' ځما مرګ دَ خدائې په محبت كښې دې كه هغه غواړي نو دَ هرې ټكړې او دَ جسم دَ اعضاؤ په بدله كښې به بهتر ثواب راته عطا كړي. او بركت به راكړي

ثُمَّ قَامَ اِلَيْهِ اَبُوْ سَرْوَعَةَ عُقْبَةُ بْنُ الْحَارِثِ فَقَتَلَهٗ وَ كَانَ خُبَيْبٌ هُوَ سَنَّ لِكُلِّ مُسْلِمٍ قُتِلَ صَبْرًا الصَّلٰوةَ وَ اَخْبَرَ اَصْحَابَهٗ يَوْمَ اُصِيْبُوْا وَ بَعَثَ نَاسٌ مِّنْ قُرَيْشٍ اِلٰى عَاصِمِ بْنِ ثَابِتٍ حِيْنَ حُدِّثُوْا اَنَّهٗ قُتِلَ اَنْ يُّؤْتُوْا بِشَيْءٍ مِّنْهُ يُعْرَفُ وَ كَانَ قَتَلَ رَجُلًا عَظِيْمًا مِّنْ عُظَمَآئِهِمْ فَبَعَثَ اللّٰهُ لِعَاصِمٍ مِثْلَ الظُّلَّةِ مِنَ الدَّبْرِ فَحَمَتْهُ مِنْ رُّسُلِهِمْ فَلَمْ يَقْدِرُوْا اَنْ يَّقْطَعُوْا مِنْهُ شَيْئًا وَ قَالَ كَعْبُ بْنُ مَالِكٍ ذَكَرُوْا مُرَارَةَ بْنَ الرَّبِيْعِ الْعُمَرِيَّ وَ هِلَالَ ابْنَ اُمَيَّةَ الْوَاقِفِيَّ رَجُلَيْنِ صَالِحَيْنِ قَدْ شَهِدَا بَدْرًا

دې نه پس دَ حارث خوي ابو سروعه عقبه' خبيبٌ شهيد كړلو. دا سنت دَ خبيبٌ نه راووتلو' (يعني دا سنت دَ هغهٔ نه جاري دې) چه هر كله څوک مسلمان بې بسه شي' او وژلې شي' نو دوه ركعاته مونځ دې اوكړي. حضورٌ خپلو اصحابوٌ ته دَ عاصم او دَ هغهٔ دَ ملګرو دَ شهادت خبر په هغه ورځ وركړهٔ' په كومه ورځ چه هغوي شهيد شولو. قريشو چه دَ عاصم دَ مرګ خبر واوريدهٔ نو څهٔ خلق ئې اوليږل' چه دَ عاصم دَ لاش نه څهٔ ټكړه راوړي' چه مونږ ئې اوپيژنو' ځكه چه عاصم دَ كافرو يو غټ سړې وژلې وو' نو اللّٰه بې شماره مچئې دَ هغهٔ دَ لاش حفاظت له راوليږلې' چه دَ قريشو سړي لاش ته ورنزدې نشي' او څهٔ ټكړه ترې پرې نهٔ كړي' كعب بن مالك فرمائي' ماته خلقو بيان كړې دې' چه مراره بن ربيع عمري او هلال بن اُميه واقفي دوه نيک سړي وو' چه بدر كښې شريک وو (خو تبوک كښې زړستو پاتې شوې وو).

۴۱: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا لَيْثٌ عَنْ يَحْيَى عَنْ نَافِعٍ اَنَّ ابْنَ عُمَرَ ذَكَرَ لَهُ اَنَّ سَعِيدَ بْنَ زَيْدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ نُفَيْلٍ وَ كَانَ بَدْرِيًّا مَرِضَ فِيْ يَوْمِ جُمُعَةٍ فَرَكِبَ اِلَيْهِ بَعْدَ اَنْ تَعَالَى النَّهَارُ وَاقْتَرَبَتِ الْجُمُعَةُ وَ تَرَكَ الْجُمُعَةَ وَ قَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِيْ عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُتْبَةَ اَنَّ اَبَاهُ كَتَبَ اِلٰى عُمَرَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الْاَرْقَمِ الزُّهْرِيِّ يَأْمُرُهُ اَنْ يَدْخُلَ عَلٰى سُبَيْعَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ الْاَسْلَمِيَّةِ فَيَسْاَلَهَا عَنْ حَدِيْثِهَا وَ عَنْ مَا قَالَ لَهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ اسْتَفْتَتْهُ فَكَتَبَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الْاَرْقَمِ اِلٰى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُتْبَةَ يُخْبِرُهُ اَنَّ سُبَيْعَةَ بِنْتَ الْحَارِثِ اَخْبَرَتْهُ اَنَّهَا كَانَتْ تَحْتَ سَعْدِ بْنِ خَوْلَةَ وَهُوَ مِنْ بَنِيْ عَامِرِ بْنِ لُؤَيٍّ وَ كَانَ مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا فَتُوُفِّيَ عَنْهَا فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ وَهِيَ حَامِلٌ فَلَمْ تَنْشَبْ اَنْ وَضَعَتْ حَمْلَهَا بَعْدَ وَفَاتِهِ فَلَمَّا تَعَلَّتْ مِنْ نِفَاسِهَا تَجَمَّلَتْ لِلْخُطَّابِ فَدَخَلَ عَلَيْهَا اَبُو السَّنَابِلِ بْنُ بَعْكَكٍ رَجُلٌ مِنْ بَنِيْ عَبْدِ الدَّارِ فَقَالَ لَهَا مَالِيْ اَرَاكِ تَجَمَّلْتِ لِلْخُطَّابِ تُرَجِّيْنَ النِّكَاحَ فَاِنَّكِ وَاللّٰهِ

۴۱: قتيبه بن سعيد. ليث. يحيي حضرت نافع نه روايت کوي، هغه اوفرمائيل چا حضرت عبدالله بن عمرؓ ته ذ جمعې په ورځ بيان اوکړ، چه سعيد بن زيد بن عمرو بن نفيل بدري ناروغه دے هغه سور شو، ذ هغه تپوس له لاړ، ورځ راختلے وه، او ذ جمعې وخت قريب وو، او هغه جمعه ترک کړه. او ليث بن سعد، يونس، حضرت ابن شهاب نه روايت کوي، ماته عبيدالله بن عبدالله بن عتبه بيان اوکړ، خما پلار عبدالله، عمر بن عبدالله بن ارقم ته خط اوليکه، چه ته سبيعه بنت حارث اسلميه له ورشه، او ذ هغې نه ذ هغې قصه دريافت وکړه، او رسول الله صلي الله عليه وسلّم چه ذ هغې ذ سوال کوم جواب ورکړے وو، هغه هم معلوم کړه. عمر بن عبدالله ورته جواب کښې اوليکل، سبيعه بنت حارث وائي، زه ذ سعد بن خوله په نکاح کښې ووم، او هغه ذ عامر بن لؤي ذ قبيلے نه وو، يا ذ هغوي حليف (دوست) وو، او هغه ذ هغې خلقو نه وو، چه جنگ بدر کښې شريک وو، او حجة الوداع کښې وفات شولو، او سبيعه ئې حامله پريښوده. لږ ورځے پس وضع حمل اوشو، څه وخت چه هغه ذ نفاس نه پاکه شوه، نو د نکاح پيغام ليږونکو ذ پاره ئې ډول سنګار اوکړلو، هغه وخت ذ عبدالدار قبيلے يو سړے چه ذ هغه نوم ابو السنابل وو، هغې له راغے، او ورته ئې اووے، سبيعه څه حال دے، زه پوهيږم، چه ته پيغام ورکونکو ذ پاره تياره ناسته ئې، آيا ته نکاح کول غواړے، په خدائے م دے قسم وي،

مَا اَنْتِ بِنَاكِحٍ حَتّٰى تَمُرَّ عَلَيْكِ اَرْبَعَةُ اَشْهُرٍ وَّ عَشْرٌ قَالَتْ سُبَيْعَةُ فَلَمَّا قَالَ لِيْ ذٰلِكَ جَمَعْتُ عَلَيَّ ثِيَابِيْ حِيْنَ اَمْسَيْتُ وَ اَتَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَاَلْتُهُ عَنْ ذٰلِكَ فَاَفْتَانِيْ بِاَنِّيْ قَدْ حَلَلْتُ حِيْنَ وَضَعْتُ حَمْلِيْ وَ اَمَرَنِيْ بِالتَّزَوُّجِ اِنْ بَدَالِيْ تَابَعَهُ اَصْبَغُ عَنِ ابْنِ وَهْبٍ عَنْ يُوْنُسَ وَ قَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِيْ يُوْنُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ وَّ سَاَلْنَاهُ فَقَالَ اَخْبَرَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ ثَوْبَانَ مَوْلٰى بَنِيْ عَامِرِ بْنِ لُؤَيٍّ اَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ اِيَاسِ بْنِ الْبُكَيْرِ وَ كَانَ اَبُوْهُ شَهِدَ بَدْرًا اَخْبَرَهُ.

څو پورې چه څلور میاشتې او لس ورځې پوره نشي، نو هیڅ کله نکاح نشي کیدې. سبیعه وائي، کوم وخت چه ما ذَ ابو السنابل خبره واوریده، نو خپلې کپړې مې واغستې، او مابنام کښې ذَ نبي صلي الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضره شوم. او ذَ حضورؐ نه مې مسئله اوپښتله. نو حضورؐ جواب راکړلو، کله چه تهٔ ذَ وضع حمل نه فارغه شوې، نو دويمه نکاح درست شوله. کله چه تهٔ غواړې نو نکاح اوکړه. امام بخاريؒ فرمائي، ذَ دې حديث په بيان کولو کښې اصبغ ذَ ليث پيروي کړې ده. ليث اووې، مونږ ته يونس دا حديث بيان کړلو، او هغهٔ ته ابن شهاب زهري. يونس نه تپوس اوشو، نو هغهٔ اووې عبدالرحمن بن ثوبان چه ذَ بني عامر بن لؤي غلام دې، ماته ذَ دې خبر راکهٔ، او هغهٔ ته اياس بن بکر، چه بدري وو.

## بَابُ ۱۱ : شُهُوْدِ الْمَلٰٓئِكَةِ بَدْرًا.

## باب ۱۱ : ذَ بدر ميدان کښې ذَ فريښتو ذَ حاضرئ بيان.

۴۲: حَدَّثَنِيْ اِسْحٰقُ بْنُ اِبْرَاهِيْمَ اَخْبَرَنَا جَرِيْرٌ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيْدٍ عَنْ مُعَاذِ بْنِ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ الزُّرَقِيِّ عَنْ اَبِيْهِ وَ كَانَ اَبُوْهُ مِنْ اَهْلِ بَدْرٍ قَالَ جَآءَ جِبْرِيْلُ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا تَعُدُّوْنَ اَهْلَ بَدْرٍ فِيْكُمْ قَالَ مِنْ اَفْضَلِ الْمُسْلِمِيْنَ اَوْ كَلِمَةً نَحْوَهَا قَالَ وَ كَذٰلِكَ مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ.

۴۲: اسحٰق بن ابراهيم. جرير. يحيٰي بن سعيد. حضرت معاذ بن رفاعه بن رافع زرقي ذَ خپل پلار رفاعه نه چه بدر کښې شريک وو، روايت کوي، حضرت جبرنيل ذَ نبي صلي الله عليه وسلم خدمت کښې راغې، تپوس نې اوکهٔ، چه تاسو بدر واله څنګه ګنړې، حضورؐ ورته اوفرمائيل، ذَ ټولو مسلمانانو نه افضل يا دغسې څهٔ کلمه نې اوفرمائيله. حضرت جبرنيلؑ عرض اوکهٔ، دغه شان هغه فريښتې چه بدر کښې حاضرې شوې وې، ذَ نورو فريښتو نه افضلې دي.

۴۳: حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ

۴۳: سليمان بن حرب. حماد. يحيٰي. حضرت

حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ يَحْيَى عَنْ مُعَاذِ بْنِ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ وَ كَانَ رِفَاعَةُ مِنْ أَهْلِ بَدْرٍ وَ كَانَ رَافِعٌ مِنْ أَهْلِ الْعَقَبَةِ فَكَانَ يَقُولُ لِابْنِهِ مَا يَسُرُّنِي أَنِّي شَهِدْتُ بَدْرًا بِالْعَقَبَةِ قَالَ سَأَلَ جِبْرِيلُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهٰذَا.

معاذ بن رفاعه بن رافع نه روايت كوي' څما پلار بدري وو' او نيكهٔ (دادا) رافع ذ بيعت عقبه والو نه وو' نو رافع به خپل خوئي رفاعه ته فرمائيل' ما ته ذ عقبه برابر بدر كښ ذ شريكيدو خوشحالي نشته. وې فرمائيل' حضرت جبرئيل دے معامله كښ ذ نبي صلي الله عليه وسلّم نه تپوس كړے وو' څرنګه چه مخكښ ذكر اوشولو.

۴۴: حَدَّثَنَا إِسْحٰقُ بْنُ مَنْصُورٍ أَخْبَرَنَا يَزِيدُ أَخْبَرَنَا يَحْيَى سَمِعَ مُعَاذَ بْنَ رِفَاعَةَ أَنَّ مَلَكًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ عَنْ يَحْيَى أَنَّ يَزِيدَ بْنَ الْهَادِ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ كَانَ مَعَهُ يَوْمَ حَدَّثَهُ مُعَاذٌ هٰذَا الْحَدِيثَ فَقَالَ يَزِيدُ فَقَالَ مُعَاذٌ إِنَّ السَّائِلَ هُوَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ.

۴۴: اسحاق بن منصور. يزيد. يحيٰي بن سعيد نه روايت كوي' ما ذ معاذ بن رفاعه نه آوريدلے دي' يوې فريښتې ذ رسول الله صلي الله عليه وسلّم نه تپوس اوكه' ذ يحيٰي بيان دے' چه يزيد بن الهاد ما ته بيان اوكه. كوم وخت چه حضرت معاذ دا حديث ما ته بيان كه' نو زه هم ورسره اوم' يزيد اووې' معاذ فرمائيل' او تپوس كونكے فريښته حضرت جبرائيل عليه السلام وو.

۴۵: حَدَّثَنِي إِبْرٰهِيمُ بْنُ مُوسٰى أَخْبَرَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ بَدْرٍ هٰذَا جِبْرِيلُ آخِذٌ بِرَأْسِ فَرَسِهِ عَلَيْهِ أَدَاةُ الْحَرْبِ.

۴۵: ابراهيم بن موسٰي. عبدالوهاب. خالد. عكرمه. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي' نبي صلي الله عليه وسلّم ذ بدر په ورځ اوفرمائيل. دا جبرائيلؑ راغلے دے' ذ آس سر ئے نيولے دے' او ذ جنګ وسله ئے اچولے ده.

## باب ۱۲:

## باب ۱۲: (دا باب بې سُرخي دے).

۴۶: حَدَّثَنِي خَلِيفَةُ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْأَنْصَارِيُّ حَدَّثَنَا سَعِيدٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ مَاتَ أَبُو زَيْدٍ وَلَمْ يَتْرُكْ عَقِبًا وَ كَانَ

۴۶: خليفه بن خياط. محمد بن عبدالله انصاري. سعيد بن ابي عروبه. قتاده. حضرت انسؓ نه روايت كوي' هغهٔ اوفرمائيل' ابو زيد صحابي لاولده مړ شولو' او هغه بدر

بَدْرِيًّا.

۴۷: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِيْ يَحْيَى بْنُ سَعِيْدٍ عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنِ ابْنِ خَبَّابٍ اَنَّ اَبَا سَعِيْدِ بْنَ مَالِكٍ الْخُدْرِيَّ قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ فَقَدَّمَ اِلَيْهِ اَهْلُهُ لَحْمًا مِّنْ لُحُوْمِ الْاَضْحٰى فَقَالَ مَا اَنَا بِاٰكِلِهٖ حَتّٰى اَسْاَلَ فَانْطَلَقَ اِلٰى اَخِيْهِ لِاُمِّهٖ وَ كَانَ بَدْرِيًّا قَتَادَةَ بْنِ النُّعْمَانِ فَسَاَلَهُ فَقَالَ اِنَّهُ حَدَثَ بَعْدَكَ اَمْرٌ نَّقْضٌ لِمَا كَانُوْا يُنْهَوْنَ عَنْهُ مِنْ اَكْلِ لُحُوْمِ الْاَضْحٰى بَعْدَ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ.

کښې شريک وو.

۴۷: عبدالله بن يوسف. ليث. يحيي بن سعيد. قاسم بن محمد. حضرت خبابؓ نه روايت کوي، حضرت ابو سعيد خدري چه کوم وخت د سفر نه کورته واپس راغے، نو د هغه کور والو، هغه ته د قرباني غوښه پيش کړله، هغهٔ ورته اوفرمائيل، زهٔ دا هغه وخته پورے نهٔ خورم، څو پورے چه د خپل ما ں جائے ورور (اِلٰى اَخِيْهِ لِاُمِّهٖ) قتاده بن نعمان نه د مسئلے تپوس اونه کړي، چه بدري وو، هغه قتاده بن نعمان له راغے، هغهٔ ورته اوفرمائيل، ستا د تلو نه پس هغه وړمبنے حکم منسوخ شوے دے، چه هغے کښې د قرباني غوښه د درے ورځو نه پس د ايښودلو نه منع کړے شوے ده.

ف: ماں جائے ورور: چه مور نے يوه وي، او پلار جدا جدا.

۴۸: حَدَّثَنِيْ عُبَيْدُ بْنُ اِسْمٰعِيْلَ حَدَّثَنَا اَبُوْ اُسَامَةَ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ قَالَ الزُّبَيْرُ لَقِيْتُ يَوْمَ بَدْرٍ عُبَيْدَةَ بْنَ سَعِيْدِ بْنِ الْعَاصِ هُوَ مُدَجَّجٌ لَا يُرٰى مِنْهُ اِلَّا عَيْنَاهُ وَهُوَ يُكْنٰى اَبُوْ ذَاتِ الْكَرِشِ فَقَالَ اَنَا اَبُوْ ذَاتِ الْكَرِشِ وَ حَمَلْتُ عَلَيْهِ بِالْعَنَزَةِ فَطَعَنْتُهُ فِيْ عَيْنِهٖ فَمَاتَ قَالَ هِشَامٌ فَاُخْبِرْتُ اَنَّ الزُّبَيْرَ قَالَ لَقَدْ وَضَعْتُ رِجْلِيْ عَلَيْهِ ثُمَّ تَمَطَّاْتُ فَكَانَ الْجُهْدَ اَنْ نَّزَعْتُهَا وَقَدِ انْثَنٰى طَرَفَاهَا قَالَ عُرْوَةُ فَسَاَلَهُ اِيَّاهَا رَسُوْلُ

۴۸: عبيد بن اسمعيل. ابو اسامه. هشام بن عروه. د خپل پلار حضرت زبير نه روايت کوي، څما پلار زبير بن عوام به فرمائيل، د بدر په ورځ ما عبيده بن سعيد بن عاص اوليدلو، چه وَسلو کښې ډوب شوے وو صرف دواړه سترګي نے پرانستے وے، د هغه کُنيت ابوذات الکرش وو. هغه ونيلے، زهٔ ذات الکرش يم. ما يوه نيزه واخسته، په هغهٔ م حمله اوکړه. نيزه نے په سترګه کښې ننوته او هغه مړ شولو. هشام وائي، ماته بيان اوکړے شو، چه زبير ونيلے، کوم وخت چه عبيده مړ شو، نو ما خپله پښه په هغه کيښودلو، او خپل پوره زور سره م هغه نيزه د هغه د سترګے نه اوښکله. د هغے دواړه

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَعْطَاهُ فَلَمَّا قُبِضَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَخَذَهَا ثُمَّ طَلَبَهَا اَبُوْ بَكْرٍ فَاَعْطَاهُ فَلَمَّا قُبِضَ اَبُوْبَكْرٍ سَاَلَهَا اِيَّاهُ عُمَرُ فَاَعْطَاهُ اِيَّاهَا فَلَمَّا قُبِضَ عُمَرُ اَخَذَهَا ثُمَّ طَلَبَهَا عُثْمَانُ مِنْهُ فَاَعْطَاهُ اِيَّاهَا فَلَمَّا قُتِلَ عُثْمَانُ وَقَعَتْ عِنْدَ اٰلِ عَلِيٍّ فَطَلَبَهَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ الزُّبَيْرِ فَكَانَتْ عِنْدَهٗ حَتّٰى قُتِلَ.

غاړے کبرے شوے وے. عروة وائي' هغه نیزه حضور صلي الله علیه وسلّم ذ زبیرؓ نه اوغُبنتله نو هغهٔ ورکړله. ذ حضورؑ ذ وفات نه پس هغه نیزه ابوبکرؓ اوغُبنتله' هغهٔ ته زبیر ورکړله' بیا ذ هغهٔ ذ وفات نه پس حضرت عمرؓ اوغُبنتله' هغهٔ ته ورکړے شوه. ذ هغهٔ ذ وفات نه پس حضرت عثمانؓ اوغُبنتله' هغهٔ ته ورکړے شوه' بیا حضرت عليؓ ته راغله. بیا دا نیزه ذ هغهٔ اولاد سره وه. بیا عبداللّٰه بن زبیر اوغبنتله' چه ذ هغهٔ شهادت پورے ورسره وه.

٤٩: حَدَّثَنَا اَبُو الْيَمَانِ اَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ اَخْبَرَنِيْ اَبُوْ اِدْرِيْسَ عَائِذُ اللّٰهِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ اَنَّ عُبَادَةَ بْنَ الصَّامِتِ وَ كَانَ شَهِدَ بَدْرًا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَايِعُوْنِيْ.

٤٩: ابوالیمان. شعیب. حضرت زهري نه روایت کوي' ابو ادریس عائذ اللّٰه بن عبداللّٰه چه بدر کښې شریک وو' ماته اووے' حضور صلي اللّٰه علیه وسلّم ماته اوفرمائیل' ماته بیعت اوکړئ.

٥٠: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ اَخْبَرَنِيْ عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّ اَبَا حُذَيْفَةَ وَ كَانَ مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَبَنّٰى سَالِمًا وَ اَنْكَحَهٗ بِنْتَ اَخِيْهِ هِنْدَ بِنْتَ الْوَلِيْدِ بْنِ عُتْبَةَ وَهُوَ مَوْلًى لِاِمْرَاَةٍ مِّنَ الْاَنْصَارِ كَمَا تَبَنّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَيْدًا وَ كَانَ مَنْ تَبَنّٰى رَجُلًا

٥٠: یحیی بن بکیر. لیث. عقیل. ابن شهاب. زهري. عروه بن زبیر. ذ نبي علیه السلام تبر' بي بي عائشےؓ نه روایت کوي' حضرت ابو حذیفهؓ چه بدر کښې شریک وو' سالم ئے' چه ذ یوے انصاریه ښځے غلام وو خپل خوئے جوړ کڅ او خپله وریره (بھتیجی) یعني ذ ولید بن عتبه لور سره ئے ذ هغه نکاح اوکړله' څنګه چه حضور صلي اللّٰه علیه وسلّم زیدؓ خپل خوئے جوړ کړے وو. او ذ جاهلیت زمانه کښې دا رسم وو. چه څوک به چه خپل خوئے جوړ کړلو' نو هغه به ذ هغهٔ په نوم ونیلے شو' او ذ هغهٔ ذ مال به وارث کیدلو' تردے چه اللّٰه

فِي الْجَاهِلِيَّةِ دَعَاهُ النَّاسُ اِلَيْهِ وَ وَرِثَ مِنْ مِّيْرَاثِهٖ حَتّٰى اَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى اُدْعُوْهُمْ لِاٰبَآئِهِمْ فَجَآءَتْ سَهْلَةُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ الْحَدِيْثَ.

تعالي دا آيت نازل كړلو: اُدْعُوْهُمْ لِاٰبَآئِهِمْ الخ: چه تاسو هغوي د خپل حقيقي پلارانو په نوم بلئې. د دې آيت د نازليدو نه پس سهله بنت سهل، د ابو حذيفه بي بي د حضورﷺ خدمت كښې حاضره شوه. بيائې دا حديث بيان كړلو.

۵۱: حَدَّثَنَا عَلِيٌّ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ ذَكْوَانَ عَنِ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذٍ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَدَاةَ بُنِيَ عَلَيَّ فَجَلَسَ عَلٰى فِرَاشِيْ كَمَجْلِسِكَ مِنِّيْ وَ جُوَيْرِيَاتٌ يَضْرِبْنَ بِالدَّفِّ يَنْدُبْنَ مَنْ قُتِلَ مِنْ اٰبَائِهِنَّ يَوْمَ بَدْرٍ حَتّٰى قَالَتْ جَارِيَةٌ: ع: وَ فِيْنَا نَبِيٌّ يَعْلَمُ مَا فِيْ غَدٍ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُوْلِيْ هٰكَذَا وَ قُوْلِيْ مَا كُنْتِ تَقُوْلِيْنَ.

۵۱: علي بن عبدالله. بشر بن مفضل. خالد بن ذكوان نه روايت كوي، هغه د ربيع بنت معوذ نه روايت اوكه، چه حضور اكرم صلي الله عليه وسلّم د شب زفاف نه پس خما كورته تشريف راوړلو، او خما په بستره داسې كيناست، څنگه چه ته ناست ئې. دغه وخت څو جينكو تنبل وهلو، او د بدر د مقتولينو په شان كښې ئې قصيده خواني كوله. آخر هغې كښې يوې جينۍ داسې سندره اوونيله، مونږ ته يو داسې نبي تشريف راوړے دے، چه په دې پوهيږي چه صباله به څۀ كيږي. حضور اكرم صلي الله عليه وسلّم ورته اوفرمائيل داسې مۀ وايه، بلكه څۀ چه دې مخكښې وئيلې، هغه وايه (شب زفاف: د وادۀ وړمبنې شپه).

۵۲: حَدَّثَنَا اِبْرٰهِيْمُ بْنُ مُوْسٰى اَخْبَرَنَا هِشَامٌ عَنْ مَّعْمَرٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ ح وَ حَدَّثَنَا اِسْمٰعِيْلُ قَالَ حَدَّثَنِيْ اَخِيْ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ اَبِيْ عَتِيْقٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُوْدٍ اَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ اَبُوْ طَلْحَةَ صَاحِبُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ كَانَ قَدْ شَهِدَ

۵۲: ابراهيم بن موسي. هشام. معمر. زهري. نه او دونم سند كښې امام بخاريؒ وائي: مونږ اسمٰعيل بن اويس. هغۀ ته د هغۀ وررور عبدالحميد. هغۀ د سليمان بن هلال نه هغه د محمد عتيق نه. هغه د ابن شهاب زهري نه او هغه د عبيدالله بن عبدالله بن مسعودؓ نه روايت كوي، حضرت ابن عباسؓ اوفرمائيل، ابو طلحه د رسول الله صلي الله عليه وسلّم صحابي چه بدر كښې شريک وو، ماته اووې حضور اكرمﷺ

بَدْرًا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ قَالَ لَا تَدْخُلُ الْمَلٰٓئِكَةُ بَيْتًا فِيْهِ كَلْبٌ وَلَا صُوْرَةٌ يُرِيْدُ التَّمَاثِيْلَ الَّتِيْ فِيْهَا الْاَرْوَاحُ.

اوفرمانيل: ذ رحمت ملائكے هغے كور كښې نه داخليږي: كوم كور كښې چه سپے يا تصويرونه وي. ابن عباسؓ فرمائي: د دے نه د جاندارو تصويرونه مراد دي.

۵۳: حَدَّثَنَا عَبْدَانُ اَخْبَرَنَا عَبْدُ اللّٰهِ اَخْبَرَنَا يُوْنُسُ حَدَّثَنَا اَحْمَدُ ابْنُ صَالِحٍ حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ حَدَّثَنَا يُوْنُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ اَخْبَرَنَا عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنٍ اَنَّ حُسَيْنَ بْنَ عَلِيٍّ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ اَخْبَرَهُ اَنَّ عَلِيًّا قَالَ كَانَتْ لِيْ شَارِفٌ مِنْ نَّصِيْبِيْ مِنَ الْمَغْنَمِ يَوْمَ بَدْرٍ وَّ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَعْطَانِيْ مِمَّا اَفَآءَ اللّٰهُ عَلَيْهِ مِنَ الْخُمُسِ يَوْمَئِذٍ فَلَمَّا اَرَدْتُ اَنْ اَبْتَنِيَ بِفَاطِمَةَ عَلَيْهِمَا السَّلَامُ بِنْتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَدْتُّ رَجُلًا صَوَّاغًا فِيْ بَنِيْ قَيْنُقَاعَ اَنْ يَّرْتَحِلَ مَعِيَ فَنَأْتِيْ بِاِذْخِرٍ فَاَرَدْتُّ اَنْ اَبِيْعَهُ مِنَ الصَّوَّاغِيْنَ فَنَسْتَعِيْنَ بِهٖ فِيْ وَلِيْمَةِ عُرُسِيْ فَبَيْنَا اَنَا اَجْمَعُ لِشَارِفَيَّ مِنَ الْاَقْتَابِ وَالْغَرَآئِرِ وَالْحِبَالِ وَ شَارِفَايَ مُنَاخَانِ اِلٰى جَنْبِ حُجْرَةِ رَجُلٍ مِّنَ الْاَنْصَارِ حَتّٰى جَمَعْتُ مَا جَمَعْتُ فَاِذَا اَنَا بِشَارِفَيَّ قَدْ اُجِبَّتْ اَسْنِمَتُهُمَا وَ بُقِرَتْ خَوَاصِرُهُمَا وَ اُخِذَ مِنْ اَكْبَادِهِمَا فَلَمْ اَمْلِكْ

۵۳: عبدان. عبدالله بن مبارك. يونس بن يزيد ايلي (دويم سند) امام بخاريؒ. احمد بن صالح. عنبسه بن خالد. يونس. زهري. علي بن حسين. حسين بن علي. حضرت عليؓ نه روايت كوي، هغه اوفرمائيل، ذ بدر مال غنيمت كښې يوه اُوښه خما اورسيده. دويمه اُوښه نبي صلي الله عليه وسلم ماته ذ خمس ذ مال نه راكړله، ما سره دوه اُوښے شوے. ما اُوغوښتل، چه بي بي فاطمے ذ رسول الله صلي الله عليه وسلم لور سره شپه تيره كړم، نو ما ذ بني قينقاع يو يهودي زرګر ته اووے، چه مونږ دواړه به لاړ شو، او اذخر واښه به په اُوښو راوړو، خما مطلب داوو، چه هغه خرڅ كړم، او ذ خپلے نكاح وليمه به اوكړم. په دے خيال ما ذ اُوښو ذ پاره كټه، رسۍ او تهيلئ وغيره راغنډول. اُوښے ذ يو انصاري كور سره ناستے وے، كوم وخت چه ما سامان راجمع كړ، او، اُوښو، له راغلم، نو اووم ليدل، چه چا ذ هغے اُوښو قبونه پريكړے دي، او خيټے ئے ورله څيرلے دي، اينه ترے اوښكلے ده. دے ليدو سره ما له ژړا راغله، او ذ خلقو نه م تپوس اوكړ دا چا كړے دي. خلقو راته اووے، دا كار حمزه بن عبدالمطلب كړے، او هغه انصارو سره ناست دے، دے كور

عَيۡنَيَّ حِيۡنَ رَاَيۡتُ الۡمَنۡظَرَ قُلۡتُ مَنۡ فَعَلَ هٰذَا قَالُوۡا فَعَلَهٗ حَمۡزَةُ بۡنُ عَبۡدِ الۡمُطَّلِبِ وَهُوَ فِيۡ هٰذَا الۡبَيۡتِ فِيۡ شَرۡبٍ مِّنَ الۡاَنۡصَارِ عِنۡدَهٗ قَيۡنَةٌ وَّ اَصۡحَابُهٗ فَقَالَتۡ فِيۡ غِنَآئِهَا. اَلَا يَا حَمۡزُ لِلشُّرُفِ النِّوَآءِ. فَوَثَبَ حَمۡزَةُ اِلَى السَّيۡفِ فَاَجَبَّ اَسۡنِمَتَهُمَا وَ بَقَرَ خَوَاصِرَهُمَا وَ اَخَذَ مِنۡ اَكۡبَادِهِمَا قَالَ عَلِيٌّ فَانۡطَلَقۡتُ حَتّٰى اَدۡخُلَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ وَ عِنۡدَهٗ زَيۡدُ بۡنُ حَارِثَةَ وَ عَرَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ الَّذِيۡ لَقِيۡتُ فَقَالَ مَالَكَ قُلۡتُ يَا رَسُوۡلَ اللّٰهِ مَا رَاَيۡتُ كَالۡيَوۡمِ عَدَا حَمۡزَةُ عَلٰى نَاقَتَيَّ فَاَجَبَّ اَسۡنِمَتَهُمَا وَ بَقَرَ خَوَاصِرَهُمَا وَ هَا هُوَ ذَا فِيۡ بَيۡتٍ مَّعَهٗ شَرۡبٌ فَدَعَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ بِرِدَآئِهٖ فَارۡتَدٰى ثُمَّ انۡطَلَقَ يَمۡشِيۡ وَ اتَّبَعۡتُهٗ اَنَا وَ زَيۡدُ بۡنُ حَارِثَةَ حَتّٰى جَآءَ الۡبَيۡتَ الَّذِيۡ فِيۡهِ حَمۡزَةُ فَاسۡتَاۡذَنَ عَلَيۡهِ فَاُذِنَ لَهٗ فَطَفِقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ يَلُوۡمُ حَمۡزَةَ فِيۡمَا فَعَلَ فَاِذَا حَمۡزَةُ ثَمِلٌ مُّحۡمَرَّةٌ عَيۡنَاهُ فَنَظَرَ حَمۡزَةُ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ صَعَّدَ النَّظَرَ فَنَظَرَ اِلٰى رُكۡبَتِهٖ ثُمَّ صَعَّدَ النَّظَرَ فَنَظَرَ اِلٰى وَجۡهِهٖ ثُمَّ قَالَ

کښې شراب څکي. يوه سندرغاړې وينزه موجود ده. او يار دوست جمع دي، او شوه داسې چه وينزې اووې، اې حمزه، پاسه، او دا غټې اُوښې پريکړه. حمزه پاسيد، توره ئې واخسته، او دا ذ اوښو قبونه ئې پريکړل، او خيټې ئې ورله اوڅيرلې، اينه ئې تړې راوښکله، حضرت علي وائي، دې ليدو سره زهٔ ذ حضورٌ خدمت کښې حاضر شوم. دغه وخت حضورٌ سره زيد بن حارثه هم ناست وو، حضورٌ چه خما غم ژپلې مخ اوليدلو نو تپوس ئې اوکهٔ، ولې خير خو، دې کنه، ما عرض اوکهٔ، يا رسول اللّٰه ذ نن په شان مصيبت ما هيڅ کله نهٔ دې ليدلې. حمزه خما په اُوښو سخت ظلم کړې دې. ذ هغې قُبونه ئې پريکړې دي، خيټې ئې ورله څيرلې دي، او هغه يو کور کښې ناست دې، شراب څکي. حضورٌ خپل څادر راوغښتلو، هغه ئې په څان واچولو، او پياده روان شو، او زيد بن حارثه ورسره وو، حضورٌ چه هغې کورته اورسيدلو نو دننه ذ ورتلو اجازت ئې اوغښتلو. اجازت نه پس دننه ورغې، او حمزه ئې په دې کار ملامته کهٔ، او ورته ئې اوفرمائيل، دا ئې څهٔ کړې دي. حضورٌ اوليدل، چه ذ حمزه سترګې ذ شرابو ذ نشې نه تکې سرې (سرخ) وې. حمزه نظر پورته کهٔ، او ذ ګُنډو پورې ئې حضورٌ ته اوکتل، بيائې مخ مبارک پورې ورته اوکتل، او وې وئيل، تاسو خلق

حَـمْـزَةُ وَ هَلْ اَنْتُمْ اِلَّا عَبِيْدٌ لِاَبِيْ فَعَرَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ ثَمِلٌ فَنَكَصَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى عَقِبَيْهِ الْقَهْقَرٰى فَخَرَجَ وَ خَرَجْنَا مَعَهُ.

خـمـا ذ پـلار غـلامـان مـعـلـومـيـږئـے' دغـه وخـت حـضـور صـلـي الـلّٰـه عـلـيـه وسـلّـم پـو ه شـولو' چـه حـمـزه نشـه كـښـ مسـت دے' نـو حـضورٌ هـغـه وخـت ذ هغـے كور نه مخ په شا بهر اووتلو' او مونږ ورسره وو.

۵۴: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ عَبَّادٍ اَخْبَرَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ قَالَ اَنْفَذَهُ لَنَا ابْنُ الْاَصْبَهَانِيِّ سَمِعَهُ مِنِ ابْنِ مَعْقَلٍ اَنَّ عَلِيًّا كَبَّرَ عَلٰى سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ فَقَالَ اِنَّهُ شَهِدَ بَدْرًا.

۵۴: مـحـمـد بـن عـبـاد. سـفـيـان بـن عـيـيـنـه. عبدالرحمٰن بن عبدالله اصفهاني. حضرت ابن معقل نه روايت كوي' حضرت عليٌّ ذ سهل بن حنيف انصاري په جنازه تكبيرونه اووے' اووے فرمائيل' دے بدر كښ شريك وو.

۵۵: حَدَّثَنَا اَبُو الْيَمَانِ اَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ اَخْبَرَنِيْ سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ اَنَّهُ سَمِعَ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَؓ يُحَدِّثُ اَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ حِيْنَ تَاَيَّمَتْ حَفْصَةُ بِنْتُ عُمَرَؓ مِنْ خُنَيْسِ بْنِ حُذَافَةَ السَّهْمِيِّ وَ كَانَ مِنْ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ شَهِدَ بَدْرًا تُوُفِّيَ بِالْمَدِيْنَةِ قَالَ عُمَرُ فَلَقِيْتُ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ فَعَرَضْتُ عَلَيْهِ حَفْصَةَ فَقُلْتُ اِنْ شِئْتَ اَنْكَحْتُكَ حَفْصَةَ بِنْتَ عُمَرَ قَالَ سَاَنْظُرُ فِيْ اَمْرِيْ فَلَبِثْتُ لَيَالِيَ فَقَالَ قَدْ بَدَالِيْ اَنْ لَّا اَتَزَوَّجَ يَوْمِيْ هٰذَا قَالَ عُمَرُ فَلَقِيْتُ اَبَابَكْرٍؓ فَقُلْتُ اِنْ شِئْتَ اَنْكَحْتُكَ حَفْصَةَ بِنْتَ عُمَرَؓ فَصَمَتَ

۵۵: ابواليمان. شعيب. زهري. سالم بن عبدالله. عبدالله بن عمرٌ نه روايت كوي' هغه اووے' خما پلار حضرت عمرٌ بن خطاب اوفرمائيل. كوم وخت چه بي بي حفصهٌ كنډه شوه' او ذ هغے خاوند خنيسٌ بن حذافه سهمي' چه ذ رسول الله صلي الله عليه وسلّم صحابي او بدر كښ شريك وو' مدينه كښ وفات شولو. نو زهٔ حضرت عثمانٌ سره يوځائے شوم' او ذ حفصےٌ ذكر م ورسره اوكه' او هغه ته م اووے كه ته وائے' نو زهٔ به ذ هغے نكاح تاسره اوكرم' حضرت عثمانٌ اووے' زهٔ به ذ غور نه پس جواب دركرم' څو ورځے تيرے شوے' بيا چه يوځائے شو' نو ونيلے' مناسب دا معلوميږي' چه اوس لا زهٔ دوئيمه نكاح اونه كرم. بيا زهٔ حضرت ابوبكرٌ سره يوځائے شوم' او هغهٔ ته م اووے' كه تهٔ غواړے' نو زهٔ به ذ حفصےٌ نكاح تاسره اوكرم. هغه خاموش شولو' او هيڅ جواب ئے رانهٔ كړلو ماته ذ حضرت ابوبكرٌ ذدے طرز نه ذ هغے نه هم زيات خفګان راغے' څومره چه ذ حضرت

اَبُوْبَكْرٍ فَلَمْ يَرْجِعْ اِلَيَّ شَيْئًا فَكُنْتُ عَلَيْهِ اَوْجَدَ مِنِّيْ عَلٰى عُثْمَانَ فَلَبِثْتُ لَيَالِيَ ثُمَّ خَطَبَهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَنْكَحْتُهَا اِيَّاهُ فَلَقِيَنِيْ اَبُوْبَكْرٍ فَقَالَ لَعَلَّكَ وَجَدْتَ عَلَيَّ حِيْنَ عَرَضْتَ عَلَيَّ حَفْصَةَ فَلَمْ اَرْجِعْ اِلَيْكَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَاِنَّهُ لَمْ يَمْنَعْنِيْ اَنْ اَرْجِعَ اِلَيْكَ فِيْمَا عَرَضْتَ اِلَّا اَنِّيْ قَدْ عَلِمْتُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ ذَكَرَهَا فَلَمْ اَكُنْ لِاُفْشِيَ سِرَّ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَوْ تَرَكَهَا لَقَبِلْتُهَا.

عثمانؓ د انکار نه راغلے وو. زهٔ څو شپے خاموش وم، دے کښې رسول اکرم صلي الله علیه وسلّم خپل ځان ذ پاره ذ حفصےؓ پیغام راولیږلو، ما سمدستي ذ هغے نکاح حضور صلي الله علیه وسلّم سره او کړله. دے نه پس حضرت ابوبکرؓ ماته اووے، شاید تاته خما جواب نهٔ درکول په تا ناخوښه تیر شوے وي، ما اووے، بیشکه ماته تکلیف شوے وو. حضرت ابوبکرؓ اوفرمائیل، خبره داده، چه ما تاته په دے وجه جواب درنهٔ کړلو چه حضورؐ ماته ذ حفصے ذکر کړے وو، او مشوره ئے کړے وه، چه زهٔ هغے سره نکاح اوکړم، نو ما ذ حضور اکرم صلي الله علیه وسلّم راز فاش کول نهٔ غوښتل. او که حضورؐ حفصےؓ سره ذ نکاح کولو اراده ترک کړے وے، نو ما به ورسره نکاح کړے وے.

۵۶ : حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَدِيٍّ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ يَزِيْدَ سَمِعَ اَبَا مَسْعُوْدٍ الْبَدْرِيَّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَفَقَةُ الرَّجُلِ عَلٰى اَهْلِهٖ صَدَقَةٌ.

۵۶ : مسلم. شعبه. عدي. حضرت عبدالله بن زید نه روایت کوي، هغهٔ ذ ابو مسعود بدريؓ نه دا خبره واوریده، رسول اکرم صلي الله علیه وسلّم به فرمائیل، که یو سړے په خپل اهل و عیال خرچ اوکړي، نو هغے کښې هم ورته ذ صدقے ثواب رسي.

۵۷ : حَدَّثَنَا اَبُو الْيَمَانِ اَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ سَمِعْتُ عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِ يُحَدِّثُ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيْزِ فِيْ اِمَارَتِهٖ اَخَّرَ الْمُغِيْرَةُ بْنُ شُعْبَةَ الْعَصْرَ وَهُوَ اَمِيْرُ الْكُوْفَةِ فَدَخَلَ اَبُوْ مَسْعُوْدٍ عُقْبَةُ بْنُ عَمْرٍو الْاَنْصَارِيُّ جَدُّ زَيْدِ بْنِ حَسَنٍ شَهِدَ بَدْرًا فَقَالَ لَقَدْ عَلِمْتَ

۵۷ : ابوالیمان. شعیب. زهري نه روایت کوي، هغهٔ اووے، ما ذ عروه بن زبیر نه واوریدل، هغهٔ ذ عمر بن عبدالعزیز ذ حکومت ذ زمانے حال بیانوي، چه یوه ورځ مغیره بن شعبه چه ذ معاویه ذ طرف نه ذ کوفے حاکم وو، د مازیگر مونځ کښې تاخیر اوکهٔ، نو ابو مسعود عقبه بن عمرو انصاري چه د زید بن حسن بن علي نیکهٔ (نانا) وو. او جنگ بدر کښې شریک وو، مغیره ته ئے اووے، تاته معلومه ده، چه ذ معراج په سحر جبرائیلؑ راکوز شولو، او

نَزَلَ جِبْرِيلُ فَصَلَّى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمْسَ صَلَوٰتٍ ثُمَّ قَالَ هٰكَذَا أُمِرْتُ كَذٰلِكَ كَانَ بَشِيْرُ بْنُ أَبِيْ مَسْعُوْدٍ يُحَدِّثُ عَنْ أَبِيْهِ.

مونخ نے ورکړلو. حضورؐ پنځه مونځونه هغه پسے ورستو اوکړل. بیا جبرائیلؑ اووے' دغه شان تاسو ته حکم درکړے شوے دے ذ عروه بیان دے' چه بشیر بن ابي مسعود' ذ خپل پلار نه دا روایت دغه شان نقل کړے دے.

۵۸: حَدَّثَنَا مُوْسٰى حَدَّثَنَا أَبُوْ عَوَانَةَ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ اِبْرٰهِيْمَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ ابْنِ يَزِيْدَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ أَبِيْ مَسْعُوْدٍ الْبَدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْاٰيَتَانِ مِنْ اٰخِرِ سُوْرَةِ الْبَقَرَةِ مَنْ قَرَأَهُمَا فِيْ لَيْلَةٍ كَفَتَاهُ قَالَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ فَلَقِيْتُ أَبَا مَسْعُوْدٍ وَّهُوَ يَطُوْفُ بِالْبَيْتِ فَسَأَلْتُهُ فَحَدَّثَنِيْهِ.

۵۸: موسٰي بن اسمٰعيل. ابو عوانه. اعمش. ابراهيم. عبدالرحمٰن. علقمهؒ. حضرت ابو مسعودؓ بدري نه نقل کوي' رسول الله صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل' څوک چه سورۀ بقره آخري دوه آيتونه ذ شپے ذ اُودۀ کيدو په وخت لولي' نو دا ذ هغۀ ذ پاره بس دي. عبدالرحمٰن بن زيد وائي' زۀ خپله ابو مسعود سره يوځائے شوم' هغۀ ذ کعبے طواف کولو. ما ذ دغے حديث د هغۀ نه تپوس اوکۀ' نو هغۀ دغه شان بيان اوکۀ.

۵۹: حَدَّثَنَا يَحْيَى ابْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَخْبَرَنِيْ مَحْمُوْدُ بْنُ الرَّبِيْعِ أَنَّ عِتْبَانَ بْنَ مَالِكٍ وَّ كَانَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا مِّنَ الْاَنْصَارِ أَنَّهُ أَتٰى رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

۵۹: يحيٰي بن بکير. ليث. عقيل. ابن شهاب. زهري نه روايت کوي' هغۀ اووے' ماته محمود بن ربيع خبر راکۀ' چه عتبان بن مالک ذ رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم صحابي او بدر کښ شريک وو' هغه رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم له راغے.

۶۰: حَدَّثَنَا أَحْمَدُ هُوَ ابْنُ صَالِحٍ حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ حَدَّثَنَا يُوْنُسُ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ ثُمَّ سَأَلْتُ الْحُصَيْنَ ابْنَ مُحَمَّدٍ وَّهُوَ أَحَدُ بَنِيْ سَالِمٍ وَّهُوَ مِنْ سَرَاتِهِمْ عَنْ حَدِيْثِ مَحْمُوْدِ بْنِ

۶۰: مونږ ته دا حديث احمد بن صالح او ذ هغۀ نه عيينه بن خالد' ذ هغۀ نه يونس بن زيد روايت کړے دے' ابن شهاب وائي' ما ذ حصين بن محمد نه چه ذ بني سالم ذ شريف سرونه وو' ذ دے حديث تپوس اوکۀ چه محمود ذ عتبان نه روايت کۀ' نو هغۀ اووے چه محمود

الرَّبِيْعِ عَنْ عِتْبَانَ بْنِ مَالِكٍ فَصَدَّقَهُ.

ربښتيا بيان کوي.

۱۶ : حَدَّثَنَا اَبُو الْيَمَانِ اَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ اَخْبَرَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَامِرِ بْنِ رَبِيْعَةَ وَ كَانَ مِنْ اَكْبَرِ بَنِيْ عَدِيٍّ وَ كَانَ اَبُوْهُ شَهِدَ بَدْرًا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّ عُمَرَ اسْتَعْمَلَ قُدَامَةَ بْنَ مَظْعُوْنٍ عَلَى الْبَحْرَيْنِ وَ كَانَ شَهِدَ بَدْرًا وَّهُوَ خَالُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ وَ حَفْصَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ.

۱۶ : ابو اليمان. شعيب. زهري نه روايت کوي، هغه اووې، عبداللّٰه بن عامر بن ربيعه چه ذ بني عدي سردار وو، هغه سره زهري ملاقات اوکړ، ذ هغه پلار عامر بن ربيعه رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم سره جنګ بدر کښې شريک وو، هغه اوفرمائيل، حضرت عمر، قدامه بن مظعون ذ بحرين عامل مقرر کړے وو، او هغه جنګ بدر کښې شريک وو، هغه ذ عبداللّٰه بن عمر او بي بي حفصےؓ ماما کيدلو.

۶۲ : حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ اَسْمَآءَ حَدَّثَنَا جُوَيْرِيَةُ عَنْ مَالِكٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ اَنَّ سَالِمَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ اَخْبَرَهُ قَالَ اَخْبَرَ رَافِعُ بْنُ خَدِيْجٍ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ اَنَّ عَمَّيْهِ وَ كَانَا شَهِدَا بَدْرًا اَخْبَرَاهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ كِرَآءِ الْمَزَارِعِ قُلْتُ لِسَالِمٍ فَتُكْرِيْهَا اَنْتَ قَالَ نَعَمْ اِنَّ رَافِعًا اَكْثَرَ عَلٰى نَفْسِهٖ.

۶۲ : عبداللّٰه بن محمد بن اسماء. جويريه. مالک. زهريؒ نه روايت کوي، حضرت سالم بن عبداللّٰه بن عمرؓ بيان اوکړ، رافع بن خديج، حضرت عبداللّٰه بن عمرؓ ته اووے، ذ هغه دواړو ترونو (ظهر او مظهر) هغهٔ ته اووے چه حضور اکرم صلي اللّٰه عليه وسلّم قابل کاشت زمکه ذ کرائے نه منع کړے ده. زهري اووے، ما سالم ته اووے، ته خو په کرايه ورکوے، نو هغهٔ اووے، او، رافع په خپل ځان زياتے کړے دے[۱]. (ظهر او مظهر دا دواړه بدر کښې شريک وو).

۱. مقصد دا دے چه ذ زمکے مالک ذ کروندہ ګرنه د خپلے زمکے ذاستعمال کوم اُجرت اخلي د هغے دوه صورتونه دي يو خو هغه کوم چه په عربو کښے رائج وو چه ذ پټي په کومه حصه کښے به زيات پيداوار کيدلو هغه به مالک خپل ځان د پاره مخصوص کوله او د باقي زمکے پيداوار به کروندہ ګر ته ملاويدلو. په دغه شان نورے هم بعضے غير منصفانه طريقے وے نو حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم د زمکے دغه شان اجرت اخستلو نه منع فرمائيلے وه. ليکن ځومره پورے چه په زمکه باندے د نقد اُجرت اخستلو سوال دے يعني لګان، نو حضور د هغے نه منع نه وه کړے، همدغه شان ددے باب هغه معاملاتو نه ئے هم منع نه ده کړے کوم چه په انصاف باندے مبني وي. نو رافع رضي اللّٰه عنه چه ممانعت بالکل عام ساتي، ګويا پخپل ځان باندے زياتے کوي. ددے حديث په مضمون باندے نوټ تير شوے دے.

۲۳ : حَدَّثَنَا اٰدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ حُصَيْنِ ابْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ شَدَّادِ بْنِ الْهَادِ اللَّيْثِيَّ قَالَ رَاَيْتُ رِفَاعَةَ بْنَ رَافِعِ الْاَنْصَارِيَّ وَ كَانَ شَهِدَ بَدْرًا.

۲۳ : آدم. شعبه. حضين بن عبدالرحمٰن نه روايت كوي، هغهٔ اوفرمائيل، ما دَ عبداللّٰه بن شداد ليثي نه واوريدل، هغهٔ اووے، حضرت رفاعه بن رافع انصاري جنګ بدر کښې شريک وو.

۲۴ : حَدَّثَنَا عَبْدَانُ اَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ وَ يُوْنُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ اَنَّهُ اَخْبَرَهُ اَنَّ عَمْرَو بْنَ عَوْفٍ وَّهُوَ حَلِيْفٌ لِّبَنِيْ عَامِرِ بْنِ لُؤَيٍّ وَّ كَانَ شَهِدَ بَدْرًا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ اَبَا عُبَيْدَةَ بْنَ الْجَرَّاحِ اِلَى الْبَحْرَيْنِ يَاْتِيْ بِجِزْيَتِهَا وَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَ صَالَحَ اَهْلَ الْبَحْرَيْنِ وَ اَمَّرَ عَلَيْهِمُ الْعَلَاءَ بْنَ الْحَضْرَمِيَّ فَقَدِمَ اَبُوْ عُبَيْدَةَ بِمَالٍ مِّنَ الْبَحْرَيْنِ فَسَمِعَتِ الْاَنْصَارُ بِقُدُوْمِ اَبِيْ عُبَيْدَةَ فَوَافَوْا صَلَاةَ الْفَجْرِ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا انْصَرَفَ تَعَرَّضُوْا لَهُ فَتَبَسَّمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ رَاٰهُمْ ثُمَّ قَالَ اَظُنُّكُمْ سَمِعْتُمْ اَنَّ اَبَا عُبَيْدَةَ قَدِمَ بِشَيْءٍ قَالُوْا اَجَلْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ فَاَبْشِرُوْا وَ اَمِّلُوْا مَا يَسُرُّكُمْ فَوَاللّٰهِ مَا الْفَقْرَ اَخْشٰى

۲۴ : عبدان. عبداللّٰه. معمر. يونس. زهري. حضرت عروه بن زبيرؓ نه روايت كوي، هغهٔ اوفرمائيل، ماته مسور بن مخرمه صحابي بيان اوكهٔ، چه عمرو بن عوف انصاري چه دَ بني عامر بن لؤي حليف وو، او جنګ بدر کښې رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم سره شريک وو. هغه بيان اوكهٔ، رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم ابو عبيده بن جراح دَ بحرين جزيه وصولو دَ پاره اوليږلو. او بحرين والو سره نے صلح اوكړه، علاء حضرمي نے دَ هغے خانے حاکم مقرر کهٔ، او خپله مال سره واپس راغے. انصاروته معلومه شوه، نو هغوي ټول دَ سحر دَ مونځ نه پس حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ته راغلل نو حضورؐ مُسکے شولو، اووے فرمائيل، زهٔ پوهيږم چه تاسو دَ روپو خبر آوريدلے دے، راغلے نے، چه ابو عبيده راوړے دي. ټولو اووے جي، او صحيح ده. حضورؐ اوفرمائيل بنه ده، خوشحاله شئ، او دَ خوشحالي اُميد ساتئ په خدائے م دے قسم وي، ماسره ستاسو دَ مفلس کيدو ويره نشته، او دا يره ده، چه تاسو

عَلَيۡكُمۡ وَلٰكِنِّيۡ اَخۡشٰى اَنۡ تُبۡسَطَ عَلَيۡكُمُ الدُّنۡيَا كَمَا بُسِطَتۡ عَلٰى مَنۡ قَبۡلَكُمۡ فَتَنَافَسُوۡهَا كَمَاتَنَا فَسُوۡهَا وَ تُهۡلِكَكُمۡ كَمَا اَهۡلَكَتۡهُمۡ.

هم چرته ذ مخکني اُمتونو په شان آسوده حاله شئ، او یو بل سره رشک راواخلئ، او دُنیا به هم تاسو تباه کړي څنګه چه مخکني خلق ئې تباه کړي وو.

۲۵ : حَدَّثَنَا اَبُو النُّعۡمَانِ حَدَّثَنَا جَرِيۡرُ بۡنُ حَازِمٍ عَنۡ نَّافِعٍ اَنَّ ابۡنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُمَا كَانَ يَقۡتُلُ الۡحَيَّاتِ كُلَّهَا حَتّٰى حَدَّثَهُ اَبُوۡ لُبَابَةَ الۡبَدۡرِيُّ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنۡ قَتۡلِ جِنَانِ الۡبُيُوۡتِ فَاَمۡسَكَ عَنۡهَا.

۲۵ : ابوالنعمان. جریر بن حازم. حضرت نافع نه روایت کوي، حضرت عبدالله بن عمرؓ به هر مار (سانپ) وژلو، آخر هغۀ ته ابولبابه بشیر بن عبدالمنذر چه صحابي ذ رسول اکرم صلي الله علیه وسلّم او بدر کښې شریک وو، دا حدیث بیان کۀ، چه نبي صلي الله علیه وسلّم ذ کور سپین ماران چه شنۀ او نري (پتلے) وي، ذ وژلو نه منع فرمائیلې ده، دې نه پس عبدالله بن عمرؓ ذ هغوي وژل پریښودل.

۲۶ : حَدَّثَنِيۡ اِبۡرٰهِيۡمُ الۡمُنۡذِرِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بۡنُ فُلَيۡحٍ عَنۡ مُّوۡسٰى بۡنِ عُقۡبَةَ قَالَ ابۡنُ شِهَابٍ حَدَّثَنَا اَنَسُ بۡنُ مَالِكٍ اَنَّ رِجَالًا مِّنَ الۡاَنۡصَارِ اسۡتَاۡذَنُوۡا رَسُوۡلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا ائۡذَنۡ لَنَا فَلۡنَتۡرُكۡ لِابۡنِ اُخۡتِنَا عَبَّاسٍ فِدَآءَهٗ قَالَ وَاللّٰهِ لَا تَذَرُوۡنَ مِنۡهُ دِرۡهَمًا.

۲۶ : ابراهیم بن منذر. محمد بن فلیح. موسٰي بن عقبه. ابن شهاب نه روایت کوي مونږ ته حضرت انسؓ اوفرمائیل، ذ مدینې انصارو، رسول الله صلي الله علیه وسلّم ته عرض اوکۀ، مونږ ته تاسو اجازت راکړئ، چه مونږ ذ خپل وراره حضرت عباس فدیه معاف کړو. حضورؐ ورته اوفرمائیل قسم په خدائے داسې نشي کیدې، تاسو یو درهم هم مۀ پرېږدئ.

۲۷ : حَدَّثَنَا اَبُوۡ عَاصِمٍ عَنِ ابۡنِ جُرَيۡجٍ عَنِ الزُّهۡرِيِّ عَنۡ عَطَآءِ بۡنِ يَزِيۡدَ عَنۡ عُبَيۡدِ اللّٰهِ بۡنِ عَدِيٍّ عَنِ الۡمِقۡدَادِ بۡنِ الۡاَسۡوَدِ حَدَّثَنِيۡ اِسۡحٰقُ حَدَّثَنَا يَعۡقُوۡبُ بۡنُ اِبۡرٰهِيۡمَ بۡنِ سَعۡدٍ حَدَّثَنَا ابۡنُ اَخِيۡ ابۡنِ شِهَابٍ عَنۡ عَمِّهٖ

۲۷ : ابو عاصم. ابن جریج. زهري. عطاء بن یزید. ابو عبیده بن عدي، حضرت مقداد بن اسودؓ (دوئم سند) امام بخاريؒ اووې. اسحاق بن منصور. یعقوب بن ابراهیم بن سعد ذ خپل ترۀ ابن شهاب زهري نه روایت کوي. چه عطاء بن یزید خبر اوکۀ، او هغۀ ته عبیدالله

قَالَ اَخْبَرَنِيْ عَطَآءُ بْنُ يَزِيْدَ اللَّيْثِيُّ ثُمَّ الْجُنْدَعِيُّ اَنَّ عُبَيْدَ اللّٰهِ بْنَ عَدِيِّ بْنِ الْخِيَارِ اَخْبَرَهُ اَنَّ الْمِقْدَادَ بْنَ عَمْرٍو الْكِنْدِيَّ وَ كَانَ حَلِيْفًا لِبَنِيْ زُهْرَةَ وَ كَانَ مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا مَّعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَخْبَرَهُ اَنَّهُ قَالَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَرَاَيْتَ اِنْ لَقِيْتُ رَجُلًا مِّنَ الْكُفَّارِ فَاقْتَتَلْنَا فَضَرَبَ اِحْدٰى يَدَيَّ بِالسَّيْفِ فَقَطَعَهَا ثُمَّ لَاذَمِنِّيْ بِشَجَرَةٍ فَقَالَ اَسْلَمْتُ لِلّٰهِ اَقْتُلُهُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ بَعْدَ اَنْ قَالَهَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقْتُلْهُ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اِنَّهُ قَطَعَ اِحْدٰى يَدَيَّ ثُمَّ قَالَ ذٰلِكَ بَعْدَ مَا قَطَعَهَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقْتُلْهُ فَاِنْ قَتَلْتَهُ فَاِنَّهُ بِمَنْزِلَتِكَ قَبْلَ اَنْ يَقُوْلَ كَلِمَتَهُ الَّتِيْ قَالَ.

بن عدي بن خيار خبر وركړ، او هغه ته مقداد بن عمرو كندي چه د بني زهره حليف او بدر جنګ كښې رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم نه تپوس اوكړ، يا رسول اللّٰه، ماته اوښايئ كه زۀ يو كافر سره په جنګ شم، او خپلو كښې مقابله اوشي، او هغه خما يو لاس په توره اووهي. او بيا د اُونې پناه واخلي، او وائي چه ما په خدائے ايمان راوړے دے، او اسلام قبلوم، نو او س د دے اقرار نه پس زۀ هغه اووژنم كه نه، رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم ورته اوفرمائيل، هغه مۀ وژنه. حضرت مقداد عرض اوكړ، يا رسول اللّٰه هغه خما لاس پريكړے دے، او هغے نه پس ئے كلمه ونيلے ده. رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم ورته اوفرمائيل، هر څۀ چه وي، هغه مۀ قتلوه. كني هغۀ ته به هغه درجه حاصله شي، كومه چه د هغۀ د قتل نه مخكښې تاته حاصله وه، او بيا به ستا هغه حال شي، چه د كلمه اسلام د لوستلو نه مخكښې د هغۀ وو.

۲۸ : حَدَّثَنِيْ يَعْقُوْبُ بْنُ اِبْرٰهِيْمَ حَدَّثَنَا ابْنُ عُلَيَّةَ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ التَّيْمِيُّ حَدَّثَنَا اَنَسٌ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ بَدْرٍ مَنْ يَّنْظُرُ مَا صَنَعَ اَبُوْ جَهْلٍ فَانْطَلَقَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ فَوَجَدَهُ قَدْ ضَرَبَهُ ابْنَا عَفْرَآءَ حَتّٰى بَرَدَ فَقَالَ اَنْتَ اَبَا جَهْلٍ

۲۸ : يعقوب بن ابراهيم. اسمعيل بن ابراهيم. اسمعيل بن عُلَيّه. سليمان تيمي نه روايت كوي، حضرت انسؓ اووے، د بدر په ورځ رسول اكرم صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل، څوک شته، چه د ابو جهل حال معلوم كړي. دے آوريدو سره عبداللّٰه بن مسعود لاړ اَووے ليدل، چه د عفرا خامنو په وهلو وهلو، ابوجهل مرګ ته نزدے كړے دے. ابن مسعودؓ ترے تپوس اوكړ، آيا ته ابوجهل ئے. ابن عُليّه وائي، حضرت انس داسے

قَالَ ابْنُ عُلَيَّةَ قَالَ سُلَيْمَانُ هٰكَذَا قَالَهَا اَنَسٌ قَالَ اَنْتَ اَبَا جَهْلٍ قَالَ وَ هَلْ فَوْقَ رَجُلٍ قَتَلْتُمُوْهُ قَالَ سُلَيْمَانُ اَوْ قَالَ قَتَلَهُ قَوْمُهُ قَالَ وَ قَالَ اَبُوْ مِجْلَزٍ قَالَ اَبُوْ جَهْلٍ فَلَوْ غَيْرُ اَكَّارٍ قَتَلَنِيْ.

اوفرمائيل' آيا تهٔ هغه ابو جهل ئې؟ هغهٔ (دَ ساه ختو وخ كښې) جواب وركهٔ' خما نه لوئې به نور څوک وي چه هغه تاسو اووژلو. سليمان وائي' يا داسې جواب ئې وركهٔ' چه هغه دَ هغهٔ قوم اووژلو. ابو مجلز وائي' ابو جهل دَ مرګ په وخت ابن مسعود ته اووې' كاش چه زهٔ دَ زميدار نه علاوه بل چا وژلې وې.

ف: اَكَّارٌ: كسان. (دا ابو جهل دَ مرګ په وخت ونيلې' دَ مدينې انصاروته ئې زميدار اووې).

۲۹ : حَدَّثَنَا مُوْسٰى حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنِي ابْنُ عَبَّاسٍ عَنْ عُمَرَ لَمَّا تُوُفِّيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ لِاَبِيْ بَكْرٍ انْطَلِقْ بِنَا اِلٰى اِخْوَانِنَا مِنَ الْاَنْصَارِ فَلَقِيْنَا مِنْهُمْ رَجُلَانِ صَالِحَانِ شَهِدَا بَدْرًا فَحَدَّثْتُ عُرْوَةَ ابْنَ الزُّبَيْرِ فَقَالَ هُمَا عُوَيْمُ بْنُ سَاعِدَةَ وَ مَعْنُ بْنُ عَدِيٍّ.

۲۹ : موسٰى. عبدالواحد. معمر. زهري. عبيدالله بن عبدالله. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي' هغهٔ اوفرمائيل' ماته حضرت عمرؓ بيان اوكهٔ' كوم وخت چه رسول الله صلي الله عليه وسلّم وفات شولو' ما حضرت ابوبكرؓ ته اووې' ما انصارو رونړو له بوځه لار كښې دوه نيک خصلته انصار مو اوليدل' او هغوي دواړه د بدر جنګ كښې شريک وو. عبيدالله وائي' ما دا حديث عروه بن زبيرؓ ته بيان كهٔ' هغهٔ اوفرمائيل' هغې دواړو كښې يو عويم بن ساعده او بل معن بن عدي وو.

۷۰ : حَدَّثَنَا اِسْحٰقُ بْنُ اِبْرٰهِيْمَ سَمِعَ مُحَمَّدَ ابْنَ فُضَيْلٍ عَنْ اِسْمٰعِيْلَ عَنْ قَيْسٍ كَانَ عَطَاءُ الْبَدْرِيِّيْنَ خَمْسَةَ الْاٰفٍ وَ قَالَ عُمَرُ لَاُفَضِّلَنَّهُمْ عَلٰى مَنْ بَعْدَهُمْ.

۷۰ : اسحٰق بن ابراهيم. محمد بن فضيل. اسماعيل بن ابي خالد. حضرت قيس نه روايت كوي' هغهٔ اوفرمائيل' بدر كښې دَ شريكيدونكو دَ پاره پنځه زره سالانه وظيفه مقرر وه' ځكه چه حضرت عمرؓ اوفرمائيل' زهٔ به بدري حضراتو ته دَ نورو نه زيات وركوم.

۷۱ : حَدَّثَنِيْ اِسْحٰقُ بْنُ مَنْصُوْرٍ عَبْدُ الرَّزَّاقِ اَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

۷۱ : اسحاق بن منصور. عبدالرزاق. معمر. زهريؒ نه هغه دَ محمد بن زبير بن مطعم نه روايت كوي' هغهٔ اوفرمائيل' خما پلار د حضور صلي الله عليه وسلّم نه دَ ماښام مونځ كښې سورهٔ طور

وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْمَغْرِبِ بِالطُّوْرِ وَ ذٰلِكَ اَوَّلُ مَا وَقَرَ الْاِيْمَانُ فِيْ قَلْبِيْ وَ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِيْ اُسَارٰى بَدْرٍ لَوْ كَانَ الْمُطْعِمُ بْنُ عَدِيٍّ حَيًّا ثُمَّ كَلَّمَنِيْ فِيْ هٰؤُلَاءِ النَّتْنٰى لَتَرَكْتُهُمْ لَهٗ وَ قَالَ اللَّيْثُ عَنْ يَحْيٰى عَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ وَقَعَتِ الْفِتْنَةُ الْاُوْلٰى يَعْنِيْ مَقْتَلَ عُثْمَانَ فَلَمْ تُبْقِ مِنْ اَصْحَابِ بَدْرٍ اَحَدًا ثُمَّ وَقَعَتِ الْفِتْنَةُ الثَّانِيَةُ يَعْنِي الْحَرَّةَ فَلَمْ تُبْقِ مِنْ اَصْحَابِ الْحُدَيْبِيَةِ اَحَدًا ثُمَّ وَقَعَتِ الثَّالِثَةُ فَلَمْ تَرْتَفِعْ وَ لِلنَّاسِ طَبَاخٌ.

لوستل واوريدل، او دا ورمبنۍ موقع وه، چه ايمان زما زړۀ کښې ځائې اوکړلو، بيا دې سند سره زهري نه روايت دې. هغه ذ محمد بن مطعم نه او هغه ذ پلار نه روايت اوکه، چه حضور صلي الله عليه وسلم ذ جنګ بدر قيديانو ذ پاره اوفرمائيل، که مطعم بن عدي ژوندې وې، او ذ دوي سفارش ئې کړې وې، نو ما به ذ هغه په وينا دوي آزاد کړې وې. ليث د يحيٰي نه هغه ذ سعيد بن مسيب نه روايت کوي، هغۀ اووې ورمبنۍ فتنه هغه ده، چه هغې کښې حضرت عثمانؓ قتل کړې شو، هغه وخت بدر والو کښې هيڅ څوک پاتې نشو[۱]. بيا دويم فساد ذ حره، اوشولو. دې کښې صلح حديبيه والو کښې هيڅوک باقي پاتې نه شو. بيا دريم فساد اوشو، او هغه هله ختم شو. څو پورې چه خلقو کښې څۀ هم عقل او خوبي باقي وه. (د خلقو عقل او خوبي ئې يوړه)

۱. حضرت علي، زبير، طلحه، سعد او سعيد رضي الله عنهم اکابر صحابه څوک چه د بدر په جنګ کښې شريک وو هغوی د حضرت عثمان رضي الله عنه د شهادت نه پس ژوندي وو، په دې وجه بعضو محدثينو ليکلي دي چه د راوي دا وئيل چه د حضرت عثمانؓ شهادت نه پس هيڅ يو بدري صحابي باقي پاتې نه وو، دا خبره صحيح نه ده ليکن غالبًا د راوي مراد دا دې چه دا فتنه په کوم بنياد باندې راپورته شوې وه، هغه لا ختمه شوې نه وه چه ټول اکابر بدريين ددې دنيا نه رخصت شوي وو، يا به ئې بيا په اکثريت باندې ذ کُل حکم لګولې وي.

۴۷: حَدَّثَنَا الْحَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ النُّمَيْرِيُّ حَدَّثَنَا يُوْنُسُ بْنُ يَزِيْدَ قَالَ سَمِعْتُ عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِ وَ سَعِيْدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ وَ عَلْقَمَةَ بْنَ وَقَّاصٍ وَ عُبَيْدَ اللّٰهِ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ حَدِيْثِ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

۴۷: حجاج بن منهال. عبدالله بن نميريؒ. يونس بن يزيد. زهري نه روايت. کوي، ما ذ هغۀ نه واوريدل، چه عروه بن زبير. سعيد بن مسيب. علقمه بن وقاص ليثي او عبيدالله بن عبدالله نه ما واوريدل، چه هغې ځلورو چه بي بي عائشېؓ د نبي صلي الله عليه وسلم تېر باندې چه کوم تهمت لږولې وو، د هغې حديث يوه ټکړه بيان کړه. بي بي عائشېؓ فرمائيل، زۀ او ذ مسطح مور دواړه

وَسَلَّمَ كُلُّ حَدَّثَنِي طَائِفَةً مِّنَ الْحَدِيْثِ قَالَتْ فَأَقْبَلْتُ أَنَا وَ أُمُّ مِسْطَحٍ فَعَثَرَتْ أُمُّ مِسْطَحٍ فِيْ مِرْطِهَا فَقَالَتْ تَعِسَ مِسْطَحٌ فَقُلْتُ بِئْسَ مَا قُلْتِ تَسُبِّيْنَ رَجُلًا شَهِدَ بَدْرًا فَذَكَرَ حَدِيْثَ الْإِفْكِ.

رفع حاجت ذ پاره تلے وو. دے کښ ذ مسطح ذمور پښه په خادر کښ اونښته، او هغه راپريوتله، او بيا هغې خپل خوي مسطح ته بد رَد اوونيل: ما ورته اووے، په تا څهٔ شوے دي، چه هغهٔ ته بد رد وائے، هغه خو د بدر جنگ کښ شامل وو، بيائے ذ تهمت پوره قِصه بيان کره.

۴۷۳: حَدَّثَنَا إِبْرٰهِيْمُ بْنُ الْمُنْذِرِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُلَيْحِ بْنِ سُلَيْمَانَ عَنْ مُوْسَى بْنِ عُقْبَةَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ هٰذِهٖ مَغَازِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ الْحَدِيْثَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُلْقِيْهِمْ هَلْ وَجَدْتُمْ مَّا وَعَدَكُمْ رَبُّكُمْ حَقًّا قَالَ مُوْسٰى قَالَ نَافِعٌ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ قَالَ نَاسٌ مِّنْ أَصْحَابِهٖ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ تُنَادِيْ نَاسًا أَمْوَاتًا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَنْتُمْ بِأَسْمَعَ لِمَا قُلْتُ مِنْهُمْ قَالَ أَبُوْ عَبْدِ اللّٰهِ فَجَمِيْعُ مَنْ شَهِدَ بَدْرًا مِّنْ قُرَيْشٍ مِّمَّنْ ضُرِبَ لَهٗ بِسَهْمِهٖ أَحَدٌ وَّ ثَمَانُوْنَ رَجُلًا وَّ كَانَ عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ يَقُوْلُ قَالَ الزُّبَيْرُ قُسِمَتْ سُهْمَانُهُمْ فَكَانُوْا مِائَةً وَاللّٰهُ أَعْلَمُ.

۴۷۳: ابراهيم بن منذر. محمد بن فليح بن سليمان. موسي بن عقبه. ابن شهاب. زهري نه روايت کوي، چه اول هغه ذ رسول الله صلي الله عليه وسلّم ذ جهادونو ذکر اوکړ، بيائے اووے، دا دي ذ رسول ذ خدائے جهادونه. بيا ذ بدر والو قصه ئے بيان کره، وئيلے چه حضور صلي الله عليه وسلّم ذ کافرو لاشونه کوهي کښ غرخول، او هغوي ته ئے فرمائيل، اوس تاسو اووائے، ستاسو پروردګار چه کومه وعده تاسو سره کړے وه، هغه تاسو حق بيامنده، يا نه، او دے سند سره موسي بن عقبه ذ نافع نه او هغهٔ ذ عبدالله بن عمرؓ نه روايت کوي، هغهٔ اووے، دا اصحاب رسولؐ دي، چه حضرت عمرؓ هم په کښ وو. رسول الله صلي الله عليه وسلّم ته ئے عرض اوکهٔ، يا رسول الله تاسو مړو ته خطاب کوئے. حضور صلي الله عليه وسلّم ورته اوفرمائيل، ذ دوي نه زيات خو تاسوهم څما خبره نهٔ شے آوريدلے. بدر کښ چه کوم خلق شريک وو، او چا چه ذ مال غنيمت نه حصه بيامنده، ذ هغوي تعداد يو اتيا وو، او عروه بن زبير وائي، حضرت زبيرؓ اوفرمائيل، ما خپله حصے تقسيم کړلے، او ذ خلقو تعداد سل وو. الله تعالي بنه پوهيږي.

Maktaba Tul Ishaat. com



۴۷: حَدَّثَنِيْ اِبْرَاهِيْمُ بْنُ مُوْسٰى اَخْبَرَنَا هِشَامٌ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ اَبِيْهِ عَنِ الزُّبَيْرِ قَالَ ضُرِبَتْ يَوْمَ بَدْرٍ لِلْمُهَاجِرِيْنَ بِمِائَةِ سَهْمٍ.

۴۷: ابراهیم بن موسی. هشام بن عروه. او هغه د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه (دادا) حضرت زبیرؓ نه روایت کوي، چه د بدر په ورځ مهاجرینو د پاره سل حصے لږولے شوے وے.

باب ۱۳: تَسْمِيَةِ مَنْ سُمِّيَ مِنْ اَهْلِ بَدْرٍ فِي الْجَامِعِ الَّذِيْ وَضَعَهُ اَبُوْ عَبْدِ اللّٰهِ عَلٰى حُرُوْفِ الْمُعْجَمِ. اَلنَّبِيُّ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ الْهَاشِمِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. اِيَاسُ بْنُ الْبُكَيْرِ. بِلَالُ بْنُ رَبَاحٍ مَوْلٰى اَبِيْ بَكْرٍ الْقُرَشِيِّ. حَمْزَةُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ الْهَاشِمِيُّ حَاطِبُ بْنُ اَبِيْ بَلْتَعَةَ حَلِيْفٌ لِقُرَيْشٍ. اَبُوْ حُذَيْفَةَ بْنُ عُتْبَةَ بْنِ رَبِيْعَةَ الْقُرَشِيِّ. حَارِثَةُ بْنُ الرَّبِيْعِ الْاَنْصَارِيُّ قُتِلَ يَوْمَ بَدْرٍ وَهُوَ حَارِثَةُ بْنُ سُرَاقَةَ كَانَ فِي النَّظَّارَةِ خُبَيْبُ بْنُ عَدِيِّ الْاَنْصَارِيُّ. خُنَيْسُ بْنُ حُذَافَةَ السَّهْمِيُّ. رِفَاعَةُ بْنُ رَافِعٍ الْاَنْصَارِيُّ. رِفَاعَةُ بْنُ عَبْدِ الْمُنْذِرِ اَبُوْ لُبَابَةَ الْاَنْصَارِيُّ. اَلزُّبَيْرُ بْنُ الْعَوَّامِ الْقُرَشِيُّ. زَيْدُ بْنُ سَهْلٍ اَبُوْ طَلْحَةَ الْاَنْصَارِيُّ. اَبُوْ زَيْدِ الْاَنْصَارِيُّ سَعْدُ بْنُ مَالِكٍ الزُّهْرِيُّ سَعْدُ بْنُ خَوْلَةَ الْقُرَشِيُّ. سَعِيْدُ بْنُ زَيْدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ نُفَيْلٍ الْقُرَشِيُّ. سَهْلُ بْنُ حُنَيْفٍ

باب ۱۳: شرکائے جنګ بدر، بترتیب حروف تهجي، مرتبه امام بخاري رحمه اللّٰه.
(۱) محمد صلي اللّٰه علیه وسلّم بن عبداللّٰه هاشمي (۲) ایاس بن بکیر (۳) بلال بن رباحؓ د حضرت ابوبکرؓ غلام (۴) حمزه بن عبدالمطلب هاشمي (۵) حاطب بن ابي بلتعه حلیف قریش (۶) ابو حذیفه بن عتبه بن ربیعه قرشيؓ (۷) حارثه بن ربیع انصاري، دا ته حارثه بن سراقه هم وائي. دے بچے وو، صرف تماشه کتلوله تلے وو. لیکن شهید شولو. (۸) خبیب بن عدي انصاريؓ (۹) خنیس بن حذافه سهمي (۱۰) رفاعه بن رافع انصاريؓ (۱۱) رفاعه بن عبدالمنذر ابولبابه انصاريؓ (۱۲) زبیر بن عوام قرشي (۱۳) زید بن سهل ابو طلحه انصاريؓ (۱۴) ابو زید انصاريؓ (۱۵) سعد بن مالک یعني سعد بن ابي وقاص (۱۶) سعد بن خوله قرشي. (۱۷) سعید بن زید بن عمرو بن نفیل قرشيؓ (۱۸) سهل بن حنیف انصاريؓ (۱۹) ظهیر بن رافع انصاريؓ (۲۰) او د هغه ورور مظهر (۲۱) عبداللّٰه

الْاَنْصَارِيُّ. ظُهَيْرُ بْنُ رَافِعٍ الْاَنْصَارِيُّ
وَ اَخُوْهُ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُثْمَانَ اَبُوْبَكْرٍ
الصِّدِّيْقُ الْقُرَشِيُّ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ
مَسْعُوْدٍ الْهُذَلِيُّ. عُتْبَةُ بْنُ مَسْعُوْدٍ
الْهُذَلِيُّ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ
الزُّهْرِيُّ. عُبَيْدَةُ بْنُ الْحَارِثِ
الْقُرَشِيُّ. عُبَادَةُ بْنُ الصَّامِتِ
الْاَنْصَارِيُّ. عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ
الْعَدَوِيُّ. عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ الْقُرَشِيُّ
خَلَّفَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
عَلٰى ابْنَتِهٖ وَ ضَرَبَ لَهٗ بِسَهْمِهٖ. عَلِيُّ
بْنُ اَبِيْ طَالِبٍ الْهَاشِمِيُّ. عَمْرُو بْنُ
عَوْفٍ حَلِيْفُ بَنِيْ عَامِرِ بْنِ لُؤَيٍّ.
عُقْبَةُ بْنُ عَمْرٍو الْاَنْصَارِيُّ عَامِرُ بْنُ
رَبِيْعَةَ الْعَنَزِيُّ عَاصِمُ بْنُ ثَابِتٍ
الْاَنْصَارِيُّ. عُوَيْمُ بْنُ سَاعِدَةَ
الْاَنْصَارِيُّ عِتْبَانُ بْنُ مَالِكٍ
الْاَنْصَارِيُّ. قُدَامَةُ بْنُ مَظْعُوْنٍ قَتَادَةُ
بْنُ النُّعْمَانِ الْاَنْصَارِيُّ. مُعَاذُ بْنُ
عَمْرِو بْنِ الْجَمُوْحِ. مُعَوِّذُ بْنُ عَفْرَآءَ وَ
اَخُوْهُ. مَالِكُ بْنُ رَبِيْعَةَ اَبُوْ اُسَيْدٍ
الْاَنْصَارِيُّ. مُرَارَةُ بْنُ الرَّبِيْعِ
الْاَنْصَارِيُّ. مَعْنُ بْنُ عَدِيٍّ الْاَنْصَارِيُّ.
مِسْطَحُ بْنُ اُثَاثَةَ بْنِ عَبَّادِ بْنِ الْمُطَّلِبِ
بْنِ عَبْدِ مَنَافٍ. مِقْدَادُ بْنُ عَمْرٍو
الْكِنْدِيُّ حَلِيْفُ بَنِيْ زُهْرَةَ. هِلَالُ بْنُ

بن عثمان ابوبکر صديق قرشيؓ (۲۲) عبدالله
بن مسعود هذليؓ (۲۳) عتبه بن مسعود
هذليؓ (۲۴) عبدالرحمٰن بن عوف زهريؓ
(۲۵) عبيده بن حارث قرشيؓ (۲۶) عباده
بن صامت انصاريؓ (۲۷) عمر بن خطاب
عدويؓ (۲۸) عثمان بن عفان قرشيؓ هغه
حضور صلي الله عليه وسلم مدينه کښ خپل
ورستو ذ خپلې لور ذ تيمارداري يعني علاج
معالجې ذ پاره پريښې وو، او ذ هغه
حصه ئې مال غنيمت کښ لګولې وه (۲۹) علي
بن ابي طالب هاشميؓ (۳۰) عمرو بن عوف
ذ بني عامر بن لوئ حليف (۳۱) عقبه بن
عمر انصاريؓ (۳۲) عامر بن ربيعه عنزيؓ
(۳۳) عاصم بن ثابت انصاري (۳۴) عويم
بن ساعده انصاريؓ (۳۵) عتبان بن مالک
انصاريؓ (۳۶) قدامه بن مظعونؓ (۳۷) قتاده
بن نعمان انصاريؓ (۳۸) معاذ بن عمرو بن
جموحؓ (۳۹) معوذ بن عفراءؓ (۴۰) او ذ
هغه ورور عوفؓ (۴۱) مالک بن ربيعه
ابو اسيد انصاريؓ (۴۲) مراره بن
ربيع انصاريؓ (۴۳) معن بن عدي
انصاريؓ (۴۴) مسطح بن اثاثه بن عباد
بن مطلب بن عبدمناف. (۴۵) مقداد
بن عمرو کندي ذ بني زهره حليف
(۴۶) هلال بن اميه انصاريؓ. الله
دې ذ دې ټولو نه مونږ سره راضي

اُمَيَّةَ الْاَنْصَارِيُّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ.

شي. اللّهم امين.

باب ۱۴ : حَدِيْثِ بَنِيْ النَّضِيْرِ وَ مَخْرَجِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلَيْهِمْ فِيْ دِيَةِ الرَّجُلَيْنِ وَمَا اَرَادُوْا مِنَ الْغَدْرِ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الزُّهْرِيُّ عَنْ عُرْوَةَ كَانَتْ عَلٰى رَأْسِ سِتَّةِ اَشْهُرٍ مِنْ وَّقْعَةِ بَدْرٍ قَبْلَ اُحُدٍ وَّ قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى هُوَ الَّذِيْ اَخْرَجَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتَابِ مِنْ دِيَارِهِمْ لِاَوَّلِ الْحَشْرِ وَ جَعَلَهُ ابْنُ اِسْحٰقَ بَعْدَ بِئْرِ مَعُوْنَةَ وَ اُحُدٍ.

باب ۱۴ : يهود بني نضير[۱] ته ذ حضور صلي اللّه عليه وسلّم تشريف اوړل، ذ دوو سړو ذ ديت په سلسله کښې. او ذ هغوي ذ خدائے رسول سره دهوکه کول. زهري. عروه بن زبير نه روايت کوي، ذ هغه بيان دے، غزوه بني نضير ذ بدر نه شپږ مياشتے پس او ذ اُحد نه مخکښې اوشوه، او ذ اللّه تعالي سورهٔ حشر کښې فرمائيل: هو الّذى اخرج الّذين كفروا من اهل الكتاب من ديارهم لاوّل الحشر: دغه پروردګار دے، چه هغه ذ اهل کتاب کافر ذ هغوي ذ کورونو نه اوبنکل. دا ذ هغوي وړمبنے وتل وو. او ابن اسحاق هم ذ بني نضير نه پس ذ بير معونه او جنګ اُحد ذکر کړے دے.

۱. بنو نضير او بنو قريظه په مدينه کښې د يهوديانو دوه لوئے قبيلے وے او د مدينے په اقتصادياتو باندے تر ډيره حده پورے حاوي وو. کله چه حضور اکرم صلي اللّه عليه وسلّم هجرت اوکړو او مدينے ته ئے تشريف راوړو نو حضورؐ هغوئ سره د امن او صلحے لوظنامه کړے وه ليکن هغوئ د غدر او بے لوظئ عادي وو. په دغه لوظنامه کښے هم هغوئ همدا طرز عمل اختيار کړو. په دے وجه د هغوئ ذ بے لوظيانو نه تنګ راتللو سره حضور صلي اللّه عليه وسلّم هغوئ لره ريحا، تيماء او وادي القريٰ طرفته جلاوطن کړي وو.

۷۵: حَدَّثَنَا اِسْحٰقُ بْنُ نَصْرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ اَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ عَنْ مُوْسٰى بْنِ عُقْبَةَ عَنْ نَّافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَؓ قَالَ حَارَبَتِ النَّضِيْرُ وَ قُرَيْظَةُ فَاَجْلٰى بَنِي النَّضِيْرِ وَ اَقَرَّ قُرَيْظَةَ وَمَنَّ عَلَيْهِمْ حَتّٰى حَارَبَتْ قُرَيْظَةُ فَقَتَلَ رِجَالَهُمْ وَ قَسَمَ نِسَآءَ هُمْ وَ اَوْلَادَهُمْ وَ اَمْوَالَهُمْ بَيْنَ الْمُسْلِمِيْنَ اِلَّا بَعْضَهُمْ لَحِقُوْا بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ

۷۵: اسحٰق بن نصر. عبدالرزاق. ابن جريج. موسٰي بن عقبه. نافعؒ. حضرت ابن عمرؓ نه روايت کوي، هغه اووے، بني نضير او بني قريظه جنګ اوکه، نو بني نضير ئے جلاوطن کړل، او په بني قريظه ئے احسان اوکه، هغوي ئے پريښودل. ليکن هغوي دوباره جنګ اوکه، نو مسلمانانو ذ هغوي نارينه قتل کړل، او ښځے، بچي او مال اسباب ئے په مسلمانانو تقسيم کړل، خو کوم خلق چه نبي صلي اللّه عليه وسلّم سره يوځائے شول،

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَمَنَهُمْ وَ اَسْلَمُوْا وَ اَجْلٰى يَهُوْدَ الْمَدِيْنَةِ كُلَّهُمْ بَنِيْ قَيْنُقَاعَ وَهُمْ رَهْطُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَلَامٍ وَ يَهُوْدَ بَنِيْ حَارِثَةَ وَ كُلَّ يَهُوْدِ الْمَدِيْنَةِ.

یعني مسلمانان شولو. هغوي باقي پاتې شو. باقي ئې د مدینې ټول یهودیان چه بني قینقاع یعني د عبدالله بن سلام قوم واله وو، او د بني حارثه یهودیان او کوم یهود چه مدینه کښې موجود وو هغه ټول ئې اوبنکل.

۷۶: حَدَّثَنِي الْحَسَنُ بْنُ مُدْرِكٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَمَّادٍ اَخْبَرَنَا اَبُوْ عَوَانَةَ عَنْ اَبِيْ بِشْرٍ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍؓ سُوْرَةُ الْحَشْرِ قَالَ قُلْ سُوْرَةُ النَّضِيْرِ تَابَعَهُ هُشَيْمٌ عَنْ اَبِيْ بِشْرٍ.

۷۶: حسن بن مدرک. یحیی بن حماد. ابو عوانه. سعید بن جبیر نه روایت کوي. هغهٔ اووې، د حضرت ابن عباسؓ مخکښې د سورهٔ حشر ذکر راغې، نو هغه اوفرمائیل چه سورهٔ نضیر وایه. ابو عوانه سره دا حدیث هشیم هم د ابو بشر نه روایت کړې دې.

۷۷: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ اَبِي الْاَسْوَدِ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ عَنْ اَبِيْهِ سَمِعْتُ اَنَسَ بْنَ مَالِكٍؓ قَالَ كَانَ الرَّجُلُ يَجْعَلُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّخَلَاتِ حَتّٰى افْتَتَحَ قُرَيْظَةَ وَالنَّضِيْرَ فَكَانَ بَعْدَ ذٰلِكَ يَرُدُّ عَلَيْهِمْ.

۷۷: عبدالله بن اسود. معتمر بن سلیمان، د خپل پلار سلیمان نه روایت کوي هغه اووې، ما د حضرت انسؓ نه واوریدل، حضور صلي الله علیه وسلم د پاره خلقو د قجورې د اونې په طور د تحفې نامزد کړې وې (چه حضورؐ د دې په میوه گزاره کوي) تردې چه حضورؐ په بني قریظه او بني نضیر فتح بیامنده. او بیا حضورؐ هغه واپس کړلې.

۷۸: حَدَّثَنَا اٰدَمُ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَؓ قَالَ حَرَّقَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَخْلَ بَنِي النَّضِيْرِ وَ قَطَعَ وَ هِيَ الْبُوَيْرَةُ فَنَزَلَتْ مَا قَطَعْتُمْ مِّنْ لِّيْنَةٍ اَوْ تَرَكْتُمُوْهَا قَآئِمَةً عَلٰى اُصُوْلِهَا فَبِاِذْنِ اللّٰهِ.

۷۸: آدم. لیث. نافع. حضرت ابن عمرؓ نه روایت کوي، هغهٔ اووې، رسول الله صلي الله علیه وسلم د بني نضیر د کجورو اونې اوسوزولې بعضې ئې کټ کړلې چه بویره کښې وې، نو هغه وخت د سورهٔ حشر دا آیت نازل شولو (ترجمه) یعني کومې اونې چه تا کټ کړلې، یا هغه دې د هغې جرړو سره قائمې اوساتلې، نو دا د الله حکم سره اوشو.

۷۹: حَدَّثَنِيْ اِسْحٰقُ اَخْبَرَنَا

۷۹: اسحاق. حبان. جویریه بن

حَبَّانُ اَخْبَرَنَا جُوَيْرِيَةُ بْنُ اَسْمَآءَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَؓ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَرَّقَ نَخْلَ بَنِي النَّضِيْرِ قَالَ وَلَهَا يَقُوْلُ حَسَّانُ بْنُ ثَابِتٍؓ ـ

اسماء. نافع. حضرت ابن عمرؓ نه روايت كوي' هغه' اووے' رسول الله صلي الله عليه وسلم د بني نضير د قجورو اُونے اُوسوزولے' نو حسان بن ثابت دا شعر اووے.

ترجمه:

وَ هَانَ عَلٰى سَرَاةِ بَنِيْ لُوَيٍّ
حَرِيْقٌ بِالْبُوَيْرَةِ مُسْتَطِيْرُ

يعني د بني لوئ په شريفانو آسان شو
لريدلے اُور بويره كښ ټول طرف ته برابر

قَالَ فَاَجَابَهُ اَبُوْ سُفْيَانَ بْنُ الْحَارِثِ ـ

ابوسفيان بن حارث د حسان په جواب كښ اووے:

اَدَامَ اللّٰهُ ذٰلِكَ مِنْ صَنِيْعٍ
وَ حَرَّقَ فِيْ نَوَاحِيْهَا السَّعِيْرُ
سَتَعْلَمُ اَيُّنَا مِنْهَا بِنُزْهٍ
وَ تَعْلَمُ اَيَّ اَرْضَيْنَا تَضِيْرُ

ترجمه: يعني خدائے دِ كړي چه هميشه دا حال هلته وي
د مدينے څلور طرف ته سوزيدونكے اُور وي
تاسو ته به دا معلومه شي عنقريب چه څوک به مونږ كښ
پاتے شي محفوظ او كوم ملک به نور نقصان اوچتوي

• ۸۰: حَدَّثَنَا اَبُو الْيَمَانِ اَخْبَرَ شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ اَخْبَرَنِيْ مَالِكُ بْنُ اَوْسِ بْنِ الْحَدَثَانِ النَّصْرِيُّ اَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِؓ دَعَاهُ اِذْ جَآءَهُ حَاجِبُهُ يَرْفَأُ فَقَالَ هَلْ لَكَ فِيْ عُثْمَانَ وَ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ وَالزُّبَيْرِ وَ سَعْدٍ يَسْتَأْذِنُوْنَ فَقَالَ نَعَمْ فَاَدْخِلْهُمْ قَلِيْلًا ثُمَّ جَآءَ فَقَالَ هَلْ لَكَ فِيْ عَبَّاسٍ وَ عَلِيٍّ يَسْتَأْذِنَانِ قَالَ نَعَمْ فَلَمَّا دَخَلَا قَالَ عَبَّاسٌ يَا اَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْضِ بَيْنِيْ وَ بَيْنَ هٰذَا وَ هُمَا يَخْتَصِمَانِ فِي الَّذِيْ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَنِي النَّضِيْرِ فَاسْتَبَّ عَلِيٌّ وَ عَبَّاسٌؓ فَقَالَ

• ۸۰: ابواليمان. شعيب. زهري نه روايت كوي' هغه اووے' ماته مالک بن اوس بن حدثان نصري خبر راكه' زهٔ حضرت عمرؓ راوغښتلم' دے كښ يرفا دربان راغے' او هغه اووے' تاسو غواړئے' چه حضرت عثمانؓ او عبدالرحمٰن بن عوفؓ' زبيرؓ او سعد بن ابي وقاصؓ تاسوله راشي' هغوي ورته اوفرمائيل' راځي دے. لږ ساعت پس بيا يرفا اووے' چه حضرت عباسؓ او حضرت عليؓ هم راتلل غواړي' وے فرمائيل' راځي دے' بيا هغوي راغلل' او سلام ئے اوكهٔ. بيا حضرت عباسؓ اووے' امير المؤمنين' ځما او د عليؓ مينځ كښ د دے جګړے فيصله اوكړئے' چه د دے مال متعلق ده' چه الله بے جنګه د بني نضير نه خپل رسولؑ ته وركړے دے' او دواړو يو بل باندے

الرَّهْطُ يَا اَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْضِ بَيْنَهُمَا
وَ اَرِحْ اَحَدَهُمَا مِنَ الْاٰخَرِ فَقَالَ عُمَرُ
اتَّئِدُوْا اَنْشُدُكُمْ بِاللّٰهِ الَّذِيْ بِاِذْنِهٖ
تَقُوْمُ السَّمَآءُ وَالْاَرْضُ هَلْ تَعْلَمُوْنَ
اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ قَالَ لَا نُوْرَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ
يُرِيْدُ بِذٰلِكَ نَفْسَهٗ قَالُوْا قَدْ قَالَ ذٰلِكَ
فَاَقْبَلَ عُمَرُ عَلٰى عَبَّاسٍ وَّ عَلِيٍّ فَقَالَ
اَنْشُدُكُمَا بِاللّٰهِ هَلْ تَعْلَمَانِ اَنَّ رَسُوْلَ
اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ قَالَ
فَاِنِّيْ اُحَدِّثُكُمْ عَنْ هٰذَا الْاَمْرِ اِنَّ اللّٰهَ
سُبْحَانَهٗ كَانَ خَصَّ رَسُوْلَهٗ صَلَّى
اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ هٰذَا الْفَيْءِ
بِشَيْءٍ لَّمْ يُعْطِهٖ اَحَدًا غَيْرَهٗ فَقَالَ جَلَّ
ذِكْرُهٗ وَمَا اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ
مِنْهُمْ فَمَا اَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ
وَّلَا رِكَابٍ اِلٰى قَوْلِهٖ قَدِيْرٌ فَكَانَتْ هٰذِهٖ
خَالِصَةً لِّرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ ثُمَّ وَاللّٰهِ مَا احْتَازَهَا دُوْنَكُمْ
وَلَا اسْتَاْثَرَهَا عَلَيْكُمْ لَقَدْ اَعْطَاكُمُوْهَا
وَ قَسَمَهَا فِيْكُمْ حَتّٰى بَقِيَ هٰذَا الْمَالُ
مِنْهَا فَكَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُنْفِقُ عَلٰى اَهْلِهٖ نَفَقَةَ
سَنَتِهِمْ مِنْ هٰذَا الْمَالِ ثُمَّ يَاْخُذُ مَا
بَقِيَ فَيَجْعَلُهٗ مَجْعَلَ مَالِ اللّٰهِ فَعَمِلَ
ذٰلِكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

تنقيد اوکړو. نو حاضرينو اووې چه اے امير المؤمنين
ددې دواړو فيصله اوکړئ چه ذ شپې ورځې دا جګړه
ختمه شي، حضرت عمرؓ ورته اوفرمائيل، لږ صبر
اوکړئ، تادي مه کوئ، زۀ تاسو ته ذ هغې پروردګار قسم
درکوم، چه ذ هغه حکم سره آسمان او زمکه قائم دي،
تاسو ته معلومه ده، چه حضورؐ فرمائيلي دي، خمونږ خلقو
هيڅوک وارث نۀ وي، کوم مال چه مونږ پريږدو، هغه
صدقه دې، هغوي اووې بيشکه حضورؐ دا
فرمائيلي دي. بيا حضرت عمرؓ عباسؓ او عليؓ
ته مخاطب شو، ورته ئے ونيلې، آيا تاسو ته معلومه
ده، چه رسول اکرم صلي الله عليه وسلم داسې
فرمائيلي دي، هغوي اووې، بيشکه داسې ئے
فرمائيلي دي، دې نه پس حضرت عمرؓ اوفرمائيل،
اوس تاسو ذ معاملې ذ حقيقت نه آګاه کوم،
الله تعالي، رسول اکرم صلي الله عليه وسلم ته
ذ مال غنيمت نه يو خاص حق ورکړے وو،
چه نورو پيغمبرانو ته ئے نۀ وو ورکړے، سورۀ
حشر کښې ارشاد دې (ترجمه) کوم مال چه
الله خپل رسول ذ پاره ذ بني نضير غنيمت کښې
ورکړے وو ذ هغې ذ حاصلولو ذ پاره تاسو
خپل آسونه او سورلۍ نۀ وې زغلولې، نو داسې
قسم مال صرف ذ حضورؐ ذ پاره وو. ذ مجاهدينو
په دې کښې هيڅ حق نۀ وو، خو قسم په خدائې
حضورؐ ذ دې قسم مال ذ خپل ذات ذ پاره نۀ وو
محفوظ کړے بلکه په خپل ذات ئے خرچ که، او څه
چه بچ شو، هغه ئے تقسيم کړلو. او څۀ چه به

وَسَلَّمَ حَيَاتَهُ ثُمَّ تُوُفِّيَ النَّبِيُّ صَلَّى
اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَبُوْ بَكْرٍؓ فَاَنَا
وَلِيُّ رَسُوْلِ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
فَقَبَضَهُ اَبُوْ بَكْرٍؓ فَعَمِلَ فِيْهِ بِمَا عَمِلَ
بِهٖ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ وَ اَنْتُمْ حِيْنَئِذٍ فَاَقْبَلَ عَلٰى
عَلِيٍّ وَ عَبَّاسٍ وَ قَالَ تَذْكُرَانِ اَنَّ اَبَا
بَكْرٍؓ عَمِلَ فِيْهِ كَمَا تَقُوْلَانِ وَاللّٰهُ
يَعْلَمُ اَنَّهُ فِيْهِ لَصَادِقٌ بَارٌّ رَّاشِدٌ تَابِعٌ
لِّلْحَقِّ ثُمَّ تَوَفَّى اللّٰهُ اَبَا بَكْرٍؓ فَقَبَضْتُهُ
سَنَتَيْنِ مِنْ اِمَارَتِيْ اَعْمَلُ فِيْهِ بِمَا
عَمِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ وَ اَبُوْبَكْرٍؓ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اَنِّيْ فِيْهِ
صَادِقٌ بَارٌّ رَّاشِدٌ تَابِعٌ لِّلْحَقِّ ثُمَّ
جِئْتُمَانِيْ كِلَاكُمَا وَ كَلِمَتُكُمَا وَاحِدَةٌ
وَ اَمْرُكُمَا جَمِيْعٌ فَجِئْتَنِيْ يَعْنِيْ عَبَّاسًا
فَقُلْتُ لَكُمَا اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى
اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا نُوْرَثُ مَا
تَرَكْنَا صَدَقَةٌ فَلَمَّا بَدَالِيْ اَنْ اَدْفَعَهُ
اِلَيْكُمَا قُلْتُ اِنْ شِئْتُمَا دَفَعْتُهُ اِلَيْكُمَا
عَلٰى اَنَّ عَلَيْكُمَا عَهْدَ اللّٰهِ وَ مِيْثَاقَهُ
لَتَعْمَلَانِ فِيْهِ بِمَا عَمِلَ فِيْهِ رَسُوْلُ
اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ اَبُوْ
بَكْرٍؓ وَمَا عَمِلْتُ فِيْهِ مُنْذُ وَلِيْتُ وَ اِلَّا فَلَا
تُكَلِّمَانِيْ فَقُلْتُمَا ادْفَعْهُ اِلَيْنَا بِذٰلِكَ
فَدَفَعْتُهُ اِلَيْكُمَا اَفَتَلْتَمِسَانِ مِنِّيْ

باقي پاتې شو، هغې نه به ئې د خپلو بيبيانو د پاره
د کال خرڅ اوبنکلو، او بيا چه به څه بچ شو، هغه
به ئې د اللّه په لار کښې خرچ کولو. او حضورؐ
به خپل ټول ژوند کښې دغسې کول. بيا
چه حضور صلي اللّه عليه وسلّم وفات شولو، نو
حضرت ابوبکر دې وئيلو سره چه د رسول
د خدائې جانشين يم په هغې مال قبضه او کړله او
هغه ئې هغسې تقسيم او خرڅ کولو، او تاسو
به هغه وخت د هغه نه دې سلسله کښې ګله
کوله، حالانکه خدائې پوهيږي چه هغه خپل دې
طرز عمل کښې حق بجانب وو، کوم وخت چه
حضرت ابوبکرؓ وفات شو، نو ما خپل خان د هغې
دوارو ولي او جانشين ګنړلو سره هغه اوکړل
کوم څه چه حضرت ابوبکرؓ کول، او اللّه تعالي
پوهيږي، چه زه دې کښې ريښتنې او د حق پيرو يم.
بيا تاسو دواړه ماله راغلئې، او متفق الرائې وئې،
بيا اې عباسؓ تاسو ماله راغلئې، او ما تاسو ته هغه
اووې، چه رسول اللّه صلي اللّه عليه وسلّم فرمائيلې
دي، چه خمونږ هيڅوک وارث نشته، څه
چه مونږ پريږدو هغه صدقه ده. بيا ما تاسو
دواړو ته اووې، زه غواړم، چه دا کار تاسو
دواړو ته اوسپارم، په شرط د دې چه تاسو د خدائې
عهد و پيمان مدنظر ساتئې، او دا کار داسې سرته
رسوئې، څنګه چه رسول اللّه صلي اللّه عليه وسلّم
سرته رسولو، څنګه چه ابوبکرؓ دا کار کولو، او څنګه
چه زه ئې کوم. که تاسو ته دا شرط منظور نه وي، نو

قَضَآءٍ غَيْرَ ذٰلِكَ فَوَاللّٰهِ الَّذِيْ بِإِذْنِهٖ
تَقُوْمُ السَّمَآءُ وَالْاَرْضُ لَا اَقْضِيْ فِيْهِ
بِقَضَآءٍ غَيْرَ ذٰلِكَ حَتّٰى تَقُوْمَ السَّاعَةُ
فَاِنْ عَجَزْتُمَا عَنْهُ فَادْفَعَا اِلَيَّ فَاَنَا
اَكْفِيْكُمَاهُ قَالَ فَحَدَّثْتُ هٰذَا الْحَدِيْثَ
عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِ فَقَالَ صَدَقَ مَالِكُ بْنُ
اَوْسٍ اَنَا سَمِعْتُ عَآئِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَقُوْلُ اَرْسَلَ
اَزْوَاجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
عُثْمَانَ اِلٰى اَبِيْ بَكْرٍ يَسْاَلْنَهٗ ثُمُنَهُنَّ
مِمَّا اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكُنْتُ اَنَا اَرُدُّهُنَّ فَقُلْتُ
لَهُنَّ اَلَا تَتَّقِيْنَ اللّٰهَ اَلَمْ تَعْلَمْنَ اَنَّ
النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ
يَقُوْلُ لَا نُوْرَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ يُرِيْدُ
بِذٰلِكَ نَفْسَهٗ اِنَّمَا يَاْكُلُ اٰلُ مُحَمَّدٍ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ هٰذَا
الْمَالِ فَانْتَهٰى اَزْوَاجُ النَّبِيِّ صَلَّى
اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰى مَا اَخْبَرْتُهُنَّ
قَالَ فَكَانَتْ هٰذِهِ الصَّدَقَةُ بِيَدِ عَلِيٍّ
مَنَعَهَا عَلِيٌّ عَبَّاسًا فَغَلَبَهٗ عَلَيْهَا ثُمَّ
كَانَ بِيَدِ حَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ ثُمَّ بِيَدِ
حُسَيْنِ بْنِ عَلِيٍّ ثُمَّ بِيَدِ عَلِيِّ بْنِ
حُسَيْنٍ وَّ حَسَنِ بْنِ حَسَنٍ كِلَاهُمَا
يَتَدَاوَلَانِهَا ثُمَّ بِيَدِ زَيْدِ بْنِ حَسَنٍ وَّ
هِيَ صَدَقَةُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

بیا د څه قسم خبرو ضرورت نشته، تاسو دا خبره منظوره کړه نو ما درته دا مال اوسپارلو. اوس که تاسو ذ دے نه سوا څه بله فیصله غواړئ نو په هغه پروردګار م دے قسم وي، چه ذ هغه حکم سره آسمان او زمکه قائم دي، زۀ ذ قیامته پورے بله څه فیصله کونکے نۀ یم، البته که تاسو نه ذ دے مال انتظام نشي کیدے، نو بیائے ماته حواله کړئ، زۀ به ئے خپله کوم، زهري واني، ما دا حدیث عروه ته بیان کۀ، هغۀ اووے، مالک بن اوس ریښتیا اووے، ځکه چه ما ذ حضور صلي الله علیه وسلّم ذ تبر بي بي عائشےؓ نه واوریدل، چه ذ حضور صلي الله علیه وسلّم بیبیانو حضرت عثمانؓ حضرت ابوبکرؓ له اولیږلو، چه ذ هغے مال نه کوم چه د بني نضیر نه حاصل شوے دے، خپله اتمه حصه واخلي. لیکن هغوي ما منع کړلے، او ورته م اووے، آیا تاسو د خدائے نه خوف نۀ لرئ، رسول الله صلي الله علیه وسلّم به فرمائیل، ذ پیغمبرانو هیڅوک وارث نشته. مونږ چه څۀ پریږدو هغه صدقه ده. هغوي ذ دے نه خپل ذات مراد واخستلو. صرف آل محمد ذ دے مال نه خوړلے شي دے آوریدو سره ذ حضورؐ بیبیانے ذ میراث غوښتلو نه منع شوے. عروه اووے، دا مال ذ حضرت عليؓ په قبضه کښ وو. هغۀ حضرت عباسؓ ته په دے قبضه ورنۀ کړله. هغۀ نه پس امام حسنؓ بیا امام حسینؓ بیا زین العابدین او حسن بن حسن وار په وار ذ دے انتظام کولو. بیا ذ زید بن حسن په قبضه کښ وو، بیا تولو دا ذ رسول اکرم صلي الله علیه وسلّم صدقه ګڼړله او په حیثیت ذ متولي به ئے کار

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَقًّا. كولوځ.

۱. دا حديث ددے نه مخکښے هم تير شوے دے او مخکښے هم په نوټ کښے ددے وضاحت کړے شوے وو چه د فدک دغه جائداد په باره کښے چه د حضرت علي رضي الله عنه کوم اختلاف وو هغه صرف ددے خبرے وو چه ددے نګراني به څوک کوي او ددے صدقے متولي به څوک وي. د حديث نه هم دا معلوميږي چه که چرے مخکښے څه غلط فهمي وه هم نو هغه د حضور ددے حديث ټولو حضراتو ته معلوميدلو نه پس لرے شوے وه چه د انبياؤ ميراث نه تقسيميږي. په حنفي فقه کښے دا جزئيه ملاويږي چه تر څو پورے خيانت ظاهر نشي نو بهتره داده چه د وقف متوليان د ذ واقف د اولاد نه وي.

۸۱: حَدَّثَنَا اِبْرٰهِيْمُ بْنُ مُوْسٰى اَخْبَرَنَا هِشَامٌ اَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ اَنَّ فَاطِمَةَ عَلَيْهَا السَّلَامُ وَالْعَبَّاسَ اَتَيَا اَبَا بَكْرٍ يَلْتَمِسَانِ مِيْرَاثَهُمَا اَرْضَهُ مِنْ خَيْبَرَ فَقَالَ اَبُوْبَكْرٍ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَا نُوْرَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ اِنَّمَا يَاْكُلُ اٰلُ مُحَمَّدٍ فِيْ هٰذَا الْمَالِ وَاللّٰهِ لَقَرَابَةُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَحَبُّ اِلَيَّ اَنْ اَصِلَ مِنْ قَرَابَتِيْ.

۸۱: ابراهيم بن موسي. هشام. معمر. زهري. عروه. بي بي عائشے نه روايت کوي، هغے اوويے حضرت عباس او بي بي فاطمه دواړه حضرت ابوبکر له راغلل، او خپل ميراث ئے د فدک د زمکے او د خيبر آمدني نه اوغوښتلو. حضرت ابوبکر ورته اوفرمائيل، ما د رسول د خدائے نه آوريدلے دي، چه خمونږ خلقو څوک وارث نه وي، مونږ چه څهٔ پريږدو، هغه صدقه ده، البته ال محمد د خپلے ګزارے د پاره ددے نه آخستے شي. پاتے شو سلوک کول، نو قسم په خدائے، زهٔ د رسول اکرم صلي الله عليه وسلم رشته دارانو سره سلوک د خپلو رشته دارانو نه زيات خوښوم.

## بَابُ ۱۵: قَتْلِ كَعْبِ بْنِ الْاَشْرَفِ.

## باب ۱۵: د کعب بن اشرف يهودي د قتل واقعه.

۸۲: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ عَمْرٌو سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لِكَعْبِ ابْنِ الْاَشْرَفِ فَاِنَّهُ قَدْ اٰذَى اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ فَقَامَ مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَتُحِبُّ اَنْ اَقْتُلَهُ

۸۲: علي بن عبدالله. سفيان. عمرو بن دينار نه روايت کوي، ما د جابر بن عبدالله نه واوريدل، حضور صحابهٔ ته اوفرمائيل، د کعب بن اشرف کار څوک تمام ولے شي (يعني څوک ئے قتلولے شي) هغهٔ، الله او رسول ته ډير تکليف رسولے دے، محمد بن مسلمه انصاري اودريد، او وئيلے، يا رسول الله، که تاسو ماله اجازت راکړے، نو زهٔ به دا کار تر سره کړم، حضور

قَالَ نَعَمْ قَالَ فَأْذَنْ لِيْ اَنْ اَقُوْلَ شَيْئًا
قَالَ قُلْ فَاَتَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ فَقَالَ
اِنَّ هٰذَا الرَّجُلَ قَدْ سَاَلَنَا صَدَقَةً وَّ اِنَّهُ
قَدْ عَنَّانَا وَ اِنِّيْ قَدْ اَتَيْتُكَ اَسْتَسْلِفُكَ
قَالَ وَ اَيْضًا وَاللّٰهِ لَتَمَلُّنَّهُ قَالَ اِنَّا
قَدِ اتَّبَعْنَاهُ فَلَا نُحِبُّ اَنْ نَّدَعَهُ حَتّٰى
نَنْظُرَ اِلٰى اَيِّ شَيْءٍ يَّصِيْرُ شَاْنُهُ وَقَدْ
اَرَدْنَا اَنْ تُسْلِفَنَا وَسْقًا اَوْ وَسْقَيْنِ
وَ حَدَّثَنَا عَمْرٌو غَيْرَ مَرَّةٍ فَلَمْ يَذْكُرْ
وَسْقًا اَوْ وَسْقَيْنِ فَقُلْتُ لَهُ
فِيْهِ وَسْقًا اَوْ وَسْقَيْنِ فَقَالَ
اَرٰى فِيْهِ وَسْقًا اَوْ وَسْقَيْنِ
فَقَالَ نَعَمْ اِرْهَنُوْنِيْ قَالُوْا
اَيَّ شَيْءٍ تُرِيْدُ قَالَ ارْهَنُوْنِيْ
نِسَآءَ كُمْ قَالُوْا كَيْفَ نَرْهَنُكَ نِسَائَنَا وَ
اَنْتَ اَجْمَلُ الْعَرَبِ قَالَ فَارْهَنُوْنِيْ
اَبْنَاءَ كُمْ قَالُوْا كَيْفَ
نَرْهَنُكَ اَبْنَآءَ نَا فَيُسَبُّ
اَحَدُهُمْ فَيُقَالُ رُهِنَ بِوَسْقٍ
اَوْ وَسْقَيْنِ هٰذَا عَارٌ عَلَيْنَا
وَلٰكِنَّا نَرْهَنُكَ اللَّاْمَةَ
قَالَ سُفْيَانُ يَعْنِيْ السِّلَاحَ
فَوَاعَدَهُ اَنْ يَّاْتِيَهُ فَجَآءَ هُ
لَيْلًا وَّ مَعَهُ اَبُوْ نَآئِلَةَ وَهُوَ
اَخُوْ كَعْبٍ مِّنَ الرَّضَاعَةِ
فَدَعَاهُمْ اِلَى الْحِصْنِ

ورته اوفرمائيل' اجازت دے. محمد بن مسلمه اووې
ماته دا هم اجازت راکړے' چه څۀ مناسب اوګنړم هغه
خبرے هغه سره اوکړم. حضورﷺ اجازت ورکړۀ' غرض
محمد بن مسلمه' کعب بن اشرف له ورغے' ورته ئے
اووے' دا سړے يعني محمد بن عبدالله خمونږ نه زکوٰة
غواړي. مونږ سره خپله نشته' او دے مونږ تنګوي.
کعب ورته اووے' (لا صبر اوکه) تا څۀ ليدلي دي. دے
به لا مخکښې تاسو ډير تنګ کړي. محمد بن مسلمه
اووے' خير اوس خو مونږ د هغۀ پيروي شروع کړے ده'
سمدستي پرېښودل ئے هم ټيک راته نۀ ښکاري چه لا
مخکښې به څۀ کيږي. دے وخت زۀ تاله راغلے يم' چه يو
يا دوه وسق قجورے مونږ له قرض راکړه. سفيان وائي'
عمرو بن دينار مونږ ته څو ځکه دا حديث واورولو' نو
هغے کښې ئے د يو وسق قجورو ذکر اونۀ کړۀ' چه ما ورته
وريـاد کړل' نو ونيلي ئے' او' خما دا خيال دے' چه
دغسے به وي. غرض کعب اووے. قرض به در کړم' څۀ
څيز راسره رهن (ګانړه) کړه. ما ورته اووے' څۀ درسره
رهن کړم' کعب اووے' خپلې ښځې راسره ګانړه کړه.
محمد بن مسلمه اووے' دا څنګه کيدے شي' مونږ
خپلې ښځې څنګه درسره ګانړه کړو' تۀ خو ټولو عربو کښې تۀ
خوبصورته ئے. هغۀ اووے' خپل خامن راسره رهن کړه.
ما اووے' تاسره خپل خامن څنګه رهن کړم' آينده چه
څوک هغوي سره جنګيږي' نو طعنه به ورکوي' چه تۀ
يو يا دوه وسق کښې ګانړه شوے وے' او دا مونږ بد
ګنړو. البته مونږ خپله وسله درسره ايښودے شو سفيان
د لفظ لامه تفسير سلاح يعني هتيار کړے دے. محمد

فَنَزَلَ اِلَيْهِمْ فَقَالَتْ لَهُ امْرَاَتُهُ اَيْنَ تَخْرُجُ هٰذِهِ السَّاعَةَ فَقَالَ اِنَّمَا هُوَ مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ وَ اَخِيْ اَبُوْ نَائِلَةَ وَ قَالَ غَيْرُ عَمْرٍو قَالَتْ اَسْمَعُ صَوْتًا كَاَنَّهُ يَقْطُرُ مِنْهُ الدَّمُ قَالَ اِنَّمَا هُوَ اَخِيْ مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ وَ رَضِيْعِيْ اَبُوْ نَائِلَةَ اِنَّ الْكَرِيْمَ لَوْدُعِيَ اِلٰى طَعْنَةٍ بِلَيْلٍ لَاَجَابَ قَالَ وَ يُدْخِلُ مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ مَعَهُ بِرَجُلَيْنِ قِيْلَ لِسُفْيَانَ سَمَّاهُمْ عَمْرٌو قَالَ سَمّٰى بَعْضَهُمْ قَالَ عَمْرٌو جَآءَ مَعَهُ بِرَجُلَيْنِ وَ قَالَ غَيْرُ عَمْرٍو وَ اَبُوْ عَبْسِ بْنُ جَبْرٍ وَ وَالْحَارِثُ بْنُ اَوْسٍ وَّ عَبَّادُ بْنُ بِشْرٍ قَالَ عَمْرٌو جَآءَ مَعَهُ بِرَجُلَيْنِ فَقَالَ اِذَا مَا جَآءَ فَاِنِّيْ قَائِلٌ بِشَعْرِهٖ فَاَشَمُّهُ فَاِذَا رَاَيْتُمُوْنِيْ اسْتَمْكَنْتُ مِنْ رَّاْسِهٖ فَدُوْنَكُمْ فَاضْرِبُوْهُ وَ قَالَ مَرَّةً ثُمَّ اُشِمُّكُمْ فَنَزَلَ اِلَيْهِمْ مُتَوَشِّحًا وَهُوَ يَنْفَحُ مِنْهُ رِيْحُ الطِّيْبِ فَقَالَ مَا رَاَيْتُ

بن مسلمه، کعب سره دوباره ذ یوخائے کیدو وعده اوکړله، او لاړلو، ذ شپے دوباره راغے، او ابو نائله ئے خان سره راوست، چه ذ کعب پئے شریک ورور وو، کعب هغوي قلعه ته راوغبتل، او بیا هغوي ته خکته راغے، ذ هغهٔ ښځے ورته اووے، په دے وخت چرته ځے، کعب ورته اووے، دا محمد بن مسلمه او ابو نائله خما ورور دے، چه غواړي م. سفیان وائي، ذ عمر بن دینار نه سوا نورو خلقو دے حدیث کښ دومره نور زیاتے کړے دے، (یعني زیات الفاظ ئے راوړے دي) چه ذ کعب ښځے دا هم اووے، ذ دے آواز نه خو ذ وینے (خون) بوي راځي، یا وینه څاڅي، کعب ورته اووے، هیڅ نشته. خما ورور ابو نائله او محمد بن مسلمه دے. او شریف سړي له خو ذ شپے وخت کښ هم که نیزه وهلو له اوبلي، تلل پکار دي. او محمد بن مسلمه خان سره دوه سړي نور هم راوستے وي. سفیان نه تپوس اوشو، چه عمرو ذ هغوي نوم آخستے وو، هغهٔ اووے، ذ بعضے ئے اخستے وو. خو نورو ذ ابو عبس بن جبیر او حارث بن اوس او عباد بن بشر نوم آخستے وو، عمرو دومره قدر اووے. محمد بن مسلمه خپلو ملګروته اووے، کعب چه راشي، نو زهٔ به د هغهٔ د سر ویښتهٔ نیسلے بوئ کړم. کله چه تاسو اووینئے چه ما مضبوط اونیولو نو تاسو خپل کار تر سره کړئے. غرض کعب څادر اغستے راکوز شولو. ذ هغهٔ ذ جسم نه خوشبوي تله. محمد بن مسلمه ورته اووے، ما ننه پورے داسے خوشبوئ چرته نه ده لیدلے چه ټوله هوا، ئے معطر کړے ده ذ عمرو نه علاوه نور راویان وائي، کعب جواب کښ اووے، دا وخت ماسره

كَالْيَوْمِ رِيْحًا اَىْ اَطْيَبَ وَ قَالَ غَيْرُ عَمْرٍو قَالَ عِنْدِىْ اَعْطَرُ نِسَاءِ الْعَرَبِ وَ اَكْمَلُ الْعَرَبِ قَالَ عَمْرٌو فَقَالَ اَتَأْذَنُ لِىْ اَنْ اَشَمَّ رَأْسَكَ قَالَ نَعَمْ فَشَمَّهُ ثُمَّ اَشَمَّ اَصْحَابَهُ ثُمَّ قَالَ اَتَأْذَنُ لِىْ قَالَ نَعَمْ فَلَمَّا اسْتَمْكَنَ مِنْهُ قَالَ دُوْنَكُمْ فَقَتَلُوْهُ ثُمَّ اَتَوُا النَّبِىَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَخْبَرُوْهُ.

داسې ښځه ده، چه د ټولو ښځونه زیاته معطره ده، او حُسن و جمال کښې هم بې نظیره ده. عمرو وائي: محمد بن مسلمه ترې تپوس او کړ. د سر بوئیلو اجازت ش[ته] هغه ورته اووې، او محمد بن مسلمه خپله هم بو[ئ] کړلو، او په ملګرو ئې هم بوئ کړلو، بیا دوباره اجاز[ت] سره ئې بوئ کړلو. او زور سره ئې ټینګ اونیولو ملګروته ئې اووې رانیسئ، نو هغوي ورله سمد[ستي] کار تمام کړلو (یعني وې وژلو) او بیا د حضور صلي ا[لله] علیه وسلّم په خدمت کښې حاضر شو، او د کعب د ق[تل] خوشخبري ئې ورته واوروله.

**ف** : وسق: د اوس بار. د اوو صاع مقدار. او یو صاع دوه سوه څلوېښت تولې وي.

**باب ١٦١ : قَتْلِ اَبِىْ رَافِعٍ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اَبِى الْحَقِيْقِ** وَ يُقَالُ سَلَامُ بْنُ اَبِى الْحَقِيْقِ كَانَ بِخَيْبَرَ وَ يُقَالُ فِىْ حِصْنٍ لَهٗ بِاَرْضِ الْحِجَازِ وَ قَالَ الزُّهْرِىُّ هُوَ بَعْدَ كَعْبِ بْنِ الْاَشْرَفِ.

**باب ١٦١ : د ابو رافع عبدالله بن ابي الحقیق** قتل قصه. بعضې خلق وائي، چه د هغه نوم سلام بن ابی الحقیق وو، او هغه خیبر کښې اوسیدلو. او بعضې وائي چه هغه خپله قلعه واقع حجاز کښې اوسیدلو. د زهر[ي] بیان دې چه ابو رافع د کعب بن اشرف نه پس قتل کړ[ې] شوې دې (رمضان ٦هـ کښې).

٨٣ : حَدَّثَنِىْ اِسْحٰقُ بْنُ نَصْرٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ اٰدَمَ حَدَّثَنَا ابْنُ اَبِىْ زَائِدَةَ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ اَبِىْ اِسْحٰقَ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ بَعَثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَهْطًا اِلٰى اَبِىْ رَافِعٍ فَدَخَلَ عَلَيْهِ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَتِيْكٍ بَيْتَهٗ لَيْلًا وَّهُوَ نَائِمٌ فَقَتَلَهٗ.

٨٣ : اسحق بن نصر. یحیی بن آدم ابن ابي زائده. ابو اسحاق سبیعي. حضر[ت] براء بن عازب نه روایت کوي: هغه فرمائي رسول الله صلي الله علیه وسلّم څو سړي ابو رافع پله اولیږل. هغې کښې عبدالله بن عتیک هم وو، هغه د شپې د هغه کور ته ورننوت، هغه اوده وو، او هغوي هغه هم دغې حالت کښې قتل کړ.

٨٤ : حَدَّثَنَا يُوْسُفُ

٨٤ : یوسف بن موسي. عبیدالله بن موسي.

بْنُ مُوسَى حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ
بْنُ مُوسَى عَنْ اِسْرَآئِيلَ عَنْ
اَبِيْ اِسْحٰقَ عَنِ الْبَرَآءِ قَالَ
بَعَثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلَى اَبِيْ رَافِعٍ
الْيَهُوْدِيِّ رِجَالًا مِّنَ الْاَنْصَارِ
فَاَمَّرَ عَلَيْهِمْ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ
عَتِيْكٍ وَكَانَ اَبُوْ رَافِعٍ يُؤْذِيْ
رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ وَيُعِيْنُ عَلَيْهِ وَكَانَ
فِيْ حِصْنٍ لَهُ بِاَرْضِ الْحِجَازِ
فَلَمَّا دَنَوْا مِنْهُ وَقَدْ غَرَبَتِ
الشَّمْسُ وَرَاحَ النَّاسُ بِسَرْحِهِمْ
فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ لِاَصْحَابِهِ
اجْلِسُوْا مَكَانَكُمْ فَاِنِّيْ مُنْطَلِقٌ
وَّمُتَلَطِّفٌ لِّلْبَوَّابِ لَعَلِّيْ اَنْ
اَدْخُلَ فَاَقْبَلَ حَتّٰى دَنَا مِنَ الْبَابِ
ثُمَّ تَقَنَّعَ بِثَوْبِهٖ كَاَنَّهٗ يَقْضِيْ
حَاجَةً وَّقَدْ دَخَلَ النَّاسُ فَهَتَفَ
بِهِ الْبَوَّابُ يَا عَبْدَ اللّٰهِ اِنْ كُنْتَ
تُرِيْدُ اَنْ تَدْخُلَ فَادْخُلْ فَاِنِّيْ اُرِيْدُ
اَنْ اُغْلِقَ الْبَابَ فَدَخَلْتُ فَكَمَنْتُ
فَلَمَّا دَخَلَ النَّاسُ اَغْلَقَ الْبَابَ
ثُمَّ عَلَّقَ الْاَغَالِيْقَ عَلٰى وَتَدٍ
قَالَ فَقُمْتُ اِلَى الْاَقَالِيْدِ فَاَخَذْتُهَا
فَفَتَحْتُ الْبَابَ وَكَانَ اَبُوْ رَافِعٍ

اسرائيل. ابو اسحٰق. براء بن عازب نه روايت كوي،
رسول الله صلي الله عليه وسلّم ابو رافع ته څو انصار
اوليږل، عبدالله بن عتيک ئے سردار مقرر کړ. ابو رافع
د رسول الله صلي الله عليه وسلّم دشمن وو (يعني د
اسلام دشمن وو) او د رسول د مخالفينو مدد به ئے کولو،
د هغهٔ قلعه حجاز کښ وه، او هغے کښ اوسيدلو. کوم
وخت چه دا خلق هغے قلعه ته اورسيدل، نو نمر پريوتلے
وو، او خلقو خپل څناور د مابنام كيدو په وجه واپس
راوستل. عبدالله بن عتيک ملګروته اووے، تاسو دلته
ايسار شئ، زهٔ ورځم، او دربان ته به څهٔ بهانه اوکړم.
دننه د ورتلو به کوشش اوکړم، نو عبدالله ورغے، او
دروازے ته قريب اورسيد، نو خپل ځان ئے کپړو کښ
داسے پټ کړ، لکه څوک چه رفع حاجت د پاره کيني،
قلعه واله دننه تلي وو، دربان دا خيال اوکړ، چه عبدالله
کښي خپل سړے دے، آواز ئے ورکړ، او ورته ئے اووے،
اے د الله بنده، که ته دننه راتلل غواړے، نو راځه، ځکه
چه زهٔ دروازه بندول غواړم. عبدالله بن عتيک وائي.
دے آوريدو سره زهٔ دننه ورغلم، او پټ شوم. دربان چه
دروازه بنده کړه، نو چابيانے ئے ميخ کښ آويزاندے
کړے. کوم وخت چه دربان (څوکيدار) اوده شو، نو ما
چابيانے راکوزے کړے، او د قلعه دروازه م پرانسته (چه
تيښته کښ آساني وي) اخوا ابو رافع ته به د شپے قصے
ونيلے شوے، او هغه خپله بالاخانه کښ ناست وو، قصه
ئے آوريدله. هر کله چه داستان ويونکي ټول لاړل. او
ابو رافع اُوده شو، نو زهٔ بالاخانے ته ور اُوختم، اوپه کومه
دروازه چه به داخليدم، نو هغه به م د دننه نه بندوله. او د

يُسْمَرُ عِنْدَهُ وَ كَانَ فِيْ عَلَالِيٍّ لَهُ
فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْهُ اَهْلُ سَمَرِهٖ صَعِدتُّ
اِلَيْهِ فَجَعَلْتُ كُلَّمَا فَتَحْتُ بَابًا اَغْلَقْتُ
عَلَيَّ مِنْ دَاخِلٍ فَقُلْتُ اِنِ الْقَوْمُ لَوْ
نَذِرُوْا بِيْ لَمْ يَخْلُصُوْا اِلَيَّ حَتّٰى
اَقْتُلَهُ فَانْتَهَيْتُ اِلَيْهِ فَاِذَا هُوَ بِبَيْتٍ
مُظْلِمٍ وَسْطَ عِيَالِهٖ لَا اَدْرِيْ اَيْنَ هُوَ
مِنَ الْبَيْتِ فَقُلْتُ يَا اَبَا رَافِعٍ قَالَ مَنْ
هٰذَا فَاَهْوَيْتُ نَحْوَ الصَّوْتِ فَاَضْرِبُهٗ
ضَرْبَةً بِالسَّيْفِ وَ اَنَا دَهِشٌ فَمَا اَغْنَيْتُ
شَيْئًا وَ صَاحَ فَخَرَجْتُ مِنَ الْبَيْتِ
فَاَمْكُثُ غَيْرَ بَعِيْدٍ ثُمَّ دَخَلْتُ اِلَيْهِ
فَقُلْتُ مَا هٰذَا الصَّوْتُ يَا اَبَا رَافِعٍ
فَقَالَ لِاُمِّكَ الْوَيْلُ اِنَّ رَجُلًا فِي الْبَيْتِ
ضَرَبَنِيْ قَبْلُ بِالسَّيْفِ قَالَ فَاَضْرِبُهٗ
ضَرْبَةً اَثْخَنَتْهُ وَلَمْ اَقْتُلْهُ ثُمَّ وَضَعْتُ
ظُبَةَ السَّيْفِ فِيْ بَطْنِهٖ حَتّٰى اَخَذَ فِيْ
ظَهْرِهٖ فَعَرَفْتُ اَنِّيْ قَتَلْتُهٗ فَجَعَلْتُ
اَفْتَحُ الْاَبْوَابَ بَابًا بَابًا حَتّٰى انْتَهَيْتُ
اِلٰى دَرَجَةٍ لَهٗ فَوَضَعْتُ رِجْلِيْ وَ اَنَا
اُرٰى اَنِّيْ قَدِ انْتَهَيْتُ اِلَى الْاَرْضِ
فَوَقَعْتُ فِيْ لَيْلَةٍ مُقْمِرَةٍ فَانْكَسَرَتْ
سَاقِيْ فَعَصَبْتُهَا بِعِمَامَةٍ ثُمَّ انْطَلَقْتُ
حَتّٰى جَلَسْتُ عَلَى الْبَابِ فَقُلْتُ لَا
اَخْرُجُ اللَّيْلَةَ حَتّٰى اَعْلَمَ اَقَتَلْتُهٗ
فَلَمَّا صَاحَ الدِّيْكُ قَامَ النَّاعِيْ عَلٰى

دے نه خما غرض دا وو' که خلقو ته خما پته اولګي' نو د
هغوي ذ رارسيدو پورے به زهٔ ابو رافع ختم کړم. غرض
زهٔ ابو رافع ته اورسيدم' هغه يو تيارهٔ کمره کښې خپل بال
بچ سره اوده وو' ما ذ هغه خانے بنهٔ شان سره معلوم نه
کړے شو. نو ذ ابو رافع نوم سره م ورته آواز اوکهٔ. هغهٔ
اووے' څوک دي زهٔ په آواز ورغلم' ذ تورے ګزار
پرے اوکه. خما زړهٔ رپيدلو' خو دا وار خالي لاړ' او هغه
چغے کړے. زهٔ ذ کوټے نه بهر راووتلم. بيا سمدستي
دننه ورغلم' تپوس م اوکهٔ' اے ابو رافع' تا ولے چغ
کړے' هغهٔ زهٔ خپل سرے اوکنړلم' او' وئيلے مو
دربانديے بوره شه' اوس چا ما بانديے ذ تورے ګزار اوکه
دے آوريدو سره پرے ما د تورے يو بل ګزار اوکهٔ. زخم
اګر که ورته ژور اولګيد ليکن مړ نهٔ شولو' آخر ما ذ
تورے دهار ذ هغهٔ په خيټه کينودلو' او زور سره م دباؤ
کړلو' هغه څيرلو سره شاته اورسيدلو. اوس خما يقين
اوشو' چه هغه هلاک شو' بيا زهٔ واپس شوم. يوه يوه
دروازه به م پرانستله' او ذ سيړهو نه به راخکته کيدم. زهٔ
پوه شوم' چه زمکه راغلے سپوږمۍ شپه وه. زهٔ
راوغرځيدم' او پنډۍ م ماته شوه' ما خپل پټکي سره
پنډي اوتړله. ذ قلعه نه بهر راووتم' په دروازه کيناستم.
او زړه کښې م اووے' چه زهٔ به ذ هغه وخته پورے ذ دے
خانے نه' نه خم' څو پورے چه ذ ابو رافع ذ مرګ يقين م
اونشي' آخر صبا شو. چرګ بانګ اووے' او ذ قلعه د
پاسه په ديوال اودريدے يو سړي اووے' اے خلقو' ابو
رافع ذ حجاز سوداګر مړ شولو. دے آوريدو سره زهٔ
سمدستي خپلو ملګرو طرف ته ورستون شوم. هغوي ته

السُّوْرِ فَقَالَ اَنْعَى اَبَا رَافِعٍ تَاجِرَ اَهْلِ الْحِجَازِ فَانْطَلَقْتُ اِلٰى اَصْحَابِيْ فَقُلْتُ النَّجَآءَ فَقَدْ قَتَلَ اللّٰهُ اَبَا رَافِعٍ فَانْتَهَيْتُ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَدَّثْتُهُ فَقَالَ اُبْسُطْ رِجْلَكَ فَبَسَطْتُ رِجْلِيْ فَمَسَحَهَا فَكَاَنَّهَا لَمْ اَشْتَكِهَا قَطُّ.

م اووے. اوس ذ دے خائے نه زر خنے: الله پاک، ابو رافع هلاک کړلو. دے نه پس مونږ رسول الله صلي الله عليه وسلّم له راغلو، خوشخبري مو ورته واورولـه، حضور صلي الله عليه وسلّم خما پښه اوليده، او، وے فرمائيل، خپله پښه او غزوه، ما او غزوله، حضور صلي الله عليه وسلّم پرے لاس مبارک راښکلو. بس داسے معلوميده، چه دے پښے ته هډو څۀ صدمه نۀ ده رسيدلے.

۸۵: حَدَّثَنَا اَحْمَدُ بْنُ عُثْمَانَ حَدَّثَنَا شُرَيْحٌ هُوَ ابْنُ مَسْلَمَةَ حَدَّثَنَا اِبْرٰهِيْمُ بْنُ يُوْسُفَ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ اَبِيْ اِسْحٰقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَآءَ قَالَ بَعَثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰى اَبِيْ رَافِعٍ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عَتِيْكٍ وَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُتْبَةَ فِيْ نَاسٍ مَّعَهُمْ فَانْطَلَقُوْا حَتّٰى دَنَوْا مِنَ الْحِصْنِ فَقَالَ لَهُمْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَتِيْكٍ اُمْكُثُوْا اَنْتُمْ حَتّٰى اَنْطَلِقَ اَنَا فَاَنْظُرَ قَالَ فَتَلَطَّفْتُ اَنْ اَدْخُلَ الْحِصْنَ فَفَقَدُوْا حِمَارًا لَّهُمْ قَالَ فَخَرَجُوْا بِقَبَسٍ يَّطْلُبُوْنَهُ قَالَ فَخَشِيْتُ اَنْ اُعْرَفَ قَالَ فَغَطَّيْتُ رَاْسِيْ كَاَنِّيْ اَقْضِيْ حَاجَةً ثُمَّ نَادٰى صَاحِبُ الْبَابِ مَنْ اَرَادَ اَنْ يَّدْخُلَ فَلْيَدْخُلْ قَبْلَ اَنْ اُغْلِقَهُ فَدَخَلْتُ ثُمَّ اخْتَبَاْتُ فِيْ مَرْبَطِ حِمَارٍ عِنْدَ بَابِ الْحِصْنِ فَتَعَشَّوْا عِنْدَ اَبِيْ رَافِعٍ وَّ تَحَدَّثُوْا حَتّٰى ذَهَبَتْ سَاعَةٌ

۸۵: احمد بن عثمان. شريح بن مسلمه. ابراهيم بن يوسف. ذ خپل پلار يوسف بن اسحاق نه روايت کوي، هغۀ اوفرمائيل ما ذ حضرت براء بن عازبؓ نه واوريدل، چه حضور صلي الله عليه وسلّم ذ ابو رافع ذ قتلولو ذ پاره عبدالله بن عتيک، عبدالله بن عتبهؓ او نور يو خو سري اوليږل، کوم وخت چه دا خلق قلعه ته نزدے اورسيدل، نو ابن عتيک خپلو ملګروته اووے، تاسو ټول دلته ايسار شئ، زۀ ورځم، موقعه ګورم، ابن عتيک وائي، زۀ ورغلم، او د دربان ذ راغبنتلو تدبير م کولو، چه دے کښې ذ قلعه والو يو خر ورک شوار، هغوي هغه خر رنړا اخستو سره تلاش کولو، زۀ او يريدم، چه چرته ما اونۀ پيژني، نو ما خپل سر پټ کړلو، او دا شان کيناستم، لکه چه څوک رفع حاجت ذ پاره کيني. دے کښې دربان آواز اوکۀ، در ازه بنديږي، څوک چه دننه راځي، را دے شي، زۀ تادي سره دننه ورغلم او ذ خرونو ذ تړلو خائے کښې پټ شوم. قلعه والو ابو رافع سره ډوډي اوخوړله، او بيا ذ شپے ډير وخته پورے يے خبرے کولے. کوم وخت چه ټول لاړل او هر طرف ته خاموشي خوره شوه، نو زۀ اووتلم، او دربان چه کوم خائے چابيانے ايښے

مِنَ اللَّيْلِ ثُمَّ رَجَعُوْا اِلٰى بُيُوْتِهِمْ
فَلَمَّا هَدَاَتِ الْاَصْوَاتُ وَلَا اَسْمَعُ
حَرَكَةً خَرَجْتُ قَالَ وَ رَاَيْتُ صَاحِبَ
الْبَابِ حَيْثُ وَضَعَ مِفْتَاحَ الْحِصْنِ فِيْ
كُوَّةٍ فَاَخَذْتُهُ فَفَتَحْتُ بِهِ بَابَ الْحِصْنِ
قَالَ قُلْتُ اِنْ تَذَرِبِىَ الْقَوْمُ انْطَلَقْتُ
عَلٰى مَهَلٍ ثُمَّ عَمَدْتُ اِلٰى اَبْوَابِ
بُيُوْتِهِمْ فَغَلَّقْتُهَا عَلَيْهِمْ مِنْ ظَاهِرٍ
ثُمَّ صَعِدْتُ اِلٰى اَبِىْ رَافِعٍ فِىْ سُلَّمٍ
فَاِذَا الْبَيْتُ مُظْلِمٌ قَدْ طُفِىءَ سِرَاجُهُ
فَلَمْ اَدْرِ اَيْنَ الرَّجُلُ فَقُلْتُ يَا اَبَا رَافِعٍ
قَالَ مَنْ هٰذَا قَالَ فَعَمَدْتُ نَحْوَا
الصَّوْتِ فَاَضْرِبُهُ وَ صَاحَ فَلَمْ تُغْنِ
شَيْئًا قَالَ ثُمَّ جِئْتُ كَاَنِّىْ اُغِيْثُهُ
فَقُلْتُ مَالَكَ يَا اَبَا رَافِعٍ وَ غَيَّرْتُ
صَوْتِىْ فَقَالَ اَلَا اُعَجِّبُكَ لِاُمِّكَ الْوَيْلُ
دَخَلَ عَلَىَّ رَجُلٌ فَضَرَبَنِىْ بِالسَّيْفِ
قَالَ فَعَمَدْتُ لَهُ اَيْضًا فَاَضْرِبُهُ اُخْرٰى
فَلَمْ تُغْنِ شَيْئًا فَصَاحَ وَ قَامَ اَهْلُهُ
قَالَ ثُمَّ جِئْتُ وَ غَيَّرْتُ صَوْتِىْ
كَهَيْئَةِ الْمُغِيْثِ فَاِذَا هُوَ مُسْتَلْقٍ عَلٰى
ظَهْرِهِ فَاَضَعُ السَّيْفَ فِىْ بَطْنِهِ ثُمَّ
اَنْكَفِىءُ عَلَيْهِ حَتّٰى سَمِعْتُ صَوْتَ
الْعَظْمِ ثُمَّ خَرَجْتُ دَهِشًا
حَتّٰى اَتَيْتُ السُّلَّمَ اُرِيْدُ اَنْ
اَنْزِلَ فَاَسْقُطُ مِنْهُ فَانْخَلَعَتْ

ورې، هغه مې راواخستې، او ذ قلعه دروازه مې پرانسته، چه
آساني سره تيښته اوکړې شم دے نه پس زۀ قلعه کښې
چه کوم مکانات وو، هلته ورغلم، او ذ بهر نه مې ذ تړلو
زنځير اولړولو، دے نه پس زۀ ذ ابو رافع په سيړهو ور
اوختلم، څۀ ګورم، چه کمره کښې تياره ده، ماته ذ هغه
مقام معلوم نه شولو، آخر ما ابو رافع نوم اخستو سره ورته
آواز اوکۀ، نو هغۀ تپوس اوکۀ، څوک يې. ذ هغۀ آواز
سره زۀ ورمخکښې شوم، او ذ تورے ګزار مې پرے اوکۀ.
هغۀ چغے کړے، خو وار خطا لاړ، زۀ لږ ساعت ايسار شوم
او ورنزدے شوم، او تپوس مې ترے اوکۀ، اے ابو رافع، څۀ
خبره ده، هغۀ دا خيال اوکۀ، چه ګني دا خما څوک
سړے دے، چه مدد له راغلے دے. په دے وجه هغۀ اوورے،
اے مور دے مړه شه، چا په ما ذ تورے ګزار اوکۀ. دے
آوريدو سره پرے ما يو بل ګزار اوکۀ، خو سپک شان
ګزار بښکاريدۀ (يعني سخت اونۀ لږيدلو) ذ هغۀ ښځه
اوتښتيده، او هغۀ چغے کړے، ما بيا آواز بدل کړلو. او ذ
مددګار په حيثيت هغۀ ته ورنزدے شوم، هغه راغرځيدلے
وو، نو ما توره ذ هغۀ په خيټه کيښوده او دومره زور مې
ورکړلو، چه ذ هډوکي ذ تلقا آواز مې واوريدلو. اوس چه
ما ذ هغۀ کار تمام کړلو (يعني قتل مې کۀ) نو په يره يره
اندرپائے (سيړهۍ) ته راغلم. اوغوښتل مې، چه خکته راکوز
شم. خو تادي کښې راوغرځيدم، او ذ پښے جوړ مې
اوختلو، ما پښه په کپړه اوتړله. او بيا رو، رو خپلو ملګرو
ته مې خان اورسولو، او ورته مې اوورے، تاسو تلل رسول الله
صلي الله عليه وسلم ته ذ ابو رافع ذ قتل خبر واوروے، او
زۀ ذ هغۀ ذ مرګ ذ يقيني خبر پورے به دلته ايسار يم.

رِجْلِي فَعَصَبْتُهَا ثُمَّ أَتَيْتُ أَصْحَابِي أَحْجُلُ فَقُلْتُ انْطَلِقُوا فَبَشِّرُوا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنِّي لَا أَبْرَحُ حَتَّى أَسْمَعَ النَّاعِيَةَ فَقَالَ أَنْعَى أَبَا رَافِعٍ قَالَ فَقُمْتُ أَمْشِي مَا بِي قَلَبَةٌ فَأَدْرَكْتُ أَصْحَابِي قَبْلَ أَنْ يَأْتُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَشَّرْتُهُ.

آخر صبا ته قريب يو سړي په ديوال اوختلو، او وې ونيل، اې خلقو، زۀ درته د ابو رافع د مرګ خبر آوروم. ابن عتيک وائي، زۀ چه د تلو د پاره پاسيدم، خو د خوشحالي نه م څۀ تکليف محسوس نۀ کړلو، زۀ تيزي سره لاړم، او ملګري م رسول الله صلي الله عليه وسلّم ته د رسيدو نه مخکښ رالاندې کړل. او بيا م خپله حضور صلي الله عليه وسلّم ته دا خوشخبري واوروله. حضور صلي الله عليه وسلّم خما په پنډۍ خپل لاس مبارک رابنکلو، او زۀ بيخي روغ رمټ شولم.

باب ۱۷: غَزْوَةِ أُحُدٍ. وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى وَإِذْ غَدَوْتَ مِنْ أَهْلِكَ تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِينَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ وَقَوْلِهِ جَلَّ ذِكْرُهُ وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ إِنْ يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِثْلُهُ وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَتَّخِذَ مِنْكُمْ شُهَدَاءَ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ وَلِيُمَحِّصَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَمْحَقَ الْكَافِرِينَ أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللَّهُ الَّذِينَ جَاهَدُوا مِنْكُمْ وَيَعْلَمَ الصَّابِرِينَ وَلَقَدْ كُنْتُمْ تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ مِنْ قَبْلِ

باب ۱۷: د أحد د غزا بيان. الله تعالي سورة آل عمران کښ اوفرمائيل، اې خمونږ رسولﷺ، ياد کړه، چه تۀ سحر وخت کښ د کور نه اووتلې، او مسلمانان دې د جنګ په ځائې کينول، او الله اوريدونکې او پوهيدونکې دې. بيا بل ځائې کښ دې سورت کښ اوفرمائيل چه مۀ سست کيږئ او مۀ غمګين کيږئ، تاسو به غالب ئې، که ايماندار يئ، که تاسو زخمي شوئ، نو هغوي ته هم زخم لګيدلې وو، دا خو د زمانې کير پير دې، چه مونږ وار په وار په خلقو ئې راولو، د پاره د دې چه الله تعالي مؤمنان ممتاز کړي، او تاسو کښ بعضو له د شهادت درجه ورکړي، او الله تعالي ظالمان نۀ دوستان ګڼي، او الله تعالي به ايماندار صاف ستهره کړي، او کافر به تباه کړي، آيا ستاسو دا خيال دې چه تاسو به جنت له لاړ شئ، حالانکه الله تعالي لا دا نۀ دي ښودلې، چه تاسو کښ به څوک جنګ کونکي او څوک صبر کونکي وي، او تاسو د هغې فتح نه مخکښ د مرګ آرزو کوله، اوس خو مو مرګ په خپلو

اَنْ تَلْقَوْهُ فَقَدْ رَاَيْتُمُوْهُ وَ اَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ. وَ قَوْلِهٖ وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللّٰهُ وَعْدَهٗ اِذْ تَحُسُّوْنَهُمْ بِاِذْنِهٖ حَتّٰى اِذَا فَشِلْتُمْ وَ تَنَازَعْتُمْ فِي الْاَمْرِ وَ عَصَيْتُمْ مِّنْ بَعْدِ مَا اَرٰىكُمْ مَّا تُحِبُّوْنَ مِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الدُّنْيَا وَ مِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الْاٰخِرَةَ ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ وَلَقَدْ عَفَا عَنْكُمْ وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتًا الْاٰيَةَ.

سترګو اولیدلو' بیا بل ځائے کښې ئے اوفرمائیل' چه الله تعالي خپله وعده ریښتنې اوښودله هر کله چه تاسو ذ الله تعالي په حکم هغوي وهل' تردے چه تاسو نامردي او کړله' او کار کښې مو جګړه واچوله او ذ خپل سهولت څیزونه ذ کتلو نه پس تاسو نافرماني او کړله' بعضے تاسو کښې دُنیا غوښتله او بعضے آخرت غوښتلو. بیائے تاسو ذ هغوي نه لرے کړئے' چه ستاسو آزمائش او کړي' او هغه تاسو معاف کړي ئے' ځکه چه الله تعالي په ایماندارو مهربانه دے. کوم خلق چه ذ الله په لار کښې اووژلے شو (یعني شهیدان شو) هغوي مړۀ مۀ ګڼړئے' بلکه هغوي ژوندي دي آخر آیت پورے.

۸۶: حَدَّثَنَا اِبْرٰهِيْمُ بْنُ مُوْسٰى اَخْبَرَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍؓ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ اُحُدٍ هٰذَا جِبْرِيْلُ اٰخِذٌ بِرَاْسِ فَرَسِهٖ عَلَيْهِ اَدَاةُ الْحَرْبِ.

۸۶: ابراهیم بن موسٰی. عبدالوهاب. خالد. عکرمه. حضرت ابن عباسؓ نه روایت کوي' هغه فرمائي' رسالت مٓب صلي الله علیه وسلّم ذ اُحد په ورځ اوفرمائیل (ګورے) دا جبرائیلؑ دے' چه ذ خپل اَس سر' ئے نیولے دے او وَسله ئے اچولے ده.

۸۷: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيْمِ اَخْبَرَنَا زَكَرِيَّآءُ بْنُ عَدِيٍّ اَخْبَرَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ حَيْوَةَ عَنْ يَّزِيْدَ بْنِ اَبِيْ حَبِيْبٍ عَنْ اَبِي الْخَيْرِ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ صَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى قَتْلٰى اُحُدٍ بَعْدَ ثَمَانِيْ سِنِيْنَ كَالْمُوَدِّعِ لِلْاَحْيَآءِ وَالْاَمْوَاتِ ثُمَّ طَلَعَ الْمِنْبَرَ فَقَالَ اِنِّيْ بَيْنَ اَيْدِيْكُمْ فَرَطٌ وَّ

۸۷: محمد بن عبدالرحیم. زکریا بن عدي. عبدالله بن مبارک. حیوه. یزید بن ابي حبیب. حضرت عقبه بن عامر نه روایت کوي' هغه اووے' حضور صلي الله علیه وسلّم اته کاله پس ذ اُحد په شهیدانو داسے مونځ اوکړلو' ځنګه چه څوک ژوندي او مړي رخصت کوي. بیا واپس راځے' منبر ته ئے تشریف راوړلو' او ارشاد ئے اوفرمائیلو' زۀ ستاسو پیش خیمه یم' ستاسو ذ اعمالو ګواه یم خما او ستاسو ملاقات به په

أُمَيَّةَ الْاَنْصَارِيُّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ.

شي. اللّهم امين.

باب ۱۴ : حَدِيْثِ بَنِيُ النَّضِيْرِ وَ مَخْرَجِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلَيْهِمْ فِيْ دِيَةِ الرَّجُلَيْنِ وَمَا اَرَادُوْا مِنَ الْغَدْرِ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الزُّهْرِيُّ عَنْ عُرْوَةَ كَانَتْ عَلٰى رَأْسِ سِتَّةِ اَشْهُرٍ مِنْ وَّقْعَةِ بَدْرٍ قَبْلَ اُحُدٍ وَ قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى هُوَ الَّذِيْ اَخْرَجَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتَابِ مِنْ دِيَارِهِمْ لِاَوَّلِ الْحَشْرِ وَ جَعَلَهُ ابْنُ اِسْحٰقَ بَعْدَ بِئْرِ مَعُوْنَةَ وَ اُحُدٍ.

باب ۱۴ : يهود بني نضير ته ذ حضور صلي الله عليه وسلّم تشريف اُوړل٬ ذ دوو سړو ذ ديت په سلسله كښې. او ذ هغوي ذ خدائے رسول سره دهوكه كول. زهري. عروه بن زبير نه روايت كوي٬ ذ هغهٔ بيان دے٬ غزوه بني نضير ذ بدر نه شپږ مياشتے پس او ذ اُحد نه مخكښې اوشوه٬ او ذ اللّه تعالىٰ سورهٔ حشر كښې فرمائيل: هو الّذى اخرج الّذين كفروا من اهل الكتاب من ديارهم لاوّل الحشر: دغه پروردګار دے٬ چه هغه ذ اهل كتاب كافر ذ هغوي ذ كورونو نه اوبنكل. دا ذ هغوي وړمبے وتل وو. او ابن اسحاق هم ذ بني نضير نه پس ذ بير معونه او جنګ اُحد ذكر كړے دے.

۱. بنو نضير او بنو قريظه په مدينه كښے د يهوديانو دوه لوئے قبيلے وے او د مدينے په اقتصادياتو باندے تر ډيره حده پورے حاوي وو. كله چه حضور اكرم صلي الله عليه وسلّم هجرت اوكړو او مدينے ته ئے تشريف راؤړو نو حضورؐ هغوئ سره د امن او صلحے لوظنامه كړے وه ليكن هغوئ د غدر او بے لوظئ عادي وو. په دغه لوظنامه كښے هم هغوئ همدا طرز عمل اختيار كړو. په دے وجه د هغوئ ذ بے لوظيانو نه تنګ راتللو سره حضور صلي الله عليه وسلّم هغوئ لره ريحا٬ تيماء او وادي القريٰ طرفته جلاوطن كړي وو.

۳۷۵: حَدَّثَنَا اِسْحٰقُ بْنُ نَصْرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ اَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ عَنْ مُوْسَى بْنِ عُقْبَةَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَؓ قَالَ حَارَبَتِ النَّضِيْرُ وَ قُرَيْظَةُ فَاَجْلٰى بَنِي النَّضِيْرِ وَ اَقَرَّ قُرَيْظَةَ وَمَنَّ عَلَيْهِمْ حَتّٰى حَارَبَتْ قُرَيْظَةُ فَقَتَلَ رِجَالَهُمْ وَ قَسَمَ نِسَآءَ هُمْ وَ اَوْلَادَهُمْ وَ اَمْوَالَهُمْ بَيْنَ الْمُسْلِمِيْنَ اِلَّا بَعْضَهُمْ لَحِقُوْا بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ

۳۷۵: اسحٰق بن نصر. عبدالرزاق. ابن جريج. موسي بن عقبه. نافعؒ. حضرت ابن عمرؓ نه روايت كوي٬ هغهٔ اووے٬ بني نضير او بني قريظه جنګ اوكړ٬ نو بني نضير ئے جلاوطن كړل٬ او په بني قريظه ئے احسان اوكړ٬ هغوي ئے پريښودل. ليكن هغوي دوباره جنګ اوكړ٬ نو مسلمانانو ذ هغوي نارينه قتل كړل٬ او ښځے٬ بچي او مال اسباب ئے په مسلمانانو تقسيم كړل٬ خو كوم خلق چه نبي صلي اللّه عليه وسلّم سره يوځائے شول٬

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَّنَهُمْ وَ اَسْلَمُوْا وَ اَجْلٰى يَهُوْدَ الْمَدِيْنَةِ كُلَّهُمْ بَنِيْ قَيْنُقَاعَ وَهُمْ رَهْطُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَلَامٍ وَّ يَهُوْدَ بَنِيْ حَارِثَةَ وَ كُلَّ يَهُوْدِ الْمَدِيْنَةِ.

يعني مسلمانان شولو' هغوي باقي پاتے شو. باقي ذ مديني ټول يهوديان چه بني قينقاع يعني ذ عبدالله بن سلام قوم والـه وو' او ذ بني حارثـه يهوديان او كوم يهود چه مدينه كښې موجود وو هغه ټول ئے اوښكل.

۷۶: حَدَّثَنِي الْحَسَنُ بْنُ مُدْرِكٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَمَّادٍ اَخْبَرَنَا اَبُوْ عَوَانَةَ عَنْ اَبِيْ بِشْرٍ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍؓ سُوْرَةُ الْحَشْرِ قَالَ قُلْ سُوْرَةُ النَّضِيْرِ تَابَعَهُ هُشَيْمٌ عَنْ اَبِيْ بِشْرٍ.

۷۶: حسن بن مدرک. يحيي بن حماد. ابو عوانه. سعيد بن جبير نه روايت كوي' هغه اووے' ذ حضرت ابن عباسؓ مخكښې ذ سورة حشر ذكر راغے' نو هغه اوفرمائيل چه سورة نضير وايه. ابو عوانه سره دا حديث هشيم هم ذ ابو بشر نه روايت كړے دے.

۷۷: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ اَبِي الْاَسْوَدِ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ عَنْ اَبِيْهِ سَمِعْتُ اَنَسَ بْنَ مَالِكٍ قَالَ كَانَ الرَّجُلُ يَجْعَلُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّخَلَاتِ حَتّٰى افْتَتَحَ قُرَيْظَةَ وَالنَّضِيْرَ فَكَانَ بَعْدَ ذٰلِكَ يَرُدُّ عَلَيْهِمْ.

۷۷: عبدالله بن اسود. معتمر بن سليمان' ذ خپل پلار سليمان نه روايت كوي هغه اووے' ما ذ حضرت انسؓ نه واوريدل' حضور صلي الله عليه وسلّم ذ پاره خلقو ذ قجورے د اُونے په طور ذ تحفے نامزد كړے وے (چه حضورؐ ذ دے په ميوه گزاره كوي) تردے چه حضورؐ په بني قريظه او بني نضير فتح بيامنده. او بيا حضورؐ هغه واپس كړلے.

۷۸: حَدَّثَنَا اٰدَمُ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَؓ قَالَ حَرَّقَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَخْلَ بَنِي النَّضِيْرِ وَ قَطَعَ وَهِيَ الْبُوَيْرَةُ فَنَزَلَتْ مَا قَطَعْتُمْ مِّنْ لِّيْنَةٍ اَوْ تَرَكْتُمُوْهَا قَآئِمَةً عَلٰى اُصُوْلِهَا فَبِاِذْنِ اللّٰهِ.

۷۸: آدم. ليث. نافع. حضرت ابن عمرؓ نه روايت كوي' هغهٔ اووے' رسول الله صلي الله عليه وسلّم ذ بني نضير د كجورو اُونے اوسوزولے بعضے ئے كټ كړلے' چه بويره كښې وے' نو هغه وخت ذ سورهٔ حشر دا آيت نازل شولو (ترجمه) يعني كومے اُونے چه تا كټ كړلے' يا هغه دے ذ هغے جړړو سره قائمے اوساتلے' نو دا د الله حكم سره اوشو.

۷۹: حَدَّثَنِيْ اِسْحٰقُ اَخْبَرَنَا

۷۹: اسحاق. حبان. جويريه بن

حَبَّانُ اَخْبَرَنَا جُوَيْرِيَةُ بْنُ اَسْمَآءَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَؓ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَرَّقَ نَخْلَ بَنِي النَّضِيْرِ قَالَ وَلَهَا يَقُوْلُ حَسَّانُ بْنُ ثَابِتٍؓ ـ

وَ هَانَ عَلٰى سَرَاةِ بَنِيْ لُؤَيٍّ
حَرِيْقٌ بِالْبُوَيْرَةِ مُسْتَطِيْرُ

قَالَ فَاَجَابَهُ اَبُوْ سُفْيَانَ بْنُ الْحَارِثِ ـ

اَدَامَ اللّٰهُ ذٰلِكَ مِنْ صَنِيْعٍ
وَ حَرَّقَ فِيْ نَوَاحِيْهَا السَّعِيْرُ
سَتَعْلَمُ اَيُّنَا مِنْهَا بِنُزْهٍ
وَ تَعْلَمُ اَيَّ اَرْضَيْنَا تَضِيْرُ

۰۸۰: حَدَّثَنَا اَبُو الْيَمَانِ اَخْبَرَ شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ اَخْبَرَنِيْ مَالِكُ بْنُ اَوْسِ بْنِ الْحَدَثَانِ النَّصْرِيُّ اَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِؓ دَعَاهُ اِذْ جَآءَهُ حَاجِبُهُ يَرْفَاُ فَقَالَ هَلْ لَّكَ فِيْ عُثْمَانَ وَ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ وَالزُّبَيْرِ وَ سَعْدٍ يَسْتَاْذِنُوْنَ فَقَالَ نَعَمْ فَاَدْخِلْهُمْ قَلِيْلًا ثُمَّ جَآءَ فَقَالَ هَلْ لَّكَ فِيْ عَبَّاسٍ وَ عَلِيٍّ يَسْتَاْذِنَانِ قَالَ نَعَمْ فَلَمَّا دَخَلَا قَالَ عَبَّاسٌ يَا اَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْضِ بَيْنِيْ وَ بَيْنَ هٰذَا وَ هُمَا يَخْتَصِمَانِ فِي الَّذِيْ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَنِي النَّضِيْرِ فَاسْتَبَّ عَلِيٌّ وَ عَبَّاسٌ فَقَالَ

اسماء. نافع. حضرت ابن عمرؓ نه روايت کوي' هغه 'وايي' رسول الله صلي الله عليه وسلم ذ بني نضير ذ قجورو اُونے اُوسوزولے' نو حسان بن ثابت دا شعر اووے.

ترجمه:

يعني ذ بني لوئ په شريفانو آسان شو
لريدلے اُور بويره کښې ټول طرف ته برابر

ابوسفيان بن حارث ذ حسان په جواب کښې اووے:

ترجمه: يعني خدائے دِ کړي چه هميشه دا حال هلته وي
ذ مدينے څلور طرف ته سوزيدونکے اُور وي
تاسوته به دا معلومه شي عنقريب چه څوک به مونږ کښې
پاتے شي محفوظ او کوم ملک به نور نقصان اوچتوي

۰۸۰: ابو اليمان. شعيب. زهري نه روايت کوي' هغه اووے' ماته مالک بن اوس بن حدثان نصري خبر راکړ' زه حضرت عمرؓ راوغوښتلم' دے کښې يرفا دربان راغے' او هغه اووے' تاسو غواړئے' چه حضرت عثمانؓ او عبدالرحمٰن بن عوفؓ' زبيرؓ او سعد بن ابي وقاصؓ تاسوله راشي' هغوي ورته اوفرمائيل' راځي دے. لږ ساعت پس بيا يرفا اووے' چه حضرت عباسؓ او حضرت عليؓ هم راتلل غواړي' ورے فرمائيل' راځي دے' بيا هغوي راغلل' او سلام ئے اوکړ. بيا حضرت عباسؓ اووے' امير المؤمنين' زما او ذ عليؓ مينځ کښې ذ دے جګړے فيصله اوکړئے' چه ذ دے مال متعلق ده' چه الله پے جنګ ذ بني نضير نه خپل رسولﷺ ته ورکړے دے' او دواړو يو بل باندے

الرَّهْطُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ اقْضِ بَيْنَهُمَا
وَ أَرِحْ أَحَدَهُمَا مِنَ الْآخَرِ فَقَالَ عُمَرُ
اتَّئِدُوا أَنْشُدُكُمْ بِاللَّهِ الَّذِي بِإِذْنِهِ
تَقُومُ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ هَلْ تَعْلَمُونَ
أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ قَالَ لَا نُورَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ
يُرِيدُ بِذَلِكَ نَفْسَهُ قَالُوا قَدْ قَالَ ذَلِكَ
فَأَقْبَلَ عُمَرُ عَلَى عَبَّاسٍ وَ عَلِيٍّ فَقَالَ
أَنْشُدُكُمَا بِاللَّهِ هَلْ تَعْلَمَانِ أَنَّ رَسُولَ
اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ قَالَ
فَإِنِّي أُحَدِّثُكُمْ عَنْ هَذَا الْأَمْرِ إِنَّ اللَّهَ
سُبْحَانَهُ كَانَ خَصَّ رَسُولَهُ صَلَّى
اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذَا الْفَيْءِ
بِشَيْءٍ لَمْ يُعْطِهِ أَحَدًا غَيْرَهُ فَقَالَ جَلَّ
ذِكْرُهُ وَمَا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ
مِنْهُمْ فَمَا أَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ
وَلَا رِكَابٍ إِلَى قَوْلِهِ قَدِيرٌ فَكَانَتْ هَذِهِ
خَالِصَةً لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ ثُمَّ وَاللَّهِ مَا احْتَازَهَا دُونَكُمْ
وَلَا اسْتَأْثَرَهَا عَلَيْكُمْ لَقَدْ أَعْطَاكُمُوهَا
وَ قَسَمَهَا فِيكُمْ حَتَّى بَقِيَ هَذَا الْمَالُ
مِنْهَا فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُنْفِقُ عَلَى أَهْلِهِ نَفَقَةَ
سَنَتِهِمْ مِنْ هَذَا الْمَالِ ثُمَّ يَأْخُذُ مَا
بَقِيَ فَيَجْعَلُهُ مَجْعَلَ مَالِ اللَّهِ فَعَمِلَ
ذَلِكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

تنقيد اوکړو. نو حاضرينو اووے چه اے امير المؤمنين
ددے دواړو فيصله اوکړئ چه ذ شپے ورځے دا جګړه
ختمه شي، حضرت عمرؓ ورته اوفرمائيل، لږ صبر
اوکړئ، تادي مه کوئ، زهٔ تاسو ته ذ هغے پروردګار قسم
درکوم، چه ذ هغه حکم سره آسمان او زمکه قائم دي،
تاسو ته معلومه ده، چه حضورؐ فرمائيلے دي، ځمونږ خلقو
هيڅوک وارث نهٔ وي، کوم مال چه مونږ پريږدو، هغه
صدقه دے، هغوي اووے بيشکه حضورؐ دا
فرمائيلے دي. بيا حضرت عمرؓ، عباسؓ او عليؓ
ته مخاطب شو، ورته ئے ونيلے، آيا تاسو ته معلومه
ده، چه رسول اکرم صلي الله عليه وسلم داسے
فرمائيلے دي، هغوي اووے، بيشکه داسے ئے
فرمائيلے دي، دے نه پس حضرت عمرؓ اوفرمائيل،
اوس تاسو ذ معاملے ذ حقيقت نه آګاه کوم،
الله تعالي، رسول اکرم صلي الله عليه وسلم ته
ذ مال غنيمت نه يو خاص حق ورکړے وو،
چه نورو پيغمبرانو ته ئے نهٔ وو ورکړے، سورهٔ
حشر کښ ارشاد دے (ترجمه) کوم مال چه
الله خپل رسول ذ پاره ذ بني نضير غنيمت کښ
ورکړے وو ذ هغے ذ حاصلولو ذ پاره تاسو
خپل آسونه او سورلۍ نهٔ وے زغلولے، نو داسے
قسم مال صرف ذ حضورؐ ذ پاره وو. ذ مجاهدينو
په دے کښ هيڅ حق نهٔ وو، خو قسم په خدائے
حضورؐ ذ دے قسم مال ذ خپل ذات ذ پاره نهٔ وو
محفوظ کړے بلکه په خپل ذات ئے خرچ کړ، او څه
چه بچ شو، هغه ئے تقسيم کړلو. او څهٔ چه به

وَسَلَّمَ حَيَاتَهُ ثُمَّ تُوَفِّيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَبُوْ بَكْرٍ فَأَنَا وَلِيُّ رَسُوْلِ اللَّهِ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَبَضَهُ أَبُوْ بَكْرٍ فَعَمِلَ فِيْهِ بِمَا عَمِلَ بِهٖ رَسُوْلُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ أَنْتُمْ حِيْنَئِذٍ فَأَقْبَلَ عَلٰى عَلِيٍّ وَ عَبَّاسٍ وَ قَالَ تَذْكُرَانِ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ عَمِلَ فِيْهِ كَمَا تَقُوْلَانِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ أَنَّهُ فِيْهِ لَصَادِقٌ بَارٌّ رَاشِدٌ تَابِعٌ لِلْحَقِّ ثُمَّ تَوَفَّى اللَّهُ أَبَا بَكْرٍ فَقَبَضْتُهُ سَنَتَيْنِ مِنْ إِمَارَتِيْ أَعْمَلُ فِيْهِ بِمَا عَمِلَ رَسُوْلُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ أَبُوْبَكْرٍ وَاللَّهُ يَعْلَمُ أَنِّيْ فِيْهِ صَادِقٌ بَارٌّ رَاشِدٌ تَابِعٌ لِلْحَقِّ ثُمَّ جِئْتُمَانِيْ كِلَاكُمَا وَ كَلِمَتُكُمَا وَاحِدَةٌ وَ أَمْرُكُمَا جَمِيْعٌ فَجِئْتَنِيْ يَعْنِيْ عَبَّاسًا فَقُلْتُ لَكُمَا إِنَّ رَسُوْلَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا نُوْرَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ فَلَمَّا بَدَالِيْ أَنْ أَدْفَعَهُ إِلَيْكُمَا قُلْتُ إِنْ شِئْتُمَا دَفَعْتُهُ إِلَيْكُمَا عَلٰى أَنَّ عَلَيْكُمَا عَهْدَ اللَّهِ وَ مِيْثَاقَهُ لَتَعْمَلَانِ فِيْهِ بِمَا عَمِلَ فِيْهِ رَسُوْلُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ أَبُوْ بَكْرٍ وَمَا عَمِلْتُ فِيْهِ مُذْ وَلِيْتُ وَ إِلَّا فَلَا تُكَلِّمَانِيْ فَقُلْتُمَا ادْفَعْهُ إِلَيْنَا بِذٰلِكَ فَدَفَعْتُهُ إِلَيْكُمَا أَفَتَلْتَمِسَانِ مِنِّيْ

باقي پاتے شو' هغے نه به ئے د خپلو بیبیانو د پاره د کال خرڅ اوبنکلو' او بیا چه به څه بچ شو' هغه به ئے د الله په لار کښې خرڅ کولو. او حضورؐ به خپل ټول ژوند کښې دغسے کول. بیا چه حضور صلي الله علیه وسلم وفات شولو' نو حضرت ابوبکر دے ونیلو سره چه د رسول د خدائے جانشین یم په هغے مال قبضه اوکړله او هغه ئے هغسے تقسیم او خرڅ کولو' او تاسو به هغه وخت د هغه نه دے سلسله کښې ګله کوله' حالانکه خدائے پوهیږي چه هغه خپل دے طرز عمل کښې حق بجانب وو' کوم وخت چه حضرت ابوبکرؓ وفات شو' نو ما خپل ځان د هغے دواړو ولي او جانشین ګڼړلو سره هغه اوکړل کوم څه چه حضرت ابوبکرؓ کول' او الله تعالي پوهیږي' چه زهٔ دے کښې ربښتنے او د حق پیرو یم. بیا تاسو دواړه ماله راغلئے' او متفق الرائے وئے' بیا اے عباسؓ تاسو ماله راغلئے' او ما تاسو ته هغه اووے' چه رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلے دي' چه زمونږ هیڅوک وارث نشته' څه چه مونږ پریږدو هغه صدقه ده. بیا ما تاسو دواړو ته اووے' زهٔ غواړم' چه دا کار تاسو دواړو ته اوسپارم' په شرط د دے چه تاسو د خدائے عهد و پیمان مدنظر ساتئے' او دا کار داسے سرته رسوئے' څنګه چه رسول الله صلي الله علیه وسلم سرته رسولو' څنګه چه ابوبکرؓ دا کار کولو' او څنګه چه زهٔ ئے کوم. که تاسو ته دا شرط منظور نه وي' نو

قَضَآءً غَيْرَ ذٰلِكَ فَوَاللّٰهِ الَّذِیْ بِاِذْنِهٖ تَقُوْمُ السَّمَآءُ وَالْاَرْضُ لَا اَقْضِیْ فِیْهِ بِقَضَآءٍ غَیْرَ ذٰلِكَ حَتّٰی تَقُوْمَ السَّاعَةُ فَاِنْ عَجَزْتُمَا عَنْهُ فَادْفَعَا اِلَیَّ فَاَنَا اَكْفِیْكُمَاهُ قَالَ فَحَدَّثْتُ هٰذَا الْحَدِیْثَ عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَیْرِ فَقَالَ صَدَقَ مَالِكُ بْنُ اَوْسٍ اَنَا سَمِعْتُ عَآئِشَةَ زَوْجَ النَّبِیِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ تَقُوْلُ اَرْسَلَ اَزْوَاجُ النَّبِیِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عُثْمَانَ اِلٰی اَبِیْ بَكْرٍ یَسْاَلْنَهٗ ثُمُنَهُنَّ مِمَّا اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰی رَسُوْلِهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَكُنْتُ اَنَا اَرُدُّهُنَّ فَقُلْتُ لَهُنَّ اَلَا تَتَّقِیْنَ اللّٰهَ اَلَمْ تَعْلَمْنَ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ كَانَ یَقُوْلُ لَا نُوْرَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ یُرِیْدُ بِذٰلِكَ نَفْسَهٗ اِنَّمَا یَاْكُلُ اٰلُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ هٰذَا الْمَالِ فَانْتَهٰی اَزْوَاجُ النَّبِیِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِلٰی مَا اَخْبَرْتُهُنَّ قَالَ فَكَانَتْ هٰذِهِ الصَّدَقَةُ بِیَدِ عَلِیٍّ مَنَعَهَا عَلِیٌّ عَبَّاسًا فَغَلَبَهٗ عَلَیْهَا ثُمَّ كَانَ بِیَدِ حَسَنِ بْنِ عَلِیٍّ ثُمَّ بِیَدِ حُسَیْنِ بْنِ عَلِیٍّ ثُمَّ بِیَدِ عَلِیِّ بْنِ حُسَیْنٍ وَّ حَسَنِ بْنِ حَسَنٍ كِلَاهُمَا یَتَدَاوَلَانِهَا ثُمَّ بِیَدِ زَیْدِ بْنِ حَسَنٍ وَّ هِیَ صَدَقَةُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

بیا ذ څه قسم خبرو ضرورت نشته، تاسو دا خبره منظوره کړه نو ما درته دا مال اوسپارلو. اوس که تاسو ذ دې نه سوا څه بله فیصله غواړئ نو په هغه پروردګار م دې قسم وي، چه ذ هغه حکم سره آسمان او زمکه قائم دي، زۀ ذ قیامته پورې بله څۀ فیصله کونکې نۀ یم، البته که تاسو نه ذ دې مال انتظام نشي کیدې، نو بیانې ماته حواله کړئ، زۀ به ئې خپله کوم، زهري وائي، ما دا حدیث عروه ته بیان کۀ، هغۀ اووې، مالک بن اوس ریښتیا اووې، خکه چه ما ذ حضور صلي الله علیه وسلّم ذ ټبر بي بي عائشې نه واوریدل، چه ذ حضور صلي الله علیه وسلّم بیبیانو حضرت عثمانؓ، حضرت ابوبکرؓ له اولیږلو، چه ذ هغې مال نه کوم چه ذ بني نضیر نه حاصل شوې دې، خپله اتمه حصه واخلي. لیکن هغوي ما منع کړلې، او ورته م اووې، آیا تاسو ذ خدائې نه خوف نۀ لرئ، رسول الله صلي الله علیه وسلّم به فرمائیل، ذ پیغمبرانو هیڅوک وارث نشته. مونږ چه څۀ پریږدو هغه صدقه ده. هغوي ذ دې نه خپل ذات مراد واخستلو. صرف آل محمد ذ دې مال نه خوړلې شي دې آوریدو سره ذ حضورؐ بیبیانې ذ میراث غوښتلو نه منع شوې. عروه اووې، دا مال ذ حضرت علیؓ په قبضه کښ وو. هغۀ حضرت عباسؓ ته په دې قبضه ورنۀ کړله. هغۀ نه پس امام حسنؓ بیا امام حسینؓ بیا زین العابدین او حسن بن حسن وار په وار ذ دې انتظام کولو. بیا ذ زید بن حسن په قبضه کښ وو، بیا ټولو دا ذ رسول اکرم صلي الله علیه وسلّم صدقه ګڼړله او په حیثیت ذ متولي به ئې کار

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَقًّا. كولو لـ.

۱. دا حديث ددے نه مخکښے هم تير شوے دے او مخکښے هم په نوټ کښے ددے وضاحت کړے شوے وو چه د فدک دغه جائداد په باره کښے چه د حضرت علي رضي الله عنه کوم اختلاف وو هغه صرف ددے خبرے وو چه ددے نګراني به څوک کوي او ددے صدقے متولي به څوک وي. د حديث نه هم دا معلوميږي چه کله چرے مخکښے څه غلط فهمي وه هم نو هغه د حضور ددے حديث تولو حضراتو ته معلوميدلو نه پس لرے شوے وه چه د انبياؤ ميراث نه تقسيميږي. په حنفي فقه کښے دا جزئيه ملاويږي چه تر څو پورے خيانت ظاهر نشي نو بهتره داده چه د وقف متوليان دِ د واقف د اولاد نه وي.

۱۸۱: حَدَّثَنَا اِبْرٰهِيْمُ بْنُ مُوْسٰى اَخْبَرَنَا هِشَامٌ اَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ اَنَّ فَاطِمَةَ عَلَيْهَا السَّلَامُ وَالْعَبَّاسَ اَتَيَا اَبَا بَكْرٍ يَلْتَمِسَانِ مِيْرَاثَهُمَا اَرْضَهُ مِنْ خَيْبَرَ فَقَالَ اَبُوْبَكْرٍ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَا نُوْرَثُ مَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ اِنَّمَا يَأْكُلُ اٰلُ مُحَمَّدٍ فِيْ هٰذَا الْمَالِ وَاللّٰهِ لَقَرَابَةُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَحَبُّ اِلَيَّ اَنْ اَصِلَ مِنْ قَرَابَتِيْ.

۱۸۱: ابراهيم بن موسي. هشام. معمر. زهري. عروه. بي بي عائشے نه روايت کوي، هغے اوويے حضرت عباس او بي بي فاطمة دواړه حضرت ابوبكر له راغلل، او خپل ميراث ئے د فدک د زمکے او د خيبر آمدني نه اوغوښتلو، حضرت ابوبكر ورته اوفرمائيل، ما د رسول د خدائے نه آوريدلے دي، چه خمونږ خلقو څوک وارث نه وي، مونږ چه څۀ پريږدو، هغه صدقه ده، البته ال محمد د خپلے ګزارے د پاره ددے نه آخستے شي. پاتے شو سلوک كول. نو قسم په خدائے، زۀ د رسول اكرم صلي الله عليه وسلم رشته دارانو سره سلوک د خپلو رشته دارانو نه زيات خوښوم.

باب ۱۵ : قَتْلِ كَعْبِ بْنِ الْاَشْرَفِ.

باب ۱۵ : د كعب بن اشرف يهودي د قتل واقعه.

۸۲ : حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ عَمْرٌو سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لِكَعْبِ ابْنِ الْاَشْرَفِ فَاِنَّهُ قَدْ اٰذَى اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ فَقَامَ مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَتُحِبُّ اَنْ اَقْتُلَهُ

۸۲ : علي بن عبدالله. سفيان. عمرو بن دينار نه روايت كوي، ما د جابر بن عبدالله نه واوريدل، حضور صحابهٔ ته اوفرمائيل، د كعب بن اشرف كار څوک تمام ړلے شي (يعني څوک ئے قتلولے شي) هغهٔ، الله او رسول ته ډير تكليف رسولے دے، محمد بن مسلمه انصاري اودريد، او وئيلے، يا رسول الله، كه تاسو ماله اجازت راكړے، نو زۀ به دا كار تر سره كړم، حضور

قَالَ نَعَمْ قَالَ فَأْذَنْ لِيْ أَنْ أَقُوْلَ شَيْئًا قَالَ قُلْ فَأَتَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ فَقَالَ إِنَّ هٰذَا الرَّجُلَ قَدْ سَأَلَنَا صَدَقَةً وَّ إِنَّهُ قَدْ عَنَّانَا وَ إِنِّيْ قَدْ أَتَيْتُكَ أَسْتَسْلِفُكَ قَالَ وَ أَيْضًا وَّاللّٰهِ لَتَمَلُّنَّهُ قَالَ إِنَّا قَدِ اتَّبَعْنَاهُ فَلَا نُحِبُّ أَنْ نَّدَعَهُ حَتّٰى نَنْظُرَ إِلٰى أَيِّ شَيْءٍ يَّصِيْرُ شَأْنُهُ وَقَدْ أَرَدْنَا أَنْ تُسْلِفَنَا وَسْقًا أَوْ وَسْقَيْنِ وَ حَدَّثَنَا عَمْرٌو غَيْرَ مَرَّةٍ فَلَمْ يَذْكُرْ وَسْقًا أَوْ وَسْقَيْنِ فَقُلْتُ لَهُ فِيْهِ وَسْقًا أَوْ وَسْقَيْنِ فَقَالَ أَرٰى فِيْهِ وَسْقًا أَوْ وَسْقَيْنِ فَقَالَ نَعَمْ إِرْهَنُوْنِيْ قَالُوْا أَيَّ شَيْءٍ تُرِيْدُ قَالَ ارْهَنُوْنِيْ نِسَاءَكُمْ قَالُوْا كَيْفَ نَرْهَنُكَ نِسَائَنَا وَ أَنْتَ أَجْمَلُ الْعَرَبِ قَالَ فَارْهَنُوْنِيْ أَبْنَاءَكُمْ قَالُوْا كَيْفَ نَرْهَنُكَ أَبْنَاءَنَا فَيُسَبُّ أَحَدُهُمْ فَيُقَالُ رُهِنَ بِوَسْقٍ أَوْ وَسْقَيْنِ هٰذَا عَارٌ عَلَيْنَا وَلٰكِنَّا نَرْهَنُكَ اللَّأْمَةَ قَالَ سُفْيَانُ يَعْنِي السِّلَاحَ فَوَاعَدَهُ أَنْ يَّأْتِيَهُ فَجَاءَهُ لَيْلًا وَّ مَعَهُ أَبُوْ نَائِلَةَ وَهُوَ أَخُوْ كَعْبٍ مِّنَ الرَّضَاعَةِ فَدَعَاهُمْ إِلَى الْحِصْنِ

ورته اوفرمائيل' اجازت دے. محمد بن مسلمه اوويل ماته دا هم اجازت راكړے' چه څۀ مناسب اوګنړم هغه خبرے هغه سره اوكړم. حضورؐ اجازت وركړه' غرض محمد بن مسلمه' كعب بن اشرف له ورغے' ورته ئے اووے' دا سړے يعني محمد بن عبدالله خمونږ نه زكوة غواړي. مونږ سره خپله نشته' او دے مونږ تنګوي. كعب ورته اووے' (لا صبر اوكه) تا څۀ ليدلے دي. دے به لا مخكښ تاسو ډير تنګ كړي. محمد بن مسلمه اووے' خير اوس خو مونږ دَ هغۀ پيروي شروع كړے ده' سمدستي پرېښودل ئے هم ټيک راته نۀ ښكاري چه لا مخكښ به څۀ كيږي. دے وخت زۀ تاله راغلے يم' چه يو يا دوه وسق قجورے مونږ له قرض راكړه. سفيان وائي' عمرو بن دينار مونږ ته څو خكه دا حديث واورولو' نو هغے كښ ئے ذيو وسق قجورو ذكر اونۀ كۀ' چه ما ورته وريـاد كړل' نو ونيلے ئے' او' خما دا خيال دے' چه دغسے به وي. غرض كعب اووے. قرض به دركړم' څۀ څيز راسره رهن (ګانړه) كړه. ما ورته اووے' څۀ درسره رهن كړم' كعب اووے' خپلے ښځے راسره ګانړه كړه. محمد بن مسلمه اووے' دا څنګه كيدے شي' مونږ خپلے ښځے څنګه درسره ګانړه كړو' تۀ تولو عربو كښ تۀ خوبصورته ئے. هغۀ اووے' خپل خامن راسره رهن كړه. ما اووے' تاسره خپل خامن څنګه رهن كړم' آينده چه څوک هغوي سره جنګيږي' نو طعنه به وركوي' چه تۀ يو يا دوه وسق كښ ګانړه شوے وے' او دا مونږ بد ګنړو. البته مونږ خپله وسله درسره ايښودے شو سفيان ذَ لفظ لامه تفسير سلاح يعني هتيار كړے دے. محمد

فَنَزَلَ إِلَيْهِمْ فَقَالَتْ لَهُ
امْرَأَتُهُ أَيْنَ تَخْرُجُ هٰذِهِ
السَّاعَةَ فَقَالَ إِنَّمَا هُوَ
مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ وَ أَخِي
أَبُو نَائِلَةَ وَ قَالَ غَيْرُ عَمْرٍو
قَالَتْ أَسْمَعُ صَوْتًا كَأَنَّهُ
يَقْطُرُ مِنْهُ الدَّمُ قَالَ إِنَّمَا
هُوَ أَخِي مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ
وَ رَضِيعِي أَبُو نَائِلَةَ إِنَّ
الْكَرِيمَ لَوْ دُعِيَ إِلَى طَعْنَةٍ
بِلَيْلٍ لَأَجَابَ قَالَ وَ يُدْخِلُ
مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ مَعَهُ
بِرَجُلَيْنِ قِيلَ لِسُفْيَانَ
سَمَّاهُمْ عَمْرٌو قَالَ سَمَّى
بَعْضَهُمْ قَالَ عَمْرٌو جَاءَ
مَعَهُ بِرَجُلَيْنِ وَ قَالَ غَيْرُ عَمْرٍو
و أَبُو عَبْسِ بْنُ جَبْرٍ و
وَالْحَارِثُ بْنُ أَوْسٍ وَ عَبَّادُ
بْنُ بِشْرٍ قَالَ عَمْرٌو جَاءَ
مَعَهُ بِرَجُلَيْنِ فَقَالَ إِذَا مَا
جَاءَ فَإِنِّي قَائِلٌ بِشَعَرِهِ فَأَشَمُّهُ
فَإِذَا رَأَيْتُمُونِي اسْتَمْكَنْتُ
مِنْ رَأْسِهِ فَدُونَكُمْ فَاضْرِبُوهُ
وَ قَالَ مَرَّةً ثُمَّ أُشِمُّكُمْ فَنَزَلَ إِلَيْهِمْ
مُتَوَشِّحًا وَهُوَ يَنْفَحُ مِنْهُ
رِيحُ الطِّيبِ فَقَالَ مَا رَأَيْتُ

بن مسلمه، کعب سره دوباره ذ یو ځائے کیدو وعده
اوکړله، او لاړلو، ذ شپے دوباره راغے، او ابو نائله نے
خان سره راوست، چه ذ کعب پئے شریک ورور وو،
کعب هغوي قلعه ته راوغبنتل، او بیا هغوي ته ښکته
راغے، ذ هغهٔ ښځے ورته اووے، په دے وخت چرته ځے،
کعب ورته اووے، دا محمد بن مسلمه او ابو نائله ځما
ورور دے، چه غواړي م. سفیان وائي، ذ عمر بن دینار نه
سِوا نورو خلقو دے حدیث کښ دومره نور زیاتے کړے
دے، (یعني زیات الفاظ ئے راوړے دي) چه ذ کعب
ښځے دا هم اووے، ذ دے آواز نه خو ذ وینے (خون)
بوي راخي، یا وینه څاخي، کعب ورته اووے، هیڅ نشته.
ځما ورور ابو نائله او محمد بن مسلمه دے. او شریف
سړي له خو ذ شپے وخت کښ هم که نیزه وهلو له
اوبلي، تلل پکار دي. او محمد بن مسلمه خان سره دوه
سړي نور هم راوستے وي. سفیان نه تپوس اوشو، چه
عمرو ذ هغوي نوم آخستے وو، هغهٔ اووے، ذ بعضے ئے
اخستے وو. خو نورو ذ ابو عبس بن جبیر او حارث بن
اوس او عباد بن بشر نوم آخستے وو، عمرو دومره قدر
اووے. محمد بن مسلمه خپلو ملګروته اووے، کعب چه
راشي، نو زهٔ به د هغهٔ ذ سر ویښتهٔ نیسلے بوئ کړم. کله
چه تاسو اووینئے چه ما مضبوط اونیولو نو تاسو خپل کار
تر سره کړئے. غرض کعب څادر اغُستے راکوز شولو. ذ
هغهٔ د جسم نه خوشبوي تله. محمد بن مسلمه ورته
اووے، ما نـنه پورے داسے خوشبوئ چرته نهٔ ده لیدلے،
چه ټوله هوا ئے معطر کړے ده ذ عمرو نه علاوه نور
راویان وائي، کعب جواب کښ اووے، دا وخت ماسره

كَالْمَوْمِ رِيحًا أَيْ أَطْيَبَ وَ قَالَ غَيْرُ عَمْرٍو قَالَ عِنْدِيْ أَعْطَرُ نِسَاءِ الْعَرَبِ وَ أَكْمَلُ الْعَرَبِ قَالَ عَمْرٌو فَقَالَ أَتَأْذَنُ لِيْ أَنْ أَشُمَّ رَأْسَكَ قَالَ نَعَمْ فَشَمَّهُ ثُمَّ أَشَمَّ أَصْحَابَهُ ثُمَّ قَالَ أَتَأْذَنُ لِيْ قَالَ نَعَمْ فَلَمَّا اسْتَمْكَنَ مِنْهُ قَالَ دُوْنَكُمْ فَقَتَلُوْهُ ثُمَّ أَتَوْا النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرُوْهُ.

داسې ښخه ده، چه ذ ټولو ښځو نه زياته معطره ده، او حُسن و جمال کښې هم بې نظيره ده. عمرو وائي محمد بن مسلمه ترې ټپوس اوکه. ذ سر بوئيلو اجازت شته؟ هغهٔ ورته اووې، او، محمد بن مسلمه خپله هم بوئ کړلو، او په ملګرو ئې هم بوئ کړلو، بيا دوباره اجازت سره ئې بوئ کړلو. او زور سره ئې ټينګ اونيولو. او ملګروته ئې اووې رانيسئ، نو هغوي ورله سمدستي کار تمام کړلو (يعني وې وژلو) او بيا ذ حضور صلي الله عليه وسلّم په خدمت کښې حاضر شو، او ذ کعب د قتل خوشخبري ئې ورته واوروله.

ف: وسق: ذ اوښ بار. ذ اوو صاع مقدار. او يو صاع دوه سوه څليريشت تولې وي.

بَابٌ ۱٦ : قَتْلِ أَبِيْ رَافِعٍ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي الْحَقِيْقِ وَ يُقَالُ سَلَامُ بْنُ أَبِي الْحَقِيْقِ كَانَ بِخَيْبَرَ وَ يُقَالُ فِيْ حِصْنٍ لَهُ بِأَرْضِ الْحِجَازِ وَ قَالَ الزُّهْرِيُّ هُوَ بَعْدَ كَعْبِ بْنِ الْأَشْرَفِ.

باب ۱٦ : ذ ابو رافع عبدالله بن ابي الحقيق ذ قتل قصه. بعضې خلق وائي، چه ذ هغهٔ نوم سلام بن ابي الحقيق وو، او هغه خيبر کښې اوسيدلو. او بعضې وائي، چه هغه خپله قلعه واقع حجاز کښې اوسيدلو. ذ زهري بيان دې چه ابو رافع ذ کعب بن اشرف نه پس قتل کړې شوې دې (رمضان ٦ھ کښې).

۸۳: حَدَّثَنِيْ إِسْحٰقُ بْنُ نَصْرٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ اٰدَمَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِيْ زَائِدَةَ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ أَبِيْ إِسْحٰقَ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ بَعَثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَهْطًا إِلٰى أَبِيْ رَافِعٍ فَدَخَلَ عَلَيْهِ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَتِيْكٍ بَيْتَهُ لَيْلًا وَهُوَ نَائِمٌ فَقَتَلَهُ.

۸۳: اسحٰق بن نصر. يحيي بن آدم. ابن ابي زائده. ابو اسحاق سبيعي. حضرت براء بن عازب نه روايت کوي، هغه فرمائي، رسول الله صلي الله عليه وسلّم څو سړي ابو رافع پسې اوليږل. هغې کښې عبدالله بن عتيک هم وو، هغه ذ شپې ذ هغهٔ کور ته ورننوت، هغه اوده وو، او هغوي هغه هم دغې حالت کښې قتل کړ.

۸۴: حَدَّثَنَا يُوْسُفُ

۸۴: يوسف بن موسي. عبيدالله بن موسي.

بْنُ مُوْسٰى حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ
بْنُ مُوْسٰى عَنْ اِسْرَآئِيْلَ عَنْ
اَبِيْ اِسْحٰقَ عَنِ الْبَرَآءِ قَالَ
بَعَثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰى اَبِيْ رَافِعٍ
الْيَهُوْدِيِّ رِجَالًا مِّنَ الْاَنْصَارِ
فَاَمَّرَ عَلَيْهِمْ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ
عَتِيْكٍ وَ كَانَ اَبُوْ رَافِعٍ يُؤْذِيْ
رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ وَ يُعِيْنُ عَلَيْهِ وَ كَانَ
فِيْ حِصْنٍ لَهُ بِاَرْضِ الْحِجَازِ
فَلَمَّا دَنَوْا مِنْهُ وَقَدْ غَرَبَتِ
الشَّمْسُ وَرَاحَ النَّاسُ بِسَرْحِهِمْ
فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ لِاَصْحَابِهٖ
اجْلِسُوْا مَكَانَكُمْ فَاِنِّيْ مُنْطَلِقٌ
وَّ مُتَلَطِّفٌ لِّلْبَوَّابِ لَعَلِّيْ اَنْ
اَدْخُلَ فَاَقْبَلَ حَتّٰى دَنَا مِنَ الْبَابِ
ثُمَّ تَقَنَّعَ بِثَوْبِهٖ كَاَنَّهٗ يَقْضِيْ
حَاجَةً وَّقَدْ دَخَلَ النَّاسُ فَهَتَفَ
بِهِ الْبَوَّابُ يَا عَبْدَ اللّٰهِ اِنْ كُنْتَ
تُرِيْدُ اَنْ تَدْخُلَ فَادْخُلْ فَاِنِّيْ اُرِيْدُ
اَنْ اُغْلِقَ الْبَابَ فَدَخَلْتُ فَكَمَنْتُ
فَلَمَّا دَخَلَ النَّاسُ اَغْلَقَ الْبَابَ
ثُمَّ عَلَّقَ الْاَغَالِيْقَ عَلٰى وَتَدٍ
قَالَ فَقُمْتُ اِلَى الْاَقَالِيْدِ فَاَخَذْتُهَا
فَفَتَحْتُ الْبَابَ وَ كَانَ اَبُوْ رَافِعٍ

اسرائيل. ابو اسحٰق. براء بن عازب نه روايت كوي'
رسول الله صلي الله عليه وسلّم ابو رافع ته څو انصار
اوليږل' عبدالله بن عتيک ئې سردار مقرر كړ. ابو رافع
ذ رسول الله صلي الله عليه وسلّم دشمن وو (يعني ذ
اسلام دشمن وو) او ذ رسول ذ مخالفينو مدد به ئې كولو'
ذ هغه قلعه حجاز كښې وه' او هغې كښې اوسيدلو. كوم
وخت چه دا خلق هغې قلعه ته اورسيدل' نو نمر پريوتلے
وو' او خلقو خپل څناور ذ مابنام كيدو په وجه واپس
راوستل. عبدالله بن عتيک ملګروته اووې' تاسو دلته
ايسار شئ' زه ورځم' او دربان ته به څه بهانه اوكړم.
دننه ذ ورتلو به كوشش اوكړم' نو عبدالله ورغے' او
دروازے ته قريب اورسيد' نو خپل خان ئې كپړو كښې
داسے پټ كړ' لكه څوک چه رفع حاجت ذ پاره كيني'
قلعه واله دننه تلي وو' دربان دا خيال اوكړ' چه عبدالله
كني خپل سړے دے' آواز ئې وركړ' او ورته ئې اووے'
اے ذ الله بنده' كه ته دننه راتلل غواړے' نو راځه' ځكه
چه زه دروازه بندول غواړم. عبدالله بن عتيک وائي.
دے آوريدو سره زه دننه ورغلم' او پټ شوم. دربان چه
دروازه بنده كړه' نو چابيانے ئې ميخ كښې آويزاندے
كړے. كوم وخت چه دربان (څوكيدار) اوده شو' نو ما
چابيانے راكوزے كړے' او ذ قلعه دروازه مې پرانسته (چه
تيښته كښې آساني وي) اخوا ابو رافع ته به ذ شپې قصے
ونيلے شوے' او هغه خپله بالاخانه كښې ناست وو' قصه
ئې آوريدله. هر كله چه داستان ويونكي ټول لاړل. او
ابو رافع اُوده شو' نو زه بالاخانے ته ور اُوختم' اوپه كومه
دروازه چه به داخليدم' نو هغه به مې ذ دننه نه بندوله. او ذ

يُسْمَرُ عِنْدَهُ وَ كَانَ فِيْ عَلَالِيَّ لَهُ
فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْهُ اَهْلُ سَمَرِهٖ صَعِدْتُ
اِلَيْهِ فَجَعَلْتُ كُلَّمَا فَتَحْتُ بَابًا اَغْلَقْتُ
عَلَيَّ مِنْ دَاخِلٍ فَقُلْتُ اِنِ الْقَوْمُ لَوْ
نَذِرُوْا بِيْ لَمْ يَخْلُصُوْا اِلَيَّ حَتّٰى
اَقْتُلَهُ فَانْتَهَيْتُ اِلَيْهِ فَاِذَا هُوَ بِبَيْتٍ
مُظْلِمٍ وَسْطَ عِيَالِهٖ لَا اَدْرِيْ اَيْنَ هُوَ
مِنَ الْبَيْتِ فَقُلْتُ يَا اَبَا رَافِعٍ قَالَ مَنْ
هٰذَا فَاَهْوَيْتُ نَحْوَ الصَّوْتِ فَاَضْرِبُهُ
ضَرْبَةً بِالسَّيْفِ وَ اَنَا دَهِشٌ فَمَا اَغْنَيْتُ
شَيْئًا وَّ صَاحَ فَخَرَجْتُ مِنَ الْبَيْتِ
فَاَمْكُثُ غَيْرَ بَعِيْدٍ ثُمَّ دَخَلْتُ اِلَيْهِ
فَقُلْتُ مَا هٰذَا الصَّوْتُ يَا اَبَا رَافِعٍ
فَقَالَ لِاُمِّكَ الْوَيْلُ اِنَّ رَجُلًا فِي الْبَيْتِ
ضَرَبَنِيْ قَبْلُ بِالسَّيْفِ قَالَ فَاَضْرِبُهُ
ضَرْبَةً اَثْخَنَتْهُ وَلَمْ اَقْتُلْهُ ثُمَّ وَضَعْتُ
ظُبَةَ السَّيْفِ فِيْ بَطْنِهٖ حَتّٰى اَخَذَ فِيْ
ظَهْرِهٖ فَعَرَفْتُ اَنِّيْ قَتَلْتُهُ فَجَعَلْتُ
اَفْتَحُ الْاَبْوَابَ بَابًا بَابًا حَتّٰى انْتَهَيْتُ
اِلٰى دَرَجَةٍ لَّهُ فَوَضَعْتُ رِجْلِيْ وَ اَنَا
اُرٰى اَنِّيْ قَدِ انْتَهَيْتُ اِلَى الْاَرْضِ
فَوَقَعْتُ فِيْ لَيْلَةٍ مُّقْمِرَةٍ فَانْكَسَرَتْ
سَاقِيْ فَعَصَبْتُهَا بِعِمَامَةٍ ثُمَّ انْطَلَقْتُ
حَتّٰى جَلَسْتُ عَلَى الْبَابِ فَقُلْتُ لَا
اَخْرُجُ اللَّيْلَةَ حَتّٰى اَعْلَمَ اَقَتَلْتُهُ
فَلَمَّا صَاحَ الدِّيْكُ قَامَ النَّاعِيْ عَلٰى

دے نه خما غرض دا وو' كه خلقو ته خما پته اولږي نو د
هغوي ذ رارسيدو پورے به زۀ ابو رافع ختم كړم. غرض
زۀ ابو رافع ته اورسيدم' هغه يو تيارۀ كمره كښې خپل بال
بچ سره اودۀ وو' ما ذ هغه خائے بنۀ شان سره معلوم نۀ
كړے شو. نو ذ ابو رافع نوم سره مِ ورته آواز اوكۀ. هغۀ
اووے' څوک دي زۀ په آواز ورغلم' ذ تورے ګزار م
پرے اوكۀ. خما زړۀ رپيدلو' خو دا وار خالي لاړ' او هغه
چغے كړے. زۀ ذ كوټے نه بهر راووتلم. بيا سمدستي
دننه ورغلم' تپوس مِ اوكۀ' اے ابو رافع' تا ولے چغه
كړے' هغۀ زۀ خپل سرے اوكنړلم' او' ونيلے مور
دربانديے بوره شه' اوس چا ما بانديے ذ تورے ګزار اوكړ
دے آوريدو سره پرے ما د تورے يو بل ګزار اوكۀ. زخم
اګر كه ورته ژور اولږيد ليكن مړ نۀ شولو' آخر ما د
تورے دهار ذ هغۀ په خيټه كيښودلو' او زور سره مِ دباؤ
كړلو' هغه څيرلو سره شاته اورسيدلو. اوس خما يقين
اوشو' چه هغه هلاک شو' بيا زۀ واپس شوم. يوه يوه
دروازه به مِ پرانستله' او ذ سيړهو نه به راخكته كيدم. زۀ
پوه شوم' چه زمكه راغله سپوږمۍ شپه وه. زۀ
راوغرځيدم' او پښۍ مِ ماته شوه' ما خپل پټكي سره
پښې اوتړله. ذ قلعه نه بهر راووتم' په دروازه كيناستم.
او زړه كښې مِ اووے' چه زۀ به ذ هغه وخته پورے ذ دے
خائے نه' نه خم' څو پورے چه ذ ابو رافع ذ مرګ يقين مِ
اونشي' آخر صبا شو. چرګ بانګ اووے' او ذ قلعه ذ
پاسه په ديوال اودريدے يو سړي اووے' اے خلقو' ابو
رافع ذ حجاز سوداګر مړ شولو. دے آوريدو سره زۀ
سمدستي خپلو ملګرو طرف ته ورستون شوم. هغوي ته

السُّوْرِ فَقَالَ اَنْعٰی اَبَا رَافِعٍ تَاجِرَ اَهْلِ الْحِجَازِ فَانْطَلَقْتُ اِلٰی اَصْحَابِیْ فَقُلْتُ النَّجَآءَ فَقَدْ قَتَلَ اللّٰهُ اَبَا رَافِعٍ فَانْتَهَیْتُ اِلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَحَدَّثْتُهٗ فَقَالَ اُبْسُطْ رِجْلَكَ فَبَسَطْتُ رِجْلِیْ فَمَسَحَهَا فَكَاَنَّهَا لَمْ اَشْتَكِهَا قَطُّ.

م اووړے. اوس ذ دے خانے نه زر څنے. الله پاک، ابو رافع هلاک کړلو. دے نه پس مونږ رسول الله صلي الله عليه وسلّم له راغلو، خوشخبري مو ورته واورولهٔ حضور صلي الله عليه وسلّم خما پښه اوليده، او، وے فرمائيل، خپله پښه او غزوه، ما او غزوله، حضور صلي الله عليه وسلّم پرے لاس مبارک راښکلو. بس داسے معلوميده، چه دے پښے نه هډو څهٔ صدمه نهٔ ده رسيدلے.

۸۵: حَدَّثَنَا اَحْمَدُ بْنُ عُثْمَانَ حَدَّثَنَا شُرَيْحٌ هُوَ ابْنُ مَسْلَمَةَ حَدَّثَنَا اِبْرٰهِیْمُ بْنُ یُوْسُفَ عَنْ اَبِیْهِ عَنْ اَبِیْ اِسْحٰقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَآءَ قَالَ بَعَثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِلٰی اَبِیْ رَافِعٍ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عَتِیْكٍ وَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُتْبَةَ فِیْ نَاسٍ مَّعَهُمْ فَانْطَلَقُوْا حَتّٰی دَنَوْا مِنَ الْحِصْنِ فَقَالَ لَهُمْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَتِیْكٍ امْكُثُوْا اَنْتُمْ حَتّٰی اَنْطَلِقَ اَنَا فَاَنْظُرَ قَالَ فَتَلَطَّفْتُ اَنْ اَدْخُلَ الْحِصْنَ فَفَقَدُوْا حِمَارًا لَّهُمْ قَالَ فَخَرَجُوْا بِقَبَسٍ یَطْلُبُوْنَهٗ قَالَ فَخَشِیْتُ اَنْ اُعْرَفَ قَالَ فَغَطَّیْتُ رَاْسِیْ كَاَنِّیْ اَقْضِیْ حَاجَةً ثُمَّ نَادٰی صَاحِبُ الْبَابِ مَنْ اَرَادَ اَنْ یَّدْخُلَ فَلْیَدْخُلْ قَبْلَ اَنْ اُغْلِقَهٗ فَدَخَلْتُ ثُمَّ اخْتَبَاْتُ فِیْ مَرْبَطِ حِمَارٍ عِنْدَ بَابِ الْحِصْنِ فَتَعَشَّوْا عِنْدَ اَبِیْ رَافِعٍ وَّ تَحَدَّثُوْا حَتّٰی ذَهَبَتْ سَاعَةٌ

۸۵: احمد بن عثمان. شريح بن مسلمه. ابراهيم بن يوسف. ذ خپل پلار يوسف بن اسحاق نه روايت کوي، هغهٔ اوفرمائيل ما ذ حضرت براء بن عازبؓ نه واوريدل، چه حضور صلي الله عليه وسلّم ذ ابو رافع ذ قتلولو ذ پاره عبدالله بن عتيک، عبدالله بن عتبهؓ او نور يو خو سړي اوليږل. کوم وخت چه دا خلق قلعه ته نزدے اورسيدل، نو ابن عتيک خپلو ملګروته اووے، تاسو تول دلته ايسار شئ. زهٔ ورځم، موقعه ګورم، ابن عتيک وائي، زهٔ ورغلم، او د دربان ذ راغبنتلو تدبير م کولو، چه دے کښې د قلعه والو يو خر ورک شولړ، هغوي هغه خر رنړا اخستو سره تلاش کولو، زهٔ او يريدم، چه چرته ما اونهٔ پيژني، نو ما خپل سر پټ کړلو، او دا شان کيناستم، څنګه چه څوک رفع حاجت د پاره کيني. دے کښې دربان آواز او کړ، دروازه بنديږي، څوک چه دننه راځي، را دے شي، زهٔ تادي سره دننه ورغلم او د خرونو ذ تړلو خانے کښې پټ شوم. قلعه والو ابو رافع سره ډوډي اوخوړله، او بيا د شپے ډير وخته پورے ئے خبرے کولے. کوم وخت چه ټول لاړل او هر طرف ته خاموشي خوره شوه، نو زهٔ اووتلم، او دربان چه کوم خانے چابيانے ايښے

مِنَ اللَّيْلِ ثُمَّ رَجَعُوْا اِلٰى بُيُوْتِهِمْ فَلَمَّا هَدَاَتِ الْاَصْوَاتُ وَلَا اَسْمَعُ حَرَكَةً خَرَجْتُ قَالَ وَ رَاَيْتُ صَاحِبَ الْبَابِ حَيْثُ وَضَعَ مِفْتَاحَ الْحِصْنِ فِيْ كُوَّةٍ فَاَخَذْتُهُ فَفَتَحْتُ بِهٖ بَابَ الْحِصْنِ قَالَ قُلْتُ اِنْ تَذَرَبِیَ الْقَوْمُ انْطَلَقْتُ عَلٰى مَهَلٍ ثُمَّ عَمَدْتُ اِلٰى اَبْوَابِ بُيُوْتِهِمْ فَغَلَّقْتُهَا عَلَيْهِمْ مِّنْ ظَاهِرٍ ثُمَّ صَعِدْتُ اِلٰى اَبِيْ رَافِعٍ فِيْ سُلَّمٍ فَاِذَا الْبَيْتُ مُظْلِمٌ قَدْ طَفِئَ سِرَاجُهُ فَلَمْ اَدْرِ اَيْنَ الرَّجُلُ فَقُلْتُ يَا اَبَا رَافِعٍ قَالَ مَنْ هٰذَا قَالَ فَعَمَدْتُ نَحْوَ الصَّوْتِ فَاَضْرِبُهُ وَ صَاحَ فَلَمْ تُغْنِ شَيْئًا قَالَ ثُمَّ جِئْتُ كَاَنِّيْ اُغِيْثُهُ فَقُلْتُ مَالَكَ يَا اَبَا رَافِعٍ وَ غَيَّرْتُ صَوْتِيْ فَقَالَ اَلَا اُعْجِبُكَ لِاُمِّكَ الْوَيْلُ دَخَلَ عَلَيَّ رَجُلٌ فَضَرَبَنِيْ بِالسَّيْفِ قَالَ فَعَمَدْتُ لَهٗ اَيْضًا فَاَضْرِبُهُ اُخْرٰى فَلَمْ تُغْنِ شَيْئًا فَصَاحَ وَ قَامَ اَهْلُهٗ قَالَ ثُمَّ جِئْتُ وَ غَيَّرْتُ صَوْتِيْ كَهَيْئَةِ الْمُغِيْثِ فَاِذَا هُوَ مُسْتَلْقٍ عَلٰى ظَهْرِهٖ فَاَضَعُ السَّيْفَ فِيْ بَطْنِهٖ ثُمَّ اَنْكَفِئُ عَلَيْهِ حَتّٰى سَمِعْتُ صَوْتَ الْعَظْمِ ثُمَّ خَرَجْتُ دَهِشًا حَتّٰى اَتَيْتُ السُّلَّمَ اُرِيْدُ اَنْ اَنْزِلَ فَاَسْقُطُ مِنْهُ فَانْخَلَعَتْ

وې، هغه م راواخستې، او د قلعه دروازه م پرانسته، چه آساني سره تيښته او کړې شم دې نه پس زهٔ قلعه کښې چه کوم مکانات وو، هلته ورغلم، او ذ بهر نه م د تولو زنځير اولګولو، دې نه پس زهٔ ذ ابو رافع په سيړهو ور اوختلم، څهٔ ګورم، چه کمره کښې تياره ده، ماته د هغه مقام معلوم نه شولو، آخر ما ابو رافع نوم اخستو سره ورته آواز اوکهٔ، نو هغهٔ تپوس اوکهٔ، څوک يې. ذ هغهٔ آواز سره زهٔ ورمخکښې شوم، او ذ تورې ګزار م پرې اوکهٔ. هغهٔ چغې کړې، خو وار خطا لاړ، زهٔ لږ ساعت ايسار شوم او ورنزدې شوم، او تپوس م ترې اوکهٔ، اې ابو رافع، څهٔ خبره ده، هغهٔ دا خيال اوکهٔ، چه ګني دا څما څوک سړې دې، چه مدد له راغلې دې. په دې وجه هغهٔ اووې، اې مور دې مړه شه، چا په ما ذ تورې ګزار اوکهٔ. دې آوريدو سره پرې ما يو بل ګزار اوکهٔ، خو سپک شان ګزار ښکاريدهٔ (يعني سخت اونهٔ لږيدلو) ذ هغهٔ ښځه اوتښتيده، او هغهٔ چغې کړې، ما بيا آواز بدل کړلو. او ذ مددګار په حيثيت هغهٔ ته ورنزدې شوم، هغه راغرځيدلې وو، نو ما توره ذ هغهٔ په خيټه کيښوده او دومره زور م ورکړلو، چه ذ هډوکي ذ تلقا آواز م واوريدلو. اوس چه ما ذ هغهٔ کار تمام کړلو (يعني قتل م کهٔ) نو په يره يره اندرپانې (سيړهۍ) ته راغلم، اوغوښتل م، چه ښکته راکوز شم. خو تادي کښې راوغرځيدم، او ذ پښې جوړ م اوختلو، ما پښه په کپړه اوتړله. او بيا رو، رو څپلو ملګرو ته م خان اورسولو، او ورته م اووې، تاسو ټول رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ذ ابو رافع ذ قتل خبر واوروې، او زهٔ ذ هغهٔ ذ مرګ ذ يقيني خبر پورې به دلته ايسار يم.

رِجْلِيْ فَعَصَبْتُهَا ثُمَّ اَتَيْتُ اَصْحَابِيْ اَحْجُلُ فَقُلْتُ انْطَلِقُوْا فَبَشِّرُوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاِنِّيْ لَا اَبْرَحُ حَتّٰى اَسْمَعَ النَّاعِيَةَ فَقَالَ اَنْعٰى اَبَا رَافِعٍ قَالَ فَقُمْتُ اَمْشِيْ مَابِيْ قَلَبَةٌ فَاَدْرَكْتُ اَصْحَابِيْ قَبْلَ اَنْ يَّاْتُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَشَّرْتُهٗ.

آخر صبا ته قريب يو سرے په ديوال اوختلو' او وے ونيل' اے خلقو' زۀ درته ذ ابو رافع ذ مرګ خبر آوروم. ابن عتيک وائي' زۀ چه ذ تلو ذ پاره پاسيدم' خو ذ خوشحالي نه م څۀ تکليف محسوس نه کړلو' زۀ تيزي سره لاړم' او ملګري م رسول الله صلي الله عليه وسلّم ته ذ رسيدو نه مخکښ رالاندے کړل. او بيا م خپله حضور صلي الله عليه وسلّم ته دا خوشخبري واورولـه. حضور صلي الله عليه وسلّم خما په پنډئ خپل لاس مبارک رابنکلو' او زۀ بيخي روغ رمټ شولم.

بَابٌ ١٧ : غَزْوَةِ اُحُدٍ. وَ قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى وَ اِذْ غَدَوْتَ مِنْ اَهْلِكَ تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِيْنَ مَقَاعِدَ لِلْقِتَالِ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ وَ قَوْلِهٖ جَلَّ ذِكْرُهٗ وَلَا تَهِنُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا وَ اَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ اِنْ يَّمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِّثْلُهٗ وَ تِلْكَ الْاَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ يَتَّخِذَ مِنْكُمْ شُهَدَآءَ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ وَلِيُمَحِّصَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ يَمْحَقَ الْكَافِرِيْنَ اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ جَاهَدُوْا مِنْكُمْ وَ يَعْلَمَ الصّٰبِرِيْنَ وَلَقَدْ كُنْتُمْ تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ مِنْ قَبْلِ

باب ۱۷ : ذ اُحد ذ غزا بيان. الله تعالٰي سورۀ آل عمران کښ اوفرمائيل' اے خمونږ رسولهٔ' ياد کړه' چه ته سحر وخت کښ ذ کور نه اووتلے' او مسلمانان دے ذ جنګ په ځائے کينول' او الله اوريدونکے او پوهيدونکے دے. بيا بل ځائے کښ دے سورت کښ اوفرمائيل چه مۀ سست کيږئ او مۀ غمګين کيږئ' تاسو به غالب ئے' که ايماندار يئ' که تاسو زخمي شوئے' نو هغوي ته هم زخم لږيدلے وو' دا خو ذ زمانے ګير پير دے' چه مونږ وار په وار په خلقو' ئې راولو' ذ پاره ذ دے چه الله تعالٰي مؤمنان ممتاز کړي' او تاسو کښ بعضو له ذ شهادت درجه ورکړي' او الله تعالٰي ظالمان نۀ دوستان کوي' او الله تعالٰي به ايماندار صاف ستهره کړي' او کافر به تباه کړي' آيا ستاسو دا خيال دے چه تاسو به جنت له لاړ شئے' حالانکه الله تعالٰي لا دا نۀ دي ښودلے' چه تاسو کښ به څوک جنګ کونکي او څوک صبر کونکي وي' او تاسو ذ هغے فتح نه مخکښ ذ مرګ آرزو کوله' اوس خو مو مرګ په خپلو

اَنْ تَلْقَوْهُ فَقَدْ رَأَيْتُمُوْهُ وَ اَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ. وَ قَوْلِهٖ وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللّٰهُ وَعْدَهٗ اِذْ تَحُسُّوْنَهُمْ بِاِذْنِهٖ حَتّٰى اِذَا فَشِلْتُمْ وَ تَنَازَعْتُمْ فِي الْاَمْرِ وَ عَصَيْتُمْ مِّنْ ۢ بَعْدِ مَا اَرٰىكُمْ مَّا تُحِبُّوْنَ مِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الدُّنْيَا وَ مِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الْاٰخِرَةَ ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ وَلَقَدْ عَفَا عَنْكُمْ وَاللّٰهُ ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتًا الْاٰيَةَ.

ستر کو اوليدلو' بيا بل خائے کښې نے اوفرمائيل' چه الله تعالي خپله وعده ريښتيې اوښودله هر کله چه تاسو د الله تعالي په حکم هغوي وهل' تردے چه تاسو نامردي اوکړله' او کار کښې مو جګړه واچوله او د ځيل سهولت خيزونه د کتلو نه پس تاسو نافرماني اوکړله' بعضے تاسو کښې دُنيا غوښتله او بعضے آخرت غوښتلو. بيائے تاسو د هغوي نه لرے کړے' چه ستاسو آزمائش اوکړي' او هغه تاسو معاف کړي نے' ځکه چه الله تعالي په ايماندارو مهربانه دے. کوم خلق چه د الله په لار کښې اووژلے شو (يعني شهيدان شو) هغوي مړهٔ مهٔ ګڼړئے' بلکه هغوي ژوندي دي آخر آيت پورے.

۸۶: حَدَّثَنَا اِبْرٰهِيْمُ بْنُ مُوْسٰى اَخْبَرَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍؓ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ اُحُدٍ هٰذَا جِبْرِيْلُ اٰخِذٌ بِرَأْسِ فَرَسِهٖ عَلَيْهِ اَدَاةُ الْحَرْبِ.

۸۶: ابراهيم بن موسي. عبدالوهاب. خالد. عکرمه. حضرت ابن عباسؓ نه روايت کوي' هغه فرمائي' رسالت مٰب صلي الله عليه وسلم د اُحد په ورځ اوفرمائيل (ګورے) دا جبرائيلؑ دے' چه د خپل اس سر ئے نيولے دے او وسله ئے اچولے ده.

۸۷: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيْمِ اَخْبَرَنَا زَكَرِيَّاءُ بْنُ عَدِيٍّ اَخْبَرَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ حَيْوَةَ عَنْ يَّزِيْدَ بْنِ اَبِيْ حَبِيْبٍ عَنْ اَبِي الْخَيْرِ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ صَلّٰى رَسُوْلُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى قَتْلٰى اُحُدٍ بَعْدَ ثَمَانِيْ سِنِيْنَ كَالْمُوَدِّعِ لِلْاَحْيَاءِ وَالْاَمْوَاتِ ثُمَّ طَلَعَ الْمِنْبَرَ فَقَالَ اِنِّيْ بَيْنَ اَيْدِيْكُمْ فَرَطٌ وَ

۸۷: محمد بن عبدالرحيم. زکريا بن عدي. عبدالله بن مبارک. حيوه. يزيد بن ابي حبيب. حضرت عقبه بن عامر نه روايت کوي' هغهٔ اووے' حضور صلي الله عليه وسلم اته کاله پس د اُحد په شهيدانو داسے مونځ اوکړلو' ځکه چه څوک. وندي او مړي رخصت کوي. بيا واپس راغے' منبر ته ئے تشريف راوړلو' او ارشاد ئے اوفرمائيلو' زهٔ ستاسو پيش خيمه يم' ستاسو د اعمالو ګواه يم ځما او ستاسو ملاقات به په

أَنَا عَلَيْكُمْ شَهِيْدٌ وَ إِنَّ مَوْعِدَكُمُ الْحَوْضُ وَ إِنِّيْ لَأَنْظُرُ إِلَيْهِ مِنْ مَقَامِيْ هٰذَا وَ إِنِّيْ لَسْتُ أَخْشٰى عَلَيْكُمْ أَنْ تُشْرِكُوْا وَلٰكِنِّيْ أَخْشٰى عَلَيْكُمُ الدُّنْيَا أَنْ تَنَافَسُوْهَا قَالَ فَكَانَتْ اٰخِرَ نَظْرَةٍ نَظَرْتُهَا إِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

حوض کوثر کیږي' او زهٔ خو ددې ځائې نه حوض کوثر وینم. ما سره د دې خبرې ویره بیخي نشته' چه تاسو به خما نه پس مشرکان شئې' البته زهٔ ددې خبرې اندیښنه لرم' چه تاسو به خپلو کښې یو بل سره د دُنیا مزو کښې پریوځئې' او رشک او حسد به راواخلئې. عقبه وائي' دُنیا کښې دا خما نبي صلي الله علیه وسلم سره آخري دیدن وو.

۸۸: حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ مُوْسٰى عَنْ إِسْرَآئِيْلَ عَنْ أَبِيْ إِسْحٰقَ عَنِ الْبَرَآءِ قَالَ لَقِيْنَا الْمُشْرِكِيْنَ يَوْمَئِذٍ وَ أَجْلَسَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَيْشًا مِّنَ الرُّمَاةِ وَ أَمَّرَ عَلَيْهِمْ عَبْدَ اللّٰهِ وَ قَالَ لَا تَبْرَحُوْا إِنْ رَأَيْتُمُوْنَا ظَهَرْنَا عَلَيْهِمْ فَلَا تَبْرَحُوْا وَ إِنْ رَأَيْتُمُوْهُمْ ظَهَرُوْا عَلَيْنَا فَلَا تُعِيْنُوْنَا فَلَمَّا لَقِيْنَا هَرَبُوْا حَتّٰى رَأَيْتُ النِّسَآءَ يَشْتَدِدْنَ فِي الْجَبَلِ رَفَعْنَ عَنْ سُوْقِهِنَّ قَدْ بَدَتْ خَلَاخِلُهُنَّ فَأَخَذُوْا يَقُوْلُوْنَ الْغَنِيْمَةَ الْغَنِيْمَةَ فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ عَهِدَ إِلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ لَّا تَبْرَحُوْا فَأَبَوْا فَلَمَّا أَبَوْا صُرِفَ وُجُوْهُهُمْ فَأُصِيْبَ سَبْعُوْنَ

۸۸: عبیدالله بن موسي. اسرائیل. ابن اسحاق.

حضرت براء بن عازب نه روایت کوي' هغه فرمائي' د اُحد په ورځ چه مونږ د مشرکانو مقابلې له ورغلو' نو نبي صلي الله علیه وسلم د تیر اندازو یو جماعت باندې عبدالله بن جبیر سردار مقرر کړلو' او هغه ته ئې اوفرمائیل' تاسوله د دې ځائې نه هیڅ حال کښې خوزیدل نهٔ دي پکار' که تاسو مونږ غالب اووینې یا مغلوب' او خمونږ مدد د پاره هم مهٔ راځئې. غرض دا چه خمونږ او د کافرو ټکر راغې' نو هغوي میدان پریښود' اوتښتیدل ما د هغوي ښځې اولیدې' چه پنډۍ ئې پرانستې او پائیڅې ئې اوچتې کړې وې' په غر تښتیدلې او د هغوي پائیزیبونو چمک کولو' د عبدالله بن جبیر ملګرو اووې' منډه کړئې' او مال غنیمت لوټ کړئې. عبدالله منع کړل' چه ګورئې' حضور اکرم صلي الله علیه وسلم هدایت کړې دې' چه هیڅ حال کښې خپله مورچه مهٔ پریږدئې' خو چا اونهٔ منله. آخر د مسلمانانو مخونه اوګرځیدل' او اویا مسلمانان شهیدان شو. ابوسفیان په یو اوچت ځائې اوختلو او نعرې ئې کړې' اې مسلمانانو محمدؐ ژوندې دې. حضورؐ

قَتِيْلًا وَ اَشْرَفَ اَبُوْ سُفْيَانَ فَقَالَ اَفِي الْقَوْمِ مُحَمَّدٌ فَقَالَ لَا تُجِيْبُوْهُ فَقَالَ اَفِي الْقَوْمِ ابْنُ اَبِيْ قُحَافَةَ قَالَ لَا تُجِيْبُوْهُ فَقَالَ اَفِي الْقَوْمِ ابْنُ الْخَطَّابِ فَقَالَ اِنَّ هٰؤُلَآءِ قُتِلُوْا فَلَوْ كَانُوْا اَحْيَآءً لَاَجَابُوْا فَلَمْ يَمْلِكْ عُمَرُ نَفْسَهٗ فَقَالَ كَذَبْتَ يَا عَدُوَّ اللّٰهِ اَبْقَى اللّٰهُ عَلَيْكَ مَا يُخْزِيْكَ قَالَ اَبُوْ سُفْيَانَ اُعْلُ هُبَلُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَجِيْبُوْهُ قَالُوْا مَا نَقُوْلُ قَالَ قُوْلُوْا اللّٰهُ اَعْلٰى وَ اَجَلُّ قَالَ اَبُوْ سُفْيَانَ لَنَا الْعُزّٰى وَلَا عُزّٰى لَكُمْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَجِيْبُوْهُ قَالُوْا مَا نَقُوْلُ قَالَ قُوْلُوْا اللّٰهُ مَوْلَانَا وَلَا مَوْلٰى لَكُمْ قَالَ اَبُوْ سُفْيَانَ يَوْمٌ بِيَوْمِ بَدْرٍ وَّالْحَرْبُ سِجَالٌ وَّ سَتَجِدُوْنَ مُثْلَةً لَمْ اٰمُرْ بِهَا وَلَمْ تَسُؤْنِيْ.

اوفرمائیل' خاموش شئے' جواب مه ورکوئے بیائے اووې' د ابو قحافه خوئے ابوبکر ژوندے دے' حضورؐ اوفرمائیل' چپ شئے' جواب مه ورکوئے بیائے اووې' د خطاب خوئے عمرؓ ژوندے دے' بیائے اووې' معلومیږي' چه ټول وژلے شوے دي که ژوندي وے' نو جواب به ئے راکړے وو. دے آوریدو سره حضرت عمرؓ ضبط اونه کړے شو' اووې ونیل' اے د خدائے دشمنه' ته دروغجن ئے' الله ستا د ذلیل کولو د پاره ټول قائم ساتلے دي. ابو سفیان نعرے کړے. اے هبل' ته بلند او اوچت ئے. خمونږ مدد اوکه. حضور اکرمؐ ورته اوفرمائیل' تاسو هم جواب ورکړئے. تپوس ئے ترے اوکه' څه جواب ورکړو. حضورؐ ورته اوفرمائیل' اووائے' خدائے بلند او بالا او بزرګ دے' ابوسفیان اووے' خمونږ مددګار عزي دے' او تاسو سره عزي نشته دے. حضورؐ اوفرمائیل دهٔ له جواب ورکړئ' تپوس ئے اوکه' څه جواب ورکړو' حضورؐ ورته اوفرمائیل' وائے چه' الله خمونږ مددګار دے' ستاسو مددګار هیڅوک نشته. ابوسفیان اووے' د بدر بدله اوشواهٔ. جنګ د ډول په شان دے. ګټه بیلات (هارجیت) کیږي' تاسو به میدان کښې ډیر لاشونه اووینئے' چه د هغوي پوزے پریکړے شوے دي' ما دا حکم نهٔ وو کړے' او نهٔ ماته د دے افسوس شته.

۸۹ : اَخْبَرَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ جَابِرٍ قَالَ اصْطَبَحَ الْخَمْرَ يَوْمَ اُحُدٍ نَاسٌ ثُمَّ قُتِلُوْا شُهَدَآءَ.

۸۹ : عبدالله بن محمد. سفیان. عمرو بن دینار. حضرت جابرؓ نه روایت کوي' هغهٔ اووے' د اُحد په ورځ داسے اوشو' چه بعضے خلقو د سحر شراب اُوڅکل' او بیا جنګ کښې شهیدان شول.

۹۰: حَدَّثَنَا عَبْدَانُ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرٰهِيمَ عَنْ أَبِيهِ إِبْرٰهِيمَ أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ عَوْفٍ أُتِيَ بِطَعَامٍ وَّ كَانَ صَائِمًا فَقَالَ قُتِلَ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ وَهُوَ خَيْرٌ مِّنِّيْ كُفِّنَ فِيْ بُرْدَةٍ إِنْ غُطِّيَ رَأْسُهُ بَدَتْ رِجْلَاهُ وَ إِنْ غُطِّيَ رِجْلَاهُ بَدَا رَأْسُهُ وَ أُرَاهُ قَالَ وَ قُتِلَ حَمْزَةُ وَهُوَ خَيْرٌ مِّنِّيْ ثُمَّ بُسِطَ لَنَا مِنَ الدُّنْيَا مَا بُسِطَ أَوْ قَالَ أُعْطِيْنَا مِنَ الدُّنْيَا مَا أُعْطِيْنَا وَقَدْ خَشِيْنَا أَنْ تَكُوْنَ حَسَنَاتُنَا عُجِّلَتْ لَنَا ثُمَّ جَعَلَ يَبْكِيْ حَتّٰى تَرَكَ الطَّعَامَ.

۹۰: عبدان. عبدالله: شعبه. سعد بن ابراهيم بن عبدالرحمٰن بن عوف ذ خپل پلار نه روايت كوي' چه ذ عبدالرحمٰن بن عوف روژه وه. ماښام هغه ته خوراكه راوړے شوه' نو هغه اووے' مصعب بن عميرؓ أحد كښ شهيد شو' هغه خما نه ښهٔ وو' يو څادر كښ هغه دفن كړے شو' كه سر مو ورله پټولو' نو پښے ئے خركندے پاتے كيدے' او كه پښے مو ورله پټولے' نو سر ئے خركند پاتے كيدلو. ابراهيم وائي' خما خيال دے' هغه دا هم ونيلے وو' چه حمزه بن عبدالمطلب هم په دغه ورځ شهيد شولو' هغه هم خما نه ښهٔ وو. بيا مونږ خلقوته دُنيا كښ فراخي راكړے شوه' او داسے راكړے شوه' چه مونږ سره ويره وه' چه چرته خمونږ ذ نيكو (نيكيوں) ثواب دُنيا كښ مونږ ته زر نه وي راكړے شوے. دے نه پس په ژړا شو' او دومره ئے اوژړل' چه طعام ئے هم اونهٔ خوړلے شو.

۹۱: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ قَالَ رَجُلٌ لِّلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فَأَيْنَ أَنَا قَالَ فِي الْجَنَّةِ فَأَلْقٰى تَمَرَاتٍ فِيْ يَدِهٖ ثُمَّ قَاتَلَ حَتّٰى قُتِلَ.

۹۱: عبدالله بن محمد. سفيان. عمرو بن دينار. حضرت جابر بن عبدالله نه روايت كوي' هغه اووے' ذ أحد په ورځ يو سړي د حضور اكرم صلي الله عليه وسلّم نه تپوس اوكهٔ' ماته اوښائے' كه زهٔ اووژلے شم' نو كوم خوا به خم' حضورؐ ورته اوفرمائيل' جنت ته دے آوريدو سره هغه داسے اوشو' چه كومے قجورے ئے خوړلے' هغه ئے هم اوغرځولے. بيا غزا كښ شهيد شولو.

۹۲: حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُوْنُسَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ عَنْ شَقِيْقٍ عَنْ خَبَّابٍؓ قَالَ هَاجَرْنَا مَعَ

۹۲: احمد بن يونس. زهير. اعمش. شقيق. حضرت خباب بن ارت نه روايت كوي' هغه اووے. مونږ حضور صلي الله عليه وسلّم سره هجرت اوكهٔ' او

رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبْتَغِيُ وَجْهَ اللّٰهِ فَوَجَبَ اَجْرُنَا عَلَى اللّٰـهِ وَ مِنَّـا مَـنُ مَّضٰى اَوُ ذَهَبَ لَمُ يَـاُكُلُ مِـنُ اَجُـرِهٖ شَيْـئًـا كَانَ مِنْهُمُ مُّصْعَبُ ابْنُ عُمَيْرٍ قُتِلَ يَوْمَ اُحُدٍ لَّمُ يُتْرَكُ اِلَّا نَمِرَةٌ كُنَّا اِذَا غَطَّيْنَا بِهَا رَاْسَهُ خَـرَجَـتُ رِجُلَاهُ وَ اِذَا غُطِّيَ بِهَا رِجُلَاهُ خَرَجَ رَاْسُهُ فَقَالَ لَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَـلَيْـهِ وَسَـلَّـمَ غَـطُّـوُا بِهَـا رَاْسَـهُ وَاجْـعَـلُوُا عَلٰى رِجُلِهِ الْاِذُخَرَ اَوُ قَالَ اَلْـقُـوُا عَـلٰـى رِجُلِهٖ مِنَ الْاِذْخِرِ وَ مِنَّا مَنُ قَدُ اَيْنَعَتُ لَهُ ثَمَرَتُهُ فَهُوَ يَهْدِبُهَا.

بيـخـي ذَ الـلّٰـه تعالي ذَ رضا ذَ ياره مو او كڅ. اوس څمونږ ثـواب ذَ الـلّٰـه تـعالي په ذمه شو. مونږ كښې بعضې داسې دي' چـه تيـر شـو (يعني مړهٔ شو) او هغوي ذُنيا كښې هيڅ بـدلـه بيـانـه منـده. دغې خلقو كښې مصعب بن عميرؓ هم دے' چـه ذَ اُحـد پـه ورځ شهيد شولو. ذَ هغهٔ نه صرف يو كـربـښـه دار كـمبـل پـاتـې شو' چه هغې سره مو ذَ هغهٔ سر پـټـولو' نو پـښـې ئې ښكـاره پـاتې كيدې' او كه پـښـې مو ورلـه پـټـولـې' نو سر ئې ښكـاره پـاتـې كيدلو. آخر حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل' ذَ هغهٔ سر پټ كړئې' او پـه پښـو ورلـه اذخـر واښه واچوئې' او مونږ كښې بعضې داسـې دي' چـه ذَ هـغـوي ميـوه ښـهٔ پخـه شوه' او هغـه خوري.

۹۳ : حَـدَّثَـنَـا حَسَّـانُ بُـنُ حَسَّـانَ حَـدَّثَـنَـا مُحَـمَّـدُ بُـنُ طَـلُحَةَ حَـدَّثَـنَـا حُمَيُدٌ عَنُ اَنَسٍؓ اَنَّ عَـمَّـهٗ غَـابَ عَـنُ بَـدُرٍ فَـقَـالَ غِبُتُ عَـنُ اَوَّلِ قِتَـالِ الـنَّـبِـيِّ صَلَّى الـلّٰـهُ عَـلَيْـهِ وَسَـلَّـمَ لَئِنُ اَشْهَدَنِي الـلّٰـهُ مَـعَ الـنَّـبِـيِّ صَـلَّـى الـلّٰـهُ عَـلَيْـهِ وَسَـلَّـمَ لَيَـرَيَـنَّ الـلّٰـهُ مَـا اَجِـدُّ فَـلَـقِـيَ يَـوُمَ اُحُـدٍ فَهُـزِمَ الـنَّـاسُ فَـقَـالَ الـلّٰـهُـمَّ اِنِّـيُ اَعُتَذِرُ اِلَيُكَ مِـمَّـا صَـنَـعَ هٰـؤُلَآءِ يَعُنِي الْمُسْلِمِيُنَ وَ اَبْـرَاُ اِلَيْكَ مِمَّـا جَـآءَ بِـهِ الْـمُشْـرِكُـوْنَ فَتَـقَـدَّمَ بِسَيْـفِـهٖ فَـلَـقِـيَ سَعُـدَ بُـنَ مُعَاذٍ فَقَالَ اَيْنَ يَا

۹۳ : حسـان بن حسان. محمد بن طلحه. حميد. حـضرت انسؓ نه روايت كوي' ذَ انس ترهٔ انس بن نضر ذَ بـدر پـه جـنـګ كـښې غير حاضر وو' هغهٔ اووے' حضورؐ سره وړمبني جنګ كښې شريک نهٔ شوم. خير كه اوس اللّٰه ماته جنګ كښې حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم سره ذَ شـريـكيـدو مـوقـع راكړه' نو اللّٰه به اوويني' چه زهٔ څنګه كـوشـش كـوم. څـهٔ وخت چه ذَ اُحد ورځ راغلـه' او مسلمانان په تيښته شو. نو انس بن نضر اووے' يا اللّٰه' زهٔ ستا بارګاه كښې عذر كوم' څهٔ چه دے مسلمانانو اوكړل' او څهٔ چه مشركينو اوكړل' ذَ دے نه بيزار يم. بيائې توره واخسته' ميدان ته ورمخكښې شو. لار كښې ورسره سعد بـن مـعـاذ يـوځائې شو' انس ورته اووے' ولې سعدؓ' چرته روان ئې' ماته خو ذَ اُحد غر ذَ شا' نه ذَ جنت بوي راځي. غـرض دا چـه دومـره (زور سره) اوجنګيدلو' چـه (د

سَعْدُ اِنِّيْ اَجِدُ رِيْحَ الْجَنَّةِ دُوْنَ اُحُدٍ فَمَضٰى فَقُتِلَ فَمَا عُرِفَ حَتّٰى عَرَفَتْهُ اُخْتُهٗ بِشَامَةٍ اَوْ بِبَنَانِهٖ وَبِهٖ بِضْعٌ وَّ ثَمَانُوْنَ مِنْ طَعْنَةٍ وَّ ضَرْبَةٍ وَّ رَمْيَةٍ بِسَهْمٍ.

زخمونو د كثرت نه) شهيد شولو. ذ هغهٔ لاش بيژندلے نهٔ شو. د هغهٔ خور د خال (توره زخه) او د ګوتے په نښه هغه اوبيژندلو، ذ اتيا نه زيات د تورے نيزے، غشي زخمونه ذ هغهٔ په جسم لګيدلي وو.

۹۴: حَدَّثَنَا مُوْسَى بْنُ اِسْمٰعِيْلَ حَدَّثَنَا اِبْرٰهِيْمُ بْنُ سَعْدٍ حَدَّثَنَا ابْنُ شِهَابٍ اَخْبَرَنِيْ خَارِجَةُ بْنُ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ اَنَّهٗ سَمِعَ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ يَقُوْلُ فَقَدْتُ اٰيَةً مِّنَ الْاَحْزَابِ حِيْنَ نَسَخْنَا الْمُصْحَفَ كُنْتُ اَسْمَعُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ بِهَا فَالْتَمَسْنَاهَا فَوَجَدْنَاهَا مَعَ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ الْاَنْصَارِيِّ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا اللّٰهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰى نَحْبَهٗ وَ مِنْهُمْ مَّنْ يَّنْتَظِرُ فَاَلْحَقْنَاهَا فِيْ سُوْرَتِهَا فِي الْمُصْحَفِ.

۹۴: موسى بن اسمعيل. ابراهيم بن سعد. ابن شهاب. حضرت خارجه بن زيد. حضرت زيد بن ثابت نه روايت كوي، هغه فرمائي، كوم وخت چه مونږ قرآن كريم د حضرت عثمانؓ په خلافت كښ ليكلو، نو ذ سورت احزاب يو آيت هغے كښ بيانهٔ منديے شو، چه ما د حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم نه آوريدلے وو. آخر ما هغه حضرت خزيمه بن ثابت انصاريؓ سره بيامندلو، او هغه دادے (ترجمه) مسلمانانو كښ څنے داسے دي، چه هغوي اللّٰه تعالي سره كوم قول و قرار كړے وو، هغه ئے پوره كړلو. هغوي كښ خو بعضو خپل كار پوره كړ، شهيدان شول، (لكه حضرت حمزه او مصعب بن عميرؓ) او بعضے انتظار كوي (لكه حضرت عثمانؓ او طلحهؓ) مونږ دا آيت خپل سورت كښ درج كړلو. په قرآن مجيد كښ.

۹۵: حَدَّثَنَا اَبُو الْوَلِيْدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ سَمِعْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ يَزِيْدَ يُحَدِّثُ عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ لَمَّا خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰى اُحُدٍ رَّجَعَ نَاسٌ مِّمَّنْ خَرَجَ مَعَهٗ وَ كَانَ اَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِرْقَتَيْنِ

۹۵: ابوالوليد. شعبه. عدي بن ثابت. عبداللّٰه بن يزيد. حضرت زيد بن ثابت نه روايت كوي، هغه فرمائي، كوم وخت چه نبي اكرم صلي اللّٰه عليه وسلّم ذ اُحد ذ غزا ذ پاره اُووتلو. نو څهٔ خلق چه حضورؐ سره تلے وو، هغه واپس شولو. صحابه كرامؓ كښ ذ هغوي متعلق دوه ډلے شوے. ذ يوے ډلے خيال وو، چه دوي قتلول پكار دي، دوئيمے ډلے اووے، نه داسے نهٔ دي كول پكار، نو هغه وخت اللّٰه تعالي ذ سورهٔ نساء دا آيت نازل كړلو

فِرْقَةٌ تَقُوْلُ نُقَاتِلُهُمْ وَ فِرْقَةٌ تَقُوْلُ لَا نُقَاتِلُهُمْ فَنَزَلَتْ فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنَافِقِيْنَ فِئَتَيْنِ وَاللّٰهُ اَرْكَسَهُمْ بِمَا كَسَبُوْا وَ قَالَ اِنَّهَا طَيْبَةُ تَنْفِي الذُّنُوْبَ كَمَا تَنْفِي النَّارُ خَبَثَ الْفِضَّةِ.

(ترجمه) مسلمانانو په تاسو څهٔ شوے دي، چه تاسو د منافقانو باره کښ دوه ډلے شوے يئے حالانکه الله تعالیٰ د هغوي د اعمالو په وجه هغوي کفر ته اړولے دي. رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل، د مدينے نوم طيبه دے، هغه سرکشان د ځان نه داسے او کاږي، څنګه چه بهټئ د چاندي نه خيرے (ميل) او کاږي.

**باب ۱۸ : اِذْهَمَّتْ طَّآئِفَتَانِ مِنْكُمْ اَنْ تَفْشَلَا وَاللّٰهُ وَلِيُّهُمَا وَ عَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ.**

**باب ۱۸ :** آيت: اِذْهَمَّتْ طَّائِفَتَانِ مِنْكُمْ اَنْ تَفْشَلَا د دے آيت کريمه متعلق چه کوم وخت دوو جماعتونو تاسو کښ د سستئ اراده اوکړله، او الله تعالي د هغوي مددګار وو، او مسلمانانوله په الله بهروسه کول پکار دي. (بهروسه: تکيه، توکل يقين).

۹۶ : حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوْسُفَ عَنِ ابْنِ عُيَيْنَةَ عَنْ عَمْرٍو عَنْ جَابِرٍؓ قَالَ نَزَلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ فِيْنَا اِذْ هَمَّتْ طَّآئِفَتَانِ مِنْكُمْ اَنْ تَفْشَلَا بَنِيْ سَلِمَةَ وَ بَنِيْ حَارِثَةَ وَمَا اُحِبُّ اَنَّهَا لَمْ تَنْزِلْ وَاللّٰهُ يَقُوْلُ وَاللّٰهُ وَلِيُّهُمَا.

۹۶ : محمد بن يوسف. ابن عيينه. عمرو بن دينار. حضرت جابر بن عبداللهؓ نه روايت کوي، هغهٔ اووے، د سورهٔ آل عمران ذکر شوے آيت کښ د دوو جماعتونو (ډلو) نه بني سلمه او بني حارثه مراد دي. او د دے آيت نازيلدل خما ډير خوښ دي، ځکه چه دے کښ الله تعالي دواړو سره د مدد وعده کړے ده.

۹۷ : حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ اَخْبَرَنَا عَمْرٌو عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ نَكَحْتَ يَا جَابِرُ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ مَاذَا اَبِكْرًا اَمْ ثَيِّبًا قُلْتُ لَا بَلْ ثَيِّبًا قَالَ فَهَلَّا جَارِيَةً تُلَاعِبُكَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ اَبِيْ قُتِلَ يَوْمَ اُحُدٍ وَ تَرَكَ تِسْعَ

۹۷ : قتيبه. سفيان. عمرو بن دينار. حضرت جابر بن عبداللهؓ نه روايت کوي، حضور صلي الله عليه وسلم ما نه تپوس اوکهٔ، جابره، تا نکاح کړے ده. ما عرض اوکهٔ، جي او، وے فرمائيل، پيغلے سره يا کونډے سره. ما عرض اوکه، کونډے سره. حضورؐ اوفرمائيل، پيغلے (يعني جينئ يا کم عمره) سره به دے نکاح کړے وے، نو هغے به تا سره لوبے کولے. ما عرض اوکهٔ، يا رسول الله، خما پلار، په اُحد کښ شهيد شولو، او ځان نه پس ئے نهه لونړه پريښودے، نو د نهه خويندو په موجودګئ کښ دا

بَنَاتٍ كُنَّ لِيْ تِسْعَ اَخَوَاتٍ فَكَرِهْتُ اَنْ اَجْمَعَ اِلَيْهِنَّ جَارِيَةً خَرْقَآءَ مِثْلَهُنَّ وَلٰكِن امْرَاَةٌ تَمْشُطُهُنَّ وَ تَقُوْمُ عَلَيْهِنَّ قَالَ اَصَبْتَ.

مناسب نهٔ معلوميږي' چه ذَ هغوي په شان يوې بلې نادانې جينۍ کښې ﻡ اضافه کړې وې' نو ما اوغښتل چه ذَ زيات عمر' يوه پوهې ښځه راولم' چه ذَ هغوي سر ځنړه او خدمت اوکړې شي' حضور صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل' دا دې ډير ښهٔ اوکړل.

۹۸ : حَدَّثَنِيْ اَحْمَدُ بْنُ اَبِيْ شُرَيْحٍ اَخْبَرَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ مُوْسٰى حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ فِرَاسٍ عَنِ الشَّعْبِيِّ قَالَ حَدَّثَنِيْ جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ اَنَّ اَبَاهُ اسْتُشْهِدَ يَوْمَ اُحُدٍ وَّ تَرَكَ عَلَيْهِ دَيْنًا وَّ تَرَكَ سِتَّ بَنَاتٍ فَلَمَّا حَضَرَ جِذَازُ النَّخْلِ قَالَ اَتَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ قَدْ عَلِمْتَ اَنَّ وَالِدِيْ قَدِ اسْتُشْهِدَ يَوْمَ اُحُدٍ وَّ تَرَكَ دَيْنًا كَثِيْرًا وَّ اِنِّيْ اُحِبُّ اَنْ يَّرَاكَ الْغُرَمَآءُ فَقَالَ اذْهَبْ فَبَيْدِرْ كُلَّ تَمْرٍ عَلٰى نَاحِيَةٍ فَفَعَلْتُ ثُمَّ دَعَوْتُهُ فَلَمَّا نَظَرُوْا اِلَيْهِ كَاَنَّهُمْ اُغْرُوْا بِيْ تِلْكَ السَّاعَةَ فَلَمَّا رَاٰى مَا يَصْنَعُوْنَ اَطَافَ حَوْلَ اَعْظَمِهَا بَيْدَرًا ثَلٰثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ جَلَسَ عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ ادْعُ لَكَ اَصْحَابَكَ فَمَا زَالَ يَكِيْلُ لَهُمْ حَتّٰى اَدَّى اللّٰهُ عَنْ وَّالِدِيْ اَمَانَتَهُ وَ اَنَا اَرْضٰى اَنْ يُّؤَدِّيَ اللّٰهُ اَمَانَةَ وَالِدِيْ

۹۸ : احمد بن شريح. عبيدالله بن موسي. شيبان. فراس بن يحيي. شعبي نه روايت کوي' هغهٔ اووې' حضرت جابر بن عبداللّٰهؓ بيان اوکهٔ' ځما پلار ذَ اُحد په ورځ شهيد شولو' هغهٔ قرضدارې وو' او شپږ کم عمره لونړه ترې پاتې شوې. څهٔ وخت چه ذَ قجورو شوکولو وخت راغې' نو زهٔ ذَ حضور اکرم صلي الله عليه وسلم خدمت کښې حاضر شوم' عرض ﻡ اوکه' يا رسول اللّٰه' تاسو ته معلومه ده' ځما پلار ذَ اُحد غزا کښې شهيد شوې دې' او ډير قرض پرې پاتې شوې دې' او ځما دا خواهش دې چه تاسو تشريف راوړئ' چه قرض خواه تاسو اووينې حضورؐ ورته اوفرمائيل' ښهٔ ده' صباله تهٔ باغ ته لاړ شه' او د قجورو جدا جدا ډهيري جوړ کړه' نو ما دغسې اوکړل' خو قرض خواهانو چه حضورؐ اوليدلو نو زيات ضد ئې شروع کړلو. حضورؐ چه ذَ هغوي دا حالت اوليدلو' نو د يو لوئې ډهيري نه ئې درې چکرونه اولړول' او کيناستلو. بيائې اوفرمائيل قرض خواه راوغواړه. بيائې هغوي ته په ناپ ورکولو تردې چه اللّٰه تعالي ځما ذَ پلار قرضه بې باکه کړله' او ما دا غوښتل' چه هر څنګه وي' دا قرض ادا شي' خواه ځما ذَ خويندو ذَ پاره يوه دانه قجوره هم پاتې نشي. اللّٰه تعالي ټول ډهيرونه بچ کړل. په کوم ډهير چه رسالت مېب صلي

وَلَا اَرْجِعَ اِلَى اَخَوَاتِيْ بِتَمْرَةٍ فَسَلَّمَ اللّٰهُ الْبَيَادِرَ كُلَّهَا وَ حَتّٰى اَنِّيْ اَنْظُرُ اِلَى الْبَيْدَرِ الَّذِيْ كَانَ عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَاَنَّهَا لَمْ تَنْقُصْ تَمْرَةً وَّاحِدَةً.

اللّٰه عليه وسلّم ناست وو، ما هغے ته كتل، او ماته داسے معلوميده، چه د هغے نه يوه قجوره هم كمه شوے نه ده، دا ذ حضور صلي الله عليه وسلّم بركت او معجزه وه، (داسے واقعات ذ حضور صلي الله عليه وسلّم ذ نبوت د دلائيلو نه دي).

۹۹ : حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيْزِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا اِبْرٰهِيْمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ عَنْ سَعْدِ بْنِ اَبِيْ وَقَّاصٍ قَالَ رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ اُحُدٍ وَّ مَعَهٗ رَجُلَانِ يُقَاتِلَانِ عَنْهُ عَلَيْهِمَا ثِيَابٌ بِيْضٌ كَاَشَدِّ الْقِتَالِ مَا رَاَيْتُهُمَا قَبْلُ وَلَا بَعْدُ.

۹۹ : عبدالعزيز بن عبدالله. ابراهيم بن سعد. د خپل پلار سعد بن ابراهيم او نيكهٔ (دادا) عبدالرحمن بن عوف. سعد بن ابي وقاصؓ نه روايت كوي، هغهٔ اووے، ما ذ اُحد په ورځ حضور صلي الله عليه وسلّم اوليدلو چه حضورؐ سره دوه سپين لباس واله سړي دي چه ذ رسول اللّٰه صلي الله عليه وسلّم حمايت كښ ډيرے مستعدي سره جنګيدل، ما هغوي ذ دے نه مخكښ او ورستو هيڅ كله نهٔ وو ليدلے.

۱۰۰ : حَدَّثَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ مُعَاوِيَةَ حَدَّثَنَا هَاشِمٌ السَّعْدِيُّ قَالَ سَمِعْتُ سَعِيْدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ يَقُوْلُ سَمِعْتُ سَعْدَ بْنَ اَبِيْ وَقَّاصٍ يَّقُوْلُ نَثَلَ لِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كِنَانَتَهٗ يَوْمَ اُحُدٍ فَقَالَ ارْمِ فِدَاكَ اَبِيْ وَ اُمِّيْ.

۱۰۰ : عبدالله بن محمد. مروان بن معاويه. هاشم بن هاشم سعدي. سعيد بن مسيب. حضرت سعد بن ابي وقاصؓ نه روايت كوي، هغهٔ اووے، ذ اُحد په ورځ رسول اكرم صلي اللّٰه عليه وسلّم ماته ذ خپل تركش نه تيرونه راوښكل، اووے فرمانيل. اے سعده، غشے چلوه، په تادے خما مور پلار قربان وي.

**ف**: تركش: تيردان. ذ تيرونو ايښودو خائے. ذ تيرونو ايښودو خانه.

۱۰۱ : حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيٰى عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيْدٍ قَالَ سَمِعْتُ سَعِيْدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ قَالَ سَمِعْتُ سَعْدًا يَّقُوْلُ جَمَعَ لِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَبَوَيْهِ يَوْمَ

۱۰۱ : مسدد بن سريد. يحيٰي بن سعيد انصاري. سعيد بن مسيب. سعد بن ابي وقاص نه روايت كوي، هغهٔ وئيلے، حضور صلي الله عليه وسلّم خما ذ پاره ذ اُحد په ورځ خپل مور پلار جمع كړل، وے فرمائيل (فداک ابي و امي) يعني خما مور پلار دے په تا قربان

أُحُدٍ.

وي.

۱۰۲ : حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا لَيْثٌ عَنْ يَحْيَى عَنِ ابْنِ الْمُسَيَّبِ اَنَّهُ قَالَ قَالَ سَعْدُ ابْنُ اَبِيْ وَقَّاصٍ لَقَدْ جَمَعَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ اُحُدٍ اَبَوَيْهِ كِلَيْهِمَا يُرِيْدُ حِيْنَ قَالَ فِدَاكَ اَبِيْ وَ اُمِّيْ وَهُوَ يُقَاتِلُ.

۱۰۲ : قتیبه. لیث. یحیٰي. ابن مسیب. حضرت سعد بن ابي وقاص نه روایت کوي، هغهٔ اووے، حضور اکرم صلي الله علیه وسلّم ما د پاره دَ اُحد په ورځ خپل مور پلار دواړه جمع کړل، دَ سعد مطلب دا وو، ما غزا کوله، دغه وخت حضور صلي اللّٰه علیه وسلّم اوفرمائیل، خما مور پلار دې په تا قربان وي.

۱۰۳ : حَدَّثَنَا اَبُوْ نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا مِسْعَرٌ عَنْ سَعْدٍ عَنِ ابْنِ شَدَّادٍ قَالَ سَمِعْتُ عَلِيًّا يَّقُوْلُ مَا سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْمَعُ اَبَوَيْهِ لِاَحَدٍ غَيْرَ سَعْدٍ.

۱۰۳ : ابو نعیم. مسعر بن کدام. سعد بن ابراهیم. عبداللّٰه بن شداد. حضرت عليؓ نه روایت کوي، هغهٔ اوفرمائیل، ما نهٔ دي آوریدلے چه حضور صلي اللّٰه علیه وسلّم دَ سعد نه سوا دَ بل چا په حق کښ داسے فرمائیلے دي، چه خما مور پلار دے په تا قربان وي.

۱۰۴ : حَدَّثَنَا بُسْرَةُ بْنُ صَفْوَانَ حَدَّثَنَا اِبْرَاهِيْمُ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ شَدَّادٍ عَنْ عَلِيٍّ قَالَ مَا سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَمَعَ اَبَوَيْهِ لِاَحَدٍ اِلَّا لِسَعْدِ بْنِ مَالِكٍ فَاِنِّيْ سَمِعْتُهُ يَقُوْلُ يَوْمَ اُحُدٍ يَا سَعْدُ ارْمِ فِدَاكَ اَبِيْ وَ اُمِّيْ.

۱۰۴ : یسره بن صفوان. ابراهیم بن سعد. هغه دَ خپل پلار نه. هغهٔ دَ عبداللّٰه بن شداد نه. هغه دَ حضرت عليؓ نه روایت کوي، هغهٔ اوفرمائیل، مانهٔ دي آوریدلے چه رسول اللّٰه صلي اللّٰه علیه وسلّم چا دَ پاره دَ خپل مور پلار تصدّق کړے وي سوا دَ سعد بن مالک نه چه دَ اُحد په ورځ ما واوریدل، حضورؐ اوفرمائیل، سعد، تیر چلوه، خما مور پلار دے په تا صدقه (قربان) وي.

۱۰۵ : حَدَّثَنَا مُوْسَى ابْنُ اِسْمٰعِيْلَ عَنْ مُعْتَمِرٍ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ زَعَمَ اَبُوْ عُثْمَانَ اَنَّهُ لَمْ يَبْقَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ بَعْضِ تِلْكَ الْاَيَّامِ الَّتِيْ يُقَاتِلُ

۱۰۵ : موسٰي بن اسماعیل. معتمر. دَ خپل پلار نه روایت کوي، هغهٔ اووے، ابو عثمان نهدي ونیلے، یو جنګ کښ چه هغے کښ حضور صلي اللّٰه علیه وسلّم اوجنګیدلو (یعني دَ اُحد په ورځ) حضورؐ سره دَ طلحه بن عبیداللّٰه او سعد بن وقاص نه سوا بل څوک پاتے نه

فِيهِنَّ غَيْرُ طَلْحَةَ وَ سَعْدٌ عَنْ حَدِيثِهِمَا.

شو. ابو عثمان دا خبره طلحه او سعد نه واوريده او بيان ئې كړله.

۱۰۶: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ اَبِي الْاَسْوَدِ حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ اِسْمٰعِيْلَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يُوْسُفَ قَالَ سَمِعْتُ السَّائِبَ بْنَ يَزِيْدَ قَالَ صَحِبْتُ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ عَوْفٍ وَّ طَلْحَةَ بْنَ عُبَيْدِ اللّٰهِ وَالْمِقْدَادَ وَ سَعْدًا فَمَا سَمِعْتُ اَحَدًا مِنْهُمْ يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلَّا اَنِّيْ سَمِعْتُ طَلْحَةَ يُحَدِّثُ عَنْ يَوْمِ اُحُدٍ.

۱۰۶: عبدالله بن ابي اسود. حاتم بن اسمٰعيل. محمد بن يوسف. حضرت سائب بن يزيد نه روايت كوي، هغهٔ اووئ، زهٔ عبدالرحمن بن عوف او طلحه بن عبيدالله، مقداد بن اسود او سعد بن ابي وقاصؓ صحبت كښې پاتې شوے يم ما هغوي كښې ذ يو نه هم ذ حضور صلي الله عليه وسلّم حديث بيانول نهٔ دي آوريدلے البته ذ طلحهؓ نه م ذ جنګ اُحد واقعه بيانول آوريدلے دي.

۱۰۷: حَدَّثَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ اَبِيْ شَيْبَةَ حَدَّثَنَا وَكِيْعٌ عَنْ اِسْمٰعِيْلَ عَنْ قَيْسٍ قَالَ رَاَيْتُ يَدَ طَلْحَةَ شَلَّاءَ وَقٰى بِهَا النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ اُحُدٍ.

۱۰۷: عبدالله بن ابي شيبه. وكيع بن جراح. اسمٰعيل بن ابي خالد. قيس بن ابي حازم نه روايت كوي، هغهٔ اووے، ذ طلحه يو لاس شل شوے وو، خكه چه هغه ذ اُحد په ورځ په دغه لاس رسول اكرم صلي الله عليه وسلّم بچ كولو.

۱۰۸: حَدَّثَنَا اَبُوْ مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيْزِ عَنْ اَنَسٍؓ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ اُحُدٍ انْهَزَمَ النَّاسُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ اَبُوْ طَلْحَةَ بَيْنَ يَدَيِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُجَوِّبٌ عَلَيْهِ بِحَجَفَةٍ لَّهٗ وَ كَانَ اَبُوْ طَلْحَةَ رَجُلًا رَّامِيًا شَدِيْدَا النَّزْعِ كَسَرَ يَوْمَئِذٍ قَوْسَيْنِ اَوْ ثَلٰثًا وَّ كَانَ الرَّجُلُ يَمُرُّ مَعَهٗ بِجَعْبَةٍ مِنَ النَّبْلِ فَيَقُوْلُ انْثُرْهَا

۱۰۸: ابو معمر. عبدالوارث. عبدالعزيز. حضرت انسؓ نه روايت كوي، ذ اُحد ورځ چه راغله، نو خلقو حضور صلي الله عليه وسلّم پريښودلو، او اوتښتيدل، خو ابو طلحهؓ ذ رسول الله صلي الله عليه وسلّم ذ حفاظت ذ پاره خپل ډهال نيولے ولاړ وو. ابو طلحهؓ لوئے تير انداز او كماندار وو. هغه په دغه ورځ دوه لينده (كمان) ماتے كړے. كوم مسلمان چه به ذ تيرونو تركش سره تيريدلو، نو حضور اكرم صلي الله عليه وسلّم به هغهٔ ته فرمائيل. دا تير ذ ابو طلحه مخے ته كيږده. رسول الله صلي الله عليه وسلّم چه به سر

لِاَبِيْ طَلْحَةَ قَالَ وَ يُشْرِفُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْظُرُ اِلَى الْقَوْمِ فَيَقُوْلُ اَبُوْ طَلْحَةَ بِاَبِيْ اَنْتَ وَ اُمِّيْ لَا تُشْرِفْ يُصِيْبُكَ سَهْمٌ مِّنْ سِهَامِ الْقَوْمِ نَحْرِيْ دُوْنَ نَحْرِكَ وَلَقَدْ رَاَيْتُ عَائِشَةَ بِنْتَ اَبِيْ بَكْرٍ وَّ اُمَّ سُلَيْمٍ وَ اِنَّهُمَا لَمُشَمِّرَتَانِ اَرٰى خَدَمَ سُوْقِهِمَا تَنْقُزَانِ الْقِرَبَ عَلٰى مُتُوْنِهِمَا تُفْرِغَانِهٖ فِيْ اَفْوَاهِ الْقَوْمِ ثُمَّ تَرْجِعَانِ فَتَمْلَاٰنِهَا ثُمَّ تَجِيْئَآنِ فَتُفْرِغَانِهٖ فِيْ اَفْوَاهِ الْقَوْمِ وَلَقَدْ وَقَعَ السَّيْفُ مِنْ يَدَىْ اَبِيْ طَلْحَةَ اِمَّا مَرَّتَيْنِ وَ اِمَّا ثَلٰثًا.

مبارک اوچت کړلو، او کافر به ئے کتل، نو ابو طلحه به عرض کولو، یا رسول اللّٰه، خما مور پلار دې په تاسو قربان وي، خپل سر مهٔ اوچتوئے، چرته داسے نه وي چه غشے درته اولږي، که خما په مرئ (ګلے) اولږي نو څهٔ حرج نشته، ځکه چه خما غاړه ستاسو په غاړه قربان ده. حضرت انسؓ وائي، ما په دغه ورځ بي بي عائشهؓ او خپله مور اُم سلیم اُولیدے چه کپړے ئے اوچتے کړے وے، دَ اوبو ډک مشکونه به ئے راوړل او په سرو به ئے څکول، بیا به هغوي واپس کیدلے، او ډک مشکونه به ئے راوړل، او دَ خلقو یعني (زخمیانو) په خوله کښ به ئے اوبه اچولے. دَ هغوي دَ پښو پازیب ښکاریدل. او بیا داسے اوشو، چه دَ حضرت ابو طلحهؓ لاس نه دوه یا درے خله توره اوغرځیدله.

۱۰۹ : حَدَّثَنِيْ عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ سَعِيْدٍ حَدَّثَنَا اَبُوْ اُسَامَةَ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ عَائِشَةَؓ قَالَتْ لَمَّا كَانَ يَوْمُ اُحُدٍ هُزِمَ الْمُشْرِكُوْنَ فَصَرَخَ اِبْلِيْسُ لَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَيْهِ اَىْ عِبَادَ اللّٰهِ اُخْرَاكُمْ فَرَجَعَتْ اُوْلَاهُمْ فَاجْتَلَدَتْ هِيَ اُخْرَاهُمْ فَبَصُرَ حُذَيْفَةُ فَاِذَا هُوَ بِاَبِيْهِ الْيَمَانِ فَقَالَ اَىْ عِبَادَ اللّٰهِ اَبِيْ قَالَتْ فَوَاللّٰهِ مَا احْتَجَزُوْا حَتّٰى قَتَلُوْهُ فَقَالَ حُذَيْفَةُ يَغْفِرُ اللّٰهُ لَكُمْ قَالَ عُرْوَةُ فَوَاللّٰهِ مَا زَالَتْ فِيْ حُذَيْفَةَؓ بَقِيَّةُ خَيْرٍ حَتّٰى لَحِقَ بِاللّٰهِ بَصُرْتُ عَلِمْتُ مِنَ

۱۰۹ : عبیداللّٰه بن سعید. ابو اسامه. هشام بن عروه دَ خپل پلار عروه نه، هغه دَ بي بي عائشےؓ نه روایت کوي، دَ اُحد په ورځ چه مشرکینو ته په ورمبني ځل شکست اوشو، نو شیطان آواز ورکهٔ اے دَ اللّٰه بندیانو، ستاسو، د، ورستو نه یو جماعت راروان دے!، دَ هغے نه خان بچ کړئے. دے آوریدو سره خلق راپه شاشو. دے کښ ئے اولیدل، چه دَ حذیفه پلار یمان باندے مسلمانان رامات دي، وژني ئے، نو حذیفه په اوچت آواز کښ اووے اے دَ اللّٰه بندیانو دا خو خما پلار دے. عروه وائي، بي بي عائشهؓ فرمائي، په خدائے مِ دے قسم وي، هغوي اونهٔ منله، تردے چه یمان ئے قتل کړلو. حذیفه اووے. خدائے دے تاسو اوبښي. عروه وائي په خدائے چه حذیفه دَ خپل آخر وخته پورے هغوي دَ پاره دَ مغفرت

الْبَصِيْرَةِ فِيْ الْاَمْرِ وَ اَبْصَرْتُ مِنْ بَصَرِ الْعَيْنِ وَ يُقَالُ بَصُرْتُ وَ اَبْصَرْتُ وَاحِدٌ.

دُعا كوله. امام بخاريؒ وائي. بصرتُ ذ بصيرت نه دے. يعني ما اوپيژند. او ابصرت معني ما ستر ګو سره اوليدو. بعضو اووے چه ذ بصرت او ابصرت يوه معني ده.

۱. ګويا كوم جماعت چه دوئ پسے دے هغه ذ كافرانو دے او په دوئ باندے حمله كول غواړي. مسلمانانو ته غلط فهمي اوشوه او هغوئ دغه آواز د خپل يو امير اوګڼړلو او په روستنو خلقونے حمله اوكړه حالانكه هغوئ پسے هم مسلمانان وو، په دغه شان مسلمانان په خپلو كښے اونختل او مسلمانانو مسلمانان قتل كړل.

## بـاب ۱۹ : قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى اِنَّ الَّذِيْنَ تَوَلَّوْا مِنْكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ اِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطٰنُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوْا وَلَقَدْ عَفَا اللّٰهُ عَنْهُمْ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ.

باب ۱۹ : آيت: اِنَّ الَّذِيْنَ تَوَلَّوْا مِنْكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعٰنِ: ذ تبنتيدونكو په بيان كښ، لكه چه اللّٰه تعالي اوفرمائيل، چه دوه ډلے سره په جنګ شوے. شيطان هغوي ذ بعضو اعمالو په وجه په پرپنجه كړل، او بيشكه اللّٰه ذ هغوي قصور معاف كړے دے، ځكه چه اللّٰه تعالي ببنونكے او ذ تحمل خاوند دے.

۱۱۰ : حَدَّثَنَا عَبْدَانُ اَخْبَرَنَا اَبُوْ حَمْزَةَ عَنْ عُثْمَانَ بْنِ مَوْهَبٍ قَالَ جَآءَ رَجُلٌ حَجَّ الْبَيْتَ فَرَاٰى قَوْمًا جُلُوْسًا فَقَالَ مَنْ هٰؤُلَآءِ الْقُعُوْدُ قَالُوْا هٰؤُلَآءِ قُرَيْشٌ قَالَ مَنِ الشَّيْخُ قَالُوا ابْنُ عُمَرَ فَاَتَاهُ فَقَالَ اِنِّيْ سَائِلُكَ عَنْ شَيْءٍ اَتُحَدِّثُنِيْ قَالَ اَنْشُدُكَ بِحُرْمَةِ هٰذَا الْبَيْتِ اَتَعْلَمُ اَنَّ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ فَرَّ يَوْمَ اُحُدٍ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَتَعْلَمُهُ تَغَيَّبَ عَنْ بَدْرٍ فَلَمْ يَشْهَدْهَا قَالَ نَعَمْ قَالَ فَتَعْلَمُ اَنَّهُ تَخَلَّفَ عَنْ بَيْعَةِ الرِّضْوَانِ فَلَمْ يَشْهَدْهَا قَالَ نَعَمْ قَالَ فَكَبَّرَ

۱۱۰ : عبدان. ابو حمزه. عثمان بن موهب نه روايت كوي، هغهٔ اووے، يو سړے (يزيد بن بشر) ذ بيت اللّٰه ذ حج په اراده راغے، څنے نور خلق ئے هلته ناست اوليدل، تپوس ئے اوكهٔ، دا څوک دي، جواب وركړے شو. دا قريش دي، هغهٔ پښتنه اوكړه. دا ضعيف العمر څوک دے، ورته اوونيلے شو، دا ابن عمرؓ دے، نو هغه حضرت ابن عمرؓ ته قريب راغے، او وے ونيل، زهٔ تاسونه څهٔ تپوس كول غواړم، بيا هغهٔ اووے، د دے مكان په حرمت مِ دے قسم وي، آيا عثمان بن عفان د اُحد په ورځ تبنتيدلے وو. ابن عمرؓ ورته اووے، او، بيا هغهٔ اووے، آيا تاسو ته معلومه ده، چه عثمان جنګ بدر نه غير حاضر وو، هغهٔ ورته اووے، او، بيا هغهٔ اووے، آيا تاسو ته معلومه ده، چه عثمان ذ بيعت رضوان نه هم محروم وو، هغهٔ ورته اووے، او. هغه وخت سائل اللّٰه اكبر اووے، نو ابن عمرؓ

قَالَ ابْنُ عُمَرَ تَعَالَ لِأُخْبِرَكَ وَلِأُبَيِّنَ لَكَ عَمَّا سَأَلْتَنِي عَنْهُ أَمَّا فِرَارُهُ يَوْمَ أُحُدٍ فَأَشْهَدُ أَنَّ اللَّهَ عَفَا عَنْهُ وَ أَمَّا تَغَيُّبُهُ عَنْ بَدْرٍ فَإِنَّهُ كَانَتْ تَحْتَهُ بِنْتُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ كَانَتْ مَرِيضَةً فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لَكَ أَجْرَ رَجُلٍ مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا وَ سَهْمَهُ وَ أَمَّا تَغَيُّبُهُ عَنْ بَيْعَةِ الرِّضْوَانِ فَإِنَّهُ لَوْ كَانَ أَحَدٌ أَعَزَّ بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ لَبَعَثَهُ مَكَانَهُ فَبَعَثَ عُثْمَانَ وَ كَانَ بَيْعَةُ الرِّضْوَانِ بَعْدَ مَا ذَهَبَ عُثْمَانُ إِلَى مَكَّةَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ الْيُمْنَى هَٰذِهِ يَدُ عُثْمَانَ فَضَرَبَ بِهَا عَلَى يَدِهِ فَقَالَ هَٰذِهِ لِعُثْمَانَ اذْهَبْ بِهَٰذَا الْآنَ مَعَكَ.

ورته اوفرمائيل' راځه چه زۀ درته ذ دے تپوسونو حقيقت اوښايم. زه ګواهي کوم چه ذ اُحد په ورځ ذ تښتيدو قصور خو الله تعالٰي معاف کړلوا' ځنګه چه ذ ذکر شوي آيت نه ظاهره ده. او جنګ بدر کښې ذ غير حاضري وجه نے دا وه' چه ذ حضور صلي الله عليه وسلّم لور بي بي رقيهؓ ناروغه وه' حضورؐ هغۀ ته اوفرمائيل ته ذ هغے علاج معالجه کوه. ليکن ثواب تاته هم دومره رسي' څومره چه غزا کښې شريکيدونکو ته رسي. او ذ مال غنيمت نه به هم حصه بيامومے' او بيعت رضوان کښې ذ نۀ شريکيدو وجه دا وه' چه ذ هغۀ (عثمان) په مکه والو لوئے اثر وو' حضورؐ هغه مکه والو ته ذ هغوي ذ پوهيولو د پاره اوليږلو' او بيا ذ هغۀ غير موجودګي کښې بيعت واقع شولو' حضورؐ خپل ښے لاس په خپل ګس لاس کيښودلو' اووے فرمائيل' دا ذ عثمان لاس دے' حضرت ابن عمرؓ اعرابي ته اووے. اے اعرابي (بانډيسيه) دا خبرے ياد ساته' او ذ حضرت عثمانؓ بن عفان په بزرګئ او شرافت کښې شک مۀ کوه.

۱. د غزوه اُحد په موقعه باندے په عامو مسلمانانو کښے د ناڅاپه او غير متوقع حملے په وجے سره ويره او دهشت خور شو. او ذ ير څو صحابو نه سوا ټول حضرات خوارۀ شوي وو. حضور اکرم صلي الله عليه وسلّم په خپل ځائے باندے ولاړ وو' د ير دوز صحابو سره. د کومو ذکر چه په همدے احاديثو کښے پورته تير شو هغوی د کفارو د ټولو حملو مقابله په ډيرځ مړانے سره کوله' لږ ساعت پس حضورؐ اصحابو ته آواز اوکړلو. او بيا ټول اصحاب راجمع شول. الله تعالٰي د صحابۀ دا غلطي معاف کړے وه او په قرآن مجيد کښے ئے د خپلے معافئ پخپله اعلان اوکړو. اکثر صحابهٔ خوارۀ شوي وو' او په هغوئ کښے عثمان رضي الله عنه هم وو' اګرچه مسلمانانوته په دے غزا کښے ډير نقصان رسيدلے وو ليکن دا نشي ويلے کيدے چه مسلمانانو په غزوه اُحد کښے شکست خوړلے وو. ولے چه نه خو مسلمانانو وسله غورزولے وه او نه ذ هغوئ قائد يعني حضور صلي الله عليه وسلّم ذ جنګ ميدان پريښے وو. ذ شکست او فتحے مدار کماندر سره د فوځ په ماتي باندے وي' په فوځ يعني اصحابو رضوان الله عليهم اجمعين کښے اګرچه لږ ساعت د پاره انتشار پيدا شوے وو ليکن بيا دا ټول حضرات زر تر زره ميدان ته راغلي وو. داسے هم نه وه

شوے چه صحابه رضي الله عنهم ميدان پريښے وي بلکه د يو غير متوقع صورتحال په وجه ويره او په صفونو کښے انتشار پيدا شوے وو، ګويا دافراتفرئ يو صورت وو، خو چه کله د الله پيغمبر هغوئ ته آواز او کړو نو هغوئ سمدستي په هوش کښے شول او بيا راغلل د حضور ﷺ څلور وارو طرفونو ته راجمع شول.

**باب ۲۰: إِذْ تُصْعِدُونَ وَلَا تَلْوُونَ عَلَىٰ أَحَدٍ وَالرَّسُولُ يَدْعُوكُمْ فِي أُخْرَاكُمْ فَأَثَابَكُمْ غَمًّا بِغَمٍّ لِّكَيْلَا تَحْزَنُوا عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا مَا أَصَابَكُمْ وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ۝ تُصْعِدُونَ تَذْهَبُونَ أَصْعَدَ وَصَعِدَ فَوْقَ الْبَيْتِ.**

**باب ۲۰:** آيت: إِذْ تُصْعِدُونَ وَلَا تَلْوُونَ عَلَىٰ أَحَدٍ: ذَ صبر او استقلال په بيان کښ، لکه چه الله تعالي اوفرمائيل: چه کوم وخت تاسو تښتيدئے، او چاته مو کتل نه، او رسول الله تاسو ذَ شا طرف نه بللئے، خو تاسو په ورستو نه کتل. آخر ما تاسوهم رنجيده کړئے، او ذ غم ذَ پاسه غم درته اورسيد. او دے کښ دا حکمت هم وو، چه هر کله تاسونه څهٔ څيز لاړ شي يا مصيبت راشي، نو خفګان مهٔ کوئے، بلکه ذ صبر نه کار آخلئے، او الله ستاسو ذ کارونو نه خبر دے. امام بخاري وائي. دے آيت کښ ذ تصعدون معني تذهبون دي يعني تلل. ذ صعد فوق البيت: کور ذ پاسه اوختلو.

**۱۱۱: حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ قَالَ جَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الرَّجَّالَةِ يَوْمَ أُحُدٍ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ جُبَيْرٍ وَأَقْبَلُوا مُنْهَزِمِينَ فَذَاكَ إِذْ يَدْعُوهُمُ الرَّسُولُ فِي أُخْرَاهُمْ.**

**۱۱۱:** عمرو بن خالد. زهير. ابو اسحاق. حضرت براء بن عازب نه روايت کوي، ما ذ هغهٔ نه واوريدل، رسول الله صلي الله عليه وسلّم ذ اُحد په ورځ ذ پياده لښکر سردار حضرت عبدالله بن جبير مقرر کړلو، نو ټول لښکر مدينے طرف ته په تيښته شو او حضور صلي الله عليه وسلّم هغوي پسے نعرے وهلے، نو دے سلسله کښ دا آيت نازل شولو: والرسول يدعوكم في اخراكم.

**باب ۲۱: ثُمَّ أَنزَلَ عَلَيْكُم مِّن بَعْدِ الْغَمِّ أَمَنَةً نُّعَاسًا يَغْشَىٰ طَائِفَةً مِّنكُمْ وَطَائِفَةٌ قَدْ أَهَمَّتْهُمْ أَنفُسُهُمْ يَظُنُّونَ**

**باب ۲۱:** ثُمَّ أَنزَلَ عَلَيْكُم مِّن بَعْدِ الْغَمِّ أَمَنَةً نُّعَاسًا، الله پاک فرمائي، الله ذَ غم نه پس بيا ذَ آمن پر کالي راواسته، چه تاسو کښ په يو جماعت راغله، او بعضو سره هغه وخت هم ذ خپل خان فکر لريدلے وو، او هغوي ذ الله

بِاللّٰهِ غَيْرَ الْحَقِّ ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ يَقُوْلُوْنَ هَلْ لَنَا مِنَ الْاَمْرِ مِنْ شَيْءٍ قُلْ اِنَّ الْاَمْرَ كُلَّهُ لِلّٰهِ يُخْفُوْنَ فِيْ اَنْفُسِهِمْ مَّا لَا يُبْدُوْنَ لَكَ يَقُوْلُوْنَ لَوْ كَانَ لَنَا مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ مَّا قُتِلْنَا هٰهُنَا قُلْ لَّوْ كُنْتُمْ فِيْ بُيُوْتِكُمْ لَبَرَزَ الَّذِيْنَ كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقَتْلُ اِلٰى مَضَاجِعِهِمْ وَ لِيَبْتَلِيَ اللّٰهُ مَا فِيْ صُدُوْرِكُمْ وَلِيُمَحِّصَ مَا فِيْ قُلُوْبِكُمْ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ وَ قَالَ لِيْ خَلِيْفَةُ حَدَّثَنَا يَزِيْدُ بْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا سَعِيْدٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ اَنَسٍ عَنْ اَبِيْ طَلْحَةَ قَالَ كُنْتُ فِيْمَنْ تَغَشَّاهُ النُّعَاسُ يَوْمَ اُحُدٍ حَتّٰى سَقَطَ سَيْفِيْ مِنْ يَدِيْ مِرَارًا يَسْقُطُ وَ اٰخُذُهُ وَ يَسْقُطُ فَاٰخُذُهُ.

تعالٰي متعلق د جاهليت په شان ګمان کولو. او ويل ئې، خمونږ د پاره په دې کار کښې هغه بهتري کوم خائې ده، چه د هغې وعده شوې وه. اے محمد صلي الله عليه وسلّم ورته اووايه، هر کار د الله په اختيار کښې دے. دا منافقان زړه کښې هغه څه پټوي، چه ظاهره وي ئې نه، او وائي، که فتح او نصرت خمونږ وے، نو مونږ به ولے وژلے کيدو. اے محمد صلي الله عليه وسلّم ورته اووايه که تاسو خپلو کورونو کښې وے، نو بيا هم د چا قسمت کښې چه وژل ليکلے شوے وو، هغوي به څه نه څه شکل کښې خپل قتل ګاه ته راتلے. دے جنګ کښې دا حکمت هم وو، چه اللّٰه تعالٰي ته ستاسو د زړونو آزمائيل او ستاسو د زړه خيالات صاف کول منظور وو، او الله تعالٰي د زړونو خبرے ښے پيژني. خليفه بن خياط يزيد بن زريع، سعيد، قتاده، حضرت انسؓ، حضرت ابو طلحهؓ نه روايت کوي، هغه اووے، زه هم دغې خلقو کښې شامل ووم چه په هغوي د اُحد په ورځ پر کالي راغلے وه. په ما داسے پر کالي راغله، چه څو خله خما د لاس نه توره اُوغرځيدله، هغه به غرځيدله او ما به اوچتوله.

## بَابٌ ٢٢: لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ اَوْ يَتُوْبَ عَلَيْهِمْ اَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَاِنَّهُمْ ظٰلِمُوْنَ

قَالَ حُمَيْدٌ وَ ثَابِتٌ عَنْ اَنَسٍ شُجَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ اُحُدٍ فَقَالَ كَيْفَ يُفْلِحُ قَوْمٌ شَجُّوْا نَبِيَّهُمْ

**باب ٢٢:** آيت: لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ: الله تعالٰي فرمائيلے دي، اے محمد (صلعم) ستا اختيار کښې هيڅ نشته، د الله تعالٰي اختيار دے، که غواړي، نو هغوي به معاف کړي، او که غواړي نو هغوي به عذاب کښې آخته کړي، ځکه چه هغوي ظالمان دي. حميد او ثابت بناني، حضرت انس نه روايت کوي، د اُحد په ورځ د حضور صلي الله عليه وسلّم سر مبارک زخمي شولو. دغه وخت حضورؐ ارشاد اوفرمائيلو، هغه قوم به څه ترقي

فَنَزَلَتْ لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ.

او فلاح بیامومي' چه هغوي خپل پیغمبر زخمي کړی نو هغه وخت دغه آیت نازل شولو.

۴۱۱۲: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ السُّلَمِيُّ اَخْبَرَنَا عَبْدُ اللّٰهِ اَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ حَدَّثَنِيْ سَالِمٌ عَنْ اَبِيْهِ اَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا رَفَعَ رَاْسَهُ مِنَ الرُّكُوْعِ مِنَ الرَّكْعَةِ الْاٰخِرَةِ مِنَ الْفَجْرِ يَقُوْلُ اللّٰهُمَّ الْعَنْ فُلَانًا وَّ فُلَانًا وَّ فُلَانًا بَعْدَ مَا يَقُوْلُ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ رَبَّنَا وَ لَكَ الْحَمْدُ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ اِلٰى قَوْلِهٖ فَاِنَّهُمْ ظٰلِمُوْنَ وَ عَنْ حَنْظَلَةَ بْنِ اَبِيْ سُفْيَانَ سَمِعْتُ سَالِمَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ يَقُوْلُ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُوْا عَلٰى صَفْوَانَ بْنِ اُمَيَّةَ وَ سُهَيْلِ بْنِ عَمْرٍو وَّ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ فَنَزَلَتْ لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ اِلٰى قَوْلِهٖ فَاِنَّهُمْ ظٰلِمُوْنَ.

۴۱۱۲: یحیی بن عبداللّٰه سلمي. عبداللّٰه بن مبارک. معمر بن راشد. زهري. حضرت سالم بن عبداللّٰه بن عمرؓ نه روایت کوي' خما پلار حضرت عبداللّٰه بن عمرؓ بیان کولو ما د حضور صلي اللّٰه علیه وسلّم نه واوریدل' چه کوم وخت به حضورؐ د سحر مونځ کښې د آخري رکعت د رکوع نه سر مبارک اوچتولو' نو دا دعا به ئې کوله' اے اللّٰه په فلاني فلاني او فلاني باندې لعنت اولیږې. دا دُعا به حضور د سمع اللّٰه لمن حمده ربّنا لک الحمد' وئیلو نه پس کوله. دغه وخت دا آیت: لیس لک من الامر شیْءٌ: آخر پورې نازل شولو. او عبداللّٰه بن مبارک دغې اسناد سره د حنظله بن ابي سفیان نه روایت کړې دې. هغهٔ اورې ما د سالم بن عبداللّٰه نه واوریدل' هغهٔ وئیلې' حضورؐ د اُحد په ورځ زخمي شولو' د صفوان بن امیه سهیل بن عمرو او حارث بن هشام بن مغیره د پاره ئې بددعا کوله' نو دغه وخت دا آیت: لَیْسَ لَکَ من الامر: آخر پورې نازل شولو.

## بَاب ۲۳: ذِكْرِ اُمِّ سَلِيْطٍ.

## باب ۲۳: د بي بي اُم سلیط ذکر.

۴۱۱۳: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يُوْنُسَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ وَ قَالَ ثَعْلَبَةُ بْنُ اَبِيْ مَالِكٍ اِنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِؓ قَسَمَ مُرُوْطًا بَيْنَ نِسَاءٍ مِنْ نِسَاءِ اَهْلِ الْمَدِيْنَةِ فَبَقِيَ

۴۱۱۳: یحیی بن بکیر. لیث بن سعد. یونس. ابن شهاب. ثعلبه بن ابي مالک نه روایت کوي' هغه فرمائي' حضرت عمرؓ د مدینې ښځو ته خادرونه په طور د تقسیم عنایت کړل' نو د یو ښهٔ قسم خادر بچ پاتې شو' بعضې خلقو' چه هغهٔ سره

مِنْهَا مِرْطٌ جَيِّدٌ فَقَالَ لَهُ بَعْضُ مَنْ عِنْدَهُ يَا اَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَعْطِ هٰذَا بِنْتَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّتِيْ عِنْدَكَ يُرِيْدُوْنَ اُمَّ كُلْثُوْمٍ بِنْتَ عَلِيٍّ فَقَالَ عُمَرُ اُمُّ سَلِيْطٍ اَحَقُّ بِهٖ وَ اُمُّ سَلِيْطٍ مِّنْ نِّسَآءِ الْاَنْصَارِ مِمَّنْ بَايَعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عُمَرُ فَاِنَّهَا كَانَتْ تَزْفِرُ لَنَا الْقِرَبَ يَوْمَ اُحُدٍ.

ناست وو، عرض اوکړ، اے امير المؤمنين دا څادر د حضور صلي الله عليه وسلم نوسئے ته ورکړے، چه ستاسو بي بي ده، يعني اُم کلثوم بنت عليّ ته. حضرت عمرؓ ورته اوفرمائيل، نه اُم سليط د دے زياته حقداره ده. اُم سليط د مدينے انصاريه وه، او د حضور صلي الله عليه وسلم نه ئے بيعت کړے وو، او هغے به د اُحد په ورځ د اُوبو مشک ډکولو، او مونږ له به ئے راوړلو.

## باب ۲۴: قَتْلِ حَمْزَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ.

## باب ۲۴: د حضرت امير حمزه شهادت.

۱۱۴: حَدَّثَنِيْ اَبُوْ جَعْفَرٍ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا حُجَيْنُ بْنُ الْمُثَنّٰى حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيْزِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اَبِيْ سَلَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الْفَضْلِ عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ عَنْ جَعْفَرِ بْنِ عَمْرِو بْنِ اُمَيَّةَ الضَّمْرِيِّ قَالَ خَرَجْتُ مَعَ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ عَدِيِّ بْنِ الْخِيَارِ فَلَمَّا قَدِمْنَا حِمْصَ قَالَ لِيْ عُبَيْدُ اللّٰهِ هَلْ لَكَ فِيْ وَحْشِيٍّ نَسْاَلُهُ عَنْ قَتْلِ حَمْزَةَ قُلْتُ نَعَمْ وَ كَانَ وَحْشِيٌّ يَسْكُنُ حِمْصَ فَسَاَلْنَا عَنْهُ فَقِيْلَ لَنَا هُوَ ذَاكَ فِيْ ظِلِّ قَصْرِهٖ كَاَنَّهُ حَمِيْتٌ قَالَ فَجِئْنَا حَتّٰى وَقَفْنَا عَلَيْهِ بِيَسِيْرٍ فَسَلَّمْنَا فَرَدَّ السَّلَامَ قَالَ وَ عُبَيْدُ اللّٰهِ مُعْتَجِرٌ

۱۱۴: ابو جعفر محمد بن عبدالله بن مبارک. حجين بن مثني. عبدالعزيز بن عبدالله بن ابي سلمه. عبدالله بن فضيل. سليمان بن يسار. جعفر بن عمرو بن اميه ضمري نه روايت کوي، هغهٔ اووے، زهٔ عبيدالله بن عدي بن خيار سره سفر د پاره اووتلم. کوم وخت چه مونږ مقام حمص ته اورسيدو. نو عبيدالله بن عدي اووے. خه چه ورشو، د حبشي بن حرب نه د حضرت حمزه د قتل د حال تپوس اوکړو. ما اووے، خه چه ورشو. وحشي حمص کښ اوسيدلو. مونږ د خلقو نه پته اولګوله، نو راته اوونيلے شو، چه ګوره هغه دے د څپل مکان د سوري لاندے د مشک په شان پړسيدلے ناست دے. جعفر وائي، مونږ وحشي ته نزدے ورغلو، او سلام مو اوکړ، هغهٔ د سلام جواب راکړ. دغه وخت عبيدالله څپل پټکے په سر داسے راتاو کړے وو، چه صرف سترګے ئے په نظر راتلے. وحشي ته د دے نه زيات هيڅ په

بِعِمَامَتِهِ مَا يَرٰى وَحْشِيٌّ اِلَّا عَيْنَيْهِ وَ
رِجْلَيْهِ فَقَالَ عُبَيْدُ اللّٰهِ يَا وَحْشِيُّ
اَتَعْرِفُنِيْ قَالَ فَنَظَرَ اِلَيْهِ ثُمَّ قَالَ لَا
وَاللّٰهِ اِلَّا اَنِّيْ اَعْلَمُ اَنَّ عَدِيَّ بْنَ
الْخِيَارِ تَزَوَّجَ امْرَاَةً يُّقَالُ لَهَا اُمُّ قِتَالِ
بِنْتُ اَبِي الْعِيْصِ فَوَلَدَتْ لَهٗ غُلَامًا
بِمَكَّةَ فَكُنْتُ اَسْتَرْضِعُ لَهٗ فَحَمَلْتُ
ذٰلِكَ الْغُلَامَ مَعَ اُمِّهٖ فَنَاوَلْتُهَا اِيَّاهُ
فَكَاَنِّيْ نَظَرْتُ اِلٰى قَدَمَيْكَ قَالَ
فَكَشَفَ عُبَيْدُ اللّٰهِ عَنْ وَّجْهِهٖ ثُمَّ قَالَ
اَلَا تُخْبِرُنَا بِقَتْلِ حَمْزَةَ قَالَ نَعَمْ اِنَّ
حَمْزَةَ قَتَلَ طُعَيْمَةَ بْنَ عَدِيِّ بْنِ
الْخِيَارِ بِبَدْرٍ فَقَالَ لِيْ مَوْلَايَ جُبَيْرُ
بْنُ مُطْعِمٍ اِنْ قَتَلْتَ حَمْزَةَ بِعَمِّيْ
فَاَنْتَ حُرٌّ قَالَ فَلَمَّا اَنْ خَرَجَ النَّاسُ
عَامَ عَيْنَيْنِ وَ عَيْنَيْنِ جَبَلٌ بِحِيَالِ
اُحُدٍ بَيْنَهٗ وَ بَيْنَهٗ وَادٍ خَرَجْتُ مَعَ
النَّاسِ اِلَى الْقِتَالِ فَلَمَّا اصْطَفُّوْا
لِلْقِتَالِ خَرَجَ سِبَاعٌ فَقَالَ هَلْ مِنْ
مُّبَارِزٍ قَالَ فَخَرَجَ اِلَيْهِ حَمْزَةُ بْنُ عَبْدِ
الْمُطَّلِبِ فَقَالَ يَا سِبَاعُ يَا ابْنَ اُمِّ
اَنْمَارٍ مُقَطِّعَةِ الْبُظُوْرِ اَتُحَادُّ اللّٰهَ وَ
رَسُوْلَهٗ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ
ثُمَّ شَدَّ عَلَيْهِ فَكَانَ كَاَمْسِ الذَّاهِبِ
قَالَ وَ كَمَنْتُ لِحَمْزَةَ تَحْتَ صَخْرَةٍ
فَلَمَّا دَنَا مِنِّيْ رَمَيْتُهٗ بِحَرْبَتِيْ فَاَضَعُهَا

نظر نه راتلل، چه هغهٔ ذ هغهٔ ستر ګي او پښي ليدلي. آخر
عبيدالله تپوس اوکړ. وحشي ما پيژنې. وحشي هغهٔ ته
اوکتل، او، وې ونيل، قسم په خدائے ماته دومره معلومه
ده، چه عدي بن خيار يوې ښځې اُم القتال بنت ابي العيص
سره وادهٔ کړے وو. ذ اُم قتال چه مکه کښې يو هلک پيدا
شو، نو ما ذ هغې بچي ذ پاره پئې ورکونکې ښځه (دائي)
کتله، چه ناساپه هغه بچے م ذ هغې مورله بوتلو، او هغه
بچے م هغې له ورکړ. ما ذ هغې دواړه پښې کتلې وې،
ګويا چه اوس هم زهٔ ذ هغې پښې ګورم. جعفر وائي چه
عبدالله ذ مخ نه پرده لرې کړه. او وحشي ته ئې اووې،
چه لږ ذ امير حمزه ذ قتل حال راته بيان کړه. وحشي
ورته اووې، خبره داده چه ذ بدر په ورځ امير حمزهٔ
طعيمه بن عدي بن خيار وژلے وو. جبير بن مطعم خما
مالک وو، ماته ئې اووې که ته حمزه خما ذ ترهٔ طعيمه په
بدل کښې اووژنې، نو تهٔ آزد، ئې، وحشي بيان اوکهٔ، چه
کوم وخت خلق ذ عينين ذ جنګ په کال اووتل، چه اُحد
ته نزدې ذ يو غر نوم دې ذ اُحد او ذ هغې مينځ کښې يوه
ناله ده دغه وخت زهٔ هم جنګيانو کښې اووتلم، ذ جنګ ذ
پاره چه صفونه درست شو، نو سباع بن عبدالعزي مخې ته
راووتلو، او وې ونيل، آيا څوک جنګ کونکې شته، نو
حمزه بن عبدالمطلب، ذ هغې مقابلې له راووتلو، او
ونيلې. اې سباع ذ ام انماره خويه، چه ښځې به ئې
سنتولې، آيا ته ذ الله او ذ هغه ذ رسول مخالفت کوې،
بيا حضرت حمزهٔ اولګيد، او سباع ئې د تيرې شوې
ورځې په شان جوړ کړلو (يعني وې وژلو) وحشي اووې،
بيا زهٔ ذ حمزه ذ قتل په فکر کښې ذ يو کاڼړي (ګټ) په

فِيْ ثُنَّتِهٖ حَتّٰى خَرَجَتْ مِنْ بَيْنِ
وَرِكَيْهِ قَالَ فَكَانَ ذَاكَ الْعَهْدُ بِهٖ فَلَمَّا
رَجَعَ النَّاسُ رَجَعْتُ مَعَهُمْ فَاَقَمْتُ
بِمَكَّةَ حَتّٰى فَشَا فِيْهَا الْاِسْلَامُ ثُمَّ
خَرَجْتُ اِلَى الطَّآئِفِ فَاَرْسَلُوْا اِلٰى
رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
رُسُلًا فَقِيْلَ لِيْ اِنَّهٗ لَا يَهِيْجُ الرُّسُلَ
قَالَ فَخَرَجْتُ مَعَهُمْ حَتّٰى قَدِمْتُ
عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ فَلَمَّا رَاٰنِيْ قَالَ اَنْتَ وَحْشِيٌّ
قُلْتُ نَعَمْ قَالَ اَنْتَ قَتَلْتَ حَمْزَةَ قُلْتُ
قَدْ كَانَ مِنَ الْاَمْرِ مَا بَلَغَكَ قَالَ فَهَلْ
تَسْتَطِيْعُ اَنْ تُغَيِّبَ وَجْهَكَ عَنِّيْ قَالَ
فَخَرَجْتُ فَلَمَّا قُبِضَ رَسُوْلُ اللّٰهِ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَرَجَ
مُسَيْلِمَةُ الْكَذَّابُ قُلْتُ لَاَخْرُجَنَّ اِلٰى
مُسَيْلِمَةَ لَعَلِّيْ اَقْتُلُهٗ فَاُكَافِئَ بِهٖ
حَمْزَةَ قَالَ فَخَرَجْتُ مَعَ النَّاسِ فَكَانَ
مِنْ اَمْرِهٖ مَا كَانَ قَالَ فَاِذَا رَجُلٌ قَآئِمٌ
فِيْ ثُلْمَةِ جِدَارٍ كَاَنَّهٗ جَمَلٌ اَوْرَقُ ثَآئِرُ
الرَّاْسِ قَالَ فَرَمَيْتُهٗ بِحَرْبَتِيْ فَاَضَعُهَا
بَيْنَ ثَدْيَيْهِ حَتّٰى خَرَجَتْ مِنْ بَيْنِ
كَتِفَيْهِ قَالَ وَوَثَبَ اِلَيْهِ رَجُلٌ مِنَ
الْاَنْصَارِ فَضَرَبَهٗ بِالسَّيْفِ عَلٰى هَامَتِهٖ
قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ الْفَضْلِ فَاَخْبَرَنِيْ
سُلَيْمَانُ بْنُ يَسَارٍ اَنَّهٗ سَمِعَ عَبْدَ اللّٰهِ

پناه كښې كيناستم، چه حمزه ماته نزدې راغې، نو ما هغه
په خپله نيزه اوويشتلو. او آخر خما نيزه ذ هغه زير ناف
داسې سخته اولګيده، چه ذ دوارو كوناټو نه اووتله.
وحشي اووې. دا ذ هغوي آخري وخت وو، چه ټول اهل
قريش مكې ته واپس راغلل نو زه هم ورسره راغلم. بيا ذ
مكې ذ فتح نه پس چه اسلام خور شولو، نو زهٔ لاړم او
طائف كښې مقيم شوم. دې نه پس طائف والو سره ذ
رسول اكرم صلي الله عليه وسلّم په خدمت كښې حاضر
شوم. حضورؐ چه زهٔ اوليدم، نو وې فرمائيل آيا تهٔ هغهٔ
وحشي يې، ما عرض اوكهٔ، جي او، حضورؐ تپوس اوكهٔ، آيا
حمزهؓ تا شهيد كړې وو، ما اووې، جي او، تاسو ته خو
ټول كيفيت معلوم دې. حضورؐ اوفرمائيل، تهٔ خپل مخ
مانه پټولې شې؟. دې خبرې آوريدو سره زهٔ بهر
راووتلم. بيا ذ رسول الله صلي الله عليه وسلّم ذ وفات نه
پس چه مسيلمه ذ نبوت دعوي اوكړله، نو ما سوچ اوكهٔ،
چه مسلمانانو سره به ذ مسيلمه ذ وژلو ذ پاره لاړ شم،
شايد د هغهٔ وژل د حمزهؓ ذ قتل كفاره اوګرځي. نو زهٔ
مسلمانانو سره ذ مسيلمه د مقابلې ذ پاره لاړم. ذ مسيلمه
خلقو چه څهٔ اوكړل، ما هغه ليدل. دې نه پس زهٔ څهٔ
ګورم، چه مسيلمه ذ يو ديوال په پناه كښې ولاړ دې، سر
نې پريشانه او ذ اُوښ شان رنګ نې دې، ما هغه حربه چه
ذ امير حمزه ذ پاره مِ استعمال كړې وه، راوښكله، او هغه
مِ پرې اوويشتلو، چه ذ هغهٔ ذ دوارو تيونو (چھاتيوں) مينځ
كښې ذ هغهٔ ذ دوارو اوږو نه اووتله. دې كښې يو انصاري
ذ هغهٔ طرف ته ورټوپ كړې، او د هغهٔ په سر نې ذ تورې
يو ګزار هم اوكهٔ. عبدالله بن عمرؓ اووې، كوم وخت چه

بْنَ عُمَرَ يَقُوْلُ فَقَالَتْ جَارِيَةٌ عَلٰى ظَهْرِ بَيْتٍ وَّ اَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ قَتَلَهُ الْعَبْدُ الْاَسْوَدُ.

مسيلمه اُووژلے شو، نو يوه وره جينۍ ذ مكان چهت ته اُوختله او وئيل، هائے امير المؤمنين (مسيلمه) يو تور غلام قتل كړلو.

۱. د ښځو سنتول خمونږ د ملک خلقو د پاره عجيبه شان خبره ده ليكن په عربو كښې به د سړو پشان د ښځو خِتنه هم كيدله، او څرنګ چه د سړو ختنه به سړو كوله، د ښځو ختنه به ښځو كوله. دا طريقه په جاهليت كښې هم رائجه وه او اسلام دا باقي اولرله ولے چه د ابراهيم عليه السلام كوم بعضے سنتونه په عربو كښې باقي پاتې وو په هغې كښې يو دا هم وو. د عربو ملكونو كښې ذ جينكو سُنتولو اوس هم رواج شته دے ليكن مونږه هندوستاني (او پاكستاني) مسلمانان يُو او دے سره څه واقفيت هم نه لرُو. څرنګ چه د سړو ختنه سُنت ده، د ښځو ختنه هم سنت ده (ليكن غير مؤكد. كفاية المفتي ج۲ ص۲۹۵. عارف) چونكه ذ سباع بن عبدالعزي مور به جينكۍ سُنتولے په دے وجه حمزه رضي الله عنه هغه له د مور په دے كسب باندے پيغور وركړو.

۲. د اسلام راوړلو نه پس د هغهٔ مخكښي ګناهونه معاف كړے شو، ليكن هغهٔ د حضور صلي الله عليه وسلّم ترهٔ حضرت حمزه رضي الله عنه وژلے وو او په هغې كښې ئې هم دومره يې دردئ ښكاره كړے وه چه كله هغه شهيد شو نو د هغوئ سينه ئې سيرے كړه او زړه ئې ترے راؤويستو او جُوسه ئې ورله خرابه كړے وه. په دے وجه دا قدرتي (او فطري) خبره وه چه د هغهٔ په ليدلو سره به حضور صلي الله عليه وسلّم ته ذ حمزه رضي الله عنه غم كښې اچونكے شهادت مخے ته راتلو. او بيا دا هم سوچ او كړئ چه پاک حضرت روحي و أبي و اُمّي فداه به د خپل تره په دومره بے دردئ سره ذ قتلونكي صحبت څرنګ برداشت كولے شو.

## بَاب ۲۵ : مَا اَصَابَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْجِرَاحِ يَوْمَ اُحُدٍ.

باب ۲۵ : ذ اُحد په ورځ د رسول الله صلي الله عليه وسلّم ذ زخمي كيدو بيان.

۱۱۵ : حَدَّثَنَا اِسْحٰقُ بْنُ نَصْرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ عَنْ مَّعْمَرٍ عَنْ هَمَّامٍ سَمِعَ اَبَا هُرَيْرَةَؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشْتَدَّ غَضَبُ اللّٰهِ عَلٰى قَوْمٍ فَعَلُوْا بِنَبِيِّهٖ يُشِيْرُ اِلٰى رَبَاعِيَتِهٖ اشْتَدَّ غَضَبُ اللّٰهِ عَلٰى رَجُلٍ يَّقْتُلُهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ سَبِيْلِ

۱۱۵ : اسحٰق بن نصر. عبدالرزاق. معمر. همام. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت كوي، هغهٔ اووے، رسول الله صلي الله عليه وسلّم فرمائيلي دي، په هغه قوم ذ الله سخت غضب دے چه هغوي خپل پيغمبر سره داسے او كړل (خپلو غاښونو طرف ته ئې اشاره او كړله) او الله په هغه سړي سخت غصه شولو، چه هغهٔ ذ الله پيغمبر ذ الله په لار كښې اووژلو (لكه ابي بن خلف چه حضور صلي الله عليه وسلّم په خپله ذ اُحد په ميدان كښې وژلے

اللّٰهِ.

وو).

۱۱٦: حَدَّثَنِیْ مَخْلَدُ بْنُ مَالِكٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيْدِ الْاُمَوِیُّ حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ دِيْنَارٍ عَنْ عِكْرَمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍؓ قَالَ اشْتَدَّ غَضَبُ اللّٰهِ عَلٰى مَنْ قَتَلَهُ النَّبِیُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِیْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اشْتَدَّ غَضَبُ اللّٰهِ عَلٰى قَوْمٍ دَمَّوْا وَجْهَ نَبِیِّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

۱۱٦: مخلد بن مالک. يحيي بن سعيد اموي. ابن جريج. عمرو بن دينار. عكرمه. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، هغه فرمائي، په هغه قوم ذ اللّٰه تعالىٰ سخته غصه ده، چه هغه حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ذ اللّٰه په لار كښې اووژني، او ذ اللّٰه تعالىٰ سخت غضب په هغه قوم دے، چه ذ خپل پيغمبر صلي اللّٰه عليه وسلّم مخ مبارک په وينه آلوده كړي (څنګه چه قريشو اوكړل).

۱۱۷: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيْدٍ حَدَّثَنَا يَعْقُوْبُ عَنْ اَبِیْ حَازِمٍ اَنَّهُ سَمِعَ سَهْلَ بْنَ سَعْدٍ وَهُوَ يُسْئَلُ عَنْ جُرْحِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَمَا وَاللّٰهِ اِنِّیْ لَاَعْرِفُ مَنْ كَانَ يَغْسِلُ جُرْحَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ كَانَ يَسْكُبُ الْمَآءَ وَ بِمَا دُوْوِیَ قَالَ كَانَتْ فَاطِمَةُ عَلَيْهَا السَّلَامُ بِنْتُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَغْسِلُهُ وَ عَلِیٌّ يَسْكُبُ الْمَآءَ بِالْمِجَنِّ فَلَمَّا رَاَتْ فَاطِمَةُ اَنَّ الْمَآءَ لَا يَزِيْدُ الدَّمَ اِلَّا كَثْرَةً اَخَذَتْ قِطْعَةً مِّنْ حَصِيْرٍ فَاَحْرَقَتْهَا وَ اَلْصَقَتْهَا فَاسْتَمْسَكَ الدَّمُ وَ كُسِرَتْ رَبَاعِيَتُهُ يَوْمَئِذٍ وَّ جُرِحَ وَجْهُهُ وَ كُسِرَتِ

۱۱۷: قتيبه بن سعيد. يعقوب بن عبدالرحمٰن. ابو حازم. سلمه بن دينار. سهل بن سعد اورے، قسم په خدائے، ماته معلومه ده، چه ذ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم زخم چا وينزلو، او چا اُوبه اچولے، او كوم دارو پرے اولږولے شو، اوشوه داسے، چه بي بي فاطمےؓ لور ذ رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم ذ حضورؐ زخم وينزلو. او حضرت عليؓ ډهال كښې اُوبه راوړلے. بي بي فاطمےؓ چه اوليدل، چه وينه په هيڅ طور سره نۀ بنديږي، نو هغے ذ پوزكي يوه ټكړه اوسوزوله او ذ هغے په ايره ئے زخم ډک كړلو، نو وينه بنده شوه. دغه ورځ وه، چه ذ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم غاښ مبارک شهيد شولو، او مخ مبارک ئے زخمي شولو، او "خود" ئے كاني ويشتو سره په سر مات كړے

الْبَيْضَةُ عَلٰى رَأْسِهٖ. شو.

ف: معلومه شوه' چه ذ زخم ذ بندولو د پاره چيرړه يا بوريا وغيره سيزل او د هغې په ايره ئے بندول هم پر سمدستي علاج دے' علاوه ذ نورو علاجونونه.

۱۱۸: حَدَّثَنِيْ عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا أَبُوْ عَاصِمٍ حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ دِيْنَارٍ عَنْ عِكْرَمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍؓ قَالَ اشْتَدَّ غَضَبُ اللّٰهِ عَلٰى مَنْ قَتَلَهُ نَبِيٌّ وَاشْتَدَّ غَضَبُ اللّٰهِ عَلٰى مَنْ دَمَّى وَجْهَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

۱۱۸: عمرو بن علي. ابو عاصم. ابن جريج. عمرو بن دينار. عكرمه. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي' هغه اوفرمائيل' په هغه سړي ذ اللّٰه تعالٰي سخت غضب دے' چه خپله پيغمبر هغه قتل كړي' او په هغه چا ذ اللّٰه سخت غضب دے' چه هغه ذ پيغمبر مخ مبارك خون آلود كړلو.

بَابٌ ۲۶: اَلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ.

باب ۲۶: آيت: اَلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ هغې خلقو بيان' چه هغوي ذ اللّٰه تعالٰي او ذ هغهٔ ذ رسول حكم اومنلو.

۱۱۹: حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ حَدَّثَنَا أَبُوْ مُعَاوِيَةَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ مِنْ بَعْدِ مَا أَصَابَهُمُ الْقَرْحُ لِلَّذِيْنَ أَحْسَنُوْا مِنْهُمْ وَاتَّقَوْا أَجْرٌ عَظِيْمٌ قَالَتْ لِعُرْوَةَ يَا ابْنَ أُخْتِيْ كَانَ أَبُوْكَ مِنْهُمُ الزُّبَيْرُ وَأَبُوْبَكْرٍؓ لَمَّا أَصَابَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَصَابَ يَوْمَ أُحُدٍ وَانْصَرَفَ عَنْهُ الْمُشْرِكُوْنَ خَافَ أَنْ يَرْجِعُوْا قَالَ مَنْ يَذْهَبُ فِيْ إِثْرِهِمْ فَانْتَدَبَ مِنْهُمْ

۱۱۹: محمد بن سلام. ابو معاويه. هشام. عروه. بي بي عائشےؓ نه روايت كوي' هغې اوفرمائيل چه: اَلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلُ الخ يعني كوم خلقو چه ذ زخمي كيدو نه پس ذ اللّٰه تعالٰي او رسول حكم اومنلو. هغوي كښې چه خوك نيك پرهيزګار وي' هغوي ته به ډير ثواب رسي. اے خوريه' ستا پلار زبيرؓ او نيكه ابوبكر صديقؓ ذ هغې خلقونه وو. اوشوه داسے' چه ذ اُحد په ورځ رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم ته كومه صدمه اورسيده. او كافر مكے ته واپس شو' نو حضورؐ ته دا آنديښنه پيدا شوه' چه كافر چرته واپس راونه ګرځي' نو ذ كافرو تعاقب به خوك كوي. دے حكم آوريدو سره اويا حضراتو ذ دے

سَبْعُوْنَ رَجُلًا قَالَ كَانَ فِيْهِمْ اَبُوْ بَكْرٍ وَّالزُّبَيْرُ.

حكم تعميل منظور كړلو' هغے كښې زبيرؓ او ابوبكرؓ هم شامل وو.

۱. دا دے د پاره چه مشركان دا اونه ګنړي چه د اُحد نقصان مسلمانان بے تابه كړي دي كه چرے په دوئ باندے دوباره حمله اوكړے شي نو حمله به كامیابه شي.

بَابُ ۲۷ : مَنْ قُتِلَ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ يَوْمَ اُحُدٍ مِّنْهُمْ حَمْزَةُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ وَالْيَمَانُ وَ اَنَسُ بْنُ النَّضْرِ وَ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ.

باب ۲۷ : د اُحد د شهيدانو بيان لكه حضرت حمزه بن عبدالمطلب' حضرت يمان' حضرت نضر بن انس او حضرت مصعب بن عمير رضي اللّٰه عنهم.

۱۲۰ : حَدَّثَنِيْ عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ قَالَ حَدَّثَنِيْ اَبِيْ عَنْ قَتَادَةَ قَالَ مَا نَعْلَمُ حَيًّا مِّنْ اَحْيَآءِ الْعَرَبِ اَكْثَرَ شَهِيْدًا اَعَزَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ مِنَ الْاَنْصَارِ قَالَ قَتَادَةُ وَ حَدَّثَنَا اَنَسُ بْنُ مَالِكٍ اَنَّهُ قُتِلَ مِنْهُمْ يَوْمَ اُحُدٍ سَبْعُوْنَ وَ يَوْمَ بِئْرِ مَعُوْنَةَ سَبْعُوْنَ قَالَ وَ كَانَ بِئْرُ مَعُوْنَةَ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ يَوْمُ الْيَمَامَةِ عَلٰى عَهْدِ اَبِيْ بَكْرٍ يَّوْمَ مُسَيْلِمَةَ الْكَذَّابِ.

۱۲۰ : عمرو بن علي فلاس. معاذ بن هشام ذ خپل پلار نه' هغه ذ حضرت قتاده نه روايت كوي' هغهٔ اوفرمائيل' مونږ ته نهٔ ده معلومه' چه ذ عربو ټولو قبائلو كښې به د انصارو نه زيات عزت واله ذ قيامت په ورځ څوک وي' قتاده وائي' ماته انس بن مالک اووے ذ اُحد په ورځ اويا انصار شهيدان شو' او دغه هومره ذ بير معونه په ورځ' او دغه هومره ذ جنګ يمامه په ورځ. او د بير معونه واقعه ذ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم په ژوند مبارک كښې شوے وه' او ذ يمامه واقعه خلافت صديقي كښې شوے وه' په كومه ورځ چه مسيلمه كذاب سره مقابله اوشوه.

۱۲۱ : حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيْدٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ مَالِكٍ اَنَّ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ اَخْبَرَهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَجْمَعُ بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ مِنْ قَتْلٰى اُحُدٍ فِيْ ثَوْبٍ وَّاحِدٍ ثُمَّ يَقُوْلُ اَيُّهُمْ اَكْثَرُ اَخْذًا

۱۲۱ : قتيبه بن سعد. ابن شهاب. عبدالرحمٰن بن كعب بن مالک نه روايت كوي' حضرت جابر بن عبداللّٰه هغهٔ ته اووے' حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم به دوه دوه شهيدان ذ اُحد په ورځ په يوه كپړه كښې دفن كول' او تپوس به ئے كولو' چه دے دواړو كښې قرآن شريف چاته زيات ياد وو. چه حضورؐ ته به اشارے سره اوښودلے شو' نو هغه به ئے قبلے

لِلْقُرْاٰنِ فَاِذَا اُشِيْرَ لَهٗ اِلٰى اَحَدٍ قَدَّمَهٗ فِي اللَّحْدِ وَ قَالَ اَنَا شَهِيْدٌ عَلٰى هٰؤُلَآءِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَ اَمَرَ بِدَفْنِهِمْ بِدِمَآئِهِمْ وَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْهِمْ وَلَمْ يُغَسَّلُوْا وَ قَالَ اَبُو الْوَلِيْدِ عَنْ شُعْبَةَ عَنِ الْمُنْكَدِرِ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرًا قَالَ لَمَّا قُتِلَ اَبِيْ جَعَلْتُ اَبْكِيْ وَ اَكْشِفُ الثَّوْبَ عَنْ وَّجْهِهٖ فَجَعَلَ اَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَوْنِيْ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَنْهَ وَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَبْكِيْهِ اَوْ مَا تَبْكِيْهِ مَا زَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ تُظِلُّهٗ بِاَجْنِحَتِهَا حَتّٰى رُفِعَ.

طرف تــه مخکــښ کـولو. او فرمائیل بـه ئې ' زهٔ بـه ذ قیـامـت پــه ورځ ذ دې خـلقو ګـواه یـم. او حضورؐ اوفـرمـائیـل' دوي دې دغسې خون آلـوده' بـلاغسل او مـونـځ دفـن کـړې شي. (مـونـځ دلتـه ذ جـنـازې مـونـځ مـطـلـب دې) ابو عبدالله بخاري وائي' ابوالولید ذ شعبـه نـه' هـغـه ذ محـمـد بـن مـنکدر نه' هغه ذ جابرؓ نــه واوریـدل' کـوم وخـت چـه خـمـا پـلار عبداللّه ذ اُحد پــه ورځ شهـیـد شـولـو' نو مـا ذ هغهٔ لاش تـه ژړل او ذ مخ نــه بــه م کپــړه اخـوا کـولـه' کـتـلو بـه م' او ذ حضـورؐ اصـحـابـو بـه زهٔ ذ ژړا نـه منع کولم' خو حضورؐ منع نهٔ کړم. حضورؐ فاطمه بنت عمر (خما ترور' پھوپھی) تــه اوفـرمـائیـل' تـه پــه عبداللّه ژړا مهٔ کوه' پـه هغهٔ خـو فـریښتـو ذ جنــازې اوچتـولـو پورې سورې کړې دې.

۱۲۲ : حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَآءِ حَدَّثَنَا اَبُوْ اُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اَبِيْ بُرْدَةَ عَنْ جَدِّهٖ اَبِيْ بُرْدَةَ عَنْ اَبِيْ مُوْسٰى اُرٰى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَاَيْتُ فِيْ رُؤْيَايَ اَنِّيْ هَزَزْتُ سَيْفًا فَانْقَطَعَ صَدْرُهٗ فَاِذَا هُوَ مَا اُصِيْبَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ يَوْمَ اُحُدٍ ثُمَّ هَزَزْتُهٗ اُخْرٰى فَعَادَ اَحْسَنَ مَا كَانَ فَاِذَا هُوَ مَا جَآءَ بِهِ اللّٰهُ مِنَ الْفَتْحِ وَ اجْتِمَاعِ الْمُؤْمِنِيْنَ وَ رَاَيْتُ فِيْهَا بَقَرًا وَّاللّٰهُ خَيْرٌ فَاِذَا هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ يَوْمَ اُحُدٍ.

۱۲۲ : محـمـد بـن عـلاء. ابـو اسـامـه. یزید بن عبـداللّـه بـن ابـي بـرده. ابي برده بن عامر. ذ خپل نیکهٔ (داد) نـه او هـغهٔ ذ خپل پلار ابو موسی اشعريؓ نه روایت کوي' حضورؐ اوفرمائیل ما خوب کښ اولیدل' چه ما یو خـل تـوره اُوخـوزولـه' نو ذ هغې څوکه ماته شوه' ذ هغې تـعبیر دا وو' چه مسلمانان ذ اُحد په ورځ شهیدان شول. بیا په دوېم خل م اوخوزوله' نو ټیک شوله' ذ هغې تعبیر دا وو' چه اللّه پاک مسلمانانو ته آخر کښ فتح ورکړه' او هـغـوي کـښ ئې اتـحاد پیدا کړلو. او ما خوب کښ غـواګانې اولیدې' چه ذبح کیدلې. او ذ اللّه تـول کارونه بهتـر دي ذ هـغې تعبیر هم دا وو' چه مسلمانان ذ اُحد په ورځ شهیدان شول.

۱۲۳ : حَدَّثَنَا اَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا الْاَعْمَشُ عَنْ شَقِيْقٍ عَنْ خَبَّابٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ هَاجَرْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ نَحْنُ نَبْتَغِيْ وَجْهَ اللّٰهِ فَوَجَبَ اَجْرُنَا عَلَى اللّٰهِ فَمِنَّا مَنْ مَّضٰى اَوْ ذَهَبَ لَمْ يَاْكُلْ مِنْ اَجْرِهٖ شَيْئًا كَانَ مِنْهُمْ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ قُتِلَ يَوْمَ اُحُدٍ فَلَمْ يَتْرُكْ اِلَّا نَمِرَةً كُنَّا اِذَا غَطَّيْنَا بِهَا رَاْسَهٗ خَرَجَتْ رِجْلَاهُ وَ اِذَا غُطِّيَ بِهَا رِجْلَيْهِ خَرَجَ رَاْسُهٗ فَقَالَ لَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَطُّوْا بِهَا رَاْسَهٗ وَاجْعَلُوْا عَلٰى رِجْلَيْهِ الْاِذْخِرَ وَ مِنَّا مَنْ اَيْنَعَتْ لَهٗ ثَمَرَتُهٗ فَهُوَ يَهْدِبُهَا.

۱۲۳ : احمد بن يونس. زهير. اعمش. شقيق. حضرت خبابؓ نه روايت كوي، هغهٔ اووے، مونږ رسول الله صلي الله عليه وسلّم سره دَ الله دَ پاره هجرت او کۀ، نو اوس خمونږ اجر دَ اللّٰه په ذمه شو. څۀ خلق خو خمونږ نه دَ دُنيا نه لاړل، او دَ خپل محنت څۀ بدله ئے (دُنيا کښې) بيانهٔ مُنده. دے خلقو کښې مصعب بن عميرؓ هم وو، چه دَ اُحد په ورځ شهيد شولو، او يو لکيردار څادر، ئے پريښودلو. چه دَ هغهٔ سَر به ئے پټولو، نو پښے به ئے څرګندے پاتے کيدے. او چه پښے به ئے ورله پټولے، نو سر به ئے څرګند پاتے کيدلو. آخر رسول اکرم صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل. دَ دهٔ سَر پټ کړئے، او په پښو ورله اذخر وابنه واچوئے، يا دائے اوفرمائيل، چه په پښو ورله لږ اذخر وابنه واچوئے. او ځنے خلق مونږ کښې داسے شو، چه دَ هغوي ميوه ښهٔ پخه شوه، او هغوي ئے آنړولو سره خوري.

بَابُ ۲۸ : اُحُدٌ يُحِبُّنَا قَالَهٗ عَبَّاسُ بْنُ سَهْلٍ عَنْ اَبِيْ حُمَيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

باب ۲۸ : دَ حضور صلي الله عليه وسلّم ارشاد، چه اُحد مونږ سره محبت لري. عباد بن سهل، ابو حميدؓ دا روايت بيان کړے دے.

۱۲۴ : حَدَّثَنِيْ نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ قَالَ اَخْبَرَنِيْ اَبِيْ عَنْ قُرَّةَ بْنِ خَالِدٍ عَنْ قَتَادَةَ سَمِعْتُ اَنَسًا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ هٰذَا جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَ نُحِبُّهٗ.

۱۲۴ : نصر بن علي. دَ هغهٔ پلار. قره بن خالد. حضرت قتادهؒ نه روايت كوي، هغهٔ اووے، ما دَ حضرت انسؓ نه واوريدل، رسول اکرم صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل دا اُحد دے چه مونږ سره محبت کوي، او مونږ دهٔ سره محبت کوو.

۱۲۵ : حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوسُفَ اَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ عَمْرٍو مَّوْلَى الْمُطَّلِبِ عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ اَنَّ

۱۲۵ : عبدالله بن يوسف. امام مالک. عمرو بن ابي عمرو. انس بن مالک نه روايت كوي، رسول الله صلي الله عليه وسلّم ته دَ غزوه تبوک نه په واپسي چه

رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَلَعَ لَهٗ اُحُدٌ فَقَالَ هٰذَا جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَ نُحِبُّهٗ اَللّٰهُمَّ اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ حَرَّمَ مَكَّةَ وَ اِنِّيْ حَرَّمْتُ مَا بَيْنَ لَابَتَيْهَا.

اُحد په نظر راغے، نو حضور ارشاد اوفرمائيلو، دا اُحد يو غر دے، چه مونږ سره مينه كوي او مونږ دے دوست كنړو يا الله، حضرت ابراهيمؑ مكه حرم جوړه كړله، او زهٔ مدينه ذ دوو غريزو علاقو په مينځ كښې حرم جوړوم.

۱۲۶: حَدَّثَنِيْ عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يَزِيْدَ بْنِ اَبِيْ حَبِيْبٍ عَنْ اَبِي الْخَيْرِ عَنْ عُقْبَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يَوْمًا فَصَلّٰى عَلٰى اَهْلِ اُحُدٍ صَلٰوتَهٗ عَلَى الْمَيِّتِ ثُمَّ انْصَرَفَ اِلَى الْمِنْبَرِ فَقَالَ اِنِّيْ فَرَطٌ لَّكُمْ وَ اَنَا شَهِيْدٌ عَلَيْكُمْ وَ اِنِّيْ لَاَنْظُرُ اِلٰى حَوْضِي الْاٰنَ وَ اِنِّيْ اُعْطِيْتُ مَفَاتِيْحَ خَزَآئِنِ الْاَرْضِ اَوْ مَفَاتِيْحَ الْاَرْضِ وَ اِنِّيْ وَاللّٰهِ مَا اَخَافُ عَلَيْكُمْ اَنْ تُشْرِكُوْا بَعْدِيْ وَلٰكِنِّيْ اَخَافُ عَلَيْكُمْ اَنْ تَنَافَسُوْا فِيْهَا.

۱۲۶: عمرو بن خالد. ليث بن سعد. يزيد بن ابي حبيب. ابو الخير مرثد. حضرت عقبه بن عامر نه روايت كوي، رسول الله صلي الله عليه وسلم يو ورخ اُحد طرف ته لاړلو او ذ اُحد په شهيدانو ئے ذ جنازے په شان مونځ اوكړ بيا منبر ته راغے او وے فرمائيل، زهٔ ستاسو ذ كار درست كولو ذ پاره مخكښې تلونكے يم، زهٔ به تاسو گواه يم. زهٔ حوض وينم، ما ته ذ زمكے ذ خزانو قُنجيانے راكړے شوے يا دائے اوفرمائيل چه ذ زمكے قُنجيانے راكړے شوے. او خبره دا ده چه ماسره خما نه پس په خدائے چه ستاسو ذ مشرک كيدلو ويره نشته. او دا ويره ضرور راسره شته، چه چرته تاسو دُنيا كښې اُونه اِنبنلئے.

## بَابٌ ۲۹: غَزْوَةِ الرَّجِيْعِ وَ رِعْلٍ وَّ ذَكْوَانَ وَ بِئْرِ مَعُوْنَةَ وَ حَدِيْثِ عَضَلٍ وَّالْقَارَةِ وَ عَاصِمِ بْنِ ثَابِتٍ وَّ خُبَيْبٍ وَّ اَصْحَابِهٖ. قَالَ ابْنُ اِسْحٰقَ حَدَّثَنَا عَاصِمُ بْنُ عُمَرَ اَنَّهَا بَعْدَ اُحُدٍ.

باب ۲۹: ذ غزوه رجيع[۱] بيان، او ذ رعل. ذكوان. بير معوني او ذ عضل او قاره بيان، او عاصم بن ثابتؓ او خبيب، او ذ هغوي ذ ملگرو قصه، ابن اسحاق وائي، مونږ ته عاصم بن عمرو اووے، غزوهٔ رجيع (صفر ۴ﻫ كښې) ذ اُحد نه پس اوشوه.

۱. مصنف رحمة الله عليه غزوه رجيع او غزوه بير معونه دواړه په يو باب كښے ذكر كړے دي، خو دا دواړه په مختلفو وختونو كښے راپيښے شوے وے. د غزوه رجيع تعلق ذ لسو اصحابو هغه جماعت سره دے كوم كښے چه عاصم او خبيب رضي الله عنهما شريک وو. دا حادثه د غضل او قاره قبيلو د اسلام دشمنئ نتيجه وه. او ذ بير معونے تعلق هغه اوياؤ صحابؤ سره دے كوم چه د اسلام تعليم د پاره ليګلي شوي وو. او كومو لره چه د رعل او ذكوان قبيلو په دهوكے ورکولو سره شهيد كړي وو.

۱۲۷ : حَدَّثَنِيْ إِبْرَاهِيْمُ بْنُ مُوْسٰى أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ يُوْسُفَ عَنْ مَعْمَرٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِيْ سُفْيَانَ الثَّقَفِيِّ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَؓ قَالَ بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّةً عَيْنًا وَّ أَمَّرَ عَلَيْهِمْ عَاصِمَ بْنَ ثَابِتٍ وَّهُوَ جَدُّ عَاصِمِ بْنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ فَانْطَلَقُوْا حَتّٰى إِذَا كَانَ بَيْنَ عُسْفَانَ وَ مَكَّةَ ذُكِرُوْا لِحَيٍّ مِّنْ هُذَيْلٍ يُقَالُ لَهُمْ بَنُوْ لِحْيَانَ فَتَبِعُوْهُمْ بِقَرِيْبٍ مِّنْ مِّائَةِ رَامٍ فَاقْتَصُّوْا آثَارَهُمْ حَتّٰى أَتَوْا مَنْزِلًا نَّزَلُوْهُ فَوَجَدُوْا فِيْهِ نَوٰى تَمْرٍ تَزَوَّدُوْهُ مِنَ الْمَدِيْنَةِ فَقَالُوْا هٰذَا تَمْرُ يَثْرِبَ فَتَبِعُوْا آثَارَهُمْ حَتّٰى لَحِقُوْهُمْ فَلَمَّا انْتَهٰى عَاصِمٌ وَّ أَصْحَابُهٗ لَجَئُوْا إِلٰى فَدْفَدٍ وَّ جَآءَ الْقَوْمُ فَأَحَاطُوْا بِهِمْ فَقَالُوْا لَكُمُ الْعَهْدُ وَالْمِيْثَاقُ إِنْ نَّزَلْتُمْ إِلَيْنَا أَنْ لَّا نَقْتُلَ مِنْكُمْ رَجُلًا فَقَالَ عَاصِمٌ أَمَّا أَنَا فَلَا أَنْزِلُ فِيْ ذِمَّةِ كَافِرٍ اَللّٰهُمَّ أَخْبِرْ عَنَّا نَبِيَّكَ فَقَاتَلُوْهُمْ حَتّٰى قَتَلُوْا عَاصِمًا فِيْ سَبْعَةِ نَفَرٍ بِالنَّبْلِ وَ بَقِيَ خُبَيْبٌ وَّ زَيْدٌ وَّ رَجُلٌ

۱۲۷ : ابراهيم بن موسىٰ. هشام بن يوسف. معمر. زهري. عمرو بن ابي سفيان ثقفي. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت كوي، هغهٔ اووے، حضور اكرم صلي الله عليه وسلم يو جماعت دَ جاسوسئ په غرض دَ قريشو خبر راوړلو دَ پاره اوليږلو. او عاصم بن ثابت انصاريؓ ئے دَ هغوي افسر اولږولو، چه دَ عاصم بن عمر بن خطاب نيكهٔ (نانا) وو. دا خلق چه روان شو، او دَ مكے عسفان مينځ ته اورسيدل، نو دَ هذيل قبيلے خاندان بني لحيان ته دَ دوي پته اولږيده، نو هغوي سل تير انداز دَ هغوي تعاقب كښ اوليږل. او دا خلق په تلاش هغے خائے ته اورسيدل، كوم خائے چه هغوي مقيم وو، او هلته ئے دَ مدينے دَ قجورو كټكي پراتهٔ اوليدل. بيا دَ هغے خائے نه دَ هغوي دَ پښو په پَل (نښه) تلل، نو مسلمانان ئے رالاندے كړل، مسلمانان خپلو ملګرو سره يوے غنډئ ته اوختل. كافرو كير كړل او ورته ئے اووے مونږ درسره وعده كوو، كه تاسو خپل ځان مونږ ته حواله كړئ، نو مونږ به درته هيڅ نقصان اونه رسوو. عاصم اووے. زهٔ دَ كافرو په وعده يقين نهٔ كوم. هر ګز لاندے نهٔ راځم. اے الله خپل پيغمبر صلي الله عليه وسلم خمونږ دَ حال نه خبر كړے. كافرو حمله اوكړه، غشي ورول ئے شروع كړل، تردے چه حضرت عاصم خپلو اوو ملګرو سره شهيد شولو. صرف حضرت خبيب، زيد، او يو بل مسلمان بچ شولو. كافرو هغوي ته دَ امان يقين وركړلو، نو هغوي ورته راكوز شولو. كافرو چه په هغوي قابو بيامند، نو دَ ليندے په ځے ئے دَ هغوي متے اوتړلے. هغے دريم مسلمان اووے، چه دا دَ دے كافرو

آخَرُ فَأَعْطَوْهُمُ الْعَهْدَ وَالْمِيْثَاقَ
فَلَمَّا اَعْطَوْهُمُ الْعَهْدَ وَالْمِيْثَاقَ
نَزَلُوْا اِلَيْهِمْ فَلَمَّا اسْتَمْكَنُوْا
مِنْهُمْ حَلُّوْا اَوْتَارَ قِسِيِّهِمْ
فَرَبَطُوْهُمْ بِهَا فَقَالَ الرَّجُلُ
الثَّالِثُ الَّذِيْ مَعَهُمَا هٰذَا اَوَّلُ
الْغَدْرِ فَاَبٰى اَنْ يَّصْحَبَهُمْ فَجَرَّرُوْهُ
وَ عَالَجُوْهُ عَلٰى اَنْ يَّصْحَبَهُمْ
فَلَمْ يَفْعَلْ فَقَتَلُوْهُ وَانْطَلَقُوْا بِخُبَيْبٍ
وَّ زَيْدٍ حَتّٰى بَاعُوْهُمَا بِمَكَّةَ فَاشْتَرٰى
خُبَيْبًا بَنُو الْحَارِثِ بْنِ عَامِرِ بْنِ نَوْفَلٍ
وَّ كَانَ خُبَيْبٌ هُوَ قَتَلَ الْحَارِثَ يَوْمَ
بَدْرٍ فَمَكَثَ عِنْدَهُمْ اَسِيْرًا حَتّٰى اِذَا
اَجْمَعُوْا قَتْلَهُ اسْتَعَارَ مُوْسٰى مِنْ
بَعْضِ بَنَاتِ الْحَارِثِ وَ لِيَسْتَحِدَّ بِهَا
فَاَعَارَتْهُ قَالَتْ فَغَفَلْتُ عَنْ صَبِيٍّ لِيْ
فَدَرَجَ اِلَيْهِ حَتّٰى اَتَاهُ فَوَضَعَهُ عَلٰى
فَخِذِهٖ فَلَمَّا رَاَيْتُهُ فَزِعْتُ فَزْعَةً عَرَفَ
ذَاكَ مِنِّيْ وَ فِيْ يَدِهِ الْمُوْسٰى فَقَالَ
اَتَخْشَيْنَ اَنْ اَقْتُلَهُ مَا كُنْتُ لِاَفْعَلَ
ذٰلِكِ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ وَ كَانَتْ تَقُوْلُ مَا
رَاَيْتُ اَسِيْرًا قَطُّ خَيْرًا مِنْ خُبَيْبٍ لَقَدْ
رَاَيْتُهُ يَاْكُلُ مِنْ قِطْفِ عِنَبٍ وَّمَا
بِمَكَّةَ يَوْمَئِذٍ ثَمَرَةٌ وَّ اِنَّهُ لَمُوْثَقٌ فِي
الْحَدِيْدِ وَمَا كَانَ اِلَّا رِزْقٌ رَزَقَهُ اللّٰهُ
فَخَرَجُوْا بِهٖ مِنَ الْحَرَمِ لِيَقْتُلُوْهُ فَقَالَ

ورمنـے عهـد شکنـي (وعده ماتول) دي، او هغه ذ تلو نه
انکار او کړلو. کافرو ئے ذ راکښلو کوشش اوکهٔ. او څهٔ
وخت چـه پـریشـانه شو. نو هغه ئے قتل کهٔ، او خبیب او
زیـد ئـے خـان سـره بـوتلل. او مکه کښې ئے خرڅ کړل.
خبیـب ذ حـارث بـن عامر بن نوفل خامنو واخستو، ځکه
چـه خبیب بـدر کـښې حارث وژلے وو. حضرت خبیب
یـوے مـودے پورے هغوي سره قید وو، تردے چه هغوي
هغه قتل کهٔ. یوه ورځ دے درمیان کښې خبیب ذ حارث ذ
لـور نـه ذ صـفـائي ذ پاره اُستره (پاکی) اوغـوښتـلـه. هغه
وائي، خما خیال څهٔ بل طرف ته شو، دے کښې خما بچے
(ابـو حسـین) خبیبؓ له ورغے. خبیب هغه محبت سره په
خپـل پـتـون کیـنـولو، ما چه دا حالت اولید (ذ حارث لور
وائـي) نو ویرے واخستم. خبیب خما په ویره پوهه شو،
اُستـره ذ هـغـهٔ پـه لاس کـښې وه، هـغهٔ اووے تهٔ دا خوف
کوے، چـه زهٔ بـه دا بـچے اووژنم. که خدائے ته منظوره
وي، نو داسـے کـار بـه هیـڅ کـله خما ذ لاسه نهٔ کیږي.
زیـنـب به ونیلے، ما ذ خبیبؓ نه زیات هیڅ قیدي نیک نهٔ
دے لیدلے. ما خپله لیدلے دي، چه خبیبؓ سره لاس کښې
ذ انـګـورو غُـنـچک وو، چـه خـوړلـو، ئے، حالانکه هغه
مـوسم کښې مکه کښې میوه نهٔ وَه. او هغه په اوسپنه کښې
تـړلے شـوے وو. دا ذ خدائے رزق وو، چه هغه خبیبؓ ته
عـنـایت کـړے وو. غرض دے کافرو، خبیبؓ قتلولو ذ پاره
ذ حـرم ذ حدودو نه بهر بوتلو خبیبؓ اووے. ماله اجازت
راکـړئے چه زهٔ دوه رکعاته مونځ او کړم، اجازت ور کړے
شو، ذ مونځ نه چه فارش شو، نو خبیبؓ اووے، که تاسو دا
خیـال نـهٔ کولے، چه زهٔ ذ مرګ نه ویره یږم، نو زیات مونځ

دَعُوْنِىُ اُصَلِّىُ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ انْصَرَفَ اِلَيْهِمُ فَقَالَ لَوْلَا اَنْ تَرَوْا اَنَّ مَابِىُ جَزَعٌ مِّنَ الْمَوْتِ لَزِدْتُ فَكَانَ اَوَّلَ مَنْ سَنَّ الرَّكْعَتَيْنِ عِنْدَ الْقَتْلِ هُوَ ثُمَّ قَالَ اَللّٰهُمَّ اَحْصِهِمْ عَدَدًا ثُمَّ قَالَ ـ

مَا اِنْ اُبَالِىُ حِيْنَ اُقْتَلُ مُسْلِمًا
عَلٰى اَىِّ شِقٍّ كَانَ لِلّٰهِ مَصْرَعِىُ
وَ ذٰلِكَ فِىُ ذَاتِ الْاِلٰـــهِ وَ اِنْ يَّشَاءُ.
يُبَارِكُ عَلٰى اَوْصَالِ شَلْوٍ مُمَزَّعٍ. ثُمَّ قَامَ اِلَيْهِ عُقْبَةُ بْنُ الْحَارِثِ فَقَتَلَهُ وَ بَعَثَتْ قُرَيْشٌ اِلٰى عَاصِمٍ لِيُؤْتَوْا بِشَیْءٍ مِّنْ جَسَدِهٖ يَعْرِفُوْنَهُ وَ كَانَ عَاصِمٌ قَتَلَ عَظِيْمًا مِّنْ عُظَمَآئِهِمْ يَوْمَ بَدْرٍ فَبَعَثَ اللّٰهُ عَلَيْهِ مِثْلَ الظُّلَّةِ مِنَ الدَّبْرِ فَحَمَتْهُ مِنْ رُسُلِهِمْ فَلَمْ يَقْدِرُوْا مِنْهُ عَلٰى شَیْءٍ.

به م كړے وے. غرض ذ قتل نه مخكښ ذ دوه ركعاته (نفل) مونځ كولو طريقه ذ حضرت خبيبؓ نه ايجاد شوے ده. بيا حضرت خبيبؓ داسے دُعا او كړله اے اللّٰه' دا ټول په ګوته ګوته تباه كړے' چه هيڅوک په كښ باقي پاتے نشي. بيائے دا اشعار اوويے: (ترجمه)

هر كله چه زهٔ مسلمان مرم' نو هيڅ فكر نشته
په كوم اړخ چه مرشم' زهٔ ذ خدائے په لار كښ مرم
كه هغه غواړي' نو زهٔ به زبون حالے نهٔ يم بدن اګر كه ټكړے ټكړے شي' خو د هغے په جوړونو به بركت وي.
دے نه پس عقبه بن حارث اودريد' او خبيبؓ ئے قتل كهٔ' او بل طرف ته داسے اوشو چه قريشو خلق اوليږل' چه ذ عاصم بن ثابتؓ ذ لاش نه يوه ټكړه پريكړي او راوړي چه مونږ ئے اوپيژنو' ځكه چه عاصمؓ ذ بدر په ورځ يو ډير لوئے سړے (عقبه بن معيط) قتل كړے وو. نو اللّٰه تعالىٰ ذ عاصمؓ په لاش ذ مچو سيل نازل كهٔ' چه هغوي عاصم بچ كړلو او قريشي خلق لاش ته نزدے هم راونه رسيدل.

ا. ولے چه هغه ته خو ددے خبرے يقين دے چه زهٔ به قتلولے شم' چرته خدائے مكړه خما ماشوم په پاكي سره حلال نه كړي.

۱۲۸: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو سَمِعَ جَابِرًا يَّقُوْلُ الَّذِىُ قَتَلَ خُبَيْبًا هُوَ اَبُوْ سَرْوَعَةَ.

۱۲۸: عبداللّٰه بن محمد. سفيان. عمرو بن دينار نه روايت كوي' چه هغه ذ حضرت جابرؓ نه واوريدل' چه خبيب ذ ابو سروعه (عقبه بن حارث) ذ لاسه قتل شوے وو.

۱۲۹: حَدَّثَنَا اَبُوْ مَعْمَرٍ عَبْدُ الْوَارِثِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيْزِ عَنْ اَنَسٍؓ قَالَ بَعَثَ النَّبِىُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعِيْنَ رَجُلًا لِّحَاجَةٍ يُّقَالُ

۱۲۹: ابو معمر. عبدالوارث بن سعيد. عبدالعزيز. حضرت انسؓ نه روايت كوي هغه فرمائي' حضورؐ اويا صحابهٔ چه هغوي ته به مونږ قاريان ونيلے' ذ څهٔ كار ذ پاره اوليږل. ذ بنو سليم دوه قبيلو رعل او

لَهُمُ الْقُرَّآءُ فَعَرَضَ لَهُمْ حَيَّانِ مِنْ بَنِي سُلَيْمٍ رِعْلٌ وَّ ذَكْوَانُ عِنْدَ بِئْرٍ يُقَالُ لَهَا بِئْرُ مَعُوْنَةَ فَقَالَ الْقَوْمُ وَاللّٰهِ مَا اِيَّاكُمْ اَرَدْنَا اِنَّمَا نَحْنُ مُجْتَازُوْنَ فِيْ حَاجَةٍ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَتَلُوْهُمْ فَدَعَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ شَهْرًا فِيْ صَلٰوةِ الْغَدَاةِ وَ ذٰلِكَ بَدْءُ الْقُنُوْتِ وَمَا كُنَّا نَقْنُتُ قَالَ عَبْدُ الْعَزِيْزِ وَ سَاَلَ رَجُلٌ اَنَسًا عَنِ الْقُنُوْتِ اَبَعْدَ الرُّكُوْعِ اَوْ عِنْدَ فَرَاغٍ مِّنَ الْقِرَآءَةِ قَالَ لَابَلْ عِنْدَ فَرَاغٍ مِّنَ الْقِرَآءَةِ.

ذكوان بيـر معـونه سره هغوي راګير كړل' او وهل ئې. صحابه ؤ ورته اووے' قسم په خدائے' مونږ جنګ ذ پاره نه يُو راغلي' بلكه رسول اكرم صلي الله عليه وسلّم ذ څه كار ذ پاره راليږلے يو' خو كافرو څه توجه ورنه كړه' او ټول ئې شهيد كړل. رسول الله صلي الله عليه وسلّم يو مياشت پورے ذ سحر مونځ كښې هغوي ذ پاره بدذعا اوكړله. ذ دے ځائے نه ذ قنوت ابتداء كيږي. دے نه مخكښې به مونږ قنوت نه ونيلے. عبدالعزيز (ذ انسؓ شاګرد) وائي' چا ذ حضرت انسؓ نه تپوس اوكړ' چه قنوت ذ ركوع نه پس دے' يا قرأت نه ذ فارغ كيدو نه پس. جواب ئے وركړ' ذ قرأت نه پس او ذ ركوع نه مخكښې.

۱۳۰ : حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ حَدَّثَنَا هِشَامٌ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ عَنْ اَنَسٍؓ قَالَ قَنَتَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَهْرًا بَعْدَ الرُّكُوْعِ يَدْعُوْا عَلٰى اَحْيَاءٍ مِّنَ الْعَرَبِ.

۱۳۰ : مسلم بن ابراهيم. هشام. قتاده. حضرت انسؓ نه روايت كوي' هغۀ اووے' رسول اكرم صلي الله عليه وسلّم يو مياشت پورے ذ ركوع نه پس قنوت او لوست' او ذ عربو څو قبائلو ذ پاره به ئې بدذعا كوله.

۱۳۱ : حَدَّثَنِيْ عَبْدُ الْاَعْلٰى بْنُ حَمَّادٍ حَدَّثَنَا يَزِيْدُ بْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا سَعِيْدٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ اَنَّ رِعْلًا وَّ ذَكْوَانَ وَ عُصَيَّةَ وَ بَنِيْ لِحْيَانَ اسْتَمَدُّوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى عَدُوٍّ فَاَمَدَّهُمْ بِسَبْعِيْنَ مِنَ الْاَنْصَارِ كُنَّا نُسَمِّيْهِمُ الْقُرَّآءَ فِيْ زَمَانِهِمْ كَانُوْا يَحْتَطِبُوْنَ بِالنَّهَارِ وَ يُصَلُّوْنَ بِاللَّيْلِ

۱۳۱ : عبدالاعلي بن حماد. يزيد بن زريع. سعيد بن ابي عروبه. قتادهؒ. حضرت انسؓ نه روايت كوي' رعل او ذكوان' عصيه او بني لحيان ذ رسول اكرم صلي الله عليه وسلّم نه ذ خپلو دشمنانو مقابله كښې مدد اُوغښتلو' حضورؐ اويا اصحاب ذ انصارو نه ذ هغوي ذ مدد ذ پاره اوليږل' مونږ به هغوي ته قاريان ونيلے' دے خلقو به ذ ورځے لرګي راوړل' او ذ شپے به ئې عبادت كولو. دا حضرات چه كوم وخت بير معونه ته اورسيدل' نو ذ قبيلے خلقو

حَتّٰى كَانُوْا بِبِئْرِ مَعُوْنَةَ قَتَلُوْهُمْ وَ غَدَرُوْا بِهِمْ فَبَلَغَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَنَتَ شَهْرًا يَدْعُوْ فِي الصُّبْحِ عَلٰى اَحْيَآءٍ مِّنْ اَحْيَآءِ الْعَرَبِ عَلٰى رِعْلٍ وَّ ذَكْوَانَ وَ عُصَيَّةَ وَ بَنِيْ لِحْيَانَ قَالَ اَنَسٌ فَقَرَاْنَا فِيْهِمْ قُرْاٰنًا ثُمَّ اِنَّ ذٰلِكَ رُفِعَ بَلِّغُوْا عَنَّا قَوْمَنَا اَنَّا قَدْ لَقِيْنَا رَبَّنَا فَرَضِيَ عَنَّا وَ اَرْضَانَا وَ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ حَدَّثَهٗ اَنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَنَتَ شَهْرًا فِيْ صَلَاةِ الصُّبْحِ يَدْعُوْا عَلٰى اَحْيَآءٍ مِّنْ اَحْيَاءِ الْعَرَبِ عَلٰى رِعْلٍ وَّ ذَكْوَانَ وَ عُصَيَّةَ وَ بَنِيْ لِحْيَانَ زَادَ خَلِيْفَةُ حَدَّثَنَا ابْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا سَعِيْدٌ عَنْ قَتَادَةَ حَدَّثَنَا اَنَسٌ اَنَّ اُولٰٓئِكَ السَّبْعِيْنَ مِنَ الْاَنْصَارِ قُتِلُوْا بِبِئْرِ مَعُوْنَةَ قُرْاٰنًا كِتَابًا نَّحْوَهٗ.

هغوي دهوكے سره اووژل. رسول اكرم صلي اللّٰه عليه وسلّم چه ذ دے واقعے نه خبر شولو، نو حضورؐ يو مياشت پورے ذ سحر په مونځ كښې ذ دے قبيلو والو ذ پاره بددُعا او كړله، يعني رعل، ذكوان، عصيه او بني لحيان ته. حضرت انسؓ وائي، مونږ ذ هغوي باره كښې څو آيتونه اولوستل، بيا ذ هغے تلاوت موقوف شولو، هغه آيتونه دا وو: بلغوا عنا قومنا انا قد لقينا ربنا فرضي عنا و ارضانا. قتاده وائي، حضرت انسؓ اووے. حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ذ سحر مونځ كښې يو مياشت پورے قنوت اولوستلو. حضور ذ عربو څو قبيلو ته بددُعا كوله، يعني رعل، ذكوان، عصيه او بني لحيان ته. خليفه بن خياط شيخ بخاري دومره نوره اضافه كړے ده. چه مونږ ته ابن زريع، هغهٔ ته سعد بن عروبه، هغه ذ قتاده نه واوريدل، حضرت انسؓ بيان او كهٔ، دا اويا قاريان په بير معونه كښې شهيدان كړے شو. دا ټول انصار وو. دے حديث كښې قرآنًا نه كتابًا مراد دے، يعني ذ اللّٰه كتاب.

۱۳۲ : حَدَّثَنَا مُوْسَى بْنُ اِسْمٰعِيْلَ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ اِسْحٰقَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اَبِيْ طَلْحَةَ قَالَ حَدَّثَنِيْ اَنَسٌ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ خَالَهٗ اَخٌ لِاُمِّ سُلَيْمٍ فِيْ سَبْعِيْنَ رَاكِبًا فَكَانَ رَئِيْسُ الْمُشْرِكِيْنَ عَامِرُ بْنُ الطُّفَيْلِ خَيَّرَ بَيْنَ ثَلٰثِ خِصَالٍ فَقَالَ يَكُوْنُ لَكَ اَهْلُ

۱۳۲ : موسي بن اسمٰعيل. همام. اسحاق. عبداللّٰه بن ابي طلحه.. حضرت انسؓ نه روايت كوي، حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم (حرام بن ملحان) ذ سليم ورور يعني ذ انس ماما اويا سورو سره بني عامر ته اوليږلو. وجه دا وه، چه ذ مشركانو سردار عامر بن طفيل حضورؐ ته درے خبرو كښې ذ يوے خبرے اختيار وركړے وو، هغهٔ اووے يا خو داسے پكار دي، چه بانډيسيانو او ديهاتيانو باندے تاسو حكومت كوئے او په ښار والو به زهٔ حكومت كوم، يا به زهٔ ستاسو خليفه يعني جانشين

الشَّهْلِ وَلِيْ اَهْلُ الْمَدَرِ اَوْ اَكُوْنَ خَلِيْفَتَكَ اَوْ اَغْزُوْكَ بِاَهْلِ غَطْفَانَ بِاَلْفٍ وَّ اَلْفٍ فَطُعِنَ عَامِرٌ فِيْ بَيْتِ اُمِّ فُلَانٍ فَقَالَ غُدَّةٌ كَغُدَّةِ الْبَكْرِ فِيْ بَيْتِ امْرَاَةٍ مِّنْ اٰلِ فُلَانٍ ائْتُوْنِيْ بِفَرَسِيْ فَمَاتَ عَلٰى ظَهْرِ فَرَسِهٖ فَانْطَلَقَ حَرَامٌ اَخُوْ اُمِّ سُلَيْمٍ وَهُوَ رَجُلٌ اَعْرَجُ وَ رَجُلٌ مِّنْ بَنِيْ فُلَانٍ قَالَ كُوْنَا قَرِيْبًا حَتّٰى اٰتِيَهُمْ فَاِنْ اٰمَنُوْنِيْ كُنْتُمْ وَ اِنْ قَتَلُوْنِيْ اَتَيْتُمْ اَصْحَابَكُمْ فَقَالَ اَتُؤْمِنُوْنِيْ اُبَلِّغْ رِسَالَةَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلَ يُحَدِّثُهُمْ وَ اَوْمَئُوْا اِلٰى رَجُلٍ فَاَتَاهُ مِنْ خَلْفِهٖ فَطَعَنَهُ قَالَ هَمَّامٌ اَحْسِبُهُ حَتّٰى اَنْفَذَهُ بِالرُّمْحِ قَالَ اللّٰهُ اَكْبَرُ فُزْتُ وَ رَبِّ الْكَعْبَةِ فَلُحِقَ الرَّجُلُ فَقُتِلُوْا كُلُّهُمْ غَيْرَ الْاَعْرَجِ كَانَ فِيْ رَاْسِ جَبَلٍ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيْنَا ثُمَّ كَانَ مِنَ الْمَنْسُوْخِ اِنَّا قَدْ لَقِيْنَا رَبَّنَا فَرَضِيَ عَنَّا وَ اَرْضَانَا فَدَعَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ ثَلٰثِيْنَ صَبَاحًا عَلٰى رِعْلٍ وَّ ذَكْوَانَ وَ بَنِيْ

جوړ شم. یا بیا به زهٔ دوه زره غطفاني لښکر سره په تاسو حمله کوم. رسول اکرم صلي الله علیه وسلّم هغهٔ ډېره بددُعا اوکړله او وے ونیل' اے الله' ته ما ذ عامر ذ شر نه بچ کړے' نو د دے ذعا نه پس عامر ذ یوے ښځے اُم فلان په کور کښې په طاعون آخته شولو' او ونیلے چه ذ فلاني خاندان د کور ذ اوبښ ذ غوټو په شان خما هم غوټے راوختے' بیا هغهٔ اووے خما اَس راولئے' چه راوستے شو' نو هغهٔ په شا ناستے سره مړ شولو. حرام بن ملحان یو ګوډ او یو بل سړي سره بني عامر له ورغے' حرام هغے دواړوته اووے. تاسو دواړه ماته نزدے اوسئے. اول زهٔ هغوي ته ورځم' که کافرو ماله آمن راکهٔ' نو تاسو ایسار شئے' او که مړ ئے کړم' نو تاسو خپلو ملګرو له لاړ شے' حرام چه کافرو له ورغے' نو ورته ئے اووے آیا تاسو ماته آمن راکوئے' چه ذ رسول الله صلي الله علیه وسلّم یو حدیث تاسو ته بیان کړم. آخر حرام حدیث بیانولو' هغے خلقو یو سړي ته اشاره اوکړه' نو هغه د ورستو نه راغے' او حرام ئے په نیزه اووهلو (همام راوي وائي) خما خیال دے' چه اسحاق داسے اووے' چه هغه نیزه ذ هغهٔ پورے راپوریوته. نیزه لګیدو سره حرام اووے الله اکبر' ذ کعبے په رب م دے قسم وي' زهٔ خپل مراد ته اورسیدم. او دے نه پس شهید کړے شو. بیا هغه خلق ذ حرام ملګرو پسے اولګیدل' حتي چه ټول قتل کړے شو. صرف یو ګډ باقي پاتے شو' چه ذ غر څوکے ته اوختلو. دغه وخت دا آیت نازل شولو' چه ورستو منسوخ شولو: (ترجمه) مونږ خپل پروردګار سره یوځائے شولو. مونږ ذ هغهٔ نه راضي یو' او هغه خمونږ نه راضي دے. دے نه

لِحْيَانَ وَ عُصَيَّةَ الَّذِيْنَ عَصَوُا اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

پس نبي كريم صلي الله عليه وسلم ديرش ورخو پورے رعل، ذكوان، بني لحيان او بني عصيه د پاره بددعا كوله، چه هغوي د الله او د هغه د رسول نافرماني او كره.

۱۳۳: حَدَّثَنِيْ حِبَّانُ اَخْبَرَنَا عَبْدُ اللّٰهِ اَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ قَالَ حَدَّثَنِيْ ثُمَامَةُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اَنَسٍ اَنَّهُ سَمِعَ اَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُوْلُ لَمَّا طُعِنَ حَرَامُ بْنُ مِلْحَانَ وَ كَانَ خَالَهُ يَوْمَ بِئْرِ مَعُوْنَةَ قَالَ بِالدَّمِ هٰكَذَا فَنَضَحَهُ عَلٰى وَجْهِهٖ وَ رَأْسِهٖ ثُمَّ قَالَ فُزْتُ وَ رَبِّ الْكَعْبَةِ.

۱۳۳: حبان. عبدالله بن مبارك. معمر. ثمامه بن عبدالله. حضرت انس بن مالك نه روايت كوي، هغه اووے، كوم وخت چه خما ماما حرام بن ملحان، نيزے سره شهيد كړے شو، د بير معونه په ورځ نو هغه خپله وينه خپل لاس سره په خپل مخ اومرلہ. او وے وئيل، د كعبے په رب م دے قسم وي، زهٔ خپل مراد ته اورسيدم.

۱۳۴: حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ اِسْمٰعِيْلَ حَدَّثَنَا اَبُوْ اُسَامَةَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتِ اسْتَأْذَنَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَبُوْ بَكْرٍ فِي الْخُرُوْجِ حِيْنَ اشْتَدَّ عَلَيْهِ الْاَذٰى فَقَالَ لَهُ اَقِمْ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَتَطْمَعُ اَنْ يُّؤْذَنَ لَكَ فَكَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اِنِّيْ لَاَرْجُوْ ذٰلِكَ قَالَتْ فَانْتَظَرَهُ اَبُوْبَكْرٍ فَاَتَاهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ ظُهْرًا فَنَادَاهُ فَقَالَ اَخْرِجْ مَنْ عِنْدَكَ فَقَالَ اَبُوْ بَكْرٍ اِنَّمَا هُمَا ابْنَتَايَ فَقَالَ اَشَعَرْتَ اَنَّهُ قَدْ اُذِنَ لِيْ فِي الْخُرُوْجِ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ الصُّحْبَةَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

۱۳۴: عبيد بن اسمعيل. ابو اسامه. هشام. بي بي عائشۂ نه روايت كوي، هغے اوفرمائيل، نبي صلي الله عليه وسلم نه ابوبكرؓ د مكه والو تكليف ليدو سره د مكے نه د بهر تلو اجازت اوغښتلو. حضورؐ ورته اوفرمائيل، لږ صبر او كه. حضرت ابوبكرؓ عرض او كهٔ: آيا تاسو دا غواړئے، چه زهٔ هغه وخته پورے ايسار شم، چه تاسو ته هم د تلو اجازت اوشي، حضور صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل، او. خما د خپل رب نه د دے اُميد دے. حضرت ابوبكرؓ انتظار كولو. يوه ورځ د ماسپخين په وخت حضور اكرمؐ ابوبكرؓ له راغے، آواز ئے ورته او كهٔ، او وے وئيل، كه تا سره څوك وي، نو هغه لرے كړه. حضرت ابوبكرؓ عرض او كهٔ، هيڅوك نشته، خما دوه جينكئ (عائشۂ او اسماء) دي. حضورؐ اوفرمائيل، تاته معلومه ده، ماته د هجرت اجازت اوشولو. حضرت ابوبكرؓ اووے، زهٔ به هم تاسو سره ملګرتيا كښ خم،

وَسَلَّمَ الصُّحْبَةَ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ عِنْدِيْ نَاقَتَانِ قَدْ كُنْتُ اَعْدَدْتُّهُمَا لِلْخُرُوْجِ فَاَعْطَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِحْدٰهُمَا وَ هِيَ الْجَدْعَآءُ فَرَكِبَا فَانْطَلَقَا حَتّٰى اَتَيَا الْغَارَ وَهُوَ بِثَوْرٍ فَتَوَارَيَا فِيْهِ فَكَانَ عَامِرُ بْنُ فُهَيْرَةَ غُلَامًا لِعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الطُّفَيْلِ بْنِ سَخْبَرَةَ اَخُوْ عَائِشَةَ لِاُمِّهَا وَ كَانَتْ لِاَبِيْ بَكْرٍ مِنْحَةٌ فَكَانَ يَرُوْحُ بِهَا وَ يَغْدُوْ عَلَيْهِمْ وَ يُصْبِحُ فَيَدَّلِجُ اِلَيْهِمَا ثُمَّ يَسْرَحُ فَلَا يَفْطُنُ بِهٖ اَحَدٌ مِنَ الرِّعَآءِ فَلَمَّا خَرَجَ مَعَهُمَا يُعْقِبَانِهٖ حَتّٰى قَدِمَا الْمَدِيْنَةَ فَقُتِلَ عَامِرُ بْنُ فُهَيْرَةَ يَوْمَ بِئْرِ مَعُوْنَةَ وَ عَنْ اَبِيْ اُسَامَةَ قَالَ قَالَ هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ فَاَخْبَرَنِيْ اَبِيْ قَالَ لَمَّا قُتِلَ الَّذِيْنَ بِبِئْرِ مَعُوْنَةَ وَ اُسِرَ عَمْرُو بْنُ اُمَيَّةَ الضَّمْرِيُّ قَالَ لَهٗ عَامِرُ بْنُ الطُّفَيْلِ مَنْ هٰذَا فَاَشَارَ اِلٰى قَتِيْلٍ فَقَالَ لَهٗ عَمْرُو بْنُ اُمَيَّةَ هٰذَا عَامِرُ بْنُ فُهَيْرَةَ فَقَالَ لَقَدْ رَاَيْتُهٗ بَعْدَ مَا قُتِلَ رُفِعَ اِلَى السَّمَآءِ حَتّٰى اَنِّيْ لَاَنْظُرُ اِلَى السَّمَاءِ بَيْنَهٗ وَ بَيْنَ الْاَرْضِ ثُمَّ وُضِعَ فَاَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَبَرُهُمْ فَنَعَاهُمْ فَقَالَ اِنَّ اَصْحَابَكُمْ قَدْ اُصِيْبُوْا وَ اِنَّهُمْ قَدْ سَاَلُوْا رَبَّهُمْ

حضورؐ ورته اوفرمائيل' ښه خبره ده' ابوبكرؓ عرض اوكړ' ماسره دوه تيز رفتاره اوښے دي' چه سفر د پاره ئې تيارے كړے شوے دي' نو هغے كښې يوه اوښه چه د هغے نوم جدعا وو' هغه ئے حضورؐ له وركړله' بيا خپله هم سور شو' د حضورؐ ملګرتيا كښې روان شولو. غار ثور له راغلل' هلته روپوش شول' عامر بن فهيره ذ عبدالله بن طفيل غلام وو. عبدالله د بي بي عائشے مور راوړے ورور وو' او حضرت ابوبكرؓ له به ئے پئے وركونكے اوښه سحر ماښام راوستله' او ذ شپے به هم هغوي له تلو راتلو. هيڅ كله به ذ دے راز نه واقف نه وو. كوم وخت چه حضور اكرم صلي الله عليه وسلّم او حضرت ابوبكر رضي الله عنه ذ هغے غار نه راووتل' نو هغه ئے خان سره ملګرتيا كښې واخست' او دے دواړو به ورته لار ښودله. لار كښې به حضور اكرم صلي الله عليه وسلّم او حضرت ابوبكرؓ وار په وار دوي په خپله سورلۍ كينول. دا عامر بن فهيره ذ بير معونه په ورځ شهيد شو' او عمرو بن اُميه ضمري قيد كړے شو' نو عامر بن طفيل اشارے كولو سره تپوس اوكړ' دا لاش ذ چا دے نو هغه اووے' دا عامر بن فهيره دے. عامر بن طفيل وائي' كوم وخت چه دے شهيد شولو' نو ذ هغه لاش آسمان ته اوچت كړے شو' ما اوليدل' چه ذ آسمان او زمكے مينځ كښې معلق دے. بيا په زمكه كيښودے شو. حضور اكرم صلي الله عليه وسلّ ته جبرائيلؑ ذ دے واقعے خبر وركړ' نو حضورؐ صحابهؓ ته اوفرمائيل' ستاسو ورونړه شهيدان كړے شو. او هغوي ذ شهادت په وخت دا دُعا غوښتلے وه' چه يا الله خمونږ خبر خمونږ ورونړوله وركړے' چه مونږ

فَقَالُوا اَخْبِرْ عَنَّا اَخْوَانَنَا بِمَا رَضِيْنَا عَنْكَ وَ رَضِيْتَ عَنَّا فَاَخْبَرَهُمْ عَنْهُمْ وَ اُصِيْبَ يَوْمَئِذٍ فِيْهِمْ عُرْوَةُ بْنُ اَسْمَآءَ بْنِ الصَّلْتِ فَسُمِّيَ عُرْوَةُ بِهٖ وَ مُنْذِرُ بْنُ عَمْرٍو سُمِّيَ بِهٖ مُنْذِرًا.

تانه راضي يو' او ته خمونږ نه راضي شوے الله ذ هغوی خبر مسلمانانوته اورسولو. دغې شهیدانو کښ عروه بن اسماء بن الصلت هم وو. په دے وجه چه عروه بن زبير پيدا شولو' نو ذ هغه نوم عروه كيښودے شو. او دغے شهیدانو کښ منذر بن عمرو هم وو' په دے وجه منذر (بن زبیر) نوم ئے کیښودے شو.

۱۳۵ : حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ اَخْبَرَنَا عَبْدُ اللّٰهِ اَخْبَرَنَا سُلَيْمٰنُ التَّيْمِيُّ عَنْ اَبِيْ مِجْلَزٍ عَنْ اَنَسٍ قَالَ قَنَتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ الرُّكُوْعِ شَهْرًا يَدْعُوْا عَلٰى رِعْلٍ وَ ذَكْوَانَ وَ يَقُوْلُ عُصَيَّةُ عَصَتِ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهُ.

۱۳۵ : محمد بن مقاتل. عبدالله بن مبارک. سليمان تيمي. ابو مجلز. حضرت انسؓ نه روایت کوي' هغه اووے. حضور اكرم صلي الله عليه وسلم به یو میاشت پورے ذ رکوع نه پس قنوت لوستلو. حضورؐ ذ رعل ذکوان او عصیه ذ خدائے ا ورسول نافرمانو ذ پاره بددعا كوله.

۱۳۶ : حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ اِسْحٰقَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اَبِيْ طَلْحَةَ عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ قَالَ دَعَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الَّذِيْنَ قَتَلُوْا يَعْنِيْ اَصْحَابَهٗ بِبِئْرِ مَعُوْنَةَ ثَلٰثِيْنَ صَبَاحًا حِيْنَ يَدْعُوْ عَلٰى رِعْلٍ وَّ ذَكْوَانَ وَلِحْيَانَ وَ عُصَيَّةُ عَصَتِ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَنَسٌ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى نَبِيِّهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الَّذِيْنَ قُتِلُوْا اَصْحَابُ بِئْرِ مَعُوْنَةَ قُرْاٰنًا قَرَاْنَاهُ حَتّٰى نُسِخَ بَعْدُ بَلِّغُوْا قَوْمَنَا فَقَدْ لَقِيْنَا رَبَّنَا فَرَضِيَ عَنَّا وَ رَضِيْنَا عَنْهُ.

۱۳۶ : يحيي بن بكير. امام مالک. اسحاق بن عبدالله بن ابي طلحهؓ. حضرت انس بن مالكؓ نه روایت کوي' هغه اووے' حضور صلي الله عليه وسلم ديرش ورځے ذ هغے خلقو د پاره چه هغوي په بير معونه د حضور صلي الله عليه وسلم اصحاب شهيدان كړے وو' يعني رعل' ذكوان او بني لحيان د پاره ئے بددعا كوله' او وے فرمائيل' چه عصيه ذ الله او ذ هغه د رسولؐ نافرماني كړے ده. حضرت انسؓ وائي. بيا الله تعالي په خپل رسول د بير معونه د دے شهیدانو په حق کښ آیت نازل کړلو. خو ورستو ذ هغے لوستل موقوف شو' هغه آیت دا دے: بلغوا قومنا لقد لقينا ربنا فرضي عنا و رضينا عنه.

۱۳۷ : حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ اِسْمٰعِيْلَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ حَدَّثَنَا عَاصِمُ الْاَحْوَلُ قَالَ سَأَلْتُ اَنَسَ بْنَ مَالِكٍ عَنِ الْقُنُوْتِ فِي الصَّلٰوةِ فَقَالَ نَعَمْ فَقُلْتُ كَانَ قَبْلَ الرُّكُوْعِ اَوْ بَعْدَهٗ قَالَ قَبْلَهٗ قُلْتُ فَاِنَّ فُلَانًا اَخْبَرَنِيْ عَنْكَ اَنَّكَ قُلْتَ بَعْدَهٗ قَالَ كَذَبَ اِنَّمَا قَنَتَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ الرُّكُوْعِ شَهْرًا اَنَّهٗ كَانَ بَعَثَ نَاسًا يُقَالُ لَهُمُ الْقُرَّآءُ وَهُمْ سَبْعُوْنَ رَجُلًا اِلٰى نَاسٍ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ وَ بَيْنَهُمْ وَ بَيْنَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَهْدٌ قِبَلَهُمْ فَظَهَرَ هٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ كَانَ بَيْنَهُمْ وَ بَيْنَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَهْدٌ فَقَنَتَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ الرُّكُوْعِ شَهْرًا يَدْعُوْ عَلَيْهِمْ.

۱۳۷ : موسي بن اسمعيل. عبدالواحد بن زياد. عاصم بن سليمان نه روايت کوي٬ هغه اووې: ما حضرت انسؓ نه تپوس او کړ٬ چه مانځه کښې قنوت لوستل ثابت دي٬ هغه اووې: تيک دي. ما ورته اووې٬ د رکوع نه مخکښې يا ورستو؟ هغه اووې: د رکوع نه مخکښې. ما اووې چه فلانی صاحب (محمد بن سيرين يا بل څوک) خو ستاسو په حواله وائي٬ چه تاسو ونيلي دي د رکوع نه پس. انسؓ اووې٬ هغه غلط وائي٬ د رکوع نه پس حضورؐ صرف يو مياشت پورې قنوت لوستے وو. د هغې وجه دا وه٬ چه حضورؐ اويا قاريان مشرکانو ته ليږلي وو٬ څکه چه د هغوي حضورؐ سره عهد وو٬ او معاهدينو کفارو عهد مات کړلو٬ او دهوکې سره ئې هغه قاريان شهيدان کړل٬ نو هغه وخت رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم يو مياشت پورې د رکوع نه پس قنوت لوستے وو٬ او هغوي د پاره ئې بددُعا کړې ده.

بَابٌ ۳۰: غَزْوَةِ الْخَنْدَقِ وَ هِيَ الْاَحْزَابُ قَالَ مُوْسَى بْنُ عُقْبَةَ كَانَتْ فِيْ شَوَّالٍ سَنَةَ اَرْبَعٍ.

باب ۳۰: د جنګ خندق بيان. دې ته احزاب هم ونيلي شي٬ موسي بن عقبه وائي٬ دا جنګ شوال ۴ھ کښې واقعه شوې وو.

۱۳۸ : حَدَّثَنَا يَعْقُوْبُ بْنُ اِبْرٰهِيْمَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيْدٍ عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ قَالَ اَخْبَرَنِيْ نَافِعٌ عَنِ ابْنِ عُمَرَؓ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَرَضَهٗ يَوْمَ اُحُدٍ وَّهُوَ ابْنُ

۱۳۸ : يعقوب بن ابراهيم. يحيي بن سعيد. عبيداللّٰه عمري. نافع. حضرت ابن عمرؓ نه روايت کوي٬ هغه زهٔ د اُحد په ورځ د حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم مخکښې پيش کړې شوم. هغه وخت د څوارلس کالو ووم. حضورؐ زهٔ جنګ کښې د حصه اخستلو نه منع

اَرْبَعَ عَشَرَ فَلَمْ يُجِزْهُ وَ عَرَضَهُ يَوْمَ الْخَنْدَقِ وَهُوَ ابْنُ خَمْسَ عَشَرَةَ فَأَجَازَهُ.

کرم. لیکن خندق کښې زۀ د پنځلسو کالو ووم. حضورٌ اولیدم او جنګ کښې د شریکیدو اجازت ئې راکړلو.

۱۳۹ : حَدَّثَنِيْ قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيْزِ عَنْ حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍؓ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْخَنْدَقِ وَهُمْ يَحْفِرُوْنَ وَ نَحْنُ نَنْقُلُ التُّرَابَ عَلٰى اَكْتَادِنَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَللّٰهُمَّ لَا عَيْشَ اِلَّا عَيْشُ الْاٰخِرَةِ فَاغْفِرْ لِلْمُهَاجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ.

۱۳۹ : قتیبه بن سعید. عبدالعزیز بن ابي حازم. هغه د خپل پلار سلمه بن دینار نه هغه د حضرت سهل بن سعدؓ نه روایت کوي هغه اوفرمائیل مونږ خلقو رسول الله صلي الله علیه وسلّم سره خندق کنولو او خاوره مو په اوږو چلوله نو هغه وخت رسول الله صلي الله علیه وسلّم اوفرمائیل اے الله د آخرت د عیش نه سوا هیڅ عیش بنه نه دے نو انصار او مهاجرین اوبښه او په هغوي مهرباني اوکړے.

۱۴۰ : حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو حَدَّثَنَا اَبُوْ اِسْحَاقَ عَنْ حُمَيْدٍ سَمِعْتُ اَنَسًاؓ يَقُوْلُ خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلَى الْخَنْدَقِ فَاِذَا الْمُهَاجِرُوْنَ وَالْاَنْصَارُ يَحْفِرُوْنَ فِيْ غَدَاةٍ بَارِدَةٍ فَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ عَبِيْدٌ يَعْمَلُوْنَ ذٰلِكَ لَهُمْ فَلَمَّا رَاٰى مَا بِهِمْ مِنَ النَّصَبِ وَالْجُوْعِ قَالَ اَللّٰهُمَّ اِنَّ الْعَيْشَ عَيْشُ الْاٰخِرَةِ. فَاغْفِرْ لِلْاَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرَةِ. فَقَالُوْا مُجِيْبِيْنَ لَهُ ـ

نَحْنُ الَّذِيْنَ بَايَعُوْا مُحَمَّدَا<br>عَلَى الْجِهَادِ مَا بَقِيْنَا اَبَدَا

۱۴۰ : عبدالله بن محمد. معاویه بن عمرو. ابو اسحٰق. حمید طویل. حضرت انس بن مالکؓ نه روایت کوي هغه وائي رسول الله صلي الله علیه وسلّم چه خندق ته تشریف یوړلو نو څۀ ګوري چه مهاجرین او انصار یخنی کښې خندق کني هغوي سره دے کار اخستو د پاره غلامان هم نۀ وو. حضورؐ چه د هغوي تکلیف او لوږه اولیده نو وے فرمائیل اے الله عیش خو د آخرت بهتر دے نو مهاجرین او انصار اوبښه. مسلمانانو چه دا واوریدل نو جواب کښې ئې اووے:

مونږ خو محمد صلي الله علیه وسلّم سره بیعت کړے دے<br>خو پورے چه جسم کښې مو ساه وَه نو جهاد به کوو.

۱۴۱ : حَدَّثَنَا اَبُوْ مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا

۱۴۱ : ابومعمر. عبدالوارث. عبدالعزیز

عَبْدُ الْوَارِثِ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيْزِ عَنْ اَنَسٍ قَالَ جَعَلَ الْمُهَاجِرُوْنَ وَالْاَنْصَارُ يَحْفِرُوْنَ الْخَنْدَقَ حَوْلَ الْمَدِيْنَةِ وَ يَنْقُلُوْنَ التُّرَابَ عَلٰى مُتُوْنِهِمْ وَهُمْ يَقُوْلُوْنَ.

نَحْنُ الَّذِيْنَ بَايَعُوْا مُحَمَّدَا
عَلَى الْاِسْلَامِ مَا بَقِيْنَا اَبَدَا

قَالَ يَقُوْلُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُجِيْبُهُمْ اَللّٰهُمَّ اِنَّهُ لَا خَيْرَ اِلَّا خَيْرُ الْاٰخِرَةْ. فَبَارِكْ فِى الْاَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرَةْ. قَالَ وَ يُؤْتَوْنَ بِمِلْءِ كَفَّيَّ مِنَ الشَّعِيْرِ فَيُصْنَعُ لَهُمْ بِاِهَالَةٍ سَنِخَةٍ تُوْضَعُ بَيْنَ يَدَيِ الْقَوْمِ وَالْقَوْمُ جِيَاعٌ وَّ هِيَ بَشِعَةٌ فِي الْحَلْقِ وَلَهَا رِيْحٌ مُّنْتِنٌ.

۱۴۲ : حَدَّثَنَا خَلَّادُ بْنُ يَحْيٰى حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ اَيْمَنَ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ اَتَيْتُ جَابِرًا فَقَالَ اِنَّا يَوْمَ الْخَنْدَقِ نَحْفِرُ فَعَرَضَتْ كُدْيَةٌ شَدِيْدَةٌ فَجَآؤُا النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوْا هٰذِهٖ كُدْيَةٌ عَرَضَتْ فِي الْخَنْدَقِ فَقَالَ اَنَا نَازِلٌ ثُمَّ قَامَ وَ بَطْنُهُ مَعْصُوْبٌ بِحَجَرٍ وَّ لَبِثْنَا ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ لَا نَذُوْقُ ذَوَاقًا فَاَخَذَ النَّبِيُّ صَلّٰى

بن صهيب. حضرت انس بن مالک نه روايت کوي' هغه اووې' مهاجرينو او انصارو د مدينې اطرافو کښ خندق کنولو' او خاوره ئې په خپلو اوږو چلوله' او وئيل ئې:

موږ هغه يو چه د محمدؐ په لاس مو بيعت کړے دے
چه تول عمر به په اسلام قائم اوسو

حضور صلي الله عليه وسلم ذ هغوي په جواب کښ اوفرمائيل:

اے الله فائده خو ذ آخرت بهتره ده
انصارو او مهاجرينو کښ برکت واچوے

حضرت انسؓ وائي' چه يو يو موټے وربشے به ئې راوړلے. بيا به ئې هغه بدمزه چربئ کښ پخولے' او په جمع به ئې خوړلے' حالانکه هغه به حلق کښ انښتلے' او ذ هغے نه به بوئ راتلو.

۱۴۲ : خلاد بن يحيي. عبدالواحد بن ايمن' ذ خپل پلار ايمن نه روايت کوي' هغهٔ اووې' زهٔ جابر بن عبدالله له راغلم' هغهٔ اوفرمائيل' موږ خندق کنولو' دے کښ يو سخت کانړے راوخت. موږ ذ نبي صلي الله عليه خدمت کښ حاضر شو' او عرض مو اوکهٔ' خندق کښ يو سخت کانړے راختلے دے' څهٔ کول پکار دي' حضورؐ اوفرمائيل' لږ صبر اوکړئ' زهٔ خپله خندق ته کوزيږم بيا حضورؐ اودريدلو' او ذ حضورؐ په خيټه (ذ لوږے نه) کانړي ترلے وو' او ذ درے ورځو اوږے تږے وو' موږ خلقو هم ذ درے ورځو نه څهٔ نه وو خوړلي. حضورؐ کدالئ لاس کښ واخسته' او د هغے کانړي به

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمِغْوَلَ
فَضَرَبَ فَعَادَ كَثِيْبًا اَهْيَلَ
اَوْ اَهْيَمَ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ
اللّٰهِ ائْذَنْ لِّيْ اِلَى الْبَيْتِ
فَقُلْتُ لِامْرَاَتِيْ رَاَيْتُ بِالنَّبِيِّ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا
مَا كَانَ فِيْ ذٰلِكَ صَبْرٌ فَعِنْدَكِ
شَيْءٌ قَالَتْ عِنْدِيْ شَعِيْرٌ
وَّ عَنَاقٌ فَذَبَحْتُ الْعَنَاقَ
وَ طَحَنَتِ الشَّعِيْرَ حَتّٰى جَعَلْنَا
اللَّحْمَ فِي الْبُرْمَةِ ثُمَّ جِئْتُ
النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ وَالْعَجِيْنُ قَدِ انْكَسَرَ
وَالْبُرْمَةُ بَيْنَ الْاَثَافِيِّ قَدْ كَادَتْ
اَنْ تَنْضَجَ فَقُلْتُ طُعَيِّمٌ لِّيْ
فَقُمْ اَنْتَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَ
رَجُلٌ اَوْ رَجُلَانِ قَالَ كَمْ
هُوَ فَذَكَرْتُ لَهٗ قَالَ كَثِيْرٌ
طَيِّبٌ قَالَ قُلْ لَهَا لَا تَنْزِعْ
الْبُرْمَةَ وَلَا الْخُبْزَ مِنَ التَّنُّوْرِ
حَتّٰى اٰتِيَ فَقَالَ قُوْمُوْا فَقَالَ
الْمُهَاجِرُوْنَ وَالْاَنْصَارُ فَلَمَّا
دَخَلَ عَلٰى امْرَاَتِهٖ قَالَ
وَيْحَكِ جَآءَ النَّبِيُّ صَلَّى
اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
بِالْمُهَاجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ وَمَنْ

سخته حصه نے گزار اوکړلو نو کاڼړے د شګو (ريت)
په شان اوبهيدلو تکړے تکړے شولو. راوي ته شک
دے چه څما شيخ اهيل يا اهيم لفظ اووے. آخر ما
اجازت اوغوښتلو چه کوره پورے د تلو اجازت راکړې.
زۀ کور ته راغلم او خپلے ښځے (سهيله بنت مسعود) ته
م اووے. نن ما يوه داسے خبره اوليده چه صبر کول راته
ګران شو يعني حضورؐ اوږے دے. آيا تا کره د خوراک
څۀ شته. ښځے راته اووے لږے شان وربشے شته. او د
چيلئے يو بچے (يعني چيلوګے) هم شته. ما د چيلئے هغه
بچے ذبح کۀ ښځے م وربشے اوړۀ کړے. او غوښه نے
کټوئے کښ پخولو د پاره واچوله اوړۀ خمبيره کيدل
او کټوئے پخيدو ته نزدے وه. دغه وخت زۀ حضورؐ له
راغلم او عرض م اوکۀ لږ شان طعام مو تيار کړے دے.
تاسو تشريف راوړئے او يو کس دوه نور هم خان سره
راولئے. حضورؐ تپوس اوکۀ څومره طعام تيار شوے دے
ما عرض اوکۀ يو صاع وربشے او يو چيلوګے مو
پخکړے دے. حضورؐ اوفرمائيل کافي دے. ښۀ ده تۀ
څه او خپلے بي بي ته اووايه چه څو پورے زۀ درنشم
کټوئے د نغري نه مۀ کوزوه. او روټئ د تنور نه مۀ
راوکاږه زۀ راځم. بيا حضورؐ مسلمانانو ته اوفرمائيل
پاسئے چه د جابر دعوت له ورشو. مهاجرين او انصار
اودريدل. جابر چه دا کيفيت اوليدلو نو ښځے له
ورغے ورته نے اووے. اوس به څۀ چل کيږي حضور
صلي اللّٰه عليه وسلّم خو مهاجرين انصار او ټول
ملګري خان سره راروان کړے دي. ښځے ورته اووے
آيا حضورؐ تاته څۀ تپوس کړے وو. ورته نے اووے او

مَعَهُمْ قَالَتْ هَلْ سَأَلَكَ قُلْتُ نَعَمْ فَقَالَ ادْخُلُوْا وَلَا تَضَاغَطُوْا فَجَعَلَ يَكْسِرُ الْخُبْزَ يَجْعَلُ عَلَيْهِ اللَّحْمَ وَ يُخَمِّرُ الْبُرْمَةَ وَالتَّنُّوْرَ إِذَا أَخَذَ مِنْهُ وَ يُقَرِّبُ إِلَى أَصْحَابِهِ ثُمَّ يَنْزِعُ فَلَمْ يَزَلْ يَكْسِرُ الْخُبْزَ وَ يَغْرِفُ حَتّٰى شَبِعُوْا وَ بَقِيَ بَقِيَّةٌ قَالَ كُلِيْ هٰذَا وَ أَهْدِيْ فَإِنَّ النَّاسَ أَصَابَتْهُمْ مَجَاعَةٌ.

تپوس نې کړې وو. بيا حضور صلي الله عليه وسلم تشريف راوړلو' او ټولو ته ئې اوفرمائيل دننه ځئ' او ګڼه ګوڼه مۀ کوئې. بيا حضورؐ روټۍ ماتې کړې' او په هغې ئې غوښه د ټولو مخکښې کېښوده. او تنور او کټوئې به ئې پټولې (يعني سر به ئې ترې نۀ لرې کولو). برابر دغسې ئې کول' تردې چې ټولو په مړه خېټه ډوډۍ اوخوړله' بيا هم لږ شان طعام باقي پاتې شو. بيا حضورؐ د جابر ښځې ته اوفرمائيل' ته هم اُوخوره او نورو خلقوته هم حصه اوليږه' ځکه چې نن صبا خلق د لوږې نه پريشانه دي.

۱۴۳ : حَدَّثَنِيْ عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا أَبُوْ عَاصِمٍ أَخْبَرَنَا حَنْظَلَةُ بْنُ أَبِيْ سُفْيَانَ أَخْبَرَنَا سَعِيْدُ بْنُ مِيْنَاءَ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ لَمَّا حُفِرَ الْخَنْدَقُ رَأَيْتُ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمَصًا شَدِيْدًا فَانْكَفَأْتُ إِلَى امْرَأَتِيْ فَقُلْتُ هَلْ عِنْدَكِ شَيْءٌ فَإِنِّيْ رَأَيْتُ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمَصًا شَدِيْدًا فَأَخْرَجَتْ إِلَيَّ جِرَابًا فِيْهِ صَاعٌ مِّنْ شَعِيْرٍ وَّلَنَا بُهَيْمَةٌ دَاجِنٌ فَذَبَحْتُهَا وَ طَحَنَتِ الشَّعِيْرَ فَفَرَغَتْ إِلَى فَرَاغِيْ وَ قَطَّعْتُهَا فِيْ بُرْمَتِهَا ثُمَّ وَلَّيْتُ إِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ لَا تَفْضَحْنِيْ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

۱۴۳ : عمرو بن علي. ابو عاصم. حنظله بن ابي سفيان. سعيد بن ميناء. حضرت جابر بن عبدالله نه روايت کوي' هغۀ اووې کوم وخت چې خندق کنولې شو' ما اوليدل' چې حضور صلي الله عليه وسلم سخت اوږې دې. زۀ کورته راغلم' او د ښځې نه م تپوس اوکۀ' د خوراک څۀ شته' ځکه چې حضور صلي الله عليه وسلم اُوږې معلوميږي ښځې د تهيلۍ نه وربشې راوښکلې' چې يو صاع وې کور کښې يو ساتلې چيلوګې هم وو. هغه ما ذبح کۀ. دې کښې ښځې م اُوړۀ اوکړل. او غوښه ئې پريکړه. کټوې کښې ئې واچوله. بيا زۀ د حضورؐ خدمت کښې حاضر شوم' ښځې خما د تلو په وخت راته اووې' ګوره چې ما د حضور صلي الله عليه وسلم او اصحابو په مخکښې شرمنده نۀ کړې' داسې نه چې ډېر سړي راشي' او طعام کم شي. ما رسول الله صلي الله عليه وسلم ته پټ شان عرض اوکۀ' ما

وَ بِمَنْ مَّعَهُ فَجِئْتُهُ فَسَارَرْتُهُ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ذَبَحْنَا بُهَيْمَةً لَّنَا وَطَحَنَّا صَاعًا مِّنْ شَعِيْرٍ كَانَ عِنْدَنَا فَتَعَالَ اَنْتَ وَ نَفَرٌ مَّعَكَ فَصَاحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا اَهْلَ الْخَنْدَقِ اِنَّ جَابِرًا قَدْ صَنَعَ سُوْرًا فَحَيَّ هَلًا بِكُمْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُنْزِلُنَّ بُرْمَتَكُمْ وَلَا تُخْبِزُنَّ عَجِيْنَكُمْ حَتّٰى اَجِيْٓءَ فَجِئْتُ وَ جَآءَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْدُمُ النَّاسَ حَتّٰى جِئْتُ اِمْرَاَتِيْ فَقَالَتْ بِكَ وَ بِكَ فَقُلْتُ قَدْ فَعَلْتُ الَّذِيْ قُلْتِ فَاَخْرَجَتْ لَهُ عَجِيْنًا فَبَصَقَ فِيْهِ وَ بَارَكَ ثُمَّ عَمَدَ اِلٰى بُرْمَتِنَا فَبَصَقَ وَ بَارَكَ ثُمَّ قَالَ ادْعُ خَابِزَةً فَلْتَخْبِزْ مَعِيْ وَاقْدَحِيْ مِنْ بُرْمَتِكُمْ وَلَا تُنْزِلُوْهَا وَهُمْ اَلْفٌ فَاُقْسِمُ بِاللّٰهِ لَقَدْ اَكَلُوْا حَتّٰى تَرَكُوْهُ وَانْحَرَفُوْا وَ اِنَّ بُرْمَتَنَا لَتَغِطُّ كَمَا هِيَ وَ اِنَّ عَجِيْنَنَا لَيُخْبَزُ كَمَا هُوَ.

بو چيلو کے پريکړے دے' او يو صاع وربشے مـ اوړه کړے دي' تاسو خان سره څو کسان راولئے. نو حضورؐ آواز اوکړلو' اے خندق والو' تادي کونے راځئے' جابر ډوډۍ پخ کړے ده. بيا حضورؐ ماته اوفرمائيل' ته ځه' خو خما ذ راتلو پورے کټوے مهٔ راکوزوه' او مهٔ ذ خميرے نه روټۍ پخوے' زهٔ لاړم' او حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم هم خلقو سره ذ راتلو تيارې شروع کړله' زهٔ چه راغلم' ښځے ته مـ ټولے خبرے اوکړلے' هغه ويرے واخسته' اوونيلے' دا' تا څهٔ اوکړل. ما اووے' ما ستا خبره هم رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم ته کړے وه. غرض حضورؐ تشريف راوړلو' او خميره کښې ذ خولے مبارکے لاړے واچولے. او ذ برکت دُعانے اوکړله' بيانے اوفرمائيل' اے جابره' روټۍ پخونکے راوغواړه' هغه دے ماسره نزدے روټۍ پخے کړي او ذ کټوۍ نه دے غوښه راوکاږي' او هغه دے ذ نغرۍ نه نهٔ لرے کوي. آخر ټولو په مړه خيټه ډوډۍ اوخوړله. کټوے دغسے پخيدله او جوش ئے وهلو او روټۍ پخيدلے' جابر وائي' په خدائے مـ دے قسم وي' طعام خوړونکي يو زر وو ټولو خوراک اوکړ' او بيا هم بچ پاتے شولو. کټوۍ ذ غوښے نه ډکه وه' او روټۍ برابر پخيدلے.

۱۴۴ : حَدَّثَنِيْ عُثْمَانُ بْنُ اَبِيْ شَيْبَةَ حَدَّثَنَا عَبْدَةُ عَنْ هِشَامٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ عَائِشَةَ اِذْ جَآءُوْكُمْ مِّنْ فَوْقِكُمْ وَمِنْ اَسْفَلَ مِنْكُمْ وَ اِذْ زَاغَتِ

۱۴۴ : عثمان بن ابي شيبه. عبده بن سليمان. هشام بن عروه. ذ خپل پلار عروه نه روايت کوي' هغه ذ بي بي عائشےؓ نه تپوس اوکهٔ ذ دے آيت څهٔ مطلب دے (ترجمه) کوم وخت چه کفارو ستاسو ذ پاسه نه او ذ لاندے نه حمله اوکړله او دشمن ليدو سره ستاسو

الْاَنْصَارُ قَالَتْ كَانَ ذَاكَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ.

سنر گے او بربخیدے. بي بي عائشے جواب ورکړ دا جنګ خندق د ورځے حال وو.

۱۴۵ : حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ اِبْرٰهِيْمَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ اَبِيْ اِسْحٰقَ عَنِ الْبَرَآءِ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْقُلُ التُّرَابَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ حَتّٰى اَغْمَرَ بَطْنَهُ يَقُوْلُ۔

۱۴۵ : مسلم بن ابراهیم. شعبه. ابو اسحاق حضرت براء بن عازب نه روایت دے هغه اووے رسول الله صلي الله علیه وسلّم د خندق په ورځ په خپله خاوره اوچتوله ترد ے چه د حضور صلي الله علیه وسلّم خیټه مبارکه خاورو پټه کړے وه یا ګرد آلوده شوے وه او حضورّ دا اشعار لوستل: (ترجمه)

وَاللّٰهِ لَوْلَا اللّٰهُ مَا اهْتَدَيْنَا
وَلَا تَصَدَّقْنَا وَلَا صَلَّيْنَا
فَأَنْزِلَنْ سَكِيْنَةً عَلَيْنَا
وَ ثَبِّتِ الْاَقْدَامَ اِنْ لَّاقَيْنَا
اِنَّ الْاُوْلٰى قَدْ بَغَوْا عَلَيْنَا
اِذَا اَرَادُوْا فِتْنَةً اَبَيْنَا
وَ رَفَعَ بِهَا صَوْتَهُ اَبَيْنَا اَبَيْنَا

یا الله که تا راته هدایت نه وے کړے نو خلاصے چرته وو مونږ به نه مونځونه کول او نه به مو زکوٰة ورکولو اوس په مونږ اے عالي صفاته تسلي نازله کړے خمونږ پښے کلکے کړے او جنګ کښې ثبات راکړے یے سببه په مونږ دے دشمنانو ظلم سره حمله کړے ده کوم وخت چه هغوي مونږ شرک ته رابللي نو مونږ د هغوي خبره نه آورو. رسول اکرم صلي الله علیه وسلّم به دا آخري مصرعه بلند آواز سره فرمائیله.

۱۴۶ : حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيْدٍ عَنْ شُعْبَةَ قَالَ حَدَّثَنِي الْحَكَمُ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نُصِرْتُ بِالصَّبَا وَ اُهْلِكَتْ عَادٌ بِالدَّبُوْرِ.

۱۴۶ : مسدد. یحیي بن سعید. شعبه. حکم بن عتبه. مجاهد. حضرت ابن عباسؓ نه روایت کوي، رسول الله صلي الله علیه وسلّم اوفرمائیل: خما "پروا" (صبا) هَوا سره مدد کړے شوے دے او قوم عاد د پچهوا هوا نه هلاک کړے شوے وو.

ف: پروا: جنوب یا د سهیل د غاړے هوا، د سهیل ډډے باد. پچهوا: د پچهم یعني د قبلے د ډډے باد، د نمر پریواتۀ د مخے هوا.

۱۴۷ : حَدَّثَنِيْ اَحْمَدُ بْنُ عُثْمَانَ حَدَّثَنَا شُرَيْحُ بْنُ مَسْلَمَةَ قَالَ حَدَّثَنِيْ اِبْرَاهِيْمُ بْنُ يُوْسُفَ قَالَ

۱۴۷ : احمد بن عثمان. شریح بن مسلمه. ابراهیم بن یوسف خپل پلار او نیکه ابو اسحاق نه روایت کوي، هغه اووے. ما د حضرت براء

حَدَّثَنِیُ اَبِیُ اِسُحٰقَ قَالَ سَمِعُتُ الْبَرَآءَ یُحَدِّثُ لَمَّا کَانَ یَوُمُ الْاَحُزَابِ وَ خَنُدَقَ رَسُوُلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیُهِ وَسَلَّمَ رَاَیُتُهٗ یَنُقُلُ مِنُ تُرَابِ الْخَنُدَقِ حَتّٰی وَ ارٰی عَنِّی الْغُبَارُ جِلُدَةَ بَطُنِهٖ وَ کَانَ کَثِیُرَ الشَّعُرِ فَسَمِعُتُهٗ یَرُتَجِزُ بِکَلِمَاتِ ابُنِ رَوَاحَةَ وَهُوَ یَنُقُلُ مِنَ التُّرَابِ یَقُوُلُ ۔

اَللّٰهُمَّ لَوُلَا اَنُتَ مَا اهُتَدَیُنَا
وَلَا تَصَدَّقُنَا وَلَا صَلَّیُنَا
فَاَنُزِلَنُ سَکِیُنَةً عَلَیُنَا
وَ ثَبِّتِ الْاَقُدَامَ اِنُ لَاقَیُنَا
اِنَّ الْاُوُلٰی قَدُ بَغَوُا عَلَیُنَا
وَ اِنُ اَرَادُوُا فِتُنَةً اَبَیُنَا

قَالَ ثُمَّ یَمُدُّ صَوُتَهٗ بِاٰخِرِهَا.

بن عازبؓ نه واوریدل، ذ هغه بیان دے، جنګ احزاب یعنې ذ خندق په ورځ ما اولیدل چه حضور صلي اللّٰه علیه وسلّم ذ خندق خاوره چلوي، تردے چه شکم مبارک (خیټه مبارکه) ئے په خاوره پټه شوے وه. ذ حضورؐ په سینه مبارکه ګنړ ویښته وو. حضور صلي اللّٰه علیه وسلّم ذ ابن رواحه دا اشعار لوستل:

(ترجمه) اے اللّٰه، که ستا هدایت نه وے او فضل دے نه وے، نو نهٔ به مونږ صدقه ورکوله، او نه به مونځ کولو. اے اللّٰه، مونږ ته تسکین عطا کړے. او ذ دشمنانو ذ مقابلې په وخت خمونږ پښے ټینګے کړے هغوي په مونږ ظلم کړے دے که دوي مونږ سره فتنه کوي، نو مونږ ئے نهٔ منو. بیا حضورؐ دا آخري مصرعه اوچت آواز سره ادا کوله.

۱۴۸ : حَدَّثَنِیُ عَبُدَةُ بُنُ عَبُدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا عَبُدُ الصَّمَدِ عَنُ عَبُدِ الرَّحُمٰنِ هُوَ ابُنُ عَبُدِ اللّٰهِ ابُنِ دِیُنَارٍ عَنُ اَبِیُهِ اَنَّ ابُنَ عُمَرَؓ قَالَ اَوَّلُ یَوُمٍ شَهِدُتُّهٗ یَوُمُ الْخَنُدَقِ.

۱۴۸ : عبده بن عبداللّٰه. عبدالصمد بن عبدالوارث. عبدالرحمٰن بن عبداللّٰه بن دینار، ذ خپل پلار نه روایت کوي، ابن عمرؓ وئیلے ذ ټولو نه مخکښ چه زهٔ کوم جنګ کښ شریک شوم، هغه ذ خندق ورځ وه، یعني جنګ خندق وو.

۱۴۹ : حَدَّثَنِیُ اِبُرٰهِیُمُ بُنُ مُوُسٰی اَخُبَرَنَا هِشَامٌ عَنُ مَعُمَرٍ عَنِ الزُّهُرِیِّ عَنُ سَالِمٍ عَنِ ابُنِ عُمَرَؓ قَالَ وَ اَخُبَرَنِیُ ابُنُ طَاوُسٍ عَنُ عِکُرَمَةَ بُنِ خَالِدٍ عَنِ ابُنِ عُمَرَ قَالَ دَخَلُتُ عَلٰی حَفُصَةَ وَ نَسُوَاتُهَا تَنُطُفُ قُلُتُ قَدُ

۱۴۹ : ابراهیم بن موسي. هشام. معمر. زهري. سالم بن عبداللّٰه بن دینار. حضرت ابن عمرؓ نه روایت کوي، هغهٔ اووے زهٔ ام المؤمنین بي بي حفصےؓ له ورغلم، نو ذ هغے ذ ویښتو نه اُوبهٔ څڅیدلے، ما ورته اووے، ته وینے، چه خلقو دا څهٔ کړے دي. ما ته خو ذ حکومت نه هیڅ څیز حاصل نه شولو،

كَانَ مِنْ أَمْرِ النَّاسِ مَا تَرَيْنَ فَلَمْ يُجْعَلْ لِيْ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ فَقَالَتِ الْحَقْ فَإِنَّهُمْ يَنْتَظِرُوْنَكَ وَ أَخْشٰى أَنْ يَّكُوْنَ فِي احْتِبَاسِكَ عَنْهُمْ فُرْقَةٌ فَلَمْ تَدَعْهُ حَتّٰى ذَهَبَ فَلَمَّا تَفَرَّقَ النَّاسُ خَطَبَ مُعَاوِيَةُ قَالَ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ أَنْ يَّتَكَلَّمَ فِيْ هٰذَا الْأَمْرِ فَلْيُطْلِعْ لَنَا قَرْنَهُ فَلَنَحْنُ أَحَقُّ بِهِ مِنْهُ وَمِنْ أَبِيْهِ قَالَ حَبِيْبُ بْنُ مَسْلَمَةَ فَهَلَّا أَجَبْتَهُ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ فَحَلَلْتُ حُبْوَتِيْ وَ هَمَمْتُ أَنْ أَقُوْلَ أَحَقُّ بِهٰذَا الْأَمْرِ مِنْكَ مَنْ قَاتَلَكَ وَ أَبَاكَ عَلَى الْإِسْلَامِ فَخَشِيْتُ أَنْ أَقُوْلَ كَلِمَةً تُفَرِّقُ بَيْنَ الْجَمْعِ وَ تَسْفِكُ الدَّمَ وَ يُحْمَلُ عَنِّيْ غَيْرُ ذٰلِكَ فَذَكَرْتُ مَا أَعَدَّ اللّٰهُ فِي الْجِنَانِ قَالَ حَبِيْبٌ حُفِظْتَ وَ عُصِمْتَ قَالَ مَحْمُوْدٌ عَنْ عَبْدِ الرَّزَّاقِ وَ نَوْسَاتُهَا.

هغې اوفرمائيل، ته لاړ شه، خلقو سره ملاقات اوكړه، هغوي ستا انتظار كوي. چرته داسې نه وي. چه ته لاړ نه شې او هغوي كښې اختلاف پيدا شي. غرض دَ ام المؤمنين په وينا هغه لاړلو. آخر كښې امير معاويهؓ خطبه اولوسته اووې وئيل. كه څوک دَ خلافت معامله كښې څه وئيل غواړي. نو مخې ته دې راشي. مونږ دَ هغهٔ او دَ هغهٔ د پلار نه زيات مستحق يو. حبيب بن مسلمه اووې. تاسو امير معاويهؓ له جواب ولې ورنهٔ كړلو ابن عمرؓ ورته اووې، ما غوښتل. چه معاويه ته جواب كښې اووايم، چه دې معامله كښې ستا نه او ستا دَ پلار نه زيات هغه مستحق دې، چه دَ اسلام په خاطر ئې تاسره او ستا پلار سره جنګ كړې دې خو زهٔ د مسلمانانو تر مينځه دَ خون ريزئ دَ خوف نه خاموش شوم. د جنت په ثواب مې قناعت اوكړهٔ. حبيب اووې. تاسو خپل ځان دَ فساد نه بچ كړلو. دا حديث محمود بن غيلان هم دَ عبدالرزاق او هغهٔ دَ معمر نه روايت كړې دې. هغې كښې د "نسواتها" په ځائې "نوساتها" دې.

**١٥٠ :** حَدَّثَنَا أَبُوْ نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ أَبِيْ إِسْحٰقَ عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ صُرَدٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْأَحْزَابِ نَغْزُوْهُمْ وَلَا يَغْزُوْنَنَا.

**١٥٠ :** ابو نعيم. سفيان. ابو اسحاق. سليمان بن صرد نه روايت كوي. هغهٔ اووې. رسول الله صلي الله عليه وسلم د احزاب په ورځ اوفرمائيل. اوس به مونږ په هغوي حمله كوو. هغوي به په مونږ حمله نه كوي.

**١٥١ :** حَدَّثَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيْلُ سَمِعْتُ أَبَا إِسْحٰقَ يَقُوْلُ

**١٥١ :** عبدالله بن محمد. يحيي بن آدم. اسرائيل. ابو اسحاق. سليمان بن صرد نه روايت كوي. هغهٔ وئيلې. د جنګ خندق په ورځ چه كافر

سَمِعْتُ سُلَيْمَانَ بْنَ صُرَدٍ يَقُوْلُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ حِيْنَ اَجْلَى الْاَحْزَابَ عَنْهُ اَلْاٰنَ نَغْزُوْهُمْ وَلَا يَغْزُوْنَنَا نَحْنُ نَسِيْرُ اِلَيْهِمْ.

خپلو خپلو ملكونو ته واپس شو، او ميدان صاف شو، نو ما واوريدل، رسول اكرم صلي الله عليه وسلّم فرمائيل، اوس به د نن نه پس مونږ په هغوي چړهائي كوو، او ورسره به جنګيږو، هغوي به په مونږ چړهائي نه كوي.

۱۵۲: حَدَّثَنَا اِسْحٰقُ حَدَّثَنَا رَوْحٌ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ عُبَيْدَةَ عَنْ عَلِيٍّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ قَالَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ مَلَاَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ بُيُوْتَهُمْ وَ قُبُوْرَهُمْ نَارًا كَمَا شَغَلُوْنَا عَنْ صَلٰوةِ الْوُسْطٰى حَتّٰى غَابَتِ الشَّمْسُ.

۱۵۲: اسحاق بن منصور. روح بن عباد. هشام بن حسان. محمد بن سيرين. عبيده سلماني. حضرت عليؓ نه روايت كوي، حضور اكرم صلي الله عليه وسلّم د خندق په ورځ اوفرمائيل اے الله، د كافرو كورونه او قبرونه د اُور نه ډک كړے، ځكه چه هغوي مونږ مينځني مونځ ته پرے نۀ ښودلو. او نمر پريوتلو (جنګ كښې د مشغوليت په وجه).

۱۵۳: حَدَّثَنَا الْمَكِّيُّ بْنُ اِبْرٰهِيْمَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ يَحْيٰى عَنْ اَبِيْ سَلَمَةَ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ اَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ جَآءَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ بَعْدَ مَا غَرَبَتِ الشَّمْسُ جَعَلَ يَسُبُّ كُفَّارَ قُرَيْشٍ وَ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا كِدْتُ اَنْ اُصَلِّيَ حَتّٰى كَادَتِ الشَّمْسُ اَنْ تَغْرُبَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللّٰهِ مَا صَلَّيْتُهَا فَنَزَلْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُطْحَانَ فَتَوَضَّاَ لِلصَّلٰوةِ وَ تَوَضَّاْنَا لَهَا فَصَلَّى الْعَصْرَ بَعْدَ مَا غَرَبَتِ الشَّمْسُ ثُمَّ صَلَّى بَعْدَهَا الْمَغْرِبَ.

۱۵۳: مكي بن ابراهيم. هشام بن حسان. يحيي بن ابي كثير. ابو سلمه بن عبدالرحمٰن. حضرت جابر بن عبداللّٰهؓ نه روايت كوي، هغه فرمائي، د خندق په ورځ حضرت عمر بن خطابؓ د نمر ډوبيدو نه پس كافرو بانديے بد وئيلے، تشريف نيے راوړو. او عرض نيے اوكۀ، اے د اللّٰه رسوله، ما د مازيګر مونځ اونۀ كړے شو. او نمر پريوتلو. حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل، په خدائيے چه ما هم مونځ نۀ دے كړے. بيا حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم سره وادي بطحان ته راغلو. حضور اكرم صلي اللّٰه عليه وسلّم او مونږ اودس اوكړلو، نمر ډوب شوے وو، اول نيے د مازيګر مونځ راكړلو، بيا د ماښام مونځ.

۱۵۴ : حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيْرٍ اَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنِ ابْنِ الْمُنْكَدِرِ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرًا يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْاَحْزَابِ مَنْ يَّأْتِيْنَا بِخَبَرِ الْقَوْمِ فَقَالَ الزُّبَيْرُ اَنَا ثُمَّ قَالَ مَنْ يَّأْتِيْنَا بِخَبَرِ الْقَوْمِ فَقَالَ الزُّبَيْرُ اَنَا ثُمَّ قَالَ اِنَّ لِكُلِّ نَبِيٍّ حَوَارِيًّا وَ اِنَّ حَوَارِيَّ الزُّبَيْرُ.

۱۵۴ : محمد بن كثير. سفيان. محمد بن منكدر. حضرت جابرؓ نه روايت كوي، هغهٔ اووے، ما ذ رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم نه آوريدلے دي، ذ جنګ احزاب په ورځ، څوک شته چه د كفار قريش خبر راوړي، زبير اووے، زهٔ موجود يم. بيائے اوفرمائيل، څوک شته، چه مونږ ته د قوم خبر راوړي، زبير اووے، زهٔ يم، بيائے اوفرمائيل، څوک شته، چه ذ بني قريظه خبر راوړي، زبير بن عوام اووے، زهٔ موجود يم. بيا حضور اكرم صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل، ذ هر پيغمبر حواري (خاص ملګرے) وي، او څما حواري زبير بن عوام دے.

۱۵۵ : حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيْدٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ اَبِيْ سَعِيْدٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُوْلُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ اَعَزَّ جُنْدَهٗ وَ نَصَرَ عَبْدَهٗ وَ غَلَبَ الْاَحْزَابَ وَحْدَهٗ فَلَا شَيْءَ بَعْدَهٗ.

۱۵۵ : قتيبه بن سعيد. ليث بن سعد. سعيد بن ابي سعيد ذ خپل پلار نه، هغه ذ ابوهريرهؓ نه روايت كوي، حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم دا ذُعائيه كلمات ارشاد فرمائيلے وو، ذ اللّٰه نه سِوا معبود نشته، هغه يو دے، چه هغه خپل لښكر ته غلبه عطا كړله، او ذ خپل بنده مدد ئے اوكړ، او ذ كفارو جماعت ئے مغلوب كړلو، ذ هغهٔ ذات بے مثال دے. باقي هر څيز له فناده.

۱۵۶ : حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ اَخْبَرَنَا الْفَزَارِيُّ وَ عَبْدَةُ عَنْ اِسْمٰعِيْلَ بْنِ اَبِيْ خَالِدٍ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ اَبِيْ اَوْفٰيؓ يَقُوْلُ دَعَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْاَحْزَابِ فَقَالَ اَللّٰهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ سَرِيْعَ الْحِسَابِ اهْزِمِ الْاَحْزَابَ اَللّٰهُمَّ اهْزِمْهُمْ وَ زَلْزِلْهُمْ.

۱۵۶ : محمد بن سلام بيكندي. مروان بن معاويه فزاري. عبده. اسماعيل بن خالد. حضرت عبداللّٰه بن ابي اوفٰي نه روايت كوي، ما ذ هغهٔ نه واوريدل، چه حضور اكرم صلي اللّٰه عليه وسلّم ذ كافرو ذ جماعت ذ پاره بد ذُعا كوله، او داسے ارشاد ئے فرمائيلو، اے اللّٰه، ذ كتاب نازلونكيه، كافرو له شكست وركړے، او قدمونه ئے اوخويږه.

۱۵۷ : حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللّٰهِ أَخْبَرَنَا مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ عَنْ سَالِمٍ وَّ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِؓ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا قَفَلَ مِنَ الْغَزْوِ أَوِ الْحَجِّ أَوِ الْعُمْرَةِ يَبْدَأُ فَيُكَبِّرُ ثَلٰثَ مِرَارٍ ثُمَّ يَقُوْلُ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ اٰئِبُوْنَ تَآئِبُوْنَ عَابِدُوْنَ سَاجِدُوْنَ لِرَبِّنَا حَامِدُوْنَ صَدَقَ اللّٰهُ وَعْدَهٗ وَ نَصَرَ عَبْدَهٗ وَ هَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهٗ.

۱۵۷ : محمد بن مقاتل. عبدالله بن مقاتل. موسي بن عقبه. سالم بن عبدالله او نافع دواړه حضرت عبدالله بن عمرؓ نه روايت کوي، حضورؐ چه به ذ حج، جهاد، يا عمرے نه واپس راتلو، نو اول به ئے درے خله الله اکبر وئيل، بيا به ئے داسے ارشاد فرمائيلو، چه ذ الله نه سِوا بل ريښتنے معبود نشته، هغه يو دے، هيڅوک ذ هغهٔ شريک نشته، هغه بادشاه دے، او ټول تعريفونه هغه لره دي، هغه هر څهٔ کولے شي مونږ هغه طرف ته کرځيدونکے يو، توبه، عبادت او سجده کونکي يو. مونږ ذ خپل مالک شکر ګزار يُو، هغهٔ خپله وعده پوره کړله، او ذ خپل بنده محمد صلي الله عليه وسلّم مدد ئے اوکړلو، او کافرو له ئے شکست ورکهٔ او مغلوب ئے کړل.

باب ۳۱ : مَرْجِعِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْأَحْزَابِ وَ مَخْرَجِهٖ إِلٰى بَنِيْ قُرَيْظَةَ وَ مَحَاصَرَتِهٖ إِيَّاهُمْ.

باب ۳۱ : ذ رسول الله صلي الله عليه وسلّم ذ جنګ خندق نه واپس راتلل، او يهود بني قريظه باندے حمله کول او ذ هغوي محاصره کول.

۱۵۸ : حَدَّثَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ أَبِيْ شَيْبَةَ حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ عَائِشَةَؓ قَالَتْ لَمَّا رَجَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْخَنْدَقِ وَ وَضَعَ السِّلَاحَ وَ اغْتَسَلَ أَتَاهُ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَقَالَ قَدْ وَضَعْتَ السِّلَاحَ وَاللّٰهِ مَا وَضَعْنَاهُ فَاخْرُجْ إِلَيْهِمْ قَالَ فَإِلٰى أَيْنَ قَالَ هٰهُنَا وَ أَشَارَ إِلٰى بَنِيْ قُرَيْظَةَ

۱۵۸ : عبدالله بن ابي شيبه. ابن نمير. هشام بن عروه. ذ خپل پلار نه. هغه ذ بي بي عائشےؓ نه روايت کوي، هغه فرمائي، حضور صلي الله عليه وسلّم چه ذ جنګ خندق نه واپس راغے، وسله ئے کوزه کړه. غسل ئے اوکړلو. بيا حضرت جبرائيلؑ حضورؐ له راغے، او ورته ئے اوونيلے، تاسو وسله کوزه کړه، او په خدائے قسم چه مونږ لانه ده ايښے، څئ او په هغوي حمله اوکړئ، حضورؐ ترے تپوس اوکهٔ، په چا، جبرائيلؑ ورته اشارے سره اووے، په بني

فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلَيْهِمْ.

قريظه باندے، نو حضور صلي الله عليه وسلّم هغوي پله تشريف يوړلو.

۱۵۹ : حَدَّثَنَا مُوْسٰى حَدَّثَنَا جَرِيْرُ بْنُ حَازِمٍ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ هِلَالٍ عَنْ اَنَسٍؓ قَالَ كَاَنِّيْ اَنْظُرُ اِلَى الْغُبَارِ سَاطِعًا فِيْ زُقَاقِ بَنِيْ غَنْمٍ مَوْكِبَ جِبْرِيْلَ حِيْنَ سَارَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰى بَنِيْ قُرَيْظَةَ.

۱۵۹ : موسٰي بن اسمٰعيل. جرير بن حازم. حميد بن هلال. حضرت انسؓ نه روايت كوي، هغۀ اووے، زۀ دَ جبرائيلؑ دَ لښكر گرد و غبار اوسه پورے بني غنم كښې آلوتونكے وينم. دا دَ هغې وخت خبره ده، چه حضور صلي الله عليه وسلّم سره هغه بني قريظه طرف ته تلے وو.

۱۶۰ : حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ اَسْمَآءَ حَدَّثَنَا جُوَيْرِيَةُ بْنُ اَسْمَآءَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَؓ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْاَحْزَابِ لَا يُصَلِّيَنَّ اَحَدٌ الْعَصْرَ اِلَّا فِيْ بَنِيْ قُرَيْظَةَ فَاَدْرَكَ بَعْضُهُمُ الْعَصْرَ فِي الطَّرِيْقِ فَقَالَ بَعْضُهُمْ لَا نُصَلِّيْ حَتّٰى نَاْتِيَهَا وَ قَالَ بَعْضُهُمْ بَلْ نُصَلِّيْ لَمْ يُرِدْ مِنَّا ذٰلِكَ فَذُكِرَ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يُعَنِّفْ وَاحِدًا مِّنْهُمْ.

۱۶۰ : عبدالله بن محمد بن اسماء. جويريه بن اسماء. نافع. حضرت ابن عمرؓ نه روايت كوي، هغۀ اووے، دَ جنګ خندق په ورځ حضورؐ اوفرمائيل، تاسو كښې دے هر څوك دَ مازيګر مونځ چه بني قريظه ته اورسي، نو اودے كړي. خو دَ مانځه وخت لار كښې راغے. څۀ خلقو اووے، مونږ چه هلته اورسيږو، نو مونځ به كوو او بعضو اووے، چه مونږ خو نے كوو، ځكه چه دَ حضورؐ مطلب دا نۀ وو، چه مونځ دے قضا كړے شي[۱]، حضورؐ ته چه دا واقعه بيان كړے شوه، نو حضورؐ چاته هيڅ اونۀ وے.

۱. يعني دا مطلب نے نه وو چه كه چرے په لاره كښے د مونځ وخت شي نو هم نے مه كوئ بلكه صرف بني قريظه ته رسيدلو كښے تلوار كول مطلوب وُو.

۱۶۱ : حَدَّثَنَا ابْنُ اَبِي الْاَسْوَدِ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ وَّ حَدَّثَنِيْ خَلِيْفَةُ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ قَالَ سَمِعْتُ اَبِيْ عَنْ اَنَسٍؓ قَالَ كَانَ الرَّجُلُ يَجْعَلُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ

۱۶۱ : عبدالله بن ابي الاسود. معتمر بن سليمان (دوئم سند) امام بخاري. خليفه بن خياط. معتمر بن سليمان. هغه دَ خپل نيكۀ (دادا) نه او هغه د حضرت انسؓ نه روايت كوي، چه انصارو به د قجورو اونے حضور اكرم صلي الله عليه وسلّم ته دَ هديے په طور

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّخَلَاتِ حَتَّى افْتَتَحَ قُرَيْظَةَ وَالنَّضِيرَ وَ إِنَّ أَهْلِي أَمَرُونِي أَنْ آتِيَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَسْأَلَهُ الَّذِينَ كَانُوا أَعْطَوْهُ أَوْ بَعْضَهُ وَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَعْطَاهُ أُمَّ أَيْمَنَ فَجَاءَتْ أُمُّ أَيْمَنَ فَجَعَلَتِ الثَّوْبَ فِي عُنُقِي تَقُولُ كَلَّا وَالَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ لَا يُعْطِيكَهُمْ وَقَدْ أَعْطَانِيهَا أَوْ كَمَا قَالَتْ وَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَكِ كَذَا وَ تَقُولُ كَلَّا وَاللَّهِ حَتَّى أَعْطَاهَا حَسِبْتُ أَنَّهُ قَالَ عَشَرَةَ أَمْثَالِهِ أَوْ كَمَا قَالَ.

پيش كولې؛ آخر الله حضورٌ ته په بني قريظه او بني نضير (يهوديانو) فتح وركړله. حضرت انس وائي، خما كور والو زه د حضورٌ خدمت كښ اوليږلم، چه زه ترے هغه اُونې واپس اوغواړم، چه حضورٌ ته په طور د تحفے وركړے شوے وے. حضورٌ هغه اُونې اُم ايمن ته وركړے وے. دے كښ هغه راغله، او خما په ګردن كښ ئے كپړه واچوله، وئيلے، قسم په هغه خدائے چه حقيقي معبود دے، دا اُونې رسول الله صلي الله عليه وسلّم ماله راكړے دي، اوس تاته واپس نشي دركيدے، يا دغسے ئے څۀ اووے، او حضورٌ فرمائيل، اُم ايمن، تۀ دومره اُونې د هغې په بدله كښ واخله، خو هغې به هم هغه خپله خبره كوله په خدائے چه زۀ به ئے ورنۀ كړم حتي چه حضورٌ اوفرمائيل بنه د دے نه لس چنده واخله، يا انس دغسے څۀ خبره اوكړله.

١٦٢ : حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سَعْدٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا أُمَامَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ يَقُولُ نَزَلَ أَهْلُ قُرَيْظَةَ عَلَى حُكْمِ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ فَأَرْسَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى سَعْدٍ فَأَتَى عَلَى حِمَارٍ فَلَمَّا دَنَى مِنَ الْمَسْجِدِ قَالَ لِلْأَنْصَارِ قُومُوا إِلَى سَيِّدِكُمْ أَوْ خَيْرِكُمْ فَقَالَ هَؤُلَاءِ نَزَلُوا عَلَى حُكْمِكَ فَقَالَ تَقْتُلُ مُقَاتِلَتَهُمْ وَ تَسْبِي ذَرَارِيَّهُمْ قَالَ

١٦٢ : محمد بن بشار. منذر شعبه. سعد بن ابراهيم. ابو امامه. حضرت ابو سعيد خدريؓ نه روايت كوي، هغۀ اووے، چه بني قريظه د سعد بن معاذؓ په فيصله راضي شو، د قلعه نه راكوز شول. رسول اكرم صلي الله عليه وسلّم سعد راوغښتلو. هغه په خر سور وو، چه جماعت ته نزدے راغے، نو حضورٌ انصاروته اوفرمائيل، خپل سردار د پاره پاسئے. يا دائے اوفرمائيل، چه هغۀ ته پاسئے چه تاسو ټولو كښ بهتر دے. بيا حضورٌ سعد ته اوفرمائيل، چه بني قريظه ستا په فيصله راضي شو، د قلعه نه راكوز شوے دي. هغۀ عرض اوكۀ، يا رسول اللهؐ، كوم چه دوي كښ د جنګ قابل دي، هغه دے قتل كړے شي، او ښځے او بچي دے قيديان كړے شي. حضورٌ ورته

قَضَيْتَ بِحُكْمِ اللّٰهِ وَ رُبَّمَا قَالَ بِحُكْمِ الْمَلِكِ.

اوفرمائيل، چه تا دَ خدائے دَ حکم مطابق فيصله اوکړله يا دَ بادشاه دَ مرضي مطابق.

١٦٣ : حَدَّثَنَا زَكَرِيَّآءُ بْنُ يَحْيٰى حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ نُمَيْرٍ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ عَآئِشَةَ قَالَتْ اُصِيْبَ سَعْدٌ يَوْمَ الْخَنْدَقِ رَمَاهُ رَجُلٌ مِّنْ قُرَيْشٍ يُّقَالُ لَهُ حِبَّانُ بْنُ الْعَرِقَةِ رَمَاهُ فِي الْاَكْحَلِ فَضَرَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْمَةً فِي الْمَسْجِدِ لِيَعُوْدَهٗ مِنْ قَرِيْبٍ فَلَمَّا رَجَعَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْخَنْدَقِ وَ وَضَعَ السِّلَاحَ وَاغْتَسَلَ فَاَتَاهُ جِبْرِيْلُ وَهُوَ يَنْفُضُ رَاْسَهٗ مِنَ الْغُبَارِ فَقَالَ قَدْ وَضَعْتَ السِّلَاحَ وَاللّٰهِ مَا وَضَعْتُهٗ اخْرُجْ اِلَيْهِمْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَيْنَ فَاَشَارَ اِلٰى بَنِيْ قُرَيْظَةَ فَاَتَاهُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَزَلُوْا عَلٰى حُكْمِهٖ فَرَدَّ الْحُكْمَ اِلٰى سَعْدٍ قَالَ فَاِنِّيْ اَحْكُمُ فِيْهِمْ اَنْ تُقْتَلَ الْمُقَاتِلَةُ وَ اَنْ تُسْبَى النِّسَآءُ وَالذُّرِّيَّةُ وَ اَنْ تُقْسَمَ اَمْوَالُهُمْ قَالَ هِشَامٌ فَاَخْبَرَنِيْ اَبِيْ عَنْ عَآئِشَةَ اَنَّ سَعْدًا قَالَ اللّٰهُمَّ اِنَّكَ تَعْلَمُ اَنَّهٗ لَيْسَ اَحَدٌ اَحَبَّ اِلَيَّ اَنْ اُجَاهِدَهُمْ فِيْكَ مِنْ

١٦٣ : زکريا بن يحيٰي. عبدالله بن نمير. هشام بن عروه. دَ خپل پلار نه، هغه دَ بي بي عائشےؓ نه روايت کوي، هغے اوفرمائيل، چه سعد جنګ خندق کښ حبان بن عرفه په غشي اوويشتلو، چه هفت اندام رګ ئے اولګيدلو (هفت اندام: دَ وجود اوه آندامونه چه هغه (۱) سر (۲) سينه (۳) خيټه (۴، ۵) دوه لاس (۶، ۷) او دوه پښے دے. دَ يو رګ نوم چه دَ هغهٔ په پرِ وهلو سره دَ دے پاس بيان شوي اوو اندامونونه خرابه وينه ويستے شي) حضورؐ هغهٔ دَ پاره جمات کښ يوه خيمه اولږوله، چه هغه دَ خيال لاندے ساتي. بيا حضورؐ دَ جنګ خندق نه واپس راغے، وَسله ئے کوزه کړه، غسل ئے اوکړلو. دے کښ حضرت جبرائيلؑ راغے، دَ خپل سر نه ئے ګرد و غبار لرے کولو، هغهٔ عرض اوکړ، يا رسول الله، تاسو وسله کوزه کړه، قسم په خدائے ما خو اوسه پورے نهٔ ده کوزه کړے، خه چه بني قريظه طرف ته ما خو، نو حضورؐ ورغلو، او بني قريظه ئے ګيره کښ واخستل. آخر دَ حضورؐ په فيصله راضي شو، دَ قلعه نه راکوز شو، حضورؐ اوفرمائيل، سعد چه څهٔ فيصله اوکړي، هغه منظوره کړئے. بيا سعد راغے، او هغهٔ اووے، زهٔ دا فيصله کوم، چه څوک دَ جنګ قابل (يهوديان) دي، هغوي دے قتل کړے شي، او بچي او ښځے دے قيدي کړے شي، هغوي دے وينزے غلامان جوړ کړے شي، او دَ هغوي مال دے په مسلمانانو تقسيم کړے شي. هشام وائي، خما پلار ماته اووے، چه سعد د زخمي کيدونه پس دُعا اوکړله، اے الله، تهٔ ښهٔ پوهيږے،

قَوْمٍ كَذَّبُوا رَسُولَكَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ اَخْرَجُوْهُ اَللّٰهُمَّ فَاِنِّيْ اَظُنُّ اَنَّكَ قَدْ وَضَعْتَ الْحَرْبَ بَيْنَنَا وَ بَيْنَهُمْ فَاِنْ كَانَ بَقِيَ مِنْ حَرْبِ قُرَيْشٍ شَيْءٌ فَاَبْقِنِيْ لَهُ حَتّٰى اُجَاهِدَهُمْ فِيْكَ وَ اِنْ كُنْتَ وَضَعْتَ الْحَرْبَ فَافْجُرْهَا وَاجْعَلْ مَوْتَتِيْ فِيْهَا فَانْفَجَرَتْ مِنْ لَبَّتِهٖ فَلَمْ يَرُعْهُمْ وَ فِي الْمَسْجِدِ خَيْمَةٌ مِّنْ بَنِيْ غِفَارٍ اِلَّا الدَّمُ يَسِيْلُ اِلَيْهِمْ فَقَالُوْا يَا اَهْلَ الْخَيْمَةِ مَا هٰذَا الَّذِيْ يَأْتِيْنَا مِنْ قِبَلِكُمْ فَاِذَا سَعْدٌ يَغْذُوْ جُرْحُهٗ دَمًا فَمَاتَ مِنْهَا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ.

ماته کوم قوم سره او خصوصاً دے قوم سره چه دوي ستا رسول دروغجن اوګڼړلو' او د مکے نه ئے اوبنګلو' دوي سره د جنګ کولو نه هيڅ څيز زيات محبوب نه دے. اے اللّٰه' زه پوهيږم' چه تا خمونږ او د هغوي مينځ کښ جنګ ختم که. بيا هم که څه جنګ باقي وي' نو ما ژوندے لرے' چه ستا لار کښ زه هغوي سره جهاد اوکړم. او که ستا د طرف نه د جنګ سلسله بنده شوے وي' نو بيا خما زخم جاري کړے' چه زه هم دے کښ شهيد شمه' نو د هغه د سينے نه وينه جاري[۲] شوه' چه د خيمے نه په بهيدو بهيدو سره جمات ته راتله' خلق اوريدل' او بني غفار نه ئے تپوس اوکه' چه دا ستاسو د خيمے نه څه څيز رابهيږي' چه وے کتل نو د سعدؓ د زخم نه وينه بهيدله آخر هغه دے کښ وفات شولو.

۱. مدينے ته هجرت کولو نه پس حضور اکرم صلي اللّٰه عليه وسلّم د يهوديانو مختلفو قبائلو او خواؤشا نورو د عربو مشرکو قبيلو سره د صلحے او اَمن لوظنامه کړے وه ليکن يهوديان همغه شان د اسلام خلاف سازشونو کښے لګيا وو. پټ په پټه خو به هسے هم د هغوئ د طرفنه د لوظنامے خلاف ورزي کيدله ليکن د غزوه خندق په موقع باندے کومه چه انتهائي فيصله کن غزا وه' کله چه په هغے کښے مشرکانو شکست اوخوړو نو پاک حضرتؐ فرمائيلي وو چه اوس به چرے هم دوئ په مونږ باندے د حملے کولو جرأت اونه کړے شي په دغه غزا کښے خاص طور سره بنو قريظه ؤ بنه په ډاګه د قريشو ملګرتيا کړے وه او د لوظنامے خلاف ورزي ئے کړے وه. په دے وجه د غزوه خندق نه فورًا پس د اللّٰه تعالٰي حکم راغے چه دوئ ته اوس مهلت ملاويدل نه دي پکار.

۲. په يو روايت کښے دي چه سعد بن معاذ رضي اللّٰه عنه ملاست وو. ناڅاپه يوه چيلئ راغله او هغے د هغوئ په سينه باندے خپله نُوکه کيښوده چه هغے سره د هغوئ زخم بيا تازه شوه.

۱۶۴: حَدَّثَنَا الْحَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ اَخْبَرَنَا شُعْبَةُ قَالَ اَخْبَرَنِيْ عَدِيٌّ اَنَّهٗ سَمِعَ الْبَرَآءَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِحَسَّانَ اهْجُهُمْ اَوْ هَاجِهِمْ وَ جِبْرِيْلُ مَعَكَ وَ

۱۶۴: حجاج بن منهال. شعبه. عدي بن ثابت. حضرت براء بن عازب نه روايت کوي' چه ما واوريدل' حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم حسان بن ثابت ته فرمائيل' د مشرکانو هجوه کوه' جبرائيلؑ ستا مدد کوي. (دوئيم سند)

زَادَ اِبْرٰهِيمُ بْنُ طَهْمَانَ عَنِ الشَّيْبَانِيِّ عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ عَنِ الْبَرَآءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ قُرَيْظَةَ لِحَسَّانَ بْنَ ثَابِتٍ اهْجُ الْمُشْرِكِيْنَ فَاِنَّ جِبْرِيْلَ مَعَكَ.

ابراهیم بن طهمان، شیباني، عدي بن ثابت ذ حضرت براء بن عازب نه دومره خبره زیاته اوکړه، چه حضور اکرم صلي الله علیه وسلّ ذ بني قریظه په ورځ حسان بن ثابت ته داسې اوفرمائیل: چه ذ مشرکانو هجوه کوه، جبرئیلٰ ستا مدد ذ پاره موجود دې.

باب ۳۲: غَزْوَةِ ذَاتِ الرِّقَاعِ وَ هِيَ غَزْوَةُ مُحَارِبِ خَصَفَةَ مِنْ بَنِيْ ثَعْلَبَةَ مِنْ غَطَفَانَ فَنَزَلَ نَخْلًا وَ هِيَ بَعْدَ خَيْبَرَ لِاَنَّ اَبَا مُوْسٰى جَآءَ بَعْدَ خَيْبَرَ وَ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ رَجَآءٍ اَخْبَرَنَا عِمْرَانُ الْعَطَّارُ عَنْ يَحْيٰى بْنِ اَبِيْ كَثِيْرٍ عَنْ اَبِيْ سَلَمَةَ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلّٰى بِاَصْحَابِهٖ فِي الْخَوْفِ فِيْ غَزْوَةِ السَّابِعَةِ غَزْوَةِ ذَاتِ الرِّقَاعِ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ صَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْخَوْفَ بِذِيْ قَرَدٍ وَّ قَالَ بَكْرُ بْنُ سَوَادَةَ حَدَّثَنِيْ زِيَادُ بْنُ نَافِعٍ عَنْ اَبِيْ مُوْسٰى اَنَّ جَابِرًا حَدَّثَهُمْ صَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهِمْ يَوْمَ مُحَارِبٍ وَّ ثَعْلَبَةَ وَ قَالَ ابْنُ اِسْحٰقَ سَمِعْتُ وَهْبَ بْنَ كَيْسَانَ سَمِعْتُ جَابِرًا خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰى ذَاتِ الرِّقَاعِ مِنْ نَّخْلٍ فَلَقِيَ جَمْعًا مِّنْ

باب ۳۲: ذ غزوه ذات الرقاع بیان.

دا جنګ قبیلهٔ محارب سره اوشولو، چه ذ خصفه اولاد وو. او خصفه ذ ثعلبه ذ اولاد نه وو، چه ذ قبیلهٔ غطفان یو شاخ دې. جنګ کښې حضور صلي الله علیه وسلّم نخلستان کښې کوز شوې وو. دا غزا ذ جنګ خیبر نه وروستو اوشوه، ځکه چه ابو موسٰي ذ خیبر نه پس حبش نه راغلې وو. او عبدالله بن رجاء اووې مونږ ته عمران، هغهٔ ته یحیٰي بن کثیر، هغهٔ ته ابو سلمه، هغه ذ جابر بن عبدالله نه بیان کوي، چه حضور صلي الله علیه وسلّم صحابه ؤ ته ذ خوف مونځ ذي قرد کښې ورکړلو. بکر بن سواده اووې، ماته زیاده بن نافع، هغه ذ ابو موسٰي نه، هغه ذ جابر نه بیان کوي، حضور صلي الله علیه وسلّم ذ محارب او ثعلبه جنګ کښې ذ خوف مونځ ورکړلو، ابن اسحاق وهب بن کیسان نه، هغه ذ حضرت جابرؓ نه روایت کوي چه حضور صلي الله علیه وسلّم ذ نخل نه ذ ذات الرقاع جنګ ته لاړلو. هلته غطفان سره یو ځائې شولو، خو جنګ اونهٔ

غَطَفَانَ فَلَمْ يَكُنْ قِتَالٌ وَ اَخَافَ النَّاسُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا فَصَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيِ الْخَوْفِ وَ قَالَ يَزِيْدُ عَنْ سَلَمَةَ غَزَوْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْقَرَدِ.

شولو. هر يو به بل يرولو. دغه وخت حضورؐ د خوف مونځ وركړلو. يزيد بن ابي عبيد د سلمه بن اكوع نه اوري، چه زه حضور صلي الله عليه وسلم سره د قرد په ورځ جنګ كښې شريک شولم.

۱۶۵: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ حَدَّثَنَا اَبُوْ اُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اَبِيْ بُرْدَةَ عَنْ اَبِيْ بُرْدَةَ عَنْ اَبِيْ مُوْسٰیؓ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَزَاةٍ وَ نَحْنُ سِتَّةُ نَفَرٍ بَيْنَنَا بَعِيْرٌ نَعْتَقِبُهُ فَنَقِبَتْ اَقْدَامُنَا وَ نَقِبَتْ قَدَمَايَ وَ سَقَطَتْ اَظْفَارِيْ وَ كُنَّا نَلُفُّ عَلٰى اَرْجُلِنَا الْخِرَقَ فَسُمِّيَتْ غَزْوَةَ ذَاتِ الرِّقَاعِ لِمَا كُنَّا نَعْصِبُ مِنَ الْخِرَقِ عَلٰى اَرْجُلِنَا وَ حَدَّثَ اَبُوْ مُوْسٰى بِهٰذَا ثُمَّ كَرِهَ ذَاكَ قَالَ مَا كُنْتُ اَصْنَعُ بِاَنْ اَذْكُرَهُ كَاَنَّهُ كَرِهَ اَنْ يَّكُوْنَ شَيْءٌ مِنْ عَمَلِهِ اَفْشَاهُ.

۱۶۵: محمد بن علاء. ابو اسامه. يزيد بن عبدالله د خپل نيكه (دادا) ابو برده نه هغه د ابو موسي اشعريؓ نه روايت كوي، مونږ شپږ سړي رسول الله صلي الله عليه وسلم سره د يو جنګ د پاره اووتلو. مونږ ټولو سره صرف يو اُوښ وو، په وار وار به پرے سوريدلو، په تلو تلو مو پښے اوچاؤدے. خما هم پښے اوچاودے او نوكونه م پريوتل نو په خپلو پښو مو د زړو كپړو چيرے اوتړلے (يعني چيرے مو ترے راچاپيره كړے) په دے وجه دے جنګ ته ذات الرقاع وئيلے شي، يعني چيرو واله جنګ چه په پښو ئے چيرے تړلے وے. ابو موسي خو دا حديث بيان كړلو، خو هغهٔ ته د دے بيانول ښهٔ معلوم نهٔ شو، هغهٔ وئيلے، زهٔ نهٔ خوښوم، چه د خپلو اعمالو نه څهٔ ظاهر كړم.

۱۶۶: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيْدٍ عَنْ مَالِكٍ عَنْ يَزِيْدَ بْنِ رُوْمَانَ عَنْ صَالِحِ بْنِ خَوَّاتٍ عَمَّنْ شَهِدَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ ذَاتِ الرِّقَاعِ صَلّٰى صَلٰوةَ الْخَوْفِ اَنَّ طَآئِفَةً صَفَّتْ مَعَهُ وَ طَآئِفَةٌ وِجَاهَ

۱۶۶: قتيبه بن سعيد. امام مالک. يزيد بن رومان. صالح بن خوات نه روايت كوي، چه ذات الرقاع حضور صلي الله عليه وسلم سره حاضر وو، چه صلٰوة خوف د پاره يوے ډلے حضور اكرم صلي الله عليه وسلم سره صف اوتړلو، او يوه ډله د دشمن مقابله كښې موجود پاتے شوه. حضورؐ دغے ډلے له يو ركعت مونځ وركړلو

الْعَدُوِّ فَصَلّٰى بِالَّتِيْ مَعَهٗ رَكْعَةً ثُمَّ ثَبَتَ قَآئِمًا وَّ اَتَمُّوْا لِاَنْفُسِهِمْ ثُمَّ انْصَرَفُوْا فَصَفُّوْا وُجَاهَ الْعَدُوِّ وَ جَآءَتِ الطَّآئِفَةُ الْاُخْرٰى فَصَلّٰى بِهِمُ الرَّكْعَةَ الَّتِيْ بَقِيَتْ مِنْ صَلٰوتِهٖ ثُمَّ ثَبَتَ جَالِسًا وَّ اَتَمُّوْا لِاَنْفُسِهِمْ ثُمَّ سَلَّمَ بِهِمْ وَ قَالَ مُعَاذٌ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ اَبِي الزُّبَيْرِ عَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ نَخْلٍ فَذَكَرَ صَلٰوةَ الْخَوْفِ قَالَ مَالِكٌ وَّ ذٰلِكَ اَحْسَنُ مَا سَمِعْتُ فِيْ صَلٰوةِ الْخَوْفِ تَابَعَهُ اللَّيْثُ عَنْ هِشَامٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ اَسْلَمَ اَنَّ الْقَاسِمَ بْنَ مُحَمَّدٍ حَدَّثَهٗ صَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَزْوَةِ بَنِيْ اَنْمَارٍ.

بيا خاموش او دريدلو' مقتديانو خپل دوئيم ركعت پوره كړ' واپس لاړل' او دَ دشمن مقابلے ته اودريدل. بيا دويمه ډله راغله' حضورؐ هغې ډلے ته هم يو ركعت مونځ وركړلو. بيا خاموش ناست وو' مقتديانو يو ركعت خپله پوره كړ. بيا حضورؐ هغوي سره سلام اوګرځولو' معاذ بن هشام اووے' مونږ ته هشام دستوائي' هغه دَ ابي الزبير نه' هغه دَ جابرؓ نه روايت كوي' چه مونږ نخل كښې حضور صلي الله عليه وسلّم سره وو' بيانے دَ صلوٰةِ خوف ذكر اوكړ' څنګه چه مخكښې تير شولو. امام مالكؒ اوفرمائيل' دَ صلوٰة الخوف دَ ټولو نه ښه دغه روايت ما آوريدلے دے' معاذ بن هشام سره دا حديث ليث بن سعد' هغه دَ زيد بن اسلم نه' هغه دَ قاسم بن محمد نه روايت اوكړ' چه رسول اكرم صلي الله عليه وسلّم دَ خوف مونځ بني انمار كښې اوكړلو.

١٦٧ : حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى ابْنُ سَعِيْدِ الْقَطَّانُ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيْدِ الْاَنْصَارِيِّ عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ صَالِحِ بْنِ خَوَّاتٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ اَبِيْ حَثْمَةَ قَالَ يَقُوْمُ الْاِمَامُ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ وَ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ مَعَهٗ وَ طَآئِفَةٌ مِّنْ قِبَلِ الْعَدُوِّ وُجُوْهُهُمْ اِلَى الْعَدُوِّ فَيُصَلِّيْ بِالَّذِيْنَ مَعَهٗ رَكْعَةً ثُمَّ يَقُوْمُوْنَ فَيَرْكَعُوْنَ لِاَنْفُسِهِمْ رَكْعَةً وَّ يَسْجُدُوْنَ سَجْدَتَيْنِ فِيْ مَكَانِهِمْ ثُمَّ يَذْهَبُ

١٦٧ : مسدد. يحيي بن سعيد قطان. يحيي بن سعيد انصاري. قاسم بن محمد. صالح بن خوات. سهل بن ابي حثمهؓ نه روايت كوي' هغهٔ اووے' د صلوٰة خوف طريقه داده' چه امام قبلے ته مخ كړي' اودريږي' او دَ مسلمانانو يوه ډله امام پسے او يوه ډله دَ دشمن مقابله كښې اودريږي. كوم خلق چه امام پسے دي' هغوي سره دے امام يو ركعت اوكړي (او خاموش دے اودريږي) مقتديان دے خپل دوئيم ركعت اوكړي او د دشمن مقابلے له دے لاړ شي. بيا دے هغه خلق راشي' او امام دے يو ركعت هغوي سره اوكړي' اوس د امام دوه ركعاته

هٰـؤُلَآءِ اِلٰى مَقَامِ اُولٰٓئِكَ فَيَرْكَعُ بِهِمْ رَكْعَةً فَلَـهُ ثِنْتَانِ ثُمَّ يَرْكَعُوْنَ وَ يَسْجُدُوْنَ سَجْدَتَيْنِ.

شـو، مـقـتـديان دے خپـل ركـعـت دوو سـجـدو سـره اوكـړي، بيـا دے امـام او دا ټـول يوځـائـے سـلام اوكرځوي.

۱۶۸ : حَـدَّثَـنَـا مُسَـدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيٰى عَنْ شُعْبَةَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ الْقَاسِمِ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ صَالِحِ بْنِ خَوَّاتٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ اَبِيْ حَثْمَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

۱۶۸ : مسـدد. يـحـيـي. شـعـبـه. عـبـدالـرحمٰن. قـاسـم بـن مـحـمـد. صـالـح بـن خـوات. حـضـرت سـهـل بـن ابـي حـثـمـهؓ. هـغـه ذ حـضـور صـلـي الـلّٰـه عـلـيـه وسـلَـم نـه دغـسـے حـديـث بيانوي.

۱۶۹ : حَـدَّثَـنِـيْ مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدِ اللّٰـهِ قَالَ حَدَّثَنِيْ ابْنُ اَبِيْ حَـازِمٍ عَنْ يَحْيٰـى سَمِعَ الْقَاسِمَ اَخْبَرَنِـيْ صَالِحُ بْنُ خَوَّاتٍ عَنْ سَهْلٍ حَدَّثَهُ قَوْلَهٗ.

۱۶۹ : مـحـمـد بـن عـبـيـدالـلّٰـه. ابن ابـي حـازم. يـحـيـي. قـاسـم بـن مـحـمـد. صـالـح بـن خـوات. حـضـرت سـهـل نـه روايـت كـوي، چـه سهـل مـاتـه خپـل قـول، چـه ذ هغـهٔ مخكـښ ذكـر شـوے دے، بيان كهٔ.

۱۷۰ : حَـدَّثَـنَـا اَبُـو الْيَـمَـانِ اَخْبَـرَنَـا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ اَخْبَـرَنِـيْ سَـالِمٌ اَنَّ ابْنَ عُمَرَؓ قَالَ غَزَوْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰـهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِبَلَ نَجْدٍ فَوَازَيْنَا الْعَدُوَّ فَصَافَفْنَا لَهُمْ.

۱۷۰ : ابـو الـيـمـان. شـعـيـب. زهـري. سـالـم. حـضـرت عـبـدالـلّٰـه بـن عـمـرؓ نـه روايـت كـوي، هغهٔ اووے، ذ نـجـد جـهـاد كـښ زهٔ رسـول اكـرم صـلـي الـلّٰـه عـلـيـه وسـلَـم سـره مـلـګـرے ووم. مـونـږ خلق ذ دشـمـن مـقـابـل كـښ اودريـدو، او صـفـونـه مـو اوتړل.

۱۷۱ : حَـدَّثَـنَـا مُسَـدَّدٌ حَدَّثَنَا يَزِيْـدُ بْـنُ زُرَيْـعٍ حَـدَّثَـنَـا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَالِمِ ابْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ اَبِيْهِ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلّٰى بِاِحْدَى الطَّآئِفَتَيْنِ وَالطَّآئِفَةُ الْاُخْرٰى مُوَاجِهَةُ الْعَدُوِّ ثُمَّ انْصَرَفُوْا فَقَامُوْا فِيْ مَقَامِ

۱۷۱ : مـسـدد. يـزيـد بـن زريـع. مـعـمـر. زهـري. سـالـم بـن عـبـدالـلّٰـهؒ. عـبـدالـلّٰـه بـن عـمـرؓ حـضـرت عـمـرؓ نـه روايـت كـوي، چـه حضور اكـرم صـلـي الـلّٰـه عـلـيـه وسـلَـم يـوے ډلے تـه مونځ وركړلو، او بـلـه ډلـه ذ دشـمـن مـقـابـل تـه پـاتـے شـوه. كـوم وخـت چـه هـغـوي ذ خپـلـو ملـګـرو ځـائے تـه لاړل، نـو بـلـه ډلـه راغـلـه، حـضـورؐ هـغـوي تـه هـم

اَصْحَابِهِمْ فَجَآءَ اُولٰٓئِكَ فَصَلّٰى بِهِمْ رَكْعَةً ثُمَّ سَلَّمَ عَلَيْهِمْ ثُمَّ قَامَ هٰؤُلَآءِ فَقَضَوْا رَكْعَتَهُمْ وَ قَامَ هٰؤُلَآءِ فَقَضَوْا رَكْعَتَهُمْ.

يو ركعت مونځ وركړلو. او بيائے تهولو سره سلام اوكړ خولو. هغوي اودريدل او خپل يو ركعت ئے مكمل او تمام كړلو.

۴۲۷۱ : حَدَّثَنَا اَبُو الْيَمَانِ حَدَّثَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ حَدَّثَنِيْ سِنَانٌ وَّ اَبُوْ سَلَمَةَ اَنَّ جَابِرًا اَخْبَرَ اَنَّهٗ غَزَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِبَلَ نَجْدٍ.

۴۲۷۱ : ابواليمان. شعيب. زهري. سنان. ابو سلمه. حضرت جابرؓ نه روايت كوي: هغه فرمائي مونږ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم سره نجد طرف ته جهاد له تلي وو.

۴۲۷۳ : حَدَّثَنَا اِسْمٰعِيْلُ قَالَ حَدَّثَنِيْ اَخِيْ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ اَبِيْ عَتِيْقٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سِنَانِ ابْنِ اَبِيْ سِنَانٍ الدُّؤَلِيِّ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِؓ اَخْبَرَهٗ اَنَّهٗ غَزَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِبَلَ نَجْدٍ فَلَمَّا قَفَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَفَلَ مَعَهٗ فَاَدْرَكَتْهُمُ الْقَائِلَةُ فِيْ وَادٍ كَثِيْرِ الْعِضَاهِ فَنَزَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ تَفَرَّقَ النَّاسُ فِي الْعِضَاهِ يَسْتَظِلُّوْنَ بِالشَّجَرِ وَ نَزَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحْتَ سَمُرَةٍ فَعَلَّقَ بِهَا سَيْفَهٗ قَالَ جَابِرٌ فَنِمْنَا نَوْمَةً ثُمَّ اِذَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُوْنَا فَجِئْنَاهُ فَاِذَا عِنْدَهٗ اَعْرَابِيٌّ جَالِسٌ فَقَالَ رَسُوْلُ

۴۲۷۳ : اسماعيل. ذ هغۀ ورور. سليمان. محمد بن ابي عتيق. ابن شهاب. سنان بن ابي سنان الدؤلي. حضرت جابر هغۀ ته اوويے مونږ رسول اكرم صلي اللّٰه عليه وسلّم سره نجد كښ جهاد اوكۀ. بيا چه حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم واپس تشريف راوړلو، نو زۀ هم حضورؐ سره واپس راغلم، بيا يو داسے ځنګل كښ رابانديے غرمه راغله، چه هغے كښ ډير آزغي وو، حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم هلته كوز شولو، او خلقو ځنګل كښ اُونے تلاش كولے. حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ذ يوے ګورے اُونے لاندے آرام كولو. او توره ئے هغے اُونه كښ اويزانده كړه. حضرت جابرؓ وائي، اُوس لا ذ اودۀ كيدو لږ ساعت شوے وو، چه حضورؐ مونږ ته نعرے كړے. مونږ حضورؐ له ورغلو، چه يو ديهاتي (اعرابي يعني باندیسے) حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم سره ناست دے. حضورؐ اوفرمائيل، زۀ اُودۀ ووم: او دۀ ذ اُودو په

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ هٰذَا
اخْتَرَطَ سَيْفِيْ وَ اَنَا نَائِمٌ فَاسْتَيْقَظْتُ
وَهُوَ فِيْ يَدِهٖ صَلْتًا فَقَالَ لِيْ مَنْ
يَمْنَعُكَ مِنِّيْ قُلْتُ اللّٰهُ فَهَا هُوَ ذَا
جَالِسٌ ثُمَّ لَمْ يُعَاقِبْهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ قَالَ اَبَانُ
حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ اَبِيْ كَثِيْرٍ عَنْ اَبِيْ
سَلَمَةَ عَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذَاتِ
الرِّقَاعِ فَاِذَا اَتَيْنَا عَلٰى شَجَرَةٍ ظَلِيْلَةٍ
تَرَكْنَاهَا لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ فَجَآءَ رَجُلٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ وَ
سَيْفُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
مُعَلَّقٌ بِالشَّجَرَةِ فَاخْتَرَطَهٗ فَقَالَ
تَخَافُنِيْ قَالَ لَا قَالَ فَمَنْ يَّمْنَعُكَ مِنِّيْ
قَالَ اللّٰهُ فَتَهَدَّدَهٗ اَصْحَابُ النَّبِيِّ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ اُقِيْمَتِ
الصَّلٰوةُ فَصَلّٰى بِطَآئِفَةٍ رَّكْعَتَيْنِ ثُمَّ
تَاَخَّرُوْا وَ صَلّٰى بِالطَّآئِفَةِ الْاُخْرٰى
رَكْعَتَيْنِ وَ كَانَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَرْبَعٌ وَّ لِلْقَوْمِ رَكْعَتَيْنِ
وَ قَالَ مُسَدَّدٌ عَنْ اَبِيْ عَوَانَةَ عَنْ اَبِيْ
بِشْرٍ اسْمُ الرَّجُلِ غَوْرَثُ بْنُ الْحَارِثِ
وَ قَاتَلَ فِيْهَا مُحَارِبَ خَصَفَةَ وَ قَالَ اَبُو
الزُّبَيْرِ عَنْ جَابِرٍ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى
اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَخْلٍ فَصَلّٰى

حالت کښې په ما توره راوښکله. زهٔ هغه وخت
راپاسیدم، نو دهٔ اووے، اوس به تا مانه څوک بچ
کوي. ما جواب ورکړ، اللّٰه، دیهاتي حضورؐ سره
ناست وو، حضور صلي اللّٰه علیه وسلّم هغهٔ له هیڅ
سزا ورنهٔ کړله او دا واقعه ئے بیانوله. ابان وائي مونږ
ته یحیٰي بن کثیر. هغهٔ ته حضرت جابرؓ اووے،
جنګ ذات الرقاع کښې مونږ حضور صلي اللّٰه
علیه وسلّم سره وو، کله چه یوه سایه داره اُونه به
مونږ موندله، نو هغه به مونږ حضورؐ دَ پاره پریښودله.
یو مشرک دَ رسول اللّٰه صلي اللّٰه علیه وسلّم اُونه
کښې آویزانده توره راښکله. او حضورؐ ته ئے ونیلے،
تهٔ مانه یریږے، که نه. حضورؐ جواب ورکړ، نه. هغهٔ
ورته اووے، نن به تا مانه څوک خلاصوي، حضورؐ
ورته اوفرمائیل، اللّٰه دَ رسول اللّٰه صلي اللّٰه علیه
وسلّم اصحابوؓ هغه اُورټلو او دهمکي ئے ورکړله.
بیا حضورؐ یو جماعت سره دوه رکعاته اوکړل. بیا
هغوي اخوا شو (دَ دشمن مقابلے له ورغلل) او
حضورؐ بل جماعت ته دوه رکعاته مونځ ورکړل، دَ
حضور صلي اللّٰه علیه وسلّم څلور رکعاته شو،
دوه فرض، دوه نفل، او دَ خلقو دوه، دوه رکعاته
شو. مسدد وائي، چه ابو عوانه ابو بشر دَ هغے
مشرک نوم غورث بن حارث ښودلے دے.
حضورؐ دا جنګ دَ محارب خصفه خلقو
سره کړے وو. ابو الزبیر دَ جابر نه وائي
مونږ حضورؐ سره نخل کښې وو. حضورؐ
دَ خوف مونځ اوکړلو، ابو هریرهؓ وائي،

الْخَوْفَ وَ قَالَ اَبُوْ هُرَيْرَةَ صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزْوَةَ نَجْدٍ صَلٰوةَ الْخَوْفِ وَ اِنَّمَا جَآءَ اَبُوْ هُـرَيْرَةَ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَيَّامَ خَيْبَرَ.

ما نجد كښې حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم سره د نجد په جهاد كښې د خوف مونځ اوكړلو، حالانكه ابوهريرهؓ د خيبر په ورځو كښې حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم له راغلے وو.

۱. دے روايت سره د امام شافعي رحمة الله عليه ددے مسلک تائيد كيږي چه فرض مونځ د نفل مونځ كونكي امام په اقتداء كښے كيدلے شي. ولے چه د مجاهدينو دا جماعت په سفر كښے وو او په سفر كښے څلور ركعته فرض مونځ صرف دوه ركعته پاتے كيږي. د روايت نه دا معلوميږي چه فرض مونځ صرف دوه ركعته وو، پاک حضرتؐ څلور ركعته اوكړل كومو كښے چه دوه ركعته يقيناً نفل وو او فرض مونځ كونكي صحابهؓ راغلل په دے كښے ئے د حضورؐ اقتداء اوكړه. ليكن احنافو محدثينو ليكلي دي چه ددے روايت تعلق هم د همغے واقعے سره دے كومه چه د سهل بن ابي حثمه رضي الله عنه په روايت كښے بيانه شوه، ليكن راوي د واقعاتو بيانولو كښے ډيرے خبرے نظر انداز كوي هم. چونكه پاک حضرتؐ رومبي جماعت د پاره انتظار اوكړو او كله چه دغه جماعت خپل مونځ پوره كړو او لاړو نو حضورؐ دويم جماعت ته يو ركعت مونځ وركړو او هغوئ سره ئے سلام اوګرځولو، په دے وجه راوي پاک حضرت صلي اللّٰه عليه وسلّم طرفته د څلورو ركعتونو نسبت اوكړو، ولے چه هر كله دواړو جماعتونو مجموعي طور سره څلور ركعته پوره كړل نو هله حضورؐ سلام اوګرځولو. د سهل رضي الله عنه په روايت كښے حديث دغه شان بيان شوے دے.

بَـابُ ٣٣: غَـزْوَةِ بَنِي الْمُصْطَلِقِ مِنْ خُزَاعَةَ وَهِيَ غَزْوَةُ الْمُرَيْسِيْعِ قَالَ ابْنُ اِسْحٰقَ وَ ذٰلِكَ سَنَةَ سِتٍّ وَ قَالَ مُوْسَى بْنُ عُقْبَةَ سَنَةَ اَرْبَعٍ وَ قَالَ نُعْمَانُ بْنُ رَاشِدٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ كَانَ حَدِيْثُ الْاِفْكِ فِيْ غَزْوَةِ الْمُرَيْسِيْعِ.

باب ٣٣: ذ غزوه بني المصطلق قصه. بني مصطلق خزاعه يو شاخ دے. دے غزا ته مريسيع هم وائي، ابن اسحاق اووے. دا جنګ ٦ ه كښې اوشو. او نعمان بن راشد ذ زهري نه روايت اوكه، چه ذ بي بي عائشےؓ ذ تهمت واقعه دے جنګ كښې شوے وه.

۱۷۴ : حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيْدٍ اَخْبَرَنَا اِسْمٰعِيْلُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ رَبِيْعَةَ بْنِ اَبِيْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى ابْنِ حَبَّانَ عَنِ ابْنِ مُحَيْرِيْزٍ

۱۷۴ : قتيبه بن سعيد. اسماعيل بن جعفر. ربيع بن عبدالرحمٰن. محمد بن يحيي بن حبان. حضرت ابن محيريزؒ نه روايت كوه هغهٔ اووے، ما مسجد نبوي كښې حضرت ابو سعيد خدري اوليدلو،

اَنَّهُ قَالَ دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ فَرَاَيْتُ اَبَا سَعِيْدِ الْخُدْرِيَّ فَجَلَسْتُ اِلَيْهِ فَسَاَلْتُهُ عَنِ الْعَزْلِ قَالَ اَبُوْ سَعِيْدٍ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَزْوَةِ بَنِي الْمُصْطَلِقِ فَاَصَبْنَا سَبْيًا مِّنْ سَبْيِ الْعَرَبِ فَاشْتَهَيْنَا النِّسَآءَ وَاشْتَدَّتْ عَلَيْنَا الْعُزْبَةُ وَ اَحْبَبْنَا الْعَزْلَ فَاَرَدْنَا اَنْ نَّعْزِلَ وَ قُلْنَا نَعْزِلُ وَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ اَظْهُرِنَا قَبْلَ اَنْ نَّسْاَلَهُ فَسَاَلْنَاهُ عَنْ ذٰلِكَ فَقَالَ مَا عَلَيْكُمْ اَنْ لَّا تَفْعَلُوْا مَا مِنْ نَّسَمَةٍ كَآئِنَةٍ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ اِلَّا وَ هِيَ كَآئِنَةٌ.

او هغه نه م ذ عزل مسئله اوپښته، نو هغهٔ اووے، مونږ غزوه بني مصطلق کښې نبي صلي الله عليه وسلّم سره وو. هلته ذ عربو وينزے په لاس راغلے. اخوا مونږ ته ذ ښځو خواهش وو، او بے ښځو اوسيدل مشکل وو. مونږ عزل کول غوښتل¹، خو ذ رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم ذ موجودګي خيال راتلو سره مونږ ذ حضورؐ په خدمت کښې حاضر شو، او ذ دے مسئلے تپوس مو اوکړه، نو حضور اکرم صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل. عزل نهٔ کولو کښې څهٔ نقصان دے. ذ الله تعالٰي حکم کښې چه کومه ساه ذ قيامته پورے راتلونکے ده هغه به ضرور راځي يعني کوم نفس چه پيدا کيدونکے دے، هغه به ضرور پيدا کيږي.

ف: عزل: ښځے سره کور والے (صحبت) کولو کښې بغير انزال کيدو (خلاصيدو) نه جدا کيدل.

۱. د عزل مفهوم دادے چه سړے خپلے بي بي سره کوروالے اوکړي او کله چه د اِنزال وخت نزدے شي نو خاص اندام ترينه راؤباسي، د پاره ددے چه ماشوم ترے پيدا نشي.

۱۷۵ : حَدَّثَنَا مَحْمُوْدٌ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ اَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ اَبِيْ سَلَمَةَ عَنْ جَرِيْرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ غَزَوْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزْوَةَ نَجْدٍ فَلَمَّا اَدْرَكَتْهُ الْقَائِلَةُ وَهُوَ فِيْ وَادٍ كَثِيْرِ الْعِضَاهِ فَنَزَلَ تَحْتَ شَجَرَةٍ وَّاسْتَظَلَّ بِهَا وَ عَلَّقَ سَيْفَهُ فَتَفَرَّقَ النَّاسُ فِي الشَّجَرِ يَسْتَظِلُّوْنَ وَ بَيْنَا نَحْنُ كَذٰلِكَ اِذْ دَعَانَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

۱۷۵ : محمود. عبدالرزاق. معمر. زهري. ابي سلمه. حضرت جابر بن عبدالله نه روايت کوي، هغهٔ اوفرمائيل، مونږ ذ نجد جنګ کښې رسول الله صلي اللّٰه عليه وسلّم سره وو. چه ذ غرمے وخت شو، نو حضورؐ ذ يوے سايه دارے اُونے لاندے آرام کولو او توره ئے (اُونه کښې) آويزانده کړه. مونږ خلق هم اخوا ديخوا، ذ اُونو لاندے سوري ذ پاره ګډوډ شو. لږ ساعت پس رسول اللّٰه صلي الله عليه وسلّم مونږ اوبللو، مونږ ورغلو، او، اومو ليدل، چه يو اعرابي خوا کښې ناست دے. حضورؐ اوفرمائيل

وَسَلَّمَ فَجِئْنَا فَإِذَا أَعْرَابِيٌّ قَاعِدٌ بَيْنَ يَدَيْهِ فَقَالَ إِنَّ هٰذَا أَتَانِيْ وَ أَنَا نَائِمٌ فَاخْتَرَطَ سَيْفِيْ فَاسْتَيْقَظْتُ وَهُوَ قَائِمٌ عَلٰى رَأْسِيْ مُخْتَرِطٌ صَلْتًا قَالَ مَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّيْ قُلْتُ اللّٰهُ فَنَامَهُ ثُمَّ قَعَدَ فَهُوَ هٰذَا قَالَ وَلَمْ يُعَاقِبْهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

دے اعرابي په اُودو كښ په ما تُوره راوښكله. زهٔ راپاسيدم. نو دے توره راوښكلے خما مخے ته ولاړ وو، او وئيل ئے، او وايه، اوس به دے ما نه څوک بچ كوي. ما جواب وركه، اللّٰه تعالىٰ بيا توره ئے تيكي كښ كيښوده، كيناستلو. گورے دا دے ناست دے. جابر وائي، حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم هغهٔ له هيڅ سزا ورنهٔ كړله.

باب ۳۴: غَزْوَةِ أَنْمَارٍ.

باب ۳۴: دَ غزوهٔ بني انمار قصه (دا يو قبيله ده).

۱۷۶: حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِيْ ذِئْبٍ حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سُرَاقَةَ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَزْوَةِ أَنْمَارٍ يُصَلِّيْ عَلٰى رَاحِلَتِهٖ مُتَوَجِّهًا قِبَلَ الْمَشْرِقِ مُتَطَوِّعًا.

۱۷۶: آدم بن ابي اياس. ابن ابي وهب. عثمان بن عبداللّٰه بن سراقه. حضرت جابر بن عبداللّٰه انصاري نه روايت كوي، ما حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم جنگ انمار كښ په سورلي په ناسته قبلے ته مخ كړے نفل مونځ كولو باندے ليدلے دے.

باب ۳۵: حَدِيْثِ الْإِفْكِ الْإِفْكُ وَ الْأَفَكُ بِمَنْزِلَةِ النِّجْسِ وَالنَّجَسِ يُقَالُ إِفْكُهُمْ وَ أَفْكُهُمْ وَ أَفَكُهُمْ.

باب ۳۵: د افک واقعه، يعني بي بي عائشے صديقےؓ باند ذ تهمت لږولو بيان. د افک لفظ د نجس او نجس په شان دے. او دے ته إفكهم وائي.

۱۷۷: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيْزِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا إِبْرٰهِيْمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ حَدَّثَنِيْ عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ وَ سَعِيْدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ وَ عَلْقَمَةُ بْنُ وَقَّاصٍ وَّ عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُوْدٍ عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ

۱۷۷: عبدالعزيز بن عبداللّٰه. ابراهيم بن سعد. صالح بن كيسان. ابن شهاب نه روايت كوي، هغهٔ اوورے، ماته عروه بن زبير، سعيد بن مسيب، علقمه بن وقاص، عبيداللّٰه بن عبداللّٰه بن عتبه بن مسعود حديث بيان كه، چه دے څلورو واړو د بي بي عائشے (ذ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ذ

النَّبِيّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ
قَالَ لَهَا اَهْلُ الْاِفْكِ مَا قَالُوْا وَ كُلُّهُمْ
حَدَّثَنِيْ طَائِفَةً مِّنْ حَدِيْثِهَا وَ بَعْضُهُمْ
كَانَ اَوْعٰى لِحَدِيْثِهَا مِنْ بَعْضٍ وَّ
اَثْبَتَ لَهٗ اقْتِصَاصًا وَّقَدْ وَعَيْتُ عَنْ
كُلِّ رَجُلٍ مِّنْهُمُ الْحَدِيْثَ الَّذِيْ
حَدَّثَنِيْ عَنْ عَائِشَةَؓ وَ بَعْضُ حَدِيْثِهِمْ
يُصَدِّقُ بَعْضًا وَّ اِنْ كَانَ بَعْضُهُمْ
اَوْعٰى لَهٗ مِنْ بَعْضٍ قَالُوْا قَالَتْ عَائِشَةُ
كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ اِذَا اَرَادَ سَفَرًا اَقْرَعَ بَيْنَ
اَزْوَاجِهٖ فَاَيَّتُهُنَّ خَرَجَ سَهْمُهَا خَرَجَ بِهَا
رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
مَعَهٗ قَالَتْ عَائِشَةُ فَاَقْرَعَ بَيْنَنَا فِيْ
غَزْوَةٍ غَزَاهَا فَخَرَجَ فِيْهَا سَهْمِيْ
فَخَرَجْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ مَا اُنْزِلَ الْحِجَابُ
فَكُنْتُ اُحْمَلُ فِيْ هَوْدَجِيْ وَ اُنْزَلُ فِيْهِ
فَسِرْنَا حَتّٰى اِذَا فَرَغَ رَسُوْلُ اللّٰهِ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَزْوَتِهٖ وَ
قَفَلَ دَنَوْنَا مِنَ الْمَدِيْنَةِ قَافِلِيْنَ اٰذَنَ
لَيْلَةً بِالرَّحِيْلِ فَقُمْتُ حِيْنَ اٰذَنُوْا
بِالرَّحِيْلِ فَمَشَيْتُ حَتّٰى جَاوَزْتُ
الْجَيْشَ فَلَمَّا قَضَيْتُ شَاْنِيْ اَقْبَلْتُ
اِلٰى رَحْلِيْ فَلَمَسْتُ صَدْرِيْ فَاِذَا عِقْدٌ
لِّيْ مِنْ جَزْعِ ظِفَارٍ قَدِ انْقَطَعَ فَرَجَعْتُ

تېر) خلاف ذ هغې تهمت قصه بيان كړه او دوي
كښې هر يو ذ دې حديث يوه يوه ټكړه روايت كوي.
او بيان كولو كښې ډير صحيح وو، ما ذ هر يو حديث
چه هغه ماته بيان كۀ ياد كړے دے، نو دا ټلور
واړه بيانوي، چه بي بي عائشةؓ فرمائي، چه رسول
اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم به په يو سفر ذ تلو قصد
كولو نو ذ خپلو بيبيانو مينځ كښې به ئې قرعه اچوله ذ
چا نوم چه به قرعه كښې راوختلو، هغه به ئې ځان
سره بوتله، يو ځل قرعه كښې ځما نوم راوختلو،
او حضورؐ زۀ ځان سره بوتلم، دا هغه وخت وو،
چه ذ پردې آيت نازل شوے وو. نو زۀ به پرده كښې
ذ اوښ كجاوه كښې سورولے او كوزولے شوم،
غرض كوم وخت چه مونږ رسالت مآب صلي اللّٰه
عليه وسلّم نه ذ جنګ نه فارغ شولو، او واپس شولو
او مدينې ته رانزدې شو، نو ذ شپې حضور صلي اللّٰه
عليه وسلّم ذ تلو حكم اوكړلو، زۀ رفع حاجت ذ
پاره اووتلم، او ذ لښكر نه لرې لاړم، چه واپس شوم،
او سوريدو ذ پاره خپلې سورلي ته قريب راغلم، نو
ځۀ ګورم، چه ځما هار چه ذ خذف يمني وو، هغه
چرته شليدلے او غرځيدلے دے. زۀ سمدستي واپس
شولم، او ذ هار تلاش م كولو، دے كښې په ما ناوخته
شو. ذ كومو خلقو په حواله چه ځما كجاوه كښې
ذ سورولو كار وو هغوي كجاوه اوچته كړه، او په
اوښ ئې كيښوده او داسې ئې اوګڼړله، چه شايد زۀ
په كجاوه كښې ناسته يم. دغه زمانه كښې به ښځې
(ذ وجود نه) سپكې وې، ځكه چه غذا به ساده او

فَالْتَمَسْتُ عِقْدِيْ فَحَبَسَنِي ابْتِغَاؤُهُ قَالَتْ وَ اَقْبَلَ الرَّهْطُ الَّذِيْنَ كَانُوْا يُرَحِّلُوْنِيْ فَاحْتَمَلُوْا هُوْدَجِيْ فَرَحَلُوْا عَلٰى بَعِيْرِي الَّذِيْ كُنْتُ اَرْكَبُ عَلَيْهِ وَهُمْ يَحْسَبُوْنَ اَنِّيْ فِيْهِ وَ كَانَ النِّسَآءُ اِذْ ذَاكَ خِفَافًا لَمْ يَهْبُلْنَ وَلَمْ يَغْشَهُنَّ اللَّحْمُ اِنَّمَا يَاْكُلْنَ الْعُلْقَةَ مِنَ الطَّعَامِ فَلَمْ يَسْتَنْكِرِ الْقَوْمُ خِفَّةَ الْهَوْدَجِ حِيْنَ رَفَعُوْهُ وَ حَمَلُوْهُ وَ كُنْتُ جَارِيَةً حَدِيْثَةَ السِّنِّ فَبَعَثُوا الْجَمَلَ فَسَارُوْا وَ وَجَدْتُ عِقْدِيْ بَعْدَ مَا اسْتَمَرَّ الْجَيْشُ فَجِئْتُ مَنَازِلَهُمْ وَ لَيْسَ بِهَا مِنْهُمْ دَاعٍ وَّلَا مُجِيْبٌ فَتَيَمَّمْتُ مَنْزِلِي الَّذِيْ كُنْتُ بِهٖ وَ ظَنَنْتُ اَنَّهُمْ سَيَفْقِدُوْنِيْ فَيَرْجِعُوْنَ اِلَيَّ فَبَيْنَا اَنَا جَالِسَةٌ فِيْ مَنْزِلِيْ غَلَبَتْنِيْ عَيْنِيْ فَنِمْتُ وَ كَانَ صَفْوَانُ بْنُ الْمُعَطَّلِ السُّلَمِيُّ ثُمَّ الذَّكْوَانِيُّ مِنْ وَّرَآءِ الْجَيْشِ فَاَصْبَحَ عِنْدَ مَنْزِلِيْ فَرَاٰى سَوَادَ اِنْسَانٍ نَّائِمٍ فَعَرَفَنِيْ حِيْنَ رَاٰنِيْ وَكَانَ رَاٰنِيْ قَبْلَ الْحِجَابِ فَاسْتَيْقَظْتُ بِاسْتِرْجَاعِهٖ حِيْنَ عَرَفَنِيْ فَخَمَّرْتُ وَجْهِيْ بِجِلْبَابِيْ وَ وَاللّٰهِ مَا تَكَلَّمْنَا بِكَلِمَةٍ وَّلَا سَمِعْتُ مِنْهُ كَلِمَةً غَيْرَ اسْتِرْجَاعِهٖ وَ هَوٰى حَتّٰى اَنَاخَ رَاحِلَتَهٗ فَوَطِئَ عَلٰى يَدِهَا فَقُمْتُ اِلَيْهَا فَرَكِبْتُهَا

غير مرغن خوړلے شوه، په دے وجه کجاوه اوچتونکو ته هيڅ پته اونه لګيده. بله دا چه زه کم عمره ووم. دے نه پس هغوي تهول اُوښان روان کړل. ماته هار هغه وخت په لاس راغے، چه لښکر ذَ خپل مقام نه روان شوے وو، زهٔ په خپل ځائے کيناستم، په دے خيال، چه خلق خما ذَ پاتے کيدو نه خبر شي، نو هغوي به ضرور ذَ تالاش په خاطر واپس راځي، زهٔ په ناسته ناسته اودهٔ شوم (سفر کښې اکثر سړي له ذَ ستړے والي په وجه خوب راځي) صفوان بن معطل سلمي چه ورستو ذَ ذکواني په نوم مشهور شولو، هغه به لښکر نه ورستو ورستو راتلو، چه پريوتے څيز ځان سره راواخلي، هغه چه سحر وخت کښې نزدے راغے، او زهٔ ئے اودهٔ اوپيژندم، خکه چه ذَ پردے نه مخکښې هغهٔ زهٔ ليدلے ووم، نو زور سره ئے: اِنّا لِلّٰه و اِنّا اليه راجعون" اووے، نو خما سترګے اوغړيدے، او خپل څادر سره مے خپل مخ پټ کړلو، په خدائے م دے قسم وي، مونږ دواړو هيڅ خبره اونهٔ کړله. او نهٔ ما سِوا دَ: انّا للّٰه و انّا اليه راجعون: نه ذَ هغهٔ نه څهٔ خبره واوريدله، صفوان ذَ خپلے سورلي نه راکوز شولو، ذَ سورلي پښے ئے اوتړلے، او زهٔ په هغے سوره شولم صفوان مخکښې مخکښې جيلب نيولے روان وو. او مونږ ذَ غرمے وخت ته نزدے سختے ګرمي کښې لښکر ته اورسيدو، او هغوي ټول ايسار شوے وو. بيا خوک چه تهمت لږولو سره هلاکيدونکے وو، هغوي هلاک شولو. او خوک چه ذَ ټولو نه زيات

فَانْطَلَقَ يَقُوْدُ بِيَ الرَّاحِلَةَ حَتّٰى اَتَيْنَا الْجَيْشَ مُوْغِرِيْنَ فِيْ نَحْرِ الظَّهِيْرَةِ وَهُمْ نُزُوْلٌ قَالَتْ فَهَلَكَ مَنْ هَلَكَ وَ كَانَ الَّذِيْ تَوَلّٰى كِبْرَ الْاِفْكِ عَبْدُ اللّٰهِ ابْنُ اُبَيِّ ابْنِ سَلُوْلَ قَالَ عُرْوَةُ اُخْبِرْتُ اَنَّهٗ كَانَ يُشَاعُ وَ يُتَحَدَّثُ بِهٖ عِنْدَهٗ فَيُقِرُّهٗ وَ يَسْتَمِعُهٗ وَ يَسْتَوْشِيْهِ وَ قَالَ عُرْوَةُ اَيْضًا لَمْ يُسَمَّ مِنْ اَهْلِ الْاِفْكِ اَيْضًا اِلَّا حَسَّانُ بْنُ ثَابِتٍ وَّ مِسْطَحُ بْنُ اُثَاثَةَ وَ حَمْنَةُ بِنْتُ جَحْشٍ فِيْ نَاسٍ آخَرِيْنَ لَا عِلْمَ لِيْ بِهِمْ غَيْرَ اَنَّهُمْ عُصْبَةٌ كَمَا قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَ اِنَّ كِبْرَ ذٰلِكَ يُقَالُ عَبْدُ اللّٰهِ ابْنُ اُبَيِّ ابْنِ سَلُوْلٍ قَالَ عُرْوَةُ كَانَتْ عَآئِشَةُ تَكْرَهُ اَنْ يُسَبَّ عِنْدَهَا حَسَّانُ وَ تَقُوْلُ اِنَّهُ الَّذِيْ قَالَ:

فَاِنَّ اَبِيْ وَ وَالِدَهٗ وَ عِرْضِيْ
لِعِرْضِ مُحَمَّدٍ مِّنْكُمْ وِقَآءٌ

قَالَتْ عَآئِشَةُ فَقَدِمْنَا الْمَدِيْنَةَ فَاشْتَكَيْتُ حِيْنَ قَدِمْتُ شَهْرًا وَّ النَّاسُ يُفِيْضُوْنَ فِيْ قَوْلِ اَصْحَابِ الْاِفْكِ لَا اَشْعُرُ بِشَيْءٍ مِّنْ ذٰلِكَ وَهُوَ يُرِيْبُنِيْ فِيْ وَجْعِيْ اَنِّيْ لَا اَعْرِفُ مِنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللُّطْفَ الَّذِيْ كُنْتُ اَرٰى مِنْهُ حِيْنَ اَشْتَكِيْ اِنَّمَا يَدْخُلُ عَلَيَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

دَ دے بهتان محرک وو' هغه (دَ منافقانو سردار) عبداللّٰه بن ابي بن سلول وو. عروه وائي' ماته معلومه شوے وه' چه عبداللّٰه بن ابي بن سلول ته به دَ افک ذکر کیدلو' نو هغهٔ به دَ دے اقرر کولو' او هغه به ئے آوریدلو او بیان کولو. عروه وائي' بهتان لړونکو کښې حضرت حسان بن ثابت مسطح بن اثاثه' او دَ حمنه بنت جحش نه علاوه بل هیڅوک بیان نهٔ کړے شو. دَ باقي خلقو ماته هیڅ علم نشته دے' خو ذ هغوي یو جماعت دے' چه دَ هغے متعلق اللّٰه تبارک و تعالٰي فرمائیلے دي: والّذی تولی کبره منهم لهٔ عذاب عظیم (یعني څوک چه دَ دوي سر کروه دے' هغهٔ دَ پاره لوئے عذاب دے) او دَ هغے تولو مشر (عبداللّٰه بن ابي بن سلول) دے. عروه وائي' اګر که حسان بن ثابت تهمت لړولے وو' خو بي بي عائشےؓ به ورته بد وئیل نهٔ خوښول' ځکه چه دا شعر حسان وئیلے دے: (ترجمه)

خما پلار نیکهٔ او خما عزت او ابرو
ټول دَ محمد (صلعم) ذ عزت بچاؤ دي

بي بي عائشهؓ فرمائي' زهٔ مدینه کښې یو میاشت ناروغه ووم' او خلقو کښې خما دَ تهمت خبرے اترے کیدلے' او خما شک به زیاتیدلو' او دومره زور ئے بیامد' چه ما حضور صلي الله علیه وسلم دے بیمارئ کښې دَ مخکښې په شان مهربان اونه لیدلو. البته دننه به ئے تشریف راوړلو. او صرف دومره به ئے دریافت کولو' او بیا به واپس تلو' چه تهٔ اوس څنګه ئے' دَ حضورؐ دے طرز عمل سره

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيُسَلِّمُ ثُمَّ يَقُوْلُ كَيْفَ
تِيْكُمْ ثُمَّ يَنْصَرِفُ فَذٰلِكَ يُرِيْبُنِيْ وَلَا
اَشْعُرُ بِالشَّرِّ حَتّٰى خَرَجْتُ حِيْنَ نَقَهْتُ
فَخَرَجْتُ مَعَ اُمِّ مِسْطَحٍ قِبَلَ الْمَنَاصِعِ
وَ كَانَ مُتَبَرَّزَنَا وَ كُنَّا لَا نَخْرُجُ اِلَّا لَيْلًا
اِلٰى لَيْلٍ وَ ذٰلِكَ قَبْلَ اَنْ نَتَّخِذَ الْكُنُفَ
قَرِيْبًا مِنْ بُيُوْتِنَا قَالَتْ وَ اَمْرُنَا اَمْرُ
الْعَرَبِ الْاُوَلِ فِي الْبَرِّيَّةِ قِبَلَ الْغَائِطِ وَ
كُنَّا نَتَاَذّٰى بِالْكُنُفِ اَنْ نَتَّخِذَهَا عِنْدَ
بُيُوْتِنَا قَالَتْ فَانْطَلَقْتُ اَنَا وَ اُمُّ مِسْطَحٍ
وَهِيَ ابْنَةُ اَبِيْ رُهْمِ بْنِ الْمُطَّلِبِ بْنِ
عَبْدِ مُنَافٍ وَّ اُمُّهَا بِنْتُ صَخْرِ بْنِ عَامِرٍ
خَالَةُ اَبِيْ بَكْرٍ الصِّدِّيْقِ وَابْنُهَا مِسْطَحُ
بْنُ اُثَاثَةَ بْنِ عَبَّادِ بْنِ الْمُطَّلِبِ
فَاَقْبَلْتُ اَنَا وَ اُمُّ مِسْطَحٍ قِبَلَ بَيْتِيْ
حِيْنَ فَرَغْنَا مِنْ شَاْنِنَا فَعَثَرَتْ اُمُّ
مِسْطَحٍ فِيْ مِرْطِهَا فَقَالَتْ تَعِسَ مِسْطَحٌ
فَقُلْتُ لَهَا بِئْسَ مَا قُلْتِ اَتَسُبِّيْنَ
رَجُلًا شَهِدَ بَدْرًا فَقَالَتْ اَيْ هَنْتَاهُ وَلَمْ
تَسْمَعِيْ مَا قَالَ قَالَتْ وَ قُلْتُ مَا قَالَ
فَاَخْبَرَتْنِيْ بِقَوْلِ اَهْلِ الْاِفْكِ قَالَتْ
فَازْدَدْتُ مَرَضًا عَلٰى مَرَضِيْ فَلَمَّا
رَجَعْتُ اِلٰى بَيْتِيْ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُوْلُ
اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمَ
ثُمَّ قَالَ كَيْفَ تِيْكُمْ فَقُلْتُ لَهٗ اَتَاْذَنُ
لِيْ اَنْ اٰتِيَ اَبَوَيَّ قَالَتْ وَ اُرِيْدُ اَنْ

خما بيماري كښې لا اضافه كيدله. او زهٔ ذ دې
طوفان نه هيڅ خبر نه ووم. غرض دا چه مالې
صحت بيامند، نو زهٔ ذ مسطح مور سره ذ رفع
حاجت ذ پاره بهرته لاړم، او مونږ به هميشه ذ
شپې تلو. يوه شپه به تلو، بيا به بله شپه تلو. دا
ذ هغې وخت خبره ده، چه خمونږ كورونو
سره نزدې بيت الخلاء (ذ اودس ماتې خانې) نهٔ وو
جوړ شوې. او مونږ ذ عربو ذ زوړ عادت په شان
ذ دې كار ذ پاره خنگل ته تلو، ځكه چه كورونو
كښې ذ اودس ماتې ذ ځايونو جوړولو كښې به
مونږ ته تكليف وو، او ذ مسطح مور چه ذ ابو
رهم بن عبدالمطلب بن عبد مناف لور وه، او ذ هغې
مور ذ صخر بن عامر لور وه، او هغه خما ذ پلار
حضرت ابوبكرؓ ترور (خاله) وه، او مسطح بن
اثاثه بن عباد بن مطلب ذ هغې خوئې وو، زهٔ هغې
سره لاړم، څهٔ وخت چه (ذ رفع حاجت نه) فارغ
شو، او واپس شولو، نو ذ هغې پښې لار كښې
خادر كښې اونښتې، او هغه راوغرځيده، او مسطح
ته ئې بدرد اوونيل، ما ورته اووې. مسطح ته
بد ولې وائې، هغه خو جنگ بدر كښې شريک وو.
هغې راته اووې، اې ذ اللّٰه بندې، تا ذ مسطح خبره
نهٔ ده آوريدلې. ما اووې، څهٔ خبره، نو هغې هغه
خبره بيان كړه. دې آوريدو سره خما بيماري
زياته شوله. زهٔ كور ته راغلم. بيا رسول اللّٰه صلي
اللّٰه عليه وسلم كورته راغلو نو رسول اللّٰه صلي اللّٰه
عليه وسلم ذ لرې نه ذ سلام عليک نه پس مانه

اَسْتَمْقِنَ الْعَمَرَ مِنْ قِبَلِهِمَا قَالَتْ فَاذِنَ
لِىْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ فَقُلْتُ لِاُمِّىْ يَا اُمَّتَاهُ مَاذَا
يَتَحَدَّثُ النَّاسُ قَالَتْ يَا بُنَيَّةُ هَوِّنِىْ
عَلَيْكِ فَوَاللّٰهِ لَقَلَّمَا كَانَتِ امْرَاَةٌ قَطُّ
وَضِيْئَةٌ عِنْدَ رَجُلٍ يُحِبُّهَا لَهَا ضَرَآئِرُ
اِلَّا كَثَّرْنَ عَلَيْهَا قَالَتْ فَقُلْتُ سُبْحَانَ
اللّٰهِ اَوَ لَقَدْ تَحَدَّثَ النَّاسُ بِهٰذَا قَالَتْ
فَبَكَيْتُ تِلْكَ اللَّيْلَةَ حَتّٰى اَصْبَحْتُ لَا
يَرْقَاُ لِىْ دَمْعٌ وَّلَا اَكْتَحِلُ بِنَوْمٍ ثُمَّ
اَصْبَحْتُ اَبْكِىْ قَالَتْ وَ دَعَا رَسُوْلُ
اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِيَّ
بْنَ اَبِىْ طَالِبٍ وَّ اُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ حِيْنَ
اسْتَلْبَثَ الْوَحْىُ يَسْاَلُهُمَا وَ
يَسْتَشِيْرُهُمَا فِىْ فِرَاقِ اَهْلِهِ قَالَتْ فَاَمَّا
اُسَامَةُ فَاَشَارَ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى
اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالَّذِىْ يَعْلَمُ مِنْ
بَرَآءَةِ اَهْلِهِ وَ بِالَّذِىْ يَعْلَمُ لَهُمْ فِىْ
نَفْسِهِ فَقَالَ اُسَامَةُ اَهْلَكَ وَلَا نَعْلَمُ اِلَّا
خَيْرًا وَّ اَمَّا عَلِىٌّ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ
لَمْ يُضَيِّقِ اللّٰهُ عَلَيْكَ وَالنِّسَآءُ سِوَاهَا
كَثِيْرٌ وَّسَلِ الْجَارِيَةَ تَصْدُقْكَ قَالَتْ
فَدَعَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ بَرِيْرَةَ فَقَالَ اَىْ بَرِيْرَةُ هَلْ
رَاَيْتِ مِنْ شَىْءٍ يُرِيْبُكِ قَالَتْ بَرِيْرَةُ
وَالَّذِىْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا رَاَيْتُ عَلَيْهَا

تپوس اوکړ' او وې فرمائیل' څنګه ئې' ما عرض
اوکړ' ماله اجازت راکړئ چه ذ مور پلار کورته
لاړه شم. خما دا خیال وو' چه زۀ هغوي ته اورسم'
نو ذ دې خبرې به تحقیق اوکړم' نو حضورﷺ
اجازت راکړلو. زۀ کور ته راغلم' او خپلې مور
ته م اووې' مورې' دا خلق څۀ خبرې کوي' هغې
جواب راکړ' لورې تۀ ذ دې بالکل غم مۀ کوه' دا
خو ذ پخوا نه داسې خبره ده' چه هر کله ذ
یوې خوبصورته ښځې بنې (سوکنیں) وي' او ذ
خاوند هغې سره زیات محبت وي' نو داسې قسم
فریبونه کیږي' ما اووې' سبحان الله خلق داسې
خبرې ذ خولې نه اوکاږي' خیر ما ټوله شپه
ژړل' او سحر شولو' نۀ م اُوښکې اودریدلې او نۀ
خوب راغې. دې نه پس هغه فرمائي' وحي الهي
راتلو کښې تاخیر اوشو' نو رسول الله صلي الله
علیه وسلم حضرت عليؓ او اُسامه راوغوښتل او
دې معامله کښې ئې مشوره اوکړله. اُسامهؓ ذ پاکو
بیبیانوؓ ذ پاکدامنۍ نه واقف وو' نو وې وئیل' یا
رسول الله' بي بي عائشهؓ ستاسو ټبر دې. خپل خان
سره ئې اوساتئ' زۀ هغې کښې هیڅ خرابي نۀ وینم'
هغه نیکه او پاک دامنه ده. بیائې ذ حضرت
عليؓ نه تپوس اوکړ' هغۀ عرض اوکړ یا رسول الله
ستاسو ذ پاره ذ بیبیانو څۀ کمې دې نورې ډیرې
ښځې موجود دي' تاسو ذ بریرهؓ خادمې نه تپوس
وکړې' هغه به درته ټوله قصه بیان کړي' بي بي
عائشهؓ فرمائي' بیا حضورﷺ بریرهؓ راوغوښتله

اَمْرًا قَطُّ اَغْمِصُهُ عَلَيْهَا اَكْثَرَ مِنْ اَنَّهَا جَارِيَةٌ حَدِيثَةُ السِّنِّ تَنَامُ عَنْ عَجِيْنِ اَهْلِهَا فَيَأْتِي الدَّاجِنُ فَيَأْكُلُهُ قَالَتْ فَقَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ يَوْمِهِ فَاسْتَعْذَرَ مِنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اُبَيٍّ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِيْنَ مَنْ يَعْذِرُنِيْ مِنْ رَجُلٍ قَدْ بَلَغَنِيْ عَنْهُ اَذَاهُ فِيْ اَهْلِيْ وَاللّٰهِ مَا عَلِمْتُ عَلٰى اَهْلِيْ اِلَّا خَيْرًا وَلَقَدْ ذَكَرُوْا رَجُلًا مَا عَلِمْتُ عَلَيْهِ اِلَّا خَيْرًا وَمَا يَدْخُلُ عَلٰى اَهْلِيْ اِلَّا مَعِيَ قَالَتْ فَقَامَ سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ اَخُوْ بَنِيْ عَبْدِ الْاَشْهَلِ فَقَالَ اَنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَعْذِرُكَ فَاِنْ كَانَ مِنَ الْاَوْسِ ضَرَبْتُ عُنُقَهُ وَاِنْ كَانَ مِنْ اِخْوَانِنَا مِنَ الْخَزْرَجِ اَمَرْتَنَا فَفَعَلْنَا اَمْرَكَ قَالَتْ فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ الْخَزْرَجِ وَكَانَتْ اُمُّ حَسَّانَ بِنْتُ عَمِّهِ مِنْ فَخِذِهِ وَهُوَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ وَهُوَ سَيِّدُ الْخَزْرَجِ قَالَتْ وَكَانَ قَبْلَ ذٰلِكَ رَجُلًا صَالِحًا وَلٰكِنِ احْتَمَلَتْهُ الْحَمِيَّةُ فَقَالَ لِسَعْدٍ كَذَبْتَ لَعَمْرُ اللّٰهِ لَا تَقْتُلُهُ وَلَا تَقْدِرُ عَلٰى قَتْلِهِ وَلَوْ كَانَ مِنْ رَهْطِكَ مَا اَحْبَبْتَ اَنْ يُقْتَلَ فَقَامَ اُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ وَهُوَ ابْنُ عَمِّ سَعْدٍ فَقَالَ لِسَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ كَذَبْتَ لَعَمْرُ اللّٰهِ لَنَقْتُلَنَّهُ فَاِنَّكَ مُنَافِقٌ تُجَادِلُ عَنِ الْمُنَافِقِيْنَ قَالَتْ فَثَارَ

اوږې فرمائيل: اې بريره! د عائشې که څۀ بې ځايه خبره تاته معلومه وي نو هغه راته بيان کړه. بريرې ځواب ورکړو: په هغه خدائې قدوس مې دې قسم وي چې هغۀ تاسو پېغمبر رالېږلې يې، ما عائشه کښې هيڅ داسې خبره نۀ ده ليدلې چې زۀ د دې تهمت تصديق او کړې شم. داده چې هغه کم عمره جينۍ ده. او د هغې د سادګۍ په وجه کله داسې اوشي چې اوړه واغږي او اوده شي. او چيلنې راشي هغه اوخوري. حضور ﷺ چې د بريرې خبره واوريده نو اودريدلو. منبر ته راغې او د عبدالله بن ابي متعلق ئې اوفرمائيل: مسلمانانو! د هغې سړي نه څوک بدله اخلي چې هغۀ خما په بي بي الزام لږولې دې. او دا بدنامي ئې ما پورې راوستې ده. په خدائې مې دې قسم وي، زۀ خپله بي بي نيکه او پاک دامنه ګڼړم او کوم غريب چې دې تهمت کښې شريکوي، هغه بۀ سړې ګڼړم. دې خبرې آوريدو سره سعد بن معاذ د قبيلۀ بني اشهل اودريدلو. او عرض ئې اوکۀ، يا رسول الله! زۀ ستاسو د دې حکم تعميل کوم، که دا سړې خما د قبيلې وي نو اوس زۀ د هغه ګردن وهم، او تاسوله ئې راوړم، او که دې خمونږ د ورونړو خزرج د قبيلې نه وي، نو تاسو چې څۀ حکم راکوئې، په هغې به عمل کولې شي، بي بي عائشه رضي الله عنها فرمائي. دې آوريدو سره د قبيلۀ خزرج يو سړې راپاسيد، چې د هغۀ مور د حسان د ترۀ لور (چچازاد بہن) وه، او د هغۀ د قبيلې وه، د هغۀ نوم سعد بن عباده وو، او هغه د خزرج سردار وو، هغه اودريدلو، او وې وئيل، په خدائې چې تۀ دروغ

الْحَيَّانِ الْأَوْسُ وَالْخَزْرَجُ حَتّٰى هَمُّوْا
اَنْ يَّقْتَتِلُوْا وَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَآئِمٌ عَلَى الْمِنْبَرِ قَالَتْ
فَلَمْ يَزَلْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخَفِّضُهُمْ حَتّٰى سَكَتُوْا
وَ سَكَتَ قَالَتْ فَبَكَيْتُ يَوْمِيْ ذٰلِكَ كُلَّهٗ
لَا يَرْقَأُ لِيْ دَمْعٌ وَّلَا اَكْتَحِلُ بِنَوْمٍ قَالَتْ
وَ اَصْبَحَ اَبَوَايَ عِنْدِيْ وَقَدْ بَكَيْتُ
لَيْلَتَيْنِ وَ يَوْمًا لَّا يَرْقَأُ لِيْ دَمْعٌ وَّلَا
اَكْتَحِلُ بِنَوْمٍ حَتّٰى اِنِّيْ لَاَظُنُّ اَنَّ
الْبُكَآءَ فَالِقٌ كَبِدِيْ فَبَيْنَا اَبَوَايَ
جَالِسَانِ عِنْدِيْ وَ اَنَا اَبْكِيْ فَاسْتَاْذَنَتْ
عَلَيَّ امْرَاَةٌ مِّنَ الْاَنْصَارِ فَاَذِنْتُ لَهَا
فَجَلَسَتْ تَبْكِيْ مَعِيْ قَالَتْ فَبَيْنَا نَحْنُ
عَلٰى ذٰلِكَ دَخَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى
اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْنَا فَسَلَّمَ ثُمَّ
جَلَسَ قَالَتْ وَلَمْ يَجْلِسْ عِنْدِيْ مُنْذُ
قِيْلَ مَا قِيْلَ قَبْلَهَا وَقَدْ لَبِثَ شَهْرًا لَّا
يُوْحٰى اِلَيْهِ فِيْ شَاْنِيْ بِشَيْءٍ قَالَتْ
فَتَشَهَّدَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ حِيْنَ جَلَسَ ثُمَّ قَالَ اَمَّا بَعْدُ
يَا عَآئِشَةُ اِنَّهٗ بَلَغَنِيْ عَنْكِ كَذَا وَ كَذَا
فَاِنْ كُنْتِ بَرِيْٓئَةً فَسَيُبَرِّئُكِ اللّٰهُ وَ اِنْ
كُنْتِ اَلْمَمْتِ بِذَنْبٍ فَاسْتَغْفِرِي اللّٰهَ وَ
تُوْبِيْ اِلَيْهِ فَاِنَّ الْعَبْدَ اِذَا اعْتَرَفَ ثُمَّ
تَابَ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِ قَالَتْ فَلَمَّا قَضٰى

وانيے' او هيڅ كله هغه نه شے وژلے. او نه ستا دا مجال
شته' چه ته هغه اووژلے شے. او كه هغه ستا ذ قامه وے' نو
تا به هيڅ كله ذ هغهٔ قتلول خوښ كړے نهٔ و. دے آوريدو
سره اسيد بن حضير اودريدلو. او وے وئيل' په خدائے مِ
دے قسم وي' مونږ به ضرور هغه قتلوو' ته منافق ئے' او ذ
منافقانو حمايت كوے (حالانكه دا سړے مخكښ نيك
رو خو اوس ئے ذ قوم بچاؤ كولو) بي بي عائشهؓ فرمائي'
ذ دے گفتگو نه پس ذ اوس' او' خزرج دواړو قبيلو خلق
اودريدل' او جنگ ته تيار شول' رسول اللّٰه صلي اللّٰه
عليه وسلّم ذ منبر نه هغوي خاموش كول. آخر هغوي
خاموش شولو. بي بي عائشهؓ فرمائي' ما ټوله ورځ ژړل'
نهٔ مِ اوښكے اودريدے' او نهٔ خوب راتلو. څما خيال
راغے' چه اوس به څما اينه اوچوي. مور پلار راسره
موجود وو دے كښ ذ انصارو يوه ښځه ماله راغله' او
هغه هم په ژړا شوه. (ماته ذ هغے نوم معلوم نهٔ شولو).
آخر حضور اكرم صلي اللّٰه عليه وسلّم دننه تشريف
راوړلو. او سلام نه پس څما خوا كښ كيناستلو' كني
اوسه پورے ذ نن ورځ نه مخكښ حضورؐ ماسره نهٔ وو
ناست. ذ تهمت نه پس يو مياشت پورے حضورؐ ايسار
وو او څما باب كښ څهٔ وحي حضورؐ ته رانغله. بي بي
عائشهؓ فرمائي' حضورؐ كيناستلو. كلمهٔ شهادت ئے
اووے. او هغے نه پس ئے اوفرمائيل اے عائشهؓ' ماته ستا
بابت كښ ذ دے قسم اطلاع رارسيدلے ده' كه ته بے
گناه ئے' نو اللّٰه تعالي به عنقريب ستا ذ پاكدامنئ اظهار
اوفرمائي' او كه تانه څهٔ گناه شوے وي' نو اللّٰه نه توبه
كړه' او مغفرت اوغواړه' څكه كه بنده ذ خپلے گناه

رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
مَقَالَتَهُ قَلَصَ دَمْعِيْ حَتّٰى مَا اُحِسُّ
مِنْهُ قَطْرَةً فَقُلْتُ لِاَبِيْ اَجِبْ رَسُوْلَ
اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِّيْ
فِيْمَا قَالَ فَقَالَ اَبِيْ وَاللّٰهِ مَا اَدْرِيْ مَا
اَقُوْلُ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ فَقُلْتُ لِاُمِّيْ اَجِيْبِيْ رَسُوْلَ
اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْمَا
قَالَ قَالَتْ اُمِّيْ وَاللّٰهِ مَا اَدْرِيْ مَا اَقُوْلُ
لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
فَقُلْتُ وَ اَنَا جَارِيَةٌ حَدِيْثَةُ السِّنِّ لَا
اَقْرَاُ مِنَ الْقُرْاٰنِ كَثِيْرًا اِنِّيْ وَاللّٰهِ لَقَدْ
عَلِمْتُ لَقَدْ سَمِعْتُمْ هٰذَا الْحَدِيْثَ
حَتّٰى اسْتَقَرَّ فِيْ اَنْفُسِكُمْ وَ صَدَّقْتُمْ
بِهٖ فَلَئِنْ قُلْتُ لَكُمْ اِنِّيْ بَرِيْٓـئَةٌ لَا
تُصَدِّقُوْنِيْ وَلَئِنِ اعْتَرَفْتُ لَكُمْ بِاَمْرٍ
وَّاللّٰهُ يَعْلَمُ اَنِّيْ مِنْهُ بَرِيْٓـئَةٌ
لَتُصَدِّقُنِّيْ فَوَاللّٰهِ لَا اَجِدُ لِيْ وَلَكُمْ
مَثَلًا اِلَّا اَبَا يُوْسُفَ حِيْنَ قَالَ فَصَبْرٌ
جَمِيْلٌ وَّاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى مَا
تَصِفُوْنَ ثُمَّ تَحَوَّلْتُ وَاضْطَجَعْتُ عَلٰى
فِرَاشِيْ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اَنِّيْ حِيْنَئِذٍ
بَرِيْٓـئَةٌ وَّ اَنَّ اللّٰهَ مُبَرِّئِيْ بِبَرَآءَتِيْ
وَلٰكِنْ وَّاللّٰهِ مَا كُنْتُ اَظُنُّ اَنَّ اللّٰهَ
مُنْزِلٌ فِيْ شَاْنِيْ وَحْيًا يُّتْلٰى لَشَاْنِيْ
فِيْ نَفْسِيْ كَانَ اَحْقَرَ مِنْ اَنْ يَّتَكَلَّمَ

اقرار اوکړي. او بيا توبه کړي، نو الله تعالی بښنه کوي.
رسول الله صلي الله عليه وسلّم چه خپله خبره ختمه
کړه، نو بي بي عائشهؓ وائي، خما اوښکې سمدستي
اودريدلې. يوه قطره اونه بهيدله، بيا ما خپل پلار ته
اووې، چه د رسول پاک د خبرې جواب ورکړه، خو
هغه اووې، په خدائې م دې قسم وي، خما په پوه کښ
نه راځي. زه څه جواب ورکړم. بيا ما خپلې مور ته
اووې، ته رسول الله صلي الله عليه وسلّم له جواب
ورکړه، خو هغې هم ماله دغسې جواب راکړ. هر کله چه
هغوي ما د جواب ورکولو نه عاجزې اوليدل، نو خپله م
جواب ورکول شروع کړل. حالانکه زه هغه وخت کم
عمره ووم، او په قرآن هم ډيره کمه پوهيدم. ما اووې،
په الله م دې قسم وي، تاسو دا خبره واوريده، او دا خبره
ستاسو په زړه کښ کيناسته، او خما په حقله مو شُبه پيدا
شوه. اُوس که زه خپله بې ګناهي هم بيان کړم، نو تاسو
به ما رېښتنې نه ګڼړئ. او که زه د ګناه اقرار اوکړم، او
په حقيقت کښ د دې نه پاکه يم، نو تاسو به ئې اومنئ.
خدائې ګواه دې. اوس خما او ستاسو هغه حالت دې،
کوم چه د يوسفؑ د پلار (يعقوبؑ) وو. عائشهؓ اووې:
فصبر جميل والله المستعان على ما تصفون: اوس دا
بهتره ده، چه په ښه طريقه صبر اوکړې شي. دې ونيلو
سره ما مخ واړولو. او په بستره خاموشه سملاستم. خکه
چه خما يقين وو، الله ښه پوهيږي، چه زه بې ګناه يمه، او
هغه به خما بې ګناهي ظاهره کړي، خو خما دا خيال نه
وو، چه خما متعلق به وحي نازله شي، چه د هغې نه به
خما بې ګناهي ثابته شي. دې نه پس رسول اکرم صلي

اللّٰهُ فِيَّ بِأَمْرٍ وَلٰكِنْ كُنْتُ أَرْجُوْ أَنْ يَّرٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي النَّوْمِ رُؤْيَا يُبَرِّئُنِي اللّٰهُ بِهَا فَوَ اللّٰهِ مَا رَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَجْلِسَهُ وَلَا خَرَجَ أَحَدٌ مِّنْ أَهْلِ الْبَيْتِ حَتّٰى أُنْزِلَ عَلَيْهِ فَأَخَذَهُ مَا كَانَ يَأْخُذُهُ مِنَ الْبُرَحَاءِ حَتّٰى إِنَّهُ لَيَتَحَدَّرُ مِنْهُ مِنَ الْعَرَقِ مِثْلُ الْجُمَانِ وَهُوَ فِيْ يَوْمٍ شَاتٍ مِّنْ ثِقْلِ الْقَوْلِ الَّذِيْ أُنْزِلَ عَلَيْهِ قَالَتْ فَسُرِّيَ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَضْحَكُ فَكَانَتْ أَوَّلُ كَلِمَةٍ تَكَلَّمَ بِهَا أَنْ قَالَ يَا عَائِشَةُ أَمَّا اللّٰهُ فَقَدْ بَرَّأَكِ قَالَتْ فَقَالَتْ لِيْ أُمِّيْ قُوْمِيْ إِلَيْهِ فَقُلْتُ وَاللّٰهِ لَا أَقُوْمُ إِلَيْهِ فَإِنِّيْ لَا أَحْمَدُ إِلَّا اللّٰهَ عَزَّ وَ جَلَّ قَالَتْ وَ أَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى إِنَّ الَّذِيْنَ جَاءُوْا بِالْإِفْكِ الْعَشْرَ الْآيَاتِ ثُمَّ أَنْزَلَ اللّٰهُ هٰذَا فِيْ بَرَاءَتِيْ قَالَ أَبُوْبَكْرٍ الصِّدِّيْقُ وَ كَانَ يُنْفِقُ عَلٰى مِسْطَحِ بْنِ أُثَاثَةَ لِقَرَابَتِهِ مِنْهُ وَ فَقْرِهِ وَاللّٰهِ لَا أُنْفِقُ عَلٰى مِسْطَحٍ شَيْئًا أَبَدًا بَعْدَ الَّذِيْ قَالَ لِعَائِشَةَ مَا قَالَ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ وَلَا يَأْتَلِ أُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ إِلٰى قَوْلِهِ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ قَالَ أَبُوْبَكْرٍ الصِّدِّيْقُ بَلٰى وَاللّٰهِ إِنِّيْ لَأُحِبُّ أَنْ

اللّٰه عليه وسلّم ذَ خپل ځائے نه لا پاسيدلے هم نۀ وو' نۀ ذَ كور څوک سړے بهرته وتلے وو' چه په حضورؐ ذَ وحي حالت خور شولو' څنګه چه ذَ وحي حالت کښې به كيدلو' دا سختي ذَ هغے كلام ذَ وزن په وجه وه' چه په حضورؐ نازليدلو' چه ذَ يخني په موسم کښې به هم ذَ حضورؐ ذَ جسم مبارک نه خوله (پسينه) څڅيدله' غرض ذَ وحي حالت چه ختم شو' نو حضورؐ مسکے شولو' او ذَ ټولو نه وړمبنے خبره ئے دا اوکړه' چه عائشےؓ' اللّٰه تعالي ستا پاكدامني بيان كړه' خما مور سمدستي ماته اووے' چه پاسه' ذَ حضورؐ شكريه ادا كړه. ما اووے' په خدائے مِ دے قسم وي' زۀ ذَ حضورؐ شكريه نۀ ادا كوم' بلكه ذَ خپل پروردګار شكريه ادا كوم. او اللّٰه تعالي دا لس آيتونه دے باب کښې نازل كړل: انّ الذين جاؤا بالافک الي اٰخره: يعني كومو خلقو چه ستا برخلاف دا بهتان راپورته كړے دے' آخر پورے: او خما رب خما بے ګناهي ظاهره كړله. حضرت ابوبكر صديقؓ چه ذَ رشته دار د غربت په وجه مسطح سره ښه سلوک كولو' هغه ذَ مسطح متعلق دا سوچ كړے وو' چه اوس به زۀ هغۀ سره هيڅ ښيګړه نۀ كوم' ځكه چه هغۀ په عائشےؓ داسے تهمت لګولے دے' نو اللّٰه تعالي دا آيت نازل كړلو. (ترجمه) كوم خلق چه تاسو کښې بزرګ او صاحب فضل دي' هغوي دے داسے قسم نۀ خوري. دے نه پس حضرت ابوبكرؓ اووے' زۀ خوشحاله يم' چه اللّٰه ما اوبښي. او بيا چه هغۀ مسطح سره ئے ښۀ سلوک كولو' هغه ئے جاري كړلو' او' ونيلے په خدائے چه زۀ به دا سلسله هيڅ كله بنده نۀ كړم. بي بي عائشةؓ فرمائي'

يَغْفِرَ اللّٰهُ لِيْ فَرَجَعَ اِلٰى مِسْطَحٍ النَّفَقَةَ الَّتِيْ كَانَ يُنْفِقُ عَلَيْهِ وَ قَالَ وَاللّٰهِ لَا اَنْزِعُهَا مِنْهُ اَبَدًا قَالَتْ عَآئِشَةُ وَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاَلَ زَيْنَبَ بِنْتَ جَحْشٍ عَنْ اَمْرِيْ فَقَالَ لِزَيْنَبَ مَاذَا عَلِمْتِ اَوْ رَاَيْتِ فَقَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَحْمِيْ سَمْعِيْ وَ بَصَرِيْ وَاللّٰهِ مَا عَلِمْتُ اِلَّا خَيْرًا قَالَتْ عَآئِشَةُ وَ هِيَ الَّتِيْ كَانَتْ تُسَامِيْنِيْ مِنْ اَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَصَمَهَا اللّٰهُ بِالْوَرَعِ قَالَتْ وَطَفِقَتْ اُخْتُهَا حَمْنَةُ تُحَارِبُ لَهَا فَهَلَكَتْ فِيْمَنْ هَلَكَ وَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَهٰذَا الَّذِيْ بَلَغَنِيْ مِنْ حَدِيْثِ هٰؤُلَآءِ الرَّهْطِ ثُمَّ قَالَ عُرْوَةُ قَالَتْ عَآئِشَةُ وَاللّٰهِ اِنَّ الرَّجُلَ الَّذِيْ قِيْلَ لَهُ مَا قِيْلَ لَيَقُوْلُ سُبْحَانَ اللّٰهِ فَوَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ مَا كَشَفْتُ مِنْ كَنَفِ اُنْثٰى قَطُّ قَالَتْ ثُمَّ قُتِلَ بَعْدَ ذٰلِكَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ.

حضور اکرم صلي الله عليه وسلّم دَ تهمت دوران کښې دَ اُم المؤمنين زينبؓ نه چه خما بنهٔ (بنَه) وه، خما متعلق تپوس اوکهٔ، يا رسول اللّٰه، زهٔ خپل غوږونه او سترګې محفوظ ساتم (دَ بدئ وغيره نه) په خدائے چه زهٔ خو عائشهٔؓ نيکه او بهتره ګنړم. بي بي عائشهٔؓ فرمائي، هٔ حضور اکرم صلي الله عليه وسلّم په بيبيانو کښې بي بي زينبؓ خما برابر وه، اللّٰه دَ هغې دَ نيکئ په وجه هغه محفوظ ساتلے وه، خو دَ هغې خور حمنه هغې دَ پاره جنګ شروع کهٔ، او هغه هم تهمت لږونکو سره هلاکه شوه. دَ ابن شهاب قول دے، چه دا حديث دَ ځلورو کسانونه ماته راورسيد (عروه، سعيد، علقمه، عبيداللّٰه). هغوي دا اووے، بي بي عائشےؓ بيان کولو، په خدائے چه کوم سړي سره په ما تهمت لږولے شوے وو، يعني صفوان بن معطل، هغهٔ چه به دا خبرے آوريدے، نو تعجب به ئے کولو، او سبحان اللّٰه به ئے وے، او وئيل به ئے، په هغه اللّٰه م دے قسم وي، چه دَهغهٔ په لاس کښې خما ساه ده. ما خو هيڅ کله دَ چا زنانه ستر هم نهٔ دے پرانستے (نو دَ بدکار خو هډو سوال نهٔ پيدا کيږي. استغفر اللّٰه) بي بي عائشهٔؓ فرمائي. دَ دے نه پس هغه (صفوان) دَ اللّٰه په لار کښې شهيد شولو.

۱۷۸ : حَدَّثَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ اَمْلٰى عَلَيَّ هِشَامُ بْنُ يُوْسُفَ مِنْ حِفْظِهٖ اَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ قَالَ لِيَ الْوَلِيْدُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ اَبَلَغَكَ اَنَّ عَلِيًّا كَانَ فِيْمَنْ قَذَفَ عَآئِشَةَؓ قُلْتُ لَا وَلٰكِنْ قَدْ

۱۷۸ : عبداللّٰه بن محمد. هشام بن يوسف. معمر. علامه زهري نه روايت کوي، هغهٔ اووے، ما نه وليد بن عبدالملک بن مروان تپوس اوکهٔ، آيا تا ته معلومه ده. چه حضرت عليؓ هم تهمت لږونکو کښې شامل وو. ما اووے، نه البته ستاسو دَ قريشو دوو سړو چه

أَخْبَرَنِيْ رَجُلَانِ مِنْ قَوْمِكَ أَبُوْ سَلَمَةَ ابْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ وَ أَبُوْ بَكْرِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ الْحَارِثِ أَنَّ عَائِشَةَ قَالَتْ لَهُمَا كَانَ عَلِيٌّ مُسَلِّمًا فِيْ شَأْنِهَا فَرَاجَعُوْهُ فَلَمْ يَرْجِعْ وَ قَالَ مُسَلِّمًا بِلَا شَكٍّ فِيْهِ وَ عَلَيْهِ كَانَ فِيْ أَصْلِ الْعَتِيْقِ كَذٰلِكَ.

ذ هغوي نوم ابو سلمه بن عبدالرحمٰن او ابوبكر بن عبدالرحمٰن بن حارث دي، ماته ذكر كړې دې، چه بي بي عائشې فرمائيل، چه حضرت علي ذ هغې په دې معامله كښې خاموش وو. بيا خلقو هشام بن يوسف ته دوباره تپوس اوكه، نو هغه دغسې اووې ذ مسلمًا لفظ او ذ عليه لفظ ئې زيات كړلو.

۱۷۹ : حَدَّثَنَا مُوْسَى بْنُ إِسْمٰعِيْلَ حَدَّثَنَا أَبُوْ عَوَانَةَ عَنْ حُصَيْنٍ عَنْ أَبِيْ وَائِلٍ قَالَ حَدَّثَنِيْ مَسْرُوْقُ بْنُ الْأَجْدَعِ قَالَ حَدَّثَتْنِيْ أُمُّ رُوْمَانَ وَ هِيَ أُمُّ عَائِشَةَ قَالَتْ بَيْنَا أَنَا قَاعِدَةٌ أَنَا وَ عَائِشَةُ إِذْ وَلَجَتِ امْرَأَةٌ مِّنَ الْأَنْصَارِ فَقَالَتْ فَعَلَ اللّٰهُ بِفُلَانٍ وَّ فَعَلَ فَقَالَتْ أُمُّ رُوْمَانَ وَمَا ذَاكِ قَالَتِ ابْنِيْ حَدَّثَ الْحَدِيْثَ قَالَتْ وَمَا ذَاكِ قَالَتْ كَذَا وَ كَذَا قَالَتْ عَائِشَةُ سَمِعَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ نَعَمْ قَالَتْ وَ أَبُوْ بَكْرٍ قَالَتْ نَعَمْ فَخَرَّتْ مَغْشِيًّا عَلَيْهَا فَمَا أَفَاقَتْ إِلَّا وَ عَلَيْهَا حُمّٰى بِنَافِضٍ فَطَرَحْتُ عَلَيْهَا ثِيَابَهَا فَغَطَّيْتُهَا فَجَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا شَأْنُ هٰذِهِ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَخَذَتْهَا الْحُمّٰى بِنَافِضٍ قَالَ فَلَعَلَّ فِيْ

۱۷۹ : موسٰي بن اسماعيل. ابو عوانه. حصين بن عبدالرحمٰن. ابو وائل. مسروق بن اجدع نه روايت كوي، هغهٔ اووې ماته اُم رومان ذ بي بي عائشې مور اووې، زهٔ او عائشهٔ دواړه ناست وُو. دې كښې يوه انصاريه ښځه راغله، ذ هغې نوم ماته معلوم نهٔ دې، هغې اووې، اللّٰه دې فلان فلان تباه كړي. ما ترې تپوس اوكهٔ، داسې ولې وائې. هغې اووې، خما خوئې هم دې خبره كښې شريك دې (تهمت لږونكو كښې) اُم رومان اووې، هغه څهٔ خبره ده، نو بيا هغې ذ تهمت واقعه بيان كړه. بي بي عائشې اووې، آيا حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ته ذ دې اطلاع شوې ده، هغې اووې، او، بيائې تپوس اوكهٔ، او ابوبكرؓ، ونيلې، او، بس دې آوريدو سره بي بي عائشهٔ بې هوشه راوغورځيدله چه هوش كښې راغله، نو د يخنئ تبه پرې راغلې وه، ما پرې كپړې واچولې، او جسم م ورله پټ كړلو. دې نه پس حضورؐ دننه تشريف راوړلو، او تپوس ئې اوكهٔ، څه چل اوشو، ما جواب وركه، په دې د يخنئ تبه راغلې ده. حضورؐ ارشاد اوفرمائيلو، معلوميږي، شايد ذ دې طوفان يعني تهمت خبره ورته رسيدلې وي. ما عرض اوكهٔ، جي او، بيا

حَدِيْثٍ تُحَدِّثُ بِهٖ قَالَتْ نَعَمْ فَقَعَدَتْ عَائِشَةُ فَقَالَتْ وَاللّٰهِ لَئِنْ حَلَفْتُ لَا تُصَدِّقُوْنِيْ وَلَئِنْ قُلْتُ لَا تَعْتَذِرُوْنِيْ مَثَلِيْ وَ مَثَلُكُمْ كَيَعْقُوْبَ وَ بَنِيْهِ وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ قَالَتْ وَانْصَرَفَ وَلَمْ يَقُلْ شَيْئًا فَأَنْزَلَ اللّٰهُ عُذْرَهَا قَالَتْ بِحَمْدِ اللّٰهِ لَا بِحَمْدِ اَحَدٍ وَّلَا بِحَمْدِكَ.

عائشهٔ کیناسته، او قسم سره ئې اووې، که زهٔ څه بې ګناهي بیان کړم، نو هم تاسو به پرې یقین اونه کړئ، اوس خو خما او ستاسو حال داسې دې، څنګه چه ذ یعقوبؑ او ذ هغهٔ ذ خامنو وو. یعقوبؑ صبر اوکړ او وئیلې، زهٔ ذ الله نه ستاسو په جوړه شوې (خبرې) مدد غواړم. دې خبرې آوریدو سره حضورؐ خاموش لاړلو. آخر الله تعالیٰ ذ بي بي عائشې پاکدامني ظاهره کړله او هغې اووې، زهٔ ذ الله نه سِوا ذ بل چا شکریه نه ادا کوم.

١٨٠ : حَدَّثَنِيْ يَحْيٰى حَدَّثَنَا وَكِيْعٌ عَنْ نَافِعِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ ابْنِ اَبِيْ مُلَيْكَةَ عَنْ عَائِشَةَ كَانَتْ تَقْرَأُ اِذْ تَلِقُوْنَهٗ بِاَلْسِنَتِكُمْ وَ تَقُوْلُ الْوَلْقُ الْكَذِبُ قَالَ ابْنُ اَبِيْ مُلَيْكَةَ وَ كَانَتْ اَعْلَمَ مِنْ غَيْرِهَا بِذٰلِكَ لِاَنَّهٗ نَزَلَ فِيْهَا.

١٨٠ : یحیی بن جعفر. وکیع. نافع بن عمر عبدالله بن ابي ملیکه. بي بي عائشې نه روایت کوي هغې ذ سورهٔ نور دا آیت داسې تلاوت که: اِذْ تَلِقُوْنَهٗ بِاَلْسِنَتِكُمْ : ذ لام زیر سره ئې اووې. اوفرمائیل، چه دا ولق نه وتلې دې. او ذ دې معني د دروغ دي. ذ عبدالله بن ابي ملیکه بیان دې، بي بي عائشهٔ په دې آیت ذ ټولونه زیاته پوهیدله، څکه چه دا ذ هغې معاملې سره تعلق لري.

١٨١ : حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ اَبِيْ شَيْبَةَ حَدَّثَنَا عَبْدَةُ عَنْ هِشَامٍ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ ذَهَبْتُ اَسُبُّ حَسَّانَ عِنْدَ عَائِشَةَ فَقَالَتْ لَا تَسُبَّهٗ فَاِنَّهٗ كَانَ يُنَافِحُ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ قَالَتْ عَائِشَةُ اسْتَأْذَنَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ هِجَاءِ الْمُشْرِكِيْنَ قَالَ كَيْفَ بِنَسَبِيْ

١٨١ : عثمان بن ابي شیبه. عبده بن سلیمان. هشام بن عروه. ذ خپل پلار نه روایت کوي چه زهٔ بي بي عائشې له ورغلم، او حسان ته م بد رد وئیل، نو هغې اووې، تهٔ حسان ته بد رد مهٔ وایه. څکه چه هغهٔ به د رسول الله صلي الله علیه وسلّم ملګرتیا کنې ذ کافرو برخلاف جنګیدلو، بي بي عائشې اوفرمائیل، یو ځلې حسان د رسول الله صلي الله علیه وسلّم نه اجازت طلب کړ، چه ماته ذ قریشو ذ مذمت او هجو کولو اجازت راکړئې. حضورؐ ورته اوفرمائیل، قریشو ته بد مهٔ وایه، څکه چه زهٔ هم قریشي یم. حسان عرض اوکړ. دا

قَالَ لَأَسُلَّنَّكَ مِنْهُمْ كَمَا تُسَلُّ الشَّعَرَةُ مِنَ الْعَجِيْنِ وَ قَالَ مُحَمَّدٌ حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ فَرْقَدٍ سَمِعْتُ هِشَامًا عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَبَبْتُ حَسَّانَ وَ كَانَ مِمَّنْ كَثَّرَ عَلَيْهَا.

صحیح ده' لیکن زهٔ به ترے تاسو' او کاږم' لکه ویښته چه د اوړو نه اوښکلے شي' امام بخاريؒ ته شیخ محمد بن عقبه اووے' ماته عثمان بن فرقد اووے' ما د خپل پلار عروه نه واوریدل' هغهٔ ونیلے ما حسان ته بد اووے' ځکه چه بي بي عائشےؓ بانديے د تهمت لړونکو نه و' (خو عائشےؓ زهٔ منع کرم).

۱۸۲ : حَدَّثَنِي بِشْرُ بْنُ خَالِدٍ أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ أَبِي الضُّحَى عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ دَخَلْنَا عَلَى عَائِشَةَ وَ عِنْدَهَا حَسَّانُ بْنُ ثَابِتٍ يُنْشِدُهَا شِعْرًا يُشَبِّبُ بِأَبْيَاتٍ لَهُ وَ قَالَ ـ

حَصَانٌ رَزَانٌ مَا تُزَنُّ بِرِيبَةٍ
وَ تُصْبِحُ غَرْثَى مِنْ لُحُومِ الْغَوَافِلِ

فَقَالَتْ لَهُ عَائِشَةُ لَكِنَّكَ لَسْتَ كَذَلِكَ قَالَ مَسْرُوقٌ فَقُلْتُ لَهَا لِمَا تَأْذَنِينَ لَهُ أَنْ يَدْخُلَ عَلَيْكِ وَقَدْ قَالَ اللَّهُ تَعَالَى وَالَّذِي تَوَلَّى كِبْرَهُ مِنْهُمْ لَهُ عَذَابٌ عَظِيمٌ فَقَالَتْ وَ أَيُّ عَذَابٍ أَشَدُّ مِنَ الْعَمَى فَقَالَتْ لَهُ إِنَّهُ كَانَ يُنَافِحُ أَوْ يُهَاجِي عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

۱۸۲ : بشر بن خالد. محمد بن جعفر. سلیمان. ابوالضحي. حضرت مسروق نه روایت کوي هغهٔ اووے. مونږ د بي بي عائشےؓ په خدمت کښ حاضر شو' نو حضرت حسان بن ثابتؓ هغے ته اشعار آورول' او ونیل ئے:

خصانٌ رَزَانٌ ما تزنّ بریبةٍ
و تصبح غرثی من لحوم الغوافل[۱]

بي بي عائشےؓ حسان ته اووے' دا خو تیک ده' خو ته داسے نهٔ ئے. د مسروق وینا ده' ما بي بي عائشےؓ ته عرض او کهٔ' ته حسان ولے پریږدے' حالانکه الله تعالی سورهٔ نور کښ فرمائي: وَالذی تولّی کبرهٔ منهم له عذاب عظیم: یعني چا چه دے تهمت لړولو کښ زیاته حصه واخسته' هغهٔ د پاره لوئے عذاب دے. نو بي بي عائشےؓ اوفرمائیل د ړندیدو نه زیات کوم عذاب دے. هغے دا هم اووے' حسان به رسول الله صلي الله علیه وسلّم سره د کافرو خلاف جنګیدلو' او د مشرکانو هجوه به ئے کوله.

۱. یعني غیبت نه کوي ولے چه په حدیث کښے دي چه د خپل دیني رور خور غیبت کونکے سړے د هغهٔ غوښه خوري.

١. دا آيت د عبدالله بن أُبي بن سلول رأس المنافقين په باره کښې نازل شوې وو، څنګه چه معلومه ده، عائشې رضي الله عنها ذ حسّان رضي الله عنه په شان کښې څه بده خبره نه ګواره کوله. د حسّان رضي الله عنه نه په تهمت کښې د شرکت غلطي ضرور شوې وه، ليکن کومو صحابه ؓ چه په دې کښې د شرکت غلطي کړې وه هغه ټولو حضراتو توبه ويستې وه او د هغوئ توبه قبوله شوې وه ليکن بهرحال په حضرت عائشې ؓ باندې ډير لوئې تهمت لګولې شوې وو، او اګرچه د هغې زړه په غلطي سره ذ شريکيدونکو صحابه ؓ د طرفه صفا شوې وو څنګه چه د واقعاتو نه ښکاره ده ليکن کله چه به دغه قسمه تذکرې کيدلې نو ذ زړه له زور ورتلل يو قدرتي خبره وه. دلته هم حضرت عائشې رضي الله عنها يو دوه څوکه کيدونکې جملې غالبًا په همدې تاثر کښې ونيلې دي.

بَابٌ ٣٦: غَزْوَةِ الْحُدَيْبِيَةِ. وَقَوْلِ اللهِ تَعَالٰى: لَقَدْ رَضِيَ اللهُ عَنِ الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ يُبَايِعُوْنَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ.

باب ٣٦: ذ غزوهٔ حديبيه بيان. او ذ الله تعالٰي دا ارشاد، چه الله تبارک و تعالٰي ذ مسلمانانو نه راضي شولو، کوم وخت چه هغوي ذ اُونې لاندې ذ حضورؐ نه بيعت کولو.

١٨٣: حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ مَخْلَدٍ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ قَالَ حَدَّثَنِيْ صَالِحُ بْنُ كَيْسَانَ عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ فَأَصَابَنَا مَطَرٌ ذَاتَ لَيْلَةٍ فَصَلّٰى لَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصُّبْحَ ثُمَّ اَقْبَلَ عَلَيْنَا فَقَالَ اَتَدْرُوْنَ مَا ذَا قَالَ رَبُّكُمْ قُلْنَا اللهُ وَ رَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ فَقَالَ قَالَ اللهُ اَصْبَحَ مِنْ عِبَادِيْ مُؤْمِنٌ بِيْ وَ كَافِرٌ بِيْ فَاَمَّا مَنْ قَالَ مُطِرْنَا بِرَحْمَةِ اللهِ وَ بِرِزْقِ اللهِ وَ بِفَضْلِ اللهِ فَهُوَ مُؤْمِنٌ بِيْ كَافِرٌ بِالْكَوْكَبِ وَ اَمَّا مَنْ قَالَ مُطِرْنَا بِنَجْمِ

١٨٣: خالد بن مخلد. سليمان بن بلال. صالح بن کيسان. عبيدالله بن عبدالله حضرت زيد بن خالد نه روايت کوي، هغه وائي، ذ حديبيه په کال مونږ هم رسول الله صلي الله عليه وسلم سره ملګري وو، يوه شپه بماران شو، نو حضورؐ ذ سحر مونځ کولو نه پس مونږ ته متوجه شو، او ارشاد ئې اوفرمائيلو، آيا تاسو ته معلومه ده، چه ستاسو رب څهٔ ارشاد فرمائيلې دې. مونږ عرض او کهٔ، الله او ذ هغهٔ رسول ښهٔ پوهيږي، حضورؐ اوفرمائيل، الله تعالٰي ارشاد فرمائي، ډير خلق داسې دي، چه په هغوي سحر شي، نو په ما ايمان راوړي، او ډير داسې دي، چه منکر شي، يعني څوک چه دا وائي، چه دا باران په مونږ د خدائې فضل سره شوې دې، نو هغوي خو ايماندار دي، او څوک چه دا وائي چه نه دا ذ څهٔ ستورې ذ اثر نه شوې دې، نو هغه په ستورو ايمان لري، په خدائې تعالٰي

كَذَا فَهُوَ مُؤْمِنٌ بِالْكَوْكَبِ كَافِرٌ بِيْ.

ايمان نه لري.

۱۸۴ : حَدَّثَنَا هُدْبَةُ بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ قَتَادَةَ اَنَّ اَنَسًا اَخْبَرَهُ قَالَ اعْتَمَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَرْبَعَ عُمَرٍ كُلُّهُنَّ فِيْ ذِي الْقَعْدَةِ اِلَّا الَّتِيْ كَانَتْ مَعَ حَجَّتِهِ عُمْرَةً مِنَ الْحُدَيْبِيَةِ فِيْ ذِي الْقَعْدَةِ وَعُمْرَةً مِنَ الْعَامِ الْمُقْبِلِ فِيْ ذِي الْقَعْدَةِ وَعُمْرَةً مِنَ الْجِعْرَانَةِ حَيْثُ قَسَمَ غَنَائِمَ حُنَيْنٍ فِيْ ذِي الْقَعْدَةِ وَعُمْرَةً مَعَ حَجَّتِهِ.

۱۸۴ : هدبه بن خالد. همام بن يحيي. قتاده نه او هغهٔ نه حضرت انس اوفرمائيل' چه رسول الله صلي الله عليه وسلم كل څلور عمرے اوكړے' ټولے ماهِ ذي قعده كښې' خو يوه هغه چه حج سره لے ذي الحجه كښې كړے وه' نو د حديبيے هغه ذي قعده كښې اوشوه. بيا د دوئيم كال هم ذي قعده كښې دے نه پس د جعرانه عمره' كوم ځائے چه د حنين مال ئے تقسيم كړے وو' هغه ذي قعده كښې اوشوه' او څلورمه عمره ئے د ذي الحجه مياشت حج سره ادا كړه.

۱۸۵ : حَدَّثَنَا سَعِيْدُ بْنُ الرَّبِيْعِ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ يَحْيٰى عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اَبِيْ قَتَادَةَ اَنَّ اَبَاهُ حَدَّثَهُ قَالَ انْطَلَقْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ فَاَحْرَمَ اَصْحَابُهُ وَلَمْ اُحْرِمْ.

۱۸۵ : سعيد بن ربيع. علي بن مبارك. يحيي بن ابي كثير. عبدالله بن قتاده. د خپل پلار قتاده نه روايت كوي' هغهٔ اووے' ټولو حضور صلي الله عليه وسلم سره حديبيه كښې احرام تړلے وو' خو ما نهٔ وو تړلے.

۱۸٦ : حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ مُوْسٰى عَنْ اِسْرَائِيْلَ عَنْ اَبِيْ اِسْحٰقَ عَنِ الْبَرَآءِ قَالَ تَعُدُّوْنَ اَنْتُمُ الْفَتْحَ فَتْحَ مَكَّةَ وَقَدْ كَانَ فَتْحُ مَكَّةَ فَتْحًا وَنَحْنُ نَعُدُّ الْفَتْحَ بَيْعَةَ الرِّضْوَانِ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَرْبَعَ عَشْرَةَ مِائَةً وَالْحُدَيْبِيَةُ بِئْرٌ فَنَزَحْنَاهَا فَلَمْ نَتْرُكْ فِيْهَا قَطْرَةً فَبَلَغَ

۱۸٦ : عبيدالله بن موسي. اسرائيل. ابو اسحق. حضرت براءؓ نه روايت كوي' هغهٔ اووے' اے خلقو' تاسو د: اِنَّا فتحنا: نه د مكے فتح مراد اخلئے. بيشكه د مكے فتح هم يوه فتح ده' ليكن مونږ بيعت رضوان' فتح ګڼرو. مونږ ټول څوارلس سوه سړي رسول الله صلي الله عليه وسلم سره ملګرے وو. حديبيه يو كوهے وو' مونږ د هغے نه اُوبه ډكول شروع كړل' تردے چه يوه يوه قطره مو ترے راوښكله' څكه چه ډير خلق تږي وو. دا خبر چه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته اورسيد' نو حضورؐ

ذٰلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَتَاهَا فَجَلَسَ عَلٰى شَفِيْرِهَا ثُمَّ دَعَا بِاِنَاءٍ مِّنْ مَّاءٍ فَتَوَضَّأَ ثُمَّ مَضْمَضَ وَ دَعَا ثُمَّ صَبَّهٗ فِيْهَا فَتَرَكْنَاهَا غَيْرَ بَعِيْدٍ ثُمَّ اِنَّهَا اَصْدَرَتْنَا مَا شِئْنَا نَحْنُ وَ رِكَابُنَا.

تشريف راوړلو' او د كوهي په غاړه كيناستلو. ذ اوبو لوښے نے اُوغښتلو' او اودس نے او كړلو' خوله نے كنكال كړه' او ذ الله تعالي نه نے ذعا اُوغښتله. بيائے بچ شوے اُوبه كوهي كښ اُوغورځولے. او انتظار نے كولو. بيا هغے كوهي مونږ ته او خمونږ خناوروته په مړه خيټه اوبه راكړلے.

۱۸۷ : حَدَّثَنِيْ فَضْلُ بْنُ يَعْقُوْبَ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ اَعْيَنَ اَبُوْ عَلِيِّ الْحَرَّانِيُّ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا اَبُوْ اِسْحٰقَ قَالَ اَنْبَاَنَا الْبَرَآءُ بْنُ عَازِبٍؓ اَنَّهُمْ كَانُوْا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَّةِ اَلْفًا وَّ اَرْبَعَ مِائَةٍ اَوْ اَكْثَرَ فَنَزَلُوْا عَلٰى بِئْرٍ فَنَزَحُوْهَا فَاَتَوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَتَى الْبِئْرَ وَ قَعَدَ عَلٰى شَفِيْرِهَا ثُمَّ قَالَ ائْتُوْنِيْ بِدَلْوٍ مِّنْ مَّاءِهَا فَاُتِيَ بِهٖ فَبَصَقَ فَدَعَا ثُمَّ قَالَ دَعُوْهَا سَاعَةً فَاَرْوَوْا اَنْفُسَهُمْ وَ رِكَابَهُمْ حَتّٰى ارْتَحَلُوْا.

۱۸۷ : فضل بن يعقوب. حسن بن محمد بن اعين. ابو علي حراني. زهير بن معاويه. ابو اسحاق سبيعي اووے. مونږ ته حضرت براء بن عازب اووئيل مونږ ټول رسول الله صلي الله عليه وسلّم سره څه پاسه څوارلس كسان ملګرے وو. مونږ يو كوهي سره ايسار شولو' او ټولے اوبه مو راوښكلے. بيا ذ حضور صلي الله عليه وسلّم خدمت كښ مو عرض او كړو رسول الله' اوبه باقي پاتے نه شوے (يعني ختمے شوے) اوس څه كول پكار دي. نو حضورؐ سمدستي تشريف راوړلو' ذ كوهي په غاړه كيناستلو' او وے فرمائيل هغے ذ اُوبو يوه ډولچه راوړئ' نو حاضره كړے شوه حضورؐ هغے كښ ذ خپلے خولے مباركے لعاب يعني لاړے واچولے. خدائے نه نے سوال او كړو' لږ ساعت پس ټولو خلقو خپله هم او په خپلو څاروو هم په مړه خيټه اوبه اوڅكولے.

۱۸۸ : حَدَّثَنَا يُوْسُفُ بْنُ عِيْسٰى حَدَّثَنَا ابْنُ فُضَيْلٍ حَدَّثَنَا حُصَيْنٌ عَنْ سَالِمٍ عَنْ جَابِرٍؓ قَالَ عَطِشَ النَّاسُ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَّةِ وَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

۱۸۸ : يوسف بن عيسي. محمد بن فضيل. حصين بن عبدالرحمٰن. سالم. حضرت جابرؓ نه روايت كوي' هغهٔ اووے' ذ حديبيه په ورځ خلقو ذ اوبو سخت كمي محسوسولو. صرف رسول الله صلي الله عليه وسلّم سره يو لوښے وو چه هغے كښ اُوبه موجود وے

بَيْنَ يَدَيْهِ رَكْوَةٌ فَتَوَضَّأَ مِنْهَا ثُمَّ أَقْبَلَ النَّاسُ نَحْوَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لَكُمْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ لَيْسَ عِنْدَنَا مَاءٌ نَتَوَضَّأُ بِهِ وَلَا نَشْرَبُ إِلَّا مَا فِي رَكْوَتِكَ قَالَ فَوَضَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ فِي الرَّكْوَةِ فَجَعَلَ الْمَاءُ يَفُورُ مِنْ بَيْنِ أَصَابِعِهِ كَأَمْثَالِ الْعُيُونِ قَالَ فَشَرِبْنَا وَتَوَضَّأْنَا فَقُلْتُ لِجَابِرٍ كَمْ كُنْتُمْ يَوْمَئِذٍ قَالَ لَوْ كُنَّا مِائَةَ أَلْفٍ لَكَفَانَا كُنَّا خَمْسَ عَشْرَةَ مِائَةً.

حضورؐ هغې سره اودس اوکړ، او د خلقو نه ئې تپوس اوکړ، څه حال دې. ټولو عرض اوکړ، يا رسول الله بس دغه اوبه دي، کومې چه ستاسو په لوښي کښې دي. حضرت جابر وائي. دې آوريدو سره حضورؐ خپل لاس مبارک په اوبو کښې کېښودلو. او د حضورؐ د ګوتو مبارکو نه د فوارې په شان اوبه بهيدلې، تردې چه مونږ ټولو اودس اوکړه. او ښې مو اوڅکلې، سالم تپوس اوکړ، په هغه ورځ تاسو څومره کسان وئې، هغه ورته اوفرمائيل، که د يو لاکهه تعداد کښې هم وې، نو ښيا به هم کافي کيدې. خو په هغه ورځ مونږ ټول پنځلس سوه سړي وو.

١٨٩ : حَدَّثَنَا الصَّلْتُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ عَنْ سَعِيدٍ عَنْ قَتَادَةَ قُلْتُ لِسَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ بَلَغَنِي أَنَّ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ كَانَ يَقُولُ كَانُوا أَرْبَعَ عَشْرَةَ مِائَةً فَقَالَ لِي سَعِيدٌ حَدَّثَنِي جَابِرٌ كَانُوا خَمْسَ عَشْرَةَ مِائَةً الَّذِينَ بَايَعُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ قَالَ أَبُو دَاوُدَ حَدَّثَنَا قُرَّةُ عَنْ قَتَادَةَ تَابَعَهُ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ.

١٨٩ : صلت بن محمد. يزيد بن زريع. سعيد بن ابي عروبه. حضرت قتاده نه روايت کوي، هغه اووې، ما سعيد بن مسيب ته اووې ماته معلومه شوې ده، چه حضرت جابر بن عبدالله د شرکائے حديبيه شمير څوارلس سوه کوي. سعيد جواب ورکړ، ماته حضرت جابر اووې، د صلح حديبيه په ورځ بيعت کونکي پنځلس سوه حضرات وو. ابو داؤد وائي، مونږ ته قره بن خالد اووې، هغه د قتاده نه او محمد بن بشار سره هم ابو داؤد سره دا روايت کړې دې.

١٩٠ : حَدَّثَنَا عَلِيٌّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ عَمْرٌو سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ أَنْتُمْ خَيْرُ أَهْلِ

١٩٠ : علي بن عبدالله مديني. سفيان بن عيينه. عمرو بن دينار. حضرت جابر بن عبدالله نه روايت کوي، هغه اووې، رسول الله صلي الله عليه وسلم د حديبيه په ورځ صحابهؓ ته ارشاد اوفرمائيلو نن تاسو د ټولې زمکې والو نه افضل ئې. جابر وائي، په هغه ورځ

الْاَرْضِ وَ كُنَّا اَلْفًا وَّ اَرْبَعَمِائَةٍ وَلَوْ كُنْتُ اُبْصِرُ الْيَوْمَ لَاَرَيْتُكُمْ مَكَانَ الشَّجَرَةِ تَابَعَهُ الْاَعْمَشُ سَمِعَ سَالِمًا سَمِعَ جَابِرًا اَلْفًا وَّ اَرْبَعَ مِائَةٍ وَ قَالَ عُبَيْدُ اللّٰهِ ابْنُ مُعَاذٍ حَدَّثَنَا اَبِيْ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ حَدَّثَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ اَبِيْ اَوْفٰیؓ كَانَ اَصْحَابُ الشَّجَرَةِ اَلْفًا وَّ ثَلٰثُ مِائَةٍ وَ كَانَتْ اَسْلَمُ ثُمُنَ الْمُهَاجِرِيْنَ تَابَعَهُ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا اَبُوْ دَاوُدَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ.

څوارلس سوه سړي وو، كه نن زۀ بينا[۱] وے، نو تاسو ته به مې ذ كيكر هغه اُونه ښودلې وې. دا حديث سفيان سره اعمش هم بيانوي. هغه ذ سالم بن ابي جعده نه واوريدل، او هغه ذ حضرت جابرؓ نه واوريدل، چه څوارلس سوه سړي وو، عبيدالله بن معاذ، ذ شعبه بن حجاج نه، هغهٔ ذ عمرو بن مره نه او هغهٔ ته عبدالله بن ابي اوفي بيان اوكڅ، چه بيعت رضوان كښې ذ خلقو تعداد ديارلس سوه وو، او ذ قبيلهٔ اسلم خلق ذ مهاجرينو ذ اتمې حصې برابر وو. عبيدالله بن معاذ سره دا حديث معاذ بن بشار هم روايت كړے دے. ذ هغهٔ نه ابو داود طيالسي او ذ هغهٔ نه شعبه بيان اوكڅ.

۱. جابر رضي الله عنه په آخري عمر كښې نابينا شوے وو.

۱۹۱: حَدَّثَنَا اِبْرٰهِيْمُ بْنُ مُوْسٰی اَخْبَرَنَا عِيْسٰی عَنْ اِسْمٰعِيْلَ عَنْ قَيْسٍ اَنَّهُ سَمِعَ مِرْدَاسًا الْاَسْلَمِيَّ يَقُوْلُ وَ كَانَ مِنْ اَصْحَابِ الشَّجَرَةِ يُقْبَضُ الصَّالِحُوْنَ الْاَوَّلُ فَالْاَوَّلُ وَ تَبْقٰی حُفَالَةٌ كَحُفَالَةِ التَّمْرِ وَالشَّعِيْرِ لَا يَعْبَاُ اللّٰهُ بِهِمْ شَيْئًا.

۱۹۱: ابراهيم بن موسي. عيسي بن خالد. اسماعيل. قيس نه روايت كوي هغهٔ ذ مرداس اسلمي نه چه اصحاب شجره كښې داخل دے، آوريدلې دي، چه قيامت ته قريب نيك خلق به يو يو واخستې شي. او ذ هغوي نه پس به هغه خلق پاتې شي، چه بيكاره به وي، لكه خرابې قجورې يا ذ وربشو بوس، او او ذ الله په نزد به د هغوئ هيڅ قيمت نه وي.

۱۹۲: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ مَرْوَانَ وَالْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ قَالَا خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ فِيْ بِضْعَ عَشْرَةَ مِائَةً مِّنْ اَصْحَابِهٖ فَلَمَّا كَانَ بِذِی الْحُلَيْفَةِ قَلَّدَ

۱۹۲: علي بن عبدالله مديني. سفيان بن عيينه. زهري. عروه بن زبير نه او هغه ذ مروان او مسور نه روايت كوي، هغهٔ اووے. حضور اكرم صلي الله عليه وسلّم ذ حديبيه په كال تقريبًا څوارلس يا ديارلس سوه صحابه ؤ سره روان شو، ذوالحليفه ته اورسيدلو. او هلته حضورؐ ذ قرباني څناور ته هار واچولو. ذ قُب نه ئې وينه اوبهوله، او ذ هغې څائې نه ئې ذ عمرې احرام اوتړلو

الْهَدْيَ وَ اَشْعَرَ وَ اَحْرَمَ مِنْهَا لَا اُحْصِيْ كَمْ سَمِعْتُهُ مِنْ سُفْيَانَ حَتّٰى سَمِعْتُهُ يَقُوْلُ لَا اَحْفَظُ مِنَ الزُّهْرِيِّ الْاِشْعَارَ وَالتَّقْلِيْدَ فَلَا اَدْرِيْ يَعْنِيْ مَوْضِعَ الْاِشْعَارِ وَالتَّقْلِيْدِ اَوِ الْحَدِيْثَ كُلَّهٗ.

علي بن مديني وائي' زه نشم شميرلے' چه ما دا حديث څومره ځله د سفيان نه آوريدلے دے' هغه اووے' د زهري نه هار اچول او ڤب خيرل ياد پاتے نه شو. اوس ماته معلومه نه ده' چه د هغه مطلب څه وو' يعني د اشعار او تقليد مقام ياد پاتے نه شو' يا تمام حديث ياد پاتے نه شو.

۱۹۳ : حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ خَلَفٍ قَالَ حَدَّثَنَا اِسْحٰقُ بْنُ يُوْسُفَ عَنْ اَبِيْ بِشْرٍ وَرْقَاءَ عَنِ ابْنِ اَبِيْ نَجِيْحٍ عَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ حَدَّثَنِيْ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ ابْنُ اَبِيْ لَيْلٰى عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَاٰهُ وَ قَمْلُهٗ يَسْقُطُ عَلٰى وَجْهِهٖ فَقَالَ اَيُؤْذِيْكَ هَوَآمُّكَ قَالَ نَعَمْ فَاَمَرَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يَّحْلِقَ وَهُوَ بِالْحُدَيْبِيَةِ لَمْ يُبَيِّنْ لَهُمْ اَنَّهُمْ يَحِلُّوْنَ بِهَا وَهُمْ عَلٰى طَمَعٍ اَنْ يَّدْخُلُوْا مَكَّةَ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ الْفِدْيَةَ فَاَمَرَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يُّطْعِمَ فَرَقًا بَيْنَ سِتَّةِ مَسَاكِيْنَ اَوْ يُهْدِيَ شَاةً اَوْ يَصُوْمَ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ.

۱۹۳ : حسن بن خلف. اسحاق بن يوسف. ابو بشر ورقاء. عمر بن ابي نجيح. مجاهد. عبدالرحمن بن ابي ليلٰي. كعب بن عجرهؓ نه روايت كوي' هغه اووے' رسول الله صلي الله عليه وسلم زه اوليدم' چه خما د سر نه سپږے (جوئيں) خما په مخ غرخيږي نو حضورﷺ اوفرمائيل' تاته د دے تكليف دے' نو سر اُوخريه. دغه وخت حضورﷺ حديبيه كښ وو' او ورته دا معلومه نه وه' چه د مكے نه به منع كړے شي' او دلته به احرام كوزول وي بلكه اُميد ئے وو' چه مكه كښ به داخل شي او عمره به پوره كړي. دے نه پس الله تعالٰي د فديے آيت نازل كړلو (سورة بقره كښ) دغه وخت حضورﷺ كعب ته حكم اوكه' چه شپږ مسكينانوته دولس سيره خوراكه وركړه' يا يوه چيلئے قرباني كه' يا درے روژے اونيسه.

۱۹۴ : حَدَّثَنَا اِسْمٰعِيْلُ ابْنُ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ حَدَّثَنِيْ مَالِكٌ عَنْ زَيْدِ بْنِ اَسْلَمَ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ خَرَجْتُ مَعَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ

۱۹۴ : اسماعيل بن عبدالله. امام مالك. زيد بن اسلم د خپل پلار اسلم نه روايت كوي' هغه اووے' زه حضرت عمرؓ سره بازار ته لاړم' هلته يوه خوانه ښځه ورسره يوځائے شوه' هغے ورته اووے' اے امير المومنينه'

فَلَحِقَتْ عُمَرَ امْرَأَةٌ شَابَّةٌ فَقَالَتْ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِيْنَ هَلَكَ زَوْجِيْ وَ تَرَكَ صِبْيَةً صِغَارًا وَاللّٰهِ مَا يُنْضِجُوْنَ كُرَاعًا وَلَا لَهُمْ زَرْعٌ وَلَا ضَرْعٌ وَ خَشِيْتُ أَنْ تَأْكُلَهُمُ الضَّبُعُ وَ أَنَا بِنْتُ خُفَافِ بْنِ إِيْمَاءَ الْغِفَارِيِّ وَقَدْ شَهِدَ أَبِي الْحُدَيْبِيَّةَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَقَفَ مَعَهَا عُمَرُ وَلَمْ يَمْضِ ثُمَّ قَالَ مَرْحَبًا بِنَسَبٍ قَرِيْبٍ ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَى بَعِيْرٍ ظَهِيْرٍ كَانَ مَرْبُوْطًا فِي الدَّارِ فَحَمَلَ عَلَيْهِ غِرَارَتَيْنِ مَلَأَهُمَا طَعَامًا وَ حَمَلَ بَيْنَهُمَا نَفَقَةً وَ ثِيَابًا ثُمَّ نَاوَلَهَا بِخِطَامِهِ ثُمَّ قَالَ اقْتَادِيْهِ فَلَنْ يَفْنَى حَتَّى يَأْتِيَكُمُ اللّٰهُ بِخَيْرٍ فَقَالَ رَجُلٌ يَا أَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ أَكْثَرْتَ لَهَا قَالَ عُمَرُ ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ وَاللّٰهِ إِنِّيْ لَأَرٰى أَبَا هٰذِهِ وَ أَخَاهَا قَدْ حَاصَرَا حِصْنًا زَمَانًا فَافْتَتَحَاهُ ثُمَّ أَصْبَحْنَا نَسْتَفِيْءُ سُهْمَانَهُمَا فِيْهِ.

خما خاوند مړ شوے دے' او واړۀ بچي ترے پاتے شوے دي. په الله م دے قسم وي دومره هم څۀ نشته' چه زۀ ذ بچو ذ پاره څۀ پاخۀ کړے شم' نۀ څۀ فصل شته' او نه پیۍ والے خناور شته. ما سره ویره ده' چه چرته ذ قحط ذ وجے هغوي مړۀ نشي. او زۀ ذ خفاف بن ایماء غفاري' لور' یم. او خما پلار حدیبیه کښ رسول الله صلي الله علیه وسلم سره موجود وو' دے آوریدو سره حضرت عمرؓ اوفرمائیل' مرحبا' ستا خاوند خو خما خاندان سره یعني نسب سره یوځائے کیږي. دے نه پس حضرت عمرؓ په یو اُوښ ذ غلے دوه بورۍ او ذ هغے مینځ کښ کپړے او روپے کینبودے. او ذ اُوښ رسۍ ئے ذ هغے ښځے په لاس کښ ورکړه' او ورته ئے اوفرمائیل' دا واخله' او څه' امید دے چه ذ دے ختمیدو نه مخکښ به الله تعالي ذ دے نه بهتر (رزق) درته عطا کړي. یو سړي دے کیفیت لیدو سره اووے' تاسو هغے له ډیر څۀ ورکړل' حضرت عمرؓ ورته اوفرمائیل' اے مور دربانده بورچنده شه (یا مور دربانده ویر اوکړه) خدائے ګواه دے' ما ددے ښځے پلار او ورور لیدلے دے' هغه ذ کافرو قلعه هغه وخته پورے راګیره کړے وه' څو پورے چه فتح شوے نۀ وه. بیا سحر ذ مال غنیمت نه ذ هغے دواړو حصه وصول کړے شوه.

**١٩٥** : حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ حَدَّثَنَا شَبَابَةُ ابْنُ سَوَّارٍ أَبُوْ عَمْرٍو الْفَزَارِيُّ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ لَقَدْ رَأَيْتُ الشَّجَرَةَ ثُمَّ أَتَيْتُهَا بَعْدُ

**١٩٥** : محمد بن رافع. شبابه بن سوار. ابو عمرو فزاري. شعبه. قتاده. سعید بن مسیب نه او هغه ذ خپل پلار نه روایت کوي' هغۀ اووے' ما هغه اُونه (درخت) لیدلے ده' چه ذ هغے لاندے بیعت آخستے شوے وو' خو ما چه هغه دوباره اوکتله' نو پیژندے نه شوه' شیخ

فَلَمْ أَعْرِفْهَا قَالَ مَحْمُودٌ ثُمَّ أُنْسِيتُهَا بَعْدُ.

بخاريؒ محمود بن غيلان وائي' ابن مسيب اووے' مانه هغه هيره شوه.

۱۹۶ : حَدَّثَنَا مَحْمُودٌ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ عَنْ إِسْرَآئِيلَ عَنْ طَارِقِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ قَالَ انْطَلَقْتُ حَاجًّا فَمَرَرْتُ بِقَوْمٍ يُصَلُّونَ قُلْتُ مَا هٰذَا الْمَسْجِدُ قَالُوا هٰذِهِ الشَّجَرَةُ حَيْثُ بَايَعَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْعَةَ الرِّضْوَانِ فَأَتَيْتُ سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ سَعِيدٌ حَدَّثَنِي أَبِي كَانَ فِيمَنْ بَايَعَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ قَالَ فَلَمَّا خَرَجْنَا مِنَ الْعَامِ الْمُقْبِلِ نَسِينَاهَا فَلَمْ نَقْدِرْ عَلَيْهَا فَقَالَ سَعِيدٌ إِنَّ أَصْحَابَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَعْلَمُوهَا وَ عَلِمْتُمُوهَا أَنْتُمْ فَأَنْتُمْ أَعْلَمُ.

۱۹۶ : محمود. عبيداللّٰه. اسرائيل بن يونس. طارق بن عبدالرحمٰن نه روايت كوي' هغه بيان اوكه' زهٔ د حج په غرض مكے ته تلم' لار كښې م اوليدل' چه څه خلق مونځ كوي' ما تپوس اوكه' دلته كوم جُمات دے جواب ئے راكه. دا هغه اُونه ده' چه دَ دے لاندے رسول اكرم صلي اللّٰه عليه وسلّم دَ صحابهٔ ؤ نه بيعت اخستے وو. دے آوريدو سره زهٔ سعيد بن مسيب له راغلم' او هغهٔ ته م دا خبره بيان كره' هغهٔ اووے' خما پلار (مسيب بن حزن) هغے خلقو كښې دے' چه هغوي دَ حضورؐ نه دَ دے اُونے لاندے بيعت كرے وو. دَ هغه خائے او اُونه رانه هير شولو. سعيد وائي' دَ رسول اكرم صلي اللّٰه عليه وسلّم صحابه ؤ خو دَ هغے اُونے شناخت اونهٔ كرے شو' نو تاسو څنگه اوپيژنده' تاسو دَ هغوي نه زيات علم واله ئے.

۱۹۷ : مُوسٰى حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ حَدَّثَنَا طَارِقٌ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ كَانَ مِمَّنْ بَايَعَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَرَجَعْنَا إِلَيْهَا الْعَامَ الْمُقْبِلَ فَعَمِيَتْ عَلَيْنَا.

۱۹۷ : موسٰي بن اسماعيل. ابو عوانه. طارق. سعيد بن مسيب نه' او هغهٔ دَ خپل پلار نه' او هغه دَ هغے حضراتو نه وو' چه هغوي دَ اُونے لاندے بيعت كرے وو' وائي مونږ په دوئيم كال هلته لاړلو' نو مونږ اُونهٔ پيژندله' چه كومه اُونه ده.

۱۹۸ : حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ طَارِقٍ قَالَ ذُكِرَتْ عِنْدَ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ الشَّجَرَةُ فَضَحِكَ فَقَالَ أَخْبَرَنِي أَبِي وَ كَانَ

۱۹۸ : قبيصه بن عقبه. سفيان ثوري. طارق نه روايت كوي' چه سعيد بن مسيب كوم وخت چه دَ هغے اُونے ذكر راغے' خندا كښې اووے. خما پلار چه ماته څهٔ بيان كرل' هغه مخكښې تير شو (يعني دَ هغے ذكر

شَهِدَهَا.

۱۹۹ : حَدَّثَنَا اٰدَمُ بْنُ اَبِيْ اِيَاسٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ اَبِيْ اَوْفٰى وَ كَانَ مِنْ اَصْحَابِ الشَّجَرَةِ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اَتَاهُ قَوْمٌ بِصَدَقَةٍ قَالَ اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَيْهِمْ فَاَتَاهُ اَبِيْ بِصَدَقَتِهٖ فَقَالَ اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى اٰلِ اَبِيْ اَوْفٰى.

مخکښې اوشو ؛ او خما پلار دے بیعت کښې شریک وو.

۱۹۹ : آدم بن ابي اياس. شعبه. عمرو بن مره نه روايت کوي، هغه اووے، ما د عبدالله بن ابي اوفي نه واوريدل، چه بيعت رضوان کښې شامل وو، ذ حضور صلي الله عليه وسلم دا عادت مبارک وو، چه کله به يو قوم حضورٌ له صدقے ورکولو له راغلو، نو حضورٌ به فرمائيل، اے الله، په دوي خپل رحم اوکړے. خما پلار هم صدقے سره حاضر شوے، نو حضورٌ اوفرمائيل، اے الله، ذ عبدالله بن اوفي په اولاد باندے خپل رحم اوکړے.

ف: په داسے موقع صدقه يا زکوة ورکونکي او ذ هغهٔ اولاد ته دُعا پکار ده. الله پاک دے مونږ او خمونږ آل و اولاد له هم ذ داسے کار خير توفيق ورکړي. اللّٰهم آمين.

۲۰۰ : حَدَّثَنَا اِسْمٰعِيْلُ عَنْ اَخِيْهِ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيٰى عَنْ عَبَّادِ بْنِ تَمِيْمٍ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ الْحَرَّةِ وَالنَّاسُ يُبَايِعُوْنَ لِعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ حَنْظَلَةَ النَّاسَ فَقَالَ ابْنُ زَيْدٍ عَلٰى مَا يُبَايِعُ ابْنُ حَنْظَلَةَ النَّاسَ قِيْلَ لَهٗ عَلَى الْمَوْتِ قَالَ لَا اُبَايِعُ عَلٰى ذٰلِكَ اَحَدًا بَعْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ كَانَ شَهِدَ مَعَهُ الْحُدَيْبِيَّةَ.

۲۰۰ : اسماعيل بن ابي اويس. عبدالحميد. ذ هغهٔ ورور. سليمان بن عمرو بن يحيي نازلي. عباد بن تميم نه روايت کوي، هغهٔ اووے، ذ جنګ حره په ورځ خلقو ذ عبدالله بن حنظله نه بيعت کولو. ابن زيد تپوس اوکهٔ، ابن حنظله ذ خلقو نه ذ څهٔ څيز بيعت آخلي چه ورته اووے په مرګ ابن زيد اووے. زهٔ ذ حضورٌ نه پس دے معامله کښې هيچا سره بيعت نهٔ کوم، ځکه چه ابن زيد حضور اکرم صلي الله عليه وسلم سره د حديبيه بيعت کښې حاضر وو.

۲۰۱ : حَدَّثَنَا يَحْيَى ابْنُ يَعْلَى الْمُحَارِبِيُّ قَالَ حَدَّثَنِيْ اَبِيْ حَدَّثَنَا اِيَاسُ بْنُ سَلَمَةَ بْنِ الْاَكْوَعِ قَالَ حَدَّثَنِيْ اَبِيْ وَ كَانَ مِنْ اَصْحَابِ

۲۰۱ : يحيي بن يعلي محاربي. ذ خپل پلار نه. او هغه اياس بن سلمه بن اكوع نه روايت کوي، هغهٔ اووے، ماته خما پلار چه ذ اصحاب شجره نه وو، اووے، مونږ رسالت

الشَّجَرَةِ قَالَ كُنَّا نُصَلِّيْ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجُمُعَةَ ثُمَّ نَنْصَرِفُ وَ لَيْسَ لِلْحِيْطَانِ ظِلٌّ نَسْتَظِلُّ فِيْهِ.

موب صلي اللّٰه عليه وسلّم سره د جمعې د مانځه نه پس واپس راغلو' نو د ديوالونو سورې به نه وو' چه مونږ ترې لاندې ناست وې.

۲۰۲: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيْدٍ حَدَّثَنَا حَاتِمٌ عَنْ يَزِيْدَ بْنِ اَبِيْ عُبَيْدٍ قَالَ قُلْتُ لِسَلَمَةَ بْنِ الْاَكْوَعِ عَلٰى اَيِّ شَيْءٍ بَايَعْتُمْ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ قَالَ عَلَى الْمَوْتِ.

۲۰۲: قتيبه بن سعيد. حاتم. يزيد بن ابي عبيد نه روايت كوي' هغه خضرت سلمه بن اكوع ته اووې' چه تاسو د صلح حديبيه په موقع كوم اقرار سره ذ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم نه بيعت كړې وو. هغه اووې. مونږ په مرګ بيعت كړې وو (يعني تر مرګه به ذ باطل خلاف جنګيږو).

۲۰۳: حَدَّثَنِيْ اَحْمَدُ بْنُ اَشْكَابٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ لَقِيْتُ الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ فَقُلْتُ طُوْبٰى لَكَ صَحِبْتَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ بَايَعْتَهُ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَقَالَ يَا ابْنَ اَخِيْ اِنَّكَ لَا تَدْرِيْ مَا اَحْدَثْنَا بَعْدَهُ.

۲۰۳: احمد بن اشكاب. محمد بن فضيل. علاء بن مسيب. هغه ذ خپل پلار نه روايت كوي' هغه اووې' ما براء بن عازب ته اووې' تهٔ قابل ذ مبارک باد ئې' چه تاته ذ حضورؐ ذ صحبت شرف حاصل شوې دې. او تا ذ اُونې لاندې ذ حضورؐ نه ذ بيعت سعادت حاصل كړې دې. نو هغهٔ عاجزي سره اوفرمائيل' اې وروره' تاته معلومه نهٔ ده' چه مونږ ذ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم نه پس څهٔ څهٔ بدئ كړي دي.

۲۰۴: حَدَّثَنَا اِسْحٰقُ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ صَالِحٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ هُوَ ابْنُ سَلَّامٍ عَنْ يَحْيٰى عَنْ اَبِيْ قِلَابَةَ اَنَّ ثَابِتَ بْنَ الضَّحَّاكِ اَخْبَرَهُ اَنَّهُ بَايَعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ.

۲۰۴: اسحاق. يحيي بن صالح. معاويه بن سلام. يحيي بن ابي كثير. ابو قلابه نه روايت كوي' هغهٔ ته ثابت بن ضحاک اوښودل' چه ما ذ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم نه ذ اُونې ذ لاندې ذ بيعت كولو سعادت حاصل كړې دې.

۲۰۵: حَدَّثَنَا اَحْمَدُ بْنُ اِسْحٰقَ حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ اَخْبَرَنَا

۲۰۵: احمد بن اسحاق. عثمان بن عمر. شعبه. قتاده. حضرت انس بن مالکؓ نه روايت كوي' هغه

شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ اِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِيْنًا قَالَ الْحُدَيْبِيَّةُ قَالَ اَصْحَابُهُ هَنِيْئًا مَرِيْئًا فَمَا لَنَا فَاَنْزَلَ اللّٰهُ لِيُدْخِلَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ جَنّٰتٍ قَالَ شُعْبَةُ فَقَدِمْتُ الْكُوْفَةَ فَحَدَّثْتُ بِهٰذَا كُلِّهِ عَنْ قَتَادَةَ ثُمَّ رَجَعْتُ فَذَكَرْتُ لَهُ فَقَالَ اَمَّا اِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَعَنْ اَنَسٍ وَّ اَمَّا هَنِيْئًا مَرِيْئًا فَعَنْ عِكْرِمَةَ.

اووے: انّا فتحنا لک فتحا مبينا: نه مراد صلح حديبيه دے، هغه وخت ذ هغوي ملګرو ورته عرض اوکړ. تاسو ذ پاره خو دا امر باعث تبرک او مسرت دے، خو مونږ ذ پاره هغه وخت دا آيت نازل شولو: ليدخل المؤمنين والمؤمنات جنّاتٍ: يعني مؤمنان سړي او مومنې ښځې به جنت کښې داخليږي، وائي، زۀ کوفې ته راغلم، او دا حديث م قتاده ته بيان کړ، نو هغهٔ اوفرمائيل، چه ذ: انّا فتحنا تفسير حضرت انس بيان کړے دے. او هَنِيْئًا مَرِيْئًا: ذ حضرت عکرمه نه منقول دے.

۲۰۶: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا اَبُوْ عَامِرٍ حَدَّثَنَا اِسْرَآئِيْلُ عَنْ مَجْزَاةَ ابْنِ زَاهِرٍ الْاَسْلَمِيِّ عَنْ اَبِيْهِ وَ كَانَ مِمَّنْ شَهِدَ الشَّجَرَةَ قَالَ اِنِّيْ لَاُوْقِدُ تَحْتَ الْقِدْرِ بِلُحُوْمِ الْحُمُرِ اِذْ نَادٰى مُنَادِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَاكُمْ عَنْ لُحُوْمِ الْحُمُرِ وَ عَنْ مَجْزَاةَ عَنْ رَجُلٍ مِنْهُمْ مِنْ اَصْحَابِ الشَّجَرَةِ اِسْمُهُ اُهْبَانُ بْنُ اَوْسٍ وَّ كَانَ اشْتَكٰى رُكْبَتَهُ وَ كَانَ اِذَا سَجَدَ جَعَلَ تَحْتَ رُكْبَتِهٖ وِسَادَةً.

۲۰۶: عبداللّٰه بن محمد. ابو عامر عقدي. اسرائيل بن يونس. مجزاة بن زاهر اسلمي ذ خپل پلار نه، چه حديبيه کښې شريک وو، روايت کوي: هغه اووے، ما ذ خر غوښه پخوله (جنګ خيبر کښې) ذ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم يو منادي نِدا (آواز) اوکړلو چه حضور صلي الله عليه وسلّم تاسو ذ خر ذ غوښې نه منع کوي. او مجزاة دا هم وائي، چه ذ هغهٔ نوم اهبان بن اوس وو. او هغه هم ذ اونې لاندې ذ بيعت کونکو نه وو، ذ هغه زنګونانو کښې ذ درد بيماري وه، کله چه به هغه سجده کوله، نو ذ هغې کنډې لاندې به ئې تکيه ايښودله، چه هغې ته تکليف او، نه رسي.

۲۰۷: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا ابْنُ اَبِيْ عَدِيٍّ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ يَحْيَى ابْنِ سَعِيْدٍ عَنْ بُشَيْرِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ سُوَيْدِ بْنِ النُّعْمَانِ وَ كَانَ مِنْ اَصْحَابِ الشَّجَرَةِ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ

۲۰۷: محمد بن بشاري. ابن عدي. شعبه. يحيي بن سعيد. بشير بن يسار. حضرت سويد بن نعمان نه چه اصحاب شجره نه وو، روايت کوي، هغهٔ اووے، حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم او ذ هغوي ملګرو به

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ اَصْحَابُهُ اُتُوْا بِسَوِيْقٍ فَلَا كُوْهُ تَابَعَهُ مُعَاذٌ عَنْ شُعْبَةَ.

ستوان څکلو سره وخت تيرولو. ابن عدي چه شعبه نه روايت کوي. معاذ، نے دَ دے مرسته کړے ده.

۲۰۸: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمِ بْنِ بِزِيْعٍ حَدَّثَنَا شَاذَانُ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ اَبِيْ جَمْرَةَ قَالَ سَاَلْتُ عَائِذَ بْنَ عَمْرٍو وَ كَانَ مِنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ اَصْحَابِ الشَّجَرَةِ هَلْ يُنْقَضُ الْوِتْرُ قَالَ اِذَا اَوْتَرْتَ مِنْ اَوَّلِهٖ فَلَا تُوْتِرْ مِنْ اٰخِرِهٖ.

۲۰۸: محمد بن حاتم بن بزيع. شاذان. شعبه. ابي جمره نه روايت کوي، هغه اووے، ما دَ عائذ بن عمرو نه چه دَ اصحاب شجره نه وو، تپوس اوکړ، چه آيا وتر مونږ دوباره کوو، نو هغه اووے. که دَ شپے اول کښې نے اوکړے، نو بيا آخر شپه کښې کول نے نه دي پکار.

۲۰۹: حَدَّثَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوْسُفَ اَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ زَيْدِ بْنِ اَسْلَمَ عَنْ اَبِيْهِ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَسِيْرُ فِيْ بَعْضِ اَسْفَارِهٖ وَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ يَسِيْرُ مَعَهُ لَيْلًا فَسَاَلَهُ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ عَنْ شَيْءٍ فَلَمْ يُجِبْهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ سَاَلَهُ فَلَمْ يُجِبْهُ ثُمَّ سَاَلَهُ فَلَمْ يُجِبْهُ وَ قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ ثَكِلَتْكَ اُمُّكَ يَا عُمَرُ نَزَرْتَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّاتٍ كُلُّ ذٰلِكَ لَا يُجِيْبُكَ قَالَ عُمَرُ فَحَرَّكْتُ بَعِيْرِيْ ثُمَّ تَقَدَّمْتُ اَمَامَ الْمُسْلِمِيْنَ وَ خَشِيْتُ اَنْ يُّنْزَلَ فِيَّ قُرْاٰنٌ وَ جِئْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ

۲۰۹: عبدالله بن يوسف. امام مالک. زيد بن اسلم نه، هغه دَ خپل پلار نه روايت کوي، بعضے سفرونو کښې به حضور صلى الله عليه وسلم دَ شپے تلو، او حضرت عمرؓ به ورسره وو، حضرت عمرؓ دَ حضور صلي الله عليه وسلم نه څه تپوس اوکړ، حضور صلي الله عليه وسلم جواب ورنه کړلو. بيائے تپوس اوکړ، جواب نے ورنه کړلو، بيائے تپوس اوکړ، جواب نے ورنه کړلو. حضرت عمرؓ خپل زړه کښې اووے. اے عمرهٔ مور دربانده اوژاړه (يعني مور دربانده بوره شه) تا درے خله دَ خبرے تپوس اوکړ، او تاله حضور صلي الله عليه وسلم جواب ورنه کړلو حضرت عمرؓ بيان کوي، ما اوبښ له پونده ورکړه، او دَ مسلمانانو نه مخکښې اووتلم، دَ دے ويرے نه، چه چرته خما متعلق آيت نازل نه شي. لږ ساعت پس چا ماته آواز کولو، زهٔ زيات خوف زده شوم، چه شايد خما حق کښې قرآن (آيت) نازل شولو. زهٔ دَ حضورؐ خدمت کښې حاضر شوم، او سلام مِ اوکړ.

فَقَالَ لَقَدْ اُنْزِلَتْ عَلَيَّ اللَّيْلَةَ سُوْرَةٌ لَهِيَ اَحَبُّ اِلَيَّ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ ثُمَّ قَرَأَ اِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِيْنًا.

حضورؐ ارشاد اوفرمائيلو. ذ شپې په ما يو سورت نازل شوې دې، او هغه ماته د هغې ټولو څيزونونه محبوب دې چه په هغې نمر طلوع کيږي. بيا حضورؐ: انا فتحنا لک فتحا مبينا: تلاوت کړلو.

۴۲۱۰: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ سَمِعْتُ الزُّهْرِيَّ حِيْنَ حَدَّثَ هٰذَا الْحَدِيْثَ حَفِظْتُ بَعْضَهُ وَ ثَبَّتَنِيْ مَعْمَرٌ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ وَ مَرْوَانَ بْنِ الْحَكَمِ يَزِيْدُ اَحَدُهُمَا عَلٰى صَاحِبِهِ قَالَا خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ فِيْ بِضْعَ عَشْرَةَ مِائَةً مِنْ اَصْحَابِهِ فَلَمَّا اَتٰى ذَا الْحُلَيْفَةِ قَلَّدَ الْهَدْيَ وَ اَشْعَرَهُ وَ اَحْرَمَ مِنْهَا بِعُمْرَةٍ وَّ بَعَثَ عَيْنًا لَهُ مِنْ خُزَاعَةَ وَ سَارَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى كَانَ بِغَدِيْرِ الْاَشْطَاطِ اَتَاهُ عَيْنُهُ قَالَ اِنَّ قُرَيْشًا جَمَعُوْا لَكَ جُمُوْعًا وَّقَدْ جَمَعُوْا لَكَ الْاَحَابِيْشَ وَهُمْ مُقَاتِلُوْكَ وَ صَادُّوْكَ عَنِ الْبَيْتِ وَمَانِعُوْكَ فَقَالَ اَشِيْرُوْا اَيُّهَا النَّاسُ عَلَيَّ اَتَرَوْنَ اَنْ اَمِيْلَ اِلٰى عِيَالِهِمْ وَ ذَرَارِيِّ هٰؤُلَاءِ الَّذِيْنَ يُرِيْدُوْنَ اَنْ

۴۲۱۰: عبدالله بن محمد. سفيان بن عيينه. زهري نه روايت کوي، ما ذ زهري نه واوريدل، کوم وخت چه هغه پورتنې حديث بيانولو، نو څۀ ما ياد اوساتلو، او څۀ معمر ماته ياد کړلو، هغه ذ عروه بن زبير نه او هغه ذ مسور او مروان نه روايت کوي، چه هغې کښې هر يو ذ بل نه زيات بيان کوي، هغۀ اووې، حديبيه ذ پاره رسول الله صلي الله عليه وسلّم ذ لس سوو نه څو سوه زيات اصحابؓ سره ذي الحليفه ته اورسيد، نو ذ قربانۍ ذ ځناورو غاړه کښې ئې هار واچولو، او ذ هغې قُب ئې اوخيرلو. او بيا ذ هغې ځائې نه ئې ذ عمرې احرام اوتړلو او بيا ذ بني خزاعه يو جاسوس حضورؐ مخکښې اوليږلو. او حضور صلي الله عليه وسلّم هم برابر تلو، تردې چه مقام غدير الاشطاط ته اورسيدلو. نو جاسوس حاضر خدمت شو، عرض ئې اوکۀ چه قريشو ډير قبائل او حمايتيان تاسو سره جنګ کولو ذ پاره يوځائې کړې دي، هغوي تاسو بيت الله ته پريښودل نۀ غواړي حضورؐ مسلمانانو ته اوفرمائيل، خلقو، ماته دې معامله کښې اوښائې، چه څۀ کول پکار دي، آيا زۀ ذ کافرو په اهل و عيال ور اوغرځيږم، او هغوي تباه کړم، چه خمونږ ذ کعبې نه ذ منع کولو تدبيرونه کوي، او که هغوي مقابلې ذ پاره راشي، نو الله تعالي مددګار دې، هغۀ خمونږ جاسوس ذ هغوي ذ لاس نه بچ کړې دې.

يَصُدُّوْنَا عَنِ الْبَيْتِ فَإِنْ يَّأْتُوْنَا كَانَ اللّٰهُ عَزَّ وَ جَلَّ قَدْ قَطَعَ عَيْنًا مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ وَ اِلَّا تَرَكْنَاهُمْ مَحْرُوْبِيْنَ قَالَ اَبُوْ بَكْرٍ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ خَرَجْتَ عَامِدًا لِّهٰذَا الْبَيْتِ لَا تُرِيْدُ قَتْلَ اَحَدٍ وَّلَا حَرْبَ اَحَدٍ فَتَوَجَّهْ لَهُ فَمَنْ صَدَّنَا عَنْهُ قَاتَلْنَاهُ قَالَ امْضُوْا عَلٰى اسْمِ اللّٰهِ.

که هغوي رانغلل، نو مونږ به هغه ي ذ اُودو يا مغرور په شان پريږدو. په دې حضرت ابوبکرؓ عرض او کړ، يا رسول اللّٰه، مونږ خو صرف ذ اللّٰه ذ کور په اراده حاضر شوې يو، چاسره جنګ کول يا لوټ کول خمونږ غرض نۀ دې. تاسو اخوا روان شئ که څوک مونږ منع کړي، نو مونږ به هغوي سره جنګ کوو، حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل، پاسئې، ذ اللّٰه نوم واخلئې.

۲۱۱ : حَدَّثَنِيْ اِسْحٰقُ اَخْبَرَنَا يَعْقُوْبُ حَدَّثَنِيْ ابْنُ اَخِي ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَمِّهٖ اَخْبَرَنِيْ عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ اَنَّهٗ سَمِعَ مَرْوَانَ بْنَ الْحَكَمِ وَالْمِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ يُخْبِرَانِ خَبَرًا مِّنْ خَبَرِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ عُمْرَةِ الْحُدَيْبِيَةِ فَكَانَ فِيْمَا اَخْبَرَنِيْ عُرْوَةُ عَنْهُمَا اَنَّهٗ لَمَّا كَاتَبَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُهَيْلَ بْنَ عَمْرٍو يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ عَلٰى قَضِيَّةِ الْمُدَّةِ وَ كَانَ فِيْمَا اشْتَرَطَ سُهَيْلُ بْنُ عَمْرٍو اَنَّهٗ قَالَ لَا يَاْتِيْكَ مِنَّا اَحَدٌ وَّ اِنْ كَانَ عَلٰى دِيْنِكَ اِلَّا رَدَدْتَّهٗ اِلَيْنَا وَ خَلَّيْتَ بَيْنَنَا وَ بَيْنَهٗ وَ اَبٰى سُهَيْلٌ اَنْ يُّقَاضِيَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلَّا عَلٰى ذٰلِكَ فَكَرِهَ الْمُؤْمِنُوْنَ ذٰلِكَ وَامْعَضُوْا فَتَكَلَّمُوْا فِيْهِ فَلَمَّا اَبٰى سُهَيْلٌ اَنْ يُّقَاضِيَ

۲۱۱ : اسحاق بن راهويه. يعقوب بن ابراهيم. ابن اخي ابن شهاب. محمد بن مسلم. ابن شهاب. حضرت عروه بن زبير نه روايت کوي، هغه اووې، ما ذ مروان او مسورؓ نه آوريدلې دي، هغه ذ رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم ذ حديبيه ذ عمرې قصه بيانوله. راوي اووې، عروه چه دا قصه ماته بيان کړه، نو هغې کښې ئې دا خبره هم بيان کړه، هر کله چه حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ذ حديبيه په ورخ سهيل بن عمرو سره معاهده د يو مودې ذ پاره تحرير کړله، نو ذ سهيل په شرطونو کښې يو شرط دا هم وو، که خمونږ څوک سړې اګر که هغه مسلمان شوې وي، تاسو له راشي، نو هغه به واپس کوئې. او تاسو به دې کښې رکاوټ نۀ اچوئې. سهيل بن عمرو په دې شرط اصرار اوکړلو، او مسلمانانو به نامنظوررولو. ليکن سهيل بن عمرو دا شرط معاهده کښې داخل کړې وو. دې نه پس ابوجندل بن سهيل بن

رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلَّا عَلٰى ذٰلِكَ كَاتَبَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَدَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَبَا جَنْدَلِ ابْنِ سُهَيْلٍ يَّوْمَئِذٍ اِلٰى اَبِيْهِ سُهَيْلِ بْنِ عَمْرٍو وَلَمْ يَأْتِ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَحَدٌ مِّنَ الرِّجَالِ اِلَّا رَدَّهٗ فِيْ تِلْكَ الْمُدَّةِ وَ اِنْ كَانَ مُسْلِمًا فَجَآءَ تِ الْمُؤْمِنٰتُ مُهَاجِرَاتٍ فَكَانَتْ اُمُّ كُلْثُوْمٍ بِنْتُ عُقْبَةَ بْنِ اَبِيْ مُعَيْطٍ مِمَّنْ خَرَجَ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ هِيَ عَاتِقٌ فَجَآءَ اَهْلُهَا يَسْأَلُوْنَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يَرْجِعَهَا اِلَيْهِمْ حَتّٰى اَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى فِي الْمُؤْمِنٰتِ مَا اَنْزَلَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَّ اَخْبَرَنِيْ عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ اَنَّ عَآئِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَمْتَحِنُ مَنْ هَاجَرَ مِنَ الْمُؤْمِنٰتِ بِهٰذِهِ الْاٰيَةِ يٰاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا جَآءَكَ الْمُؤْمِنٰتُ وَ عَنْ عَمِّهٖ قَالَ بَلَغَنَا حِيْنَ اَمَرَ اللّٰهُ رَسُوْلَهٗ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّ اَبَا بَصِيْرٍ فَذَكَرَهٗ بِطُوْلِهٖ.

عمرو ذ هغه پلار ته حواله کړے شو (دے رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم سره حاضر وو) او دے درميان کښې چه څوک به رسالت مےٓب صلي اللّٰه عليه وسلّم سره حاضريدلو' حضورٓ به هغه واپس کولو' خواه هغه به مسلمان ولے نه وو نو ځنے ښځے هم په هجرت راغلے . ام کلثوم بنت عقبه بن ابي معيط هم راغله' او هغه بالغه وه' ذ هغے رشته دارانو حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ته ذ هغے ذ واپسۍ خواست اوکړه نو هغه وخت ذ سورت ممتحنه هغه آيت نازل شو' چه ذ ښځو په حق کښې دے (يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اِذَا جَاءَ كُمُ الْمُؤْمِنَاتُ) ابن شهاب اووے . عروه بن زبير ونيلے' بي بي عائشہؓ فرمائيل' چه کومو ښځو به هجرت اوکړه او رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم له به راغلے' نو حضورٓ به ذ دے آيت په موجب ذ هغوي امتحان اخستلو (يا ايها النبي اذا جاء ك المؤمنات) يعني اے نبيٓ کومے ښځے چه تاله راشي' آخر پورے . ابن شهاب ذ خپل تره نه روايت کوي' هغه اووے' مونږ ته دا حديث راسيدلے دے' چه حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ته اللّٰه تعالي ارشاد فرمائيلے دے' چه مشرکانو په خپلو هغه ښځو چه په هجرت راغلے دي' څه چه خرچ کړے وي' هغه دے واپس کړے شي' نو ذ ابو بصير قصه ئے تفصيل سره بيان کړے ده.

۱ . چونکه د لوظنامے په شرط کښے د ښځو هيڅ ذکر نه وو په دے وجه چه کله د ښځو مسئله مخے

ته راغله نو پخپله قرآن مجيد کښې حکم نازل شو چه ښځې دِ مشرکانو ته حواله نه کړے شي. څکه چه دے سره د لوظنامے خلاف ورزي نه لازميږي.

۲۱۲: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ عَنْ مَالِكٍ عَنْ نَافِعٍ اَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ خَرَجَ مُعْتَمِرًا فِي الْفِتْنَةِ فَقَالَ اِنْ صُدِدْتُ عَنِ الْبَيْتِ صَنَعْنَا كَمَا صَنَعْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَهَلَّ بِعُمْرَةٍ مِنْ اَجْلِ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اَهَلَّ بِعُمْرَةٍ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ.

۲۱۲: قتيبه. امام مالک. نافع نه روايت کوي، هغه فرمائي، عبدالله بن عمرؓ دَ فتنې په زمانه کښ دَ عمرے کولو دَ پاره اووتلو، او وئيل ئے، که زهٔ دَ بيت الله نه منع کړے شوم نو زهٔ به هغه کوم، چه دَ رسول الله صلي الله عليه وسلّم زمانه کښ مو حديبيه کښ کړے وو. غرض دا چه هغه دَ عمرے احرام اوتړلو، ځکه چه حضور صلي الله عليه وسلّم دَ عمرے احرام تړلے وو (دا زمانه دَ حجاج او دَ ابن زبير دَ جنګ وه).

۲۱۳: حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيٰى عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّهُ اَهَلَّ وَ قَالَ اِنْ حِيْلَ بَيْنِيْ وَ بَيْنَهُ لَفَعَلْتُ كَمَا فَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ حَالَتْ كُفَّارُ قُرَيْشٍ بَيْنَهُ وَ تَلَا لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ.

۲۱۳: مسدد. يحيٰي. عبيدالله. نافع. حضرت ابن عمرؓ نه روايت کوي، چه هغه دَ عمرے کولو په نيت احرام اوتړلو، او بيائے ونيلے، که زهٔ دَ بيت الله نه منع کړے شوم، نو زهٔ به هغه کوم، څهٔ چه رسول الله صلي الله عليه وسلّم کړي وو. هر کله چه دَ قريشو کافرو حضورؐ منع کړے وو. بيائے دا آيت تلاوت کړلو: لقد كان لكم في رسول الله اسوة حسنه.

۲۱۴: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ اَسْمَاءَ حَدَّثَنَا جُوَيْرِيَةُ عَنْ نَافِعٍ اَنَّ عُبَيْدَ اللّٰهِ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ وَ سَالِمَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ اَخْبَرَاهُ اَنَّهُمَا كَلَّمَا عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ. ح وَ حَدَّثَنَا مُوْسَى بْنُ اِسْمٰعِيْلَ حَدَّثَنَا جُوَيْرِيَةُ عَنْ نَافِعٍ اَنَّ بَعْضَ بَنِيْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ لَهُ لَوْ اَقَمْتَ الْعَامَ فَاِنِّيْ اَخَافُ اَنْ لَا

۲۱۴: عبدالله بن محمد بن اسماء. جويريه. حضرت نافع نه روايت کوي، چه هغهٔ ته عبيدالله بن عبدالله او سالم بن عبدالله اوښودل، چه مونږ دواړو خپل پلار حضرت عبدالله بن عمرؓ سره خبرے اترے اوکړے. (دوئم سند) امام بخاريؒ. موسٰي بن اسماعيل. جويريه. حضرت نافع نه روايت کوي، دَ حضرت عبدالله بن عمرؓ خامنو هغه ته اوويے، سږکال تاسو عمرے له مهٔ ځئے، ځکه چه مونږ سره ويره ده، شايد چه تاسو بيت الله ته اونهٔ رسئے. هغه اوفرمائيل، مونږ رسول

تَصِلَ اِلَى الْبَيْتِ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَالَ كُفَّارُ قُرَيْشٍ دُوْنَ الْبَيْتِ فَنَحَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَدَايَاهُ وَ حَلَقَ وَ قَصَّرَ اَصْحَابُهُ وَ قَالَ اُشْهِدُكُمْ اَنِّيْ اَوْجَبْتُ عُمْرَةً فَاِنْ خُلِّيَ بَيْنِيْ وَ بَيْنَ الْبَيْتِ طُفْتُ وَ اِنْ حِيْلَ بَيْنِيْ وَ بَيْنَ الْبَيْتِ صَنَعْتُ كَمَا صَنَعَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَارَ سَاعَةً ثُمَّ قَالَ مَا اُرٰى شَأْنَهُمَا اِلَّا وَاحِدًا اُشْهِدُكُمْ اَنِّيْ قَدْ اَوْجَبْتُ حَجَّةً مَعَ عُمْرَتِيْ فَطَافَ طَوَافًا وَّاحِدًا وَّ سَعْيًا وَّاحِدًا حَتّٰى حَلَّ مِنْهُمَا جَمِيْعًا.

اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم سره ذَ عمرے په نيت وتلے وو' خو قريش كافرو' ذَ بيت اللّٰه تلو ته پرے نهٔ ښودلو' آخر رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم حديبيه كښې ذَ قرباني څناور ذبح كړل. سر' ئے اوخريلو' او ذَ حضورؐ اصحابؓ هم ويښتهٔ لړے كړل. بيا ابن عمرؓ اوفرمائيل' زهٔ تاسو ګواه كوم' چه ما په خپل ځان عمره واجب كړے ده' اوس كه زهٔ خلقو بيت اللّٰه تلو ته پريښودم' نو زهٔ به طواف اوكړم' او عمره به اوكړم' او كه مزاحمت اوكړے شو' نو بيا به هغه كوم' څهٔ چه رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم كړے وو' دے وينا سره روان شولو' لږ لرے چه لاړ' نو وئيلے' ما عمرے سره په خپله ذمه حج هم واجب كړے دے. دے نه پس هغهٔ ذَ حج او عمرے يو طواف اوكهٔ' او يوه سعي ئے اوكړله' او په لسم تاريخ ئے احرام كوز كړلو.

۲۱۵: حَدَّثَنِيْ شُجَاعُ بْنُ الْوَلِيْدِ سَمِعَ النَّضْرَ بْنَ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا صَخْرٌ عَنْ نَافِعٍ قَالَ اِنَّ النَّاسَ يَتَحَدَّثُوْنَ اَنَّ ابْنَ عُمَرَ اَسْلَمَ قَبْلَ عُمَرَ وَ لَيْسَ كَذٰلِكَ وَلٰكِنْ عُمَرَ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ اَرْسَلَ عَبْدَ اللّٰهِ اِلٰى فَرَسٍ لَهُ عِنْدَ رَجُلٍ مِنَ الْاَنْصَارِ يَأْتِيْ بِهٖ لِيُقَاتِلَ عَلَيْهِ وَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُبَايِعُ عِنْدَ الشَّجَرَةِ وَ عُمَرُ لَا يَدْرِيْ بِذٰلِكَ فَبَايَعَهُ عَبْدُ اللّٰهِ ثُمَّ ذَهَبَ اِلَى الْفَرَسِ فَجَاءَ بِهٖ اِلٰى عُمَرَ وَ عُمَرُ يَسْتَلْئِمُ لِلْقِتَالِ

۲۱۵: شجاع بن وليد. نضر بن محمد. صخر بن جويريه. حضرت نافع نه روايت كوي' ذَ هغهٔ بيان دے' خلق وائي ابن عمرؓ ذَ حضرت عمرؓ نه مخكښې ايمان راوړلو' دا درست نهٔ ده' بلكه خبره داده' ذَ حديبيه په ورځ حضرت عمرؓ خپل ځوئے حضرت عبداللّٰه يو انصاري ته دے ذَ پاره اوليږلو' چه هغه ذَ هغهٔ نه ذَ هغهٔ آس راولي' چه په هغے سوريدو سره كافرو سره جهاد اوشي. دغه وخت حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ذَ اصحابو نه ذَ اُونے لاندے بيعت آخستلو. حضرت عمرؓ ته ذَ دے خبر نه وو. عبداللّٰه ذَ رسول اكرم صلي اللّٰه عليه وسلّم نه بيعت اوكهٔ' ذَ آس آخستوله ورغے. بيائے حضرت عمرؓ له هغه آس راوستلو. حضرت عمرؓ وسله اچوله' عبداللّٰه

فَأَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُبَايِعُ تَحْتَ الشَّجَرَةِ قَالَ فَانْطَلَقَ فَذَهَبَ مَعَهُ حَتّٰى بَايَعَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَهِيَ الَّتِي يَتَحَدَّثُ النَّاسُ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ أَسْلَمَ قَبْلَ عُمَرَ وَ قَالَ هِشَامُ بْنُ عَمَّارٍ حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْعُمَرِيُّ أَخْبَرَنِي نَافِعٌ عَنِ ابْنِ عُمَرَؓ أَنَّ النَّاسَ كَانُوا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ تَفَرَّقُوا فِي ظِلَالِ الشَّجَرِ فَإِذَا النَّاسُ مُحْدِقُونَ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا عَبْدَ اللّٰهِ انْظُرْ مَا شَأْنُ النَّاسِ قَدْ أَحْدَقُوا بِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَجَدَهُمْ يُبَايِعُونَ فَبَايَعَ ثُمَّ رَجَعَ إِلَى عُمَرَ فَخَرَجَ فَبَايَعَ.

هغهٔ ته دا خبره بيان كړه نو هغه عبدالله سره ورغې، او د حضورؐ نه ئې بيعت اوكړ، دا هغه خبره ده، چه د هغې په وجه دا خلق دا وائي، چه عبدالله د حضرت عمرؓ نه مخكښ اسلام راوړے دے. (دويم سند) هشام بن عمار، وليد بن مسلم، عمر بن محمد عمري، حضرت نافع نه روايت كوي، او هغه د حضرت ابن عمرؓ نه بيان كوي، د حديبيه په ورځ خلق حضور صلي الله عليه وسلّم سره د جُدا جُدا اُونو د سوري لاندې ايسار شوي وو، ناساپه په نظر راغله چه خلق د حضور صلي الله عليه وسلّم نه چاپيره جمع دي حضرت عمرؓ (خپل خوي) عبدالله ته اووے. لږ لاړ شه اوگوره، چه دا خلق څهٔ د پاره جمع شوے دي، او حضور صلي الله عليه وسلّم نه په څهٔ وجه راچاپيره شوے دي، هغه ورغې، نو وے ليدل، چه خلق د حضور صلي الله عليه وسلّم نه بيعت كوي، نو عبدالله هم بيعت اوكړلو. بيا واپس راغې، او حضرت عمرؓ ته ئې خبر اوكړ، نو حضرت عمرؓ هم ورغې، او بيعت ئې اوكړلو.

۲۱۶: حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ حَدَّثَنَا يَعْلٰى حَدَّثَنَا إِسْمٰعِيلُ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ أَبِي أَوْفٰىؓ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ اعْتَمَرَ فَطَافَ فَطُفْنَا مَعَهُ وَ صَلّٰى وَ صَلَّيْنَا مَعَهُ وَ سَعٰى بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ فَكُنَّا نَسْتُرُهُ مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ لَا يُصِيبُهُ أَحَدٌ بِشَيْءٍ.

۲۱۶: ابن نمير. يعلي نه روايت كوي، هغهٔ اووے، ما د عبدالله بن ابي اوفيٰ نه واوريدل، مونږ رسول الله صلي الله عليه وسلّم سره وو، چه حضورؐ عمره ادا كړله، حضورؐ طواف اوكړلو، مونږ هم حضورؐ سره طواف اوكړ. بيا حضورؐ مونځ وكړلو، مونږ هم حضورؐ سره مونځ اوكړلو. حضورؐ د صفا، مروه، مينځ كښې سعي اوكړله، مونږ هم سعي اوكړله، او مونږ د اهل مكه نه د حضورؐ حفاظت كولو، چه څوک حضورؐ ته څهٔ تكليف اونهٔ رسوي.

۲۱۷: حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ اِسْحٰقَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَابِقٍ حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ مِغْوَلٍ قَالَ سَمِعْتُ اَبَا حَصِيْنٍ قَالَ قَالَ اَبُوْ وَائِلٍ لَمَّا قَدِمَ سَهْلُ بْنُ حُنَيْفٍ مِنْ صِفِّيْنَ اَتَيْنَاهُ نَسْتَخْبِرُهُ فَقَالَ اتَّهِمُوا الرَّأْيَ فَلَقَدْ رَاَيْتُنِيْ يَوْمَ اَبِيْ جَنْدَلٍ وَلَوْ اَسْتَطِيْعُ اَنْ اَرُدَّ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَمْرَهُ لَرَدَدْتُ وَاللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ اَعْلَمُ وَمَا وَضَعْنَا اَسْيَافَنَا عَلٰى عَوَاتِقِنَا لِاَمْرٍ يُفْظِعُنَا اِلَّا اَسْهَلْنَ بِنَا اِلٰى اَمْرٍ نَّعْرِفُهُ قَبْلَ هٰذَا الْاَمْرِ مَا نَسُدُّ مِنْهَا خُصْمًا اِلَّا انْفَجَرَ عَلَيْنَا خُصْمٌ مَّا نَدْرِيْ كَيْفَ نَأْتِيْ لَهُ.

۲۱۷: حسن بن اسحٰق. محمد بن سابق. مالک بن مغول. ابو حصين. ابو وائل. شقيق بن سلمه نه روايت كوي، هغه اووې، كوم وخت چه سهيل بن حنيف ذ جنګ صفين نه واپس راغې، مونږ ذَ هغهٔ ذَ واپسي سبب معلومولو له ورغلو، هغهٔ اووې، بهئ، په خپله رائې نازمهٔ كوې. هغه هم يوه ورځ وه، چه زهٔ دومره مستعد ووم، چه ذ ابوجندل په واپسي هيڅ كله نهٔ راضي كيدم. او كه طاقت م لرلې، نو ذَ رسول الله صلي الله عليه وسلم حكم به م نهٔ وې منلې، او په بنهٔ شان به جنګيدلې وې. دا خبره الله تعالٰي او ذَ هغهٔ رسول بنهٔ پيژني، چه مونږ كله يو مُهم كښې تُوره اوچته كړې ده، نو هغه كار آسان شوې دې. غرض ذ دې جنګ نه مخكښې كله چه هم مونږ توره اوچته كړې ده، نو هغه مونږ خان ذ پاره بنهٔ كنړله. خو ذ دې جنګ عجيبه حال دې، چه مونږ يو كار سنبالوو، نو بل كار ورانيږي. مونږ حيران يو چه ذَ دې مسئلې څهٔ تدبير اوكړو.

۲۱۸: حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ اَيُّوْبَ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنِ ابْنِ اَبِيْ لَيْلٰى عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ قَالَ اَتٰى عَلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَمَنَ الْحُدَيْبِيَةِ وَالْقَمْلُ يَتَنَاثَرُ عَلٰى وَجْهِيْ فَقَالَ اَيُؤْذِيْكَ هَوَامُّ رَاْسِكَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَاحْلِقْ وَصُمْ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ اَوْ اَطْعِمْ سِتَّةَ مَسَاكِيْنَ اَوِ انْسُكْ نَسِيْكَةً قَالَ اَيُّوْبُ لَا اَدْرِيْ بِاَيِّ هٰذَا

۲۱۸: سليمان بن حرب. حماد بن زيد. ايوب. مجاهد. عبدالرحمٰن بن ابي ليلٰي كعب بن عجره نه روايت كوي، هغهٔ اووې، ذَ حديبيه زمانه كښې حضور صلي الله عليه وسلم زهٔ داسې حالت كښې اوليدم، چه خما ذَ سر نه سپږې ذُوړيدلې، نو حضورؐ اوفرمائيل، دا سپږې جوړ تاته تكليف دركوي. ما عرض اوكړ، جي او، حضورؐ اوفرمائيل، ته خپل سر اُوخريه، او درې روژې اُونيسه يا شپږ مسكينانو باندې طعام اوخوروه، يا يوه چيلنې ذبح كړه. ايوب (ذَ حديث راوي) وائي، ماته دا معلومه نه ده، چه دې كښې وړمبئ خبره حضورؐ كومه

بَدَاً.

۴۲۱۹: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ هِشَامٍ اَبُوْ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ عَنْ اَبِيْ بِشْرٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ اَبِيْ لَيْلٰى عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحُدَيْبِيَةِ وَ نَحْنُ مُحْرِمُوْنَ وَقَدْ حَصَرَنَا الْمُشْرِكُوْنَ قَالَ وَ كَانَتْ لِيْ وَفْرَةٌ فَجَعَلَتِ الْهَوَامُّ تَسَاقَطُ عَلٰى وَجْهِيْ فَمَرَّ بِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَيُؤْذِيْكَ هَوَامُّ رَاْسِكَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ وَ اُنْزِلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَّرِيْضًا اَوْ بِهٖ اَذًى مِّنْ رَّاْسِهٖ فَفِدْيَةٌ مِّنْ صِيَامٍ اَوْ صَدَقَةٍ اَوْ نُسُكٍ.

## بَابُ ۳۷: قِصَّةِ عُكْلٍ وَّ عُرَيْنَةَ.

۴۲۲۰: حَدَّثَنِيْ عَبْدُ الْاَعْلٰى بْنِ حَمَّادٍ حَدَّثَنَا يَزِيْدُ بْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا سَعِيْدٌ عَنْ قَتَادَةَ اَنَّ اَنَسًا حَدَّثَهُمْ اَنَّ نَاسًا مِّنْ عُكْلٍ وَّ عُرَيْنَةَ قَدِمُوْا الْمَدِيْنَةَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ تَكَلَّمُوْا بِالْاِسْلَامِ فَقَالُوْا يَا نَبِيَّ اللّٰهِ اِنَّا كُنَّا اَهْلَ ضَرْعٍ وَلَمْ نَكُنْ اَهْلَ رِيْفٍ وَاسْتَوْخَمُوا الْمَدِيْنَةَ فَاَمَرَهُمْ رَسُوْلُ

ارشاد اوفرمائيله.

۴۲۱۹: محمد بن هشام. ابو عبدالله. هشيم. ابو بشر. مجاهد. عبدالرحمٰن بن ابي ليلٰى. كعب بن عجره نه روايت كوي' هغهٔ اووے' زهٔ حديبيه كښې رسالت مآب صلي الله عليه وسلّم سره احرام ترلے موجود ووم' چه مشركانو مونږ منع كړلو' هغه وخت خما په سر اوږدهٔ ويښتهٔ وو' او د هغے نه سپږے په مخ م راڅوړيدے. حضورؐ چه زهٔ اوليدلم' نو وے فرمائيل' آيا تاته دا سپږے تكليف دركوي' ما عرض اوكړهٔ' جي' او' كعب بيان كوي' دے نه پس دا آيت نازل شولو: فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَّرِيْضًا اَوْ بِهٖ اَذًى مِّنْ رَّاْسِهٖ فَفِدْيَةٌ مِّنْ صِيَامٍ اَوْ صَدَقَةٍ اَوْ نُسُكٍ: يعني څوك چه تاسو كښې ناروغه وي يا ئے هغهٔ سر كښې تكليف وي' نو هغه دے' د دے پ بدله كښې روژے يا صدقه دے وركړي يا قرباني دے اوكړي.

## باب ۳۷: د قبائل عكل او عرينه قصه.

۴۲۲۰: عبدالاعلٰي ابن حماد. يزيد بن زريع. سعيد. قتاده نه روايت كوي' هغهٔ اووے' ما ته حضرت انس بن مالكؓ بيان اوكهٔ' د عكل او عرينه قبيلو خلق د رسول اكرم صلي الله عليه وسلّم په خدمت كښې مدينه كښې حاضر شو' او د اسلام د كلمے لوستو نه پس ئے عرض اوكهٔ' يا رسول الله' مونږ به پئے وركونكي خناور ساتل' او كر كيله به مو نهٔ كوله. د مدينے هوا خمونږ ناموافقه ده' نو رسول الله صلي الله عليه وسلّم شو اوښان او يو ګوارچي وركړل' ورته ئے اوفرمائيل' تاسو

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذَوْدٍ وَرَاعٍ وَ اَمَرَهُمْ اَنْ يَّخْرُجُوْا فِيْهِ فَيَشْرَبُوْا مِنْ اَلْبَانِهَا وَ اَبْوَالِهَا فَانْطَلَقُوْا حَتّٰى اِذَا كَانُوْا نَاحِيَةَ الْحَرَّةِ كَفَرُوْا بَعْدَ اِسْلَامِهِمْ وَ قَتَلُوْا رَاعِيَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاسْتَاقُوا الذَّوْدَ فَبَلَغَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَعَثَ الطَّلَبَ فِيْ اٰثَارِهِمْ فَاَمَرَهُمْ فَسَمَّرُوْا اَعْيُنَهُمْ وَ قَطَعُوْا اَيْدِيَهُمْ وَ تُرِكُوْا فِيْ نَاحِيَةِ الْحَرَّةِ حَتّٰى مَاتُوْا عَلٰى حَالِهِمْ قَالَ قَتَادَةُ بَلَغَنَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ ذٰلِكَ كَانَ يَحُثُّ عَلَى الصَّدَقَةِ وَ يَنْهٰى عَنِ الْمُثْلَةِ وَ قَالَ شُعْبَةُ وَ اَبَانُ وَ حَمَّادٌ عَنْ قَتَادَةَ مِنْ عُرَيْنَةَ وَ قَالَ يَحْيَى بْنُ اَبِيْ كَثِيْرٍ وَّ اَيُّوْبُ عَنْ اَبِيْ قِلَابَةَ عَنْ اَنَسٍ قَدِمَ نَفَرٌ مِّنْ عُكْلٍ.

دا واخلئي، خنكل ته خني' او ذ دې پئي وغيره استعمالوې' هغوي لاړل' خو حره ته چه اورسيدل' نو ذ اسلام نه منكر شو' او ذ حضور صلي الله عليه وسلّم كوارچي ئې قتل كړل[١]' او اوښان ئې اوتښتول' رسول الله صلي الله عليه وسلّم ته چه معلومه شوه' نو حضورٌ ذ هغوي ذ نيولو ذ پاره سړي اوليږل' نو نيولي راوستې (يعني گرفتار) شو. حضور صلي الله عليه وسلّم حكم اوكړ' چه ذ هغوي سترگو كښې گرم سلايان اوگرځولې شي' لاس پښې دې پريكړې شي' او ذ حره يو كټ كښې دې اوغرځولې شي' آخر هغوي دې حال كښې مړهٔ شو. قتاده وائي مونږ ته دا خبره هم رارسيدلې ده' چه دې نه پس حضور صلي الله عليه وسلّم خلقو ته ذ خيرات كولو ترغيب وركولو. او ذ مثله كولو (پوزه' غوږونو پريكولو) نه ئې منع كوله. شعبه' ابان او حماد' ذ قتاده نه صرف ذ عرينه لفظ روايت كړې دې' او يحيي بن كثير' ايوب' ابو قلابه ذ حضرت انس نه دغسې روايت كړې دې' چه ذ عكل څهٔ خلق ذ حضور صلي الله عليه وسلّم خدمت كښ حاضر شوې وو.

[١] ذ گوارچي نوم يسار النوبي وو' كله چه قبيلې والو اوښان تښتول نو هغه مزاحمت اوكړو. نو هغوي ذ هغه لاس خپې پريكړې او په ژبه او ستر گو كښې ئې ورله ازغي اوټومبل چه هغې سره هغه شهادت بياموندو. رضي الله عنه.

۱۲۲۱: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيْمِ حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ اَبُوْ عُمَرَ الْحَوْضِيُّ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ حَدَّثَنَا اَيُّوْبُ وَالْحَجَّاجُ الصَّوَّافُ قَالَ حَدَّثَنِيْ اَبُوْ رَجَاءٍ مَّوْلٰى اَبِيْ قِلَابَةَ وَ

۱۲۲۱: محمد بن عبدالرحيم. حفص بن عمر. ابو عمر حوضي. حماد بن زيد. ايوب. حجاج صواف. ابو رجاء نه روايت كوي' هغهٔ اووې. حضرت عمر بن عبدالعزيز ذ خلقو نه تپوس اوكړ' چه تاسو ذ قسامت (قسم خوړلو) متعلق څهٔ وايئې'

كَانَ مَعَهُ بِالشَّامِ اَنَّ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيْزِ اِسْتَشَارَ النَّاسَ يَوْمًا قَالَ مَا تَقُوْلُوْنَ فِي هٰذِهِ الْقَسَامَةِ فَقَالُوْا حَقٌّ قَضٰى بِهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ قَضَتْ بِهَا الْخُلَفَاءُ قَبْلَكَ قَالَ وَ اَبُوْ قِلَابَةَ خَلْفَ سَرِيْرِهٖ فَقَالَ عَنْبَسَةُ بْنِ سَعِيْدٍ فَاَيْنَ حَدِيْثُ اَنَسٍ فِي الْعُرَنِيِّيْنَ قَالَ اَبُوْ قِلَابَةَ اِيَّایَ حَدَّثَهُ اَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ عَبْدُ الْعَزِيْزِ بْنِ صُهَيْبٍ عَنْ اَنَسٍ مِنْ عُرَيْنَةَ وَ قَالَ اَبُوْ قِلَابَةَ عَنْ اَنَسٍ مِنْ عُكْلٍ ذَكَرَ الْقِصَّةَ.

خلقو اووے' چه قسامت برحق دے. رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم او ذ هغوي خلفاؤ هم ذ دے حکم کړے دے' چه تاسو نه مخکښ تير شوے دي. دغه وخت ابو قلابه ذ حضرت عمر بن عبدالعزيز ذ تخت شاته ولاړ وو. دے کښ عنبسه بن سعيد اووے' ذ حضرت انسؓ روايت کړده حديث عرنيين چرته دے. ابو قلابه اووے' دا حديث خو حضرت انسؓ ماته بيان کړے وو' او هغۀ ته عبدالعزيز بن صهيب هم ذ حضرت انسؓ نه روايت کړے دے' هغے کښ صرف ذ عرينه ذکر دے' خو ذ ابو قلابه روايت کښ حضرت انسؓ نه ذ عکل لفظ ذکر شوے دے' چه دے قصه کښ دے.

الحمدللّٰه و الشکر للّٰه شپاړسمه پاره ختمه شوه


تاج
تاج البخاری
پښتو شرح صحیح البخاری
پاره
۱۷
شارح: مولانا ظهور الباری اعظمی فاضل دارالعلوم دیوبند
پښتو ترجمه: مولانا محمد امین درانی
نظرثانی: حافظ قاری فضل کریم
اهتمام: دکتور محمد دین البشاوری
تاج کتب خانه رجسٹرڈ
قصه خوانی پشاور
فون: 214454
C-15

# تاج البخاري پاره ۱۷ دمضامينو فهرست

# اوّلسمه پاره

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**باب ۳۸: غَزْوَةِ ذَاتِ الْقَرَدِ وَ هِيَ الْغَزْوَةُ الَّتِيْ اَغَارُوْا عَلٰى لِقَاحِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ خَيْبَرَ بِثَلَاثٍ.**

**۲۲۲:** حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيْدٍ حَدَّثَنَا حَاتِمٌ عَنْ يَزِيْدَ بْنِ اَبِيْ عُبَيْدٍ قَالَ سَمِعْتُ سَلَمَةَ بْنَ الْاَكْوَعِ يَقُوْلُ خَرَجْتُ قَبْلَ اَنْ يُّؤَذَّنَ بِالْاُوْلٰى وَ كَانَتْ لِقَاحُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَرْعٰى بِذِيْ قَرَدٍ قَالَ فَلَقِيَنِيْ غُلَامٌ لِعَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ فَقَالَ اُخِذَتْ لِقَاحُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ مَنْ اَخَذَهَا قَالَ غَطَفَانُ قَالَ فَصَرَخْتُ ثَلٰثَ صَرَخَاتٍ يَا صَبَاحَاهُ قَالَ فَاَسْمَعْتُ مَا بَيْنَ لَابَتَيِ الْمَدِيْنَةِ ثُمَّ انْدَفَعْتُ عَلٰى وَجْهِيْ حَتّٰى اَدْرَكْتُهُمْ وَقَدْ اَخَذُوْا يَسْتَقُوْنَ مِنَ الْمَآءِ فَجَعَلْتُ اَرْمِيْهِمْ بِنَبْلِيْ وَ كُنْتُ رَامِيًا وَ اَقُوْلُ اَنَا ابْنُ الْاَكْوَعِ اَلْيَوْمُ يَوْمُ الرُّضَّعِ وَ اَرْتَجِزُ حَتّٰى اسْتَنْقَذْتُ اللِّقَاحَ مِنْهُمْ وَاسْتَلَبْتُ مِنْهُمْ ثَلٰثِيْنَ بُرْدَةً قَالَ وَ جَآءَ النَّبِيُّ

**باب ۳۸:** دَ غزوهٔ ذات القرد بيان. يعني دَ جنګ خيبر نه درې شپې مخکښې څنې کافرو دَ نبي صلي اللّه عليه وسلّم (شل) اُوښان لوټ کړي وو.

**۲۲۲:** قتيبه بن سعيد. حاتم. يزيد بن ابي عبيد. سلمه بن اکوع نه روايت کوي، هغه فرمائي، زهٔ دَ سحر دَ آذان نه مخکښې (ځنګل طرف ته) اووتم. مقام ذي قرد کښې دَ نبي صلي اللّه عليه وسلّم پئې ورکونکې اُوښې (اوټياں) څريدلې. ما سره دَ عبدالرحمن بن عوف غلام يوځائې شولو، او پې ونيل، دَ حضور صلي اللّه عليه وسلّم اوښې نيولې شوې دي، ما تپوس او کهٔ چا نيولې دي، هغه جواب راکهٔ، دَ قوم غطفان خلقو. ما درې چغې "يا صباحاه" ونيلو سره اووهلې (دا کلمه دَ دشمن دَ راتلو په اطلاع دَ خلقو دَ جمع کولو دَ پاره ونيلې شي) چه هغې سره ټول اهل مدينه خبر شول. بيا زهٔ سمدستي نيغ لاړم، حتٰي چه هغه کافر، مو رالاندې کړل، هغوي هغه اُوښې اُوبه کولې، نو ما په هغوئ غشي وَرول شروع کړل، او زهٔ ډير تير انداز ووم، ما دا رجز لوستلو، چه: "زهٔ ابن اکوع يم، نن ورځ دَ کمينه ؤ دَ هلاکت ورځ ده". حتٰي چه ما دَ هغوي نه اُوښې خلاصې کړې. او ما دَ هغوي نه ديرش څادرونه هم قبضه کړل. سلمه والي. بيا حضور صلي اللّه عليه وسلّم او نور خلق هم راورسيدل. ما عرض اوکهٔ، يا رسول اللّه، ما هغه خلق اُوبو څکلو ته

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ فَقُلْتُ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ قَدْ حَمَيْتُ الْقَوْمَ الْمَاءَ وَهُمْ عِطَاشٌ فَابْعَثْ إِلَيْهِمُ السَّاعَةَ فَقَالَ يَا ابْنَ الْأَكْوَعِ مَلَكْتَ فَأَسْجِحْ قَالَ ثُمَّ رَجَعْنَا وَيُرْدِفُنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى نَاقَتِهِ حَتَّى دَخَلْنَا الْمَدِينَةَ.

هم پرے نښودل، حالانکه هغوي تږي وو، نو سمدستي هغوي پسے خلق اولیږے. حضور صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل، اے ابن اکوع، تا هغوي تښتولے دي، نو اوس ئے پریږده هم. سلمه وائي، بیا مونږ واپس راغلو، او رسول الله صلي الله علیه وسلم په خپله اوښه زۀ ورستو سور راوستلم، حتي چه مونږ مدینے ته راورسیدلو.

## بَابُ ۳۹: غَزْوَةِ خَيْبَرَ.

## باب ۳۹: دَ جنګ خیبر بیان (چه ۷ه کښ اوشو).

۲۲۳: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ بُشَيْرِ بْنِ يَسَارٍ أَنَّ سُوَيْدَ بْنَ النُّعْمَانِ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ خَرَجَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ خَيْبَرَ حَتَّى إِذَا كُنَّا بِالصَّهْبَاءِ وَهِيَ مِنْ أَدْنَى خَيْبَرَ صَلَّى الْعَصْرَ ثُمَّ دَعَا بِالْأَزْوَادِ فَلَمْ يُؤْتَ إِلَّا بِالسَّوِيقِ فَأَمَرَ بِهِ فَثُرِّيَ فَأَكَلَ وَأَكَلْنَا ثُمَّ قَامَ إِلَى الْمَغْرِبِ فَمَضْمَضَ وَمَضْمَضْنَا ثُمَّ صَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ.

۲۲۳: عبدالله بن مسلمه. مالک. یحیي بن سعید. بشیر بن یسار. سوید بن نعمان نه روایت کوي، هغه فرمائي، مونږ دَ خیبر په کال نبي صلي الله علیه وسلم سره (دَ جنګ په اراده) اووتلو. کوم وخت چه مقام صهبا ته اورسیدو، چه دَ خیبر خوا کښ دے، نو حضورؐ دَ مازیګر مونځ اوکړلو. بیا حضور صلي الله علیه وسلم دَ سفر توښه (چه چاسره وه) طلب کړه. بغیر دَ ستوالو نه نور هیڅ رانغلل. دَ حضورؐ دَ حکم مطابق هغه په اُوبو کښ اوسولولے شو. او مونږ ټولو حضور صلي الله علیه وسلم سره په شریکه اوخوړل. بیا حضورؐ دَ ماښام دَ مونځ دَ پاره اودریدلو نو حضورؐ او مونږ خوله کنګال کړه، او دَ اودس تازه کولو نه بغیر حضور صلعم مونځ اوکړلو.

۲۲۴: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْلَمَةَ حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي عُبَيْدٍ عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ

۲۲۴: عبدالله بن مسلمه. حاتم بن اسماعیل. یزید بن ابي عبید. سلمه بن اکوع نه روایت کوي، هغه فرمائي، مونږ حضور صلي الله علیه وسلم سره خیبر جانب ته (دَ جنګ

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلٰى خَيْبَرَ فَسِرْنَا لَيْلًا فَقَالَ رَجُلٌ مِّنَ الْقَوْمِ لِعَامِرٍ يَا عَامِرُ أَلَا تُسْمِعُنَا مِنْ هُنَيْهَاتِكَ وَ كَانَ عَامِرٌ رَجُلًا شَاعِرًا فَنَزَلَ يَحْدُوْ بِالْقَوْمِ يَقُوْلُ.

اَللّٰهُمَّ لَوْلَا أَنْتَ مَا اهْتَدَيْنَا
وَلَا تَصَدَّقْنَا وَلَا صَلَّيْنَا
فَاغْفِرْ فِدَاءً لَّكَ مَا أَبْقَيْنَا
وَ ثَبِّتِ الْأَقْدَامَ إِنْ لَّاقَيْنَا
وَ أَلْقِيَنْ سَكِيْنَةً عَلَيْنَا
وَ بِالصِّيَاحِ عَوَّلُوْا عَلَيْنَا

فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ هٰذَا السَّابِقُ قَالُوْا عَامِرُ بْنُ الْأَكْوَعِ قَالَ يَرْحَمُهُ اللّٰهُ قَالَ رَجُلٌ مِّنَ الْقَوْمِ وَجَبَتْ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ لَوْلَا أَمْتَعْتَنَا بِهٖ فَأَتَيْنَا خَيْبَرَ فَحَاصَرْنَاهُمْ حَتّٰى أَصَابَتْنَا مَخْمَصَةٌ شَدِيْدَةٌ ثُمَّ إِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى فَتَحَهَا عَلَيْهِمْ فَلَمَّا أَمْسَى النَّاسُ مَسَاءَ الْيَوْمِ الَّذِيْ فُتِحَتْ عَلَيْهِمْ أَوْقَدُوْا نِيْرَانًا كَثِيْرَةً فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا هٰذِهِ النِّيْرَانُ عَلٰى أَيِّ شَيْءٍ تُوْقِدُوْنَ قَالُوْا عَلٰى لَحْمٍ قَالَ عَلٰى أَيِّ لَحْمٍ قَالُوْا عَلٰى لَحْمِ حُمُرِ الْإِنْسِيَّةِ

په اراده) اووتلو. مونږ دَ شپې روان وو، يو سړي عامر ته اووې، ته مونږ ته خپل اشعار، ولې نه آوروې. دے آوريدو سره هغه ښکته راکوز شو، او داسې حدي خواني ئې شروع کړه:.

"اے خدايه، که ستا حکم نه وې، نو مونږ به هدايت يافته نه وو، نه به مو صدقه ورکوله، او نه به مونځ کولو. مونږ ستا دَ نبي په دين قربانيږو، خمونږ کوتاهئے معاف کړے، او جنګ کښې مو ثابت قدم لرے. او مونږ دَ سکون په دولت ماله مال کړے. هر کله چه مونږ (باطل طرف ته) بللے شو، نو مونږ به انکار کوو. او کافر شور کولو سره خمونږ خلاف شوے دي، نو نبي صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل دا حدي خوان څوک دے، صحابه ؤ عرض اوکړ، عامر بن اکوع، حضورؐ اوفرمائيل، الله دے په دهٔ رحم اوکړي، نو دَ جماعت نه يو سړي (حضرت عمرؓ) عرض اوکړ، يا رسول الله، اوس دے دَ جنت يا شهادت مستحق شو، چه تاسو مونږ دَ دهٔ نه منتفع کړلو، بيا مونږ خيبر ته اورسيدو، نو مونږ دَ يهوديانو محاصره اوکړله، حتي چه مونږ سخت اُوږي شو. بيا الله تعالي خيبر کښې مسلمانانو ته فتح عطا کړه. د فتح په ورځ مسلمانانو ماښام ته دَ څهٔ پخولو دَ پاره اُور بل کړلو، نبي صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل دا اُور څنګه دے، او تاسو خلق په دے څهٔ څيز پخوئے. عرض اوشو، غوښه پرے پخوو، حضورؐ تپوس اوکړلو، دَ څهٔ غوښه ده. عرض اوکړے شو، دَ پالتو (ساتلے شوے) خرونو غوښه، حضورؐ اوفرمائيل، وے غرځوئے او کټوے ماتے کړئے، يو سړي

قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَنْفُوْهَا وَاكْسِرُوْهَا فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللَّهِ لَوَ نُهَرِيْقُهَا وَ نَغْسِلُهَا قَالَ اَوْ ذَاكَ فَلَمَّا تَصَافَّ الْقَوْمُ كَانَ سَيْفُ عَامِرٍ قَصِيْرًا فَتَنَاوَلَ بِهِ سَاقَ يَهُوْدِيٍّ لِيَضْرِبَهُ وَ يَرْجِعُ ذُبَابُ سَيْفِهِ فَاَصَابَ عَيْنَ رُكْبَةِ عَامِرٍ فَمَاتَ مِنْهُ قَالَ فَلَمَّا قَفَلُوْا قَالَ سَلَمَةُ رَاٰنِيْ رَسُوْلُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ اٰخِذٌ بِيَدِيْ قَالَ مَالَكَ قُلْتُ لَهُ فِدَاكَ اَبِيْ وَ اُمِّيْ زَعَمُوْا اَنَّ عَامِرًا حَبِطَ عَمَلُهُ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَذَبَ مَنْ قَالَهُ اِنَّ لَهُ اَجْرَيْنِ وَ جَمَعَ بَيْنَ اِصْبَعَيْهِ اِنَّهُ لَجَاهِدٌ مُجَاهِدٌ قَلَّ عَرَبِيٌّ مَشٰى بِهَا مِثْلَهُ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا حَاتِمٌ قَالَ نَشَأَ بِهَا.

عرض اوکړه، يا رسول الله، آيا مونږ غوښه اوغرځوو، او کټونے اووېنځو، حضور ورته اوفرمائيل، او، دغسے اوکړئے، کوم وخت چه د قوم صف بندي اوشوه، او جنګ شروع شو، نو د عامر توره وړه وه، هغوي د يو يهوديے په پنډۍ ګزار اوکړ، خو د هغے مخ راواوړيدلو، او د هغه په ګنډۍ اولګيدلو او د هغے نه هغه وفات شولو. سلمهؓ وائي کوم وخت چه واپسي اوشوه، نبي صلي الله عليه وسلّم چه ځما لاس نيولے وو، زه ئے (مغموم) اوليدم، وے فرمائيل، په تا څه شوے دي، ما عرض اوکړه، ځما مور پلار دے په تاسو قربان وي. د خلقو دا خيال دے، چه د عامر عمل فضول (ضائع) شولو. نبي صلي الله عليه وسلّم ورته اوفرمائيل، څوک چه داسے وائي، هغه دروغجن دي، او حضور صلي الله عليه وسلّم خپلے دواړه ګوتے يوځائے کړے، وے فرمائيل، دۀ ته به دوچند اجر ورکيدے شي دے خو کوشش کونکے مجاهد وو. ډير کم مدينه کښ تلونکي عربي د دۀ په شان دي، قتيبه په واسطه د حاتم دا الفاظ روايت کړے دي، نشابها.

۲۲۵ : حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوْسُفَ اَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ حُمَيْدٍ الطَّوِيْلِ عَنْ اَنَسٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَتٰى خَيْبَرَ لَيْلًا وَ كَانَ اِذَا اَتٰى قَوْمًا بِلَيْلٍ لَمْ يُغِرْبِهِمْ حَتّٰى يُصْبِحَ فَلَمَّا اَصْبَحَ خَرَجَتِ الْيَهُوْدُ بِمَسَاحِيْهِمْ وَ مَكَاتِلِهِمْ فَلَمَّا رَاَوْهُ قَالُوْا مُحَمَّدٌ

۲۲۵ : عبدالله بن يوسف. مالک. حميد طويل. انسؓ نه روايت کوي، هغه فرمائي، رسول الله صلي الله عليه وسلّم د شپے په وخت خيبر ته اورسيد. او د حضورؐ دا عادت مبارک وو، چه د شپے به چرته اورسيدلو، نو په هغوي به ئے د سحر پورے حمله نۀ کوله، چه سحر شو، نو يهوديان خپلو تبرونو او ټوکرو سره راووتل. کوم وخت چه هغوي حضور صلي الله عليه وسلّم اوليدلو، نو بے ساخته ئے اووے دا خو محمد صلي الله عليه وسلّم

وَاللّٰهِ مُحَمَّدٌ وَالْخَمِيسُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرِبَتْ خَيْبَرُ إِنَّا إِذَا نَزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ فَسَاءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِينَ أَخْبَرَنَا صَدَقَةُ بْنُ الْفَضْلِ أَخْبَرَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ صَبَّحْنَا خَيْبَرَ بُكْرَةً فَخَرَجَ أَهْلُهَا بِالْمَسَاحِي فَلَمَّا بَصُرُوا بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوا مُحَمَّدٌ وَاللّٰهِ مُحَمَّدٌ وَالْخَمِيسُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللّٰهُ أَكْبَرُ خَرِبَتْ خَيْبَرُ إِنَّا إِذَا نَزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ فَسَاءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِينَ فَأَصَبْنَا مِنْ لُحُومِ الْحُمُرِ فَنَادَى مُنَادِي النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ يَنْهَيَانِكُمْ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ فَإِنَّهَا رِجْسٌ.

دے. والله محمد صلي الله عليه وسلّم سره ذ لښکره موجود دے. حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل خيبر برباد شولو. کوم وخت چه مونږ ذ يو قوم ميدان ته راکوز شو، نو ذ ويرولے شوے خلقو سحر خراب وي. صدقه بن فضل، ابن عيينه، ايوب، محمد بن سيرين، انس بن مالک نه روايت کوي، مونږ خلق خيبر کښ سحر ذ وختــه موجود وو[1] چــه اهـل خيبـر خپلـو تبرونو سره راووتـل، کـوم وخـت چـه هـغـوي حضور صلي الله عليه وسلّم اوليدلو، نو وئيلے دا خو محمد صلي الله عليه وسلّم لښکر سره موجود دے، نو حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، الله اکبر، خيبر برباد شولو، کوم وخت چه مونږ ذ يو قوم ميدان ته راکوز شو، نو ذ ويرولے شوے خلقو سحر خراب شي. حضرت انس وائي، مونږ ته ذ خرونو غوښه په لاس راغله، نو ذ حضور صلي الله عليه وسلّم منـادي اعلان.اوکړلو، الله تعالي او ذ هغهٔ رسول صلي الله عليه وسلّم تاسو ذ خرونو ذ غوښے نه منع کوي، ځکه چه دا ناپاکه ده.

[1]. اوس ددے نه مخکښ روايت کښے تير شوي دي چه د شپے وخت کښے اسلامي لښکر خيبر ته رسيدلے وو. محدثينو ليکلي دي چه غالبًا د شپے وخت کښے به لښکر هلته رسيدلے وي. ليکن شپه به ئے د موقعے نه په څه فاصله کښے تيره کړے وي، بيا چه کله سحر شوے وي نو لښکر به ميدان ته راغلے وي. او په دے روايت کښے د سحر وخت کښے رسيدلو ذکر ذ واقعے همدے نوعيت په وجے سره دے.

٢٢٦: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَبْدِ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَهُ جَاءٍ فَقَالَ أُكِلَتِ الْحُمُرُ فَسَكَتَ ثُمَّ أَتَاهُ الثَّانِيَةَ فَقَالَ

٢٢٦: عبدالله بن عبدالوهاب. عبدالوهاب. ايوب. محمد. انس بن مالک نه روايت کوي، رسول الله صلي الله عليه وسلّم ته يو سړے راغے، هغهٔ عرض اوکړ، يا رسول الله، خرونه اوخوړلے شو. حضور جواب ورنه کړلو، بيا هغه په دويم وار راغے او عرض ئے اوکړو چه خرونه اوخوړلے شو، حضور جواب ورنه کړو

أُكِلَتِ الْحُمُرُ فَسَكَتَ ثُمَّ أَتَاهُ الثَّالِثَةَ فَقَالَ أُفْنِيَتِ الْحُمُرُ فَأَمَرَ مُنَادِيًا فَنَادَى فِي النَّاسِ إِنَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يَنْهَيَانِكُمْ عَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ فَأُكْفِئَتِ الْقُدُورُ وَ إِنَّهَا لَتَفُورُ بِاللَّحْمِ.

بيا هغه په دريم وار راغې، عرض ئې اوکړ، چه اوس خو خرونه ختم شو، نو حضورؐ يو منادي ته حکم اوکړو، هغه خلقو کښې دا اعلان اوکړ، چه الله او ذ هغه رسول تاسو ذ کورنو خرونو ذ غوښې نه منع کوي، نو کټولې واړولې شوې حالانکه هغې کښې غوښه ويشيدله شوې وه.

۲۲۷ : حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ صَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصُّبْحَ قَرِيبًا مِنْ خَيْبَرَ بِغَلَسٍ ثُمَّ قَالَ اللَّهُ أَكْبَرُ خَرِبَتْ خَيْبَرُ إِنَّا إِذَا نَزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ فَسَاءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِينَ فَخَرَجُوا يَسْعَوْنَ فِي السِّكَكِ فَقَتَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُقَاتِلَةَ وَ سَبَى الذُّرِّيَّةَ وَ كَانَ فِي السَّبْيِ صَفِيَّةُ فَصَارَتْ إِلَى دِحْيَةَ الْكَلْبِيِّ ثُمَّ صَارَتْ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلَ عِتْقَهَا صَدَاقَهَا فَقَالَ عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ صُهَيْبٍ لِثَابِتٍ يَا أَبَا مُحَمَّدٍ ءَ أَنْتَ قُلْتَ لِأَنَسٍ مَا أَصْدَقَهَا فَحَرَّكَ ثَابِتٌ رَأْسَهُ تَصْدِيقًا لَهُ.

۲۲۷ : سليمان بن حرب. حماد بن زيد. ثابت. حضرت انسؓ نه روايت کوي، رسول الله صلي الله عليه وسلّم ذ خيبر قريب تياره (انديرے) کښې ذ سحر مونځ اوکړ. بيائې اوفرمائيل، الله اکبر، خيبر برباد شولو، کله چه مونږ ذ يو قوم ميدان ته ورکوز شو، نو ذ هغې ويرولې شوو خلقو سحر ډير خراب وي، اهل خيبر چه بهرته راووتل، نو کوڅو کښې ئې منډې ترړے وهلے. حضور صلي الله عليه وسلّم مقابله کونکي قتل کړل. او بچي وغيره ئې قيد کړل. قيديانو کښې بي بي صفيةؓ هم وه. اول خو هغه ذ دحيه کلبي په حصه کښې وه، بيا ذ حضور صلي الله عليه وسلّم حصے ته راغله. حضورؐ هغې سره نکاح اوکړله، او ذ هغې آزادي ئې ذ هغې مَهر مقرر کړلو. عبدالعزيز بن صهيب ذ ثابت نه اووے، اے ابو محمد، آيا تا انس ته وئيلي وو، چه حضور صلي الله عليه وسلّم ذ هغې څۀ مهر مقرر کړے وو، نو هغۀ سر خوزولو سره ذ هغې تصديق اوکړلو.

۲۲۸ : حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ سَبَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَفِيَّةَ فَأَعْتَقَهَا وَ

۲۲۸ : آدم. شعبه. عبدالعزيز بن صهيب. انسؓ نه روايت کوي، نبي صلي الله عليه وسلّم صفيةؓ قيده کړه. بيائې هغه آزاده کړه او نکاح ئې ورسره اوکړه، نو ثابت ذ حضرت انسؓ نه دريافت اوکړ، چه حضورؐ ذ هغې څۀ

تَزَوَّجَهَا فَقَالَ ثَابِتٌ لِأَنَسٍ مَا اَصْدَقَهَا قَالَ اَصْدَقَهَا نَفْسَهَا فَاَعْتَقَهَا.

مهر مقرر كړلو. حضرت انسؓ ورته اووے، خپله هغه ئے ذ هغے مهر مقرر كړلو، چه هغه ئے آزاده كړه.

۲۲۹: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ عَنْ اَبِيْ حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدِ السَّاعِدِيِّ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْتَقٰى هُوَ وَالْمُشْرِكُوْنَ فَاقْتَتَلُوْا فَلَمَّا مَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰى عَسْكَرِهٖ وَ مَالَ الْاٰخَرُوْنَ اِلٰى عَسْكَرِهِمْ وَ فِيْ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ لَّا يَدَعُ شَاذَّةً وَّلَا فَاذَّةً اِلَّا تَبِعَهَا يَضْرِبُهَا بِسَيْفِهٖ فَقِيْلَ مَا اَجْزَاَ مِنَّا الْيَوْمَ اَحَدٌ كَمَا اَجْزَاَ فُلَانٌ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَمَا اِنَّهٗ مِنْ اَهْلِ النَّارِ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ اَنَا صَاحِبُهٗ قَالَ فَخَرَجَ مَعَهٗ كُلَّمَا وَّقَفَ وَقَفَ مَعَهٗ وَ اِذَا اَسْرَعَ اَسْرَعَ مَعَهٗ قَالَ فَجُرِحَ الرَّجُلُ جُرْحًا شَدِيْدًا فَاسْتَعْجَلَ الْمَوْتَ فَوَضَعَ سَيْفَهٗ بِالْاَرْضِ وَ ذُبَابَهٗ بَيْنَ ثَدْيَيْهِ ثُمَّ تَحَامَلَ عَلٰى سَيْفِهٖ فَقَتَلَ نَفْسَهٗ فَخَرَجَ الرَّجُلُ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَشْهَدُ اَنَّكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَمَا ذَاكَ قَالَ الرَّجُلُ الَّذِيْ ذَكَرْتَ

۲۲۹: قتيبه. يعقوب. ابي حازم. سهل بن سعد ساعديؓ نه روايت كوي، رسول الله صلي الله عليه وسلّم او مشركين (يعني ذ خيبر يهود) صف آرا شو، بيا جنګ ئے اوكړ. بيا رسول الله صلي الله عليه وسلّم او نور خلق خپل خپل لښكر ته واپس راغلل. او ذ نبي صلي الله عليه وسلّم ذ اصحابو لښكر كښ يو داسے سړے هم وو، چه يكه دوكه يهودي به ئے بے قتلولو نه، نه پريښودلو. نو مسلمانانو كښ مشهوره شوه، چه خمونږ ذ طرف نه څومره كار نن فلاني سړي اوكړ، بل چا نه دے كړے، نو رسول الله صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، ګورے، هغه دوزخي دے. دے آوريدو سره يو سړي اووے زه به (ذ امتحان په طور) هغه سره يم، نو هغه هغے سړي پسے اولګيد، چه كوم ځائے به هغه ايساريدلو، نو دے به هم ورسره ايساريدلو، او چه هغه به تيزي سره تلو، نو دے به هم ورپسے تلو. هغه وائي، بيا هغے سړي ته يو سخت زخم اولګيد (چه ذ هغے تكليف ئے برداشت كولے نه شو) هغه تادي سره مرګ كيدل اوغوښتل، نو هغه توره په زمكه كيښوده، او ذ هغے څوكه ئے ذ خپلے سينے په مينځ كيښوده. بيائے هغے له زور وركړ، او خودكشي ئے اوكړله، نو دا سړے حضور صلي الله عليه وسلّم له راغے، او وے وئيل، زه ګواهي كوم، چه تاسوؐ ذ الله رسول ئے، حضورؐ ورته اوفرمائيل، څه خبره ده، هغه

الف الله من نفل الليل فلطعم القلس ذلك فقلت قالكم به فخرجت في طلبه ثم خرج جرحا شديدا فاستعجل الموت فوضع نصل سيفه في الأرض و ذبابه بين ثدييه ثم تحامل عليه فقتل نفسه فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم عند ذلك إن الرجل ليعمل عمل أهل الجنة فيما يبدو للناس وهو من أهل النار و إن الرجل ليعمل عمل أهل النار فيما يبدو للناس وهو من أهل الجنة.

عرض او کړ، اوس چه تاسو د کوم سړي د دوزخي کيدو متعلق فرمائيلي وو، خلقو نه دا خبره ګرانه ښکاره شوه، نو ما اووے، د هغه د حقيقت معلومولو دپاره زه ذمه وار يم، او زه د هغه تلاش کښې اوولم. بيا هغه سخت زخمي شو، او زر مرګ کيدو د پاره توره په زمکه او د هغې څوکه ئے د خپلے سينے په مينځ کښې کيښوده، بيائے زور سره خودکشي او کړله، نو هغه وخت رسول الله صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، انسان د خلقو نظر کښې د جنتيانو په شان کار کوي، حالانکه هغه دوزخي وي، (نو داسے څۀ کار اوکړي، چه هغے سره ورمبني ټول اعمال ئے برباد شي) او يو سړے د خلقو په نظر کښې د دوزخيانو په شان عمل کوي، حالانکه هغه جنتي وي.

۲۳۰ : حدثنا أبو اليمان أخبرنا شعيب عن الزهري قال أخبرني سعيد بن المسيب أن أبا هريرة قال شهدنا خيبر فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم لرجل ممن معه يدعي الإسلام هذا من أهل النار فلما حضر القتال قاتل الرجل أشد القتال حتى كثرت به الجراحة فكاد بعض الناس يرتاب فوجد الرجل ألم الجراحة فأهوى بيده إلى كنانته فاستخرج منها أسهما فنحر بها نفسه فاشتد رجال من المسلمين فقالوا يا رسول الله صدق الله حديثك انتحر فلان

۲۳۰ : ابواليمان. شعيب. زهري. سعيد بن مسيب. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت کوي، هغه فرمائي، مونږ خيبر کښې حاضر وو، حضورؐ د يو مدعي اسلام په باره کښې چه هغه دوزخي وو، وے فرمائيل، دا سړے دوزخي دے. ليکن څۀ وخت چه جهاد شروع شو، نو هغۀ زبردست جهاد اوکۀ، تردے چه ډير زيات زخمي شو، او د بعضے خلقو د حضورؐ په دے فرمان کښې څۀ شک شبه پيدا شوه (چه خدائے خبر، د حضورؐ د دے نه څۀ مقصد دے، چه مونږ پرے پوهه نۀ شو) هغے زخمي سړي د زخمونو تکليف برداشت نۀ کړے شو، نو هغۀ خپل لاس ترکش کښې ننباسلو، او غشے ئے راښکلو، او هغه ئے په خپله مري (ګلے) ورا وتوملو، نو ځنے مسلمانان تيزئ سره د حضور صلي الله عليه وسلّم خدمت کښې حاضر شو، او

فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَقَالَ قُمْ يَا فُلَانُ فَأَذِّنْ اَنَّهُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ اِلَّا مُؤْمِنٌ اِنَّ اللّٰهَ يُؤَيِّدُ الدِّيْنَ بِالرَّجُلِ الْفَاجِرِ تَابَعَهُ مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ وَ قَالَ شَبِيْبٌ عَنْ يُوْنُسَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ اَخْبَرَنِي ابْنُ الْمُسَيَّبِ وَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ كَعْبٍ اَنَّ اَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ شَهِدْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُنَيْنًا وَ قَالَ ابْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ يُوْنُسَ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَعِيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَابَعَهُ صَالِحٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ وَ قَالَ الزُّبَيْدِيُّ اَخْبَرَنَا الزُّهْرِيُّ اَنَّ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ كَعْبٍ اَخْبَرَهُ اَنَّ عُبَيْدَ اللّٰهِ بْنَ كَعْبٍ قَالَ اَخْبَرَنِي مَنْ شَهِدَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْبَرَ قَالَ الزُّهْرِيُّ وَ اَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ وَ سَعِيْدٌ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

وئيلے، يا رسول اللّٰه، اللّٰه تعالىٰ ستاسو خبره رښتنے اوښودله، چه فلاني سړي مرئ كښې غشۓ ورِ اُوتومبلو، او خودكشي ئے اوكړله. نو حضور ﷺ چاته اوفرمائيل، چه اے فلانيه، پاسه، اودربېږه، او خلقو كښې اعلان اُوكه، چه جنت ته به ذَ مومن نه سوا نور هيڅوك نه ځي، او اللّٰه كله ذَ بدكار سړي په ذريعه هم خپل دين ته مدد وركوي. صالح ذَ زهري نه ذَ دے حديث متابع حديث روايت كړے دے، او شبيب ذَ ابو اسامه يونس، ابن شهاب نه روايت كړے دے، چه ماته ابن مسيب او عبدالرحمٰن بن عبداللّٰه بن كعب راكه، چه حضرت ابوهريرهؓ دا الفاظ اوفرمائيل: شَهِدنَا مع النّبي صلى اللّٰه عليه وسلم خيبر، او ابن مبارك په واسطه ذَ يونس، زهري، سعيد، نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم نه روايت كړے دے. صالح ذَ زهري نه ذَ دے متابع حديث روايت كه. او زبيده په واسطه ذَ زهري عبدالرحمٰن بن كعب، عبيداللّٰه بن كعب دا الفاظ وئيلے دي: اَخْبَرَنِي مَنْ شَهِدَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْبَرَ او زهري په واسطه ذَ عبيداللّٰه بن عبداللّٰه او سعيد، نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم نه روايت كړے دے.

۱۲۳۱: حَدَّثَنَا مُوْسَى بْنُ اِسْمَاعِيْلَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ عَنْ عَاصِمٍ عَنْ اَبِي عُثْمَانَ عَنْ اَبِي مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّؓ قَالَ لَمَّا غَزَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْبَرَ اَوْ قَالَ لَمَّا تَوَجَّهَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَشْرَفَ النَّاسُ عَلٰى وَادٍ

۱۲۳۱: موسىٰ بن اسماعيل. عبدالواحد. عاصم. ابو عثمان. حضرت ابو موسىٰ اشعري نه روايت كوي، هغه فرمائي، كوم وخت چه حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم په خيبر حمله اوكړله، يا دائے اوفرمائيل، كوم وخت چه حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم خيبر طرف ته لاړلو، خلق چه يو وادي طرف ته اورسيدل، نو اوچت آواز سره ئے تكبير وئيل شروع كړل: اللّٰه اكبر اللّٰه اكبر، لا اله الا

فَرَفَعُوْا اَصْوَاتَهُمْ بِالتَّكْبِيْرِ اَللّٰهُ اَكْبَرُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِرْبَعُوْا عَلٰى اَنْفُسِكُمْ اِنَّكُمْ لَا تَدْعُوْنَ اَصَمَّ وَلَا غَائِبًا اِنَّكُمْ تَدْعُوْنَ سَمِيْعًا قَرِيْبًا وَّهُوَ مَعَكُمْ وَ اَنَا خَلْفَ دَابَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَمِعَنِيْ وَ اَنَا اَقُوْلُ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ فَقَالَ لِيْ يَا عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ قَيْسٍ قُلْتُ لَبَّيْكَ رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ اَلَا اَدُلُّكَ عَلٰى كَلِمَةٍ مِنْ كَنْزٍ مِّنْ كُنُوْزِ الْجَنَّةِ قُلْتُ بَلٰى يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فِدَاكَ اَبِيْ وَ اُمِّيْ قَالَ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ.

الله والله اكبر، حضورؐ اوفرمائيل. خان سره نرمي کوئ (يعني ډير په زوره تکبير مه وائے، خکه چه تاسو څوک کونړ (بهرے) يا غير موجود ذات نه بلئے، بلکه تاسو خو يو آوريدونکے ذات بلئے، چه هغه تاسو ته ډير قريب دے. (ابو موسيٰ وائي) زۀ دَ حضور صلي الله عليه وسلم نه ورستو ووم حضورؐ خما نه "لاحول ولا قوة الّا بالله" وئيل واوريدل، نو حضور صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل، اے عبدالله بن قيس، ما عرض او کۀ، لبيک يا رسول الله، حضور صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل، آيا زۀ تاته يو داسے کلمه اونۀ ښائم، چه دَ جنت دَ خزانونه يوه خزانه ده. ما عرض او کۀ، خما مور پلار دے په تاسو قربان وي ضرور اوښائے، نو حضورؐ اوفرمائيل: لاحول ولا قوة الا بالله: (يعني هغه خزانه دا ده).

۲۳۲: حَدَّثَنَا الْمَكِّيُّ بْنُ اِبْرٰهِيْمَ حَدَّثَنَا يَزِيْدُ بْنُ اَبِيْ عُبَيْدٍ قَالَ رَاَيْتُ اَثَرَ ضَرْبَةٍ فِيْ سَاقِ سَلَمَةَ فَقُلْتُ يَا اَبَا مُسْلِمٍ مَّا هٰذِهِ الضَّرْبَةُ فَقَالَ هٰذِهِ ضَرْبَةٌ اَصَابَتْنِيْ يَوْمَ خَيْبَرَ فَقَالَ النَّاسُ اُصِيْبَ سَلَمَةُ وَّ اَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَفَثَ فِيْهِ ثَلٰثَ نَفَثَاتٍ فَمَا اشْتَكَيْتُهَا حَتَّى السَّاعَةِ.

۲۳۲: مکي بن ابراهيم. يزيد بن ابي عبيد نه روايت کوي، هغه فرمائي ما دَ سلمهؓ پنډئ (پنڈلی) کښ دَ توره دَ چوټ نښه اوليده، ما تپوس او کۀ، اے ابو مسلم، دا چوټ څنګه دے، هغۀ جواب راکۀ، ماته دا چوټ دَ خيبر په ورځ لږيدلے وو، نو خلقو دا اووے، چه سلمهؓ مړ شولو. ليکن زۀ دَ حضورؐ خدمت کښ حاضر شوم. حضورؐ درے خله په دے دم چُف کړلو، نو دَ هغے وخت نه اوسه پورے په دے حقله ماته هيڅ تکليف نشته.

۲۳۳: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْلَمَةَ حَدَّثَنَا ابْنُ اَبِيْ حَازِمٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ سَهْلٍ قَالَ اَلْتَقَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

۲۳۳: عبدالله بن مسلمه. ابن ابي حازم. دَ هغۀ پلار. حضرت سهلؓ نه روايت کوي، يو جهاد (يعني خيبر) کښ حضور صلي الله عليه وسلم او مشرکينو کښ ښۀ مقابله اوشوه. بيا هر يو قوم خپل خپل لښکر ته

وَسَلَّمَ وَالْمُشْرِكُونَ فِيْ بَعْضِ مَغَازِيْهِ فَاقْتَتَلُوْا فَمَالَ كُلُّ قَوْمٍ اِلَى عَسْكَرِهِمْ وَفِي الْمُسْلِمِيْنَ رَجُلٌ لَا يَدَعُ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ شَاذَّةً وَلَا فَاذَّةً اِلَّا اتَّبَعَهَا فَضَرَبَهَا بِسَيْفِهِ فَقِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا اَجْزَأَ اَحَدُهُمْ مَا اَجْزَأَ فُلَانٌ فَقَالَ اِنَّهُ مِنْ اَهْلِ النَّارِ فَقَالُوْا اَيُّنَا مِنْ اَهْلِ الْجَنَّةِ اِنْ كَانَ هٰذَا مِنْ اَهْلِ النَّارِ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ لَاَتَّبِعَنَّهُ فَاِذَا اَسْرَعَ وَ اَبْطَأَ كُنْتُ مَعَهُ حَتّٰى جُرِحَ فَاسْتَعْجَلَ الْمَوْتَ فَوَضَعَ نِصَابَ سَيْفِهِ بِالْاَرْضِ وَ ذُبَابَهُ بَيْنَ ثَدْيَيْهِ ثُمَّ تَحَامَلَ عَلَيْهِ فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَجَاءَ الرَّجُلُ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَشْهَدُ اَنَّكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ فَقَالَ وَمَا ذَاكَ فَاَخْبَرَهُ فَقَالَ اِنَّ الرَّجُلَ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ اَهْلِ الْجَنَّةِ فِيْمَا يَبْدُوْ لِلنَّاسِ وَ اِنَّهُ مِنْ اَهْلِ النَّارِ وَ يَعْمَلُ بِعَمَلِ اَهْلِ النَّارِ فِيْمَا يَبْدُوْ لِلنَّاسِ وَهُوَ مِنْ اَهْلِ الْجَنَّةِ.

واپس شو مسلمانانو کښې يو سړے وو. چه يکه دوکه مشرک به ئې نۀ پريښودلو، بلکه ذ هغۀ ذ شا، نه به راغے او قتل به ئې کۀ. حضور صلي الله عليه وسلّم ته عرض اوشو، يا رسول الله، خومره کار چه دے سړي اوکۀ، بل چا نۀ دے کړے. حضورؐ اوفرمائيل، هغه خو دوزخي دے، صحابه ؤ (زړۀ کښې) اووے، که دے دوزخي دے، نو بيا مونږ کښې جنتي څوک دے. دے کښې مسلمانانو کښې يو سړي اووے، زۀ به هغے سړي پسے لګيدلے يم، چه ذ هغۀ امتحان واخلم، چه هغه به تيز يا رو تلو، نو زۀ به هم هغۀ سره هغسے تلم، حتٰي چه هغه زخمي شو، ذ زخمونو ذ تکليف نه بے تابه شو، زر ئې مړ کيدل غوښتل، نو ذ تورے قبضه ئې په زمکه کېښوده، او ذ هغې څوکه ئې ذ خپلے سينے په مينځ کښې کېښوده. بيائې په هغے زور اوکړو، او خودکشي ئې اوکړله. اوس هغه سړے نبي صلي الله عليه وسلّم له راغے، او عرض ئې اوکۀ، زۀ ګواهي کوم چه تاسو ذ الله رسول ئې، حضورؐ ورته اوفرمائيل، څۀ خبره ده، نو هغۀ هغه واقعه حضورؐ ته واوروله، حضورؐ ورته اوفرمائيل، يو سړے ذ خلقو په نظر کښې ذ جنتيانو په شان کارونه کوي، حالانکه هغه دوزخي وي، او څنے ذ خلقو په نظر کښې ذ دوزخيانو په شان عمل کوي، حالانکه هغه جنتي وي.

۲۳۴: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَعِيْدٍ الْخُزَاعِيُّ حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ الرَّبِيْعِ عَنْ اَبِيْ عِمْرَانَ قَالَ نَظَرَ اَنَسٌ اِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَرَاٰى طَيَالِسَةً فَقَالَ كَاَنَّهُمُ السَّاعَةَ يَهُوْدُ

۲۳۴: محمد بن سعيد خزاعي. زياد بن ربيع. ابو عمران نه روايت کوي. حضرت انس (بصره کښې) ذ جمعے په ورځ په خلقو داسے څادرونه اوليدل، چه ذ خيبر ذ يهودو ذ څادرونو په شان رنګين وو، نو وے فرمائيل دا خلق دا وخت ذ خيبر ذ يهوديانو په شان

خيبر.

۲۳۵ : حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْلَمَةَ حَدَّثَنَا حَاتِمٌ عَنْ يَزِيْدَ بْنِ اَبِيْ عُبَيْدٍ عَنْ سَلَمَةَ قَالَ كَانَ عَلِيٌّ تَخَلَّفَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ خَيْبَرَ وَ كَانَ رَامِدًا فَقَالَ اَنَا اَتَخَلَّفُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَحِقَ فَلَمَّا بِتْنَا اللَّيْلَةَ الَّتِيْ فُتِحَتْ قَالَ لَاُعْطِيَنَّ الرَّايَةَ غَدًا اَوْ لَيَاْخُذَنَّ الرَّايَةَ غَدًا رَجُلٌ يُحِبُّهُ اللّٰهُ وَ رَسُوْلُهُ يُفْتَحُ عَلَيْهِ فَنَحْنُ نَرْجُوْهَا فَقِيْلَ هٰذَا عَلِيٌّ فَاَعْطَاهُ فَفُتِحَ عَلَيْهِ.

معلوميدل.

۲۳۵ : عبدالله بن مسلمه. حاتم. يزيد بن ابو عبيد. سلمهؓ نه روايت کوي، چه ذ حضرت علي کرم الله وجهه ستر کي خوږېدلې، په دې وجه هغه ذ خيبر جنګ کښ رسول الله صلي الله عليه وسلّم سره رانغې. بيا حضرت عليؓ اووې، زه دې ذ حضور صلي الله عليه وسلّم نه ورستو پاتې شم (داسې نشي کيدې) نو هغه هم بيا ورستو راغې، کوم وخت چه هغه شپه راغله، چه ذ هغې سحر ته به خيبر فتح کيږي، نو رسول الله صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل صباله به زهٔ داسې سړي ته جنډه ورکوم يا دائې اوفرمائيل، صباله به داسې سړې جنډه آخلي، چه هغهٔ سره الله او رسول محبت لري، ذ هغهٔ په لاس به فتح هم حاصليږي. مونږ ذ جنډې اميدوار وو، دې کښ حضورؐ ته اووئيلې شو، چه دغه دې عليؓ راغې، حضورؐ هغهٔ له جنډه ورکړله، او ذ هغهٔ په لاس فتح اوشوه.

۲۳۶ : حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيْدٍ حَدَّثَنَا يَعْقُوْبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ اَبِيْ حَازِمٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ سَهْلُ بْنُ سَعْدٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ خَيْبَرَ لَاُعْطِيَنَّ هٰذِهِ الرَّايَةَ غَدًا رَجُلًا يَفْتَحُ اللّٰهُ عَلٰى يَدَيْهِ يُحِبُّ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهُ وَ يُحِبُّهُ اللّٰهُ وَ رَسُوْلُهُ قَالَ فَبَاتَ النَّاسُ يَدُوْكُوْنَ لَيْلَتَهُمْ اَيُّهُمْ يُعْطَاهَا فَلَمَّا اَصْبَحَ النَّاسُ غَدَوْا عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّهُمْ يَرْجُوْ اَنْ

۲۳۶ : قتيبه بن سعيد. يعقوب بن عبدالرحمٰن. ابو حازم. سهل بن سعدؓ نه روايت کوي، رسول الله صلي الله عليه وسلّم ذ خيبر په ورځ اوفرمائيل، زهٔ به صباله دا جنډه هغې سړي له ورکوم، چه ذ هغهٔ په لاس به الله تعالٰي فتح عطا کړي، او هغه الله او رسول سره محبت ساتي. سهيل وائي، خلقو هغه شپه ډېرې بې چيني سره تيره کړه، کورو چاته جنډه ورکولې شي. کوم وخت چه صبا شو، نو خلق ذ حضور صلي الله عليه وسلّم خدمت کښ حاضر شو، او هر يو ذ هغې جنډې خواهشمند وو، حضورؐ اوفرمائيل، عليؓ بن ابو طالب کوم خائې دې. عرض اوکړې شو، يا رسول الله، ذ هغهٔ خو ستر ګې

يُعْطَاهَا فَقَالَ اَيْنَ عَلِيُّ بْنُ اَبِيْ طَالِبٍ فَقِيْلَ هُوَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ يَشْتَكِيْ عَيْنَيْهِ قَالَ فَاَرْسِلُوْا اِلَيْهِ فَأْتِيَ بِهٖ فَبَصَقَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ عَيْنَيْهِ وَ دَعَا لَهٗ فَبَرَأَ حَتّٰى كَاَنْ لَمْ يَكُنْ بِهٖ وَجَعٌ فَاَعْطَاهُ الرَّايَةَ فَقَالَ عَلِيٌّ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اُقَاتِلُهُمْ حَتّٰى يَكُوْنُوْا مِثْلَنَا فَقَالَ انْفُذْ عَلٰى رِسْلِكَ حَتّٰى تَنْزِلَ بِسَاحَتِهِمْ ثُمَّ ادْعُهُمْ اِلَى الْاِسْلَامِ وَ اَخْبِرْهُمْ بِمَا يَجِبُ عَلَيْهِمْ مِنْ حَقِّ اللّٰهِ فِيْهِ فَوَاللّٰهِ لَاَنْ يَّهْدِيَ بِكَ رَجُلًا وَّاحِدًا خَيْرٌ لَّكَ مِنْ اَنْ يَّكُوْنَ لَكَ حُمْرُ النَّعَمِ.

خوږېږي' حضورﷺ اوفرمائيل' هغه پسے خوک اوليږئ او ماته ئے راولئ' هغه راوغښتلے شو' نو حضور صلي الله عليه وسلّم دَ خپلے خولے مبارکے لاړے دَ هغه په سترګو اولږولے' هغهٔ ته ئے دُعا اوکړله' نو هغه داسے تندرست شو' ګويا هغهٔ ته هډو څهٔ تکليف نه وو' حضورﷺ هغهٔ ته جنډه ورکړله' حضرت عليؓ عرض اوکهٔ' يا رسول الله' زهٔ به هغوي سره هغے پورے جنګ کوم' څو پورے چه هغوي خمونږ په شان مسلمانان نشي' حضورﷺ ورته اوفرمائيل' تهٔ نيغ لاړ شه' دَ هغوي ميدان کښ کوز شه. اول هغوي ته دَ اسلام دعوت ورکړه' او اسلام کښ چه دَ اللّٰه کوم حقوق په هغوي واجب دي' هغه ورته اوښايه' قسم په خدائے ستا په ذريعه دَ اللّٰه تعالیٰ چاته (اسلام طرف ته) هدايت کول ستا دَ پاره دَ سرو .(سُرخ) اُوښانو نه بهتر دي.

۲۳۷ : حَدَّثَنَا عَبْدُ الْغَفَّارِ بْنُ دَاوُدَ حَدَّثَنَا يَعْقُوْبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ ح وَ حَدَّثَنِيْ اَحْمَدُ حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ يَعْقُوْبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ الزُّهْرِيُّ عَنْ عَمْرٍو مَوْلَى الْمُطَّلِبِ عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَدِمْنَا خَيْبَرَ فَلَمَّا فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْهِ الْحِصْنَ ذُكِرَ لَهٗ جَمَالُ صَفِيَّةَ بِنْتِ حُيَيِّ بْنِ اَخْطَبَ وَقَدْ قُتِلَ زَوْجُهَا وَ كَانَتْ عَرُوْسًا فَاصْطَفَاهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِنَفْسِهٖ فَخَرَجَ بِهَا حَتّٰى بَلَغْنَا سَدَّ الصَّهْبَاءِ حَلَّتْ فَبَنٰى

۲۳۷ : عبدالغفار بن داؤد. يعقوب بن عبدالرحمٰن (دويم سند) احمد بن وهب. يعقوب بن عبدالرحمٰن. زهري دَ مطلب آزاد کرده غلام عمرو' حضرت انس بن مالکؓ نه روايت کوي. هغه فرمائي' مونږ خيبر ته راغلو' هر کله چه اللّٰه تعالیٰ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ته قلعه خيبر کښ فتح ورکړله' نو حضورﷺ ته دَ بي بي صفيه بنت حي دَ حسن و جمال ذکر اوکړے شو' هغه نوے ناوے وه' چه دَ هغے خاوند قتل کړے شو' حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم هغه دَ خپل خان دَ پاره منتخب کړله' حضورﷺ هغه بوتله' تردے چه کوم وخت مونږ مقام صهباته اورسيدو' نو بي بي صفيهؓ (دَ حيض نه غسل کولو سره حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم دَ پاره)

بِهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ صَنَعَ حَيْسًا فِيْ نِطَعٍ صَغِيْرٍ ثُمَّ قَالَ لِيْ اٰذِنْ مَنْ حَوْلَكَ فَكَانَتْ تِلْكَ وَلِيْمَتَهُ عَلٰى صَفِيَّةَ ثُمَّ خَرَجْنَا اِلَى الْمَدِيْنَةِ فَرَاَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحَوِّيْ لَهَا وَرَاءَهُ بِعَبَائِهٖ ثُمَّ يَجْلِسُ عِنْدَهُ بَعِيْرُهُ فَيَضَعُ رُكْبَتَهُ وَتَضَعُ صَفِيَّةُ رِجْلَهَا عَلٰى رُكْبَتِهٖ حَتّٰى تَرْكَبَ.

حلاله شوه، حضور صلي اللّه عليه وسلّم هغې سره خلوت اوكړلو. بيا حضورؐ ماليده (چوري) شان جوړه كړه. په دستر خوان ئې كېښوده، او ماته ئې اوفرمائيل، ذ خپل خواوشا خلق راوغواړه، دا ذ بي بي صفيې د واده وليمه وه. او مونږ مدينې طرف ته روان شو، نو ما نبي صلي اللّه عليه وسلّم اُليدلو چه بي بي صفيې ذ پاره ئې خپل ورستو څادر خور كړلو، بيا به حضورؐ خپل اوښ سره قريب كيناستلو، خپل زنګون مبارك به ئې كېښود. بيا به بي بي صفيې ذ حضورؐ په زنګون مبارك، خپله ګسه پښه كېښودله، او په اُوښ به سوره شوله.

۴۲۳۸ : حَدَّثَنَا اِسْمَاعِيْلُ قَالَ حَدَّثَنِيْ اَخِيْ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ يَحْيٰى عَنْ حُمَيْدِ الطَّوِيْلِ سَمِعَ اَنَسَ بْنَ مَالِكٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَقَامَ عَلٰى صَفِيَّةَ بِنْتِ حُيَيٍّ بِطَرِيْقِ خَيْبَرَ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ حَتّٰى اَعْرَسَ بِهَا وَكَانَتْ فِيْمَنْ ضُرِبَ عَلَيْهَا الْحِجَابُ.

۴۲۳۸ : اسماعيل. ذ اسماعيل ورور. سليمان. يحيٰي. حميد طويل. حضرت انس بن مالكؓ نه روايت كوي، هغه فرمائي، رسول اللّه صلي اللّه عليه وسلّم، صفيهؓ بنت حي سره ذ خيبر په لاره درې ورځې ايسار وو، تردې چه حضورؐ هغې سره خلوت (صحبت) اوكړلو، او هغه په هغې ښځو كښ وه چه په هغوي پرده مقرر وه (يعني اُمهات المؤمنين كښ وه).

۴۲۳۹ : حَدَّثَنَا سَعِيْدُ بْنُ اَبِيْ مَرْيَمَ اَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرِ بْنِ اَبِيْ كَثِيْرٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ حُمَيْدٌ اَنَّهُ سَمِعَ اَنَسًا يَقُوْلُ اَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ خَيْبَرَ وَالْمَدِيْنَةِ ثَلٰثَ لَيَالٍ يُبْنٰى عَلَيْهِ بِصَفِيَّةَ فَدَعَوْتُ الْمُسْلِمِيْنَ اِلٰى وَلِيْمَتِهٖ وَمَا كَانَ فِيْهَا مِنْ خُبْزٍ وَلَا

۴۲۳۹ : سعيد بن ابو مريم. محمد بن جعفر بن ابي كثير. حميد. حضرت انسؓ نه روايت كوي، هغه فرمائي، نبي صلي اللّه عليه وسلّم ذ مدينې او خيبر لاره كښ درې ورځې ايسار وو، چه هلته حضورؐ بي بي صفيې سره خلوت اوكړلو، نو ما د حضور صلي اللّه عليه وسلّم وليمه كښ مسلمانان راوغستل. او دې وليمه كښ نه روټۍ وه او نه غوښه. دې كښ صرف دا شوې وو، چه حضور صلي اللّه عليه وسلّم حضرت بلالؓ ته ذ

لَحْمٍ وَّمَا كَانَ فِيهَا إِلَّا أَنْ أَمَرَ بِلَالًا بِالْأَنْطَاعِ فَبُسِطَتْ، فَأَلْقَى عَلَيْهَا التَّمْرَ وَالْأَقِطَ وَالسَّمْنَ فَقَالَ الْمُسْلِمُوْنَ إِحْدَى أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِيْنَ أَوْ مَا مَلَكَتْ يَمِيْنُهُ قَالُوْا إِنْ حَجَبَهَا فَهِيَ إِحْدَى أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِيْنَ وَ إِنْ لَّمْ يَحْجُبْهَا فَهِيَ مَا مَلَكَتْ يَمِيْنُهُ فَلَمَّا ارْتَحَلَ وَطَّأَلَهَا خَلْفَهُ وَ مَدَّ الْحِجَابَ.

دسترخوان غوړولو حکم ورکړلو، هغه اوغوړولے (خور کړے) شو، حضور صلي اللّه عليه وسلّم په هغے چوهارے، پنير او غوړي کيښودل، نو، مسلمانانو خپلو کښې اووے، که حضور صلي الله عليه وسلّم په هغے پرده اوکړي، نو ذ اُم المؤمنين کښې به وي، او که پرده ئے پرے اونه کړله، نو بيا وينزه ده. کوم وخت چه حضورٌ کوچ اوکړ، نو هغے ذ پاره ئے خان پسے ورستو ذ ناستے ځائے جوړ کړلو، او پرده ئے پرے راښکله.

• ۲۴۰: حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيْدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا وَهْبٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ هِلَالٍ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ كُنَّا مُحَاصِرِيْ خَيْبَرَ فَرَمٰى إِنْسَانٌ بِجِرَابٍ فِيْهِ شَحْمٌ فَنَزَوْتُ لِاٰخُذَهُ فَالْتَفَتُّ فَإِذَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَحْيَيْتُ.

• ۲۴۰: ابوالوليد. شعبه. (دوېم سند) عبدالله بن محمد. وهب. شعبه. حميد بن هلال. عبدالله بن مغفلؓ نه روايت کوي، هغه فرمائي، مونږ خلقو ذ خيبر محاصره کړے وَه، چه يو سړي ناشته دان راوغرځولو هغے کښې چربي وه، ما ذ هغے اخستلو ذ پاره ورمنډه کړے، چه ورستو م اوکتل، ځۀ ګورم حضور صلي الله عليه وسلّم موجود دے، ماله شرم راغے، او هغه چربي مِ پريښودله.

۲۴۱: حَدَّثَنِيْ عُبَيْدُ بْنُ إِسْمٰعِيْلَ عَنْ أَبِيْ أُسَامَةَ عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ عَنْ نَافِعٍ وَّ سَالِمٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى يَوْمَ خَيْبَرَ عَنْ أَكْلِ الثُّوْمِ وَ لُحُوْمِ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ نَهٰى عَنْ أَكْلِ الثُّوْمِ هُوَ عَنْ نَافِعٍ وَحْدَهُ وَ لُحُوْمِ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ عَنْ سَالِمٍ.

۲۴۱: عبيد بن اسماعيل. ابو اسامه. عبيدالله. نافع او سالم. ابن عمرؓ نه روايت کوي، حضور صلي الله عليه وسلّم د خيبر په ورځ د اُوګے (لهسن) او ذ ساتلے خرونو د غوښے خوړلو نه منع اوکړله، ذ اُوګے ذ خوراک ذ ممانعت راوي صرف نافع دے، او ذ کورنو خرونو ذ غوښے ممانعت ذ سالم نه روايت دے (ذ پالتو يعني د ساتلے خرونو غوښه ذ جمهور علماؤ په نزد حرام او کچه بدبوداره اُوګه مکروه ده).

۲۴۲: حَدَّثَنِيْ يَحْيَى بْنُ قَزَعَةَ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ

۲۴۲: يحيي بن قزعه. مالک. ابن شهاب. ذ محمد بن علي دواړه هلکان

عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ وَالْحَسَنِ ابْنَيْ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيّ عَنْ اَبِيْهِمَا عَنْ عَلِيّ بْنِ اَبِيْ طَالِبٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ مُتْعَةِ النِّسَآءِ يَوْمَ خَيْبَرَ وَ عَنْ اَكْلِ الْحُمُرِ الْاِنْسِيَّةِ.

عبدالله او حسن. د هغوي پلار. د عليؓ بن ابي طالب نه روايت كوي، چه نبي صلي الله عليه وسلّم د خيبر په ورځ ښځو سره نكاح متعه كول او د كورنو خرونو غوښه خوړلو نه منع فرمائيلې ده.

ف: نكاحِ متعه: داده چه مثلاً د يو دوو هفتو د پاره نكاح اوكړے شي. دا د ټولو علماؤ په نزد بيخي حرامه ده.

۲۴۳: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ اَخْبَرَنَا عَبْدُ اللّٰهِ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى يَوْمَ خَيْبَرَ عَنْ لُحُوْمِ الْحُمُرِ الْاَهْلِيَّةِ.

۲۴۳: محمد بن مقاتل. عبدالله. عبيدالله بن عمر. عمر. نافع. حضرت ابن عمرؓ نه روايت كوي، رسول الله صلي الله عليه وسلّم د خيبر په ورځ د ساتلے شوے خرونو د غوښے نه منع فرمائيلې ده.

۲۴۴: حَدَّثَنِيْ اِسْحٰقُ بْنُ نَصْرٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ عَنْ نَافِعٍ وَ سَالِمٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ اَكْلِ لُحُوْمِ الْحُمُرِ الْاَهْلِيَّةِ.

۲۴۴: اسحاق بن نصر. محمد بن عبيد. عبيدالله. نافع او سالم. حضرت ابن عمرؓ نه روايت كوي، هغه فرمائي: چه نبي صلي الله عليه وسلّم د كورنو خرونو د غوښے خوړلو نه منع فرمائيلې ده.

۲۴۵: حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ عَمْرٍو عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيّ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ خَيْبَرَ عَنْ لُحُوْمِ الْحُمُرِ وَ رَخَّصَ فِي الْخَيْلِ.

۲۴۵: سليمان بن حرب. حماد بن زيد. عمرو. محمد بن علي. حضرت جابر بن عبداللهؓ نه روايت كوي، هغه فرمائي: حضور صلي الله عليه وسلّم د خيبر په ورځ د خرونو د غوښے خوړلو نه منع فرمائيلې ده او د اس د غوښے اجازت ئے ورکړلو[1].

[1] . امام شافعي رحمة الله عليه ددے حديث په وجے سره د اس غوښه جائزه ګرځولے ده. امام ابو

حنيفه رحمة اللّه عليه دے لره مكروهه كرخوي. په يو حديث كښے دا هم دي چه پاک حضرتؐ ذ اس غوښے ذ خوړلو نه منع والے كړے وو. بهرحال دلائل دواړه طرفته شته.

۲۴۶ : حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ سُلَيْمَانَ حَدَّثَنَا عَبَّادٌ عَنِ الشَّيْبَانِيِّ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ أَبِي أَوْفَى أَصَابَتْنَا مَجَاعَةٌ يَوْمَ خَيْبَرَ فَإِنَّ الْقُدُورَ لَتَغْلِي قَالَ وَ بَعْضُهَا نَضِجَتْ فَجَاءَ مُنَادِي النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَأْكُلُوا مِنْ لُحُومِ الْحُمُرِ شَيْئًا وَ أَهْرِيقُوهَا قَالَ ابْنُ أَبِي أَوْفَى فَتَحَدَّثْنَا أَنَّهُ إِنَّمَا نَهَى عَنْهَا لِأَنَّهَا لَمْ تُخَمَّسْ وَ قَالَ بَعْضُهُمْ نَهَى عَنْهَا الْبَتَّةَ لِأَنَّهَا كَانَتْ تَأْكُلُ الْقَذِرَةَ.

۲۴۶ : سعيد بن سليمان. عباد. شيباني. ابن ابي اوفيؓ نه روايت كوي، هغه فرمائي، ذ خيبر په ورخ په مونږ ذ لوږے غلبه اوشوه (هغه وخت) كټونے (هانډياں) په جوش راختلے وے، او څه پخ شوے وے دے كښې ذ حضورؐ منادي آواز اوكړلو. ذ خرونو غوښه لږه هم مه خورئے، او كټوے آړولے كړئے. ابن ابي اوفي وائي، مونږ خپلو كښې اووے، حضورؐ صرف دے ذ پاره منع فرمائيلے ده، چه دے كښې اوسه پورے خمس، لا نهٔ دے اوښكلے شوے. او بعضو اووے، حضورؐ يقيناً په دے وجه منع فرمائيلے ده، چه دا نجاست خوري.

۲۴۷ : حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي عَدِيُّ بْنُ ثَابِتٍ عَنِ الْبَرَاءِ وَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى أَنَّهُمْ كَانُوا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَصَابُوا حُمُرًا فَطَبَخُوهَا فَنَادَى مُنَادِي النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكْفِئُوا الْقُدُورَ.

۲۴۷ : حجاج بن منهال. شعبه. عدي بن ثابت. براء و عبداللّٰه بن ابي اوفي نه روايت كوي، هغه حضور صلي اللّه عليه وسلّم سره (ذ خيبر ذ جنگ په موقعه) موجود وو، نو هغوي ته خوراک ذ پاره صرف خرونه حاصل شو، هغوي ئے غوښه پخه كړله، نو ذ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم اعلان كونكي اعلان اوكهٔ، چه كټوئے واړوئے.

۲۴۸ : حَدَّثَنِي إِسْحٰقُ حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا عَدِيُّ بْنُ ثَابِتٍ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ وَ ابْنَ أَبِي أَوْفَىؓ يُحَدِّثَانِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ يَوْمَ خَيْبَرَ

۲۴۸ : اسحاق. عبدالصمد. شعبه. عدي بن ثابت. حضرت براء او ابن ابي اوفيؓ نه روايت كوي، هغه فرمائي، حضور صلي اللّه عليه وسلّم ذ خيبر په ورخ چه كټونے په نغرو خيژولے شوے وے او فرمائيل، چه

وَقَدْ نَصَبُوا الْقُدُوْرَ اَكْفِئُوا الْقُدُوْرَ.

کتونے واړونے.

۴۲۴۹ : حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ عَنِ الْبَرَآءِ غَزَوْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ.

۴۲۴۹ : مسلم. شعبه. عدي بن ثابت. حضرت براء نه روايت کوي، هغه فرمائي مونږ حضور صلي الله عليه وسلّم سره جهاد کښ وو. ذ مخکښ په شان روايت ئے ذکر کۀ.

۴۲۵۰ : حَدَّثَنِي اِبْرٰهِيْمُ بْنُ مُوْسٰى اَخْبَرَنَا ابْنُ اَبِيْ زَائِدَةَ اَخْبَرَنَا عَاصِمٌ عَنْ عَامِرٍ عَنِ الْبَرَآءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ اَمَرَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَزْوَةِ خَيْبَرَ اَنْ نُلْقِيَ الْحُمُرَ الْاَهْلِيَّةَ نِيْئَةً وَ نَضِجَةً ثُمَّ لَمْ يَأْمُرْنَا بِاَكْلِهِ بَعْدُ.

۴۲۵۰ : ابراهيم بن موسي. ابن ابي زائده. عاصم. عامر. حضرت براء بن عازبؓ نه روايت کوي، هغه فرمائي، مونږ ته حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم غزوۀ خيبر کښ ذ کورَنو خرونو ذ کچه اوپښے غوښے غرخولو حکم اوکړلو. بيائے ذ هغے نه پس مونږ ته ذ هغے ذ خوړلو حکم رانۀ کړلو.

۴۲۵۱ : حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ اَبِي الْحُسَيْنِ حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا اَبُوْ عَاصِمٍ عَنْ عَامِرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَا اَدْرِيْ اَنَهٰى عَنْهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ اَجْلِ اَنَّهُ كَانَ حَمُوْلَةَ النَّاسِ فَكَرِهَ اَنْ تَذْهَبَ حَمُوْلَتُهُمْ اَوْ حَرَّمَهُ فِيْ يَوْمِ خَيْبَرَ لَحْمَ الْحُمُرِ الْاَهْلِيَّةِ.

۴۲۵۱ : محمد بن ابو الحسين. عمر بن حفص. ذ هغۀ پلار. عامر. ابن عباسؓ نه روايت کوي، هغه فرمائي، زۀ نشم وئيلے، چه آيا حضور صلي الله عليه وسلّم په دے وجه ذ خرونو ذ غوښے خوړلو نه منع فرمائيلے ده، چه خرونه ذ خلقو ذ بار برداري په کار راځي (او ذهغے په خوراک به بيا خلقوته تکليف وي) يا حضورؐ ذ خيبر په ورځ (هميشه ذ پاره) ذ ساتلے شوو خرونو غوښه حرام کړے ده.

۴۲۵۲ : حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ اِسْحَاقَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَابِقٍ حَدَّثَنَا زَائِدَةُ عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَسَمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ خَيْبَرَ لِلْفَرَسِ سَهْمَيْنِ وَ لِلرَّاجِلِ

۴۲۵۲ : حسين بن اسحاق. محمد بن سابق. زائده. عبيداللّٰه بن عمر. نافع. حضرت ابن عمرؓ نه روايت کوي، هغه فرمائي، ذ خيبر په ورځ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم (ذ مال غنيمت) داسے تقسيم اوکړلو، چه ذ آس ئے دوه حصے او ذ پياده ئے يو حصه ئے مقرر کړله. نافع ذ دے تشريح داسے اوکړه، چه چا سره آس

سَهْمًا قَالَ فَسَّرَهُ نَافِعٌ فَقَالَ اِذَا كَانَ مَعَ الرَّجُلِ فَرَسٌ فَلَهُ ثَلَاثَةُ اَسْهُمٍ فَاِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ فَرَسٌ فَلَهُ سَهْمٌ.

وو نو هغهٔ ته به درې حصې ور کيدې (يوه حصه ذ هغهٔ او دوه حصې ذ اَس) او که هغه سره به اَس نهٔ وو، نو ذ هغهٔ به يوه حصه رسيده.

۲۵۳: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يُوْنُسَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ اَنَّ جُبَيْرَ بْنَ مُطْعِمٍ اَخْبَرَهُ قَالَ مَشَيْتُ اَنَا وَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَا اَعْطَيْتَ بَنِي الْمُطَّلِبِ مِنْ خُمُسِ خَيْبَرَ وَ تَرَكْتَنَا وَ نَحْنُ بِمَنْزِلَةٍ وَّاحِدَةٍ مِنْكَ فَقَالَ اِنَّمَا بَنُوْ هَاشِمٍ وَّ بَنُو الْمُطَّلِبِ شَيْءٌ وَاحِدٌ فَقَالَ جُبَيْرٌ وَلَمْ يَقْسِمِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِبَنِيْ عَبْدِ شَمْسٍ وَ بَنِيْ نَوْفَلٍ شَيْئًا.

۲۵۳: يحيى بن بكير. ليث. يونس. ابن شهاب. سعيد بن مسيب. حضرت جبير بن مطعمؓ نه روايت كوي، هغه فرمائي، زهٔ او حضرت عثمان بن عفان، حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم له ورغلو، نو مونږ عرض او کهٔ، تاسوّ بنو المطلب ته ذ خيبر خمس کښې حصه ورکړله، او مونږ مو پريښودلو، حالانکه مونږ (او هغوي) تاسو سره قرابت کښې يوه درجه لرو، نو حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم جواب راکړلو، چه بنو هاشم او بنو عبدالمطلب يو دي. جبير وائي، حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم بنو عبد شمس او بنو نوفل ته څهٔ حصه ورنهٔ کړله.

۲۵۴: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ حَدَّثَنَا اَبُوْ اُسَامَةَ حَدَّثَنَا يَزِيْدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ اَبِيْ بُرْدَةَ عَنْ اَبِيْ مُوْسٰى قَالَ بَلَغَنَا مَخْرَجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ نَحْنُ بِالْيَمَنِ فَخَرَجْنَا مُهَاجِرِيْنَ اِلَيْهِ اَنَا وَ اَخَوَانِ لِيْ اَنَا اَصْغَرُهُمْ اَحَدُهُمَا اَبُوْ بُرْدَةَ وَالْاٰخَرُ اَبُوْ رُهْمٍ اِمَّا قَالَ بِضْعٌ وَ اِمَّا قَالَ فِيْ ثَلٰثَةٍ وَ خَمْسِيْنَ اَوْ اِثْنَيْنِ وَ خَمْسِيْنَ رَجُلًا مِّنْ قَوْمِيْ فَرَكِبْنَا سَفِيْنَةً فَاَلْقَتْنَا سَفِيْنَتُنَا اِلَى

۲۵۴: محمد بن علاء. ابو اسامه. يزيد بن عبداللّٰه. ابو برده. حضرت ابو موسيٰؓ نه روايت كوي، هغهٔ بيان او کهٔ، مونږ ته يمن کښې ذ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم (ذ مکې نه ذ) هجرت خبر راورسيد، نو زهٔ او خما دوه ورونړه، چه ذ هغوي نه زهٔ وړوکے ووم، يو ابو برده او دوئم ابو رهم څهٔ ذ پاسه پنځوس يا داسے ئے اوفرمائيل، چه درې پنځوس يا دوه پنځوس سره چه خما ذ قوم خلق وو (ذ يمن نه) ذ هجرت په اراده روان شو. او کشتي کښې کيناستلو، هغې کشتئ مونږ حبشه کښې نجاشي (باچا) ته اورسولو، نو هلته مونږ سره

النَّجَاشِيِّ بِالْحَبْشَةِ فَوَافَقْنَا جَعْفَرَ بْنَ أَبِيْ طَالِبٍ فَأَقَمْنَا مَعَهُ حَتَّى قَدِمْنَا جَمِيْعًا فَوَافَقْنَا النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ افْتَتَحَ خَيْبَرَ وَ كَانَ أُنَاسٌ مِنَ النَّاسِ يَقُوْلُوْنَ لَنَا يَعْنِيْ لِأَهْلِ السَّفِيْنَةِ سَبَقْنَاكُمْ بِالْهِجْرَةِ وَ دَخَلَتْ أَسْمَاءُ بِنْتُ عُمَيْسٍ وَ هِيَ مِمَّنْ قَدِمَ مَعَنَا عَلٰى حَفْصَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَائِرَةً وَقَدْ كَانَتْ هَاجَرَتْ إِلَى النَّجَاشِيِّ فِيْمَنْ هَاجَرَ فَدَخَلَ عُمَرُ عَلٰى حَفْصَةَ وَ أَسْمَاءُ عِنْدَهَا فَقَالَ عُمَرُ حِيْنَ رَأٰى أَسْمَاءَ مَنْ هٰذِهِ قَالَتْ أَسْمَاءُ بِنْتُ عُمَيْسٍ قَالَ عُمَرُ الْحَبَشِيَّةُ هٰذِهِ الْبَحْرِيَّةُ هٰذِهِ قَالَتْ أَسْمَاءُ نَعَمْ قَالَ سَبَقْنَاكُمْ بِالْهِجْرَةِ فَنَحْنُ أَحَقُّ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَغَضِبَتْ وَ قَالَتْ كَلَّا وَاللّٰهِ كُنْتُمْ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُطْعِمُ جَائِعَكُمْ وَ يَعِظُ جَاهِلَكُمْ وَ كُنَّا فِيْ دَارٍ أَوْ فِيْ أَرْضِ الْبُعَدَاءِ الْبُغَضَاءِ بِالْحَبَشَةِ وَ ذٰلِكَ فِي اللّٰهِ وَ فِيْ رَسُوْلِهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ أَيْمُ اللّٰهِ لَا أَطْعَمُ طَعَامًا وَلَا أَشْرَبُ شَرَابًا حَتّٰى أَذْكُرَ مَا قُلْتَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

جعفر بن ابي طالب یوځائے شو. مونږ هغهٔ سره مقیم شو. بیا دَ هغے ځائے نه مونږ ټول (مدینے طرف ته) روان شو، نو حضور صلي اللّٰه علیه وسلّم سره دَ فتح خیبر په ورځ ملاقات اوشو. ځنیے خلقو مونږ اهل کشتي ته دا اووے، چه هجرت کښې مونږ خلق تاسو نه مخکښې شو. اسماء بنت عمیس چه مونږ سره راغلے وه، دَ اُم المؤمنین بي بي حفصے دَ لیدو دَ پاره لاړله، او هغے دَ مهاجرینو ډله کښې نجاشي طرف ته هم هجرت کړے وو. اسماء بي‌بي حفصے سره وه، حضرت عمرؓ بي بي حفصےؓ پله راغے، چه اسماء ئے اولیده، نو تپوس ئے اوکهٔ، دا څوک ده، بي بي حفصےؓ جواب ورکهٔ، اسماء بنت عمیس ده. حضرت عمرؓ اووے، آیا دریاب واله حبشیه اسماءؓ ده (یعني چه هغے حبشه ته هجرت کړے وو، او اوس بره راست په سمندر راغلے ده) اسماءؓ اووے او، نو حضرت عمرؓ اووے، هجرت کښې مونږ په تاسو سبقت اوکهٔ، نو مونږ تاسونه رسول اللّٰه صلي اللّٰه علیه وسلّم ته زیات قریب او حقدار یو. دے آوریدو سره بي بي اسماءؓ له غصه ورغله، او وئیلے، هیڅ کله نه، په خدائے چه تاسو رسول اللّٰه صلي اللّٰه علیه وسلّم سره وئے، چه حضورؐ به ستاسو اوږو (بھوکوں) باندے ډوډي خوړوله، او ناواقفو ته به ئے وعظ و نصیحت کولو، او مونږ دَ غیرو او دشمنانو په ملک کښې وو او دا هر څهٔ (مصائب) دَ اللّٰه او دَ هغهٔ دَ رسول په لاره کښې وو، او په خدائے م دے قسم وي،

وَسَلَّمَ وَ نَحْنُ كُنَّا نُؤْذٰى وَ نُخَافُ وَ
سَأَذْكُرُ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ وَ اَسْأَلُهُ وَاللّٰهِ لَا اَكْذِبُ وَلَا
اَزِيْغُ وَلَا اَزِيْدُ عَلَيْهِ فَلَمَّا جَاءَ النَّبِيُّ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ يَا نَبِيَّ
اللّٰهِ اِنَّ عُمَرَ قَالَ كَذَا وَ كَذَا قَالَ فَمَا
قُلْتِ لَهُ قَالَتْ قُلْتُ لَهُ كَذَا وَ كَذَا قَالَ
لَيْسَ بِاَحَقَّ بِيْ مِنْكُمْ وَلَهُ وَلِاَصْحَابِهٖ
هِجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ وَلَكُمْ اَنْتُمْ اَهْلَ
السَّفِيْنَةِ هِجْرَتَانِ قَالَتْ فَلَقَدْ رَاَيْتُ
اَبَا مُوْسٰى وَ اَصْحَابَ السَّفِيْنَةِ يَأْتُوْنِيْ
اَرْسَالًا يَسْأَلُوْنِيْ عَنْ هٰذَا الْحَدِيْثِ مَا
مِنَ الدُّنْيَا شَيْءٌ هُمْ بِهٖ اَفْرَحُ وَلَا
اَعْظَمُ فِيْ اَنْفُسِهِمْ مِمَّا قَالَ لَهُمُ
النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ
اَبُوْ بُرْدَةَ قَالَتْ اَسْمَاءُ فَلَقَدْ رَاَيْتُ اَبَا
مُوْسٰى وَ اِنَّهُ لَيَسْتَعِيْدُ هٰذَا الْحَدِيْثَ
مِنِّيْ قَالَ اَبُوْ بُرْدَةَ عَنْ اَبِيْ مُوْسٰى
قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
اِنِّيْ لَاَعْرِفُ اَصْوَاتَ رُفْقَةِ الْاَشْعَرِيِّيْنَ
بِالْقُرْاٰنِ حِيْنَ يَدْخُلُوْنَ اللَّيْلَ وَ
اَعْرِفُ مَنَازِلَهُمْ مِنْ اَصْوَاتِهِمْ
بِالْقُرْاٰنِ بِاللَّيْلِ وَ اِنْ كُنْتُ لَمْ اَرَ
مَنَازِلَهُمْ حِيْنَ نَزَلُوْا بِالنَّهَارِ وَ مِنْهُمْ
حَكِيْمٌ اِذَا لَقِيَ الْخَيْلَ اَوْ قَالَ الْعَدُوَّ
قَالَ لَهُمْ اِنَّ اَصْحَابِيْ يَأْمُرُوْنَكُمْ اَنْ

په ما دې خوراک څکاک حرام وي څو
پورې چې زۀ به دا خبره ډير زر رسول
الله صلي الله عليه وسلّم ته بيان کړم، او
ذ حضورؐ نه به تپوس کوم په خدائے چه زۀ به نۀ
دروغ وائيم، نه به کجروي اختياروم، او نۀ به ذ هغې
نه زياته خبره بيانوم. بيا چه حضور صلي الله عليه
وسلّم تشريف راوړلو، نو اسماءؓ عرض اوکۀ، يا رسول
الله، عمرؓ داسې داسې وئيلي دي حضورؐ اوفرمائيل،
تا هغۀ له څۀ جواب ورکړلو هغې اووې، ما هغۀ ته
داسې داسې اووې، حضورؐ ورته اوفرمائيل هغه
ستاسو نه زيات څما قريب او حقدار نۀ دې، څکه چه ذ
هغۀ او ذ هغۀ ذ ملګرو صرف يو ځل هجرت دې،
او اې کشتئ والو، ستاسو دوه ځله هجرت دې، اسماءؓ
وائي، ما ابو موسي او کشتئ واله ليدل، چه ماته به ډلې
ډلې راتلل، او دا حديث به ئې ماته پښتلو، ذ دُنيا هيڅ
څيز ذ هغوي په زړونو کښې ذ دې حديث نه زيات
محبوب نۀ وو. ابو برده وائي. اسماءؓ اوفرمائيل، ابو
موسي به دا حديث ماته بار بار آوريدلو، ابو برده په
واسطه ذ ابو موسي روايت کوي، نبي صلي الله عليه
وسلّم اوفرمائيل، زۀ ذ اشعري دوستانو ذ قرآن ذ لوستو
آواز کله چه هغوي ذ شپې راشي، پيژنم، او زۀ ذ هغوي ذ
شپې ذ قرآن لوستو ذ آواز نه ذ هغوي منزلونه پيژنم، اګر
که ذ ورځې ما ذ هغوي قيام ګاه نۀ وي ليدلې ذ دوي نه
حکيم هم دې، هر کله چه هغه به ذ يو جماعت يا دشمن
(دې کښې ذ راوي شک دې) مقابله کوله، نو هغوي ته
به ئې وئيل، څما دوستان تاسو ته ذ انتظار کولو حکم

تَنْظُرُوْهُمْ.

در کوي.

ف: فرودګاه: قيام ګاه. سفر کښې ذ ايساريدو يا کوزيدو ځائے.

**۲۵۵:** حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرٰهِيْمَ سَمِعَ حَفْصَ بْنَ غِيَاثٍ حَدَّثَنَا يَزِيْدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ أَبِيْ بُرْدَةَ عَنْ أَبِيْ مُوْسٰى قَالَ قَدِمْنَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ أَنْ اِفْتَتَحَ خَيْبَرَ فَقَسَمَ لَنَا وَلَمْ يَقْسِمْ لِأَحَدٍ لَمْ يَشْهَدِ الْفَتْحَ غَيْرَنَا.

**۲۵۵:** اسحاق بن ابراهيم. حفص بن غياث. يزيد بن عبدالله. ابو برده. ابو موسى اشعريؓ نه روايت کوي، هغه فرمائي مونږ نبي صلي الله عليه وسلم له ذ فتح خيبر نه پس راغلو، حضورؐ مال غنيمت کښې مونږ ذ پاره ذ تقسيم کولو په وخت حصه مقرر کړله (حالانکه مونږ غزوه خيبر کښې شريک شوي نۀ وو) او حضورؐ خمونږ نه علاوه چاته هم چه فتح کښې شريک نۀ وو، حصه نۀ وه ورکړے.

**۲۵۶:** حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو حَدَّثَنَا أَبُوْ إِسْحَاقَ عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ قَالَ حَدَّثَنِيْ ثَوْرٌ قَالَ حَدَّثَنِيْ سَالِمٌ مَوْلٰى بْنِ مُطِيْعٍ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ يَقُوْلُ افْتَتَحْنَا خَيْبَرَ وَلَمْ نَغْنَمْ ذَهَبًا وَلَا فِضَّةً إِنَّمَا غَنِمْنَا الْبَقَرَ وَالْإِبِلَ وَالْمَتَاعَ وَالْحَوَائِطَ ثُمَّ انْصَرَفْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ وَادِي الْقُرٰى وَمَعَهُ عَبْدٌ لَهُ يُقَالُ لَهُ مِدْعَمٌ أَهْدَاهُ لَهُ أَحَدُ بَنِي الضِّبَابِ فَبَيْنَمَا هُوَ يَحُطُّ رَحْلَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَهُ سَهْمٌ عَائِرٌ حَتّٰى أَصَابَ ذٰلِكَ الْعَبْدَ فَقَالَ النَّاسُ هَنِيْئًا لَهُ الشَّهَادَةُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

**۲۵۶:** عبدالله بن محمد. معاويه بن عمرو. ابو اسحاق. مالک بن انس. ثور ذ ابن مطيع آزاد کړده غلام سالم. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت کوي، ذ هغۀ بيان دے، مونږ خيبر فتح که، او مونږ ته مال غنيمت کښې سرۀ سپين (سونا، چاندي) رانۀ کړے شو، بلکه غوا ګانے، اوښان، اسباب او باغونه راته حاصل شول. بيا مونږ رسول الله صلي الله عليه وسلم سره وادي القرىٰ ته راغلو، او حضورؐ سره مدعم نومے يو غلام وو، چه ذ بنو الضباب يو سړي حضورؐ ته نذرانه کښې ورکړے وو، هغه ذ حضورؐ کجاوه کوزوله، دے کښې يو داسے غشے هغے طرف ته راغے، چه ذ هغے ذ ويشتونکے پته نۀ وه، او هغه غلام پرے اولګيدلو، خلقو اووے، ذ دۀ دے شهادت مبارک وي، حضور صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل نه، نه، په هغې ذات م دے قسم وي چه د هغۀ په قبضه

بَلٰى وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ اِنَّ الشَّمْلَةَ الَّتِيْ اَصَابَهَا يَوْمَ خَيْبَرَ مِنَ الْمَغَانِمِ لَمْ تُصِبْهَا الْمَقَاسِمُ لَتَشْتَعِلُ عَلَيْهِ نَارًا فَجَاءَ رَجُلٌ حِيْنَ سَمِعَ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشِرَاكٍ اَوْ بِشِرَاكَيْنِ فَقَالَ هٰذَا شَيْءٌ كُنْتُ اَصَبْتُهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شِرَاكٌ اَوْ شِرَاكَيْنِ مِنْ نَّارٍ.

كښې څما ساه ده، كوم څادر چه دهٔ دَ خيبر په ورځ دَ مال غنيمت نه دَ تقسيم نه مخكښې آخستې وو، په دهٔ به دَ اُور شعله جوړه شي، دَ رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم نه دې خبرې آوريدو سره يو سړي يوه يا دوه تسمې راوړلې، راغې، او ونيلې، دا څيز ما اخستې وو. رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم ورته اوفرمائيل، دا تسمې به هم اُور شوې وې (كه دهٔ نه وې واپس كړې).

۲۵۷: حَدَّثَنَا سَعِيْدُ بْنُ اَبِيْ مَرْيَمَ اَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ اَبِيْ جَعْفَرٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ زَيْدٌ عَنْ اَبِيْهِ اَنَّهٗ سَمِعَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِؓ يَقُوْلُ اَمَا وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ لَوْلَا اَنْ اَتْرُكَ اٰخِرَ النَّاسِ بَبَّانًا لَيْسَ لَهُمْ شَيْءٌ مَّا فُتِحَتْ عَلَيَّ قَرْيَةٌ اِلَّا قَسَمْتُهَا كَمَا قَسَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْبَرَ وَلٰكِنِّيْ اَتْرُكُهَا خِزَانَةً لَّهُمْ يَقْتَسِمُوْنَهَا.

۲۵۷: سعيد بن ابو مريم. محمد بن جعفر. زيد. دَ زيد پلار. عمر بن خطابؓ نه روايت كوي، هغه فرمائي، په هغه ذات مې دې قسم وي، چه دَ هغهٔ په قبضه كښې څما ساه ده، كه ما سره دَ راتلونكو نسلونو دَ مفلس كيدو آنديښنه نهٔ وې، نو كوم ملك چه فتح كيدلې، ما به هغه (په مجاهدينو) تقسيم كولو، څنگه چه نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم كړې وو، ليكن زهٔ هغه دَ راتلونكو دَ پاره دَ خزانې په طور پريږدم، چه هغوي به ئې تقسيم كړي.

۲۵۸: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنّٰى حَدَّثَنَا ابْنُ مَهْدِيٍّ عَنْ مَالِكِ بْنِ اَنَسٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ اَسْلَمَ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ عُمَرَؓ قَالَ لَوْلَا اٰخِرُ الْمُسْلِمِيْنَ مَا فُتِحَتْ عَلَيْهِمْ قَرْيَةٌ اِلَّا قَسَمْتُهَا كَمَا قَسَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْبَرَ.

۲۵۸: محمد بن مثنٰي. ابن مهدي. مالك بن انس. زيد بن اسلم. دَ هغهٔ پلار. حضرت عمر بن خطابؓ نه روايت كوي، هغه فرمائي، كه دَ راتلونكو مسلمانانو راسره خيال نهٔ وې، نو كومه علاقه چه فتح كيدله، ما به هغه (په دوي) تقسيمولهٔ څنگه چه رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم خيبر تقسيم كړې وو.

۲۵۹ : حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ سَمِعْتُ الزُّهْرِيَّ وَ سَأَلَهُ اِسْمٰعِيْلُ بْنُ اُمَيَّةَ قَالَ اَخْبَرَنِيْ عَنْبَسَةُ بْنُ سَعِيْدٍ اَنَّ اَبَا هُرَيْرَةَ اَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَهُ قَالَ لَهُ بَعْضُ بَنِيْ سَعِيْدِ بْنِ الْعَاصِ لَا تُعْطِهِ فَقَالَ اَبُوْ هُرَيْرَةَ هٰذَا قَاتِلُ ابْنِ قَوْقَلٍ فَقَالَ وَاعَجَبَاهُ لِوَبْرٍ تَدَلّٰى مِنْ قُدُوْمِ الضَّأْنِ وَ يُذْكَرُ عَنِ الزُّبَيْدِيِّ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ اَخْبَرَنِيْ عَنْبَسَةُ بْنُ سَعِيْدٍ اَنَّهُ سَمِعَ اَبَا هُرَيْرَةَ يُخْبِرُ سَعِيْدَ بْنَ الْعَاصِ قَالَ بَعَثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَبَانًا عَلٰى سَرِيَّةٍ مِّنَ الْمَدِيْنَةِ قِبَلَ نَجْدٍ قَالَ اَبُوْ هُرَيْرَةَ فَقَدِمَ اَبَانُ وَ اَصْحَابُهُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِخَيْبَرَ بَعْدَ مَا افْتَتَحَهَا وَ اِنَّ حُزُمَ خَيْلِهِمْ لَلِيْفٌ قَالَ اَبُوْ هُرَيْرَةَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ لَا تَقْسِمْ لَهُمْ قَالَ اَبَانُ وَ اَنْتَ بِهٰذَا يَا وَبْرُ تَحَدَّرَ مِنْ رَأْسِ ضَأْنٍ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا اَبَانُ اجْلِسْ فَلَمْ يُقْسِمْ لَهُمْ.

۲۵۹ : علي بن عبدالله. سفيان نه روايت دے، کوم وخت چه اسمٰعيل بن اميه زهري نه تپوس اوکهٔ نو هغهٔ داسے سند بيان کهٔ، عنبسه بن سعيد. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت کوي، هغه رسول الله صلي الله عليه وسلَم له راغے، او سوال ئے ترے اوکه، (چه دَ خيبر دَ غنيمت نه ماله هم حصه راکړه) نو دَ سعيد بن عاص يو هلک اووے، يا رسول الله، ابو هريرهؓ له مه ورکوئے، نو ابوهريرهؓ اووے، دهٔ له مهٔ ورکوئے، خکه چه دے دَ ابن قوقل قاتل دےا، نو هغهٔ اووے، تعجب دے، په دے پشو رنګي باندے، چه دَ کوه ضان دَ څوکو نه اوس راکوز شوے دے. زبيدي، زهري، عنبسه بن سعيد، ابوهريره، سعيد بن عاص نه مذکور دي، رسول الله صلي الله عليه وسلَم، ابان مدينے نه نجد طرف ته دَ يو لښکر سردار مقرر کړے اوليږلے وو، ابوهريرهؓ فرمائي، خيبر کښ دَ فتح خيبر نه پس ابان او دَ هغهٔ ملګري رسول الله صلي الله عليه وسلَم له واپس راغلل، او دَ هغوي دَ آسونو پيټے دَ پوستکو وے (يعني بے سروسامان وو) نو ما عرض اوکه، يا رسول الله، دوي له مال غنيمت کښ حصه مه ورکوئے، نو ابان اووے، اے پشو رنګيه، چه دَ کوه ضان دَ چوټو (څوکو) نه اوس راکوز شوے ئے، ته دا خبره کوے، نو نبي صلي الله عليه وسلَم اوفرمائيل، اے ابانه، کينه، او هغوي له ئے حصه ورنهٔ کړله.

ا . ابن قوقل رضي الله عنه صحابي دے، ابان بن سعيد رضي الله عنه اسلام نه وړ راوړے او په همدغه حالت کښے هغهٔ ابن قوقل رضي الله عنه شهيد کړے وو.

۲۶۰ : حَدَّثَنَا مُوْسَى بْنُ

۲۶۰ : موسي بن اسمعيل. عمرو بن يحيي بن

اِسْمَاعِيْلُ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ يَحْيٰى بْنِ سَعِيْدٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ جَدِّيْ اَنَّ اَبَانَ بْنَ سَعِيْدٍ اَقْبَلَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَقَالَ اَبُوْ هُرَيْرَةَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ هٰذَا قَاتِلُ ابْنِ قَوْقَلٍ وَ قَالَ اَبَانُ لِاَبِيْ هُرَيْرَةَ وَاعَجَبًا لَكَ وَبْرٌ تَدَاْدَاَ مِنْ قَدُوْمِ ضَاْنٍ يَنْعٰى عَلَيَّ امْرَاً اَكْرَمَهُ اللّٰهُ بِيَدِيْ وَ مَنَعَهُ اَنْ يُهِيْنَنِيْ بِيَدِهٖ.

سعيد. د هغهٔ نيكه (دادا) ابان بن سعيد نه روايت كوي. هغه نبي صلي الله عليه وسلم له راغے. او حضورﷺ ته ئے سلام او كه. ابوهريرهؓ اووے. يا رسول الله. دے د ابن قوقل قاتل دے. نو ابان ابوهريرهؓ ته اووے. په تا تعجب دے. چه تهٔ يو پشو رنگے ئے. چه د كوه ضان نه راكوز شوے ئے. او ذ داسے سړي ذ وژلو په ما عيب لږوے. چه هغهٔ له الله خما ذ لاسه (شهادت) سره بزرگي وركړله. او زهٔ ذ هغهٔ ذ لاس نه (ذ كفر حالت كښ قتلولو سره) ذ ذليل كيدو نه بچ كړمه[۱].

۱. يعني كچرے ما ابن قوقل رضي الله عنه شهيد كړے دے نو هغه خما د جاهليت زمانه وه او بهر حال شهادت يو مطلوب خبره ده. د الله تعالٰي په بارگاه كښے دے سره عزت حاصليږي كوم چه خما د لاس نه هغهٔ ته حاصل شو. بل طرفته د الله دا فضل هم اوشو چه زه ئے د هغهٔ د لاس نه د كفر په حالت كښے قتل نه كړم كوم چه به خما د اُخروي ذلت سبب جوړ شوے وو. او اوس زه مسلمان يم او په الله او د هغه په رسول باندے ايمان لرم.

**۱۲۶۱**: حَدَّثَنَا يَحْيٰى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ اَنَّ فَاطِمَةَ عَلَيْهَا السَّلَامُ بِنْتَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَرْسَلَتْ اِلٰى اَبِيْ بَكْرٍؓ فَسَاَلَهُ مِيْرَاثَهَا مِنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّا اَفَآءَ اللّٰهُ عَلَيْهِ بِالْمَدِيْنَةِ وَفَدَكَ وَمَا بَقِيَ مِنْ خُمُسِ خَيْبَرَ فَقَالَ اَبُوْبَكْرٍؓ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا نُوْرَثُ مَا تَرَكْنَاهُ صَدَقَةٌ اِنَّمَا يَاْكُلُ اٰلُ

**۱۲۶۱**: يحيٰي بن بكير. ليث. عقيل. ابن شهابؒ. عروه. بي بي عائشےؓ نه روايت كوي. ذ حضور صلي الله عليه وسلّم لور بي بي فاطمےؓ. حضرت ابوبكر صديقؓ له ذ هغهٔ ذ خلافت په زمانه كښ خوك او ليږل. چه مونږ ذ رسول الله صلي الله عليه وسلّم ذ هغے مال چه الله تعالٰي حضورﷺ ته ذ مدينے از فدك نه وركړے وو. او ذ خيبر ذ بقيه خمس. ميراث غواړو. ابوبكرؓ جواب وركهٔ. رسول الله صلي الله عليه وسلّم فرمائيلے دي. خمونږ ذ مال هيڅوك وارث نشته. څهٔ چه مونږ پريږدو. هغه صدقه ده او آل محمد صلي الله عليه وسلّم ذ هغے نه (په قدر ذ ضرورت) خوړلے شي. او زهٔ ذ رسول الله صلي الله عليه وسلّم صدقه كښ ذ حضورﷺ ذ عهد مبارك ذ عمل خلاف بالكل تبديلي نشم كولے. او زهٔ به دے كښ هغه

مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ حَالِهَا الَّتِيْ كَانَ عَلَيْهَا فِيْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَاَعْمَلَنَّ فِيْهَا بِمَا عَمِلَ بِهٖ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَبٰى اَبُوْبَكْرٍ اَنْ يَّدْفَعَ اِلٰى فَاطِمَةَ مِنْهَا شَيْئًا فَوَجَدَتْ فَاطِمَةُ عَلٰى اَبِيْ بَكْرٍ فِيْ ذٰلِكَ فَهَجَرَتْهُ فَلَمْ تُكَلِّمْهُ حَتّٰى تُوُفِّيَتْ وَعَاشَتْ بَعْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِتَّةَ اَشْهُرٍ فَلَمَّا تُوُفِّيَتْ دَفَنَهَا زَوْجُهَا عَلِيٌّ لَيْلًا وَلَمْ يُؤْذِنْ بِهَا اَبَا بَكْرٍ وَ صَلّٰى عَلَيْهَا وَ كَانَ لِعَلِيٍّ مِنَ النَّاسِ وَجْهٌ حَيَاةَ فَاطِمَةَ فَلَمَّا تُوُفِّيَتْ اِسْتَنْكَرَ عَلِيٌّ وُجُوْهَ النَّاسِ فَالْتَمَسَ مُصَالَحَةَ اَبِيْ بَكْرٍ وَ مُبَايَعَتَهٗ وَلَمْ يَكُنْ يُبَايِعُ تِلْكَ الْاَشْهُرَ فَاَرْسَلَ اِلٰى اَبِيْ بَكْرٍ اَنِ ائْتِنَا وَلَا يَاْتِنَا اَحَدٌ مَعَكَ كَرَاهِيَةً لِمَحْضَرِ عُمَرَ فَقَالَ عُمَرُ لَا وَاللّٰهِ لَا تَدْخُلُ عَلَيْهِمْ وَحْدَكَ فَقَالَ اَبُوْ بَكْرٍ وَمَا عَسَيْتُهُمْ اَنْ يَفْعَلُوْا بِيْ وَاللّٰهِ لَاٰتِيَنَّهُمْ فَدَخَلَ عَلَيْهِمْ اَبُوْبَكْرٍ فَتَشَهَّدَ عَلِيٌّ فَقَالَ اِنَّا قَدْ عَرَفْنَا فَضْلَكَ وَمَا اَعْطَاكَ اللّٰهُ وَلَمْ

شان عمل در آمد كوم' څنګه چه به رسول الله صلي الله عليه وسلم كولو' يعني حضرت ابوبكرؓ هغے كښې ذره شان هم بي بي فاطمےؓ ته د حواله كولو نه انكار اوكړلو. بي بي فاطمهؓ دے مسئله كښې د حضرت ابوبكرؓ نه ناراضه شوه' او د خپل وفات پورے ئے حضرت ابوبكرؓ سره خبرے اونه كړلے. بي بي فاطمهؓ د حضورؐ د وفات نه پس شپږ مياشتے ژوندئے وه' كوم وخت چه هغه وفات شوه' نو د هغے خاوند حضرت عليؓ هغه د شپے دفن كړه او حضرت ابوبكرؓ ته ئے د هغا اطلاع هم ورنه كړله' او خپله ئے د هغے د جنازے مونځ هم اوكړلو. د بي بي فاطمےؓ په ژوند كښې حضرت عليؓ ته خلقو كښې وجاهت حاصل وو' كوم وخت چه هغه وفات شوه' نو حضرت عليؓ د خلقو رُخ ګرځيدلے بيامند' نو حضرت ابوبكرؓ ته ئے د صلح او بيعت خواست اوكړ' حضرت عليؓ دے شپږ مياشتو كښې (د بي بي فاطمےؓ د تيمارداري او نورو مشاغلو په بناء) د حضرت ابوبكرؓ نه بيعت نۀ وو كړے' نو حضرت عليؓ' حضرت ابوبكرؓ ته پيغام اوليږلو' چه تاسو مونږ پورے تشريف راوړئے' او بل هيڅوک دے درسره نۀ وي' دائے څكه اووے' چه چرته عمرؓ ورسره رانشي' حضرت عمرؓ ته چه ددے اطلاع اوشوه' نو هغۀ اوفرمائيل' نه' په خدائے چه تاسو به هلته يوازے نۀ ځئے. حضرت ابوبكرؓ ورته اووے' څما د هغه نه دا اميد نشته' چه هغه به ماسره څۀ بدسلوک اوكړي' په خدائے چه زۀ به هغۀ له ورځم' حضرت ابوبكرؓ هغۀ له ورغے' حضرت عليؓ د تشهد نه پس اوفرمائيل' مونږ ستا فضيلت او د الله عطا كړده انعامات په ښۀ شان سره

نَفْسٍ عَلَيْكَ خَيْرًا سَاقَهُ اللّٰهُ عَلَيْكَ وَلٰكِنَّكَ اسْتَبْدَدْتَ عَلَيْنَا بِالْأَمْرِ وَ كُنَّا نَرٰى لِقَرَابَتِنَا مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَصِيْبًا حَتّٰى فَاضَتْ عَيْنَا أَبِيْ بَكْرٍ فَلَمَّا تَكَلَّمَ أَبُوْ بَكْرٍ قَالَ وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ لَقَرَابَةُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَبُّ إِلَيَّ أَنْ أَصِلَ مِنْ قَرَابَتِيْ وَ أَمَّا الَّذِيْ شَجَرَ بَيْنِيْ وَ بَيْنَكُمْ مِنْ هٰذِهِ الْأَمْوَالِ فَلَمْ اٰلُ فِيْهَا عَنِ الْخَيْرِ وَلَمْ أَتْرُكْ أَمْرًا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُهُ إِلَّا صَنَعْتُهُ فَقَالَ عَلِيٌّ لِأَبِيْ بَكْرٍ مَوْعِدُكَ الْعَشِيَّةَ لِبَيْعَةٍ فَلَمَّا صَلّٰى أَبُوْ بَكْرٍ الظُّهْرَ رَقِيَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَتَشَهَّدَ وَ ذَكَرَ شَانَ عَلِيٍّ وَ تَخَلُّفَهُ عَنِ الْبَيْعَةِ وَ عُذْرَهُ بِالَّذِي اعْتَذَرَ إِلَيْهِ ثُمَّ اسْتَغْفَرَ وَ تَشَهَّدَ عَلِيٌّ فَعَظَّمَ حَقَّ أَبِيْ بَكْرٍ وَ حَدَّثَ أَنَّهُ لَمْ يَحْمِلْهُ عَلَى الَّذِيْ صَنَعَهُ نَفَاسَةً عَلٰى أَبِيْ بَكْرٍ وَلَا إِنْكَارًا لِلَّذِيْ فَضَّلَهُ اللّٰهُ بِهٖ وَلٰكِنَّا كُنَّا نَرٰى لَنَا فِيْ هٰذَا الْأَمْرِ نَصِيْبًا فَاسْتَبَدَّ عَلَيْنَا فَوَجَدْنَا

پیژنو. او مونږ ته په دے بنیګړه (یعني خلافت) کښې چه الله تعالی تاسو ته عطا کړے دے، هیڅ حسد نشته، لیکن تاسو دے امر خلافت کښې خود مختار جوړ شونے، حالانکه ذ قرابت رسول په بناء خمونږ دا اُمید وو، چه د هغهٔ مشوره کښې خمونږ هم حصه شته. حضرت ابوبکرؓ دے کلام آوریدو سره په ژړا شولو، او وے فرمائیل په خدائے م دے قسم وي، ذ قرابت رسول رعایت خما په نظر کښې ذ خپل قرابت ذ رعایت نه زیات عزیز دے، او خما او ستاسو مینځ کښې چه ذ حضور صلي الله علیه وسلّم ذ مال باره کښې کوم اختلاف پیدا شوے دے، ما دے کښې هیڅ کله ذ امر خیر نه کوتاهي نهٔ ده کړے. او دے مال کښې چه ما کوم کار حضورؐ په کولو لیدلے دے، هغه م نهٔ دے پریښے. حضرت عليؓ حضرت ابوبکرؓ ته اووے، ذ زوال نه پس تاسو نه ذ بیعت کولو وعده ده. کوم وخت چه ابوبکرؓ ذ ماسپخین مونځ ورکړلو، نو حضرت په منبر کیناستلو، او تشهد نه پس ئے ذ حضرت عليؓ حال، بیعت نه ذ هغهٔ ورستو پاتے کیدل، او هغهٔ چه کوم عذر پیش کړے وو، هغه ئے بیان کړلو. بیا حضرت عليؓ ذ استغفار او تشهد نه پس، ذ حضرت ابوبکرؓ ذ حقوقو عظمت او بزرګي بیان کړه، او وے فرمائیل، خما ذ دے فعل باعث حضرت ابوبکرؓ سره حسد، او الله چه هغه کوم خلافت سره سرفراز کړے دے، ذ هغے نه انکار نهٔ وو. لیکن خمونږ دا خیال وو، چه امر خلافت کښې خمونږ هم څهٔ حصه وه. لیکن حضرت ابوبکرؓ هغے کښې مونږ پریښنودو، مختار جوړ شولو، دے سره خمونږ زړونو کښې څهٔ تکدّر (خیرن والے) وو. نو ټول

فِيْ اَنْفُسِنَا فَسُرَّ بِذٰلِكَ الْمُسْلِمُوْنَ وَ قَالُوْا اَصَبْتَ وَ كَانَ الْمُسْلِمُوْنَ اِلٰى عَلِيٍّ قَرِيْبًا حِيْنَ رَاجَعَ الْاَمْرَ بِالْمَعْرُوْفِ.

مسلمانان دې سره خوشحاله شو، او وئيلې، چه تاسو درست کار اوکړلو. او مسلمانان هغه وخت ذ حضرت عليؓ بيا ملګري شو، کوم وخت چه هغهٔ امر بالمعروف ته رجوع اوکړله.

۲۶۲: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا حَرَمِيٌّ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ اَخْبَرَنِيْ عُمَارَةُ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا فُتِحَتْ خَيْبَرُ قُلْنَا الْاٰنَ نَشْبَعُ مِنَ التَّمَرِ.

۲۶۲: محمد بن بشار. حرمي. شعبه. عماره. عکرمه. بي بي عائشےؓ نه روايت کوي، هغه فرمائي، کوم وخت چه خيبر فتح شو، مونږ اووې، اوس به مونږ په مړي خيته قجورې خورو.

۲۶۳: حَدَّثَنَا الْحَسَنُ حَدَّثَنَا قُرَّةُ بْنُ حَبِيْبٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ دِيْنَارٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنِ ابْنِ عُمَرَؓ قَالَ مَا شَبِعْنَا حَتّٰى فَتَحْنَا خَيْبَرَ.

۲۶۳: حسن. قتاده بن حبيب. عبدالرحمن بن عبدالله بن دينار. ذ عبدالله بن دينار پلار. حضرت ابن عمرؓ نه روايت کوي، هغه فرمائي، ذ فتح خيبر نه مخکښ مونږ په مړه خيته ډوډي نهٔ ده خوړلې.

## بَابٌ ۴۰: اِسْتِعْمَالِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى اَهْلِ خَيْبَرَ.

## باب ۴۰: ذ حضور صلي الله عليه وسلم په اهل خيبر عامل مقررول.

۲۶۴: حَدَّثَنَا اِسْمَاعِيْلُ قَالَ حَدَّثَنِيْ مَالِكٌ عَنْ عَبْدِ الْمَجِيْدِ بْنِ سُهَيْلٍ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ وَ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِسْتَعْمَلَ رَجُلًا عَلٰى خَيْبَرَ فَجَاءَهُ بِتَمَرٍ جَنِيْبٍ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ تَمَرِ خَيْبَرَ هٰكَذَا فَقَالَ لَا وَاللّٰهِ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّا

۲۶۴: اسماعيل. مالک. عبدالمجيد بن سهيل. سعيد بن مسيب. حضرت ابو سعيد خدري او حضرت ابوهريرهؓ نه روايت کوي، رسول الله صلي الله عليه وسلم يو سړے ذ خيبر عامل مقرر کړلو، هغه حضورؐ له اعلي قجورې راوړې، نو رسول الله صلي الله عليه وسلم ذ هغهٔ نه تپوس اوکړ، آيا ذ خيبر ټولې قجورې داسے دي، هغهٔ ورته اووې، نه، يا رسول الله، په خدائے چه ذ معمولي قجورو ذ دوه صاع په بدله کښ ذ دې اعلي قجوره يو صاع او ذ دريو په بدله کښ دوه صاع

لَنَأْخُذُ الصَّاعَ مِنْ هٰذَا بِالصَّاعَيْنِ بِالثَّلَاثَةِ فَقَالَ لَا تَفْعَلْ بِعِ الْجَمْعَ بِالدَّرَاهِمِ ثُمَّ ابْتَعْ بِالدَّرَاهِمِ جَنِيبًا وَ قَالَ عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ عَنْ عَبْدِ الْمَجِيدِ عَنْ سَعِيدٍ أَنَّ أَبَا سَعِيدٍ وَ أَبَا هُرَيْرَةَ حَدَّثَاهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ أَخَا بَنِي عَدِيٍّ مِنَ الْأَنْصَارِ إِلَى خَيْبَرَ فَأَمَّرَهُ عَلَيْهَا وَ عَنْ عَبْدِ الْمَجِيدِ عَنْ أَبِي صَالِحٍ السَّمَّانِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَ أَبِي سَعِيدٍ مِثْلَهُ.

اخلو حضور صلي الله عليه وسلم ورته 'وفرمائيل داسې مکوه (دا سود دی) ملکه ټولې (د صدقې) کجورې په روپو خرڅې کړه' بيا په هغې روپو اعلی کجورې واخله. عبدالعزيز بن محمد. عبدالمجيد. سعيد. ابو سعيد (خدري) او حضرت ابو هريرهؓ نه روايت کوي' هغه فرمائي' نبي صلي الله عليه وسلم د بني عدي ورور انصاري ذ خيبر امير جوړ کړلو' او هلته ئې اوليږلو. عبدالمجيد. ابو صالح سمان. حضرت ابوهريرهؓ او حضرت ابو سعيد نه دغسې روايت کوي.

باب ٤١: مُعَامَلَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْلَ خَيْبَرَ.

باب ٤١: ذ حضور صلي الله عليه وسلم اهل خيبر سره ذ کر کيلې معامله کول.

٢٦٥: حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا جُوَيْرِيَةُ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ أَعْطَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْبَرَ الْيَهُودَ أَنْ يَعْمَلُوهَا وَ يَزْرَعُوهَا وَلَهُمْ شَطْرُ مَا يَخْرُجُ مِنْهَا.

٢٦٥: موسي بن اسماعيل. جويريه. نافع. حضرت عبداللهؓ نه روايت کوي' رسول الله صلي الله عليه وسلم ذ خيبر زمکه يهوديانو ته په دې شرط ورکړه' چه هغوي به هغې کښې کر کيله کوي' او ذ پيداوار نيمه حصه به آخلي.

بَابٌ ٤٢: الشَّاةِ الَّتِي سُمَّتْ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِخَيْبَرَ رَوَاهُ عُرْوَةُ عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

باب ٤٢: خيبر کښې ذ نبي صلي الله عليه وسلم ذ خوراک ذ پاره ذ زهر آلود چيلئې بيان دا عروه په واسطه ذ بي بي عائشېؓ ذ حضور صلي الله عليه وسلم نه روايت کړې دې.

٢٦٦: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ حَدَّثَنِي سَعِيدٌ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ لَمَّا فُتِحَتْ خَيْبَرُ أُهْدِيَتْ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

٢٦٦: عبدالله بن يوسف. ليث. سعيد. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت کوي ذ هغه بيان دې' کوم وخت چه خيبر فتح شو' نو ذ حضورؐ په خدمت کښې زهر آلوده چيلې هديةً پيش کړې

وَسَلَّمَ شَاةٌ فِيهَا سَمٌّ.

شوه.

باب ۴۳: غَزْوَةُ زَيْدِ بْنِ حَارِثَةَ.

باب ۴۳: دَ زید بن حارثه دَ غزا بیان.

۲٦۷: حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ دِينَارٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ اَمَّرَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اُسَامَةَ عَلٰى قَوْمٍ فَطَعَنُوا فِي اِمَارَتِهِ فَقَالَ اِنْ تَطْعَنُوا فِيْ اِمَارَتِهِ فَقَدْ طَعَنْتُمْ فِيْ اِمَارَةِ اَبِيْهِ مِنْ قَبْلِهِ وَ اَيْمُ اللّٰهِ لَقَدْ كَانَ خَلِيْقًا لِّلْاِمَارَةِ وَ اِنْ كَانَ مِنْ اَحَبِّ النَّاسِ اِلَيَّ وَ اِنَّ هٰذَا لَمِنْ اَحَبِّ النَّاسِ اِلَيَّ بَعْدَهُ.

۲٦۷: مسدد. يحيي بن سعيد. سفيان بن سعيد. عبدالله بن دينار. حضرت ابن عمرؓ نه روايت كوي' نبي صلي الله عليه وسلم په قوم (مهاجرينو او انصارو) باندے اسامه (بن زيد) يو جهاد كښ امير اولګولو. خلقو دَ هغه په امير كيدو طعن اوكړو' حضورؐ ورته اوفرمائيل' كه نن تاسو دَ اسامه په اميرئ طعن كوئے' نو مخكښ تاسو دَ هغه دَ پلار په اميرئ هم طعن كړے وو. په خدائے م دے قسم وي' هغه دَ امير كيدو مستحق او اهل وو او هغه ماته دَ ټولو خلقو كښ زيات محبوب وو. او دَ هغه نه پس دا (اسامه) ماته دَ ټولو نه زيات محبوب دے.

ف: طعن. پيغور. اعتراض.

باب ۴۴: عُمْرَةُ الْقَضَاءِ. ذَكَرَ اَنَسٌ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

باب ۴۴: دَ عمرة قضا بيان. دا حضرت انسؓ دَ حضور صلي الله عليه وسلم نه روايت كړے دے.

۲٦۸: حَدَّثَنِي عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ مُوْسٰى عَنْ اِسْرَآئِيْلَ عَنْ اَبِيْ اِسْحٰقَ عَنِ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا اعْتَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ ذِي الْقَعْدَةِ فَاَبٰى اَهْلُ مَكَّةَ اَنْ يَّدَعُوْهُ يَدْخُلُ مَكَّةَ حَتّٰى قَاضَاهُمْ عَلٰى اَنْ يُّقِيْمَ بِهَا ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ فَلَمَّا

۲٦۸: عبيدالله بن موسي. اسرائيل. ابو اسحق. براء نه روايت كوي' رسول الله صلي الله عليه وسلم چه ذيقعده كښ دَ عمرے اراده اوفرمائيله' نو اهل مكه دَ حضورؐ مكه كښ دَ داخليدو نه انكار اوكړلو' تردے چه حضورؐ هغوي سره په دے شرط صلح اوكړه' چه مخے كال له به مكے كښ درے ورځے مقيم وي' هر كله چه مسلمانانو صلح نامه اوليكله' نو هغے كښ نے دا اوليكل' دا دَ محمد صلي الله عليه وسلم صلح نامه ده'

كَتَبُوْا الْكِتَابَ كَتَبُوا هٰذَا مَا قَاضَانَا عَلَيْهِ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوْا لَا نُقِرُّ بِهٰذَا لَوْ نَعْلَمُ اَنَّكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ مَا مَنَعْنٰكَ شَيْئًا وَلٰكِنْ اَنْتَ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ ثُمَّ قَالَ لِعَلِيِّ امْحُ رَسُوْلَ قَالَ عَلِيٌّ لَا وَاللّٰهِ لَا اَمْحُوْكَ اَبَدًا فَاَخَذَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكِتَابَ وَلَيْسَ يُحْسِنُ يَكْتُبُ فَكَتَبَ هٰذَا مَا قَاضٰى مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ لَا يُدْخِلُ مَكَّةَ السِّلَاحَ اِلَّا السَّيْفَ فِي الْقِرَابِ وَ اَنْ لَّا يَخْرُجَ مِنْ اَهْلِهَا بِاَحَدٍ اِنْ اَرَادَ اَنْ يَّتْبَعَهُ وَ اَنْ لَّا يَمْنَعَ مِنْ اَصْحَابِهِ اَحَدًا اِنْ اَرَادَ اَنْ يُّقِيْمَ بِهَا فَلَمَّا دَخَلَهَا وَ مَضَى الْاَجَلُ اَتَوْا عَلِيًّا فَقَالُوْا قُلْ لِصَاحِبِكَ اُخْرُجْ عَنَّا فَقَدْ مَضَى الْاَجَلُ فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَبِعَتْهُ ابْنَةُ حَمْزَةَ تُنَادِيْ يَا عَمِّ فَتَنَاوَلَهَا عَلِيٌّ فَاَخَذَ بِيَدِهَا وَ قَالَ لِفَاطِمَةَ عَلَيْهَا السَّلَامُ دُوْنَكِ ابْنَةَ عَمِّكِ حَمَلَتْهَا فَاخْتَصَمَ فِيْهَا عَلِيٌّ وَ زَيْدٌ وَ جَعْفَرٌ قَالَ عَلِيٌّ اَنَا اَخَذْتُهَا

نو کفارو اووې، مونږ خو ددې اقرار نۀ کوو، که مونږ تاسو ذ الله رسول ګنړلې، نو تاسو به مونږ بالکل نه منع کولې. لیکن تاسو محمد بن عبدالله اولیکئ. حضورؐ اوفرمائیل، زۀ ذ الله رسول هم یم، او محمد بن عبدالله هم یم، بیا حضورؐ، حضرت عليؓ ته اوفرمائیل، لفظ رسول الله (ذ صلح نامې نه) لرې کړه، حضرت عليؓ عرض اوکۀ، په خدائې چه زۀ خو دا هیڅ کله نشم لرې کولې، نو رسول الله صلي الله علیه وسلم هغه صلح نامه واخسته، حالانکه حضورؐ په لیک لوست نه پوهیدلو، بیا هم حضورؐ دا اولیکل، دا ذ محمد بن عبدالله صلح نامه ده، چه حضورؐ به مکې ته سِوا ذ غلاف پوش تورې نه بله وَسله نۀ راوړي، او که اهل مکه کښې څوک حضورؐ سره تلل غواړي، نو حضورؐ به هغه نۀ بوځي، او ذ حضورؐ ذ ملګرو نه که څوک مکه کښې اوسیدل غواړي، نو حضورؐ به ئې نۀ منع کوي (مخې کال له چه) حضورؐ مکې ته تشریف راوړلو، او ذ درې ورځو نیټه پوره شوه، نو کفار حضرت عليؓ له راغلل، ورته ئې اووې، ته خپل ملګري (حضور صلي الله علیه وسلم) ته اووایه چه تشریف واپس یوځي، ځکه چه موده پوره شوې ده، نو نبي صلي الله علیه وسلم ذ مکې نه تشریف یوړلو. ذ حضرت حمزه لور، چاچا، چاچا نعرې وهلو سره حضورؐ پسې روانه شوه، نو هغه حضرت عليؓ واخسته، ذ هغې لاس ئې اونیولو، او بي بي فاطمېؓ ته ئې اووې، ذ خپل ذ ترۀ لور واخله، چه ما دا اخستلې ده (مدینې ته چه اورسیدل، نو) عليؓ، زیدؓ او جعفرؓ جګړه جوړه کړه. حضرت عليؓ اووې، ما ورمبې دا آخستې ده، او دا خما

وَ هِيَ بِنْتُ عَمِّيْ وَ قَالَ جَعْفَرٌ اِبْنَةُ عَمِّيْ وَ خَالَتُهَا تَحْتِيْ وَ قَالَ زَيْدٌ اِبْنَةُ اَخِيْ فَقَضٰى بِهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِخَالَتِهَا وَ قَالَ الْخَالَةُ بِمَنْزِلَةِ الْاُمِّ وَ قَالَ لِعَلِيٍّ اَنْتَ مِنِّيْ وَ اَنَا مِنْكَ وَ قَالَ لِجَعْفَرٍ اَشْبَهْتَ خَلْقِيْ وَ خُلُقِيْ وَ قَالَ لِزَيْدٍ اَنْتَ اَخُوْنَا وَ مَوْلَانَا وَ قَالَ عَلِيٌّ اَلَا تَتَزَوَّجُ بِنْتَ حَمْزَةَ قَالَ اِنَّهَا اِبْنَةُ اَخِيْ مِنَ الرَّضَاعَةِ.

ذ ترهٔ لور ده، جعفرؓ اووے: دا خما ذ ترهٔ لور ده، او د دے ترور خما په نکاح کښې ده. زيد اووے: دا خما ويره (بھتیجی) ده. خو رسول الله صلى الله عليه وسلّم (د حضرت جعفرؓ په حق کښې) ذ هغې د ترور په وجه فيصله اوکړله. او وے فرمائيل: ترور ذ مور په درجه کښې وي. او حضرت عليؓ ته ئې ذ تسلئ په طور اوفرمائيل: ته خما نه او زهٔ له تانه يم. او حضرت جعفر ته ئے اوفرمائيل: ته صورت او سيرت کښې ماسره مشابه ئې. او زيدؓ ته ئې اوفرمائيل: ته خمونږ ورور او محبوب ئې. حضرت عليؓ اووے: تاسو ذ حمزه لور سره نکاح ولے نه کوئې نو حضورؐ اوفرمائيل: هغه خما رضاعي وريره ده.

۲۶۹: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ حَدَّثَنَا سُرَيْجٌ حَدَّثَنَا فُلَيْحٌ ح وَ حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ الْحَسَنِ بْنِ اِبْرٰهِيْمَ قَالَ حَدَّثَنِيْ اَبِيْ حَدَّثَنَا فُلَيْحُ بْنُ سُلَيْمَانَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَؓ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ مُعْتَمِرًا فَحَالَ كُفَّارُ قُرَيْشٍ بَيْنَهُ وَ بَيْنَ الْبَيْتِ فَنَحَرَ هَدْيَهُ وَ حَلَقَ رَاْسَهُ بِالْحُدَيْبِيَةِ وَ قَاضَاهُمْ عَلٰى اَنْ يَّعْتَمِرَ الْعَامَ الْمُقْبِلَ وَلَا يَحْمِلَ سَلَاحًا اِلَّا سُيُوْفًا وَلَا يُقِيْمُ بِهَا اِلَّا مَا اَحَبُّوْا فَاعْتَمَرَ مِنَ الْعَامِ الْمُقْبِلِ فَدَخَلَهَا كَمَا كَانَ صَالَحَهُمْ فَلَمَّا اَنْ اَقَامَ بِهَا ثَلَاثًا اَمَرُوْهُ اَنْ يَّخْرُجَ فَخَرَجَ.

۲۶۹: محمد بن رافع. سريج. فليح (دوئيم سند) محمد بن حسين بن ابراهيم. ذ هغهٔ پلار. فليح بن سليمان. نافع. ابن عمرؓ نه روايت کوي، رسول الله صلي الله عليه وسلّم ذ عمرے په قصد روان شو. نو کفار قريش ذ حضورؐ بيت الله ته په راتلو آړې راواخسته، حضورؐ حديبيه کښې قرباني اوکړه. د سر ويښتهٔ ئې اوخريل، او هغوي سره ئې په دے شرط صلح اوکړه، چه تاسو به مخے کال له عمره ادا کړئې. او سوا د غلاف پوش تورو نه به بله څهٔ وسله نهٔ راوړئې. او د کفارو د خواهش مطابق به مکه کښې (ذ مقرره نيټے پورے) ايسار يې، نو حضورؐ مخے کال له عمره ادا کړه. او مکه کښې د صلح مطابق حضورؐ داخل شولو. څه وخت چه حضور صلي الله عليه وسلّم هلته درے ورځے تيرے کړے. کفارو حضورؐ ته ذ مکے نه د وتلو د پاره اووے، نو حضورؐ لاړلو.

۲۷۰: حَدَّثَنِيْ عُثْمَانُ بْنُ أَبِيْ شَيْبَةَ حَدَّثَنَا جَرِيْرٌ عَنْ مَنْصُوْرٍ عَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ دَخَلْتُ أَنَا وَ عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ الْمَسْجِدَ فَإِذَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ جَالِسٌ إِلٰى حُجْرَةِ عَائِشَةَ ثُمَّ قَالَ كَمْ اِعْتَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَرْبَعًا سَمِعْنَا اسْتِنَانَ عَائِشَةَ قَالَ عُرْوَةُ يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِيْنَ أَلَا تَسْمَعِيْنَ مَا يَقُوْلُ أَبُوْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِعْتَمَرَ أَرْبَعَ عُمَرٍ فَقَالَتْ مَا اعْتَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُمْرَةً إِلَّا وَهُوَ شَاهِدُهُ وَمَا اعْتَمَرَ فِيْ رَجَبَ قَطُّ.

۲۷۰: عثمان بن ابي شيبه. جرير. منصور. مجاهد وائي' زهٔ او عروه بن زبير مسجد (نبوي) ته اورسيدو' هلته عبدالله بن عمرؓ ذ بي بي عائشےؓ حجرے سره قريب ناست وو' بيا عروه ذ هغهٔ نه تپوس اوکهٔ' رسول الله صلي الله عليه وسلّم څومره عُمرے کړے وے. ابن عمرؓ جواب ورکهٔ' څلور' بيا مونږ ذ بي بي عائشےؓ ذ مسواک کولو آواز واوريدلو' نو عروه اووے' اے اُم المؤمنين' تاسو ذ نو عبدالرحمٰن خبره واورئ ريده' چه حضور صلي الله عليه وسلّم څلور عمرے کړے دي. بي بي عائشےؓ اوفرمائيل (صحيح ده خکه چه) نبي صلي الله عليه وسلّم چه کله هم عُمره کړے ده' نو دے هغے کښ موجود وو (او) حضورؐ رجب کښ هيڅ عمره نهٔ ده کړے.

۲۷۱: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ إِسْمَاعِيْلَ بْنِ أَبِيْ خَالِدٍ سَمِعَ ابْنَ أَبِيْ أَوْفٰى يَقُوْلُ لَمَّا اعْتَمَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَتَرْنَاهُ مِنْ غِلْمَانِ الْمُشْرِكِيْنَ وَ مِنْهُمْ أَنْ يُّؤْذُوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

۲۷۱: علي بن عبدالله. سفيان. اسماعيل بن ابي خالد. ابن ابي اوفي نه روايت کوي' د هغهٔ بيان دے' چه کله به رسول الله صلي الله عليه وسلّم عمره کوله' نو مونږ به ذ نبي صلي الله عليه وسلّم' ذ مشرکانو او ذ هغوي ذ بچو د ايذا نه ذ حضورؐ حفاظت کولو.

۲۷۲: سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ هُوَ ابْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوْبَ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍؓ قَالَ قَدِمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ أَصْحَابُهُ فَقَالَ الْمُشْرِكُوْنَ إِنَّهُ يَقْدُمُ عَلَيْكُمْ وَفْدٌ

۲۷۲: سليمان بن حرب. حماد بن زيد. ايوب. سعيد بن جبير. حضرت ابن عباسؓ نه روايت کوي' ذ هغهٔ بيان دے' کوم وخت چه حضورؐ او ذ هغوي اصحابؓ مکے ته راغلل' مشرکانو خپلو کښ اووے' تاسو له هغه جماعت (مسلمانان) راځي' چه ذ يثرب (مدينے) تبے کمزورے کړے دي' نو حضور صلي الله

وَمَنَعَهُمْ حُمّٰى يَثْرِبَ وَ اَمَرَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يَرْمُلُوا الْاَشْوَاطَ الثَّلٰثَةَ وَ اَنْ يَمْشُوْا مَا بَيْنَ الرُّكْنَيْنِ وَلَمْ يَمْنَعْهُ اَنْ يَّاْمُرَهُمْ اَنْ يَّرْمُلُوا الْاَشْوَاطَ كُلَّهَا اِلَّا الْاِبْقَآءُ عَلَيْهِمْ وَ زَادَ ابْنُ سَلَمَةَ عَنْ اَيُّوْبَ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَامِهِ الَّذِيْ اسْتَاْمَنَ قَالَ ارْمُلُوْا لِيَرَى الْمُشْرِكُوْنَ قُوَّتَهُمْ وَالْمُشْرِكُوْنَ مِنْ قِبَلِ قُعَيْقِعَانِ.

عليه وسلّم مسلمانانو ته (طواف كښې) ورمېے درے چكرو كښې ډ ايغ نيغ تلو حكم وركړلو. او ډ دواړو ركنونو مينځ كښې په رو (مزه) تلو. او ټولو چكرونو كښې ډ ايغ نيغ تلو حكم حضورؐ په مسلمانانو صرف ډ شفقت او نرمي كولو په وجه ورنه كړلو. ابن سلمه، ايوب، سعيد بن جبير، ابن عباس روايت كښې دا زيادتي هم شته، چه هر كله نبي صلي الله عليه وسلّم ډ صلح په كال (مكے ته) تشريف راوړلو، نو حضورؐ (مسلمانانو ته) اوفرمائيل، ايغ نيغ ځئ، چه مشركان ډ مسلمانانو طاقت اووينې، اومشركينو ډ كوه قعيقعان ډ جانب نه (په ولاړه) كتل.

۲۷۳: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدٌ عَنْ سُفْيَانَ بْنِ عُيَيْنَةَ عَنْ عَمْرٍو عَنْ عَطَآءٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ اِنَّمَا سَعَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْبَيْتِ وَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ لِيُرِيَ الْمُشْرِكِيْنَ قُوَّتَهٗ.

۲۷۳: محمد. سفيان بن عيينه. عمرو. عطاء. ابن عباسؓ نه روايت كوي، هغه فرمائي رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم ډ بيت اللّٰه طواف كښې ډ صفا او مروه مينځ كښې كافرو ته خپل قوت ښودلو په غرض منډه وهله.

۲۷۴: حَدَّثَنَا مُوْسَى ابْنُ اِسْمَاعِيْلَ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ حَدَّثَنَا اَيُّوْبُ عَنْ عِكْرَمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ تَزَوَّجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَيْمُوْنَةَ وَهُوَ مُحْرِمٌ وَ بَنٰى بِهَا وَهُوَ حَلَالٌ وَ مَاتَتْ بِسَرِفَ وَ زَادَ ابْنُ اِسْحٰقَ حَدَّثَنِي ابْنُ اَبِيْ نَجِيْحٍ وَ اَبَانُ بْنُ صَالِحٍ عَنْ عَطَآءٍ وَ مُجَاهِدٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ تَزَوَّجَ النَّبِيُّ

۲۷۴: موسي بن اسمٰعيل. وهيب. ايوب. عكرمه. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، ډ هغه بيان دے. حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم بي بي ميمونےؓ سره ډ احرام په حالت كښې نكاح اوكړله، او ډ حلال كيدو نه پس ئے ورسره خلوت اوكړلو، او بي بي ميمونهؓ مقام سرف كښې وفات شوه. ابن اسحاق، ابن ابي نجيح، ابان بن صالح، عطاء، مجاهد، حضرت ابن عباسؓ دومره زياتے (يعني زيات الفاظو) سره روايت كړے دے، چه نبي صلي اللّٰه عليه

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَيْمُوْنَةَ فِيْ عُمْرَةِ الْقَضَآءِ.

وسلّم عمره قضاء کښې بي بي ميمونهؓ سره نکاح اوکړله.

## بـاب ۴۵: غَـــزْوَةِ مُؤْتَةَ مِنْ اَرْضِ الشَّامِ.

## بـاب ۴۵: دَ غـزوه مـوته بيان (ملک شام کښې).

۲۷۵: حَدَّثَنَا اَحْمَدُ حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ عَنْ عَمْرٍو عَنْ اَبِيْ هِلَالٍ قَالَ وَ اَخْبَرَنِيْ نَافِعٌ اَنَّ ابْنَ عُمَرَ اَخْبَرَهُ اَنَّهُ وَقَفَ عَلٰى جَعْفَرٍ يَوْمَئِذٍ وَهُوَ قَتِيْلٌ فَعَدَدْتُ بِهٖ خَمْسِيْنَ بَيْنَ طَعْنَةٍ وَ ضَرْبَةٍ لَيْسَ مِنْهَا شَيْءٌ فِيْ دُبُرِهٖ يَعْنِيْ فِيْ ظَهْرِهٖ اَخْبَرَنَا اَحْمَدُ بْنُ اَبِيْ بَكْرٍ حَدَّثَنَا مُغِيْرَةُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ اَمَّرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَزْوَةِ مُؤْتَةَ زَيْدَ بْنَ حَارِثَةَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنْ قُتِلَ زَيْدٌ فَجَعْفَرٌ وَ اِنْ قُتِلَ جَعْفَرٌ فَعَبْدُ اللّٰهِ بْنُ رَوَاحَةَ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ كُنْتُ فِيْهِمْ فِيْ تِلْكَ الْغَزْوَةِ فَالْتَمَسْنَا جَعْفَرَ بْنَ اَبِيْ طَالِبٍ فَوَجَدْنَاهُ فِي الْقَتْلٰى وَ وَجَدْنَا مَا فِيْ جَسَدِهٖ بِضْعًا وَّ تِسْعِيْنَ مِنْ طَعْنَةٍ وَ رَمْيَةٍ.

۲۷۵: احمد. ابن وهب. عمرو. ابن ابي هلال. نافع. حضرت ابن عمرؓ نه روايت کوي، دَ هغهٔ بيان دے، زهٔ غزوه موته نه پس دَ حضرت جعفرؓ دَ شهادت نه پس هغه سره اودريدم، ما دَ هغهٔ په جسم پنځوس زخمونه دَ نيزو او تورو اوليدل، دے کښې يو زخم هم دَ هغهٔ په شا، نهٔ وو. احمد بن ابوبکر، مغيره بن عبدالرحمٰن، عبداللّٰه بن سعد، نافع، حضرت عبداللّٰه بن عمرؓ نه روايت کوي، دَ هغهٔ بيان دے، رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم غزوه موته کښې زيد بن حارثهؓ سپه سالار مقرر کړلو. بيا حضورؐ اوفرمائيل، که دے شهيد شي، نو بيا سپه سالار جعفر دے، او که دے هم شهيد شي، نو عبداللّٰه بن رواحه دے. حضرت عبداللّٰه بن عمرؓ وائي، زهٔ دے غزا کښې شريک ووم (دَ جنګ په ختميدو) مونږ حضرت جعفرؓ تلاش کهٔ، نو هغه شهيدانو کښې بيامندے شو. او مونږ دَ هغهٔ په جسم څهٔ دَ پاسه نوے (۹۰) زخمونه دَ غشو او نيزو اوليدل.

۲۷۶: حَدَّثَنَا اَحْمَدُ بْنُ وَاقِدٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ اَيُّوْبَ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ هِلَالٍ عَنْ

۲۷۶: احمد بن واقد. حماد بن زيد. ايوب. حميد بن هلال. حضرت انسؓ نه روايت کوي، نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم دَ زيدؓ جعفر او ابن رواحهؓ دَ شهادت خبر

انس أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَى زَيْدًا وَ جَعْفَرًا وَابْنَ رَوَاحَةَ لِلنَّاسِ قَبْلَ أَنْ يَأْتِيَهُمْ خَبَرُهُمْ فَقَالَ أَخَذَ الرَّايَةَ زَيْدٌ فَأُصِيبَ وَ عَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ حَتَّى أَخَذَ الرَّايَةَ سَيْفٌ مِنْ سُيُوفِ اللَّهِ حَتَّى فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ.

خلقوته واورولو، حالانكه اوسه پورے خبر لا حضورؐ ته نه وو راغلے، حضورؐ اوفرمائيل: (اول) زيدؓ جنډه سنباله كړه، او هغه شهيد شو، بيا جعفرؓ سنباله كړه، هغه هم شهيد شو، بيا عبدالله بن رواحه جنډه اوچته كړه، هغه هم شهيد كړے شو، ذ حضور صلي الله عليه وسلم ذ سترګو مبارکو نه دے ونيلو سره اوښكے جاري وے، تردے چه ذ الله يو توره (يعني خالد بن وليد) جنډه واخسته، حتي چه الله په (عيسايانو باندے) ورته فتح عنايت كړله[1].

[1] حضور صلي الله عليه وسلم په دے غزا كښے شريک نه وو او دا ټول اطلاعات ئے په مدينے كښے ناستے سره صحابهؓ ته وركول.

۲۷۷: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ قَالَ سَمِعْتُ يَحْيَى بْنَ سَعِيدٍ قَالَ أَخْبَرَتْنِي عَمْرَةُ قَالَتْ سَمِعْتُ عَائِشَةَ تَقُولُ لَمَّا جَاءَ قَتْلُ ابْنِ حَارِثَةَ وَ جَعْفَرِ بْنِ أَبِي طَالِبٍ وَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَوَاحَةَ جَلَسَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْرَفُ فِيهِ الْحُزْنُ قَالَتْ عَائِشَةُ وَ أَنَا أَطَّلِعُ مِنْ صَائِرِ الْبَابِ تَعْنِي مِنْ شَقِّ الْبَابِ فَأَتَاهُ رَجُلٌ فَقَالَ أَيْ رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ نِسَاءَ جَعْفَرٍ قَالَ وَ ذَكَرَ بُكَاءَهُنَّ فَأَمَرَهُ أَنْ يَنْهَاهُنَّ قَالَ فَذَهَبَ الرَّجُلُ ثُمَّ أَتَى فَقَالَ قَدْ نَهَيْتُهُنَّ وَ ذَكَرَ أَنَّهُ لَمْ يُطِعْنَهُ قَالَ فَأَمَرَ أَيْضًا فَذَهَبَ ثُمَّ أَتَى فَقَالَ وَاللَّهِ لَقَدْ غَلَبْتَنَا فَزَعَمَتْ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

۲۷۷: قتيبه. عبدالوهاب. يحيي بن سعيد. عمره. بي بي عائشےؓ نه روايت كوي ذ هغے بيان دے، كوم وخت چه ذ (زيدؓ) بن حارثه، جعفر بن ابو طالبؓ او عبدالله بن رواحه ذ شهادت خبر راغلے، نو رسول الله صلي الله عليه وسلم جمات كښې تشريف فرما شو، او په حضورؐ ذ خفګان آثار ښامندے شو. بي بي عائشےؓ فرمائي ما ذ دروازے ذ چوندونونه كتل، يو سړے راغلے، او هغه اووے، يا رسول الله، ذ جعفرؓ په كور كښې ښځے ژاړي، حضورؐ اوفرمائيل، هغوي منع كړه، هغه سړے ورغے. بيا راغلے، وئيلے ئے، ما هغوي منع كړے، خو هغوي اونه منل، حضورؐ بيا ذ منع كولو حكم اوكړلو، هغه لاړ او بيا راغے، وئيلے، په خدائے چه هغوي خو نه مني، بلكه په مونږ غالبے شوے دي. بي بي عائشهؓ وائي: رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل، بيا ذ هغوي

قَالَ فَاحْثُ فِيْ اَفْوَاهِهِنَّ مِنَ التُّرَابِ قَالَتْ عَائِشَةُ فَقُلْتُ اَرْغَمَ اللّٰهُ اَنْفَكَ فَوَاللّٰهِ مَا اَنْتَ تَفْعَلُ وَمَا تَرَكْتَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْعَنَاءِ.

مخ په خاورو ككړ كړه بي بي عائشهؓ وائي' ما هغهٔ ته اووې' الله دې ستا پوزه خاک آلوده كړي' ته خو نهٔ دا كولے شے' چه هغوي ذ ژړا نه منع كړے او نهٔ رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم (په آرام) پريږدې.

۲۷۸ : حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ اَبِيْ بَكْرٍ حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ عَلِيٍّ عَنْ اِسْمَاعِيْلَ بْنِ اَبِيْ خَالِدٍ عَنْ عَامِرٍ قَالَ كَانَ ابْنُ عُمَرَ اِذَا حَيَّا ابْنَ جَعْفَرٍ قَالَ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا ابْنَ ذِي الْجَنَاحَيْنِ.

۲۷۸ : محمد بن ابي بكر. عمر بن علي. اسماعيل بن ابو خالد. عامر نه روايت كوي' حضرت ابن عمرؓ به كله ذ حضرت جعفر فرزند ته سلام كولو' نو وئيل به نے' السلام عليک يا ابن ذي الجناحين (يعني اے ذ دوو وزرو واله څويه' په تا دې سلام وي).

۲۷۹ : حَدَّثَنَا اَبُوْ نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ اِسْمَاعِيْلَ عَنْ قَيْسِ بْنِ اَبِيْ حَازِمٍ قَالَ سَمِعْتُ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيْدِ يَقُوْلُ لَقَدِ انْقَطَعَتْ فِيْ يَدِيْ يَوْمَ مُؤْتَةَ تِسْعَةُ اَسْيَافٍ فَمَا بَقِيَ فِيْ يَدِيْ اِلَّا صَفِيْحَةٌ يَمَانِيَةٌ.

۲۷۹ : ابو نعيم. سفيان. اسماعيل. قيس بن ابو حازم. حضرت خالد بن وليد نه روايت كوي' هغهٔ بيان اوكهٔ' غزوه موته كښې خما ذ لاس نه (په ګزارونو ګزارونو) نهه توري ماتے شوے وے' او خما يميني پلنه توره خما په لاس كښې باقي پاتے شوه.

۲۸۰ : حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنّٰى حَدَّثَنَا يَحْيٰى عَنْ اِسْمَاعِيْلَ قَالَ حَدَّثَنِيْ قَيْسٌ قَالَ سَمِعْتُ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيْدِ يَقُوْلُ لَقَدْ دُقَّ فِيْ يَدِيْ يَوْمَ مُؤْتَةَ تِسْعَةُ اَسْيَافٍ وَ صَبَرَتْ فِيْ يَدِيْ صَفِيْحَةٌ لِيْ يَمَانِيَةٌ.

۲۸۰ : محمد بن مثني. يحيي. اسمعيل. قيس. حضرت خالد بن وليد نه روايت كوي ذ هغهٔ بيان دې' جنګ موته كښې خما ذ لاس نه نهه تورے (جنګ كولو كښې) ماتے شوے. او خما يمني پلنه توره خما لاس كښې باقي پاتے شوه.

۲۸۱ : حَدَّثَنِيْ عِمْرَانُ بْنُ مَيْسَرَةَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ عَنْ حُصَيْنٍ عَنْ عَامِرٍ عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ قَالَ اُغْمِيَ عَلٰى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ

۲۸۱ : عمران بن ميسره. محمد بن فضيل. حصين. عامر. نعمان بن بشير نه روايت كوي' عبدالله بن رواحه يوه ورځ بيهوشه شو' ذ هغهٔ خور ونيلے' خما ذ غر په شان وروره' هائے داسے' هائے داسے' ونيلو سره

رَوَاحَةَ فَجَعَلَتْ اُخْتُهُ تَبْكِيْ وَاجَبَلَاهُ وَاكَذَا وَاكَذَا تُعَدِّدُ عَلَيْهِ فَقَالَ حِيْنَ اَفَاقَ مَا قُلْتِ شَيْئًا اِلَّا قِيْلَ لِيْ اَنْتَ كَذَالِكَ.

ئے ژړل يعني دَ هغهٔ اوصاف ئے بيانول، کوم وخت چه هغهٔ ته هوش راغے، نو خور ته ئے اووے، چه تا به کومه خبره کوله، نو ما نه به تپوس کولے شو، چه ته (واقعي) داسے وے ؟[1].

۱. په عبدالله بن رواحه رضي الله عنه باندے د بے هوشئ او خنکدن غوندے کيفيت طاري شوے وو. د هغوئ دَ کور دَ خلقو خيال راغے چه څه حادثه پيښه شوه او د هغوئ خور په ځړا شوه. نو يوے فرشتے د هغوئ نه دا سوال کړے وو. ګويا د هغوئ کيفيت دے حال ته رسيدلے وو چه د عالم غيب بعضے څيزونه ورته په نظر راغلي وو.

۲۸۲ : حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا عَبْثَرٌ عَنْ حُصَيْنٍ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ قَالَ اُغْمِيَ عَلٰى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ رَوَاحَةَ بِهٰذَا فَلَمَّا مَاتَ مَاتَ لَمْ تَبْكِ عَلَيْهِ.

۲۸۲ : قتيبه. عبثر. حصين. نعمان بن بشيرؓ نه روايت دے، عبدالله بن رواحهؓ چه بيهوشه شو، او دَ ورمبي حديث په شان ئے روايت بيان کهٔ (خو دومره په کښې زياتے وو) چه هر کله عبدالله وفات شو، نو دَ هغهٔ خور په هغهٔ بيخي اونهٔ ژړل.

## باب ۴۶ : بَعْثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ اِلَى الْحُرُقَاتِ مِنْ جُهَيْنَةَ.

## باب ۴۶ : دَ قبيلهٔ جهينه قوم حرقات طرف ته دَ نبي صلي الله عليه وسلّم اسامه بن زيد ليږل.

۲۸۳ : حَدَّثَنِيْ عَمْرُو بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ اَخْبَرَنَا حُصَيْنٌ اَخْبَرَنَا اَبُوْ ظِبْيَانَ قَالَ سَمِعْتُ اُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا يَقُوْلُ بَعَثَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلَى الْحُرَقَةِ فَصَبَّحْنَا الْقَوْمَ فَهَزَمْنَاهُمْ وَلَحِقْتُ اَنَا وَرَجُلٌ مِنَ الْاَنْصَارِ رَجُلًا مِنْهُمْ فَلَمَّا غَشِيْنَاهُ قَالَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ فَكَفَّ الْاَنْصَارِيُّ فَطَعَنْتُهُ بِرُمْحِيْ حَتّٰى قَتَلْتُهُ فَلَمَّا قَدِمْنَا بَلَغَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

۲۸۳ : عمرو بن محمد. هشيم. حصين. ابو ظبيان. حضرت اسامه بن زيدؓ نه روايت کوي، هغه فرمائي، مونږ رسول الله صلي الله عليه وسلّم حرقه جانب ته اوليږلو. مونږ سحر کښې په هغے قوم حمله اوکړه او هغوئ له مو شکست ورکه. زهٔ او يو انصاري دَ هغے قوم يو سړي پسے اولګيدلو. کوم وخت چه مونږ هغه ګير کړلو، نو هغه اووے: لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰه: هغے انصاري خو لاس اونيولو، خو ما هغه په نيزه اووهلو، او قتل م کهٔ، کوم وخت چه مونږ واپس راغلو، نبي صلي الله عليه وسلّم ته دا خبره معلومه شوه، نو وے فرمائيل، اسامه تا، دَ: لَا اِلٰـهَ اِلَّا الله وئيلو نه پس هم هغه قتل کهٔ، ما

وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا أُسَامَةُ أَقَتَلْتَهُ بَعْدَ مَا قَالَ لَآ إِلٰـهَ إِلَّا اللّٰهُ قُلْتُ كَانَ مُتَعَوِّذًا فَمَا زَالَ يُكَرِّرُهَا حَتّٰى تَمَنَّيْتُ أَنِّيْ لَمْ أَكُنْ أَسْلَمْتُ قَبْلَ ذٰلِكَ الْيَوْمِ.

عرض او کړ، هغه د خان خلاصولو د پاره داسې وئيلې وو، خو حضورﷺ برابر دغه فرمائيل حتې چه ما آرزو او کړه، چه کاش د نن نه مخکښې ما اسلام نه وې راوړې[1].

۱. ددې مطلب دا نهٔ دې چه هغه واقعي ددې نه مخکښې ژوند کښې کفر خوښولو، بلکه صرف په دغه واقعه باندې د انتهائي حسرت او افسوس اظهار مقصود وو يعني دا غلطي دومره غظيمه وه چه د هغوی په زړه کښې دا تمنا پيدا شوه چه کاش زه د نن نه مخکښې مسلمان نه وې او خما نه دا غلطي نه وې شوې. او چه نن م اسلام راوړې وې نو خما ټول مخکني گناهونه به رژيدلي وو، ولې چه اسلام د کفر د ژوند ټول گناهونه ختموي. بهرحال ددې جملې نه صرف د حسرت او افسوس اظهار مقصود وو او دا قسمه جملې په داسې موقعو کښې د استعمالولو عام دستور دې.

۲۸۴ : حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيْدٍ حَدَّثَنَا حَاتِمٌ عَنْ يَزِيْدَ بْنِ أَبِيْ عُبَيْدٍ قَالَ سَمِعْتُ سَلَمَةَ بْنَ الْأَكْوَعِ يَقُوْلُ غَزَوْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَ غَزَوَاتٍ وَ خَرَجْتُ فِيْمَا يَبْعَثُ مِنَ الْبُعُوْثِ تِسْعَ غَزَوَاتٍ مَرَّةً عَلَيْنَا أَبُوْ بَكْرٍ وَ مَرَّةً عَلَيْنَا أُسَامَةُ وَ قَالَ عُمَرُ بْنُ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ حَدَّثَنَا أَبِيْ عَنْ يَزِيْدَ بْنِ أَبِيْ عُبَيْدٍ قَالَ سَمِعْتُ سَلَمَةَ يَقُوْلُ غَزَوْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَ غَزَوَاتٍ وَّ خَرَجْتُ فِيْمَا يَبْعَثُ مِنَ الْبَعْثِ تِسْعَ غَزَوَاتٍ عَلَيْنَا مَرَّةً أَبُوْ بَكْرٍ وَ مَرَّةً أُسَامَةُ.

۲۸۴ : قتيبه بن سعيد. حاتم. يزيد بن ابي عبيد. سلمه بن اکوعؓ نه روايت کوي، د هغهٔ بيان دې، زهٔ حضورﷺ سره اوه غزاگانو کښې شريک ووم، او نور لښکر چه حضورﷺ به (د ځا په سپه سالاري کښې) ليږلو، هغې کښې نهه کښې زهٔ شريک ووم. يو ځل خمونږ سپه سالار ابوبکرؓ وو، او يو ځل اسامهؓ. عمر بن حفص بن غياث، د هغهٔ پلار، يزيد بن ابي عبيد، سلمه بن اکوع نه روايت کوي، چه حضورﷺ سره اوه غزاگانو کښې شريک شوم، او نورې لښکرې چه به حضورﷺ ليږلې، هغې کښې نهه غزاگانو کښې زهٔ لاړم. يو ځل خمونږ امير، ابوبکرؓ وو، او يو ځل اسامهؓ.

۲۸۵ : حَدَّثَنَا أَبُوْ عَاصِمٍ الضَّحَّاكُ بْنُ مَخْلَدٍ حَدَّثَنَا يَزِيْدُ عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ غَزَوْتُ مَعَ

۲۸۵ : ابو عاصم ضحاک بن مخلد. يزيد. سلمه بن اکوعؓ نه روايت کوي، هغه فرمائي، زهٔ حضورﷺ سره اوه غزاگانو کښې شريک شوم، او زه ابن

النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَ غَزَوَاتٍ وَّ غَزَوْتُ مَعَ ابْنِ حَارِثَةَ اسْتَعْمَلَهُ عَلَيْنَا.

حارثه سره هغې غزا کښې شریک ووم، چه هغې کښې حضور صلي اللّٰه علیه وسلّم، هغه خمونږ امیر جوړ کړے وو.

۲۸۶: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ مَسْعَدَةَ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي عُبَيْدٍ عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ غَزَوْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَ غَزَوَاتٍ فَذَكَرَ خَيْبَرَ وَالْحُدَيْبِيَةَ وَ يَوْمَ حُنَيْنٍ وَ يَوْمَ الْقَرَدِ قَالَ يَزِيدُ وَ نَسِيتُ بَقِيَّتَهُمْ.

۲۸۶: محمد بن عبداللّٰه. حماد بن مسعده. یزید بن ابو عبید. سلمه بن اکوعؓ نه روایت کوي، د هغه بیان دے، زهٔ حضور صلي اللّٰه علیه وسلّم سره اُوه غزاګانو کښې شریک شوے یم، بیا هغه د خیبر، حدیبیه، حنین او جنګِ قرد ذکر او کړهٔ. یزید اووے. باقي غزاګانے ما نه هیرے شوے.

باب۴۷: غَزْوَةِ الْفَتْحِ وَمَا بَعَثَ حَاطِبُ بْنُ أَبِي بَلْتَعَةَ إِلَى أَهْلِ مَكَّةَ يُخْبِرُهُمْ بِغَزْوِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

باب۴۷: د مکے د فتح د غزا بیان او د حاطب بن ابي بلتعه اهل مکه ته د حضور صلي اللّٰه علیه وسلّم د لشکر کشي اطلاع.

۲۸۷: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ قَالَ أَخْبَرَنِي الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدٍ أَنَّهُ سَمِعَ عُبَيْدَ اللّٰهِ بْنَ أَبِي رَافِعٍ يَقُولُ سَمِعْتُ عَلِيًّا يَقُولُ بَعَثَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَالزُّبَيْرَ وَالْمِقْدَادَ فَقَالَ انْطَلِقُوا حَتَّى تَأْتُوا رَوْضَةَ خَاخٍ فَإِنَّ بِهَا ظَعِينَةً مَعَهَا كِتَابٌ فَخُذُوا مِنْهَا قَالَ فَانْطَلَقْنَا تَعَادَى بِنَا خَيْلُنَا حَتَّى أَتَيْنَا الرَّوْضَةَ فَإِذَا نَحْنُ

۲۸۷: قتیبه. سفیان. عمرو بن دینار. حسن بن محمد. عبیداللّٰه بن ابي رافع. حضرت عليؓ نه روایت کوي، هغه فرمائي، زهٔ، زبیر او مقداد، رسول اللّٰه صلي اللّٰه علیه وسلّم اولیږلو او حضورؐ اوفرمائیل، تاسو خلق لاړ شئ، حتي چه مقام روضهٔ خاخ ته اُورسئ. هلته به تاسو یوه کجاوه نشینه ښځه بیا مومئ، هغې سره به یو خط وي، هغه خط د هغې نه واخلئ. حضرت عليؓ فرمائي، خمونږ آسونو تیزي سره مونږ اورسولو حتي چه روضهٔ خاخ ته اورسیدلو. هلته مونږ یوه کجاوه نشینه بیاموندهٔ. مونږ هغې ته اووے. خط راوکاږه هغې اووے، ما سره خط نشته.

بِالظَّعِيْنَةِ قُلْنَا لَهَا اخْرُجِيْ الْكِتَابَ قَالَتْ مَا مَعِيَ كِتَابٌ فَقُلْنَا لَتُخْرِجَنَّ الْكِتَابَ اَوْ لَنُلْقِيَنَّ الثِّيَابَ قَالَ فَاَخْرَجَتْهُ مِنْ عِقَاصِهَا فَاَتَيْنَا بِهٖ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاِذَا فِيْهِ مِنْ حَاطِبِ بْنِ اَبِيْ بَلْتَعَةَ اِلٰى اُنَاسٍ بِمَكَّةَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ يُخْبِرُهُمْ بِبَعْضِ اَمْرِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا حَاطِبُ مَا هٰذَا قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ لَا تَعْجَلْ عَلَيَّ اِنِّيْ كُنْتُ امْرَاً مُلْصَقًا فِيْ قُرَيْشٍ يَقُوْلُ كُنْتُ حَلِيْفًا وَّلَمْ اَكُنْ مِّنْ اَنْفُسِهَا وَ كَانَ مَنْ مَّعَكَ مِنَ الْمُهَاجِرِيْنَ مَنْ لَّهُمْ قَرَابَاتٌ يَحْمُوْنَ اَهْلِيْهِمْ وَ اَمْوَالَهُمْ فَاَحْبَبْتُ اِذْ فَاتَنِيْ ذٰلِكَ مِنَ النَّسَبِ فِيْهِمْ اَنْ اَتَّخِذَ عِنْدَهُمْ يَدًا يَّحْمُوْنَ قَرَابَتِيْ وَلَمْ اَفْعَلْهُ ارْتِدَادًا عَنْ دِيْنِيْ وَلَا رِضًا بِالْكُفْرِ بَعْدَ الْاِسْلَامِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَمَا اِنَّهٗ قَدْ صَدَقَكُمْ فَقَالَ عُمَرُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ دَعْنِيْ اَضْرِبْ عُنُقَ هٰذَا الْمُنَافِقِ فَقَالَ اِنَّهٗ قَدْ شَهِدَ بَدْرًا وَّمَا يُدْرِيْكَ لَعَلَّ اللّٰهَ اَطَّلَعَ عَلٰى مَنْ شَهِدَ بَدْرًا قَالَ اِعْمَلُوْا مَا شِئْتُمْ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ

مونږ ورته اووے خط راکه، کني مونږ درنه کپړے اوکاږو تالاشي دے آخلو، نو هغے د خپلے کمسئ نه يو خط راوبنکلو. مونږ هغه خط رسول الله صلي الله عليه وسلم له راوړلو، هغے کښ ليکلے وو، د حاطب بن ابي بلتعه د جانب نه د مشرکين مکه په نوم، هغوي ته ئے د حضورصلي الله عليه وسلم د بعضے جنګي معاملاتو متعلق اطلاع ورکوله، رسول الله صلي الله عليه وسلم حاطب ته اوفرمائيل. حاطبه، دا څۀ دي هغۀ جواب ورکۀ، يا رسول الله، په ما تادي مۀ کوئے، زۀ داسے سړے يم، چه قريشو سره څما تعلق دے، يعني زۀ د هغوي حليف يم، او زۀ د هغوي د ذات نه، نه يم، او تاسو سره چه کوم مهاجر دي، د هغے تولو رشته داران دي، چه د هغوي د مال او اولاد حمايت کولے شي څما هغوي سره څۀ قرابت نۀ وو، په دے وجه ما اوغوښتل، چه په هغوي څۀ احسان اوکړم، چه د هغے په وجه هغوي څما د رشته داري حفاظت اوکړي. او دا کار ما د خپل دين نه د آوړيدلو او د اسلام نه پس په کفر د راضي کيدلو په سبب نۀ دے کړے، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل، ګورے حاطب تاسوته ريښتيا وئيلے دي. حضرت عمرؓ عرض اوکۀ، يا رسول الله ماله اجازت راکړئے، چه د دے منافق ګردن والوخوم. حضورؐ ورته اوفرمائيل (نه، نه) دے د بدر غزا کښ شريک وو، او تاته څۀ معلومه ده، چه الله تعالي حاضرين بدر طرف ته التفات اوکۀ، نو وے فرمائيل، ستاسو زړۀ چه څۀ غواړي هغه عمل اوکړئے،

فَاَنْزَلَ اللّٰهُ السُّوْرَةَ يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّيْ وَ عَدُوَّكُمْ اَوْلِيَآءَ تُلْقُوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ اِلٰى قَوْلِهٖ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِيْلِ.

خو ما تاسو ببنلي يئے. بيا الله تعالىٰ دا سورت نازل كړلو، اے ايمان والو، تاسو خما او خپل دشمنان، دوستان مۀ جوړوئے، چه تاسو هغوي سره خپل محبت ظاهر كړئے. آخر آيت: فقد ضلّ سواء السّبيل: پورے.

بَابٌ ۴۸: غَزْوَةِ الْفَتْحِ فِيْ رَمَضَانَ.

باب ۴۸: دَ مكے دَ فتح دَ غزا بيان، چه رمضان سنه ۸ھ كښې پيښه شوه.

۲۸۸: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ ابْنُ يُوْسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِيْ عُقَيْلٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ عُتْبَةَ اَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ اَخْبَرَهٗ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزَا غَزْوَةَ الْفَتْحِ فِيْ رَمَضَانَ قَالَ وَ سَمِعْتُ ابْنَ الْمُسَيَّبِ يَقُوْلُ مِثْلَ ذٰلِكَ وَ عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ اَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ صَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى اِذَا بَلَغَ الْكَدِيْدَ الْمَآءَ الَّذِيْ بَيْنَ قُدَيْدٍ وَّ عُسْفَانَ اَفْطَرَ فَلَمْ يَزَلْ مُفْطِرًا حَتّٰى انْسَلَخَ الشَّهْرُ.

۲۸۸: عبداللّٰه بن يوسف. ليث. عقيل. ابن شهاب. عبيداللّٰه بن عبداللّٰه بن عتبه. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، دَ هغۀ بيان دے، رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم دَ مكے دَ فتح غزا رمضان كښې اوكړه، زهري وائي، ما دَ ابن مسيب نه هم دغسے آوريدلے دي، او عبيداللّٰه په واسطه دَ حضرت ابن عباسٌ روايت كړے دے، حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم روژه اونيوله، تردے چه مقام كديد ته هغے چينے ته اورسيدلو، چه دَ قديد او عسفان مينځ كښې ده، نو حضورؐ روژه ماته كړه. بيا دَ هغے مياشتے ختميدو پورے ئے روژه اونۀ نيوله[۱].

۱. ولے چه مسافر وو او جهاد مقصد وو، روژے سره انسان فطرةً كمزورے كيږي كوم چه خاص طور سره د جهاد وخت كښے نقصان ده ثابتيدے شي، همدا وجه وه چه حضورصلي الله عليه وسلّم پخپله هم روژے اونه نيوے او نه صحابه كرامو.

۲۸۹: حَدَّثَنِيْ مَحْمُوْدٌ اَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ اَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ قَالَ اَخْبَرَنِي الزُّهْرِيُّ عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ

۲۸۹: محمود. عبدالرزاق. معمر. زهري. عبيداللّٰه بن عبيدالله بن عبدالله. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، دَ هغۀ بيان دے، حضورؐ لس زره مسلمانانو سره رمضان كښې دَ مكے دَ فتح دَ پاره مدينے نه روان

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ فِيْ رَمَضَانَ مِنَ الْمَدِيْنَةِ وَ مَعَهُ عَشَرَةُ الْاٰفٍ وَ ذٰلِكَ عَلٰى رَأْسِ ثَمَانِ سِنِيْنَ وَ نِصْفٍ مِنْ مَقْدَمِهِ الْمَدِيْنَةَ فَسَارَ هُوَ وَمَنْ مَعَهُ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ اِلٰى مَكَّةَ يَصُوْمُ وَ يَصُوْمُوْنَ حَتّٰى بَلَغَ الْكَدِيْدَ وَهُوَ مَاءٌ بَيْنَ عُسْفَانَ وَ قُدَيْدٍ اَفْطَرَ وَ اَفْطَرُوْا قَالَ الزُّهْرِيُّ وَ اِنَّمَا يُؤْخَذُ مِنْ اَمْرِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْاٰخِرُ فَالْاٰخِرُ.

شولو، او دغه وخت ذ حضورؐ مدينې ته ذ هجرت اتنيم (۸½) كاله شوي وو، نو حضورؐ او ورسره نور مسلمانان مكې طرف ته روان شو، چه حضورؐ هم روژه دار وو، او نور مسلمانان هم، تردې چه مقام كديد ته اورسيدل، چه ذ عسفان او قديد مينځ كښې يوه چينه (چشمه) ده، نو حضور هم روژه ماته كړه او مسلمانانو هم. زهري وائي، ذ رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم آخري فعل اخستل پكار دي (يعني سفر جهاد كښې روژه نه ساتل پكار دي)، ځنګه چه حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم دلته روژه اونهٔ نيوله.

۲۹۰: حَدَّثَنِيْ عَيَّاشُ بْنُ الْوَلِيْدِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْاَعْلٰى حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ رَمَضَانَ اِلٰى حُنَيْنٍ وَّ النَّاسُ مُخْتَلِفُوْنَ فَصَائِمٌ وَ مُفْطِرٌ فَلَمَّا اسْتَوٰى عَلٰى رَاحِلَتِهٖ دَعَا بِاِنَاءٍ مِنْ لَبَنٍ اَوْ مَاءٍ فَوَضَعَهٗ عَلٰى رَاحَتِهٖ اَوْ رَاحِلَتِهٖ ثُمَّ نَظَرَ اِلَى النَّاسِ فَقَالَ الْمُفْطِرُوْنَ لِلصُّوَّامِ اَفْطِرُوْا وَ قَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ اَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ اَيُّوْبَ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍؓ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْفَتْحِ وَ قَالَ حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ اَيُّوْبَ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

۲۹۰: عياش بن وليد. عبدالاعلٰي. خالد. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، ذ هغهٔ بيان دے، حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم حنين طرف ته رمضان كښې روان شولو، او ذ خلقو حال مختلف وو، بعضې روژه دار وو، او بعضې بې روژې وو، كوم وخت چه حضورؐ په خپلې سورلئ كيناست، نو حضورؐ ذ پيتّو يا اوبو ګلاس اوغوښتلو، او هغه ئې په خپل لاس كيښودلو، بيا حضورؐ خلقو طرف ته اوكتل، نو بې روژه دارو، روژه دارو ته چه ذ حضورؐ دا فعل ئې اوليد، اووې، چه روژه ماته كړئې. عبدالرزاق. معمر. ايوب. عكرمه. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، چه حضورؐ ذ فتح مكې په كال اووتلو. حماد بن زيد، ايوب، عكرمه، حضرت ابن عباسؓ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم نه روايت كوي.

۱ په مشهورو روايتونو كښې دي چه حضور صلي الله عليه وسلّم غزوه حنين د پاره په شوال كښې د فتح مكې نه پس تشريف اوړے وو محدثينو ددے روايت متعلق ليكلي دي چه پاك حضرتؒ په رمضان كښې د غزوه خنين اراده كړے وه او راوي د هغوئ د ارادے تعبير په داسې لفظ سره كړے دے د كوم معني چه روايدل او مهم باندے د تللو ده. بهرحال د رواياتو او واقعاتو بيانولو وخت كښې په دا قسمه تعبيراتو كښې هيڅ استبعاد او اجنبيت نيشته.

۲۹۱ : حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ طَاوُسٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سَافَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَمَضَانَ فَصَامَ حَتَّى بَلَغَ عُسْفَانَ ثُمَّ دَعَا بِإِنَاءٍ مِنْ مَّاءٍ فَشَرِبَ نَهَارًا لِيُرِيَهُ النَّاسَ فَأَفْطَرَ حَتَّى قَدِمَ مَكَّةَ قَالَ وَكَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَقُولُ صَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي السَّفَرِ وَأَفْطَرَ فَمَنْ شَاءَ صَامَ وَمَنْ شَاءَ أَفْطَرَ.

۲۹۱ : علي بن عبدالله. جرير. منصور. مجاهد. طاؤس. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، هغه فرمائي، نبي صلي الله عليه وسلّم رمضان كښې سفر اوكړ، او روژه ئے اونيوله، تردے چه حضورؐ مقام عسفان ته اورسيدلو، بيا حضورؐ د اُوبو ګلاس اوغښتلو او خلقو ته د ښودلو د پاره ئے په هغه ورځ اوڅكلو بيا حضورؐ مكې ته راتلو پورے روژه اونه نيوله او ابن عباس به فرمائيل، نبي صلي الله عليه وسلّم سفر كښې روژه نيولے هم ده، او نيولے ئے هم نه ده. نو د چا زړه چه غواړي، او دے نيسي، او د چا زړه چه ئے غواړي، نه دے نيسي.

## باب ۴۹ : أَيْنَ رَكَزَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّايَةَ يَوْمَ الْفَتْحِ.

## باب ۴۹ : د مكې د فتح په ورځ نبي صلي الله عليه وسلّم جنډه كوم ځائے نصب كړله.

۲۹۲ : حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ إِسْمٰعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ لَمَّا سَارَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْفَتْحِ فَبَلَغَ ذٰلِكَ قُرَيْشًا خَرَجَ أَبُو سُفْيَانَ ابْنُ حَرْبٍ وَحَكِيمُ بْنُ حِزَامٍ وَبُدَيْلُ بْنُ وَرْقَاءَ يَلْتَمِسُونَ الْخَبَرَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَقْبَلُوا

۲۹۲ : عبيد بن اسماعيل. ابو اسامه. هشام. د خپل پلار نه روايت كوي، كوم وخت چه حضور صلي الله عليه وسلّم د فتح مكې په كال روان شولو، قريشو ته د دے خبر اورسيدلو، نو ابو سفيان بن حرب، حكيم بن حزام او بديل بن ورقاء ډ قريشو د جانب نه د رسول الله صلي الله عليه وسلّم د خبر اخستو د پاره اووتل، دا درے واړه تلو تلو كښې مقام مر الظهران ته اورسيدل، هلته ئے كثرت سره

يَسِيْرُوْنَ حَتّٰى اَتَوْا مَرَّ الظَّهْرَانِ فَاِذَا
هُمْ بِنِيْرَانٍ كَاَنَّهَا نِيْرَانُ عَرَفَةَ فَقَالَ
اَبُوْ سُفْيَانَ مَا هٰذِهٖ لَكَاَنَّهَا نِيْرَانُ عَرَفَةَ
فَقَالَ بُدَيْلُ ابْنُ وَرْقَآءَ نِيْرَانُ بَنِيْ
عَمْرٍو فَقَالَ اَبُوْ سُفْيَانَ عَمْرٌو اَقَلُّ مِنْ
ذٰلِكَ فَرَاٰهُمْ نَاسٌ مِنْ حَرَسِ رَسُوْلِ
اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
فَاَدْرَكُوْهُمْ فَاَخَذُوْهُمْ فَاَتَوْا بِهِمْ
رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
فَاَسْلَمَ اَبُوْ سُفْيَانَ فَلَمَّا سَارَ قَالَ
لِلْعَبَّاسِ احْبِسْ اَبَا سُفْيَانَ عِنْدَ
حَطْمِ الْخَيْلِ حَتّٰى يَنْظُرَ اِلَى
الْمُسْلِمِيْنَ فَحَبَسَهُ الْعَبَّاسُ فَجَعَلَتِ
الْقَبَائِلُ تَمُرُّ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَمُرُّ كَتِيْبَةً كَتِيْبَةً عَلٰى
اَبِيْ سُفْيَانَ فَمَرَّتْ كَتِيْبَةٌ قَالَ يَا
عَبَّاسُ مَنْ هٰذِهٖ غِفَارُ قَالَ مَا لِيْ وَ
لِغِفَارَ ثُمَّ مَرَّتْ جُهَيْنَةُ قَالَ مِثْلَ ذٰلِكَ
ثُمَّ مَرَّتْ سَعْدُ بْنُ هُذَيْمٍ فَقَالَ مِثْلَ
ذٰلِكَ وَ مَرَّتْ سُلَيْمٌ فَقَالَ مِثْلَ ذٰلِكَ
حَتّٰى اَقْبَلَتْ كَتِيْبَةٌ لَمْ يَرَ مِثْلَهَا قَالَ
هٰؤُلَآءِ الْاَنْصَارُ عَلَيْهِمْ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ
مَعَهُ الرَّايَةُ فَقَالَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ يَا اَبَا
سُفْيٰنَ الْيَوْمُ يَوْمُ الْمَلْحَمَةِ الْيَوْمَ
تُسْتَحَلُّ الْكَعْبَةُ فَقَالَ اَبُوْ سُفْيٰنَ يَا
عَبَّاسُ حَبَّذَا يَوْمُ الذِّمَارِ ثُمَّ جَاءَتْ

اُور داسے روښانه اولېدلو، څنګه چه عرفه کښې
وي. ابوسفيان اُووے، دا اُور څنګه دے، څنګه چه
عرفه کښې وي. بديل بن ورقاء جواب ورکۀ، دَ بنو
عمرو اُور به وي ابوسفيان اووے، دَ بنو عمرو تعداد دَ
دے نه ډير کم دے. دا درے واړه دَ حضور صلي الله
عليه وسلّم محافظانو اوليدل، او وے نيول، او هغوي ئے
دَ حضور صلي الله عليه وسلّم خدمت کښې پيش کړل.
ابوسفيان خو مسلمان شو بيا چه رسول الله صلي الله
عليه وسلّم روان شو، نو حضورؐ حضرت عباسؓ ته
اوفرمائيل، چه ابوسفيان دِ اسلام دَ لښکر تنګ ګزرګاه
سره ايسار کړه، چه دَ اسلام دَ لښکر نظاره اوکړي
حضرت عباسؓ هلته اودريدلو. اوس حضورؐ سره قبائل
تيريدل شروع شو. دَ لښکر يوه يوه دسته دَ ابوسفيان
خوا سره تيريدله، هر کله چه يوه دسته راغله، نو
ابوسفيان تپوس اوکۀ اے عباسؓ، دا کومه دسته ده، هغۀ
ورته اووے دا قبيلۀ غفار دسته ده. ابوسفيان اووے، ځما
او دَ قبيلۀ غفار خو څۀ جګړه نۀ وه. بيا قبيلۀ جهينه تيره
شوه، نو دغسے ئے اووے، بيا سعد بن هذيم تيره شوه، نو.
دغسے ئے اووے، بيا سُليم تيره شوه، نو دغسے ئے
اووے. بيا يوه دسته تيره شوه، چه داسے ئے نۀ وه ليدلے،
ابوسفيان اووے، دا کومه دسته ده. عباسؓ اووے، دا
انصار دي، دَ دوي سپه سالار سعد بن عباده دے، چه هغۀ
سره جنډه ده. سعد بن عباده اووے، اے ابوسفيان، نن
ورځ دَ جنګ ورځ ده. نن به کعبه (دَ کافرو دَ کُشت و
خون دَ مخه) حلاله شي. ابوسفيان اووے، اے عباسؓ دَ
هلاکت (دَ کفارو) ورځ خومره ښۀ ده. بيا دَ ټولو نه وړه

كَتِيْبَةٌ وَّ هِىَ اَقَلُّ الْكَتَائِبِ فِيْهِمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ اَصْحَابُهُ وَرَايَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ الزُّبَيْرِ بْنِ الْعَوَّامِ فَلَمَّا مَرَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاَبِيْ سُفْيَانَ قَالَ اَلَمْ تَعْلَمْ مَّا قَالَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ قَالَ مَا قَالَ قَالَ كَذَا وَ كَذَا فَقَالَ كَذَبَ سَعْدٌ وَّلٰكِنْ هٰذَا يَوْمٌ يُعَظِّمُ اللّٰهُ فِيْهِ الْكَعْبَةَ وَ يَوْمٌ تُكْسٰى فِيْهِ الْكَعْبَةُ قَالَ وَ اَمَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ تُرْكَزَ رَايَتُهُ بِالْحَجُوْنِ قَالَ عُرْوَةُ فَاَخْبَرَنِيْ نَافِعُ بْنُ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ قَالَ سَمِعْتُ الْعَبَّاسَ يَقُوْلُ لِلزُّبَيْرِ بْنِ الْعَوَّامِ يَا اَبَا عَبْدِ اللّٰهِ هٰهُنَا اَمَرَكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ تَرْكُزَ الرَّايَةَ قَالَ وَ اَمَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيْدِ اَنْ يَّدْخُلَ مِنْ اَعْلٰى مَكَّةَ مِنْ كَدَاءٍ وَّ دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ كُدَاءٍ فَقُتِلَ مِنْ خَيْلِ خَالِدٍ يَّوْمَئِذٍ رَجُلَانِ حُبَيْشُ ابْنُ الْاَشْعَرِ وَ كُرْزُ بْنُ جَابِرِ الْفِهْرِيُّ.

دسته راغله، چه هغې کښې حضور صلي الله عليه وسلّم او حضورٌ سره (مهاجر) صحابهٌ وو. او دَ نبي صلي الله عليه وسلّم جنډه زبير بن عوام سره وه. کوم وخت چه نبي صلي الله عليه وسلّم دَ ابوسفيان خوا کښې تير شولو، نو ابوسفيان اووے، تاسو ته معلومه ده، چه سعد بن عباده څه اووے. حضورٌ ورته اوفرمائيل، څه ئے اووے، ابوسفيان اووے، داسے داسے ئے وئيلے دي. حضورٌ اوفرمائيل، سعد صحيح نۀ دي وئيلے. نن ورځ خو هغه ورځ ده، چه هغے کښې به الله تعالي کعبے ته بزرګي او عظمت عطا کړي، او نن به کعبے ته غلاف اَغستولے شي. عروه وائي، رسول الله صلي الله عليه وسلّم دَ خپلے جنډے مقام حجون کښې دَ نصب کولو حکم ورکړلو. عروه وائي، ماته نافع بن جبير بن مطعم اوښودل، چه هغه عباسٌ ته دَ زبير بن عوام نه دا واوريدل، چه اے ابو عبدالله، رسول الله صلي الله عليه وسلّم تاسو ته په دے ځائے دَ جنډے نصب کولو حکم درکړے دے. عروه وائي، رسول الله صلي الله عليه وسلّم په دغه ورځ خالد بن وليد ته حکم ورکړلو، چه هغه دَ مکے دَ پورته حصے يعني کداء نه داخل شي، او خپله حضور صلي الله عليه وسلّم د کُدَي نه داخل شولو. په دغه ورځ دَ خالد دَ دستے دوه سړي حُبيش بن اشعر او کرز بن جابر فهري شهيد شولو. (باقي دَ بل چا غوږ قدرے هم کرم نۀ شولو).

ف: (١) كَدَاءٍ: يوه بلنده غنډئ ده، جنت المعلي سره. (٢) كُدَي: يو لاندے مقام دے، باب عمره سره.

۲۹۳: حَدَّثَنَا اَبُو الْوَلِيْدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ قُرَّةَ قَالَ

۲۹۳: ابوالوليد. شعبه. معاويه بن قره. عبدالله بن مغفلٌ نه روايت کوي، دَ هغۀ بيان دے، ما دَ مکے دَ

سَمِعْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ مُغَفَّلٍ يَقُوْلُ رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ عَلٰى نَاقَتِهٖ وَهُوَ يَقْرَاُ سُوْرَةَ الْفَتْحِ يُرَجِّعُ وَ قَالَ لَوْلَا اَنْ يَجْتَمِعَ النَّاسُ حَوْلِيْ لَرَجَّعْتُ كَمَا رَجَّعَ.

فتح په ورځ رسول اللّٰه صلي الله عليه وسلّم په اُوښه سور، خوش الحاني سره سورهٔ فتح لوستو باندے اوليدلو. معاويه وائي که ماسره دَ خلقو خواوشا ته دَ جمع کيدو انديښنه نهٔ وے، نو ما به دَ حضورﷺ په شانے خوش الحاني ښودلے وے (څنګه چه عبدالله بن مغفل کړے وو).

۲۹۴: حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ حَدَّثَنَا سَعْدَانُ بْنُ يَحْيٰى حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ اَبِيْ حَفْصَةَ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ عُثْمَانَ عَنْ اُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ اَنَّهٗ قَالَ زَمَنَ الْفَتْحِ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَيْنَ تَنْزِلُ غَدًا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهَلْ تَرَكَ لَنَا عَقِيْلٌ مِّنْ مَّنْزِلٍ ثُمَّ قَالَ لَا يَرِثُ الْمُؤْمِنُ الْكَافِرَ وَلَا يَرِثُ الْكَافِرُ الْمُؤْمِنَ قِيْلَ لِلزُّهْرِيِّ وَمَنْ وَرِثَ اَبَا طَالِبٍ قَالَ وَرِثَهٗ عَقِيْلٌ وَ طَالِبٌ قَالَ مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ اَيْنَ تَنْزِلُ غَدًا فِيْ حَجَّتِهٖ وَلَمْ يَقُلْ يُوْنُسُ حَجَّتَهٗ وَلَا زَمَنَ الْفَتْحِ.

۲۹۴: سليمان بن عبدالرحمٰن. سعدان بن يحيٰي. محمد بن ابي حفصه. زهري. علي بن حسين. عمرو بن سليمان. اسامه بن زيدؓ نه روايت کوي، هغه دَ مکے دَ فتح په زمانه کښې عرض اوکهٔ، يا رسول اللّٰه، صباله به تاسو کوم ځائے قيام کوئے، نو رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه سلّم ورته اوفرمائيل، آيا عقيل مونږ دَ پاره دَ ايساريدو څهٔ ځائے پريښے دے. بيا حضور صلے اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل، نهٔ مومن دَ کافر وارث کيدے شي، او نهٔ کافر دَ مؤمن. زهري نه تپوس اوشو، چه دَ ابو طالب څوک وارث شولو، هغهٔ اووے، عقيل او طالب دَ هغهٔ وارثان شولو. معمر دَ زهري نه دا روايت کړے دے، چه تاسو به صباله کوم ځائے ايساريږئے، دَ حضورﷺ دَ حج زمانه کښې اسامه ورته وئيلے وو، او دَ يونس روايت کښې نهٔ دَ حج ذکر شته نهٔ دَ فتح دَ زمانے.

۲۹۵: حَدَّثَنَا اَبُو الْيَمَانِ حَدَّثَنَا شُعَيْبٌ حَدَّثَنَا اَبُو الزِّنَادِ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْزِلُنَا اِنْ شَاءَ اللّٰهُ اِذَا فَتَحَ اللّٰهُ الْخَيْفُ حَيْثُ تَقَاسَمُوْا عَلَى الْكُفْرِ.

۲۹۵: ابواليمان. شعيب. ابوالزناد. عبدالرحمٰن. حضرت ابو هريرهؓ نه روايت کوي، هغه وائي، رسول الله صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، که اللّٰه فتح راکړه، نو انشاء اللّٰه خمونږ دَ ايساريدو ځائے به خيف وي، کوم ځائے چه قريشو په کفر قسمونه خوړلي وو.

۲۹۶ : حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ أَخْبَرَنَا ابْنُ شِهَابٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ أَرَادَ حُنَيْنًا مَنْزِلُنَا غَدًا إِنْ شَاءَ اللّٰهُ بِخَيْفِ بَنِي كِنَانَةَ حَيْثُ تَقَاسَمُوا عَلَى الْكُفْرِ.

۲۹۶ : موسى بن اسماعيل. ابراهيم بن سعد. ابن شهاب. ابو سلمه. حضرت ابو هريرهؓ نه روايت كوي، رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم چه د جنګ حنين اراده اوكړله، نو وې فرمائيل، مونږ به انشاء اللّٰه خيف بني كنانه كښې ايساريږو، كوم ځائے چه كافرو په كفر خپلو كښې عهد پيمان كړې وو.

۲۹۷ : حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ قَزَعَةَ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍؓ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ مَكَّةَ يَوْمَ الْفَتْحِ وَ عَلَى رَأْسِهِ الْمِغْفَرُ فَلَمَّا نَزَعَهُ جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ ابْنُ خَطَلٍ مُتَعَلِّقٌ بِأَسْتَارِ الْكَعْبَةِ فَقَالَ اقْتُلْهُ قَالَ مَالِكٌ وَلَمْ يَكُنِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا نُرَى وَاللّٰهُ أَعْلَمُ يَوْمَئِذٍ مُحْرِمًا.

۲۹۷ : يحيي بن قزعه. مالك. ابن شهاب. حضرت انس بن مالكؓ نه روايت كوي، هغه فرمائي، رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم د مكے د فتح په ورځ په سر مبارك خود (جنګي ټوپي) ايښے وه، چه مكه كښې داخل شولو، حضورؐ خود لا كوز كړے وو، چه يو سړے راغے، وئيلې، ابن خطل (چه څو مسلمانان ئے قتل كړي وو، او مرتد شوے وو) د كعبے پرده ئے نيولے موجود دے. حضورؐ اوفرمائيل، دے قتل كړئے، څو پورے چه ځما خيال دے، نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم هغه وخت محرم نه وو.

۲۹۸ : حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ الْفَضْلِ أَخْبَرَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ أَبِي مَعْمَرٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِؓ قَالَ دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ يَوْمَ الْفَتْحِ وَ حَوْلَ الْبَيْتِ سِتُّونَ وَ ثَلَاثُ مِائَةِ نُصُبٍ فَجَعَلَ يَطْعَنُهَا بِعُودٍ فِي يَدِهِ وَ يَقُولُ جَاءَ الْحَقُّ وَ زَهَقَ الْبَاطِلُ جَاءَ

۲۹۸ : صدقه بن فضل. ابن عيينه. ابن ابي نجيح. مجاهد. ابو معمر. حضرت عبداللّٰهؓ نه روايت كوي، د هغهٔ بيان دے، چه حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم د مكے د فتح په ورځ مكه كښې داخل شو، نو بيت اللّٰه كښې ګير چاپېره درې سوه شپيته بُتان وو. حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم به د خپل لاس په لركي هغه وهل، او فرمائيل به ئے، حق راغے، او باطل برباد شو. حق راغے، اوس به باطل نهٔ راځي او نهٔ به دوباره واپس

الْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيدُ.

۲۹۹: حَدَّثَنِي إِسْحٰقُ حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا قَدِمَ مَكَّةَ أَبٰى أَنْ يَدْخُلَ الْبَيْتَ وَ فِيهِ الْأٰلِهَةُ فَأَمَرَ بِهَا فَأُخْرِجَتْ فَأُخْرِجَ صُورَةُ إِبْرَاهِيمَ وَ إِسْمَاعِيلَ فِي أَيْدِيهِمَا مِنَ الْأَزْلَامِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاتَلَهُمُ اللّٰهُ لَقَدْ عَلِمُوا مَا اسْتَقْسَمَا بِهَا قَطُّ ثُمَّ دَخَلَ الْبَيْتَ فَكَبَّرَ فِي نَوَاحِي الْبَيْتِ وَ خَرَجَ وَلَمْ يُصَلِّ فِيهِ تَابَعَهُ مَعْمَرٌ عَنْ أَيُّوبَ وَ قَالَ وُهَيْبٌ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

باب ۵۰: دُخُولِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَعْلٰى مَكَّةَ وَ قَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي يُونُسُ قَالَ أَخْبَرَنِي نَافِعٌ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْبَلَ يَوْمَ الْفَتْحِ مِنْ أَعْلٰى مَكَّةَ عَلٰى رَاحِلَتِهِ مُرْدِفًا أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ وَ مَعَهُ بِلَالٌ وَ مَعَهُ عُثْمَانُ بْنُ طَلْحَةَ مِنَ الْحَجَبَةِ حَتّٰى

کيږي.

۲۹۹: اسحاق. عبدالصمد. دَ هغهٔ پلار. ايوب. عکرمه. ابن عباسؓ نه روايت کوي هغه فرمائي' رسول الله صلي الله عليه وسلّم چه مکې ته تشريف راوړلو' نو کعبه کښې (ډير) بُتان وو' حضورؐ کعبه کښې دَ داخليدو نه ايسار شولو' نو دَ هغې بُتانو دَ اوښکلو حکم ئې اوکړ' هغه اوښکلے شو. هغې نه دَ ابراهيمؑ او اسماعيل تصويرونه راوښکلے شو' چه دِ هغوي لاسونو کښې (دَ جوارئ) غشي وو' نو نبي صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل' الله دې' دې کافرو سره پوه شي' دوي ته په ښهٔ شان معلومه ده' چه دې دواړو بزرګانو هيڅ کله دَ جواري غشي نهٔ دي ويشتلي' بيا حضورؐ کعبه کښې داخل شو' او دَ هغې کُټونو کښې ئې تکبير (الله اکبر) اووې. او هغې کښې بغير دَ مونځ کولو نه ئې بهر تشريف راوړلو معمر په واسطه دَ ايوب او وهيب په وسطه دَ ايوب' عکرمه' نبي صلي الله عليه وسلّم نه دَ دې متابع حديث روايت کړې دې.

باب ۵۰: دَ نبي صلي الله عليه وسلّم دَ مکې معظمې دَ پاسه طرف نه دَ داخليدو بيان.

ليث. يونس. نافع. عبدالله بن عمرؓ نه روايت کوي' چه نبي صلي الله عليه وسلّم دَ مکې دَ فتح په ورځ دَ پاسه حصې نه په خپله سورلئ اسامه بن زيد کينولے تشريف راوړلو. حضور صلي الله عليه وسلّم سره بلالؓ او حاجب کعبه عثمان بن طلحهؓ هم وو. حضورؐ جمات کښې خپله سورلي کينوله' او عثمان ته ئې دَ

اَنَاخَ فِي الْمَسْجِدِ فَاَمَرَهُ اَنْ يَّاْتِيَ بِمِفْتَاحِ الْبَيْتِ فَدَخَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ مَعَهُ اُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ وَّ بِلَالٌ وَ عُثْمَانُ بْنُ طَلْحَةَ فَمَكَثَ فِيْهِ نَهَارًا طَوِيْلًا ثُمَّ خَرَجَ فَاسْتَبَقَ النَّاسُ فَكَانَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ اَوَّلَ مَنْ دَخَلَ فَوَجَدَ بِلَالًا وَرَآءَ الْبَابِ قَآئِمًا فَسَاَلَهٗ اَيْنَ صَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَشَارَ لَهٗ اِلَى الْمَكَانِ الَّذِيْ صَلّٰى فِيْهِ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ فَنَسِيْتُ اَنْ اَسْاَلَهٗ كَمْ صَلّٰى مِنْ سَجْدَةٍ.

كعبې دَ چابي راوړلو حكم اوكړ، حضورؐ سره اسامه بن زيدؓ، بلالؓ او عثمان بن طلحهؓ كعبه كښې داخل شو او هغې كښې ډير ساعت پورې ايسار وو. بيا حضورؐ بهر تشريف راوړلو، اوس خلقو ورمنډه كړه، دَ ټولونه مخكښې حضرت عبدالله بن عمرؓ دننه ورغې، هغه دَ دروازې شا، ته حضرت بلالؓ ولاړ اوليدلو، نو دَ هغه نه ئې تپوس اوكړ، چه رسول الله صلي الله عليه وسلّم مونځ كوم ځائې كړې دې، بلالؓ ورته دَ حضور دَ مونځ كولو ځائې اوښودلو، عبدالله وائي، ما دَ بلالؓ نه دا تپوس كول هير شولو، چه حضورؐ څومره ركعاته كړي وو؟[۲].

۱. ددې نه مخكښې يو حديث تير شوې دې كوم كښې چه دي چه حضور صلي الله عليه وسلّم دَ ځُورې (جورې) علاقې نه داخل شو، او حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه ته ئې دَ بَرَنئ علاقې نه داخليدلو حكم وركړو. په دې روايت كښې د هغې نه خلاف ده يعني پخپله حضور صلي الله عليه وسلّم د بَرَنئ علاقې نه داخل شوې وو. اكثرو محدّثينو دې روايت له ترجيح وركړې ده.

۲. اوس په يو روايت كښې راغلي وو چه حضور صلي الله عليه وسلّم بيت الله كښې دننه مونځ نه وو كړې او په دې حديث كښې ددې نه خلاف دي دا يو اوګد بحث دې او دَ امامانو په دې كښې اختلاف دې چه حضورؐ بيت الله كښې دننه مونځ كړې وو او كه نه. ددې قِسم حديث مخكښې هم تير شوې دې او نوټ پرې هم ليكلې شوې دې.

۳۰۰: حَدَّثَنَا الْهَيْثَمُ بْنُ خَارِجَةَ حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ مَيْسَرَةَ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ اَبِيْهِ اَنَّ عَائِشَةَ اَخْبَرَتْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَامَ الْفَتْحِ مِنْ كَدَآءِ الَّتِيْ بِاَعْلٰى مَكَّةَ تَابَعَهٗ اَبُوْ اُسَامَةَ وَ وُهَيْبٌ فِيْ كَدَاءٍ.

۳۰۰: هيثم بن خارجه. حفص بن ميسره. هشام بن عروه. دَ هغه پلار بي بي عائشېؓ نه روايت كوي، نبي صلي الله عليه وسلّم دَ مكې دَ فتح په ورځ دَ كداء نه چه دَ مكې دَ پاسه حصه كښې دې، داخل شولو. ابو اسامه او، وهيب كداء كښې دَ دې متابع حديث روايت كړې دې.

۳۰۱: حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ اِسْمَاعِيْلَ حَدَّثَنَا اَبُوْ اُسَامَةَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ اَبِيْهِ دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ سَلَّمَ عَامَ الْفَتْحِ مِنْ اَعْلٰى مَكَّةَ مِنْ كَدَاءٍ.

۳۰۱: عبيد بن اسماعيل. ابو اسامه. هشام ذ خپل پلار نه روايت كوي، حضورؐ ذ مكے ذ فتح په كال ذ مكے ذ پاسه حصے يعني كداء نه داخل شولو.

باب ۱۵۱: مَنْزِلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْفَتْحِ.

باب ۱۵۱: ذ مكے ذ فتح په ورځ ذ حضور صلي الله عليه وسلّم ذ راكوزيدو ذ ځائے بيان.

۳۰۲: حَدَّثَنَا اَبُو الْوَلِيْدِ حَدَّثَنَا عَنْ عَمْرٍو عَنِ ابْنِ اَبِيْ لَيْلٰى قَالَ مَا اَخْبَرَنَا اَحَدٌ اَنَّهُ رَاَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّى الضُّحٰى غَيْرُ اُمِّ هَانِيءٍ فَاِنَّهَا ذَكَرَتْ اَنَّهُ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ اغْتَسَلَ فِيْ بَيْتِهَا ثُمَّ صَلّٰى ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ قَالَتْ لَمْ اَرَهُ صَلّٰى صَلٰوةً اَخَفَّ مِنْهَا غَيْرَ اَنَّهُ يُتِمُّ الرُّكُوعَ وَالسُّجُوْدَ.

۳۰۲: ابو الوليد. شعبه. عمرو. ابن ابي ليلٰي نه روايت كوي، مونږ ته ذ اُم هاني نه سِوا بل هيچا اونه ښودل، چه هغه رسول الله صلي الله عليه وسلّم ذ چاشت په مونځ كولو ليدلے دے، هغه وائي، حضور صلي الله عليه وسلّم ذ مكے ذ فتح په ورځ ذ هغے په كور كښ غسل اوكړلو، او اته ركعاته مونځ ئے اوكړ، هغه وائي، ما ذ حضور صلي الله عليه وسلّم ذ دے مونځ نه آسان (مختصر) هيڅ مونځ نۀ دے ليدلے. خو دا چه حضورؐ به ركوع او سجده پوره طور سره ادا كوله.

باب ۱۵۲:

باب ۱۵۲: (ذ دے باب څۀ سرخي نشته).

۳۰۳: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مَنْصُوْرٍ عَنْ اَبِى الضُّحٰى عَنْ مَسْرُوْقٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ فِيْ رُكُوْعِهٖ وَ سُجُوْدِهٖ سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَ بِحَمْدِكَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ.

۳۰۳: محمد بن بشار. غندر. شعبه. منصور. ابوالضحي. مسروق. بي بي عائشےؓ نه روايت كوي، هغه فرمائي، نبي صلي الله عليه وسلّم به خپلے ركوع او سجده كښ دا لوستل: اے اللّٰه، ته پاك ئے، اے ځمونږ پروردګاره، مونږ ستا حمد بيانوو، اے اللّٰه ما اوبښے.

۳۰۴: حَدَّثَنَا اَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا اَبُوْ عَوَانَةَ عَنْ اَبِيْ بِشْرٍ عَنْ

۳۰۴: ابوالنعمان. ابو عوانه. ابو بشر. سعيد بن جبير. ابن عباسؓ نه روايت كوي، هغه فرمائي، حضرت

سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ عُمَرُ يُدْخِلُنِيْ مَعَ اَشْيَاخِ بَدْرٍ فَقَالَ بَعْضُهُمْ لِمَ تُدْخِلُ هٰذَا الْفَتٰى مَعَنَا وَ لَنَا اَبْنَاءٌ مِّثْلُهٗ فَقَالَ اِنَّهٗ مِمَّنْ قَدْ عَلِمْتُمْ قَالَ فَدَعَاهُمْ ذَاتَ يَوْمٍ وَّ دَعَانِيْ مَعَهُمْ قَالَ وَمَا رَاَيْتُهٗ دَعَانِيْ يَوْمَئِذٍ اِلَّا لِيُرِيَهُمْ مِنِّيْ فَقَالَ مَا تَقُوْلُوْنَ اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ وَ رَاَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُوْنَ حَتّٰى خَتَمَ السُّوْرَةَ فَقَالَ بَعْضُهُمْ اُمِرْنَا اَنْ نَّحْمَدَ اللّٰهَ وَ نَسْتَغْفِرَهٗ اِذَا نُصِرْنَا وَ فُتِحَ عَلَيْنَا وَ قَالَ بَعْضُهُمْ لَا نَدْرِيْ وَلَمْ يَقُلْ بَعْضُهُمْ شَيْئًا فَقَالَ لِيْ يَا ابْنَ عَبَّاسٍ اَكَذَاكَ تَقُوْلُ قُلْتُ هُوَ اَجَلُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَعْلَمَهُ اللّٰهُ لَهٗ اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ فَتْحُ مَكَّةَ فَذَاكَ عَلَامَةُ اَجَلِكَ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ اِنَّهٗ كَانَ تَوَّابًا قَالَ عُمَرُ مَا اَعْلَمُ مِنْهَا اِلَّا مَا تَعْلَمُ.

عمرؓ به زهٔ (خپل مجلس کښې) مشائخ بدر سره کېنولم، نو بعضو هغوي کښې اووے، تاسو دا هلک، چه ذ هغه برابر خمونږ اولاد دے، مونږ سره ولے کېنوئے، هغوي جواب راکهٔ، بيا تاسو ابن عباسؓ کومو خلقو (طبقه) کښې شمارئے. ابن عباسؓ وائي بيا يو ورځ ئے هغوي او هغوي سره زهٔ هم، خو پوهے چه زهٔ پوهيږم، صرف دے ذ پاره راأغبنتلو، چه هغوي ته خما ذ طرف نه (خما علمي کمال اوښائي نو حضرت عمرؓ خلقوته اووے، اِذَا جَاءَ نَصْرُ اللّٰهِ الخ سورت متعلق ستاسو څهٔ رائے ده. بعضو اووے، هر کله چه اللّٰه خمونږ مدد کوي، او فتح راته عطا کوي، نو هغهٔ مونږ ته ذ حمد و استغفار حکم کړے دے. بعضو اووے، مونږ ته نهٔ ده معلومه، بعضو هيڅ او، نه وے، حضرت عمرؓ ماته اووے، اے ابن عباسؓ، ستا هم دغه خيال دے، ما اووے، نه، هغهٔ اوفرمائيل، بيا تهٔ څهٔ وائے، ما اووے، هر کله چه اللّٰه مدد اوکهٔ، او ذ مکے فتح حاصله شوه، نو اللّٰه خپل رسول صلي اللّٰه عليه وسلّم ته ذ وفات خبر ورکهٔ، ذ مکے فتح ستاسوٌ ذ وفات علامت دے، نو تاسو ذ اللّٰه تعالٰي حمد، تسبيح او استغفار کوئے، بيشکه اللّٰه پاک قبلونکے دے، حضرت عمرؓ اوفرمائيل، خما هم دغه خيال دے، کوم چه ستا دے.

۳۰۵: حَدَّثَنَا سَعِيْدُ بْنُ شُرَحْبِيْلَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنِ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ اَبِيْ شُرَيْحٍ الْعَدَوِيِّ اَنَّهٗ قَالَ لِعَمْرِو بْنِ سَعِيْدٍ وَهُوَ يَبْعَثُ الْبُعُوْثَ اِلٰى مَكَّةَ ائْذَنْ لِّيْ اَيُّهَا الْاَمِيْرُ اُحَدِّثْكَ قَوْلًا قَامَ بِهٖ رَسُوْلُ

۳۰۵: سعيد بن شرحبيل. ليث. مقبري. ابو شريح عدوي. عمرو بن سعيد ته. هر کله چه هغه مکے طرف ته لښکر ليږلو، اووے، اے اميره، ماله اجازت راکړه، چه زهٔ تاته ذ رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم هغه قول چه حضورؐ ذ فتح مکے په دويمه ورځ فرمائيلے وو، بيان کړم، حضورؐ نه دا خبره خما غوږونو واوريده او زړهٔ

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْغَدَ مِنْ يَوْمِ الْفَتْحِ سَمِعَتْهُ أُذُنَايَ وَ وَعَاهُ قَلْبِيْ وَ أَبْصَرَتْهُ عَيْنَايَ حِيْنَ تَكَلَّمَ بِهٖ حَمِدَ اللّٰهَ وَ أَثْنٰى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ إِنَّ مَكَّةَ حَرَّمَهَا اللّٰهُ وَلَمْ يُحَرِّمْهَا النَّاسُ لَا يَحِلُّ لِامْرِئٍ يُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ أَنْ يَّسْفِكَ بِهَا دَمًا وَّلَا يَعْضِدُ بِهَا شَجَرًا فَإِنْ أَحَدٌ تَرَخَّصَ لِقِتَالِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْهَا فَقُوْلُوْا لَهٗ إِنَّ اللّٰهَ أَذِنَ لِرَسُوْلِهٖ وَلَمْ يَأْذَنْ لَكُمْ وَ إِنَّمَا أَذِنَ لِيْ فِيْهَا سَاعَةً مِّنْ نَّهَارٍ وَّقَدْ عَادَتْ حُرْمَتُهَا الْيَوْمَ كَحُرْمَتِهَا بِالْأَمْسِ وَلْيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ فَقِيْلَ لِأَبِيْ شُرَيْحٍ مَّاذَا قَالَ لَكَ عَمْرٌو قَالَ قَالَ أَنَا أَعْلَمُ بِذٰلِكَ مِنْكَ يَا أَبَا شُرَيْحٍ إِنَّ الْحَرَمَ لَا يُعِيْذُ عَاصِيًا وَّلَا فَارًّا بِدَمٍ وَّلَا فَارًّا بِخَرْبَةٍ قَالَ أَبُوْ عَبْدِ اللّٰهِ الْخَرْبَةُ الْبَلِيَّةُ.

محفوظ اوساتله، او کوم وخت چه حضورؐ دا خبره کوله، نو حضورؐ ته څما سترګو کتل، حضورؐ د الله د حمد و ثنا نه پس اوفرمائيل الله مکه حرام جوړه کړې ده. خلقو نۀ ده جوړه کړې (چه کله غواړي حلاله ئې کړي، او چه کله غواړي، حرامه ئې کړي) کوم سړے چه الله او د آخرت په ورځ ايمان لري، هغۀ د پاره مکه کښې خون ريزي کول او د مکې اُونه وهل جائز نۀ دي، که څوک د رسول الله صلي الله عليه وسلّم د فتح مکې د ورځ د قتال نه استدلال اوکړي نو تاسو هغۀ ته دا جواب ورکړې، چه الله خپل رسول ته د دے اجازت ورکړے وو، او تاسوله ئې اجازت نۀ دے درکړے، او ماته ئې هم ډير لږ وخت د پاره اجازت راکړے وو. نو نن د هغې حرمت داسے دے، څنګه چه پرون وو، او دا خبره دے موجود خلق، غير موجود خلقوته اورسوي. ابو شريح نه تپوس اوشو، بيا عمرو تاته څۀ اووے، هغۀ اووے، عمرو دا جواب اوکۀ، اے ابو شريح، په دے خبره زۀ تانه زيات پوهيږم (ليکن) حرم (مکه) يو ګنهګار، قاتل او مفسد له پناه نۀ ورکوي (يعني دا خلق د دے د حرمت نه مستثني دي).

۳۰۶: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يَزِيْدَ بْنِ أَبِيْ حَبِيْبٍ عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِيْ رَبَاحٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ أَنَّهٗ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ عَامَ الْفَتْحِ وَهُوَ بِمَكَّةَ إِنَّ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ حَرَّمَ بَيْعَ الْخَمْرِ.

۳۰۶: قتيبه. ليث. يزيد بن ابي حبيب. عطاء بن ابي رباح. حضرت جابر بن عبدالله نه روايت کوي، د هغۀ بيان دے، نبي صلي الله عليه وسلّم د فتح مکې په کال چه حضورؐ مکه کښې وو، او فرمائيل، الله او د هغۀ رسول د شرابو خريد و فروخت حرام کړے دے.

**باب۵۳: مَقَامِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ زَمَنَ الْفَتْحِ.**

**باب۵۳: دَ نبي صلي الله عليه وسلّم دَ مكے دَ فتح زمانه كښ مكه كښ دَ ايساريدلو بيان.**

۳۰۷: حَدَّثَنَا اَبُوْ نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا قَبِيْصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيٰنُ عَنْ يَحْيَى ابْنِ اَبِيْ اِسْحٰقَ عَنْ اَنَسٍ قَالَ اَقَمْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشْرًا نَقْصُرُ الصَّلٰوةَ.

۳۰۷: ابو نعيم. سفيان (دوئيم سند) قبيصه. سفيان. يحيي بن ابي اسحاق. حضرت انس نه روايت كوي، هغه فرمائي، مونږ نبي صلي الله عليه وسلّم سره لس ورځو پورے مكه كښ ايسار وو، او دَ قصر مونځ به مو كولو.

ف: قصر: كوم مونځ چه سفر كښ كولے شي يعني دَ ځلورو ركعاتو په ځائے دوه ركعاته كول.

۳۰۸: حَدَّثَنَا عَبْدَانُ اَخْبَرَنَا عَبْدُ اللّٰهِ اَخْبَرَنَا عَاصِمٌ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ اَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ تِسْعَةَ عَشَرَ يَوْمًا يُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ.

۳۰۸: عبدان، عبدالله، عاصم، عكرمه، حضرت ابن عباس نه روايت كوي دَ هغهٔ بيان دے، نبي صلي الله عليه وسلم مكه كښ نورلس (۱۹) ورځے ايسار وو. او دوه ركعاته به ئے كول۱.

۱. دا د فتح مكے واقعه ده. احناف دومره مودے پورے په مكه كښے د قيام باوجود د قصر كولو تاويل دا هم بيان كړے دے چه ممكنه ده حضور صلي الله عليه وسلّم د إقامت نيت نه وو كړے او هغوئ هيلته خپل اقامت په حالاتو باندے موقوف لرلے وي، ولے چه د مكے فتحے نه پس د حُنين غزا له تلل وُو. ددے نه علاوه په دے سفر كښے په مكه كښے د حضورؐ د اقامت موده مختلف فيه ده. په بعضو روايتونو كښے د پنځلسو ورځو موده هم بيانه شوے ده. ددے نه مخكښے د أنس رضي الله عليه په روايت كښے په مكه كښے صرف د لسو ورځو د قيام بيان دے. دا په حجة الوداع كښے شوي وُو.

۳۰۹: حَدَّثَنَا اَحْمَدُ بْنُ يُوْنُسَ حَدَّثَنَا اَبُوْ شِهَابٍ عَنْ عَاصِمٍ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ اَقَمْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ سَفَرٍ تِسْعَ عَشْرَةَ نَقْصُرُ الصَّلٰوةَ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَّ نَحْنُ نَقْصُرُ مَا بَيْنَنَا وَ بَيْنَ تِسْعَ عَشْرَةَ فَاِذَا زِدْنَا اَتْمَمْنَا.

۳۰۹: احمد بن يونس، ابو شهاب، عاصم، حضرت ابن عباس نه روايت دے، دَ هغهٔ بيان دے، مونږ نبي صلي الله عليه وسلم سره فتح مكه كښ دَ سفر په حالت كښ نورلس (۱۹) ورځے ايسار وو. د قصر مونځ به مو كولو، ابن عباس وائي، مونږ نورلس (۱۹) ورځے كښ قصر مونځ كولو، كه نور زيارت ايسار شوے وے نو پوره مونځ به مو كولے.

باب ۵۴: وَ قَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِيْ يُوْنُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ اَخْبَرَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ ثَعْلَبَةَ ابْنِ صُعَيْرٍ وَّ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ مَسَحَ وَجْهَهٗ عَامَ الْفَتْحِ.

۳۱۰: حَدَّثَنِيْ اِبْرَاهِيْمُ بْنُ مُوْسٰى اَخْبَرَنَا هِشَامٌ عَنْ مَعْمَرٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سُنَيْنٍ اَبِيْ جَمِيْلَةَ قَالَ اَخْبَرَنَا وَ نَحْنُ مَعَ ابْنِ الْمُسَيَّبِ قَالَ وَ زَعَمَ اَبُوْ جَمِيْلَةَ اَنَّهٗ اَدْرَكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ خَرَجَ مَعَهٗ عَامَ الْفَتْحِ.

۳۱۱: حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ اَيُّوْبَ عَنْ اَبِيْ قِلَابَةَ اَلَا تَلْقَاهُ فَتَسْاَلَهٗ قَالَ فَلَقِيْتُهٗ فَسَاَلْتُهٗ فَقَالَ كُنَّا بِمَآءٍ مَمَرَّ النَّاسِ وَ كَانَ يَمُرُّ بِنَا الرُّكْبَانُ فَنَسْاَلُهُمْ مَا لِلنَّاسِ مَا هٰذَا الرَّجُلُ فَيَقُوْلُوْنَ يَزْعَمُ اَنَّ اللّٰهَ اَرْسَلَهٗ اَوْحٰى اِلَيْهِ اَوْ اَوْحَى اللّٰهُ بِكَذَا فَكُنْتُ اَحْفَظُ ذٰلِكَ الْكَلَامَ وَ كَاَنَّمَا يُغْرٰى فِيْ صَدْرِيْ وَ كَانَتِ الْعَرَبُ تَلَوَّمُ بِاِسْلَامِهِمُ الْفَتْحَ فَيَقُوْلُوْنَ اتْرُكُوْهُ وَ قَوْمَهٗ فَاِنَّهٗ اِنْ ظَهَرَ عَلَيْهِمْ فَهُوَ نَبِيٌّ

باب ۵۴: ليث، يونس، ابن شهاب، عبدالله بن ثعلبه بن صعير نه روايت كوي، ذَ هغهٔ په مخ حضور صلي الله عليه وسلم ذَ فتح مكے په ورځ لاس راښكلے وو.

۳۱۰: ابراهيم بن موسي. هشام. معمر. زهري. سنين ابي جميله وائي، مونږ ابن مسيب سره ملكري وو. زهري وائي، مونږ ته ابو جميله اووے، چه هغه رسول الله صلي الله عليه وسلّم ليدلے دے، او حضورؐ سره ذَ فتح مكے په كال تلے وو.

۳۱۱: سليمان بن حرب. حماد بن زيد. ايوب. قلابه. عمرو بن سلمه نه روايت دے ايوب وائي، ماته ابو قلابه اووے، ته چه عمرو بن سلمه سره يوځائے شے، نو ولے تپوس ترے نهٔ كوے، هغه وائي، زهٔ هغهٔ سره يوځائے شوم او ذَ هغهٔ نه مِ تپوس اوكهٔ، هغهٔ جواب راكهٔ، مونږ په يوه چينه (چشمه) چه هلته ذَ خلقو گزرگاه وو، اوسيدلو. خمونږ خوا كښې به قافلے تيريدلے، مونږ به ذَ هغے قافلو نه تپوس كولو ذَ خلقو څهٔ حال دے، او ذَ (مدعي نبوت) سړي څهٔ حالت دے، هغوي به جواب راكولو، هغه مدعي دعوي كوي، چه هغه ذَ اللّٰه رسول دے هغهٔ ته وحي كيږي، يا دائے اووے، چه اللّٰه به هغهٔ ته كومه وحي راليږله، ما به هغه كلام يادولو، گويا هغه خما په سينه كښې محفوظ دے او اهل عرب خپل اسلام راوړلو كښې ذَ فتح مكے انتظار كولو، او دا به ئے وئيل،

صَادِقٌ فَلَمَّا كَانَتْ وَقْعَةُ أَهْلِ الْفَتْحِ بَادَرَ كُلُّ قَوْمٍ بِإِسْلَامِهِمْ وَبَدَرَ أَبِي قَوْمِي بِإِسْلَامِهِمْ فَلَمَّا قَدِمَ قَالَ جِئْتُكُمْ وَاللَّهِ مِنْ عِنْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَقًّا فَقَالَ صَلُّوا صَلَاةَ كَذَا فِي حِينِ كَذَا وَصَلُّوا كَذَا فِي حِينِ كَذَا فَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلَاةُ فَلْيُؤَذِّنْ أَحَدُكُمْ وَلْيَؤُمَّكُمْ أَكْثَرُكُمْ قُرْآنًا فَنَظَرُوا فَلَمْ يَكُنْ أَحَدٌ أَكْثَرَ قُرْآنًا مِنِّي لِمَا كُنْتُ أَتَلَقَّى مِنَ الرُّكْبَانِ فَقَدَّمُونِي بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَأَنَا ابْنُ سِتٍّ أَوْ سَبْعِ سِنِينَ وَكَانَتْ عَلَيَّ بُرْدَةٌ كُنْتُ إِذَا سَجَدْتُ تَقَلَّصَتْ عَنِّي فَقَالَتِ امْرَأَةٌ مِنَ الْحَيِّ أَلَا تُغَطُّونَ عَنَّا إِسْتَ قَارِئِكُمْ فَاشْتَرَوْا فَقَطَعُوا لِي قَمِيصًا فَمَا فَرِحْتُ بِشَيْءٍ فَرَحِي بِذَلِكَ الْقَمِيصِ.

چه حضورؐ او د هغوي قوم (قریش) ترک کړې، که حضورؐ غالب راغې، نو ریښتنې نبي دې، هر کله چه د فتح مکې واقعه اوشوه، نو هر قوم اسلام راوړلو کښې سبقت اوکړلو، او زما پلار هم د خپل قوم په مسلمانیدو کښې تادي کوله. او مسلمانیدو نه پس چه واپس راغې، نو وئیلې ئې، په خدائې چه زهٔ تاسو ته د نبي برحق صلي الله علیه وسلّم د طرف نه راغلې یم، هغوي فرمائیلې دي، چه فلانې فلاني وخت باندې داسې مونځ کوئې، هر کله چه د مونځ وخت راشي، نو یو سړې دې آذان اوکړي، او چاته چه زیات قرآن یاد وي، هغه دې امام جوړ شي، ما به د قافلې والو نه قرآن یادولو، په دې وجه هغوي کښې زما نه هیچا ته قرآن زیات یاد نهٔ وو. زهٔ د شپږو یا اوو کالو ووم، چه هغوي زهٔ (امامت د پاره) مخکښې کړم، او زما په جسم یو څادر وو، کله چه به ما سجده کوله، نو هغه به پورته شو (او جسم به مې ظاهر شولو) نو د قبیلې یوې ښځې اووې، تاسو د خپل قاري (امام) کوناټې مونږ نه ولې نهٔ پټوئې، هغوي کپړه ما د پاره په بیع واخسته، او یو قمیص ئې راله جوړ کړلو، زهٔ دومره هیڅ څیز سره نهٔ ووم خوشحاله شوې، څومره چه دغې قمیص سره.

۲۱۳: حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ح وَقَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي يُونُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ أَنَّ عَائِشَةَ

۲۱۳: عبدالله بن مسلمه. مالک. ابن شهاب. عروه بن زبیر. بي بي عائشهؓ نه روایت کوي، هغه وائي، عتبه بن ابي وقاص خپل ورور سعد بن ابي وقاص ته وئیلې وو، د زمعه د وینځې هلک واخله. او عتبه وئیلې وو، هغه زما څوئې دې، هر کله چه

قَالَتْ كَانَ عُتْبَةُ بْنُ اَبِيْ وَقَّاصٍ عَهِدَ اِلَى اَخِيْهِ سَعْدٍ اَنْ يَّقْبِضَ ابْنَ وَلِيْدَةِ زَمْعَةَ وَ قَالَ عُتْبَةُ اِنَّهٗ ابْنِيْ فَلَمَّا قَدِمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ فِي الْفَتْحِ اَخَذَ سَعْدُ بْنُ اَبِيْ وَقَّاصٍ ابْنَ وَلِيْدَةِ زَمْعَةَ فَاَقْبَلَ بِهٖ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ اَقْبَلَ مَعَهٗ عَبْدُ بْنُ زَمْعَةَ فَقَالَ سَعْدُ بْنُ اَبِيْ وَقَّاصٍ هٰذَا ابْنُ اَخِيْ عَهِدَ اِلَيَّ اَنَّهُ ابْنُهٗ قَالَ عَبْدُ بْنُ زَمْعَةَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ هٰذَا اَخِيْ هٰذَا ابْنُ زَمْعَةَ وُلِدَ عَلٰى فِرَاشِهٖ فَنَظَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلَى ابْنِ وَلِيْدَةِ زَمْعَةَ فَاِذَا اَشْبَهُ النَّاسِ بِعُتْبَةَ بْنِ اَبِيْ وَقَّاصٍ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَ لَكَ هُوَ اَخُوْكَ يَا عَبْدَ بْنَ زَمْعَةَ مِنْ اَجْلِ اَنَّهٗ وُلِدَ عَلٰى فِرَاشِهٖ وَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْتَجِبِيْ مِنْهُ يَا سَوْدَةُ لِمَا رَاٰى مِنْ شَبَهِ عُتْبَةَ بْنِ اَبِيْ وَقَّاصٍ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ وَ لِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ وَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَ كَانَ اَبُوْ هُرَيْرَةَ يَصِيْحُ بِذٰلِكَ.

حضور صلي الله عليه وسلّم دَ فتح ورځو كښې مكې ته تشريف راوړلو نو سعد بن ابي وقاص دَ زمعه دَ وينزې خوئې واخست، رسول الله صلي الله عليه وسلّم ته ئې راوړلو، او هغهٔ سره عبد بن زمعه هم راغې، سعد اووې. دا خما ورارهٔ دې، عتبه ماته وئيلې وو، چه دا دَ هغهٔ هلك دې (بل خوا) عبد بن زمعه اووې، يا رسول الله، دا خما ورور دې، دَ زمعه خوئې دې، دَ هغهٔ په بستره پيدا شوې دې، رسول الله صلي الله عليه وسلّم هغه بچي طرف ته اوكتل، نو هغه دَ عتبه بن ابي وقاص زيات مشابه وو. رسول الله صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، اې عبد بن زمعه، دې واخله. دا ستا ورور دې، ځكه چه دې دَ هغهٔ په بستره پيدا شوې دې. او رسول الله صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل. اې سودهؓ دَ دهٔ نه پرده كوه ځكه چه حضور صلي الله عليه وسلّم دَ هغهٔ مشابهت دَ عتبه بن ابي وقاص په شان ليدلې وو، ابن شهاب په واسطه دَ بي بي عائشېؓ روايت كوي، رسول الله صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، بچې دَ هغهٔ دې، دَ چا په بستره چه پيدا شي، او زناكار دَ پاره كانړي دي. ابن شهاب وائي، حضرت ابوهريرهؓ به دا حديث په اوچت آواز بيانولو.

۳۱۳: حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ

۳۱۳: محمد بن مقاتل. عبدالله. يونس.

بْنُ مُقَاتِلٍ اَخْبَرَنَا عَبْدُ اللّٰهِ اَخْبَرَنَا يُوْنُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ اَخْبَرَنِيْ عُرْوَةُ ابْنُ الزُّبَيْرِ اَنَّ امْرَاَةً سَرَقَتْ فِيْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَزْوَةِ الْفَتْحِ فَفَزِعَ قَوْمُهَا اِلٰى اُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ يَسْتَشْفِعُوْنَهُ قَالَ عُرْوَةُ فَلَمَّا كَلَّمَهُ اُسَامَةُ فِيْهَا تَلَوَّنَ وَجْهُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَتُكَلِّمُنِيْ فِيْ حَدٍّ مِّنْ حُدُوْدِ اللّٰهِ قَالَ اُسَامَةُ اسْتَغْفِرْ لِيْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَلَمَّا كَانَ الْعَشِيُّ قَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطِيْبًا فَاَثْنٰى عَلَى اللّٰهِ بِمَا هُوَ اَهْلُهٗ ثُمَّ قَالَ اَمَّا بَعْدُ فَاِنَّمَا اَهْلَكَ النَّاسَ قَبْلَكُمْ اَنَّهُمْ كَانُوْا اِذَا سَرَقَ فِيْهِمُ الضَّعِيْفُ اَقَامُوْا عَلَيْهِ الْحَدَّ وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهٖ لَوْ اَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَرَقَتْ لَقَطَعْتُ يَدَهَا ثُمَّ اَمَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتِلْكَ الْمَرْاَةِ فَقُطِعَتْ يَدُهَا فَحَسُنَتْ تَوْبَتُهَا بَعْدَ ذٰلِكَ وَ تَزَوَّجَتْ قَالَتْ عَائِشَةُ فَكَانَتْ تَأْتِيْ بَعْدَ ذٰلِكَ فَاَرْفَعُ حَاجَتَهَا اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

زهري. عروه بن زبير نه روايت كوي غزوه فتح كبنې دَ نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم زمانه كښې يوې ښځې غلا (چورى) اوكړه (حضورٌ دَ هغې دَ لاس پريكولو حكم اوكړ) دَ هغې قوم خلق اسامه بن زيد له دَ سفارش كولو دَ پاره په منډه راغلل، عروه وائي. هر كله چه اسامهٔ حضورٌ سره دَ هغې ښځې دَ معاف كولو دَ پاره خبرې اترې اوكړې نو دَ رسول الله صلي الله عليه وسلّم مخ مبارك متغير شولو، او وې فرمائيل، تهٔ ماته دَ الله (مقرر كړې) حدودو كښې سفارش كوې. اسامه عرض اوكړ، يا رسول الله، ما دَ پاره دَ بښنې دُعا اوكړئې. مابښام ته حضور صلي الله عليه وسلّم خطبې دَ پاره اودريدلو. او دَ الله شايانِ شان تعريف نه پس ئې اوفرمائيل. امّا بعد: ستاسو نه مخكښې خلق دې څيز هلاك كړې دي، كه هغوي كښې به يو شريف او لوئې سړي غلا اوكړه نو هغه به ئې پريښودلو. اوكه چا ضعيف او معمولي سړي به غلا اوكړه، نو په هغهٔ به ئې حد جاري كړلو. په هغه پاك ذات مې دې قسم وي دَ چا دَ قدرت په قبضه كښې چه څما ساه ده كه فاطمه بنت محمدٌ (يعني څما لور هم) غلا اوكړي (اعاذها الله منها) نو زهٔ به دَ هغې لاس هم پريكړم بيا رسول الله صلي الله عليه وسلّم په هغې ښځې حكم جاري كړلو، نو دَ هغې لاس پريكړې شو. بيا دَ هغې توبه قبوله شوه، او هغې (چاسره) نكاح اوكړله. بي بي عائشهٔ وائي. دې نه پس به هغه كله راتله. او دَ هغې چه به څهٔ ضرورت وو، ما به هغه رسول الله صلي الله عليه وسلّم ته بيانولو.

۴۳۱۴. حَدَّثَنَا عَمْرُوْ

۴۳۱۴: عمرو بن خالد. زهير. عاصم. ابو عثمان.

بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا عَاصِمٌ عَنْ اَبِيْ عُثْمَانَ قَالَ حَدَّثَنِيْ مُجَاشِعٌ قَالَ اَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاَخِيْ بَعْدَ الْفَتْحِ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ جِئْتُكَ بِاَخِيْ لِتُبَايِعَهُ عَلَى الْهِجْرَةِ قَالَ ذَهَبَ اَهْلُ الْهِجْرَةِ بِمَا فِيْهَا فَقُلْتُ عَلٰى اَيِّ شَيْءٍ تُبَايِعُهُ قَالَ اُبَايِعُهُ عَلَى الْاِسْلَامِ وَالْاِيْمَانِ وَالْجِهَادِ فَلَقِيْتُ اَبَا مَعْبَدٍ بَعْدُ وَكَانَ اَكْبَرَهُمَا فَسَاَلْتُهُ فَقَالَ صَدَقَ مُجَاشِعٌ.

مجاشع وائي' چه دَ فتحے مکے نه پس ما خپل ورور دَ نبي صلي الله عليه وسلّم خدمت کښ حاضر کړلو. او عرض م اوکه' ما خپل ورور (مجالد) ستاسو خدمت کښ حاضر کړے دے' تاسو دَ دهٔ نه دَ هجرت بيعت واخلئے' حضورؐ اوفرمائيل' دَ هجرت فضيلت خو مهاجرينو حاصل کهٔ' ما عرض اوکهٔ' بيا په څهٔ څيز تاسوٌ دَ دهٔ نه بيعت آخلئے' حضورؐ اوفرمائيل' اسلام' ايمان' جهاد باندے. بيا ما ابو معبد سره چه هغے دواړو کښ دَ ټولونه لوئے وو' ملاقات اوکهٔ' او دَ هغهٔ نه م (دَ دے حديث متعلق) تپوس اوکهٔ' نو هغهٔ اووے' مجاشع ريښتيا وئيلے دي.

۳۱۵: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ اَبِيْ بَكْرٍ حَدَّثَنَا الْفُضَيْلُ بْنُ سُلَيْمَانَ حَدَّثَنَا عَاصِمٌ عَنْ اَبِيْ عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ عَنْ مُجَاشِعِ بْنِ مَسْعُوْدٍ انْطَلَقْتُ بِاَبِيْ مَعْبَدٍ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيُبَايِعَهُ عَلَى الْهِجْرَةِ قَالَ مَضَتِ الْهِجْرَةُ لِاَهْلِهَا اُبَايِعُهُ عَلَى الْاِسْلَامِ وَالْجِهَادِ فَلَقِيْتُ اَبَا مَعْبَدٍ فَسَاَلْتُهُ فَقَالَ صَدَقَ مُجَاشِعٌ وَقَالَ خَالِدٌ عَنْ اَبِيْ عُثْمَانَ عَنْ مُجَاشِعٍ اَنَّهُ جَاءَ بِاَخِيْهِ مُجَالِدٍ.

۳۱۵: محمد بن ابوبكر. فضيل بن سليمان. عاصم. ابو عثمان نهدي. مجاشع بن مسعود نه روايت کوي' هغه بيان اوکهٔ' ما دَ حضور صلي الله عليه وسلّم خدمت کښ ابو معبد په هجرت دَ بيعت کولو دَ پاره حاضر کهٔ' حضورؐ اوفرمائيل' هجرت خو مهاجرينو باندے ختم شو' زهٔ به دهٔ نه اسلام او جهاد باندے بيعت واخلم. بيا ما ابو معبد سره ملاقات اوکهٔ' تپوس م ترے اوکهٔ' نو هغهٔ اووے' مجاشع ريښتيا وئيلے دي. خالد' ابو عثمان' مجاشع نه روايت کوي' چه هغهٔ خپل ورور مجالد راوستلو.

۳۱۶: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ اَبِيْ بِشْرٍ عَنْ مُجَاهِدٍ قُلْتُ لِابْنِ عُمَرَؓ اِنِّيْ اُرِيْدُ اَنْ اُهَاجِرَ اِلَى الشَّامِ قَالَ لَا هِجْرَةَ وَلٰكِنْ جِهَادٌ فَانْطَلِقْ فَاعْرِضْ

۳۱۶: محمد بن بشار. غندر. ابو بشر. مجاهد نه روايت کوي' هغه فرمائي' ما ابن عمرؓ ته عرض اوکهٔ' زهٔ شام طرف ته هجرت کول غواړم' هغهٔ اووے' هجرت خو ختم شوے دے' اوس خو جهاد دے' نو ته لاړ شه' او خپل زړهٔ کښ غور او فکر اوکړه' که ته (دَ

نَفْسَكَ فَإِنْ وَّجَدْتَ شَيْئًا وَ إِلَّا رَجَعْتَ وَ قَالَ النَّضْرُ اَخْبَرَنَا شُعْبَةُ اَخْبَرَنَا اَبُوْ بِشْرٍ سَمِعْتُ مُجَاهِدًا قُلْتُ لِابْنِ عُمَرَ فَقَالَ لَا هِجْرَةَ الْيَوْمَ اَوْ بَعْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ.

جهاد، څه) طاقت بيا مومے (نو خير) كني واپس راځه. نضر، شعبه، ابو بشر، مجاهد نه روايت كوي، هغه فرمائي، ما ابن عمرؓ ته دَ هجرت كولو اووے، نو هغهٔ اوفرمائيل، چه اوس، يا دائے اوفرمائيل، چه رسول الله صلي الله عليه وسلّم نه پس هجرت نهٔ دے پاتے.

۳۱۷: حَدَّثَنِيْ اِسْحَاقُ بْنُ يَزِيْدَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَمْزَةَ قَالَ حَدَّثَنِيْ اَبُوْ عَمْرٍو الْاَوْزَاعِيُّ عَنْ عَبْدَةَ بْنِ اَبِيْ لُبَابَةَ عَنْ مُجَاهِدِ بْنِ جَبْرٍ الْمَكِّيِّ اَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ كَانَ يَقُوْلُ لَا هِجْرَةَ بَعْدَ الْفَتْحِ.

۳۱۷: اسحاق بن يزيد. يحيٰي بن حمزه. ابو عمرو اوزاعي. عبيده بن ابو لبابه مجاهد بن جبر مكي نه روايت كوي، دَ هغهٔ بيان دے، حضرت عبدالله بن عمرؓ فرمائيل دَ مكے دَ فتح نه پس هجرت ختم شو (ځكه چه ټول ملک دارالاسلام جوړ شو).

ف: دَارُ الاسلام: هغه ملک كوم ځائے چه اسلامي حكومت وي.

۳۱۸: حَدَّثَنَا اِسْحٰقُ بْنُ يَزِيْدَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَمْزَةَ قَالَ حَدَّثَنِي الْاَوْزَاعِيُّ عَنْ عَطَاءِ بْنِ اَبِيْ رَبَاحٍ قَالَ زُرْتُ عَائِشَةَ مَعَ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ فَسَأَلَهَا عَنِ الْهِجْرَةِ فَقَالَتْ لَا هِجْرَةَ الْيَوْمَ كَانَ الْمُؤْمِنُ يَفِرُّ اَحَدُهُمْ بِدِيْنِهِ اِلَى اللّٰهِ وَ اِلٰى رَسُوْلِهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَخَافَةَ اَنْ يُّفْتَنَ عَلَيْهِ فَاَمَّا الْيَوْمَ فَقَدْ اَظْهَرَ اللّٰهُ الْاِسْلَامَ فَالْمُؤْمِنُ يَعْبُدُ رَبَّهُ حَيْثُ شَاءَ وَلٰكِنْ جِهَادٌ وَ نِيَّةٌ.

۳۱۸: اسحاق بن يزيد. يحيٰي بن حمزه. اوزاعي. عطاء بن ابي رباح نه روايت كوي، هغه وائي، زهٔ عبيد بن عمير سره بي بي عائشےؓ له راغلم، دَ هغے نه مو دَ هجرت باره كښې تپوس اوكړ، هغے اوفرمائيل، اوس هجرت نشته (مخكښې اسلام غالب نه وو، نو) مسلمانان به دَ خپل دين دَ فتنے نه محفوظ كولو دَ پاره الله او رسول طرف ته تښتيدل، ليكن اوس خو الله اسلام غالب كړے دے، نو مؤمن چه كوم ځائے غواړي، دَ خپل رب عبادت دے كوي. او (اوس) جهاد او (اخلاص سره) نيت باقي دے [۱].

۱. كومو حضراتو چه د هجرت باره كښې صحابهؓ نه تپوس كړے وو هغوئ د اسلامي حكومت لاندے اوسيدل. او چونكه ديني آزادي په مكه كښې حاصله نه وه دے د پاره هلته نه د هجرت حكم شوے وو. او د هجرت مقصد هم دغه دے. همدا وجه ده چه د تولونه مخكښې هجرت حبشو طرفته اوشو چرته چه ددے نه سوا چه هغوئ ته د عبادت آزادي وه نور هيڅ نه وُو. په مدينه كښې هم ابتدا كښې هيڅ دارالاسلام نه وو. كومو حضراتو چه تپوس كړے وو د هغوئ مقصد د اسلامي مملكت په حدودو كښې

هجرت كول وو. د هجرت منشاء چونكه دے سره نه حاصليده په دے وجه ددے ممانعت اوكړے شو. دغه حضراتو دارالكفر نه د هجرت هدو سوال نه وو پورته كړے.

۳۱۹: حَدَّثَنَا اِسْحَاقُ حَدَّثَنَا اَبُوْ عَاصِمٍ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ اَخْبَرَنِىْ حَسَنُ بْنُ مُسْلِمٍ عَنْ مُجَاهِدٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ يَوْمَ الْفَتْحِ فَقَالَ اِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ مَكَّةَ يَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فَهِيَ حَرَامٌ بِحَرَامِ اللّٰهِ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَمْ تَحِلَّ لِاَحَدٍ قَبْلِىْ وَلَا تَحِلُّ لِاَحَدٍ بَعْدِىْ وَلَمْ تَحْلِلْ لِىْ اِلَّا سَاعَةً مِنَ الدَّهْرِ لَا يُنَفَّرُ صَيْدُهَا وَلَا يُعْضَدُ شَوْكُهَا وَلَا يُخْتَلٰى خَلَاهَا وَلَا تَحِلُّ لُقَطَتُهَا اِلَّا لِمُنْشِدٍ فَقَالَ الْعَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ اِلَّا الْاِذْخَرَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَاِنَّهُ لَا بُدَّمِنْهُ لِلْقَيْنِ وَالْبُيُوْتِ فَسَكَتَ ثُمَّ قَالَ اِلَّا الْاِذْخِرَ فَاِنَّهُ حَلَالٌ وَ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ اَخْبَرَنِىْ عَبْدُ الْكَرِيْمِ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ بِمِثْلِ هٰذَا اَوْ نَحْوِ هٰذَا رَوَاهُ اَبُوْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

۳۱۹: اسحاق. ابو عاصم. ابن جريج. حسن بن مسلم. مجاهد نه روايت كوي، رسول الله صلي الله عليه وسلّم ذ فتح مكے په ورځ (خطبے ذ پاره) اودريدلو، نو حضورؐ اوفرمائيل، الله تعالي ذ اسمان او زمكے ذ پيدائش ذ ورځے نه مكه حرم گرځولے ده، نو دا ذ قيامته پورے ذ الله په حكم ذ حرم كيدو په وجه حرم دے نۀ مانه مخكښې چا د پاره حلاله وه او نه به مانه روستو چا ذ پاره حلاله شي، او ذ لږ ساعت نه علاوه ما ذ پاره هم نۀ ده حلاله شوے. نۀ ذ دے ښكار زغلول جائز دي، نۀ ذ دے وابنۀ پريكول جائز دي. او نۀ ذ دے پريوتے څيز چاله اوچتول جائز دي، علاوه ذ هغے نه، چه ذ هغے خلقو له اطلاع وركړي، نو عباسؓ بن عبدالمطلب اووے، سِوا ذ اذخر (وابنو) نه، يا رسول الله، ځكه چه لوهارانو او خمونږ كورونوته ذ دے ضرورت پيښيږي، نو حضورؐ خاموش شولو. بيائے اوفرمائيل، سِوا ذ اذخر نه، چه ذ هغے پريكول حلال دي. ابن جريج، عبدالكريم، عكرمه، ابن عباسؓ نه هم دغه شان روايت دے. ابوهريرهؓ ذ حضور صلي الله عليه وسلّم نه ذ دے په شان روايت كړے دے.

**باب۵۵: قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى وَ يَوْمَ حُنَيْنٍ اِذْ اَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنْكُمْ شَيْئًا وَّ ضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُمْ مُّدْبِرِيْنَ ثُمَّ اَنْزَلَ اللّٰهُ**

**باب۵۵:** آيت: وَ يَوْمَ حُنَيْنٍ اِذْ اَعْجَبَتْكُمْ فرمان الهي (ياد كړے) ذ حنين ورځ چه تاسو په خپل كثرت ناز كولو، نو هغے تاسوله هيڅ فائده درنۀ كړله، او زمكه باوجود ذ فراخي په تاسو تنګه شوه. بيا تاسو، شا، اوګرځوله. بيا الله تعالي ستاسو ذ تسكين صورت نازل

سَکِیْنَتَهُ اِلٰی قَوْلِهٖ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ.

کړلو' غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ: پورې بیان.

۳۲۰: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ نُمَیْرٍ حَدَّثَنَا یَزِیْدُ بْنُ هَارُوْنَ اَخْبَرَنَا اِسْمَاعِیْلُ رَاَیْتُ بِیَدِ ابْنِ اَبِیْ اَوْفٰی ضَرْبَةً قَالَ ضُرِبْتُهَا مَعَ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَوْمَ حُنَیْنٍ قُلْتُ شَهِدْتَّ حُنَیْنًا قَالَ قَبْلَ ذٰلِكَ.

۳۲۰: محمد بن عبدالله بن نمیر. یزید بن هارون. اسماعیل نه روایت دے' ما دَ ابن ابي اوفٰي په لاس دَ زخم نښه اولیده نو هغهٔ اووے. ما ته دا زخم دَ حنین په ورځ دَ رسول الله صلي الله علیه وسلّم ملګرتیا کښې لګیدلے وو. ما اووے. آیا تاسو (جنګ) حنین کښې شریک وے' نو هغهٔ اوفرمائیل' زهٔ به دَ دے نه مخکښې جنګونو کښې هم شریکیدلے۔

۳۲۱: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ کَثِیْرٍ حَدَّثَنَا سُفْیٰنُ عَنْ اَبِیْ اِسْحٰقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ وَ جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ یَا اَبَا عُمَارَةَ اَتَوَلَّیْتَ یَوْمَ حُنَیْنٍ فَقَالَ اَمَّا اَنَا فَاَشْهَدُ عَلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ لَمْ یُوَلِّ وَلٰکِنْ عَجِلَ سَرَعَانُ الْقَوْمِ فَرَشَقَتْهُمْ هَوَازِنُ وَ اَبُوْ سُفْیَانُ بْنُ الْحَارِثِ اٰخِذٌ بِرَاْسِ بَغْلَتِهِ الْبَیْضَاءِ یَقُوْلُ اَنَا النَّبِیُّ لَا کَذِبْ اَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ.

۳۲۱: محمد بن کثیر. سفیان. ابو اسحاق نه روایت کوي' براء بن عازب دَ هغے سړي نه' چه هغه راغے' دَ هغهٔ نه ئے تپوس اوکړهٔ' اے ابو عماره' آیا تا دَ حنین په ورځ شا ښودلے ده' وے فرمائیل' ګوره' زهٔ ګواه یم' چه نبي صلي اللّٰه علیه وسلّم شا' کړے نهٔ وه. لیکن قوم کښې جلد بازانو جلتي اوکړه' نو' قوم هوازن په هغوي تیر اندازي شروع کړه. او ابو سفیان بن حارث دَ حضور صلي الله علیه وسلّم دَ قچرے سَر نیولے وو' او حضورؐ فرمائیل' زهٔ ریښتنے نبي یم' زهٔ دَ عبدالمطلب خوئے یم.

۳۲۲: حَدَّثَنَا اَبُو الْوَلِیْدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ اَبِیْ اِسْحٰقَ قِیْلَ لِلْبَرَاءِ وَ اَنَا اَسْمَعُ اَوَلَّیْتُمْ مَعَ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَوْمَ حُنَیْنٍ فَقَالَ اَمَّا النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَلَا کَانُوْا رُمَاةً فَقَالَ اَنَا النَّبِیُّ لَا کَذِبْ اَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ.

۳۲۲: ابو الولید. شعبه. ابو اسحاق نه روایت کوي' هغه دَ براء بن عازب نه تپوس اوکړهٔ' او ما آوریدل' آیا تهٔ رسول اللّٰه صلي الله علیه وسلّم سره دَ حنین په ورځ تښتیدلے وے' نو هغهٔ اوفرمائیل' چه رسول الله صلي اللّٰه علیه وسلّم خو نهٔ وو تښتیدلے' هغه خلق تیر انداز وو' نو حضورؐ فرمائیل' زهٔ ریښتنے نبي یم' زهٔ دَ عبدالمطلب خوئے یم.

۳۲۳: حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحٰقَ سَمِعَ الْبَرَاءَ وَ سَأَلَهُ رَجُلٌ مِنْ قَيْسٍ أَفَرَرْتُمْ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ حُنَيْنٍ فَقَالَ لٰكِنْ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَفِرَّ كَانَتْ هَوَازِنُ رُمَاةً وَ إِنَّا لَمَّا حَمَلْنَا عَلَيْهِمُ انْكَشَفُوا فَأَكْبَبْنَا عَلَى الْغَنَائِمِ فَاسْتُقْبِلْنَا بِالسِّهَامِ وَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى بَغْلَتِهِ الْبَيْضَاءِ وَ إِنَّ أَبَا سُفْيَانَ آخِذٌ بِزِمَامِهَا وَهُوَ يَقُولُ أَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبْ قَالَ إِسْرَائِيلُ وَ زُهَيْرٌ نَزَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَغْلَتِهِ.

۳۲۳: محمد بن بشار. غندر. شعبه. ابو اسحاق نه روایت کوي، هغهٔ ذ براء نه واوریدل، هر کله چه ذ هغهٔ نه ذ قبیلهٔ قیس یو سړي تپوس او کهٔ، آیا تاسو ذ حنین په ورځ رسول اللّٰه صلي اللّٰه علیه وسلّم پریښي وو او تهٔ تښتیدلي وئي، نو هغهٔ اوفرمائیل، لیکن رسول اللّٰه صلي اللّٰه علیه وسلّم خو نهٔ وو تښتیدلي (اوشوه داسې چه) قوم هوازن ډیر تیر انداز وو. کوم وخت چه مونږ په هغوي حمله اوکړله نو هغوي اوتښتیدل، مونږ مال غنیمت لوټلو کښ مصروف شو، نو څمونږ مخې ته غشي راتلل، او ما رسول اللّٰه صلي اللّٰه علیه وسلّم په خپله سپینه قچره سور اولیدلو، چه ذ هغې واګې ابو سفیان نیولې وې، او حضورؐ فرمائیل، زهٔ ریښتنې نبي یم، زهٔ ذ عبدالمطلب څوئې یم. اسرائیل او زبیر دا روایت کړې دې چه نبي صلي اللّٰه علیه وسلّم ذ قچرې نه راکوز شوې وو.

۳۲۴: حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي لَيْثٌ حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ ح وَ حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرٰهِيمَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَخِي ابْنِ شِهَابٍ قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ شِهَابٍ وَ زَعَمَ عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ أَنَّ مَرْوَانَ وَالْمِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ أَخْبَرَاهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ حِينَ جَاءَهُ وَفْدُ هَوَازِنَ مُسْلِمِينَ فَسَأَلُوهُ أَنْ يَرُدَّ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ وَ سَبْيَهُمْ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ

۳۲۴: سعید بن عفیر. لیث. عقیل. ابن شهاب (دویم سند) اسحاق. یعقوب بن شهاب. عروه بن زبیر. مروان او مسور بن مخرمه نه روایت کوي. کوم وخت چه نبي صلي اللّٰه علیه وسلّم ته ذ هوازن وفد مسلمانیدونه پس راغې، او حضورؐ ته ئې خواست اوکهٔ، چه ذ هغوي قیدیان او مال دې هغوي ته واپس کړې شي، نو حضورؐ ورته اوفرمائیل، ماسره چه دا وینئې، څما صحابهؓ دي، او څما ذ ټولونه زیاته ریښتنې خبره خوښه ده، نو تاسو دوو کښ یو څیز خوښ کړئې، یا قیدیان، یا مال، او ما خو ستاسو په وجه (ذ غنیمت

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعِيَ
مَنْ تَرَوْنَ وَ اَحَبُّ الْحَدِيْثِ اِلَيَّ
اَصْدَقُهُ فَاخْتَارُوْا اِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ
اِمَّا السَّبْيَ وَ اِمَّا الْمَالَ وَقَدْ كُنْتُ
اسْتَأْنَيْتُ بِكُمْ وَ كَانَ اَنْظَرَهُمْ رَسُوْلُ
اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِضْعَ
عَشَرَ لَيْلَةً حِيْنَ قَفَلَ مِنَ الطَّائِفِ
فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُمْ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى
اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيْرُ رَادٍّ اِلَيْهِمْ اِلَّا
اِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ قَالُوْا فَاِنَّا نَخْتَارُ
سَبْيَنَا فَقَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمُسْلِمِيْنَ فَاَثْنٰى
عَلَى اللّٰهِ بِمَا هُوَ اَهْلُهُ ثُمَّ قَالَ اَمَّا
بَعْدُ فَاِنَّ اِخْوَانَكُمْ قَدْ جَاءُوْنَا تَائِبِيْنَ
وَ اِنِّيْ رَاَيْتُ اَنْ اَرُدَّ اِلَيْهِمْ سَبْيَهُمْ
فَمَنْ اَحَبَّ مِنْكُمْ اَنْ يُّطَيِّبَ ذٰلِكَ
فَلْيَفْعَلْ وَمَنْ اَحَبَّ مِنْكُمْ اَنْ يَّكُوْنَ
عَلٰى حَظِّهٖ حَتّٰى نُعْطِيَهٗ اِيَّاهُ مِنْ اَوَّلِ
مَا يُفِيْٓءُ اللّٰهُ عَلَيْنَا فَلْيَفْعَلْ فَقَالَ
النَّاسُ قَدْ طَيَّبْنَا ذٰلِكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ
فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ اِنَّا لَا نَدْرِيْ مَنْ اَذِنَ مِنْكُمْ
فِيْ ذٰلِكَ مِمَّنْ لَّمْ يَاْذَنْ فَارْجِعُوْا حَتّٰى
يَرْجِعَ اِلَيْنَا عُرَفَاؤُكُمْ اَمْرَكُمْ فَرَجَعَ
النَّاسُ فَكَلَّمَهُمْ عُرَفَاؤُهُمْ ثُمَّ رَجَعُوْا
اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

تقسیم کښې) تاخیر هم کړے وو. او رسول اللّٰه
صلي اللّٰه علیه وسلّم د طائف نه واپس د تشریف
راوړلو په وخت د لس نه زیاتو ورځو پورې
(د قوم هوازن) انتظار کړے وو. هر کله چه په
هغوي ظاهره شوه، چه رسول اللّٰه صلي اللّٰه علیه
وسلّم به بس صرف یو څیز واپس کړي، نو
هغوي اووې، مونږ خپل قیدیان واپس غواړو، نو
رسول اللّٰه صلي اللّٰه علیه وسلّم مسلمانانو ته
خطبے ورکولو د پاره اودریدلو حضورؐ د اللّٰه شان
شایان تعریف نه پس اوفرمائیل امّا بعد: ستاسو
وروڼه (د کفر نه) توبه کولو نه پس مونږ له راغلي
دي، او زهٔ مناسب ګڼړم، چه د هغوي قیدیان
هغوي ته واپس کړے شي، تاسو کښې چه کوم
سړے د احسان په طور قیدي پریښودل غواړي،
هغه دے داسے اوکړي او څوک چه خپله
حصه پریښودل نهٔ غواړي، بلکه هغه دا غواړي،
چه مونږ د هغے عوض کښې د هغے مال نه چه اللّٰه
تعالي اول فئ کښې، مونږ ته عطا کړي، هغه له
ورکړو، نو داسے دے اوکړي، خلقو اووے، یا
رسول اللّٰه، مونږ احسان کول غواړو، حضورؐ
اوفرمائیل، مونږ ته نه ده معلومه چه ستاسو
سرداران راشي، او مونږ ته دا معامله پیش کړي.
خلق واپس لاړل، او هغوي سره د هغوي سردارانو
خبرے اترے اوکړے. بیا هغه سرداران رسول اللّٰه صلي
اللّٰه علیه وسلّم ته واپس راغلل، او حضورؐ ته ئے
اوښودل، چه ټول خلق خوشحالي سره د دے

وَسَلَّمَ فَأَخْبَرُوْهُ أَنَّهُمْ قَدْ طَيَّبُوْا وَ أَذِنُوْا هٰذَا الَّذِيْ بَلَغَنِيْ عَنْ سَبْيِ هَوَازِنَ.

اجازت دركوي' (چه قيديان دې واپس كړې شي) دا هغه حديث دې' چه ماته ذ هوازن ذ قيديانو باره كښ معلوم شوې دې.

ف: فئ: ذ غنيمت مال.

۳۲۵: حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوْبَ عَنْ نَافِعٍ أَنَّ عُمَرَ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَ حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ أَيُّوْبَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ لَمَّا قَفَلْنَا مِنْ حُنَيْنٍ سَأَلَ عُمَرُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نَذْرٍ كَانَ نَذَرَهُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ اعْتِكَافٍ فَأَمَرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِوَفَائِهٖ وَ قَالَ بَعْضُهُمْ حَمَّادٌ عَنْ أَيُّوْبَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ وَ رَوَاهُ جَرِيْرُ بْنُ حَازِمٍ وَ حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ عَنْ أَيُّوْبَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

۳۲۵: ابو النعمان. حماد بن زيد. ايوب. نافع نه روايت كوي' ذ هغه بيان دې' كوم وخت چه مونږ ذ غزوۀ حنين نه واپس راتلو' حضرت عمرؓ ذ حضور صلي الله عليه وسلم نه ذ خپل اعتكاف ذ نذر باره كښ تپوس اوكۀ چه هغه ذ جاهليت زمانه كښ منلې وو' حضور صلي الله عليه وسلم' هغۀ ته ذ نذر پوره كولو حكم وركۀ. او بعضو داسې سند بيان كړلو' حماد' ايوب' نافع' حضرت ابن عمرؓ او جرير بن حازم' حماد بن سلمه' ايوب' نافع' ابن عمرؓ هم ذ نبي صلي الله عليه وسلم نه دا روايت بيان كړې دې.

۳۲۶: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوْسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيْدٍ عَنْ عُمَرَ بْنِ كَثِيْرِ بْنِ أَفْلَحَ عَنْ أَبِيْ مُحَمَّدٍ مَوْلٰى أَبِيْ قَتَادَةَ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ حُنَيْنٍ فَلَمَّا الْتَقَيْنَا كَانَتْ لِلْمُسْلِمِيْنَ جَوْلَةٌ فَرَأَيْتُ رَجُلًا

۳۲۶: عبدالله بن يوسف. مالك. يحيي بن سعيد. عمر بن كثير بن افلح. ابو محمد. ابو قتاده نه روايت كوي' هغه فرمائي' مونږ نبي صلي الله عليه وسلم سره ذ حنين په كال اووتلو' كوم وخت چه مونږ مقابل شو' نو مسلمانانو كښ انتشار شان شولو' ما يو مشرك په يو مسلمان غالب اوليد' ما ذ شا طرف نه ذ هغۀ كردن په توره اووهلو' ذ هغۀ زغره م ماته كړه' هغه را په شاشو'

مِنَ الْمُشْرِكِينَ قَدْ عَلَا رَجُلًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَضَرَبْتُهُ مِنْ وَرَائِهِ عَلٰى حَبْلِ عَاتِقِهِ بِالسَّيْفِ فَقَطَعْتُ الدِّرْعَ وَ اَقْبَلَ عَلَيَّ فَضَمَّنِي ضَمَّةً وَجَدْتُ مِنْهَا رِيحَ الْمَوْتِ ثُمَّ اَدْرَكَهُ الْمَوْتُ فَاَرْسَلَنِي فَلَحِقْتُ عُمَرَ فَقُلْتُ مَا بَالُ النَّاسِ قَالَ اَمْرُ اللّٰهِ عَزَّ وَ جَلَّ ثُمَّ رَجَعُوا وَ جَلَسَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَنْ قَتَلَ قَتِيلًا لَهُ عَلَيْهِ بَيِّنَةٌ فَلَهُ سَلَبُهُ فَقُلْتُ مَنْ يَشْهَدُ لِي ثُمَّ جَلَسْتُ قَالَ ثُمَّ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ فَقُمْتُ فَقُلْتُ مَنْ يَشْهَدُ لِي ثُمَّ جَلَسْتُ قَالَ ثُمَّ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ فَقُمْتُ فَقَالَ مَالَكَ يَا اَبَا قَتَادَةَ فَاَخْبَرْتُهُ فَقَالَ رَجُلٌ صَدَقَ وَ سَلَبُهُ عِنْدِي فَاَرْضِهِ مِنِّي فَقَالَ اَبُوبَكْرٍؓ لَا هَا اللّٰهِ اِذًا لَا يَعْمِدُ اِلٰى اَسَدٍ مِنْ اُسُدِ اللّٰهِ يُقَاتِلُ عَنِ اللّٰهِ وَ رَسُولِهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيُعْطِيكَ سَلَبَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدَقَ فَاَعْطِهِ فَاَعْطَانِيهِ فَابْتَعْتُ بِهِ مَخْرَفًا فِي بَنِي سَلِمَةَ فَاِنَّهُ لَاَوَّلُ مَالٍ تَاَثَّلْتُهُ فِي الْاِسْلَامِ وَ قَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِي يَحْيَى ابْنُ سَعِيدٍ عَنْ عُمَرَ ابْنِ كَثِيرِ ابْنِ

او په ما راغے نو، زۀ ئے دومره زور سره دباؤ کړم، چه ماته مرګ په نظر راغے، او زۀ ئے پرېښودلم، بیا زۀ حضرت عمرؓ سره یوځائے شوم، ما هغه ته اووے، په خلقو څۀ چل اوشو (چه تس نس شول) هغۀ جواب راکړ، دَ خدائے حکم هم داسے دے، بیا مسلمانان راوګرځېدل (او حمله ئے اوکړله) اوس نبي صلي الله عليه وسلّم (چه میدان کښې ئے دَ شجاعت جوهر ښودلو) کیناستلو، اووے فرمائیل، چا چه یو کافر قتل کړلو، او هغه سره ګواه وي، نو هغۀ ته به دَ مقتول ټول سامان ورکیدے شي، نو ما اووے، څما ګواهي به څوک اوکړي. بیا زۀ کیناستم، بیا نبي صلي الله عليه وسلّم هغه شان اوفرمائیل، بیا زۀ اودریدم، او ما اووے، څما ګواهي به څوک اوکړي، او زۀ کیناستم بیا نبي صلي الله عليه وسلّم هغسے اوفرمائیل، بیا زۀ اودریدم، نو حضورؐ اوفرمائیل ابو قتاده څۀ چل دے، ما حضورؐ ته واقعه بیان کړله، نو یو سړي اووے، چه دے رېښتیا وائي او دَ دۀ دَ مقتول سامان ماسره دے. لیکن تاسو څما دَ طرف نه (دَ دغے مال ماسره پاتے کیدو باندے) دے راضي کړے، ابوبکرؓ اووے، په خدائے چه رسول الله صلي الله عليه وسلّم به دا اراده اُونۀ کړي، چه دَ الله دَ یو امزري، چه الله او دَ رسول جانب نه جنګیږي، اسباب واخلي، او تاله ئے درکړي، نو نبي صلي الله عليه وسلّم اوفرمائیل، دا خبره بالکل صحیح ده، هغه سامان ابو قتاده ته ورکړه، نو هغۀ، هغه سامان ماته واپس کړلو. ما په هغے (مال) بنو سلمه کښې یو باغ واخست. اسلام کښې دا ورمبنے مال دے، چه هغه ما جمع کۀ. لیث، یحیي بن سعید، عمر بن

افلح عن ابي قتادة قال لما كان يوم
حنين نظرت الى رجل من
المسلمين يقاتل رجلا من
المشركين يختله من ورآئه ليقتله
فاسرعت الى الذي يختله فرفع يده
ليضربني و اضرب يده فقطعتها ثم
اخذني فضمني ضما شديدا حتى
تخوفت ثم ترك فتحلل و دفعته ثم
قتلته وانهزم المسلمون وانهزمت
معهم فاذا بعمر بن الخطاب في
الناس فقلت له ما شأن الناس قال
امر الله ثم تراجع الناس الى رسول
الله صلى الله عليه وسلم فقال
رسول الله صلى الله عليه وسلم
من اقام بينة على قتيل قتله فله
سلبه فقمت لالتمس بينة على
قتيلي فلم ار احدا يشهد لي
فجلست ثم بدالي فذكرت امره
لرسول الله صلى الله عليه وسلم
فقال رجل من جلسآئه سلاح هذا
القتيل الذي يذكر عندي فارضه
منه فقال ابو بكر كلا لا يعطه اصيبغ
من قريش و يدع اسدا من اسد الله
يقاتل عن الله و رسوله صلى الله
عليه وسلم قال فقام رسول الله
صلى الله عليه وسلم فاداه الي

کثیر بن افلح، ذ ابو قتاده آزاد کرده غلام ابو محمد، ابو
قتاده نه روایت دے، هغه وائي، ذ حنین په ورځ یو
مسلمان م یو مشرک سره په جنګ اولید. یو بل
مشرک ذ مسلمان ذ قتلولو ذ پاره څهل لاس اوچت کړ،
نو ما ذ هغه لاس په توره اووهلو. بیا هغه زه راونیولم، او
ماله لې دومره سخت زور راکړ، چه ماسره ذ مرګ ویره
شوه، (چه دغه دے مې شوم) بیا هغه زه پرېښودم، او
سُست شولو. ما هغه ذ خاله لرے کړ، او قتل م کړ،
مسلمانان اوتښتېدل، زه هم هغوي سره اوتښتېدم، ما
سره خلقو کښې عمر بن خطاب یوځائے شولو. ما هغه ته
اووے، په خلقو څه چل اوشو، هغه جواب راکړ، ذ الله
حکم دغسے دے. بیا خلق نبي صلي الله علیه وسلّم ته
راغلل شو، حضورؐ اوفرمائیل، څوک چه په خپل قتل
کړي کافر ګواه پیش کړي، نو هغه ته به ذ مقتول ټول
مال ورکیدے شي، زه په خپل مقتول ذ ګواه په تلاش
کښې اودریدم. لیکن ماته هیڅ ګواه په لاس رانغے. بیا
خما یو ه کښې راغله، نو ما خپله واقعه ذ رسول الله صلي
الله علیه وسلّم مخکښې ذکر کړه، نو حضورؐ سره ناست
یو سړي اووے، ذ کوم مقتول ذکر چه دے کوي، ذ هغه
اسباب ماسره دے. لیکن دے خما ذ طرف نه راضي
کړئے (چه دا سامان ماته پرېږدي) ابوبکرؓ اووے هر ګز
داسے نۀ ده، چه حضور صلي الله علیه وسلّم دے دا
اسباب ذ الله هغه امزرے پرېږدي چه الله تعالی او ذ هغۀ
رسول ذ جانب نه جنګیږي، یو قریشي له ورکړي، نو
حضور صلي الله علیه وسلّم هغه مال ماته واپس
کړلو. ما په هغے (مال) یو باغ واخست. اسلام

فَاشْتَرَيْتُ مِنْهُ خِرَافًا فَكَانَ أَوَّلُ مَالٍ تَأَثَّلْتُهُ فِي الْإِسْلَامِ.

کښې دا ډ تهولونه ورمبنے مال دے چه هغه ما جمع کۀ.

بَاب ۵۶: غَزْوَةِ أَوْطَاسٍ.

باب ۵۶: ډ غزوه اوطاس بيان.

۳۲۷: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِي مُوسَىٰ قَالَ لَمَّا فَرَغَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ حُنَيْنٍ بَعَثَ أَبَا عَامِرٍ عَلَى جَيْشٍ إِلَى أَوْطَاسٍ فَلَقِيَ دُرَيْدَ ابْنَ الصِّمَّةِ فَقُتِلَ دُرَيْدٌ وَ هَزَمَ اللَّهُ أَصْحَابَهُ قَالَ أَبُو مُوسَى وَ بَعَثَنِي مَعَ أَبِي عَامِرٍ فَرُمِيَ أَبُو عَامِرٍ فِي رُكْبَتِهِ فَانْتَهَيْتُ إِلَيْهِ فَقُلْتُ يَا عَمِّ مَنْ رَمَاكَ فَأَشَارَ إِلَى أَبِي مُوسَى فَقَالَ ذَاكَ قَاتِلِي الَّذِي رَمَانِي فَقَصَدْتُ لَهُ فَلَحِقْتُهُ فَلَمَّا رَآنِي وَلَّى فَاتَّبَعْتُهُ وَ جَعَلْتُ أَقُولُ لَهُ أَلَا تَسْتَحْيِي أَلَا تَثْبُتُ فَكَفَّ فَاخْتَلَفْنَا ضَرْبَتَيْنِ بِالسَّيْفِ فَقَتَلْتُهُ ثُمَّ قُلْتُ لِأَبِي عَامِرٍ قَتَلَ اللَّهُ صَاحِبَكَ قَالَ فَانْزِعْ هَذَا السَّهْمَ فَنَزَعْتُهُ فَنَزَا مِنْهُ الْمَاءُ قَالَ يَا ابْنَ أَخِي أَقْرِئِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السَّلَامَ وَ قُلْ

۳۲۷: محمد بن علاء. ابو اسامه. بريد بن عبدالله. ابو برده. ابو موسى اشعري نه روايت كوي' كوم وخت چه نبي صلي الله عليه وسلّم ډ غزوۀ حنين نه فارغ شولو' نو حضورؐ ابو عامر ډ يو لښكر سردار جوړ كۀ' او قوم اوطاس جانب ته ئے اوليږلو. ډ هغۀ مقابله دريد بن صمه سره اوشوه' دريد اُو وژلے شو او ډ هغۀ ملګرو له الله شكست وركړلو. ابو موسى وائي' زۀ هم ابو عامر سره ليږلے ووم. ډ ابو عامر ګُنډئ په يو تير اولږيدله' چه يو جُشمي سړي ويشتلے وو' هغه غشے ډ هغۀ په زنګون كښې ښخ شولو. زۀ هغه له ورغلم' تپوس مې ترے اوكۀ' كاكا جي (چچاجان) تاسو چا په غشي ويشتلے ئے' هغۀ ابو موسىٰ ته اشارے سره اووے' دا قاتل هغه دے' چه زۀ ئے په غشي ويشتلے يم' نو زۀ هغۀ پسے اولږيدم' هر كله چه هغۀ زۀ اوليدم' نو هغه اوتښتيدلو' زۀ وړپسے شوم' او هغۀ ته مې وئيلے. اے بے غيرته اودريږے ولے نه' نو زۀ او هغه په يو بل تورو سره حمله آور شو. ما هغه قتل كړلو. بيا ما ابو عامر ته اووے' الله ستاسو قاتل هلاک كړلو' هغۀ اووے' خما دا پيوست شوے غشے خو اوكاږه. ما هغه غشے اوښكلو' نو ډ هغے زخم نه اُوبه اووتلے' هغۀ اووے' وراره' نبي عليه السلام ته خما سلام وايه' او ورته عرض اوكه' چه خما ډ پاره ډ مغفرت دُعا اوكړي. ابو عامر زۀ په خپل ځائے ډ لښكر امير مقرر كړم' لږ ساعت ژوندے وو' بيا شهيد شولو. زۀ واپس

لَـهُ اسْتَغْفِرْ لِيْ وَاسْتَخْلَفَنِيْ اَبُوْ
عَامِرٍ عَلَى النَّاسِ فَمَكَثَ يَسِيْرًا
ثُمَّ مَاتَ فَرَجَعْتُ فَدَخَلْتُ
عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ فِيْ بَيْتِهٖ عَلٰى سَرِيْرٍ مُرَمَّلٍ
وَعَلَيْهِ فِرَاشٌ قَدْ اَثَّرَ رِمَالُ
السَّرِيْرِ بِظَهْرِهٖ وَجَنْبَيْهِ فَاَخْبَرْتُهٗ
بِخَبَرِنَا وَخَبَرِ اَبِيْ عَامِرٍ وَّقَالَ قُلْ
لَهٗ اسْتَغْفِرْ لِيْ فَدَعَا بِمَاءٍ فَتَوَضَّاَ
ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ فَقَالَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِعُبَيْدٍ
اَبِيْ عَامِرٍ وَّرَاَيْتُ بَيَاضَ اِبْطَيْهِ ثُمَّ
قَالَ اللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَوْقَ
كَثِيْرٍ مِّنْ خَلْقِكَ مِنَ النَّاسِ فَقُلْتُ
وَلِيْ فَاسْتَغْفِرْ فَقَالَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِعَبْدِ
اللّٰهِ بْنِ قَيْسٍ ذَنْبَهٗ وَاَدْخِلْهُ يَوْمَ
الْقِيَامَةِ مُدْخَلًا كَرِيْمًا قَالَ اَبُوْ بُرْدَةَ
اِحْدٰهُمَا لِاَبِيْ عَامِرٍ وَالْاُخْرٰى لِاَبِيْ
مُوْسٰى.

راغلم، او نبي صلي الله عليه وسلّم ته حاضر شوم، حضورؐ
خپل مكان كښې يو بونړ واله كټ كښې ملاست وو. او په
هغې (برائې نام) فرش وو، چه ذ كټ ذ بونړ (يا منجو)
نښې ذ حضورؐ په شا او اړخ لړيدلې وې. ما حضورؐ ته ذ
ابو عامر ذ حالاتو اطلاع وركړه، ما اووې، چه هغه تاسوّ
ته داسې عرض كولو ذ پاره ونيلې دي، چه ما ذ پاره ذ
ښښنې دُعا اوكړئې. حضورؐ اوبه اُوغښتلې، اودس ئې
اوكړ. بيائې لاس اوچت كړل، وې فرمائيل، اې خدايه،
عبيد ابي عامر اوبښې. او ذ حضورؐ لاسونه مبارك
دومره اوچت وو، چه ذ حضورؐ ذ ترخونو مباركو سپيدي
ماليدله. بيا حضورؐ اوفرمائيل، اې الله، دهٔ له ذ قيامت په
ورځ په خپل اكثر مخلوق فضيلت وركړې. ما عرض
اوكړ، ما ذ پاره هم ذ ښښنې دُعا اوفرمائې، حضورؐ
اوفرمائيل، اې الله، ذ عبدالله بن قيس گناهونه اوبښې. او
ذ قيامت په ورځ دې معزز كړې. (الله پاك دې مونږ
هم په دې دُعا كښې رنګ كړي. اللّٰهم آمين) ابو برده
وائي، چه دې كښې يوه دُعا ابو عامر ذ پاره وه، او دويمه ذ
ابو موسٰي ذ پاره.

بَـابُ ۵۷: غَـزْوَةِ الطَّائِفِ فِيْ
شَوَّالٍ سَنَةَ ثَمَانٍ قَالَهٗ مُوْسَى بْنُ
عُقْبَةَ.

بـاب ۵۷: ذ غـزوه طـائف بيـان چـه ذ
مـوسـي بـن عـقبـه پـه قـول شوال ۸ھ كـښې
اوشوه.

۳۲۸: حَـدَّثَنَـا الْحُمَيْدِيُّ
سَمِعَ سُفْيَانَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ
اَبِيْهِ عَنْ زَيْنَبَ ابْنَةِ اَبِيْ سَلَمَةَ
عَنْ اُمِّهَا اُمِّ سَلَمَةَ دَخَلَ عَلَيَّ
النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

۳۲۸: حـميدي. سـفيـان. هشـام. ذ هغهٔ پلار.
زينـب دختـر ابـو سلمه. ذ هغې مور. اُم سلمهؓ نه روايت
دې. مـاسـره يـو هيجړا ناست وو، چه نبي صلي الله عليه
وسلّم تشريف راوړلو، نو ذ هغې هيجړا نه ئې عبدالله بن
اميـه تـه دا، ونيـل واوريـدل، چـه اې عبـدالله، گوره، كه

وَ عِنْدِىْ مُخَنَّثٌ فَسَمِعْتُهُ يَقُوْلُ لِعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اُمَيَّةَ يَا عَبْدَ اللّٰهِ اَرَاَيْتَ اِنْ فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ الطَّائِفَ غَدًا فَعَلَيْكَ بِابْنَةِ غَيْلَانَ فَاِنَّهَا تُقْبِلُ بِاَرْبَعٍ وَ تُدْبِرُ بِثَمَانٍ وَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلَنَّ هٰٓؤُلَاءِ

صباله الله تعالى تاسو ته په طائف فتح عطا کړي، نو دختر غیلان واخله، ځکه چه هغه (دومره نرم بدنے ده چه) هر کله مخے ته راځي، نو دَ هغے په خیټه څلور وَلَ (پیچ) راځي، او هر کله ملا (پیټه) واړوي، نو اَته وَلَ پرے پریوځي، نو حضورؐ اوفرمائیل، دا خلق دے تاله نهٔ راځي (دوي نه پرده کوه) ابن عیینه او ابن جریج اووے، چه دَ هغے هیجړا(مخنث) نوم "هیت" وو.

ف: دختر: لور، جینۍ، بنت، لړکي.

۳۲۹: حَدَّثَنَا مَحْمُوْدٌ حَدَّثَنَا اَبُوْ اُسَامَةَ عَنْ هِشَامٍ بِهٰذَا وَ زَادَ وَهُوَ مُحَاصِرُ الطَّائِفِ يَوْمَئِذٍ.

۳۲۹: محمود دَ اسامه. هشام نه هم دا روایت کړے دے، خو دومره الفاظ ئے زیات کړے دي، چه حضورؐ دغه وخت دَ طائف محاصره کړے وه.

۳۳۰: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ اَبِى الْعَبَّاسِ الشَّاعِرِ الْاَعْمٰى عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ لَمَّا حَاصَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الطَّائِفَ فَلَمْ يَنَلْ مِنْهُمْ شَيْئًا قَالَ اِنَّا قَافِلُوْنَ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ فَثَقُلَ عَلَيْهِمْ وَ قَالُوْا نَذْهَبُ وَلَا نَفْتَحُهُ وَ قَالَ مَرَّةً نَقْفُلُ فَقَالَ اغْدُوْا عَلَى الْقِتَالِ فَغَدَوْا فَاَصَابَهُمْ جِرَاحٌ فَقَالَ اِنَّا قَافِلُوْنَ غَدًا اِنْ شَآءَ اللّٰهُ فَاَعْجَبَهُمْ فَضَحِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ قَالَ سُفْيَانُ مَرَّةً فَتَبَسَّمَ قَالَ الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ الْخَبَرَ كُلَّهُ.

۳۳۰: علي بن عبدالله. سفیان. عمرو. ابوالعباس نابینا شاعر. عبدالله بن عمرؓ نه روایت دے، رسول الله صلي الله علیه وسلّم دَ طائف محاصره اوکړه، او دَ هغوي نه حضورؐ ته هیڅ حاصل نهٔ شو، نو حضورؐ اوفرمائیل، انشاء الله مونږ (به محاصره اوچته کړو) واپس به ځو. په مسلمانانو دا خبره سخته تیره شوه، او وئیل، دَ فتح کولو نه بغیر به مونږ واپس ځو، راوي کله (دَ نذهب په ځائے) نَقْفُلُ اووے، نو حضورؐ اوفرمائیل، بنهٔ ده، صباله ورشے، ورسره او جنګیږے، نو هغوي اوجنګیدل او زخمي شو، حضورؐ اوفرمائیل، صباله به انشاء الله مونږ واپس ځو، اوس مسلمانانو ته دَ حضورؐ دا فرمان بنهٔ معلوم شو، نو حضورؐ او خاندل سفیان کله اووے، چه مُسکے شو، حمیدي وائي، دا ټول حدیث مونږ ته سفیان بیان کړلو.

۳۳۱: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ

۳۳۱: محمد بن بشار. غندر. شعبه.

حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَاصِمٍ قَالَ سَمِعْتُ اَبَا عُثْمَانَ قَالَ سَمِعْتُ سَعْدًا وَهُوَ اَوَّلُ مَنْ رَمٰى بِسَهْمٍ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَ اَبَا بَكْرَةَ وَ كَانَ تَسَوَّرَ حِصْنَ الطَّائِفِ فِيْ اُنَاسٍ فَجَآءَ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَا سَمِعْنَا النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنِ ادَّعٰى اِلٰى غَيْرِ اَبِيْهِ وَهُوَ يَعْلَمُ فَالْجَنَّةُ عَلَيْهِ حَرَامٌ وَ قَالَ هِشَامٌ وَ اَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ عَاصِمٍ عَنْ اَبِي الْعَالِيَةِ اَوْ اَبِيْ عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ قَالَ سَمِعْتُ سَعْدًا وَ اَبَا بَكْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عَاصِمٌ قُلْتُ لَقَدْ شَهِدَ عِنْدَكَ رَجُلَانِ حَسْبُكَ بِهِمَا قَالَ اَجَلْ اَمَّا اَحَدُهُمَا فَاَوَّلُ مَنْ رَمٰى بِسَهْمٍ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَ اَمَّا الْاٰخَرُ فَنَزَلَ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَالِثَ ثَلَاثَةٍ وَ عِشْرِيْنَ مِنَ الطَّائِفِ.

عاصم. ابوعثمان وائي، ما ذَ سعد نه، چه هغه ذَ الله په لار کښې ذَ ټولونه مخکښې تيرَ ويشتلے وو، او ابوبکره نه، چه څو سړو سره (ذَ حضورؐ خدمت کښې راتللو ذَ پاره ذَ کفر نه وتلو سره) ذَ قلعه طائف په ديوال ختلے وو. بيا ابوبکره نبي صلي الله عليه وسلّم له راغلے وو. واوئے ريدل، دا دواړه حضرات نبي صلي الله عليه وسلّم نه روايت کوي، حضورؐ اوفرمائيل، څوک چه خپل ځان غير پلار (يا قوم) جانب ته، باوجوديکه هغهٔ ته علم وي، منسوب کړي، نو په هغهٔ جنت حرام دے. هشام په واسطه ذَ معمر عاصم روايت کوي، چه ابو العاليه يا ابو عثمان نهدي اووے، ما ذَ سعد او ابو بکره نه ذَ حضورؐ روايت واوريدلو. عاصم وائي ما اووے، تاته دا روايت داسے دوو سړو بيان کړے دے، چه ستا (ذَ يقين) ذَ پاره کافي دے، هغهٔ اووے. (او، ولے به داسے نه وي) چه يو ذَ هغوي نه هغه دے، چه هغه ذَ ټولو نه مخکښې ذَ الله په لار کښې غشے اوويشتلو، او دويم هغه چه ذَ طائف نه دويشت سړو سره حضور صلي الله عليه وسلّم له راغلے وو.

۴۳۳۲: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ حَدَّثَنَا اَبُوْ اُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ اَبِيْ بُرْدَةَ عَنْ اَبِيْ مُوْسٰىؓ قَالَ كُنْتُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ نَازِلٌ بِالْجِعْرَّانَةِ بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِيْنَةِ وَ مَعَهُ بِلَالٌ فَاَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

۴۳۳۲: محمد بن علاء. ابو اسامه. بريد بن عبدالله. ابو برده. ابو موسیٰؓ نه روايت کوي، هغه فرمائي، زهٔ نبي صلي الله عليه وسلّم سره ووم، حضورؐ ذَ مکے او مدينے مينځ (جعرانه مقام) کښې کوز شولو، او حضورؐ سره بلالؓ هم وو. يو اعرابي راغے، ذَ حضورؐ خدمت کښې ئے عرض اوکهٔ، آيا تاسو به ما سره کړے وعده پوره نه کړئے، حضورؐ اوفرمائيل (ذَ ثواب عظيم)

اَعْرَابِيٌّ فَقَالَ اَلَا تُنْجِزُ لِيْ مَا وَعَدْتَنِيْ فَقَالَ لَهُ اَبْشِرْ فَقَالَ قَدْ اَكْثَرْتَ عَلَيَّ مِنْ اَبْشِرْ فَاَقْبَلَ عَلٰى اَبِيْ مُوْسٰى وَ بِلَالٍ كَهَيْئَةِ الْغَضْبَانِ فَقَالَ رَدَّ الْبُشْرٰى فَاَقْبَلَا اَنْتُمَا قَالَا قَبِلْنَا ثُمَّ دَعَا بِقَدَحٍ فِيْهِ مَآءٌ فَغَسَلَ يَدَيْهِ وَ وَجْهَهُ فِيْهِ وَ مَجَّ فِيْهِ ثُمَّ قَالَ اشْرَبَا مِنْهُ وَ اَفْرِغَا عَلٰى وُجُوْهِكُمَا وَ نُحُوْرِكُمَا وَ اَبْشِرَا فَاَخَذَ الْقَدَحَ فَفَعَلَا فَنَادَتْ اُمُّ سَلَمَةَ مِنْ وَّرَآءِ السِّتْرِ اَنْ اَفْضِلَا لِاُمِّكُمَا فَاَفْضَلَا لَهَا مِنْهُ طَآئِفَةً.

بشارت حاصل کړه' هغهٔ اووے تاسو بارها بشارت فرمائيلي دے (زهٔ په دے څهٔ اوکړم) نو حضورؐ غضبناک صورت سره ابو موسٰي او بلال جانب ته متوجه شو' وے فرمائيل' هغه خو بشارت منظور نهٔ کړلو' تاسو دا قبول کړئے' هغوي اووے' مونږ قبول کړلو' بيا حضورؐ ذ اُوبو يوه پيالي راوغوښتله' او خپل لاس او مخ ئے اووينزلو' هغے کښ کُلي اوکړله (ذ خولے اوبه ئے په کښ واچولے) بيائے هغے دواړوته اوفرمائيل' ذ دے نه اوڅکئے' او په خپلو مخونو او سينو ئے واچوئے' او بشارت حاصل کړئے' هغوي پيالئے واخسته او دغسے ئے اوکړل' اُم سلمهٔ ذ پردے نه شاته آواز اوکهٔ' چه ذ خپلے مور (يعني ما) ذ پاره هم لږے پريږدئے' نو هغوي هغے ذ پاره هم يو حصه پريښودله.

۳۳۳: حَدَّثَنَا يَعْقُوْبُ بْنُ اِبْرَاهِيْمَ حَدَّثَنَا اِسْمَاعِيْلُ حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ عَطَآءٌ اَنَّ صَفْوَانَ بْنَ يَعْلَى بْنِ اُمَيَّةَ اَخْبَرَ اَنَّ يَعْلٰى كَانَ يَقُوْلُ لَيْتَنِيْ اَرٰى رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ يُنْزَلُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْجِعِرَّانَةِ وَ عَلَيْهِ ثَوْبٌ قَدْ اَظَلَّ بِهٖ مَعَهُ فِيْهِ اُنَاسٌ مِنْ اَصْحَابِهٖ اِذْ جَآءَهُ اَعْرَابِيٌّ عَلَيْهِ جُبَّةٌ مُتَضَمِّخٌ بِطِيْبٍ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ كَيْفَ تَرٰى فِيْ رَجُلٍ اَحْرَمَ بِعُمْرَةٍ فِيْ جُبَّةٍ بَعْدَ مَا تَضَمَّخَ بِالطِّيْبِ فَاَشَارَ عُمَرُ اِلٰى يَعْلٰى بِيَدِهٖ اَنْ تَعَالَ فَجَآءَ يَعْلٰى

۳۳۳: يعقوب بن ابراهيم. اسمعيل. ابن جريج. عطاء. صفوان بن يعلي بن اميه وائي' يعلي وئيلے' کاش چه ما رسول اللّٰه ذ نزول وحي په وخت ليدلے وے' هغه وائي' حضورؐ مقام جعرانه کښ وو' او په حضورؐ ذ کپړے يو تمبو لګيدلے وو' هغے کښ حضورؐ سره اصحاب هم وو. دے کښ حضورؐ له يو ديهاتي راغے' چه خوشبو' ئے لږولے او يوه جُبه ئے اَغستلے وه' هغهٔ اووے' يا رسول اللّٰه' ذ هغے سړي باره کښ' چه هغهٔ د عمرے احرام يو داسے جُبه کښ چه هغے کښ خوشبو لږيدلے وي' تړلے وي' ستاسو څهٔ حکم دے. نو حضرت عمرؓ يعلي ذ خپل لاس اشارے سره راوبلهٔ' چه راشه' يعلي راغے' او هغے تمبو کښ ئے سر ورننه کهٔ'

فَدَخَلَ رَأْسَهُ فَإِذَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُحْمَرُّ الْوَجْهِ يَغِطُّ كَذَالِكَ سَاعَةً ثُمَّ سُرِّيَ عَنْهُ فَقَالَ اَيْنَ الَّذِيْ يَسْأَلُنِيْ عَنِ الْعُمْرَةِ اٰنِفًا فَالْتُمِسَ الرَّجُلُ فَاُتِيَ بِهٖ فَقَالَ اِنَّ الطِّيْبَ الَّذِيْ بِكَ فَاغْسِلْهُ ثَلٰثَ مَرَّاتٍ وَّ اَمَّا الْجُبَّةُ فَانْزِعْهَا ثُمَّ اصْنَعْ فِيْ عُمْرَتِكَ كَمَا تَصْنَعُ فِيْ حَجِّكَ.

نو ورے لیدل چه د حضور صلي الله علیه وسلم مخ مبارک سُر (سرخ) وو او زور سره ئے ساه اخستله لږ ساعت دا کیفیت وو. بیا ختم شو نو حضورؐ اوفرمائیل چا چه اوس مانه د عمرے باره کښې مسئله پښتلے ده هغه چرته دے هغه سړے تلاش کړے شو او راوستے شو نو حضورؐ هغه ته اوفرمائیل دا خوشبو اووینزه جبه او کاږه او عمره کښې د خپل حج په شان ټول افعال ادا کړه.

۴۳۳۴: حَدَّثَنَا مُوْسَى بْنُ اِسْمٰعِيْلَ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ يَحْيٰى عَنْ عَبَّادِ بْنِ تَمِيْمٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَاصِمٍ قَالَ لَمَّا اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ حُنَيْنٍ قَسَمَ فِي النَّاسِ فِي الْمُؤَلَّفَةِ قُلُوْبُهُمْ وَلَمْ يُعْطِ الْاَنْصَارَ شَيْئًا فَكَاَنَّهُمْ وَجَدُوْا اِذْ لَمْ يُصِبْهُمْ مَا اَصَابَ النَّاسَ فَخَطَبَهُمْ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ الْاَنْصَارِ اَلَمْ اَجِدْكُمْ ضُلَّالًا فَهَدٰكُمُ اللّٰهُ بِيْ وَ كُنْتُمْ مُتَفَرِّقِيْنَ فَاَلَّفَكُمُ اللّٰهُ بِيْ وَ عَالَةً فَاَغْنَاكُمُ اللّٰهُ بِيْ كُلَّمَا قَالَ شَيْئًا قَالُوْا اَللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗ اَمَنُّ قَالَ مَا يَمْنَعُكُمْ اَنْ تُجِيْبُوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلَّمَا قَالَ شَيْئًا قَالُوْا اَللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗ اَمَنُّ قَالَ لَوْ شِئْتُمْ قُلْتُمْ جِئْتَنَا كَذَا وَ كَذَا

۴۳۳۴: موسي بن اسمٰعیل. وهب. عمرو بن یحيي. عباد بن تمیم. عبدالله بن زید بن عاصم نه روایت کوي هغه فرمائي د حنین په ورځ چه الله تعالیٰ خپل رسول ته مالِ غنیمت عطاء کړ نو حضورؐ هغې خلقو ته چه د هغوي په زړهٔ کښې ایمان جم کیدل مقصود وو هغه مال ئے ورکړلو او انصارو ته ئے بالکل ورنهٔ کړلو کوم وخت چه مال نورو ته ورکړے شو او هغوي ته ورنهٔ کړے شو هغوي خهٔ خفه شان شو نو حضورؐ د هغوي مخکښې خطبه ورکړله او وے فرمائیل اے د انصارو ډلے آیا ما تاسو ګمراه نه وئے بیامندے نو الله خما په وجه تاسو ته هدایت اوکړ او تاسو کښې نااتفاقي وه نو الله خما په وجه تاسو کښې اُلفت (محبت) پیدا کړ او آیا تاسو فقیران نهٔ وئے نو الله خما په وجه تاسو مالدار جوړ کړے. حضورؐ چه به کله څهٔ فرمائیل نو انصارو به عرض کولو د الله او د هغهٔ د رسول په مونږ لوئے احسان دے. حضورؐ اوفرمائیل که تاسو غواړئے نو (ماته) وئیلے شئے چه تاسو مونږ ته داسے داسے حالت کښې تشریف راوړلو (نو مونږ ستاسو مدد اوکړ تاسو په

اَتَرْضَوْنَ اَنْ يَّذْهَبَ النَّاسُ بِالشَّاةِ وَالْبَعِيْرِ وَ تَذْهَبُوْنَ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰى رِحَالِكُمْ لَوْلَا الْهِجْرَةُ لَكُنْتُ امْرَاً مِّنَ الْاَنْصَارِ وَلَوْ سَلَكَ النَّاسُ وَادِيًا وَ شِعْبًا لَسَلَكْتُ وَادِيَ الْاَنْصَارِ وَ شِعْبَهَا الْاَنْصَارُ شِعَارٌ وَالنَّاسُ دِثَارٌ اِنَّكُمْ سَتَلْقَوْنَ بَعْدِيْ اَثَرَةً فَاصْبِرُوْا حَتّٰى تَلْقَوْنِيْ عَلَى الْحَوْضِ.

دے خبرو راضي نه يئ' چه خلق اوښان او چيلئے بوځي' او تاسو خپل کورونوته نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم بوځئ' که چرے د هجرت فضيلت نه وے' نو زهٔ به دَ انصارو يو فرد ووم' که نور خلق يو ميدان يا غاښي کښې ځي' نو زهٔ به دَ انصارو ميدان يا غاښي کښې ځم. انصار (په مثل دَ اَستر (دننه کپړے) او نور خلق (په مثل دَ) ابرے (بهر کپړے) دي. تاسو به ځما نه پس (دَ نورو) ترجيح اووينئے' نو صبر کوئ' حتي چه په حوض کوثر ماسره ملاقات اوکړئ.

۳۳۵: حَدَّثَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا هِشَامٌ اَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ اَخْبَرَنِيْ اَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ قَالَ نَاسٌ مِنَ الْاَنْصَارِ حِيْنَ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْطِيْ رِجَالًا الْمِائَةَ مِنَ الْاِبِلِ فَقَالُوْا يَغْفِرُ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْطِيْ قُرَيْشًا وَ يَتْرُكُنَا وَ سُيُوْفُنَا تَقْطُرُ مِنْ دِمَائِهِمْ قَالَ اَنَسٌ فَحُدِّثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَقَالَتِهِمْ فَاَرْسَلَ اِلَى الْاَنْصَارِ فَجَمَعَهُمْ فِيْ قُبَّةٍ مِّنْ اَدَمٍ وَّلَمْ يَدْعُ مَعَهُمْ غَيْرَهُمْ فَلَمَّا اجْتَمَعُوْا قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا حَدِيْثٌ بَلَغَنِيْ عَنْكُمْ فَقَالَ فُقَهَاءُ الْاَنْصَارِ اَمَّا رُؤَسَاؤُنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَلَمْ يَقُوْلُوْا شَيْئًا وَ اَمَّا نَاسٌ مِّنَّا

۳۳۵: عبداللّٰه بن محمد. هشام. معمر. زهري. انس بن مالک فرمائي' کوم وخت چه اللّٰه تعالي خپل رسولﷺ ته دَ هوازن مال غنيمت عطا کړلو' او حضورﷺ بعضوته سل سل اوښان عطا کړل' نو ځنے انصاري سړو اووے' اللّٰه دے دَ خپل رسول مغفرت نصيب کړي' مونږ پريږدي' او قريشو ته مال (غنيمت) ورکوي' حالانکه دَ قريشو خون (وينه) ځمونږ دَ تورو نه ځاڅي' انس وائي' حضورﷺ ته دَ انصارو دا خبره معلومه شوه' نو حضورﷺ هغوي دَ څرمنے په يو خيمه کښې راجمع کړل' او هغوي سره ئے بل څوک راؤنه غوښتل' کوم وخت چه هغوي راجمع شول' نو حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم اودريدلو' وے فرمائيل' هغه څنګه خبره ده' چه ماته ستاسو په حقله معلومه شوے ده. علماء انصارو جواب ورکهٔ' يا رسول اللّٰه' دَ انصارو مشرانو خو څهٔ نهٔ دي وئيلے' خو مونږ کښې څهٔ نوعمر داسے وو' چه هغوي داسے وئيلے دي' چه اللّٰه تعالي دے

حَدِيثَةٌ أَسْنَانُهُمْ فَقَالُوا يَغْفِرُ اللَّهُ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْطِي قُرَيْشًا وَ يَتْرُكُنَا وَ سُيُوفُنَا تَقْطُرُ مِنْ دِمَائِهِمْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنِّي أُعْطِي رِجَالًا حَدِيثِي عَهْدٍ بِكُفْرٍ أَتَأَلَّفُهُمْ أَمَا تَرْضَوْنَ أَنْ يَذْهَبَ النَّاسُ بِالْأَمْوَالِ وَ تَذْهَبُونَ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى رِحَالِكُمْ فَوَاللَّهِ لَمَا تَنْقَلِبُونَ خَيْرٌ مِمَّا يَنْقَلِبُونَ بِهِ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ لَقَدْ رَضِينَا فَقَالَ لَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَتَجِدُونَ أُثْرَةً شَدِيدَةً فَاصْبِرُوا حَتَّى تَلْقَوُا اللَّهَ وَ رَسُولَهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنِّي عَلَى الْحَوْضِ قَالَ أَنَسٌ فَلَمْ يَصْبِرُوا.

دَ خپل رسولٌ مغفرت نصيب كړي' مونږ نظر انداز كوي او قريشو بانـدې مال (غنيمت) تقسيموي' حالانكه خـمونږ دَ توررو نه دَ قريشو وينې څاڅي' نو حضور صلي اللّه عليه وسلّم اوفرمائيل' زهٔ نو مسلم خلقو ته تاليف قلب (اسلام ته دَ زړهٔ مائل كولو) دَ پاره وركوم' آيا تاسو په دې راضي نه ئې' چه خلق خو مال يوسي' او تاسو خپلو كورونو تـه څان سره رسول اللّه صلي اللّه عليه وسلّم بوځې' قسم په خدائې' تاسو چه كوم څيز څانِ سره اُوړئې' دَ هغوي دَ اُوړلي څيز نه (ډير زيات) بهتر دې' هغوي اووې' يا رسول اللّـه' مونږ راضي يُو' بيا هغوي تـه رسول اللّه صلي اللّه عليه وسلّم اوفرمائيل. تاسوبه مانه پس (په څان دَ نورو) بې انتها ترجيح اُووينې' نو صبر كوئې' تردې چه تاسو اللّه تعالٰي او دَ هغهٔ رسول سره يو ځائې شئې. او زهٔ به تاسو سره په حوض كوثر يو ځائې كيږم' حضرت انس بن مالكؓ فرمائي' چه انصارو صبر اونهٔ كړلو.

۴۳۳۶: حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي التَّيَّاحِ عَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ فَتْحِ مَكَّةَ قَسَمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَنَائِمَ بَيْنَ قُرَيْشٍ فَغَضِبَتِ الْأَنْصَارُ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَا تَرْضَوْنَ أَنْ يَذْهَبَ النَّاسُ بِالدُّنْيَا وَ تَذْهَبُونَ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوا بَلَى قَالَ لَوْ سَلَكَ النَّاسُ وَادِيًا أَوْ شِعْبًا لَسَلَكْتُ

۴۳۳۶: سليمان بن حرب. شعبه. ابوالتياح. حضرت انسؓ نه روايت كوي' دَ هغهٔ بيان دې' دَ فتح مكې په ورځ چه رسول اللّه صلي اللّه عليه وسلّم مال (غنيمت) په قريشو تقسيم كړلو' نو انصار خفه شو' حضورؐ هغوي ته اوفرمائيل' آيا تاسو په دې راضي نه ئې' چه خلق خو دُنيا يوسي' او تاسو دَ اللّه رسولٌ خان سره بوځئې. هغوي عرض اوكـهٔ' ولې نـه' مونږ راضي يُو' حضور صلي اللّه عليه وسلّم اوفرمائيل' كه خلق يو ميدان يا غاښي كښې ځي' نو زهٔ به دَ انصارو ميدان يا غاښي

وَادِيَ الْاَنْصَارِ اَوْ شِعْبَهُمْ.

کښې ځم.

٣٣٧: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا اَزْهَرُ عَنْ عَوْنٍ اَنْبَاَنَا هِشَامُ ابْنُ زَيْدِ بْنِ اَنَسٍ عَنْ اَنَسٍؓ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ حُنَيْنٍ اِلْتَقٰى هَوَازِنَ وَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشَرَةُ الْاٰفٍ وَّ الطُّلَقَاءُ فَاَدْبَرُوْا قَالَ يَا مَعْشَرَ الْاَنْصَارِ قَالُوْا لَبَّيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَ سَعْدَيْكَ لَبَّيْكَ نَحْنُ بَيْنَ يَدَيْكَ فَنَزَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَنَا عَبْدُ اللّٰهِ وَ رَسُوْلُهٗ فَانْهَزَمَ الْمُشْرِكُوْنَ فَاَعْطَى الطُّلَقَاءَ وَالْمُهَاجِرِيْنَ وَلَمْ يُعْطِ الْاَنْصَارَ شَيْئًا فَقَالُوْا فَدَعَاهُمْ فَاَدْخَلَهُمْ فِيْ قُبَّةٍ فَقَالَ اَمَا تَرْضَوْنَ اَنْ يَّذْهَبَ النَّاسُ بِالشَّاةِ وَالْبَعِيْرِ وَ تَذْهَبُوْنَ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ سَلَكَ النَّاسُ وَادِيًا وَّ سَلَكَتِ الْاَنْصَارُ شِعْبًا لَاخْتَرْتُ شِعْبَ الْاَنْصَارِ.

٣٣٧: علي بن عبدالله. ازهر. ابن عون. هشام بن زيد بن انس. حضرت انسؓ نه روايت کوي، هغه فرمائي، ذَ حنين په ورځ قوم هوازن سره مقابله اوشوه، او حضور صلي الله عليه وسلّم سره لس زره (مهاجر او انصار) او ذَ مکے نو مسلم وو، نو هغوي يعني قوم هوازن (ذَ ميدان نه) اوتښتيدل، حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، اے ذَ انصارو ډلے، هغوي جواب ورکړ، لبيک يا رسول الله و سعديک وَ نحن بين يديک (مونږ حاضر يو او ستاسوؐ مدد ذَ پاره موجود يُو، او ستاسو مخکښې يُو) حضورؐ راکوز شولو، او وے فرمائيل، زهٔ ذَ الله بنده او ذَ هغهٔ رسول يم، مشرکانو شکست اوخوړ، حضورؐ مهاجرينو او ذَ مکے نو مسلمو ته مال غنيمت ورکړو، او انصارو ته ئے هيڅ ورنهٔ کړل، هغوي خپلو کښې خبرے اترے اوکړے. نو حضورؐ هغوي راوغښتل او يوه خيمه کښې ئے کينول، بيائے ورته اوفرمائيل، آيا تاسو په دے راضي نهٔ ئے، چه خلق اُوښان او چيلئے يوسي، او تاسو ذَ الله رسولؐ (خان سره) بوځے. که ټول خلق يو ميدان کښې ځي، او انصار بل کښې ځي، نو زهٔ به ذَ انصارو ميدان کښې ځم.

٣٣٨: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ سَمِعْتُ قَتَادَةَ عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍؓ قَالَ جَمَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَاسًا مِنَ الْاَنْصَارِ فَقَالَ اِنَّ قُرَيْشًا حَدِيْثُ عَهْدٍ بِجَاهِلِيَّةٍ وَ مُصِيْبَةٍ وَ

٣٣٨: محمد بن بشار. غندر. شعبه. قتاده. حضرت انس بن مالکؓ نه روايت کوي، ذَ هغهٔ بيان دے، حضور صلي الله عليه وسلّم ذَ انصارو سړي راجمع کړل او ورته ئے اوفرمائيل قريش نو مسلم او تازه مصيبت زده دي، ما سوچ کړے دے، چه ذَ هغوي دِلجوي او کړم، آيا تاسو

اِنِّيْ اَرَدْتُ اَنْ اَجْبُرَهُمْ وَ اَتَاَلَّفَهُمْ اَمَا تَرْضَوْنَ اَنْ يَّرْجِعَ النَّاسُ بِالدُّنْيَا وَ تَرْجِعُوْنَ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰى بُيُوْتِكُمْ قَالُوْا بَلٰى قَالَ لَوْ سَلَكَ النَّاسُ وَادِيًا وَ سَلَكَتِ الْاَنْصَارُ شِعْبًا لَسَلَكْتُ وَادِيَ الْاَنْصَارِ اَوْ شِعْبَ الْاَنْصَارِ.

په دې راضي نه يئ، چه خلق دُنيا يوسي، او تاسو خپلو كورونو ته ذَ اللّٰه رسولٌ بوځئ. انصارو اووے، ولې نه، مونږ (په دې) راضي يو. حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل. كه ټول خلق يو ميدان كښې ځي او انصار بل غاښي كښې، نو زۀ به ذَ انصارو ميدان يا وے فرمائيل، ذَ انصارو غاښي كښې ځم.

۳۳۹: حَدَّثَنَا قَبِيْصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ اَبِيْ وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ لَمَّا قَسَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِسْمَةَ حُنَيْنٍ قَالَ رَجُلٌ مِّنَ الْاَنْصَارِ مَآ اَرَادَ بِهَا وَجْهَ اللّٰهِ فَاَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَخْبَرْتُهُ فَتَغَيَّرَ وَجْهُهُ ثُمَّ قَالَ رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلٰى مُوْسٰى لَقَدْ اُوْذِيَ بِاَكْثَرَ مِنْ هٰذَا فَصَبَرَ.

۳۳۹: قبيصه. سفيان. اعمش. ابو وائل. حضرت عبداللّٰه نه روايت كوي ذَ هغۀ بيان دے، كوم وخت چه رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم ذَ حنين مال (غنيمت) تقسيم كړلو، نو يو انصاري سړي اووے، چه په دے تقسيم كښې ذَ حكم خداوي خيال اُونۀ ساتلے شو (عبداللّٰه وائي) ما حضورٌ ته دا خبره اورسوله، نو ذَ حضورٌ مخ مبارک متغير شولو. بيائے اوفرمائيل، اللّٰه تعالٰي دے په موسٰيٓ رحم اوكړي، هغۀ ته ذَ دے نه هم زيات تكليف رسيدلے وو. خو هغۀ صبر اُوكۀ.

۳۴۰: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيْدٍ حَدَّثَنَا جَرِيْرٌ عَنْ مَّنْصُوْرٍ عَنْ اَبِيْ وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ حُنَيْنٍ اٰثَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَاسًا اَعْطَى الْاَقْرَعَ مِائَةً مِّنَ الْاِبِلِ وَ اَعْطٰى نَاسًا فَقَالَ رَجُلٌ مَّا اُرِيْدَ بِهٰذِهِ الْقِسْمَةِ وَجْهُ اللّٰهِ فَقُلْتُ لَاُخْبِرَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَحِمَ اللّٰهُ مُوْسٰى قَدْ اُوْذِيَ بِاَكْثَرَ مِنْ هٰذَا فَصَبَرَ.

۳۴۰: قتيبه بن سعيد. جرير. منصور. ابو وائل. حضرت عبداللّٰه (بن مسعود) نه روايت كوي، ذَ هغۀ بيان دے. ذَ حنين په ورځ حضورٌ بعضے خلقو ته زيات وركړل، لكه اقرع او عيينه ته ئے سل سل اوښان وركړل، او نورو قريشي خلقوله ئے هم وركړل، نو يو سړے اووے، دے تقسيم كښې ذَ حكم خداوندي رعايت اونه شولو. ما اووے، دا خبره به زۀ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ته اوكړم. حضورٌ چه دا واوريدل، نو وے فرمائيل: اللّٰه تعالٰي دے په موسٰيٓ رحم اوكړي، هغۀ ته ذَ دے نه هم زيات تكليف وركړے شو، خو هغۀ صبر اوكۀ.

۱۳۴۱: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ مُعَاذٍ حَدَّثَنَا ابْنُ عَوْنٍ عَنْ هِشَامِ بْنِ زَيْدِ بْنِ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمَ حُنَيْنٍ أَقْبَلَتْ هَوَازِنُ وَ غَطَفَانُ وَ غَيْرُهُمْ بِنَعَمِهِمْ وَ ذَرَارِيِّهِمْ وَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشَرَةُ الْآفٍ مِّنَ الطُّلَقَاءِ فَأَدْبَرُوا عَنْهُ حَتَّى بَقِيَ وَحْدَهُ فَنَادَى يَوْمَئِذٍ نِدَاءَ انِ لَمْ يُخْلِطْ بَيْنَهُمَا الْتَفَتَ عَنْ يَمِيْنِهِ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ قَالُوْا لَبَّيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَبْشِرْ نَحْنُ مَعَكَ ثُمَّ الْتَفَتَ عَنْ يَسَارِهِ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ قَالُوْا لَبَّيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَبْشِرْ نَحْنُ مَعَكَ وَهُوَ عَلَى بَغْلَةٍ بَيْضَاءَ فَنَزَلَ فَقَالَ أَنَا عَبْدُ اللّٰهِ وَ رَسُوْلُهُ فَانْهَزَمَ الْمُشْرِكُوْنَ فَأَصَابَ يَوْمَئِذٍ غَنَائِمَ كَثِيْرَةً فَقَسَمَ فِي الْمُهَاجِرِيْنَ وَالطُّلَقَاءِ وَلَمْ يُعْطِ الْأَنْصَارَ شَيْئًا فَقَالَتِ الْأَنْصَارُ إِذَا كَانَتْ شَدِيْدَةٌ فَنَحْنُ نُدْعَى وَ يُعْطَى الْغَنِيْمَةَ غَيْرُنَا فَبَلَغَهُ ذٰلِكَ فَجَمَعَهُمْ فِيْ قُبَّةٍ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ مَا حَدِيْثٌ بَلَغَنِيْ عَنْكُمْ فَسَكَتُوْا فَقَالَ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ أَلَا تَرْضَوْنَ أَنْ يَذْهَبَ النَّاسُ بِالدُّنْيَا وَ تَذْهَبُوْنَ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

۱۳۴۱: محمد بن بشار. معاذ بن معاذ. ابن عون. هشام بن زيد بن انس بن مالک. حضرت انس بن مالکؓ نه روايت کوي، هغه فرمائي، د حنينؔ په ورځ قبيلهٔ هوازن او غطفان وغيره خپلو څناورو او بال بچ سره مقابلے له راغلل، حضور صلي الله عليه وسلّم سره لس زره (مهاجر او انصار) او څهٔ نو مسلم وو، نو دوي اوتښتيدل، حتي چه حضورؐ يوازے پاتے شو، نو حضورؐ دوه آوازونه داسے اوکړل، چه بالکل صاف او واضحه وو. حضورؐ ښي طرف ته مخ کهٔ، وے فرمائيل، اے جماعت انصار، هغوي اووے، مونږ حاضر يو، يا رسول الله، تاسو فکر مهٔ کوئے، مونږ ستاسو رکاب کښې حاضر يو. حضورؐ دغه وخت په سپينه قچره سور وو، نو راکوز شولو، او وے فرمائيل، زهٔ د الله بنده او رسول يم، مشرکانو شکست اوخوړ. په دغه ورځ ډير مال غنيمت حاصل شولو، حضور صلي الله عليه وسلّم مهاجرينو او طلقاؤ باندے تقسيم کړلو. او انصارو ته ئے هيڅ ورنهٔ کړل. (څنے) انصارو اووے، د سختي په وخت خو مونږ ياديږو، او مال غنيمت نورو ته ورکولے شي، حضورؐ ته چه دا خبره معلومه شوه، نو حضورؐ هغوي يوه خيمه کښې راجمع کړل، او وے فرمائيل، اے د انصارو جماعته، دا څنګه خبره ده، چه ماته ستاسو د جانب نه رارسيدلے ده. انصار خاموش شو، حضورؐ ورته اوفرمائيل تاسو په دے راضي نهٔ يئے، چه خلق دُنيا يوسي، او تاسو خپلو کورونو ته د الله رسول

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحُوْزُوْنَهٗ اِلٰى بُيُوْتِكُمْ قَالُوْا بَلٰى فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ سَلَكَ النَّاسُ وَادِيًا وَّ سَلَكَتِ الْاَنْصَارِ فَقَالَ هِشَامٌ يَّا اَبَا حَمْزَةَ وَ اَنْتَ شَاهِدٌ ذَاكَ قَالَ وَ اَيْنَ اَغِيْبُ عَنْهُ.

سره لاړ شي' هغوي اووې' مونږ به دې راضي يو' بيا حضورؐ اوفرمائيل' كه خلق يو مېدان كښې روان شي' او انصار بل غاښي كښې' نو زۀ به ذ انصارو غاښې اختيار كړم' هشام (ذ حضرت انسؓ نه) تپوس اوكۀ' اې ابو حمزه تۀ هغه وخت موجود وې' هغۀ اووې' زۀ ذ حضورؐ نه جدا كله ووم.

**بَابٌ ۵۸: السَّرِيَّةِ الَّتِيْ قِبَلَ نَجْدٍ.**

**باب ۵۸: نجد طرف ته ذ دستې ذ روانګي بيان.**

۴۳۴۲: حَدَّثَنَا اَبُو النُّعْمٰنِ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ حَدَّثَنَا اَيُّوْبُ عَنْ نَّافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَؓ قَالَ بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّةً قِبَلَ نَجْدٍ فَكُنْتُ فِيْهَا فَبَلَغَتْ سِهَامُنَا اثْنَيْ عَشَرَ بَعِيْرًا وَّ نُفِّلْنَا بَعِيْرًا فَرَجَعْنَا بِثَلٰثَةَ عَشَرَ بَعِيْرًا.

۴۳۴۲: ابوالنعمان. حماد. ايوب. نافع. حضرت ابن عمرؓ نه روايت كوي' ذ هغۀ بيان دې' حضور صلي الله عليه وسلم چه نجد طرف ته كومه دسته ليږلې وه' زۀ هغې كښې (مال غنيمت كښې) شريک ووم' څمونږ حصه كښې دولس دولس اوښان راغلل. بيا يو يو اوښ مونږ ته زيات حاصل شو. ديارلس ديارلس اوښان مونږ واخستل' واپس شو.

**بَابٌ ۵۹: بَعْثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيْدِ اِلٰى بَنِيْ جَذِيْمَةَ.**

**باب ۵۹: بني جزيمه طرف ته ذ نبي صلي الله عليه وسلم ذ خالد بن وليد ذ ليږلو بيان.**

۴۳۴۳: حَدَّثَنِيْ مَحْمُوْدٌ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ اَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ وَ حَدَّثَنِيْ نُعَيْمٌ اَخْبَرَنَا عَبْدُ اللّٰهِ اَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَالِمٍ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيْدِ اِلٰى بَنِيْ جَذِيْمَةَ فَدَعَاهُمْ اِلَى الْاِسْلَامِ فَلَمْ يُحْسِنُوْٓا اَنْ يَّقُوْلُوْا اَسْلَمْنَا فَجَعَلُوْا يَقُوْلُوْنَ

۴۳۴۳: محمود. عبدالرزاق. معمر. (دويم سند) نعيم. عبدالله. معمر. زهري. سالم. ذ خپل پلار نه روايت كوي. ذ هغۀ بيان دې حضور صلي الله عليه وسلم' خالد بن وليد' بنو جزيمه طرف ته اوليږلو. خالد هغوي ته ذ اسلام دعوت وركۀ' هغوي دا دعوت خو قبول كړلو' (خو ژبې سره) هغوي "مونږ مسلمانان شو' وئيل" بنه نشو وئيلې' نو داسې ئې اووې' چه مونږ بې دينه شو' خو حضرت خالدؓ ذ هغوي قتلول او قيدول

صَبَأْنَا صَبَأْنَا فَجَعَلَ خَالِدٌ يَقْتُلُ مِنْهُمْ وَ يَأْسِرُ وَ دَفَعَ اِلٰى كُلِّ رَجُلٍ مِنَّا اَسِيْرَهُ فَقُلْتُ وَاللّٰهِ لَا اَقْتُلُ اَسِيْرِيْ وَلَا يَقْتُلُ رَجُلٌ مِنْ اَصْحَابِيْ اَسِيْرَهُ حَتّٰى قَدِمْنَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْنَاهُ فَرَفَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ فَقَالَ اللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَبْرَأُ اِلَيْكَ مِمَّا صَنَعَ خَالِدٌ مَرَّتَيْنِ.

شروع کړل' او قیدیان ئے مونږ کښې هر یو ته حواله کړل. یو ورځ حضرت خالدؓ مونږ ته د خپل خپل قیدي د قتلولو حکم اوکړ' نو ما اووے' قسم په خدائے' نه به زهٔ خپل قیدي اونه به خما ملګري خپل خپل قیدیان قتل کړي' تردے چه مونږ د حضور صلي الله علیه وسلّم په خدمت کښې واپس راغلو' ما حضورؐ ته واقعه ذکر کړه' حضور صلي الله علیه وسلّم لاس اوچت کړل' دوه خله ئے اوفرمائیل' اے الله' زهٔ د خالدؓ د دے فعل نه بري یم.

باب ۶۰ : سَرِيَّةِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ حُذَافَةَ السَّهْمِيِّ وَ عَلْقَمَةَ بْنِ مُجَزِّزٍ الْمُدْلِجِيِّ وَ يُقَالُ اِنَّهَا سَرِيَّةُ الْاَنْصَارِ.

باب ۶۰ : د عبدالله بن حذافه سهمي د دستے بیان او د علقمه بن مجزز مدلجي د دستے او دے ته "سریه انصار" هم وئیلے شي.

۳۴۴: حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ حَدَّثَنَا الْاَعْمَشُ قَالَ حَدَّثَنِيْ سَعْدُ بْنُ عُبَيْدَةَ عَنْ اَبِيْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ عَلِيٍّ قَالَ بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّةً فَاسْتَعْمَلَ رَجُلًا مِّنَ الْاَنْصَارِ وَ اَمَرَهُمْ اَنْ يُطِيْعُوْهُ فَغَضِبَ قَالَ اَلَيْسَ اَمَرَكُمُ النَّبِيُّ (صلعم) اَنْ تُطِيْعُوْنِيْ قَالُوْا بَلٰى قَالَ فَاجْمَعُوْا لِيْ حَطَبًا فَجَمَعُوْا فَقَالَ اَوْقِدُوْا نَارًا فَاَوْقَدُوْهَا فَقَالَ ادْخُلُوْهَا فَهَمُّوْا وَ جَعَلَ بَعْضُهُمْ يُمْسِكُ بَعْضًا وَ يَقُوْلُوْنَ فَرَرْنَا اِلَى

۳۴۴: مسدد. عبدالواحد. اعمش. سعد بن عبیده. ابو عبدالرحمٰن. حضرت عليؓ نه روایت کوي' نبي صلي الله علیه وسلّم یو دسته اولیږله' د هغے امیر ئے یو انصاري مقرر کړلو' او اهل دسته ته ئے د هغهٔ د اطاعت حکم ورکړلو. هغے امیر له غصه ورغله' او وے وئیل' آیا حضور صلي الله علیه وسلّم تاسو ته خما د اطاعت حکم نهٔ دے درکړے' خلقو اووے' او' راکړے دے. نو هغهٔ اووے' ما د پاره لرګي جمع کړئے' چه لرګي جمع کړے شو' نو هغهٔ اووے' دے ته اور ورته کړے' اُور ورته کړے شو. بیا هغهٔ اووے' دے ته ورننوځئے. خلقو ورننوتلو اراده اوکړله' خو یو بل ئے د ورننوتلو نه منع کول' او وئیلے' مونږ د دوزخ نه راتښتیدلي یُو' او د حضور صلي الله علیه وسلّم پناه مو آخستے ده. هغوي

النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ النَّارِ فَمَا زَالُوْا حَتّٰى خَمَدَتِ النَّارُ فَسَكَنَ غَضَبُهُ فَبَلَغَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَوْ دَخَلُوْهَا مَا خَرَجُوْا مِنْهَا إِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ الطَّاعَةُ فِي الْمَعْرُوْفِ.

برابر دے شش و پنج کښې وو' حتي چه هغه اُور مړ شولو' او ذَ هغے امیر غصه هم کمه شوه. کوم وخت چه نبي صلي الله علیه وسلّم ته (ذَ دے واقعے) پته اُولګیده' نو حضورؐ اوفرمائیل' که هغوي دے اُورته ورغلے وے' نو ذَ قیامته پورے به ترے نهٔ وے وتلے. فرمانبرداري نیک کار کښې ده.

**باب ۱۶۱: بَعْثِ أَبِيْ مُوْسٰى وَ مُعَاذٍ إِلَى الْيَمَنِ قَبْلَ حَجَّةِ الْوِدَاعِ.**

**باب ۱۶۱: ذَ حجة الوداع نه مخکښې ذَ ابو موسیٰؓ او معاذؓ یمن ته ذَ لیږلو بیان.**

۳۴۵: حَدَّثَنَا مُوْسٰى حَدَّثَنَا أَبُوْ عَوَانَةَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ عَنْ أَبِيْ بُرْدَةَ قَالَ بَعَثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَا مُوْسٰى وَ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ إِلَى الْيَمَنِ قَالَ وَ بَعَثَ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَلٰى مِخْلَافٍ قَالَ وَالْيَمَنُ مِخْلَافَانِ ثُمَّ قَالَ يَسِّرَا وَلَا تُعَسِّرَا وَ بَشِّرَا وَلَا تُنَفِّرَا فَانْطَلَقَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا إِلٰى عَمَلِهِ وَ كَانَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا إِذَا سَارَ فِيْ أَرْضِهِ كَانَ قَرِيْبًا مِنْ صَاحِبِهِ أَحْدَثَ بِهِ عَهْدًا فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَسَارَ مُعَاذٌ فِيْ أَرْضِهِ قَرِيْبًا مِنْ صَاحِبِهِ أَبِيْ مُوْسٰى فَجَاءَ يَسِيْرُ عَلٰى بَغْلَتِهِ حَتّٰى انْتَهٰى إِلَيْهِ فَإِذَا هُوَ جَالِسٌ وَقَدِ اجْتَمَعَ إِلَيْهِ النَّاسُ وَ إِذَا رَجُلٌ عِنْدَهُ قَدْ جُمِعَتْ يَدَاهُ إِلٰى عُنُقِهِ فَقَالَ لَهُ مُعَاذٌ يَا عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ قَيْسٍ أَيُّمَ هٰذَا قَالَ هٰذَا

۳۴۵: موسی. ابو عوانه. عبدالملک. ابو برده نه روایت کوي' هغه وائي' رسول الله صلي الله علیه وسلّم' ابو موسیٰؓ او معاذ بن جبلؓ یمن طرف ته اولیږل' او هر یو ئے جُدا جُدا صوبے ته اولیږلو. ذَ یمن دوه صوبے وے. بیا حضورؐ اوفرمائیل' تاسو دواړه نرمي کوئے' سختي مهٔ کوئے' خلق خوشحاله ساتئے' خفه کوئے ئے مه' هر یو خپل خپل حکومت ته لاړلو. ابو برده وائي' دوي کښې به هر یو ذَ خپل حکومت حدودو کښې چکر لګولو' او هغه حصه به ذَ هغه بل ملګري ته قریب وه' نو هغه به ملاقات سره سلام علیک کولو. معاذ بن جبل ذَ ابو موسیٰ حدود ته قریب خپل حدود کښې په خپله قچره سیل کولو سره سره ابو موسیٰ له راغے. ابو موسیٰؓ ناست وو' او یو سړے چه ذَ هغهٔ متے (مشکیں) تړلے شوے وے' او خلق ترے کیر چاپیره جمع وو' هغهٔ سره وو. معاذ ذَ ابو موسیٰ نه تپوس اوکهٔ' اے عبدالله بن قیس' دا سړے خوک دے' هغهٔ ورته اووے' دا سړے ذَ اسلام راوړلو نه پس مرتد شوے دے. معاذؓ اووے' څو

رَجُلٌ كَفَرَ بَعْدَ اِسْلَامِهٖ قَالَ لَا اَنْزِلُ حَتّٰى يُقْتَلَ قَالَ اِنَّمَا جِيْئَ بِهٖ لِذٰلِكَ فَانْزِلْ قَالَ مَا اَنْزِلُ حَتّٰى يُقْتَلَ فَاَمَرَ بِهٖ فَقُتِلَ ثُمَّ نَزَلَ فَقَالَ يَا عَبْدَ اللّٰهِ كَيْفَ تَقْرَأُ الْقُرْاٰنَ قَالَ اَتَفَوَّقُهٗ تَفَوُّقًا قَالَ فَكَيْفَ تَقْرَأُ اَنْتَ يَا مُعَاذُ قَالَ اَنَامُ اَوَّلَ اللَّيْلِ فَاَقُوْمُ وَقَدْ قَضَيْتُ جُزْئِيْ مِنَ النَّوْمِ فَاَقْرَأُ مَا كَتَبَ اللّٰهُ لِيْ فَاَحْتَسِبُ نَوْمَتِيْ كَمَا اَحْتَسِبُ قَوْمَتِيْ.

پورے دے قتل نۀ کړے، زۀ دَ سورلۍ نه، نۀ کوزیږم. ابو موسٰي ورته اووے دے خو قتل دَ پاره راوستے شوے دے، نو تاسو راکوز شئ. معاذ اووے، څو پورے چه دے قتل نشي، زۀ نۀ کوزیږم، نو دَ ابو موسٰي په حکم هغه سړے قتل کړے شو. بیا معاذ دَ قچرے نه راکوز شو. معاذ تپوس اوکۀ، اے عبدالله، تۀ قرآن څنګه وائے، هغۀ ورته اووے زۀ اول شپه کښې اودۀ کیږم. بیا دَ خوب نه پس راپاسم، او څومره چه خدائے ته منظوره وي، اولولم (یا مونځ اوکرم) زۀ خپل خوب کښې هم دَ عبادت برابر ثواب ګنړم.

۳۴۶: حَدَّثَنِيْ اِسْحَاقُ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنِ الشَّيْبَانِيِّ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ اَبِيْ بُرْدَةَ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ اَبِيْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَهٗ اِلَى الْيَمَنِ فَسَاَلَهٗ عَنْ اَشْرِبَةٍ تُصْنَعُ بِهَا فَقَالَ وَمَا هِيَ قَالَ اَلْبِتْعُ وَالْمِزْرُ فَقُلْتُ لِاَبِيْ بُرْدَةَ مَا الْبِتْعُ قَالَ نَبِيْذُ الْعَسَلِ وَالْمِزْرُ نَبِيْذُ الشَّعِيْرِ فَقَالَ كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ رَوَاهُ جَرِيْرٌ وَ عَبْدُ الْوَاحِدِ عَنْ اَبِيْ بُرْدَةَ.

۳۴۶: اسحاق. خالد. شیباني. سعید بن ابو برده. دَ هغۀ پلار. ابو موسٰي اشعري نه روایت کوي، حضور صلي الله علیه وسلّم مونږ یمن طرف ته اولیږلو، نو ابو موسٰي دَ یمني شرابو مسئله دَ حضورﷺ نه و پښتله، حضورﷺ ورته اوفرمائیل، هغه کوم کوم قسم شراب دي، ابو موسٰي ورته اووے بتع او مزر. سعید راوي وائي، ما ابو برده نه تپوس اوکۀ، چه بتع کوم قسم شراب دي، هغۀ اووے، دَ شهدو (شاتو) شراب. او مزر دَ وربشو شراب، نو حضورﷺ جواب ورکۀ، چه هر نشه دار څیز حرام دے. دا روایت، جریر په واسطه دَ عبدالواحد، شیباني، ابو برده نه روایت کړے دے.

۳۴۷: حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا سَعِيْدُ بْنُ اَبِيْ بُرْدَةَ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَدَّهٗ اَبَا مُوْسٰى وَ مُعَاذًا اِلَى الْيَمَنِ

۳۴۷: مسلم. شعبه. سعید بن ابو برده. دَ هغۀ پلار نه روایت کوي، چه رسول الله صلي الله علیه وسلّم دَ هغۀ نیکه (دادا) ابو موسٰي او معاذ یمن طرف ته اولیږل، او ورته ئے اوفرمائیل، نرمي کوئے، سختي مۀ کوئے، خلق خوشحاله ساتئے، خفه کوئے ئے مه. او تاسو،

فَقَالَ يَسِّرَا وَلَا تُعَسِّرَا وَ بَشِّرَا وَلَا تُنَفِّرَا وَ تَطَاوَعَا فَقَالَ اَبُوْ مُوْسٰى يَا نَبِيَّ اللّٰهِ اِنَّ اَرْضَنَا بِهَا شَرَابٌ مِّنَ الشَّعِيْرِ الْمِزْرُ وَ شَرَابٌ مِّنَ الْعَسَلِ الْبِتْعُ فَقَالَ كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ فَانْطَلَقَا فَقَالَ مُعَاذٌ لِاَبِيْ مُوْسٰى كَيْفَ تَقْرَاُ الْقُرْاٰنَ قَالَ قَائِمًا وَّ قَاعِدًا وَّ عَلٰى رَاحِلَتِيْ وَ اَتَفَوَّقُهٗ تَفَوُّقًا قَالَ اَمَّا اَنَا فَاَنَامُ وَ اَقُوْمُ فَاَحْتَسِبُ نَوْمَتِيْ كَمَا اَحْتَسِبُ قَوْمَتِيْ وَ ضَرَبَ فُسْطَاطًا فَجَعَلَا يَتَزَاوَرَانِ فَزَارَ مُعَاذٌ اَبَا مُوْسٰى فَاِذَا رَجُلٌ مُّوْثَقٌ فَقَالَ مَا هٰذَا فَقَالَ اَبُوْ مُوْسٰى يَهُوْدِيٌّ اَسْلَمَ ثُمَّ ارْتَدَّ فَقَالَ مُعَاذٌ لَاَضْرِبَنَّ عُنُقَهٗ تَابَعَهُ الْعَقَدِيُّ وَ وَهْبٌ وَ اَبُوْ دَاوٗدَ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ سَعِيْدٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَوَاهُ جَرِيْرُ بْنُ عَبْدِ الْحَمِيْدِ عَنِ الشَّيْبَانِيِّ عَنْ اَبِيْ بُرْدَةَ.

دواړه متفق اوسئ' ابو موسٰي اووې' يا رسول الله' څمونږ ملک کښ دَ وربشو شراب مزر (نومې) او دَ شاتو شراب بتع (نومې) دي. (دَ دې څۀ حکم دے) حضورؐ ورته اوفرمائيل' هر نشه دار څيز حرام دے' نو دا دواړه لاړل. معاذ ابو موسٰي نه تپوس اوکۀ' تۀ څنګه قرآن لولې' هغۀ ورته اووې' په ولاړه' په ناسته' په سورلۍ په قرار قرار لولم. معاذ اووې' زۀ خو اُودۀ شم' بيا راپاسم او خپل خوب کښ هم هغه ثواب ګنړم' کوم چه خپل عبادت کښ ګنړم. بيا ابو موسٰي يوه خيمه نصب کړه' او دَ يو بل ملاقات به کيدلو' (يوه ورځ) معاذ' ابو موسٰي له راغے' نو يو سړے ئې اوليد' چه متې ورله تړلې شوې وې. معاذ اووې' دا څۀ قصه ده. ابو موسٰي جواب ورکړ' دا يهودي وو' اوس دَ اسلام راوړلو نه پس مرتد شوے دے. معاذ اووې. زۀ به دَ دۀ ګردن اووهم' عقدي او وهيب دَ شعبه نه دَ دې متابع حديث روايت کړ' او وکيع' نضر' او ابو داود په واسطه دَ شعبه' سعيد' دَ هغۀ پلار' دَ هغۀ دَ نيکه (دادا) نبي صلي الله عليه وسلّم نه روايت اوکړ' او جرير بن عبدالحميد په واسطه دَ شيباني' ابو برده نه روايت اوکۀ.

۳۴۸: حَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ الْوَلِيْدِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ عَنْ اَيُّوْبَ بْنِ عَائِذٍ حَدَّثَنِيْ اَبُوْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيُّ قَالَ بَعَثَنِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰى اَرْضِ قَوْمِيْ فَجِئْتُ وَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنِيْخٌ بِالْاَبْطَحِ فَقَالَ

۳۴۸: عباس بن وليد. عبدالواحد. ايوب بن عائذ. قيس بن مسلم. طارق بن شهاب. حضرت ابو موسٰي اشعريؓ نه روايت کوي' دَ هغۀ بيان دے' زۀ رسول الله صلي الله عليه وسلّم څما دَ قوم ملک ته (دَ عامل په حيثيت) اوليږلم. هغه وخت حضورؐ (مقام) ابطح کښ تيکاؤ وو' حضورؐ تپوس اوکۀ' اے عبدالله بن قيس' آيا تا احرام تړلے دے' ما عرض اوکۀ' او' يا رسول الله' حضورؐ

أَحَجَجْتَ يَا عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ قَيْسٍ قُلْتُ نَعَمْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ كَيْفَ قُلْتَ قَالَ قُلْتُ لَبَّيْكَ اِهْلَالًا كَاِهْلَالِكَ قَالَ فَهَلْ سُقْتَ مَعَكَ هَدْيًا قُلْتُ لَمْ اَسُقْ قَالَ فَطُفْ بِالْبَيْتِ وَاسْعَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ ثُمَّ حِلَّ فَفَعَلْتُ حَتّٰى مَشَطَتْ لِيْ اِمْرَاَةٌ مِّنْ نِّسَاءِ بَنِيْ قَيْسٍ وَ مَكَثْنَا بِذٰلِكَ حَتّٰى اسْتُخْلِفَ عُمَرُ.

اوفرمائيل' تا څنګه وئيلے وو' ما عرض اوکړ' ما وئيلے وو' اے اللّٰه' زهٔ حاضر يم' او ستاسو په شان احرام م تړلے دے. حضورؐ اوفرمائيل' آيا تا خان سره قرباني راوستے ده' ما عرض اوکړ' نه' حضورؐ اوفرمائيل' دَ بيت اللّٰه طواف اوکړه' او دَ صفا مروه سعي اوکړه' نو احرام پرانزه. ما دغسے اوکړل' تردے چه دَ بني قيس يوه ښځے ماله ګومنز هم اوکړه (يعني سر' ئے راله ګومنز کړلو) او مونږ دَ حضرت عمرؓ خلافت پورے دغسے کول.

۴۳۴۹: حَدَّثَنِيْ حِبَّانُ اَخْبَرَنَا عَبْدُ اللّٰهِ عَنْ زَكَرِيَّاءَ بْنِ اِسْحَاقَ عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ صَيْفِيٍّ عَنْ اَبِيْ مَعْبَدٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ حِيْنَ بَعَثَهٗ اِلَى الْيَمَنِ اِنَّكَ سَتَاْتِيْ قَوْمًا مِنْ اَهْلِ الْكِتَابِ فَاِذَا جِئْتَهُمْ فَادْعُهُمْ اِلٰى اَنْ يَّشْهَدُوْا اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ فَاِنْ هُمْ اَطَاعُوْا لَكَ بِذٰلِكَ فَاَخْبِرْهُمْ اَنَّ اللّٰهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوٰتٍ فِيْ كُلِّ يَوْمٍ وَ لَيْلَةٍ فَاِنْ هُمْ اَطَاعُوْا لَكَ بِذٰلِكَ فَاَخْبِرْهُمْ اَنَّ اللّٰهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً تُؤْخَذُ مِنْ اَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ عَلٰى فُقَرَائِهِمْ فَاِنْ هُمْ اَطَاعُوْا لَكَ بِذٰلِكَ فَاِيَّاكَ وَ كَرَائِمَ اَمْوَالِهِمْ وَاتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُوْمِ فَاِنَّهٗ لَيْسَ بَيْنَهٗ وَ بَيْنَ اللّٰهِ

۴۳۴۹: حبان. عبداللّٰه. زکريا بن اسحاق. يحيي بن عبداللّٰه بن صيفي' دَ حضرت ابن عباس آزاد کړده غلام ابو معبد حضرت ابن عباسؓ نه روايت کوي' دَ هغهٔ بيان دے' حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم' معاذؓ يمن ته ليږلو' ورته ئے اوفرمائيل' ته به اهل کتابو ته ځے' کوم وخت چه ور اورسے' نو هغه خلق کلمهٔ توحيد او شهادت طرف ته اوبله' که هغوي دا دعوت قبول کړي' او اسلام راوړي' نو بيا هغوي له دا تعليم ورکړه' چه اللّٰه په هغوي شپه او ورځ کښې پنځه مونځونه فرض کړے دي' که هغوي اومني' نو بيا ورته دا اوښايه' چه اللّٰه په هغوي زکوٰة فرض کړے دے' چه مالدارو نه به اخستلے شي او (دَ هغوي) غريبانو کښې به تقسيمولے شي. که هغوي ستا دا خبره اُومني نو تاله دَ هغوي دَ اعلٰي مال (زکوٰة کښې) آخستو نه بچ کيدل پکار دي' او دَ مظلوم دَ بد دُعا نه ويره کوه' ځکه چه دَ هغهٔ دَ بد دُعا او دَ اللّٰه مينځ کښې هيڅ پرده نشته. ابو عبداللّٰه (امام بخاريؒ) وائي' چه طَوَّعَتْ' طَاعَتْ او اَطَاعَتْ يو لغت دے' او طِعْتُ' طَعْتُ او اَطَعْتُ يو معني

حِجَابٌ قَالَ
دي.

۳۵۰: حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ حَبِيْبِ بْنِ اَبِيْ ثَابِتٍ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُوْنٍ اَنَّ مُعَاذًا لَمَّا قَدِمَ الْيَمَنَ صَلّٰى بِهِمُ الصُّبْحَ فَقَرَاَ وَاتَّخَذَ اللّٰهُ اِبْرٰهِيْمَ خَلِيْلًا فَقَالَ رَجُلٌ مِّنَ الْقَوْمِ لَقَدْ قَرَّتْ عَيْنُ اُمِّ اِبْرَاهِيْمَ زَادَ مُعَاذٌ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ حَبِيْبٍ عَنْ سَعِيْدٍ عَنْ عَمْرٍو اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ مُعَاذًا اِلَى الْيَمَنِ فَقَرَاَ مُعَاذٌ فِيْ صَلٰوةِ الصُّبْحِ سُوْرَةَ النِّسَاءِ فَلَمَّا قَالَ وَاتَّخَذَ اللّٰهُ اِبْرٰهِيْمَ خَلِيْلًا قَالَ رَجُلٌ خَلْفَهُ قَرَّتْ عَيْنُ اُمِّ اِبْرٰهِيْمَ.

۳۵۰: سليمان بن حرب. شعبه. حبيب بن ابي ثابت. سعيد بن جبير. عمرو بن ميمون نه روايت کوي، معاذ بن جبل يمن ته راغے، لو خلقوته ئے د سحر مونځ کښې دا آيت اولوست، چه الله ابراهيم عليه السلام دوست جوړ کړلو، لو يو سړي اووے، د ابراهيم عليه السلام د مور سترګے يخے شوے [۱]، معاذ په واسطه د شعبه، حبيب، سعيد، عمرو، دے روايت کښې زياتے دا شان بيان کړے دے، چه نبي صلي الله عليه وسلم معاذ يمن ته اوليږلو، معاذ د سحر په مونځ کښې سورهٔ نساء اولوست. کوم وخت چه دا آيت راغے، چه "الله ابراهيم عليه السلام دوست جوړ کړلو" نو يو سړي د ورستو نه اووے، د ابراهيمؑ د مور سترګے يخے شوے.

۱. يعني تر اوسه د يمن خلقوته دا معلومه نه وه چه په مونځ کښې خبرو کولو سره مونځ ماتيږي، په دے وجه کله چه هغوئ په مانخه کښې د ابراهيم عليه السلام صفت واوريدو، لو دغه فقره ئے اوويله. د سترګو يخوالي نه مراد مسرت او خوشالي ده.

## بَاب ۶۲: بَعْثِ عَلِيِّ بْنِ اَبِيْ طَالِبٍ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيْدِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اِلَى الْيَمَنِ قَبْلَ حَجَّةِ الْوِدَاعِ.

باب ۶۲: د حضرت عليؓ بن ابي طالب او خالد بن وليد د حجة الوداع نه مخکښې يمن ته د روانګي بيان.

۳۵۱: حَدَّثَنِيْ اَحْمَدُ بْنُ عُثْمَانَ حَدَّثَنَا شُرَيْحُ بْنُ مَسْلَمَةَ حَدَّثَنَا اِبْرٰهِيْمُ بْنُ يُوْسُفَ ابْنِ اِسْحَاقَ بْنِ اَبِيْ اِسْحَاقَ حَدَّثَنِيْ اَبِيْ

۳۵۱: احمد بن عثمان. شريح بن مسلمه. ابراهيم بن يوسف بن اسحاق بن ابي اسحاق. د هغهٔ پلار ابو اسحاق. حضرت براءؓ نه روايت کوي، مونږ حضور صلي الله عليه

عَنْ اَبِىْ اِسْحٰقَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ بَعَثَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيْدِ اِلَى الْيَمَنِ قَالَ ثُمَّ بَعَثَ عَلِيًّا بَعْدَ ذٰلِكَ مَكَانَهٗ فَقَالَ مُرْ اَصْحَابَ خَالِدٍ مَنْ شَآءَ مِنْهُمْ اَنْ يُّعَقِّبَ مَعَكَ فَلْيُعَقِّبْ وَمَنْ شَآءَ فَلْيُقْبِلْ فَكُنْتُ فِيْمَنْ عَقَّبَ مَعَهٗ قَالَ فَغَنِمْتُ اَوَاقِيَ ذَوَاتِ عَدَدٍ.

وسلّم خالد بن وليد سره يمن ته اوليږلو بيائے ذ هغه په خائے حضرت عليؓ اوليږلو، او ورے فرمائيل، ذ خالد ملګروته اووايه، چه څوک تاسره تلل غواړي، نو لاړ دے شي، او څوک چه راتلل غواړي، رادے شي (براءؓ وائي) زهٔ حضرت عليؓ سره ذ تلونکو نه ووم، او ماته غنيمت کښې ډير اوقيه حاصل شوے وو.

ف: اوقيه: يو اوقيه ذ څلويښت درهمو وي.

۳۵۲: حَدَّثَنِىْ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ سُوَيْدِ بْنِ مَنْجُوْفٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِيًّا اِلٰى خَالِدٍ لِيَقْبِضَ الْخُمُسَ وَكُنْتُ اُبْغِضُ عَلِيًّا وَقَدِ اغْتَسَلَ فَقُلْتُ لِخَالِدٍ اَلَا تَرٰى اِلٰى هٰذَا فَلَمَّا قَدِمْنَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَكَرْتُ ذٰلِكَ لَهٗ فَقَالَ يَا بُرَيْدَةُ اَتُبْغِضُ عَلِيًّا فَقُلْتُ نَعَمْ قَالَ لَا تُبْغِضْهُ فَاِنَّ لَهٗ فِى الْخُمُسِ اَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ.

۳۵۳: محمد بن بشار. روح بن عباده. علي بن سويد بن منجوف. عبدالله بن بريده ذ خپل پلار بريده نه روايت کوي، رسول الله صلي الله عليه وسلّم حضرت عليؓ، حضرت خالدؓ ته ذ خمسؓ راوړلو ذ پاره اوليږلو. حضرت عليؓ هغے کښې يوه وينزه واخسته. څما خيال راغے، چه هغهٔ خيانت اوکهٔ، نو زهٔ ذ هغهٔ مخالف شوم. او لطف پرے دا چه هغهٔ ذ شپے هغے سره خلوت اوکهٔ، او سحر ئے غسل اوکهٔ! نو ما خالدؓ ته اوويے، ته دے نهٔ وينے، (چه خيانت ئے اوکه) کوم وخت چه مونږ نبي صلي الله عليه وسلّم له راغلو، ما حضورؐ ته دا خبره ذکر کړه، نو ورے فرمائيل، اے بريده، آيا ته ذ عليؓ مخالف ئے، ما عرض اوکهٔ، او، نو حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، مخالفت مهٔ کوه، ذ هغهٔ حصه خو خمس کښې ذ دے نه هم زياته ده. ..

۱. هغهٔ ته دا شُبه شوے وه، چه علي رضي الله عنه په ناجائزه طريقه باندے د خُمس نه يوه وينزه اخستے ده او هغے سره هم بستر شوے دے او په همدے وجه ئے غسل کړے دے.

۳۵۴: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ

۳۵۴: قتيبه. عبدالواحد. عماره بن قعقاع بن

حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ عَنْ عُمَارَةَ بْنِ الْقَعْقَاعِ بْنِ شُبْرُمَةَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ اَبِيْ طَالِبٍ رَضِيَ عَنْهُ اِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْيَمَنِ بِذُهَيْبَةٍ فِيْ اَدِيْمٍ مَقْرُوْظٍ لَمْ تُحَصَّلْ مِنْ تُرَابِهَا قَالَ فَقَسَمَهَا بَيْنَ اَرْبَعَةِ نَفَرٍ بَيْنَ عُيَيْنَةَ بْنِ بَدْرٍ وَّ اَقْرَعَ بْنِ حَابِسٍ وَّ زَيْدِ الْخَيْلِ وَالرَّابِعُ اِمَّا عَلْقَمَةُ وَ اِمَّا عَامِرُ بْنُ الطُّفَيْلِ فَقَالَ رَجُلٌ مِّنْ اَصْحَابِهٖ كُنَّا نَحْنُ اَحَقَّ بِهٰذَا مِنْ هٰؤُلَاءِ قَالَ فَبَلَغَ ذٰلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَلَا تَأْمَنُوْنِيْ وَ اَنَا اَمِيْنُ مَنْ فِي السَّمَآءِ يَأْتِيْنِيْ خَبَرُ السَّمَآءِ صَبَاحًا وَ مَسَآءً قَالَ فَقَامَ رَجُلٌ غَائِرُ الْعَيْنَيْنِ مُشْرِفُ الْوَجْنَتَيْنِ نَاشِزُ الْجَبْهَةِ كَثُّ اللِّحْيَةِ مَحْلُوْقُ الرَّأْسِ مُشَمَّرُ الْاِزَارِ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اتَّقِ اللّٰهَ قَالَ وَيْلَكَ اَوَلَسْتُ اَحَقَّ اَهْلِ الْاَرْضِ اَنْ يَّتَّقِيَ اللّٰهَ قَالَ ثُمَّ وَلَّى الرَّجُلُ قَالَ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيْدِ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَلَا اَضْرِبُ عُنُقَهٗ قَالَ لَا لَعَلَّهٗ اَنْ يَّكُوْنَ يُصَلِّيْ فَقَالَ خَالِدٌ وَكَمْ مِّنْ مُّصَلٍّ يَّقُوْلُ بِلِسَانِهٖ مَا لَيْسَ فِيْ قَلْبِهٖ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنِّيْ لَمْ

شبرمه. عبدالرحمٰن بن ابي نعم. ابو سعيد خدريؓ نه روايت كوي، حضرت عليؓ دَ يمن نه رسول الله صلي الله عليه وسلّم ته پاره رنګ شوې دَ خرمني تهيلۍ كښې لږ شان سرهٔ زر (سونا) راوليږل، چه دَ هغې خاوره دَ هغې سرو (زرو) نه جدا كړې شوې نهٔ وه (تازه دَ كان نه راوتي وو) حضورؐ هغه دَ څلورو سړو: عيينه بن بدر، اقرع بن حابس، زيد بن خيل او څلورم علقمه يا، عامر بن طفيل مينځ كښې تقسيم كړلو. دَ حضورؐ اصحابوؓ كښې يو سړي اووې، مونږ دَ دې خلقو نه دَ دې زيات مستحق يُو، حضورؐ ته چه دا خبره معلومه شوه، نو وې فرمائيل، آيا ستاسو په ما اطمينان نشته، حالانكه زهٔ دَ آسمان واله امين يم، ماته سحر مابنام دَ آسمان واله خبرونه راځي، نو يو سړي چه ستر ګې ورته ورپريوتي وې، دَ مخ هډوكي ئې راختلي وو، اوچت تندئ، ګنړه ګيره، خريلي سر وو، او تهبند لې اوچت كړې وو، اودريد، او وې وئيل يا رسول الله، دَ الله نه اويريږه. حضورؐ ورته اوفرمائيل، تهٔ هلاك شې، آيا زهٔ تمام روئې زمين كښې دَ الله تعالىٰ نه دَ زيات دَ ويريدلو مستحق نهٔ يم. بيا هغه سړې لاړلو، نو خالد بن وليد عرض اوكړ، يا رسول الله، آيا زهٔ دَ هغهٔ كردن واڼه لوخوم. حضورؐ ورته اوفرمائيل نه، ممكن ده، هغه مونځ كوي (يعني ظاهري اسلام سره هغه دَ قتل مستحق نهٔ وي) خالدؓ عرض اوكړ، او ډير داسې مونځ ګزار دي، چه ژبې سره داسې خبرې كوي، چه دَ هغوي زړهٔ كښې نهٔ وي (يعني منافق وي) نو رسول الله صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، ماته دَ خلقو دَ زړونو ګرولو، دَ هغوي خيټه څيرلو او دَ باطني حالاتو دَ معلومولو حكم

يُؤْمَرْ أَنْ أَنْقُبَ قُلُوبَ النَّاسِ وَلَا أَشُقَّ بُطُونَهُمْ قَالَ ثُمَّ نَظَرَ إِلَيْهِ وَهُوَ مُقَفٍّ فَقَالَ إِنَّهُ يَخْرُجُ مِنْ ضِئْضِئِي هٰذَا قَوْمٌ يَتْلُوْنَ كِتَابَ اللّٰهِ رَطْبًا لَا يُجَاوِزُ حَنَاجِرَهُمْ يَمْرُقُوْنَ مِنَ الدِّيْنِ كَمَا يَمْرُقُ السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ وَ أَظُنُّهُ قَالَ لَئِنْ أَدْرَكْتُهُمْ لَأَقْتُلَنَّهُمْ قَتْلَ ثَمُوْدَ.

نشته. ابو سعيد وائي، هر كله چه هغه سړي شا كړه، نو حضورﷺ هغهٔ طرف ته مخ كړلو، او وې فرمائيل، ذ دې سړي ذ نسل نه به هغه قوم پيدا كيږي، چه كتاب الله به مزې سره لولي، حالانكه هغه به ذ هغوي ذ مرو (غاړو) نه لاندې نهٔ كوزيږي، دين نه به هغوي داسې اوځي، څنګه چه غشي ذ ښكار نه اوځي. ابو سعيد وائي، ماته ياد دي، دالې هم اوفرمائيل، كه زهٔ ذ دې قوم په زمانه كښې وې، نو ذ قوم ثمود په شان به م قتل كړې وو.

۳۵۴: حَدَّثَنَا الْمَكِّيُّ بْنُ إِبْرٰهِيْمَ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ عَطَاءٌ قَالَ جَابِرٌ أَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِيًّا أَنْ يُقِيْمَ عَلٰى إِحْرَامِهِ زَادَ مُحَمَّدُ بْنُ بَكْرٍ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ عَطَاءٌ قَالَ جَابِرٌ فَقَدِمَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ بِسِعَايَتِهِ قَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَ أَهْلَلْتَ يَا عَلِيُّ قَالَ بِمَا أَهَلَّ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَأَهْدِ وَامْكُثْ حَرَامًا كَمَا أَنْتَ قَالَ وَ أَهْدٰى لَهُ عَلِيٌّ هَدْيًا.

۳۵۴: مكي بن ابراهيم. ابن جريج. عطاء. جابر نه روايت كوي، نبي صلي الله عليه وسلّم حضرت عليؓ ته حكم وركړلو، په خپل احرام قائم اوسه. محمد بن ابوبكر په واسطه ذ ابن جريج، عطاء او جابر دومره زيات روايت كړې دې، چه حضرت عليؓ خپل وصول كړه محصول (ذ يمن نه) راوړې وو، نو هغهٔ ته حضورﷺ اوفرمائيل، اې عليؓ! تا كوم احرام تړلې دې، هغهٔ اووې، ما ذ نبي صلي الله عليه وسلّم په شان احرام تړلې دې. حضورﷺ ورته اوفرمائيل، ته قرباني راوليږه، او حالت احرام كښې اوسه، څنګه چه اوس يې. راوي وائي، حضرت عليؓ حضور صلي الله عليه وسلّم ذ پاره قرباني ليږلې وه.

۳۵۵: حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ عَنْ حُمَيْدٍ الطَّوِيْلِ حَدَّثَنَا بَكْرٌ أَنَّهُ ذَكَرَ لِابْنِ عُمَرَ أَنَّ أَنَسًا حَدَّثَهُمْ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ وَ حَجَّةٍ فَقَالَ أَهَلَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحَجِّ

۳۵۵: مسدد. بشر بن مفضل. حميد طويل. بكر نه روايت كوي، هغه وائي، ما ابن عمرؓ ته ذكر اوكهٔ، انس خلقوته دا بيان كوي، چه نبي صلي الله عليه وسلّم ذ حج او عمرې احرام تړلې وو، نو هغهٔ اوفرمائيل، چه نبي صلي الله عليه وسلّم ذ حج احرام اوتړلو. او مونږ هم حضورﷺ سره ذ حج احرام اوتړلو. كوم وخت چه مونږ

وَ اَهْلَلْنَا بِهِ مَعَهُ فَلَمَّا قَدِمْنَا مَكَّةَ قَالَ مَنْ لَمْ يَكُنْ مَعَهُ هَدْيٌ فَلْيَجْعَلْهَا عُمْرَةً وَ كَانَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَدْيٌ فَقَدِمَ عَلَيْنَا عَلِيُّ بْنُ اَبِيْ طَالِبٍ مِّنَ الْيَمَنِ حَاجًّا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَ اَهْلَلْتَ فَاِنَّ مَعَنَا اَهْلَكَ قَالَ اَهْلَلْتُ بِمَا اَهَلَّ بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَاَمْسِكْ فَاِنَّ مَعَنَا هَدْيًا.

مکے ته راغلو، نو حضورﷺ اوفرمائیل، چا چه خان سره قرباني نۀ وي راوستے، هغه دے دا احرام دَ عمرے احرام جوړ کړي (او عمره دے ادا کړي، چه حلال شي) او نبي صلي اللّٰه علیه وسلّم سره دَ قرباني خناور وو. بیا حضرت عليؓ دَ یمن نه دَ حج په اراده راغے، نو نبي صلي اللّٰه علیه وسلّم هغۀ ته اوفرمائیل، اے عليؓ، تا کوم قسم احرام تړلے دے، ځکه چه مونږ سره ستا کور واله دي، هغۀ ورته اووے، ما د نبي صلي الله علیه وسلّم په شان احرام تړلے دے، حضورﷺ ورته اوفرمائیل، نو تۀ دَ احرام حالت کښې اوسه، ځکه چه مونږ سره قرباني خو شته.

## بَاب ۶۳: غَزْوَةِ ذِی الْخَلَصَةِ.

## باب ۶۳: دَ غزوۀ ذي الخلصه بیان.

۳۵۶: حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا خَالِدٌ حَدَّثَنَا بَيَانٌ عَنْ قَيْسٍ عَنْ جَرِيْرٍ قَالَ كَانَ بَيْتٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ يُقَالُ لَهُ ذُو الْخَلَصَةِ وَالْكَعْبَةُ الْيَمَانِيَّةُ وَالْكَعْبَةُ الشَّامِيَّةُ فَقَالَ لِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلَا تُرِيْحُنِيْ مِنْ ذِي الْخَلَصَةِ فَنَفَرْتُ فِيْ مِائَةٍ وَّ خَمْسِيْنَ رَاكِبًا فَكَسَرْنَاهُ وَ قَتَلْنَا مَنْ وَّجَدْنَا عِنْدَهُ فَاَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَخْبَرْتُهُ فَدَعَا لَنَا وَلِاَحْمَسَ.

۳۵۶: مسدد. خالد. بیان. قیس. جریر نه روایت دے، هغه وائي، زمانه جاهلیت کښې یو مکان وو، چه هغے ته ئے ذي الخلصه، کعبه یمانیه او کعبه شامیه وئیلے، ما ته حضورﷺ اوفرمائیل، آیا تۀ به ما ته دَ ذي الخلصه (دَ فکر نه) نجات رانه کړے. (چه هغه اوغرځوے) نو زۀ یو نیم سل سورو سره روان شوم، هغه مې اوغرځوله، او کوم خلق چه دَ هغے خواوشا، ته وو، هغه مو قتل کړل، بیا زۀ راغلم، او حضورﷺ ته مې دَ دے اطلاع ورکړله، نو حضورﷺ مونږ او قبیلۀ احمس دَ پاره دُعا اوکړله.

ف: ذوالخلصه: یو بت خانه وه. هغے ته به ئے کعبه یمانیه یا شامیه وے، هلته به دَ بُتانو عبادت کیدلو.

۳۵۷: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنّٰى حَدَّثَنَا يَحْيٰى حَدَّثَنَا

۳۵۷: محمد بن مثني. یحیي. اسمٰعیل. قیس. جریر نه روایت کوي، ما ته حضور صلي اللّٰه

اِسْمَاعِيْلُ حَدَّثَنَا قَيْسٌ قَالَ قَالَ لِيْ جَرِيْرٌ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ لِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلَا تُرِيْحُنِيْ مِنْ ذِي الْخَلَصَةِ وَ كَانَ بَيْتًا فِيْ خَثْعَمَ يُسَمَّى الْكَعْبَةَ الْيَمَانِيَةَ فَانْطَلَقْتُ فِيْ خَمْسِيْنَ وَ مِائَةِ فَارِسٍ مِنْ اَحْمَسَ وَ كَانُوْا اَصْحَابَ خَيْلٍ وَ كُنْتُ لَا اَثْبُتُ عَلَى الْخَيْلِ فَضَرَبَ فِيْ صَدْرِيْ حَتّٰى رَاَيْتُ اَثَرَ اَصَابِعِهٖ فِيْ صَدْرِيْ وَ قَالَ اللّٰهُمَّ ثَبِّتْهُ وَاجْعَلْهُ هَادِيًا مَهْدِيًّا فَانْطَلَقَ اِلَيْهَا فَكَسَرَهَا وَ حَرَّقَهَا ثُمَّ بَعَثَ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُوْلُ جَرِيْرٍ وَالَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا جِئْتُكَ حَتّٰى تَرَكْتُهَا كَاَنَّهَا جَمَلٌ اَجْرَبُ قَالَ فَبَارَكَ فِيْ خَيْلِ اَحْمَسَ وَ رِجَالِهَا خَمْسَ مَرَّاتٍ.

علیه وسلّم اوفرمائیل، آیا تهٔ به ماته د ذي الخلصه (د فکر) نه نجات رانهٔ کړې، هغه قبیلهٔ خثعم کښې یو مکان وو، چه هغې ته ئې کعبه یمانیه وئیلے، نو زهٔ د قبیلهٔ احمس یو نیم سل سورو سره روان شوم، او هغوي (یعني خما ملګري) په اسونو وو، او زهٔ په اَس ټینګیدے نهٔ شوم، نو حضور صلي الله علیه وسلّم خما په سینه لاس راپریښودو، حتّي چه د حضورؐ د ګوتو مبارکو نښه ما په خپله سینه اولیدله، حضورؐ اوفرمائیل، اے الله، دهٔ له (په آس) ټینګیدل ورکړے، او دے هدایت کوونکے او هدایت یافته جوړ کړې. هغه کعبه یمانیه ته اورسید، او هغه ئې راوغرځوله، او وې سوزوله، بیا هغهٔ حضورؐ ته قاصد ، ولیږلو، هغې قاصد جریر حضورؐ ته عرض اوکهٔ، قسم دے په هغه ذات چه تاسو، ئې حق سره رالیږلے ئې، زهٔ چه د هغې ځائے نه راروان شوے یم، نو هغه مکان د خارښي اوښ په شان (اوسوزید) او تک تور شولو، نو حضورؐ پنځه ځله د احمس سورو، او پیادو ته دُعا اوکړله.

۳۵۸: حَدَّثَنَا يُوْسُفُ بْنُ مُوْسٰى اَخْبَرَنَا اَبُوْ اُسَامَةَ عَنْ اِسْمَاعِيْلَ بْنِ اَبِيْ خَالِدٍ عَنْ قَيْسٍ عَنْ جَرِيْرٍ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلَا تُرِيْحُنِيْ مِنْ ذِي الْخَلَصَةِ فَقُلْتُ بَلٰى فَانْطَلَقْتُ فِيْ خَمْسِيْنَ وَ مِائَةِ فَارِسٍ مِنْ اَحْمَسَ وَ كَانُوْا اَصْحَابَ خَيْلٍ وَ كُنْتُ لَا اَثْبُتُ عَلَى الْخَيْلِ فَذَكَرْتُ

۳۵۸: یوسف بن موسٰي. ابو اسامه. اسماعیل بن ابي خالد. قیس. جریر نه روایت کوي، هغه وائي، ماته نبي صلي الله علیه وسلّم اوفرمائیل، آیا تهٔ به ماته د ذي الخلصه (د فکر) نه نجات رانهٔ کړې. ما عرض اوکهٔ، ضرور به نجات درکړم، نو زهٔ د قبیلهٔ احمس یو نیم سل سورو سره روان شوم، هغوي ټول په آسونو سواره وو، او زهٔ په اَس ټینګیدے نهٔ شوم، ما نبي صلي الله علیه وسلّم ته د دے ذکر اوکهٔ، نو حضورؐ خما په سینه لاس اووهلو،

ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضَرَبَ يَدَهُ عَلٰى صَدْرِيْ حَتّٰى رَأَيْتُ أَثَرَ يَدِهٖ فِيْ صَدْرِيْ وَ قَالَ اَللّٰهُمَّ ثَبِّتْهُ وَاجْعَلْهُ هَادِيًا مَّهْدِيًّا فَمَا وَقَعْتُ عَنْ فَرَسٍ بَعْدُ قَالَ وَ كَانَ ذُو الْخَلَصَةِ بَيْتًا بِالْيَمَنِ لِخَثْعَمَ وَ بَجِيْلَةَ فِيْهِ نُصُبٌ يُعْبَدُ يُقَالُ لَهُ الْكَعْبَةُ قَالَ فَأَتَاهَا فَحَرَّقَهَا بِالنَّارِ وَ كَسَرَهَا قَالَ وَلَمَّا قَدِمَ جَرِيْرٌ الْيَمَنَ كَانَ بِهَا رَجُلٌ يَسْتَقْسِمُ بِالْأَزْلَامِ فَقِيْلَ لَهٗ إِنَّ رَسُوْلَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰهُنَا فَإِنْ قَدَرَ عَلَيْكَ ضَرَبَ عُنُقَكَ قَالَ فَبَيْنَمَا هُوَ يَضْرِبُ بِهَا إِذْ وَقَفَ عَلَيْهِ جَرِيْرٌ فَقَالَ لَتَكْسِرَنَّهَا وَلَتَشْهَدَنَّ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ أَوْ لَأَضْرِبَنَّ عُنُقَكَ قَالَ فَكَسَرَهَا وَ شَهِدَ ثُمَّ بَعَثَ جَرِيْرٌ رَجُلًا مِّنْ أَحْمَسَ يُكْنٰى أَبَا أَرْطَاةَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَالَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا جِئْتُ حَتّٰى تَرَكْتُهَا كَأَنَّهَا جَمَلٌ أَجْرَبُ قَالَ فَبَرَّكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى خَيْلِ أَحْمَسَ وَ رِجَالِهَا خَمْسَ مَرَّاتٍ.

چه هغې سره ما ذَ حضورؐ ذَ لاس مبارک نښه په خپله سینه اولیده، او حضورؐ اوفرمائیل، اے الله دے په اَس قائم اوساتے او دے هدایت کونکے او هدایت یافته جوړ کړے. جریر وائي، ذَ هغې نه پس زهٔ هیڅ کله ذَ اَس نه اونهٔ غُورځیدم، جریر وائي، ذوالخلصه یمن کښې ذَ (قبیلهٔ) خثعم او بجیله یو مکان وو، چه هغې کښې ذَ بُتانو عبادت کیدلو، هغې ته به ئے کعبه هم وئیلے، قیس وائي، کوم وخت چه جریر یمن ته راغے، نو هلته به یَو سړي غشو سره فال اوښکلو، هغهٔ ته چا اووے، ذَ رسول الله صلي الله علیه وسلّم قاصد دلته دے، که هغهٔ ته ستا پته اولګیده، نو ګردن به دے اووهي، راوي وائي، یوه ورځ هغهٔ فال اوښکلو، چه جریر هلته ور اورسید، او هغهٔ ته ئے اووے، چه دا غشي مات کړه، او مسلمان شه. ګنې څټ درله وهم هغه غشي مات کړل او مسلمان شو، بیا جریر، ذَ (قبیلهٔ) احمس یو سړے ابا ارطاة ذَ حضورؐ په خدمت کښې ذَ هغې فتح ذَ خوشخبرۍ ورکولو ذَ پاره اولیږلو، هغه راغے، حضورؐ ته ئے عرض اوکهٔ، یا رسول الله، قسم دے په هغه ذات، چه تاسو، ئے حق سره رالیږلے ئے، زهٔ ذَ هغې ځائے نه راغلے یم، هغه مکان ما اولید، چه ذَ خارښي اوښ په شان (سوز یدلے تور) شوے وو. نبي صلي الله علیه وسلّم ذَ احمس سورو او پیادو ته پنځه خله ذَ برکت دُعا اوکړله.

بَابُ ۶۴ : غَزْوَةِ ذَاتِ السَّلَاسِلِ وَ هِيَ غَزْوَةُ لَخْمٍ وَّ جُذَامٍ قَالَهُ إِسْمَاعِيْلُ بْنُ أَبِيْ خَالِدٍ وَ قَالَ

باب ۶۴ : ذَ غزوهٔ سلاسل بیان: اسمٰعیل بن ابو خالد وئیلے دي، چه دے (قبائل) لخم و جذام سره جنګ شوے وو، او ابن اسحاق په واسطه ذَ یزید، عروه نه

ابْنُ إِسْحٰقَ عَنْ يَزِيْدَ عَنْ عُرْوَةَ بِلَادُ بَلِيٍّ وَ عُذْرَةَ وَ بَنِي الْقَيْنِ.

روايت كړے، چه دا دَ (قبائل) بلي، عذره او دَ بنو القين ښارونه دي.

۳۵۹: حَدَّثَنَا إِسْحٰقُ أَخْبَرَنَا خَالِدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ خَالِدِ الْحَذَّاءِ عَنْ أَبِيْ عُثْمَانَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ عَمْرَو بْنَ الْعَاصِ عَلٰى جَيْشِ ذَاتِ السَّلَاسِلِ قَالَ فَأَتَيْتُهُ فَقُلْتُ أَيُّ النَّاسِ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ عَائِشَةُ قُلْتُ مِنَ الرِّجَالِ قَالَ أَبُوْهَا قُلْتُ ثُمَّ مَنْ قَالَ عُمَرُ فَعَدَّ رِجَالًا فَسَكَتُّ مَخَافَةَ أَنْ يَجْعَلَنِيْ فِيْ آخِرِهِمْ.

۳۵۹: اسحٰق. خالد بن عبداللّٰه. خالد خداء. ابو عثمان نه روايت دے، چه رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم جيش ذات السلاسل كښې عمرو بن عاص امير جوړ كړلو، وے ليږلو، عمرو وائي، زهٔ دَ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم خدمت كښې حاضر شوم، تپوس مې اوكهٔ، چه تاسو ته دَ ټولونه زيات محبوب څوك دے، حضورؐ اوفرمائيل، بي بي عائشهؓ، ما اووے، نارينو كښې، حضورؐ اوفرمائيل دَ هغے پلار (ابوبكرؓ) ما عرض اوكهٔ، بيا څوك، حضورؐ اوفرمائيل، عمرؓ. بيا حضورؐ دَ څو نورو سړو نوم واخست، بس ما دَ دے خوف نه، چه زهٔ دَ ټولونه آخر كښې نشم، خاموش شولم.

## بَابُ ۶۵ : ذَهَابِ جَرِيْرٍ إِلَى الْيَمَنِ.

## بـاب ۶۵ : دَ جرير يمن طرف ته دَ تلو بيان.

۳۶۰: حَدَّثَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ أَبِيْ شَيْبَةَ الْعَبْسِيُّ حَدَّثَنَا ابْنُ إِدْرِيْسَ عَنْ إِسْمَاعِيْلَ بْنِ أَبِيْ خَالِدٍ عَنْ قَيْسٍ عَنْ جَرِيْرٍ قَالَ كُنْتُ بِالْبَحْرِ فَلَقِيْتُ رَجُلَيْنِ مِنْ أَهْلِ الْيَمَنِ ذَا كَلَاعٍ وَ ذَا عَمْرٍو فَجَعَلْتُ أُحَدِّثُهُمْ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهٗ ذُوْ عَمْرٍو لَئِنْ كَانَ الَّذِيْ تَذْكُرُ مِنْ أَمْرِ صَاحِبِكَ لَقَدْ مَرَّ عَلٰى أَجَلِهٖ مُنْذُ ثَلٰثٍ وَ أَقْبَلَا مَعِيَ حَتّٰى إِذَا كُنَّا فِيْ بَعْضِ الطَّرِيْقِ رُفِعَ

۳۶۰: عبداللّٰه بن ابو شيبه عبسي. ابن ادريس. اسمٰعيل بن ابي خالد. قيس. جرير نه روايت كوي، دَ هغهٔ بيان دے. زهٔ دَ درياب سفر كښې ووم، چه دَ يمن دوو سړو ذو كلاع او ذو عمرو سره مو ملاقات اوشو، ما هغوي ته دَ رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم حديث بيان كولو، هغوي كښې ذو عمرو اووے، كه دا خبره ستاسو دَ نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم كوي، كومه چه تهٔ كوے، نو دَ هغوي دَ وفات درے ورځے اوشوے، او هغوي دواړه ماسره راغلل، كوم وخت چه مونږ يوه لاره كښې وو، نو دَ مدينے دَ طرف نه مونږ ته څهٔ سوارهٔ په نظر

لَنَا رَكْبٌ مِنْ قِبَلِ الْمَدِينَةِ فَسَأَلْنَاهُمْ فَقَالُوا قُبِضَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاسْتُخْلِفَ أَبُو بَكْرٍ وَالنَّاسُ صَالِحُونَ فَقَالَا أَخْبِرْ صَاحِبَكَ أَنَّا قَدْ جِئْنَا وَلَعَلَّنَا سَنَعُودُ إِنْ شَاءَ اللهُ وَرَجَعْنَا إِلَى الْيَمَنِ فَأَخْبَرْتُ أَبَا بَكْرٍ بِحَدِيثِهِمْ قَالَ أَفَلَا جِئْتَ بِهِمْ فَلَمَّا كَانَ بَعْدُ قَالَ لِي ذُو عَمْرٍو يَا جَرِيرُ إِنَّ بِكَ عَلَيَّ كَرَامَةً وَإِنِّي مُخْبِرُكَ خَبَرًا إِنَّكُمْ مَعْشَرَ الْعَرَبِ لَنْ تَزَالُوا بِخَيْرٍ مَا كُنْتُمْ إِذَا هَلَكَ أَمِيرٌ تَأَمَّرْتُمْ فِي آخَرَ فَإِذَا كَانَتْ بِالسَّيْفِ كَانُوا مُلُوكًا يَغْضَبُونَ غَضَبَ الْمُلُوكِ وَيَرْضَوْنَ رِضَا الْمُلُوكِ.

راغلل، مونږ ذ هغوي نه تپوس اوکړ، هغوي اووې، رسول الله صلي الله عليه وسلم وفات شولو، او دَ خلقو په مشوره حضرت ابوبکرؓ خليفه شولو، هغې دواړو ماته اووې چه خپل سړي ته اووايه، چه مونږ راغلي وو، او عنقريب به انشاء الله واپس راشو، او هغوي دواړه يمن ته واپس لاړل. ما ابوبکرؓ ته دَ هغوي خبره اوکړه، نو هغهٔ اووې، چه تا هغوي ځان سره ولې رانهٔ وستل. بيا دې نه پس ماته ذو عمرو اووې، اې جريرؓ ته ماته محترم ئې، او زه تاته يوه خبره ښائم، هغه دا چه تاسو اهل عرب به هميشه کامياب ئې، هر کله چه تاسو دَ يو امير په وفات کېدلو دويم امير جوړولې، ليکن که دا امارت دَ تورې په ذريعه شي، نو دوي به دَ بادشاهانو پشان شي، دَ هغوي په شان غصه کيږي، او دَ هغوي په شان به راضي کيږي.

## بَابٌ ۶۶: غَزْوَةُ سَيْفِ الْبَحْرِ. وَهُمْ يَتَلَقَّوْنَ عِيرًا لِقُرَيْشٍ وَأَمِيرُهُمْ أَبُو عُبَيْدَةَ.

**باب ۶۶: دَ غزوه سيف البحر (ساحل سمندر بيان).** او دې جنګ کښې دَ قافله قريش منتظر وو، او دَ مسلمانانو امير ابو عبيدهؓ وو.

۱۶۳: حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ وَهْبِ بْنِ كَيْسَانَ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ قَالَ بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْثًا قِبَلَ السَّاحِلِ وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ أَبَا عُبَيْدَةَ بْنَ الْجَرَّاحِ وَهُمْ ثَلَاثُ مِائَةٍ فَخَرَجْنَا وَكُنَّا بِبَعْضِ الطَّرِيقِ فَنِيَ الزَّادُ فَأَمَرَ أَبُو عُبَيْدَةَ بِأَزْوَادِ الْجَيْشِ فَجُمِعَ فَكَانَ

۱۶۳: اسماعيل. مالک. وهب بن کيسان. حضرت جابر بن عبداللهؓ نه روايت دَ هغهٔ بيان دې، رسول الله صلي الله عليه وسلم ابو عبيدهؓ امير جوړ کړ، دَ درې سوو سړو يو لښکر ئې ساحل طرف ته اوليږلو. مونږ روان شو، لا لار کښې وو، چه دَ لارې توښه ختمه شوه، ابو عبيده دَ ټول لښکر دَ توښې راجمع کولو حکم اوکړلو، نو هغه دَ ګجورو دوه تهيلۍ شوې. ابو عبيدهؓ به مونږ ته روزانه لږې لږې راکولې، تردې چه هغه ذخيره هم ختمه شوه. اوس مونږ

مِزْوَدَى تَمْرٍ فَكَانَ يَقُوْتُنَا كُلَّ يَوْمٍ قَلِيْلٌ قَلِيْلٌ حَتّٰى فَنِىَ فَلَمْ يَكُنْ يُصِيْبُنَا اِلَّا تَمْرَةٌ تَمْرَةٌ فَقُلْتُ مَا تُغْنِيْ عَنْكُمْ تَمْرَةٌ فَقَالَ لَقَدْ وَجَدْنَا فَقْدَهَا حِيْنَ فَنِيَتْ ثُمَّ انْتَهَيْنَا اِلَى الْبَحْرِ فَاِذَا حُوْتٌ مِثْلُ الظَّرِبِ فَاَكَلَ مِنْهَا الْقَوْمُ ثَمَانَ عَشْرَةَ لَيْلَةً ثُمَّ اَمَرَ اَبُوْ عُبَيْدَةَ بِضِلَعَيْنِ مِنْ اَضْلَاعِهٖ فَنُصِبَا ثُمَّ اَمَرَ بِرَاحِلَةٍ فَرُحِلَتْ ثُمَّ مَرَّتْ تَحْتَهُمَا فَلَمْ تُصِبْهُمَا.

ته يوه يوه قجوره راكولے شوه، ما جابر ته اووے، يوے قجورے سره به څه خېته مړه شي. جابر اووے، ذَ هغے يوے قجورے ذَ نۀ بيامندو حقيقت هغه وخت معلوم شو، چه هغه يوه قجوره بيا نۀ وه، تردے چه مونږ (ساحل سمندر ته اورسيدو، نو څۀ گورو چه يو كب (مچھلی) ذَ غر په شان موجود دے. هغے لښكر هغه كب اتلس ورځے پورے اوخوړ بيا ابو عبيدهؓ ذَ هغے كب دوه پښتۍ اُودرولے، او يوه سورلي ئے ذَ هغے لاندے تيره كړه، نو هغے سره ذَ لړيدو نه بغير ترے هغه سورلئ ذَ لاندے نه اووتله.

۳۶۲: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ الَّذِيْ حَفِظْنَاهُ مِنْ عَمْرِو ابْنِ دِيْنَارٍ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ يَقُوْلُ بَعَثَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلٰثَ مِائَةِ رَاكِبٍ اَمِيْرُنَا اَبُوْ عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ نَرْصُدُ عِيْرَ قُرَيْشٍ فَاَقَمْنَا بِالسَّاحِلِ نِصْفَ شَهْرٍ فَاَصَابَنَا جُوْعٌ شَدِيْدٌ حَتّٰى اَكَلْنَا الْخَبَطَ فَسُمِّيَ ذٰلِكَ الْجَيْشُ جَيْشُ الْخَبَطِ فَاَلْقٰى لَنَا الْبَحْرُ دَابَّةً يُقَالُ لَهَا الْعَنْبَرُ فَاَكَلْنَا مِنْهُ نِصْفَ شَهْرٍ وَادَّهَنَّا مِنْ وَدَكِهٖ حَتّٰى ثَابَتْ اِلَيْنَا اَجْسَامُنَا فَاَخَذَ اَبُوْ عُبَيْدَةَ ضِلَعًا مِنْ اَضْلَاعِهٖ فَنَصَبَهُ فَعَمَدَ اِلٰى اَطْوَلِ رَجُلٍ مَعَهُ قَالَ سُفْيَانُ مَرَّةً مِنْ اَضْلَاعِهٖ فَنَصَبَهُ وَ اَخَذَ رَجُلًا وَ بَعِيْرًا

۳۶۲: علي بن عبدالله. سفيان. عمرو بن دينار. حضرت جابر بن عبدالله نه روايت كوي، ذَ هغۀ بيان دے، مونږ درے سوه سوارۀ نبي صلي الله عليه وسلم ذَ حضرت ابو عبيدهؓ اميري كښې ذَ قريشو قافلے ته لار نيولو ذَ پاره ليږلے وو. مونږ ذَ سمندر په ساحل پنځلس ورځے ايسار وو، هته سختے لوږے په مونږ غلبه اوكړه، تردے چه مونږ پانړو خوړلو باندے گزاره كوله، په دے وجه دے ته جيش الخبط (پانړو والا لښكر) وائي سمندر عنبر نومے يو كب بهرته راوغرځولو، مونږ هغه پنځلس ورځے اوخوړلو، او مونږ ذَ هغے چربي اومږله، نو خمونږ جسمونه په خپل اصلي حالت (ذَ غټ والي) راغلل، حضرت ابو عبيدهؓ ذَ هغے يوه پښتئ اُودروله. سفيان كله ذَ "ضلعا من اضلاعه" روايت كه، بيا خپلو ملګرو كښې يو اوږود سړے په اوښ كينولو، ذَ هغے لاندے ئے تير كړلو،

نَمَرَّ تَحْتَهُ قَالَ جَابِرٌ وَ كَانَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ نَحَرَ ثَلَاثَ جَزَائِرَ ثُمَّ نَحَرَ ثَلَاثَ جَزَائِرَ ثُمَّ نَحَرَ ثَلَاثَ جَزَائِرَ ثُمَّ اِنَّ اَبَا عُبَيْدَةَ نَهَاهُ وَ كَانَ عَمْرٌو يَقُوْلُ اَخْبَرَنَا اَبُوْ صَالِحٍ اَنَّ قَيْسَ بْنَ سَعْدٍ قَالَ لِاَبِيْهِ كُنْتُ فِي الْجَيْشِ فَجَاعُوْا قَالَ اِنْحَرْ قَالَ نَحَرْتُ قَالَ ثُمَّ جَاعُوْا قَالَ اِنْحَرْ قَالَ نَحَرْتُ ثُمَّ جَاعُوْا قَالَ اِنْحَرْ قَالَ نَحَرْتُ قَالَ ثُمَّ جَاعُوْا قَالَ اِنْحَرْ قَالَ نُهِيْتُ.

نو هغه ذ هغې لاندې پې لګيدو اووتلو. حضرت جابرؓ وائي. ذ لښکر يو سړي درې اوښان ذبح کړل، بيا حضرت ابو عبيدهؓ هغه منع کړلو. عمرو په واسطه ذ ابو صالح قيس بن سعد، ذ هغهٔ ذ پلار نه روايت کوي، چه زهٔ هم دغې لښکر کښې ووم، چه سخت اوږې شو، نو حضرت سعد هغه ته اووې، چه اُوښ ذبح کړه، هغه وائي، ما ذبح کړلو، بيا چه اُوږې شو، نو هغهٔ بيا اووې، چه اُوښ ذبح کړه، ما بيا ذبح کړلو. بيا چه اُوږې شو، هغهٔ اووې، اُوښ ذبح کړه، نو ما ورته اووې، چه زهٔ منع کړې شوې يم.

۳۶۳: حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيٰى عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ عَمْرٌو اَنَّهُ سَمِعَ جَابِرًا يَقُوْلُ غَزَوْنَا جَيْشَ الْخَبَطِ وَ اُمِّرَ اَبُوْ عُبَيْدَةَ فَجُعْنَا جُوْعًا شَدِيْدًا فَاَلْقَى الْبَحْرُ حُوْتًا مَيِّتًا لَمْ نَرَ مِثْلَهُ يُقَالُ لَهُ فَاَكَلْنَا مِنْهُ نِصْفَ شَهْرٍ فَاَخَذَ اَبُوْ عُبَيْدَةَ عَظْمًا مِنْ عِظَامِهِ فَمَرَّ الرَّاكِبُ تَحْتَهُ فَاَخْبَرَنِيْ اَبُو الزُّبَيْرِ اَنَّهُ سَمِعَ جَابِرًا يَقُوْلُ قَالَ اَبُوْ عُبَيْدَةَ كُلُوْا فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِيْنَةَ ذَكَرْنَا ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ كُلُوْا رِزْقًا اَخْرَجَهُ اللّٰهُ اَطْعِمُوْنَا اِنْ كَانَ مَعَكُمْ فَاَتَاهُ بَعْضُهُمْ فَاَكَلَهُ.

۳۶۳: مسدد. يحيٰي. ابن جريج. عمرو. حضرت جابرؓ نه روايت کوي، ذ هغهٔ بيان دې کوم وخت چه ذ جيش الخبطؔ جهاد کښې وو او خمونږ امير ابو عبيدهؓ وو، مونږ سخت اوږې شو، نو سمندر يو مړ کب، چه هغې ته عنبر وائي، بهر ته راوغرخولو. مونږ دغسې کب چرته نهٔ وو ليدې. مونږ هغه پنځلس ورځې اوخوړ، حضرت ابو عبيدهؓ ذ هغهٔ يو هډوکې راواخست نو يو سور ذ هغې ذ لاندې نه اووتلو، بيا ابو زبير ذ حضرت جابر نه دا روايت ماته اوکهٔ، حضرت ابو عبيدهؓ اووې، خورئې (کهالو) بيا چه مونږ مدينې ته راغلو، حضور صلي الله عليه وسلّم ته ذ هغې ذکر اوشو، نو حضورؐ اوفرمائيل، دا ذ الله رالېږلې شوې رزق دې، خورئې، او که تاسو سره څهٔ (باقي) وي، نو په مونږ هم اوخوروئې چا حضورؐ ته راوړلو، نو حضورؐ اوخوړلو.

باب ۶۷: حَجِّ اَبِيْ بَكْرٍ بِالنَّاسِ فِيْ سَنَةِ تِسْعٍ.

باب ۶۷ سنه ۹ هجري کښې ذ حضرت ابوبکرؓ په خلقو ذ حج کولو بيان.

۳۶۴: حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ أَبُو الرَّبِيعِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ الصِّدِّيْقَ بَعَثَهُ فِي الْحَجَّةِ الَّتِيْ أَمَّرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ يَوْمَ النَّحْرِ فِيْ رَهْطٍ يُؤَذِّنُ فِي النَّاسِ لَا يَحُجُّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ وَلَا يَطُوْفُ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ.

۳۶۴: سليمان بن داؤد. ابو الربيع. فليح. زهري. حميد بن عبدالرحمن. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت كوي، ذ هغهٔ بيان دے، حضرت ابوبكرؓ دے حج كښې، چه هغې كښې هغه حضور صلي الله عليه وسلّم ذ حجة الوداع نه مخكښې امير جوړ كړے وو، زهٔ نے يو جماعت سره په لسم تاريخ اوليږلم، چه خلقو كښې اعلان اوكړم چه دے كال نه پس دے هيڅ مشرك حج نهٔ كوي، او ذ بيت الله طواف دے په بربنډه نشي كولے (مشركينو به عام طور سره جاهليت كښې په بربنډه طواف كولو).

۳۶۵: حَدَّثَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ رَجَاءٍ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيْلُ عَنْ أَبِيْ إِسْحٰقَ عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ اٰخِرُ سُوْرَةٍ نَزَلَتْ كَامِلَةً بَرَاءَةٌ وَاٰخِرُ سُوْرَةٍ نَزَلَتْ خَاتِمَةُ سُوْرَةِ النِّسَاءِ يَسْتَفْتُوْنَكَ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيْكُمْ فِي الْكَلَالَةِ.

۳۶۵: عبدالله بن رجاء. اسرائيل. ابو اسحاق. حضرت براءؓ نه روايت كوي، ذ هغهٔ بيان دے، چه كوم سورت ذ ټولونه آخر كښې پوره نازل شوے دے، هغه سورت برات دے او آخري آيت چه نازل شوے دے، هغه ذ سورهٔ نساء آيت دے: يستفتونک قُل اللّٰه يُفْتِيْكُمْ فِي الْكَلَالَةِ.

باب ۶۸: وَفْدِ بَنِيْ تَمِيْمٍ.

باب ۶۸: ذ بنو تميم ذ وفد بيان.

۳۶۶: حَدَّثَنَا أَبُوْ نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيٰنُ عَنْ أَبِيْ صَخْرَةَ عَنْ صَفْوَانَ بْنِ مُحْرِزٍ الْمَازِنِيِّ عَنْ عِمْرَانَ ابْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ أَتَى نَفَرٌ مِنْ بَنِيْ تَمِيْمٍ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوْا اقْبَلُوا الْبُشْرٰى يَا بَنِيْ تَمِيْمٍ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَدْ بَشَّرْتَنَا فَأَعْطِنَا فَرُئِيَ ذٰلِكَ فِيْ وَجْهِهِ فَجَاءَ نَفَرٌ مِنَ الْيَمَنِ فَقَالَ اقْبَلُوا الْبُشْرٰى إِذْ لَمْ يَقْبَلْهَا

۳۶۶: ابو نعيم. سفيان. ابو صخره. صفوان بن محرز مازني. حضرت عمران بن حصين نه روايت كوي، هغهٔ بيان اوكهٔ، ذ بنو تميم وفد ذ حضور صلي الله عليه وسلّم خدمت كښې حاضر شو، حضورؐ اوفرمائيل، اے بني تميم، بشارت قبول كړئے، هغوي اووے، يا رسول الله، تاسو بشارت خو راكړلو، اوس مونږ له څهٔ راكړئے. ذ حضورؐ په مخ مبارک ذ دے اثر معلوم شو. بيا ذ يمن وفد راغے، حضورؐ

بَنُوْ تَمِيْمٍ قَالُوْا قَدْ قَبِلْنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ.

ورته اوفرمائيل' هغوي عرض اوكړه. يا رسول اللّٰه' موږ قبول كړلو.

بَابُ ۶۹ : قَالَ ابْنُ اِسْحٰقَ غَـزْوَةُ عُيَيْنَةَ بْنِ حِصْنِ ابْنِ حُذَيْفَةَ بْنِ بَدْرٍ بَنِي الْعَنْبَرِ مِنْ بَنِيْ تَمِيْمٍ بَعَثَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلَيْهِمْ فَاَغَارَ وَ اَصَابَ مِنْهُمْ نَاسًا وَ سَبٰى مِنْهُمْ نِسَآءً.

باب ۶۹ : (دا باب ذ عنوان نه خالي دے).
ابن اسحاق وائي' عيينه بن حصين بن حذيفه بن بدر' حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم دَ بنو تميم شاخ بنو عنبره سره دَ جنګ كولو دَ پاره اوليږلو' هغوي دَ شپے حمله اوكړه' نارينه ئے قتل كړل او زنانه ئے قيدي كړلے.

۳۶۷: حَدَّثَنِيْ زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا جَرِيْرٌ عَنْ عُمَارَةَ بْنِ الْقَعْقَاعِ عَنْ اَبِيْ زُرْعَةَ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ لَا اَزَالُ اُحِبُّ بَنِيْ تَمِيْمٍ بَعْدَ ثَلَاثٍ سَمِعْتُهُ مِنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُهَا فِيْهِمْ هُمْ اَشَدُّ اُمَّتِيْ عَلَى الدَّجَّالِ وَ كَانَتْ فِيْهِمْ سَبِيَّةٌ عِنْدَ عَائِشَةَ فَقَالَ اَعْتِقِيْهَا فَاِنَّهَا مِنْ وُّلْدِ اِسْمَاعِيْلَ وَ جَاءَ تْ صَدَقَاتُهُمْ فَقَالَ هٰذِهٖ صَدَقَاتُ قَوْمٍ اَوْ قَوْمِيْ.

۳۶۷: زبير بن حرب. جرير. عماره بن قعقاع. ابو زرعه. حضرت ابو هريرةؓ نه روايت كوي' دَ هغهٔ بيان دے' دَ كله نه چه ما دَ رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم نه دَ بنو تميم په حق كښ درے خبرے آوريدلے دي' نو دا برابر درست ګڼړم' بنو تميم څما اُمت كښ دَ دجّال په مقابله كښ دَ ټولو نه زيات سخت دي. بي بي عائشےؓ سره دَ هغے قوم يوه وينزه وه' نو حضورؐ اوفرمائيل' دا آزاده كړه' ځكه چه دا دَ اسماعيلؑ دَ اولاد نه ده' كوم وخت چه هغے ته صدقات راغلل' نو حضورؐ اوفرمائيل' دا څما دَ قوم يا وے فرمائيل دَ قوم صدقه ده.

۳۶۸: حَدَّثَنِيْ اِبْرَاهِيْمُ بْنُ مُوْسٰى حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ يُوْسُفَ اَنَّ ابْنَ جُرَيْجٍ اَخْبَرَهُمْ عَنِ ابْنِ اَبِيْ مُلَيْكَةَ اَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ الزُّبَيْرِ اَخْبَرَهُمْ اَنَّهُ قَدِمَ رَكْبٌ مِنْ بَنِيْ تَمِيْمٍ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَبُوْ بَكْرٍ اَمِّرِ الْقَعْقَاعَ ابْنَ

۳۶۸: ابراهيم بن موسي. هشام بن يوسف. ابن جريج. ابن ابي مليكه. حضرت عبداللّٰه بن زبير نه روايت كوي' دَ بنو تميم سوارهٔ دَ حضورؐ خدمت كښ راغلل' نو ابوبكرؓ عرض اوكړه' دَ دوي امير قعقاع بن معبد بن زراره جوړ كړے' عمرؓ عرض اوكړه' نه' بلكه اقرع بن حابس جوړ كړے' نو حضرت ابوبكرؓ اووے' تهٔ

مُحَمَّدِ بْنِ زُرَارَةَ قَالَ عُمَرُ بَلْ أَمِّرِ الْأَقْرَعَ بْنَ حَابِسٍ قَالَ أَبُوْ بَكْرٍ مَا أَرَدْتَ إِلَّا خِلَافِيْ قَالَ عُمَرُ مَا أَرَدْتُ خِلَافَكَ فَتَمَارَ يَا حَتَّى ارْتَفَعَتْ أَصْوَاتُهُمَا فَنَزَلَ فِيْ ذٰلِكَ يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا لَا تُقَدِّمُوْا حَتَّى انْقَضَتْ.

همیشه ما سره اختلاف کوے، حضرت عمرؓ اووے، زۀ تاسو سره دَ اختلاف قصد نۀ کوم، دواړو کښې تکرار اوشولو، تردے چه دَ هغوي آوازونه اوچت شو، نو دے باره کښې دا آیت نازل شولو: اے ایمان والو، اللّٰه او دَ هغهٔ رسول مخکښې پیش قدمي مۀ کوے، آخره پورے.

باب ۷۰: وَفْدِ عَبْدِ الْقَيْسِ.

باب ۷۰: دَ وفد عبدالقیس بیان.

۳۶۹: حَدَّثَنِيْ إِسْحَاقُ أَخْبَرَنَا أَبُوْ عَامِرٍ الْعَقَدِيُّ حَدَّثَنَا قُرَّةُ عَنْ أَبِيْ جَمْرَةَ قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ إِنَّ لِيْ جَرَّةً يُنْتَبَذُ لِيْ نَبِيْذٌ فَأَشْرَبُهُ حُلْوًا فِيْ جَرٍّ إِنْ أَكْثَرْتُ مِنْهُ فَجَالَسْتُ الْقَوْمَ فَأَطَلْتُ الْجُلُوْسَ خَشِيْتُ أَنْ أَفْتَضِحَ فَقَالَ قَدِمَ وَفْدُ عَبْدِ الْقَيْسِ عَلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَرْحَبًا بِالْقَوْمِ غَيْرَ خَزَايَا وَلَا نَدَامٰى فَقَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّ بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ الْمُشْرِكِيْنَ مِنْ مُضَرَ وَإِنَّا لَا نَصِلُ إِلَيْكَ إِلَّا فِيْ أَشْهُرِ الْحُرُمِ حَدِّثْنَا بِجُمَلٍ مِنَ الْأَمْرِ إِنْ عَمِلْنَا بِهِ دَخَلْنَا الْجَنَّةَ وَنَدْعُوْ بِهِ مَنْ وَرَائَنَا قَالَ آمُرُكُمْ بِأَرْبَعٍ وَأَنْهَاكُمْ عَنْ أَرْبَعٍ الْإِيْمَانُ بِاللّٰهِ هَلْ تَدْرُوْنَ

۳۶۹: اسحاق. ابو عامر عقدي، قُرّه. ابو حمزه وائي، ما حضرت ابن عباسؓ ته اووے، ماسره یو منګے دے، هغے کښې نبیذ تیارولے شي، زۀ دا نبیذ خواږۀ کرم او دَ خاورو ګلاس کښې ئے څکم، ماسره ویره ده که زۀ هغه نبیذ زیات اوڅکم، او خلقو سره ډیر ساعت کینم، نو زۀ به (دَ نشے تهمت کښې) رسوا شم، حضرت ابن عباسؓ اووے. وفد عبدالقیس دَ حضورؐ خدمت کښې حاضر شو، نو حضورؐ اوفرمائیل، هر کله راشے، اے قوم چه نۀ نقصان کښې دے او نۀ شرمسار هغوي عرض اوکۀ، یا رسول اللّٰه، خمونږ او ستاسو مینځ کښې مشرکین مُضَر حائل دي په دے وجه مونږ سوا دَ حُرمت دَ میاشتو (رجب، ذي قعده، ذي الحجه، محرم) نه تاسوٌ له نۀ شو راتلے، نو مونږ ته څۀ داسے مختصرے خبرے اوښائے، چه مونږ په هغے عمل اوکړو او جنت ته لاړ شو، او مونږ نه ورستو چه کوم خلق پاتے شوے دي، هغوي ته هم دَ دے دعوت ورکړو، حضورؐ ورته اوفرمائیل، زۀ تاسو ته دَ څلورو څیزونو حکم درکوم، او دَ څلورونه مو منع کوم. په اللّٰه دَ ایمان راوړلو حکم درکوم. پوهیږئے، په اللّٰه دَ ایمان راوړلو څۀ مطلب دے، دَ دے خبرے شهادت کول، چه دَ

مَا الْاِيْمَانُ بِاللّٰهِ شَهَادَةُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ اِقَامُ الصَّلٰوةِ وَ اِيْتَاءُ الزَّكٰوةِ وَ صَوْمُ رَمَضَانَ وَ اَنْ تُعْطُوْا مِنَ الْمَغَانِمِ الْخُمُسَ وَ اَنْهَاكُمْ عَنْ اَرْبَعٍ مَا انْتُبِذَ فِي الدُّبَّاءِ وَالنَّقِيْرِ وَالْحَنْتَمِ وَالْمُزَفَّتِ.

اللّٰه نه سوا څوک معبود نشته' او مونځ کول' زکٰوة ورکول' ذَ رمضان روژے نيول' او مال غنيمت نه خمس ورکول' او زهٔ تاسو ذَ څلورو څيزونو نه منع کوم. ذَ کدو ذَ تونبي نه نقير ذَ لرګي لوښي. شين منګوټي او روغن کړے شوو لوښو کښ نبيذ (شراب) جوړولو نه (دا ټول يو قسم لوښي وو' چه شراب به په کښ جوړولے شو' نو ذَ دے نه منع اوشوله).

۳۷۰: حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ ابْنُ زَيْدٍ عَنْ اَبِيْ جَمْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ يَقُوْلُ قَدِمَ وَفْدُ عَبْدِ الْقَيْسِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ هٰذَا الْحَيَّ مِنْ رَبِيْعَةَ وَقَدْ حَالَتْ بَيْنَنَا وَ بَيْنَكَ كُفَّارُ مُضَرَ فَلَسْنَا نَخْلُصُ اِلَيْكَ اِلَّا فِيْ شَهْرٍ حَرَامٍ فَمُرْنَا بِاَشْيَاءَ نَأْخُذُ بِهَا وَ نَدْعُوْ اِلَيْهَا مَنْ وَرَائَنَا قَالَ اٰمُرُكُمْ بِاَرْبَعٍ وَ اَنْهَاكُمْ عَنْ اَرْبَعٍ الْاِيْمَانُ بِاَرْبَعٍ وَ اَنْهَاكُمْ عَنْ اَرْبَعٍ الْاِيْمَانُ بِاللّٰهِ شَهَادَةِ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ عَقَدَ وَاحِدَةً وَ اِقَامِ الصَّلٰوةِ وَ اِيْتَاءِ الزَّكٰوةِ وَ اَنْ تُؤَدُّوْا لِلّٰهِ خُمُسَ مَا غَنِمْتُمْ وَ اَنْهَاكُمْ عَنِ الدُّبَّاءِ وَالنَّقِيْرِ وَالْحَنْتَمِ وَالْمُزَفَّتِ.

۳۷۰: سليمان بن حرب. حماد بن زيد. ابو حمزه. ابن عباسؓ نه روايت دے هغه وائي' وفد عبدالقيس ذَ نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم په خدمت کښ راغے' او عرض ئے اوکهٔ يا رسول اللّٰه' مونږ ذَ ربيعه قبيله يُو' او کفار مُضر خمونږ او ستاسو مينځ کښ حائل دي' مونږ ستاسو خدمت کښ سِوا ذَ عزت ذَ مياشو نه' نهٔ شو راتلے' نو خمونږ ذَ عمل ذَ پاره' او کوم خلق چه خمونږ ورستو دي' هغوي ته دعوت ورکولو ذَ پاره ذَ څهٔ څيزونو حکم راکړئے' حضورؐ ورته اوفرمائيل' زهٔ تاسوته ذَ څلورو څيزونو حکم درکوم' او ذَ څلورو څيزونو نه مو منع کوم' په اللّٰه ايمان راوړل' يعني ذَ يو معبود کيدو شهادت ورکول (او حضورؐ ذَ ګوتے يو عدد ته اشاره اوکړه) مونځ کول' زکٰوة ورکول' مال غنيمت نه خمس ذَ اللّٰه ذَ پاره ورکول' او زهٔ تاسو ذَ کدو' نقير ذَ ذَ لرګي لوښي' شين منکوټي او روغن کړو لوښو (شراب ذَ پاره ستعمال) نه منع کوم.

۳۷۱: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمَانَ حَدَّثَنِي ابْنُ

۳۷۱: يحيٰي بن سليمان. ابن وهب. عمرو (دويم سند) بکر بن مضر. عمرو بن حارث. بکير. ذَ ابن

وَهْبٍ اَخْبَرَنِيْ عَمْرٌو وَقَالَ بَكْرُ بْنُ مُضَرَ عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ عَنْ بُكَيْرٍ اَنَّ كُرَيْبًا مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ حَدَّثَهُ اَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ وَ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ اَزْهَرَ وَالْمِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ اَرْسَلُوْا اِلٰى عَائِشَةَ فَقَالُوْا اقْرَأْ عَلَيْهَا السَّلَامَ مِنَّا جَمِيْعًا وَ سَلْهَا عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ وَ اِنَّا اُخْبِرْنَا اَنَّكِ تُصَلِّيْهِمَا وَقَدْ بَلَغَنَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْهُمَا قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَ كُنْتُ اَضْرِبُ مَعَ عُمَرَ النَّاسَ عَنْهُمَا قَالَ كُرَيْبٌ فَدَخَلْتُ عَلَيْهَا وَ بَلَّغْتُهَا مَا اَرْسَلُوْنِيْ فَقَالَتْ سَلْ اُمَّ سَلَمَةَ فَاَخْبَرْتُهُمْ فَرَدُّوْنِيْ اِلٰى اُمِّ سَلَمَةَ بِمِثْلِ مَا اَرْسَلُوْنِيْ اِلٰى عَائِشَةَ فَقَالَتْ اُمُّ سَلَمَةَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهٰى عَنْهُمَا وَ اِنَّهُ صَلَّى الْعَصْرَ ثُمَّ دَخَلَ عَلَيَّ وَ عِنْدِيْ نِسْوَةٌ مِنْ بَنِيْ حَرَامٍ مِنَ الْاَنْصَارِ فَصَلَّاهُمَا فَاَرْسَلْتُ اِلَيْهِ الْخَادِمَ فَقُلْتُ قُوْمِيْ اِلٰى جَنْبِهِ فَقُوْلِيْ تَقُوْلُ اُمُّ سَلَمَةَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَلَمْ اَسْمَعْكَ تَنْهٰى عَنْ هَاتَيْنِ الرَّكْعَتَيْنِ فَاَرَاكَ

عباس دَ آزاد کرده غلام کریب نه روایت کوي، ابن عباس، عبدالرحمن بن ازهر او مسور بن مخرمه زۀ بي بي عائشې له اولیږلم، او ویلې، خمونږ دَ ټولو دَ طرف نه هغې ته سلام کوه، او مازیګر نه پس دَ دوه رکعاته نفلو باره کښې دَ هغې نه تپوس اوکړه، او ورته اُووایه، مونږ ته اطلاع رارسیدلې ده، چه تاسو دَ مازیګر نه پس دوه رکعاته کوئې، حالانکه مونږ ته دَ حضورؐ نه دا حدیث معلوم شوې دې، چه حضورؐ دَ دې دوو رکعاتو نه منع فرمائیلې ده. ابن عباس اووې ما به حضرتِ عمرؓ سره خلق دَ دې دوو رکعاتو کولو باندې وهل (مارتاتھا) کریب وائي، زۀ دَ بي بي عائشېؓ خدمت کښې حاضر شوم، او هغې ته مِ دَ دغې خلقو پیغام اورسولو. بي بي عائشېؓ جواب راکړلو، چه دَ ام سلمهؓ نه معلومات اوکړه (کریب وائي) ما هغې خلقو ته دَ بي بي عائشېؓ خبره اوکړله نو هغوي زۀ اُم سلمهؓ ته دغې پیغام سره اولیږلم، کوم چه مِ بي بي عائشېؓ ته اُوړې وو، اُم سلمهؓ اوفرمائیل، ما دَ حضورؐ نه دَ دې دوو رکعاتو په حقله منع آوریدلې ده. او حضورؐ یوه ورځ دَ مازیګر مونځ اوکۀ، ما پله ئې تشریف راوړلو. دغه وخت ماسره دَ بنو حرام (انصارو) ښځې وې، نو حضورؐ دوه رکعاته اوکړل، ما حضورؐ ته خدمتګاره اولیږله، او هغې ته مِ اووې، چه دَ حضورؐ په خوا کښې اُودریږه او عرض اوکه، چه اُم سلمه دا وائي، یا رسول الله، آیا ما تاسو نه نۀ وو آوریدلې، چه تاسو به دَ دې دوو رکعاتو کولو نه منع فرمائیله، حالانکه اوس زۀ تاسو وینم، چه دغه (دوه رکعاته) کوئې، که حضورؐ لاس سره اشاره اوکړي، نو تۀ ورستو شه، نو هغه خادمه

تُصَلِّيهِمَا فَإِنْ أَشَارَ بِيَدِهِ فَاسْتَأْخِرُتُ عَنْهُ فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ يَا بِنْتَ أَبِي أُمَيَّةَ سَأَلْتِ عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ أَنَّهُ أَتَانِي أُنَاسٌ مِنْ عَبْدِ الْقَيْسِ بِالْإِسْلَامِ مِنْ قَوْمِهِمْ فَشَغَلُونِي عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ اللَّتَيْنِ بَعْدَ الظُّهْرِ فَهُمَا هَاتَانِ.

ورغله' او هغه دغسې اوكړل' حضورؐ لاس سره اشاره اوكړله' نو هغه ورسته شوه' بيا چه حضورؐ روانېدلو' نو وې فرمائيل' اې دَ اُميه لور' ته دَ مازيګر نه پس دَ دوو ركعاتو تپوس كوې' ماته دَ عبدالقيس سري اسلام راوړلو دَ پاره راغلل' نو ما دَ هغوي په وجه دَ ماسپخين نه پس دوه ركعاته اونۀ كړې شو' نو دا دوه ركعاته هغه دي.

۳۷۲: حَدَّثَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ الْجُعْفِيُّ حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ عَبْدُ الْمَلِكِ حَدَّثَنَا إِبْرٰهِيمُ هُوَا بْنُ طَهْمَانَ عَنْ أَبِي جَمْرَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍؓ قَالَ أَوَّلُ جُمُعَةٍ جُمِّعَتْ بَعْدَ جُمُعَةٍ جُمِّعَتْ فِي مَسْجِدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَسْجِدِ عَبْدِ الْقَيْسِ بِجُوَاثَى يَعْنِي قَرْيَةً مِنَ الْبَحْرَيْنِ.

۳۷۲: عبدالله بن محمد جعفي. ابو عامر عبدالملک. ابراهيم بن طهمان. ابو جمره. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي دَ هغۀ بيان دې' دَ حضورؐ جمات كښې دَ جمعې دَ مونځ كېدو نه پس دَ ټولونه مخكښې چه كوم ځائې دَ جمعې مونځ ادا كړې شو' هغه مقام جواثي كښې دَ عبدالقيس جمات دې' جواثي بحرين كښې دَ يو كلي نوم دې.

## بَابُ ۷۱: وَفْدِ بَنِي حَنِيفَةَ وَ حَدِيثِ ثُمَامَةَ بْنِ أُثَالٍ.

باب ۷۱: دَ وفد بنو حنيفه او دَ ثمامه بن اُثال قصه.

۳۷۳: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَؓ قَالَ بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْلًا قِبَلَ نَجْدٍ فَجَاءَتْ بِرَجُلٍ مِنْ بَنِي حَنِيفَةَ يُقَالُ لَهُ ثُمَامَةُ بْنُ أُثَالٍ فَرَبَطُوهُ بِسَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِي الْمَسْجِدِ فَخَرَجَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا عِنْدَكَ يَا ثُمَامَةُ

۳۷۳: عبدالله بن يوسف. ليث. سعيد بن ابو سعيد. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت كوي' دَ هغۀ بيان دې' حضور صلي الله عليه وسلّم نجد طرف ته څۀ سوارۀ اوليږل' هغوي دَ بني حنيفه يو سړې ثمامه بن اثال نيولې راوستلو' او دَ مسجد نبوي يوې ستنې سره ئې اوتړلو' رسول الله صلي الله عليه وسلّم چه په هغۀ تېرېدلو' نو تپوس ئې ترې اوكړلو' چه اې ثمامه' څۀ خيال دِ دې' هغۀ اووې' اې محمد صلي الله عليه وسلّم خما خيال بهتر دې' كه تۀ ما قتل كړې' نو يو خوني به

فَقَالَ عِنْدِيْ خَيْرٌ يَا مُحَمَّدُ اِنْ تَقْتُلْنِيْ تَقْتُلْ ذَا دَمٍ وَ اِنْ تُنْعِمْ تُنْعِمْ عَلٰى شَاكِرٍ وَ اِنْ كُنْتَ تُرِيْدُ الْمَالَ فَسَلْ مِنْهُ مَا شِئْتَ حَتّٰى كَانَ الْغَدُ ثُمَّ قَالَ لَهٗ مَا عِنْدَكَ يَا ثُمَامَةُ قَالَ مَا قُلْتُ لَكَ اِنْ تُنْعِمْ تُنْعِمْ عَلٰى شَاكِرٍ فَتَرَكَهٗ حَتّٰى كَانَ بَعْدَ الْغَدِ فَقَالَ مَا عِنْدَكَ يَا ثُمَامَةُ قَالَ عِنْدِيْ مَا قُلْتُ لَكَ فَقَالَ اَطْلِقُوْا ثُمَامَةَ فَانْطَلَقَ اِلٰى نَخْلٍ قَرِيْبٍ مِّنَ الْمَسْجِدِ فَاغْتَسَلَ ثُمَّ دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَقَالَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللّٰهِ يَا مُحَمَّدُ وَاللّٰهِ مَا كَانَ عَلَى الْاَرْضِ وَجْهٌ اَبْغَضَ اِلَيَّ مِنْ وَّجْهِكَ فَقَدْ اَصْبَحَ وَجْهُكَ اَحَبَّ الْوُجُوْهِ اِلَيَّ وَاللّٰهِ مَا كَانَ مِنْ دِيْنٍ اَبْغَضَ اِلَيَّ مِنْ دِيْنِكَ فَاَصْبَحَ دِيْنُكَ اَحَبَّ الدِّيْنِ اِلَيَّ وَاللّٰهِ مَا كَانَ مِنْ بَلَدٍ اَبْغَضَ اِلَيَّ مِنْ بَلَدِكَ فَاَصْبَحَ بَلَدُكَ اَحَبَّ الْبِلَادِ اِلَيَّ وَ اِنَّ خَيْلَكَ اَخَذَتْنِيْ وَ اَنَا اُرِيْدُ الْعُمْرَةَ فَمَاذَا تَرٰى فَبَشَّرَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ اَمَرَهٗ اَنْ يَّعْتَمِرَ فَلَمَّا قَدِمَ مَكَّةَ قَالَ لَهٗ قَائِلٌ صَبَوْتَ قَالَ لَا وَلٰكِنْ اَسْلَمْتُ مَعَ مُحَمَّدٍ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

قتل کړې، او که احسان راسره او کړې، نو په یو شکر گزار به احسان او کړې، او که تاسو مال غواړې، نو خومره چه مو زړهٔ غواړي، اوغواړئ، حتي چه دوېمه ورځ راغله، بیا حضورؐ هغه ته اوفرمائیل، څهٔ خیال دِ دې، اې ثمامه، هغهٔ اووې، خما هغه خیال دې، چه ما تاسو ته ظاهر کړې دې، که تاسو احسان او کړئ، نو په یو شکر گزار به احسان او کړې، نو حضورؐ هغه په هغې حال پریښودلو، حتي چه دریمه ورځ راغله، بیا ترې حضورؐ تپوس او کړه، اې ثمامه، څهٔ خیال دِ دې، هغهٔ اووې، خما هغه خیال دې، چه څهٔ مِ تاسو ته وئیلې دي، حضورؐ اوفرمائیل، ثمامه آزاد کړئ، نو ثمامه جُماعت سره قریب یو باغ ته ورغې، غسل ئې او کړهٔ، بیا جومات ته راغې، او وئیلې: اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمد رسول الله: اې محمدهؐ په روئې زمین ستاسو نه زیات بُغض خما هیچا سره نهٔ وو، لیکن اوس ستاسو نه زیات محبوب دَ زمکې په مخ ماته هیڅوک نشته، په خدائې چه ستاسو دَ دین نه زیاته دشمني خما هیڅ دین سره نهٔ وه، خو اوس ستاسو دَ دین نه زیات محبت خما بل هیڅ دین سره نشته. په خدائې چه ستاسو دَ ښار نه زیات ناخوښه خما په نزد هیڅ ښار نهٔ وو، لیکن اوس ستاسو دَ ښار نه زیات زړهٔ پورې هیڅ ښار خما په نزد بل نشته، ستاسو سورو زهٔ هغه وخت اونیولم چه زهٔ دَ عُمرې په اراده تلم، اوس ستاسو څهٔ حکم دې، رسول الله صلي الله علیه وسلم هغهٔ له بشارت ورکهٔ، او هغهٔ ته ئې دَ دَعمرې کولو حکم ورکړلو. کوم وخت چه هغه مکې ته راغې، نو هغهٔ ته چا اووې، تهٔ خو بې دینه شوې ئې، هغهٔ

وَسَلَّمَ وَلَا وَاللّٰهِ لَا يَأْتِيكُمْ مِنَ الْيَمَامَةِ حَبَّةُ حِنْطَةٍ حَتّٰى يَأْذَنَ فِيهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

۳۷۴: حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي حُسَيْنٍ حَدَّثَنَا نَافِعُ بْنُ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَدِمَ مُسَيْلِمَةُ الْكَذَّابُ عَلٰى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلَ يَقُولُ إِنْ جَعَلَ لِي مُحَمَّدٌ مِنْ بَعْدِهِ تَبِعْتُهُ وَ قَدِمَهَا فِي بَشَرٍ كَثِيرٍ مِنْ قَوْمِهِ فَأَقْبَلَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ مَعَهُ ثَابِتُ بْنُ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ وَ فِي يَدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِطْعَةُ جَرِيدٍ حَتّٰى وَقَفَ عَلٰى مُسَيْلِمَةَ فِي أَصْحَابِهِ فَقَالَ لَوْ سَأَلْتَنِي هٰذِهِ الْقِطْعَةَ مَا أَعْطَيْتُكَهَا وَلَنْ تَعْدُ وَ أَمْرَ اللّٰهِ فِيكَ وَلَئِنْ أَدْبَرْتَ لَيَعْقِرَنَّكَ اللّٰهُ وَ إِنِّي لَأَرَاكَ الَّذِي أُرِيتُ فِيهِ مَا رَأَيْتُ وَ هٰذَا ثَابِتٌ يُجِيبُكَ عَنِّي ثُمَّ انْصَرَفَ عَنْهُ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَسَأَلْتُ عَنْ قَوْلِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّكَ أَرَى الَّذِي أُرِيتُ فِيهِ مَا رَأَيْتُ فَأَخْبَرَنِي أَبُو هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ

جواب ورکړ، نه، بلکه د رسول الله صلي الله عليه وسلّم په لاس په اسلام مشرف شوے يم، او په خدائے چه تاسو ته به د يمامه نه د نبي صلي الله عليه وسلّم د اجازت نه بغير د غنمو يو دانه هم نشي رارسيدے.

۳۷۴: ابو اليمان. شعيب. عبدالله بن ابي حسين. نافع بن جبير. حضرت ابن عباسؓ نه روايت کوي، د هغه بيان دے، مسيلمه کذاب د نبي صلي الله عليه وسلّم زمانه کښ (مدينے ته) راغے، او وئيلے، که محمد صلي الله عليه وسلّم د ځان نه پس ما خپل خليفه جوړوي، نو زۀ به د هغۀ تابعدار شم، او مدينے ته ئے د خپل قوم ډير سړي راوستي وو. رسول الله صلي الله عليه وسلّم ثابت بن قيس بن شماس سره هغه طرف ته ورغلو، د حضور صلي الله عليه وسلّم په لاس کښ د کجورے يوه لخته وه حتي چه حضورؐ خپلو اصحابوؓ سره مسيلمه سره ايسار شولو، نو حضورؐ اوفرمائيل، که تۀ مانه دا لخته هم غواړے، نو زۀ به ئے درنۀ کړمه (چه جائيکه خلافت) او ستا باره کښ د الله حکم غلط کيدے نشي (چه ته دوزخي ئے) که تا خما نه رو گرداني او کړه، نو الله به تا هلاک کړي، او زۀ خو تا هغسے وينم، چه ماته خوب کښ په نظر راغلے ئے، او دا ثابت بن قيس دے، چه خما د طرف نه به تاته جواب درکوي، بيا حضورؐ واپس راغے. ابن عباسؓ وائي، ما د رسول الله صلي الله عليه وسلّم د قول: زۀ تا هغسے وينم، څنګه چه ماته خوب کښ په نظر راغلے ئے: مطلب دريافت کړلو، نو ماته ابوهريرهؓ اووے، رسول الله صلي الله عليه وسلّم

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَا اَنَا نَائِمٌ رَأَيْتُ فِيْ يَدَيَّ سِوَارَيْنِ مِنْ ذَهَبٍ فَاَهَمَّنِيْ شَأْنُهُمَا فَاُوْحِيَ اِلَيَّ فِي الْمَنَامِ اَنِ انْفُخْهُمَا فَنَفَخْتُهُمَا فَطَارَا فَاَوَّلْتُهُمَا كَذَّابَيْنِ يَخْرُجَانِ بَعْدِيْ اَحَدُهُمَا اَسْوَدُ الْعَنْسِيُّ وَالْاٰخَرُ مُسَيْلِمَةُ.

اوفرمائيل، يوه ورځ زۀ اوده ووم، ما خپل لاس کښې د سرو (زرو) دوه کنګڼ اوليدل، ماته د هغې حالت له خفګان شو، نو خوب کښې ماته وحي اوکړې شوه، چې دواړو ته پُوکې ورکړه. ما چه پُوکې ورکړه، نو هغه والوتل. ما د هغې خوب تعبير دے دوو دروغجنو سره اوکړه، چه خما نه پس به ظاهر شي، يو، عنسي او بل مسيلمه.

۳۷۵: حَدَّثَنَا اِسْحٰقُ بْنُ نَصْرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ هَمَّامٍ اَنَّهُ سَمِعَ اَبَا هُرَيْرَةَ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَا اَنَا نَائِمٌ اُتِيْتُ بِخَزَائِنِ الْاَرْضِ فَوُضِعَ فِيْ كَفِّيْ سِوَارَانِ مِنْ ذَهَبٍ فَكَبُرَا عَلَيَّ فَاُوْحِيَ اِلَيَّ اَنِ انْفُخْهُمَا فَنَفَخْتُهُمَا فَذَهَبَا فَاَوَّلْتُهُمَا الْكَذَّابَيْنِ الَّذَيْنِ اَنَا بَيْنَهُمَا صَاحِبَ صَنْعَاءَ وَ صَاحِبَ الْيَمَامَةِ.

۳۷۵: اسحاق بن نصر. عبدالرزاق. معمر. همام. حضرت ابوهريرةؓ نه روايت، د هغۀ بيان دے، رسول الله صلعم اوفرمائيل، يوه ورځ زۀ اوده ووم، چه ما ته د دُنيا ټولې خزانې راکړے شوې. بيا خما لاس کښې دوه کنګڼ کېښودے شو، چه په ما ښۀ اونۀ لګيدل، ماته وحي اوکړے شوے، دے له پُوکې ورکړه، ما پُوکې ورکړه، نو هغه غائب شو، نو ما د هغې تعبير هغې دوو دروغجنو سره اوکۀ، چه د هغوي مينځ کښې يم، يعني صنعاء واله، عنسي، او يمامه واله مسيلمه.

۳۷۶: حَدَّثَنَا الصَّلْتُ بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ سَمِعْتُ مَهْدِيَّ بْنَ مَيْمُوْنٍ قَالَ سَمِعْتُ اَبَا رَجَاءٍ الْعُطَارِدِيَّ يَقُوْلُ كُنَّا نَعْبُدُ الْحَجَرَ فَاِذَا وَجَدْنَا حَجَرًا هُوَ اَخْيَرُ مِنْهُ اَلْقَيْنَاهُ وَ اَخَذْنَا الْاٰخَرَ فَاِذَا لَمْ نَجِدْ حَجَرًا جَمَعْنَا جُثْوَةً مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ جِئْنَا بِالشَّاةِ فَحَلَبْنَاهُ عَلَيْهِ ثُمَّ طُفْنَا بِهِ فَاِذَا دَخَلَ شَهْرُ رَجَبٍ قُلْنَا مُنَصِّلُ الْاَسِنَّةِ فَلَا نَدَعُ رُمْحًا فِيْهِ

۳۷۶: صلت بن محمد. مهدي بن ميمون. ابو رجاء عطاردي وائي، مونږ به د کاڼړو عبادت کولو، که مونږ ته به د هغې نه ښۀ کاڼړے حاصل شولو، نو مونږ به ورمبنے کاڼړے اوغرځولو، او هغه به مو اوچت کړلو، او که مونږ به د خاورے يو ډهير راجمع کۀ، يوه چيلۍ به مو راوسته، په هغې به مو د هغې پئے اولوشل، د هغې طواف به مو کولو. او د رجب مياشت چه به راغله، نو مونږ به وئيلے، دا مياشت د تړو و غيره نه د تيرو څوکو د لرے کولو ده، نو مونږ به هيڅ نيزه او تير د

حَدِيدَةٌ وَلَا سَهْمًا فِيهِ حَدِيدَةٌ إِلَّا نَزَعْنَاهُ وَ أَلْقَيْنَاهُ شَهْرَ رَجَبٍ وَ سَمِعْتُ أَبَا رَجَاءٍ يَقُولُ كُنْتُ يَوْمَ بُعِثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُلَامًا أَرْعَى الْإِبِلَ عَلَى أَهْلِي فَلَمَّا سَمِعْنَا بِخُرُوجِهِ فَرَرْنَا إِلَى النَّارِ إِلَى مُسَيْلِمَةَ الْكَذَّابِ.

سونبې لرې کولو نه بغير نهٔ پرېښودلو، او هغه به مونږ دَ رجب پوره مياشت کښې غرخول (مهدي والي) ابو رجاء دا هم فرمائيل، کوم وخت چه نبي صلي الله عليه وسلّم مبعوث شولو، نو زهٔ بچې ووم، او دَ خپل کور والو اُوښان به مِ څرخول، کوم وخت چه مونږ دَ حضورؐ دَ ظهور باره کښې واوريدل، نو مونږ دوزخ يعني مسيلمه طرف ته اوتښتيدلو.

## بَابٌ ۴۷۲: قِصَّةِ الْأَسْوَدِ الْعَنَسِيِّ.

## باب ۴۷۲: دَ اسود عنسي قِصه.

۳۷۷: حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْجَرْمِيُّ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا أَبِي عَنْ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ عُبَيْدَةَ بْنِ نَشِيطٍ وَ كَانَ فِي مَوْضِعٍ آخَرَ اسْمُهُ عَبْدُ اللّٰهِ أَنَّ عُبَيْدَ اللّٰهِ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُتْبَةَ قَالَ بَلَغَنَا أَنَّ مُسَيْلَمَةَ الْكَذَّابَ قَدِمَ الْمَدِينَةَ فَنَزَلَ فِي دَارِ بِنْتِ الْحَارِثِ وَ كَانَتْ تَحْتَهُ بِنْتُ الْحَارِثِ بْنِ كُرَيْزٍ وَ هِيَ أُمُّ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَامِرٍ فَأَتَاهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ مَعَهُ ثَابِتُ بْنُ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ وَهُوَ الَّذِي يُقَالُ لَهُ خَطِيبُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ فِي يَدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضِيبٌ فَوَقَفَ عَلَيْهِ فَكَلَّمَهُ فَقَالَ مُسَيْلِمَةُ إِنْ شِئْتَ خَلَّيْتَ بَيْنَنَا وَ بَيْنَ الْأَمْرِ

۳۷۷: سعيد بن محمد جرمي. يعقوب بن ابراهيم. دَ هغهٔ پلار صالح. ابن عبيده بن نشيط عبدالله. عبيدالله بن عبدالله بن عتبه نه روايت کوي، دَ هغهٔ بيان دې، مونږ ته معلومه شوه، چه مسيلمه کذاب مدينې ته راغلې دې، او دَ حارث دَ لور مکان کښې تېکاؤ شوې دې، دَ هغهٔ په نکاح کښې اُم عبدالله بن عامر دَ حارث بن کريز لور، وه، نو حضور صلي الله عليه وسلّم، ثابت بن قيس بن شماس سره، چه هغهٔ ته به دَ رسول الله صلي الله عليه وسلّم خطيب وئيلې شو، مسيلمه ته ورغلل، او دَ حضورؐ لاس کښې يوه لښته وه، حضورؐ ايسار شولو، هغهٔ سره ئې خبرې اوکړې، لو مسيلمه اووې، که تاسو غواړئې، نو تاسو خمونږ او حکومت مېنځ کښې مهٔ حائل کيږئې. بيا هغهٔ دَ خان نه پس خمونږ دَ پاره کړئې، نو هغهٔ ته حضورؐ اوفرمائيل، که تهٔ خما نه دا لښته

ثُمَّ جَعَلْتُهُ لَنَا بَعْدَكَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ سَأَلْتَنِيْ هٰذَا الْقَضِيْبَ مَا اَعْطَيْتُكَهُ وَ اِنِّيْ لَأَرَاكَ الَّذِيْ أُرِيْتُ فِيْهِ مَا أُرِيْتُ وَ هٰذَا ثَابِتُ بْنُ قَيْسٍ وَ سَيُجِيْبُكَ عَنِّيْ فَانْصَرَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ سَأَلْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عَبَّاسٍ عَنْ رُؤْيَا رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّتِيْ ذَكَرَ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ ذُكِرَ لِيْ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَا اَنَا نَائِمٌ أُرِيْتُ اَنَّهُ وُضِعَ فِيْ يَدَيَّ سِوَارَانِ مِنْ ذَهَبٍ فَفَظِعْتُهُمَا وَ كَرِهْتُهُمَا فَأُذِنَ لِيْ فَنَفَخْتُهُمَا فَطَارَا فَأَوَّلْتُهُمَا كَذَّابَيْنِ يَخْرُجَانِ فَقَالَ عُبَيْدُ اللّٰهِ اَحَدُهُمَا الْعَنْسِيُّ الَّذِيْ قَتَلَهُ فَيْرُوْزُ بِالْيَمَنِ وَالْاٰخَرُ مُسَيْلِمَةُ الْكَذَّابُ.

اوغواړې، نو زۀ به درنه کړم، او زۀ تا هغسې وينم، څنګه چه م خوب کښې ليدلے ئے، او دا ثابت بن قيس دے، څما د طرفه به تاته جواب درکوي، بيا حضورؐ واپس راغے، عبيداللّٰه بن عبداللّٰه وائي، ما د حضرت ابن عباسؓ نه د حضورؐ د مذکوره خوب باره کښې تپوس اوکړ، نو حضرت ابن عباسؓ اووے، ماته دا بيان شوے دے، رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم فرمائيلي دي، چه زۀ اُودۀ ووم، نو ما اوليدل، چه څما لاس کښې د سرو (زرو) دوه کړکڼ ايښودے شوے دي ماسره ويره پيدا شوه، او هغه ماته بد ښکاره شو، ماته حکم اوشو، ما هغې له پُوکے ورکړ، نو هغه دواړه والوتل. ما د دے تعبير دوو دروغجنو سره اوکړ، چه راؤبه خي، عبيداللّٰه اووے، هغې کښې يو عنسي وو، چه هغه فيروز په يمن کښې قتل کړے وو، او دويم مسيلمه کذاب وو.

## باب ۷۳: قِصَّةُ اَهْلِ نَجْرَانَ.

## باب ۷۳: د اهل نجران (د نصاراؤ) قِصّه.

۳۷۸: حَدَّثَنِيْ عَبَّاسُ بْنُ الْحُسَيْنِ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ اٰدَمَ عَنْ إِسْرَائِيْلَ عَنْ أَبِيْ إِسْحٰقَ عَنْ صِلَةَ بْنِ زُفَرَ عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ جَاءَ الْعَاقِبُ وَالسَّيِّدُ صَاحِبَا نَجْرَانَ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرِيْدَانِ اَنْ يُلَاعِنَاهُ قَالَ فَقَالَ اَحَدُهُمَا

۳۷۸: عباس بن حسين. يحيي بن آدم. اسرائيل. ابو اسحاق. صله بن زفر. حضرت حذيفهؓ نه روايت کوي، عاقب او سيد د نجران دوه سرداران حضورؐ له مباهلے کولو د پاره راغلل (مباهله داده، چه دواړه فريقه خپل خپل اهل و عيال سره خنګل له راوخي، او د اللّٰه نه دعا اوغواړي، چه څوک مونږ کښې دروغجن شو، نو په هغۀ

لِصَاحِبِهٖ لَا تَفْعَلْ فَوَاللّٰهِ لَئِنْ كَانَ نَبِيًّا فَلَا عَنَّا لَا نُفْلِحُ نَحْنُ وَلَا عَقِبُنَا مِنْ بَعْدِنَا قَالَا اِنَّا نُعْطِيْكَ مَا سَأَلْتَنَا وَابْعَثْ مَعَنَا رَجُلًا اَمِيْنًا وَلَا تَبْعَثْ مَعَنَا اِلَّا اَمِيْنًا فَقَالَ لَاَبْعَثَنَّ مَعَكُمْ رَجُلًا اَمِيْنًا حَقَّ اَمِيْنٍ حَقَّ اَمِيْنٍ فَاسْتَشْرَفَ لَهٗ اَصْحَابُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ قُمْ يَا اَبَا عُبَيْدَةَ بْنَ الْجَرَّاحِ فَلَمَّا قَامَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰذَا اَمِيْنُ هٰذِهِ الْاُمَّةِ.

عذاب نازل كړي) نو يو خپل ملګري ته ئې اوويل مباهله مۀ كوه، په خدائے چه كه هغه نبي وي، او مونږ مباهله اوكړه، نو مونږ او خمونږ اولاد هيڅ كله فلاح نشي بيامندې، نو هغې دواړو، اووې، چه تاسو مونږ نه څه طلب كوئې، هغه به مونږ ادا كوو، او مونږ سره يو امين سړے اوليږئې، خائن مۀ ليږئې، حضورؐ ورته اوفرمائيل، زۀ تاسو سره داسے امين ليږم، چه پوخ او ريښتنے امين دے، اصحاب رسول منتظر وو، نو حضورؐ اوفرمائيل، اے ابو عبيده بن جراح، تۀ اودريږه، څۀ وخت چه هغه اودريدلو، نو حضورؐ اوفرمائيل، دا دَدے اُمت امين دے.

۳۷۹: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ سَمِعْتُ اَبَا اِسْحَاقَ عَنْ صِلَةَ بْنِ زُفَرَ عَنْ حُذَيْفَةَؓ قَالَ جَاءَ اَهْلُ نَجْرَانَ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوْا ابْعَثْ لَنَا رَجُلًا اَمِيْنًا فَقَالَ لَاَبْعَثَنَّ اِلَيْكُمْ رَجُلًا اَمِيْنًا حَقَّ اَمِيْنٍ فَاسْتَشْرَفَ لَهُ النَّاسُ فَبَعَثَ اَبَا عُبَيْدَةَ بْنَ الْجَرَّاحِ.

۳۷۹: محمد بن بشار. محمد بن جعفر. شعبه. ابو اسحاق. صله بن زفر. حضرت حذيفهؓ نه روايت كوي، دَ هغۀ بيان دے، اهل نجران دَ حضور صلي الله عليه وسلّم خدمت كښ حاضر شو، او وئيلے، مونږ دَ پاره يو امين سړے راوليږئې، حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، زۀ به تاسو سره پۀ حقه او ريښتنے امين اوليږم، خلق منتظر وو. چه كورو، حضورؐ كوم خوش نصيبه هلته ليږي، نو حضورؐ ابو عبيده بن جراح اوليږلو.

۳۸۰: حَدَّثَنَا اَبُو الْوَلِيْدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ خَالِدٍ عَنْ اَبِيْ قِلَابَةَ عَنْ اَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِكُلِّ اُمَّةٍ اَمِيْنٌ وَ اَمِيْنُ هٰذِهِ الْاُمَّةِ اَبُوْ عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ.

۳۸۰: ابوالوليد. شعبه. خالد. ابو قلابه. حضرت انسؓ نه روايت كوي، دَ هغه بيان دے، رسول الله صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، دَ هر يو اُمت يو آمين وي، او دَ دے اُمت آمين ابو عبيده بن جراح دے.

## بَابٌ ۷۴: قِصَّةُ عُمَانَ

## باب ۷۴: دَ عمان او بحرين

وَالْبَحْرَيْنِ.

۱۳۸۱: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيْدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ سَمِعَ ابْنَ الْمُنْكَدِرِ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ يَقُوْلُ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ قَدْ جَاءَ مَالُ الْبَحْرَيْنِ لَاَعْطَيْتُكَ هٰكَذَا وَ هٰكَذَا ثَلَاثًا فَلَمْ يَقْدِمْ مَالُ الْبَحْرَيْنِ حَتّٰى قُبِضَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا قَدِمَ عَلٰى اَبِيْ بَكْرٍؓ اَمَرَ مُنَادِيًا فَنَادٰى مَنْ كَانَ لَهٗ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَيْنٌ اَوْ عِدَةٌ فَلْيَاْتِنِيْ قَالَ جَابِرٌ فَجِئْتُ اَبَا بَكْرٍ فَاَخْبَرْتُهٗ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْ قَدْ جَاءَ مَالُ الْبَحْرَيْنِ اَعْطَيْتُكَ هٰكَذَا وَ هٰكَذَا ثَلٰثًا قَالَ فَاَعْطَانِيْ قَالَ جَابِرٌ فَلَقِيْتُ اَبَا بَكْرٍ بَعْدَ ذٰلِكَ فَسَاَلْتُهٗ فَلَمْ يُعْطِنِيْ ثُمَّ اَتَيْتُهٗ فَلَمْ يُعْطِنِيْ ثُمَّ اَتَيْتُهُ الثَّالِثَةَ فَلَمْ يُعْطِنِيْ فَقُلْتُ لَهٗ قَدْ اَتَيْتُكَ فَلَمْ تُعْطِنِيْ ثُمَّ اَتَيْتُكَ فَلَمْ تُعْطِنِيْ ثُمَّ اَتَيْتُكَ فَلَمْ تُعْطِنِيْ فَاِمَّا اَنْ تُعْطِيَنِيْ وَ اِمَّا اَنْ تَبْخَلَ عَنِّيْ فَقَالَ اَقُلْتَ تَبْخَلُ عَنِّيْ وَ اَيُّ دَاءٍ اَدْوَءُ مِنَ الْبُخْلِ قَالَهَا ثَلٰثًا مَا مَنَعْتُكَ مِنْ مَرَّةٍ اِلَّا وَ اَنَا اُرِيْدُ اَنْ اُعْطِيَكَ وَ عَنْ عَمْرٍو عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيٍّ

قصه.

۱۳۸۱: قتيبه بن سعيد. سفيان. ابن منكدر. حضرت جابر بن عبداللّٰهؓ نه روايت کوي، ذ هغهٔ بيان دے، ماته رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل، که ذ بحرين مال راغے، نو زهٔ به تاله دا شان (درے ځله اشاره اوکړه) درکړم. ذ حضورؐ په ژوند کښې ذ هغے ځائے نه څهٔ مال رانغے. بيا هغه مال حضرت ابوبکرؓ له راغے، نو ذ هغهٔ اعلان کونکي دا اعلان اوکهٔ، که په نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم ذ چا قرض وي، يا حضورؐ چا سره څهٔ وعده کړے وي، نو هغه دے ماله راشي. جابر وائي، زهٔ حضرت ابوبکر صديقؓ له راغلم، او هغهٔ ته مې اووے، حضورؐ ماته داسے فرمائيلي وو، که ذ بحرين مال راغے، نو زهٔ به تاله داسے داسے (درے ځله) درکړم جابر وائي، حضرت ابوبکرؓ ماله هغه مال راکړلو. دے نه پس زهٔ بيا ابوبکرؓ له راغلم، او مال مې ترے اوغوښتلو، نو هغهٔ رانهٔ کړلو. بيا راغلم، خو رائے نهٔ کړلو. زهٔ په دريم ځل بيا راغلم. بيائے هم رانهٔ کړلو، ما ورته اووے، زهٔ تاسوله راغلم، خو تاسو هيڅ رانهٔ کړل. بيا دوباره راغلم، بيا دے هم څه رانهٔ کړل. بيا په دريم ځل درله راغلم، بيا دے هم څهٔ رانهٔ کړل، نو تهٔ ماله څهٔ مال راکړه، کني زهٔ به دا اوګنړم، چه تاسو ماسره بخل کوئے، ابوبکر ورته اووے، دا تا څهٔ اووے، چه ماسره بُخل کوے. ذ بخل نه زياته بله کومه بيماري ده. دائے درے ځله اوفرمائيل، ما چه کله هم تاله ذ مال ذ ورکولو نه منع کړے ده، نو ما دا غوښتل، چه تاله

سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ يَقُوْلُ جِئْتُهُ فَقَالَ لِيْ اَبُوْبَكْرٍ عُدَّهَا فَعَدَدْتُهَا فَوَجَدْتُهَا خَمْسَ مِائَةٍ فَقَالَ خُذْ مِثْلَهَا مَرَّتَيْنِ.

(دَ چرته نه) درکړم، عمرو، محمد بن علي، جابر بن عبدالله فرمائي، زهٔ ابوبکرؓ له راغلم، نو هغهٔ ماته اووې، چه دا مال اوشميره، ما اوليدهٔ، چه پنځه سوه وې، ابوبکرؓ اووې. دومره دوه خله نور واخله.

باب ٧٥: قُدُوْمِ الْاَشْعَرِيِّيْنَ وَ اَهْلِ الْيَمَنِ وَ قَالَ اَبُوْ مُوْسٰى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُمْ مِنِّيْ وَ اَنَا مِنْهُمْ.

باب ٧٥: دَ اشعريانو، او يمن يانو، دَ راتلو قصه. ابو موسٰي دَ نبي صلي الله عليه وسلّم نه دا قول دَ اشعريانو په باره کښې نقل کړې دې، چه هغوي خما نه دي، او زهٔ دَ هغوي نه يم.

٣٨٢: حَدَّثَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ وَّ اِسْحَاقُ بْنُ نَصْرٍ قَالَا حَدَّثَنَا يَحْيٰى بْنُ اٰدَمَ حَدَّثَنَا ابْنُ اَبِيْ زَائِدَةَ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ اَبِيْ اِسْحٰقَ عَنِ الْاَسْوَدِ بْنِ يَزِيْدَ عَنْ اَبِيْ مُوْسٰىؓ قَالَ قَدِمْتُ اَنَا وَ اَخِيْ مِنَ الْيَمَنِ فَمَكَثْنَا حِيْنًا مَّا نُرٰى ابْنَ مَسْعُوْدٍ وَّ اُمَّهُ اِلَّا مِنْ اَهْلِ الْبَيْتِ مِنْ كَثْرَةِ دُخُوْلِهِمْ وَ لُزُوْمِهِمْ لَهُ.

٣٨٢: عبدالله بن محمد او اسحاق بن نصر. يحيٰي بن آدم. ابن ابي زائده. دَ هغهٔ پلار. ابو اسحاق. اسود بن يزيد. حضرت ابو موسٰيؓ نه روايت کوي، دَ هغهٔ بيان دې، چه زهٔ او خما ورور دَ يمن نه راغلو، او يو زمانه پورې دَ حضورؐ په خدمت کښې ايسار وو. عبدالله بن مسعود او دَ هغهٔ مور حضورؐ له کثرت سره دَ تلو راتلو او اکثر حضورؐ سره دَ پاتې کيدو په وجه مونږ هغوي اهل بيت ګڼړل.

٣٨٣: حَدَّثَنَا اَبُوْ نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلَامِ عَنْ اَيُّوْبَ عَنْ اَبِيْ قِلَابَةَ عَنْ زَهْدَمٍ قَالَ لَمَّا قَدِمَ اَبُوْ مُوْسٰى اَكْرَمَ هٰذَا الْحَيَّ مِنْ جَرْمٍ وَ اِنَّا لَجُلُوْسٌ عِنْدَهُ وَهُوَ يَتَغَدّٰى دَجَاجًا وَ فِي الْقَوْمِ رَجُلٌ جَالِسٌ فَدَعَاهُ اِلَى الْغَدَآءِ فَقَالَ اِنِّيْ رَاَيْتُهُ يَاْكُلُ شَيْئًا فَقَذِرْتُهُ قَالَ هَلُمَّ فَاِنِّيْ رَاَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

٣٨٣: ابو نعيم. عبدالسلام. ايوب. ابو قلابه. زهدم وائي، چه کوم وخت ابو موسٰي راغې، نو هغهٔ د قبيلهٔ جدم ئې ډير اعزاز اوکهٔ. مونږ هغهٔ سره ناست وو، او هغهٔ چرګ خوړلو، خلقو کښې يو بل سړې هم وو چه هغه ابو موسٰي دَ خوراک دَ پاره راوغښتلو، نو هغهٔ اووې، ما دا چرګ په ځهٔ خوراک ليدلې دې په دې وجه دَ دې دَ خوراک نه ماته کرکه (کراهت) راځي. ابو موسٰي اووې، راشه، ما نبي صلي الله عليه وسلّم په چرګ

وَسَلَّمَ يَأْكُلُهُ فَقَالَ إِنِّي حَلَفْتُ لَا أَكُلُهُ فَقَالَ هَلُمَّ أُخْبِرُكَ عَنْ يَمِيْنِكَ إِنَّا أَتَيْنَا النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَفَرٌ مِنَ الْأَشْعَرِيِّيْنَ فَاسْتَحْمَلْنَاهُ فَأَبَى أَنْ يَحْمِلَنَا فَاسْتَحْمَلْنَاهُ فَحَلَفَ أَنْ لَا يَحْمِلَنَا ثُمَّ لَمْ يَلْبَثِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أُتِيَ بِنَهْبِ إِبِلٍ فَأَمَرَ لَنَا بِخَمْسِ ذَوْدٍ فَلَمَّا قَبَضْنَاهَا قُلْنَا تَغَفَّلْنَا النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمِيْنَهُ لَا نُفْلِحُ بَعْدَهَا أَبَدًا فَأَتَيْتُهُ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّكَ حَلَفْتَ أَنْ لَا تَحْمِلَنَا وَقَدْ حَمَلْتَنَا قَالَ أَجَلْ وَلٰكِنْ لَا أَحْلِفُ عَلَى يَمِيْنٍ فَأَرٰى غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا إِلَّا أَتَيْتُ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ مِنْهَا.

خوړلو ليدلے دے' هغه اووے ما قسم خوړلے دے' چه نه به نے خورم' ابو موسيٰ اووے' راشه' ستا ذَ قسم باره کښې به زهٔ درته اووايم' چه څمونږ ذَ اشعريانو يو جماعت ته حضورؐ ذَ سورلي نه راکولو قسم اوخوړ. لږ ساعت پس حضورؐ له ذَ مال غنيمت اوښان راغلل' نو حضورؐ مونږ ته ذَ پنځه اوښانو راکولو حکم اوکړ. کوم وخت چه مونږ هغه اوښان واخستل' نو مونږ اووے چه حضورؐ نه خپل قسم هير شولو. مونږ هيڅ کله (داسے حالت کښې) کاميابيدے نهٔ شو' نو زهٔ حضورؐ له راغلم' عرض م اوکړ' يا رسول اللّٰه' تاسو مونږ ته ذَ سورلئ نهٔ راکولو قسم خوړلے وو' او اوس تاسو سورلئ راکړے. حضورؐ اوفرمائيل' جي' او' زهٔ که څهٔ قسم اوخورم' او ذَ هغے خلاف ماته نيکي په نظر راشي' نو زهٔ هغه نيکي اختياروم.

۳۸۴: حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا أَبُوْ عَاصِمٍ حَدَّثَنَا سُفْيٰنُ حَدَّثَنَا أَبُوْ صَخْرَةَ جَامِعُ بْنُ شَدَّادٍ حَدَّثَنَا صَفْوَانُ بْنُ مُحْرِزٍ الْمَازِنِيُّ حَدَّثَنَا عِمْرَانُ بْنُ حُصَيْنٍ قَالَ جَاءَتْ بَنُوْ تَمِيْمٍ إِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَبْشِرُوْا يَا بَنِي تَمِيْمٍ قَالُوْا أَمَّا إِذَا بَشَّرْتَنَا فَأَعْطِنَا فَتَغَيَّرَ وَجْهُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْبَلُوا الْبُشْرٰى إِذْ

۳۸۴: عمرو بن علي. ابو عاصم. سفيان. ابو صخره جامع بن شداد. صفوان بن محرز مازني. حضرت عمران بن حصين نه روايت کوي' ذَ هغهٔ بيان دے' کوم وخت چه بنو تميم ذَ رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم خدمت کښې حاضر شو' نو حضورؐ اوفرمائيل اے بنو تميم. بشارت حاصل کړئے. هغوي اووے' تاسو بشارت خو راکړلو' اوس راته څهٔ مال هم عطا کړئے' نو ذَ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم مخ مبارک متغير شولو. بيا ذَ يمن نه څه خلق راغلل' نو حضورؐ ورته اوفرمائيل' بنو تميم خو بشارت

لَمْ يَقْبَلْهَا بَنُو تَمِيمٍ قَالُوا قَدْ قَبِلْنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ.

قبول نهٔ کړلو، تاسو ئې قبول کړے، نو هغوي اووے، یا رسول اللّٰه، مونږ قبول کړلو.

۳۸۵: حَدَّثَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ الْجُعْفِيُّ حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيْرٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ اِسْمَاعِيْلَ بْنِ اَبِيْ خَالِدٍ عَنْ قَيْسِ بْنِ اَبِيْ حَازِمٍ عَنْ اَبِيْ مَسْعُوْدٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْاِيْمَانُ هٰهُنَا وَ اَشَارَ بِيَدِهٖ اِلَى الْيَمَنِ وَالْجَفَاءُ وَ غِلَظُ الْقُلُوْبِ فِي الْفَدَّادِيْنَ عِنْدَ اُصُوْلِ اَذْنَابِ الْاِبِلِ مِنْ حَيْثُ يَطْلُعُ قَرْنَا الشَّيْطَانِ رَبِيْعَةَ وَ مُضَرَ.

۳۸۵: عبداللّٰه بن محمد جعفي. وهب بن جریر. شعبه. اسمٰعیل بن ابي خالد. قیس بن ابي حازم. حضرت ابو مسعودؓ نه روایت کوي، هغهٔ بیان اوکهٔ، حضور صلي اللّٰه علیه وسلّم لاس سره یمن طرف ته اشاره اوکړه، وے فرمائیل، چه ایمان دلته دے، درشتي او سخت دلي ربیعه او مضر کښې ده، چه دَ اُوښانو لکو (ژموں)سره آواز کوي، دَ کوم ځائے نه چه دَ شیطان دَ سر، ګُټ (ښکر) نمودار کیږي (یعني نمر طلوع کیږي).

۳۸۶: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا ابْنُ اَبِيْ عَدِيٍّ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ ذَكْوَانَ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَتَاكُمْ اَهْلُ الْيَمَنِ هُمْ اَرَقُّ اَفْئِدَةً وَ اَلْيَنُ قُلُوْبًا اَلْاِيْمَانُ يَمَانٍ وَالْحِكْمَةُ يَمَانِيَةٌ وَالْفَخْرُ وَالْخُيَلَاءُ فِيْ اَصْحَابِ الْاِبِلِ وَالسَّكِيْنَةُ وَالْوَقَارُ فِيْ اَهْلِ الْغَنَمِ وَ قَالَ غُنْدَرٌ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ سُلَيْمَانَ سَمِعْتُ ذَكْوَانَ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

۳۸۶: محمد بن بشار. ابن ابي عدي. شعبه. سلیمان. ذکوان. حضرت ابوهریرهؓ نه روایت کوي، دَ هغهٔ بیان دے، حضور صلي اللّٰه علیه وسلّم اوفرمائیل، تاسوله یمن واله راغلے دي، چه رقیق القلب او نرم زړے دي، ایمان یمني دے، او حکمت یمني، فخر او تکبیر اوښانو واله کښې دے. سکون او وقار چیلو واله کښې دے. غندر په واسطه دَ شعبه سلیمان، ذکوان، حضرت ابوهریرهؓ، حضو صلي اللّٰه علیه وسلّم نه دا حدیث روایت کړے دے.

۳۸۷: حَدَّثَنَا اِسْمَاعِيْلُ حَدَّثَنِيْ اَخِيْ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ ثَوْرِ بْنِ زَيْدٍ عَنْ اَبِي الْغَيْثِ عَنْ اَبِيْ

۳۸۷: اسماعیل. دَ هغهٔ ورور سلیمان. ثور بن یزید. ابوالغیث. حضرت ابوهریرهؓ نه روایت کوي، دَ هغهٔ بیان دے، رسول اللّٰه صلي اللّٰه علیه وسلّم اوفرمائیل،

هُرَیْرَةَ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْاِیْمَانُ یَمَانٍ وَالْفِتْنَةُ هٰهُنَا وَ هٰهُنَا یَطْلُعُ قَرْنُ الشَّیْطَانِ.

ایمان یمني دے او فتنه دلته ده، ذ کوم ځائے نه چه ذ شیطان ذ سر، ښکر (ښکر) نمودار کیږي (یعني نمر طلوع کیږي).

ف: دا ټول تمثیلات دي، ذ دے مطلب دا دے، چه نمر ته سجده کونکي ذ شیطان په جال کښ راغلي دي، هر کله چه هغوي نمر ته سجده کوي، نو ګویا شیطان ته سجده کوي، ذ فتنے ځائے دے.

۳۸۸: حَدَّثَنَا اَبُو الْیَمَانِ اَخْبَرَنَا شُعَیْبٌ حَدَّثَنَا اَبُو الزِّنَادِ عَنِ الْاَعْرَجِ عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَتَاکُمْ اَهْلُ الْیَمَنِ اَضْعَفُ قُلُوْبًا وَ اَرَقُّ اَفْئِدَةً الْفِقْهُ یَمَانٍ وَالْحِکْمَةُ یَمَانِیَةٌ.

۳۸۸: ابوالیمان. شعیب. ابوالزناد. اعرج. حضرت ابوهریرةؓ نه روایت کوي، ذ هغه بیان دے، رسول اللّٰه صلي اللّٰه علیه وسلّم اوفرمائیل، تاسوته یمني راغلي دي، چه نرم دله او رقیق القلب دي. فقه یمني ده، او حکمت هم یمني دے.

۳۸۹: حَدَّثَنَا عَبْدَانُ عَنْ اَبِیْ حَمْزَةَ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ اِبْرٰهِیْمَ عَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ کُنَّا جُلُوْسًا مَعَ ابْنِ مَسْعُوْدٍ فَجَآءَ خَبَّابٌ فَقَالَ یَا اَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ اَیَسْتَطِیْعُ هٰؤُلَاءِ الشَّبَابُ اَنْ یَّقْرَءُوْا کَمَا تَقْرَأُ قَالَ اَمَا اِنَّكَ لَوْ شِئْتَ اَمَرْتُ بَعْضَهُمْ یَقْرَأُ عَلَیْكَ قَالَ اَجَلْ قَالَ اقْرَءْ یَا عَلْقَمَةُ فَقَالَ زَیْدُ بْنُ حُدَیْرٍ اَخُوْ زِیَادِ بْنِ حُدَیْرٍ اَتَاْمُرُ عَلْقَمَةَ اَنْ یَقْرَأَ وَ لَیْسَ بِاَقْرَئِنَا اَمَا اِنَّكَ اِنْ شِئْتَ اَخْبَرْتُكَ بِمَا قَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ قَوْمِكَ وَ قَوْمِهٖ فَقَرَأْتُ خَمْسِیْنَ اٰیَةً مِنْ سُوْرَةِ مَرْیَمَ فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ کَیْفَ تَرٰی قَالَ قَدْ اَحْسَنَ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ مَا اَقْرَأُ شَیْئًا

۳۸۹: عبدان. ابو حمزه. اعمش. ابراهیم. علقمه نه روایت دے، هغه وائي، مونږ ابن مسعود سره ناست وو، چه خبابؓ تشریف راوړلو، او هغهٔ اووے، اے ابو عبدالرحمٰن آیا دا ذ ځوانانو طبقه ستا په شان قرآن لوستے شي، عبداللّٰه اووے، که ته غواړے، نو زهٔ به هغوي کښ په چا قرآن تاته واوروم. هغهٔ اووے، جي، او واوروه، نو عبداللّٰه اووے، اے علقمه، اووایه (اولوله) نو زید بن حدیر ذ زیاد بن حدیر ورور، اووے، چه علقمه خو ځمونږ نه ښه لوستونکے نهٔ دے، بیاهم تاسو ذ هغهٔ نه آورے. عبداللّٰه جواب ورکهٔ، که تهٔ وائے، نو زهٔ به ذ رسول اللّٰه صلي اللّٰه علیه وسلّم هغه قول چه ستا ذ قوم او ذ هغهٔ ذ قوم باره کښ دے، تاته اوښایم، (علقمه وائي چه) ما ذ سورهٔ مریم پنځوس آیتونه اولوستل. عبداللّٰه اووے، اے خباب، څهٔ رائے دے ده، هغهٔ اووے، ښهٔ لولي، عبداللّٰه اووے، څنګه چه زهٔ لولم، علقمه هم هغسے

اِلاَّ وَهُوَ يَقْرَأُهُ ثُمَّ الْتَفَتَ اِلَى خَبَّابٍ وَعَلَيْهِ خَاتَمٌ مِنْ ذَهَبٍ فَقَالَ اَلَمْ يَأْنِ لِهٰذَا الْخَاتَمِ اَنْ يُلْقَى قَالَ اَمَا اِنَّكَ لَنْ تَرَاهُ عَلَيَّ بَعْدَ الْيَوْمِ فَأَلْقَاهُ رَوَاهُ غُنْدُرٌ عَنْ شُعْبَةَ.

لولي. بيا عبدالله ذَ خباب جانب ته چه ذَ هغهٔ په لاس ذَ سرو زرو گوته وه، متوجه شو، وے فرمائيل، آيا اوس ذَ دے ذَ غرخولو وخت نهٔ دے راغلے، خباب اووے، ذَ نن نه پس به تاسو دا اونهٔ وينے، او گوته ئے اُوغرخوله. دا شعبه ذَ غندر نه روايت کړے دے.

باب ۷۶: قِصَّةِ دَوْسٍ وَّالطُّفَيْلِ بْنِ عَمْرٍو الدَّوْسِيِّ.

باب ۷۶: ذَ (قبيلهٔ) دوس او طفيل بن عمرو دوسي قصه.

۳۹۰: حَدَّثَنَا اَبُوْ نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ ابْنِ ذَكْوَانَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ الْاَعْرَجِ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَؓ قَالَ جَاءَ الطُّفَيْلُ بْنُ عَمْرٍو اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اِنَّ دَوْسًا قَدْ هَلَكَتْ عَصَتْ وَ اَبَتْ فَادْعُ اللّٰهَ عَلَيْهِمْ فَقَالَ اللّٰهُمَّ اهْدِ دَوْسًا وَأْتِ بِهِمْ.

۳۹۰: ابو نعيم. سفيان. ذكوان. عبدالرحمٰن. اعرج. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت کوي، ذَ هغهٔ بيان دے، چه طفيل بن عمر دوسي، حضور صلي الله عليه وسلّم له راغے، او ورته ئے اووے، دوس قوم هلاک شولو، هغوي نافرماني کړے ده، او ذَ اسلام نه ئے انکار اوکهٔ، هغوي ته بددُعا اوکړے، حضورؐ ورته اوفرمائيل، اے خدايه، قوم دوس ته هدايت اوکړے، او هغوي اسلام ته راولے.

۳۹۱: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ حَدَّثَنَا اَبُوْ اُسَامَةَ حَدَّثَنَا اِسْمَاعِيْلُ عَنْ قَيْسٍ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ لَمَّا قَدِمْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ فِي الطَّرِيْقِ.

يَا لَيْلَةً مِنْ طُوْلِهَا وَ عَنَائِهَا
عَلٰى اَنَّهَا مِنْ دَارَةِ الْكُفْرِ نَجَّتِ

وَ اَبَقَ غُلَامٌ لِّيْ فِي الطَّرِيْقِ فَلَمَّا قَدِمْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَايَعْتُهُ فَبَيْنَا اَنَا عِنْدَهُ اِذْ طَلَعَ الْغُلَامُ فَقَالَ لِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ

۳۹۱: محمد بن علاء. ابو اسامه. اسمٰعيل. قيس. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت کوي، ذَ هغهٔ بيان دے، کوم وخت چه زهٔ ذَ حضور صلي الله عليه وسلّم خدمت کښ حاضريدو ذَ پاره راتلم، نو لاره کښ مِ اووے: (ترجمه)

اے شپے باوجود ذَ درازي او مشقت (ستا شکريه)
چه تا، ماله ذَ دار الکفر نه نجات راکړلو

او خما يو غلام لار کښ تښتيدلے وو، کوم وخت چه زهٔ ذَ حضورؐ په خدمت کښ حاضر شوم، بيعت مِ اوکهٔ، نو يو ورځ زهٔ حضورؐ سره ووم، چه ناساپه هغه غلام راغے، حضورؐ ماته اوفرمائيل، اے ابوهريرهؓ، دا ستا هغه

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ هٰذَا غُلَامُكَ فَقُلْتُ هُوَ لِوَجْهِ اللّٰهِ فَأَعْتَقْتُهُ.

غلام دے. ما اووے، ما دے خاص دَ اللّٰه دَ پاره آزاد کړلو.

## باب ۷۷: قِصَّةِ وَفْدِ طَيِّئٍ وَ حَدِيثِ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ.

## باب ۷۷: دَ وفد بني طے او عدي بن حاتم قصه.

۳۹۲: حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ عَنْ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ أَتَيْنَا عُمَرَ فِي وَفْدٍ فَجَعَلَ يَدْعُو رَجُلًا رَجُلًا وَ يُسَمِّيهِمْ فَقُلْتُ أَمَا تَعْرِفُنِي يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ قَالَ بَلَى أَسْلَمْتَ إِذْ كَفَرُوا وَ أَقْبَلْتَ إِذْ أَدْبَرُوا وَ وَفَيْتَ إِذْ غَدَرُوا وَ عَرَفْتَ إِذْ أَنْكَرُوا فَقَالَ عَدِيٌّ فَلَا أُبَالِي إِذًا.


۳۹۲: موسي بن اسمٰعيل. ابو عوانه. عبدالملک. عمرو بن حريث. عدي بن حاتم نه روايت کوي، هغه بيان کوي، مونږ يو وفد کښې حضرت عمرؓ له راغلو، نو هغه به دَ يو يو سړي نوم اخستلو او راغبنتلوئے، ما اووے، اے امير المؤمنين، آيا تاسو ما نهٔ پيژنئے، نو وے فرمائيل، ولے نه، کوم وخت چه خلق ورستو وو، نو تهٔ مخکښې راغلے، چه خلقو دهوکه اوکړه، نو تا وفا اوکړله، او خلقو چه (دَ حقانيت اسلام نه) انکار اوکړلو، نو تا اُوپيژندلو. عدي اووے، اُوس څما هيڅ پروا نشته.


الحمدلله والشكر لله اوولسمه پاره ختمه شوه




# تاج البخاری

## پښتو شرح صحیح البخاری





شارح: مولانا ظهور الباری اعظمی فاضل دارالعلوم دیوبند

پښتو ترجمه: مولانا محمد امین درانی

نظرثانی: حافظ قاری فضل کریم

اهتمام: دکتور محمد دین البشاوری



تاج کتب خانه رجسٹرڈ

قصه خوانی پښاور
فون: 214454

C-23

# تاج البخاري پاره ١٨ دمضامینو فهرست

# اتلسمه پاره

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

باب۷۸: حَجَّةُ الْوَدَاعِ.

۳۹۳: حَدَّثَنَا اِسْمَاعِيلُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ فَاَهْلَلْنَا بِعُمْرَةٍ ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ مَعَهُ هَدْيٌ فَلْيُهْلِلْ بِالْحَجِّ مَعَ الْعُمْرَةِ ثُمَّ لَا يَحِلَّ حَتّٰى يَحِلَّ مِنْهُمَا جَمِيْعًا فَقَدِمْتُ مَعَهُ مَكَّةَ وَ اَنَا حَائِضٌ وَلَمْ اَطُفْ بِالْبَيْتِ وَلَا بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ فَشَكَوْتُ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ انْقُضِيْ رَأْسَكِ وَامْتَشِطِيْ وَ اَهِلِّيْ بِالْحَجِّ وَ دَعِي الْعُمْرَةَ فَفَعَلْتُ فَلَمَّا قَضَيْنَا الْحَجَّ اَرْسَلَنِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ اَبِيْ بَكْرٍ الصِّدِّيْقِ اِلَى التَّنْعِيْمِ فَاعْتَمَرْتُ فَقَالَ هٰذِهٖ مَكَانَ عُمْرَتِكِ قَالَتْ فَطَافَ الَّذِيْنَ اَهَلُّوْا بِالْعُمْرَةِ بِالْبَيْتِ وَ بَيْنَ

باب۷۸: د حجة الوداع بيان.

۳۹۳: اسماعيل بن عبدالله. امام مالک. ابن شهاب. عروه بن زبير. بي بي عائشےؓ نه روايت کوي، د هغې بيان دے حجة الوداع ذ پاره مونږ حضور صلي الله عليه وسلّم سره لاړلو، او کوم وخت چه احرام مو اوتړلو، نو حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل کومو خلقو چه ځان سره ذ قرباني ځناور راوستلے دي، هغوي دے ذ حج او عمرے دواړو نيت اوکړي او هغه وخته پورے دے احرام نۀ پرانزي، څو پورے چه دواړه کارونه پوره طور سره تر سره نشي. غرض کوم وخت چه زۀ مکے ته اورسيدم، نو حائضه ووم، په دے وجه نۀ خو ما ذ کعبے طواف اوکۀ، او نۀ مې ذ صفا مروه سعي اوکړله، ما رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم ته شکايت اوکۀ، يا رسول اللّٰه، اوس زۀ څۀ اوکړم، حضورؐ اوفرمائيل، سر پرانزه، ويښتۀ گومنز کړه، او ذ حج په نيت احرام اوتړه، او عمره پريږده، نو ما دغسے اوکړل، بيا چه ذ حج نه فارغه شوم، نو حضورؐ زۀ عبدالرحمٰن بن ابي بکر سره مقام تنعيم ته اوليږلم، ما ذ هغے ځائے نه ذ عمرے احرام اوتړلو. حضورؐ اوفرمائيل، دا عُمره ذ دے په بدله کښې ده، چه تا ترک کړے وه. بي بي عائشةؓ فرمائي، کوم خلقو چه ذ عمرے نيت سره احرام تړلے وو، هغوي چه مکے ته اورسيدل، نو طواف کعبه او ذ صفا مروه سعي ئے اوکړله. بيائے خپل احرام کوز کړلو، دے نه پس ذ

الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ ثُمَّ طَافُوْا طَوَافًا اٰخَرَ بَعْدَ اَنْ رَّجَعُوْا مِنَ الْمِنٰى وَ اَمَّا الَّذِيْنَ جَمَعُوْا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ فَاِنَّمَا طَافُوْا طَوَافًا وَّاحِدًا.

حج نه فارغ كيدو سره د منى نه مكے ته راغلل، نو د حج دويم طواف او سعي ئے اوكړله، او كوم چه داسے خلق وو، چه هغوي د حج او عمرے دواړو نيت سره احرام تړلے وو. هغوي صرف يو خل طواف او سعي اوكړله.

۳۹۴: حَدَّثَنِىْ عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيْدٍ حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ قَالَ حَدَّثَنِىْ عَطَاءٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اِذَا طَافَ بِالْبَيْتِ فَقَدْ حَلَّ فَقُلْتُ مِنْ اَيْنَ قَالَ هٰذَا ابْنُ عَبَّاسٍ قَالَ مِنْ قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى ثُمَّ مَحِلُّهَا اِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيْقِ وَمِنْ اَمْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَصْحَابَهٗ اَنْ يَّحِلُّوْا فِىْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ قُلْتُ اِنَّمَا كَانَ ذٰلِكَ بَعْدَ الْمُعَرَّفِ قَالَ كَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَرَاهُ قَبْلُ وَ بَعْدُ.

۳۹۴: عمرو بن علي. يحيي بن سعيد. ابن جريج. عطاء. ابن عباسؓ نه روايت كوي، هغه اووے، هر كله چه عمره كونكے د كعبے طواف اوكړي، نو حلال شي، نو ما (ابن جريج) عطاء ته اووے. دا مسئله ابن عباسؓ د كوم ځائے نه اخستے ده، هغه اووے. د خدائے د هغے ارشاد نه چه "بيا د هغوي حلال كيدل بيت العتيق سره دي" او خپله حضور اكرم صلي الله عليه وسلم خپلو اصحابو ته حجة الوداع كښې د احرام پرانستلو حكم وركړلو. ما اووے. چه دا وقوف د عرفه نه پس دے، نو هغه اووے. د ابن عباسؓ دا خيال وو. چه عرفات ته د رسيدو نه مخكښې او ورستو كله هم طواف اوكړي احرام پرانستے شي.

۳۹۵: حَدَّثَنِىْ بَيَانٌ حَدَّثَنَا النَّضْرُ اَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَيْسٍ قَالَ سَمِعْتُ طَارِقًا عَنْ اَبِىْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ قَالَ قَدِمْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْبَطْحَاءِ فَقَالَ اَحَجَجْتَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ كَيْفَ اَهْلَلْتَ قُلْتُ لَبَّيْكَ بِاِهْلَالٍ كَاِهْلَالِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ طُفْ بِالْبَيْتِ وَ بِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ ثُمَّ حِلَّ فَطُفْتُ بِالْبَيْتِ وَ بِالصَّفَا

۳۹۵: بيان. نضر. شعبه. قيس. طارق. ابو موسي اشعري نه روايت كوي، د هغه بيان دے، زهٔ نبي صلي الله عليه وسلم سره بطحاء كښې موجود ووم، حضورؐ ماته اوفرمائيل. آيا تا د حج احرام تړلے دے، ما عرض اوكړ. جي، او. حضورؐ اوفرمائيل. تا احرام څهٔ وئيلو سره تړلے وو. ما عرض اوكړ. دا چه زهٔ هم هغه احرام تړم، كوم چه رسول الله صلي الله عليه وسلم تړلے دے دے نه پس حضور صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل. د كعبے د طواف او صفا مروه د سعي نه پس احرام پرانزه، نو ما طواف اوكړ، سعي م اوكړله، احرام م پرانستلو. او

وَالْمَرْوَةِ وَ اَتَيْتُ اِمْرَاَةً مِنْ قَيْسٍ فَفَلَتْ رَاْسِيْ.

بيا دَ قبيلـه قيـس يوې ښځې ذَ سر نه راله سپږې اوښكلې.

۳۹۶: حَدَّثَنِيْ اِبْرَاهِيْمُ بْنُ الْمُنْذِرِ اَخْبَرَنَا اَنَسُ بْنُ عِيَاضٍ حَدَّثَنَا مُوْسَى بْنُ عُقْبَةَ عَنْ نَافِعٍ اَنَّ ابْنَ عُمَرَ اَخْبَرَهُ اَنَّ حَفْصَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَخْبَرَتْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَمَرَ اَزْوَاجَهُ اَنْ يَحْلِلْنَ عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ فَقَالَتْ حَفْصَةُ فَمَا يَمْنَعُكَ فَقَالَ لَبَّدْتُ رَاْسِيْ وَ قَلَّدْتُ هَدْيِيْ فَلَسْتُ اَحِلُّ حَتّٰى اَنْحَرَ هَدْيِيْ.

۳۹۶: ابراهيم منذر. انس بن عياض. موسي بن عقبه. نافع. حضرت ابن عمرؓ نه روايت كوي، هغه اووې، ماته دَ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم تېر، بي بي حفصېؓ اووې، حجة الوداع كښې حضورؐ خپلو بيبيانو ته ارشاد اوفرمائيلو، تاسو ټولې احرام پرانزئې، ما عرض اوكړ، يا رسول اللّٰه، تاسو ولې احرام نهٔ پرانزئې، وې فرمائيل، ما دَ خپلې قرباني دَ ځناور غاړه كښې پټې اچولې ده، او ويښتهٔ مې جم كړې دي. دَ قرباني ځناور مې هار اچولې راوستې دې، نو څو پورې چه خپل ځناور ذبح نهٔ كړم، زهٔ احرام نشم پرانستې.

۳۹۷: حَدَّثَنَا اَبُو الْيَمَانِ قَالَ حَدَّثَنِيْ شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ ح وَ قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ يُوْسُفَ حَدَّثَنَا الْاَوْزَاعِيُّ قَالَ اَخْبَرَنِيْ ابْنُ شِهَابٍ عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍؓ اَنَّ امْرَاَةً مِنْ خَثْعَمَ اسْتَفْتَتْ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ وَالْفَضْلُ بْنُ عَبَّاسٍ رَدِيْفُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ فَرِيْضَةَ اللّٰهِ عَلٰى عِبَادِهٖ اَدْرَكَتْ اَبِيْ شَيْخًا كَبِيْرًا لَا يَسْتَطِيْعُ اَنْ يَسْتَوِيَ عَلَى الرَّاحِلَةِ فَهَلْ يَقْضِيْ اَنْ اَحُجَّ عَنْهُ قَالَ

۳۹۷: ابواليمان. شعيب. زهري. محمد بن يوسف. اوزاعي. ابن شهاب. سليمان بن يسار. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي دَ هغهٔ بيان دې، رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم حجة الوداع كښې په سورلي ناست وو، او فضل ابن عباسؓ دَ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ورستو ناست وو، چه دَ قبيله خثعم يوې ښځې حضورؐ ته عرض اوكړ، يا رسول اللّٰه، خما په پلار حج فرض شوې دې، خو هغه دومره بوډا دې چه په سورلي كيناستې نشي، آيا زهٔ دَ هغهٔ دَ طرف نه حج كولې شم، حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ورته اوفرمائيل، او،

نَعَمْ.

۳۹۸: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدٌ حَدَّثَنِيْ سُرَيْجُ بْنُ النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا فُلَيْحٌ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ اَقْبَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْفَتْحِ وَهُوَ مُرْدِفٌ اُسَامَةَ عَلَى الْقَصْوَآءِ وَ مَعَهُ بِلَالٌ وَ عُثْمَانُ بْنُ طَلْحَةَ حَتّٰى اَنَاخَ عِنْدَ الْبَيْتِ ثُمَّ قَالَ لِعُثْمَانَ ائْتِنَا بِالْمِفْتَاحِ فَجَاءَهُ بِالْمِفْتَاحِ فَفُتِحَ لَهُ الْبَابُ فَدَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ اُسَامَةُ وَ بِلَالٌ وَ عُثْمَانُ ثُمَّ اَغْلَقُوْا عَلَيْهِمُ الْبَابَ فَمَكَثَ نَهَارًا طَوِيْلًا ثُمَّ خَرَجَ وَابْتَدَرَ النَّاسُ الدُّخُوْلَ فَسَبَقْتُهُمْ فَوَجَدْتُ بِلَالًا قَائِمًا مِنْ وَّرَآءِ الْبَابِ فَقُلْتُ لَهُ اَيْنَ صَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ صَلّٰى بَيْنَ ذَيْنِكَ الْعَمُوْدَيْنِ الْمُقَدَّمَيْنِ وَ كَانَ الْبَيْتُ عَلٰى سِتَّةِ اَعْمِدَةٍ سَطْرَيْنِ صَلّٰى بَيْنَ الْعَمُوْدَيْنِ مِنَ السَّطْرِ الْمُقَدَّمِ وَ جَعَلَ بَابَ الْبَيْتِ خَلْفَ ظَهْرِهٖ وَاسْتَقْبَلَ بِوَجْهِهِ الَّذِيْ يَسْتَقْبِلُكَ حِيْنَ تَلِجُ الْبَيْتَ بَيْنَهُ وَ بَيْنَ الْجِدَارِ قَالَ وَ نَسِيْتُ اَنْ اَسْاَلَهُ كَمْ صَلّٰى وَ عِنْدَ الْمَكَانِ الَّذِيْ صَلّٰى فِيْهِ مَرْمَرَةٌ حَمْرَآءُ.

کولے شي.

۳۹۸: محمد. سريج بن نعمان. فليح. نافع. حضرت ابن عمرؓ نه روايت کوي، ذ هغهٔ بيان دے، رسول الله صلي الله عليه وسلّم ذ فتح مکے په کال په خپله اوښه قصواء سور وو، او حضرت اسامه ذ حضورؐ ورستو ناست وو، حضرت بلال او عثمان بن طلحه ورسره ملګري وو، تر دے چه کعبے ته راغلل. او اُوښه ئے کينوله. ذ عثمان بن طلحه نه ئے قُنجي اُوغښتله. ذ کعبے دروازه ئے پرانسته، حضور صلي الله عليه وسلّم حضرت اسامهؓ، بلالؓ او عثمانؓ دننه ورغلل، بيائے دروازه ذ دننه نه بنده کړله. ډير ساعت پس ئے بهر ته تشريف راوړلو. ډير خلق دننه داخليدو ذ پاره ورمخکښ شو، خو زهٔ ذ ټولو نه مخکښ ورننوتم. حضرت بلالؓ ورسره ولاړ وو. ما ذ هغهٔ نه تپوس اوکهٔ، حضور صلي الله عليه وسلّم مونځ کوم ځائے ادا کړے دے، هغهٔ اووے چه دا شپږ ستنے دي. دے کښې چه کومے وړمبنے درے ستنے دي، ذ هغے د دغے دوو مينځ کښې حضورؐ مونځ کړے دے. او د حضورؐ شا مبارکه دروازے طرف ته وه، او مخ مبارک ئے مخامخ ديوال طرف ته وو، ذ حضرت ابن عمرؓ بيان دے. مانه دا معلومول هير شولو، چه حضور صلي الله عليه وسلّم څومره رکعاته ادا کړي وو، او کوم ځائے چه حضورؐ مونځ کولو، هلته يو اعلي سُور کاڼړے لګيدلے وو.

۳۹۹: حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ حَدَّثَنِيْ عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ وَ أَبُوْ سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبَرَتْهُمَا أَنَّ صَفِيَّةَ بِنْتَ حُيَيٍّ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَاضَتْ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَابِسَتُنَا هِيَ فَقُلْتُ إِنَّهَا قَدْ أَفَاضَتْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَ طَافَتْ بِالْبَيْتِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلْتَنْفِرْ.

۳۹۹: ابو اليمان. شعيب. زهري. عروه بن زبير. ابو سلمه بن عبدالرحمٰن. بي بي عائشےؓ تبر ذ نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم نه روايت كوي، ذ هغے بيان دے، اُمّ المومنين بي بي صفيهؓ ذ حج الوداع په ورځ حائضه شوه، حضورؐ اوفرمائيل: ذ هغے په وجه به آيا مونږ ايساريږو، ما عرض اوكړ، يا رسول اللّٰه، هغے خو مكے ته واپسئ كښې طواف زيارت كړے دے، حضورؐ اوفرمائيل بيا څۀ فكر دے، مونږ سره (دے مدينے ته) ځي، ځكه چه ذ طواف وداع هيڅ ضرورت نشته.

۴۰۰: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ أَخْبَرَنِيْ ابْنُ وَهْبٍ قَالَ حَدَّثَنِيْ عُمَرُ بْنُ مُحَمَّدٍ أَنَّ أَبَاهُ حَدَّثَهُ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كُنَّا نَتَحَدَّثُ بِحَجَّةِ الْوَدَاعِ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَظْهُرِنَا وَلَا نَدْرِيْ مَا حَجَّةُ الْوَدَاعِ فَحَمِدَ اللّٰهَ وَ أَثْنٰى عَلَيْهِ ثُمَّ ذَكَرَ الْمَسِيْحَ الدَّجَّالَ فَأَطْنَبَ فِيْ ذِكْرِهِ وَ قَالَ مَا بَعَثَ اللّٰهُ مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا أَنْذَرَ أُمَّتَهُ أَنْذَرَهُ نُوْحٌ وَالنَّبِيُّوْنَ مِنْ بَعْدِهِ وَ إِنَّهُ يَخْرُجُ فِيْكُمْ فَمَا خَفِيَ عَلَيْكُمْ مِنْ شَأْنِهِ فَلَيْسَ يَخْفٰى عَلَيْكُمْ إِنَّ رَبَّكُمْ لَيْسَ بِأَعْوَرَ وَ إِنَّهُ

۴۰۰: يحيٰي بن سليمان. ابن وهب. عمرو بن محمد. محمد بن زيد. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، ذ هغۀ بيان دے، يو خل مونږ ذ حجة الوداع ذكر كولو، او حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم مونږ كښې موجود وو، خو مونږ ته دا معلومه نۀ وه، چه حجة الوداع څۀ ته وائي، حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ذ اللّٰه ذ تعريف نه پس ذ مسيح دجال ذكر ډير تفصيل سره اوكړلو. بيائے ارشاد اوفرمائيلو. هيڅ نبي داسے نۀ دے راغلے، چه هغۀ خپل اُمت ذ مسيح دجال نه يرولے نه وي، تردے چه نوح عليه السلام او ذ هغۀ نه پس راتلونكو پيغمبرانو نم اويرول. هغه به ضرور راوځي او ستاسو ذ پيژندګلو ذ پاره دا علامت كافي دے، چه هغه به كانړے (كانا) وي، او ستاسو رب كانړے نۀ دے. ذ هغۀ ښئے ستر كه به كانړے وي، او ذ آنګور ذ دانے په شان به راپړسيدلے وي. نو په

أَعْوَرُ عَيْنِ الْيُمْنٰى كَأَنَّ عَيْنَهُ عِنَبَةٌ طَافِيَةٌ أَلَا إِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ دِمَاءَكُمْ وَ أَمْوَالَكُمْ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هٰذَا فِيْ بَلَدِكُمْ هٰذَا فِيْ شَهْرِكُمْ هٰذَا أَلَا هَلْ بَلَّغْتُ قَالُوْا نَعَمْ قَالَ اللّٰهُمَّ اشْهَدْ ثَلَاثًا وَيْلَكُمْ أَوْ وَيْحَكُمْ أُنْظُرُوْا لَا تَرْجِعُوْا بَعْدِيْ كُفَّارًا يَّضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ.

بنه شان واورئ چه څنګه نن دے ښار او مياشت کښ ذ مسلمانانو وينه (خون) او مال حرام کړے شوے دي. دغه شان آينده ذ پاره به هم حرام وي. حضورؐ تپوس اوکړ، آيا ما ذ الله احکام تاسوته اورسول. نو ټولو په يوه ژبه اقرار اوکړ، اوونيلے ' جي ' او ' بيا حضورؐ درے خله اوفرمائيل ' اے الله تهٔ ګواه ئے. بيائے اوفرمائيل ' ګورے ' دا ' افسوس ناک کار اونهٔ کړئے ' چه څما نه پس کافر شئے ' او خپلو کښ ذ يو بل ګردنونه وهئے.

۴۰۱: حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا أَبُوْ إِسْحَاقَ قَالَ حَدَّثَنِيْ زَيْدُ بْنُ أَرْقَمَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزَا تِسْعَ عَشْرَةَ غَزْوَةً وَ إِنَّهُ حَجَّ بَعْدَ مَا هَاجَرَ حَجَّةً وَّاحِدَةً لَمْ يَحُجَّ بَعْدَهَا حَجَّةَ الْوَدَاعِ قَالَ أَبُوْ إِسْحٰقَ وَ بِمَكَّةَ أُخْرٰى.

۴۰۱: عمرو بن خالد. زهير. ابو اسحاق سبيعي. زيد بن ارقم نه روايت کوي ' ذ هغهٔ بيان دے ' حضورؐ نورلس (۱۹) غزاګانے اوکړلے ' او ذ هجرت نه پس ئے صرف يو حج اوکړ ' چه هغے ته حجة الوداع وائي ' دے نه پس حضورؐ حج نهٔ دے کړے. ذ ابو اسحاق بيان دے ' حضورؐ يو حج هغهٔ وخت کړے وو ' کوم وخت چه حضورؐ مکه کښ وو.

۴۰۲: حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَلِيِّ بْنِ مُدْرِكٍ عَنْ أَبِيْ زُرْعَةَ بْنِ عَمْرِو بْنِ جَرِيْرٍ عَنْ جَرِيْرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ لِجَرِيْرٍ اسْتَنْصِتِ النَّاسَ فَقَالَ لَا تَرْجِعُوْا بَعْدِيْ كُفَّارًا يَّضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ.

۴۰۲: حفص بن عمر. شعبه. علي بن مدرک. ابي زرعه بن عمرو بن جرير. حضرت جرير بجلي نه روايت کوي ' ذ هغهٔ بيان دے ' حجة الوداع کښ حضورؐ ماته اوفرمائيل ' ټول خلق خاموش کړه ' چه زهٔ څهٔ وايم ' نو هغوي به ئے واوري. دے نه پس حضورؐ اوفرمائيل ' اے خلقو ' څما نه پس داسے مهٔ کوئے ' چه ذ اسلام نه اوګرځئے ' او کافر شئے ' خپلو کښ ذ يو بل ګردنونه وهل شروع کړئے.

۴۰۳: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنّٰى حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ

۴۰۳: محمد بن مثني. عبدالوهاب. ايوب. محمد. ابن ابي بکر. حضرت ابوبکرؓ نه روايت کوي ' ذ

حَدَّثَنَا اَيُّوْبُ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنِ ابْنِ اَبِيْ بَكْرَةَ عَنْ اَبِيْ بَكْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الزَّمَانُ قَدِ اسْتَدَارَ كَهَيْئَتِهٖ يَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ اَلسَّنَةُ اِثْنَا عَشَرَ شَهْرًا مِنْهَا اَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ثَلَاثَةٌ مُتَوَالِيَاتٌ ذُوالْقَعْدَةِ وَ ذُوالْحَجَّةِ وَالْمُحَرَّمُ وَ رَجَبُ مُضَرَ الَّذِيْ بَيْنَ جُمَادٰى وَ شَعْبَانَ اَيُّ شَهْرٍ هٰذَا قُلْنَا اللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ فَسَكَتَ حَتّٰى ظَنَنَّا اَنَّهٗ سَيُسَمِّيْهِ بِغَيْرِ اسْمِهٖ قَالَ اَلَيْسَ ذُو الْحَجَّةِ قُلْنَا بَلٰى قَالَ فَاَيُّ بَلَدٍ هٰذَا قُلْنَا اللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ فَسَكَتَ حَتّٰى ظَنَنَّا اَنَّهٗ سَيُسَمِّيْهِ بِغَيْرِ اِسْمِهٖ قَالَ اَلَيْسَ الْبَلْدَةَ قُلْنَا بَلٰى قَالَ فَاَيُّ يَوْمٍ هٰذَا قُلْنَا اللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ فَسَكَتَ حَتّٰى ظَنَنَّا اَنَّهٗ سَيُسَمِّيْهِ بِغَيْرِ اِسْمِهٖ قَالَ اَلَيْسَ يَوْمَ النَّحْرِ قُلْنَا بَلٰى قَالَ فَاِنَّ دِمَائَكُمْ وَ اَمْوَالَكُمْ قَالَ مُحَمَّدٌ وَّ اَحْسِبُهٗ قَالَ وَ اَعْرَاضَكُمْ عَلَيْكُمْ حَرَامٌ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هٰذَا فِيْ بَلَدِكُمْ هٰذَا فِيْ شَهْرِكُمْ هٰذَا وَ سَتَلْقَوْنَ

هغهٔ بيان دے، ذ حجة الوداع په ورځ حضورٌ خطبه کښ ارشاد اوفرمائيلو، زمانه چورليدو سره بيا هغے مقام ته راغله، کوم خائے چه ذ آسمان او زمکے ذ پيدائش په ورځ وه. ذ کال دولس مياشتے دي، دے کښ څلور ذ عزت مياشتے دي، درے متواتر دي: ذي قعده، ذي الحجّه، محرم او څلورمه ذ رجب مياشت، چه ذ جمادي الثانيه او شعبان مينځ کښ راځي، بيا حضورٌ تپوس اوکۀ، دا کومه مياشت ده، عرض اوشو، اللّٰه او ذ هغهٔ رسول ته ښهٔ معلومه ده. حضورٌ لږ ساعت خاموش وو. نو خمونږ دا خيال راغے، چه حضورٌ به ذ دے مياشتے نوم څهٔ بل اوفرمائي، خو حضورٌ اوفرمائيل، آيا دا ذ ذي الحجّه مياشت نهٔ ده، عرض اوشو، جي، او. بيا حضورٌ تپوس اوکۀ، دا کوم ښار دے، عرض اوشو، اللّٰه او ذ هغهٔ رسول ښهٔ پوهيږي، حضورٌ لږ ساعت خاموش وو. خمونږ خيال پيدا شو، چه شايد حضورٌ ذ دے ښار څهٔ بل نوم اِږدي، وے فرمائيل آيا ذ دے نوم مکه نهٔ دے. عرض اوشو، جي، او، بيا حضورٌ تپوس اوکۀ، نن ذ څهٔ ورځ ده، عرض اوشو، اللّٰه او ذ هغهٔ رسول ښهٔ پوهيږي، بيا حضورٌ خاموش شولو، نو خمونږ خيال راغے، چه شايد حضورٌ ئے څهٔ بل نوم اوفرمائي. حضورٌ اوفرمائيل، نن يوم النحر يعني ذ قرباني ورځ نهٔ ده، عرض اوشو، جي، او دے نه پس حضورٌ اوفرمائيل، ښه واورئے، ستاسو ځانونه، ستاسو مال، محمد وائي، چه خما خيال کښ ابو بکره دا هم وئيلے وو، چه ستاسو عزتونه دغه شان حرام دي، څنګه چه دا مياشت، ښار، او ورځ حرام ده. تاسو به يو ورځ خپل رب له ورځئے، هغه به تاسو نه ستاسو ذ اعمالو

رَبَّكُمْ فَيَسْأَلُكُمْ عَنْ اَعْمَالِكُمْ اَلَا فَلَا تَرْجِعُوْا بَعْدِيْ ضُلَّالًا يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ اَلَا لِيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ فَلَعَلَّ بَعْضَ مَنْ يُبَلَّغُهُ يَكُوْنَ اَوْعٰى لَهُ مِنْ بَعْضِ مَنْ سَمِعَهُ فَكَانَ مُحَمَّدٌ اِذَا ذَكَرَهُ يَقُوْلُ صَدَقَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ اَلَا هَلْ بَلَّغْتُ مَرَّتَيْنِ.

متعلق تپوس کوي، نو داسې مه کوئې، چه څما نه پس دَ يو بل گردن وهل شروع کړئې، او گمراه شئې. بيا کوم خلق چه دلته حاضر دي، هغوي دې دا نورو خلقو ته اورسوي، کوم چه دلته موجود نهٔ دي، څکه چه کله داسې هم کيږي، چه دَ پيغام رسونکي نه هغه سړې زيات ياد لرونکې وي، چاته چه پيغام اورسولې شي. محمد د دې حديث بيانولو په وخت وئيلې، چه رسول دَ خدائې رېښتيا اوفرمائيل، آخر کښې حضورؐ اوفرمائيل، ما دَ خدائې پيغام تاسوته اورسولو. دائې دوه څله اوفرمائيل.

۴۰۴: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوْسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ عَنْ قَيْسِ بْنِ مُسْلِمٍ عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ اَنَّ اُنَاسًا مِنَ الْيَهُوْدِ قَالُوْا لَوْ نَزَلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ فِيْنَا لَا تَّخَذْنَا ذٰلِكَ الْيَوْمَ عِيْدًا فَقَالَ عُمَرُ اَيَّةُ اٰيَةٍ قَالُوْا اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَ اَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَ رَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا فَقَالَ عُمَرُ اِنِّيْ لَاَعْلَمُ اَيَّ مَكَانٍ اُنْزِلَتْ اُنْزِلَتْ وَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاقِفٌ بِعَرَفَةَ.

۴۰۴: محمد بن يوسف. سفيان. قيس بن مسلم. حضرت طارق بن شهاب نه روايت کوي، دَ هغهٔ بيان دې، څنې يهوديانو داسې اوُوې، که دَ سورهٔ مائده دا آيت په مونږ نازل شوې وې، نو مونږ به دغه ورځ دَ اختر ورځ مقرر کړې وې. حضرت عمر تپوس اوکهٔ، کوم آيت. يهودي اووې، دا آيت: نن ورځ ما ستاسو دين مکمل کړلو، او په تاسو مِ خپل نعمت پوره کړلو. حضرت عمرؓ جواب ورکړلو، ماته معلومه ده، کوم ځائې چه دا آيت نازل شوې وو، دا دَ عرفې په ورځ نازل شوې وو، چه حضور صلي اللّٰه عليه وسلم عرفات کښې تشريف فرما وو.

۴۰۵: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ اَبِي الْاَسْوَدِ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ نَوْفَلٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمِنَّا مَنْ اَهَلَّ بِعُمْرَةٍ وَ مِنَّا مَنْ اَهَلَّ

۴۰۵: عبداللّٰه بن مسلمه. امام مالک. ابو الاسود. محمد بن عبدالرحمٰن. عروه بن زبير. بي بي عائشې نه روايت کوي، مونږ رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلم سره حجة الوداع دَ پاره اووتلو، نو څنې خلقو دَ عمرې نيت کړې وو، او څنو دَ حج او څنو دَ دواړو، او رسول اللّٰه

بِحَجَّةٍ وَ مِنَّا مَنْ اَهَلَّ بِحَجٍّ وَ عُمْرَةٍ وَ اَهَلَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحَجِّ فَاَمَّا مَنْ اَهَلَّ بِالْحَجِّ اَوْ جَمَعَ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ فَلَمْ يَحِلُّوْا حَتّٰى يَوْمِ النَّحْرِ.

صلي اللّٰه عليه وسلّم ذ حج نيت كړے وو، نو چا چه صرف ذ حج يا ذ حج او عمرے دواړو نيت كړے وو، نو هغوي احرام تړلے وو، څو پورے ذ ذي الحجه لسم تاريخ (يعني ذ قرباني ورځ) نه وه راغلے.

۴۰۶: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوْسُفَ اَخْبَرَنَا مَالِكٌ وَ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ.

۴۰۶: عبداللّٰه بن يوسف. مالك نه روايت كوي، هغهٔ دا حديث داسے بيان كهٔ، چه مونږ حجة الوداع كښې حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم سره وو.

۴۰۷: حَدَّثَنَا اِسْمَاعِيْلُ حَدَّثَنَا مَالِكٌ مِثْلَهُ.

۴۰۷: ذ اسماعيل بن اويس بيان دے، مالك ماته هم داسے حديث بيان كهٔ، كوم چه مخكښې ذكر شوے دے.

۴۰۸: حَدَّثَنَا اَحْمَدُ بْنُ يُوْنُسَ حَدَّثَنَا اِبْرٰهِيْمُ هُوَ ابْنُ سَعْدٍ حَدَّثَنَا ابْنُ شِهَابٍ عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ عَادَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ مِنْ وَّجَعٍ اَشْفَيْتُ مِنْهُ عَلَى الْمَوْتِ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ بَلَغَ بِيْ مِنَ الْوَجَعِ مَا تَرٰى وَ اَنَا ذُوْ مَالٍ وَّلَا يَرِثُنِيْ اِلَّا ابْنَةٌ لِّيْ وَاحِدَةٌ اَفَاَتَصَدَّقُ بِثُلُثَيْ مَالِيْ قَالَ لَا قُلْتُ اَفَاَتَصَدَّقُ بِشَطْرِهٖ قَالَ لَا قُلْتُ فَبِالثُّلُثِ قَالَ وَالثُّلُثُ كَثِيْرٌ اِنَّكَ اَنْ تَذَرَ وَرَثَتَكَ اَغْنِيَاءَ خَيْرٌ مِّنْ اَنْ تَذَرَهُمْ عَالَةً يَّتَكَفَّفُوْنَ النَّاسَ وَ لَسْتَ

۴۰۸: احمد بن يونس. ابراهيم بن سعد. ابن شهاب. عامر بن سعد. سعد بن ابي وقاص نه روايت كوي، ذ هغهٔ بيان دے، زهٔ حجة الوداع كښې مرض كښې مرګ ته قريب ووم، رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم خما ذ پښتنے ذ پاره تشريف راوړلو. ما عرض اوكهٔ، يا رسول اللّٰه، تاسو وينئے، زهٔ څومره سخت ناروغه شوے يم. او ذ بچ كيدو څهٔ اُميد مِ نشته، او ماسره ډير مال دے، خو صرف يوه لور مِ ده. بل څوك وارث مِ نشته، نو آيا زهٔ دريو كښې دوه حصے (۲/۳) مال صدقه كولے شم. حضورؐ اوفرمائيل، نه. ما عرض اوكهٔ، ښه نو، نيم صدقه كوے شم، حضورؐ منع اوفرمائيله، ما عرض اوكهٔ، ښهٔ ده، نو دريمه حصه حضورؐ اوفرمائيل. او، دريمه حصه وركولے شے، خو خپل وارثان ذ محتاج پريښودو، نه مالدار پريښودل ښهٔ دي، كني هغوي به ذ خلقو مخكښې (سوال

تُنْفِقُ نَفَقَةً تَبْتَغِيْ بِهَا وَجْهَ اللّٰهِ اِلَّا اُجِرْتَ بِهَا حَتّٰى اللُّقْمَةَ تَجْعَلُهَا فِيْ فِيْ اِمْرَاَتِكَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اُخَلَّفُ بَعْدَ اَصْحَابِيْ قَالَ اِنَّكَ لَنْ تُخَلَّفَ فَتَعْمَلَ عَمَلًا تَبْتَغِيْ بِهٖ وَجْهَ اللّٰهِ اِلَّا ازْدَدْتَ بِهٖ دَرَجَةً وَّ رِفْعَةً وَ لَعَلَّكَ تُخَلَّفُ حَتّٰى يَنْتَفِعَ بِكَ اَقْوَامٌ وَ يُضَرُّ بِكَ اٰخَرُوْنَ اَللّٰهُمَّ اَمْضِ لِاَصْحَابِيْ هِجْرَتَهُمْ وَلَا تَرُدَّهُمْ عَلٰى اَعْقَابِهِمْ لٰكِنِ الْبَائِسَ سَعْدُ بْنُ خَوْلَةَ رَثٰى لَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ تُوُفِّيَ بِمَكَّةَ.

ذَ پاره) لاس اوړدَوي. حقيقت دا دے، چه تاسو ذَ اللّٰه په لار کښ څهٔ خرڅ کوئے، ذَ هغې به ثواب بيامومئ، حتّٰي چه ذَ هغے نوړے (لُقمے) هم، چه تاسو، ئے خپلے بي بي باندے اوخوروئے، بيا ما عرض اوکهٔ، يا رسول اللّٰهٔ آيا زهٔ به ذَ خپلو ملګرو نه جُدا شم، او هغوي به ستاسو سره مدينے ته لاړ شي. حضورؐ اوفرمائيل، او که پاتے هم شے، نو ذَ اللّٰه په مرضئ چه څے، مرتبه به دِے زياتيږي او ذَ څهٔ تعجب خبره نهٔ ده، چه ته زياتے ورځے ژوندے پاتے شے، او ستا په وجه خلقوته فائده اورسي، او کافروته نقصان. اے اللّٰه څما ذَ اصحابو هجرت پوره کړے، او هغوي ورستو اومهٔ ګرځوے، البته سعد بن خوله مکه کښ وفات شولو، چه ذَ هغې حضورؐ ته ډيره صدمه اوشوه.

۴۰۹: حَدَّثَنِيْ اِبْرٰهِيْمُ بْنُ الْمُنْذِرِ حَدَّثَنَا اَبُوْ ضَمْرَةَ حَدَّثَنَا مُوْسَى بْنُ عُقْبَةَ عَنْ نَافِعٍ اَنَّ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اَخْبَرَهُمْ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَلَقَ رَاْسَهٗ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ.

۴۰۹: ابراهيم بن منذر. ابو ضمره. اسحاق بن عقبه. نافع. حضرت عبداللّٰه بن عمرؓ نه روايت کوي، ذَ هغهٔ بيان دے، رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم حجة الوداع کښ ذَ تهولو ارکانو ادا کولو نه پس خپل سر مبارک اوخريلو.

۴۱۰: حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ سَعِيْدٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَكْرٍ حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ اَخْبَرَنِيْ مُوْسَى بْنُ عُقْبَةَ عَنْ نَافِعٍ اَخْبَرَهُ ابْنُ عُمَرَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَلَقَ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ وَ اُنَاسٌ مِنْ اَصْحَابِهٖ وَ قَصَّرَ بَعْضُهُمْ.

۴۱۰: عبيداللّٰه بن سعيد. محمد بن بکر. ابن جريج. موسي بن عقبه. نافع. حضرت ابن عمرؓ نه روايت کوي، ذ هغهٔ بيان دے، حجة الوداع کښ رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم او بعضے صحابهؓ ؤ ويښتهٔ اوخريل، او څو صرف قينچي کړل.

۴۱۱: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ قَزَعَةَ

۴۱۱: يحيي بن قزعه. امام مالک.

حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ وَ قَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِيْ يُوْنُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ حَدَّثَنِيْ عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ اَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عَبَّاسٍ اَخْبَرَهُ اَنَّهُ اَقْبَلَ يَسِيْرُ عَلٰى حِمَارٍ وَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَائِمٌ بِمِنًى فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ يُصَلِّيْ بِالنَّاسِ فَصَارَ الْحِمَارُ بَيْنَ يَدَيْ بَعْضِ الصَّفِّ ثُمَّ نَزَلَ عَنْهُ فَصَفَّ مَعَ النَّاسِ.

ابـن شهـاب. ليـث. يـونـس. ابـن شهـاب. عبيدالله بـن عبـدالله. حضرت عبدالله بن عباسؓ نه روايت كوي. د هغه بيان دے، زهٔ په يو خر سور راروان ووم، او رسول الله صلي الله عليه وسلّم د حجة الوداع په موقعه مني كښې مونځ كولو، او س دَ لږ شان جماعت د مخے نه خما خر تير شوے وو. چه زهٔ راكوز شوم، او مونځ كښې شامل شوم.

۴۲۱۲: حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيٰى عَنْ هِشَامٍ قَالَ حَدَّثَنِيْ اَبِيْ قَالَ سُئِلَ اُسَامَةُ وَ اَنَا شَاهِدٌ عَنْ سَيْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَجَّتِهٖ فَقَالَ الْعَنَقَ فَاِذَا وَجَدَ فَجْوَةً نَصَّ.

۴۲۱۲: مسدد. يحيي. هشام بن عروه. ذ خپل پلار عبدالله بن زبير نه روايت كوي. هغهٔ اووے، ما آوريدل. چا اسامه بن زيد نه تپوس اوكهٔ، چه حجة الوداع كښې حضور اكرم صلي الله عليه وسلّم خپله سورلي څنګه چلوله، هغهٔ اووے، درميانه چال سره، كه خائے به كشاده وو، نو تيزه به ئے هم چلوله.

۴۲۱۳: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ يَحْيٰى بْنِ سَعِيْدٍ عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ يَزِيْدَ الْخَطَمِيِّ اَنَّ اَبَا اَيُّوْبَ اَخْبَرَنِيْ اَنَّهُ صَلّٰى مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ الْمَغْرِبَ وَالْعِشَآءَ جَمِيْعًا.

۴۲۱۳: عبدالله بن مسلمه. امام مالك. يحيي بن سعيد. عدي بن ثابت. عبدالله بن يزيد خطمي. حضرت ابو ايوب انصاريؓ نه روايت كوي، ذ هغه بيان دے، ما حجة الوداع كښې د حضورؐ اقتدا كښې دَ ماښام او ماسختن مونځ يوځائے ادا كړے دي.

## بَابٌ ۷۹: غَزْوَةِ تَبُوْكَ وَ هِيَ غَزْوَةُ الْعُسْرَةِ.

## باب ۷۹: ذ غزوهٔ تبوك بيان. او دے ته غزوهٔ عسرت هم وائي.

۴۲۱۴: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ حَدَّثَنَا اَبُوْ اُسَامَةَ عَنْ بُرَيْدِ بْنِ

۴۲۱۴: محمد بن علاء. ابو اسامه. بريد بن عبدالله. ذ خپل نيكهٔ ابو برده نه هغه ذ

عَبْدُ اللّٰهِ بْنِ اَبِيْ بُرْدَةَ عَنْ اَبِيْ
مُوْسٰى قَالَ اَرْسَلَنِيْ اَصْحَابِيْ اِلٰى
رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
اَسْاَلُهُ الْحُمْلَانَ لَهُمْ اِذْهُمْ مَعَهُ فِيْ
جَيْشِ الْعُسْرَةِ وَهِيَ غَزْوَةُ تَبُوْكَ
فَقُلْتُ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ اِنَّ اَصْحَابِيْ
اَرْسَلُوْنِيْ اِلَيْكَ لِتَحْمِلَهُمْ فَقَالَ وَاللّٰهِ
لَا اَحْمِلُكُمْ عَلٰى شَيْءٍ وَ وَافَقْتُهُ
وَهُوَ غَضْبَانُ وَلَا اَشْعُرُ وَ رَجَعْتُ
حَزِيْنًا مِنْ مَنْعِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمِنْ مَخَافَةِ اَنْ يَكُوْنَ
النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَدَ
فِيْ نَفْسِهِ عَلَيَّ فَرَجَعْتُ اِلٰى اَصْحَابِيْ
فَاَخْبَرْتُهُمُ الَّذِيْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى
اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ اَلْبَثْ اِلَّا
سُوَيْعَةً اِذْ سَمِعْتُ بِلَالًا يُنَادِيْ اَيْ عَبْدَ
اللّٰهِ بْنَ قَيْسٍ فَاَجَبْتُهُ فَقَالَ اَجِبْ
رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
يَدْعُوْكَ فَلَمَّا اَتَيْتُهُ قَالَ خُذْ هٰذَيْنِ
الْقَرِيْنَيْنِ وَ هٰذَيْنِ الْقَرِيْنَيْنِ لِسِتَّةِ
اَبْعِرَةٍ ابْتَاعَهُنَّ حِيْنَئِذٍ مِنْ سَعْدٍ
فَانْطَلِقْ بِهِنَّ اِلٰى اَصْحَابِكَ فَقُلْ اِنَّ
اللّٰهَ اَوْ قَالَ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى
اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْمِلُكُمْ عَلٰى
هٰؤُلَاءِ فَارْكَبُوْهُنَّ فَانْطَلَقْتُ اِلَيْهِمْ
بِهِنَّ فَقُلْتُ اِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ

حباب پلاز حضرت ابو موسي اشعري نه روايت
كوي: د هغه بيان دے، خما ملګرو د جنګ
تبوک په موقعه زۀ حضور صلي اللّٰه عليه
وسلّم ته اوليږلم: چه زۀ د هغوی نه سورلي طلب
کړم. ما خدمت مبارک کښې عرض اوکړ: يا
رسول اللّٰه، زۀ خپلو ملګرو تاسو له رالېږلے يم:
چه تاسو نه سورلي طلب کړم. حضورؐ
اوفرمائيل: په خدائے م دے قسم وي: زۀ به تاته
هيڅ سورلي درنۀ کړم، او حضورؐ دغه وخت
غصه کښې وو. زۀ په هغه حالت پوهه نۀ شوم: زۀ
افسوس سره واپس شوم، او خپلو ملګروته م
حال بيان کړ، ماسره يو غم خو دا وو: چه حضورؐ
مونږ له سورلي رانۀ کړه، او دويم غم راسره دا وو:
چه چرته نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم خما نه خفه
نشي، زۀ چه د نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم نه واپس
راغلم، نو نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم چه څۀ وئيلے وو:
د هغے نه م هغوي خبر کړل، لږ ساعت نۀ وو
تير، چه حضرت بلالؓ راغے، آواز ئے اوکړ، ما
جواب ورکړ، نو وئيلے، راشه حضورؐ دے
غواړي، زۀ حاضر خدمت شوم، نو حضور صلي
اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل: دا د اوښانو جوړے
(٦، اوښان) بوځه، او خپلو ملګروته اووايه، چه دا
اوښان اللّٰه، يا دائے اوفرمائيل، چه رسول اللّٰهؐ
تاسو له سورلي د پاره درکړے دي. دا پکار
راولے، ما اوښان ملګرو له راوستل، او وئيلے م،
دا اوښان حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ستاسو د

غَنَمِهٖ وَسَلَّمَ يَحْمِلُكُمْ عَلٰى هٰؤُلَاءِ وَلٰكِنِّيْ وَاللّٰهِ لَا اَدَعُكُمْ حَتّٰى يَنْطَلِقَ مَعِيْ بَعْضُكُمْ اِلٰى مَنْ سَمِعَ مَقَالَةَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَظُنُّوْا اَنِّيْ حَدَّثْتُكُمْ شَيْئًا لَمْ يَقُلْهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوْا لِيْ اِنَّكَ عِنْدَنَا لَمُصَدَّقٌ وَلَنَفْعَلَنَّ مَا اَحْبَبْتَ فَانْطَلَقَ اَبُوْ مُوْسٰى بِنَفَرٍ مِنْهُمْ حَتّٰى اَتَوُا الَّذِيْنَ سَمِعُوْا قَوْلَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْعَهُ اِيَّاهُمْ ثُمَّ اَعْطَاهُمْ فَحَدَّثُوْهُمْ بِمِثْلِ مَا حَدَّثَهُمْ بِهٖ اَبُوْ مُوْسٰى.

سورلـي د پـاره عنـايـت كـړے دي٬ خو زه بـه تاسو هغے خلقو له بوځم٬ چه هغوي به ورسي خال د نبي صلـي اللّٰه عليه وسلّم منع فرمانيل آوريدلي دي٬ څكه چه شايد تاسو ما دروغجن اوكنړئ٬ او دا خيال اوكړئ٬ چه حضورﷺ دغسے نه دي فرمانيلي٬ ملګرو ورته اووے٬ نه٬ مونږ تا ريښتنے ګڼړو٬ خو بيا هم كه ته وائے٬ مونږ به ورشو آخر يو سړے ماسره هلته لاړلو٬ كوم خلقو چه انكار آوريدونكي موجود وو٬ هغوي خپل تصديق اوكړ٬ او ونيلي٬ واقعي رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم مخكښې منع فرمانيلي ده.

۴۱۵: حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيٰى عَنْ شُعْبَةَ عَنِ الْحَكَمِ عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ اَبِيْهِ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ اِلٰى تَبُوْكَ وَاسْتَخْلَفَ عَلِيًّا فَقَالَ اَتُخَلِّفُنِيْ فِي الصِّبْيَانِ وَالنِّسَاءِ قَالَ اَلَا تَرْضٰى اَنْ تَكُوْنَ مِنِّيْ بِمَنْزِلَةِ هٰرُوْنَ مِنْ مُوْسٰى اِلَّا اَنَّهٗ لَيْسَ نَبِيٌّ بَعْدِيْ وَ قَالَ اَبُوْ دَاوُدَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الْحَكَمِ سَمِعْتُ مُصْعَبًا.

۴۱۵: مسدد. يحيي. شعبه. حكم. مصعب بن سعد. سعد بن وقاص نه روايت كوي٬ رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم چه تبوك د پاره روان شولو٬ نو حضرت عليؓ ئے مدينه كښې خپل قائم مقام مقرر كړلو. حضرت عليؓ عرض اوكړ٬ آيا تاسو ما بچو او زنانه ؤ سره پريږدئے. حضورﷺ ورته اوفرمائيل اے عليؓ ته به دے خوشحاله شے٬ خما په نزد ستا مرتبه هغه ده٬ لكه موسيؑ سره د هارونؑ وه٬ خو دا چه مانه پس به څوك نبي نه راځي. ابو داود طيالسي دا داسے روايت كړ٬ چه شعبه د حكم نه او حكم د مصعب نه واوريدلو.

۴۱۶: حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ سَعِيْدٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَكْرٍ اَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ قَالَ سَمِعْتُ عَطَاءً يُخْبِرُ

۴۱۶: عبيداللّٰه بن سعيد. محمد بن بكر. ابن جريج. عطاء نه روايت كوي٬ د هغه بيان دے٬ صفوان ونيلي٬ خما پلار يعلي بن اُميه بيان كولو٬

قَالَ اَخْبَرَنِیْ صَفْوَانُ ابْنُ یَعْلَی بْنِ اُمَیَّۃَ عَنْ اَبِیْہِ قَالَ غَزَوْتُ مَعَ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ الْعُسْرَۃَ قَالَ کَانَ یَعْلٰی یَقُوْلُ تِلْکَ الْغَزْوَۃُ اَوْثَقُ اَعْمَالِیْ عِنْدِیْ قَالَ عَطَاءٌ فَقَالَ صَفْوَانُ قَالَ یَعْلٰی فَکَانَ لِیْ اَجِیْرٌ فَقَاتَلَ اِنْسَانًا فَعَضَّ اَحَدُھُمَا یَدَ الْاٰخَرِ قَالَ عَطَاءٌ فَلَقَدْ اَخْبَرَنِیْ صَفْوَانُ اَیُّھُمَا عَضَّ الْاٰخَرَ فَنَسِیْتُہٗ قَالَ فَانْتَزَعَ الْمَعْضُوْضُ یَدَہٗ مِنْ فِیِّ الْعَاضِّ فَانْتَزَعَ اِحْدٰی ثَنِیَّتَیْہِ فَاَتَیَا النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ فَاَھْدَرَ ثَنِیَّتَہٗ قَالَ عَطَاءٌ وَ حَسِبْتُ اَنَّہٗ قَالَ قَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ اَفَیَدَعُ یَدَہٗ فِیْ فِیْکَ تَقْضَمُھَا کَاَنَّھَا فِیْ فَحْلٍ یَقْضَمُھَا.

زهٔ حضور صلي اللّٰه علیه وسلّم سره جنگ تبوک کښې شامل ووم. یعلٰي وائي زهٔ خپلو ټولو عملونو کښې په دې عمل زیات اعتماد کوم. عطاء اووې، صفوان ماته اوښودل، چه یعلٰي یو سړے ملازم اوساتلو. هغهٔ یو سړي سره جنګ اوکهٔ، او بیا دواړو د یو بل لاسونه غاښونو سره اوچیچل، او غوښه ئې خوله کښې اونیوه، چه ډیر مشکل سره خلاص شو. خو د چیچونکي غاښ اووتلو. بیا دواړه د حضور صلي اللّٰه علیه وسلّم خدمت کښې حاضر شو، خو حضورؐ غاښ واله ته هیڅ دیت ورنهٔ کړلو. د عطاء بیان دے، صفوان د هغې چیچونکي نوم خو اخستے وو، خو خما د ذهن نه اووتلو. او شاید صفوان دا هم وئیلے وو، چه حضورؐ اوفرمائیل، آیا هغهٔ خپل لاس ستا په خوله کښې پریښے وو، چه تا د اوښ په شان چیچلے وے. (دیت: خون بها. د خون د معاوضې روپۍ. مطلق جرمانه).

بَابُ ۸۰: حَدِیْثُ کَعْبِ بْنِ مَالِکٍ وَ قَوْلُ اللّٰہِ عَزَّ وَ جَلَّ وَ عَلَی الثَّلٰثَۃِ الَّذِیْنَ خُلِّفُوْا.

باب ۸۰: د کعب بن مالک واقعه یعني غزوهٔ تبوک کښې د ورستو پاتې شوو درې سړو د معافئ بیان، د کعب بن مالک حدیث، او د اللّٰه تعالٰي فرمائیل، او په هغې درې سړو، چه ورستو پاتې شو.

۴۱۷: حَدَّثَنَا یَحْیَی بْنُ بُکَیْرٍ حَدَّثَنَا اللَّیْثُ عَنْ عُقَیْلٍ عَنِ ابْنِ شِھَابٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَبْدِ اللّٰہِ بْنِ کَعْبِ بْنِ مَالِکٍ اَنَّ عَبْدَ اللّٰہِ بْنَ کَعْبِ بْنِ مَالِکٍ وَ کَانَ قَائِدَ کَعْبٍ مِّنْ بَنِیْہِ حِیْنَ عَمِیَ قَالَ سَمِعْتُ

۴۱۷: یحیٰي بن بکیر. لیث. عقیل. ابن شهاب. عبدالرحمٰن بن عبداللّٰه د خپل پلار عبداللّٰه بن کعب نه، چه خپل پلار به ئې د نابینا کیدو په وجه نیولے بوتلو، روایت کوي ما د کعب بن مالک نه واوریدل، هغهٔ اووې، زهٔ ټولو غزاګانو کښې حضور صلي اللّٰه علیه وسلّم سره حاضر ووم، خو

كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ يُحَدِّثُ حِيْنَ تَخَلَّفَ
عَنْ قِصَّةِ تَبُوْكَ قَالَ كَعْبٌ لَمْ اَتَخَلَّفْ
عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ فِيْ غَزْوَةٍ غَزَاهَا اِلَّا فِيْ غَزْوَةِ
تَبُوْكَ غَيْرَ اَنِّيْ كُنْتُ تَخَلَّفْتُ فِيْ
غَزْوَةِ بَدْرٍ وَّلَمْ يُعَاتِبْ اَحَدًا تَخَلَّفَ
عَنْهَا اِنَّمَا خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى
اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرِيْدُ عِيْرَ قُرَيْشٍ
حَتّٰى جَمَعَ اللّٰهُ بَيْنَهُمْ وَ بَيْنَ
عَدُوِّهِمْ عَلٰى غَيْرِ مِيْعَادٍ وَلَقَدْ
شَهِدْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةَ الْعَقَبَةِ حِيْنَ
تَوَاثَقْنَا عَلَى الْاِسْلَامِ وَمَا اُحِبُّ اَنَّ
لِيْ بِهَا مَشْهَدَ بَدْرٍ وَ اِنْ كَانَتْ بَدْرٌ
اَذْكَرَ فِي النَّاسِ مِنْهَا كَانَ مِنْ خَبَرِيْ
اَنِّيْ لَمْ اَكُنْ قَطُّ اَقْوٰى وَلَا اَيْسَرَ حِيْنَ
تَخَلَّفْتُ عَنْهُ فِيْ ذٰلِكَ الْغَزَاةِ وَاللّٰهِ مَا
اجْتَمَعَتْ عِنْدِيْ قَبْلَهُ رَاحِلَتَانِ قَطُّ
حَتّٰى جَمَعْتُهُمَا فِيْ تِلْكَ الْغَزْوَةِ وَلَمْ
يَكُنْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ يُرِيْدُ غَزْوَةً اِلَّا وَرّٰى بِغَيْرِهَا
حَتّٰى كَانَتْ تِلْكَ الْغَزْوَةُ غَزَاهَا رَسُوْلُ
اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَرٍّ
شَدِيْدٍ وَاسْتَقْبَلَ سَفَرًا بَعِيْدًا وَ مَفَازًا
وَّ عَدُوًّا كَثِيْرًا فَجَلّٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ
اَمْرَهُمْ لِيَتَاَهَّبُوْا اُهْبَةَ غَزْوِهِمْ

تبوک او بدر کښې ورستو پاتې شوم، بدر کښې
ورستو پاتې کېدونکو باندې د الله تعالٰي عتاب
اونه شولو. جنګ بدر کښې د حضور صلي الله
علیه وسلّم غرض دا وو، چه د قریشو د قافلې
تعاقب اوکړې شي، نو دشمنان الله ناساپي حائل
کړل، او جنګ اوشو، زهٔ لیلة العقبه کښې د رسول
الله صلي الله علیه وسلّم خدمت کښې حاضر
شوم. حضورؐ د ټولو نه مخکښې په اسلام د قائم
پاتې کېدو عهد واخست. او ماته خو لیلة العقبه د
جنګ بدر مقابله کښې عزیز ده. اګر که جنګ بدر
ته خلقو کښې زیات شهرت او فضیلت حاصل دې.
او جنګ تبوک کښې د نهٔ شریکېدو وجه دا ده،
چه د تبوک په وخت خما حالت ډېر ښهٔ وو،
خدائې ګواه دې، چه د دې نه قبل هیڅ کله ماسره
دوه سورلئ نهٔ وې جمع شوې خو دې غزا کښې زهٔ
د دوو سورلو مالک جوړ شوې ووم. د دې نه علاوه
د حضور صلي الله علیه وسلّم دا دستور وو، چه کله
به ئې د جنګ خیال کولو، نو صاف صاف پته نښه،
او ځائې به ئې نه ښودلو. بلکه څهٔ ګول مول الفاظو
کښې به ئې اظهار کولو، د پاره د دې چه خلق ئې څه
بل مقام ګڼړي. غرض د جنګ وخت چه راغې،
نو حضورؐ مسلمانان پوره طور سره آګاه کړل. چه
مونږ تبوک له خو، چه تیاري اوکړي، دغه وخت
حضورؐ سره کثیر تعداد کښې مسلمانان موجود وو،
خو څهٔ داسې کتاب وغیره نهٔ وو، چه هغې کښې ئې
د ټولو نومونه لیکلې وې کعب وائي، داسې

فَأَخْبَرَهُمْ بِوَجْهِهِ الَّذِي يُرِيدُ
وَالْمُسْلِمُونَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى
اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَثِيرٌ وَلَا يَجْمَعُهُمْ
كِتَابُ حَافِظٍ يُرِيدُ الدِّيوَانَ قَالَ كَعْبٌ
فَمَا رَجُلٌ يُرِيدُ أَنْ يَتَغَيَّبَ إِلَّا ظَنَّ أَنْ
سَيُخْفَى لَهُ مَا لَمْ يَنْزِلْ فِيهِ وَحْيُ اللَّهِ
وَغَزَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ تِلْكَ الْغَزْوَةَ حِينَ طَابَتِ الثِّمَارُ
وَالظِّلَالُ وَتَجَهَّزَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى
اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْمُسْلِمُونَ مَعَهُ
فَطَفِقْتُ أَغْدُو لِكَيْ أَتَجَهَّزَ مَعَهُمْ
فَأَرْجِعُ وَلَمْ أَقْضِ شَيْئًا فَأَقُولُ فِي
نَفْسِي أَنَا قَادِرٌ عَلَيْهِ فَلَمْ يَزَلْ
يَتَمَادَى بِي حَتَّى اشْتَدَّ بِالنَّاسِ الْجِدُّ
فَأَصْبَحَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ وَالْمُسْلِمُونَ مَعَهُ وَلَمْ أَقْضِ
مِنْ جَهَازِي شَيْئًا فَقُلْتُ أَتَجَهَّزُ بَعْدَهُ
بِيَوْمٍ أَوْ يَوْمَيْنِ ثُمَّ أَلْحَقُهُمْ فَغَدَوْتُ
بَعْدَ أَنْ فَصَلُوا لِأَتَجَهَّزَ فَرَجَعْتُ وَلَمْ
أَقْضِ شَيْئًا ثُمَّ غَدَوْتُ ثُمَّ رَجَعْتُ
وَلَمْ أَقْضِ شَيْئًا فَلَمْ يَزَلْ بِي حَتَّى
أَسْرَعُوا وَتَفَارَطَ الْغَزْوُ وَهَمَمْتُ أَنْ
أَرْتَحِلَ فَأُدْرِكَهُمْ وَلَيْتَنِي فَعَلْتُ فَلَمْ
يُقَدَّرْ لِي ذَلِكَ فَكُنْتُ إِذَا خَرَجْتُ فِي
النَّاسِ بَعْدَ خُرُوجِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى
اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَطُفْتُ فِيهِمْ

هیڅ مسلمان نه وو، چه دے جنګ کښې نے شریکیدل
نه غوښتل، خو ورسره ئے دا خیال هم کولو، چه د چا
غیر حاضري حضورﷺ ته هغه وخته پورے معلومیدے
نشي، څو پورے چه وحي رانشي، غرض دا چه
حضور صلي الله علیه وسلّم د جنګ تیاری
شروع کړے، او دا هغه وخت وو، چه میوه په پخیدو
وه. او سوري (سایه) کښې ناسته ښه معلومیده.
ټولو تیارئ کولے. خو ما به هر سحر دا سوچ کولو،
چه زۀ به تیاري اوکړم، څه تادي ده، زۀ خو هر
وخت تیاري کولے شم. دغه شان ورځے تیریدلے،
چه یوه ورځ حضور صلي الله علیه وسلّم روان شولو.
ما سوچ اُوکړه، هغوي دے ځي، او زۀ به یو ورځ دوه
کښې تیاري اوکړم، نو لار کښې به هغوي سره شامل
شم. غرض دا چه په دویمه ورځ ما تیاري کول
اوغښتل، خو اونهٔ شوله، او زۀ دغسے پاتے شوم،
په دریمه ورځ هم دغسے اوشو. او بیا برابر خما
دغه حال وو اوس ټول خلق ډیر لرے تلے وو، ما خو
خله قصد اوکړه، چه حضورﷺ سره یوځائے شم،
حال به ورته اووانم، خو تقدیر کښې م نه وه. کاش
چه داسے م کړے وے، نو د حضور صلي الله علیه
وسلّم د تلو نه پس چه زۀ به مدینه کښې ګرځیدم
راګرځیدم، نو ماته به یا منافق په نظر راتلل، یا
هغه څوک چه کمزورے، ضعیف او ناروغه
به وو. ماته ډیر افسوس وو، حضور صلي الله علیه
وسلّم په لاره زۀ هیڅ رته یاد نه کړم، البته چه
تبوک ته اورسیدل، او ټول ئے اولیدل، نو

حَزَنَنِيْ اَنِّيْ لَا اَرٰى اِلَّا رَجُلًا مَغْمُوْصًا عَلَيْهِ النِّفَاقُ اَوْ رَجُلًا مِمَّنْ عَذَرَ اللّٰهُ مِنَ الضُّعَفَاءِ وَلَمْ يَذْكُرْنِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى بَلَغَ تَبُوْكَ فَقَالَ وَهُوَ جَالِسٌ فِي الْقَوْمِ بِتَبُوْكَ مَا فَعَلَ كَعْبٌ فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ بَنِيْ سَلِمَةَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ حَبَسَهُ بُرْدَاهُ وَ نَظَرُهُ فِيْ عِطْفِهِ فَقَالَ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ بِئْسَ مَا قُلْتَ وَاللّٰهِ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا عَلِمْنَا عَلَيْهِ اِلَّا خَيْرًا فَسَكَتَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَعْبُ بْنُ مَالِكٍ فَلَمَّا بَلَغَنِيْ اَنَّهُ تَوَجَّهَ قَافِلًا حَضَرَنِيْ هَمِّيْ وَ طَفِقْتُ اَتَذَكَّرُ الْكَذِبَ وَ اَقُوْلُ بِمَا ذَا اَخْرُجُ مِنْ سَخَطِهِ غَدًا وَّاسْتَعَنْتُ عَلٰى ذٰلِكَ بِكُلِّ ذِيْ رَاْيٍ مِنْ اَهْلِيْ فَلَمَّا قِيْلَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ اَظَلَّ قَادِمًا زَاحَ عَنِّي الْبَاطِلُ وَ عَرَفْتُ اَنِّيْ لَمْ اَخْرُجْ مِنْهُ اَبَدًا بِشَيْءٍ فِيْهِ كَذِبٌ فَاَجْمَعْتُ صِدْقَهُ وَ اَصْبَحَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَادِمًا وَّ كَانَ اِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ بَدَاَ بِالْمَسْجِدِ فَيَرْكَعُ فِيْهِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ جَلَسَ لِلنَّاسِ فَلَمَّا فَعَلَ ذٰلِكَ جَاءَهُ الْمُخَلَّفُوْنَ فَطَفِقُوْا يَعْتَذِرُوْنَ اِلَيْهِ وَ يَحْلِفُوْنَ لَهُ وَ كَانُوْا

حضورؐ اوفرمائیل: کعب بن مالک څه اوکړل؟ د بني سلمه یو سړي عبدالله بن انیسؓ اووے: یا رسول الله! هغه خو په خپل حسن او جمال د نظر کولو په وجه پاتے شوے دے. معاذ بن جبل اووے: تا بنه خبره اونه کړه په خدائے مې دے قسم وي: اے د الله رسوله! مونږ خو هغه ښه سړے ګڼړو. دے اوریدو سره حضورؐ خاموش شولو. د کعب بن مالکؓ بیان دے: هر کله چه ماته دا معلومه شوه، چه حضورؐ واپس راروان دے، نو ما سوچ اوکړ، چه څۀ داسے حیله بهانه په لاس راشي، چه د حضور صلي الله علیه وسلم د غصے نه پرے خلاص شم. بیا ما د کور پو ه خلقو سره مشوره اوکړه، چه دے سلسله کښې تاسو هم څۀ سوچ اوکړئے. خو کوم وخت چه دا خبره راته معلومه شوه، چه حضورؐ مدینے ته بالکل قریب راغلے دے، نو خما د زړۀ نه دَ هغے حیلے خیال لرے شو، او خما یقین راغے، چه دَ حضورؐ دَ غصے نه په دروغو نشم بچ کیدے. صبا ته حضورؐ مدینے ته تشریف راوړلو، او دَ حضورؐ طریقه دا وَه، چه دَ سفر نه به واپس راغلو، نو اول به جمات ته تللو، او دوه رکعاته نفل به ئے کول. اوس کوم خلق چه ورستو پاتے شوے وو، هغوي راتلل، او خپل خپل عذرونه ئے بیانول شروع کړل. او قسمونه به ئے خوړل. دا خلق اتیا وو، یا دَ دے نه هم څۀ زیات، حضورؐ دَ هغوي عذر قبول کړلو، او دَ هغوي نه ئے دوباره بیعت واخست، او هغوي

بِضْعَةً وَّ ثَمَانِيْنَ رَجُلًا فَقَبِلَ مِنْهُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَانِيَتَهُمْ وَ بَايَعَهُمْ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمْ وَ وَكَلَ سَرَآئِرَهُمْ اِلَى اللّٰهِ فَجِئْتُهُ فَلَمَّا سَلَّمْتُ عَلَيْهِ تَبَسَّمَ تَبَسُّمَ الْمُغْضَبِ ثُمَّ قَالَ تَعَالَ فَجِئْتُ اَمْشِيْ حَتّٰى جَلَسْتُ بَيْنَ يَدَيْهِ فَقَالَ لِيْ مَا خَلَّفَكَ اَلَمْ تَكُنْ قَدِ ابْتَعْتَ ظَهْرَكَ فَقُلْتُ بَلٰى اِنِّيْ وَاللّٰهِ لَوْ جَلَسْتُ عِنْدَ غَيْرِكَ مِنْ اَهْلِ الدُّنْيَا لَرَاَيْتَ اَنْ سَاَخْرُجَ مِنْ سَخَطِهٖ بِعُذْرٍ وَلَقَدْ اُعْطِيْتُ جَدَلًا وَلٰكِنِّيْ وَاللّٰهِ لَقَدْ عَلِمْتُ لَئِنْ حَدَّثْتُكَ الْيَوْمَ حَدِيْثَ كَذِبٍ تَرْضٰى بِهٖ عَنِّيْ لَيُوْشِكَنَّ اللّٰهُ اَنْ يُّسْخِطَكَ عَلَيَّ وَلَئِنْ حَدَّثْتُكَ حَدِيْثَ صِدْقٍ تَجِدُ عَلَيَّ فِيْهِ اِنِّيْ لَاَرْجُوْ فِيْهِ عَفْوَ اللّٰهِ لَا وَاللّٰهِ مَا كَانَ لِيْ مِنْ عُذْرٍ وَاللّٰهِ مَا كُنْتُ قَطُّ اَقْوٰى وَلَا اَيْسَرَ مِنِّيْ حِيْنَ تَخَلَّفْتُ عَنْكَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَمَّا هٰذَا فَقَدْ صَدَقَ فَقُمْ حَتّٰى يَقْضِيَ اللّٰهُ فِيْكَ فَقُمْتُ وَ سَارَ رِجَالٌ مِنْ بَنِيْ سَلِمَةَ فَاتَّبَعُوْنِيْ فَقَالُوْا لِيْ وَاللّٰهِ مَا عَلِمْنَاكَ كُنْتَ اَذْنَبْتَ ذَنْبًا قَبْلَ هٰذَا وَلَقَدْ عَجَزْتَ اَنْ لَّا تَكُوْنَ اعْتَذَرْتَ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

 د پاره نبي د مغفرت دعا اوکړله، او د هغوي د زړه خيالات ئے خدائے ته حواله کړل. کعبؓ وائي، زه هم راغلم، السلام عليکم مِ اووے، خو حضورؐ داسے مُسکا کښې چه هغے کښې د غصے هم جهلک وو، جواب راکړلو، او وے فرمائيل، راشه، نو ورته زه مخے ته کيناستم. حضورؐ مانه تپوس اوکه، اے کعب، ته ولے ورستو پاتے شوے، حالانکه تا خو د سورلي هم انتظام کړے وو، ما عرض اوکړ، ستاسو فرمائيل درست دي که زه د بل چا مخے ته وے، نو ممکنه ده، چه هغه ته مِ بيان وغيره کړے وے او ځان مِ خلاص کړے وے، ځکه چه ماله د خبرو کولو هم چل راځي. خو خدائے ګواه دے، زه په دے پوهيږم، که نن ما دروغ اووے، او تاسو مِ راضي کړلے، نو صبا له به الله تعالي تاسو مانه ناراضه کړي، نو زه درته ريښتيا ريښتيا وائم، خو اه تاسوؐ ماته غصه ولے نۀ شئے، آئنده د پاره خو به مِ د خدائے نه د مغفرت او بخشش اُميد وي. په خدائے مِ دے قسم وي، زه قصور وار يم، حالانکه مال دولت کښې هيڅوک خما برابر نۀ دي، خو د دے ټولو څيزونو د موجودګي باوجود زه شريک نۀ شوم. دے آوريدو سره حضورؐ اوفرمائيل، کعب ريښتيا خبره اوکړه، ښۀ ده خه، او د خدائے د حکم په حقله انتظار کوه. غرض دا چه زۀ پاسيدم، لاړم، نو د بني سلمه څه سړي هم ما پسے راغلل، او وے وئيل، مونږ خو اوسه پورے ستا څۀ ګناه نۀ ده ليدلے. تا به هم د نورو خلقو په شان د حضور صلي الله

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَا اعْتَذَرَ إِلَيْهِ الْمُتَخَلِّفُوْنَ قَدْ كَانَ كَافِيَكَ ذَنْبَكَ اسْتِغْفَارُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَكَ فَوَاللّٰهِ مَازَالُوْا يُؤَنِّبُوْنِيْ حَتّٰى اَرَدْتُ اَنْ اَرْجِعَ فَاُكَذِّبَ نَفْسِيْ ثُمَّ قُلْتُ لَهُمْ هَلْ لَقِيَ هٰذَا مَعِيَ اَحَدٌ قَالُوْا نَعَمْ رَجُلَانِ قَالَا مِثْلَ مَا قُلْتَ فَقِيْلَ لَهُمَا مِثْلُ مَا قِيْلَ لَكَ فَقُلْتُ مَنْ هٰذَا قَالُوْا مُرَارَةُ بْنُ الرَّبِيْعِ الْعَمْرَوِيُّ وَ هِلَالُ اُمَيَّةَ الْوَاقِفِيُّ فَذَكَرُوْا لِيَ رَجُلَيْنِ صَالِحَيْنِ قَدْ شَهِدَا بَدْرًا فِيْهِمَا اُسْوَةٌ فَمَضَيْتُ حِيْنَ ذَكَرُوْهُمَا لِيْ وَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُسْلِمِيْنَ عَنْ كَلَامِنَا اَيُّهَا الثَّلَاثَةُ مِنْ بَيْنِ مَنْ تَخَلَّفَ عَنْهُ فَاجْتَنَبَنَا النَّاسُ وَ تَغَيَّرُوْا لَنَا حَتّٰى تَنَكَّرَتْ فِيْ نَفْسِي الْاَرْضُ فَمَاهِيَ الَّتِيْ اَعْرِفُ فَلَبِثْنَا عَلٰى ذٰلِكَ خَمْسِيْنَ لَيْلَةً فَاَمَّا صَاحِبَايَ فَاسْتَكَانَا وَ قَعَدَا فِيْ بُيُوْتِهِمَا يَبْكِيَانِ وَ اَمَّا اَنَا فَكُنْتُ اَشَبَّ الْقَوْمِ وَ اَجْلَدَهُمْ وَ كُنْتُ اَخْرُجُ فَاَشْهَدُ الصَّلٰوةَ مَعَ الْمُسْلِمِيْنَ وَ اَطُوْفُ فِي الْاَسْوَاقِ وَلَا يُكَلِّمُنِيْ اَحَدٌ وَ اٰتِيْ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاُسَلِّمُ عَلَيْهِ وَهُوَ فِيْ مَجْلِسِهِ بَعْدَ الصَّلٰوةِ

عليه وسلّم مخکښې څۀ بهانه پيش کړے وه. ذ حضورٌ دُعا ذ مغفرت ذ پاره کافي وَه. هغوي برابر ماته دغه خبره کوله، تر دے چه خما په زړۀ کښې دا خيال راغے، چه واپس حضور صلي الله عليه وسلّم له ورشم، ورمبنے خبره غلطه ثابته کړم او څۀ بهانه ورته پيش کړم. بيا ما ذ هغوي نه تپوس اوکۀ، آيا بل څوک هم داسے شته، چه هغه خما په شان ذ ګناه اعتراف کړے وي، هغوي اووے، او دوه سړي نور هم شته، هغوي اقرار کړے دے، او حضورٌ هغوي ته هم دغسے فرمائيلے دي، څنګه چه ئے تاته ارشاد فرمائيلے دے. ما ذ هغوي ذ نومونه تپوس اوکۀ، نو ونيلے، يو مراره بن ربيع عمروي، دوئم هلال بن اُميه واقفي. دا دواړه نيک سړي وو، او جنګ بدر کښې شريک شوي وو. ماته هغوي سره يوځائے کيدل ښۀ معلوميدل، غرض ذ هغے دواړو سړو نومونه آوريدو سره ماته اطمينان اوشولو، او زۀ روان شوم. او رسول الله صلي الله عليه وسلّم تهول مسلمانان منع کړے وو، چه دے درے سړو سره دے هيڅوک خبرے نۀ کوي، خو نورو پاتے کيدونکو او ذ دروغو بهانه جوړونکو ذ پاره ئے دا حکم نۀ وو ورکړے. آخر خلقو خمونږ نه لرے اوسيدل شروع کړل، او مونږ داسے شو، لکه چه مونږ هډو څوک پيژني نه، ګويا آسمان او زمکه بدل شوے دي. غرض دا چه پنځوس شپے په دے حال کښې تيرے شوے. خما دوه ملګري خو کور کښې کيناستل خو زۀ ډير همت واله ووم. بهر ته وتلم راوتلم، ذ جماعت مونځ کښې به شريکيدم، بازار وغيره ته به تلم، خو چا به راسره

فَاَقُوْلُ فِيْ نَفْسِيْ هَلْ حَرَّكَ شَفَتَيْهِ بِرَدِّ السَّلَامِ عَلَيَّ اَمْ لَا ثُمَّ اُصَلِّيْ قَرِيْبًا مِنْهُ فَاُسَارِقُهُ النَّظَرَ فَاِذَا اَقْبَلْتُ عَلٰى صَلٰوتِيْ اَقْبَلَ اِلَيَّ وَ اِذَا الْتَفَتُّ نَحْوَهُ اَعْرَضَ عَنِّيْ حَتّٰى اِذَا طَالَ عَلَيَّ ذٰلِكَ مِنْ جَفْوَةِ النَّاسِ مَشَيْتُ حَتّٰى تَسَوَّرْتُ جِدَارَ حَائِطِ اَبِيْ قَتَادَةَ وَهُوَ ابْنُ عَمِّيْ وَ اَحَبُّ النَّاسِ اِلَيَّ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَوَاللّٰهِ مَا رَدَّ عَلَيَّ السَّلَامَ فَقُلْتُ يَا اَبَا قَتَادَةَ اُنْشِدُكَ بِاللّٰهِ هَلْ تَعْلَمُنِيْ اُحِبُّ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهُ فَسَكَتَ فَعُدْتُ لَهُ فَنَشَدْتُّهُ فَسَكَتَ فَعُدْتُ لَهُ فَنَشَدْتُّهُ فَقَالَ اللّٰهُ وَ رَسُوْلُهُ اَعْلَمُ فَفَاضَتْ عَيْنَايَ وَ تَوَلَّيْتُ حَتّٰى تَسَوَّرْتُ الْجِدَارَ قَالَ فَبَيْنَا اَنَا اَمْشِيْ بِسُوْقِ الْمَدِيْنَةِ اِذَا نَبَطِيٌّ مِنْ اَنْبَاطِ اَهْلِ الشَّامِ مِمَّنْ قَدِمَ بِالطَّعَامِ يَبِيْعُهُ بِالْمَدِيْنَةِ يَقُوْلُ مَنْ يَّدُلُّ عَلٰى كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ فَطَفِقَ النَّاسُ يُشِيْرُوْنَ لَهُ حَتّٰى اِذَا جَآءَ نِيْ دَفَعَ اِلَيَّ كِتَابًا مِنْ مَلِكِ غَسَّانَ فَاِذَا فِيْهِ اَمَّا بَعْدُ فَاِنَّهُ قَدْ بَلَغَنِيْ اَنَّ صَاحِبَكَ قَدْ جَفَاكَ وَلَمْ يَجْعَلْكَ اللّٰهُ بِدَارِ هَوَانٍ وَلَا مَضِيْعَةٍ فَالْحَقْ بِنَا نُوَاسِكَ فَقُلْتُ لَمَّا قَرَاْتُهَا وَ هٰذَا اَيْضًا مِنَ الْبَلَاءِ فَتَيَمَّمْتُ بِهَا التَّنُّوْرَ

خبرے نۀ کولے، زۀ به دَ رسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کښې هم حاضريدم، حضورٌ به په مصلي رونق افروز وو، ما به ورته سلام کولو، او ماته به داسے شبهه کيده، چه دَ حضور صلي الله عليه وسلم شونډے مبارکے خوزيږي، شايد چه دَ سلام جواب راکوي، بيا به ما حضورٌ سره قريب مونځ کولو، خو سترګو کښې پټ به م ورته کتلو، چه حضورٌ څۀ کوي، زۀ چه به په مانځه ووم، نو حضورٌ به ماته کتل، او کله چه به ځما نظر حضورٌ سره يوځائے شو، نو حضورٌ به مخ او ګرځولو. دے حال کښې موده تيره شوه، او زۀ دَ خلقو دَ خاموشي نه عاجز راغلم، او بيا دَ خپل ترۀ (چچا) دَ ځوي ابو قتاده باغ ته راغلم، او سلام م ورته اوکۀ، او هغۀ سره ځما ډير محبت وو، خو په خدائے م دے قسم وي، هغه ځما دَ سلام جواب رانۀ کړلو. ما ورته اووے، ابو قتاده، تاته نده معلومه چه الله او رسول سره ځما څومره مينه ده. خو هغۀ جواب رانۀ کړلو. بيا ما قسم ورکولو سره ورته دغه خبره اوکړله خو جواب ئے رانۀ کړلو. په دريم ځل هم ورته ما دغسے اووے، نو ابو قتاده صرف دومره قدر جواب راکړلو، چه الله او رسول ښۀ پوهيږي بيا ما ضبط اونۀ کړے شو، اوښکے م جاري شولے، او زۀ واپس شولم. يوه ورځ زۀ بازار کښې تلم، چه يو نصراني زميدار چه د ملک شام اوسيدونکے وو، او غلے خرڅولو د پاره راغلے وو، هغه د خلقو نه ځما پته معلومولة، نو خلقو ما طرف ته اشاره اوکړله چه دا کعب بن مالک دے، هغه ما، راغے، او د غسّان دَ نصراني بادشاه خط ئے ماله راکړلو، هغے کښې ليکلے وو، ماته معلومه شوے ده، چه ستا صاحب په تا

فَسَجَرْتُهُ بِهَا حَتّٰى اِذَا مَضَتْ اَرْبَعُوْنَ
لَيْلَةً مِنَ الْخَمْسِيْنَ اِذَا رَسُوْلُ رَسُوْلِ
اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَاْتِيْنِيْ
فَقَالَ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَاْمُرُكَ اَنْ تَعْتَزِلَ
امْرَاَتَكَ فَقُلْتُ اُطَلِّقُهَا اَمْ مَاذَا اَفْعَلُ
قَالَ لَا بَلِ اعْتَزِلْهَا وَلَا تَقْرَبْهَا وَ اَرْسَلَ
اِلٰى صَاحِبَيَّ مِثْلَ ذٰلِكَ فَقُلْتُ
لِامْرَاَتِيْ اَلْحَقِيْ بِاَهْلِكِ فَتَكُوْنِيْ
عِنْدَهُمْ حَتّٰى يَقْضِيَ اللّٰهُ فِيْ هٰذَا
الْاَمْرِ قَالَ كَعْبٌ فَجَاءَتْ امْرَاَةُ هِلَالِ
بْنِ اُمَيَّةَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ هِلَالَ
بْنَ اُمَيَّةَ شَيْخٌ ضَائِعٌ لَيْسَ لَهُ خَادِمٌ
فَهَلْ تَكْرَهُ اَنْ اَخْدُمَهُ قَالَ لَا وَلٰكِنْ لَا
يَقْرُبْكِ قَالَتْ اِنَّهُ وَاللّٰهِ مَا بِهِ حَرَكَةٌ
اِلٰى شَيْءٍ وَاللّٰهِ مَا زَالَ يَبْكِيْ مُنْذُ
كَانَ مِنْ اَمْرِهِ مَا كَانَ اِلٰى يَوْمِهِ هٰذَا
فَقَالَ لِيْ بَعْضُ اَهْلِيْ لَوِ اسْتَاْذَنْتَ
رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
فِيْ امْرَاَتِكَ كَمَا اَذِنَ لِامْرَاَةِ هِلَالِ بْنِ
اُمَيَّةَ اَنْ تَخْدُمَهُ فَقُلْتُ لَا وَاللّٰهِ لَا
اَسْتَاْذِنُ فِيْهَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا يُدْرِيْنِيْ مَا يَقُوْلُ
رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
اِذَا اسْتَاْذَنْتُهُ فِيْهَا وَ اَنَا رَجُلٌ شَابٌّ

زیاتے کوي، حالانکه الله ته ذلیل نه ئے جوړ کړے، نهٔ ډیر
ذ کار سړے ئے، تهٔ ماله راشه، مونږ به تا ډیر آرام سره
ساتو. ما سوچ اوکهٔ، دا دوئیم آزمائش دے. بیا م هغه خط
ذ اُور په تنور کښې اوسوزولو، اوس صرف څلویښت
شپے تیرے شوے وے، او لس شپے باقي وے، چه ذ
رسول الله صلي الله علیه وسلّم قاصد (خزیمه بن ثابت)
راغے او ماته ئے اووے، رسول الله صلي الله علیه وسلّم
فرمائي، چه تهٔ ذ خپلے بي بي نه جُدا شه، ما اووے، څهٔ
مطلب دے، طلاق ورکړم، یا نور څهٔ. خزیمه اُووے، بس
جدا شه، او نزدیکت ورسره مهٔ کوه، او داسے حکم څما
هغا دوو ملګرو ته هم ورکړے شوے وو. غرض دا چه ما
خپلے ښځے ته اووے، چه تهٔ خپلو رشته دارانو سره لاړه
شه، اوسیږه، څو پورے چه الله تعالیٰ څما فیصله اونهٔ
کړي. کعبؓ وائي، بیا ذ هلال بن اُمیهؓ ښځه ذ رسول الله
صلي الله علیه وسلّم په خدمت کښې حاضره شوه، او
عرض ئے اوکهٔ، چه یا رسول الله، هلال بن اُمیه څما
خاوند ډیر بوډا دے، که زهٔ ذ هغهٔ کار خدمت کوم، نو
دے کښې خو به څهٔ بدي نهٔ وي، حضورؐ ورته اوفرمائیل،
هیڅ نه، خو هغه صحبت (کور والے) نشي کولے. ما
عرض اوکهٔ، حضورؐ هغهٔ کښې خو دا خواهش هډو نشته،
او ذ کوم وخت نه چه دا خبره معلومه شوے ده، هغه
ژاړي، او ذ هغے وخت نه ئے دا حال دے، کعبؓ وائي،
ماته څما څنے عزیزانو اووے چه تهٔ هم حضورؐ له ورشه،
او ذ خپلے بي بي باره کښې ترے دغسے اجازت حاصل
کړه، چه هغه ستا خدمت جاري اوساتي، څنګه چه ذ
هلال ښځے ته اجازت ورکړے شوے دے ما اووے، څما

فَلَبِثْتُ بَعْدَ ذٰلِكَ عَشْرَ لَيَالٍ حَتّٰى
كَمَلَتْ لَنَا خَمْسُوْنَ لَيْلَةً مِنْ حِيْنَ
نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ عَنْ كَلَامِنَا فَلَمَّا صَلَّيْتُ
صَلٰوةَ الْفَجْرِ صُبْحَ خَمْسِيْنَ لَيْلَةً وَ اَنَا
عَلٰى ظَهْرِ بَيْتٍ مِنْ بُيُوْتِنَا فَبَيْنَا اَنَا
جَالِسٌ عَلَى الْحَالِ الَّتِيْ ذَكَرَ اللّٰهُ قَدْ
ضَاقَتْ عَلَيَّ نَفْسِيْ وَ ضَاقَتْ عَلَيَّ
الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ سَمِعْتُ صَوْتَ
صَارِخٍ اَوْفٰى عَلٰى جَبَلِ سَلْعٍ بِاَعْلٰى
صَوْتِهٖ يَا كَعْبُ بْنُ مَالِكٍ اَبْشِرْ قَالَ
فَخَرَرْتُ سَاجِدًا وَ عَرَفْتُ اَنْ قَدْ جَآءَ
فَرَجٌ وَّ اٰذَنَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتَوْبَةِ اللّٰهِ عَلَيْنَا حِيْنَ
صَلّٰى صَلٰوةَ الْفَجْرِ فَذَهَبَ النَّاسُ
يُبَشِّرُوْنَنَا وَ ذَهَبَ قِبَلَ صَاحِبَيَّ
مُبَشِّرُوْنَ وَ رَكَضَ اِلَيَّ رَجُلٌ فَرَسًا وَّ
سَعٰى سَاعٍ مِنْ اَسْلَمَ فَاَوْفٰى عَلَى
الْجَبَلِ وَ كَانَ الصَّوْتُ اَسْرَعَ مِنَ
الْفَرَسِ فَلَمَّا جَآءَنِي الَّذِيْ سَمِعْتُ
صَوْتَهٗ يُبَشِّرُنِيْ نَزَعْتُ لَهٗ ثَوْبَيَّ
فَكَسَوْتُهٗ اِيَّاهُمَا بِبُشْرَاهُ وَاللّٰهِ مَا اَمْلِكُ
غَيْرَهُمَا يَوْمَئِذٍ وَاسْتَعَرْتُ ثَوْبَيْنِ
فَلَبِسْتُهُمَا وَانْطَلَقْتُ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَتَلَقَّانِي
النَّاسُ فَوْجًا فَوْجًا يُهَنِّئُوْنِيْ بِالتَّوْبَةِ

دے په خدائے قسم وي زۀ هيڅ كله داسے نشم كولے.
معلومه نۀ ده، چه حضور صلي الله عليه وسلّم څۀ فرمائي.
زۀ خو ځلمے سړے يم، ذ هلال په شان ضعيف نه يم.
غرض دا چه ذ هغے نه پس هغه لس ورځے هم تيرے
شوے، او زۀ ذ پنځوستمے شپے په سحر ذ مانځه نه پس
خپل كور سره (خوا كښ) ناست ووم، او دا معلوميده
چه ژوند رابانده تنګ شوے دے، او زمکه رابانده
باوجود ذ وسعت تنګه شوے ده، چه دے کښ ذ کوه
سلع نه يو آواز کونکي نعرے کړے، وئيلے اے کعب بن
مالک، تاته زيرے (بشارت) درکولے شي. دے آواز
آوريدو سره زۀ ذ خوشحالي نه په سجده پريوتم. او يقين
م اوکۀ، چه اوس دغه مشکل آسان شولو، ځکه چه
حضور صلي الله عليه وسلّم ذ مانځه نه پس اوفرمائيل،
چه الله تعالٰي ځمونږ خلقو قصور معاف کړلو، اوس خلق
ماته او ځما هغې ملګرو ته مبارک بادي او خوشخبرئ
ذ پاره راتلل شروع شو، او يو سړے زبير بن عوامؓ په خپل
آس په زغل ماته راغے، او يو بل سړے ذ بني سلمه کوه
سلع بانده اوختلو، ذ هغۀ آواز تادي سره ځما غوږ ته
راورسيد. هغه وخت زۀ دومره خوشحاله شوم، چه خپلے
دواړه کپړے م اوښکلے، او هغه ته م واغستولے. بيا ذ
حضور صلي الله عليه وسلّم خدمت کښ حاضر شوم،
لاره کښ ذ خلقو يو هجوم وو، چه مبارک بادي ئے
راکولے، او وئيل ئے، چه ذ الله تعالٰي دا انعام دے تاته
مبارک وي، کعبؓ وائي، زۀ جمات ته راغلم، حضور
صلي الله عليه وسلّم تشريف فرما وو، او نور خلق هم
ناست وو، طلحه بن عبيد الله چه زۀ اوليدم، په منډه

يَقُوْلُوْنَ لِتَهْنِكَ تَوْبَةُ اللّٰهِ عَلَيْكَ قَالَ كَعْبٌ حَتّٰى دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ فَاِذَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ حَوْلَهُ النَّاسُ فَقَامَ اِلَيَّ طَلْحَةُ بْنُ عُبَيْدِ اللّٰهِ يُهَرْوِلُ حَتّٰى صَافَحَنِيْ وَ هَنَّانِيْ وَاللّٰهِ مَا قَامَ اِلَيَّ رَجُلٌ مِنَ الْمُهَاجِرِيْنَ غَيْرُهُ وَلَا اَنْسَاهَا لِطَلْحَةَ قَالَ كَعْبٌ فَلَمَّا سَلَّمْتُ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَبْرُقُ وَجْهُهُ مِنَ السُّرُوْرِ اَبْشِرْ بِخَيْرِ يَوْمٍ مَرَّ عَلَيْكَ مُنْذُ وَلَدَتْكَ اُمُّكَ قُلْتُ اَمِنْ عِنْدِكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَمْ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ قَالَ لَا بَلْ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ وَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا سُرَّ اِسْتَنَارَ وَجْهُهُ حَتّٰى كَاَنَّهُ قِطْعَةُ قَمَرٍ وَّ كُنَّا نَعْرِفُ ذٰلِكَ مِنْهُ فَلَمَّا جَلَسْتُ بَيْنَ يَدَيْهِ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ مِنْ تَوْبَتِيْ اَنْ اَنْخَلِعَ مِنْ مَّالِيْ صَدَقَةً اِلَى اللّٰهِ وَ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَمْسِكْ عَلَيْكَ بَعْضَ مَالِكَ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكَ قُلْتُ فَاِنِّيْ اُمْسِكُ سَهْمِي الَّذِيْ بِخَيْبَرَ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ اللّٰهَ اِنَّمَا نَجَّانِيْ بِالصِّدْقِ وَ اِنَّ مِنْ تَوْبَتِيْ اَنْ لَّا اُحَدِّثَ اِلَّا صِدْقًا مَّا بَقِيْتُ فَوَاللّٰهِ مَا اَعْلَمُ اَحَدًا مِّنَ

راپاسيدو، جوړ تازه ئې راسره اوکړل، بيائې مبارک بادي راکړه، مهاجرينو کښې دا کار صرف طلحهٔ اوکړلو. خدائې ګواه دے، چه زهٔ به دَ هغهٔ دا احسان هيڅ کله هير نهٔ کړم. کعبٌ وائي: بيا چه ما حضورٌ ته سلام اوکړهٔ، او دَ حضور صلي الله عليه وسلّم مخ مبارک د خوشحالي نه پړقيدلو، نو حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، اے کعب، دا ورځ دے تاته مبارک وي، چه ستا دَ پيدائش نه واخله، نه پورے دَ ټولو نه ښهٔ ورځ ده. ما عرض اوکړهٔ، حضورٌ دا معافي دَ الله تعالٰي دَ طرف نه ده، يا ستاسوٌ دَ طرف نه. حضورٌ اوفرمائيل، دَ الله تعالٰي دَ طرف نه درته معافي شوے ده، او حضور صلي الله عليه وسلّم چه به خوشحاله وو، نو مخ مبارک به ئې دَ سپوږمي په شان چمک کولو. او مونږ به دَ حضورٌ په خوشحالي پوهيدلو، بيا ما حضور صلي الله عليه وسلّم ته عرض اوکړهٔ، اے دَ الله رسوله، دَ دے خلاصي او معافي په شکريه کښې زهٔ خپل ټول مال الله او دَ هغهٔ رسول دَ پاره خيرات نهٔ کړم. حضورٌ صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، څهٔ خيرات کړه، او څهٔ خان دَ پاره اوساته، ځکه چه دا ستا دَ پاره فائده مند دے. ما عرض اوکړهٔ، صحيح ده، زهٔ دَ خيبر خپله حصه خيرات کوم. بيا ما عرض اوکړهٔ، اے دَ الله رسوله، ما دَ رښتيا وئيلو په وجه خلاصے بيامندلے دے. اُوس به زهٔ ټول ژوند کښې هم رښتيا وائم، په خدائے مِ دے قسم وي، زهٔ نشم وئيلے، چه رښتيا وئيلو سره چا باندے دومره مهرباني شوے وي، ځکه چه په ما شوے ده، دَ هغے وخت نه چه ما رسول الله صلي الله عليه وسلّم ته رښتيا خبره کړے

الْمُسْلِمِيْنَ اَبْلَاهُ فِيْ صِدْقِ الْحَدِيْثِ مُنْذُ ذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰى يَوْمِيْ هٰذَا كَذِبًا وَ اِنِّيْ لَاَرْجُوْ اَنْ يَّحْفَظَنِي اللّٰهُ فِيْمَا بَقِيْتُ وَ اَنْزَلَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ تَابَ اللّٰهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِيْنَ اِلٰى قَوْلِهٖ وَ كُوْنُوْا مَعَ الصَّادِقِيْنَ فَوَاللّٰهِ مَا اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيَّ مِنْ نِّعْمَةٍ قَطُّ بَعْدَ اَنْ هَدَانِيْ لِلْاِسْلَامِ اَعْظَمَ فِيْ نَفْسِيْ مِنْ صِدْقِيْ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ لَا اَكُوْنَ كَذَبْتُهٗ فَاَهْلِكَ كَمَا هَلَكَ الَّذِيْنَ كَذَبُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ قَالَ لِلَّذِيْنَ كَذَبُوْا حِيْنَ اَنْزَلَ الْوَحْيُ شَرَّ مَا قَالَ لِاَحَدٍ فَقَالَ تَبَارَكَ وَ تَعَالٰى سَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ لَكُمْ اِذَا انْقَلَبْتُمْ اِلٰى قَوْلِهٖ فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يَرْضٰى عَنِ الْقَوْمِ الْفَاسِقِيْنَ قَالَ كَعْبٌ وَ كُنَّا تَخَلَّفْنَا اَيُّهَا الثَّلَاثَةُ عَنْ اَمْرِ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ قَبِلَ مِنْهُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ حَلَفُوْا لَهٗ فَبَايَعَهُمْ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمْ وَ اَرْجَاَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَمْرَنَا حَتّٰى قَضَى اللّٰهُ فِيْهِ فَبِذٰلِكَ قَالَ اللّٰهُ وَ عَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِيْنَ خُلِّفُوْا وَ لَيْسَ

ده، بيا ذ هغې وخت نه اوسه پورې ما هيڅ كله دروغ نه دي وئيلې او زۀ اُميد كوم چه ټول ژوند كښې به الله تعالٰي ما ذ دروغونه اوساتي او الله تعالٰي په خپل رسول باندې دا آيت نازل كړلو: لَقَدْ تَابَ اللّٰهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالمهاجرين والانصار: يعني الله تعالٰي نبي مهاجرينو او انصاروته معافي اوكړه: په خدائې م دې قسم وي د اسلام نه پس ذ دې نه زيات هيڅ انعام او احسان مانه دې ليدلې (يعني دا ډير لوئې انعام او احسان دې چه الله تعالٰي راته معافي اوكړله) او حضور صلي الله عليه وسلم راته معافي اوكړله) او ذ حضور صلي الله عليه وسلم مخكښې ئې ماته ذ ريښتيا وئيلو توفيق راكړلو او ذ هلاكت نه ئې بچ كړم كني ذ نورو خلقو په شان به زۀ هم تباه او هلاك شوې وې كومو چه حضورٌ ته دروغ وئيلې وو او په دروغه ئې قسمونه اوخوړل او بيا دا آيت نازل شو: سَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ لَكُمْ اِذَا انْقَلَبْتُمْ: يعني دا خلق په دروغه قسمونه خوري د پاره د دې چه تۀ ورته معافي اوكړې خو ذ هغوي ټيكاونړه دوزخ دې. كعبٌ وائي مونږ درې واړه ذ هغې منافقانو نه جُدا يُو چه هغوي قسم قسم بهانې جوړې كړې او په دروغه قسمونه ئې اوخوړل او حضورٌ د هغوي خبره قبوله كړه او ذ هغوئ نه ئې بيعت واخست او د مغفرت ذعائې ورته اوكړله خو خمونږ معامله ئې پريښودله تر دې چه خدائې تعالٰي دا آيت نازل كړلو: و على الثَّلَاثَةِ الَّذِيْنَ خُلِّفُوْا: يعني هغه درې ئې معاف كړل كوم چه ورستو پاتې شوې وو. دې نه هغه خلق مراد نه دي چه قصدا ورستو پاتې

الَّذِيْ ذَكَرَ اللّٰهُ مِمَّا خُلِّفْنَا عَنِ الْغَزْوِ وَ اِنَّمَا هُوَ تَخْلِيْفُهُ اِيَّانَا وَ اِرْجَاؤُهُ اَمْرَنَا عَمَّنْ حَلَفَ لَهُ وَاعْتَذَرَ اِلَيْهِ فَقَبِلَ مِنْهُ.

شوے وو، بلکه مطلب دا دے چه موږ د هغوي نه ورستو پاتے شو، کوم چه قسمونه او خوړل، عذر ئے او کړلو، او دوست د خدائے صلی الله علیه وسلم د هغوي عذر قبول کړلو.

## باب ۸۱: نُزُوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحِجْرَ.

## باب ۸۱: د حضور صلي الله عليه وسلم مقام حجر كښې د قيام بيان.

۴۱۸: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ الْجُعْفِيُّ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ اَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ لَمَّا مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحِجْرِ قَالَ لَا تَدْخُلُوْا مَسَاكِنَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا اَنْفُسَهُمْ اَنْ يُصِيْبَكُمْ مَا اَصَابَهُمْ اِلَّا اَنْ تَكُوْنُوْا بَاكِيْنَ ثُمَّ قَنَّعَ رَأْسَهُ وَ اَسْرَعَ السَّيْرَ حَتّٰى اَجَازَ الْوَادِيَ.

۴۱۸: عبدالله بن محمد. عبدالرزاق. معمر. زهري. سالم بن عبدالله. عبدالله بن عمر نه روايت كوي، ذ هغهٔ بيان دے نبي صلي الله عليه وسلم چه جنګ تبوک ته تلو، او په مقام حجر تيريدلو[۱] نو وے فرمائيل دا ذ ظالمانو زمكه ده، دلته ذ هغوي كورونه وو، ذ هغوي ذ نافرماني په وجه په هغوي عذاب نازل كړے شو، تاسو دغے طرف ته مهٔ ځئ، داسے نه چه په تاسو هم عذاب نازل شي، دے مقام سره په ژړا تيريږئ، بيا حضور خپل مخ مبارک پټ كړلو، او تيزي سره ذ هغے ځائے نه تير شولو.

۱. "حِجرْ" د حضرت صالح عليه السلام د قوم ثمود يانو ذ ښارئے نوم دے. دا همغه قوم دے كوم باندے چه د الله تعالي عذاب د زلزلے او سختو دهماكو (چاؤدنو) او د بجلئ ذ چمک او د تندر د آواز په شكل كښے نازل شوے وو. كله چه حضور اكرم صلي الله عليه وسلم غزوه تبوک د پاره تشريف اوړلو نو دغه مقام په لاره كښے راغلے وو، حجر د شام او مدينے تر مينځه يو ښاريه وه.

۴۱۹: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ دِيْنَارٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِاَصْحَابِ الْحِجْرِ لَا تَدْخُلُوْا عَلٰى هٰؤُلَاۤءِ الْمُعَذَّبِيْنَ اِلَّا اَنْ تَكُوْنُوْا بَاكِيْنَ اَنْ يُصِيْبَكُمْ مِثْلَ مَا اَصَابَهُمْ.

۴۱۹: يحيي بن بكير. مالک. عبدالله بن دينار. حضرت ابن عمر نه روايت كوي، حضور صلي الله عليه وسلم ذ حجر په مقام مسلمانانو ته او فرمائيل، دلته ذ دے ځائے په خلقو عذاب نازل شوے وو، په ژړا او تادئ سره ذ خدائے خوف سره تيريږئ، داسے نه چه، تاسو باندے هم ذ هغوي په شان عذاب نازل شي.

۴۲۰: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ عَنِ اللَّيْثِ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرٰهِيمَ عَنْ نَافِعِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الْمُغِيرَةِ عَنْ أَبِيهِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ ذَهَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِبَعْضِ حَاجَتِهِ فَقُمْتُ أَسْكُبُ عَلَيْهِ الْمَاءَ لَا أَعْلَمُهُ إِلَّا قَالَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ فَغَسَلَ وَجْهَهُ وَ ذَهَبَ يَغْسِلُ ذِرَاعَيْهِ فَضَاقَ عَلَيْهِ كُمُّ الْجُبَّةِ فَأَخْرَجَهُمَا مِنْ تَحْتِ جُبَّتِهِ فَغَسَلَهُمَا ثُمَّ مَسَحَ عَلٰى خُفَّيْهِ.

۴۲۰: يحيي بن بكير. ليث. عبدالعزيز بن ابي سلمه. سعد بن ابراهيم. نافع. ابن جبير. عروه بن مغيره. حضرت مغيره بن شعبه نه روايت كوي، ذَ هغهٔ بيان دے. رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم يو خل رفع حاجت دَ پاره تشريف يوړلو، چه واپس راغے، نو ما اودس دَ پاره ورته اوبه اچولے. حضورؐ مخ اووينځلو، بيائے څنګلو پورے لاسونه اووينزل خو لستوڼي ئے تنګ وو. په دے وجه دواړه لاسونه ئے رابهر کړے وو. بيائے په موزو مسح اوکړله، عروه وائي، څما پلار مغيره دا دَ جنګ تبوک واقعه بيان کړے ده.

۴۲۱: حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ مَخْلَدٍ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ قَالَ حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ يَحْيٰى عَنْ عَبَّاسِ بْنِ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ قَالَ أَقْبَلْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَزْوَةِ تَبُوكَ حَتّٰى إِذَا أَشْرَفْنَا عَلَى الْمَدِينَةِ قَالَ هٰذِهِ طَابَةُ وَ هٰذَا أُحُدٌ جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَ نُحِبُّهُ.

۴۲۱: خالد بن مخلد. سليمان. عمرو بن يحيٰي. عباس بن سهل بن سعد. حضرت ابي حميد ساعدي نه روايت كوي، ذَ هغهٔ بيان دے. مونږ چه نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم سره دَ جنګ تبوک نه واپس شو، او مدينے ته نزدے شو، نو حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل: دا طابه ده (طابه دَ مدينے منورے نوم دے) او دا كوه اُحد دے، چه مونږ سره محبت كوي او مونږ دَ (اُحد) سره محبت كوو.

۴۲۲: حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللّٰهِ أَخْبَرَنَا حُمَيْدُ الطَّوِيلُ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجَعَ مِنْ غَزْوَةِ تَبُوكَ فَدَنَا مِنَ الْمَدِينَةِ فَقَالَ إِنَّ بِالْمَدِينَةِ

۴۲۲: احمد بن محمد. عبداللّٰه بن مبارک. حميد طويل. حضرت انس بن مالک نه روايت كوي، هغه وائي، مونږ دَ جنګ تبوک نه حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم سره واپس راتلو، مدينے ته چه قريب شو، نو حضورؐ اوفرمائيل، مدينه کښې څښے خلق داسے هم دي، چه مدينه کښې پاتے كيدو سره هم هر ځائے کښې تاسو

اَقْوَامًا مَا سِرْتُمْ مَسِيْرًا وَلَا وَادِيًا اِلَّا كَانُوْا مَعَكُمْ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ وَهُمْ بِالْمَدِيْنَةِ فَقَالَ وَهُمْ بِالْمَدِيْنَةِ حَبَسَهُمُ الْعُذْرُ.

سره دي، خلقو تعجب سره عرض اوکړ، يا رسول الله، مدينه کښې (او موني سره دا څنګه) حضور ورته اوفرماليل، هغوي د خپل (ريښتني) عذر په وجه پاتے شوے وو (ګويا، د هغوي زړونه تاسو سره دي).

## باب ۸۲: كِتَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰى كِسْرٰى وَ قَيْصَرَ.

باب ۸۲: د نبي صلي الله عليه وسلم د هغے خطونو بيان، چه کسري او قيصر ته ليکلے وو.

۴۲۳: حَدَّثَنَا اِسْحٰقُ حَدَّثَنَا يَعْقُوْبُ بْنُ اِبْرٰهِيْمَ حَدَّثَنَا اَبِيْ عَنْ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ اَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ اَخْبَرَهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بِكِتَابِهٖ اِلٰى كِسْرٰى مَعَ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ حُذَافَةَ السَّهْمِيِّ فَاَمَرَهُ اَنْ يَدْفَعَهُ اِلٰى عَظِيْمِ الْبَحْرَيْنِ فَدَفَعَهُ عَظِيْمُ الْبَحْرَيْنِ اِلٰى كِسْرٰى فَلَمَّا قَرَاَهُ مَزَّقَهُ فَحَسِبْتُ اَنَّ ابْنَ الْمُسَيَّبِ قَالَ فَدَعَا عَلَيْهِمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يُمَزَّقُوْا كُلَّ مُمَزَّقٍ.

۴۲۳: اسحاق. يعقوب بن ابراهيم. صالح. ابن شهاب. عبيدالله بن عبدالله. حضرت ابن عباسؓ نه روايت کوي، د هغهٔ بيان دے، رسول الله صلي الله عليه وسلم، عبدالله بن حذافه سهمي له خط ورکهٔ، او دَ کسريٰ عامل بحرين منذرين ساوا ته ئے اوليږلو، نو دَ بحرين عامل هغه خط کسريٰ ته واستولو خو هغهٔ چه خط اوليد، نو وے شلولو. دَ زهري بيان دے، ابن مسيب دا بيان هم کړے دے، حضور صلي الله عليه وسلم چه دا خبر واوريد، نو وے فرمائيل، اے الله، ايران واله داسے بسمے بسمے کړے، څنګه چه دا خط ئے بسمے بسمے کړلو.

۴۲۴: حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ الْهَيْثَمِ حَدَّثَنَا عَوْفٌ عَنِ الْحَسَنِ عَنْ اَبِيْ بَكْرَةَ قَالَ لَقَدْ نَفَعَنِيَ اللّٰهُ بِكَلِمَةٍ سَمِعْتُهَا مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَيَّامَ الْجَمَلِ بَعْدَ مَا كِدْتُ اَنْ اَلْحَقَ اَصْحَابَ الْجَمَلِ

۴۲۴: عثمان بن هيثم. عوف. حسن. ابي بکره نه روايت کوي، دَ هغهٔ بيان دے، دَ رسول الله صلي الله عليه وسلم هغے ارشاد ماته ډيره فائده اورسوله، يعني دَ جنګ جمل په ورځ زهٔ دَ بي بي عائشے په لښکر کښې شريک ووم، نزدے وه، چه زهٔ مسلمانانو سره جنګيدلے وے، چه ماته دَ حضور صلي الله عليه وسلم دا ارشاد

فَقَالَ مَعْمَرُ قَالَ لَمَّا بَلَغَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّ اَهْلَ فَارِسَ قَدْ مَلَّكُوْا عَلَيْهِمْ بِنْتَ كِسْرٰى قَالَ لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا اَمْرَهُمْ اِمْرَاَةً.

مبارک را ياد شولو' چه حضورؐ ذ کسرئ د لور د تخت نشيني خبر آوريدلو سره فرمائيلے وو' هغه قوم څنګه کاميابيدے شي' چه خپل کار يوے ښځے ته حواله کړي.

۴۲۵: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ سَمِعْتُ الزُّهْرِيَّ عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدَ يَقُوْلُ اُذْكُرُ اَنِّيْ خَرَجْتُ مَعَ الْغِلْمَانِ اِلٰى ثَنِيَّةِ الْوَدَاعِ نَتَلَقّٰى رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ قَالَ سُفْيَانُ مَرَّةً مَعَ الصِّبْيَانِ.

۴۲۵: علي بن عبدالله. سفيان. زهري. سائب بن يزيد نه روايت کوي' ذ هغهٔ بيان دے' ما نه دا خبره هيره نه ده' چه زهٔ خنے هلکانو سره ثنية الوداع پورے ذ حضور صلي الله عليه وسلّم استقبال له راغلے ووم' کوم وخت چه حضورؐ ذ تبوک نه واپس راتلو. او سفيان دے حديث کښ کله ذ غلمان په ځائے صبيان وئيلے دي.

۴۲۶: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنِ السَّائِبِ اُذْكُرُ اَنِّيْ خَرَجْتُ مَعَ الصِّبْيَانِ نَتَلَقَّى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰى ثَنِيَّةِ الْوَدَاعِ مَقْدَمَهُ مِنْ غَزْوَةِ تَبُوْكَ.

۴۲۶: عبدالله بن محمد. سفيان بن عيينه. زهري. حضرتِ سائب بن يزيد نه روايت کوي' هغهٔ اووے' ماته ياد دي' چه زهٔ هلکانو سره ثنية الوداع پورے ذ حضور صلي الله عليه وسلّم استقبال له تلے ووم' کوم وخت چه حضور صلي الله عليه وسلّم ذ جنګ تبوک نه واپس راتلو.

باب۸۳: مَرَضِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ وَفَاتِهٖ وَ قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى اِنَّكَ مَيِّتٌ وَ اِنَّهُمْ مَيِّتُوْنَ ثُمَّ اِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عِنْدَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُوْنَ وَ قَالَ يُوْنُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ عُرْوَةُ قَالَتْ عَائِشَةُ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ فِيْ مَرَضِهِ الَّذِيْ مَاتَ فِيْهِ يَا عَائِشَةُ مَا اَزَالُ اَجِدُ اَلَمَ الطَّعَامِ الَّذِيْ اَكَلْتُ

باب۸۳: ذ حضور صلي الله عليه وسلّم ذ بيماري او وفات بيان' او ذ الله تعالي ارشاد انک ميّت الخ يعني اے ځمونږ رسوله' بيشکه ته به هم مرے' او دوي به هم مري. بيا به د قيامت په ورځ تاسو ټول ذ خپل رب مخکښ جګړه کوے. او يونس' زهري' عروه' بي بي عائشےؓ نه روايت کوي' هغے اووے' حضور صلي الله عليه وسلّم به خپلے بيمارئ کښ فرمائيل خيبر کښ چه کوم زهر ماته راکړے شوے وو' ذ هغے درد هميشه زهٔ خيته

بِخَيْبَرَ فَهٰذَا اَوَانُ وَجَدُتُّ انْقِطَاعَ اَبْهَرِيْ مِنْ ذٰلِكَ السَّمِّ.

کښې محسوسوم، او اوس داسې معلوميږي چه دا درد، خما رګونه پريکوي.

۴۲۷: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ عَنْ اُمِّ الْفَضْلِ بِنْتِ الْحَارِثِ قَالَتْ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْمَغْرِبِ بِالْمُرْسَلٰتِ عُرْفًا ثُمَّ مَا صَلّٰى لَنَا بَعْدَهَا حَتّٰى قَبَضَهُ اللّٰهُ.

۴۲۷: يحيي بن بكير. ليث. عقيل. ابن شهاب. عبيدالله بن عبدالله. حضرت عبدالله بن عباس. اُم فضل بنت حارث نه روايت کوی، ذ هغې بيان دے، ما د حضور صلي اللّه عليه وسلّم نه ذ مابنام مونځ کښې سورة والمرسلٰت لوستل واوريدل. دے نه پس ذ وفات پورے حضور صلي الله عليه وسلّم هيڅ مونځ (په جمع) ورنهٔ کړلو، ګويا دا ذ حضور صلي الله عليه وسلّم آخري مونځ وو.

۴۲۸: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَرْعَرَةَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ اَبِيْ بِشْرٍ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِؓ يُدْنِيْ ابْنَ عَبَّاسٍ فَقَالَ لَهُ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ اِنَّ لَنَا اَبْنَاءً مِثْلَهُ فَقَالَ اِنَّهُ مِنْ حَيْثُ تَعْلَمُ فَسَاَلَ عُمَرُ ابْنَ عَبَّاسٍ عَنْ هٰذِهِ الْاٰيَةِ اِذَا جَاءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ فَقَالَ اَجَلُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَعْلَمَهُ اِيَّاهُ فَقَالَ مَا اَعْلَمُ مِنْهَا اِلَّا مَا تَعْلَمُ.

۴۲۸: محمد بن عرعره. شعبه. ابي بشر. سعيد بن جبير. ابن عباسؓ نه روايت کوي، حضرت عمرؓ به خان سره کينولم، عبدالرحمٰن اووے، خمونږ خو ذ دهٔ په شان بچي دي (يعني دے خو خمونږ ذ بچي په ځائے دے) نو بيا تاسو دے څنګه خان سره کينوئے، حضرت عمرؓ ورته اوفرمائيل دهٔ سره خما دا سلوک ځکه دے، چه دے ذ علم خاوند دے. بيائے ذ ابن عباسؓ نه ذ: اِذَا جَاءَ نَصْرُ اللّٰهِ: متعلق تپوس اوکړ، نو هغهٔ ورته اووے، دا آيت ذ حضورؐ ذ وفات قريب کيدو په حقله نازل شولو، ګويا دا ذ حضور صلي الله عليه وسلّم وفات ته اشاره ده، او دا شان حضورؐ ته اوښودلے شو، چه اوس د وفات وخت قريب دے، نو حضرت عمرؐ اووے، خما هم دا خيال دے.

۴۲۹: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ سُلَيْمَانَ الْاَحْوَلِ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ

۴۲۹: قتيبه. سفيان. سليمان. سعيد بن جبير. حضرت ابن عباسؓ نه روايت کوي، ذ هغهٔ بيان دے. ذ زيارت (جمعرات) ورځ، ذ زيارت ورځ. او په دے ورځ

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَوْمُ الْخَمِيسِ وَمَا يَوْمُ الْخَمِيسِ اِشْتَدَّ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَعُهُ فَقَالَ اِيْتُوْنِىْ اَكْتُبْ لَكُمْ كِتَابًا لَنْ تَضِلُّوْا بَعْدَهُ اَبَدًا فَتَنَازَعُوْا وَلَا يَنْبَغِىْ عِنْدَ نَبِيٍّ تَنَازُعٌ فَقَالُوْا مَا شَانُهُ اَهَجَرَ اسْتَفْهِمُوْهُ فَذَهَبُوْا يَرُدُّوْنَ عَلَيْهِ فَقَالَ دَعُوْنِىْ فَالَّذِىْ اَنَا فِيْهِ خَيْرٌ مِّمَّا تَدْعُوْنِىْ اِلَيْهِ وَ اَوْصَاهُمْ بِثَلَاثٍ قَالَ اخْرِجُوا الْمُشْرِكِيْنَ مِنْ جَزِيْرَةِ الْعَرَبِ وَ اَجِيْزُوا الْوَفْدَ بِنَحْوِ مَا كُنْتُ اَجِيْزُهُمْ وَ سَكَتَ عَنِ الثَّالِثَةِ اَوْ قَالَ فَنَسِيْتُهَا.

حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ته دَ سخت درد تكليف شولو. حضورؐ ارشاد اوفرمائيلو. دَ ليكلو سامان راوړئ، زهٔ درته يو تحرير ليكم، كه تاسو په هغې عمل او كهٔ، نو بيا به نهٔ گمراه كيږئ. خلق په جګړه (تادئے مادئے) شو، او دَ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم مخكښ جګړه كول ښهٔ نهٔ وو. چا اووې، دَ بيمارئ دَ شدت دَ وجې نه حضورؐ داسې وائي، نو دوباره ترې تپوس اوكړې، خلقو دوباره تپوس شروع كهٔ، نو حضورؐ اوفرمائيل، پريږدئ، زهٔ چه كوم مقام كښې يم، هغه دَ دې نه ښه دې، چه هغې طرف ته تاسو ما بلئ. دې نه پس حضورؐ زباني درې هدايات اوفرمائيل (۱) اول: خما نه پس مشركان دَ جزيرهٔ عرب نه اوكاږئ (۲) دوئم: سفيرانو سره حسن سلوك سره پيش راځئ. سعيد بن جبير اووې، چه ابن عباسؓ نه (۳) دريمه: خبره هيره شوه.

۴۳۰: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ اَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُتْبَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا حُضِرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ فِى الْبَيْتِ رِجَالٌ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلُمُّوْا اَكْتُبْ لَكُمْ كِتَابًا لَا تَضِلُّوْا بَعْدَهُ فَقَالَ بَعْضُهُمْ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ غَلَبَهُ الْوَجَعُ وَ عِنْدَكُمُ الْقُرْاٰنُ حَسْبُنَا كِتَابُ اللّٰهِ فَاخْتَلَفَ اَهْلُ الْبَيْتِ

۴۳۰: علي بن عبداللّٰه. عبدالرزاق. معمر. زهري. عبيداللّٰه بن عبداللّٰه. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي. دَ هغهٔ بيان دې، كوم وخت چه دَ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم دَ وفات وخت قريب راغې، نو حضورؐ اوفرمائيل، چه زهٔ تاسو دَ پاره يو وصيت اوليكم، دَ پاره دَ دې چه گمراه نهٔ شئ. حضرت عمرؓ اووې، دې وخت حضورؐ ته سخت تكليف دې، دَ وصيت ليكلو ضرورت نشته، تاسو سره قرآن شته، او مونږ له قرآن كافي دې. دې نه پس خلقو جګړه شروع كړه، چا وئيلې، او، اودې ليكي، ښهٔ ده چه تاسو به گمراه نهٔ شئ. چا بل څهٔ

وَاخْتَصَمُوْا فَمِنْهُمْ مَنْ يَّقُوْلُ غَيْرُ ذٰلِكَ فَلَمَّا اَكْثَرُوا اللَّغْوَ وَالْاِخْتِلَافَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُوْمُوْا قَالَ عُبَيْدُ اللّٰهِ فَكَانَ يَقُوْلُ ابْنُ عَبَّاسٍ اِنَّ الرَّزِيَّةَ كُلَّ الرَّزِيَّةِ مَا حَالَ بَيْنَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ بَيْنَ اَنْ يَّكْتُبَ لَهُمْ ذٰلِكَ الْكِتٰبَ لِاخْتِلَافِهِمْ وَلَغَطِهِمْ.

اووے، او خبرے شروع شوے، نو حضورؐ اوفرمائیل، خما نه لرے شئ. عبیدالله بن عبدالله وائي، حضرت ابن عباسؓ دے نه پس ډیر افسوس سره اووے، دا څنګه مصیبت دے، چه خلقو د حضور صلي الله علیه وسلم او د حضورؐ د وصیت لیکلو مینځ کښ د خپلو اختلافاتو جګړو په وجه حائل کړلو.

۴۳۱: حَدَّثَنَا بُسْرَةُ بْنُ صَفْوَانَ بْنِ جَمِيْلٍ اللَّخْمِيُّ حَدَّثَنَا اِبْرٰهِيْمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ دَعَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاطِمَةَ عَلَيْهَا السَّلَامَ فِيْ شَكْوَاهُ الَّذِيْ قُبِضَ فِيْهِ فَسَارَّهَا بِشَيْءٍ فَبَكَتْ ثُمَّ دَعَا فَسَارَّهَا فَضَحِكَتْ فَسَأَلْنَا عَنْ ذٰلِكَ فَقَالَتْ سَارَّنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ يُقْبَضُ فِيْ وَجَعِهِ الَّذِيْ تُوُفِّيَ فِيْهِ فَبَكَيْتُ ثُمَّ سَارَّنِيْ فَاَخْبَرَنِيْ اَنِّيْ اَوَّلُ اَهْلِهِ يَتْبَعُهُ فَضَحِكْتُ.

۴۳۱: بسره بن صفوان. ابن جمیل لخمي. ابراهیم بن سعد. سعد. عروه. بي بي عائشےؓ نه روایت کوي، د هغے بیان دے، حضور صلي الله علیه وسلم خپل وفات ته نزدے، بي بي فاطمه راوغښتله، او رو، رو څۀ خبرے ئے ورسره اوکړلے، د هغے آوریدو سره هغه په ژړا شوله. ما د هغے نه (د حضورؐ د وفات نه پس) د هغے ژړا، او خندا وجه اوپښتله، نو هغے اووے، نبي صلي الله علیه وسلم اول دا فرمائیلے وو، چه زۀ به هم دے بیماري کښ وفات شم، او بیائے اوفرمائیل، خما اهل بیتو کښ به د ټولو نه وړمبے تۀ ماسره یوځائے کیږے، نو بیا زۀ خوشحاله شوم.

۴۳۲: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سَعْدٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ اَسْمَعُ اَنَّهُ لَا يَمُوْتُ نَبِيٌّ حَتّٰى يُخَيَّرَ بَيْنَ الدُّنْيَا وَ الْاٰخِرَةِ فَسَمِعْتُ

۴۳۲: محمد بن بشار. غندر. شعبه. سعد. عروه بن زبیر. بي بي عائشےؓ نه روایت کوي، هغے اووے، ما د رسول الله صلي الله علیه وسلم نه آوریدلے وو، نبي ته اختیار ورکولے شي، خواه چه هغه دے جهان کښ اوسي، یا د آخرت قیام خوښوي، نو وفات ته نزدے

النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ فِیْ مَرَضِهِ الَّذِیْ مَاتَ فِیْهِ وَ اَخَذَتْهُ بُحَّةٌ یَقُوْلُ مَعَ الَّذِیْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَیْهِمْ اَلْاٰیَةَ فَظَنَنْتُ اَنَّهٗ خُیِّرَ.

ترې ما واوريدل، چه حضورﷺ دا آيت: مع الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ تلاوت کولو (يعني هغې خلقو سره، چه اللّٰه پرې انعام کړې دې) نو زهٔ پوه شوم، چه حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ته هم اختيار ورکړې شو.

۴۳۳: حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سَعْدٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا مَرِضَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ الْمَرَضَ الَّذِیْ مَاتَ فِیْهِ جَعَلَ یَقُوْلُ فِی الرَّفِیْقِ الْاَعْلٰی.

۴۳۳: مسلم. شعبه. سعد. عروه. بي بي عائشې نه روايت کوي، هغهٔ اووې، کوم وخت چه حضورﷺ دَ وفات مرض کښې شو، نو حضورﷺ به فرمائيل: في الرفيق الاعلٰی: دَ اعلٰی مرتبې رفيقانو کښې م اوساتې.

۴۳۴: حَدَّثَنَا اَبُو الْیَمَانِ اَخْبَرَنَا شُعَیْبٌ عَنِ الزُّهْرِیِّ قَالَ عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَیْرِ اَنَّ عَائِشَةَ قَالَتْ کَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ صَحِیْحٌ یَقُوْلُ اِنَّهٗ لَمْ یُقْبَضْ نَبِیٌّ قَطُّ حَتّٰی یَرٰی مَقْعَدَهٗ مِنَ الْجَنَّةِ ثُمَّ یُحَیَّا اَوْ یُخَیَّرُ فَلَمَّا اشْتَکٰی وَ حَضَرَهُ الْقَبْضُ وَ رَاْسُهٗ عَلٰی فَخِذِ عَائِشَةَ غُشِیَ عَلَیْهِ فَلَمَّا اَفَاقَ شَخَصَ بَصَرُهٗ نَحْوَ سَقْفِ الْبَیْتِ ثُمَّ قَالَ اَللّٰهُمَّ فِی الرَّفِیْقِ الْاَعْلٰی فَقُلْتُ اِذًا لَّا یُجَاوِرُنَا فَعَرَفْتُ اَنَّهٗ حَدِیْثُهُ الَّذِیْ کَانَ یُحَدِّثُنَا وَهُوَ صَحِیْحٌ.

۴۳۴: ابواليمان. شعيب. زهري. عروه بن زبير. بي بي عائشې نه روايت کوي، دَ هغې بيان دې، حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم يو ځلې دَ تندرستئ حالت کښې فرمائيلې وو، هيڅ نبي هغه پورې نهٔ وفات کيږي، څو پورې چه جنت کښې دَ هغهٔ ځائې هغهٔ ته اونهٔ ښودلې شي. بيا هغه ته اختيار ورکړې شي، که هغه غواړي، نو دُنيا کښې دې پاتې شي، اوکه غواړي، نو آخرت دې خوښ کړي، حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم چه کوم وخت ناروغه شو، او (دَ وفات) وخت رانزدې شو، نو حضورﷺ باندې بيهوشي راغله، او وې فرمائيل: اَللّٰهُمَّ فِی الرَّفِیْقِ الْاَعْلٰی: نو ما اووې، چه حضورﷺ مونږ کښې اوسيدل نه خوښوي، او معلومه شوه، چه کومه خبره حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم دَ تندرستي په زمانه کښې فرمايلې وه: هغه پوره کيږي.

۴۳۵: حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ حَدَّثَنَا عَفَّانُ عَنْ صَخْرِ بْنِ جُوَیْرِیَةَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ الْقَاسِمِ عَنْ اَبِیْهِ عَنْ

۴۳۵: محمد بن يحيي. عفان. صخر بن جويريه. عبدالرحمٰن بن قاسم. قاسم بن محمد. بي بي عائشې نه روايت کوي دَ هغې

عَمَّتَهُ دَخَلَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ اَبِيْ بَكْرٍ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ اَنَا مُسْنِدَتُهُ اِلٰى صَدْرِيْ وَ مَعَ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ سِوَاكٌ رَطْبٌ يَسْتَنُّ بِهٖ فَاَبَدَّهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَصَرَهُ فَاَخَذْتُ السِّوَاكَ فَقَصَمْتُهُ وَ نَفَضْتُهُ وَ طَيَّبْتُهُ ثُمَّ دَفَعْتُهُ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَنَّ بِهٖ فَمَا رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِسْتَنَّ اِسْتِنَانًا قَطُّ اَحْسَنَ مِنْهُ فَمَا عَدَا اَنْ فَرَغَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَفَعَ يَدَهُ او اِصْبَعَهُ ثُمَّ قَالَ فِي الرَّفِيْقِ الْاَعْلٰى ثَلَاثًا ثُمَّ قَضٰى وَ كَانَتْ تَقُوْلُ مَاتَ بَيْنَ حَاقِنَتِيْ وَ ذَاقِنَتِيْ.

بيان دے: چه په بيماري كښې حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم خما سينے سره ډډه وهلے وه، چه عبدالرحمٰن بن ابي بكرؓ لاس كښې يو شين مسواك سره راداخل شو، رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم ورته اوكتل نو ما د هغه نه واخستلو، غابنونو سره م نرم كړ او وم وينزلو، او حضورؐ له م وركړلو. حضورؐ په ښه شان سره مسواك اوكړ، چه دے نه مخكښې ما په داسے ښه شان سره مسواك كولو نه وو ليدلے، بيا چه حضورؐ د هغے نه فارغ شو، نو آسمان طرف ته ئے اشاره كولو سره اوفرمائيل: اَللّٰهُمَّ فِي الرَّفِيْقِ الْاَعْلٰى: دا، ئے درے خله اوفرمائيل، او وفات شولو. بي بي عائشهؓ فرمائي، دغه وخت د حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم سر مبارك خما د سينے او زنے (تھوڑی) سره قريب لګيدلے وو.

۴۲۳۶: حَدَّثَنِيْ حِبَّانُ اَخْبَرَنَا عَبْدُ اللّٰهِ اَخْبَرَنَا يُوْنُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ عُرْوَةُ اَنَّ عَائِشَةَ اَخْبَرَتْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا اشْتَكٰى نَفَثَ عَلٰى نَفْسِهٖ بِالْمُعَوِّذَاتِ وَ مَسَحَ عَنْهُ بِيَدِهٖ فَلَمَّا اشْتَكٰى وَجَعَهُ الَّذِيْ تُوُفِّيَ فِيْهِ طَفِقْتُ اَنْفُثُ عَلٰى نَفْسِهٖ بِالْمُعَوِّذَاتِ الَّتِيْ كَانَ يَنْفُثُ وَ اَمْسَحُ بِيَدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

۴۲۳۶: حبان. عبداللّٰه. يونس. ابن شهاب. عروه بن زبير. بي بي عائشےؓ نه روايت كوي، د هغے بيان دے، كوم وخت چه رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم ناروغه شو، نو آخري دوه سورتونه به ئے په خپل لاسونو دم كولے او په ټول جسم به ئے راښكلے. بيا چه حضورؐ د وفات په بيماري كښې شو، نو بيا به ما دغه معوذتين د حضورؐ په لاسونو دم كولے او د حضورؐ په بدن به م

عَنْهُ.

۴۳۷: حَدَّثَنَا مُعَلَّى بْنُ اَسَدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيْزِ بْنُ مُخْتَارٍ حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ عَبَّادِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الزُّبَيْرِ اَنَّ عَائِشَةَ اَخْبَرَتْهُ اَنَّهَا سَمِعَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ اَصْغَتْ اِلَيْهِ قَبْلَ اَنْ يَمُوْتَ وَهُوَ مُسْنِدٌ اِلَيَّ ظَهْرَهُ يَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ وَارْحَمْنِيْ وَ اَلْحِقْنِيْ بِالرَّفِيْقِ الْاَعْلٰى.

زا ښکلې.

۴۳۷: معلي بن اسد. عبدالعزيز. هشام بن عروه. عباد بن عبداللّٰه بن زبير. بي بي عائشې نه روايت کوي، دَ هغې بيان دې. کوم وخت چه دَ حضورٌ دَ وفات وخت قريب شو، حضورٌ به ماته ډډه وهلې وَه، مابه ترې واوريدل، چه حضورٌ به فرمائيل: اللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ وَارْحَمْنِيْ وَ اَلْحِقْنِيْ بِالرَّفِيْقِ الْاَعْلٰى (اے اللّٰه، ما اوبښې، رحم زابانـدې اوکړې، او اوچتو ملګرو سره مې يوځائې کړې).

۴۳۸: حَدَّثَنَا الصَّلْتُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا اَبُوْ عَوَانَةَ عَنْ هِلَالٍ الْوَزَّانِ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ مَرَضِهِ الَّذِيْ لَمْ يَقُمْ مِنْهُ لَعَنَ اللّٰهُ الْيَهُوْدَ اتَّخَذُوْا قُبُوْرَ اَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ قَالَتْ عَائِشَةُ لَوْلَا ذٰلِكَ لَاُبْرِزَ قَبْرُهُ خَشِيَ اَنْ يُتَّخَذَ مَسْجِدًا.

۴۳۸: صلت بن محمد. ابو عوانه. هلال بن حميد وزان. عروه بن زبير بن عوامٌ. بي بي عائشې نه روايت کوي، دَ هغې بيان دې، حضورٌ مرض الموت کښې دَ وفات نه مخکښې فرمائيل، اللّٰه دې په يهودو لعنت اوکړي، هغوي دَ خپلو نبيانو قبرونه سجده ګاه جوړ کړل. بي بي عائشهٌ فرمائي، که دَ دې خبرې انديښنه نه وې، چه خلق به دَ حضورٌ قبر سجده ګاه جوړ کړي، نو دَ حضورٌ قبر به پرانستې پرېښې شوې وو.

۴۳۹: حَدَّثَنَا سَعِيْدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِيْ عُقَيْلٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُوْدٍ اَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ لَمَّا ثَقُلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

۴۳۹: سعيد بن عفير. ليث. عقيل. ابن شهاب. عبيداللّٰه بن عبداللّٰه بن عتبه بن مسعود. بي بي عائشې دَ نبي صلي اللّٰه عليه وسلم تبر نه روايت کوي. دَ هغې بيان دې کوم وخت چه حضورٌ دَ بي بي ميمونې کور کښې ناروغه شو. او مرض شدت اختيار کړه (يعني زيات شو) نو حضورٌ دَ نورو ټولو بيبيانو

وَاشْتَدَّ وَجَعُهُ اسْتَأْذَنَ أَزْوَاجَهُ أَنْ
يُمَرَّضَ فِيْ بَيْتِيْ فَأَذِنَّ لَهُ فَخَرَجَ بَيْنَ
الرَّجُلَيْنِ تَخُطُّ رِجْلَاهُ فِي الْأَرْضِ
بَيْنَ عَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ وَ بَيْنَ
رَجُلٍ اٰخَرَ قَالَ عُبَيْدُ اللّٰهِ فَأَخْبَرْتُ
عَبْدَ اللّٰهِ بِالَّذِيْ قَالَتْ عَائِشَةُ فَقَالَ لِيْ
عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَبَّاسٍ هَلْ تَدْرِيْ مَنِ
الرَّجُلُ الْاٰخَرُ الَّذِيْ لَمْ تُسَمِّ عَائِشَةُ
قَالَ قُلْتُ لَا قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ هُوَ عَلِيٌّ
وَ كَانَتْ عَائِشَةُ زَوْجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُحَدِّثُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا دَخَلَ
بَيْتِيْ وَاشْتَدَّ بِهٖ وَجَعُهُ قَالَ هَرِيْقُوْا
عَلَيَّ مِنْ سَبْعِ قِرَبٍ لَمْ تُحْلَلْ
أَوْكِيَتُهُنَّ لَعَلِّيْ أَعْهَدُ إِلَى النَّاسِ
فَأَجْلَسْنَاهُ فِيْ مِخْضَبٍ لِحَفْصَةَ زَوْجِ
النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ
طَفِقْنَا نَصُبُّ عَلَيْهِ مِنْ تِلْكَ الْقِرَبِ
حَتّٰى طَفِقَ يُشِيْرُ إِلَيْنَا بِيَدِهٖ أَنْ قَدْ
فَعَلْتُنَّ قَالَتْ ثُمَّ خَرَجَ إِلَى النَّاسِ
فَصَلّٰى لَهُمْ وَ خَطَبَهُمْ وَ أَخْبَرَنِيْ
عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُتْبَةَ أَنَّ
عَائِشَةَ وَ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عَبَّاسٍ قَالَا لَمَّا
نَزَلَ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ طَفِقَ يَطْرَحُ خَمِيْصَةً لَهُ عَلٰى
وَجْهِهٖ فَإِذَا اغْتَمَّ كَشَفَهَا عَنْ وَجْهِهٖ

نه اجازت اوغوښتلو، چه حضورؐ دے خما
(بي بي عائشےؓ) کور کښې وي، ټولو اجازت
ورکړلو. نو حضورؐ د حضرت عباسؓ او د يو
بل سړي په سهارا خما کور ته تشريف راوړلو.
د راوي بيان دے، ما د حضرت ابن عباسؓ نه
د هغے بل سړي تحقيق اوکه، نو معلومه
شوه، چه هغه حضرت عليؓ بن ابي طالب وو.
بي بي عائشهؓ فرمائي، خما کور ته چه راغلو،
د حضورؐ تکليف نور هم زيات شولو، حضورؐ
اوفرمائيل، د اوبو اوه (۷) مشکيزے راوړئے،
او په مائے اوبهيوئے، شايد زهٔ ددے قابل
شم، چه څهٔ وصيت اوکړے شم، بي بي
عائشهؓ فرمائي، مونږ د حضورؐ د ټبر بي بي
حفصهؓ په يو لوښي کښې حضورؐ کينولو. او په
حضورؐ مو د مشکيزے نه اوبه اچول شروع
کړل، تر دے چه حضورؐ منع اوفرمائيله
(يعني چه بس دے) نو مونږ بس کړل.
دے نه پس حضورؐ جمات ته تشريف راوړلو،
خلقو ته ئے مونځ ورکړلو. بيائے څهٔ وصيتونه
اوکړل، زهري وائي، ما ته عبيدالله بن عبدالله
اووے، بي بي عائشےؓ او حضرت عبدالله
بن عباسؓ ونيلے، حضورؐ بيماري کښې مخ
په څادر کښې پټولو، او کله چه به ئے زړهٔ
تنګ شو، نو مخ به ئے څرګند کړلو. او
بيائے دغے حالت کښې دا ارشاد فرمائيلو،
په يهود او نصاريٰ دے د خدائے لعنت

فَقَالَ وَهُوَ كَذٰلِكَ يَقُوْلُ لَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الْيَهُوْدِ وَالنَّصَارٰى اتَّخَذُوْا قُبُوْرَ اَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ يُحَذِّرُ مَا صَنَعُوْا اَخْبَرَنِىْ عُبَيْدُ اللّٰهِ اَنَّ عَائِشَةَ قَالَتْ قَدْ رَاجَعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِىْ ذٰلِكَ وَمَا حَمَلَنِىْ عَلٰى كَثْرَةِ مُرَاجَعَتِهٖ اِلَّا اَنَّهٗ لَمْ يَقَعْ فِىْ قَلْبِىْ اَنْ يُحِبَّ النَّاسُ بَعْدَهٗ رَجُلًا قَامَ مَقَامَهٗ اَبَدًا وَّ اِلَّا كُنْتُ اَرٰى اَنَّهٗ لَنْ يَّقُوْمَ اَحَدٌ مَقَامَهٗ اِلَّا تَشَاءَمَ النَّاسُ بِهٖ فَاَرَدْتُّ اَنْ يَّعْدِلَ ذٰلِكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ اَبِىْ بَكْرٍ رَوَاهُ ابْنُ عُمَرَ وَ اَبُوْ مُوْسٰى وَابْنُ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

وي' هغوي دَ خپلو نبيانو دَ قبرونونه سجده ګاه جوړ کړل. حضورؐ به خلق دَ دے خراب حرکت نه منع کول. زهري وائي' عبداللّٰه ماته اووے بي بي عائشے ماته اوفرمائيل' کوم وخت چه خما پلار ابوبکرؓ ته حضورؐ دَ امامت حکم ورکړلو' نو ما څو ځله دا خبره حضورؐ ته اوکړله. خما دا خيال وو' چه کوم سړے دَ حضورؐ په ځائے امام جوړ شي' نو خلق به هيڅ کله هغه ته دَ محبت په نظر نهٔ ګوري' بلکه هغه ته به په بد نظر ګوري' نو ما دا غوښتل' چه حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم هغه دَ امامت نه معاف کړي (امام بخاريؒ وائي) دا حديث عبداللّٰه بن عمرؓ' ابو موسٰي اشعريؓ' ابن عباسؓ هم دَ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم نه روايت کړے دے. (ګويا ټول په دے متفق دي).

۴۴۰: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوْسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِى ابْنُ الْهَادِ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ الْقَاسِمِ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَاتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ اِنَّهٗ لَبَيْنَ حَاقِنَتِىْ وَ ذَاقِنَتِىْ فَلَا اَكْرَهُ شِدَّةَ الْمَوْتِ لِاَحَدٍ اَبَدًا بَعْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

۴۴۰: عبداللّٰه بن يوسف. ليث. ابن الهاد. عبدالرحمٰن بن قاسم. قاسم بن محمد. بي بي عائشےؓ نه روايت کوي' دَ هغے بيان دے' کوم وخت چه حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم وفات شو' نو دَ حضورؐ سر مبارک خما سينے سره لګيدلے وو. او دَ کوم وخت نه چه ما دَ حضور زنکدن ليدلے دے' نو دَ چا دَ مرګ سختي بده نهٔ ګنړم.

۴۴۱: حَدَّثَنِىْ اِسْحٰقُ اَخْبَرَنَا بِشْرُ بْنُ شُعَيْبِ بْنِ اَبِىْ حَمْزَةَ قَالَ حَدَّثَنِىْ اَبِىْ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ

۴۴۱: اسحاق. بشر بن شعيب بن ابي حمزه. ابي حمزه. زهري. عبداللّٰه بن کعب بن مالک انصاري. او کعب بن مالک دَ هغے دريو

أَخْبَرَنِي عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ الْأَنْصَارِيُّ وَ كَانَ كَعْبُ بْنُ مَالِكٍ اَحَدُ الثَّلَاثَةِ الَّذِيْنَ تِيْبَ عَلَيْهِمْ اَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عَبَّاسٍ اَخْبَرَهٗ اَنَّ عَلِيَّ بْنَ اَبِيْ طَالِبٍؓ خَرَجَ مِنْ عِنْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ وَجَعِهِ الَّذِيْ تُوُفِّيَ فِيْهِ فَقَالَ النَّاسُ يَا اَبَا حَسَنٍ كَيْفَ اَصْبَحَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَصْبَحَ بِحَمْدِ اللّٰهِ بَارِئًا فَاَخَذَ بِيَدِهٖ عَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَقَالَ لَهٗ اَنْتَ وَاللّٰهِ بَعْدَ ثَلَاثٍ عَبْدُ الْعَصَا وَ اِنِّيْ وَاللّٰهِ لَاُرٰى رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَوْفَ يُتَوَفّٰى مِنْ وَّجَعِهٖ هٰذَا اِنِّيْ لَاَعْرِفُ وُجُوْهَ بَنِيْ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ عِنْدَ الْمَوْتِ اِذْهَبْ بِنَا اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلْنَسْاَلْهُ فِيْمَنْ هٰذَا الْاَمْرُ اِنْ كَانَ فِيْنَا عَلِمْنَا ذٰلِكَ وَ اِنْ كَانَ فِيْ غَيْرِنَا عَلِمْنَاهُ فَاَوْصٰى بِنَا فَقَالَ عَلِيٌّ اِنَّا وَاللّٰهِ لَئِنْ سَاَلْنَاهَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَنَعَنَاهَا لَا يُعْطِيْنَاهَا النَّاسُ بَعْدَهٗ وَ اِنِّيْ وَاللّٰهِ لَا اَسْاَلُهَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

نه يو وو، ذَ هغوي توبه قبوله شوه، ذَ حضرت ابن عباسؓ نه روايت دے، ذَ هغهٔ بيان دے، حضرت عليؓ ذَ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم نه بهر ته راغے، نو خلقو ذَ حضرت عليؓ نه تپوس اوكهٔ، اے ابوالحسن، ذَ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم مزاج څنګه دے (يعني بيماري ئے څنګه ده) هغهٔ اووے، الحمد للّٰه، اوس ښهٔ دے، نو حضرت عباسؓ ذَ حضرت عليؓ لاس ټينګ اونيولو، او ورته ئے اووے، په خدائے مِ دے قسم وي، درے ورځے پس به تاسو ذَ كوتك (لاٹھی) غلامان شئے، ځكه چه زهٔ پوهيږم، چه حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم به دے بيماري كښې وفات شي، او زهٔ پوهيږم، چه ذَ عبدالمطلب ذَ اولاد مخ ذَ وفات په وخت څنګه كيږي، نو تهٔ او زهٔ به حضورؐ له ورشو، چه معلومه كړو، چه تاسوؐ نه پس به ستاسو جانشين څوك وي. كه حضورؐ بني هاشم ته خلافت وركوي، نو ټيك ده، او كه بل چا ته وركړي، نو هغهٔ ته به مونږ سره ذَ ښهٔ سلوك كولو وصيت اوكړي. حضرت عليؓ جواب وركهٔ، په خدائے مِ دے قسم وي، چه زهٔ به داسے اونهٔ كړم، ځكه كه حضورؐ منع اوكړله، نو خلق به هيڅ كله مونږ بيا جانشين جوړ نهٔ كړي، نو زهٔ تاسره ذَ دے خبرے معلومولو ذَ پاره نشم تلے.

۴۴۲: حَدَّثَنَا سَعِيْدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِيْ

۴۴۲: سعيد بن عفير. ليث. عقيل. ابن شهاب. حضرت انس بن مالكؓ نه روايت

عُقَيْلٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ حَدَّثَنِيْ اَنَسُ بْنُ مَالِكٍ اَنَّ الْمُسْلِمِيْنَ بَيْنَاهُمْ فِيْ صَلٰوةِ الْفَجْرِ مِنْ يَوْمِ الْاِثْنَيْنِ وَ اَبُوْ بَكْرٍ يُصَلِّيْ لَهُمْ لَمْ يَفْجَاْهُمْ اِلَّا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ كَشَفَ سِتْرَ حُجْرَةِ عَائِشَةَ فَنَظَرَ اِلَيْهِمْ وَهُمْ فِيْ صُفُوْفِ الصَّلٰوةِ ثُمَّ تَبَسَّمَ يَضْحَكُ فَنَكَصَ اَبُوْ بَكْرٍ عَلٰى عَقِبَيْهِ لِيَصِلَ الصَّفَّ وَ ظَنَّ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرِيْدُ اَنْ يَّخْرُجَ اِلَى الصَّلٰوةِ فَقَالَ اَنَسٌ وَهَمَّ الْمُسْلِمُوْنَ اَنْ يَفْتَتِنُوْا فِيْ صَلٰوتِهِمْ فَرَحًا بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَشَارَ اِلَيْهِمْ بِيَدِهٖ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ اَتِمُّوْا صَلَاتَكُمْ ثُمَّ دَخَلَ الْحُجْرَةَ وَ اَرْخَى السِّتْرَ.

كوي، ذ هغه بيان دے، مونږ خلقو مسجد نبويٌ كښې حضرت ابوبكرؓ پسے ذ سحر مونځ ادا كولو. نو حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ذ بي بي عائشے ذ حجرے پرده اوچته كړه، مونږ طرف ته ئے اوكتل، چه ټول مونځ كښې مشغول يو، حضورؐ مُسكے شولو. حضرت ابوبكرؓ خيال اوكړ، چه حضورؐ مانځه ذ پاره تشريف راوړي، نو هغه ورستو كيدلو خو حضورؐ اشارے سره منع كړلو. حضرت انسؓ وائي، مسلمانان ډير خوشحاله شو هغوي نيت ماتول غوښتل، چه حضورؐ به ورته خپله مونځ وركړي، خو حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم هغوي طرف ته خپل لاس مبارك سره اشاره اوكړله (ذ هغے مطلب دا وو) چه خپل مونځ پوره كړے، بيا حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم حجرے كښې داخل شو، او پرده ئے راخكته كړله.

۴۴۳: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ حَدَّثَنَا عِيْسٰى بْنُ يُوْنُسَ عَنْ عُمَرَ بْنِ سَعِيْدٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ ابْنُ اَبِيْ مُلَيْكَةَ اَنَّ اَبَا عَمْرٍو وَ ذَكْوَانَ مَوْلٰى عَائِشَةَ اَخْبَرَهُ اَنَّ عَائِشَةَ كَانَتْ تَقُوْلُ اِنَّ مِنْ نِعَمِ اللّٰهِ عَلَيَّ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُوُفِّيَ فِيْ بَيْتِيْ وَ فِيْ يَوْمِيْ وَ بَيْنَ سَحْرِيْ وَ نَحْرِيْ وَ اَنَّ اللّٰهَ جَمَعَ بَيْنَ رِيْقِيْ وَ

۴۴۳: محمد بن عبيد. عيسي بن يونس. عمر بن سعيد. ابن ابي مليكه. ابا عمر. ذكوان (ذ بي بي عائشےؓ آزاد كرده غلام) بي بي عائشےؓ نه روايت كوي، ذ هغے بيان دے، چه دا د خدائے يو نعمت او عنايت دے، چه رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم خما ذ وار په ورځ خما كور كښې خما سينے سره ډډه وهلے خپل رب پله ئے تشريف يوړلو. او ذ وفات په وخت اللّٰه تعالٰي خما او ذ حضورؐ لاړے (لعاب) هم يوځائے كړے. خبره داسے

رِيْقِهٖ عِنْدَ مَوْتِهٖ دَخَلَ عَلَيَّ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ وَ بِيَدِهِ السِّوَاكُ وَ اَنَا مُسْنِدَةٌ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَاَيْتُهٗ يَنْظُرُ اِلَيْهِ وَ عَرَفْتُ اَنَّهٗ يُحِبُّ السِّوَاكَ فَقُلْتُ اٰخُذُهٗ لَكَ فَاَشَارَ بِرَاْسِهٖ اَنْ نَّعَمْ فَتَنَاوَلْتُهٗ فَاشْتَدَّ عَلَيْهِ وَ قُلْتُ اُلَيِّنُهٗ لَكَ فَاَشَارَ بِرَاْسِهٖ اَنْ نَّعَمْ فَلَيَّنْتُهٗ وَ بَيْنَ يَدَيْهِ رَكْوَةٌ اَوْ عُلْبَةٌ يَشُكُّ عُمَرُ فِيْهَا مَاءٌ فَجَعَلَ يُدْخِلُ يَدَيْهِ فِي الْمَاءِ فَيَمْسَحُ بِهِمَا وَجْهَهٗ يَقُوْلُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اِنَّ لِلْمَوْتِ سَكَرَاتٍ ثُمَّ نَصَبَ يَدَهٗ فَجَعَلَ يَقُوْلُ فِي الرَّفِيْقِ الْاَعْلٰى حَتّٰى قُبِضَ وَ مَالَتْ يَدُهٗ.

وه، چه عبدالرحمٰن شين مسواک سره خمونږ کور ته راغے، او حضورٌ ماته ډډه وهلے وه، حضورٌ هغه طرف ته اوکتل نو ما عرض اوکړ، چه تاسو مسواک غواړے حضورٌ اشارے سره اووے، او، نو ما هغه مسواک واخست، غابنونو سره مې نرم کړ، بيا مې حضورٌ له ورکړلو. نو حضورٌ ښۀ شان سره مسواک اوکړلو، او حضورٌ سره دَ اُوبو يو لوښے پروت وو، حضورٌ به خپل لاس اوبو ته دننه کولو، بيا به ئے په مخ راښکلو. اوفرمائيل به ئے: لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اِنَّ لِلْمَوْتِ سَكَرَاتٍ: يعني دَ خدائے نه سِوا بل معبود نشته، بيشکه دَ مرګ لوئے تکليف وي. بيا حضورٌ لاس اوچت کړل، آسمان طرف ته ئے اشاره اوکړه، وے فرمائيل: اَللّٰهم بالرفيق الاعلىٰ: دے نه پس حضورٌ وفات شو، او لاس ئے راخکته شو.

۴۴۴۴: حَدَّثَنَا اِسْمَاعِيْلُ قَالَ حَدَّثَنِيْ سُلَيْمَانُ ابْنُ بِلَالٍ حَدَّثَنَا هِشَامُ ابْنُ عُرْوَةَ اَخْبَرَنِيْ اَبِيْ عَنْ عَائِشَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَسْئَلُ فِيْ مَرَضِهِ الَّذِيْ مَاتَ فِيْهِ يَقُوْلُ اَيْنَ اَنَا غَدًا اَيْنَ اَنَا غَدًا يُرِيْدُ يَوْمَ عَائِشَةَ فَاَذِنَ لَهٗ اَزْوَاجُهٗ يَكُوْنُ حَيْثُ شَاءَ فَكَانَ فِيْ بَيْتِ عَائِشَةَ حَتّٰى مَاتَ عِنْدَهَا قَالَتْ عَائِشَةُ فَمَاتَ فِي الْيَوْمِ الَّذِيْ كَانَ يَدُوْرُ عَلَيَّ فِيْهِ فِيْ بَيْتِيْ فَقَبَضَهُ اللّٰهُ وَ اِنَّ رَاْسَهٗ لَبَيْنَ نَحْرِيْ وَ

۴۴۴۴: اسماعيل. سليمان بن بلال. هشام بن عروه دَ خپل پلار نه، هغه دَ بي بي عائشےؓ نه روايت کوي، دَ هغے بيان دے، رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم دَ خپل مرګ مرض کښ به بيا بيا دريافت کولو، چه: اَيْنَ اَنَا غَدًا، اَيْنَ اَنَا غَدًا: يعني صبا له به زۀ کوم ځائے يم: دَ حضورٌ مطلب دا وو، چه دَ عائشےؓ نمبر به کله راځي، دے حالت ليدو سره دَ حضورٌ بيبيانو اجازت ورکړ، چه ستاسو کوم ځائے خوښه وي، هلته قيام کوے، نو حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم دَ وفات پورے ځما کور کښ مقيم وو. او کوم وخت چه وفات شو، نو هغه ځما دَ نمبر ورځ وه، او اللّٰه تعالي په دے آخر وخت کښ هم ځما دَ

سَحْرِيْ وَ خَالَطَ رِيْقُهُ رِيْقِيْ ثُمَّ قَالَتْ دَخَلَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ ابْنُ اَبِيْ بَكْرٍ وَّ مَعَهُ سِوَاكٌ يَسْتَنُّ بِهٖ فَنَظَرَ اِلَيْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ لَهُ اَعْطِنِيْ هٰذَا السِّوَاكَ يَا عَبْدَ الرَّحْمٰنِ فَاَعْطَانِيْهِ فَقَضِمْتُهُ ثُمَّ مَضَغْتُهُ فَاَعْطَيْتُهُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَنَّ بِهٖ وَهُوَ مُسْتَنِدٌ اِلٰى صَدْرِيْ.

خولے لعاب ذ حضورؐ ذ خولے لعاب (لاړو) سره شامل كړل. خبره داسے وه، چه عبدالرحمٰن (بن ابوبكرؓ) يو شين مسواک په لاس خمونږ كور ته راغے. حضورؐ هغه طرف ته اوكتل، نو ما اووے: اے عبدالرحمٰن، دا مسواک ماته راكړه، هغهٔ راكړلو، نو ما خپلو غاښونو كښ پوست (نرم) كهٔ، بيا م رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم له وركړلو، نو حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم خما سينے سره ډډه وهلے مسواک اوكړلو.

۵۴۴۳: حَدَّثَنَا سُلَيْمٰنُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ اَيُّوْبَ عَنْ اَبِيْ مُلَيْكَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ تُوُفِّيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ بَيْتِيْ وَ فِيْ يَوْمِيْ وَ بَيْنَ سَحْرِيْ وَ نَحْرِيْ وَ كَانَتْ اِحْدَانَا تُعَوِّذُهُ بِدُعَاءٍ اِذَا مَرِضَ فَذَهَبْتُ اُعَوِّذُهُ فَرَفَعَ رَاْسَهُ اِلَى السَّمَآءِ وَ قَالَ فِي الرَّفِيْقِ الْاَعْلٰى فِي الرَّفِيْقِ الْاَعْلٰى وَ مَرَّ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ اَبِيْ بَكْرٍ وَ فِيْ يَدِهٖ جَرِيْدَةٌ رَطْبَةٌ فَنَظَرَ اِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَظَنَنْتُ اَنَّ لَهُ بِهَا حَاجَةً فَاَخَذْتُهَا فَمَضَغْتُ رَاْسَهَا وَ نَفَضْتُهَا فَدَفَعْتُهَا اِلَيْهِ فَاسْتَنَّ بِهَا كَاَحْسَنِ مَا كَانَ مُسْتَنًّا ثُمَّ نَاوَلَنِيْهَا فَسَقَطَتْ يَدُهُ اَوْ سَقَطَتْ مِنْ يَدِهٖ فَجَمَعَ اللّٰهُ بَيْنَ رِيْقِيْ وَ رِيْقِهٖ فِيْ اٰخِرِ

۵۴۴۳: سليمان بن حرب. حماد بن زيد. ايوب. ابن ابي مليكه. بي بي عائشےؓ نه روايت كوي، ذ هغے بيان دے رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم خما كور كښ خما ذ نمبر په ورځ خما سينے سره ډډه وهلے وفات شولو. خمونږ دا دستور وو، چه كله به حضورؐ ناروغه شولو، نو مونږ به حضورؐ ذ پاره دُعا سره شفا طلب كوله، نو ما دا كار شروع كهٔ. رسول اكرم صلي اللّٰه عليه وسلّم آسمان طرف ته نظر اوچت كهٔ او وے فرمائيل في الرفيق الاعلٰي، في الرفيق الاعلٰي. دے كښ عبدالرحمٰن راغے، د هغهٔ لاس كښ شين مسواک وو، حضورؐ هغے مسواک ته اوكتل، زهٔ پوهه شومه، سمدستي م د هغهٔ نه واخست، او غاښونو سره م پوست (نرم) كړلو. حضورؐ په ښهٔ شان سره مسواک اوكهٔ، بيائے هغهٔ مسواک ماته راكولو، چه د حضورؐ د لاس نه اوغرځيدلو. ذ خدائے فضل اوګوره، چه هغه د حضورؐ په آخري ورځ خما د

يَوْمٍ مِنَ الدُّنْيَا وَ اَوَّلِ يَوْمٍ مِنَ الْاٰخِرَةِ.

خولې لعاب هم د حضورﷺ د خولې لعاب سره يوځائې كړلو.

۴۴۲۶: حَدَّثَنَا يَحْيَى ابْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ اَبُوْ سَلَمَةَ اَنَّ عَائِشَةَ اَخْبَرَتْهُ اَنَّ اَبَا بَكْرٍ اَقْبَلَ عَلٰى فَرَسٍ مِنْ مَسْكَنِهٖ بِالسُّنُحِ حَتّٰى نَزَلَ فَدَخَلَ الْمَسْجِدَ فَلَمْ يُكَلِّمِ النَّاسَ حَتّٰى دَخَلَ عَلٰى عَائِشَةَ فَتَيَمَّمَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُغْشًّى بِثَوْبِ حِبَرَةٍ فَكَشَفَ عَنْ وَجْهِهٖ ثُمَّ اَكَبَّ عَلَيْهِ فَقَبَّلَهٗ وَ بَكٰى ثُمَّ قَالَ بِاَبِيْ اَنْتَ وَ اُمِّيْ وَاللّٰهِ لَا يَجْمَعُ اللّٰهُ عَلَيْكَ مَوْتَتَيْنِ اَمَّا الْمَوْتَةُ الَّتِيْ كُتِبَتْ عَلَيْكَ فَقَدْ مُتَّهَا قَالَ الزُّهْرِيُّ وَ حَدَّثَنِيْ اَبُوْ سَلَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ اَبَا بَكْرٍ خَرَجَ وَ عُمَرُ يُكَلِّمُ النَّاسَ فَقَالَ اِجْلِسْ يَا عُمَرُ فَاَبٰى عُمَرُ اَنْ يَجْلِسَ فَاَقْبَلَ النَّاسُ اِلَيْهِ وَ تَرَكُوْا عُمَرَ فَقَالَ اَبُوْ بَكْرٍؓ اَمَّا بَعْدُ مَنْ كَانَ مِنْكُمْ يَعْبُدُ مُحَمَّدًا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ مَاتَ وَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ يَعْبُدُ اللّٰهَ فَاِنَّ اللّٰهَ حَيٌّ لَا يَمُوْتُ قَالَ اللّٰهُ وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ اِلٰى قَوْلِهِ الشَّاكِرِيْنَ

۴۴۲۶: يحيي بن بكير. ليث. عقيل. ابن شهاب. ابو سلمه. بي بي عائشېؓ نه روايت كوي. د هغې بيان دې، حضرت ابوبكرؓ (د حضورﷺ د وفات نه پس) د خپل كور سنح نه مدينې ته راغې، نو مسجد نبوي ته ورغې. بيا خاموشي سره خما كور ته راغې. د حضور صلي الله عليه وسلم مخ مبارك نه ئې كپړه لرې كړه نو ورخكته شو، اوښكل ئې كړلو، او وې ژړل بيائې ارشاد اوفرمائيلو، خما مور پلار دې په تاسو قربان وي، بيشكه الله تعالي به تاسو له دوه ځله مرګ نۀ دركوي، يو رحلت مو واقع شولو. زهري وائي، ماته ابو سلمه د حضرت عبدالله بن عباسؓ نه دا روايت بيان كړے دے، كوم وخت چه ابوبكرؓ بهر ته راووتلو، نو وې ليدل، چه حضرت عمرؓ جمات كښې دا وائي، (حضور صلي الله عليه وسلم وفات شوې نۀ دے، او نه به هغه وخته پورې وفات شي، څو پورې چه ټول منافقان ختم نۀ كړي). حضرت ابوبكرؓ د هغۀ خاموش كول غوښتل، ورته ئې اووې، كينه خو هغۀ نۀ منله، خلق حضرت ابوبكرؓ ته راجمع شو، نو هغۀ تقرير شروع كړ، او وې فرمائيل. اے خلقو واورئ، تاسو كښې چه چا د محمد صلي الله عليه وسلم عبادت كولو، نو هغه وفات شو، او څوك چه ناسو كښې د الله تعالي عبادت كوي، نو الله تعالي ژوندې دے، فوت كيږي نه، بيا هغۀ دا آيت اولوست: وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا

و قال والله لكأن الناس لم يعلموا أن الله أنزل منه الآية حتى تلاها أبوبكر فتلقاها منه الناس كلهم فما أسمع بشرا من الناس إلا يتلوها فأخبرني سعيد بن المسيب أن عمرؓ قال والله ما هو إلا سمعت أبا بكرؓ تلاها فعقرت حتى ما تقلني رجلاي و حتى أهويت إلى الأرض حين سمعته تلاها أن النبي صلى الله عليه وسلم قد مات.

رسولٌ الخ: يعني محمد صلي الله عليه وسلم خو يو رسول دے، د هغوئ نه مخکښ هم رسولان تير شوي دي: ذ ابن عباسؓ بيان دے. کوم وخت چه حضرت ابوبکرؓ دغه آيت تلاوت کۀ، نو داسے معلومه شوه لکه چه څوک د دے آيت نه هډو خبر نۀ وو. بيا چه څوک به ليدے شو، نو دا آيت به ئے لوستلو. زهري وائي، سعيد بن مسيب اووے. حضرت عمرؓ چه دا آيت واوريدلو، نو وے وئيل، دا آيت ما آوريدلے نۀ دے. دغه وخت زۀ اوريدلم او پښے م په رپيدو شوے. زۀ راؤغورځيدم، او معلومه شو، چه حضورؐ واقعي وفات شولو.

۴۴۷: حدثني عبد الله بن أبي شيبة حدثنا يحيى بن سعيد عن سفيان عن موسى بن أبي عائشة عن عبيد الله بن عبد الله بن عتبة عن عائشة وابن عباسؓ أن أبا بكر قبل النبي صلى الله عليه وسلم بعد موته.

۴۴۷: عبدالله. يحيي. سفيان. موسي. موسي بن ابي شيبه. عبيدالله بن عبدالله بن عتبه. بي بي عائشےؓ او حضرت ابن عباسؓ نه روايت کوي، چه حضرت ابوبکرؓ ذ حضورؐ ذ وفات نه پس حضورؐ ښکل کړلو (بوسہ ليا).

۴۴۸: حدثنا علي حدثنا يحيى و زاد قالت عائشة لددناه في مرضه فجعل يشير إلينا أن لا تلدوني فقلنا كراهية المريض للدواء فلما أفاق قال ألم أنهاكم أن تلدوني قلنا كراهية المريض للدواء فقال لا يبقى أحد في البيت إلا لد وأنا أنظر إلا العباس لم يشهدكم

۴۴۸: علي. يحيي. بي بي عائشےؓ نه روايت کوي، هغے اووے. مونږ رسول الله صلي الله عليه وسلم ته دارو ورکول، حضورؐ اشارے سره منع فرمائيله، خو مونږ دا سوچ اوکۀ، چه داسے خو هر يو مريض کوي، نو مونږ پرے دوائي اوڅکوله، څۀ وخت چه حضورؐ ښۀ شولو، نو وے فرمائيل، ما منع کولئے، او تاسو دارو راکړل، ما اووے، څمونږ دا خيال وو، چه ستاسو منع داسے ده څنګه چه ذ بيمار منع کول وي، حضورؐ اوفرمائيل، ښۀ ده، اوس چه کور کښ څومره سړي دي،

رَوَاهُ ابْنُ اَبِي الزِّنَادِ عَنْ هِشَامٍ عَنْ اَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

دَ تهولو خولو كښې دے دوائي واچولے شي، صرف عباسؓ پريږدئے، چه هغه حاضر نه وو. دا حديث عبدالرحمٰن بن ابي الزناد، دَ هشام نه هغهٔ دَ عروه نه، هغهٔ دَ بي بي عائشےؓ نه، هغے دَ حضورؐ نه روايت كړے دے.

۴۴۹: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ اَخْبَرَنَا اَزْهَرُ اَخْبَرَنَا ابْنُ عَوْنٍ عَنْ اِبْرٰهِيمَ عَنِ الْاَسْوَدِ قَالَ ذُكِرَ عِنْدَ عَائِشَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَوْصٰى اِلٰى عَلِيٍّ فَقَالَتْ مَنْ قَالَهُ لَقَدْ رَاَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ اِنِّي لَمُسْنِدَتُهُ اِلٰى صَدْرِي فَدَعَا بِالطَّسْتِ فَانْخَنَثَ فَمَاتَ فَمَا شَعَرْتُ فَكَيْفَ اَوْصٰى اِلٰى عَلِيٍّ.

۴۴۹: عبداللّٰه بن محمد. ازهر. ابن عون. ابراهيم نخعي. حضرت اسود بن يزيد نه روايت كوي، دَ بي بي عائشےؓ مخكښې چا دا خبره اوكړله، چه حضورؐ حضرت عليؓ ځان نه پس جانشين او وصي جوړ كړے وو، هغے اوفرمائيل دا څوک وائي، زهٔ خو خپله موجود ومه. حضورؐ خما په سينه ډډه وهلے وَه حضورؐ خولے كنګالولو دَ پاره لوښے طلب كړلو. بيا حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم وفات شولو، او ماته معلومه نهٔ شوه، چه عليؓ ئے كله وصي او جانشين جوړ كړے دے.

**ف**: وصي: چاته چه وصيت شوے وي. دَ چا په بابت چه وصيت كړے شوے وي. په وصيت عمل كونكے. نيابت كونكے.

۴۵۰: حَدَّثَنَا اَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ مِغْوَلٍ عَنْ طَلْحَةَ قَالَ سَاَلْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ اَبِي اَوْفٰيؓ اَوْصَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَا فَقُلْتُ كَيْفَ كُتِبَ عَلَى النَّاسِ الْوَصِيَّةُ اَوْ اُمِرُوْا بِهَا قَالَ اَوْصٰى بِكِتَابِ اللّٰهِ.

۴۵۰: ابو نعيم. مالک بن مغول. طلحه نه روايت كوي، ما دَ عبداللّٰه بن اوفٰي نه تپوس اوكهٔ، رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم چاته وصيت كړے دے، نو هغهٔ جواب كښې اووے، رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم چاته هيڅ وصيت نهٔ دے كړے. ما اووے، بيا خلقوله څنګه وصيت كول پكار دي. وے فرمائيل، څهٔ چه قرآن كښې ليكلے دي، دَ هغے مطابق عمل كول ضروري دي.

**ف**: دَ قرآن حكم هر چا دَ پاره كافي دے، خواه څوک وصيت اوكړي يا اونهٔ كړي.

۴۵۱: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا اَبُو الْاَحْوَصِ عَنْ اَبِي اِسْحٰقَ عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ قَالَ مَا تَرَكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ

۴۵۱: قتيبه. ابوالاحوص. ابو اسحٰق. معمر. عمرو بن حارثؓ نه روايت كوي، رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم نه دينار پريښودل نهٔ درهم (يعني نه سرهٔ زر،

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دِيْنَارًا وَّلَا دِرْهَمًا وَلَا عَبْدًا وَلَا اَمَةً اِلَّا بَغْلَتَهُ الْبَيْضَآءَ الَّتِيْ كَانَ يَرْكَبُهَا وَ سَلَاحَهُ وَ اَرْضًا جَعَلَهَا لِابْنِ السَّبِيْلِ صَدَقَةً.

نه سپين زر) نه غلام نه وينزه. صرف يوه قچره ترې پاتې شوې وه، چه په هغې به ئې سورلي كوله، او څه لږه شان زمكه، چه حضورؐ خپل ژوند كښې ذ مسافرو ذ ضروورياتو ذ پاره وقف كړې وه.

۴۵۲: حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ ثَابِتٍ عَنْ اَنَسٍ قَالَ لَمَّا ثَقُلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَعَلَ يَتَغَشَّاهُ فَقَالَتْ فَاطِمَةُ عَلَيْهَا السَّلَامُ وَاكَرْبَ اَبَاهُ فَقَالَ لَهَا لَيْسَ عَلٰى اَبِيْكِ كَرْبٌ بَعْدَ الْيَوْمِ فَلَمَّا مَاتَ قَالَتْ يَا اَبَتَاهُ اَجَابَ رَبًّا دَعَاهُ يَا اَبَتَاهُ مَنْ جَنَّةُ الْفِرْدَوْسِ مَأْوَاهُ يَا اَبَتَاهُ اِلٰى جِبْرَئِيْلَ نَنْعَاهُ فَلَمَّا دُفِنَ قَالَتْ فَاطِمَةُ عَلَيْهَا السَّلَامُ يَا اَنَسُ اَطَابَتْ اَنْفُسُكُمْ اَنْ تَحْثُوْا عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ التُّرَابَ.

۴۵۲: سليمان بن حرب. ثابت. حضرت انسؓ نه روايت كوي، رسول الله صلي الله عليه وسلّم ذ مرض ذ زياتوالي په وجه بيهوشه شولو. نو بي بي فاطمےؓ ژړا كښې اووې، افسوس څما بابا جان ته ډير تكليف دې، حضورؐ ورته اوفرمائيل، ذ نن نه پس به بيا نۀ وي. بيا چه حضورؐ وفات شولو، نو بي بي فاطمےؓ ژړا كښې اووې، اې څما بابا جانه، الله تاسو قبول كړلې، اې بابا جانه، ستاسو مقام جنت فردوس دې، هائې څما بابا جانه، زۀ ستاسو ذ وفات خبر جبرائيلؑ ته آوروم. كوم وخت چه حضور صلي الله عليه وسلّم دفن كړې شو، نو بي بي فاطمےؓ انسؓ ته اوفرمائيل، تاسو خلقو دا څنګه برداشت كړې شوه، چه رسول الله صلي الله عليه وسلّم مو په خاورو كښې پټ كړلو. (انا لله و انا اليه راجعون).

ف: قدرتي خبره ده، چه دې حديث مبارك لوستو سره ذ سړي ذ سترګو نه بې اختياره اوښكې روانې شي. الله پاك دې خمونږ ذ حضور صلي الله عليه وسلّم مكمله پيروي نصيب كړي. اللّٰهم آمين.

## باب ۸۴: اٰخِرُ مَا تَكَلَّمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

## باب ۸۴: ذ حضور صلي الله عليه وسلّم ذ وفات نه مخكښې آخري كلام.

۴۵۳: حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ قَالَ يُوْنُسُ قَالَ الزُّهْرِيُّ اَخْبَرَنِيْ سَعِيْدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ فِيْ رِجَالٍ مِنْ اَهْلِ الْعِلْمِ اَنَّ عَائِشَةَ قَالَتْ

۴۵۳: بشر بن محمد. عبدالله. يونس. زهري. سعيد. بي بي عائشےؓ نه روايت كوي، هغې ذ څو معززو حضراتو په موجودګي كښې اووې. حضورؐ به ذ صحت حالت كښې فرمائيل، هر نبي ته جنت كښې ذ هغه ټيكاڼه او مقام ښودلې شي. او بيا هغۀ ته دا اختيار

كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ وَهُوَ صَحِيْحٌ اَنَّهُ لَمْ يُقْبَضْ نَبِيٌّ حَتّٰى يُرٰى مَقْعَدُهٗ مِنَ الْجَنَّةِ ثُمَّ يُخَيَّرُ فَلَمَّا نَزَلَ بِهٖ وَ رَاْسُهٗ عَلٰى فَخِذِيْ غُشِيَ عَلَيْهِ ثُمَّ اَفَاقَ فَاَشْخَصَ بَصَرَهٗ اِلَى سَقْفِ الْبَيْتِ ثُمَّ قَالَ اَللّٰهُمَّ الرَّفِيْقَ الْاَعْلٰى فَقُلْتُ اِذًا لَّا يَخْتَارُنَا وَ عَرَفْتُ اَنَّهُ الْحَدِيْثُ الَّذِيْ كَانَ يُحَدِّثُنَا وَهُوَ صَحِيْحٌ قَالَتْ فَكَانَتْ اٰخِرُ كَلِمَةٍ تَكَلَّمَ بِهَا اَللّٰهُمَّ الرَّفِيْقَ الْاَعْلٰى.

ورکولے شي، که هغه غواړي، نو دُنيا کښې دے اوسيدل خوښ کړي. رسول الله صلي الله عليه وسلم چه ناروغه شو، نو د حضورؐ سر مبارک خما (عائشےؓ) په زنګون پروت وو. حضورؐ سترګے اوغړولے. آسمان طرف ته نے اوکتل وے فرمائيل: اللّٰهم الرفيق الاعلیٰ. زۀ پوه شومه، حضور صلي الله عليه وسلم نه اختيار ور کړے شو. حضورؐ مونږ خلقو کښې اوسيدل نه خوښوي. او زۀ په دے هم پوه شومه، چه دا هغه خبره ده، چه حضورؐ به د تندرستئ په زمانه کښې کوله، او دَ حضور صلي الله عليه وسلم آخري کلام هم دا وو: اللّٰهم الرفيق الاعلیٰ: (يا الله بلند مرتبه ملګرو سره مِ يوځائے کړے).

## باب ٨٥: وَفَاتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

## باب ٨٥: دَ حضور صلي الله عليه وسلم دَ عمر شريف او وفات بيان.

٤٥٤: حَدَّثَنَا اَبُوْ نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ يَحْيٰى عَنْ اَبِيْ سَلَمَةَ عَنْ عَائِشَةَ وَابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَبِثَ بِمَكَّةَ عَشْرَ سِنِيْنَ يَنْزِلُ عَلَيْهِ الْقُرْاٰنُ وَ بِالْمَدِيْنَةِ عَشْرًا.

٤٥٤: ابو نعيم. شيبان. يحيٰي. ابي سلمه. بي بي عائشهؓ او حضرت ابن عباسؓ نه روايت کوي، او حضور صلي الله عليه وسلم دَ نبوّت نه پس لس کاله مکه معظمه کښې مقيم وو. دے دوران کښې قرآن کريم برابر په حضور صلي الله عليه وسلم نازليدلو، بيا په هجرت ئے مدينے ته تشريف راوړلو، او لس کاله ئے قيام اوکړلو.

٤٥٥: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوْسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُوُفِّيَ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَّ سِتِّيْنَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ اَخْبَرَنِيْ سَعِيْدُ

٤٥٥: عبدالله بن يوسف. ليث. عقيل. ابن شهاب. عروه بن زبير. بي بي عائشےؓ نه روايت کوي، دَ هغے بيان دے، حضورؐ دَ درے شپيتو کالو په عمر کښې وفات شولو، دَ ابن شهاب بيان دے، حضرت سعيد بن مسيب هم دغه شان روايت ماته بيان

بْنُ الْمُسَيَّبِ مِثْلَهُ.

کړے دے.

**باب ۸۶:**

**باب ۸۶:** (د دے باب عنوان نشته).

**۴۵۶: حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنِ الْأَسْوَدِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ تُوُفِّيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ دِرْعُهُ مَرْهُونَةٌ عِنْدَ يَهُودِيٍّ بِثَلٰثِيْنَ.**

**۴۵۶:** قبيصه. سفيان. اعمش. ابراهيم. اسود بن يزيد. بي بي عائشے نه روايت دے، د رسول الله صلي الله عليه وسلّم څادر يو يهودي (ابو الشحم) سره د ديرش صاع غلے په عوض کښ ګانړه ايښودے شوے وو، (خو حضورؐ هغه خلاص نهٔ کړے شو، او وفات شولو).

**باب ۸۷: بَعْثُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ فِيْ مَرَضِهِ الَّذِيْ تُوُفِّيَ فِيْهِ.**

**باب ۸۷:** د حضور صلي الله عليه وسلّم مرض الموت کښ د اسامه بن زيدؓ د امير لښکر جوړولو بيان.

**۴۵۷: حَدَّثَنَا أَبُوْ عَاصِمٍ الضَّحَّاكُ بْنُ مَخْلَدٍ عَنِ الْفُضَيْلِ بْنِ سُلَيْمَانَ حَدَّثَنَا مُوْسَى بْنُ عُقْبَةَ عَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيْهِ اسْتَعْمَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُسَامَةَ فَقَالُوْا فِيْهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ بَلَغَنِيْ أَنَّكُمْ قُلْتُمْ فِيْ أُسَامَةَ وَ إِنَّهُ أَحَبُّ النَّاسِ إِلَيَّ.**

**۴۵۷:** ابو عاصم. ضحاک بن مخلد. فضيل بن سليمان. موسٰي بن عقبه. سالم. حضرت عبدالله بن عمرؓ نه روايت کوي، رسول الله صلي الله عليه وسلّم، اسامه بن زيد د لښکر سردار جوړ کړلو، او ملک شام طرف ته ئے اوليږلو، خلقو کښ څهٔ چرچه شروع شوه، نو رسول الله صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، زهٔ پوهيږم څهٔ چه تاسو وائے، حالانکه اسامه څما تاسو کښ د ټولو نه زيات خوښ دے.

**۴۵۸: حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيْلُ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ دِيْنَارٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بَعْثًا وَّ أَمَّرَ عَلَيْهِمْ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ فَطَعَنَ النَّاسُ فِيْ إِمَارَتِهِ فَقَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنْ تَطْعَنُوْا فِيْ إِمَارَتِهِ فَقَدْ كُنْتُمْ**

**۴۵۸:** اسمٰعيل. مالک. عبدالله بن دينار. حضرت عبدالله بن عمرؓ نه روايت کوي، د هغهٔ بيان دے حضور صلي الله عليه وسلّم د اُسامه په سرداري کښ روم طرف ته يو لښکر اوليږلو. او دے لښکر کښ د حضرت ابوبکرؓ او عمرؓ په شان حضرات هم شامل وو، د اسامه په سردارئ بعضے خلقو خبرے شروع کړے، نو رسول الله صلي الله عليه وسلّم خطبه ارشاد اوفرمائيله، چه ستاسو دا روش يعني اسامه بن زيد باندے اعتراض

تَطْعَنُوْنَ فِي اِمَارَةِ اَبِيْهِ مِنْ قَبْلُ وَ اَيْمُ اللّٰهِ اِنْ كَانَ لَخَلِيْقًا لِلْاِمَارَةِ وَ اِنْ كَانَ لَمِنْ اَحَبِّ النَّاسِ اِلَيَّ وَ اِنَّ هٰذَا لَمِنْ اَحَبِّ النَّاسِ اِلَيَّ بَعْدَهٗ.

څهٔ دَ تعجب قابل نهٔ دے' تاسو دَ دهٔ نه مخکښ دَ دهٔ په پلار هم اعتراض کولو' په خدائے مِ دے قسم وي هغه دَ سرداري لائق وو' او خما دَ ټولونه زيات خوښ وو. دغه شان اسامه هم خما خوښ دے.

باب ۸۸:

باب ۸۸: (دا باب بے سرخئ دے).

۴۵۹: حَدَّثَنَا اَصْبَغُ قَالَ اَخْبَرَنِيْ ابْنُ وَهْبٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ عَمْرٌو عَنِ ابْنِ اَبِيْ حَبِيْبٍ عَنْ اَبِي الْخَيْرِ عَنِ الصُّنَابِحِيِّ اَنَّهٗ قَالَ لَهٗ مَتٰى هَاجَرْتَ قَالَ خَرَجْنَا مِنَ الْيَمَنِ مُهَاجِرِيْنَ فَقَدِمْنَا الْجُحْفَةَ فَاَقْبَلَ رَاكِبٌ فَقُلْتُ لَهٗ مَا الْخَبَرُ فَقَالَ دَفَنَّا النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنْذُ خَمْسٍ قُلْتُ هَلْ سَمِعْتَ فِيْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ شَيْئًا قَالَ نَعَمْ اَخْبَرَنِيْ بِلَالٌ مُؤَذِّنُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهٗ فِي السَّبْعِ فِي الْعَشْرِ الْاَوَاخِرِ.

۴۵۹: اصبغ. ابن وهب. عمرو. ابن ابي حبيب. ابي الخير نه روايت کوي هغهٔ اووے' ما دَ صنابحي نه تپوس اوکهٔ' تهٔ دَ کور نه په هجرت کله مدينے ته راغلے ئے' هغهٔ جواب ورکهٔ' مونږ دَ يمن نه دَ هجرت په نيت روان شو' او کوم وخت چه جُحفه ته اورسيدو' نو مونږ ته دَ مدينے منورے نه يو سور (سوار) راغے. مونږ چه دَ هغهٔ نه حالات اُوپښتل' هغهٔ اووے' زهٔ دَ مدينے نه راغلے يم' او نن دَ نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم پنځه ورځے شوے دي' چه حضورؐ وفات شوے دے. ابوالخير وائي' ما دَ صنابحي نه دا تپوس هم اوکهٔ' تاته دَ شب قدر متعلق څهٔ معلومات شته' هغهٔ اووے' ما دَ نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم دَ مؤذن بلالؓ نه آوريدلے دي' شب قدر دَ رمضان دَ آخري عشرے په اوويشتمه شپه وي.

باب ۸۹: كَمْ غَزَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

باب ۸۹: دَ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم دَ غزاګانو او دَ هغے دَ تعداد بيان.

۴۶۰: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ رَجَاءٍ حَدَّثَنَا اِسْرَائِيْلُ عَنْ اَبِيْ اِسْحٰقَ قَالَ سَاَلْتُ زَيْدَ بْنَ اَرْقَمَ كَمْ غَزَوْتَ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَبْعَ عَشْرَةَ قُلْتُ كَمْ غَزَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

۴۶۰: عبدالله بن رجاء. اسرائيل. ابو اسحاق نه روايت کوي' ما دَ حضرت زيد بن ارقم نه تپوس اوکهٔ' رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم څومره غزاګانے کړے دي' او تاته هغوي سره څومره جهادونو کښ دَ شريکيدو موقع حاصله شوے ده' هغهٔ اووے' حضورؐ ټول نورلس جهادونه اوکړل' او زهٔ ورسره اوولس

وَسَلَّمَ قَالَ تِسْعَ عَشْرَةَ.

جهادونو کښې شريک ووم.

۴۲۶۱: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ رَجَاءٍ حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ عَنْ أَبِي إِسْحٰقَ حَدَّثَنَا الْبَرَاءُ قَالَ غَزَوْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمْسَ عَشْرَةَ.

۴۲۶۱: عبدالله بن رجاء. اسرائيل. ابو اسحاق. حضرت بن عازب نه روايت کوي، ذ هغه بيان دے، ما حضور صلي الله عليه وسلم سره پنځلس جهادونو کښې شرکت کړے دے.

۴۲۶۲: حَدَّثَنِي أَحْمَدُ بْنُ الْحَسَنِ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلِ بْنِ هِلَالٍ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرُ بْنُ سُلَيْمَانَ عَنْ كَهْمَسٍ عَنِ ابْنِ أَبِي بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ غَزَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِتَّ عَشْرَةَ غَزْوَةً.

۴۲۶۲: احمد بن حسن. احمد بن محمد بن حنبل بن هلال. معتمر بن سليمان. کهمس. حضرت ابن بريده نه روايت کوي، ذ هغهٔ بيان دے، ځما پلار کهمس. حضرت ابن بريده نه رايت کوي ذ هغهٔ بيان دے، ځما پلار بريده بن حصيب وئيلے، چه ما حضور صلي الله عليه وسلم سره شپاړس جهادونو کښې ذ شرکت سعادت حاصل کړے دے.

# كِتَابُ التَّفْسِيرِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اِسْمَانِ مِنَ الرَّحْمَةِ الرَّحِيْمُ وَالرَّاحِمُ بِمَعْنًى وَاحِدٍ كَالْعَلِيْمِ وَالْعَالِمِ.

# كتاب التفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

رحمٰن او رحيم دواړه لفظونه ذ لفظ رحمت نه جوړ شوے دي، او ذ دوړه يو معني دي يعني مهربان، څنګه چه ذ عليم او عالم يو معني دي، يعني پوهيدونکے.

باب ۹۰: مَا جَاءَ فِي فَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَ سُمِّيَتْ أُمَّ الْكِتَابِ أَنَّهُ يُبْدَأُ بِكِتَابَتِهَا فِي الْمَصَاحِفِ وَ يُبْدَأُ بِقِرَآئِتِهَا فِي الصَّلٰوةِ وَالدِّيْنُ الْجَزَآءُ فِي الْخَيْرِ وَ الشَّرِّ كَمَا تَدِيْنُ تُدَانُ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ بِالدِّيْنِ بِالْحِسَابِ مَدِيْنِيْنَ مُحَاسَبِيْنَ.

باب ۹۰: ذ سورهٔ فاتحه تفسير او فضيلت. دے ته أم الكتاب هم وئيلے شي، ځکه چه دا ذ ټولو سورتونو نه مخکښې ليکلے شي، او مانځه کښې هم ذ ټولو نه مخکښې دا لولي. او ذ دين معني دي جزا (ښهٔ يا بده) لکه چه وائي، چه څهٔ کري، هغه به ريبي، مجاهد اووے، ذ "بالدين" معني دي "حساب" دغه شان ذ مدينين معني دي "حساب کړے شو".

۴۶۳: حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيٰى عَنْ شُعْبَةَ قَالَ حَدَّثَنِيْ خُبَيْبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ عَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُعَلّٰى قَالَ كُنْتُ اُصَلِّيْ فِي الْمَسْجِدِ فَدَعَانِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ اُجِبْهُ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنِّيْ كُنْتُ اُصَلِّيْ فَقَالَ اَلَمْ يَقُلِ اللّٰهُ اسْتَجِيْبُوْا لِلّٰهِ وَ لِلرَّسُوْلِ اِذَا دَعَاكُمْ ثُمَّ قَالَ لِيْ لَاُعَلِّمَنَّكَ سُوْرَةً هِيَ اَعْظَمُ السُّوَرِ فِي الْقُرْاٰنِ قَبْلَ اَنْ تَخْرُجَ مِنَ الْمَسْجِدِ ثُمَّ اَخَذَ بِيَدِيْ فَلَمَّا اَرَادَ اَنْ يَّخْرُجَ قُلْتُ لَهٗ اَلَمْ تَقُلْ لَاُعَلِّمَنَّكَ سُوْرَةً هِيَ اَعْظَمُ سُوْرَةٍ فِي الْقُرْاٰنِ قَالَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ هِيَ السَّبْعُ الْمَثَانِيْ وَالْقُرْاٰنُ الْعَظِيْمُ الَّذِيْ اُوْتِيْتُهٗ.

۴۶۳: مسدد. يحيي. شعبه. خبيب بن عبدالرحمن. حفص بن عاصم. ابي سعيد بن معلي نه روايت كوي' د هغه بيان دے' ما مسجد نبي كښ يوه ورځ مونځ كولو' رسول الله صلي الله عليه وسلم زه اوغبنتلم' د مانځه نه چه فارغ شوم' زه حاضر شوم' او عرض م اوكه' يا رسول الله ما مونځ كولو' ځكه حاضريدو كښ رانه تاخير اوشولو. حضورٌ اوفرمائيل' آيا الله تعالي دا حكم نه دے كړے' چه كله تاسو د الله رسول اوبلي' نو سمدستي د هغه خدمت كښ حاضريږئے. بيا حضورٌ ارشاد اوفرمائيلو' قبل د دے نه چه زه د جُمات نه لاړ شم' تاته به د قرآن شريف يو داسے سورة اوښائم' چه د ثواب د لحاظ نه د ټولو نه لوئے دے. بيا حضورٌ خما لاس اونيولو 'و بهرته وتلو' ما ورته ياد كړلو' نو ارشاد ئے اوفرمائيلو' هغه د الحمد سورة دے. او دے كښ اوه آيتونه دي. دا هر ركعت كښ لوستے شي. دے آيتونو ته سبع مثاني وائي' او دا هغه قرآن عظيم دے' چه ماته عطا كړے شوے دے.

## بَاب ۱۹۰: غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ.

## باب ۱۹۰: د غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ تفسير.

۴۶۴: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوْسُفَ اَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ سُمَيٍّ عَنْ اَبِيْ صَالِحٍ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا قَالَ الْاِمَامُ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ فَقُوْلُوْا اٰمِيْنَ فَمَنْ وَّافَقَ قَوْلُهٗ قَوْلَ الْمَلٰٓئِكَةِ غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ

۴۶۴: عبدالله بن يوسف. امام مالك. سمي. ابو صالح. حضرت ابوهريرهٌ نه روايت كوي' د هغه بيان دے' رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل' كوم وخت چه امام "غير المغضوب عليهم ولا الضالين" او وائي' نو تاسوله آمين وئيل پكار دي' د چا آمين چه د ملائكو سره يو ځائے شي' نو د هغه ورمنئ ګناه

مِنۡ ذَنۡبِهٖ.

**باب ۹۲ : سُوۡرَةَ الۡبَقَرَةِ.**

**باب ۹۳ : قَوۡلُهٗ وَ عَلَّمَ اٰدَمَ الۡاَسۡمَآءَ كُلَّهَا.**

**۴٦٥ :** حَدَّثَنَا مُسۡلِمُ بۡنُ اِبۡرٰهِيۡمَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ عَنۡ اَنَسٍؓ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ وَ قَالَ لِيۡ خَلِيۡفَةُ حَدَّثَنَا يَزِيۡدُ بۡنُ زُرَيۡعٍ حَدَّثَنَا سَعِيۡدٌ عَنۡ قَتَادَةَ عَنۡ اَنَسٍؓ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَجۡتَمِعُ الۡمُؤۡمِنُوۡنَ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ فَيَقُوۡلُوۡنَ لَوِ اسۡتَشۡفَعۡنَا اِلٰى رَبِّنَا فَيَاۡتُوۡنَ اٰدَمَ فَيَقُوۡلُوۡنَ اَنۡتَ اَبُو النَّاسِ خَلَقَكَ اللّٰهُ بِيَدِهٖ وَ اَسۡجَدَ لَكَ مَلٰٓئِكَتَهٗ وَ عَلَّمَكَ اَسۡمَآءَ كُلِّ شَيۡءٍ فَاشۡفَعۡ لَنَا عِنۡدَ رَبِّكَ حَتّٰى يُرِيۡحَنَا مِنۡ مَّكَانِنَا هٰذَا فَيَقُوۡلُ لَسۡتُ هُنَاكُمۡ وَ يَذۡكُرُ ذَنۡبَهٗ فَيَسۡتَحۡيِيۡ فَيَقُوۡلُ اِئۡتُوۡا نُوۡحًا فَاِنَّهٗ اَوَّلُ رَسُوۡلٍ بَعَثَهُ اللّٰهُ اِلٰى اَهۡلِ الۡاَرۡضِ فَيَاۡتُوۡنَهٗ فَيَقُوۡلُ لَسۡتُ هُنَاكُمۡ وَ يَذۡكُرُ سُؤَالَهٗ رَبَّهٗ مَا لَيۡسَ لَهٗ بِهٖ عِلۡمٌ فَيَسۡتَحۡيِيۡ فَيَقُوۡلُ اِئۡتُوۡا خَلِيۡلَ الرَّحۡمٰنِ فَيَاۡتُوۡنَهٗ فَيَقُوۡلُ لَسۡتُ

معاف شي.

**باب ۹۲ : دَ سورهٔ بقره تفسير.**

**باب ۹۳ : وَ عَلَّمَ اٰدَمَ الۡاَسۡمَآءَ كُلَّهَا تفسير.**

**۴٦٥ :** مسلم بن ابراهيم. هشام. قتاده. حضرت انسؓ (دوئم سند) خليفه. يزيد بن زريع. سعيد. قتاده. حضرت انسؓ نه روايت كوي، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل، دَ قيامت په ورځ به مسلمانان خپلو كښې وائي، چه دَ الله تعالىٰ په بارګاه كښې دَ چا سفارش راوستل پكار دي، نو ټول به آدم عليه السلام له ورشي، او هغهٔ ته به وائي، تاسو دَ ټولو انسانانو پلار، ئې، الله خپل لاس سره جوړ كړے ئې، په ملائكو ئې درته سجده اوكړله، او بيا دَ ټولو څيزونو نومونه ئې درته اوښودل نو تاسو دَ الله په بارګاه كښې څمونږ ټولو سفارش اوكړے، چه دا مصيبت ختم شي، او مونږ په آرام شو، حضرت آدمؑ به ورته فرمائي نن ماته خپله ګناه راياديږي، ماته دَ پروردګار بارګاه ته تلو كښې حجاب معلوميږي، تاسو ټول نوح عليه السلام له ورشئ، هغه دَ الله دَ طرف نه په زمكه كښې وړمبنے نبي جوړ كړے شوے دے نو ټول به دَ هغهٔ خدمت كښې حاضر شي، او خپل درخواست به پيش كړي، هغه به ورته وائي، نن ما كښې دا همت نشته، ما ته خپله دَ هغهٔ بارګاه كښې شرم راځي، نو تاسو ټول دَ حضرت ابراهيم عليه السلام خدمت كښې حاضر شئ، نو ټول به خليل الله ته ورشي، او هغه ته به خپل حاجت بيان كړي، هغه به ورته فرمائي زهٔ دَ دے قابل چرته يم، تاسو ټول موسىٰ عليه السلام له

مِنْ كُمْ ائْتُوا مُوسٰى عَبْدًا كَلَّمَهُ اللّٰهُ وَ اَعْطَاهُ التَّوْرٰةَ فَيَأْتُوْنَهُ فَيَقُوْلُ لَسْتُ هُنَاكُمْ وَ يَذْكُرُ قَتْلَ نَفْسٍ بِغَيْرِ نَفْسٍ فَيَسْتَحْيِيْ مِنْ رَبِّهِ فَيَقُوْلُ ائْتُوْا عِيْسٰى عَبْدَ اللّٰهِ وَ رَسُوْلَهُ وَ كَلِمَةَ اللّٰهِ وَ رُوْحَهُ فَيَقُوْلُ لَسْتُ هُنَاكُمْ ائْتُوْا مُحَمَّدًا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَبْدًا غَفَرَ اللّٰهُ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَاَخَّرَ فَيَأْتُوْنِيْ فَانْطَلِقُ حَتّٰى اَسْتَأْذِنَ عَلٰى رَبِّيْ فَيُؤْذَنُ فَاِذَا رَاَيْتُ رَبِّيْ وَقَعْتُ سَاجِدًا فَيَدَعُنِيْ مَا شَآءَ اللّٰهُ ثُمَّ يُقَالُ ارْفَعْ رَاْسَكَ وَ سَلْ تُعْطَهْ وَ قُلْ يُسْمَعْ وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ فَاَرْفَعُ رَاْسِيْ فَاَحْمَدُهُ بِتَحْمِيْدٍ يُعَلِّمُنِيْهِ ثُمَّ اَشْفَعُ فَيُحَدُّ لِيْ حَدًّا فَاُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ ثُمَّ اَعُوْدُ اِلَيْهِ الثَّالِثَةَ ثُمَّ اَعُوْدُ الرَّابِعَةَ فَاَقُوْلُ مَا بَقِيَ فِي النَّارِ اِلَّا مَنْ حَبَسَهُ الْقُرْاٰنُ وَ وَجَبَ عَلَيْهِ الْخُلُوْدُ قَالَ اَبُوْ عَبْدِ اللّٰهِ اِلَّا مَنْ حَبَسَهُ الْقُرْاٰنُ يَعْنِيْ

ورشي، هغه كليم الله دے، او خدائے تعالي هغهٔ ته تورات ور كړے دے، ټول خلق چه حاضر خدمت شي، نو هغه به ورته وائي، ما كښې دا همت نشته، ملته ذ يو سړي د ناحق خون خيال بارګاه الهي ته ذ تلو نه مانع دے، نو تاسو ټول عيسي عليه السلام له ورشئ، هغه روح الله، ذ الله بنده او كلمة الله دے، ټول به هغهٔ له ورشي، هغه به ورته وائي، زهٔ ذ دے لائق نهٔ يم، تاسو ټول محمّد رسول الله صلي الله عليه وسلّم له ورشئ، چه الله ذ هغوي مخكني او ورستني ټول ګناهونه معاف كړے دي، نو زه به ذ الله په بارګاه كښې به ذ حاضريدو اجازت اوغواړم، په اجازت موندو به زه په سجده پريوځم، او څو پورے چه الله ته منظوره وي، زهٔ به سجده كښې يم. بيا به حكم الهي اوشي اے محمدهٔ، سر ذ سجدے نه اوچت كړه، غواړه څهٔ غواړے، مونږ به آورو، او ستا سفارش به قبلوو، نو زهٔ به سر اُوچت كړم، او ذ الله هغه تعريف به اوكړم، چه ماته به ذ هغهٔ ذ طرف نه اوښودلے شي. هغے نه پس به سفارش كوم، چه ذ هغے حد به مقرر كړے شي زهٔ به يوه ډله جنت كښې داخله كړم، بيا به راشم، په سجده به پريوځم، او هغه كيفيت به شي، كوم چه مخكښې شوے وو. بيا به يوه ډله جنت كښې داخله كړم، رابه شم. بيا په دريم ځل به ئے هم داخل كړم. بيا په څلورم ځل به هم سفارش اوكړم. بيا به خپل رب ته عرض اوكړم، اوس هغه باقي پاتے شوے دي، چه هغه قرآن منع كړے دي او هغوي هميشه ذ پاره دوزخ كښې پاتے كيدونكي دي. امام بخاريؒ فرمائي، دوزخ كښې به هغه خلق هميشه وي، چه هغوي

قَوْلَ اللّٰهِ تَعَالٰى خَالِدِيْنَ فِيْهَا.

دَ پاره قرآن کښې: خَالِدِيْنَ فِيْهَا. وارد شوي دي.

بَاب ۹۴: قَالَ مُجَاهِدٌ اِلٰى شَيَاطِيْنِهِمْ اَصْحَابِهِمْ مِنَ الْمُنَافِقِيْنَ وَالْمُشْرِكِيْنَ مُحِيْطٌ بِالْكٰفِرِيْنَ اللّٰهُ جَامِعُهُمْ عَلَى الْخٰشِعِيْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ حَقًّا قَالَ مُجَاهِدٌ بِقُوَّةٍ يَّعْمَلُ بِمَا فِيْهِ وَ قَالَ اَبُو الْعَالِيَةِ مَرَضٌ شَكٌّ صِبْغَةٌ دِيْنٌ وَمَا خَلْفَهَا عِبْرَةٌ لِّمَنْ بَقِيَ لَاشِيَةَ فِيْهَا لَا بَيَاضَ وَ قَالَ غَيْرُهُ يَسُوْمُوْنَكُمْ يُوَلُّوْنَكُمْ الْوِلَايَةَ مَفْتُوْحَةٌ مَصْدَرُ الْوَلَاءِ وَ هِيَ الرَّبُوْبِيَّةُ وَ اِذَا كُسِرَتِ الْوَاوُ فَهِيَ الْاِمَارَةُ وَ قَالَ بَعْضُهُمُ الْحُبُوْبُ الَّتِيْ تُوْكَلُ كُلُّهَا فُوْمٌ فَادَّارَأْتُمْ اخْتَلَفْتُمْ وَ قَالَ قَتَادَةُ فَبَاءُوْا فَانْقَلَبُوْا وَ قَالَ غَيْرُهُ يَسْتَفْتِحُوْنَ يَسْتَنْصِرُوْنَ شَرَوْا بَاعُوْا رَاعِنَا مِنَ الرَّعُوْنَةِ اِذَا اَرَادُوْا اَنْ يُّحَمِّقُوْا اِنْسَانًا قَالُوْا رَاعِنًا لَا تَجْزِيْ لَا تُغْنِيْ اِبْتَلٰى اِخْتَبَرَ خُطُوَاتِ مِنَ الْخَطْوِ وَالْمَعْنٰى اٰثَارُهٗ.

**باب ۹۴:** دَ مجاهد بيان دے' چه شياطين نه منافق او مشرک مراد دي' او د: محيط بالكافرين: مطلب دادے چه اللّٰه تعالٰي به كافر راجمع كړي. او: علي الخاشعين: نه ايمان واله مراد دي' او مجاهد وائي' بقوة: نه عمل مراد دے. او دَ ابو العاليه بيان دے' د: مرض: معني دَ شک دي' او دَ: صبغة: معني د دين دي' او: وَمَا خَلْفَهَا: نه مراد دا دے' چه دَ ورستو خلقو دَ پاره عبرت دے' چه قائم وي. او: لاشية فيها: مطلب دادے' دے کښې سفيدي نشته. ابو العاليه اووے' دَ: يسومونكم: معني دي چه تاسو ته ئے هميشه تكليف رسولو. او: ولاية: كه دَ واو' زير سره اولوستے شي' نو معني دي اميري' او كه زبر سره اولوستے شي' نو دَ: ربوبيت: معني دي' او دَ بعضو خيال دے' چه كومه غله خوړلے شي' هغے ته: فوم: وائي' او: فادارا‌تم: يعني تاسو اختلاف اوكړ. قتاده اووے: فَبَاءُوْا: معني دي واپس شو' يستفتحون: معني دي' مدد' ئے غوښتلو. او دَ: شَرَوْا: معني بَاعُوْا: دي. راعنا: دَ رعونت نه جوړ شوے دے په معني دَ بيوقوف' ځكه عرب احمق ته: راعن: وائي. لا تجزي: معني په هيڅ كار نۀ راځي. ابتلا معني آزمائش. خطوات دَ: خطوه: جمع ده' معني دي' آثار' يعني دَ قدمونو نښے.

بَاب ۹۵: قَوْلِهٖ تَعَالٰى فَلَا تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا وَّ اَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ.

**باب ۹۵:** آيت: فَلَا تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا وَّ اَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ (دَ اللّٰهَ تعالٰي فرمان' چه اللّٰه سره څوک شريک مۀ جوړوئے' حالانكه تاسو پوهيږئے).

۴۶۶: حَدَّثَنِیُ عُثْمَانُ بْنُ اَبِیُ شَیْبَةَ قَالَ حَدَّثَنَا جَرِیُرٌ عَنْ مَنْصُوْرٍ عَنْ اَبِیُ وَائِلٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُرَحْبِیْلٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ سَاَلْتُ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَیُّ الذَّنْبِ اَعْظَمُ عِنْدَ اللّٰهِ قَالَ اَنْ تَجْعَلَ لِلّٰهِ نِدًّا وَهُوَ خَلَقَكَ قُلْتُ اِنَّ ذٰلِكَ لَعَظِیْمٌ قُلْتُ ثُمَّ اَیٌّ قَالَ وَ اَنْ تَقْتُلَ وَلَدَكَ تَخَافُ اَنْ یَّطْعَمَ مَعَكَ قُلْتُ ثُمَّ اَیٌّ قَالَ اَنْ تُزَانِیَ حَلِیْلَةَ جَارِكَ.

۴۶۶: عثمان بن ابي شیبه. جریر. منصور. ابو وائل. عمرو بن شرحبیل. حضرت عبدالله بن مسعود نه روایت کوي، ما ذ نبي صلي الله علیه وسلّم نه تپوس اوکهٔ، ذ خدائے په نزد ذ ټولونه لویه ګناه کومه ده، حضورﷺ جواب راکړلو، دا چه ته الله سره شوک برابر کړے، حالانکه هغهٔ ته پیدا کړے ئے. ما عرض اوکهٔ، صحیح ده، او دے نه پس بله لویه ګناه کومه ده. حضورﷺ اوفرمائیل، خپل آولاد ذ دے اندیښنے نه وژل، چه ذ هغوي خوراک او پرورش به ئے کول وي. ما اووے، صحیح ده. دے نه پس بیا کومه ګناه ده، حضورﷺ اوفرمائیل، ذ خپل همسایه ښځے سره زنا کول.

باب ۹۶: قَوْلِهٖ تَعَالٰی وَ ظَلَّلْنَا عَلَیْكُمُ الْغَمَامَ وَ اَنْزَلْنَا عَلَیْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰی كُلُوْا مِنْ طَیِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ وَمَا ظَلَمُوْنَا وَلٰكِنْ كَانُوْا اَنْفُسَهُمْ یَظْلِمُوْنَ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ الْمَنُّ صَمْغَةٌ وَالسَّلْوٰی طَیْرٌ.

باب ۹۶: آیت: وَ ظَلَّلْنَا عَلَیْكُمُ الْغَمَامَ وَ اَنْزَلْنَا عَلَیْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰی كُلُوْا مِنْ طَیِّبَاتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ وَمَا ظَلَمُوْنَ وَلٰكِنْ كَانُوْا اَنْفُسَهُمْ یَظْلِمُوْنَ ذ دے آیت په تفسیر کښ ذ مجاهد بیان دے، چه: منّ: ذ یوے اُونے کوند (چیړ) دے (چه هغے ته ترنجبین وائي) او: سلوٰي: ذ یوے مرغئے نوم دے (چه هغے ته بټیر یا مرز وائي).

۴۶۷: حَدَّثَنَا اَبُوْ نُعَیْمٍ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْیٰنُ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ عَنْ عَمْرِو بْنِ حُرَیْثٍ عَنْ سَعِیْدٍ قَالَ قَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ الْكَمْاَةُ مِنَ الْمَنِّ وَمَآءُ هَا شِفَآءٌ لِّلْعَیْنِ.

۴۶۷: ابو نعیم. سفیان. عبدالملک. عمرو بن حریث. سعید بن زید نه روایت دے، ذ هغهٔ بیان دے، حضور صلي الله علیه وسلّم ارشاد اوفرمائیلو، چه خَرېړے هم د مَنْ نه دے، او ذ دے اُوبه ذ سترګو ذ بیمارو ذ پاره مفید وي.

ف: معلومه شوه، چه ذ خَرېړي اُوبه ذ سترګو ذ بیمارو ذ پاره مفید وي، ډاکټرانو او حکیمانو له دا نوټ کول پکار دي.

باب ۹۷: قَوْلِهٖ تَعَالٰی وَ اِذْ قُلْنَا ادْخُلُوْا هٰذِهِ الْقَرْیَةَ فَكُلُوْا مِنْهَا

باب ۹۷: آیت: وَ اِذْ قُلْنَا ادْخُلُوْا هٰذِهِ الْقَرْیَةَ فَكُلُوْا مِنْهَا حَیْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا

حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا وَّادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَّ قُوْلُوْا حِطَّةٌ نَّغْفِرْلَكُمْ خَطَايَاكُمْ وَ سَنَزِيْدُ الْمُحْسِنِيْنَ رَغَدًا وَاسِعٌ كَثِيْرٌ.

وَادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَّ قُوْلُوْا حِطَّةٌ نَّغْفِرْلَكُمْ خَطَايَاكُمْ وَ سَنَزِيْدُ الْمُحْسِنِيْنَ: دَ تفسير بيان. رَغَدًا: معني دي فراغت، وسعت، او ډېر شان.

۴۲۶۸: حَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ مَهْدِيٍّ عَنِ ابْنِ الْمُبَارَكِ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قِيْلَ لِبَنِيْ اِسْرَآئِيْلَ ادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَ قُوْلُوْا حِطَّةٌ فَدَخَلُوْا يَزْحَفُوْنَ عَلٰى اَسْتَاهِهِمْ فَبَدَّلُوْا فَقَالُوْا حِطَّةٌ حَبَّةٌ فِيْ شَعْرَةٍ.

۴۲۶۸: محمد. عبدالرحمن بن مهدي. ابن المبارک. معمر. همام بن منبه. حضرت ابو هريرةؓ نه روايت کوي، رسول الله صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، بني اسرائيلو ته حکم ورکړے شوے وو، چه دَ ښار په دروازه ډيرے عاجزي سره داخليږئ، او خپلے ژبے سره حطة حطة وائے، يعني ښښنه غواړئ، خو هغوي داسے اوکړل، چه په زمکه په راښکلو (ګسي) داخل شُو. او: حطة: ئے پريښودلو: حبة في شعرة: يعني (غنم وربشو کښ) وئيل ئے شروع کړل.

**ف**: الله تعالٰي بني اسرائيلو ته حکم کړے وو، چه حِطَّةٌ وئيلو سره ځے، يعني خمونږ ګناه لرے کړے، معاف کړے، خو هغوي ترے ټوقه جوړه کړه، هغه دا چه وئيلے ئے، حِنْطَةٌ فِيْ شَعِيْرَةٍ (يعني غنم وربشو کښ) يا دانه وړي کښ. مطلب دا چه: حَبَّةٌ فِيْ شَعْرَةٍ: يو مهمل کلام دے، چه بني اسرائيلو وئيلو.

## بَابُ ۹۸: قَوْلُهُ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيْلَ وَ قَالَ عِكْرِمَةُ جِبْرَ وَمِيْكَ وَ سَرَافُ عَبْدٌ اِيْلُ اللّٰهُ.

باب ۹۸: آيت: مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيْلَ: تفسير عکرمه اووے، د "جبر" "وميک" او "سراف" معني ده بنده، او "ايل" معني الله (يعنے دَ ټولو معني دي دَ الله بنده).

۴۲۶۹: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُنِيْرٍ سَمِعَ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ بَكْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ عَنْ اَنَسٍ قَالَ سَمِعَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ سَلَامٍ بِقُدُوْمِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِيْ

۴۲۶۹: عبدالله بن منير. عبدالله بن بکر. حميد. حضرت انس نه روايت کوي. چه يهودي عالم عبدالله بن سلام باغيچه کښ ميوه شوکوله، هغهٔ ته دَ نبي صلي الله عليه وسلّم مدينے منورے ته دَ راتلو خبر اورسيد، هغه سمدستي حاضر خدمت شو، او رسول الله صلي الله عليه وسلّم ته ئے عرض اوکهٔ، زهٔ تاسو نه درے خبرے

أَرْضٍ يَخْتَرِفُ فَأَتَى النَّبِيَّ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ
إِنِّيْ سَائِلُكَ عَنْ ثَلَاثٍ لَا يَعْلَمُهُنَّ
إِلَّا نَبِيٌّ فَمَا أَوَّلُ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ
وَمَا أَوَّلُ طَعَامِ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَمَا
يَنْزِعُ الْوَلَدُ إِلَى أَبِيْهِ أَوْ إِلَى أُمِّهِ
قَالَ أَخْبَرَنِيْ بِهِنَّ جِبْرَئِيْلُ آنِفًا
قَالَ جِبْرِيْلُ قَالَ نَعَمْ قَالَ ذَاكَ
عَدُوُّ الْيَهُوْدِ مِنَ الْمَلَائِكَةِ فَقَرَأَ
هٰذِهِ الْآيَةَ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيْلَ
فَإِنَّهُ نَزَّلَهُ عَلٰى قَلْبِكَ أَمَّا أَوَّلُ
أَشْرَاطِ السَّاعَةِ فَنَارٌ تَحْشُرُ النَّاسَ
مِنَ الْمَشْرِقِ إِلَى الْمَغْرِبِ وَ أَمَّا
طَعَامُ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَزِيَادَةُ كَبِدِ حُوْتٍ وَ
إِذَا سَبَقَ مَاءُ الرَّجُلِ مَاءَ الْمَرْأَةِ نَزَعَ
الْوَلَدَ وَ إِذَا سَبَقَ مَاءُ الْمَرْأَةِ نَزَعَتْ
قَالَ أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ
إِلَّا اللّٰهُ وَ أَشْهَدُ أَنَّكَ
رَسُوْلُ اللّٰهِ يَا رَسُوْلَ
اللّٰهِ إِنَّ الْيَهُوْدَ قَوْمٌ
بُهُتٌ وَ إِنَّ هُمْ إِنْ
يَعْلَمُوْا بِإِسْلَامِيْ قَبْلَ
أَنْ تَسْأَلَهُمْ يَبْهَتُوْنِيْ
فَجَاءَتِ الْيَهُوْدُ فَقَالَ
النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ أَيُّ رَجُلٍ عَبْدُ

معلومول غوارم، هغه سوا د نبي نه بل څوک نشي
ښودلے. یو دا چه د قیامت وړمبنے علامت څه دے، دویم
دا چه جنتیان به د ټولونه وړمبے کومه غذا خوري، دریم
دا چه بچے د خپل پلار یا مور مشابه په څه وجه وي.
حضورؐ ورته اوفرمائیل، ماته اُوس جبرائیلؑ دا خبرے
اُښودلے. ابن سلام ورته اووے، جبرائیلؑ خو د یهودیانو
په ټولو فریښتو کښې د ټولونه زیات دشمن دے. دے نه
پس حضورؐ دا آیت اولوست: مَنْ كَانَ عَدُوًّا: آخر
پورے: دے نه پس حضورؐ اوفرمائیل، د قیامت د ټولونه
وړمبنئے نښه دا ده، چه یو اُور به راپورته شي، چه خلق به
د مشرق نه مغرب طرف ته په تیښته کړي، او جنتیانو ته
به د ټولونه مخکښې د کب (مچھلی) ینه (کلیجی) د خوراک
د پاره ورکړے شي. او د بچي د مشابه کیدو وجه داده
چه سړي او ښځه کښې د چا ماده منویه (مني) غالبه شي،
نو بچے د هغه مشابه وي، که د مور (مني) غالبه شي، نو د
مور مشابه وي، او که د پلار، نو د پلار مشابه وي.
عبداللّٰه بن سلام دے نه پس اووے، زه ګواهي کوم، چه
تاسو د اللّٰه ریښتنے رسول یئ، او د اللّٰه نه سوا بل معبود
نشته. ابن سلام اووے، یا رسول اللّٰه، یهودیان ډیر
دروغجن قوم دے، او ډیر تهمت لګونکي دي په هغوي
به خما مسلمانیدل ډیر ناخوښه پریوځي، او په ما به ډیر
تهمتونه اوتړي. دے کښې یو څو یهودیان حضورؐ له
راغلل، نو ابن سلام اووے، تاسو خما متعلق د دوي نه
تپوس اوکړے، چه ابن سلام څنګه سړے دے (او خپله یو
طرف ته پناهي کښې شو) بیا حضورؐ د هغې یهودیانو نه
تپوس اوکړلو، چه تاسو ابن سلام څنګه سړے ګڼئ،

اللّٰـهِ فِيْكُمْ قَالُوْا خَيْرُنَا وَابْنُ خَيْرِنَا وَ سَيِّدُنَا وَابْنُ سَيِّدِنَا قَالَ اَرَاَيْتُمْ اِنْ اَسْلَمَ عَبْدُ اللّٰـهِ بْنُ سَلَامٍ فَقَالُوْا اَعَاذَهُ اللّٰهُ مِنْ ذٰلِكَ فَخَرَجَ عَبْدُ اللّٰـهِ فَقَالَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰـهُ وَ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰـهِ فَقَالُوْا شَرُّنَا وَابْنُ شَرِّنَا وَانْتَقَصُوْهُ قَالَ فَهٰذَا الَّذِيْ كُنْتُ اَخَافُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ.

هغوي ورته اووے، هغه ډير ښهٔ سړے دے، او دَ ښهٔ سړي خوئے دے. حضورؐ ورته اوفرمائيل، كه هغه مسلمان شي (نو بيا)، يهوديانو ورته اووے، خدائے دے هغهٔ له دَ دے پناه ورکړي (يعني هغه هيڅ كله مسلمانيدے نشي، دا دَ نهٔ كيدو خبره ده) دے آوريدو سره ابن سلام بهرته راووتلو، او، وے وئيل: اشهد ان لا اله الّا اللّٰه واشهد ان محمدًا عبدهٗ و رسوله: يهوديانو چه دا اوليدل، نو وے وئيل، ابن سلام مونږ كښې ډير ذليل دے، او دَ ذليل سړي خوئے دے. او په هغهٔ ئے بد رد وئيل شروع كړل. عبداللّٰه بن سلام اووے، يا رسول اللّٰه، ماسره دَ مخكښې نه دا ويره وَه، چه دا خلق به په ما بد رد وائي.

## بَابٌ ٩٩ : قَوْلِهٖ مَا نَنْسَخْ مِنْ اٰيَةٍ اَوْ نُنْسِهَا.

**باب ٩٩** : آيت: مَا نَنْسَخْ مِنْ اٰيَةٍ اَوْ نُنْسِهَا تفسير (هر كله چه مونږ يو آيت منسوخ كوو، نو دَ هغے نه بهتر يا دَ هغے په مثل حكم وركوو).

۴٧٠ : حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا يَحْيٰى حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ حَبِيْبٍ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ عُمَرُؓ اَقْرَؤُنَا اُبَيٌّ وَّ اَقْضَانَا عَلِيٌّؓ وَ اِنَّا لَنَدَعُ مِنْ قَوْلِ اُبَيٍّ وَ ذَاكَ اَنَّ اُبَيًّاؓ يَقُوْلُ لَا اَدَعُ شَيْئًا سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى مَا نَنْسَخْ مِنْ اٰيَةٍ اَوْ نُنْسِهَا.

۴٧٠ : عمرو بن علي. يحيٰي. سفيان. حبيب. سعيد بن جبير. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، حضرت عمرؓ به وئيلے. مونږ ټولو كښې دَ قرآن بهترين قاري ابي بن كعب دے، او مقدمو فيصلو باندے حضرت عليؓ زيات پوهيږي، خو دَ دے باوجود مونږ دَ ابي بن كعب دا خبره نهٔ شو تسليمولے، چه زهٔ به دَ قرآن كريم دَ هيڅ آيت تلاوت نهٔ پريږدم، كوم چه ما دَ حضورؐ نه آوريدلے دے[۱]، حالانكه خپله اللّٰه پاک: مَا نَنْسَخْ مِنْ اٰيَةٍ الخ فرمائيلو سره دا ثابت كړل، چه دَ سابق كتابونو تنسيخ سره ئے قرآن كريم نازل كړے دے.

[۱] . حضرت اُبي بن كعب رضي اللّٰه عنه د آيتونو د نسخ قائل نه وو، حالانكه دا يو منلے شوے مسئله ده (چه نسخ شته دے) غالبًا هغوئ ته به د آيتونو د نسخ متعلق روايتونه معلوم شوي نه وُو.

بَـاب ۱۰۰ : قَـوْلِـهٖ وَ قَـالُـوا اتَّـخَـذَ اللّٰـهُ وَلَـدًا سُبْحَانَهٗ.

باب ۱۰۰ : آیت: وَ قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ: ارشاد باري تعالیٰ دے یهودیانو عیسی علیه السلام ذ خدائے خوئے جوړ کړے دے، ذ دے تفسیر.

۴۷۱: حَـدَّثَـنَـا اَبُـو الْيَـمَانِ اَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ حُسَيْنٍ حَدَّثَنَا نَافِعُ بْنُ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ اللّٰهُ كَذَّبَنِيْ ابْنُ اٰدَمَ وَلَمْ يَكُنْ لَهٗ ذٰلِكَ وَ شَتَمَنِيْ وَلَمْ يَكُنْ لَهٗ ذٰلِكَ فَاَمَّا تَكْذِيْبُهٗ اِيَّايَ فَزَعَمَ اَنِّيْ لَا اَقْدِرُ اَنْ اُعِيْدَهٗ كَمَا كَانَ وَ اَمَّا شَتْمُهٗ اِيَّايَ فَقَوْلُهٗ لِيْ وَلَدٌ فَسُبْحَانِيْ اَنْ اَتَّخِذَ صَاحِبَةً اَوْ وَلَدًا.

۴۷۱: ابوالیمان. شعیب. عبدالله بن ابي حسین. نافع بن جبیر. حضرت ابن عباسؓ نه روایت کوي، ذ هغه بیان دے، حضور صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل، الله تعالیٰ فرمائي بني آدم ما دروغجن کوي، او هغه له داسے کول نه وو پکار، او بني آدم ماته کنځل کوي، او هغه له داسے کول نه وو پکار، خما دروغجن کول خو دادي، هغه وائي، چه زهٔ ذ مرګ نه پس ژوندي کول نشم کولے، او کنځل دادي، چه بني آدم وائي، چه ذ خدائے اولاد شته، حالانکه خما ذات ذ دے نه بالکل پاک دے، چه ځوک ښځه یا اولاد جوړ کړم.

باب ۱۰۱ : قَوْلِهٖ وَاتَّخِذُوْا مِنْ مَّقَامِ اِبْرَاهِيْمَ مُصَلًّى مَثَابَةً يَثُوْبُوْنَ يَرْجِعُوْنَ.

باب ۱۰۱ : آیت: وَاتَّخِذُوْا مِنْ مَّقَامِ اِبْرَاهِيْمَ مُصَلًّى: تفسیر. د مَثَابَةً معني دي ذ مرجع، یعني ذ واپس کیدو ځائے.

۴۷۲: حَـدَّثَـنَـا مُسَدَّدٌ عَنْ يَحْيَى ابْنِ سَعِيْدٍ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ عُمَرُ وَافَقْتُ اللّٰهَ فِيْ ثَلَاثٍ اَوْ وَافَقَنِيْ رَبِّيْ فِيْ ثَلَاثٍ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ لَوِ اتَّخَذْتَ مَقَامَ اِبْرٰهِيْمَ مُصَلًّى فَاَنْزَلَ اللّٰهُ وَاتَّخِذُوْا مِنْ مَّقَامِ اِبْرَاهِيْمَ مُصَلًّى وَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ يَدْخُلُ عَلَيْكَ الْبَرُّ وَالْفَاجِرُ فَلَوْ اَمَرْتَ اُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِيْنَ بِالْحِجَابِ

۴۷۲: مسدد. یحیٰي بن سعید. حمید. حضرت انسؓ نه روایت کوي، حضرت عمرؓ اوفرمائیل، خما درے خبرے داسے دي، چه ذ وحي الٰهي موافق شولے. یا داسے ئے اووے، الله تعالیٰ خما درے خبرو سره اتفاق اوفرمائیلو وړمبئے خبرهِ خو داده، چه ما حضور صلي الله علیه وسلم ته عرض اوکهٔ، چه تاسو ذ طواف نه پس مقام ابراهیم کښ مونځ ادا کوئے، نو ذ دے موافق: واتَّخَذُوْا الخ کښ ذ مونځ حکم اوشولو، دویمه خبره داده، ما اووے یا رسول اللّٰهؐ، تاسوله منافق او نور غیر خلق هم راځي، ښهٔ به وي، که تاسو خپلو بیبیانو ته ذ پردے کولو

فَأَنْزَلَ اللهُ آيَةَ الْحِجَابِ قَالَ وَبَلَغَنِي مُعَاتَبَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْضَ نِسَائِهِ فَدَخَلْتُ عَلَيْهِنَّ قُلْتُ إِنِ انْتَهَيْتُنَّ أَوْ لَيُبَدِّلَنَّ اللهُ رَسُولَهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرًا مِنْكُنَّ حَتَّى أَتَيْتُ إِحْدَى نِسَائِهِ قَالَتْ يَا عُمَرُ أَمَا فِي رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يَعِظُ نِسَاءَهُ حَتَّى تَعِظَهُنَّ أَنْتَ فَأَنْزَلَ اللهُ عَسَى رَبُّهُ إِنْ طَلَّقَكُنَّ أَنْ يُبْدِلَهُ أَزْوَاجًا خَيْرًا مِنْكُنَّ مُسْلِمَاتٍ الْآيَةَ وَقَالَ ابْنُ أَبِي مَرْيَمَ أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ حَدَّثَنِي حُمَيْدٌ سَمِعْتُ أَنَسًا عَنْ عُمَرَ.

حکم ورکړے، نو الله پاک د پردے آیت نازل کړو دریمه دا چه ماته معلومه شوه، چه حضورؐ د بیبیانو ناراض ئے، نو زۀ هغوي له ورغلم، ورته م اووے، کوَن چه حضور صلي الله علیه وسلم ناراضه نه کړئ کنې الله تعالي ستاسو نه بهترے ښځے خپل رسول ته عطا کولے شي. خو یوے بي بيؓ صاحبے اووے، اے عمرؓ آیا حضورؐ مونږ ته خپله نصیحت نشي کولے، چه ته نصیحت کولو له راغلے ئے. نو هغه وخت دا آیت: عَسَی رَبُّهُ إِنْ طَلَّقَكُنَّ الخ: نازل شو، یعني هیڅ تعجب نشته، که رسول تاسو له طلاق در کړي او الله تعالي ستاسو بدله کښې ستاسو نه هم بهترے بیبیانے حضورؐ له ورکړي. (دویم سند) ابن ابي مریم وائي، دا حدیث یحيٰي بن ایوب، حمید، حضرت انسؓ نه، او هغه د حضرت عمرؓ نه روایت کوي.

باب ۱۰۲: قَوْلِهِ تَعَالَى وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَإِسْمَاعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ الْقَوَاعِدُ أَسَاسُهُ وَاحِدَتُهَا قَاعِدَةٌ وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاءِ وَاحِدُهَا قَاعِدٌ.

باب ۱۰۲: آیت: وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ الخ: کوم وخت چه حضرت ابراهیمؑ او اسمٰعیلؑ د کعبے تعمیر اوکۀ، نو بارګاهِ الٰهي کښې ئے عرض اوکۀ، اے خمونږ الله، خمونږ د طرف نه دا قبول کړے، بیشکه ته آوریدونکے او پوهیدونکے ئے.

۴۷۳: حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ أَخْبَرَ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَلَمْ تَرَيْ أَنَّ

۴۷۳: اسمٰعیل. مالک. ابن شهاب. سالم بن عبدالله. عبدالله بن محمد بن ابي بکر. عبدالله بن عمر. د نبي صلي الله علیه وسلم تېر، بي بي عائشےؓ نه روایت کوي، د هغے بیان دے، حضور صلي الله علیه وسلم ماته اوفرمائیل، آیا تاته د دے خبرے علم نشته، چه ستا د قوم سړو یعني قریشو

قَوْمَكِ بَنَوُا الْكَعْبَةَ وَاقْتَصَرُوا عَلٰى قَوَاعِدِ إِبْرَاهِيمَ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَلَا تَرُدُّهَا عَلٰى قَوَاعِدِ إِبْرٰهِيمَ قَالَ لَوْلَا حِدْثَانُ قَوْمِكِ بِالْكُفْرِ فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ لَئِنْ كَانَتْ عَائِشَةُ سَمِعَتْ هٰذَا مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أُرٰى رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَرَكَ اسْتِلَامَ الرُّكْنَيْنِ الَّذَيْنِ يَلِيَانِ الْحِجْرَ إِلَّا أَنَّ الْبَيْتَ لَمْ يُتَمَّمْ عَلٰى قَوَاعِدِ إِبْرٰهِيمَ.

چه خپل وخت کښې کعبه تعمير کړله، نو د حضرت ابراهيمؑ د بنيادونو نه هغه وړه کړله، ما عرض او کړه، يا رسول الله، تاسو نے بيا هغه شان جوړه کړئ، حضورؐ ارشاد اوفرمائيلو، ما به هغسے کړے وے، خو ستا قوم نوے نوے اسلام قبول کړے دے، حضرت عبدالله بن عمر د دے حديث آوريدو نه پس اووے، که بي بي عائشےؓ د حضورؐ نه دغه خبره اوريدلے وي، نو زهٔ خيال کوم، چه رسول الله صلي الله عليه وسلّم دغه دواړه کُنجونه نهٔ ښکلول (دونوں کونوں کو بوسہ نہیں دیتے تھے) چه حطيم سره دي، ځکه چه هغه کُنجونه ابراهيمي بنياد باندے نهٔ وو جوړ شوے.

## بَابُ ۱۰۳ : قَوْلُهُ تَعَالٰى قُوْلُوْٓا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ أُنْزِلَ إِلَيْنَا.

## باب ۱۰۳ : آيت: قُوْلُوْٓا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا:

ارشاد باري تعالٰي، تاسو اووائے چه مونږ په الله ايمان راوړلو، او څهٔ چه مونږ طرف ته نازل شوے دي، په هغے مو هم ايمان راوړلو.

۴۷۴: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ أَخْبَرَنَا عَلِيُّ بْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِيْ كَثِيْرٍ عَنْ أَبِيْ سَلَمَةَ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ أَهْلُ الْكِتٰبِ يَقْرَءُوْنَ التَّوْرٰةَ بِالْعِبْرَانِيَّةِ وَيُفَسِّرُوْنَهَا بِالْعَرَبِيَّةِ لِأَهْلِ الْإِسْلَامِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُصَدِّقُوْا أَهْلَ الْكِتٰبِ وَلَا تُكَذِّبُوْهُمْ وَ قُوْلُوْا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَا أُنْزِلَ الْاٰيَةَ.

۴۷۴: محمد بن بشار. عثمان بن عمر. علي بن مبارک. يحيي بن ابي کثير. ابي سلمه. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت کوي، هغهٔ اووے، اهل کتابو، يعني يهوديانو به تورات عبراني ژبه کښې لوستلو، او بيا به ئے مسلمانانو ته عربي ژبه کښې ترجمه باندے هغوي پوهيول، نو حضور صلي الله عليه وسلّم مسلمانانو ته ارشاد اوفرمائيلو، چه تاسو دے ته مهٔ ريښتيا وايئے، مهٔ دروغ، بلکه تاسو داسے وايئے، چه مونږ په الله ايمان راوړے دے، او په هغے چه هغهٔ مونږ طرف ته نازل کړے دے.

## بَابُ ۱۰۴ : قَوْلُهُ تَعَالٰى

## باب ۱۰۴ : آيت: سَيَقُوْلُ السُّفَهَآءُ: د الله تعالي

سَيَقُولُ السُّفَهَاءُ مِنَ النَّاسِ مَا وَلَّهُمْ عَنْ قِبْلَتِهِمُ الَّتِي كَانُوا عَلَيْهَا قُلْ لِلَّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ.

فرمائيل، بيوقوفان خلق به زر اووائي، چه كوم څيز مسلمانان دَ پخوانئے قبلے دَ طرف نه اوګرځول. اے خمونږ رسولهٔ، ته ورته اووايه هغه قبله او دا قبله يعني مشرق او مغرب ټول دَ اللّٰه دي، چاته چه غواړي دَ هدايت لار ورته ښائي. دَ دے تفسير.

۴۷۵: حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ سَمِعَ زُهَيْرًا عَنْ أَبِي إِسْحٰقَ عَنِ الْبَرَاءِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى إِلَى بَيْتِ الْمُقَدَّسِ سِتَّةَ عَشَرَ شَهْرًا أَوْ سَبْعَةَ عَشَرَ شَهْرًا وَّ كَانَ يُعْجِبُهُ أَنْ تَكُونَ قِبْلَتُهُ قِبَلَ الْبَيْتِ وَ أَنَّهُ صَلَّى أَوْ صَلَّاهَا صَلٰوةَ الْعَصْرِ وَ صَلَّى مَعَهُ قَوْمٌ فَخَرَجَ رَجُلٌ مِمَّنْ كَانَ صَلَّى مَعَهُ فَمَرَّ عَلَى أَهْلِ الْمَسْجِدِ وَهُمْ رَاكِعُونَ قَالَ أَشْهَدُ بِاللّٰهِ لَقَدْ صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِبَلَ مَكَّةَ فَدَارُوا كَمَا هُمْ قِبَلَ الْبَيْتِ وَ كَانَ الَّذِي مَاتَ عَلَى الْقِبْلَةِ قَبْلَ أَنْ تُحَوَّلَ قِبَلَ الْبَيْتِ رِجَالٌ قُتِلُوا لَمْ نَدْرِ مَا نَقُولُ فِيهِمْ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ إِنَّ اللّٰهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ.

۴۷۵: ابو نعيم. زهير. ابو اسحٰق. حضرت براء بن عازب نه روايت كوي. حضورٌ دَ هجرت نه ورستو مدينه منوّره كښې شپاړس يا اولس مياشتے بيت المقدس طرف ته مونځ اوكړه، خو كعبے طرف ته دَ مونځ كولو خيال ئے په زړهٔ كښې ځائے نيولے وو. آخر يوه ورځ دَ خدائے په حكم حضورٌ دَ مازيګر مونځ قبلے طرف ته مخ كړے اوكړلو، ټولو خلقو هم دَ حضورٌ اقتدا اوكړله، يو سړے بشير بن عباد چه حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم سره ئے مونځ ادا كړے وو، مسجد قبا طرف ته لاړلو، هلته ئے اوليدل چه خلق بيت المقدس طرف ته مونځ كوي، هغے سړي داسے حالت كښې، چه هغوي ركوع كښې وو، په چغه ئے هغوي ته اوويے، زه خدائے ګواه كوم، او وائم چه ما اوس حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم سره كعبے طرف ته مخ كړے مونځ كړے دے دے آوريدو سره ټول كعبے طرف ته تاؤ شولو. البته خلقو سره دا تشويش وو، چه كومو خلقو بيت المقدس طرف ته مونځ كړے دے، او وفات شوے دي، دَ هغوي مونځونه اوشو، يا نه. نو اللّٰه پاك دا آيت: وَمَا كَانَ اللّٰهُ الخ: اللّٰه داسے نهٔ دے، چه ستاسو عبادت ضائع كړي، بلكه اللّٰه په خپلو بنديانو مهربانه او رحم كونكے دے.

باب ۱۰۵: وَ كَذٰلِكَ

باب ۱۰۵: آيت: وَ كَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ أُمَّةً وَّسَطًا

جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا لِّتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ وَ يَكُوْنَ الرَّسُوْلُ عَلَيْكُمْ شَهِيْدًا.

الخ: دَ الله تعالٰي قول، چه دا شان مونږ تاسو اُمت وسط جوړ کړلئے، چه دَ قيامت په ورځ به تاسو ګواهي ورکړئے، او رسول به تاسو ګواهي او کړي (چه څوک انکار اونه کړيشي).

۴۷٦: حَدَّثَنَا يُوْسُفُ بْنُ رَاشِدٍ حَدَّثَنَا جَرِيْرٌ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ اَبِيْ صَالِحٍ وَ قَالَ اَبُوْ اُسَامَةَ حَدَّثَنَا اَبُوْ صَالِحٍ عَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُدْعٰى نُوْحٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَقُوْلُ لَبَّيْكَ وَ سَعْدَيْكَ يَا رَبِّ فَيَقُوْلُ هَلْ بَلَّغْتَ فَيَقُوْلُ نَعَمْ فَيُقَالُ لِاُمَّتِهٖ هَلْ بَلَّغَكُمْ فَيَقُوْلُوْنَ مَا اَتَانَا مِنْ نَذِيْرٍ فَيَقُوْلُ مَنْ يَشْهَدُ لَكَ فَيَقُوْلُ مُحَمَّدٌ وَ اُمَّتُهٗ فَيَشْهَدُوْنَ اَنَّهٗ قَدْ بَلَّغَ وَ يَكُوْنُ الرَّسُوْلُ عَلَيْكُمْ شَهِيْدًا فَذٰلِكَ قَوْلُهٗ جَلَّ ذِكْرُهٗ وَ كَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا لِّتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ وَ يَكُوْنَ الرَّسُوْلُ عَلَيْكُمْ شَهِيْدًا وَ الْوَسَطُ الْعَدْلُ.

۴۷٦: يوسف بن راشد. جرير. ابو اسامه. اعمش. ابو صالح (دويم سند) ابو اسامه. ابو صالح. حضرت ابو سعيد خدريؓ نه روايت کوي: دَ هغهٔ بيان دے، رسول الله صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، دَ قيامت په ورځ به الله تعالٰي نوح عليه السلام راوغواړي، هغه به راشي، او عرض به اوکړي، اے څما ربه، زهٔ حاضر يم، الله تعالٰي به ورته اوفرمائي، آيا تا څمونږ احکامات خلقوته رسولے وو، هغه به اووائي، جي، او. بيا به دَ هغهٔ دَ اُمت نه تپوس اوشي، چه تاسو ته دَ خدائے احکامات چا رسول را رسولي وو، يا نه، هغه اُمت به وائي چه نه، رب العزّت به اوفرمائي، ستاسو ګواه څوک دے، هغوي به وائي، حضرت محمد صلي الله عليه وسلّم او دَ هغويّ اُمت، دغه وخت به څما اُمت ګواهي ورکوي، چه بيشکه نوح عليه السلام دَ احکام الٰهي تبليغ کړے وو، او زهٔ به وائم چه دا ټول خلق ريښتيے دي. دَ راوي بيان دے، چه دَ الله تعالٰي دَ دے قول مطلب دغه دے او دَ وسط معني دَ عدل دي.

باب ۱۰٦: قَوْلُهٗ وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِيْ كُنْتَ عَلَيْهَا اِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ يَّتَّبِعُ الرَّسُوْلَ مِمَّنْ يَّنْقَلِبُ عَلٰى عَقِبَيْهِ وَ اِنْ كَانَتْ لَكَبِيْرَةً اِلَّا عَلَى الَّذِيْنَ هَدَى

باب ۱۰٦: آيت: وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِيْ كُنْتَ عَلَيْهَا الخ دَ الله تعالٰي قول، چه کومے قبلے ته تهٔ پاتے شوے ئے، هغه خو دے دَ پاره وه چه مونږ ته معلومه شي، چه څوک دَ رسول اتباع کوي، او څوک په ورستو کيږي، او دَ قبلے دا بدليدل په خلقو ډير ګران دي، خو

اللّٰهُ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِيْعَ اِيْمَانَكُمْ اِنَّ اللّٰهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ.

چا ته چه الله تعالٰي هدايت کړے دے او الله پاک داسے نۀ دے، چه ستاسو ايمان ضائع کړي، او واقعي الله خو په داسے خلقو ډير شفيق او مهربانه دے.

۴۷۷: حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيٰى عَنْ سُفْيَانَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ دِيْنَارٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ بَيْنَا النَّاسُ يُصَلُّوْنَ الصُّبْحَ فِيْ مَسْجِدِ قُبَاءٍ اِذْ جَآءَ جَاءٍ فَقَالَ اَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُرْاٰنًا اَنْ يَسْتَقْبِلَ الْكَعْبَةَ فَاسْتَقْبِلُوْهَا فَتَوَجَّهُوْا اِلَى الْكَعْبَةِ.

۴۷۷: مسدد. يحيٰي. سفيان. عبدالله بن دينار.
حضرت عبدالله بن عمرؓ نه روايت کوي، ‌ دَ هغۀ بيان دے، خنر سړو مسجد قباء کښې دَ سحر مونځ کولو. دے کښې يو سړے راغے، او نعرے ئے کړے، اے خلقو الله، قرآن کښې خپل نبي صلي الله عليه وسلّم ته حکم کړے دے چه خپل مخ کعبے طرف ته کړه، نو دے آواز آوريدو سره خلقو دَ مونځ حالت کښې کعبے طرف ته مخ اوګرځولو.

باب۱۰۷: قَوْلُهٗ قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَآءِ (اِلٰى) عَمَّا تَعْمَلُوْنَ.

باب۱۰۷: آيت: قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ الخ
ارشاد باري تعالٰي، چه مونږ بار بار ستا مخ آسمان طرف ته اوچتيدونکے ليدلو، آخر پورے.

۴۷۸: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرٌ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ اَنَسٍؓ قَالَ لَمْ يَبْقَ مِمَّنْ صَلَّى الْقِبْلَتَيْنِ غَيْرِيْ.

۴۷۸: علي بن عبدالله. معتمر. سليمان.
حضرت انسؓ نه روايت کوي، ټولو صحابهؓ کښې اوس صرف زۀ يو سړے باقي پاتے شوے يم، چه دواړو قبلو طرف ته مې مونځ ادا کړے دے.

باب۱۰۸: قَوْلُهٗ وَلَئِنْ اَتَيْتَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ بِكُلِّ اٰيَةٍ مَّا تَبِعُوْا قِبْلَتَكَ (اِلٰى قَوْلِهٖ) اِنَّكَ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ.

باب۱۰۸: آيت: وَلَئِنْ اَتَيْتَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ الخ: دَ الله تعالٰي قول، که ته دے اهل کتابو ته ټول دلائيل او نښے پيش کړے، خو بيا هم دوي ستا قبله نۀ مني، آخر پورے: تفسير.

۴۷۹: حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ مَخْلَدٍ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ حَدَّثَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ دِيْنَارٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَؓ بَيْنَمَا النَّاسُ فِي الصُّبْحِ بِقُبَآءٍ جَآءَ هُمْ رَجُلٌ

۴۷۹: خالد بن مخلد. سليمان. عبدالله بن دينار. حضرت عبدالله بن عمرؓ نه روايت کوي، دَ هغۀ بيان دے، چه خلقو مسجد قبا کښې دَ سحر مونځ کولو،

فَقَالَ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اللَّيْلَةَ قُرْاٰنٌ وَّ اُمِرَ اَنْ يَّسْتَقْبِلَ الْكَعْبَةَ اَلَا فَاسْتَقْبِلُوْهَا وَ كَانَ وَجْهُ النَّاسِ اِلَى الشَّامِ فَاسْتَدَارُوْا بِوُجُوْهِهِمْ اِلَى الْكَعْبَةِ.

چه يو سړي بشير بن عباد اووې' نن شپه په رسول كريم صلي اللّٰه عليه وسلّم قرآن نازل شوې دې' او ... غه ته حكم وركړې شوې دې' چه خپل مخ كعبې طرف ته اوګرځوه' (حالانكه مخكښې ئې رُخ شام طرف ته وو).

باب ۱۰۹ : قَوْلِهِ اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَعْرِفُوْنَهُ كَمَا يَعْرِفُوْنَ اَبْنَاءَ هُمْ وَ اِنَّ فَرِيْقًا مِّنْهُمْ لَيَكْتُمُوْنَ الْحَقَّ (اِلٰى قَوْلِهِ) مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ.

باب ۱۰۹ : آيت: اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَعْرِفُوْنَهٗ الخ: ارشاد باري تعالٰي كومو خلقو ته چه مونږ كتاب وركړې دې هغوي رسول داسې پيژني' څنګه چه خپل خامن پيژني' او بعضې هغوي كښې امر واقعي ښۀ پيژني' او اخفا (پټونه) كوي' نو تۀ دَ شک كونكو نه مۀ كيږه. دَ دې تفسير.

۴۸۰ : حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ قَزْعَةَ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ دِيْنَارٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ بَيْنَا النَّاسُ بِقُبَاءٍ فِيْ صَلٰوةِ الصُّبْحِ اِذْ جَآءَ هُمُ اٰتٍ فَقَالَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اللَّيْلَةَ قُرْاٰنٌ وَقَدْ اُمِرَ اَنْ يَّسْتَقْبِلَ الْكَعْبَةَ فَاسْتَقْبِلُوْهَا وَ كَانَتْ وُجُوْهُهُمْ اِلَى الشَّامِ فَاسْتَدَارُوْا اِلَى الْكَعْبَةِ.

۴۸۰ : يحيٰي بن قزعه. مالک. عبداللّٰه بن دينار. حضرت عبداللّٰه بن عمرؓ نه روايت كوي. مسجد قبا كښې خلقو دَ سحر مونځ كولو' چه يو سړي نعرې كړې اې خلقو نن شپه رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم باندې قرآن نازل شوې دې' او حضورؐ ته كعبې طرف ته دَ مخ كولو حكم شوې دې' نو تاسو حضرات هم خپل مخ كعبې طرف ته اوګرځوئې' دغه وخت ټولو بيت المقدس طرف ته مونځ كولو' نو دې خبر آوريدو سره ټولو كعبې ته (مانځه كښې) مخ اوګرځولو.

باب ۱۱۰ : قَوْلِهِ وَلِكُلٍّ وِّجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيْهَا فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ اَيْنَمَا تَكُوْنُوْا يَأْتِ بِكُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ.

باب ۱۱۰ : آيت: وَلِكُلٍّ وِّجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيْهَا الخ: ارشاد باري تعالٰي' هر يو دَ پاره يوه قبله مقرر ده' چه هغې طرف ته هغه مخ كوي' نو تاسو نيک كارونو كښې سبقت كوئې' تاسو چه كوم ځائې ئې' اللّٰه به تاسو راجمع كړي' بيشكه هغه په هر څيز قادر دې.

۴۸۱: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ سُفْيَانَ حَدَّثَنِيْ أَبُوْ إِسْحٰقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ قَالَ صَلَّيْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ بَيْتِ الْمَقْدِسِ سِتَّةَ عَشَرَ أَوْ سَبْعَةَ عَشَرَ شَهْرًا ثُمَّ صَرَفَهُ نَحْوَ الْقِبْلَةِ.

۴۸۱: محمد بن مثنى. يحيى. سفيان. ابو اسحاق. حضرت براء بن عازب نه روايت كوي، مدينه منوره كښې مونږ رسول الله صلي الله عليه وسلّم سره شپاړس يا اولس مياشتې برابر بيت المقدس طرف ته مونځ كړے دے. دے نه پس حضورٌ خپل مخ كعبے طرف ته اوګرځولو، (نو مونږ هم اوګرځولو).

باب ۱۱۱: وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَ إِنَّهُ لَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ شَطْرَهُ تِلْقَآءَهُ.

باب ۱۱۱: آيت: وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ الخ: ارشاد باري تعالىٰ، كوم خوا، چه ته ځې، مونځ كښې خپل مخ مسجد حرام يعني كعبے طرف ته كوه، او دا بالكل د الله تعالىٰ د طرف نه حق ده. او الله ستاسو د كارونو نه بے خبره نه دے. او د شطر معني د طرف دي.

۴۸۲: حَدَّثَنَا مُوْسَى ابْنُ إِسْمَاعِيْلَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيْزِ بْنُ مُسْلِمٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ دِيْنَارٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ يَقُوْلُ بَيْنَا النَّاسُ فِي الصُّبْحِ بِقُبَاءٍ إِذْ جَاءَهُمْ رَجُلٌ فَقَالَ أُنْزِلَ اللَّيْلَةَ قُرْآنٌ فَأُمِرَ أَنْ يَّسْتَقْبِلَ الْكَعْبَةَ فَاسْتَقْبِلُوْهَا وَاسْتَدَارُوْا كَهَيْئَتِهِمْ فَتَوَجَّهُوْا إِلَى الْكَعْبَةِ وَ كَانَ وَجْهُ النَّاسِ إِلَى الشَّامِ.

۴۸۲: موسىٰ بن اسماعيل. عبدالعزيز بن مسلم. عبدالله بن دينار. حضرت ابن عمرؓ نه روايت كوي، هغهٔ اووے، خبره داسے وه، چه څه خلقو مسجد قبا كښې د سحر مونځ كولو، يو سړي په چغه اووے، چه نن شپه په نبي صلي الله عليه وسلّم قرآن نازل شوے دے، او حضورٌ ته كعبے طرف ته د مخ كولو حكم شوے دے، نو تاسو خلق هم خپل مخ كعبے طرف ته اوګرځوئ، دے آوريدو سره ټولو خلقو كعبے طرف ته مخ اوګرځولو، دغه وخت ټولو بيت المقدس طرف ته مونځ كولو.

باب ۱۱۲: قَوْلِهِ وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَ حَيْثُ مَا

باب ۱۱۲: آيت: وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ الخ: ارشاد باري تعالىٰ، چه كوم خوا ته ځے مونځ كښې خپل مخ مسجد حرام طرف ته ساته، او تاسو خلق چه كوم ځائے ئے، خپل مخ كعبے طرف ته ساتئے

كُنْتُمْ (اِلَى قَوْلِهٖ) لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ.

چه خلفونه ستاسو مقابله کښې د خبرو کولو محان نه وي، آخر آیت پورې تفسیر

۴۸۳: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيْدٍ عَنْ مَالِكٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ دِيْنَارٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَؓ قَالَ بَيْنَمَا النَّاسُ فِيْ صَلٰوةِ الصُّبْحِ بِقُبَاءٍ اِذْ جَآءَهُمْ اٰتٍ فَقَالَ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اللَّيْلَةَ وَ قَدْ اُمِرَ اَنْ يَسْتَقْبِلَ الْكَعْبَةَ فَاسْتَقْبِلُوْهَا وَ كَانَتْ وُجُوْهُهُمْ اِلَى الشَّامِ فَاسْتَدَارُوْا اِلَى الْقِبْلَةِ.

۴۸۳: . یحیی بن سعید. امام مالک. عبداللّٰه بن دینار. حضرت ابن عمرؓ نه روایت کوي: هغه اووې، مسجد قبا کښې مونږ خلقو د سحر مونځ کولو، یو سړي نعرے کړے ښ شپه رسول اللّٰه صلي اللّٰه علیه وسلّم ته د خدائے دا حکم راغلے دے، چه کعبه خپله قبله جوړه کړه، تاسو ټول هم خپل مخ کعبے طرف ته اوګرځوئے، نو مونږ ټولو خلقو مخ کعبے ته اوګرځولو.

باب۱۱۱۳: قَوْلِهٖ اِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللّٰهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ اَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ اَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا وَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا فَاِنَّ اللّٰهَ شَاكِرٌ عَلِيْمٌ ○ شَعَائِرُ عَلَامَاتٌ وَاحِدَتُهَا شَعِيْرَةٌ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ الصَّفْوَانُ الْحَجَرُ وَ يُقَالُ الْحِجَارَةُ الْمُلْسُ الَّتِيْ لَا تُنْبِتُ شَيْئًا وَالْوَاحِدَةُ صَفْوَانَةٌ بِمَعْنَى الصَّفَا وَالصَّفَا لِلْجَمْعِ.

باب۱۱۱۳: آیت: اِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ الخ ارشاد باري تعالي چه صفا او مروه ذَ اللّٰه ذ نښو نه دي. بيا خوک چه ذَ کعبے طواف اوکړي، یا ذَ عمرے اراده اوکړي، که خوک ذَ دے دواړو مینځ کښې سعي اوکړي (منلوے اووهي) نو هیڅ حرج نشته. شعائر، ذَ شعیره جمع ده، ذَ دے معنے دي: نښے، علامتونه. ابن عباسؓ وائي ذَ صفوان لفظ مطلب دے کاڼړے. او ذَ بعضو قول دے، چه ذَ صفوان معني دي: غوړ کاڼړے او ذَ دے واحد صفوانه دے، څنګه چه صفایه جمع ده. او ذَ دے مفرد صفا دے.

۴۸۴: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوْسُفَ اَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ اَبِيْهِ اَنَّهٗ قَالَ قُلْتُ لِعَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ اَنَا يَوْمَئِذٍ

۴۸۴: عبداللّٰه بن یوسف. امام مالک. هشام بن عروه. عروه بن زبیر. بي بي عائشےؓ نه روایت کوي، بي بي عائشےؓ ذ نبي صلي اللّٰه علیه وسلّم تبر نه تپوس اوشو، او زهٔ هغه وخت بچے ووم، ذَ اللّٰه تعالي ارشاد دے، چه صفا مروه ذَ اللّٰه تعالي ذ نښو نه دي، یو سړے چه د

حَدِيثُ النَّبِيِّ أَرَأَيْتِ قَوْلَ اللّٰهِ تَبَارَكَ وَ تَعَالٰى اِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللّٰهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ اَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ اَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا فَمَا اَرٰى عَلٰى اَحَدٍ شَيْئًا اَنْ لَّا يَطَّوَّفَ بِهِمَا فَقَالَتْ عَائِشَةُ كَلَّا لَوْ كَانَتْ كَمَا تَقُوْلُ كَانَتْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ اَنْ لَّا يَطَّوَّفَ بِهِمَا اِنَّمَا اُنْزِلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ فِي الْاَنْصَارِ كَانُوْا يُهِلُّوْنَ لِمَنَاةٍ وَّ كَانَتْ مَنَاةُ حَذْوَ قُدَيْدٍ وَّ كَانُوْا يَتَحَرَّجُوْنَ اَنْ يَّطَّوَّفُوْا بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ مِنْ شَعَآئِرِ اللّٰهِ فَمَنْ حَجَّ اَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ اَنْ يَّطَّوَّفَ بِهِمَا.

حج يا عمرے اراده او كړي، ذ هغې طواف كولو كښې څۀ مضـائقه يعني ګناه نشته، نو دے نه خو دا ثابتيږي، كه يو سړے ذ صـفا مـروه طـواف اونۀ كړي، نو هم په هغۀ څۀ ګنـاه نشته بي بي عائشےؓ ورته اوفرمائيل، خبره داسے نۀ ده، كـه خبره دغسے وے، نو الله تعالي به داسے فرمائيلے وو، كه څوک ذ هغې طواف هم اونۀ كړي، نو په هغۀ څۀ ګنـاه نشتـه. حقيقت كښې دا آيت ذ انصارو په حق كښې نـازل شوے وو، ځكه چه هغوي به ذ احرام حالت كښې ذ منات بُت نوم اخستلو، چه قديد (مقام) سره ايښے شوے وو. انـصاروته ذ صفا مروه طواف ښۀ نۀ معلوميدلو. كوم وخـت چـه اسـلام راغے، نو هغوي په دے حقله ذ حضور صـلي اللّٰـه عليه وسلّم نه تپوس او كۀ، نو هغه وخت الله تـعالي دا آيت نازل كړلو، چه صفا او مروه ذ الله تعالي ذ نښـو نـه دي، څـوک چـه حج يا عمره كوي، نو ذ دے په طواف كولو پرے څۀ مضائقه نشته.

**۴۸۵:** حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوْسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَاصِمِ بْنِ سُلَيْمَانَ قَالَ سَأَلْتُ اَنَسَ بْنَ مَالِكٍ عَنِ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ فَقَالَ كُنَّا نُرٰى اَنَّهُمَا مِنْ اَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ فَلَمَّا كَانَ الْاِسْلَامُ اَمْسَكْنَا عَنْهُمَا فَاَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى اِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ اِلٰى قَوْلِهٖ اَنْ يَّطَّوَّفَ بِهِمَا.

**۴۸۵:** مـحـمـد بـن يـوسف. سفيـان. عـاصم بن سليـمـان نـه روايت كوي، ذ هغۀ بيان دے، ما ذ حضرت انـس بـن مـالکؓ نه تپوس او كۀ، د صفا او مروه سعي څۀ څيـز دے، هـغـۀ جـواب راكۀ، مونږ ذ اسلام ابتدائي زمانه كـښې دا طـريقه ذ جاهليت يو رسم ګنړلو، او په دے وجه مـونـږ دا پـريښـے وو، آخر الله پاک دا آيت نازل كړلو، چـه بيشـكـه صـفا او مروه ذ الله ذ نښو نه دي، آخر آيت پورے.

**باب ۱۱۴:** وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّتَّخِذُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَنْدَادًا، اَضْدَادًا وَاحِدُهَا

**باب ۱۱۴:** آيت: وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّتَّخِذُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَنْدَادًا الـخ: ذ الله تعالي قول، بعضے خلق داسے دي، چـه ذ الـلّٰه نه بغير نور كارساز جوړوي. انداذا ذ ند جمع

لِلّٰهِ.

دہ. او د "ند" معني دي همسر يا شريک.

۴۸۶: حَدَّثَنَا عَبْدَانُ عَنْ أَبِيْ حَمْزَةَ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ شَقِيْقٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَلِمَةً وَ قُلْتُ أُخْرٰى قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ مَاتَ وَهُوَ يَدْعُوْ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ نِدًّا دَخَلَ النَّارَ وَ قُلْتُ اَنَا مَنْ مَاتَ وَهُوَ لَا يَدْعُوْ لِلّٰهِ نِدًّا دَخَلَ الْجَنَّةَ.

۴۸۶: عبدان. ابي حمزه. اعمش. شقيق. حضرت عبدالله بن مسعود نه روايت كوي، د هغه بيان دے، حضور صلي الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو، چاچه الله سره څوک شريک جوړ كړلو، او بيا مړ شولو نو هغه به دوزخ ته ځي، ما عرض اوكه، او چا چه الله سره شريک جوړ نه كړلو، او مړ شولو، نو حضورﷺ او فرمائيل، هغه به جنت له ځي.

باب ۱۱۵: قَوْلِهٖ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِى الْقَتْلٰى اَلْحُرُّ بِالْحُرِّ (اِلٰى قَوْلِهٖ) عَذَابٌ اَلِيْمٌ عُفِيَ: تُرِكَ.

باب ۱۱۵: آيت: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِى الْقَتْلٰى الخ: د الله تعالٰي فرمائيل، اے ايمان والو، په تاسو قصاص د مقتولين باره كښې فرض شوے دے. د آزاد په بدله كښې آزاد، عذاب اليم پورے. عُفِيَ: معني دي تُرِكَ: يعني معاف كړے شو.

۴۸۷: حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا عَمْرٌو قَالَ سَمِعْتُ مُجَاهِدًا قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍؓ يَقُوْلُ كَانَ فِيْ بَنِيْ اِسْرَائِيْلَ الْقِصَاصُ وَلَمْ تَكُنْ فِيْهِمُ الدِّيَةُ فَقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى لِهٰذِهِ الْاُمَّةِ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِى الْقَتْلٰى اَلْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْاُنْثٰى بِالْاُنْثٰى فَمَنْ عُفِيَ لَهٗ مِنْ اَخِيْهِ شَيْءٌ فَالْعَفْوُ اَنْ يَّقْبَلَ الدِّيَةَ فِى الْعَمْدِ فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوْفِ وَ اَدَاءٌ اِلَيْهِ بِاِحْسَانٍ يَّتَّبِعُ

۴۸۷: حميدي. سفيان. عمرو. مجاهد. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، د هغۀ بيان دے، بني اسرائيلو كښې صرف د قصاص قانون وو، خو د ديت رواج په كښې نۀ وو، اُمت محمديه باندے الله تعالٰي خپلے مهربانئے سره د ديت حكم نازل كړلو، څوک چه څوک قتل كړي، په هغۀ قصاص واجب دے، د ځان (نفس) په بدله كښې ځان، د آزاد په بدله كښې بنځه، اوكه د ديت د ادا كولو خيال وي، نو د مقتول وارثانو له پكار دي، چه خپلو كښې سره مقرر كړي او قبول ئے كړي، او قاتل له په بنۀ شان سره ديت ادا كول پكار دي، چه د ديت ادا

بِالْمَعْرُوْفِ وَ يُؤَدِّیْ بِاِحْسَانٍ ذٰلِكَ تَخْفِيْفٌ مِنْ رَّبِّكُمْ وَ رَحْمَةٌ مِمَّا كُتِبَ عَلٰى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ فَمَنِ اعْتَدٰى بَعْدَ ذٰلِكَ فَلَهُ عَذَابٌ اَلِيْمٌ، قَتَلَ بَعْدَ قُبُوْلِ الدِّيَةِ.

حکم دَ اللّٰه تعالٰي يوه مهرباني او تخفيف دے. په مخکنو خلقو د قصاص حکم وو، او تاسو ته دَ ديت هم رعايت درکړے شو. دے نه پس هم که څوک زياتے اوکړي، نو هغهٔ د پاره دردناک عذاب دے (يعني ديت قبلولو نه پس قتل).

ف: (۱) قصاص: بدل، دَ مرګ بدل، دَ مرې پور. د مسلمانانو دَ قانون مطابق دَ سترګے په بدل کښې سترګه، دَ پوزے په بدل کښې پوزه او دَ سر په بدل کښې سر اخستل. (۲) ديت: خون بها.

۴۸۸: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ الْاَنْصَارِیُّ حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ اَنَّ اَنَسًا حَدَّثَهُمْ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كِتَابُ اللّٰهِ الْقِصَاصُ.

۴۸۸: محمد بن عبدالله انصاري. حميد. حضرت انس رضي الله عنه نه روايت کوي، رسول الله صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، دَ الله کتاب دَ قصاص حکم ورکوي، خو په شرط دَ دے چه وارث ديت قبول نهٔ کړي.

۴۸۹: حَدَّثَنِیْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُنِيْرٍ سَمِعَ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ بَكْرٍ السَّهْمِیَّ حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ عَنْ اَنَسٍ اَنَّ الرُّبَيِّعَ عَمَّتَهُ كَسَرَتْ ثَنِيَّةَ جَارِيَةٍ فَطَلَبُوْا اِلَيْهَا الْعَفْوَ فَاَبَوْا فَعَرَضُوا الْاَرْشَ فَاَبَوْا فَاَتَوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْقِصَاصِ فَقَالَ اَنَسُ ابْنُ نَضْرٍ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَتُكْسَرُ ثَنِيَّةُ الرُّبَيِّعِ لَا وَالَّذِیْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَا تُكْسَرُ ثَنِيَّتُهَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا اَنَسُ كِتَابُ اللّٰهِ الْقِصَاصُ فَرَضِیَ الْقَوْمُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ مِنْ عِبَادِ اللّٰهِ مَنْ لَوْ اَقْسَمَ عَلَی اللّٰهِ

۴۸۹: عبدالله بن منير. عبدالله بن بکر سهمي. حضرت انس رضي الله عنه نه روايت کوي، څما ترور (پهوپهي) ربيع دَ يوے ښځے غاښ مات کړلو، چه دَ مخامخ غاښ وو، دَ ربيع رشته دارانو دَ معافي کوشش اوکهٔ، خو دَ ښځے رشته دارانو معاف نهٔ کړله آخر مقدمه ئے دَ حضورﷺ خدمت کښې پيش کړله او دَ قصاص مطالبه اوشوه. حضورﷺ دَ قصاص حکم جاري کړلو، دَ ربيع ورور انس بن نضر اووے يا رسول الله، آيا واقعي به دَ ربيع غاښ ماتولے شي، زهٔ په هغے الله قسم خورم، چه تاسو ئے په رينښتيا نبي راليږلے ئے، زه به دَ ربيع غاښ ماتولو له ورنهٔ کړم، حضورﷺ ورته اوفرمائيل، اے انس رضي الله عنه، دَ الله کتاب دَ قصاص حکم ورکوي، بيا داسے اوشو، چه دَ هغے رشته داران په معافئ راضي شو، نو حضورﷺ اوفرمائيل، دَ الله ځنے بنديان داسے هم وي، که په الله قسم اوخوري نو

لَاٰیٰةً.

اللّٰه تعالیٰ د هغوي قسم پوره کوي.

**باب ۱۱۶: قَوْلِهٖ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ.**

**باب ۱۱۶:** آیت: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ الخ: ارشاد باري تعالیٰ: اے ایمان والو! په تاسو روژے فرض شوے دي، څنګه چه تاسو نه مخکښو خلقو باندے فرض شوے وے د پاره د دے چه تاسو پرهیزګاري اوکړئ.

**۴۹۰:** حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيٰى عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ قَالَ اَخْبَرَنِيْ نَافِعٌ عَنِ ابْنِ عُمَرَؓ قَالَ كَانَ عَاشُوْرَآءُ يَصُوْمُهٗ اَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ قَالَ مَنْ شَآءَ صَامَهٗ وَمَنْ شَآءَ لَمْ يَصُمْهُ.

**۴۹۰:** مسدد. یحیٰي. عبیدالله. نافع. حضرت ابن عمرؓ نه روایت کوي، د هغه بیان دے، د جاهلیت زمانه کښې ذ عاشورے روژه فرض وه. دے نه پس اسلام کښې ذ رمضان روژے فرض شوے، نو حضورؐ مسلمانانو ته ارشاد اوفرمائیلو، اوس ذ عاشورے روژه ستاسو په مرضي ده، که زړه مو غواړي، نو وے نیسئے او که نهٔ غواړي، نو مهٔ نیسئے.

**۴۹۱:** حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَؓ قَالَتْ كَانَ عَاشُوْرَآءُ يُصَامُ قَبْلَ رَمَضَانَ فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ قَالَ مَنْ شَآءَ صَامَ وَمَنْ شَآءَ اَفْطَرَ.

**۴۹۱:** عبدالله بن محمد. ابن عیینه. زهري. عروه. بي بي عائشےؓ روایت کوي، ذ رمضان روژے چه فرض نهٔ وے، نو خلقو به ذ عاشورے روژه نیوله. کوم وخت چه ذ رمضان روژے فرض شوے، نو حضورؐ اوفرمائیل، اوس خوک چه غواړي ذ عاشورے روژه دے اونیسي، او خوک چه نهٔ غواړي، نهٔ دے نیسي.

**۴۹۲:** حَدَّثَنِيْ مَحْمُوْدٌ اَخْبَرَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ عَنْ اِسْرَآئِيْلَ عَنْ مَنْصُوْرٍ عَنْ اِبْرٰهِيْمَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ دَخَلَ عَلَيْهِ الْاَشْعَثُ وَهُوَ يَطْعَمُ فَقَالَ الْيَوْمَ عَاشُوْرَآءُ فَقَالَ كَانَ يُصَامُ قَبْلَ اَنْ يَّنْزِلَ رَمَضَانُ فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ تُرِكَ فَادْنُ

**۴۹۲:** محمود. عبیدالله. اسرائیل. منصور. ابراهیم نخعي. علقمه. حضرت عبدالله نه روایت کوي، ذ عاشورے په ورځ اشعث بن قیس ماته راغے، ما هغه وخت ډوډي خوړله. اشعث اووے، نن خو ذ عاشورے ورځ ده، ابن مسعود جواب ورکهٔ، ذ رمضان ذ روژو نه مخکښې به ذ عاشورے روژه نیولے شوه، خو ذ رمضان نه پس ذ عاشورے روژه ختمه شوه، راځه تهٔ هم

فَكُلْ.

اُوخوره.

۴۹۳: حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنّٰى حَدَّثَنَا يَحْيٰى حَدَّثَنَا هِشَامٌ قَالَ اَخْبَرَنِي اَبِي عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ يَوْمُ عَاشُوْرَاءَ تَصُوْمُهُ قُرَيْشٌ فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُوْمُهُ فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِيْنَةَ صَامَهُ وَ اَمَرَ بِصِيَامِهِ فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ كَانَ رَمَضَانُ الْفَرِيْضَةَ وَ تُرِكَ عَاشُوْرَآءُ فَكَانَ مَنْ شَآءَ صَامَهُ وَمَنْ شَآءَ لَمْ يَصُمْهُ.

۴۹۳: محمد بن مثنى. هشام. عروه. بي بي عائشےؓ نه روايت كوي، ذ هغے بيان دے دَ جاهليت زمانه كښ به قريش خلقو دَ عاشورے روژه نيوله، او نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم به هم دا روژه نيوله، كوم وخت چه حضورؐ په هجرت مدينے ته راغے، نو هم ئے روژه اونيوله، او مسلمانانو ته ئے هم دَ روژے نيولو حكم اوكړ خو كوم وخت چه دَ رمضان روژے فرض شوے، نو دَ عاشورے روژه ترك كړے شوه. او اوفرمائيلے شو، چه دَ چا زړه غواړي (دَ عاشورے) روژه دے اونيسي، او څوك چه نهٔ غواړي نهٔ دے نيسي.

باب ۱۱۷: اَيَّامًا مَّعْدُوْدَاتٍ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَّرِيْضًا اَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ اَيَّامٍ اُخَرَ وَ عَلَى الَّذِيْنَ يُطِيْقُوْنَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِيْنٍ فَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُ وَ اَنْ تَصُوْمُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ. وَ قَالَ عَطَآءٌ يُفْطِرُ مِنَ الْمَرَضِ كُلِّهِ كَمَا قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَ قَالَ الْحَسَنُ وَ اِبْرٰهِيْمُ فِي الْمُرْضِعِ وَالْحَامِلِ اِذَا خَافَتَا عَلٰى اَنْفُسِهِمَا اَوْ وَلَدِهِمَا تُفْطِرَانِ ثُمَّ تَقْضِيَانِ وَ اَمَّا الشَّيْخُ الْكَبِيْرُ اِذَا لَمْ يُطِقِ الصِّيَامَ فَقَدْ اَطْعَمَ اَنَسٌ بَعْدَ مَا كَبِرَ عَامًا اَوْ عَامَيْنِ كُلَّ

باب ۱۱۷: آيت: اَيَّامًا مَّعْدُوْدٰتٍ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَّرِيْضًا الخ: دَ اللّٰه تعالىٰ قول دَ څو مقرره ورځو روژے فرض شوے دي، بيا چه تاسو كښ څوك ناروغه وي، يا په سفر وي، نو هغه دے نورو ورځو كښ اونيسي، او دَ چا چه دَ روژے طاقت نهٔ وي، دَ هغوي په ذمه بدله كښ دَ يو فقير طعام دے. بيا چه څوك په خوښي نيكي اوكړي، نو دَ هغهٔ دَ پاره ښهٔ ده. او روژه ستاسو دَ پاره بهتره ده، كه تاسو پوهيږئے عطاء وائي، هرے بيماري كښ روژه پريښودے شي، څنګه چه دَ اللّٰه تعالىٰ ارشاد دے. حسن بصري او ابراهيم وائي، كه يوے پيے وركونكے يا حاملے ښځے ته دَ خپل ځان يا دَ بچي دَ ځان تلو انديښنه وي، نو هغه روژه پريښودے شي بيا ورستو دے قضا اوكړي، او ډير ضعيف يعنے شيخ كبير كه روژه نشي نيوے، نو هغهٔ له پكار دي، چه فديه ادا كړي، حضرت انسؓ چه ډير بوډا شو، او دَ روژے نيولو طاقت ئے پاتے نهٔ شو، نو يو

يَـوْمٍ مِسْـكِيْـنًـا خُبْـزًا وَ لَـحْـمًـا وَ اَفْطَرَ قِرَآءَةُ الْعَامَّةِ يُطِيْقُوْنَهٗ وَهُوَ اَكْثَرُ.

کال یا دوه کاله هغهٔ روژه اونه نیوله، او ذ فدیے په طور به ئے په یو مسکین غوښه ډوډي خوروله. دے آیت کښې تولو خلقو يُطِيْقُوْنَهٗ لوستے دے.

۴۹۴: حَدَّثَنِيْ اِسْحٰقُ اَخْبَرَنَا رَوْحٌ حَدَّثَنَا زَكَرِيَّاءُ بْنُ اِسْحٰقَ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ دِيْنَارٍ عَنْ عَطَآءٍ سَمِعَ ابْنَ عَبَّاسٍؓ يَقْرَأُ وَ عَلَى الَّذِيْنَ يُطَوَّقُوْنَهٗ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِيْنٍ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَيْسَتْ بِمَنْسُوْخَةٍ هُوَ الشَّيْخُ الْكَبِيْرُ وَالْمَرْاَةُ الْكَبِيْرَةُ لَا يَسْتَطِيْعَانِ اَنْ يَّصُوْمَا فَلْيُطْعِمَانِ مَكَانَ كُلِّ يَوْمٍ مِسْكِيْنًا.

۴۹۴: اسحاق. روح. زکریا. عمرو بن دینار. عطاء روایت کوي، ذ هغهٔ بیان دے. ما ذ حضرت ابن عباسؓ نه دا آیت داسے لوستل اوریدلے دي: وَ عَلَى الَّذِيْنَ يُطَوَّقُوْنَهٗ: یعنې کوم خلق چه ذ روژے طاقت نهٔ لري، ذ هغوي په یو غریب باندے طعام خوړل دي. ابن عباسؓ وائي، دا آیت منسوخ نهٔ دے، بلکه ددے حکم ذ ضعیف سړو او بوډے ښځو په حق کښې دے چه روژه نشي نیولے، نو هغوي دے هره ورځ یو مسکین باندے ډوډي خوروي.

## بَـــابٌ ۱۱۸: قَـــوْلُـــهٗ فَـمَـنْ شَهِـدَ مِـنْـكُـمُ الشَّهْـرَ فَلْيَصُمْهُ.

باب ۱۱۸: آیت: فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ: ذ الله تعالي قول، چه کوم سړي باندے رمضان راشي، هغه دے ذ ټولے میاشتے روژے اونیسي.

۴۹۵: حَدَّثَنَا عَيَّاشُ بْنُ الْوَلِيْدِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْاَعْلٰى حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّهٗ قَرَاَ فِدْيَةٌ طَعَامُ مَسَاكِيْنَ قَالَ هِيَ مَنْسُوْخَةٌ.

۴۹۵: عیاش بن ولید. عبدالاعلي عبیدالله. حضرت نافع نه روایت کوي، هغهٔ اووے، ابن عمرؓ اوفرمائیل، دا پوره آیت یعني: وَ عَلَى الَّذِيْنَ يُطِيْقُوْنَهٗ، الخ د دے ایت یعني فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ. سره منسوخ شوے دے

۴۹۶: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا بَكْرُ بْنُ مُضَرَ عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ عَنْ بُكَيْرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ يَزِيْدَ بْنِ مَوْلٰى سَلَمَةَ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ وَ عَلَى الَّذِيْنَ يُطِيْقُوْنَهٗ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِيْنٍ كَانَ مَنْ اَرَادَ اَنْ يُفْطِرَ وَ يَفْتَدِيَ

۴۹۶: قتیبه. بکر بن مضر. عمرو بن حارث بکیر بن عبدالله. یزید بن ابي عبید د حضرت سلمه بن اکوع نه روایت کوي، ذ هغهٔ بیان دے، کوم وخت چه دا آیت نازل شولو وَ عَلَى الَّذِيْنَ يُطِيْقُوْنَهٗ فِدْيَةٌ: یعني تندرست سړے هم که غواړي روژه دے نهٔ نیسي، او فدیه دے ادا کړي نو دے نه پس بیا دا آیت نازل شولو:

حَتّٰى نَزَلَتْ اٰيَةُ الَّتِيْ بَعْدَهَا فَنَسَخَتْهَا مَاتَ بُكَيْرٌ قَبْلَ يَزِيْدَ.

فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ: نودې آيت سره هغه مخکنې آيت منسوخ کړې شو.

بـاب ۱۱۹: قَـوْلُـهٖ اُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ اِلٰى نِسَآءِكُمْ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَ اَنْتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ عَلِمَ اللّٰهُ اَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَخْتَانُوْنَ اَنْفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَ عَفَا عَنْكُمْ فَالْاٰنَ بَاشِرُوْهُنَّ وَابْتَغُوْا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ.

باب ۱۱۹: آيت: اُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ اِلٰى نِسَآئِكُمْ الخ: ذَ اللّٰه تعالىٰ فرمائيل، ذَ روژو په شپو کښې خپلو ښځو سره بې حجابه کيدل په تاسو حلال شو، هغه ستاسو پوشاک دې، او تاسو ذَ هغوي پوشاک ئې. اللّٰه ته معلومه ده، چه تاسو خپل ځانونو سره خيانت کولو، نو تاسو ئې معاف کړلئې. بيا تاسو خپلو ښځو سره يو ځائې کيږئې، او طلب کوئې، څۀ چه اللّٰه تعالىٰ تاسو ذَ پاره ليکلې دي.

۴۷۹۷: حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ عَنْ اِسْرَآءِيْلَ عَنْ اَبِيْ اِسْحٰقَ عَنِ الْبَرَاءِ ح وَ حَدَّثَنَا اَحْمَدُ بْنُ عُثْمَانَ حَدَّثَنَا شُرَيْحُ بْنُ مَسْلَمَةَ قَالَ حَدَّثَنِيْ اِبْرٰهِيْمُ بْنُ يُوْسُفَ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ اَبِيْ اِسْحٰقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ لَمَّا نَزَلَ صَوْمُ رَمَضَانَ كَانُوْا لَا يَقْرَبُوْنَ النِّسَآءَ رَمَضَانَ كُلَّهٗ وَ كَانَ رِجَالٌ يَخُوْنُوْنَ اَنْفُسَهُمْ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ عَلِمَ اللّٰهُ اَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَخْتَانُوْنَ اَنْفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَ عَفَا عَنْكُمْ.

۴۷۹۷: عبيداللّٰه اسرائيل. ابو اسحاق. براء بن عازب (دويم سند) احمد بن عثمان. شريح بن مسلمه. ابراهيم بن يوسف. حضرت براء بن عازب نه روايت كوي، ذَ هغۀ بيان دې، ذَ رمضان روژې چه فرض شوې، نو خلق به ذَ شپې هم ذَ خپلو ښځو نه جدا اوسيدل تردې چه ټول رمضان به تير شولو، نو هغه وخت اللّٰه تعالىٰ دا آيت نازل كړلو: عَلِمَ اللّٰهُ اَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَخْتَانُوْنَ اَنْفُسَكُمْ: يعني اللّٰه ته معلومه ده، چه تاسو ځان سره خيانت كولو، نو تاسو ئې معاف كړلئې.

بـاب ۱۲۰: قَـوْلُـهٖ وَ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْاَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْاَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ثُمَّ اَتِمُّوا الصِّيَامَ اِلَى

باب ۱۲۰: آيت: كُلُوْا وَاشْرَبُوْا حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْاَبْيَضُ: ارشاد باري تعالىٰ چه خورئې، څکئې تردې چه تاسو ته ذَ صبا سپينه ليکه ذَ تورې ليکې نه جدا صفا په نظر راشي، بيا ذَ شپې پورې روژه پوره کړئې، او څو پورې چه تاسو جمات کښې اعتکاف کښې يئې، نو

اللَّيْلِ وَلَا تُبَاشِرُوْهُنَّ وَ أَنْتُمْ عَاكِفُوْنَ فِي الْمَسَاجِدِ إِلَى قَوْلِهِ يَتَّقُوْنَ، الْعَاكِفُ الْمُقِيْمُ.

خپلو بیبیانو سره صحبت مه کوئ، دا د الله حدونه دي نو دے ته نزدے مه ورځئ، دا شان الله خپل آیتونه خلقو ته بیانوي چه خان بچ ساتي. د عاکف معني دي مقیم اقامت واله.

۴۹۸: حَدَّثَنَا مُوْسَى بْنُ إِسْمَاعِيْلَ حَدَّثَنَا أَبُوْ عَوَانَةَ عَنْ حُصَيْنٍ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنْ عَدِيٍّ قَالَ أَخَذَ عَدِيٌّ عِقَالًا أَبْيَضَ وَ عِقَالًا أَسْوَدَ حَتَّى كَانَ بَعْضُ اللَّيْلِ نَظَرَ فَلَمْ يَسْتَبِيْنَا فَلَمَّا أَصْبَحَ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ جَعَلْتُ تَحْتَ وِسَادَتِيْ قَالَ إِنَّ وِسَادَتَكَ إِذًا لَعَرِيْضٌ إِنْ كَانَ الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ وَالْأَسْوَدُ تَحْتَ وِسَادَتِكَ.

۴۹۸: موسي بن اسماعیل. ابو عوانه. حصین. عامر شعبي. حضرت عدي بن حاتمؓ نه روایت کوي، هغه اوویے، ما دوه تارونه تور او سپین اوساتل، او د شپے م کتل، او خو پورے چه هغے کښ څه فرق راته معلوم نه شو، نو خوراک م کولو، سحر ته م د حضور صلي الله عليه وسلم په خدمت کښ عرض اوکړ، یا رسول الله، د شپے ما داسے داسے اوکړل، دوه تور او سپین تارونه (یا مزي) م د خپل بالښت لاندے ایښے وو، حضورؐ د عدي خبرے آوریدو سره خندا کښ اوفرمائیل، ستا بالښت ډیر لوئے دے، چه د سحر سپینه کرښه او د شپے توره کرښه د هغے لاندے راغله.

۴۹۹: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيْدٍ حَدَّثَنَا جَرِيْرٌ عَنْ مُطَرِّفٍ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنْ عَدِيِّ ابْنِ أَبِيْ حَاتِمٍؓ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا الْخَيْطُ الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ أَهُمَا الْخَيْطَانِ قَالَ إِنَّكَ لَعَرِيْضُ الْقَفَا إِنْ أَبْصَرْتَ الْخَيْطَيْنِ ثُمَّ قَالَ لَا بَلْ هُوَ سَوَادُ اللَّيْلِ وَ بَيَاضُ النَّهَارِ.

۴۹۹: قتیبه بن سعید. جریر. مطرف. شعبي. حضرت عدي بن حاتمؓ نه روایت کوي، هغه اووے، ما د حضورؐ نه تپوس اوکړ، دے آیت کښ د تور او سپین تار نه څه مطلب دے، آیا ما چه څه اوکړل دغه ترے مطلب دے. حضورؐ ورته اوفرمائیل، ته هم عجیبه نادان ئے، چه د شپے تور او سپین مزي ګورے حالانکه د دے نه د شپے توروالے او د سحر سپین والے مراد دے.

۵۰۰: حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِيْ مَرْيَمَ حَدَّثَنَا أَبُوْ غَسَّانَ مُحَمَّدُ بْنُ مُطَرِّفٍ حَدَّثَنِيْ أَبُوْ حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ

۵۰۰: سعید بن ابي مریم. ابو غسان. محمد بن مطرف. ابو حازم. سهل بن سعد نه روایت کوي، د هغه بیان دے، کوم وخت چه د

سَعْدٍ قَالَ وَ اُنْزِلَتْ وَ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْاَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْاَسْوَدِ وَلَمْ يُنْزَلْ مِنَ الْفَجْرِ وَ كَانَ رِجَالٌ اِذَا اَرَادُوا الصَّوْمَ رَبَطَ اَحَدُهُمْ فِيْ رِجْلَيْهِ الْخَيْطَ الْاَبْيَضَ وَالْخَيْطَ الْاَسْوَدَ وَلَا يَزَالُ يَاْكُلُ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَهٗ رُؤْيَتُهُمَا فَاَنْزَلَ اللّٰهُ بَعْدَهٗ مِنَ الْفَجْرِ فَعَلِمُوْا اِنَّمَا يَعْنِي اللَّيْلَ مِنَ النَّهَارِ.

كُلُوْا وَاشْرَبُوْا: آیت نازل شولو، نو څنې خلقو خپله پښه کښې تور او سپین تار اوتړلو او دَ شپې چه څو پورې دې تارونو کښې ورته څۀ فرق په نظر نۀ راتلو، نو خوراک څښاک به ئې کولو، بیا دې نه پس دَ (مِن الفجر) الفاظ نازل شو، نو تولو ته پته اولګیدله، چه دَ تور تار نه مراد شپه او دَ سپین تار نه مراد ورځ ده (یعني دَ صبح صادق دَ رنړا پورې دَ خوراک څښاک اجازت دې).

باب ۱۲۱: قَوْلِهٖ وَ لَيْسَ الْبِرُّ بِاَنْ تَاْتُوا الْبُيُوْتَ مِنْ ظُهُوْرِهَا وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقٰى وَاْتُوا الْبُيُوْتَ مِنْ اَبْوَابِهَا وَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ.

باب ۱۲۱: آیت: وَ لَيْسَ الْبِرُّ بِاَنْ تَاْتُوا الْبُيُوْتَ مِنْ ظُهُوْرِهَا الخ: دَ اللّٰه تعالىٰ ارشاد، دا څۀ نیکي نۀ ده، چه کورونو ته دَ شا دَ طرف نه په دیوال راتوپ سره داخل شئې. بلکه نیکي داده، چه سړې پرهیزګاري اوکړي، او کورته په دروازه راشي، او دَ اللّٰه نه ویره کوئې، چه خلاصي بیاموئې، دَ دې تفسیر.

۱۰۵: حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ مُوْسٰى عَنْ اِسْرَآئِيْلَ عَنْ اَبِيْ اِسْحٰقَ عَنِ الْبَرَآءِ قَالَ كَانُوْا اِذَا اَحْرَمُوْا فِي الْجَاهِلِيَّةِ اَتَوُا الْبَيْتَ مِنْ ظَهْرِهٖ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ وَ لَيْسَ الْبِرُّ بِاَنْ تَاْتُوا الْبُيُوْتَ مِنْ ظُهُوْرِهَا وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقٰى وَاْتُوا الْبُيُوْتَ مِنْ اَبْوَابِهَا.

۱۰۵: عبیداللّٰه بن موسیٰ. اسرائیل. ابو اسحاق. حضرت براء بن عازب نه روایت کوي، دَ هغۀ بیان دې، دَ جاهلیت زمانه کښې چه عرب خلق به دَ احرام حالت کښې خپل کور ته راتلل، نو دَ مکان دَ شا دَ طرف نه په دیوال راتوپ کولو سره یا دَ چهت طرف نه به راتلل، دې دَ پاره اللّٰه تعالىٰ دا آیت نازل کړلو.

باب ۱۲۲: قَوْلِهٖ وَ قَاتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَ يَكُوْنَ الدِّيْنُ لِلّٰهِ فَاِنِ انْتَهَوْا فَلَا عُدْوَانَ اِلَّا عَلَى الظّٰلِمِيْنَ.

باب ۱۲۲: آیت: قَاتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ الخ تفسیر. دَ اللّٰه تعالىٰ قول، او تاسو دوي قتلوئې تر دې چه دَ فتنې او فساد خاتمه اوشي، او دین خالص دَ اللّٰه غالب شي، او زیاتې مۀ کوې، خو په ظالمانو.

۴۵۰۲: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَتَاهُ رَجُلَانِ فِيْ فِتْنَةِ ابْنِ الزُّبَيْرِ فَقَالَا اِنَّ النَّاسَ صَنَعُوْا وَ اَنْتَ ابْنُ عُمَرَ وَ صَاحِبُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا يَمْنَعُكَ اَنْ تَخْرُجَ فَقَالَ يَمْنَعُنِيْ اَنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ دَمَ اَخِيْ فَقَالَا اَلَمْ يَقُلِ اللّٰهُ وَ قَاتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ فَقَالَ قَاتَلْنَاهُمْ حَتّٰى لَمْ تَكُنْ فِتْنَةٌ وَ كَانَ الدِّيْنُ لِلّٰهِ وَ اَنْتُمْ تُرِيْدُوْنَ اَنْ تُقَاتِلُوْا حَتّٰى تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَّ يَكُوْنَ الدِّيْنُ لِغَيْرِ اللّٰهِ وَ زَادَ عُثْمَانُ بْنُ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ وَهْبٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ فُلَانٌ وَ حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ عَنْ بَكْرِ بْنِ عَمْرٍو الْمُعَافِرِيِّ اَنَّ بُكَيْرَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَهُ عَنْ نَافِعٍ اَنَّ رَجُلًا اَتَى ابْنَ عُمَرَ فَقَالَ يَا اَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ مَا حَمَلَكَ عَلٰى اَنْ تَحُجَّ عَامًا وَّ تَعْتَمِرَ عَامًا وَ تَتْرُكَ الْجِهَادَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ عَزَّ وَ جَلَّ قَدْ عَلِمْتَ مَا رَغَّبَ اللّٰهُ فِيْهِ قَالَ يَا ابْنَ اَخِيْ بُنِيَ الْاِسْلَامُ عَلٰى خَمْسٍ اِيْمَانٍ بِاللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ وَ الصَّلٰوةِ الْخَمْسِ وَ صِيَامِ

۴۵۰۲: محمد بن بشار. عبدالوهاب. عبيدالله. نافع. حضرت ابن عمرؓ نه روايت كوي، ذ ابن زبيرؓ ذ فتنے زمانه كښې دوه سړي ماله راغلل، او وئيلے، تاسو وينئے، خلقو كښې څنګه فتنه او فساد راپورته شوے دے حالانكه تاسو ذ حضرت عمرؓ خوئے او ذ رسول اكرم صلي الله عليه وسلم صحابي يئے دے وخت ولے نۀ راپاسئے، او دا فتنه او فساد ولے نۀ بندوئے. ما ورته اووے زۀ څكه خاموش يم، چه الله مسلمان ذ مسلمان ذ خون كولو نه منع كړے دے، هغه اووے، آيا الله دا نۀ دي فرمائيلے، چه دوي سره جنګيږئے. تر دے چه فتنه ختمه شي، هغۀ اووے، دا كار مونږ ذ حضور صلي الله عليه وسلم په زمانه مبارك كښې كړے دے، او دے پورے مو كړے دے، چه ذ شرك او كفر فتنه ختمه شوه او خالص ذ الله دين پاتے شو، اوس تۀ دا غواړے، چه جنګ سره فتنه زياته شي، عثمان بن صالح وائي، عبدالله بن وهب دا هديث دغسے بيان كړے دے. عبدالله بن لهيعه، حيوة بن شريح، بكر بن عمرو معافري، بكير بن عبدالله، نافع نه روايت كوي، يو سړے عبدالله بن عمرؓ له راغے، او وئيلے اے ابا عبدالرحمٰن، دا په تاسو څۀ اوشو، چه يو كال حج كوئے، او يو كال عمره كوئے، او جهاد في سبيل الله مو ترك كړے دے، حالانكه تاسو ته معلومه ده، چه الله تعالٰي ذ جهاد لوئے فضيلت بيان كړے دے. او ذ جهاد كولو رغبت ئے وركړے دے. هغوي ورته اوفرمائيل، اے خما ورارهٔ، ذ اسلام بنياد په پنځو څيزونو دے: اول ذ توحيد او رسالت اقرار كول، دوئم پنځه وخته مونځ، دريم ذ رمضان روژے، څلورم زكوٰة ادا كول، پنځم حج.

رَمَضَانَ وَ اَدَاءِ الزَّكٰوةِ وَ حَجِّ الْبَيْتِ قَالَ يَا اَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ اَلَا تَسْمَعُ مَا ذَكَرَ اللّٰهُ فِيْ كِتَابِهٖ وَ اِنْ طَآئِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا (اِلٰي قَوْلِهٖ) اَمْرِ اللّٰهِ وَ قَاتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ قَالَ فَعَلْنَا عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ كَانَ الْاِسْلَامُ قَلِيْلًا فَكَانَ الرَّجُلُ يُفْتَنُ فِيْ دِيْنِهٖ اِمَّا قَتَلُوْهُ وَ اِمَّا يُعَذِّبُوْهُ حَتّٰى كَثُرَ الْاِسْلَامُ فَلَمْ تَكُنْ فِتْنَةٌ قَالَ فَمَا قَوْلُكَ فِيْ عَلِيٍّ وَّ عُثْمَانَ قَالَ اَمَّا عُثْمَانُ فَكَانَ اللّٰهُ عَفَا عَنْهُ وَ اَمَّا اَنْتُمْ فَكَرِهْتُمْ اَنْ تَعْفُوْا وَ اَمَّا عَلِيٌّ فَابْنُ عَمِّ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَخَتَنُهٗ وَ اَشَارَ بِيَدِهٖ فَقَالَ هٰذَا بَيْتُهٗ حَيْثُ تَرَوْنَ.

دے نه پس هغے سړي اووے' آيا تا دَ اللّٰه دا حکم نۀ دے آوريدلے' که دَ مسلمانانو دوه ډلے خپلو کښې جنګ کوي' نو هغوي کښې صلح کوئے' او که يوه ډله اونۀ مني' او په بله ډله زياتے کوي' نو بيا هغوي سره هغه وخته پورے جنګيږئے' ترڅو چه هغوي دَ اللّٰه حکم اومني' عبدالله بن عمرؓ ورته اووے مونږ دَ رسول الله صلي الله عليه وسلّم زمانه کښې دا کار کړے دے' حالانکه هغه وخت مسلمانان ډير کم او کافر ډير زيات وو. دغه کافرو به مسلمانان پريشانه کول' او دَ هغوي دين به ئے خرابولو. آخر دَ مسلمانانو تعداد زيات شو' فتنه ختمه شوه. هغے سړي بيا اووے' بنه دا خو اوفرمائے' چه دَ عليؓ او عثمانؓ متعلق ستاسو څۀ خيال دے' عبدالله بن عمرؓ جواب ورکۀ' دَ حضرت عثمانؓ قصور اللّٰه تعالٰي معاف کړے دے' او تاسو اوس هم هغۀ ته بد وائے' او حضرت عليؓ خو دَ رسول الله صلي الله عليه وسلّم دَ ترۀ خوئے او زوم دے' دَ هغۀ کور دَ حضورؐ کور سره لږيدلے وو' دَ هغۀ په حقله دَ څۀ وئيلو ګنجائش نشته.

بَابُ ۱۲۳ : قَوْلِهٖ وَ اَنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلَا تُلْقُوْا بِاَيْدِيْكُمْ اِلَى التَّهْلُكَةِ وَ اَحْسِنُوْا اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ التَّهْلُكَةِ وَالْهَلَاكُ وَاحِدٌ.

باب ۱۲۳ : آيت: وَ اَنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلَا تُلْقُوْا بِاَيْدِيْكُمْ اِلَى التَّهْلُكَةِ الخ تفسير: دَ اللّٰه تعالٰي ارشاد' دَ اللّٰه په لار کښې خرچ کوئے' او دَ خپله لاسه هلاکت کښې مۀ غورځيږئے' او احسان کوئے' اللّٰه تعالٰي احسان کونکو سره محبت کوي. تهلکه او هلاکت يو معني دي' يعني هلاکت' بربادي.

۵۰۳ : حَدَّثَنَا اِسْحٰقُ اَخْبَرَنَا النَّضْرُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سُلَيْمَانَ قَالَ سَمِعْتُ اَبَا وَائِلٍ عَنْ

۵۰۳ : اسحٰق. نضر. شعبه. سليمان. حضرت ابو وائلؒ نه روايت کوي' دَ هغۀ بيان دے' ما دَ حذيفه بن يمان نه واوريدل دا آيت: انفقوا فى سبيل الله الخ يعني دَ

حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سُلَيْمَانَ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا وَائِلٍ عَنْ حُذَيْفَةَ وَ أَنْفِقُوا فِي سَبِيلِ اللّهِ وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ قَالَ نَزَلَتْ فِي النَّفَقَةِ.

الله په لار کښې خرچ کوئ او د خپله لاسه هلاکت کښې مه غرځیږئ، د الله په لار کښې د خرچ کولو متعلق نازل شوے دے.

**بَاب ۱۲۴ : قَوْلِهِ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسِهِ.**

**باب ۱۲۴ : آیت: فمن کان منکم مریضا او به اذی الخ** تفسیر: د الله تعالی ارشاد، که تاسو کښې څوک ناروغه وي، یا د هغه سر کښې تکلیف وي.

۴۰۵ : حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ الْأَصْبَهَانِيِّ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللّهِ بْنَ مَعْقِلٍ قَالَ قَعَدْتُ إِلَى كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ فِي هٰذَا الْمَسْجِدِ يَعْنِي مَسْجِدَ الْكُوفَةِ فَسَأَلْتُهُ عَنْ فِدْيَةٍ مِنْ صِيَامٍ فَقَالَ حُمِلْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْقَمْلُ يَتَنَاثَرُ عَلٰى وَجْهِي فَقَالَ مَا كُنْتُ أُرٰى أَنَّ الْجَهْدَ قَدْ بَلَغَ بِكَ هٰذَا أَمَا تَجِدُ شَاةً قُلْتُ لَا قَالَ صُمْ ثَلٰثَةَ أَيَّامٍ أَوْ أَطْعِمْ سِتَّةَ مَسَاكِينَ لِكُلِّ مِسْكِينٍ نِصْفَ صَاعٍ مِنْ طَعَامٍ وَ احْلِقْ رَأْسَكَ فَنَزَلَتْ فِيَّ خَاصَّةً وَ هِيَ لَكُمْ عَامَّةً.

۴۰۵ : آدم. شعبه. عبدالرحمن بن اصبهاني نه روایت کوي، عبدالله بن مغفل نه ما واوریدل، زه د کوفې جمات کښې کعب بن عجره سره ناست ووم، ما د هغه نه د روژې د فدیې باره کښې تپوس اوکړ، هغه اوفرمائیل، زه خلقو د نبي صلي الله علیه وسلّم خدمت کښې پیش کړم، هغه وخت خما د سر نه سپږې (جوئیں) په مخ راپریوتلې. لیدو سره حضور صلي الله علیه وسلّم راته اوفرمائیل ته خو ډیر تکلیف کښې یې، تا سره څه چیلئ نشته، ما عرض اوکړ، نه، حضورﷺ ارشاد اوفرمائیلو، بنه ده، درې روژې اونیسه یا شپږ مسکینانو باندې طعام اوخوروه، چه هر مسکین ته نیم صاع غله اورسي. او خپل سر اوخریه، کعب وائي، دا آیت (یعني فمن کان منکم مریضًا) خاص ما د پاره نازل شوے وو، خو د دے حکم تاسو ټولو د پاره یکسان (یو شان) دے.

**بَاب ۱۲۵ : قَوْلِهِ فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ.**

**باب ۱۲۵ : آیت: فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ :** تفسیر: کوم سړے چه د عمرې نه پس د حج احرام اوتړي.

۵۰۵ : حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيٰى عَنْ عِمْرَانَ أَبِي بَكْرٍ حَدَّثَنَا أَبُو رَجَاءٍ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ

۵۰۵ : مسدد. یحیٰي. عمران. ابي بکر. ابو رجاء. عمران بن حصین نه روایت کوي، د هغه بیان دے، کوم وخت چه تمتع آیت نازل شو، نو مونږ رسول

قَالَ اُنْزِلَتْ اٰيَةُ الْمُتْعَةِ فِيْ كِتَابِ اللّٰهِ فَفَعَلْنَاهَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَنْزِلْ قُرْاٰنٌ يُحَرِّمُهُ وَلَمْ يَنْهَ عَنْهَا حَتّٰى مَاتَ قَالَ رَجُلٌ بِرَأْيِهٖ مَا شَآءَ.

الله صلي الله عليه وسلم سره تمتع او كړله' بيا دې نه پس څه داسې آيت رانغې' چه د هغې د رو' نه د تمتع نه منع شوې وې' تر دې چه حضورﷺ د دې دُنيا نه تشريف يوړلو' صرف حضرت عمرؓ دې' چه خپله رائې جدا لري.

## بَابٌ ١٢٦ : قَوْلِهٖ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَبْتَغُوْا فَضْلًا مِنْ رَّبِّكُمْ.

باب ١٢٦ : آيت: لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَبْتَغُوْا فَضْلًا مِنْ رَّبِّكُمْ: تفسير: د حج زمانه کښې په تاسو ګناه نشته' چه دَ خپل رب فضل تلاش کړئ.

٥٠٦ : حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدٌ قَالَ اَخْبَرَنِيْ ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ عَمْرٍو عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍؓ قَالَ كَانَتْ عُكَاظُ وَ مَجَنَّةُ وَ ذُوا الْمَجَازِ اَسْوَاقًا فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَتَاَثَّمُوْا اَنْ يَّتَّجِرُوْا فِي الْمَوَاسِمِ فَنَزَلَتْ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَبْتَغُوْا فَضْلًا مِنْ رَّبِّكُمْ فِيْ مَوَاسِمِ الْحَجِّ.

٥٠٦ : محمد. سفيان بن عيينه. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي' هغه اووې' دَ جاهليت زمانه کښې درې بازارونه وو' عكاظ. مجنه. ذوالمجاز. دَ حج زمانه کښې دې بازارونو کښې خلقو تجارت كولو' خو دَ مسلمانيدو نه پس ئې دا معيوب ګنړلو' نو هغه وخت دا آيت نازل شو' چه دَ حج زمانه کښې تجارت كولو کښې څه ګناه نشته.

## بَابٌ ١٢٧ : قَوْلِهٖ ثُمَّ اَفِيْضُوْا مِنْ حَيْثُ اَفَاضَ النَّاسُ.

باب ١٢٧ : آيت: ثُمَّ اَفِيْضُوْا مِنْ حَيْثُ اَفَاضَ النَّاسُ: تفسير: دَ الله تعالي قول دَ كوم ځائې نه چه خلق واپس كيږي' دَ هغې ځائې نه تاسو هم واپس كيږئ.

٥٠٧ : حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَازِمٍ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ عَائِشَةَؓ كَانَتْ قُرَيْشٌ وَمَنْ دَانَ دِيْنَهَا يَقِفُوْنَ بِالْمُزْدَلِفَةِ وَ كَانُوْا يُسَمَّوْنَ الْحُمْسَ وَ كَانَ سَائِرُ الْعَرَبِ يَقِفُوْنَ بِعَرَفَاتٍ فَلَمَّا جَآءَ الْاِسْلَامُ اَمَرَ اللّٰهُ نَبِيَّهٗ

٥٠٧ : علي بن عبدالله. محمد بن حازم. هشام. عروه. بي بي عائشےؓ نه روايت كوي' دَ هغې بيان دې' قريش او دَ هغوي هم خياله خلقو به مزدلفه کښې وقوف كولو' او هغې ته به ئې حمس وئيلې او دَ عربو نورو قبائلو به عرفات کښې قيام كولو. دَ اسلام راتلو نه پس الله تعالي رسول الله ته حكم او كړلو' چه ټولو له

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يَّأْتِيَ عَرَفَاتٍ ثُمَّ يَقِفُ بِهَا ثُمَّ يَفِيْضُ مِنْهَا فَذٰلِكَ قَوْلُهُ تَعَالٰى ثُمَّ اَفِيْضُوْا مِنْ حَيْثُ اَفَاضَ النَّاسُ.

عرفات کښې وقوف پکار دي، او واپسي کښې دے مزدلفه کښې ایساریږي، نو دا آیت (ثُمَّ افیضوا من حیث افاض النّاس) دے مقصد ذ پاره نازل شوے وو.

۵۰۸: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ اَبِيْ بَكْرٍ حَدَّثَنَا فُضَيْلُ بْنُ سُلَيْمَانَ حَدَّثَنَا مُوْسَى بْنُ عُقْبَةَ اَخْبَرَنِيْ كُرَيْبٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ يَطَوَّفُ الرَّجُلُ بِالْبَيْتِ مَا كَانَ حَلَالًا حَتّٰى يُهِلَّ بِالْحَجِّ فَاِذَا رَكِبَ اِلٰى عَرَفَةَ فَمَنْ تَيَسَّرَ لَهُ هَدِيَّةٌ مِّنَ الْاِبِلِ اَوِ الْبَقَرِ اَوِ الْغَنَمِ مَا تَيَسَّرَ لَهُ مِنْ ذٰلِكَ اَيَّ ذٰلِكَ شَاءَ غَيْرَ اِنْ لَّمْ يَتَيَسَّرْ لَهُ فَعَلَيْهِ ثَلٰثَةُ اَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَ ذٰلِكَ قَبْلَ يَوْمِ عَرَفَةَ فَاِنْ كَانَ اٰخِرُ يَوْمٍ مِّنَ الْاَيَّامِ الثَّلٰثَةِ يَوْمَ عَرَفَةَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ ثُمَّ لِيَنْطَلِقْ حَتّٰى يَقِفَ بِعَرَفَاتٍ مِنْ صَلٰوةِ الْعَصْرِ اِلٰى اَنْ يَكُوْنَ الظَّلَامُ ثُمَّ لِيَدْفَعُوْا مِنْ عَرَفَاتٍ اِذَا اَفَاضُوْا مِنْهَا حَتّٰى يَبْلُغُوْا جَمْعًا الَّذِيْ يَبِيْتُوْنَ بِهٖ ثُمَّ لِيَذْكُرِ اللّٰهَ كَثِيْرًا وَّ اَكْثِرُوا التَّكْبِيْرَ وَالتَّهْلِيْلَ قَبْلَ اَنْ تُصْبِحُوْا ثُمَّ اَفِيْضُوْا فَاِنَّ النَّاسَ كَانُوْا يُفِيْضُوْنَ وَ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى ثُمَّ اَفِيْضُوْا مِنْ حَيْثُ اَفَاضَ النَّاسُ وَاسْتَغْفِرُو اللّٰهَ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ،

۵۰۸: محمد بن ابي بکر. فضیل بن سلیمان. موسٰي بن عقبه. کریب. حضرت ابن عباسؓ نه روایت کوي، ذ هغهٔ بیان دے کوم سړے چه تمتع اوکړي، نو ذ عمرے کولو نه پس دے احرام کوز کړي، او بیا دے ذ حج احرام تړلو پورے ذ بیت اللّٰه طواف کوي بیا دے ذ حج احرام اوتړي، عرفات ته دے لاړ شي، او ذ حج نه پس چه کوم څناور ورته حاصل شي لکه اُوښ، غوا یا چیلئے وغیره، نو قرباني دے کړي، او ذ چا چه ذ قرباني طاقت نهٔ وي، هغهٔ له ذ حج نه مخکښې درے روژے نیول پکار دي، او که دریمه روژه ذ عرفات په ورځ راشي، نو هیڅ حرج نشته، عرفات ته چه اورسي، نو ذ مازیګر نه واخله ذ شپے ذ تاریکي پورے دے ایسار شي. بیا دے ټولو سره واپس شي. بیا دے ټولو سره مزدلفه کښې ذ شپے وقوف اوکړي (ایسار شي) او ذ شپے دے یادِ الٰهي او تکبیر (اللّٰه اکبر) او تهلیل (لا اله الا اللّٰه) کښې مشغول اوسي. بیا دے سحر ته مزدلفے نه منٰي ته ټولو سره واپس راشي، ځکه چه ذ اللّٰه تعالٰي ارشاد دے: ثم افیضوا من حیث افاض الناس: یعني بیا د هغے ځائے نه واپس شے، ذ کوم ځائے نه چه نور خلق واپس کیږي، او اللّٰه نه معافي غواړے، بیشکه اللّٰه تعالٰي بښونکے مهربانه دے، بیا د شیطان

حَتّٰى تَرْمُوا الْجَمْرَةَ.

کانړي اولئے.

بـــاب۱۲۸ : قَـــوْلِـــهٖ وَ مِـنْهُـمْ مَـنْ يَـقُـوْلُ رَبَّـنَـا اٰتِـنَـا فِـــي الـدُّنْـيَـا حَـسَـنَـةً وَّ فِـــي الْاٰخِـــرَةِ حَـسَـنَـةً وَّقِـنَـا عَـذَابَ النَّارِ.

باب۱۲۸ : آیت: وَ مِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ رَبَّنَا اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً الخ تفسير: دَ الله تعالیٰ قول، دوي کښې څهٔ خلق داسې دي، چه وائي، اے خمونږ ربه، خمونږ دُنیا هم ښهٔ کړے او آخرت هم ښهٔ کړے، او مونږ دَ دوزخ دَ اُور نه اوساتے.

ف: یا الله خمونږ هم دَ ټولو دواړه جهانه خائسته کړے. اللّٰهم آمین.

۵۰۹: حَـدَّثَنَا اَبُوْ مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْـوَارِثِ عَـنْ عَبْـدِ الْـعَـزِيْزِ عَنْ اَنَـسٍؓ قَـالَ كَـانَ الـنَّـبِـيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَـلَيْـهِ وَسَـلَّمَ يَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّ فِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّارِ.

۵۰۹: ابـو مـعـمـر. عـبـدالـوارث. عبدالعزيز. حـضـرت انـسؓ نـه روايـت کـوي، دَ هغهٔ بیان دے، رسول الـلّٰـه صـلـي الـلّٰه علیه وسلّم به همیشه دا شان دُعا کوله، اے الـلّٰـه مـونـږ تـهٔ پـه دُنیا او آخرت دواړه ځایه نیکۍ عـنـایـت کـړے، او مـونـږ دَ دوزخ دَ عذاب نـه محفوظ کړے.

ف: مـونـږ هـم دَ الـلّٰـه پـاک نـه دغه سوال کوو، چه پاکه ربه خمونږ هم دواړه جهانه خائسته کړے. اللّٰهم آمین.

بـاب۱۲۹ : قَـوْلُـهٗ وَهُـوَ اَلَـدُّ الْـخِـصَـامِ وَ قَـالَ عَـطَـآءٌ الـنَّـسْـلُ الْحَيْوَانُ.

باب ۱۲۹ : آیت: وَهُوَ اَلَدُّ الْخِصَامِ الخ تفسیر: دَ الـلّٰـه تـعـالٰي ارشاد، چه هغه سخت جګړمار دے. عطاء اوفرمائیل چه د نسل نه مراد حیوان دے.

۵۱۰: حَـدَّثَـنَـا قَبِيْصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَـانُ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ عَنِ ابْنِ اَبِيْ مُـلَيْـكَةَ عَنْ عَائِشَةَ تَرْفَعُهٗ قَالَ اَبْغَضُ الرِّجَالِ اِلَى اللّٰهِ الْاَلَدُّ الْخَصِمُ وَ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنِي ابْنُ جُـرَيْـجٍ عَـنِ ابْـنِ اَبِـيْ مُـلَيْـكَةَ عَنْ عَـائِشَةَ عَـنِ الـنَّبِـيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

۵۱۰: قبیـصـه. سـفـیـان ثـوري. ابـن جـریـج. ابـن ابـي مـلیـکـه. بـي بـي عـائشےؓ نـه روايـت کـوي، الـلّٰـه تـعـالٰـي دَ ټـولـو نـه زيـات هغـه څـوک نـاخـوښـوي، چـه خـصـومـت (دشمني کـوونـکے) او جـګـړه کـونـکے وي. سـفـیـان ثوري، ابـن جریـج، ابـن ابـي مـلیـکـه، بـي بي عـائشےؓ، حضور صـلـي الـلّٰـه علیـه وسلّم نـه پـورتـنـے حدیث روایت کوي.

باب ۱۳۰: قَوْلُهُ اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَثَلُ الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ مَسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ (اِلَى) قَرِيْب.

۴۱۵۱: حَدَّثَنَا اِبْرَاهِيْمُ بْنُ مُوْسٰى اَخْبَرَنَا هِشَامٌ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ اَبِيْ مُلَيْكَةَ يَقُوْلُ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍؓ حَتّٰى اِذَا اسْتَيْأَسَ الرُّسُلُ وَ ظَنُّوْا اَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُوْا خَفِيْفَةً ذَهَبَ بِهَا هُنَاكَ وَ تَلَا حَتّٰى يَقُوْلَ الرَّسُوْلُ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهُ مَتٰى نَصْرُ اللّٰهِ اَلَا اِنَّ نَصْرَ قَرِيْبٌ فَلَقِيْتُ عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِؓ فَذَكَرْتُ لَهُ ذٰلِكَ فَقَالَ قَالَتْ عَائِشَةُ مَعَاذَ اللّٰهِ وَاللّٰهِ مَا وَعَدَ اللّٰهُ رَسُوْلَهُ مِنْ شَيْءٍ قَطُّ اِلَّا عَلِمَ اَنَّهُ كَائِنٌ قَبْلَ اَنْ يَمُوْتَ وَلٰكِنْ لَمْ يَزَلِ الْبَلَاءُ بِالرُّسُلِ حَتّٰى خَافُوْا اَنْ يَكُوْنَ مَنْ مَعَهُمْ يُكَذِّبُوْنَهُمْ فَكَانَتْ تَقْرَؤُهَا وَ ظَنُّوْا اَنَّهُمْ قَدْ كُذِّبُوْا مُثَقَّلَةً.

باب ۱۳۱: قَوْلُهُ تَعَالٰى نِسَاءُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ فَأْتُوْا حَرْثَكُمْ اَنّٰى شِئْتُمْ وَ قَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ الْاٰيَة.

۴۱۵۲: حَدَّثَنَا اِسْحٰقُ اَخْبَرَنَا

باب ۱۳۰: آيت: اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ الخ: دَ الله تعالي قول' آيا ستاسو دا خيال دے' چه تاسو به (بغير څهٔ مشقت نه) جنت كښ داخل شئے' حالانكه په تاسو هغه وخت نهٔ دے راغلے' كوم چه په مخكنو خلقو راغلے وو' هغوي سختئ او تكليفونه برداشت كول.

۴۱۵۱: ابراهيم بن موسي. هشام. ابن جريج. ابن ابي مليكه. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي' دَ دے آيت: حَتّٰى اِذَا اسْتَيْأَسَ الرُّسُلُ الخ: مطلب دا دے' چه رسولان نااُميده شو' نو دا خيال ئے راغے' چه خلقو سره دَ مدد كومه وعده شوے ده دَ هغے خلاف ورزي كيږي' نو هغه وخت دَ الله مدد راغے. دے نه پس ئے دا آيت اولوست: حَتّٰى يَقُوْلُ الرَّسُوْلُ الخ: ابن ابي مليكه اووے' ما عروه ته دا خبره بيان كړه' هغهٔ اووے. بي بي عائشےؓ فرمائيلے دي' الله خپل رسولانو سره هيڅ كله غلطه وعده نهٔ ده فرمائيلے' البته انبيائے كرامو ته دا پريشاني ضرور اورسيده چه دَ هغوي دَ قوم خلقو هغوي دروغجن گنړل نو كله چه هغوي ته مايوسي اوشوه' او دا خيال ئے اوكهٔ' چرته داسے نهٔ وي' چه دروغجن ثابت شو' نو هغه وخت الله تعالي ورته فتح عنايت كړله. بي بي عائشهؓ به دے آيت كښ د "كذبوا" دال مشدد ونيلو' او ابن عباسؓ به بلا تشديد ونيلو.

باب ۱۳۱: آيت: نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ الخ د الله تعالي فرمان' ښځے ستاسو' پټي (كهيتياں) دي' خپلو پټو كښ چه څنګه غواړئے' راځئے' مباشرت كوئے. ليكن ځان دَ پاره دَ مخكښ خيال مدِنظر ساتئے.

۴۱۵۲: اسحٰق. نضر. عبدالله بن عون. نافع مولي

النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ اَخْبَرَنَا ابْنُ عَوْنٍ عَنْ نَافِعٍ قَالَ كَانَ ابْنُ عُمَرَ اِذَا قَرَءَ الْقُرْاٰنَ لَمْ يَتَكَلَّمْ حَتّٰى يَفْرُغَ مِنْهُ فَاَخَذْتُ عَلَيْهِ يَوْمًا فَقَرَاَ سُوْرَةَ الْبَقَرَةِ حَتّٰى انْتَهٰى اِلٰى مَكَانٍ قَالَ تَدْرِيْ فِيْمَا اُنْزِلَتْ قُلْتُ لَا قَالَ اُنْزِلَتْ فِيْ كَذَا وَ كَذَا ثُمَّ مَضٰى. وَ عَنْ عَبْدِ الصَّمَدِ حَدَّثَنِيْ اَبِيْ حَدَّثَنِيْ اَيُّوْبُ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ فَأْتُوْا حَرْثَكُمْ اَنّٰى شِئْتُمْ قَالَ يَأْتِيْهَا فِيْ. رَوَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيٰى بْنِ سَعِيْدٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ.

ابن عمرؓ نه روایت کوي، ابن عمرؓ به ډ قرآن ډ تلاوت مینځ کښې چا سره خبرې نه کولې، یوه ورځ زۀ هغۀ له ورغلم، هغۀ سورۀ بقره لوستلو، کوم وخت چه دې آیت ته راورسیدلو: نساؤكم حرث لكم: نو وې فرمائيل، تاته معلومه ده، چه دا آیت کوم وخت نازل شو، ما د لاعلمي اظهار اوکړ، نو هغه ډ نازلیدو وجه بیان کړه، او بیا تلاوت کښې مشغول شولو (دوئیم سند) عبدالصمد، عبدالوارث، ایوب، نافع نه هغه ډ حضرت ابن عمرؓ نه بیان کوي چه: فَأْتُوْا حَرْثَكُمْ اَنّٰى شِئْتُمْ: نه مطلب دا دې، چه سرې بنځې سره جماع اوکړي. بعضې خلقو به اغلام کولو. نو دې آیت کښې ډ دې فعل نه منع کړې شوې ده. دا حدیث یحیی قطان، عبیدالله، نافع، ابن عمرؓ نه روایت کوي.

ف: اغلام: بچه بازي، هلک سره بدفعلي، یا دا چه بنځې سره ډ هلک په شان بدفعلي نه ده روا.

۴۱۳ ۵: حَدَّثَنَا اَبُوْ نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ ابْنِ الْمُنْكَدِرِ سَمِعْتُ جَابِرًا قَالَ كَانَتِ الْيَهُوْدُ تَقُوْلُ اِذَا جَامَعَهَا مِنْ وَّرَائِهَا جَاءَ الْوَلَدُ اَحْوَلُ فَنَزَلَتْ نِسَآءُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ فَأْتُوْا حَرْثَكُمْ اَنّٰى شِئْتُمْ.

۴۱۳ ۵: ابو نعیم. سفیان. ابن منکدر. حضرت جابرؓ نه روایت کوي، ډ یهودیانو دا عقیده وه، چه کوم سړې خپلې بنځې سره ډ ورستو طرف نه کور والې کوي، نو ډ هغه اولاد احول یعنې بهینګا وي، نو هغه وخت الله تعالي دا آیت نازل کړ. او ډ یهودو دا عقیده او خیال نې غلط اوګرځولو. او وې فرمائیل: چه څنګه غواړې، جماع کولې شئې. خو لاره به مخکښې والا وي.

باب ۱۳۲: قَوْلُهٗ وَ اِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ اَنْ يَّنْكِحْنَ اَزْوَاجَهُنَّ.

باب ۱۳۲: آیت: و اذا طلقتم النساء فبلغن اجلهن الخ: د الله تعالي ارشاد: هر کله چه تاسو بنځو له طلاق ورکړې. بیا هغوي خپل عدت پوره کړي، نو بیائې ددې نه مۀ منع کوي، چه خپلو خاوندانو سره نکاح اوکړي، هر کله چه خپلو کښې راضي شي.

ف: عدت: هغه موده چه ښځې ته د دويمې نكاح كولو اجازت په كښې نه وي. د طلاقې ښځې د باره درې مياشتې، كنډې د پاره څلور مياشتې او لس ورځې، او اميدوارې د باره تر زيګون يا لنګون، د عدت حد مقرر دې.

۵۱۴: حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا أَبُوْ عَامِرٍ الْعَقَدِيُّ حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ رَاشِدٍ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ قَالَ حَدَّثَنِي مَعْقِلُ بْنُ يَسَارٍ قَالَ كَانَتْ لِيْ أُخْتٌ تُخْطَبُ إِلَيَّ قَالَ أَبُوْ عَبْدِ اللّٰهِ وَ قَالَ إِبْرٰهِيْمُ عَنْ يُوْنُسَ عَنِ الْحَسَنِ حَدَّثَنِي مَعْقِلُ بْنُ يَسَارٍ حَدَّثَنَا أَبُوْ مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا يُوْنُسُ عَنِ الْحَسَنِ أَنَّ أُخْتَ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ طَلَّقَهَا زَوْجُهَا فَتَرَكَهَا حَتّٰى انْقَضَتْ عِدَّتُهَا فَخَطَبَهَا فَأَبٰى مَعْقِلٌ فَنَزَلَتْ فَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ أَنْ يَّنْكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ.

۵۱۴: عبيدالله بن سعيد. ابو عامر عقدي. عباد بن راشد. حضرت حسن نه روايت كوي، د هغه بيان دې، د معقل بن يسار د ترۀ لور (چچازاد بهن) ته د هغې خاوند طلاق وركۀ او د عدت تيريدلو نه پس ئې ورسره نكاح كول اوغښتل، نو معقل منع كړه، او ورته ئې اووې، ته داسې نۀ شې كولې، نو هغه وخت الله پاک ذكر شوې آيت نازل كړلو (دوېم سند) ابراهيم بن طهمان، يونس، حسن، معقل بن يسار (دريم سند) امام بخاريؒ، ابو معمر، عبدالوارث، يونس، حسن بصري، معقل بن يسار نه روايت كوي، د هغۀ خور ته د هغې خاوند طلاق وركۀ، او ټول حديث ئې روايت كړې دې.

باب ۱۳۳: قَوْلُهُ وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَ يَذَرُوْنَ أَزْوَاجًا يَّتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَّ عَشْرًا (اِلٰى) بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ، يَعْفُوْنَ يَهَبْنَ.

باب ۱۳۳: آيت: وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَ يَذَرُوْنَ أَزْوَاجًا الخ: د الله تعالٰي فرمان د كومو ښځو چه خاوندان مړۀ شي، هغوي له پكار دي، چه څلور مياشتې لس ورځې عدت پوره كړي، او كوم وخت چه عدت پوره شي، آخر پورې، يعفون معني دي، چه معاف ئې كړي.

۵۱۵: حَدَّثَنِي أُمَيَّةُ بْنُ بُسْطَامٍ حَدَّثَنَا يَزِيْدُ بْنُ زُرَيْعٍ عَنْ حَبِيْبٍ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ قَالَ ابْنُ الزُّبَيْرِ قُلْتُ لِعُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَ

۵۱۵: اُميه بن بسطام. يزيد بن زريع. حبيب. ابن ابي مليكه. حضرت زبيرؓ نه روايت كوي، ما حضرت عثمان ته اووې، دا آيت: وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ الخ بل آيت سره منسوخ شوې دې، تاسو دا مصحف كښې ولې درج كوئې، هغۀ اوفرمائيل، اې ورارۀ، زۀ چه څۀ نازل

يَذَرُوْنَ أَزْوَاجًا قَالَ قَدْ نَسَخَتْهَا الْآيَةُ الْأُخْرٰى فَلِمَ تَكْتُبُهَا أَوْ تَدَعُهَا قَالَ يَا ابْنَ أَخِيْ لَا أُغَيِّرُ شَيْئًا مِنْهُ مِنْ مَكَانِهِ.

شوے دي، هغه ليکم، او هيڅ ځيز به نه بدلوم (دَ آيت مطلب دا دے، چه متوفي له د خپلے ښځے دَ پاره دَ پو کال دَ خرچ وصيت کول پکار دي، او که هغه خپله دے موده کښې لاړه شي، نو بيا په تاسو څه گناه نشته).

ف: (١) مصحف: کتاب، قرآن مجيد. (٢) متوفي: مړ شوے، وفات شوے.

٤٥١٦: حَدَّثَنَا إِسْحٰقُ حَدَّثَنَا رَوْحٌ حَدَّثَنَا شِبْلٌ عَنِ ابْنِ أَبِيْ نَجِيْحٍ عَنْ مُجَاهِدٍ وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَ يَذَرُوْنَ أَزْوَاجًا قَالَ كَانَتْ هٰذِهِ الْعِدَّةُ تَعْتَدُّ عِنْدَ أَهْلِ زَوْجِهَا وَاجِبٌ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَ يَذَرُوْنَ أَزْوَاجًا وَّ صِيَّةً لِأَزْوَاجِهِمْ مَتَاعًا إِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ إِخْرَاجٍ فَإِنْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا فَعَلْنَ فِيْ أَنْفُسِهِنَّ مِنْ مَّعْرُوْفٍ قَالَ جَعَلَ اللّٰهُ لَهَا تَمَامَ السَّنَةِ سَبْعَةَ أَشْهُرٍ وَ عِشْرِيْنَ لَيْلَةً وَّصِيَّةً إِنْ شَآءَتْ سَكَنَتْ فِيْ وَصِيَّتِهَا وَ إِنْ شَآءَتْ خَرَجَتْ وَهُوَ قَوْلُ اللّٰهِ تَعَالٰى غَيْرَ إِخْرَاجٍ فَإِنْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فَالْعِدَّةُ كَمَا هِيَ وَاجِبٌ عَلَيْهَا زَعَمَ ذٰلِكَ عَنْ مُجَاهِدٍ وَ قَالَ عَطَآءٌ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ نَسَخَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ عِدَّتَهَا عِنْدَ أَهْلِهَا فَتَعْتَدُّ حَيْثُ شَآءَتْ وَهُوَ قَوْلُ اللّٰهِ تَعَالٰى غَيْرَ إِخْرَاجٍ قَالَ عَطَآءٌ إِنْ شَآءَتْ اعْتَدَّتْ عِنْدَ أَهْلِهِ وَ

٤٥١٦: اسحاق. روح. شبل. ابن ابي نجيح. مجاهد نه روايت کوي: وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ: نه مخکښې يعني دَ جاهليت زمانه کښې دَ يو کال عدّت ښځے له خپل کور کښې پوره کول ضروري گڼړلے شو، هغه وخت دا آيت نازل شو، چه: غَيْرَ إِخْرَاجٍ فَإِنْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ: يعني که دا ښځے څلور مياشتے او لس ورځے نه پس دَ خپلو خاوندانو دَ کورونو نه اوځي، نو دَ خاوندانو په وارثانو هيڅ گناه نشته. دے آيت کښې يو کال پوره کولو دَ پاره اوه مياشتے او شل ورځے زياتے دَ خاوند په کور کښې دَ پوره کولو چه کوم حکم وو، هغه منسوخ شوے دے، که هغه غواړي، نو بل چرته هم عدّت پوره کولے شي، او دَ اللّٰه تعالٰي دَ دے قول: غير اخراج: دا مطلب دے، عطاء وائي، که هغه غواړي، نو دَ خپل خاوند کور والو کښې دے عدّت پوره کړي، او دَ خاوند دَ وصيت مطابق دے، دَ هغه کور کښې اوسي. او که اوځي، او دَ دستور مطابق کار او کړي، نو په تاسو هيڅ گناه نشته، عطاء وائي. دے نه پس دَ ميراث آيت نازل شولو، او

سَكَنَتْ فِيْ وَصِيَّتِهَا وَ إِنْ شَآءَتْ خَرَجَتْ لِقَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا فَعَلْنَ قَالَ عَطَاءٌ ثُمَّ جَاءَ الْمِيْرَاثُ فَنَسَخَ السُّكْنٰى فَتَعْتَدُّ حَيْثُ شَآءَتْ وَلَا سُكْنٰى لَهَا وَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يُوْسُفَ حَدَّثَنَا وَرْقَاءُ عَنِ ابْنِ أَبِيْ نَجِيْحٍ عَنْ مُجَاهِدٍ بِهٰذَا وَ عَنِ ابْنِ أَبِيْ نَجِيْحٍ عَنْ عَطَاءٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ نَسَخَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ عِدَّتَهَا فِيْ أَهْلِهَا فَتَعْتَدُّ حَيْثُ شَآءَتْ لِقَوْلِ اللّٰهِ غَيْرَ إِخْرَاجٍ نَحْوَهُ.

ښځې ته حکم اوشو، چه کوم ځائے غواړي، خپل عدّت دے پوره کړي، اوس نان نفقه د هغوي په ذمه ده. دا حدیث محمد بن یوسف، ورقاء بن عمر، ابن ابي نجیح، مجاهد نه، او ابن ابي نجیح، عطاء بن ابي رباح، حضرت ابن عباسؓ نه روایت کوي، دے آیت سره د ښځې د خپل خاوند کور کښې د عدّت پوره کولو حکم منسوخ شوے دے، او هغې ته اختیار ورکړے شو، چه کوم ځائے غواړي، عدّت دے تیر کړي. د اللّٰه د قول غیر اخراج په رڼړا کښې.

۷۱۵: حَدَّثَنَا حِبَّانُ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَوْنٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيْرِيْنَ قَالَ جَلَسْتُ إِلٰى مَجْلِسٍ فِيْهِ عُظْمٌ مِّنَ الْأَنْصَارِ وَ فِيْهِمْ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ أَبِيْ لَيْلٰى فَذَكَرْتُ حَدِيْثَ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُتْبَةَ فِيْ شَأْنِ سُبَيْعَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ قَالَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ وَلٰكِنْ عَمُّهُ كَانَ لَا يَقُوْلُ ذٰلِكَ فَقُلْتُ إِنِّيْ لَجَرِيْءٌ إِنْ كَذَبْتُ عَلٰى رَجُلٍ فِيْ جَانِبِ الْكُوْفَةِ وَ رَفَعَ صَوْتَهُ قَالَ ثُمَّ خَرَجْتُ فَلَقِيْتُ مَالِكَ بْنَ عَامِرٍ أَوْ مَالِكَ بْنَ عَوْفٍ قُلْتُ كَيْفَ كَانَ قَوْلُ ابْنِ مَسْعُوْدٍ فِي الْمُتَوَفّٰى عَنْهَا زَوْجُهَا وَهِيَ حَامِلٌ فَقَالَ قَالَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ أَتَجْعَلُوْنَ

۷۱۵: حبان بن موسی. عبداللّٰه بن مبارک. عبداللّٰه بن عون. حضرت ابن سیرین نه روایت کوي، زهٔ یو مجلس کښې موجود ووم، د انصارو لوئے لوئے خلق او عبدالرحمٰن بن ابي لیلٰي ناست وو. ما هغه حدیث بیان کهٔ، چه عبداللّٰه بن عتبه د سبیعه بنت حارث متعلق روایت کړے وو. عبدالرحمٰن اووے، د عبداللّٰه بن عتبه تره (چچا) ابن مسعود خو د دے قائل نهٔ وو. ما لږ اوچت آواز سره اووے، بیا خو ما دروغ ونیلو کښې لوئے جرات کړے دے، چه کوم سړے کوفه کښې ناست دے، په هغه دروغ ترم، دے نه پس زهٔ بهر اووتلم، نو عامر بن مالک یا مالک بن عوف (راوي ته شک دے) سره ملاقات اوشو، ما د هغهٔ نه دا تپوس اوکهٔ، او وایه، عبداللّٰه بن مسعود د هغې حامله ښځې متعلق څهٔ وائي چه د هغې خاوند مړ شي، هغهٔ جواب

عَلَيْهَا التَّغْلِيظَ وَلَا تَجْعَلُوْنَ لَهَا الرُّخْصَةَ لَنَزَلَتْ سُوْرَةُ النِّسَآءِ الْقُصْرٰی بَعْدَ الطُّوْلٰی وَ قَالَ اَيُّوْبُ عَنْ مُحَمَّدٍ لَقِيْتُ اَبَا عَطِيَّةَ مَالِكَ بْنَ عَامِرٍ.

او کهٔ ذ ابن مسعود قول دے، چهٔ حامله ذ وضع حمل نه پس ذ عدت نه خارج شي، خکه چه دا آیت: و اولات الاحمال الخ وَالَّذين يتوفون: نه پس نازل شوے دے. ابو ایوب وائي، ذ محمد بیان دے، چه ما، مالک بن عامر سره ملاقات کړے وو.

بَابُ ۱۳۴: قَوْلِهٖ حَافِظُوْا عَلَی الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰی.

باب ۱۳۴: آیت: حَافِظُوْا عَلَی الصَّلَوٰتِ وَ الصَّلٰوةِ الْوُسْطٰی: ذَ اللّٰه تعالٰي ارشاد، مونځونه همیشکي سره کوئے خاص طور سره مینځنے مونځ، ذ دے تفسیر.

۵۱۸: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا يَزِيْدُ اَخْبَرَنَا هِشَامٌ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ عُبَيْدَةَ عَنْ عَلِيٍّؓ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدَّثَنِيْ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ حَدَّثَنَا يَحْيٰی بْنُ سَعِيْدٍ قَالَ هِشَامٌ حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ عَنْ عُبَيْدَةَ عَنْ عَلِيٍّؓ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ حَبَسُوْنَا عَنْ صَلٰوةِ الْوُسْطٰی حَتّٰی غَابَتِ الشَّمْسُ مَلَاَ اللّٰهُ قُبُوْرَهُمْ وَ بُيُوْتَهُمْ اَوْ اَجْوَافَهُمْ شَكَّ يَحْيٰی نَارًا.

۵۱۸: عبداللّٰه بن محمد. یزید بن هارون. هشام. محمد. عبیده. حضرت علي بن ابي طالبؓ نه روایت کوي، نبي صلي اللّٰه علیه وسلّم اوفرمائیل (دویئم سند) عبدالرحمٰن. یحیٰي. هشام. ابن سیرین. عبیده. حضرت عليؓ نه روایت کوي، حضور صلي اللّٰه علیه وسلّم جنګ خندق په ورځ اوفرمائیل، دے کافرو مونږ ذ منځني مونځ نه ایسار کولو، تردے چه نمر ډوب شو، اللّٰه تعالٰي دے ذ هغوي قبرونه، او ذ هغوي کورونه یا ذ هغوي خیټے (یحیٰي راوي ته شک دے چه حضورؐ کوم لفظ اووئیلو) ذ اُور نه ډک کړي.

بَابُ ۱۳۵: قَوْلِهٖ وَ قُوْمُوْا لِلّٰهِ قَانِتِيْنَ مُطِيْعِيْنَ.

باب ۱۳۵: آیت: وَ قُوْمُوْا لِلّٰهِ قَانِتِيْنَ الخ ذ اللّٰه تعالٰي قول، ذ اللّٰه مخکښې ادب سره اودریږئے. قانتین معني دي: فرمانبردار.

۵۱۹: حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيٰی عَنْ اِسْمَاعِيْلَ بْنِ اَبِيْ خَالِدٍ عَنِ الْحَارِثِ ابْنِ شُبَيْلٍ عَنْ اَبِيْ

۵۱۹: مسدد. یحیٰي. اسمٰعیل بن ابي خالد. حارث بن شبیل. ابو عمرو شیباني. حضرت زید بن ارقمؓ نه روایت کوي، د هغهٔ بیان

عَمْرٍو الشَّيْبَانِيِّ عَنْ زَيْدِ بْنِ اَرْقَمَ قَالَ كُنَّا نَتَكَلَّمُ فِي الصَّلٰوةِ يُكَلِّمُ اَحَدُنَا اَخَاهُ فِيْ حَاجَتِهٖ حَتّٰى نَزَلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ حَافِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى وَ قُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ فَاُمِرْنَا بِالسُّكُوْتِ.

دے کـه مونـږ تـه بـه مانخه کښې څـهٔ ضرورت پيښ شـو، نو مونږ بـه خبرے کولے، نو هغـه وخت دا آيت نازل شـولـو، ذ مونـځونو حفاظت کوئـے، خصوصاً ذ مينځنـي مونـځ، او خاموشـي سره د اللّٰـه مخکښې اودريږے، نو مونږ تـه ذ خاموشـي حکم راکړے شو.

## باب ۱۳۶ : قَوْلِهٖ تَعَالٰى

فَاِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا اَوْ رُكْبَانًا فَاِذَآ اَمِنْتُمْ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَمَا عَلَّمَكُمْ مَّالَمْ تَكُوْنُوْا تَعْلَمُوْنَ وَ قَالَ ابْنُ جُبَيْرٍ كُرْسِيُّهٗ عِلْمُهٗ يُقَالُ بَسْطَةً زِيَادَةً وَّ فَضْلًا اَفْرِغْ اَنْزِلْ وَلَا يَئُوْدُهٗ لَا يُثْقِلُهٗ اٰدَنِيْ اَثْقَلَنِيْ وَالْاٰدُ وَالْاَيْدُ الْقُوَّةُ السِّنَةُ نُعَاسٌ يَتَسَنَّهْ يَتَغَيَّرْ فَبُهِتَ ذَهَبَتْ حُجَّتُهٗ خَاوِيَةٌ لَا اَنِيْسَ فِيْهَا عُرُوْشُهَا اَبْنِيَتُهَا السِّنَةُ نُعَاسٌ نُنْشِزُهَا نُخْرِجُهَا اِعْصَارٌ رِيْحٌ عَاصِفٌ تَهُبُّ مِنَ الْاَرْضِ اِلَى السَّمَآءِ كَعَمُوْدٍ فِيْهِ نَارٌ وَّ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ صَلْدًا لَيْسَ عَلَيْهِ شَيْءٌ وَ قَالَ عِكْرِمَةُ وَابِلٌ مَطَرٌ شَدِيْدٌ الطَّلُّ النَّدٰى وَ هٰذَا مَثَلُ عَمَلِ الْمُؤْمِنِ يَتَسَنَّهْ يَتَغَيَّرْ.

**باب ۱۳۶ :** آيت: فَاِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا اَوْ رُكْبَانًا الـخ: ذ اللّٰه تعالٰي ارشاد، که تاسو په خطرناک خائے يئے نو څنګه چه موقع وي، مونځ کوئے، که په سورلي وي يا پياده وي، او بيا چه آمن قائم شي، نو څنګه چه اللّٰه تعالٰي تاسو ته ښودنه کړے ده، هغه شان مونځ کوئے، سعيد بن جبير اووے، "وَسِعَ كُرْسِيَّه" کښې کرسي نه مراد ذ اللّٰه علم دے. "بسطة" نه مراد زياتے او فضيلت دے. "افرغ" نه مراد راکوزول، "ولا يؤده" پـه هغهٔ بوج نهٔ دے. ذ دے نه "اٰدَنِیْ" يعني زهٔ ئے ذ بوج ذ لاندے کړم. "آد" او "ايد" قوت ته وائي. "سِنَتَه" معني "پرکالي" "لَمْ يَتَسَنَّه" خراب نه شـو. "فبهت" يعني دليل کښې پاتے راغـے، "خاوية" يعني خالي، چه هلته هيڅوک همدم نهٔ وي. "عروشها" ذ هغے عمارتونه "سنته" پرکالي. "ننشزها" مونږ راوکاږو. "اعصار" تُنده هوا، چه ذ زمکے نه اوچته شي، او آسمان طرف ته يو شان ځي. هغے کښې اور وي، ابن عباسؓ اووے "صلدًا" معني غوړ صفا، چه په هغے څهٔ پاتے نشي، او عکرمه اووے، "وابل" ذ زور باران. "طل" معني شبنم (پرخه). دا ذ مومن د نيک عمل مثال دے، (چه ضائع کيږي نه). "يتسنه" معني بدل شي، خراب شي.

**۴۵۲۰: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ اَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ كَانَ اِذَا سُئِلَ صَلٰوةَ الْخَوْفِ قَالَ يَتَقَدَّمُ الْاِمَامُ وَ طَائِفَةٌ مِّنَ النَّاسِ فَيُصَلِّيْ بِهِمُ الْاِمَامُ رَكْعَةً وَ تَكُوْنُوْا طَآئِفَةٌ بَيْنَهُمْ وَ بَيْنَ الْعَدُوِّ يُصَلُّوْا فَاِذَا صَلُّوا الَّذِيْنَ مَعَهُ رَكْعَةً اِسْتَأْخَرُوْا مَكَانَ الَّذِيْنَ لَمْ يُصَلُّوْا وَلَا يُسَلِّمُوْنَ وَ يَتَقَدَّمُ الَّذِيْنَ لَمْ يُصَلُّوْا فَيُصَلُّوْنَ مَعَهُ رَكْعَةً ثُمَّ يَنْصَرِفُ الْاِمَامُ وَقَدْ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ فَيَقُوْمُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنَ الطَّائِفَتَيْنِ فَيُصَلُّوْنَ لِاَنْفُسِهِمْ رَكْعَةً بَعْدَ اَنْ يَنْصَرِفَ الْاِمَامُ فَيَكُوْنُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنَ الطَّائِفَتَيْنِ قَدْ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ فَاِنْ كَانَ خَوْفٌ هُوَ اَشَدُّ مِنْ ذٰلِكَ صَلُّوْا رِجَالًا قِيَامًا عَلٰى اَقْدَامِهِمْ اَوْ رُكْبَانًا مُسْتَقْبِلِي الْقِبْلَةِ اَوْ غَيْرَ مُسْتَقْبِلِيْهَا قَالَ مَالِكٌ قَالَ نَافِعٌ لَا اُرٰى عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ ذَكَرَ ذٰلِكَ اِلَّا عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.**

**۴۵۲۰:** عبداللّٰه بن يوسف. مالک. نافع نه روايت کوي، ذَ هغه بيان دے، ذَ عبداللّٰه بن عمرؓ نه چا ذَ صلٰوة خوف (ذَ خوف ذَ مونځ) کولو ذَ طريقې تپوس اوکه، نو هغه بيان اوکه، چه امام دے مخکښې اودريږي او څه خلق دے هغه سره اودريږي، او څه خلق دے ذَ دشمن مخې (مقابلې) ته اودريږي، او هغوي دے مونځ کښې نه شامليږي. هر کله چه دا خلق امام سره يو رکعت اوکړي، نو بيا دے ورستو شي، او ذَ هغوي ځائې ته دے ورشي کوم چه مانځه کښې شامل نه وو شوے. دے نه پس دے هغه خلق راشي، او امام سره دے يو رکعت اوکړي، اوس امام له سلام ګرځول پکار دي، ځکه چه هغه دواړه رکعاته پوره کړے دي، او نور خلق دے خپل دونيم رکعت پوره کړي او دا شان به ذَ ټولو دوه رکعاته پوره شي او که ذَ خوف حالت زيات شديد (سخت) وي نو بيا مخ په قبله کيدل، او سور او پياده کيدل هم ضروري نه دي. امام مالک فرمائي، نافع وائي خما خيال دے، حضرت عبدالله بن عمرؓ دا حديث ذَ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم نه روايت کړے دے.

## باب ۱۳۷: قَوْلِهٖ تَعَالٰى وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَ يَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا.

**باب ۱۳۷:** آيت: وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَ يَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا تفسير.

**۴۵۲۱: حَدَّثَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ اَبِي الْاَسْوَدِ حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ الْاَسْوَدِ**

**۴۵۲۱:** عبداللّٰه بن ابي الاسود. حميد بن اسود او يزيد بن زريع دواړو اُووے، حبيب بن شهيد

وَيَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ قَالَا حَدَّثَنَا حَبِيبُ بْنُ الشَّهِيدِ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ قَالَ قَالَ ابْنُ الزُّبَيْرِ قُلْتُ لِعُثْمَانَ هٰذِهِ الْآيَةُ الَّتِي فِي الْبَقَرَةِ وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُوْنَ أَزْوَاجًا إِلَى غَيْرِ إِخْرَاجٍ قَدْ نَسَخَتْهَا الْأُخْرٰى فَلِمَ تَكْتُبُهَا قَالَ تَدَعُهَا يَا ابْنَ أَخِيْ لَا أُغَيِّرُ شَيْئًا مِنْهُ مِنْ مَكَانِهِ قَالَ حُمَيْدٌ أَوْ نَحْوَ هٰذَا.

له ابن ابي مليكه نه روايت كوي' چه عبدالله بن زبير وائي' ما حضرت عثمانؓ ته اووے' دا د سورة بقره آيت والذين يتوفون منكم و يذرون ازواجا الى غير اخراج پورے خو دويم سره منسوخ دے' هغه تا (مصحف كښ) د كوم خائے نه اوليكلو' ولے دے نه دے پريښے. هغهٔ اووے' اے خما وراره' زهٔ د كوم آيت د خپل خائے نه د بے خايه كولو واله نه يم. حميد اووے يا' څهٔ همدارنګے جواب ئے وركړو.

## باب ۱۳۸ : قَوْلِهِ تَعَالٰى وَإِذْ قَالَ إِبْرٰهِيْمُ رَبِّ أَرِنِيْ كَيْفَ تُحْيِ الْمَوْتٰى.

**باب ۱۳۸ :** آيت: وَإِذْ قَالَ إِبْرٰهِيْمُ رَبِّ أَرِنِيْ كَيْفَ تُحْيِ الْمَوْتٰى: د الله تعالٰي قول كوم وخت چه ابراهيمؑ اووے' اے خما ربه' ماته اوښائے چه ته مړي څنګه ژوندي كوے.

۵۲۲ : حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ أَخْبَرَنِيْ يُوْنُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَبِيْ سَلَمَةَ وَسَعِيْدٌ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْنُ أَحَقُّ بِالشَّكِّ مِنْ إِبْرٰهِيْمَ إِذْ قَالَ رَبِّ أَرِنِيْ كَيْفَ تُحْيِ الْمَوْتٰى قَالَ أَوَلَمْ تُؤْمِنْ قَالَ بَلٰى وَلٰكِنْ لِيَطْمَئِنَّ قَلْبِيْ.

۵۲۲ : احمد بن صالح. ابن وهب. يونس. ابن شهاب. ابي سلمه. سعيد بن مسيب. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت كوي' حضور اكرم صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل' د ابراهيم عليه السلام نه خو زيات مونږ له شك كول پكار دي' كوم وخت چه هغهٔ اووے' اے ربه' ماته اوښائے' چه تهٔ مړي څنګه ژوندے كوے' نو الله جواب وركړهٔ' ستا يقين نشته' حضرت ابراهيمؑ عرض اوكړهٔ' اے ربه' يقين خو م دے' خو چه اوګورم' نو زړهٔ ته به م اطمينان حاصل شي.

## باب ۱۳۹ : قَوْلِهِ تَعَالٰى أَيَوَدُّ أَحَدُكُمْ أَنْ تَكُوْنَ لَهُ جَنَّةٌ (إِلٰى قَوْلِهِ) يَتَفَكَّرُوْنَ.

**باب ۱۳۹ :** آيت: أَيَوَدُّ أَحَدُكُمْ أَنْ تَكُوْنَ لَهُ جَنَّةٌ الخ: د الله تعالٰي قول' آيا تاسو كښ چا ته دا خبره ښه لږي' چه د هغهٔ يو باغ وي: آخر پورے تفسير.

۵۲۳ : حَدَّثَنَا إِبْرٰهِيْمُ حَدَّثَنَا

۵۲۳ : ابراهيم. هشام. ابن جريج. عبدالله بن

هِشَامٌ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ سَمِعْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ اَبِیْ مُلَيْكَةَ يُحَدِّثُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ وَ سَمِعْتُ اَخَاهُ اَبَا بَكْرِ بْنَ اَبِیْ مُلَيْكَةَ يُحَدِّثُ عَنْ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ قَالَ قَالَ عُمَرُ يَوْمًا لِاَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْمَ تَرَوْنَ هٰذِهِ الْاٰيَةَ نَزَلَتْ اَيَوَدُّ اَحَدُكُمْ اَنْ تَكُوْنَ لَهُ جَنَّةٌ قَالُوا اللّٰهُ اَعْلَمُ فَغَضِبَ عُمَرُ فَقَالَ قُوْلُوْا نَعْلَمُ اَوْ لَا نَعْلَمُ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فِیْ نَفْسِیْ مِنْهَا شَیْءٌ يَا اَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ قَالَ عُمَرُ يَا ابْنَ اَخِیْ قُلْ وَلَا تَحْقِرْ نَفْسَكَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ ضُرِبَتْ مَثَلًا لِعَمَلٍ قَالَ عُمَرُ اَیُّ عَمَلٍ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لِعَمَلٍ قَالَ عُمَرُ لِرَجُلٍ غَنِیٍّ يَعْمَلُ بِطَاعَةِ اللّٰهِ عَزَّ وَ جَلَّ ثُمَّ بَعَثَ اللّٰهُ لَهُ الشَّيْطٰنَ فَعَمِلَ بِالْمَعَاصِیْ حَتّٰی اَغْرَقَ اَعْمَالَهُ.

ابي مليکه. حضرت ابن عباسؓ نه روايت کوي٬ ما د ابن ابي مليکه ورور ابوبکر بن ابي مليکه نه هم آوريدلے دي٬ هغه د عبيد بن عمير نه روايت کوي٬ يوه ورځ حضرت عمرؓ د اصحاب رسول نه تپوس اوکړ٬ آيا تاسو ته معلومه ده٬ د دے آيت کوم چه مخکښ تير شو٬ څه مطلب دے٬ هغوي اووے٬ اللّٰه تعالي ښۀ پوهيږي٬ حضرت عمرؓ لږه سخته لهجه کښ اووے٬ صفا اووائے٬ چه مونږ ته معلومه ده٬ يا نۀ ده معلومه٬ حضرت ابن عباسؓ اووے٬ اے امير المؤمنين٬ خما زړۀ کښ يو خيال پيدا شوے دے٬ که ستاسو خوښه وي٬ نو او٬ به وايم٬ حضرت عمرؓ ورته اوفرمائيل٬ اے خما ورارۀ٬ ضرور اووايه٬ او خان کم مۀ ګڼړه٬ ابن عباسؓ عرض اوکړ٬ دا د عمل مثال بيان کړے شو٬ حضرت عمرؓ اوفرمائيل٬ د څنګه عمل٬ نو ابن عباسؓ اووے٬ بس د عمل٬ آخر حضرت عمرؓ خپله اوفرمائيل٬ چه دا د يو مالدار سړي مثال دے٬ چه د اللّٰه فرمانبرداري او نيک عمل کوي٬ بيا د شيطان په لمسون ګناهونو کښ آخته شي٬ او خپل نيک اعمال برباد او ضائع کړي.

**باب ۱۴۰ :** قَوْلُهُ لَا يَسْأَلُوْنَ النَّاسَ اِلْحَافًا يُقَالُ اَلْحَفَ عَلَیَّ وَ اَلَحَّ عَلَیَّ وَ اَحْفَانِیْ بِالْمَسْئَلَةِ فَيُحْفِكُمْ يُجْهِدْكُمْ.

**باب ۱۴۰ :** آيت: لَا يَسْأَلُوْنَ النَّاسَ اِلْحَافًا: د اللّٰه تعالي فرمان چه هغه خلق خلقو پورے انخلي نه٬ چه سوال ترے اوکړي الحاف٬ الحاح او احفاء نه مطلب دادے٬ چه انخليدو سره کوشش باندے اوغواړي.

**۵۲۴ :** حَدَّثَنَا ابْنُ اَبِیْ مَرْيَمَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ حَدَّثَنِیْ شَرِيْكُ بْنُ اَبِیْ نَمِرٍ اَنَّ عَطَاءَ بْنَ يَسَارٍ وَّ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنِ اَبِیْ عَمْرَةَ

**۵۲۴ :** سعيد بن ابي مريم. محمد بن جعفر. شريک بن ابي نمر. عطاء. عبدالرحمٰن دواړه حضرت ابوهريرهؓ نه روايت کوي٬ د هغه بيان دے٬ رسول اللّٰه صلي

الحَضْرَمِيُّ قَالَا سَمِعْنَا أَبَا هُرَيْرَةَ يَقُوْلُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ الْمِسْكِيْنُ الَّذِيْ تَرُدُّهُ التَّمْرَةُ وَالتَّمْرَتَانِ وَلَا اللُّقْمَةُ وَلَا اللُّقْمَتَانِ إِنَّمَا الْمِسْكِيْنُ الَّذِيْ يَتَعَفَّفُ وَاقْرَءُوْا إِنْ شِئْتُمْ يَعْنِيْ قَوْلَهُ لَا يَسْأَلُوْنَ النَّاسَ إِلْحَافًا.

الله عليه وسلم ارشاد فرمائيلے دے. مسكين هغه نه دے چه هغه د چوهارو او خوراك لالچ در په در گرخوي. بلكه مسكين هغه دے چه د چانه سوال نه كوي. كه تاسو د مسكين په مطلب پوهيدل غوارئے نو دا آيت: لا يسئلون الناس الحافا: اولولئے يعني مخوي سوال كولو كښې خلقو پورے انخلي نه.

## بَابٌ ۱۴۱: قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى وَأَحَلَّ اللّٰهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبٰوا الْمَسُّ الْجُنُوْنَ.

## باب ۱۴۱: آيت: و احلّ اللّٰهُ الْبَيْعَ و حرّم الرِّبٰو الخ: ذَ اللّٰه تعالي قول: اللّٰه بيع حلاله كړے ده او سود ئے حرام كړے دے. ذ مس مطلب دے ليونتوب.

**۵۲۵:** حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ حَدَّثَنَا أَبِيْ حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ عَنْ مَسْرُوْقٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَ لَمَّا نَزَلَتِ الْآيَاتُ مِنْ آخِرِ سُوْرَةِ الْبَقَرَةِ فِي الرِّبٰوا قَرَأَهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى النَّاسِ ثُمَّ حَرَّمَ التِّجَارَةَ فِي الْخَمْرِ.

**۵۲۵:** عمر بن حفص بن غياث. اعمش. مسلم. مسروق. بي بي عائشےؓ نه روايت كوي. هغے اوفرمائيل: كوم وخت چه ذ سورۀ بقره ذ آخر آيتونه ذ سود باره كښې نازل شو، نو حضورؐ ذ ټولو مخكښې دا آيت اولوستو او ذ سود حرمت ئے ظاهر كړه. دے نه پس ذ شرابو تجارت ئے هم حرام اوگرځولو.

## بَابٌ ۱۴۲: قَوْلِهِ تَعَالٰى يَمْحَقُ اللّٰهُ الرِّبٰوا يُذْهِبُهُ.

## باب ۱۴۲: آيت: يَمْحَقُ اللّٰهُ الرِّبٰوا: ذَ اللّٰه تعالي فرمائيل: اللّٰه سود بربادوي. ذ دے تفسير.

**۵۲۶:** حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ خَالِدٍ أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ سُلَيْمَانَ سَمِعْتُ أَبَا الضُّحٰى يُحَدِّثُ عَنْ مَسْرُوْقٍ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ لَمَّا نَزَلَتِ الْآيَاتُ الْأَوَاخِرُ مِنْ سُوْرَةِ الْبَقَرَةِ خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى

**۵۲۶:** بشر. محمد. شعبه. سليمان. ابو الضحي. مسروق. بي بي عائشےؓ نه روايت كوي. ذ هغے بيان دے، كوم وخت چه ذ سورۀ بقره دا آيت نازل شو، نو حضور صلي اللّٰه عليه وسلم ذ كور نه جمات ته تشريف راوړلو او دا آيتونه ئے خلقو ته

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَلَاهُنَّ فِي الْمَسْجِدِ فَحَرَّمَ التِّجَارَةَ فِي الْخَمْرِ.

واورول. بيا دے نه پس دَ شرابو تجارت حرام كړے شو.

باب ۱۴۳ : قَوْلِهٖ تَعَالٰى فَأْذَنُوْا بِحَرْبٍ فَاعْلَمُوْا.

باب ۱۴۳ : آيت: فَأْذَنُوْا بِحَرْبٍ فَاعْلَمُوْا: دَ الله تعالٰي قول: فَأْذَنُوْا بِحَرْبٍ مِنَ اللّٰه: تفسير.

۵۲۷ : حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مَنْصُوْرٍ عَنْ اَبِي الضُّحٰى عَنْ مَسْرُوْقٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا اُنْزِلَتِ الْاٰيَاتُ مِنْ اٰخِرِ سُوْرَةِ الْبَقَرَةِ قَرَاَهُنَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ وَحَرَّمَ التِّجَارَةَ فِي الْخَمْرِ.

۵۲۷ : محمد بن بشار. غندر. شعبه. منصور. ابوالضحي. مسروق. بي بي عائشے نه روايت كوي، هغے اووے، كوم وخت چه دَ سورهٔ بقره آخري آيتونه نازل شو، نو حضور صلي الله عليه وسلم جمات كښې خلق دَ دے په مطلب پوه كړل، دے نه پس دَ شرابو تجارت حرام كړے شو.

باب ۱۴۴ : قَوْلِهٖ وَاِنْ كَانَ ذُوْ عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ اِلٰى مَيْسَرَةٍ وَاَنْ تَصَدَّقُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ.

باب ۱۴۴ : آيت: وَاِنْ كَانَ ذُوْ عُسْرَةٍ الخ دَ الله تعالٰي ارشاد، كه قرضدار نادارہ او غريب وي، نو قرض خواه له پكار دي، چه لږ صبر ورته اوكړي، چه هغه دَ ادائيګي قابل شي، او كه تاسو ئے ورته معاف كړئے، نو دا ستاسو دَ پاره ښهٔ ده، كه تاسو پوهيږئے.

۵۲۸ : وَقَالَ لَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوْسُفَ عَنْ سُفْيَانَ عَنْ مَنْصُوْرٍ وَالْاَعْمَشِ عَنْ اَبِي الضُّحٰى عَنْ مَسْرُوْقٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا اُنْزِلَتِ الْاٰيَاتُ مِنْ اٰخِرِ سُوْرَةِ الْبَقَرَةِ قَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَرَاَهُنَّ عَلَيْنَا ثُمَّ حَرَّمَ التِّجَارَةَ فِي الْخَمْرِ.

۵۲۸ : محمد بن يوسف. سفيان. منصور. اعمش. ابوالضحي. مسروق. بي بي عائشے نه روايت كوي، دَ هغے بيان دے، كوم وخت چه دَ سورهٔ بقره آخري خو آيتونه نازل شو، نو حضور صلي الله عليه وسلم مونږ ټول دَ دے په مطلب پوه كړو. دے نه پس دَ شرابو تجارت منع كړے شو.

باب ۱۴۵ : قَوْلِهٖ وَاتَّقُوْا يَوْمًا تُرْجَعُوْنَ فِيْهِ اِلَى

باب ۱۴۵ : آيت: وَاتَّقُوْا يَوْمًا تُرْجَعُوْنَ الخ دَ الله تعالٰي قول، دَ هغے ورځے نه اويريږئے، چه په هغه ورځ به

اللّٰهِ.

اللّٰه ته واپس ورځئ ' دَ دے تفسير.

۵۲۹ : حَدَّثَنَا قَبِيْصَةُ بْنُ عُقْبَةَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَاصِمٍ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍؓ قَالَ اٰخِرُ اٰيَةٍ نَزَلَتْ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اٰيَةُ الرِّبَا.

۵۲۹ : قبيصه بن عقبه. سفيان. عاصم. شعبي. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي' دَ هغه بيان دے' په حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم چه آخر كښې كوم آيت نازل شو' هغه دَ سود متعلق وو.

باب ۱۴۲ : قَوْلِهٖ وَ اِنْ تُبْدُوْا مَا فِيْ اَنْفُسِكُمْ اَوْ تُخْفُوْهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللّٰهُ فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَ يُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ.

باب ۱۴۲ : آيت: وَ اِنْ تُبْدُوْا مَا فِيْ اَنْفُسِكُمْ ارشاد باري تعالٰي' كه تاسو دَ خپل زړهٔ خبرے پټوئے يا ظاهروئے' اللّٰه تعالٰي به تاسو نه دَ ټولو خبرو حساب اخلي' بيائے خوښه ده' چه څوک بخي او چاته عذاب وركوي' او اللّٰه په ټولو كارونو قدرت لري.

۵۳۰ : حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ حَدَّثَنَا مِسْكِيْنٌ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ خَالِدِ الْحَذَّاءِ عَنْ مَرْوَانَ الْاَصْفَرِ عَنْ رَجُلٍ مِّنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ ابْنُ عُمَرَؓ اَنَّهَا قَدْ نُسِخَتْ وَ اِنْ تُبْدُوْا مَا فِيْ اَنْفُسِكُمْ اَوْ تُخْفُوْهُ.

۵۳۰ : محمد. عبداللّٰه بن محمد نفيلي. مسكين بن بكير. شعبه. خالد حذاء. مروان اصفر. دَ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم دَ صحابي حضرت عبداللّٰه بن عمرؓ نه روايت كوي' دَ هغهٔ بيان دے: اِنْ تُبْدُوْا مَا فِيْ اَنْفُسِكُمْ اَوْ تُخْفُوْهُ (يعني څهٔ چه تاسو نفس كښې دي' كه هغه ظاهر كړے يا پټ كړے) واله آيت لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا: آيت سره منسوخ شوے دے.

باب ۱۴۷ : قَوْلِهٖ اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مِنْ رَّبِّهٖ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ اِصْرًا عَهْدًا وَ يُقَالُ غُفْرَانَكَ مَغْفِرَتُكَ فَاغْفِرْلَنَا.

باب ۱۴۷ : آيت: اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ: دَ اللّٰه تعالٰي قول' رسول په هغه څيز ايمان راوړلو' چه دَ اللّٰه دَ طرف نه په هغهٔ نازل شوے دے "اصرا" معني دَ عهد او ميثاق دي' دَ غفرانک او مغفرتک يو معني دي يعني مغفرت.

۵۳۱ : حَدَّثَنِيْ اِسْحَاقُ اَخْبَرَنَا رَوْحٌ اَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنْ خَالِدِ الْحَذَّاءِ عَنْ مَرْوَانَ الْاَصْفَرِ

۵۳۱ : اسحاق بن منصور. روح بن عباده. شعبه. خالد حذاء. مروان. دَ حضور صلي اللّٰه عليه

عَنْ رَجُلٍ مِنْ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَحْسِبُهُ ابْنَ عَمَرَؓ اِنْ تُبْدُوْا مَا فِيْ اَنْفُسِكُمْ اَوْ تُخْفُوْهُ قَالَ نَسَخَتْهَا الْاٰيَةُ الَّتِيْ بَعْدَهَا.

وسلم ذ يو صحابيؓ نه روايت كوي، ذ هغه بيان دے' (ان تبدوا) والـه آيت (لا يكلف الله نفسا) آيت سره منسوخ شوے دے. راوي وائي' دا صحابي حضرت ابن عمرؓ وو.

# سُوْرَةُ اٰلِ عِمْرَانَ

# دَ سورۀ آل عمران تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

تُقَاةٌ وَ تَقِيَّةٌ وَّاحِدَةٌ صِرٌّ بَرْدٌ' شَفَا حُفْرَةٍ مِثْلُ شَفَا الرَّكِيَّةِ وَهُوَ حَرْفُهَا تُبَوِّئُ تَتَّخِذُ مُعَسْكَرًا' الْمُسَوَّمُ الَّذِيْ لَهُ سِيْمَاءٌ بِعَلَامَةٍ اَوْ بِصُوْفَةٍ اَوْ بِمَا كَانَ رِبِّيُّوْنَ الْجَمِيْعُ وَالْوَاحِدُ رِبِّيٌّ تَحُسُّوْنَهُمْ تَسْتَاْصِلُوْنَهُمْ قَتْلًا' غُزًّا وَّاحِدُهَا غَازٍ سَنَكْتُبُ سَنَحْفَظُ نُزُلًا ثَوَابًا' وَ يَجُوْزُ وَ مُنْزَلٌ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ كَقَوْلِكَ اَنْزَلْتُهُ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ وَالْخَيْلُ الْمُسَوَّمَةُ الْمُطَهَّمَةُ الْحِسَانُ وَ قَالَ ابْنُ جُبَيْرٍ وَ حَصُوْرًا لَّا يَاْتِي النِّسَآءَ وَ قَالَ عِكْرَمَةُ مِنْ فَوْرِهِمْ مِنْ غَضَبِهِمْ يَوْمَ بَدْرٍ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ يُخْرِجُ الْحَيَّ النُّطْفَةَ تَخْرُجُ مَيِّتَةً وَ يُخْرِجُ مِنْهَا الْحَيَّ الْاِبْكَارُ اَوَّلُ الْفَجْرِ وَالْعَشِيُّ مَيْلُ الشَّمْسِ اُرَاهُ اِلٰى اَنْ تَغْرُبَ.

تقاة او تقيه دواړو معني ذ ويرے او بچاؤ دي "صر" يخني. "شَفَا حُفْرَةٍ" كنده يا ذ كوهي غاړه "تبوئ" تاسو په محاذ فوځ جمع كولو. "رِبِّيُّون" ذَ ربي' جمع ده يعني خدائے پرست خلق. "تحسونهم" تاسو قتل سره هغه ذ جرړ نه ختمول. "غُزًّا" جمع د غاز ده' جهاد كونكے "سنكتب" عنقريب حفظ به كړو. "نزلًا" ثواب او ذ "منزل" هم معني دي. مجاهد وائي' "الخيل المسومة" نه مراد غټ او تندرست اَسونه دي' ابن جبير وائي' د "حَصُور" معني دي' هغه سړے چه ښځو سره مباشرت نه كوي' عكرمه وائي' "فور" معني د غضب او جوش دي' چه هغوي ذ بدر په ورځ اوښودلو. د مجاهد بيان دے "يخرج الحي من الميت" مطلب دادے' چه نطفه بے ساه وي بيا هغه ساه والـه پيدا كړي. "ابكار" معني دي وړمبنے پهر' او ذ "عشي" معني ذ هغه وخت دي' چه ذ نمر ذ زوال كيدو نه شروع كيږي' او نمر پريوتو پورے وي.

**بَابٌ ۱۴۸ : مِنْهُ اٰيٰتٌ مُّحْكَمٰتٌ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ الْحَلَالُ**

**باب ۱۴۸ :** آيت: مِنْهُ اٰيٰتٌ مُّحْكَمٰتٌ: مجاهد وائي "محكمات" نه ذ حلال او حرام آياتونه مراد دي'

وَالْحَرَامُ وَ أُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ يُصَدِّقُ بَعْضُهُ بَعْضًا كَقَوْلِهٖ تَعَالٰى وَمَا يُضِلُّ بِهٖ إِلَّا الْفَاسِقِيْنَ وَ كَقَوْلِهٖ جَلَّ ذِكْرُهٗ وَ يَجْعَلُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ وَ كَقَوْلِهٖ وَالَّذِيْنَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى زَيْغٌ شَكٌّ اِبْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ الْمُشْتَبِهَاتُ وَالرَّاسِخُوْنَ يَعْلَمُوْنَ يَقُوْلُوْنَ اٰمَنَّا بِهٖ.

او "متشابهات" نه هغه آيتونه، چه يو بل سره يو شان والے لري. لکه "وما يضل به الا الفسقين" يا لکه "و يجعل الرجس على الذين لا يعقلون" يا لکه "والذين اهتدوا زادهم هدٰى" څکه چه د دے ټولو مطلب دادے، چه فاسق ګمراه دي "زيغ" شک. "ابتغاء الفتنة" کښې د فتنے معني د متشابهاتو پيروي کول دي. "الراسخون في العلم" د پوخ علم خاوندان، چه وائي به، مونږ د الله په کتاب ايمان راوړلو، څکه چه ذ دے حکم ذ الله د طرف نه دے.

۵۳۲: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْلَمَةَ حَدَّثَنَا يَزِيْدُ بْنُ إِبْرَاهِيْمَ التُّسْتَرِيُّ عَنِ ابْنِ أَبِيْ مُلَيْكَةَ عَنِ الْقَاسِمِ مُحَمَّدٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ تَلَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰذِهِ الْاٰيَةَ هُوَ الَّذِيْ أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ اٰيٰتٌ مُّحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَ أُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ فَأَمَّا الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُوْنَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيْلِهٖ إِلٰى قَوْلِهٖ أُولُوا الْأَلْبَابِ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ فَأُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ سَمَّى اللّٰهُ فَاحْذَرُوْهُمْ.

۵۳۲: عبدالله بن مسلمه. يزيد بن ابراهيم. ابن ابي مليکه. قاسم بن محمد. بي بي عائشے نه روايت کوي، ذ هغے بيان دے، حضور صلي الله عليه وسلّم دا آيت: هُوَ الَّذِيْ أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ اٰيَاتٌ مُّحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَ أُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ فَأَمَّا الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُوْنَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَاوِيْلِهٖ: نه آخر آيت يعني أُولُوا الْأَلْبَابِ پورے تلاوت کړلو، نو رسول الله صلي الله عليه وسلّم ارشاد اوفرمائيلو، هر کله چه تاسو دا خلق اووينئے، چه ذ قرآن پاک ذ متشابه آيتونو په تلاش کښې لګيدلے دي، نو پوه شئے چه الله تعالي خپل کتاب کښې ذ دوي ذکر کړے (په بدوالي) دے، نو ذ دوي ذ صحبت نه پرهيز کوئے.

باب ۱۴۹: قَوْلِهٖ وَ إِنِّيْ أُعِيْذُهَا بِكَ وَ ذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطٰنِ

باب ۱۴۹: آيت: وَ إِنِّيْ أُعِيْذُهَا بِكَ وَ ذُرِّيَّتَهَا الخ: ذ الله تعالي قول، اے الله، زۀ ذ دے او ذ دے ذ آولاد

الرَّجِيْمِ.

ذ شيطان نه بچ كيدو ذ پاره ستا پناه غوارم.

۵۳۳ : حَدَّثَنِيْ عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ مَوْلُوْدٍ يُوْلَدُ إِلَّا وَالشَّيْطٰنُ يَمَسُّهُ حِيْنَ يُوْلَدُ فَيَسْتَهِلُّ صَارِخًا مِنْ مَسِّ الشَّيْطَانِ إِيَّاهُ إِلَّا مَرْيَمَ وَابْنَهَا ثُمَّ يَقُوْلُ أَبُوْ هُرَيْرَةَ وَاقْرَءُوْا إِنْ شِئْتُمْ وَ إِنِّيْ أُعِيْذُهَا بِكَ وَ ذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ.

۵۳۳ : عبدالله بن محمد. عبدالرزاق. معمر. زهري. سعيد بن مسيب. حضرت ابو هريرةؓ نه روايت كوي، ذ هغه بيان دے، رسول الله صلي الله عليه وسلم ارشاد أوفرمائيلو، شيطان هر يو بچے كوم وخت چه هغه پيدا كيږي مس كوي، او بچے د هغه مس كولو سره په چغه ژاړي، خو بي بي مريم او ۶ هغے خوي (حضرت عيسى عليه السلام) ته ئے لاس نه دے وراوړے دے نه پس راوي وائي، كه تاسو د دے تصديق كول غواړئے، نو دا آيت اولولئے: و اِنِّيْ اُعِيْذُها بِكَ و ذُرِّيَّتَها الخ زهٔ دا او ذ دے آولاد ذ رټلے شوي شيطان نه ستا پناه كښ وركوم.

ف : الله پاک دے مونږ هم ذ آل آولاد سره ذ رټلے شوي شيطان نه په امان كړي. اللّٰهمّ آمين.

بَابٌ ۱۵۰ : قَوْلِهٖ إِنَّ الَّذِيْنَ يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَ أَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيْلًا أُولٰٓئِكَ لَا خَلَاقَ لَهُمْ لَا خَيْرَ، أَلِيْمٌ مُؤْلِمٌ مُوْجِعٌ مِنَ الْأَلَمِ وَهُوَ فِيْ مَوْضِعِ مُفْعِلٍ.

باب ۱۵۰ : آيت: اِنَّ الَّذِيْنَ يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَ اَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيْلًا الخ: ذ الله تعالي قول، كوم خلق ذ هغے عهد په بدله كښ چه الله سره ئے كړے دے، او ذ خپلو قسمونو په بدلة كښ رقم حاصلوي، هغوي ذ پاره هيڅ حصه نشته، يعني آخرت كښ هغوي ذ پاره هيڅ خير نشته. "اليم" معني تكليف وركونكے، لكه مؤلم. دا فعيل په معني ذ مفعل دے.

۵۳۴ : حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا أَبُوْ عَوَانَةَ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ أَبِيْ وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَلَفَ بِيَمِيْنِ صَبْرٍ لِيَقْتَطِعَ بِهَا مَالَ امْرِئٍ مُسْلِمٍ

۵۳۴ : حجاج بن منهال. ابو عوانه. اعمش. ابو وائل. حضرت عبدالله بن مسعودؓ نه روايت كوي، ذ هغه بيان دے، رسول الله صلي الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو، كوم سړے چه ذ مسلمان مال د خوړلو په غرض په دروغه قسم خوري، ذ قيامت په ورځ چه الله سره يوځائے شي، نو الله تعالي به پرے غصه وي. بيا الله

لَقِيَ اللّٰهَ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ تَصْدِيْقَ ذٰلِكَ اِنَّ الَّذِيْنَ يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَ اَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيْلًا اُولٰٓئِكَ لَا خَلَاقَ لَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ اِلٰى اٰخِرِ الْاٰيَةِ قَالَ فَدَخَلَ الْاَشْعَثُ بْنُ قَيْسٍ وَ قَالَ مَا يُحَدِّثُكُمْ اَبُوْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ قُلْنَا كَذَا وَ كَذَا قَالَ فِيَّ اُنْزِلَتْ كَانَتْ لِيْ بِئْرٌ فِيْ اَرْضِ ابْنِ عَمٍّ لِيْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيِّنَتُكَ اَوْ يَمِيْنُهُ فَقُلْتُ اِذًا يَحْلِفُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَلَفَ عَلٰى يَمِيْنِ صَبْرٍ يَقْتَطِعُ بِهَا مَالَ امْرِئٍ مُسْلِمٍ وَّهُوَ فِيْهَا فَاجِرٌ لَقِيَ اللّٰهَ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ.

تعالي دا مضمون قرآن کښې نازل کړلو: اِنَّ الَّذِيْنَ يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَ اَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيْلًا اُولٰٓئِكَ لَا خَلَاقَ لَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ (کوم خلق چه د الله د عهد په بدله او د خپلو قسمونو په بدله کښې د دُنيا حقير مال آخلي هغوي د پاره آخرت کښې هيڅ حصه نشته. آخر آيت پورے. ابو وائل وائي، اشعث بن قيس مونږ له راغے، او وئيلے، عبدالله بن مسعود تاسو ته کوم حديث بيان کړے دے، مونږ ورته دا حديث بيان کۀ، نو وئيلے، دا آيت خو خما حق کښې نازل شوے دے، خکه چه خما د تره دَ خوئ په زمکه کښې خما کوهے وو، او ما په هغې مال خرچ کړے وو، اوهغۀ انکار کولو، حضورؐ اوفرمائيل، گواه راوله، کني هغه نه قسم واخله، ما عرض اوکۀ، يا رسول الله، هغه خو به قسم اوخوري، په دے موقع حضورؐ اوفرمائيل، څوک چه دَ يو مسلمان مال خوړلو دَ پاره په دروغه قسم اوخوري، نو الله تعالي به په هغۀ ډير غضبناک وي.

٥٣٥: حَدَّثَنَا عَلِيٌّ هُوَ ابْنُ اَبِيْ هَاشِمٍ سَمِعَ هُشَيْمًا اَخْبَرَنَا الْعَوَّامُ بْنُ حَوْشَبٍ عَنْ اِبْرٰهِيْمَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اَبِيْ اَوْفٰى اَنَّ رَجُلًا اَقَامَ سِلْعَةً فِي السُّوْقِ فَحَلَفَ فِيْهَا لَقَدْ اُعْطِيَ بِهَا مَالَمْ يُعْطِهِ لِيُوْقِعَ فِيْهَا رَجُلًا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ فَنَزَلَتْ اِنَّ الَّذِيْنَ يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَ اَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيْلًا اِلٰى آخِرِ الْاٰيَةِ.

٥٣٥: علي بن هاشم. هشيم. عوام بن حوشب. ابراهيم بن عبدالرحمٰن. حضرت عبدالله بن ابي اوفي نه روايت کوي، د هغۀ بيان دے، يو سړي بازار ته يو څيز خرڅولو د پاره راوړلو، او قسم سره ئے اووے، خلق دَ دے دومره قيمت لږوي، حالانکه دَ هغۀ دا وئيل غلط وو، او هيچا هم هغومره قيمت نۀ ور کولو، کوم چه هغۀ ښودلو، نو هغه وخت الله پاک دا آيت نازل کړلو: اِنَّ الَّذِيْنَ يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَ اَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيْلًا آخر آيت پورے.

٥٣٦: حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيِّ بْنِ نَصْرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ دَاوُدَ

٥٣٦: نصر بن علي بن نصر. عبدالله بن داود. ابن جريج. ابن ابي مليکه نه روايت کوي، دوه ښځے يو

عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ عَنِ ابْنِ اَبِيْ مُلَيْكَةَ اَنَّ امْرَاَتَيْنِ كَانَتَا تَخْرِزَانِ فِيْ بَيْتٍ اَوْ فِي الْحُجْرَةِ فَخَرَجَتْ اِحْدٰهُمَا وَقَدْ اُنْفِذَ بِاِشْفًا فِيْ كَفِّهَا فَادَّعَتْ عَلَى الْاُخْرٰى فَرُفِعَ اِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ يُعْطَى النَّاسُ بِدَعْوَاهُمْ لَذَهَبَ دِمَاءُ قَوْمٍ وَ اَمْوَالُهُمْ ذَكِّرُوْهَا بِاللّٰهِ وَ اقْرَءُوْا عَلَيْهَا اِنَّ الَّذِيْنَ يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ فَذَكَّرُوْهَا فَاعْتَرَفَتْ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْيَمِيْنُ عَلَى الْمُدَّعٰى عَلَيْهِ.

مکان کښې يو خانې ناستې وې، موزې ئې ګنډلې. هغې کښې يوه بهرته راغله، او ونيلې، خما لاس کښې دې بلې ذ موزې ګنډلو سونبه چوکه کړې ده. چه لاس سره ئې لګيدلې وه، آخر دا معامله حضرت ابن عباسؓ له راغله. هغهٔ اووې، حضور صلي الله عليه وسلم فرمائيلې دي: که خلقوته په دعوي کولو (بدله) ورکولې شوې، نو ډيرو خلقو مال او خون به ضائع کيدلو، او هغې بلې ښځې ته ئې اووې، چه ته به قسم خورې. بيائې دا آيت اولوست: اِنَّ الَّذِيْنَ يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ: يعني په دروغه قسم خوړلو نه ئې اُويرولـه، دې نه پس هغه ښځه اويريده، او ذ خپل جرم اقرار ئې اوکړ. حضرت ابن عباسؓ اوفرمائيل، ذ حضور صلي الله عليه وسلم ارشاد دې، چه قسم په مدعا عليه دې.

باب ١٥١ : قُلْ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ تَعَالَوْا اِلٰى كَلِمَةٍ سَوَآءٍ بَيْنَنَا وَ بَيْنَكُمْ اَلَّا نَعْبُدَ اِلَّا اللّٰهَ سَوَاءٍ قَصْدٍ.

باب ١٥١ : آيت: قُلْ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ تَعَالَوْا اِلٰى كَلِمَةٍ الخ: ذ الله تعالي قول، او وايه، اې اهل کتابو، يوې کلمې طرف ته راشئ، چه زمونږ او ستاسو مينځ کښې برابر ده، چه ذ الله نه سوا به ذ بل چا بندګي نه کوو.

٥٣٧ : حَدَّثَنِيْ اِبْرٰهِيْمُ بْنُ مُوْسٰى عَنْ هِشَامٍ عَنْ مَعْمَرٍ ح وَ حَدَّثَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ اَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ اَخْبَرَنِيْ عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُتْبَةَ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ عَبَّاسٍ قَالَ حَدَّثَنِيْ اَبُوْ سُفْيَانَ مِنْ فِيْهِ اِلٰى فِيَّ قَالَ انْطَلَقْتُ فِي الْمُدَّةِ الَّتِيْ كَانَتْ بَيْنِيْ وَ بَيْنَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

٥٣٧ : ابن بن موسٰي. هشام. معمر. ح. عبدالله بن محمد. عبدالرزاق. معمر. زهري. عبيدالله بن عبدالله بن عقبه. حضرت ابن عباس نه روايت کوي، ذ هغهٔ بيان دې، ابو سفيان دا حديث خما مخکښې بيان کهٔ، کوم وخت چه خمونږ حضور صلي الله عليه وسلم سره صلح وه، نو هغه وخت زهٔ ملک شام کښې ووم. دغه زمانه کښې ذ حضور صلي الله عليه وسلم خط دِحيه کلبي، هرقل له راوړې وو. اول، دا خط دِحيه د بصرې سردار لـه ورکړلو، هغهٔ هرقل ته اوليږلو، هرقل چه خط

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَبَيْنَا اَنَا بِالشَّامِ اِذْ جِيْئَ بِكِتَابٍ مِّنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰى هِرَقْلَ قَالَ وَ كَانَ دِحْيَةُ الْكَلْبِيُّ جَآءَ بِهٖ فَدَفَعَهٗ اِلٰى عَظِيْمِ بُصْرٰى فَدَفَعَهٗ اِلٰى هِرَقْلَ قَالَ فَقَالَ هِرَقْلُ هَلْ هٰهُنَا اَحَدٌ مِّنْ قَوْمِ هٰذَا الرَّجُلِ الَّذِيْ يَزْعَمُ اَنَّهٗ نَبِيٌّ فَقَالُوْا نَعَمْ قَالَ فَدُعِيْتُ فِيْ نَفَرٍ مِّنْ قُرَيْشٍ فَدَخَلْنَا عَلٰى هِرَقْلَ فَاُجْلِسْنَا بَيْنَ يَدَيْهِ فَقَالَ اَيُّكُمْ اَقْرَبُ نَسَبًا مِّنْ هٰذَا الرَّجُلِ الَّذِيْ يَزْعَمُ اَنَّهٗ نَبِيٌّ فَقَالَ اَبُوْ سُفْيَانَ فَقُلْتُ اَنَا فَاَجْلَسُوْنِيْ بَيْنَ يَدَيْهِ وَ اَجْلَسُوْا اَصْحَابِيْ خَلْفِيْ ثُمَّ دَعَا بِتَرْجُمَانِهٖ فَقَالَ قُلْ لَهُمْ اِنِّيْ سَائِلٌ هٰذَا عَنْ هٰذَا الرَّجُلِ الَّذِيْ يَزْعَمُ اَنَّهٗ نَبِيٌّ فَاِنْ كَذَبَنِيْ فَكَذِّبُوْهُ قَالَ اَبُوْ سُفْيَانَ وَ اَيْمُ اللّٰهِ لَوْلَا اَنْ يُّؤْثِرُوْا عَلَيَّ الْكَذِبَ لَكَذَبْتُ ثُمَّ قَالَ لِتَرْجُمَانِهٖ سَلْهُ كَيْفَ حَسَبُهٗ فِيْكُمْ قَالَ قُلْتُ هُوَ فِيْنَا ذُوْ حَسَبٍ قَالَ فَهَلْ كَانَ مِنْ اٰبَائِهٖ مَلِكٌ قَالَ قُلْتُ لَا قَالَ فَهَلْ كُنْتُمْ تَتَّهِمُوْنَهٗ بِالْكَذِبِ قَبْلَ اَنْ يَّقُوْلَ مَا قَالَ قُلْتُ لَا قَالَ اَيَتَّبِعُهٗ اَشْرَافُ النَّاسِ اَمْ ضُعَفَآءُ هُمْ قَالَ قُلْتُ بَلْ ضُعَفَآءُ هُمْ قَالَ يَزِيْدُوْنَ اَوْ يَنْقُصُوْنَ قَالَ قُلْتُ لَابَلْ يَزِيْدُوْنَ قَالَ

اولوست، نو وے ونیال کورے. دا ذ چا حط دے او د نبوت دعويٰ هم کوي، ذ هغهٔ د قوم څوک سړے دلته شته، خلقو ورته اووے، او، ذ هغهٔ ذ قوم خلق دلته موجود دي، ذ ابوسفیان بیان دے، زهٔ او خما څو قریش ملګري د هرقل دربار ته اوغُبنتلے شو، هغهٔ مونږ خان ته مخامخ کینولو، بیائے تپوس اوکهٔ، تاسو کبنې ذ دهٔ (پیغمبر) قریبي رشته دار څوک دے، ما اووے، زهٔ یم، نو هغهٔ زهٔ خپلے مخے ته کینولم، او نور ملګري ئے خما شاته کینول. بیائے خپل یو سړي ته اووے، تهٔ ذ ابوسفیان ملګرو ته اووایه، چه زهٔ ذ محمد صلي الله علیه وسلّم متعلق ذ ابوسفیان نه څهٔ تپوسونه کوم، که دے ذ غلط بیانئ نه کار واخلي، نو تاسو ذ دهٔ تردید کوئے. ذ ابوسفیان بیان دے، که ماته ذ خپلو ملګرو ویره نهٔ وے (چه دوئ به ما دروغجن کړي) نو ضرور څهٔ غلطے خبرے به مِ هم کړے وے. آخر هرقل خپل ترجمان ته اووے، ابوسفیان نه ذ محمد (صلعم) حسب نسب دریافت کړه. هغهٔ تپوس اوکهٔ، ما ورته اووے، هغه (یعني محمد صلعم) مونږ کبنې ذ ټولو نه زیات عالي نسبه دے. بیا هغهٔ تپوس اوکهٔ، آیا ذ هغهٔ پلرونو نیکونو کبنې څوک بادشاه هم تیر شوے دے، ما جواب ورکهٔ، نه، بیا هغهٔ تپوس اوکهٔ، آیا تاسو ذ نبوّت ذ دعوے نه مخکبنې ذ هغهٔ نه دروغ چرته آوریدلے دي، ما ورته اووے نه، بیا هغهٔ تپوس اوکهٔ، ذ هغهٔ اطاعت کبنې امیران خلق زیات راځي، یا غریبان، ما جواب ورکهٔ، غریبان، بیا هغهٔ تپوس اوکهٔ، ذ هغهٔ منونکي زیاتیږي که کمیږي، ما جواب ورکهٔ، زیاتیږي، بیا هغهٔ تپوس اوکهٔ، ذ هغهٔ په منونکو

هَلْ يَرْتَدُّ اَحَدٌ مِنْهُمْ عَنْ دِيْنِهٖ بَعْدَ اَنْ
يَدْخُلَ فِيْهِ سَخْطَةً لَهٗ قَالَ قُلْتُ لَا قَالَ
فَهَلْ قَاتَلْتُمُوْهُ قَالَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ
فَكَيْفَ قِتَالُكُمْ اِيَّاهُ قَالَ قُلْتُ تَكُوْنُ
الْحَرْبُ بَيْنَنَا وَ بَيْنَهٗ سِجَالًا يُصِيْبُ مِنَّا
وَ نُصِيْبُ مِنْهُ قَالَ فَهَلْ يَغْدِرُ قَالَ قُلْتُ
لَا وَ نَحْنُ مِنْهُ فِيْ هٰذِهِ الْمُدَّةِ لَا نَدْرِيْ
مَا هُوَ صَانِعٌ فِيْهَا قَالَ وَ اللّٰهِ مَا اَمْكَنَنِيْ
مِنْ كَلِمَةٍ اُدْخِلُ فِيْهَا شَيْئًا غَيْرَ هٰذِهٖ
قَالَ فَهَلْ قَالَ هٰذَا الْقَوْلَ اَحَدٌ قَبْلَهٗ
قُلْتُ لَا ثُمَّ قَالَ لِتَرْجُمَانِهٖ قُلْ لَهٗ اِنِّيْ
سَاَلْتُكَ عَنْ حَسَبِهٖ فِيْكُمْ فَزَعَمْتَ اَنَّهٗ
فِيْكُمْ ذُوْ حَسَبٍ وَ كَذٰلِكَ الرُّسُلُ
تُبْعَثُ فِيْ اَحْسَابِ قَوْمِهَا وَ سَاَلْتُكَ هَلْ
كَانَ فِيْ اٰبَآئِهٖ مَلِكٌ فَزَعَمْتَ اَنْ لَا
قُلْتُ رَجُلٌ يَطْلُبُ مُلْكَ اٰبَائِهٖ وَ سَاَلْتُكَ
عَنْ اَتْبَاعِهٖ اَضُعَفَاؤُهُمْ اَمْ اَشْرَافُهُمْ
فَقُلْتَ بَلْ ضُعَفَآءُ هُمْ وَهُمْ اَتْبَاعُ
الرُّسُلِ وَ سَاَلْتُكَ هَلْ كُنْتُمْ تَتَّهِمُوْنَهٗ
بِالْكَذِبِ قَبْلَ اَنْ يَقُوْلَ مَا قَالَ فَزَعَمْتَ
اَنْ لَّا فَعَرَفْتُ اَنَّهٗ لَمْ يَكُنْ لِيَدَعَ
الْكَذِبَ عَلَى النَّاسِ سَاَلْتُكَ هَلْ يَرْتَدُّ
اَحَدٌ مِنْهُمْ عَنْ دِيْنِهٖ بَعْدَ اَنْ يَدْخُلَ
فِيْهِ سَخْطَةً لَهٗ فَزَعَمْتَ اَنْ لَّا وَ كَذٰلِكَ
الْاِيْمَانُ اِذَا خَالَطَ بَشَاشَةَ الْقُلُوْبِ وَ
سَاَلْتُكَ هَلْ يَزِيْدُوْنَ اَمْ يَنْقُصُوْنَ

کښې څوک د خپل مذهب نه واپس هم ګرځي؟ ما
جواب ورکړ: نه. بیا هغه تپوس او کړ: آیا تاسو هغه سره
چرته جنګ کړے دے: د هغے به څه صورت وو؟ ما
جواب ورکړ: کله به هغوی غالب شو، کله مونږ. بیا هغه
تپوس او کړ: آیا محمد (صلعم) چرته وعده خلافي کړے
ده؟ ما جواب ورکړ: نه. خو نن صبا خمونږ او د هغوی
مینځ کښې معاهده شوے ده. معلومه نه ده چه د دے به
څه صورت جوړیږي. ابوسفیان اووے: ما سره سوا د دے
آخري خبرے نه د څه زیاتولو ګنجائش پاتے نه شو. بیا
هغه تپوس او کړ: آیا د محمد (صلعم) خاندان کښې د هغه
نه مخکښې هم چا د دے قسم دعوې کړے ده؟ ما جواب
ورکړ: نه. دے نه پس هرقل اووے: اے ترجمانه (ترجمه
کونکیه) ته ابوسفیان ته اووایه، تا نه د هغه نسب تپوس
اوشو، نو تا اووے: هغه عالي نسب دے، او پیغمبران
همیشه عالي نسب وي. بیا تپوس اوشو: د هغه پلرونو
نیکونو کښې څوک بادشاه تیر شوے دے، تا اووے نه. د
هرقل بیان دے، د دے تپوس په وخت ما سوچ کړے وو،
که ابوسفیان اووے چه بادشاه په کښې تیر شوے دے، نو
زه به اووایم، چه د نبوت دعوې ئې غلطه ده. خپل ملک
حاصلول غواړي، ما د هغه د منونکو متعلق تپوس او کړ:
چه هغه امیران دي، که غریبان. نو تا اووے، غریبان دي.
او د پیغمبرانو منونکي اکثر غریبان وي، او ما تپوس
او کړ، تاسو چرته د هغه (حضور صلعم) نه دروغ
آوریدلي دي، تا اووے نه په دے وجه زه پوهه شوم، چه چا
د نبوت نه مخکښې دروغ نه دي وئیلي، هغه به اوس ولے
دروغ اووائي. بیا ما تپوس کړے وو، د هغه د دین نه

فَزَعَمْتَ اَنَّهُمْ يَزِيْدُوْنَ وَ كَذٰلِكَ
الْاِيْمَانُ حَتّٰى يَتِمَّ وَ سَاَلْتُكَ هَلْ
قَاتَلْتُمُوْهُ فَزَعَمْتَ اَنَّكُمْ قَاتَلْتُمُوْهُ
فَتَكُوْنُ الْحَرْبُ بَيْنَكُمْ وَ بَيْنَهُ سِجَالًا
يَنَالُ مِنْكُمْ وَ تَنَالُوْنَ مِنْهُ وَ كَذٰلِكَ
الرُّسُلُ تُبْتَلٰى ثُمَّ تَكُوْنُ لَهُمُ
الْعَاقِبَةُ وَ سَاَلْتُكَ هَلْ يَغْدِرُ
فَزَعَمْتَ اَنَّهُ لَا يَغْدِرُ وَ كَذٰلِكَ
الرُّسُلُ لَا تَغْدِرُ وَ سَاَلْتُكَ هَلْ
قَالَ اَحَدٌ هٰذَا الْقَوْلَ قَبْلَهُ
فَزَعَمْتَ اَنْ لَّا فَقُلْتُ لَوْ كَانَ
قَالَ هٰذَا الْقَوْلَ اَحَدٌ قَبْلَهُ
قُلْتُ رَجُلٌ ائْتَمَّ بِقَوْلٍ قِيْلَ
قَبْلَهُ قَالَ ثُمَّ قَالَ بِمَ يَاْمُرُكُمْ
قَالَ قُلْتُ يَاْمُرُنَا بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ
وَالصِّلَةِ وَالْعَفَافِ اِنْ يَّكُ مَا
تَقُوْلُ فِيْهِ حَقًّا فَاِنَّهُ نَبِيٌّ
وَقَدْ كُنْتُ اَعْلَمُ اَنَّهُ خَارِجٌ
وَلَمْ اَكُ اَظُنُّهُ مِنْكُمْ وَلَوْ اَنِّيْ
اَعْلَمُ اَنِّيْ اَخْلُصُ اِلَيْهِ
لَاَحْبَبْتُ لِقَآءَهُ وَلَوْ كُنْتُ
عِنْدَهُ لَغَسَلْتُ عَنْ قَدَمَيْهِ
وَلَيَبْلُغَنَّ مُلْكُهُ مَا تَحْتَ
قَدَمَيَّ قَالَ ثُمَّ دَعَا بِكِتَابِ
رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَرَاَهُ فَاِذَا فِيْهِ

خو کې بدظن واپس شوې دي' تا اووې' نه' د ایمان
علامت هم دا دې' هر کله چه هغه زړه کښې کېني' نو بيا
نه اوځي. بيا ما تپوس او کړ' د هغه اطاعت کونکي
زياتيږي يا کميږي' تا اووې' زياتيږي او د ايمان دا
خاصيت دې' چه هغه زياتيږي. بيا ما تپوس او کړ' آيا
تاسو هغه سره چرته جنګ هم کړې دې' تا اووې' او' او
هغې کښې کله هغوي او کله مونږ غالب راشو' او د
رسولانو دغه حالت وي' او آخر هغوي فتح ياموِمي' بيا
ما تپوس او کړ' هغه وعده خلافي کوي يا نه' تا اووې' نه'
او رسولان هيڅ کله وعده خلافي نه کويْ بيا ما تانه
تپوس او کړ' دَ دهٔ نه مخکښې هم چا دَ نبوت دعويٰ کړې
ده' تا اووې' نه' دَ هرقل بيان دې' ما خپل زړهٔ کښې
اووې' که چا دعويٰ کړې ده' نو ما به وئيلي' چه دې نبي
نهٔ دې بلکه دَخپلو مخکنو پيروي کوي. بيا ما تانه تپوس
او کړ چه محمد (صلي الله عليه وسلم) تاسوته دَ څهٔ
خبرې حکم درکوي' تا اووې' هغه دَ مونځ' زکٰوة' صله
رحمي او پرهيزګاري حکم راکوي' دې نه پس هرقل
اووې' که تهٔ خپل بيان کښې رېښتينې يې' نو بيشکه هغه
رېښتينې نبي دې. او زهٔ پوهيدمه' چه هغه پيدا کيدونکې
دې' خو دا راته معلومه نهٔ وه چه هغه به تاسو کښې پيدا
کيږي' که دا راته معلومه وې' نو ما به ضرور هغهٔ سره
ملاقات کړې وې' او دَ هغهٔ په ديدن به مستفيض شوې
وې' او دَ هغهٔ پښې به م وينزلي وې' (او هغه اُوبهٔ به م
څکلې وې) او دَ هغهٔ حکومت به ضرور خما دې قدمونو
ته رارسي' دې نه پس هرقل دَ نبي صلي الله عليه وسلم
خط راوغوښتو اووې لوستو. مضمون دا ووْ:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
مِنْ مُحَمَّدٍ رَّسُوْلِ اِلٰى هِرَقْلَ
عَظِيْمِ الرُّوْمِ سَلَامٌ عَلٰى
مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰى اَمَّا بَعْدُ فَاِنِّىْ
اَدْعُوْكَ بِدِعَايَةِ الْاِسْلَامِ اَسْلِمْ
تَسْلَمْ اَسْلِمْ يُؤْتِكَ اللّٰهُ اَجْرَكَ
مَرَّتَيْنِ فَاِنْ تَوَلَّيْتَ فَاِنَّ عَلَيْكَ
اِثْمَ الْاَرِيْسِيِّيْنَ وَ يٰاَهْلَ الْكِتٰبِ
تَعَالَوْا اِلٰى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَ
بَيْنَكُمْ اَنْ لَّا نَعْبُدَ اِلَّا اللّٰهَ اِلٰى
قَوْلِهِ اشْهَدُوْا بِاَنَّا مُسْلِمُوْنَ فَلَمَّا فَرَغَ
مِنْ قِرَاءَةِ الْكِتَابِ ارْتَفَعَتِ الْاَصْوَاتُ
عِنْدَهٗ وَ كَثُرَ اللَّغَطُ وَ اُمِرَ بِنَا
فَاُخْرِجْنَا قَالَ فَقُلْتُ لِاَصْحَابِىْ
حِيْنَ خَرَجْنَا لَقَدْ اَمِرَ اَمْرُ ابْنِ
اَبِىْ كَبْشَةَ اِنَّهٗ لَيَخَافُهٗ مَلِكُ
بَنِى الْاَصْفَرِ فَمَازِلْتُ مُوْقِنًا
بِاَمْرِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهٗ سَيَظْهَرُ حَتّٰى
اَدْخَلَ اللّٰهُ عَلَىَّ الْاِسْلَامَ
قَالَ الزُّهْرِىُّ فَدَعَا هِرَقْلُ
عُظَمَاۤءَ الرُّوْمِ هَلْ لَكُمْ فِى
الْفَلَاحِ وَالرُّشْدِ اٰخِرَ الْاَبَدِ وَ اَنْ
يُّثْبَتَ لَكُمْ مُلْكُكُمْ قَالَ فَحَاصُوْا
حَيْصَةَ حُمُرِ الْوَحْشِ اِلَى الْاَبْوَابِ
فَوَجَدُوْهَا قَدْ غُلِّقَتْ فَقَالَ عَلَيَّ بِهِمْ

بسم الله الرّحمٰن الرحيم.
دا خط د محمد صلي الله عليه وسلّم نه دَ روم باچا هرقل
ته دے. معلومه دے وي، چه څوک د حق دين پيروي
کوي، په هغه دے سلام وي، زهٔ تا دَ اسلام کلمے طرف ته
بلم، که تا اسلام قبول کړ نو سلامت به اوسے او الله
تعالىٰ به دوچنده ثواب درکړي، او که اسلام دے قبول نهٔ
کړ، نو دَ ټول رعيت دَ اسلام نهٔ راوړلو ګناه به هم ستا په
سر وي، اے اهل کتابو، کومه خبره چه زمونږ او ستاسو
مينځ کښې برابر ده، هغے طرف ته راشئے او هغه خبره
داده، چه مونږ او تاسو به خدائے سره هيڅوک نهٔ
شريکوو. آخر آيت پورے". ابوسفيان اووے هرقل چه
دَ خط نه فارغ شو نو دربار کښې يو عجيبه شان شور
جوړ شولو. بيا مونږ بهر کړے شو، مونږ چه بهر ته
راوتلو نو خپلو ملګروته م اووے، دَ ابن کبشه يعني دَ
رسول الله صلي الله عليه وسلّم په کار کښې غټه
مضبوطي پيدا شوے ده، او اوس دَ هغهٔ نه بادشاهان هم
ويريږي، ددے واقعے نه پس څما دا يقين راغے چه
حضور صلي الله عليه وسلّم به ضرور غلبه بياموم.
زهري وائي، دے نه پس هرقل ټول رئيسان خان ته
راوبلل، او هغوي ته ئے اووے، اے اهل روم، آيا تاسو
غواړئے، چه هميشه سلامت پاتے شئے او ستاسو ملک
ستاسو لاس کښې وي، نو هدايت او دَ هميشه سلامتي
طرف ته راشئے، دَ راوي بيان دے، دے خبرے آوريدو
سره ټول خلق سخت ناراضه شو دروازے طرف ته
اوتښتيدل. خو دروازے بندے وے، هرقل ورته اووے،
تښتيږئ مه، ماته رانزدے شئے. ټول ورته راغلل، نو هرقل

فَدَعَا بِهِمْ فَقَالَ اِنِّيْ اِنَّمَا اخْتَبَرْتُ شِدَّتَكُمْ عَلٰى دِيْنِكُمْ فَقَدْ رَاَيْتُ مِنْكُمُ الَّذِيْ اَحْبَبْتُ فَسَجَدُوْا لَهُ وَ رَضُوْا عَنْهُ.

ورته اووې، ما ستاسو خلقو امتحان اخستلو، زه خوشحاله شوم، چه تاسو په خپل دین قائم او ثابت نئ. دې نه پس ټول خوشحاله شو، هرقل ته ئې سجده اوکړه، او دهغه نه خوشاله شول.

**باب ۱۵۲: قَوْلِهِ لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ اِلٰى بِهِ عَلِيْمٌ.**

**باب ۱۵۲**: آیت: لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا الخ: د الله تعالیٰ قول، تاسو هیڅ کله نیکي ته نهٔ شئ رسیدې، څو پورې چه تاسو خپل محبوب (زړهٔ پورې) څیز دَ الله په لار کښې خرچ نهٔ کړئ، آخر آیت پورې.

**۵۳۸**: حَدَّثَنَا اِسْمَاعِيْلُ قَالَ حَدَّثَنِيْ مَالِكٌ عَنْ اِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اَبِيْ طَلْحَةَ اَنَّهُ سَمِعَ اَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُوْلُ كَانَ اَبُوْ طَلْحَةَ اَكْثَرُ اَنْصَارِيٍّ بِالْمَدِيْنَةِ نَخْلًا وَّ كَانَ اَحَبَّ اَمْوَالِهِ اِلَيْهِ بِيْرُ حَآءٍ وَ كَانَتْ مُسْتَقْبِلَةَ الْمَسْجِدِ وَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُهَا وَ يَشْرَبُ مِنْ مَّآءٍ فِيْهَا طَيِّبٍ فَلَمَّا اُنْزِلَتْ لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ قَامَ اَبُوْ طَلْحَةَ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ اللّٰهَ يَقُوْلُ لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ وَ اِنَّ اَحَبَّ اَمْوَالِيْ اِلَيَّ بِيْرُ حَآءَ وَ اِنَّهَا صَدَقَةٌ لِلّٰهِ اَرْجُوْ بِرَّهَا وَ ذُخْرَهَا عِنْدَ اللّٰهِ فَضَعْهَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ حَيْثُ اَرَاكَ اللّٰهُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَخٍ ذٰلِكَ مَالٌ رَائِحٌ وَقَدْ

**۵۳۸**: اسمٰعیل. مالک. اسحٰق بن عبدالله بن ابي طلحه. حضرت انس نه روایت کوي، دَ مدینې انصارو کښې دَ ټولونه زیات باغونه دَ ابو طلحهؓ وو، او خپلو ټولو باغونو کښې بیر حاء نومې باغ دَ هغهٔ دَ ټولو نه زیات خوښ وو، دا باغ مسجد نبوي ته نزدې وو، حضورؐ به اکثر دغلته تشریف اوړلو او دَ هغې یخې او خوږې اُوبهٔ به ئې څکلې، بیا چه دا آیت نازل شو، لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ الخ نو هغه اودریدلو، او حضور صلي الله علیه وسلّم ته ئې اووې، یا رسول الله، تاسو ته معلومه ده، چه بیر حاء باغ ما ډیر خوښ دې، او الله پاک فرمائي، چه غوریز څیز خرچ کولو سره تاسو نیکي ته رسیدئې شې، نو بیر حاء باغ زهٔ دَ الله په نوم خیرات کوم. او الله نه دَ ثواب اُمید لرم، ستاسو چه څنګه خوښه وي، دا باغ دَ خدائې دَ مرضي مطابق استعمال کښې راولئې. حضور صلي الله علیه وسلّم دَ هغهٔ په دې سخاوت شاباسې اووې، او وې فرمائیل دا کار به تاته آخرت کښې ډیره فائده درکړي. اې ابو طلحهؓ ماته ستا نیت

سَمِعْتُ مَا قُلْتُ وَ إِنِّيْ أَرٰى أَنْ تَجْعَلَهَا فِي الْأَقْرَبِيْنَ قَالَ أَبُوْ طَلْحَةَ أَفْعَلُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَقَسَمَهَا أَبُوْ طَلْحَةَ فِيْ أَقَارِبِهٖ وَ بَنِيْ عَمِّهٖ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوْسُفَ وَ رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ ذٰلِكَ مَالٌ رَابِحٌ. حَدَّثَنِيْ يَحْيٰى بْنُ يَحْيٰى قَالَ قَرَأْتُ عَلٰى مَالِكٍ مَالٌ رَايِحٌ.

معلوم شولو، خما خيال دے چه دا باغ ته خپلو غريبانو رشته دارانو كښې تقسيم كړه. ابو طلحهؓ عرض اوكړ ډيره ښه ده بيائے هغه خپلو رشته دارانو (خپلوانو) كښې تقسيم كړلو. عبدالله بن يوسف او روح بن عباده وائي چه حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل ذٰلِكَ مال رابح: دا مال نفع بخش دے. بخاري وائي، ماته يحيٰي بن يحيٰي دا روايت داسے كړا دے چه: ذٰلِكَ مَالٌ رَائِحٌ: يعني دا مال فنا كيدونكے دے.

۵۳۹: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا الْأَنْصَارِيُّ قَالَ حَدَّثَنِيْ أَبِيْ عَنْ ثُمَامَةَ عَنْ أَنَسٍؓ قَالَ فَجَعَلَهَا لِحَسَّانٍ وَّ أُبَيٍّ وَ أَنَا أَقْرَبُ إِلَيْهِ وَلَمْ يَجْعَلْ لِيْ مِنْهَا شَيْئًا.

۵۳۹: محمد بن عبدالله. انصاري. دَ هغهٔ پلار. ثمامه. حضرت انسؓ نه روايت كوي، هغهٔ اووے، ابو طلحه دَ بير حاء باغ تقسيمولو په وخت حسان او ابي بن كعب له خو وركړلو، او ماله ئے رانهٔ كړلو، حالانكه رشته كښې ورته زهٔ دَ هغوئ نه قريب ووم.

## بَاب ۱۵۳: قَوْلِهٖ فَأْتُوْا بِالتَّوْرٰةِ فَاتْلُوْهَا إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ.

## باب ۱۵۳: آيت: فَأْتُوْا بِالتَّوْرٰةِ فَاتْلُوْهَا: دَ الله تعالٰي ارشاد، اے خمونږ رسولهؐ ته ورته اووايه، تورات راوړئ او هغه اولولئے، كه تاسو رښتنے يئے.

۵۴۰: حَدَّثَنِيْ إِبْرٰهِيْمُ بْنُ الْمُنْذِرِ حَدَّثَنَا أَبُوْ ضَمْرَةَ حَدَّثَنَا مُوْسٰى بْنُ عُقْبَةَ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَؓ أَنَّ الْيَهُوْدَ جَآءُوْا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرَجُلٍ مِنْهُمْ وَ امْرَأَةٍ قَدْ زَنَيَا فَقَالَ لَهُمْ كَيْفَ تَفْعَلُوْنَ بِمَنْ زَنَا مِنْكُمْ قَالُوْا نُحَمِّمُهَا وَ نَضْرِبُهَا فَقَالَ لَا تَجِدُوْنَ فِي التَّوْرٰةِ الرَّجْمَ فَقَالُوْا لَا نَجِدُ فِيْهَا شَيْئًا

۵۴۰: ابراهيم بن منذر. ابو ضمره. موسٰي بن عقبه. نافع. حضرت ابن عمرؓ نه روايت كوي، يهوديانو دَ خپل قوم يو سړے رسول الله صلي الله عليه وسلّم له راوستلو، او يوه ښځه ئے هم راوسته، چه هغوي زنا كړے وه. حضورؐ ورته اوفرمائيل، ستاسو په نزد دَ زنا څهٔ سزا ده. هغوي اووے، دَ دواړو مخ تور كړو، اوښه ئے اُووهو، حضورؐ ورته اوفرمائيل، آيا تاسو ته تورات كښې دَ زناكار دَ سنګسارولو حكم نهٔ دے دركړے شوے، هغوي اووے نه، عبدالله بن سلام په دے موقع اووے، تاسو غلط وائے تورات راوړئے، او وے لولئے، كه تاسو رښتيا وائے،

فَقَالَ لَهُمْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ سَلَامٍ كَذَبْتُمْ فَأْتُوْا بِالتَّوْرٰةِ فَاتْلُوْهَا اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ فَوَضَعَ مِدْرَاسُهَا الَّذِيْ يُدَرِّسُهَا مِنْهُمْ كَفَّهُ عَلٰى اٰيَةِ الرَّجْمِ فَطَفِقَ يَقْرَأُ مَا دُوْنَ يَدِهٖ وَمَا وَرَآئَهَا وَلَا يَقْرَأُ اٰيَةَ الرَّجْمِ فَنَزَعَ يَدَهٗ عَنْ اٰيَةِ الرَّجْمِ فَقَالَ مَا هٰذِهٖ فَلَمَّا رَاَوْا ذٰلِكَ قَالُوْا هِيَ اٰيَةُ الرَّجْمِ فَاَمَرَ بِهِمَا فَرُجِمَا قَرِيْبًا مِنْ حَيْثُ مَوْضِعِ الْجَنَائِزِ عِنْدَ الْمَسْجِدِ فَرَاَيْتُ صَاحِبَهَا يَحْنَاُ عَلَيْهَا يَقِيْهَا الْحِجَارَةَ.

هغوي تورات راوړلو، چه د هغوي عالم اولوست، نو د رجم (سنګساري) په آيت ئے لاس كيښودلو، او اخوا ديخوا نه لوستل ئے شروع كړل. عبدالله بن سلام د هغه لاس اخوا كه او، وے وئيل، او ګوره، دا څه دي، چه هغوي اوليد، نو هغهٔ ذ رجم آيت وو، وے وئيل، دا آيت د رجم دے. دے نه پس حضورؐ ذ هغوي ذ سنګسارولو حكم اوكړلو. د جمات خوا كښ ځان له يوځائے جوړ شوے وو، هلته هغه سړے او ښځه دواړه سنګسار كړے شو. ذ راوي بيان دے، ما ليدل، چه ذ زناكارے هغه زنا كار ملګرے به په هغه ښځه راځكته كيدلو، چه هغه ښځه ذ كانړو نه بچ كړے شي.

بَابُ ۱۵۴ : قَوْلُهٗ كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ.

باب ۱۵۴ : آيت: كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ: ذ اللّٰه تعالي قول، تاسو بهترين اُمت ئے، چه ذ خلقو ذ اصلاح ذ پاره پيدا كړے شوے يئ.

۱۵۴۱ : حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوْسُفَ عَنْ سُفْيَانَ عَنْ مَيْسَرَةَ عَنْ اَبِيْ حَازِمٍ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَؓ كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ قَالَ خَيْرَ النَّاسِ لِلنَّاسِ تَأْتُوْنَ بِهِمْ فِي السَّلَاسِلِ فِيْ اَعْنَاقِهِمْ حَتّٰى يَدْخُلُوْا فِي الْاِسْلَامِ.

۱۵۴۱ : محمد بن يوسف. سفيان. ميسره بن عمار اشجعي. ابي حازم. حضرت ابو هريرهؓ نه روايت كوي، ذ هغهٔ بيان دے، ذ دے آيت مطلب دا دے، چه ذ ټولو نه بهتر او خلقو ته نفع رسونكے اُمت هغه دے، چه خلق ذ خدائے فرمانبردار جوړ كړي، او هغوي ذ كفر او شرک نه لرے كړي.

بَابُ ۱۵۵ : قَوْلُهٗ اِذْ هَمَّتْ طَّآئِفَتَانِ مِنْكُمْ اَنْ تَفْشَلَا.

باب ۱۵۵ : آيت: اِذْ هَمَّتْ طَّآئِفَتٰنِ مِنْكُمْ اَنْ تَفْشَلَا: ذ اللّٰه تعالي قول، هر كله چه تاسو كښ دوو جماعتونو زړهٔ بائيللو. ذ دے تفسير.

۱۵۴۲ : حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ قَالَ عَمْرٌو سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ يَقُوْلُ فِيْنَا

۱۵۴۲ : علي بن عبدالله. سفيان. عمرو بن دينار. حضرت جابر بن عبدالله نه روايت كوي، ذ هغهٔ بيان دے، ذ قرآن دا آيت خمونږ په حق كښ نازل شوے وو،

نَزَلَتْ اِذْهَمَّتْ طَآئِفَتَانِ مِنْكُمْ اَنْ تَفْشَلَا وَاللّٰهُ وَلِيُّهُمَا قَالَ نَحْنُ طَآئِفَتَانِ بَنُوْ حَارِثَةَ وَ بَنُوْ سَلِمَةَ وَمَا نُحِبُّ وَ قَالَ سُفْيَانُ مَرَّةً وَمَا يَسُرُّنِيْ اَنَّهَا لَمْ تُنْزَلْ لِقَوْلِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ وَلِيُّهُمَا.

څکه چه څمونږ دوه جماعتونه وو' یو بني سلمه او بل بني حارث. مونږ ذ دے آیت نازلیدل بنهٔ گنړو' اګر که دے کښ څمونږ د کمزورئے ذکر دے. خو د: وَاللّٰهُ وَلِيُّهُمَا په وجه مونږ خوشحاله یو' او ذ ابوسفیان بیان دے' مونږ ته په دے وجه خوشحالي حاصله شوه' چه الله څمونږ محافظ او مددګار دے.

## باب ۱۵۶ : قَوْلُهٗ لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ.

باب ۱۵۶ : آیت: لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ: ذ الله تعالیٰ قول' ستاپه اختیار کښ هیڅ نشته.

۵۴۳ : حَدَّثَنَا حِبَّانُ بْنُ مُوْسٰى حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ اَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ حَدَّثَنِيْ سَالِمٌ عَنْ اَبِيْهِ اَنَّهٗ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا رَفَعَ رَاْسَهٗ مِنَ الرُّكُوْعِ فِي الرَّكْعَةِ الْاٰخِرَةِ مِنَ الْفَجْرِ يَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ الْعَنْ فُلَانًا وَ فُلَانًا وَ فُلَانًا بَعْدَ مَا يَقُوْلُ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ اِلٰى قَوْلِهٖ فَاِنَّهُمْ ظٰلِمُوْنَ رَوَاهُ اِسْحٰقُ بْنُ رَاشِدٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ.

۵۴۳ : حبان بن موسیٰ. عبدالله معمر. زهري. سالم. حضرت ابن عمرؓ نه روایت کوي' ذ سحر ذ مونځ د دویم رکعت ذ رکوع نه پس: ربنا لک الحمد: وئیلو سره حضور صلي الله علیه وسلم: اللّٰهم العن فلانا و فلانا و فلانا: اے الله فلاني' فلاني او فلاني باندے لعنت اولیږے' راوي وائي' چه هغه وخت دا آیت: لَيْسَ لَكَ مِنَ الامر شئ الخ: الله پاک نازل کړلو' یعني اے رسولهٔ' ستا اختیار کښ هیڅ نشته' که الله غواړي' په هغوي به مهرباني اوکړي یا عذاب به ورکړي. تحقیق سره هغوي ظالمان دي' دا حدیث اسحاق بن راشد. هم ذ زهري نه روایت کړے دے.

۵۴۴ : حَدَّثَنَا مُوْسَى بْنُ اِسْمٰعِيْلَ حَدَّثَنَا اِبْرٰهِيْمُ بْنُ سَعْدٍ حَدَّثَنَا ابْنُ شِهَابٍ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ وَ اَبِيْ سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا

۵۴۴ : موسیٰ بن اسماعیل. ابراهیم بن سعد. ابن شهاب. سعید بن مسیب او ابو سلمه بن عبدالرحمن' ذ حضرت ابوهریرهؓ نه روایت کوي' ذ هغهٔ بیان دے' رسول الله صلي الله علیه وسلم چه به یو دوست یا دشمن ذ پاره دُعا کوله' نو د رکوع نه پس سمع الله

أَرَادَ أَنْ يَدْعُوَ عَلَى أَحَدٍ أَوْ يَدْعُوَ لِأَحَدٍ قَنَتَ بَعْدَ الرُّكُوعِ فَرُبَّمَا قَالَ إِذَا قَالَ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ اللّٰهُمَّ أَنْجِ الْوَلِيدَ بْنَ الْوَلِيدِ وَ سَلَمَةَ بْنِ هِشَامٍ وَ عَيَّاشَ بْنَ أَبِيْ رَبِيعَةَ اَللّٰهُمَّ اشْدُدْ وَطْأَتَكَ عَلَى مُضَرَ وَاجْعَلْهَا سِنِيْنَ كَسِنِيْ يُوْسُفَ يَجْهَرُ بِذٰلِكَ وَ كَانَ يَقُوْلُ فِيْ بَعْضِ صَلَاتِهِ فِيْ صَلَاةِ الْفَجْرِ اَللّٰهُمَّ الْعَنْ فُلَانًا وَ فُلَانًا لِأَحْيَاءٍ مِنَ الْعَرَبِ حَتّٰى أَنْزَلَ اللّٰهُ لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ.

لِمَنْ حَمِدَه رَبَّنَا لَکَ الْحَمْد وئیلو نه پس به ئے فرمائیل: اے اللّٰه خلاصي ورکړے ولید بن ولید له، سلمه بن هشام له، او عیاش بن ابي ربیعه له. اے اللّٰه قوم مضر په سختي کښې ګیر کړے او په هغوي د یوسف علیه السلام د زمانے په شان قحط راولے. حضورؐ به همیشه داسے قسم دُعاګانے په اوچت آواز کولے. کله کله د سحر مونځ کښې د بعضے قبائل عرب د پاره به ئے ارشاد فرمائیلو: اے اللّٰه په فلاني او فلاني لعنت اولیږے. آخر دا آیت نازل شولو: لَیْسَ لَکَ مِنَ الْاَمْرِ شَیْءٌ یعني اے رسوله، ستا اختیار کښې هیڅ نشته. آخر آیت پورے.

## باب ۱۵۷ : قَوْلُهُ وَالرَّسُوْلُ يَدْعُوْكُمْ فِيْ أُخْرٰكُمْ وَهُوَ تَأْنِيْثُ اٰخِرِكُمْ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍؓ إِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ فَتْحًا أَوْ شَهَادَةً.

باب ۱۵۷ : آیت: وَالرَّسُوْلُ یَدْعُوْکُمْ فِیْ اُخْرٰکُمْ: د اللّٰه تعالٰي قول: او رسول تاسو ورستني جماعت ته بلي. اُخریٰ، د آخر مؤنث دے. ابن عباسؓ اووے، تاسو دوو نیکو کښې د یو منتظر اوسئے، یو فتح او دوئیم شهادت.

۵۴۵ : حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا أَبُوْ إِسْحٰقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ قَالَ جَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الرَّجَّالَةِ يَوْمَ أُحُدٍ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ جُبَيْرٍ وَ أَقْبَلُوْا مُنْهَزِمِيْنَ فَذٰلِكَ إِذْ يَدْعُوْهُمُ الرَّسُوْلُ فِيْ أُخْرٰهُمْ وَلَمْ يَبْقَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيْرُ اثْنَيْ عَشَرَ رَجُلًا.

۵۴۵ : عمرو بن خالد. زهیر. ابو اسحاق. حضرت براء بن عازبؓ نه روایت کوي، د ځښے خلقو په یو جماعت رسول اللّٰه صلي اللّٰه علیه وسلّم عبداللّٰه بن جبیرؓ سردار جوړ کړلو، خو هغے خلقو د خپل سردار نه روګرداني اوکړله. دے آیت کښې دغے واقعے ته اشاره شوے ده، حضور صلي اللّٰه علیه وسلم سره صرف دولس سړي پاتے شو، (او باقي ټول خوارۀ واره شوي وو).

بَابُ ۱۵۸ : قَوْلِهٖ اَمَنَةً نُّعَاسًا.

باب ۱۵۸ : آیت: اَمَنَةً نُّعَاسًا: ذَ اللّٰه تعالیٰ قول: په تاسو امن یعنې پر کالي راغله.

۴۵۴۶ : حَدَّثَنَا اِسْحٰقُ بْنُ اِبْرٰهِيْمَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ اَبُوْ يَعْقُوْبَ حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ قَتَادَةَ حَدَّثَنَا اَنَسٌ اَنَّ اَبَا طَلْحَةَ قَالَ غَشِيَنَا النُّعَاسُ وَ نَحْنُ فِيْ مَصَافِّنَا يَوْمَ اُحُدٍ قَالَ فَجَعَلَ سَيْفِيْ يَسْقُطُ مِنْ يَدِيْ وَ اٰخُذُهٗ وَ يَسْقُطُ وَ اٰخُذُهٗ.

۴۵۴۶ : اسحاق بن ابراهیم بن عبدالرحمن. ابو یعقوب. حسین بن محمد. شیبان. قتاده. انس. حضرت ابو طلحهؓ نه روایت کوي، ذ هغه بیان دے. ذ جنګ اُحد په ورځ چه مونږ میدان جنګ کښې موجود وو، مونږ له داسې خوب راغې، چه څو ځله څما ذ لاسه توره اوغرځیدله، خو ما هر ځل هغه راونیوله.

بَابُ ۱۵۹ : قَوْلِهٖ اَلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ مِنْۢ بَعْدِ مَاۤ اَصَابَهُمُ الْقَرْحُ لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا مِنْهُمْ وَاتَّقَوْا اَجْرٌ عَظِيْمٌ اَلْقَرْحُ الْجِرَاحُ اسْتَجَابُوْا اَجَابُوْا يَسْتَجِيْبُ، يُجِيْبُ.

باب ۱۵۹ : آیت: اَلَّذِيْنَ اسْتَجَابُوْا لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ الخ: ذ اللّٰه تعالیٰ ارشاد، کومو خلقو چه ذ اللّٰه او رسول حکم اومنلو، حالانکه هغوي زخمي شوي وو، نو کومو خلقو چه نیک کارونه اوکړل، او ذ اللّٰه تعالیٰ نه ئې ویره اوکړله، هغوي ذ پاره لوئې ثواب دے. ذ "قرح" معنې دي زخم. "استجابوا" او "اجابوا" یو معنې دي، یعنې حکم مو واوریدلو، او اومو منلو.

بَابُ ۱۶۰ : قَوْلِهٖ اِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوْا لَكُمُ الْاٰيَةَ.

باب ۱۶۰ : آیت: اِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوْا الخ: ذ اللّٰه تعالیٰ قول خلق تاسو د پاره جمع شو، ددے تفسیر

۴۵۴۷ : حَدَّثَنَا اَحْمَدُ بْنُ يُوْنُسَ اُرَاهُ قَالَ حَدَّثَنَا اَبُوْ بَكْرٍ عَنْ اَبِيْ حُصَيْنٍ عَنْ اَبِي الضُّحٰى عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ حَسْبُنَا اللّٰهُ وَ نِعْمَ الْوَكِيْلُ قَالَهَا اِبْرٰهِيْمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ حِيْنَ اُلْقِيَ فِي النَّارِ وَ قَالَهَا مُحَمَّدٌ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ قَالُوْا اِنَّ النَّاسَ قَدْ

۴۵۴۷ : احمد بن یونس. ابوبکر. ابو حصین. ابو الضحی. حضرت ابن عباسؓ نه روایت کوي، ذ هغه بیان دے، دا آیت یعنې: حسبنا اللّٰه و نعم الوکیل: حضرت ابراهیم علیه السلام هغه وخت ونیلے وو، کوم وخت چه هغه اُور کښې غورځولے شوے وو. او دا آیت حضور صلی اللّٰه علیه وسلم هغه وخت ونیلے وو، چه منافقانو ذ مسلمانانو ذ ویرولو ذ

جَمَعُوْا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ اِيْمَانًا وَّقَالُوْا حَسْبُنَا اللّٰهُ وَ نِعْمَ الْوَكِيْلُ.

پاره ونيلي وو، چه تاسو سره جنګ کولو د پاره ډير خلق راجمع شوي دي.

ف: دغسي سختئ کښې "حسبنا الله و نعم الوكيل" بهترينه وظيفه او مدد د پاره اكسير دُعا ده. الله پاک دي د دې دُعا په بركت خمونږ هم په ظاهر او په باطن مدد ګار شي. اللّٰهم آمين.

۵۴٨: حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ اِسْمٰعِيْلَ حَدَّثَنَا اِسْرَآئِيْلُ عَنْ اَبِيْ حُصَيْنٍ عَنْ اَبِي الضُّحٰى عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ اٰخِرُ قَوْلِ اِبْرٰهِيْمَ حِيْنَ اُلْقِيَ فِي النَّارِ حَسْبِيَ اللّٰهُ وَ نِعْمَ الْوَكِيْلُ.

۵۴٨: مالک بن اسماعيل. اسرائيل. ابي حصين. ابي الضحي. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، حضرت ابراهيم عليه السلام چه كوم وخت اُور كښې اُوغورځولي شو، نو د هغه آخري كلمه دا وه، حَسْبُنَا اللّٰهُ وَ نِعْمَ الْوَكِيْلُ.

باب ١٦١: وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ بِمَآ اٰتٰهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ الْاٰيَةَ سَيُطَوَّقُوْنَ كَقَوْلِكَ طَوَّقْتُهٗ بِطَوْقٍ.

باب ١٦١: آيت: وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ بِمَا اٰتٰهُمُ اللّٰهُ الخ: د اللّٰه تعالي قول، خداداد (خدائي وركړي) مال كښې چه څوک شومتيا كوي، نو تاسو د هغوي شومتيا هغوي د پاره ښه مه ګڼرئ، آخر پوري تفسير.

۵۴٩: حَدَّثَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُنِيْرٍ سَمِعَ اَبَا النَّضْرِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمٰنِ هُوَ ابْنُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ دِيْنَارٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ اَبِيْ صَالِحٍ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ اٰتَاهُ اللّٰهُ مَالًا فَلَمْ يُؤَدِّ زَكٰوتَهٗ مُثِّلَ لَهٗ مَالُهٗ شُجَاعًا اَقْرَعَ لَهٗ زَبِيْبَتَانِ يُطَوَّقُهٗ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَاْخُذُ بِلِهْزِمَتَيْهِ يَعْنِيْ بِشِدْقَيْهِ يَقُوْلُ اَنَا مَالُكَ اَنَا كَنْزُكَ ثُمَّ تَلَا هٰذِهِ الْاٰيَةَ وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ بِمَا

۵۴٩: عبداللّٰه بن منير. ابو نضر. عبدالرحمٰن بن عبداللّٰه بن دينار. د هغهٔ پلار. ابو صالح. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت كوي، د هغهٔ بيان دې، حضورؐ ارشاد اوفرمائيلو، چاته چه اللّٰه مال وركړې وي، او د هغې زكٰوة ئې ورنه كړ، نو د قيامت په ورځ به د هغهٔ مال د هغهٔ د پاره مار جوړ شي، چه د هغهٔ په سر به ويښتهٔ او ستركو باندې دوه نقطې وي، بيا به دغه مار د هغهٔ په غاړه كښې واچولې شي او هغه مار به خپلې ژبې سره وائي، زهٔ ستا هغه مال يم، زهٔ ستا هغه جمع كړې شوې خزانه يم. بيا حضور صلي اللّٰه عليه وسلم دا آيت تلاوت كړلو: وَلَا

اٰتٰهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ اِلٰى اٰخِرِ الْاٰيَةِ.

يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ آخر پورے.

باب ۱۶۲: قَوْلِهٖ وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا اَذًى كَثِيْرًا.

باب ۱۶۲: وَلَتُسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ الخ: تاسو به ډ هغې خلقونه خپلې ډيرے بدئ واورئ چه هغوي ته تاسو نه مخکښ كتاب وركړے شوے وو او ډ هغوي نه هم، چه كافر او مشرک دي، ډ دے تفسير.

۵۵۰: حَدَّثَنَا اَبُو الْيَمَانِ حَدَّثَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ اَخْبَرَنِيْ عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ اَنَّ اُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ اَخْبَرَهٗ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكِبَ عَلٰى حِمَارٍ عَلٰى قَطِيْفَةٍ فَدَكِيَّةٍ وَّ اَرْدَفَ اُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ وَرَآءَهٗ يَعُوْدُ سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ فِيْ بَنِيْ الْحَارِثِ بْنِ الْخَزْرَجِ قَبْلَ وَقْعَةِ بَدْرٍ قَالَ حَتّٰى مَرَّ بِمَجْلِسٍ فِيْهِ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ اُبَيِّ ابْنِ سَلُوْلٍ وَ ذٰلِكَ قَبْلَ اَنْ يُّسْلِمَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ اُبَيٍّ فَاِذَا فِي الْمَجْلِسِ اَخْلَاطٌ مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُشْرِكِيْنَ وَ عَبَدَةِ الْاَوْثَانِ وَ الْيَهُوْدَ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَ فِي الْمَجْلِسِ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ رَوَاحَةَ فَلَمَّا غَشِيَتِ الْمَجْلِسَ عَجَاجَةُ الدَّابَّةِ خَمَّرَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ اُبَيٍّ اَنْفَهٗ بِرِدَآئِهٖ ثُمَّ قَالَ لَا تُغَبِّرُوْا عَلَيْنَا فَسَلَّمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ ثُمَّ وَقَفَ فَنَزَلَ فَدَعَاهُمْ اِلَى اللّٰهِ وَ قَرَاَ عَلَيْهِمُ الْقُرْاٰنَ فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ

۵۵۰: ابو اليمان. شعيب. زهري. عروه بن زبير. حضرت اسامه بن زيد نه روايت كوي، ډ هغه بيان دے، حضور صلي الله عليه وسلّم په خپل خر سور وو، هغے ډ پاسه ډ فدكيه بنار څادر پروت وو، حضورؐ زه ځان پسے ورستو سور كړم، بيا حضورؐ ډ سعد بن عباده ليدو ډ پاره تشريف يوړلو، او دا ډ جنګ بدر نه ډ مخكښ واقعه ده. لار كښ حضورؐ په څنګ خلقو تيريدلو، هغوي كښ مشهور منافق عبدالله بن ابي بن سلول هم ناست وو، او دغه وخته پورے هغه ظاهرًا هم اسلام نه وو راوړلے، دغے مجلس كښ مسلمانان، مشرك او يهوديان هم ناست وو، او هغوي كښ عبدالله بن رواحهؓ هم ناست وو، چه مسلمان او صحابي وو. ډ خر تلو سره ګرد اوچت شو، چه په هغوي پريوتلو، نو عبدالله بن اُبي خپله پوزه څادر سره پټه كړله، او، وے وئيل، دوړے مه كوه. حضور صلي الله عليه وسلّم سلام اوكړلو، بيا ډ سورلي نه راكوز شولو. ډ قرآن تلاوت ئے شروع كړ، او هغوي ته ئے الله تعالي طرف ته ډ رابللو دعوت وركړ، عبدالله بن ابي اووے، كه ته ريښتنے ئے، او ستا خبره هم ښه وي، خو

أُبَيّ ابْنِ سَلُوْلٍ اَيُّهَا الْمَرْءُ اِنَّهُ لَا
اَحْسَنَ مِمَّا تَقُوْلُ اِنْ كَانَ حَقًّا فَلَا
تُؤْذِيْنَا بِهٖ فِيْ مَجْلِسِنَا اِرْجِعْ اِلٰى
رَحْلِكَ فَمَنْ جَاءَكَ فَاقْصُصْ عَلَيْهِ
فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ رَوَاحَةَ بَلٰى يَا
رَسُوْلَ اللّٰهِ فَاغْشَنَا بِهٖ فِيْ مَجَالِسِنَا
فَاِنَّا نُحِبُّ ذٰلِكَ فَاسْتَبَّ الْمُسْلِمُوْنَ
وَالْمُشْرِكُوْنَ وَالْيَهُوْدُ حَتّٰى كَادُوْا
يَتَثَاوَرُوْنَ فَلَمْ يَزَلِ النَّبِيُّ صَلَّى
اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخَفِّضُهُمْ حَتّٰى
سَكَنُوْا ثُمَّ رَكِبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَآبَّتَهٗ فَسَارَ حَتّٰى دَخَلَ
عَلٰى سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا سَعْدُ اَلَمْ
تَسْمَعْ مَا قَالَ اَبُوْ حُبَابٍ يُرِيْدُ عَبْدَ
اللّٰهِ بْنَ اُبَيٍّ قَالَ كَذَا وَ كَذَا قَالَ
سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اعْفُ
عَنْهُ وَاصْفَحْ عَنْهُ فَوَالَّذِيْ اَنْزَلَ عَلَيْكَ
الْكِتٰبَ لَقَدْ جَاءَ اللّٰهُ بِالْحَقِّ الَّذِيْ
اَنْزَلَ عَلَيْكَ لَقَدِ اصْطَلَحَ اَهْلُ هٰذِهِ
الْبُحَيْرَةِ عَلٰى اَنْ يُتَوِّجُوْهُ فَيُعَصِّبُوْنَهٗ
بِالْعِصَابَةِ فَلَمَّا اَبَى اللّٰهُ ذٰلِكَ بِالْحَقِّ
الَّذِيْ اَعْطَاكَ اللّٰهُ شَرِقَ بِذٰلِكَ فَذٰلِكَ
فَعَلَ بِهٖ مَا رَاَيْتَ فَعَفَا عَنْهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ كَانَ
النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ

خمونږ غوږونه مه خوره خپل کور ته ځه' او
هلته چه څوک تاله درځي' هغوي ته ئې آوروه'
عبداللّٰه بن رواحةؓ اووے' او' يا رسول اللّٰه' تاسو
خمونږ کورته راځئ' او مونږ ته ئې آوروئ' ځکه
چه په مونږ دا خبرے ډيرے ښے لږي. دے نه
پس مسلمانانو او کافرو کښې څه ترخے خبرے
شروع شوے' تردے چه وهلو ټکولو ته
تيار شو. آخر معامله رفع دفع شوه' او
حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم په خپله سورلي سور
شولو. او سعد بن عبادةؓ پلے ئے تشريف يوړلو'
او حضرت سعدؓ ته ئے اوفرمائيل' اے سعد' آيا
تا د ابو حباب خبرے آوريدلے دي' يعني عبداللّٰه
بن ابي د دے قسم خبرے کړے دي. دے آوريدو
سره حضرت سعد بن عبادةؓ عرض اوکړ' يا
رسول اللّٰه' تاسو فکر مه کوئ' او د هغۀ د
خبرو هيڅ خيال مه ساتئ' هغه د خپل حسد د
وجے نه په داسے خبرو کولو مجبور دے' زۀ په
هغه ذات قسم خورم' چه په تاسو ئې قرآن
نازل کړے دے' څه چه په تاسو نازليږي' هغه
برحق او صحيح دي' او تاسو د اللّٰه رېښتيني
نبي او رسول ئې. خبره داده' د مديني خلقو
ستاسو د راتلو نه مخکښې دا فيصله کړے وه' چه
مونږ به عبداللّٰه بن اُبي خپل سردار جوړوو' او هغه
ته به تاج په سروو' بيا تاسو تشريف راوړلو' او په
هغۀ دا خبره بده اولږيده' په دے وجه هغه ستاسو
په شان کښې گستاخي کوي. نبي صلي اللّٰه

اَصْحَابُهٗ يَعْفُوْنَ عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ وَ اَهْلِ الْكِتٰبِ كَمَا اَمَرَهُمُ اللّٰهُ وَ يَصْبِرُوْنَ عَلَى الْاَذٰى قَالَ اللّٰهُ عَزَّ وَ جَلَّ وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَ مِنَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا اَذًى كَثِيْرًا اَلْاٰيَة قَالَ اللّٰهُ وَدَّ كَثِيْرٌ مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَوْ يَرُدُّوْنَكُمْ مِنْ بَعْدِ اِيْمَانِكُمْ كُفَّارًا حَسَدًا مِنْ عِنْدِ اَنْفُسِهِمْ اِلٰى اٰخِرِ الْاٰيَةِ وَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَاَوَّلُ الْعَفْوَ مَا اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖ حَتّٰى اَذِنَ اللّٰهُ فِيْهِمْ فَلَمَّا غَزَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَدْرًا فَقَتَلَ اللّٰهُ بِهٖ صَنَادِيْدَ كُفَّارِ قُرَيْشٍ قَالَ ابْنُ اُبَيِّ ابْنِ سَلُوْلَ وَمَنْ مَعَهٗ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ وَ عَبَدَةِ الْاَوْثَانِ هٰذَا اَمْرٌ قَدْ تَوَجَّهَ فَبَايَعُوا الرَّسُوْلَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْاِسْلَامِ فَاَسْلَمُوْا.

عليه وسلّم هغه معاف كړلو، ځكه چه دَ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم او دَ صحابهٌؓ دا عادت وو، چه هميشه به ئې دَ كافرو ګستاخئ معاف كولے، لكه چه اللّٰه تعالیٰ اوفرمائيل، او مخكښې آيت: وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا اَذًى كَثِيْرًا الاٰية: تير شولو او اللّٰه تعالیٰ اوفرمائيل: وَدَّ كَثِيْرٌ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَوْ يَرُدُّوْنَكُمْ مِنْ بَعْدِ اِيْمَانِكُمْ كُفَّارًا حَسَدًا مِنْ عِنْدِ اَنْفُسِهِمْ الاٰية: حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم به هميشه دَ كافرو دَ تكليف باره هغه كول، كوم چه به اللّٰه تعالیٰ ارشاد فرمائيلو، ترديے چه اللّٰه تعالیٰ كافرو سره دَ جهاد كولو حكم نازل كړلو. دیے نه پس حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم دَ بدر جنګ اوكهٔ. او دَ مكے لوئے لوئے كفار دَ مسلمانانو دَ لاسه قتل شو. دغه وخت به عبداللّٰه بن اُبي خپلو ملګروته وئيلے، اوس دا دين غالب شوے دے، او دے كښې دَ شريكيدو وخت راغلے دے. نو مسلمانان شئے. او ظاهر كښې دَ حضورؐ نه بيعت اوكړئے، او ځان مسلمانان ظاهروے ګويا منافق اوسئے.

**بَاب ١٦٣ : قَوْلِهٖ لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَفْرَحُوْنَ بِمَا اَتَوْا.**

**باب ١٦٣ :** آيت: لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَفْرَحُوْنَ بِمَا اَتَوْا: دَ اللّٰه تعالیٰ قول، كومو خلقو چه د معاهدے خلاف ورزي اوكړه، او خوشحاله شو، او دا خبره ئې ښهٔ اوګنړله، چه څمونږ دے هم هغوي سره تعريف اوشي.

**١٥٥١ :** حَدَّثَنَا سَعِيْدُ بْنُ اَبِيْ مَرْيَمَ اَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ حَدَّثَنِيْ زَيْدُ بْنُ اَسْلَمَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ ؓ الْخُدْرِيِّ

**١٥٥١ :** سعيد بن ابي مريم. محمد بن جعفر. زيد بن اسلم. عطاء بن يسار. حضرت ابو سعيد خدريؓ نه روايت كوي، دَ هغهٔ بيان دے، دَ رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم زمانه كښې

أَنَّ رِجَالًا مِنَ الْمُنَافِقِيْنَ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْغَزْوِ تَخَلَّفُوْا عَنْهُ وَفَرِحُوْا بِمَقْعَدِهِمْ خِلَافَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا قَدِمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اعْتَذَرُوْا إِلَيْهِ وَ حَلَفُوْا وَ أَحَبُّوْا أَنْ يُحْمَدُوْا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوْا فَنَزَلَتْ لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَفْرَحُوْنَ الْآيَة.

ځينې خلق منافق وو، كوم وخت چه حضور جهاد ته اووتلو نو دا خلق جُدا شو، او ډير خوشحاله شو، چه مونږ حضور صلي الله عليه وسلم سره لانه ړلو، بيا چه رسول الله صلي الله عليه وسلم واپس تشريف راوړلو، نو دا خلق حاضر شو، عذر ئې اوكړه، قسم ئې اوخوړ، او وئيلې، مونږ ستاسو ذ كاميابي ذ پاره كوشش كولو، او هغوي غوښتل، چه جهاد كونكو سره ذ هغوي هم تعريف اوشي، نو دغه وخت دا آيت نازل شولو: لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَفْرَحُوْنَ.

**٤٥٥٢ :** حَدَّثَنِيْ إِبْرَاهِيْمُ بْنُ مُوْسٰى أَخْبَرَنَا هِشَامٌ أَنَّ ابْنَ جُرَيْجٍ أَخْبَرَهُمْ عَنِ ابْنِ أَبِيْ مُلَيْكَةَ أَنَّ عَلْقَمَةَ بْنَ وَقَّاصٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ مَرْوَانَ قَالَ لِبَوَّابِهِ اذْهَبْ يَا رَافِعُ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ فَقُلْ لَئِنْ كَانَ كُلُّ امْرِئٍ فَرِحَ بِمَا أُوْتِيَ وَ أَحَبَّ أَنْ يُحْمَدَ بِمَا لَمْ يَفْعَلْ مُعَذَّبًا لَنُعَذَّبَنَّ أَجْمَعُوْنَ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَمَا لَكُمْ وَلِهٰذِهِ إِنَّمَا دَعَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَهُوْدَ فَسَأَلَهُمْ عَنْ شَيْءٍ فَكَتَمُوْهُ إِيَّاهُ وَ أَخْبَرُوْهُ بِغَيْرِهِ فَأَرَوْهُ أَنْ قَدِ اسْتَحْمَدُوْا إِلَيْهِ بِمَا أَخْبَرُوْهُ عَنْهُ فِيْمَا سَأَلَهُمْ وَ فَرِحُوْا بِمَا أُوْتُوْا مِنْ كِتْمَانِهِمْ ثُمَّ قَرَأَ ابْنُ

**٤٥٥٢ :** ابراهيم بن موسٰي. هشام. ابن جريج. ابن ابي مليكه. حضرت علقمه بن وقاص نه روايت كوي، ذ هغهٔ بيان دے، يو ورځ مروان بن حكم خپل خادم ته اووے، لاړ شه، او ذ حضرت ابن عباسؓ نه معلومه كړه، چه كوم سړے دے څيز سره خوشحاله شي، چه ذ الله تعالٰي ذ طرف نه هغه ته په طور ذ نعمت وركړے شوے دے، او بغير ذ څهٔ كار كولو نه خپل تعريف ښهٔ اوګڼړي، نو هغهٔ ته به آخرت كښې عذاب وي، كه دا صحيح وي، نو بيا خو به مونږ ضرور عذاب كښې واچولے شو، ابن عباسؓ اووے، ستا دے خبرے سره څهٔ كار دے، تهٔ چه كوم آيت سره دا خيال زړهٔ كښې راولے، هغه خبره خو داده، چه يو ځلے نبي عليه السلام ځنې يهوديان راوغښتل چه ذ څهٔ خبرے تپوس ترے اوكړي، نو هغوي اصلي خبره پټه كړه، او غلطه خبره ئې اوښودله او دا خيال ئې اوكړهٔ چه خه يره، مفتو كښې به څمونږ نيک

عَبَّاسٍ وَ اِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ كَذٰلِكَ حَتّٰى قَوْلِهٖ يَفْرَحُوْنَ بِمَا اُوْتُوْا وَ يُحِبُّوْنَ اَنْ يُحْمَدُوْا بِمَا لَمْ يَفْعَلُوْا تَابَعَهُ عَبْدُ الرَّزَّاقِ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ.

نامې اوشي، او هغوي په دې خبره ډېر خوشحاله شو، دې نه پس حضرت ابن عباسؓ آيت: وَ اِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ نه آيت: وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ: پورې اولوست. هشام سره عبدالرزاق هم ابن جريج نه دا حديث روايت كړې دې.

۵۵۳: حَدَّثَنَا ابْنُ مَقَاتِلٍ اَخْبَرَنَا الْحَجَّاجُ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ اَخْبَرَنِي ابْنُ اَبِيْ مُلَيْكَةَ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَوْفٍ اَنَّهُ اَخْبَرَهُ اَنَّ مَرْوَانَ بِهٰذَا.

۵۵۳: مقاتل. حجاج. ابن جريج دا حديث ابن ابي مليكه نه د حميد بن عبدالرحمٰن بن عوف نه هم بيان كړې دې، چه مروان دا حديث مانه نقل كړې دې.

## بَابٌ ۱۶۴: قَوْلِهٖ اِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْاٰيَة.

## باب ۱۶۴: آيت: اِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ: دَ الله تعالىٰ فرمان، دَ آسمان او زمكې پيدائش كښ. آخر آيت پورې تفسير.

۵۵۴: حَدَّثَنَا سَعِيْدُ بْنُ اَبِيْ مَرْيَمَ اَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ شَرِيْكُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اَبِيْ نَمِرٍ عَنْ كُرَيْبٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ بِتُّ عِنْدَ خَالَتِيْ مَيْمُوْنَةَ فَتَحَدَّثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ اَهْلِهٖ سَاعَةً ثُمَّ رَقَدَ فَلَمَّا كَانَ ثُلُثُ اللَّيْلِ الْاٰخِرُ قَعَدَ فَنَظَرَ اِلَى السَّمَاءِ فَقَالَ اِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَاٰيٰتٍ لِّاُولِى الْاَلْبَابِ ثُمَّ قَامَ فَتَوَضَّاَ وَاسْتَنَّ فَصَلّٰى اِحْدٰى عَشْرَةَ رَكْعَةً ثُمَّ اَذَّنَ بِلَالٌ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ خَرَجَ فَصَلَّى الصُّبْحَ.

۵۵۴: سعيد بن ابي مريم. محمد بن جعفر. شريك بن عبدالله بن ابي نمر. كريب. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، دَ هغهٔ بيان دې، يوه شپه زهٔ خپلې ترور بي بي ميمونهؓ كره پاتې شوې ووم. حضور صلي الله عليه وسلّم تشريف راوړلو، څهٔ وخته پورې ئې بي بي ميمونهؓ سره خبرې كولې. بيا اوده شو. دې نه پس دَ شپې آخري حصه كښ بيدار شولو، آسمان طرف ته ئې اوكتل، او دا آيت ئې اولوست: اِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ الخ: يعني دَ آسمان او زمكې پيدائش كښ، دَ شپې او ورځې اختلاف كښ دَ عقلمندانو دَ پاره نښې دي. دې نه پس ئې اودس اوكهٔ. مسواك ئې اوكړلو. بيائې ديارلس ركعاته مونځ ادا كړلو. حضرت بلالؓ اذان اوكهٔ، او حضورؐ دوه ركعاته مونځ ادا كهٔ. بيائې جمات ته تشريف راوړلو، او فرض مونځ ئې جماعت ته وركړلو.

باب۱۶۵ : قَوْلِهِ اَلَّذِيْنَ يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ قِيَامًا وَّقُعُوْدًا وَّ عَلٰى جُنُوْبِهِمْ وَ يَتَفَكَّرُوْنَ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ.

۵۵۵ : حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ مَهْدِيٍّ عَنْ مَالِكِ بْنِ اَنَسٍ عَنْ مَخْرَمَةَ بْنِ سُلَيْمَانَ عَنْ كُرَيْبٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ بِتُّ عِنْدَ خَالَتِيْ مَيْمُوْنَةَ فَقُلْتُ لَاَنْظُرَنَّ اِلٰى صَلٰوةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَطُرِحَتْ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وِسَادَةٌ فَنَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ طُوْلِهَا فَجَعَلَ يَمْسَحُ النَّوْمَ عَنْ وَجْهِهٖ ثُمَّ قَرَاَ الْاٰيٰتِ الْعَشْرَ الْاَوَاخِرَ مِنْ اٰلِ عِمْرَانَ حَتّٰى خَتَمَ ثُمَّ اَتٰى شَنًّا مُعَلَّقًا فَاَخَذَهٗ فَتَوَضَّاَ ثُمَّ قَامَ يُصَلِّيْ فَقُمْتُ فَصَنَعْتُ مِثْلَ مَا صَنَعَ ثُمَّ جِئْتُ فَقُمْتُ اِلٰى جَنْبِهٖ فَوَضَعَ يَدَهٗ عَلٰى رَاْسِيْ ثُمَّ اَخَذَ بِاُذُنِيْ فَجَعَلَ يَفْتِلُهَا ثُمَّ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ اَوْتَرَ.

باب۱۶۵ : آيت: اَلَّذِيْنَ يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ قِيَامًا وَ قُعُوْدًا الخ: ذ اللّٰه تعالٰي قول، كوم خلق چه اللّٰه تعالٰي په ولاړه، په ناسته او اړخ بدلولو كښې يادوي، او ذ آسمان او زمكې پيدائش كښې ذ اللّٰه په حكمتونو غور كوي.

۵۵۵ : علي بن عبداللّٰه. عبدالرحمٰن بن مهدي. امام مالک بن انس. مخرمه بن سليمان. كريب. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، ذ هغه بيان دے، يو ځل زهٔ ذ خپلې ترور بي بي ميمونېؓ كور ته ورغلم، او ذ شپې هلته پاتې شوم، او خيال مِ اوكړه، نن به گورم، چه حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ذ شپې مونځ څنګه كوي. آخر حضورؐ ذ پاره بالښت او څادر اوغوړولے شو، حضورؐ سملاستلو زهٔ هم پښو طرف ته سملاستم. نيمه شپه حضورؐ پاسيدلو، په مخ مبارک ئې لاس راښكلو، دے نه پس ئې ذ سورهٔ اٰل عمران آخري لس اياتونه تلاوت كړل، چه هغې كښې دغه آيت هم راځي، بيا حضورؐ ذ يوے مشكيزے نه اُوبهٔ واخستے، اودس ئې اوكړلو. بيائې ذ مونځ نيت اوتړلو، زهٔ هم هغه وخت راپاسيدم، او هغسې مِ كول، څنګه چه حضورؐ كول. بيا زهٔ ذ حضورؐ اړخ كښې اودريدم، نو حضورؐ محبت سره خما په سر لاس راښكلو، او خما غوږونه ئې مس كړل. بيا حضورؐ دوه ركعاته اوكړل، بيا دوه ركعاته، بيا دوه ركعاته، بيا دوه ركعاته، بيائې وتر اوكړل (يعني كل يولس ركعاته).

باب۱۶۶ : قَوْلِهِ رَبَّنَا

باب۱۶۶ : آيت: رَبَّنَا اِنَّكَ مَنْ تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ

اِنَّكَ مَـنْ تُـدْخِـلِ الـنَّـارَ فَـقَـدْ اَخْـزَيْتَـهٗ وَمَـا لِلظّٰـلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ.

اَخْزَيْتَهٗ: دَ الـلّٰـه تـعالٰي قول، اے خمونږ ربه، تا چه څوک اُور كښې داخل كړل، بيشكه هغه دِ ذليل كړلو، او دَ ظالمانو هيڅوک مددګار نشته.

**٥٥٦**: حَـدَّثَـنَـا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰـهِ حَـدَّثَـنَا مَعْنُ بْنُ عِيْسٰى حَدَّثَنَا مَـالِكٌ عَنْ مَـخْـرَمَةَ بْنِ سُلَيْمَانَ عَنْ كُرَيْبٍ مَوْلٰى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ عَبْدَ اللّٰـهِ بْنَ عَبَّاسٍ اَخْبَرَهٗ اَنَّهٗ بَاتَ عِنْدَ مَيْمُوْنَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْـهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ خَـالَتُـهٗ قَـالَ فَـاضْطَجَعْتُ فِـي عَـرْضِ الْوِسَـادَةِ وَاضْـطَجَعَ رَسُوْلُ اللّٰـهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ اَهْلُهٗ فِيْ طُوْلِهَا فَنَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى انْتَصَفَ اللَّيْلُ اَوْ قَبْلَهٗ بِقَلِيْلٍ اَوْ بَـعْـدَهٗ بِـقَلِيْلٍ ثُمَّ اسْتَيْقَظَ رَسُوْلُ اللّٰـهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلَ يَـمْسَحُ النَّوْمَ عَنْ وَجْهِهٖ بِيَدِهٖ ثُمَّ قَرَاَ الْـعَشْـرَ الْاٰيَاتِ الْخَوَاتِمَ مِنْ سُوْرَةِ اٰلِ عِمْرَانَ ثُـمَّ قَـامَ اِلٰـى شَنٍّ مُعَلَّقَةٍ فَتَوَضَّاَ مِنْهَا فَاَحْسَنَ وُضُوْءَهٗ ثُمَّ قَامَ يُـصَلِّـيْ فَـصَـنَـعْتُ مِثْلَ مَا صَنَعَ ثُمَّ ذَهَبْـتُ فَـقُـمْـتُ اِلٰـى جَنْبِهٖ فَوَضَعَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ الْيُمْنٰى عَلٰى رَاْسِيْ وَ اَخَذَ بِاُذُنِيْ بِيَدِهِ الْيُمْنٰى يَفْتِلُهَا فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ

**٥٥٦**: عـلـي بـن عبدالـلّٰـه. معن بن عيسٰي. مـالـک. مـخـرمـه بـن سليمـان. كـريـب (دَ حضرت عبـدالـلّٰـه بـن عبـاسؓ آزاد كـرده غـلام) حـضـرت عبـدالـلّٰـه بـن عباسؓ نـه روايـت كـوي، دَ هـغـهٔ بيان دے، يـوه شپـه زهٔ خپـلـے تـرور بـي بـي ميمـونےؓ دَ حـضـور صـلـي الـلّٰـه عـلـيـه وسلّم تبر كره پاتے شوم. او دَ حـضـور صـلـي الـلّٰـه عـلـيـه وسلّم پـه بستره يو طرف تـه اُودهٔ شوم، او حـضـور صـلـي الـلّٰه عليه وسلّم اُودهٔ شو، چـه نيمـه شپـه شـوه، يـا دَ نيمے شپے نـه لږ مـخـكـښې يـا دَ نيمـے شپے نـه څـهٔ زيـات وخت اوشو، نـو حـضـور صـلـي الـلّٰـه عـلـيـه وسلّم بيدار شولو. سـتـر ګـے مبـاركـے ئـے اُومږلے، بيـائـے دَ سورهٔ آل عـمـران آخـري لـس آيـتـونـه تـلاوت كـړل (چـه هغے كـښې پـورتـه ذكـر شـوے آيـت هـم شـامـل دے) بيا مشكـيـزے پـلـه ورغـے، هـغـے نـه ئـے اُوبـهٔ واخستے، اودس ئـے اوكـړلـو، او ډير پـه ښـهٔ شـان ئـے اودس اوكـړلـو، دے نـه پـس حـضـورؐ مـانـځه دَ پاره اودريدلو، زهٔ هـم پـاسيـدم او څـهٔ چـه بـه حـضـورؐ كول، هغه به مـا هـم كـول. بيا زهٔ دَ حـضـورؐ آړخ كـښې اودريدم، نـو رسـول الـلّٰـه صـلـي الـلّٰـه عليـه وسلّم خپل ښے لاس څـمـا پـه سر كيښـودلو. او څما غوږونه ئے اُومروړل. بيا حـضـورؐ دوه ركـعـاتـه مونځ اوكـهٔ، بيا دوه ركعاته، بيا دوه ركـعـاتـه، بيـا دوه ركـعـاتـه. بيـائـے درے ركعاته

ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ أَوْتَرَ ثُمَّ اضْطَجَعَ حَتَّى جَآءَهُ الْمُؤَذِّنُ فَقَامَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ خَفِيْفَتَيْنِ ثُمَّ خَرَجَ فَصَلَّى الصُّبْحَ.

وتر اوکړل. بيا لږ ساعت سملاستلو. بيا بانګي بانګ اووئيلو (يعني مؤذن آذان اوکړلو) حضورؐ راپاسيدلو، او خفيف (مختصر) دوه رکعاته مونځ ئے اوکړ (يعني ذ سحر سنت ئے اوکړل) بيا جمات ته لاړلو، او ذ سحر مونځ ئے ورکړلو.

## بَابُ ١٦٧: قَوْلُهُ رَبَّنَا إِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُّنَادِيْ لِلْإِيْمَانِ الْآيَة.

باب ١٦٧: آيت: رَبَّنَا اِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُّنَادِيْ لِلْاِيْمَانِ: ذ اللّٰه تعالي قول، اے ربه، مونږ ذ يو آواز کونکي نه واوريدل، چه ايمان پله ئے بلنه کوله.

٥٥٧: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيْدٍ عَنْ مَالِكٍ عَنْ مَخْرَمَةَ بْنِ سُلَيْمَانَ عَنْ كُرَيْبٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ اَخْبَرَهُ اَنَّهُ بَاتَ عِنْدَ مَيْمُوْنَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ خَالَتُهُ قَالَ فَاضْطَجَعْتُ فِيْ عَرْضِ الْوِسَادَةِ وَاضْطَجَعَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ اَهْلُهُ فِيْ طُوْلِهَا فَنَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى اِذَا انْتَصَفَ اللَّيْلُ اَوْ قَبْلَهُ بِقَلِيْلٍ اَوْ بَعْدَهُ بِقَلِيْلٍ اسْتَيْقَظَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَلَسَ يَمْسَحُ النَّوْمَ عَنْ وَجْهِهٖ بِيَدِهٖ ثُمَّ قَرَاَ الْعَشْرَ الْاٰيَاتِ الْخَوَاتِمَ مِنْ سُوْرَةِ اٰلِ عِمْرَانَ ثُمَّ قَامَ اِلٰى شَنٍّ مُعَلَّقَةٍ فَتَوَضَّاَ مِنْهَا فَاَحْسَنَ وُضُوْئَهٗ ثُمَّ قَامَ يُصَلِّيْ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ

٥٥٧: قتيبه بن سعيد. مالک. مخرمه بن سليمان. کريب (ذ حضرت ابن عباسؓ آزاد کړے غلام) حضرت ابن عباسؓ نه روايت کوي، ذ هغه بيان دے، يوه شپه زه خپلے ترور بي بي ميمونےؓ کره ذ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم کور کښې پاتے شوم. زهٔ ذ شپے ذ حضورؐ ذ بسترے په پرتو (عرض) سملاستم، او حضورؐ ذ بسترے اوږود والي (طول) کښې سملاستلو، تردے نيمه شپه شوه، يا لږ ذ دے نه مخکښې يا لږ ددے نه پس، رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم بيدار شولو، په خپل مخ مبارک ئے لاس راښکلو. بيائے ذ سوره ال عمران لس رکعاته تلاوت کړل (هغے کښې ذکر شوے آيت هم شامل دے) بيا حضورؐ يو آويزانده مشکيزے طرف ته ورغے، ذ هغے نه ئے اوبه واخستے اودس ئے اوکړلو، او ډير په ښهٔ شان اودس ئے اوکړلو، بيا حضورؐ مانځهٔ ذ پاره اودريدلو، حضرت ابن عباسؓ وائي، زهٔ هم راپاسيدم، او څهٔ چه حضورؐ کول، هغسے ما هم کول، بيا ذ

فَقُمْتُ فَصَنَعْتُ مِثْلَ مَا صَنَعَ ثُمَّ ذَهَبْتُ فَقُمْتُ اِلٰى جَنْبِهٖ فَوَضَعَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ الْيُمْنٰى عَلٰى رَاْسِىْ وَ اَخَذَ بِاُذُنِى الْيُمْنٰى يَفْتِلُهَا فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ اَوْتَرَ ثُمَّ اضْطَجَعَ حَتّٰى جَآءَهُ الْمُؤَذِّنُ فَقَامَ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ خَفِيْفَتَيْنِ ثُمَّ خَرَجَ فَصَلَّى الصُّبْحَ.

حضورؐ آړخ كښې (مانځه ته) اودريدم، نو رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم (دَ محبت نه ډكَ) خپل ښے لاس خما په سر راښكلو. بيائے خما غوږ اُومروړلو. بيا حضورؐ دوه ركعاته مونځ اوكۀ، بيا دوه ركعاته، بيا دوه ركعاته، بيا دوه ركعاته، بيا دوه ركعاته، بيا دوه ركعاته (يعني دولس ركعاته مونځ ئے اوكۀ) بيائے (درے ركعاته) وتر مونځ اوكۀ، بيائے لږ آرام اوكړلو. بيا مؤذن آذان اوكۀ، نو حضورؐ پاسيدلو، دَ سحر دوه ركعاته سنت ئے اوكړل. بيائے جمات ته تشريف راوړلو، دَ سحر فرض مونځ ئے جماعت سره ادا كړلو.

# سُوْرَةِ النِّسَآءِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَسْتَنْكِفُ يَسْتَكْبِرُ، قِوَامًا قِوَامُكُمْ مِنْ مَّعَايِشِكُمْ، لَهُنَّ سَبِيْلًا يَعْنِى الرَّجْمَ لِلثَّيِّبِ وَالْجَلْدَ لِلْبِكْرِ وَ قَالَ غَيْرُهٗ مَثْنٰى وَ ثُلَاثَ يَعْنِىْ ثِنْتَيْنِ وَ ثَلَاثًا وَّ اَرْبَعًا وَلَا تُجَاوِزُ الْعَرَبُ رُبَاعَ.

# دَ سُورۀ نسىء تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

ابن عباسؓ وائي، دَ "يَسْتَنْكِفُ" معني دَ غرور كولو دي. او دَ "قِوَامًا" معني دَ معاش دي. "لَهُنَّ سَبِيْلًا" نه مراد دا دے، چه واده شوے سنګسارول، ناواده په دُرّو وهل. ابن عباسؓ علاوه دَ نورو خلقونه دَ "مثني و ثلث" معني دوه دوه، درے، درے، او څلور، څلور كړے دي اهل عرب دَ دے نه زيات نۀ وائي.

بَابُ ۱۶۸ : قَوْلُهٗ وَ اِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تُقْسِطُوْا فِى الْيَتٰمٰى الْاٰيَةَ.

باب ۱۶۸ : آيت: وَ اِنْ خِفْتُمْ اَنْ لَّا تُقْسِطُوْا فِى الْيَتٰمٰى: دَ اللّٰه تعالي قول، كه تاسو سره ويره وي، چه دَ يتيمو جينكو باره كښې به انصاف اُونۀ كړے شي.

۵۵۸ : حَدَّثَنَا اِبْرٰهِيْمُ بْنُ مُوْسٰى اَخْبَرَنَا هِشَامٌ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ اَخْبَرَنِىْ هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ عَائِشَةَ اَنَّ رَجُلًا كَانَتْ لَهٗ يَتِيْمَةٌ

۵۵۸ : ابراهيم بن موسي. هشام. ابن جريج. هشام بن عروه. عروه. بي بي عائشےؓ نه روايت كوي، يو سړي دَ يوے يتيمے جينۍ پرورش كولو، او دَ هغے جينۍ دَ قجورو يو باغ وو، دَ هغے باغ

فَنَكَحَهَا وَ كَانَ لَهَا عَذْقٌ وَ كَانَ يُمْسِكُهَا عَلَيْهِ وَلَمْ يَكُنْ لَهَا مِنْ نَفْسِهِ شَيْءٌ فَنَزَلَتْ فِيْهِ وَ اِنْ خِفْتُمْ اَنْ لَّا تُقْسِطُوْا فِي الْيَتٰمٰى اَحْسِبُهٗ قَالَ كَانَتْ شَرِيْكَتَهٗ فِيْ ذٰلِكَ الْعَذْقِ وَ فِيْ مَالِهٖ.

په لالچ هغې سرې ورسره نکاح اوکړله، خو زړهٔ کښې ئې خوښه نهٔ وه. په دې حقله دا آيت نازل شولو، کوم چه مخکښې ذکر شو. ابراهيم وائي، شايد هشام ماته دا وئيلې وو، چه هغې جينۍ دَ هغې سړي باغ او نور مال وغيره کښې دَ شريک حيثيت لرلو (يعني ورسره شريکه وه).

۵۵۹: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيْزِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا اِبْرٰهِيْمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ صَالِحِ بْنِ كَيْسَانَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ اَنَّهٗ سَاَلَ عَائِشَةَ عَنْ قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى وَ اِنْ خِفْتُمْ اَنْ لَّا تُقْسِطُوْا فِي الْيَتَامٰى فَقَالَتْ يَا ابْنَ اُخْتِيْ هٰذِهِ الْيَتِيْمَةُ تَكُوْنُ فِيْ حَجْرِ وَلِيِّهَا تَشْرِكُهٗ فِيْ مَالِهٖ وَ يُعْجِبُهٗ مَالُهَا وَ جَمَالُهَا فَيُرِيْدُ وَلِيُّهَا اَنْ يَتَزَوَّجَهَا بِغَيْرِ اَنْ يُقْسِطَ فِيْ صَدَاقِهَا فَيُعْطِيَهَا مِثْلَ مَا يُعْطِيْهَا غَيْرُهٗ فَنُهُوْا عَنْ اَنْ يَنْكِحُوْهُنَّ اِلَّا اَنْ يُقْسِطُوْا لَهُنَّ وَ يَبْلُغُوْا لَهُنَّ اَعْلٰى سُنَّتِهِنَّ فِي الصَّدَاقِ فَاُمِرُوْا اَنْ يَنْكِحُوْا مَا طَابَ لَهُمْ مِنَ النِّسَآءِ سِوَاهُنَّ قَالَ عُرْوَةُ قَالَتْ عَائِشَةُ وَ اِنَّ النَّاسَ اسْتَفْتَوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ هٰذِهِ الْاٰيَةِ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ وَ يَسْتَفْتُوْنَكَ فِي النِّسَآءِ قَالَتْ عَائِشَةُ وَ قَوْلُ اللّٰهِ تَعَالٰى فِيْ اٰيَةٍ

۵۵۹: عبدالعزيز بن عبدالله. ابراهيم بن سعد. صالح بن کيسان. ابن شهاب. عروه بن زبير نه روايت کوي، دَ هغهٔ بيان دې، ما دَ بي بي عائشې نه دَ دې آيت متعلق تپوس اوکهٔ، نو هغې جواب راکهٔ، اې خما دَ خور بچيه، هغه يتيمه جينۍ چه دَ خپل ولي په مال کښې شريکه وه، نو دَ ولي دَ هغې مال او حُسن خوښ وو، او هغهٔ به سوچ کولو، چه نکاح سره به مال او جينۍ دواړه په لاس راشي. دَ مهر باره کښې ئې نيت ټيک نهٔ وو، دَ هغهٔ دا خيال وو، چه دَ بلې نه به کم مهر ادا کړم، په دې وجه داسې جينکو سره دَ نکاح کولو نه منع اوشوه، خو هغې صورت کښې چه مال او مهر کښې انصاف مدِ نظر وي، او دا حکم ورکړې شو، چه دَ دې يتيمو جينکو نه علاوه کومې ستاسو خوښې وي، هغوي سره نکاح اوکړې. عروه وائي، بي بي عائشې دا هم اوفرمائيل، دَ دې آيت دَ نازليدلو نه پس خو سړو دَ حضور صلي الله عليه وسلّم نه تپوس اوکهٔ، نو الله تعالي آيت: يَسْتَفْتُوْنَكَ فِي النِّسَآءِ الخ: نازل کړلو، بي بي عائشهٔ وائي، وَ تَرْغَبُوْنَ اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ الخ: نه هغه ښځې مراد دي، چه مال او حُسن کښې کمې

أُخْرٰى وَ تَرْغَبُوْنَ اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ رَغْبَةَ اَحَدِكُمْ عَنْ يَتِيْمَتِهٖ حِيْنَ تَكُوْنُ قَلِيْلَةَ الْمَالِ وَالْجَمَالِ قَالَتْ فَنُهُوْا اَنْ يَنْكِحُوْا عَنْ مَنْ رَغِبُوْا فِيْ مَالِهٖ وَ جَمَالِهٖ فِيْ يَتَامَى النِّسَآءِ اِلَّا بِالْقِسْطِ مِنْ اَجْلِ رَغْبَتِهِمْ عَنْهُنَّ اِذَا كُنَّ قَلِيْلَاتِ الْمَالِ وَالْجَمَالِ.

وي، او ذ دې خبرو په وجه خلق هغوي ته متوجه كيدل، نو اللّٰه تعالىٰ دا حكم اوفرمائيلو، چه كومې جينكې يتيمې دي، او مال او حسن كښې كمې دي، او ستاسو ورته رغبت نۀ وي، نو بيا تاسو مال او حُسن والو سره نكاح نه شئې كولې، څو پورې چه تاسو مال او ذ هغوي ذ مهر وغيره سلسله كښې انصاف پيش نظر اونۀ ساتې.

بَاب ۱۶۹ : قَوْلِهٖ وَمَنْ كَانَ فَقِيْرًا فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوْفِ فَاِذَا دَفَعْتُمْ اِلَيْهِمْ اَمْوَالَهُمْ فَاَشْهِدُوْا عَلَيْهِمْ الْاٰية وَ بِدَارًا مُبَادَرَةً اَعْتَدْنَا اَعْدَدْنَا اَفْعَلْنَا مِنَ الْعَتَادِ.

باب ۱۶۹ : وَمَنْ كَانَ فَقِيْرًا فَلْيَاْكُلْ بِالْمَعْرُوْفِ: ذ اللّٰه تعالىٰ قول، كوم سړې چه فقير (غريب) وي، نو هغه ذ دې (يتيم) ذ مال نه دومره قدر اخستلې شي، څومره چه ئې ذ هغۀ په پرورش خرچ كړې وي، او هر كله چه هغې يتيمانوله مال وركوئې، نو په هغوي ګواه اوساتئې، الاٰية "بِدَارًا" معني په تادئ تادئ. "اعتدنا" مونږ تيار كړې دې، "عتاد" نه وتلې دې.

۵۶۰ : حَدَّثَنِیْ اِسْحَاقُ اَخْبَرَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ نُمَيْرٍ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ عَائِشَةَ فِيْ قَوْلِهٖ تَعَالٰى وَمَنْ كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ وَمَنْ كَانَ فَقِيْرًا فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوْفِ اَنَّهَا نَزَلَتْ فِيْ مَالِ الْيَتِيْمِ اِذَا كَانَ فَقِيْرًا اَنَّهٗ يَأْكُلُ مِنْهُ مَكَانَ قِيَامِهٖ عَلَيْهِ بِالْمَعْرُوْفِ.

۵۶۰ : اسحق. عبداللّٰه بن نمير. هشام بن عروه. بي بي عائشې نه روايت كوي، ذ هغې بيان دې، دا آيت: وَمَنْ كَانَ غَنِيًّا الخ: يعني څوک چه غني وي، هغه دې ذ معافي نه كار واخلي او څوک چه فقير (غريب) وي، نو ذ دستور مطابق دې خوري. دا آيت خاص ذ يتيمانو ذ مال په حق كښې نازل شوې دې، داسې حالت كښې چه پالونكې غريب وي، نو ذ هغې يتيم ذ مال نه څومره چه ئې خرچ كړې وي، هغومره اخستلې شي.

بَاب ۱۷۰ : قَوْلِهٖ وَ اِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ اُولُوا الْقُرْبٰى وَالْيَتَامٰى وَ الْمَسَاكِيْنُ (الْاٰية).

باب ۱۷۰ : آيت: وَ اِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ اُولُوا الْقُرْبٰى الخ: ذ اللّٰه تعالىٰ قول، هر كله چه ذ تركه (ميراث) تقسيمولو په وخت رشته دار، يتيمان او مسكينان حاضر شي، الاٰية.

**۵۶۱: حَدَّثَنَا اَحْمَدُ بْنُ حُمَيْدٍ اَخْبَرَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ الْاَشْجَعِيُّ عَنْ سُفْيَانَ عَنِ الشَّيْبَانِيِّ عَنْ عِكْرَمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍؓ وَ اِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ اُولُوا الْقُرْبٰى وَالْيَتَامٰى وَالْمَسَاكِيْنُ قَالَ هِيَ مُحْكَمَةٌ وَ لَيْسَتْ بِمَنْسُوْخَةٍ تَابَعَهُ سَعِيْدٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ.**

۵۶۱: احمد بن حميد. عبدالله اشجعي سفيان. شيباني. عكرمه. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي' د هغه بيان دے' دا آيت: و اذا حضر القسمة الخ: يعني "څه وخت چه د ميراث د تقسيم په وخت رشته دار' يتيمان او مسكينان حاضر شي" منسوخ شوے نه دے' بلكه محكم دے سعيد بن جبير هم دا حديث د ابن عباسؓ نه روايت كړے دے.

## باب ۱۷۱: قَوْلِهٖ يُوْصِيْكُمُ اللّٰهُ.

## باب ۱۷۱: آيت: يُوْصِيْكُمُ اللّٰهُ: دَ الله تعالي قول' الله تاسو ته ستاسو دَ اولاد متعلق وصيت كوي.

**۵۶۲: حَدَّثَنَا اِبْرَاهِيْمُ بْنُ مُوْسٰى حَدَّثَنَا هِشَامٌ اَنَّ ابْنَ جُرَيْجٍ اَخْبَرَهُمْ قَالَ اَخْبَرَنِي ابْنُ الْمُنْكَدِرِ عَنْ جَابِرٍؓ قَالَ عَادَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ اَبُوْ بَكْرٍ فِيْ بَنِيْ سَلِمَةَ مَاشِيَيْنِ فَوَجَدَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا اَعْقِلُ فَدَعَا بِمَآءٍ فَتَوَضَّاَ مِنْهُ ثُمَّ رَشَّ عَلَيَّ فَاَفَقْتُ فَقُلْتُ مَا تَاْمُرُنِيْ اَنْ اَصْنَعَ فِيْ مَالِيْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَنَزَلَتْ يُوْصِيْكُمُ اللّٰهُ فِيْ اَوْلَادِكُمْ.**

۵۶۲: ابراهيم بن موسي. هشام. ابن جريج. محمد بن منكدر. حضرت جابر بن عبداللهؓ نه روايت كوي. حضور صلي الله عليه وسلّم او حضرت ابوبكرؓ دواړه بني سلمه ته ورتلل' لار كښ خما تپوس له راغلل' خما حال ئے معلوم كۀ' زۀ بيهوشه پروت ووم' حضور صلي الله عليه وسلّم اوبۀ راوغبنتلے' اوبۀ ئے خما دَ پاسه اونوستے زۀ هوش كښ راغلم' ما عرض اوكۀ' يا رسول الله' زۀ دَ خپل مال متعلق څۀ اوكړم؟ نه [illegible]. يوصيكم الله الخ: دغه [illegible]

## بَابُ ۱۷۲: قَوْلِهٖ وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ اَزْوَاجُكُمْ.

## باب ۱۷۲: آيت: ولكم نصف ما ترك اَزْوَاجُكُمْ دَ الله تعالي قول' ستاسو دَ پاره نيم مال دے [illegible] چه ستاسو ښځو (بيبيانو) پريښے وي.

**۵۶۳: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوْسُفَ عَنْ وَرْقَآءَ**

۵۶۳. محمد بن يوسف. ورقاء. ابن ابي نجيح عطاء. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي' د هغه بيان

عَنِ ابْنِ نَجِيْحٍ عَنْ عَطَآءٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ الْمَالُ لِلْوَلَدِ وَ كَانَتِ الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ فَنَسَخَ مِنْ ذٰلِكَ مَا اَحَبَّ فَجَعَلَ لِلذَّكَرِ مِثْلَ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ وَ جَعَلَ لِلْاَبَوَيْنِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُسُ وَالثُّلُثُ وَ جَعَلَ لِلْمَرْاَةِ الثُّمُنُ وَالرُّبُعُ وَ لِلزَّوْجِ الشَّطْرَ وَالرُّبُعَ.

دے، دَ اسلام شروع كښې ټول مال به خوئ ته وركيدلو، او مور پلار ته به هغه وركيدے شو، چه دَ هغے به وصيت شوے وو الله تعالىٰ چه څۀ اوغوښتل، هغه ئے منسوخ كړل او سړي دَ پاره ئے دَ ښځے نه دوچند حصه مقرر كړله، دَ مور پلار هر يو دَ پاره ئے شپږمه حصه يا دريمه حصه مقرر كړله، او ښځے دَ پاره ئے اتمه يا څلورمه حصه مقرر كړله، او خاوند ته ئے نيمه حصه يا څلورمه حصه عطاء كړله. (يعني زياته حصه به هغه وخت اخلي، چه اولاد ئے نۀ وي. په دے حقله دَ باب لاندے حديث ښۀ واضحه دے).

باب ۱۷۴۳: قَوْلِهٖ لَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَرِثُوا النِّسَآءَ كَرْهًا الْاٰيَة. وَ يُذْكَرُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍؓ لَا تَعْضُلُوْهُنَّ لَا تَقْهَرُوْهُنَّ حُوْبًا اِثْمًا، تَعُوْلُوْا، تَمِيْلُوْا نِحْلَةً النِّحْلَةُ الْمَهْرُ.

باب ۱۷۴۳: آيت: لَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَرِثُوا النِّسَآءَ كَرْهًا: دَ الله تعالىٰ ارشاد، ستاسو دَ پاره حلال نۀ دي، چه په زبردستي دَ ښځو وارثان شئے، الْاٰيَة، ابن عباسؓ وائي "لا تعضلوهن" معني دي: په هغوي جبر او قهر مۀ كوئ. "حُوْبًا" معني يو طرف ته خكته كيدل. او "نحله" معني دي، مَهر.

۵۶۴: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ حَدَّثَنَا اَسْبَاطُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا الشَّيْبَانِيُّ عَنْ عِكْرَمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ الشَّيْبَانِيُّ وَ ذَكَرَهُ اَبُو الْحَسَنِ السَّوَآئِيُّ وَلَا اَظُنُّهُ ذَكَرَهُ اِلَّا عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَرِثُوا النِّسَآءَ كَرْهًا وَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ لِتَذْهَبُوْا بِبَعْضِ مَا اٰتَيْتُمُوْهُنَّ قَالَ كَانُوْا اِذَا مَاتَ الرَّجُلُ كَانَ

۵۶۴: محمد بن مقاتل. اسباط بن محمد. شيباني. عكرمه. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، شيباني اووے، دا روايت ابوالحسن سوائي هم نقل كړے دے. او خما خيال دے، هغه هم دَ حضرت ابن عباسؓ نه روايت كړے دے، هغۀ اووے، دا آيت يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا الخ: "يعني اے ايمان والو، ستاسو دَ پاره حلال نۀ دي، چه په زبردستي دَ ښځو وارثان شئے، او، مه ئے په دے وجه بندے ساتئے، چه تاسو څۀ وركړے دي، دَ هغے نه واپس واخلئے" دا آيت هغه وخت نازل شو، چه كله به يو سړے مړ شو، نو دَ هغۀ وارثان به دَ هغۀ دَ ښځے مالكان

اَوْلِيَآءُهٗ اَحَقُّ بِـامْرَاَتِهٖ اِنْ شَآءَ بَعْضُهُمْ تَزَوَّجَهَا وَ اِنْ شَآءُوْا لَمْ يُزَوِّجُوْهَا فَهُمْ اَحَقُّ بِهَا مِنْ اَهْلِهَا فَنَزَلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ فِيْ ذٰلِكَ.

جوړ شو، كه خوښه به ئې وه، نو خپله به ئې ورسره نكاح اوكړله، او كه خوښه به ئې وه، نو بل چا سره به ئې د هغې نكاح اوكړله، او كه خوښه به ئې وه، نو دغسې بغير نكاح به ئې هغه پريښوده، نو دا آيت دې معامله كښې نازل شوې دې.

## بَـاب ۱۷۴ : قَـوْلِـهٖ وَلِـكُـلٍّ جَـعَـلْـنَـا مَـوَالِـىَ مِـمَّـا تَـرَكَ الْـوَالِـدَانِ وَالْاَقْـرَبُـوْنَ الْاٰيةَ مَـوَالِـيَ اَوْلِيَـآءَ وَرَثَةً عَـاقَـدَتْ هُـوَ مَـوْلَـى الْيَـمِيْـنِ وَهُـوَ الْحَـلِيْفُ وَالْـمَـوْلٰى اَيْضًا اِبْـنُ الْعَـمِّ وَالْـمَـوْلَى الْمُنْعِمُ الْمُعْتِـقُ وَالْـمَـوْلَى الْمُعْتَقُ وَالْمَوْلَى الْـمَـلِيْكُ وَالْـمَـوْلٰـى مَـوْلًـى فِـى الدِّيْنِ.

## باب ۱۷۴ : آيت: وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوالِي مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ

ذَ اللّٰه تعالٰي قول، هر هغه څيز چه مور پلار، يا رشته دارانو او خاوندانو پريښې وي، مونږ ذَ هغې وارثان مقرر كړې دي. "موالى" نه مراد، ذَ هغهٔ اولياء وارثان دي. "عاقدت" نه مراد هغه خلق دي، چه هغه ذَ قسم په ذريعه خپل وارث جوړ كړي، يعني حليف، او ذَ "مولٰى" ډيرې معنـې راغلې دي: ذَ تره ځوئې، غلام يا ذَ وينځې مالك، چه احسان ورسره اوكړي، او آزاد، ئې كړي. خپله هغه غلام، چه آزاد كړې شي. ذَ دين پيشوا.

۵۲۵ : حَدَّثَنِى الصَّلْتُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا اَبُوْ اُسَامَةَ عَنْ اِدْرِيْسَ عَنْ طَلْحَةَ بْنِ مُصَرِّفٍ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍؓ وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ قَالَ وَرَثَةً وَالَّذِيْنَ عَاقَدَتْ اَيْمَانُكُمْ كَانَ الْمُهَاجِرُوْنَ لَمَّا قَدِمُوا الْمَدِيْنَةَ يَرِثُ الْمُهَاجِرُ الْاَنْصَارِيَّ دُوْنَ ذَوِىْ رَحِمِهٖ لِلْاُخُوَّةِ الَّتِىْ اٰخَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَهُمْ فَلَمَّا نَزَلَتْ وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ نُسِخَتْ ثُمَّ قَالَ وَالَّذِيْنَ عَاقَدَتْ اَيْمَانُكُمْ مِنَ النَّصْرِ وَالرِّفَادَةِ وَالنَّصِيْحَةِ وَقَدْ ذَهَبَ

۵۲۵ : صلت بن محمد. ابو اسامه. ادريس. طلحه بن مصرف. سعيد بن جبير. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، ذَ هغهٔ بيان دې، ذَ دې آيت: وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ آخر پورې ذَ تفسير تفصيل دا دې، چه كوم وخت ذ مكې نه مهاجرين مدينې ته راغلل، نو هغوي به ذَ خپل انصاري ورونړو وارث كيدل. او ذَ انصارو رشته دار او ذوي الارحام به نهٔ وارث كيدل، ځكه چه حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم مهاجرينو او انصارو كښې ورور ولي قائمه كړې وه، نو هر كله چه دا آيت: وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ الْاٰية نازل شو، نو ذَ سابقه بهائي بندي ذَ ميراث سلسله منسوخ شوله. ابن عباسؓ اووې، چا چه قسمونو سره عهد كړې وو، هغوي ذَ پاره تركه يعني ميراث پاتې نهٔ

الْمِيْرَاثُ وَ يُوْصِيْ لَهٗ سَمِعَ اَبُوْ اُسَامَةَ اِدْرِيْسَ وَ سَمِعَ اِدْرِيْسُ طَلْحَةَ.

شو. البته وصيت باقي دے. دا حديث ابو اسامه ذ ادريس نه او ادريس ذ ذ طلحه نه آوريدلے دے.

**باب ۱۷۵۵: قَوْلِهٖ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ يَعْنِيْ زِنَةَ ذَرَّةٍ.**

**باب ۱۷۵۵: آيت: اِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ: ذ اللّٰه تعالىٰ قول چه اللّٰه تعالىٰ ذره قدرے هم ظلم نه كوي.**

۵۶۶: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيْزِ حَدَّثَنَا اَبُوْ عُمَرَ حَفْصُ بْنُ مَيْسَرَةَ عَنْ زَيْدِ بْنِ اَسْلَمَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ اَنَّ اُنَاسًا فِيْ زَمَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ هَلْ نَرٰى رَبَّنَا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ هَلْ تُضَارُّوْنَ فِيْ رُؤْيَةِ الشَّمْسِ بِالظَّهِيْرَةِ ضَوْءٌ لَيْسَ فِيْهَا سَحَابٌ قَالُوْا لَا قَالَ وَ هَلْ تُضَارُّوْنَ فِيْ رُؤْيَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ ضَوْءٌ لَيْسَ فِيْهَا سَحَابٌ قَالُوْا لَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا تُضَارُّوْنَ فِيْ رُؤْيَةِ اللّٰهِ عَزَّ وَ جَلَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اِلَّا كَمَا تُضَارُّوْنَ فِيْ رُؤْيَةِ اَحَدِهِمَا اِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيٰمَةِ اَذَّنَ مُؤَذِّنٌ يَتَّبِعُ كُلُّ اُمَّةٍ مَا كَانَتْ تَعْبُدُ فَلَا يَبْقٰى مَنْ

۵۶۶: محمد بن عبدالعزيز. ابو عمر حفص بن ميسره. زيد بن اسلم. عطاء بن يسار. حضرت ابو سعيد خدريؓ نه روايت كوي، نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم ته څو كسانو عرض اوكۀ، يا رسول اللّٰه، آيا ذ قيامت په ورځ به مونږ اللّٰه تعالىٰ وينو، حضورؐ ورته اوفرمائيل، او، وينئ به، ذ غرمے وخت كښې چه وريځ وغيره هيڅ نۀ وي، صفا رڼرا خوره شوے وي، نو آيا ذ نمر په ليدو كښې تاسو ته څۀ اختلاف شته، هغوي عرض اوكۀ، نه. دے نه پس حضورؐ اوفرمائيل، په څوارلسمه شپه چه وريځ وغيره نۀ وي، نو ذ سپوږمۍ په ليدو كښې ستاسو څۀ اختلاف شته. هغوي عرض اوكۀ، نه، نو نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم ورته اوفرمائيل، بس دغه شان به ذ قيامت په ورځ تاسو اللّٰه تبارک و تعالىٰ وينئ. او هيڅ تكليف به نۀ وي، څنگه چه ذ نمر يا سپوږمۍ ليدو كښې څۀ تكليف نۀ وي. او ذ قيامت ورځ به داسے ورځ وي. چه څوک آواز كونكے به آواز اوكړي، اے خلقو، تاسو كښې چه كوم سړي ذ چا عبادت كولو، هغه دے هغه سره شي، ذ اللّٰه نه سوا عبادت كونكے به هيڅوک باقي پاتے نشي، ټول دروغجن پوجاريان (پرستش كونكي) به خپلو دروغجنو معبودانو سره دوزخ كښې اوغورځيږي. او صرف هغه به باقي پاتے شي چه ذ اللّٰه تعالىٰ عبادت ئے كولو. هغوي كښې به ښۀ بد ټول وي. بيا به څۀ اهل

كَانَ يَعْبُدُ غَيْرَ اللّٰهِ مِنَ
الْأَصْنَامِ وَالْأَنْصَابِ إِلَّا يَتَسَاقَطُوْنَ
فِي النَّارِ حَتّٰى إِذَا لَمْ يَبْقَ
إِلَّا مَنْ كَانَ يَعْبُدُ اللّٰهَ بَرٌّ أَوْ
فَاجِرٌ وَغُبَّرَاتُ أَهْلِ الْكِتَابِ
فَتُدْعَى الْيَهُوْدُ فَيُقَالُ لَهُمْ مَنْ
كُنْتُمْ تَعْبُدُوْنَ قَالُوْا كُنَّا نَعْبُدُ
عُزَيْرَ بْنَ اللّٰهِ فَيُقَالُ لَهُمْ كَذَبْتُمْ
مَا اتَّخَذَ اللّٰهُ مِنْ صَاحِبَةٍ وَّلَا وَلَدٍ
فَمَاذَا تَبْغُوْنَ فَقَالُوْا عَطِشْنَا
رَبَّنَا فَاسْقِنَا فَيُشَارُ أَلَا تَرِدُوْنَ
فَيُحْشَرُوْنَ إِلَى النَّارِ كَأَنَّهَا
سَرَابٌ يَحْطِمُ بَعْضُهَا بَعْضًا
فَيَتَسَاقَطُوْنَ فِي النَّارِ ثُمَّ
يُدْعَى النَّصَارٰى فَيُقَالُ لَهُمْ مَنْ
كُنْتُمْ تَعْبُدُوْنَ قَالُوْا كُنَّا نَعْبُدُ
الْمَسِيْحَ ابْنَ اللّٰهِ فَيُقَالُ لَهُمْ كَذَبْتُمْ
مَا اتَّخَذَ اللّٰهُ مِنْ صَاحِبَةٍ وَّلَا وَلَدٍ
فَيُقَالُ لَهُمْ مَاذَا تَبْغُوْنَ كَذٰلِكَ مِثْلَ
الْأَوَّلِ حَتّٰى إِذَا لَمْ يَبْقَ إِلَّا مَنْ كَانَ
يَعْبُدُ اللّٰهَ مِنْ بَرٍّ أَوْ فَاجِرٍ أَتَاهُمْ رَبُّ
الْعٰلَمِيْنَ فِيْ أَدْنٰى صُوْرَةٍ مِنَ الَّتِيْ
رَأَوْهُ فِيْهَا فَيُقَالُ مَاذَا تَنْتَظِرُوْنَ يَتَّبِعُ
كُلُّ أُمَّةٍ مَا كَانَتْ تَعْبُدُ قَالُوْا فَارَقْنَا
النَّاسَ فِي الدُّنْيَا عَلٰى أَفْقَرِ مَا كُنَّا
إِلَيْهِمْ وَلَمْ نُصَاحِبْهُمْ وَنَحْنُ نَنْتَظِرُ

کتاب یعني یهودیان راوغوښتلے شي، او هغوي ته به
اُووئیلے شي، آیا تاسو دَ خدائے نه علاوه دَ بل چا هم
عبادت کړے وو، هغوي به جواب ورکړي، او، مونږ به دَ
حضرت عزیز علیه السلام هم عبادت کولو، هغهٔ دَ
خدائے خوئے وو، نو هغوي ته به اوونیلے شي، تاسو
دروغ وائي. دَ خدائے نهٔ ښځه شته او نهٔ خوئے. بیا به دَ
هغوي نه تپوس اوشي. تاسو څهٔ غواړئ، نو هغوي به
وائي، مونږه تږي یُو، که لږے اُوبهٔ راکړے شي، نو هغوي
دَ پاره به دَ شړو یو میدان جوړ کړیشي، چه دَ اُوبو په
شان به ځلیږي، حالانکه هغه به دوزخ وي، هغے ته به
واستولے شي، او هغے کښې به دوي اوسوزي. دے نه پس
به نصاريٰ راوغښتلے شي، او هغوي نه به هم دغه تپوس
اوشي، تاسو دَ اللّٰه نه سِوا دَ چا عبادت کړے دے، هغوي
به وائي، مونږ خو دَ یسوع مسیحٔ عبادت کولو، هغه دَ
خدائے فرزند دے، جواب به ورکړے شي، تاسو
دروغجن یئ، ځکه چه دَ اللّٰه هیڅ اولاد یا ښځه نشته. بیا
به ترے تپوس اوشي، ښهٔ ده تاسو څهٔ غواړئ، هغوي به
هم هغه جواب ورکړي، کوم چه یهودیانو ورکړے وو،
بیا به روان شي، او دوزخ کښې به اُوغرځیږي، بیا به
میدان کښې صرف هغه خلق پاتے شي، چا چه یوازے دَ
اللّٰه عبادت کولو. دوي کښې به هم ښهٔ او بد ټول وي،
خو اللّٰه به هغوي ته په هغے صورت په نظر رانشي، کوم
چه دَ هغوي خیال وي، نو هغوي ته به اوونیلے شي، تاسو
دَ چا انتظار کښې یئ، حالانکه هره فرقه خپل خائے ته
اورسیده، هغوي به جواب ورکړي مونږ دَ هغے معبود
برحق انتظار کښې یو، چه دَ هغهٔ مو عبادت کولو. بیا به

رَبَّنَا الَّذِي كُنَّا نَعْبُدُ فَيَقُولُ اَنَا رَبُّكُمْ فَيَقُولُونَ لَا نُشْرِكُ بِاللّٰهِ شَيْئًا مَرَّتَيْنِ اَوْ ثَلَاثًا.

ورته الله تعالٰي اوفرمائي زهٔ ستاسو رب يم' بيا به ټول خلق اووائي' مونږ الله سره هيڅوک شريک او برابر نه جوړوو' دا جمله به دوه يا درې ځله اووائي.

بـاب ١٧٦ : قَـوْلِـهٖ فَكَيْفَ اِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ بِشَهِيْدٍ وَ جِئْنَابِكَ عَلٰى هٰؤُلَاۤءِ شَهِيْدًا اَلْمُخْتَالُ وَالْخَتَّالُ وَاحِدٌ نَطْمِسُ نُسَوِّيْهَا حَتّٰى تَعُوْدَ كَاَقْفَائِهِمْ طَمَسَ الْكِتَابَ مَحَاهُ سَعِيْرًا وَّ قُوْدًا.

باب ١٧٦ : آيت: فَكَيْفَ اِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ بِشَهِيْدٍ: دَ الله تعالٰي قول' نو څهٔ حال به وي' کوم وخت چه مونږ په هره فرقه يو ګواه جوړ کړو' او اے محمد صلي الله عليه وسلّم' تا به په هغوي ګواه جوړ کړو. "مختال" او "ختال" يو معني دي' يعني مغرور. "نطمس" مطلب دادے' چه مونږ به هغوي وران کړو' ختم کړو. او "سعيرًا" معني دي خاشاک يا خشاک.

٥٦٧ : حَدَّثَنَا صَدَقَةُ اَخْبَرَنَا يَحْيٰى عَنْ سُفْيَانَ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ اِبْرٰهِيْمَ عَنْ عُبَيْدَةَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ يَحْيٰى بَعْضُ الْحَدِيْثِ عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ قَالَ قَالَ لِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِقْرَاْ عَلَيَّ قُلْتُ اَقْرَاُ عَلَيْكَ وَ عَلَيْكَ اُنْزِلَ قَالَ فَاِنِّيْ اُحِبُّ اَسْمَعَهُ مِنْ غَيْرِيْ فَقَرَاْتُ عَلَيْهِ سُوْرَةَ النِّسَآءِ حَتّٰى بَلَغْتُ فَكَيْفَ اِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ بِشَهِيْدٍ وَ جِئْنَا بِكَ عَلٰى هٰؤُلَاءِ شَهِيْدًا قَالَ اَمْسِكْ فَاِذَا عَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ.

٥٦٧ : صدقه بن فضل. يحيٰي بن سعيد. سفيان ثوري. سليمان. ابراهيم نخعي. عبيده بن عمرو سلماني. حضرت عبدالله بن مسعود نه روايت کوي' دَ هغهٔ بيان دے' حضور صلي الله عليه وسلّم ماته اوفرمائيل' ماته قرآن واوروه. ما حضورؐ ته عرض اوکهٔ' قرآن خو په تاسو نازل شوے دے' او زهٔ ئے درته واوروم' وے فرمائيل' او ماته دَ نورو دَ ژبے نه آوريدل خوند راکوي' نو ما دَ سورهٔ نساء تلاوت شروع کړلو' کوم وخت چه دے آيت ته راورسيدم: فَكَيْفَ اِذَا جِئْنَا الخ: يعني څهٔ حال به وي' هر کله چه دَ هرے فرقے نه مونږ يو ګواه اوغواړو' او تا په هغوي ګواه کړو' نو دَ حضورؐ زړهٔ دومره نرم شولو' چه دَ سترګو نه ئے اوښکے تويے شوے او وے فرمائيل' بس دے.

باب ١٧٧ : قَوْلِهٖ وَ اِنْ كُنْتُمْ مَرْضٰى اَوْ عَلٰى سَفَرٍ اَوْ جَآءَ اَحَدٌ مِنْكُمْ مِنَ الْغَآئِطِ صَعِيْدًا وَجْهُ

باب ١٧٧ : آيت: وَ اِنْ كُنْتُمْ مَرْضٰى اَوْ عَلٰى سَفَرٍ الخ: دَ الله تعالٰي قول' که تاسو ناروغه ئے' يا سفر کښې ئے' يا تاسو کښې څوک رفع حاجت دَ پاره راشي' يا

الْأَرْضِ وَ قَالَ جَابِرٌ كَانَتِ الطَّوَاغِيْتُ الَّتِيْ يَتَحَاكَمُوْنَ اِلَيْهَا فِيْ جُهَيْنَةَ وَاحِدٌ وَّ فِيْ اَسْلَمَ وَاحِدٌ وَّ فِيْ كُلِّ حَيٍّ وَاحِدٌ كُهَّانٌ يَنْزِلُ عَلَيْهِمُ الشَّيْطٰنُ وَ قَالَ عُمَرُ الْجِبْتُ السِّحْرُ وَالطَّاغُوْتُ الشَّيْطَانُ وَ قَالَ عِكْرِمَةُ الْجِبْتُ بِلِسَانِ الْحَبَشَةِ شَيْطَانٌ وَالطَّاغُوْتُ الْكَاهِنُ.

بنـخـے سره نـے كور والـے كـړے وي. "صَعِيْدًا" معني دي ذ زمـكـے سطح. جابر وائي "طَاغُوْت" هغه خلق دي، چه هغوي ته به كافرو خپلے مقدمے اوړلے. ذ جاهليت زمانه كـښې بـه هـرے قبيلـه كـښې كاهن وو، چـه ذ هغوي بـه شيـطـانـان هم وو، ابن عمرؓ وائي ذ "جبت" معني ذ جادو دي. او "طـاغوت" نه مراد شيطان دے، او عكرمه اووے، ذ "جـبـت" مـعـنـي حبشـي ژبـه كـښې ذ شيطـان دي، او "طاغوت" نه مراد كاهن دے.

۵۶۸: حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ اَخْبَرَنَا عَبْدَةُ عَنْ هِشَامٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ عَائِشَةَؓ قَالَتْ هَلَكَتْ قِلَادَةٌ لِاَسْمَآءَ فَبَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ طَلَبِهَا رِجَالًا فَحَضَرَتِ الصَّلٰوةُ وَ لَيْسُوْا عَلٰى وُضُوْءٍ وَّلَمْ يَجِدُوْا مَآءً فَصَلُّوْا وَهُمْ عَلٰى غَيْرِ وُضُوْءٍ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ يَعْنِيْ اٰيَةَ التَّيَمُّمِ.

۵۶۸: مـحـمـد. عبـده. هشـام. عـروه. بـي بـي عـائشےؓ نـه روايـت كـوي، ذ هغے بيان دے، يو ځل سفر كـښې څما هار ورک شولو، چه ما ذ خپلے خور اسماءؓ نه غوښتلے وو، حضورؐ څو كسان تلاش ذ پاره اوليږل، هغے خـلـقـو تـلاش كـولـو، چـه ذ مونځ وخت راغے، ذ هغوي اودس نـهٔ وو او اوبـهٔ هم لږے پورے نهٔ وے، نو بے اودسه ئـے مـونځ اوكړلو، هغه وخت دا آيت نازل شولو (يعني ذ تيمم آيت).

بَابُ ۱۷۸: قَوْلُهٗ اُولِي الْاَمْرِ مِنْكُمْ ذَوِي الْاَمْرِ.

باب ۱۷۸: آيت: اُولِي الْاَمْرِ مِنْكُمْ: ذ الله تعالي قـول، ذ خپـلـو حـاكـمـانو اطاعت كوئے، يعني كوم چه صاحب امر دي.

۵۶۹: حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ الْفَضْلِ اَخْبَرَنَا حَجَّاجُ بْنُ مُحَمَّدٍ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ عَنْ يَعْلَى بْنِ مُسْلِمٍ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَ اَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَ اُولِي الْاَمْرِ مِنْكُمْ قَالَ نَزَلَتْ فِيْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ حُذَافَةَ بْنِ قَيْسِ بْنِ عَدِيٍّ اِذْ

۵۶۹: صـدقـه بـن فـضـل. حـجـاج بن محمد. ابـن جـريـج. يـعـلـي بـن مسلم. سعيد بن جبير. حضرت ابـن عـبـاسؓ نـه روايـت كـوي، چـه ذكـر شوے آيت ذ عبـدالـلّٰـه بـن حـذافـه بـن قيس بن عدي باره كښې نازل شـوے دے، حـضـورؐ هـغـه ذ يـو فـوج سـردار پـه حيثيت اوليږلو، (هغـه ذ فـوځ امتحان اخستو ذ پـاره لار كـښې اُور بـل كـړلـو، او فوځ تـه ئـے اووے، دے اُور

بَعَثَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ سَرِيَّةٍ.

کښې داخل شي، نو ډيرو خلقو انکار اوکړ، او څنې راضي هم شو).

باب ۱۷۹ : قَوْلِهٖ فَلَا وَ رَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ حَتّٰى يُحَكِّمُوْكَ فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ.

باب ۱۷۹ : آيت: فَلَا وَ رَبِّکَ لَا يُؤْمِنُوْنَ حَتّٰى يُحَكِّمُوْکَ: دَ اللّٰه تعالىٰ ارشاد، ستا په رب قسم دے، چه دا خلق ايمان نهٔ راوړي، څو پورے چه خپلو اختلافاتو کښې تا حاکم جوړ نهٔ کړي.

۴۵۷۰: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ اَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ قَالَ خَاصَمَ الزُّبَيْرُ رَجُلًا مِنَ الْاَنْصَارِ فِيْ شَرِيْجٍ مِنَ الْحَرَّةِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْقِ يَا زُبَيْرُ ثُمَّ اَرْسِلِ الْمَاءَ اِلٰى جَارِكَ فَقَالَ الْاَنْصَارِيُّ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَنْ كَانَ ابْنَ عَمَّتِكَ فَتَلَوَّنَ وَجْهُهُ ثُمَّ قَالَ اسْقِ يَا زُبَيْرُ ثُمَّ احْبِسِ الْمَاءَ حَتّٰى يَرْجِعَ اِلَى الْجُدُرِ ثُمَّ اَرْسِلِ الْمَاءَ اِلٰى جَارِكَ وَاسْتَوْعَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلزُّبَيْرِ حَقَّهُ فِيْ صَرِيْحِ الْحُكْمِ حِيْنَ اَحْفَظَهُ الْاَنْصَارِيُّ كَانَ اَشَارَ عَلَيْهِمَا بِاَمْرٍ لَهُمَا فِيْهِ سَعَةٌ قَالَ الزُّبَيْرُ فَمَا اَحْسِبُ هٰذِهِ الْاٰيَاتِ اِلَّا نَزَلَتْ فِيْ ذٰلِكَ فَلَا وَ رَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ حَتّٰى يُحَكِّمُوْكَ فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ.

۴۵۷۰: علي بن عبدالله. محمد بن جعفر. معمر. زهري. حضرت عروه نه روايت کوي، هغهٔ اووے، دَ حضرت زبيرؓ يو ځل يو انصاري سره جګړه پيښه شوه، چه اول دے څوک پټے (کهيت) اُوبهٔ کړي، حضورؐ اوفرمائيل، اے زبيرهؓ اول تهٔ خپل پټے اُوبهٔ کړه، بيا ګوانډي دَ پاره اُوبه پريږده. انصاري اووے، اے دَ الله رسوله، تاسو داسے شايد په دے وجه اوفرمائيل، چه دے ستاسو دَ ترور ځوئے دے. دے آوريدو سره دَ حضور صلي الله عليه وسلم مخ مبارک دَ غصے نه سُر (سرخ) شولو، او حضورؐ دوباره حضرت زبيرؓ ته اوفرمائيل، اول تهٔ خپل باغ اُوبهٔ کړه او پولے (بَلَئ، دَ ديوال سر، ډبه، چجه، پولے، بيزه) پورے ئے اُوبهٔ کړه. بيائے ګوانډي دَ پاره پريږده. زهري وائي، حضرت زبيرؓ ته حضورؐ پوره حق ورکړلو، کني وړمبني حکم کښې دَ دواړو رعايت شوے وو. داسے څکه اوشو، چه انصاري حضورؐ په غصه کړلو. حضرت زبيرؓ وائي، څما خيال دے، دا آيت: فَلَا وَ رَبِّکَ لَا يُؤْمِنُوْنَ الخ دے واقعے دَ پاره نازل شوے دے.

باب ۱۸۰ : قَوْلِهٖ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِنَ

باب ۱۸۰ : آيت: فَاُولٰٓئِکَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيّٖنَ: هغه خلق هغوي سره دي، چه په هغوي

النَّبِيِّيْنَ.

اللّٰه انعام کړے دے' نبيُون نه آخر پورے تفسير

۱ ۷ ۵ : حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ حَوْشَبٍ حَدَّثَنَا اِبْرٰهِيْمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَا مِنْ نَبِيٍّ يَمْرَضُ اِلَّا خُيِّرَ بَيْنَ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ وَ كَانَ فِيْ شَكْوَاهُ الَّذِيْ قُبِضَ فِيْهِ اَخَذَتْهُ بُحَّةٌ شَدِيْدَةٌ فَسَمِعْتُهُ يَقُوْلُ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّيْنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ فَعَلِمْتُ اَنَّهُ خُيِّرَ.

۵۷۱ : محمد بن عبدالله بن حوشب. ابراهيم بن سعد. د هغه پلار. عروه. بي بي عائشې نه روايت کوي' د هغې بيان دے' ما د حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم نه واوريدل' فرمائيل ئے' هر نبي له اختيار ورکولے شي' چه هغه دُنيا او آخرت کښې اوسيدو د پاره يو غوره کړي' او کله چه هغه آخرت غوره کړي' نو بيا هغهٔ له بيماري راشي' او د حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم آواز د مرګ په مرض کښې سخت شوے وو. حضورٌ فرمائيل: مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ: نو زهٔ پو ۂ شوم' چه حضورٌ ته هم اختيار ورکړے شو' او حضورٌ آخرت له ترجيح ورکړله.

باب ۱۸۱ : قَوْلِهِ وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اِلَى الظَّالِمِ اَهْلُهَا.

باب ۱۸۱ : آيت: مَالَكُمْ لَا تُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ: د اللّٰه تعالىٰ قول' تاسوله څهٔ شوے دي چه د خدائے په لار کښ نهٔ جنګيږئے. الظالم اهلها پورے.

۵۷۲ : حَدَّثَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ كُنْتُ اَنَا وَ اُمِّيْ مِنَ الْمُسْتَضْعَفِيْنَ.

۵۷۲ : عبدالله بن محمد. سفيان. عبيدالله. حضرت ابن عباسٌ نه روايت کوي' هغهٔ اووے زهٔ او خما مور (اُم فضل) د کمزورونه وو.

۵۷۳ : حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ اَيُّوْبَ عَنِ ابْنِ اَبِيْ مُلَيْكَةَ اَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ تَلَا اِلَّا الْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ وَالْوِلْدَانِ قَالَ كُنْتُ اَنَا وَ اُمِّيْ مِمَّنْ عَذَرَ اللّٰهُ وَ يُذْكَرُ عَنِ

۵۷۳ : سليمان بن حرب. حماد بن زيد. ايوب. ابن ابي مليکه نه روايت کوي' د هغهٔ بيان دے' ابن عباسٌ دا آيت: اِلَّا الْمُسْتَضْعَفِيْنَ الاٰية اولوست' او وے فرمائيل' زهٔ او خما مور (اُم فضل) کمزورو کښ شامل يُو' اللّٰه موليږ دواړه معذور او ګنړلو. حضرت ابن عباسٌ والي: حَصِرَتْ صُدُوْرُهُمْ: معني دا دي' چه د هغوي زړونه

ابْنِ عَبَّاسٍ حَصِرَتْ ضَاقَتْ، تَلْوُوا اَلْسِنَتَكُمْ بِالشَّهَادَةِ وَ قَالَ غَيْرُهُ الْمُرَاغَمُ الْمُهَاجَرُ رَاغَمْتُ هَاجَرْتُ قَوْمِيْ مَوْقُوتًا مُوَقَّتًا وَقْتَهُ عَلَيْهِمْ.

تنګ دي، او: تَلْوُوْا اَلْسِنَتَكُمْ: معني دي، چه ژبه راتاؤ کړئے، ګواهي ورکړئے، او نورو خلقو اووے، چه: مراغم: معني دي ذ هجرت مقام. او "موقوتًا" معنے دي مقرره وخت.

بَابُ ۱۸۲ : قَوْلِهِ فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنَافِقِيْنَ فِئَتَيْنِ وَاللّٰهُ اَرْكَسَهُمْ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ بَدَّدَهُمْ فِئَةٌ جَمَاعَةٌ.

باب ۱۸۲ : آیت: فَمَالَكُمْ فِي الْمُنَافِقِيْنَ فِئَتَيْنِ: ذ اللّٰه تعالىٰ قول، تاسو ذ منافقانو باره کښې ولے دوه ډلے شوے، حالانکه الله هغوي ګمراه کړل. ابن عباسؓ وائي، هغوي منتشرل کړل. "فِئَةٌ" مطلب دے ډله او جماعت.

۴۷۵ : حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ وَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ قَالَا حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَدِيٍّ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ يَزِيْدَ عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنَافِقِيْنَ فِئَتَيْنِ رَجَعَ نَاسٌ مِنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ اُحُدٍ وَّ كَانَ النَّاسُ فِيْهِمْ فِرْقَتَيْنِ فَرِيْقٌ يَقُوْلُ اقْتُلْهُمْ وَ فَرِيْقٌ يَقُوْلُ لَا فَنَزَلَتْ فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنَافِقِيْنَ فِئَتَيْنِ وَ قَالَ اِنَّهَا طَيِّبَةٌ تَنْفِي الْخَبَثَ كَمَا تَنْفِي النَّارُ خَبَثَ الْفِضَّةِ.

۴۷۵ : محمد بن بشار. غندر. عبدالرحمٰن. شعبه. عدي. عبداللّٰه بن يزيد. حضرت زيد بن ثابت نه روايت کوي، ذ هغۀ بيان دے، دا آيت: فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنَافِقِيْنَ الخ هغه وخت نازل شو، چه جنګ اُحد کښې ذ حضورؐ ذ اصحابو نه څۀ خلقو حضورؐ پريښودلو او جدا شول. هغه وخت ذ مسلمانانو ذ دوي متعلق دوه رائے شوے وے، يو فريق وئيلے، دوي قتل کړئے، او څنو وئيلے، چه نه داسے مۀ کوئے، رسول اکرم صلي اللّٰه عليه وسلم اوفرمائيل. ذ مدينے نوم طيّبه دے. دا ناپاکي او خباثت داسے لرے کوي، څنګه چه اُور ذ چاندي نه خيرے لرے کوي.

بَابُ ۱۸۳ : وَ اِذَا جَآءَ هُمْ اَمْرٌ مِنَ الْاَمْنِ اَوِ الْخَوْفِ اَذَاعُوْا بِهٖ اَفْشَوْهُ كَافِيًا اِلَّا اِنٰثًا اَلْمَوَاتَ حَجَرًا اَوْ مَدَرًا وَمَا اَشْبَهَهُ مَرِيْدًا مُتَمَرِّدًا فَلَيُبَتِّكُنَّ

باب ۱۸۳ : آيت: وَ اِذَا جَآءَ هُمْ اَمْرٌ مِنَ الْاَمْنِ: ذ اللّٰه تعالىٰ ارشاد، هر کله چه هغوي ته ذ امن يا سلامتي څۀ خبر راشي، نو هغه فاش (خبر کند) کړي. "يستنبطونه" معني دي، تحقيق دے او کړي. او "حَسِيْبًا" معني دي کافي. "اناثًا" وائي غير جاندار څيزونو ته، مثلاً کانړي وغيره. "مريد" وائي سرکش، دلير، بيباک ته. او

بِتْكَهُ قَطَعَهُ قِيْلًا وَقَوْلًا وَاحِدٌ طُبِعَ خُتِمَ.

"یبتکن" مطلب دے پریکول. د "قیلاً" او "قولاً" یو معنی دي. او "طبع" معنی دي، مُهر لے کړلو (مُهر ئے پرے اووهلو).

بَابُ ۱۸۴ : قَوْلِهِ وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ.

باب ۱۸۴ : آیت: وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا: دَ اللّٰه تعالٰي قول، څوک چه یو مسلمان قصدًا اووژني، دَ هغهٔ سزا دا ده، چه همیشه به دوزخ کښې وي.

۵۷۵ : حَدَّثَنَا آدَمُ بْنُ أَبِي إِيَاسٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا مُغِيرَةُ بْنُ النُّعْمَانِ قَالَ سَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ جُبَيْرٍ قَالَ اخْتَلَفَ فِيهَا أَهْلُ الْكُوفَةِ فَرَحَلْتُ فِيهَا إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ فَسَأَلْتُهُ عَنْهَا فَقَالَ نَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ هِيَ آخِرُ مَا نَزَلَ وَمَا نَسَخَهَا شَيْءٌ.

۵۷۵ : آدم بن ابي ایاس. شعبه. مغیره بن نعمان. حضرت سعید بن جبیر نه روایت کوي، دَ هغهٔ بیان دے، اهل کوفه ته دَ دے آیت په حکم کښې اختلاف وو، څکه چه بعضو به منسوخ او بعضو به غیر منسوخ ګنړلو، ما دَ دے خبرے دَ حضرت ابن عباسؓ نه تپوس اوکهٔ، هغهٔ اوفرمائیل، دا آیت: وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا الخ دَ قتل وغیره متعلق دَ ټولونه آخر کښې نازل شوے دے، او منسوخ نهٔ دے.

بَابُ ۱۸۵ : قَوْلِهِ وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَى إِلَيْكُمُ السَّلَامَ لَسْتَ مُؤْمِنًا السِّلْمُ وَالسَّلَمُ وَالسَّلَامُ وَاحِدٌ.

باب ۱۸۵ : آیت: وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَى إِلَيْكُمُ السَّلَامَ: دَ اللّٰه تعالٰي قول، دَ ملاقات په وخت چه څوک دربانديے سلام واچوي، هغهٔ ته دا مهٔ وائے چه تهٔ مؤمن نهٔ ئے. او دَ "سِلْمٌ" "سَلَمٌ" او "سَلَامٌ" یو معني دي، یعني سلامتي.

۵۷۶ : حَدَّثَنِي عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ عَطَاءٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَى إِلَيْكُمُ السَّلَامَ لَسْتَ مُؤْمِنًا قَالَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ كَانَ رَجُلٌ فِي غُنَيْمَةٍ لَهُ فَلَحِقَهُ الْمُسْلِمُونَ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ فَقَتَلُوهُ وَأَخَذُوا غُنَيْمَتَهُ

۵۷۶ : علي بن عبداللّٰه. سفیان. عمرو بن دینار. عطاء. حضرت ابن عباسؓ نه روایت کوي، دَ هغهٔ بیان دے: وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَى إِلَيْكُمُ السَّلَامَ لَسْتَ مُؤْمِنًا: واله آیت شان نزول دا دے، څنے مسلمانان دَ جهاد نه واپس راتلل، لار کښې ورسره یو ګډبه یوځائے شو، هغه مسلمانانو ته "السّلام علیکم" اووے، نو مسلمانانو هغه قتل کهٔ،

فَأَنْزَلَ اللّٰهُ فِيْ ذٰلِكَ اِلٰى قَوْلِهٖ عَرَضَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا تِلْكَ الْغُنَيْمَةُ قَالَ قَرَأَ ابْنُ عَبَّاسٍ السَّلَامُ.

او دَ هغه تـولـو چيلـئـے نيے واخستے' نو هغه وخت دا آيت نـازل شـو. ابن عبـاسؓ دے آيت كـښې دَ سلام لفظ وئيلے دے.

بـــاب ۱۸۶: لَا يَسْتَوِى الْقَاعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُجَاهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ.

بـاب ۱۸۶: آيت: لَا يَسْتَوِى الْقَاعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ: دَ اللّٰه تعالٰي قول' كورونو كښې ناست مؤمنان او دَ اللّٰه لار كښې جهاد كونكي برابريدے نشي. دَ دے تفسير.

۵۷۷: حَدَّثَنَا اِسْمَاعِيْلُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ حَدَّثَنِيْ اِبْرٰهِيْمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ صَالِحِ بْنِ كَيْسَانَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ حَدَّثَنِيْ سَهْلُ بْنُ سَعْدِ ن السَّاعِدِيُّ اَنَّهُ رَاٰى مَرْوَانَ بْنَ الْحَكَمِ فِي الْمَسْجِدِ فَاَقْبَلْتُ حَتّٰى جَلَسْتُ اِلٰى جَنْبِهٖ فَاَخْبَرَنَا اَنَّ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ اَخْبَرَهٗ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَمْلٰى عَلَيْهِ لَا يَسْتَوِى الْقَاعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُجَاهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَجَآءَهٗ ابْنُ اُمِّ مَكْتُوْمٍ وَهُوَ يُمِلُّهَا عَلَيَّ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَاللّٰهِ لَوْ اَسْتَطِيْعُ الْجِهَادَ لَجَاهَدْتُ وَ كَانَ اَعْمٰى فَاَنْزَلَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ فَخِذُهٗ عَلٰى فَخِذِيْ ثُمَّ سُرِّيَ عَنْهُ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ غَيْرُ اُولِى الضَّرَرِ.

۵۷۷: اسـمـاعـيـل بـن عبـدالـلّـه. ابـراهيم بن سعـد. صـالـح بـن كيسـان. ابـن شهاب. حضرت سهل بـن سعـد سـاعـديؓ نـه روايـت كوي' هغه بيـانوي' ما مـروان بـن حـكـم جـمـات كـښې اوليد' زه راغلم' دَ هغهٔ خـوا كـښې كينـاستـم' هـغـه حضرت زيد بن ثابت نه دا روايـت كـه' دَ هـغـهٔ بيـان دے' رسـول الـلّـه صلي الله عـليــه وسـلـم دا آيت: مـاتـه اوليـكـلو: لَا يَسْتَوِى الْقَاعِدُوْنَ: يـعـنـي كـورونـو كـښې ناست ايماندار دَ الله لار كښې دَ جهاد كونكو برابريدے نشي' دے كښې ابن ام مـكـتـومؓ راغـے' هـغهٔ عرض اوكهٔ' اے دَ الله رسوله' كه ما كـښې دَ جهاد طاقت وے' نو ضرور به مِ جهاد كړے وے' او هغه نابينا (ړوند) وو' حضورؐ خپل پتون خما پتون سره دبـاؤ كـړے نـاست وو. دے وخت كښې په حضورؐ وحي راغـلـے' او خما په پتون دومره بوج او وزن اوغرځيدلو خـمـا خيـال راغـے' چرتـه خـمـا هډوكے مـات نشي' كـوم وخـت چـه دا وزن كـم شـو' نـو دا الـفـاظ نـازل شو' "غيـر اولى الضرر" يـعـنـي چه دردمند او معذور نه وي.

۵۷۸: حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ

۵۷۸: حـفـص بـن عـمـرو. شعبه. ابي اسحاق.

حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ اَبِيْ اِسْحَاقَ عَنِ الْبَرَآءِ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ دَعَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَيْدًا فَكَتَبَهَا فَجَاءَ ابْنُ اُمِّ مَكْتُوْمٍ فَشَكَا ضَرَارَتَهُ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ غَيْرُ اُولِي الضَّرَرِ.

حضرت براء بن عازبؓ نه روايت کوي، هغه وائي، کوم وخت چه دا آيت: لا يستوي القاعدون من المؤمنين: نازل شو، نو حضورؐ زيد بن ثابتؓ راوغوښتلو، او هغهٔ ته ئے دَ ليکلو حکم ورکړلو، دے کښې ابن اُم مکتومؓ راغے، او دَ خپل نابينا کيدو عذر ئے اوکړلو، نو دغه وخت الله تعالىٰ "غير اولي الضرر" نازل کړلو.

۵۷۹ : حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوْسُفَ عَنْ اِسْرَآئِيْلَ عَنْ اَبِيْ اِسْحَاقَ عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ادْعُوْا فُلَانًا فَجَاءَهُ وَمَعَهُ الدَّوَاةُ وَاللَّوْحُ اَوِ الْكَتِفُ فَقَالَ اكْتُبْ لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُجَاهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَخَلْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابْنُ اُمِّ مَكْتُوْمٍ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَنَا ضَرِيْرٌ فَنَزَلَتْ مَكَانَهَا لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ غَيْرُ اُولِي الضَّرَرِ وَالْمُجَاهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ.

۵۷۹ : محمد بن يوسف. اسرائيل. ابي اسحاق. حضرت براء بن عازبؓ نه روايت کوي، دَ هغهٔ بيان دے، کوم وخت چه دا آيت نازل شولو، نو حضورؐ اوفرمائيل، زيد بن ثابتؓ راوغواړئے، هغه قلم، مشوانړے او هډوکي سره راغے، حضورؐ ورته اوفرمائيل، دا آيت اوليکه: لا يستوى القاعدون من المؤمنين والمجاهدون في سبيل الله: ابن ام مکتومؓ دَ حضورؐ شاته ناست وو، هغهٔ اوويے، اے دَ الله رسوله، زهٔ خو يو نابينا سړے يم، او دَ جهاد قابل نهٔ يم، نو هغه وخت دا الفاظ نازل شو، چه خپلو کورونو کښې ناست (سوا دَ معذورانونه) او دَ الله په لار کښې جهاد کونکي برابريدے نشي (يعني دَ مجاهد درجه ډيره اوچته ده).

۵۸۰ : حَدَّثَنَا اِبْرٰهِيْمُ بْنُ مُوْسٰى اَخْبَرَنَا هِشَامٌ اَنَّ ابْنَ جُرَيْجٍ اَخْبَرَهُمْ ح وَحَدَّثَنِيْ اِسْحٰقُ اَخْبَرَنِيْ عَبْدُ الرَّزَّاقِ اَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ اَخْبَرَنِيْ عَبْدُ الْكَرِيْمِ اَنَّ مِقْسَمًا مَوْلٰى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الْحَارِثِ اَخْبَرَهُ اَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ اَخْبَرَهُ لَا يَسْتَوِي

۵۸۰ : ابراهيم بن موسى. هشام. ابن جريج. ح. اسحاق. عبدالرزاق. ابن جريج. عبدالکريم. مِقسَم. حضرت ابن عباسؓ نه روايت کوي، دَ هغهٔ بيان دے، دا آيت: لا يستوى القاعدون من المؤمنين: دَ هغے خلقو باره کښې نازل شوے وو، کوم چه بدر کښې نهٔ وو شريک شوي. او مجاهدين نه هغه

الْقَاعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ عَنْ بَدْرٍ وَالْخَارِجُوْنَ اِلٰى بَدْرٍ.

خلق مراد دي، چه جنګ بدر کښې شريک شوي وو.

**بَابٌ ١٨٧ : قَوْلُهُ اِنَّ الَّذِيْنَ تَوَفّٰهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ظَالِمِيْٓ اَنْفُسِهِمْ قَالُوْا فِيْمَ كُنْتُمْ قَالُوْا كُنَّا مُسْتَضْعَفِيْنَ فِي الْاَرْضِ قَالُوْٓا اَلَمْ تَكُنْ اَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوْا فِيْهَا. الْاٰيَةَ.**

**باب ١٨٧ :** آيت: اِنَّ الَّذِيْنَ تَوَفّٰهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ظَالِمِيْٓ اَنْفُسِهِمْ: دَ الله تعالٰي قول، هغه خلق چه دَ هغوي روحونه فريښتنې قبض کوي، کوم حالت کښې چه دا خلق په ځان ظلم کونکي وي، نو فريښتې به ترې تپوس او کړي، تاسو کوم حال کښې وئ، دوي به وائي، مونږ زمکه کښې کمزوري وو، هغوي به جواب ورکړي، آيا تاسو چرته بل ځائې نهٔ بيامندلو، چه هلته مو هجرت کړې وې.

**١٥٨١ : حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يَزِيْدَ الْمُقْرِئُ حَدَّثَنَا حَيْوَةُ وَ غَيْرُهُ قَالَا حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ اَبُو الْاَسْوَدِ قَالَ قُطِعَ عَلٰى اَهْلِ الْمَدِيْنَةِ بَعْثٌ فَاكْتُتِبْتُ فِيْهِ فَلَقِيْتُ عِكْرِمَةَ مَوْلٰى ابْنِ عَبَّاسٍ فَاَخْبَرْتُهُ فَنَهَانِيْ عَنْ ذٰلِكَ اَشَدَّ النَّهْيِ ثُمَّ قَالَ اَخْبَرَنِيْ ابْنُ عَبَّاسٍ اَنَّ نَاسًا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ كَانُوْا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ يُكَثِّرُوْنَ سَوَادَ الْمُشْرِكِيْنَ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِي السَّهْمُ فَيُرْمٰى بِهٖ فَيُصِيْبُ اَحَدَهُمْ فَيَقْتُلُهُ اَوْ يُضْرَبُ فَيُقْتَلُ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ اِنَّ الَّذِيْنَ تَوَفّٰهُمُ الْمَلَائِكَةُ ظَالِمِيْٓ اَنْفُسِهِمْ الْاٰيَةَ. رَوَاهُ اللَّيْثُ عَنْ اَبِي الْاَسْوَدِ.**

**١٥٨١ :** عبدالله بن يزيد مقرئ. حيوه بن شريح. محمد بن عبدالرحمٰن ابوالاسود. هغوي اووې مدينې والو ته دَ يو فوج ويستلو حکم ورکړې شو، په هغه فوج کښې ځما نامه هم اوليکلې شوه، بيا زهٔ عکرمه له ورغلم چه دَ ابن عباسؓ غلام وو، او هغهٔ ته مې دَ دې ذکر اوکړهٔ. هغوي زهٔ منع کړم، ډير، ئې منع کړم، بيائې اُووې، ماته ابن عباسؓ خبر راکړو، چه څهٔ خلق دَ مسلمانانو نه مشرکانو سره وو. دَ هغوي شمير ئې زياتولو دَ حضور صلي الله عليه وسلم په زمانه کښې بيا به يو غشې راغلو، دَ هغوي نه به څوک مړ شو، يا دَ تورې (تلوار) په وهلو به قتلولې کيدو. هغه وخت دا آيت نازل شو: اِنَّ الَّذِيْنَ تَوَفّٰهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ظَالِمِيْٓ اَنْفُسِهِمْ آخر آيت پورې. دا حديث ليث بن سعد هم ابوالاسود نه روايت کړو.

بـاب۱۸۸ : قـولـه اِلَّا الْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ وَالْوِلْدَانِ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ حِيْلَةً وَلَا يَهْتَدُوْنَ سَبِيْلًا.

باب ۱۸۸ : آيت: اِلَّا الْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ. ذَ اللّٰه تعالٰي ارشاد: خو كمزورے سړے ښځے او بچي چه هيڅ حيله ئے نه لرله' او نه ئے ذ تلو طاقت وو (يعني ذ هغوي ځائے دوزخ نه دے).

۵۸۲: حَدَّثَنَا اَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ اَيُّوْبَ عَنِ ابْنِ اَبِيْ مُلَيْكَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اِلَّا الْمُسْتَضْعَفِيْنَ قَالَ كَانَتْ اُمِّيْ مِمَّنْ عَذَرَ اللّٰهُ.

۵۸۲: ابو النعمان. حماد. ايوب. ابن ابي مليكه نه روايت كوي' ذ هغهٔ بيان دے' حضرت ابن عباسؓ دے روايت سره اووے' خما مور هغے خلقو كښې شامله وه' چه هغه اللّٰه ذ هجرت نه معذوره ساتلے وه.

باب ۱۸۹ : قَوْلِهٖ فَعَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّعْفُوَ عَنْهُمْ وَ كَانَ اللّٰهُ عَفُوًّا غَفُوْرًا.

باب ۱۸۹ : آيت: فَعَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّعْفُوَ عَنْهُمْ: ذَ اللّٰه تعالٰي قول' نزدے ده' چه اللّٰه تعالٰي هغوي معاف كړي' او اللّٰه تعالٰي معاف كونكے او ښنونكے دے.

۵۸۳: حَدَّثَنَا اَبُوْ نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ يَحْيٰى عَنْ اَبِيْ سَلَمَةَ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَؓ قَالَ بَيْنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الْعِشَآءَ اِذْ قَالَ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ ثُمَّ قَالَ قَبْلَ اَنْ يَسْجُدَ اَللّٰهُمَّ اَنْجِ عَيَّاشَ بْنَ اَبِيْ رَبِيْعَةَ اَللّٰهُمَّ اَنْجِ سَلَمَةَ بْنَ هِشَامٍ اَللّٰهُمَّ اَنْجِ الْوَلِيْدَ بْنَ الْوَلِيْدِ اَللّٰهُمَّ اَنْجِ الْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَللّٰهُمَّ اشْدُدْ وَطْاَتَكَ عَلٰى مُضَرَ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا سِنِيْنَ كَسِنِيْ يُوْسُفَ.

۵۸۳: ابو نعيم. شيبان. يحيي. ابي سلمه. حضرت ابوهريرةؓ نه روايت كوي' ذ هغهٔ بيان دے' يو ځلے حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ذ ماسختن مونځ كولو' حضورؐ د "سمع اللّٰه لمن حمده" نه پس ذ سجدے نه مخكښې داسے دُعا اوكړله يا اللّٰه' عياش بن ربيعه له ذ كافرو ذ ظلم او لاس نه نجات وركړے. يا اللّٰه سلمه بن هشام له نجات (خلاصي) وركړے' يا اللّٰه وليد بن وليدله خلاصي وركړے' يا اللّٰه' كمزورو مسلمانانو له نجات وركړے' يا اللّٰه ذ مضر كافرو له سخته سزا وركړے' او په هغوي ذ يوسف عليه السلام ذ زمانے په شان اوږد قحط راولے.

باب ۱۹۰ : قَوْلِهٖ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِنْ كَانَ بِكُمْ اَذًى مِّنْ مَّطَرٍ

باب ۱۹۰ : آيت: وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِنْ كَانَ بِكُمْ اَذًى مِّنْ مَّطَرٍ: ذَ اللّٰه تعالٰي قول' كه تاسو ذ باران ذ

اَوْ كُنْتُمْ مَرْضٰى اَنْ تَضَعُوْا اَسْلِحَتَكُمْ.

تكليف نه يا ذ څهٔ زخم په وجه وسله كيږدئ نو په تاسو څهٔ ګناه نشته.

۵۸۴: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ اَبُو الْحَسَنِ اَخْبَرَنَا حَجَّاجٌ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ يَعْلٰى عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اِنْ كَانَ بِكُمْ اَذًى مِنْ مَطَرٍ اَوْ كُنْتُمْ مَرْضٰى قَالَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ كَانَ جَرِيْحًا.

۵۸۴: محمد بن مقاتل. ابوالحسن. حجاج. ابن جريج. يعلي. سعيد بن جبير. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، ذ هغهٔ بيان دے. حضرت عبدالرحمٰن بن عوفؓ زخمي شوے وو، نو ذ هغهٔ متعلق دا آيت: اِنْ كَانَ بِكُمْ اَذًى مِنْ مَطَرٍ او كُنْتُمْ مَرْضٰى: نازل شولو.

بَابُ ۱۹۱: قَوْلُهٗ وَ يَسْتَفْتُوْنَكَ فِي النِّسَآءِ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيْكُمْ فِيْهِنَّ وَمَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ فِيْ يَتَامَى النِّسَآءِ.

باب ۱۹۱: آيت: وَ يَسْتَفْتُوْنَكَ فِي النِّسَآءِ: ذ اللّٰه تعالٰي قول، اے رسوله، خلق تانه ذ ښځو ذ ميراث متعلق تپوس كوي، ورته اووايه، اللّٰه دے باره كښ حكم دركوي، او كوم څيز چه په تاسو كتاب الٰهي ذ يتيمانو جينكو (ښځو) باره كښ لوستے شي.

۵۸۵: حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ اِسْمَاعِيْلَ حَدَّثَنَا اَبُوْ اُسَامَةَ حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ عَائِشَةَؓ وَ يَسْتَفْتُوْنَكَ فِي النِّسَآءِ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيْكُمْ فِيْهِنَّ اِلٰى قَوْلِهٖ وَ تَرْغَبُوْنَ قَالَتْ هُوَ الرَّجُلُ تَكُوْنُ عِنْدَهُ الْيَتِيْمَةُ هُوَ وَلِيُّهَا وَ وَارِثُهَا فَاَشْرَكَتْهُ فِيْ مَالِهٖ حَتّٰى فِي الْعَذْقِ فَيَرْغَبُ اَنْ يَنْكِحَهَا وَ يَكْرَهُ اَنْ يُزَوِّجَهَا رَجُلًا فَيُشْرِكُهٗ فِيْ مَالِهٖ بِمَا شَرِكَتْهُ فَيَعْضُلُهَا فَنَزَلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ.

۵۸۵: عبيده بن اسماعيل. ابو اسامه. هشام بن عروه. عروه بي بي عائشےؓ نه روايت كوي، ذ هغے بيان دے، دے آيت: و يستفتونك في النساء الخ نه مراد هغه سړے دے، چه ذ يوے يتيمے جينۍ (ښځے) وارث وي، او ذ هغے په څهٔ مال كښ شريک هم وي، او بيا هغے سره نكاح كول هم غواړي. او بل سره نكاح كول بد ګڼړي. په دے چه هغه غير سړے به ورسره مال كښ شريک شي، په دے بنا ښځه بل چا سره د نكاح كولو نه منع كړي، نو دے ذ پاره دا آيت نازل شولو.

بَابُ ۱۹۲: قَوْلُهٗ وَ اِنِ

باب ۱۹۲: آيت: و اِنِ امْرَاَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا

امْرَاَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوْزًا اَوْ اِعْرَاضًا وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ شِقَاقٌ تَفَاسُدٌ وَاُحْضِرَتِ الْاَنْفُسُ الشُّحَّ هَوَاهُ فِي الشَّيْءِ يَحْرِصُ عَلَيْهِ كَالْمُعَلَّقَةِ لَاهِيَ اَيِّمٌ وَلَا ذَاتُ زَوْجٍ نُشُوْزًا بُغْضًا.

نُشُوْزًا: ذ الله تعالىٰ قول، كومه ښځه چه د خاوند ځ جنګ يا مخ اړولو نه ويريږي. ابن عباسؓ وائي. د "شقاق" معنې ذ فساد او جنګ دي. ذ "شح" مطلب حرص او خواهش نفساني دے. او "كالمعلقة" مطلب دے، چه مينځ كښ آويزانده وي، ګويا نۀ كُنډه وي، نۀ خاوند واله. او "نشوز" مطلب دے، ناراضګي، خفګي او بُغض وغيره.

۵۸۶: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُقَاتِلِ اَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ اَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ عَائِشَةَؓ وَ اِنِ امْرَاَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوْزًا اَوْ اِعْرَاضًا قَالَتِ الرَّجُلُ تَكُوْنُ عِنْدَهُ الْمَرْاَةُ لَيْسَ بِمُسْتَكْثِرٍ مِنْهَا يُرِيْدُ اَنْ يُفَارِقَهَا فَتَقُوْلُ اَجْعَلُكَ مِنْ شَاْنِيْ فِيْ حِلٍّ فَنَزَلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ فِيْ ذٰلِكَ.

۵۸۶: محمد بن مقاتل. عبدالله. هشام بن عروه. بي بي عائشےؓ نه روايت كوي، ذ هغے بيان دے، يو سړي خپلے ښځے سره ذ محبت سلوک نۀ كولو او غوښتل ئے، چه هغه جُدا كړي، ښځے اووے، ښه ده. زۀ خپله نان نفقه معاف كوم، خو تۀ ماله طلاق مۀ راكوه، هغه وخت دا آيت نازل شولو، يعني تاسو خپلو كښ صلح اوكړئے، دا خبره ښۀ ده.

بَابُ ۱۹۳: قَوْلُهٗ اِنَّ الْمُنَافِقِيْنَ فِي الدَّرْكِ الْاَسْفَلِ مِنَ النَّارِ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍؓ اَسْفَلَ النَّارِ نَفَقًا سَرَبًا.

باب ۱۹۳: آيت: اِنَّ الْمُنَافِقِيْنَ فِي الدَّرْكِ الْاَسْفَلِ: ذ الله تعالىٰ قول، منافقان به ذ دوزخ لاندے طبقه كښ وي. ابن عباسؓ وائي يعني ذ دوزخ ذ لاندے اُور "نفقًا" سُرنګ او زمين دوز لارے ته وائي.

۵۸۷: حَدَّثَنَا عُمَرُو بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا اَبِيْ حَدَّثَنَا الْاَعْمَشُ قَالَ حَدَّثَنِيْ اِبْرٰهِيْمُ عَنِ الْاَسْوَدِ قَالَ كُنَّا فِيْ حَلْقَةِ عَبْدِ اللّٰهِ فَجَآءَ حُذَيْفَةُ حَتّٰى قَامَ عَلَيْنَا فَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ لَقَدْ اُنْزِلَ النِّفَاقُ عَلٰى قَوْمٍ خَيْرٍ مِنْكُمْ قَالَ الْاَسْوَدُ سُبْحَانَ اللّٰهِ اِنَّ

۵۸۷: عمرو بن حفص. حفص بن غياث. اعمش. ابراهيم. اسود نه روايت كوي، مونږ او څۀ نور خلق عبدالله بن مسعود سره ناست وو. دے كښ يو صحابي حذيفه بن يمان راغے، او سلام ئے اوكۀ، بيائے اووے، نفاق يو داسے بلا ده، چه تاسونه په ښو خلقو نازله شوے ده ما لږ تعجب سره اووے، سبحان الله، الله تعالىٰ خو فرمائي، چه منافق به ذ دوزخ لاندينئے حصه كښ

اللّٰهَ يَقُولُ اِنَّ الْمُنَافِقِيْنَ فِي الدَّرْكِ الْاَسْفَلِ مِنَ النَّارِ فَتَبَسَّمَ عَبْدُ اللّٰهِ وَ جَلَسَ حُذَيْفَةُ فِيْ نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ فَقَامَ عَبْدُ اللّٰهِ فَتَفَرَّقَ اَصْحَابُهُ فَرَمَانِيْ بِالْحِصَا فَاَتَيْتُهُ فَقَالَ حُذَيْفَةُ عَجِبْتُ مِنْ ضِحْكِهِ وَقَدْ عَرَفَ مَا قُلْتُ لَقَدْ اُنْزِلَ النِّفَاقُ عَلٰى قَوْمٍ كَانُوْا خَيْرًا مِنْكُمْ ثُمَّ تَابُوْا فَتَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ.

وي، عبدالله بن مسعود مُسكې شولو، او حذيفه پاسيد، دَ جماعت يو گوټ كښې كيناستلو. دَ عبدالله شاگرد هم پاسيدلو، حذيفه يو ګټكانړے ما پله راوويشتلو، او اشارے سره ئے خان پلـه اوبللم، او ويلے، زهٔ دَ عبدالله بن مسعودٌ مُسكے كيدو سره تعجب كښې اوغُرځيدم څكه چه ما څهٔ اووے، په هغې هغه پنهٔ پو ه شولو بيشكه نفاق په هغه قوم راغے، چه ستاسونه بهتر وو. بيا دَ اسلام نه اوگرځيدل. بيائے توبه كړه، نو الله تعالٰي دَ هغوي خطا معاف كړله.

باب ۱۹۴: قَوْلِهٖ اِنَّا اَوْحَيْنَا اِلَيْكَ اِلٰى قَوْلِهٖ وَ يُوْنُسَ وَ هَارُوْنَ وَ سُلَيْمَانَ.

باب ۱۹۴: آيت: اِنَّا اَوْحَيْنَا اِلَيْكَ: دَ اللّٰه تعالٰي قول، مونږ تاته وحي راوليږله، څنگه چه نوحؑ او نورو نبيانو طرف ته مو ليږلے وه، آخر آيت پورے.

۵۸۸: حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيٰى عَنْ سُفْيَانَ قَالَ حَدَّثَنَا الْاَعْمَشُ عَنْ اَبِيْ وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا يَنْبَغِيْ لِاَحَدٍ اَنْ يَّقُوْلَ اَنَا خَيْرٌ مِنْ يُوْنُسَ بْنِ مَتّٰى.

۵۸۸: مسدد. يحيٰي. سفيان. اعمش. ابو وائل. حضرت ابن مسعود نه روايت كوي، دَ هغهٔ بيان دے، حضور صلي الله عليه وسلّم ارشاد اوفرمائيلو، ماته په يونس بن متّٰي فضيلت مهٔ راكوئے (څكه چه ممكنه ده تاسو دا اوگنړے، چه هغه دَ بے صبري په وجه څه مودے پورے دَ كب په خيټه كښې وو).

۵۸۹: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سِنَانٍ حَدَّثَنَا فُلَيْحٌ حَدَّثَنَا هِلَالٌ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَؓ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَالَ اَنَا خَيْرٌ مِنْ يُوْنُسَ بْنِ مَتّٰى فَقَدْ كَذَبَ.

۵۸۹: محمد بن سنان. فليح بن سليمان. هلال بن علي. عطاء بن يسار. حضرت ابوهريرهٔؓ نه روايت كوي، هغه وائي، رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم ارشاد اوفرمائيلو، كوم سړے چه دا اووائي، چه زهٔ يونس بن متّٰي نه افضل يم، نو هغهٔ دروغ اووے.

باب ۱۹۵: قَوْلِهٖ يَسْتَفْتُوْنَكَ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيْكُمْ فِى الْكَلَالَةِ

باب ۱۹۵: آيت: يَسْتَفْتُوْنَكَ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيْكُمْ: دَ اللّٰه تعالٰي قول، تانه دَ كلاله متعلق تپوس كوي، ورته

اِنِ امْرُؤٌا هَلَكَ لَيْسَ لَهُ وَلَدٌ وَّلَهُ اُخْتٌ فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ وَهُوَ يَرِثُهَا اِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهَا وَلَدٌ وَالْكَلَالَةُ مَنْ لَّمْ يَرِثْهُ اَبٌ اَوْ اِبْنٌ هُوَ مَصْدَرٌ مِنْ تَكَلَّلَهُ النَّسَبُ.

او وايه، الله تاسو ته د کلاله باره کښې فتوي در کوي، که يو سړے مړ شي او ذ هغه اولاد نه وي، صرف يوه خور نے وي نو د هغه ذ مال نيمه حصه د خور' ده' او هغه د خپلے خور وارث دے. که ذ خور اولاد' نے نه وي. "کلاله" هغے چاته وائي' چه نه ئے پلار وي' نه خوئے. دا لفظ تَكَلَّلَهُ نه اُوتے دے.

• ۵۹۰: حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ اَبِيْ اِسْحَاقَ سَمِعْتُ الْبَرَآءِ قَالَ اٰخِرُ سُوْرَةٍ نَزَلَتْ بَرَآءَةٌ وَاٰخِرُ اٰيَةٍ نَزَلَتْ يَسْتَفْتُوْنَكَ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيْكُمْ فِي الْكَلَالَةِ.

• ۵۹۰: سليمان بن حرب. شعبه. ابي اسحاق. حضرت براء بن عازب نه روايت کوي' د ټولونه آخر کښې چه کوم سورت نازل شو' هغه سورة برأت دے. او آخر کښې چه کوم آيت نازل شو' هغه دا آيت دے: يستفتونک قل الله تفتيکم الخ.

## سُوْرَةُ الْمَآئِدَةِ

## دَ سُوره مائده تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

حُرُمٌ وَاحِدُهَا حَرَامٌ فَبِمَا نَقْضِهِمْ بِنَقْضِهِمُ الَّتِيْ كَتَبَ اللّٰهُ جَعَلَ اللّٰهُ' تَبُوْءَ تَحْمِلُ دَآئِرَةٌ دَوْلَةٌ وَ قَالَ غَيْرُهُ الْاِغْرَآءُ التَّسْلِيْطُ اُجُوْرَهُنَّ مُهُوْرَهُنَّ' اَلْمُهَيْمِنُ اَلْاَمِيْنُ اَلْقُرْاٰنُ اَمِيْنٌ عَلٰى كُلِّ كِتَابٍ قَبْلَهُ قَالَ سُفْيَانُ مَا فِي الْقُرْاٰنِ اٰيَةٌ اَشَدُّ عَلَيَّ مِنْ لَسْتُمْ عَلٰى شَيْءٍ حَتّٰى تُقِيْمُوا التَّوْرٰةَ وَالْاِنْجِيْلَ وَمَا اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِنْ رَبِّكُمْ مَخْمَصَةٌ مَجَاعَةٌ مَنْ اَحْيَاهَا يَعْنِيْ مَنْ حَرَّمَ قَتْلَهَا اِلَّا بِحَقٍّ حَيِيَ النَّاسُ مِنْهُ جَمِيْعًا شِرْعَةً وَّ مِنْهَاجًا

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

"حُرُمٌ" جمع ذ حرام ده. او "فبما نقضهم" معني دي' د عهد ماتولو په وجه. "کتب الله" هغه معني دي' کومے چه د "جعل الله' دي. "تبوء" ته اوچت کړے. "دائره" ذ زمانے کردش "اغرا" معني دي لړول. ذ ابو عبيده په نزد "اجورهن" معني دي' ذ هغوي حق مهر. "المهيمن" معني امانتدار. قرآن ګويا ذ مخکنو کتابونو محافظ دے. سفيان وائي' ځما خيال کښې ذ دے نه سخت آيت بل نشته' چه تاسو به هيڅ کښې نه ئے' څو پورے چه تورات' انجيل' او قرآن باندے پوره عمل اونه کړئے. "مخمصه" معني ذ لوږے دي. "من احياها" معني دي' چا چه قتل انساني حرام اوګنړلو' علاوه ذ حق شرعي نه. "شرعة" شريعت ته وائي "منهاجا" سنت

سَبِيلًا وَّ سُنَّةً.

محمدي ته وائي.

بَابٌ ۱۹۶ : قَوْلِهٖ اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ مَخْمَصَةٌ مَجَاعَةٌ.

باب ۱۹۶ : آيت: اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ: د الله تعالي قول' نن ما ستاسو دين مكمل كړلو' او ابن عباسؓ اووې' "مخمصه" معني د لوږې دي.

۱۵۹۱ : حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمٰنِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ قَيْسٍ عَنْ طَارِقِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَتِ الْيَهُوْدُ لِعُمَرَ اِنَّكُمْ تَقْرَءُوْنَ اٰيَةً لَوْ نَزَلَتْ فِيْنَا لَا تَّخَذْنَاهَا عِيْدًا فَقَالَ عُمَرُؓ اِنِّيْ لَاَعْلَمُ حَيْثُ اُنْزِلَتْ وَ اَيْنَ اُنْزِلَتْ وَ اَيْنَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ اُنْزِلَتْ يَوْمَ عَرَفَةَ وَ اِنَّا وَاللّٰهِ بِعَرَفَةَ قَالَ سُفْيٰنُ وَ اَشُكُّ كَانَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ اَمْ لَا اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ.

۱۵۹۱ : محمد بن بشار. عبدالرحمٰن. سفيان. قيس. طارق بن شهاب نه روايت كوي' د هغهٔ بيان دې' حضرت عمرؓ ته يهوديانو اووې' دا آيت چه تاسو وائې' كه خمونږ متعلق نازل شوې وې' نو مونږ به هغه ورځ' په كومه چه دا نازل شوې دې' د اختر ورځ مقرر كړې وه. حضرت عمرؓ جواب ورکړ' ماته ښهٔ معلومه ده' چه دا آيت كله او څهٔ وخت نازل شوې وو' او حضور صلي الله عليه وسلم هغه وخت كوم ځائې تشريف لرلو. په خدائې م دې قسم وي' كوم وخت چه دا آيت نازل شو' نو مونږ عرفات كښې وو' سفيان وائي' ماته دا په ښهٔ شان ياد نهٔ دي' چه هغه د جمعې ورځ وه' يا بله څهٔ ورځ وه.

بَابٌ ۱۹۷ : قَوْلِهٖ فَلَمْ تَجِدُوْا مَآءً فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَيِّبًا تَيَمَّمُوْا تَعَمَّدُوْا اٰمِّيْنَ عَامِدِيْنَ' اَمَّمْتُ وَ تَيَمَّمْتُ وَاحِدٌ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَمَسْتُمْ وَ تَمَسُّوْهُنَّ وَاللَّاتِيْ دَخَلْتُمْ بِهِنَّ وَالْاِفْضَاءُ النِّكَاحُ.

باب ۱۹۷ : آيت: فَلَمْ تَجِدُوْا مَآءً فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا: د الله تعالي قول' كه سفر كښې تاسو اُوبهٔ بيانهٔ مومئې' نو پاكې خاورې سره تيمم كوئې' "تَيَمَّمُوْا" معني قصد' اراده. "آمين" قصد كونكې. "امممت" او "تيممت" د دوي يو معني دي' ابن عباسؓ اووې' "لا مستم" او "تمسوهن" او "دخلتم بهن" او "افضا" د دې ټولو معني د مباشرت' جماع دي.

۱۵۹۲ : حَدَّثَنَا اِسْمَاعِيْلُ حَدَّثَنِيْ مَالِكٌ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ الْقَاسِمِ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ

۱۵۹۲ : اسماعيل. مالك. عبدالرحمٰن بن محمد. بي بي عائشې ته د حضور صلي الله عليه وسلم نه روايت كوي. د هغې بيان دې' يو خل رسول الله صلي الله عليه وسلم سره په سفر

خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ بَعْضِ اَسْفَارِهٖ حَتّٰى
اِذَا كُنَّا بِالْبَيْدَآءِ اَوْ بِذَاتِ الْجَيْشِ
انْقَطَعَ عِقْدٌ لِّيْ فَاَقَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى
الْتِمَاسِهٖ وَ اَقَامَ النَّاسُ مَعَهٗ وَلَيْسُوْا
عَلٰى مَآءٍ وَ لَيْسَ مَعَهُمْ مَآءٌ فَاَتَى
النَّاسُ اِلٰى اَبِيْ بَكْرِ الصِّدِّيْقِؓ فَقَالُوْا لَا
تَرٰى مَا صَنَعَتْ عَائِشَةُؓ اَقَامَتْ بِرَسُوْلِ
اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ
بِالنَّاسِ وَلَيْسُوْا عَلٰى مَآءٍ وَ لَيْسَ
مَعَهُمْ مَآءٌ فَجَاءَ اَبُوْبَكْرٍ وَ رَسُوْلُ اللّٰهِ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاضِعٌ رَّاْسَهٗ
عَلٰى فَخِذِيْ قَدْ نَامَ فَقَالَ حَبَسْتِ
رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
وَالنَّاسَ وَ لَيْسُوْا عَلٰى مَآءٍ وَ لَيْسَ
مَعَهُمْ مَآءٌ قَالَتْ عَائِشَةُ فَعَاتَبَنِيْ اَبُوْ
بَكْرٍ وَّ قَالَ مَا شَآءَ اللّٰهُ اَنْ يَّقُوْلَ وَ
جَعَلَ يَطْعُنُنِيْ بِيَدِهٖ فِيْ خَاصِرَتِيْ وَلَا
يَمْنَعُنِيْ مِنَ التَّحَرُّكِ اِلَّا مَكَانُ رَسُوْلِ
اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى
اَصْبَحَ عَلٰى غَيْرِ مَآءٍ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ اٰيَةَ
التَّيَمُّمِ فَقَالَ اُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ مَاهِيَ
بِاَوَّلِ بَرَكَتِكُمْ يَا اٰلَ اَبِيْ بَكْرٍ قَالَتْ
فَبَعَثْنَا الْبَعِيْرَ الَّذِيْ كُنْتُ عَلَيْهِ فَاِذَا
الْعِقْدُ تَحْتَهٗ.

لارم، كوم وخت چه مقام بيداء ته اورسيدو، نو خما
هار چرته ورك شولو، نو رسول الله صلي الله
عليه وسلم هغه ځائے ايسار شولو، او خلقو هار كتلو،
او هغه ځائے داسے وو، چه د اوبو چرته نوم نشان
نه وو، او خوا كښې هم چرته اوبه موجود نه وے. څه
خلق حضرت ابوبكرؓ له راغلل، ورته ئے اووے،
عجيبه خبره ده چه د بي بي عائشےؓ په وجه رسول
الله صلي الله عليه وسلم او نور خلق ايسار شولو،
نه دا ځائے د اوبو دے اونه ورسره خوا كښې اوبه
شته. دغه وخت حضورؐ خما په پتون سر مبارك
ايښے وو، اوده وو. دے كښې حضرت ابوبكرؓ
راغے او وئيلے، اے عائشےؓ تا رسول الله صلي الله
عليه وسلم او ټول خلق داسے ځائے كښې ايسار
كړے دي، چه هلته اوبه هم نشته، او نه خوا كښې
ورسره چرته اوبه موجود دي، نو ماته هغه سختے
خبرے او كړلے، زه په دے وجه خاموش ووم، چه
رسول الله صلي الله عليه وسلم خما په ورونږ
(يا زنګون) سر ايښے اوده وو، حالانكه هغه
(ابوبكرؓ) خما تشے هم اوخكندلو. آخر سحر ته
حضور صلي الله عليه وسلم بيدار شولو، خو اوبه
موجود نه وے هغه وخت الله پاك دا آيت نازل
كړلو. (يعني د تيمم آيت). حضرت اسيد بن
حضير اووے، د دے آيت د نازليدو سبب د
حضرت ابوبكرؓ د اولاد بزرګي او كرامت دے.
بي بي عائشهؓ فرمائي، كوم وخت چه خما اوښ پاسيد،
نو هار ترے لاندے بر آمد شولو.

**۵۹۳ : حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ وَهْبٍ قَالَ اَخْبَرَنِي عَمْرٌو اَنَّ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ الْقَاسِمِ حَدَّثَهُ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ عَائِشَةَ سَقَطَتْ قِلَادَةٌ لِّيْ بِالْبَيْدَاءِ وَ نَحْنُ دَاخِلُوْنَ الْمَدِيْنَةَ فَاَنَاخَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ نَزَلَ فَثَنٰى رَاْسَهُ فِيْ حَجْرِيْ رَاقِدًا اَقْبَلَ اَبُوْ بَكْرٍ فَلَكَزَنِيْ لَكْزَةً شَدِيْدَةً وَ قَالَ حَبَسْتِ النَّاسَ فِيْ قِلَادَةٍ فَبِيَ الْمَوْتُ لِمَكَانِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ اَوْجَعَنِيْ ثُمَّ اِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَيْقَظَ وَ حَضَرَتِ الصُّبْحُ فَالْتُمِسَ الْمَاءُ فَلَمْ يُوْجَدْ فَنَزَلَتْ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ الْاٰيَةَ فَقَالَ اُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ لَقَدْ بَارَكَ اللّٰهُ لِلنَّاسِ فِيْكُمْ يَا اٰلَ اَبِيْ بَكْرٍ مَا اَنْتُمْ اِلَّا بَرَكَةٌ لَّهُمْ.**

**۵۹۳ :** يحيي بن سليمان. ابن وهب. عمرو بن حارث. عبدالرحمٰن بن قاسم بن محمد. بي بي عائشےؓ نه روايت کوي، د هغې بيان دے، مونږ مدينے ته واپس راتلو، چه لار کښې مقام بيداء کښې خما هار ورک شولو، رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم ته چه معلومه شوه، نو خپله اوښه ئے کينوله او هلته آرام ئه پاره ايسار شولو. او خپل سر مبارک ئے خما په غيږ کښې کيښودلو. لږ ساعت پس خما پلار حضرت ابوبکرؓ راغے، زۀ ئے په سينه په لاس اووهلم، چه تا ټول خلق دلته لويه پريشاني کښې اچولے دي، ماته ډير تکليف اوشو نو د حضورؐ دَ وجے نه م برداشت کړلو، او خاموش شوم، سحر ته چه حضورؐ بيدار شو، نو اوبۀ ئے طلب کړے، خو اوبۀ موجود نه وے، دغه وخت دا آيت نازل شولو: يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ: آخر پورے نازل شولو، په دغه موقعه اسيد بن حضير اووے اے د ابوبکرؓ آولاده، ستاسو دَ پاره دے دَ برکت او رحمت باعث وي، چه ستاسو په وجه دَ تيمم آيت نازل شولو.

**باب ۱۹۸ : قَوْلِهٖ فَاذْهَبْ اَنْتَ وَ رَبُّكَ فَقَاتِلَاۤ اِنَّا هٰهُنَا قَاعِدُوْنَ.**

**باب ۱۹۸ :** آيت: فَاذْهَبْ اَنْتَ وَ رَبُّكَ فَقَاتِلَا: دَ اللّٰه تعالي قول، تهٔ او ستا رب لاړ شئے، جنګ اوکړئے، مونږ خو به دلته ناست يُو (تماشه به کوو) دَ دے تفسير.

**۵۹۴ : حَدَّثَنَا اَبُوْ نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا اِسْرَآئِيْلُ عَنْ مُخَارِقٍ عَنْ طَارِقِ ابْنِ شِهَابٍ سَمِعْتُ ابْنَ مَسْعُوْدٍ قَالَ شَهِدْتُ مِنَ الْمِقْدَادِ ح وَ حَدَّثَنِيْ حَمْدَانُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا اَبُو النَّضْرِ**

**۵۹۴ :** ابو نعيم. اسرائيل. مخارق. طارق بن شهاب. حضرت عبداللّٰه بن مسعود. حضرت مقداد. ح. حمدان بن عمر. ابوالنضر. اشجعي. سفيان. مخارق. طارق. حضرت عبداللّٰه بن مسعودؓ نه روايت کوي، دَ هغهٔ بيان دے، کوم وخت

حَدَّثَنَا الْاَشْجَعِيُّ عَنْ سُفْيَانَ عَنْ مُخَارِقٍ عَنْ طَارِقٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ قَالَ الْمِقْدَادُ يَوْمَ بَدْرٍ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّا لَا نَقُوْلُ لَكَ كَمَا قَالَتْ بَنُوْ اِسْرَآئِيْلَ لِمُوْسٰى فَاذْهَبْ اَنْتَ وَ رَبُّكَ فَقَاتِلَا اِنَّا هٰهُنَا قَاعِدُوْنَ وَلٰكِنِ امْضِ وَ نَحْنُ مَعَكَ فَكَاَنَّهُ سُرِّيَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ رَوَاهُ وَكِيْعٌ عَنْ سُفْيَانَ عَنْ مُخَارِقٍ عَنْ طَارِقٍ اَنَّ الْمِقْدَادَ قَالَ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

چه حضور بدر ته تشريف اوړلو نو تولو صحابهؤ سره ئے مشوره اوکړله. مقداد اووے اے د اللّٰه رسوله بني اسرائيلو موسي عليه السلام ته اووے ته او ستا رب لاړ شئے جنګ اوکړئے مونږ به هيڅ کله دغسے اونه کړو، بلکه مونږ خو وايو چه تاسو فکر مه کوئے مونږ هر حال کښې تاسو سره يو، دے خبرے سره حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ډير خوشحاله شو. وکيع، سفيان، مخارق، طارق نه روايت کوي، چه حضرت مقداد دا خبره ذَ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم خدمت کښې عرض کړے وه.

## بَـابُ ١٩٩: قَـوْلِـهٖ اِنَّـمَا جَـزَآءُ الَّـذِيْـنَ يُحَـارِبُـوْنَ اللّٰـهَ وَ رَسُـوْلَــهٗ وَ يَسْـعَـوْنَ فِـي الْاَرْضِ فَسَــادًا اَنْ يُّـقَتَّـلُـوْا اَوْ يُـصَلَّبُـوْا اِلٰى قَوْلِـهٖ اَوْ يُـنْـفَـوْا مِـنَ الْاَرْضِ اَلْـمُـحَــارَبَةُ لِـلّٰـهِ الْكُفْرُ بِهٖ.

باب ١٩٩ : آيت: اِنَّما جَزَآءُ الَّذِيْنَ يُحَارِبُوْنَ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ: ذَ اللّٰه تعالٰي قول، چا چه ذَ اللّٰه او ذَ هغهٔ ذَ رسول خبره اونهٔ منله، او زمکه کښې ذَ فساد خوررولو کوشش اوکهٔ، ذَ هغوي سزا داده، چه قتل کړے شي، يا په سُولئ کړے شي، يا لاس پښے ئے پريکړے شي، يا جلا وطن کړے شي (يعني بے وطنه کړے شي). "محاربة" معني دي کفر.

٥٩٥: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ الْاَنْصَارِيُّ حَدَّثَنَا ابْنُ عَوْنٍ قَالَ حَدَّثَنِيْ سَلْمَانُ اَبُوْ رَجَآءٍ مَوْلٰى اَبِيْ قِلَابَةَ عَنْ اَبِيْ قِلَابَةَ اَنَّهٗ كَانَ جَالِسًا خَلْفَ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيْزِ فَذَكَرُوْا وَ ذَكَرُوْا فَقَالُوْا وَ قَالُوْا قَدْ اَقَادَتْ بِهَا الْخُلَفَآءُ

٥٩٥: علي بن عبداللّٰه. محمد بن عبداللّٰه انصاري. ابن عون. سليمان. ابو رجاء ( ذَ ابن قلابه آزاد کرده غلام) ابو قلابه. حضرت عبداللّٰه بن زيد نه روايت کوي، ذَ هغهٔ بيان دے، زهٔ عمر بن عبدالعزيز سره ناست ووم، ځنے خلقو ذَ قسامت (قسم خوړلو) ذکر اوچيړلو، او ونيلے، قسامت کښې قصاص لازميږي، ځکه چه خلفاؤ هم ذَ قصاص حکم ورکړلو، عمر بن عبدالعزيز چه تاؤ شو، نو وے ليدل، چه ابو قلابه شاته ناست وو، عمر بن

فَالْتَفَتَ اِلٰى اَبِيْ قِلَابَةَ وَهُوَ خَلْفَ ظَهْرِهٖ فَقَالَ مَا تَقُوْلُ يَا عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ زَيْدٍ اَوْ قَالَ مَا تَقُوْلُ يَا اَبَا قِلَابَةَ قُلْتُ مَا عَلِمْتُ نَفْسًا حَلَّ قَتْلُهَا فِي الْاِسْلَامِ اِلَّا رَجُلٌ زَنٰى بَعْدَ اِحْصَانٍ اَوْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ اَوْ حَارَبَ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عَنْبَسَةُ حَدَّثَنَا اَنَسٌ بِكَذَا وَ كَذَا قُلْتُ اِيَّايَ حَدَّثَنَا اَنَسٌ قَالَ قَدِمَ قَوْمٌ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَلَّمُوْهُ فَقَالُوْا قَدِ اسْتَوْخَمْنَا هٰذِهِ الْاَرْضَ فَقَالَ هٰذِهٖ نَعَمٌ لَنَا تَخْرُجُ فَاخْرُجُوْا فِيْهَا فَاشْرَبُوْا مِنْ اَلْبَانِهَا وَ اَبْوَالِهَا فَخَرَجُوْا فِيْهَا فَشَرِبُوْا مِنْ اَبْوَالِهَا وَ اَلْبَانِهَا وَاسْتَصَحُّوْا وَمَالُوْا عَلَى الرَّاعِيْ فَقَتَلُوْهُ وَاطَّرَدُوا النَّعَمَ فَمَا يُسْتَبْطَأُ مِنْ هٰؤُلَاءِ قَتَلُوا النَّفْسَ وَ حَارَبُوا اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ وَ خَوَّفُوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ سُبْحَانَ اللّٰهِ فَقُلْتُ تَتَّهِمُنِيْ قَالَ حَدَّثَنَا بِهٰذَا اَنَسٌ قَالَ وَ قَالَ يَا اَهْلَ كَذَا اِنَّكُمْ لَنْ تَزَالُوا بِخَيْرٍ مَا اُبْقِيَ هٰذَا فِيْكُمْ وَ مِثْلُ هٰذَا.

عبدالعزيز هغهٔ ته اُوکتل، ورته ئې اووې، هيڅوک مسلمان سِوا ذ دې درې سرو نه واجب القتل نهٔ دې. اول چه محصن واده کړې وي، او زنا اوکړي، دويم چه په ناحقه ئې څوک وژلې وي، دريم چه الله او رسول سره ئې کفر کړې وي (يعني الله او رسول نه منکر وي) دې خبرې آوريدو سره عنبسه بن سعيد اووې مونږ خو ذ انس بن مالک نه آوريدلې دي، قصاص کيدل پکار دي. بيائې دا حديث بيان کړلو، ذَ عرينه ځنې سړي ذ حضور اکرمؐ په خدمت کښې حاضر شو، او ونيلې، ذَ مدينې آب و هوا خمونږ موافق رانغله، او بدهضمي راته شوې ده. حضورؐ ورته اوفرمائيل، ښهٔ ده، خمونږ اُوښان ځنګل له ځرند ذ پاره ځي، تاسو هم ورسره لاړ شئې، او د هغوي پئې وغيره څکئې. هغوي ورسره لاړل، او تندرست شو، بيا هغوي ګوارچي او وژلو، او اُوښان ئې ځان سره اوتښتول، آيا ذَ داسې خلقو قتل کښې څهٔ ډيل کيدې شي، چه هغوي يو سړې اووژلو، الله او رسول سره ئې جنګ او نافرماني اوکړه، او دا شان هغوي رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم خوفزده کړلو، دې آوريدو سره عنبسه سبحان الله اووې ما ورته اووې، ته ما دروغجن ګڼرې، هغهٔ اووې، بلکه حضرت انس دا حديث ماته هم بيان کړې دې. ماته خو تعجب اوشو، چه تاته حديث ښهٔ ياد وي، دې نه پس عنبسه اووې، اې اهل شام، تاسو به هميشه خوشحاله ئې، څو پورې چه تاسو کښې ذَ ابو قلابه شان عالم موجود وي.

باب ٢٠٠: قَوْلِهٖ وَالْجُرُوْحَ قِصَاصٌ.

باب ٢٠٠: آيت: وَالْجُرُوْحُ قِصَاصٌ: ذَ الله تعالي قول، ذَ هرې خبرې بدله به ذَ هغې په مثل آخستې شي.

۵۹۶: حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ سَلَامٍ أَخْبَرَنَا الْفَزَارِيُّ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَسَرَتِ الرُّبَيِّعُ وَهِيَ عَمَّةُ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ثَنِيَّةَ جَارِيَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ فَطَلَبَ الْقَوْمُ الْقِصَاصَ فَأَتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْقِصَاصِ فَقَالَ أَنَسُ بْنُ النَّضْرِ عَمُّ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ لَا وَاللَّهِ لَا تُكْسَرُ سِنُّهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَنَسُ كِتَابُ اللَّهِ الْقِصَاصُ فَرَضِيَ الْقَوْمُ وَقَبِلُوا الْأَرْشَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ عِبَادِ اللَّهِ مَنْ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللَّهِ لَأَبَرَّهُ.

۵۹۶: محمد بن سلام. فزاری. حمید حضرت انس بن مالک نه روایت کوي. د هغه بیان دے چه. خلکے خمټا ترور ربیع د یوے انصاریه دوه غابونه مات کړل نو د هغے قوم والو د قصاص مطالبه اوکړله. حضور د قصاص حکم اوکړلو. خمټا ترۀ انس بن نضر اووے. یا رسول الله. په الله م دے قسم وي. د دے غابونه نشي ماتیدے. رسول الله صلي الله علیه وسلّم اوفرمائیل. اے انسَ دا د الله بعضے حکم دے. دا خبره کیدله. چه د انصاریه رشته داران راضي شو. او دیت اخستل ئے منظور کړل. حضور اوفرمائیل. د الله نیک بنده چه د یوے خبرے قسم اوخوري. نو الله د هغه خبره پوره کوي. او هغه نۀ دروغجن کوي.

## بَابُ ۲۰۱: قَوْلِهِ يَـٰٓأَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ.

## باب ۲۰۱: آیت: يَـٰٓأَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَآ أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ: د الله تعالي قول. اے رسولهٔ. اورسوه. څهٔ چه ستا رب په تا نازل کړے دي.

۵۹۷: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ إِسْمَاعِيلَ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَنْ حَدَّثَكَ أَنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَتَمَ شَيْئًا مِمَّا أُنْزِلَ عَلَيْهِ فَقَدْ كَذَبَ وَاللَّهُ يَقُولُ يَـٰٓأَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ الْآيَةَ.

۵۹۷: محمد بن یوسف. سفیان. اسمعیل. شعبي. مسروق. بي بي عائشےؓ نه روایت کوي. د هغے بیان دے. کوم سرے چه دا اووائي. چه رسول الله صلي الله علیه وسلّم د خدائے یو حکم پټ کړے دے. نو هغه دروغجن دے. الله تعالي د دے آیت په ذریعه د تبلیغ حکم فرمائیلے دے. او انبیائے کرام د خدائے د حکم مطابق تعلیم ورکوي.

باب ۲۰۲ : قَوْلُهُ لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيْ اَيْمَانِكُمْ.

باب ۲۰۲ : آيت: لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيْ اَيْمَانِكُمْ: دَ اللّٰه تعالیٰ قول، اللّٰه تعالیٰ تاسو د بې مطلبه قسمونو په وجه نهٔ نيسي.

۵۹۸ : حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ سَلَمَةَ حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ سُعَيْرٍ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ عَائِشَةَ اُنْزِلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيْ اَيْمَانِكُمْ فِيْ قَوْلِ الرَّجُلِ لَا وَاللّٰهِ وَ بَلٰى وَاللّٰهِ.

۵۹۸ : علي بن سلمه. مالک بن سعير. هشام. عروه. بي بي عائشې نه روايت کوي ذ هغې بيان دې، دا آيت: لا يؤاخذكم اللّٰه الخ ذ هغې سړي متعلق نازل شوې، چه ذ خپل عادت نه مجبور وي، او بلا قصده قسم خوري، څنګه چه خلق خبرو کښې واللّٰه باللّٰه وائي:

ف: بلا وجې ذ قسم خوړلو عادت ښۀ نه دې. ذ دې ترک کول پکار دي.

۵۹۹ : حَدَّثَنَا اَحْمَدُ بْنُ اَبِيْ رَجَاءٍ حَدَّثَنَا النَّضْرُ عَنْ هِشَامٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ اَبِيْ عَنْ عَائِشَةَ اَنَّ اَبَاهَا كَانَ لَا يَحْنَثُ فِيْ يَمِيْنٍ حَتّٰى اَنْزَلَ اللّٰهُ كَفَّارَةَ الْيَمِيْنِ قَالَ اَبُوْ بَكْرٍ لَا اَرٰى يَمِيْنًا اُرٰى غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا اِلَّا قَبِلْتُ رُخْصَةَ اللّٰهِ وَ فَعَلْتُ الَّذِيْ هُوَ خَيْرٌ.

۵۹۹ : احمد بن ابي رجاء. نضر. هشام. عروه. بي بي عائشې نه روايت کوي، ذ هغې بيان دې، څما پلار ابوبکر به ذ خپل قسم خلاف هيڅ کله نه کولو، تر دې چه ذ کفارې دا آيت نازل شولو. نو حضرت ابوبکر اوفرمائيل، دې نه پس ما هر هغه قسم مات کړلو، چه هغې کښې ما خير اونه ليدلو، او کفاره م ادا کړله، او ښۀ کار م اختيار کړلو.

باب ۲۰۳ : قَوْلُهُ لَا تُحَرِّمُوْا طَيِّبٰتِ مَا اَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ.

باب ۲۰۳ : آيت. لَا تُحَرِّمُوْا طَيِّبٰتِ مَا اَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ: ذ اللّٰه تعالیٰ قول، اې ايمان والو، څۀ چه اللّٰه تعالیٰ تاسو ذ پاره حلال کړي دي، هغه په ځان مۀ حراموئې.

۶۰۰ : حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ اِسْمَاعِيْلَ عَنْ قَيْسٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ كُنَّا نَغْزُوْ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ لَيْسَ مَعَنَا

۶۰۰ : عمرو بن عون. خالد. اسمٰعيل. قيس. عبداللّٰه بن مسعودؓ نه روايت کوي، مونږ رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم سره په جهاد لاړلو، او ښځې مونږ سره نه وې، مونږ ذ خپل حرارت او خواهش نه مجبور شو، عرض مو

نِسَاءٌ فَقُلْنَا اَلَا نَخْتَصِيْ فَنَهَانَا عَنْ ذٰلِكَ فَرَخَّصَ لَنَا بَعْدَ ذٰلِكَ اَنْ نَتَزَوَّجَ الْمَرْاَةَ بِالثَّوْبِ ثُمَّ قَرَاَ يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُحَرِّمُوْا طَيِّبَاتِ مَا اَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ.

او كډ' آيا مونږ دے خصي نۀ شو' حضور ﷺ او فرمانيل داسے مۀ كونئے' او ورپسے فرمانيل' چه لږو يا كمو ورځو د پاره چه په هغې بنځه راضي شي' نكاح ورسره او كړئے. بيا حضور ﷺ دا آيت تلاوت كړلو: يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُحَرِّمُوْا: الخ.

## بَاب ۲۰۴: قَوْلِهٖ اِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْاَنْصَابُ وَالْاَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ

وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ اَلْاَزْلَامُ الْقِدَاحُ يَقْتَسِمُوْنَ بِهَا فِي الْاُمُوْرِ وَالنُّصُبُ اَنْصَابٌ يَذْبَحُوْنَ عَلَيْهَا وَقَالَ غَيْرُهُ اَلزَّلَمُ الْقِدْحُ لَارِيْشَ لَهُ وَهُوَ وَاحِدُ الْاَزْلَامِ وَالْاِسْتِقْسَامُ اَنْ يُجِيْلَ الْقِدَاحَ فَاِنْ نَهَتْهُ انْتَهٰى وَاِنْ اَمَرَتْهُ فَعَلَ مَا تَاْمُرُهُ وَقَدْ اَعْلَمُوا الْقِدَاحَ اَعْلَامًا بِضُرُوْبٍ يَسْتَقْسِمُوْنَ بِهَا وَفَعَلْتُ مِنْهُ قَسَمْتُ وَالْقُسُوْمُ الْمَصْدَرُ.

## باب ۲۰۴: آيت: اِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْاَنْصَابُ

د اللّٰه تعالىٰ قول' شراب' جواري' بُت او د فال تيرونه ټول ناپاک او شيطاني كارونه دي. ابن عباسؓ وائي. "ازلام نه مراد د فال اوبنكلو تيرونه دي' چه د هغې نه به ئے د قسمت حال معلومولو. او د "نُصب" نه تهان مراد دي' چه په هغې به كافرو قربانئے كولے. نورو خلقو اووے' چه "ازلام" د "زلم" جمع ده. زلم نه مراد بے وزرو غشے الوخول دي. كه د منع فال به راوختلو نو هغه كار به ئے نۀ كولو' او كه د حكم فال به راوختلو نو هغه كار به ئے كولو. مشركانو په دے غشو قسم قسم تصويرونه جوړ كړے وو' چه د هغے نه به ئے د خپل خپل قسمت حال معلومولو. "استقسام" معني چه د متكلم صيغے ته بوځے' نو وايو به "قسمتُ" او "قسوم" مصدر دے.

۱۰۶: حَدَّثَنَا اِسْحَاقُ بْنُ اِبْرٰهِيْمَ اَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بِشْرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيْزِ بْنُ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيْزِ قَالَ حَدَّثَنِيْ نَافِعٌ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ نَزَلَ تَحْرِيْمُ الْخَمْرِ وَاِنَّ فِي الْمَدِيْنَةِ يَوْمَئِذٍ لَخَمْسَةَ اَشْرِبَةٍ وَمَا فِيْهَا شَرَابُ

۱۰۶: اسحاق بن ابراهيم. محمد بن بشر. عبدالعزيز بن عمر بن عبدالعزيز. نافع. حضرت ابن عمرؓ نه روايت كوي' د هغۀ بيان دے' د شرابو د حرام كيدو چه په كومه ورځ دا آيت نازل شو' يعني اِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ: الخ نو مدينه كښې په هغه وخت پنځه قسمه شراب وو' خو انګوري

الْعِنَبِ.

نه وو.

٢٠٢ : حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا ابْنُ عُلَيَّةَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ صُهَيْبٍ قَالَ قَالَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ مَا كَانَ لَنَا خَمْرٌ غَيْرَ فَضِيخِكُمْ هٰذَا الَّذِي تُسَمُّونَهُ الْفَضِيخَ فَإِنِّي لَقَائِمٌ أَسْقِي أَبَا طَلْحَةَ وَ فُلَانًا وَ فُلَانًا إِذْ جَاءَ رَجُلٌ قَالَ فَقَالَ وَ هَلْ بَلَغَكُمُ الْخَبَرُ فَقَالُوا وَمَا ذَاكَ قَالَ حُرِّمَتِ الْخَمْرُ قَالُوا أَهْرِقْ هٰذِهِ الْقِلَالَ يَا أَنَسُ قَالَ فَمَا سَأَلُوا عَنْهَا وَلَا رَاجَعُوهَا بَعْدَ خَبَرِ الرَّجُلِ.

٢٠٢ : يعقوب بن ابراهيم. ابن عليه. عبدالعزيز بن صهيب. حضرت انس بن مالكؓ نه روايت كوي، ذ هغه بيان دے، يوه ورځ خما كور كښې سوا ذ فجورو د شرابو نه بل شراب نه وو ما په طلحه او نورو خلقو.فضيخ يعني ذ قجورو شراب څكول، دے كښې يو سړے راغے، او وئيلے آيا تاسو ته معلومه نه ده، تپوس ترے اوشو، د څه، نو وئيل، چه شراب حرام كړے شو، نو هغه اووے، اے انسؓ، دا چاټے (مټكے) اوبهيوه. انسؓ وائي، بيا چا ذ هيڅ خبرے تپوس اونه كڅ، اونه ئے ذ دے خبرے خلاف كار اوكړلو.

٢٠٣ : حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ الْفَضْلِ أَخْبَرَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ عَمْرٍو عَنْ جَابِرٍ قَالَ صَبَّحَ أُنَاسٌ غَدَاةَ أُحُدٍ الْخَمْرَ فَقُتِلُوا مِنْ يَوْمِهِمْ جَمِيعًا شُهَدَاءَ وَ ذٰلِكَ قَبْلَ تَحْرِيمِهَا.

٢٠٣ : صدقه بن فضل. ابن عيينه. عمرو. حضرت جابرؓ نه روايت كوي، ذ هغه بيان دے، ځنې خلقو جنګ احد كښې سحر وخت كښې شراب اوڅكل، بيا ټول ميدان جنګ كښې اووژلے شو، دا واقعه هغه وخت پيښه شوے وه، چه ذ شرابو ذ حرام كيدو حكم لا نه وو نازل شوے.

٢٠٤ : حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الْحَنْظَلِيُّ أَخْبَرَنَا عِيسٰى وَابْنُ إِدْرِيسَ عَنْ أَبِي حَيَّانَ عَنِ الشَّعْبِيِّ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ عُمَرَ عَلٰى مِنْبَرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَمَّا بَعْدُ أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّهُ نَزَلَ تَحْرِيمُ الْخَمْرِ وَ هِيَ مِنْ خَمْسَةٍ مِنَ الْعِنَبِ وَالتَّمْرِ وَالْعَسَلِ

٢٠٤ : اسحاق بن ابراهيم الحنظلي. عيسٰي او ابن ادريس. ابي حيان. شعبي. حضرت عبداللّٰه بن عمرؓ نه روايت كوي، ذ هغه بيان دے، ما ذ خپل پلار حضرت عمرؓ نه ذ خلافت زمانه كښې ذ رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلم په منبر تقرير كولو كښې واوريدل، چه خلقو ذ شرابو ذ حرام كيدو حكم نازل شوے دے، او دا ذ پنځو څيزونو نه تياريږي، انګور،

وَالْحِنْطَةِ وَالشَّعِيْرِ وَالْخَمْرُ مَا خَامَرَ الْعَقْلَ.

غنم، قجورے، شهد او وربشو نه او شراب هر هغه مشروب دے چه عقل زائل كوي.

**باب ۲۰۵: قَوْلِهٖ لَيْسَ عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جُنَاحٌ فِيْمَا طَعِمُوْا اِلٰى قَوْلِهٖ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ.**

**باب ۲۰۵:** آيت: لَيْسَ عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جُنَاحٌ: ذ اللّٰه تعالىٰ قول په هغے خلقو څۀ ګناه نشته، چه ايمان ئے راوړلو او نيک اعمال ئے اوكړل، په هغے څيز كښ، چه هغوي اوخوړلو، اوڅكلو، وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ: پورے.

۵۰۶: حَدَّثَنَا اَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ ابْنُ زَيْدٍ حَدَّثَنَا ثَابِتٌ عَنْ اَنَسٍ اَنَّ الْخَمْرَ الَّتِيْ اُهْرِيْقَتِ الْفَضِيْخُ وَ زَادَنِيْ مُحَمَّدٌ عَنْ اَبِي النُّعْمَانِ قَالَ كُنْتُ سَاقِي الْقَوْمِ فِيْ مَنْزِلِ اَبِيْ طَلْحَةَ فَنَزَلَ تَحْرِيْمُ الْخَمْرِ فَاَمَرَ مُنَادِيًا فَنَادٰى فَقَالَ اَبُوْ طَلْحَةَ اخْرُجْ فَانْظُرْ مَا هٰذَا الصَّوْتُ قَالَ فَخَرَجْتُ فَقُلْتُ هٰذَا مُنَادٍ يُنَادِيْ اَلَا اِنَّ الْخَمْرَ قَدْ حُرِّمَتْ فَقَالَ لِيْ اِذْهَبْ فَاَهْرِقْهَا قَالَ فَجَرَتْ فِيْ سِكَكِ الْمَدِيْنَةِ قَالَ وَ كَانَتْ خَمْرُهُمُ الْفَضِيْخُ فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ قُتِلَ قَوْمٌ وَ هِيَ فِيْ بُطُوْنِهِمْ قَالَ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ لَيْسَ عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جُنَاحٌ فِيْمَا طَعِمُوْا.

۵۰۶: ابو النعمان. حماد بن زيد. ثابت. حضرت انسؓ نه روايت كوي، ذ هغۀ بيان دے، كوم وخت چه شراب تونے كړے (واړولے) شو، نو ما ابو طلحه سره ټولو باندے شراب څكول، هغه وخت ذ شرابو ذ حرمت (حراميدو) حكم نازل شوے وو، اوشوه، داسے، چه رسول اكرم صلي اللّٰه عليه وسلّم يو سړي ته حكم وركړلو، چه اعلان اوكړي، هغه اعلان كولو سره هلته راغے، نو ابو طلحه اوورے، اوكوره، دا څۀ وائي. زۀ چه بهرته راووتم، نو اُوم ليدل، چه يو اعلان كونكے په زوره، زوره لګيا دے، چه اے خلقو، خبردار شئے، ذ نن نه شراب حرام كړے شوے دي، دے نه پس ابو طلحه اوفرمائيل، څئے، شراب واړوئے. ذ حضرت انسؓ بيان دے، په هغه ورځ ذ مدينے په لارو كښ شراب بهيدل، او په هغه ورځ شراب فضيخ يعني ذ قجورو شراب وو، يهوديانو ونيلے، چه مسلمانان داسے حال كښ اووژلے شو، چه ذ هغوي خيټے ذ شرابو نه ډكے وے، نو هغه وخت دا آيت: لَيْسَ عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ: نازل شولو.

**باب ۲۰۶: قَوْلِهٖ لَا**

**باب ۲۰۶:** آيت: لَا تَسْاَلُوْا عَنْ اَشْيَآءَ: ذ اللّٰه

تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ.

تعالى قول: د داسې خبرو تپوس مه كوئ چه ذهغې ظاهريدو سره تاسو ته خفګان اورسي.

۶۰۶: حَدَّثَنَا مُنْذِرُ بْنُ الْوَلِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ الْجَارُودِيُّ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ مُوسَى بْنِ أَنَسٍ قَالَ خَطَبَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُطْبَةً مَا سَمِعْتُ مِثْلَهَا قَطُّ قَالَ لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا فَغَطَّى أَصْحَابُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وُجُوهَهُمْ لَهُمْ حَنِينٌ فَقَالَ رَجُلٌ مَنْ أَبِي قَالَ فُلَانٌ فَنَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ رَوَاهُ النَّضْرُ وَ رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ عَنْ شُعْبَةَ.

۶۰۶: منذر بن وليد بن عبدالرحمن الجارودي. ذ هغهٔ پلار. شعبه. موسى بن انس. حضرت انسؓ نه روايت كوي، يو ځل حضورؐ داسې خطبه اولوسته، چه مخكښې ما نه وه آوريدلې، حضورؐ اوفرمائيل، څهٔ چه ماته معلوم دي، كه تاسو ته معلوم وې، نو ډير كم به مو خاندل، او زيات به مو ژړل، دې آوريدو سره صحابهؓ خپل مخونه څادرونو سره پټ كړل، او د هغوي ذ ژړا آواز راغې، يو سړي تپوس اوكهٔ، حضورؐ څما پلار څوك دې، حضورؐ ورته اوفرمائيل، فلانئ سړې ستا پلار دې، (څكه چه هغهٔ ته به خلقو حرامي وئيلې) حضورؐ ذ هغهٔ په تپوس ورته هغه نوم اوښودلو، چاته چه منسوب كيدلو، (دې آوريدو سره هغه ډير خفه شو) بيا دا آيت نازل شو، دا نضر، روح بن عباده، شعبه نه روايت كوي.

۶۰۷: حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ سَهْلٍ حَدَّثَنَا أَبُو النَّضْرِ حَدَّثَنَا أَبُو خَيْثَمَةَ حَدَّثَنَا أَبُو الْجُوَيْرِيَةِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ قَوْمٌ يَسْأَلُونَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتِهْزَاءً فَيَقُولُ الرَّجُلُ مَنْ أَبِي وَ يَقُولُ الرَّجُلُ تَضِلُّ نَاقَتُهُ أَيْنَ نَاقَتِي فَأَنْزَلَ اللّٰهُ فِيهِمْ هٰذِهِ الْآيَةَ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ حَتّٰى فَرَغَ مِنَ

۶۰۷: فضل بن سهل. ابوالنضر. ابو خيثمه. ابوالجويريه. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، ذ هغهٔ بيان دې، ځنې خلقو ذ مذاق په طور ذ حضور صلى الله عليه وسلم نه ځنې خبرې اوپښتلې، يو سړې اووې، څما پلار څوك دې، يو اووې، څما اوښه وركه شوې ده، كوم ځائې به وي، نو هغه وخت دا آيت: يا ايها الذين آمنوا الخ نازل شولو، يعني اې ايمان والو، داسې خبرې مه پښتنې كه ظاهرې كړې شي، نو په تاسې به بدې

الْآيَةِ.

باب ۲۰۷: قَوْلِهِ مَا جَعَلَ اللّٰهُ مِنْ بَحِيْرَةٍ وَّلَا سَائِبَةٍ وَلَا وَصِيْلَةٍ وَلَا حَامٍ وَ اِذْ قَالَ اللّٰهُ يَقُوْلُ قَالَ اللّٰهُ وَ اِذْ هٰهُنَا صِلَةٌ اَلْمَائِدَةُ اَصْلُهَا مَفْعُوْلَةٌ كَعِيْشَةٍ رَّاضِيَةٍ وَ تَطْلِيْقَةٍ بَائِنَةٍ وَالْمَعْنٰى مِيْدَ بِهَا صَاحِبُهَا مِنْ خَيْرٍ يُقَالُ مَادَنِىْ يَمِيْدُنِىْ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ مُتَوَفِّيْكَ مُمِيْتُكَ.

اولیږي.

باب ۲۰۷: آیت: ما جعل الله من بحیرة ولا سائبة: د الله تعالي قول: الله بحیره، سائبه، وصیله او حام جائز کړي نه دي. د دے تفسیر. "اذ قال الله" کښې "یقول" معنې مستقبل د پاره دي. او "اذ" زائد دے "مائده" کښې مائده اسم فاعل په معني د مفعول دے "راضیة" (عیشة راضیة) کښې د مرضیه معني مراد دي. او "بائنة" هم په معني د مفعول دے. ابن عباسؓ وائي "متوفیک" معني دي، زۀ تاته مرګ در کونکے یم.

۶۰۸: حَدَّثَنَا مُوْسَى بْنُ اِسْمَاعِيْلَ حَدَّثَنَا اِبْرَاهِيْمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ صَالِحِ بْنِ كَيْسَانَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ قَالَ الْبَحِيْرَةُ الَّتِىْ يُمْنَعُ دَرُّهَا لِلطَّوَاغِيْتِ فَلَا يَحْلُبُهَا اَحَدٌ مِنَ النَّاسِ وَالسَّائِبَةُ كَانُوْا يُسَيِّبُوْنَهَا لِاٰلِهَتِهِمْ لَا يُحْمَلُ عَلَيْهَا شَيْءٌ قَالَ وَ قَالَ اَبُوْ هُرَيْرَةَؓ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَاَيْتُ عَمْرَو بْنَ عَامِرِ الْخُزَاعِيَّ يَجُرُّ قُصْبَهُ فِى النَّارِ كَانَ اَوَّلَ مَنْ سَيَّبَ السَّوَائِبَ وَالْوَصِيْلَةُ النَّاقَةُ الْبِكْرُ تُبَكِّرُ فِىْ اَوَّلِ نِتَاجِ الْاِبِلِ ثُمَّ تُثَنِّىْ بَعْدُ بِاُنْثٰى وَ كَانُوْا يُسَيِّبُوْنَهَا لِطَوَاغِيْتِهِمْ اِنْ وَصَلَتْ اِحْدٰهُمَا بِالْاُخْرٰى لَيْسَ بَيْنَهُمَا ذَكَرٌ وَالْحَامُ فَحْلُ الْاِبِلِ يَضْرِبُ الضِّرَابَ الْمَعْدُوْدَ فَاِذَا قَضٰى

۶۰۸: موسي بن اسماعیل. ابراهیم بن سعد. صالح بن کیسان. ابن شهاب. حضرت سعید بن مسیب نه روایت کوي، د هغۀ بیان دے بحیره هغې اُوښې ته وائي، چه هغه به کفارو د بو بُت نذر کړله، او آزاده به ئے پریښودله، او هیڅ کار به ئے ترے نۀ آخستلو. ابن مسیب وائي، حضرت ابوهریرهؓ اُووے، رسول الله صلي الله علیه وسلّم ارشاد اوفرمائیلو، ما عمرو بن عامر خزاعي دوزخ کښې اولید، چه سوزیدلو، د هغۀ کولمے بهرته راوتلې وې، او هغه هغۀ راښکلے. دا هغه سړے دے، چه هغه د ټولونه مخکښې د بُتانو په نوم اُوښه پریښې وه. او وصیله هغې اُوښې ته وائي، چه په اول او دویم ځل ماده (ښخه) راوړي او هغه د بُت په نوم پریږدي (یعني متصل دوه ځله ښخه اُوښه راوړي، چه د هغې مینځ کښې نر نۀ وي) او حام هغې ته وائي، چه هغې د پاره به کفارو ونیلے، که خمونږ د اُوښے لس یا شل

ضرابه و دعوة للطواغيت و الحفوة من الحمل فلم يحمل عليه شيءٌ و سموة الحامي و قال ابو اليمان اخبرنا شعيب عن الزهري سمعت سعيدا قال يخبره بهذا قال و قال ابو هريرة سمعت النبي صلى الله عليه وسلم نحوه و رواه ابن الهاد عن ابن شهاب عن سعيد عن ابي هريرة سمعت النبي صلى الله عليه وسلم.

(مقرره تعداد) بچي بيدا شي نو مونږ د پاره به وي، او كه زيات وي نو خمونږ د بتانو به وي. بيا چه به زيات شو، نو هغه به ئي د بتانو په نوم پريښودل، او هغې نه به ئي هيڅ كار نه اخستلو. د بخاري بيان دے چه دا حديث ابواليمان په واسطه د شعيب هغه د زهري نه، هغه د سعيد بن مسيب نه بيان كړے دے. هغه اووے، ابوهريره رضي الله تعالى عنه وائي ما د نبي صلي الله عليه وسلم نه واوريدل.

۶۰۹ : حدثني محمد بن ابي يعقوب ابو عبد الله الكرماني حدثنا حسان بن ابراهيم حدثنا يونس عن الزهري عن عروة ان عائشة قالت قال رسول الله صلى الله عليه وسلم رايت جهنم يحطم بعضها بعضا و رايت عمروا يجر قصبه وهو اول من سيب السوائب.

۶۰۹ : محمد بن ابي يعقوب. ابو عبدالله الكرماني. حسان بن ابراهيم. يونس. زهري. عروه. بي بي عائشے نه روايت كوي: ذ هغے بيان دے، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل، ما دوزخ اُوليد، چه بعضو حصو ئے بعضے حصے خوړلے، او ما هغے كښ عمرو بن لحي اوليد، چه خپلے كولمے ئے راښكلے ذ تولونه مخكښ هغه ذ بتانو په نوم سانډ پريښے وو. (د سائبے رسم ئے ايجاد كړے وو).

باب۲۰۸ : قوله و كنت عليهم شهيدا ما دمت فيهم فلما توفيتني كنت انت الرقيب عليهم و انت على كل شيءٍ شهيد.

باب۲۰۸ : آيت: و كنت عليهم شهيدا ما دمت فيهم: ذ الله تعالى قول، زه په هغوئ گواه ووم، څو پورے چه زه هغوي كښ ووم، او هر كله چه تا زه اوچت كړم نو ذ هغوي نگهبان او گواه ته ئې، او ته هر څيز وينے گورے.

۶۱۰ : حدثنا ابو الوليد حدثنا شعبة اخبرنا المغيرة بن

۶۱۰ : ابوالوليد. شعبه. مغيره بن نعمان. سعيد بن جبير. حضرت ابن عباس نه روايت كوي:

النُّعْمَانِ قَالَ سَمِعْتُ سَعِيْدَ بْنَ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ خَطَبَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ اِنَّكُمْ مَحْشُوْرُوْنَ اِلَى اللّٰهِ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا ثُمَّ قَالَ كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُعِيْدُهُ وَعْدًا عَلَيْنَا اِنَّا كُنَّا فَاعِلِيْنَ اِلٰى اٰخِرِ الْاٰيَةِ ثُمَّ قَالَ اَلَا وَ اِنَّ اَوَّلَ الْخَلَائِقِ يُكْسٰى يَوْمَ الْقِيَامَةِ اِبْرٰهِيْمُ اَلَا وَ اِنَّهُ يُجَآءُ بِرِجَالٍ مِنْ اُمَّتِي فَيُؤْخَذُ بِهِمْ ذَاتَ الشِّمَالِ فَاَقُوْلُ يَا رَبِّ اُصَيْحَابِيْ فَيُقَالُ اِنَّكَ لَا تَدْرِيْ مَا اَحْدَثُوْا بَعْدَكَ فَاَقُوْلُ كَمَا قَالَ الْعَبْدُ الصَّالِحُ وَ كُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا مَا دُمْتُ فِيْهِمْ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِيْ كُنْتَ اَنْتَ الرَّقِيْبَ عَلَيْهِمْ فَيُقَالُ اِنَّ هٰؤُلَاءِ لَمْ يَزَالُوْا مُرْتَدِّيْنَ عَلٰى اَعْقَابِهِمْ مُنْذُ فَارَقْتَهُمْ.

د هغهٔ بيان دے. حضورﷺ خپله خطبه كښې اوفرمائيل اے خلقو! تاسو به اللّٰه تعالى طرف ته پښې ابله پښې، بربنډ بدن او ناسنته پاسولے شئے. بيا حضورﷺ دا آيت تلاوت كړلو: كما بدأنا اول خلق الخ يعني كوم حال كښې چه ئے تاسو پيدا كړے ئے، په هغے حال كښې د قيامت په ورځ به مو اُوچتوي (پاسوي) د هغې وعدې مطابق چه مونږ كړے ده. او مونږ ددے كار كونكي يو. دے نه پس ئے اوفرمائيل. د ټولونه مخكښې به حضرت ابراهيمؑ ته لباس واغستولے شي، بيا به څو سړي خما د اُمت راوستے شي، او فرښتې به هغوي دوزخ ته بوځي، نو زهٔ به عرض اوكړم، اے ربه، دا خو خما اُستيان دي. اللّٰه تعالى به اوفرمائي. او، خو تاته نهٔ دي معلومه، چه دوي ستانه پس څهٔ څهٔ كارونه اوكړل، هغه وخت به زهٔ د حضرت عيسٰي په شان عرض اوكړم: وكنت عليهم شهيدًا مادمت فيهم: آخر آيت پورے. بيا به ارشاد باري اوشي، دا هغه خلق دي، چه ستا جُدا كيدو سره د دين نه كرخيدلي وو.

## بَابٌ ٢٠٩ : قَوْلُهٗ اِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَاِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَ اِنْ تَغْفِرْلَهُمْ فَاِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ.

## باب ٢٠٩ : آيت: اِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَاِنَّهُمْ عِبَادُكَ:

د اللّٰه تعالى قول، كه تهٔ دوي له عذاب وركړے، نو دا ستا بنديان دي، او كه ته ئے معاف كړے، نو تهٔ غالب او دانا ئے.

٤١١٢ : حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيْرٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا الْمُغِيْرَةُ بْنُ النُّعْمَانِ قَالَ حَدَّثَنِيْ سَعِيْدُ بْنُ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّكُمْ

٤١١٢ : محمد بن كثير. سفيان. مغيره بن نعمان. سعيد بن جبير. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، د هغهٔ بيان دے، رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلم اوفرمائيل، اے خلقو، تاسو به د قيامت په ورځ اللّٰه تعالي طرف ته پاسولے شئے.

مَحْشُوْرُوْنَ وَ اِنَّ نَاسًا يُؤْخَذُ بِهِمْ ذَاتَ الشِّمَالِ فَاَقُوْلُ كَمَا قَالَ الْعَبْدُ الصَّالِحُ وَ كُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا مَادُمْتُ فِيْهِمْ اِلٰى قَوْلِهٖ اِلْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ.

بيا به تاسو كښې څه خلق دوزخ كښې واچولې شي، دغه وخت به زهٔ د حضرت عيسیٰ په شان هغه اووايم، څهٔ چه هغهٔ وئيلې وو، چه زهٔ په دوي ګواه ووم، څو پورې چه زهٔ دوي كښې ووم. العزيز الحكيم پورې.

# سُوْرَةُ الْاَنْعَامِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فِتْنَتَهُمْ مَعْذِرَتَهُمْ مَعْرُوْشَاتٍ مَا يُعْرَشُ مِنَ الْكَرْمِ وَ غَيْرِ ذٰلِكَ، حَمُوْلَةً مَا يُحْمَلُ عَلَيْهَا، وَ لَلَبَسْنَا لَشَبَّهْنَا، يَنْأَوْنَ يَتَبَاعَدُوْنَ، تُبْسَلُ تُفْضَحُ، اُبْسِلُوْا اُفْضِحُوْا بَاسِطُوْا اَيْدِيْهِمُ الْبَسْطُ الضَّرْبُ اِسْتَكْثَرْتُمْ ثُمَّ اَضْلَلْتُمْ كَثِيْرًا، ذَرَاَ مِنَ الْحَرْثِ، جَعَلُوْا لِلّٰهِ مِنْ ثَمَرَاتِهِمْ وَمَالِهِمْ نَصِيْبًا وَ لِلشَّيْطَانِ وَالْاَوْثَانِ نَصِيْبًا اَكِنَّةٌ وَاحِدُهَا كِنَانٌ، اَمَّا اشْتَمَلَتْ يَعْنِيْ هَلْ تَشْتَمِلُ اِلَّا عَلٰى ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى فَلِمَ تُحَرِّمُوْنَ بَعْضًا وَ تُحِلُّوْنَ بَعْضًا مَسْفُوْحًا مُهْرَاقًا صَدَفَ اَعْرَضَ اُبْلِسُوْا اُوْيِسُوْا وَ اُبْسِلُوْا اُسْلِمُوْا سَرْمَدًا

# دَ سورۀ انعام تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

ابن عباسؓ وائي، د "فتنتهم" معني عذر او بهانه "مَعْرُوْشَاتٍ" هغه زيلئې چه ديوالونو او څپرونو باندې خوريږي، لكه انګور وغيره. "حمولة" هغه ځناور چه بوج پرې اچولې شي يعني باردار. "للبسنا" معني مونږ به شبه اُوغرځوو. "ينأون" معني لرې اوسيږي. "تبسل" معني رسوا او خوار كړې شي، "تبسلوا" هلاكت كښې اوغرځولې شو. 'باسطوا ايديهم" خپل لاس به ور اُوږدهٔ كوي. "بسط" معني وهل. "استكثرتم" تا ډير انسان ګمراه كړل. "ذرأ من الحرث" يعني هغوي خپلو مالونو او ميوو كښې يوه حصه خو دَ اللّٰه دَ پاره اوګرځوله او بله حصه ئې خپلو بُتانو دَ پاره مقرر كړله. "اكنة" معني پرده. دا دَ كنان جمع ده. "اما اشتملت" يعني دَ نر او ماده نه سِوا په بل جنس مشتمل نهٔ وي، بيا ولې تاسو يو حلال او بل حرام ګرځوئې. "مسفوحًا" بهيدونكې "صَدَفَ" هغې نه اوګرځيدل. "اُبلسوا" نااميده شو "ابسلوا" ګير شولو. هلاكت ته حواله كړې شو "سرمدًا" هميشه قائم پاتې كيدونكې. "استهوته" هغه ئې اوغرځولو، "تمترون" تاسو شبه كوئې. "وقر" په

ذِبْحًا اسْتَهْوَتْهُ اَضَلَّتْهُ تَمْتَرُوْنَ تَشُكُّوْنَ وَقْرٌ صَمَمٌ وَ اَمَّا الْوِقْرُ الْحَمْلُ اَسَاطِيْرُ وَاحِدُهَا اُسْطُوْرَةٌ وَّاَسْطَارَةٌ وَهِيَ التُّرَّهَاتُ اَلْبَاْسَاءُ مِنَ الْبَاْسِ وَ يَكُوْنُ مِنَ الْبُؤْسِ جَهْرَةً مُعَايَنَةً الصُّوَرُ جَمَاعَةُ صُوْرَةٍ كَقَوْلِهِ سُوْرَةٌ وَّ سُوَرٌ مَلَكُوْتٌ مُلْكٌ مِثْلُ رَهَبُوْتٌ خَيْرٌ مِنْ رَحَمُوْتٍ وَّ يَقُوْلُ تُرْهَبُ خَيْرٌ مِنْ اَنْ تُرْحَمَ جَنَّ اَظْلَمَ يُقَالُ عَلَى اللّٰهِ حُسْبَانُهُ اَيْ حِسَابُهُ وَ يُقَالُ حُسْبَانًا مَرَامِيَ وَ رُجُوْمًا لِلشَّيَاطِيْنِ مُسْتَقَرٌّ فِي الصُّلْبِ وَ مُسْتَوْدَعٌ فِي الرَّحِمِ اَلْقِنْوُ الْعِذْقُ وَالْاِثْنَانِ قِنْوَانٌ وَالْجَمَاعَةُ اَيْضًا قِنْوَانٌ مِثْلُ صِنْوٍ وَ صِنْوَانٍ.

معني د ذباح "صم" معني بهرا پن كونړ توب "حمل" په معنى د وزن. "اساطير" بے سنده خبرے چه د هغے واحد "اسطورة" او "اسطارة" بمعني قصه وغيره "الباساء" محتاجي او سختي "باس" او "بؤس" معني محتاجي او سختي. "جهرة" مخامخ روبرو. "الصور" صورتونه څنګه چه صور. "سورة" سورتونه څنګه چه سور. "ملكوت" مطلب دے بادشاهت. "رهبوت" ډيره ويره. "رحموت" مهرباني، او ونيلے شي، چه ستا ويرول په تا د مهرباني كولو نه بهتر دي. "جنَّ" د شپے تيارهٔ په هغهٔ خوره شوله. "حسبانا" معني حسابًا. او د حسبان معني هم دغه دي. او "حسبان" معني د شيطان په لير وهلو هم دي. "مستقر" مطلب دے، د اوسيدو ځائے. "صلب" په معنى د شا. "مستودع" د ښځے رحم. "القنو" غنچک. وږے. د دے تثنيه او جمع "قنوان" دے. او دغه شان "صنو" جمع "صنوان" ده يعني جوړے يو ځائے شوے اُونے.

## بَابٌ ۲۱۰: قَوْلُهُ وَ عِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا اِلَّا هُوَ.

باب ۲۱۰: آيت: وَ عِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا اِلَّا هُوَ: د الله تعالى قول، د غيب خزانے هغه سره دي، په هغے بے د خدايه بل څوک نهٔ پوهيږي.

۴۱۲۲: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيْزِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا اِبْرٰهِيْمُ بْنُ سَعْدٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ اَبِيْهِ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ خَمْسٌ اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَ يُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَ يَعْلَمُ مَا فِي الْاَرْحَامِ

۴۱۲۲: عبدالعزيز بن عبدالله. ابراهيم بن سعد. ابن شهاب. سالم بن عبدالله. حضرت عبدالله بن عمرؓ نه روايت كوي، د هغهٔ بيان دے، حضورؐ اوفرمائيل. د غيب پنځه خزانے دي، چه هغه سوا د خدائے نه چاته نهٔ وي معلومے (۱) د قيامت علم (۲) د باران علم، چه كله به كيږي (۳) رحم كښې څهٔ دي نر يا ماده (۴) صبا به

وَمَا تَدْرِيْ نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِيْ نَفْسٌ بِاَيِّ اَرْضٍ تَمُوْتُ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ خَبِيْرٌ.

څهٔ کوي (۵) مرګ به کوم ځائے او کله راځي' بیشکه اللّٰه تعالیٰ به هر څهٔ پوهیدونکے او خبردار دے.

باب ۲۱۱ : قَوْلِهٖ قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلٰى اَنْ يَّبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّنْ فَوْقِكُمْ الْاٰيَةَ يَلْبِسَكُمْ يَخْلِطَكُمْ مِنَ الْاِلْتِبَاسِ يَلْبِسُوْا يَخْلِطُوْا شِيَعًا فِرَقًا.

باب ۲۱۱ : آیت: قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلٰى اَنْ يَّبْعَثَ عَلَيْكُمْ: دَ اللّٰه تعالیٰ قول' ته ورته اووایه' چه اللّٰه په دے خبره قادر دے' چه په تاسو دَ پاسه نه عذاب نازل کړي' آخر پورے. "یلبسکم" معنې نه وتلے دے. "شیعًا" ډلے ډلے' فِرقے فِرقے.

۶۱۳ : حَدَّثَنَا اَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ دِيْنَارٍ عَنْ جَابِرٍ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلٰى اَنْ يَّبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّنْ فَوْقِكُمْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَعُوْذُ بِوَجْهِكَ قَالَ اَوْ مِنْ تَحْتِ اَرْجُلِكُمْ قَالَ اَعُوْذُ بِوَجْهِكَ اَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَّ يُذِيْقَ بَعْضَكُمْ بَأْسَ بَعْضٍ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰذَا اَهْوَنُ اَوْ اَيْسَرُ.

۶۱۳ : ابوالنعمان. حماد بن زید. عمرو بن دینار. حضرت جابر بن عبداللّٰه نه روایت کوي' دَ هغهٔ بیان دے' کوم وخت چه دا آیت: قل هو القادر علىٰ ان يّبعث عليكم عذابًا الخ نازل شو' نو حضورؐ ارشاد اوفرمائیلو: اعوذ بوجهک الخ: زهٔ ستا د ذات پناه اخلم' یعني دَ هغے عذاب په حقله حضورؐ معافي اوغبتله. بیا اللّٰه تعالیٰ ارشاد اوفرمائیلو: او یلبسکم شیعًا الخ: نو حضورؐ اوفرمائیل' او دا دَ دے نه آسان دے' چه په هغوي دا عذاب مسلط کړے شي.

باب ۲۱۲ : قَوْلِهٖ وَلَمْ يَلْبِسُوْا اِيْمَانَهُمْ بِظُلْمٍ.

باب ۲۱۲ : آیت: وَلَمْ يَلْبِسُوْا اِيْمَانَهُمْ بِظُلْمٍ: دَ اللّٰه تعالیٰ قول' څوک چه ایمان راوړي' او خپل ایمان ظلم سره ګډوډ نهٔ کړي.

۶۱۴ : حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا ابْنُ اَبِيْ عَدِيٍّ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ اِبْرٰهِيْمَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ وَلَمْ يَلْبِسُوْا

۶۱۴ : محمد بن بشار. ابن ابي عدي. شعبه. سلیمان. ابراهیم. علقمه. حضرت عبداللّٰه بن مسعود نه روایت کوي' کوم وخت چه دا آیت نازل شو (ولم یلبسوا ایمانهم بظلم) نو د حضورؐ صحابهؓ و عرض اوکړ'

اِيْمَانَهُمْ بِظُلْمٍ قَالَ اَصْحَابُهُ وَ اَيُّنَا لَمْ يَظْلِمْ فَنَزَلَتْ اِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ.

مونږ کښې داسې څوک دے' چه هغهٔ ظلم نهٔ وي کړے' نو دے نه پس دا آيت نازل شولو: اِنَّ الشِّرْکَ لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ: يعني دَ ظلم نه مراد شرک دے.

باب ۲۱۳: قَوْلِهٖ وَ يُوْنُسَ وَلُوْطًا وَ كُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى الْعٰلَمِيْنَ.

باب ۲۱۳: آيت: وَ يُوْنُسَ وَ لُوْطًا وَ كُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى الْعٰلَمِيْنَ: دَ الله تعالٰي قول' مونږ يونس' لوط او ټولو انبياؤ ته په تمام عالم فضيلت ورکړے دے.

۶۱۵: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا ابْنُ مَهْدِيٍّ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ اَبِي الْعَالِيَةِ قَالَ حَدَّثَنِي ابْنُ عَمِّ نَبِيِّكُمْ يَعْنِي ابْنَ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا يَنْبَغِيْ لِعَبْدٍ اَنْ يَقُوْلَ اَنَا خَيْرٌ مِنْ يُوْنُسَ بْنِ مَتّٰى.

۶۱۵: محمد بن بشار. عبدالرحمٰن بن مهدي. شعبه. قتاده. ابو العاليه. حضرت ابن عباسؓ نه روايت کوي' دَ هغهٔ بيان دے' رسول الله صلي الله عليه وسلّم ارشاد اوفرمائيلو' هيڅ سړي دَ پاره دا مناسب نهٔ دي' چه هغه دا اووائي' چه زهٔ (محمدؐ) دَ يونس بن متي نه بهتر يم.

۶۱۶: حَدَّثَنَا اٰدَمُ بْنُ اَبِيْ اِيَاسٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ اَخْبَرَنَا سَعْدُ بْنُ اِبْرٰهِيْمَ قَالَ سَمِعْتُ حُمَيْدَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا يَنْبَغِيْ لِعَبْدٍ اَنْ يَقُوْلَ اَنَا خَيْرٌ مِنْ يُوْنُسَ بْنِ مَتّٰى.

۶۱۶: آدم. ابن ابي اياس. شعبه. سعد بن ابراهيم. حميد بن عبدالرحمٰن بن عوف. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت کوي' دَ هغهٔ بيان دے' حضورؐ ارشاد اوفرمائيلو' هيڅ بنده دَ پاره دا مناسب نهٔ دي' چه هغه ما دَ يونس بن متي نه افضل اوګڼړي.

باب ۲۱۴: قَوْلِهٖ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ فَبِهُدٰىهُمُ اقْتَدِهْ.

باب ۲۱۴: آيت: اُولٰٓئِکَ الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ فَبِهُدٰىهُمُ اقْتَدِهْ: دَ الله تعالٰي ارشاد' چه دے نبيانو ته الله تعالٰي هدايت ښېلے وو' اے رسوله' ته هم د هغوی پیروي کوه.

۶۱۷: حَدَّثَنِيْ اِبْرٰهِيْمُ بْنُ مُوْسٰى اَخْبَرَنَا هِشَامٌ اَنَّ ابْنَ جُرَيْجٍ اَخْبَرَهُمْ قَالَ

۶۱۷: ابراهيم بن موسٰي. هشام. ابن جريج. سليمان احول. مجاهد نه روايت کوي' هغهٔ اووے' ما دَ حضرت ابن عباسؓ نه تپوس اوکهٔ' چه سوره صٓ کښې

اَخۡبَرَنِیۡ سُلَیۡمَانُ الۡاَحۡوَلُ اَنَّ مُجَاهِدًا اَخۡبَرَهٗ اَنَّهٗ سَاَلَ ابۡنَ عَبَّاسٍ اَفِیۡ صٓ سَجۡدَةٌ فَقَالَ نَعَمۡ ثُمَّ تَلَا وَ وَهَبۡنَا اِلٰی قَوۡلِهٖ فَبِهُدٰهُمُ اقۡتَدِهۡ ثُمَّ قَالَ هُوَ مِنۡهُمۡ زَادَ یَزِیۡدُ بۡنُ یُوۡسُفَ عَنِ الۡعَوَّامِ عَنۡ مُجَاهِدٍ قُلۡتُ لِابۡنِ عَبَّاسٍ فَقَالَ نَبِیُّکُمۡ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَسَلَّمَ مِمَّنۡ اُمِرَ اَنۡ یَقۡتَدِیَ بِهِمۡ.

سجده شته؟ هغه اوفرمائیل، او، شته. بیائے دا آیت اولوست، اولٰئک الذین الخ: یعني دَ انبیاؤ پیروي ضروري ده، هغوي کښې حضرت داوُدؑ دے، چه دَ هغهٔ دَ سجدے دے سورت کښې ذکر دے. دا حدیث یزید بن هارون او محمد بن عبید او سهل بن یوسف، عوام بن حوشب نه او هغه دَ مجاهد نه روایت کړے دے. ما دَ ابن عباسؓ نه معلومه کړه، هغهٔ اوفرمائیل، پیغمبر صلي الله علیه وسلّم ته هم د مخکنو انبیاؤ دَ پیروئ حکم ورکړے شوے دے.

## بَابُ ۲۱۵: قَوۡلِهٖ وَ عَلَی الَّذِیۡنَ هَادُوۡا حَرَّمۡنَا کُلَّ ذِیۡ ظُفُرٍ وَّمِنَ الۡبَقَرِ وَالۡغَنَمِ حَرَّمۡنَا عَلَیۡهِمۡ شُحُوۡمَهُمَا

الۡاٰیَةَ وَ قَالَ ابۡنُ عَبَّاسٍؓ کُلَّ ذِیۡ ظُفُرٍ الۡبَعِیۡرُ وَالنَّعَامَةُ الۡحَوَایَا الۡمَبۡعَرُ وَ قَالَ غَیۡرُهٗ هَادُوۡا صَارُوۡا یَهُوۡدًا وَ اَمَّا قَوۡلُهٗ هُدۡنَا تُبۡنَا هَائِدٌ تَائِبٌ.

باب ۲۱۵: آیت: وَ عَلَی الَّذِیۡنَ هَادُوۡا حَرَّمۡنَا کُلَّ ذِیۡ ظُفُرٍ: دَ اللّٰه تعالٰي قول، کوم خلق چه یهودیان شو، مونږ په هغوي نوک دار ځناور حرام کړل. او دَ غوا چیلئے وازده (چربي) مو پرے حرام کړله، آخر آیت پورے. حضرت ابن عباسؓ وائي، چه: ذي ظفر: نه شتر مرغ او اوښ مراد دے. او دَ "حوایا" مطلب دے، هغه کولمے چه هغے کښې پچے (مینګنې) وي. او دَ بعضو وینا ده، چه "هادوا" مطلب یهودیان شو. او سورهٔ اعراف کښې دَ دے معني دي: توبه کونکي.

۶۱۸: حَدَّثَنَا عَمۡرُو بۡنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا اللَّیۡثُ عَنۡ یَزِیۡدَ بۡنِ اَبِیۡ حَبِیۡبٍ قَالَ عَطَاءٌ سَمِعۡتُ جَابِرَ بۡنَ عَبۡدِ اللّٰهِ سَمِعۡتُ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَسَلَّمَ قَاتَلَ اللّٰهُ الۡیَهُوۡدَ لَمَّا حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَیۡهِمۡ شُحُوۡمَهُمَا جَمَلُوۡهُ ثُمَّ بَاعُوۡهُ فَاَکَلُوۡهَا وَ قَالَ اَبُوۡ عَاصِمٍ حَدَّثَنَا یَزِیۡدُ کَتَبَ اِلَیَّ عَطَاءٌ سَمِعۡتُ

۶۱۸: عمرو بن خالد. لیث. یزید بن ابي حبیب. عطاء. حضرت جابر بن عبدالله نه روایت کوي، هغهٔ اووے، ما دَ رسول الله صلي الله علیه وسلّم نه واوریدل، فرمائیل ئے، الله تعالٰي دے یهود برباد کړي، هر کله چه وازده (چربي) هغوي دَ پاره حرام کړے شوه، نو هغوي ویلے کړه او خرڅه ئے کړه، او دَ هغے قیمت ئے وصول که، او هغے ته ئے تیل ونیل شروع کړل، او دا شان ئے هغهٔ اوخوړله (دویم سند) ابو عاصم، عبدالحمید، یزید،

جَابِرًا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

عطاء، حضرت جابر نبي صلي الله عليه وسلّم نه دا حديث روايت كوي.

بَابُ ۲۱۶: قَوْلُهُ وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ.

باب ۲۱۶: آیت: وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ ذ اللّٰه تعالٰي قول، فحش څيزونو ته مه نزدې كيږئ، كوم چه ظاهر دي او كوم چه باطن دي (يعني څرګند او پټ يو فحش كار ته هم نزدې مه ورځئ).

۶۱۹: حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ لَا أَحَدٌ أَغْيَرُ مِنَ اللّٰهِ وَلِذٰلِكَ حَرَّمَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَلَا شَيْءَ أَحَبُّ إِلَيْهِ الْمَدْحُ مِنَ اللّٰهِ وَلِذٰلِكَ مَدَحَ نَفْسَهُ قُلْتُ سَمِعْتَهُ مِنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ نَعَمْ قُلْتُ وَرَفَعَهُ قَالَ نَعَمْ وَكِيلٌ حَفِيظٌ، مُحِيطٌ بِهِ قُبُلًا جَمْعُ قَبِيلٍ وَالْمَعْنٰى أَنَّهُ ضُرُوبٌ لِلْعَذَابِ كُلُّ ضَرْبٍ مِنْهَا قَبِيلٌ زُخْرُفَ كُلُّ شَيْءٍ حَسَّنْتَهُ وَوَشَّيْتَهُ وَهُوَ بَاطِلٌ فَهُوَ زُخْرُفٌ وَحَرْثٌ حِجْرٌ حَرَامٌ وَكُلُّ مَمْنُوعٍ فَهُوَ حِجْرٌ مَحْجُورٌ وَالْحِجْرُ كُلُّ بِنَاءٍ بَنَيْتَهُ وَيُقَالُ لِلْأُنْثٰى مِنَ الْخَيْلِ حِجْرٌ وَيُقَالُ لِلْعَقْلِ حِجْرٌ وَحِجًى وَأَمَّا الْحِجْرُ فَمَوْضِعُ ثَمُودَ وَمَا حَجَّرْتَ عَلَيْهِ مِنَ الْأَرْضِ فَهُوَ حِجْرٌ وَمِنْهُ سُمِّيَ حَطِيمُ الْبَيْتِ حِجْرًا كَأَنَّهُ مُشْتَقٌّ مِنْ

۶۱۹: حفص بن عمر. شعبه. عمرو. ابو وائل. حضرت عبدالله بن مسعود نه روايت كوي، ذ هغهٔ بيان دې، اللّٰه تعالٰي نه زيات هيڅوک غير ناک نشته، دغه وجه ده، چه هغه تمامي ظاهر او باطن (پټ او څرګند) فحش څيزونه حرام كړي دي. او اللّٰه تعالٰي ذ ټولونه زيات تعريف خوښوي. دغه وجه ده، چه هغه خپل تعريف اوفرمائيلو، او مونږ ته ئې هم حكم راكړلو لكه الحمد للّٰه. عمرو بن مره وائي، ما چه ذ خپل استاذ ابو وائل نه دا حديث واوريدلو، نو ما اووې، آيا تاسو دا حديث د حضرت ابن مسعود نه آوريدلې دې، هغهٔ اووې، او، دې نه پس ما اووې، ذ دې سلسله رسول اكرم ته رسي، نو وې فرمائيل، او. بخاري وائي. د "وكيل" معني "حفيظ" او "محيط" دي. "قبلا" نه مراد هر قسم عذاب دې. "زخرف" معني دي بيكاره څيز، چه هغې ته ظاهري طور سره خوبصورته ونيلې شي. او "حرث حجر" كښې "حجر" معني ممنوع...... حرام، عمارت، ماده آس (مادہ گھوڑی) او د عقل دي. او "اصحاب حجر" كښې "حجر" نه مراد ذ قوم ثمود بستي ده، او ممنوعه علاقې ته هم ونيلې شي، او ذ خانه كعبې حطيم ته هم "حجر" ونيلې شي. حطيم په معني ذ

مَحْظُوْرٍ مِثْلُ قَتِيْلٍ مِنْ مَقْتُوْلٍ وَ اَمَّا حِجْرُ الْيَمَامَةِ فَهُوَ مَنْزِلٌ.

محظوم ده، څنګه چه "قتيل" ډَ "مقتول" په معنی کښې دے او "حجر اليمامه" ډَ يو مقام يا ډَ يو منزل نوم دے.

بَابٌ ٢١٧: قَوْلُهُ هَلُمَّ شُهَدَآءَ كُمْ لُغَةُ اَهْلِ الْحِجَازِ هَلُمَّ لِلْوَاحِدِ وَالْاِثْنَيْنِ وَالْجَمِيْعِ.

باب ٢١٧: هَلُمَّ شُهَدَآءَ كُمْ: ډَ الله تعالیٰ قول، تاسو خپل ګواهان راولئ. "هلم" ډَ اهل حجاز محاوره ده. واحد تثنيه او جمع ټولو ډَ پاره شي.

٦٢٠: حَدَّثَنَا مُوْسَى بْنُ اِسْمَاعِيْلَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ حَدَّثَنَا عُمَارَةُ حَدَّثَنَا اَبُوْ زُرْعَةَ حَدَّثَنَا اَبُوْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا فَاِذَا رَاٰهَا النَّاسُ اٰمَنَ مَنْ عَلَيْهَا فَذَاكَ حِيْنَ لَا يَنْفَعُ نَفْسًا اِيْمَانُهَا لَمْ تَكُنْ اٰمَنَتْ مِنْ قَبْلُ.

٦٢٠: موسیٰ بن اسماعيل. عبدالواحد. ابو زرعه. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت کوي، ډَ هغهٔ بيان دے، حضور صلي الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو، هغه وخت پورے به قيامت نهٔ راځي، څو پورے چه نمر ډَ مغرب نه طلوع نشي، بيا چه خلق دا اويني نو ټول به ايمان راوړي، څو هغه وخت به داسے وي، چه ډَ هغے وخت ايمان راوړل به هيڅ فائده نهٔ ورکوي، لکه چه فرمائيلے دي: لا ينفع نفسًا ايمانها لم تكن امنت من قبل آخر آيت پورے.

٦٢١: حَدَّثَنِيْ اِسْحٰقُ اَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ اَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ هَمَّامٍ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا فَاِذَا طَلَعَتْ وَرَاٰهَا النَّاسُ اٰمَنُوْا اَجْمَعُوْنَ وَ ذٰلِكَ حِيْنَ لَا يَنْفَعُ نَفْسًا اِيْمَانُهَا ثُمَّ قَرَاَ الْاٰيَةَ.

٦٢١: اسحٰق. عبدالرزاق. معمر. همام. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت کوي، ډَ هغهٔ بيان دے، حضورؐ ارشاد اوفرمائيلو، قيامت به هغے پورے نهٔ راځي، څو پورے چه نمر ډَ مغرب نه راونه خيژي. بيا دے حال ليدو سره به ټول خلق ايمان راوړي، څو دغه وخت به داسے وي چه مخکښې چا ايمان نهٔ وي راوړے نو ډَ دغے وخت ايمان به ورته هيڅ فائده ورنه کړے شي.

# سُوْرَةُ الْاَعْرَافِ

# ډَ سورهٔ اعراف تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَ رِيَاشًا الْمَالُ لَا

حضرت ابن عباسؓ والي چه "وريشا" کښې بعضے قران

يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ فِي الدُّعَاءِ وَ فِيْ غَيْرِهِ عَفَوْا كَثُرُوْا وَ كَثُرَتْ اَمْوَالُهُمْ اَلْفَتَّاحُ الْقَاضِيْ اِفْتَحْ بَيْنَنَا اقْضِ بَيْنَنَا نَتَقْنَا رَفَعْنَا اِنْبَجَسَتْ انْفَجَرَتْ مُتَبَّرٌ خُسْرَانٌ اٰسٰى اَحْزَنُ تَاْسَ تَحْزَنْ وَ قَالَ غَيْرُهُ مَا مَنَعَكَ اَنْ لَّا تَسْجُدَ يَخْصِفَانِ اَخَذَ الْخِصَافَ مِنْ وَرَقِ الْجَنَّةِ يُؤَلِّفَانِ الْوَرَقَ يَخْصِفَانِ الْوَرَقَ بَعْضَهُ اِلٰى بَعْضٍ سَوْاٰتِهِمَا كِنَايَةٌ عَنْ فَرْجَيْهِمَا وَ مَتَاعٌ اِلٰى حِيْنٍ هٰهُنَا اِلٰى الْقِيَامَةِ وَالْحِيْنُ عِنْدَ الْعَرَبِ مِنْ سَاعَةٍ اِلٰى مَالَا يُحْصٰى عَدَدُهَا الرِّيَاشُ وَالرِّيْشُ وَاحِدٌ وَهُوَ مَا ظَهَرَ مِنَ اللِّبَاسِ قَبِيْلُهُ جِيْلُهُ الَّذِيْ هُوَ مِنْهُمْ ادَّارَكُوْا اجْتَمَعُوْا وَ مَشَاقُّ الْاِنْسَانِ وَالدَّابَّةِ كُلُّهُمْ يُسَمّٰى سُمُوْمًا وَاحِدُهَا سَمٌّ وَ هِيَ عَيْنَاهُ وَ مَنْخِرَاهُ وَ فَمُهُ وَ اُذُنَاهُ وَ دُبُرُهُ وَ اِحْلِيْلُهُ غَوَاشٍ مَا غُشُّوْا بِهِ نُشُرًا مُتَفَرِّقَةً نَكِدًا قَلِيْلًا يَغْنَوْا يَعِيْشُوْا حَقِيْقٌ حَقٌّ اسْتَرْهَبُوْهُمْ مِنَ الرَّهْبَةِ تَلْقَفُ تَلْقَمُ طَائِرُهُمْ حَظُّهُمْ طُوْفَانٌ مِنَ السَّيْلِ وَ يُقَالُ لِلْمَوْتِ الْكَثِيْرِ الطُّوْفَانُ الْقُمَّلُ الْحُمْنَانُ يُشْبِهُ صِغَارَ الْحَلَمِ عُرُوْشٌ وَ عَرِيْشٌ بِنَاءٌ سُقِطَ كُلُّ مَنْ نَدِمَ فَقَدْ سُقِطَ فِيْ يَدِهِ الْاَسْبَاطُ قَبَائِلُ بَنِيْ

"رياشا" هم راغلے دے، چه ذ هغے معني ذ ريشا، دي، يعني مال. "معتدين" معني دا دي چه الله تعالٰي هغوي سره محبت نه کوي، چه دُعا کښ ذ حد نه زيات شي. "عفوًا" معني دي ذ مال زياتے. "فتاح" معني دي: فيصله کونکے، لکه: "افتح بيننا" څمونږ مينځ کښ فيصله اوکړه "نتقنا" معني دي: مونږ اوچت کړلو، "انبجست" معني دي: جاري شوے، يا، ختکيدے. "متبر" خساره، نقصان بيامندونکي. ذ "اسٰي" معني دي، غم او کرم. دے نه علاوه نور وائي "ما منعک ان لا تسجُدَ" کښ "لا" زائد دے، او معني ئے دے، کوم څيز ته ذ سجدے نه منع کړے. او "يخصفان" معني دي، چه آدمؑ او حواؑ ذ جنت په پانړو خپل شرم گاه پټ کړل. "مَتَاعٌ اِلٰى حين". کښ "حين". نه مراد قيامت دے. او "رياش" او "ريش" معني دي، لباس "قبيله" نه ذات واله مراد دي. "اداركوا" معني دي، ټول به يوځائے شي. "مسام" او "مَشَاق" معني ذ سوراخ (سوړے) دي لکه سترګه، غوږ، پوزه، او قبل او دُبر وغيره. "غواش" غلاف ته وائي. "نشرًا" معني دي متفرق. "لکدًا" معني قليل يعني لږ ذ "يغنوا" معني دي، ژوند ئے تير که. ذ "حقيق" معني دي، حق او ريښتيا. "استرهبوهم" رهبة معني دي، هغوي ئے اويرول. ذ "تلقف" معني دي، هغوي به نوړلے جوړه کړي. "طائر" معنے دي، قسمت، تقدير. "طوفان" معني دي، باران، مرګ. "قمل" سپږے. "اسباط" ذ بني اسرائيل قبائل. "يعدون" ذ شريعت ذ حد نه زيات شوے وو. "تعد" معني ذ حد نه تير دي. "شرعًا" معني دي ذ اوبو په سطح ظاهر. "بئيس" معني دي، ډير شديد.

اِسْرَآئِيْلَ يَعْدُوْنَ فِي السَّبْتِ يَتَعَدَّوْنَ لَهُ يَتَجَاوَزُوْنَ تَعْدُ تُجَاوِزْ شُرَّعًا شَوَارِعَ بَئِيْسٍ شَدِيْدٍ اَخْلَدَ قَعَدَ وَ تَقَاعَسَ سَنَسْتَدْرِجُهُمْ نَأْتِيْهِمْ مِنْ مَأْمَنِهِمْ كَقَوْلِهٖ تَعَالٰى فَاَتَاهُمُ اللّٰهُ مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوْا مِنْ جِنَّةٍ مِنْ جُنُوْنٍ فَمَرَّتْ بِهٖ اسْتَمَرَّ بِهَا الْحَمْلُ فَاَتَمَّتْهُ يَنْزَغَنَّكَ يَسْتَخِفَّنَّكَ طَيْفٌ مُلِمٌّ بِهٖ لَمَمٌ وَ يُقَالُ طَائِفٌ وَهُوَ وَاحِدٌ يَمُدُّوْنَهُمْ يُزَيِّنُوْنَ وَ خِيْفَةً خَوْفًا وَ خُفْيَةً مِنَ الْاِخْفَاءِ وَالْاٰصَالُ وَاحِدُهَا اَصِيْلٌ مَا بَيْنَ الْمَغْرِبِ اِلَى الْعَصْرِ كَقَوْلِهٖ بُكْرَةً وَّ اَصِيْلًا.

"اخلد إلى الارض" كيناستلو. وخت ئې تير كۀ، يعني پستۍ طرف ته خكته شو، او خواهش ئې او كۀ، چه هميشه به دلته يم. "سنستدرجهم" معني دي، مونږ به هغوي دَ امن دَ ځائے نه راولو. "جنة" ديوانګي. ليونتوب. "فمرت" معني دي هغې دَ خپلې خيټې موده پوره كړه. "ينزغنک" چه تا اوغلوي. "طائف" جمع "طيف" چه دَ هغې معني دي، مجمع، ګنړه، وغيره. "فاتاهم الله من حيث لم يحتسبوا" يعني دَ الله تعالٰي عذاب دَ هغې طرف نه راغې، دَ كوم ځائے نه چه هغوي ته دَ عذاب وهم او ګمان هم نه وو. "يمدونهم" هغه هغوي ته خوبصورته بنائي. "خيفة" "خوف" او "خفيه" دَ ټولو يو معني دي، يعني خوف او ويره. "اصال" جمع دَ "اصيل" ده، چه دَ هغې معني دي، مازيګر نه ماښامه پورې وخت، لكه دَ الله قول "بكرة و اصيلا".

**باب ۲۱۸ : قَوْلِهٖ عَزَّ وَ جَلَّ قُلْ اِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ.**

**باب ۲۱۸** : آيت: قُلْ اِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ: دَ الله تعالٰي قول، تۀ ورته اُووايه، چه خما رب فواحشات حرام كړې دي، هغه څرګند، وي يا پټ.

**۶۲۲** : حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ عَنْ اَبِيْ وَآئِلٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ قُلْتُ اَنْتَ سَمِعْتَ هٰذَا مِنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ نَعَمْ وَ رَفَعَهُ قَالَ لَا اَحَدَ اَغْيَرُ مِنَ اللّٰهِ فَلِذٰلِكَ حَرَّمَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَلَا اَحَدٌ اَحَبَّ اِلَيْهِ الْمِدْحَةُ مِنَ اللّٰهِ فَلِذٰلِكَ مَدَحَ نَفْسَهُ.

**۶۲۲** : سليمان بن حرب. شعبه. عمرو بن مره. ابو وائل. حضرت عبدالله بن مسعودؓ نه روايت كوي، دَ هغۀ بيان دې، دَ ټولو نه زيات عزت مند دَ الله ذات دې، دغه وجه ده چه هغۀ دَ بې حيائي كارونه، خواه څرګند وي يا پټ حرام كړې دي، او الله تعالٰي خپل تعريف دَ ټولو نه زيات خوښوي، په دې وجه هغۀ خپل تعريف كړې دې.

**باب ۲۱۹ : قَوْلِهٖ وَلَمَّا**

**باب ۲۱۹** : آيت: وَلَمَّا جَآءَ مُوْسٰى لِمِيْقَاتِنَا: دَ

جَآءَ مُوْسٰى لِمِيْقَاتِنَا وَ كَلَّمَهٗ رَبُّهٗ قَالَ رَبِّ اَرِنِيْٓ اَنْظُرْ اِلَيْكَ قَالَ لَنْ تَرَانِيْ وَلٰكِنِ انْظُرْ اِلَى الْجَبَلِ فَاِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهٗ فَسَوْفَ تَرَانِيْ فَلَمَّا تَجَلّٰى رَبُّهٗ لِلْجَبَلِ جَعَلَهٗ دَكًّا وَّ خَرَّ مُوْسٰى صَعِقًا فَلَمَّآ اَفَاقَ قَالَ سُبْحٰنَكَ تُبْتُ اِلَيْكَ وَ اَنَا اَوَّلُ الْمُؤْمِنِيْنَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ اَرِنِيْ اَعْطِنِيْ.

الله تعالي قول، كوم وخت چه موسيٰ خمونږ په ښودلے شوے وخت راغے، او ذ هغه رب هغه سره خبرے اوكړے، نو هغه اووے اے ربه، ماله قوت راكړے، چه زهٔ ستا طرف ته اوګورم، الله ورته اووے، ته كتلے نه شے، خو دے غر ته اوګوره، كه دے په خپل ځائے قائم پاتے شو، نو شايد چه تهٔ هم ما اوليدے شے. بيا چه الله په غر تجلّي اوغرځوله، نو هغه ټكړے ټكړے شو. او موسيٰ بيهوشه اوغرځيدلو، چه هوش كښ راغے، نو وے وئيل، تهٔ پاک ئے. زهٔ توبه كوم، او ورمبے ايمان راوړونكے يم ابن عباسؓ وائي. "اَرِنِيْ" نه مراد دا دے، ما په خپل ديدار مشرف كړے.

۴۲۳ : حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوْسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيٰى الْمَازِنِيِّ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ نِ الْخُدْرِيِّ قَالَ جَآءَ رَجُلٌ مِنَ الْيَهُوْدِ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ لُطِمَ وَجْهُهٗ وَ قَالَ يَا مُحَمَّدُ اِنَّ رَجُلًا مِنْ اَصْحَابِكَ مِنَ الْاَنْصَارِ لَطَمَ فِيْ وَجْهِيْ قَالَ اُدْعُوْهُ فَدَعَوْهُ قَالَ لِمَ لَطَمْتَ وَجْهَهٗ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنِّيْ مَرَرْتُ بِالْيَهُوْدِ فَسَمِعْتُهٗ يَقُوْلُ وَالَّذِيْ اصْطَفٰى مُوْسٰى عَلَى الْبَشَرِ فَقُلْتُ وَ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَ اَخَذَتْنِيْ غَضْبَةٌ فَلَطَمْتُهٗ قَالَ لَا تُخَيِّرُوْنِيْ مِنْ بَيْنِ الْاَنْبِيَآءِ فَاِنَّ النَّاسَ يُصْعَقُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَاَكُوْنُ

۴۲۳ : محمد بن يوسف. سفيان. عمرو بن يحيٰي مازني. ذ هغهٔ پلار. حضرت ابو سعيد خدريؓ نه روايت كوي، يو خل يو يهودي ذ حضور صلي الله عليه وسلّم خدمت كښ فرياد اوكهٔ، چه ستاسو يو صحابي زهٔ په مخ په څپيړه وهلے يم، او ذ هغے نښه راښكاره پرته ده. حضور صلي الله عليه وسلّم ورته اوفرمائيل، صحابي راوغواړئے. كوم وخت چه هغه راغے، نو حضورٌ ترے تپوس اوكهٔ، چه تا ولے دے په څپيړه وهلے دے. صحابي اووے، كوم وخت چه زهٔ د دے يهودي خوا كښ تير شوم، نو دهٔ وئيلے، قسم دے په هغه ذات چه هغهٔ موسيٰ عليه السلام له په ټولو انسانانو فضيلت وركړے دے. ما زړهٔ كښ سوچ اوكهٔ، چه دهٔ خو په ټاسوٌ هم موسيٰ افضل كړلو، ماته غصه راغله، او ما پرق وركړلو. حضورٌ ورته اوفرمائيل، ماله په نورو انبياؤ فضيلت مهٔ راكوئ، ځكه چه ذ قيامت په ورځ به ټول خلق بيهوشه شي، او بيا ذ

أَوَّلَ مَنْ يُفِيقُ فَإِذَا أَنَا بِمُوسٰى اٰخِذٌ بِقَائِمَةٍ مِنْ قَوَائِمِ الْعَرْشِ فَلَا أَدْرِيْ أَفَاقَ قَبْلِيْ أَمْ جُزِيَ بِصَعْقَةِ الطُّوْرِ.

تولونه مخکښ به زهٔ به هوش کښ راشم' نو زهٔ به اُووینم' چه حضرت موسیٰ دَ عرش پایه نیولے ولاړ دے. اوس زهٔ نشم وئیلے' چه هغه خما نه مخکښ هوش کښ راغے' یا بیهوشه شوے نهٔ وو.

بَابٌ ٢٢٠: قَوْلِهٖ اَلْمَنَّ وَالسَّلْوٰى.

باب ٢٢٠: آیت: اَلْمَنَّ وَالسَّلْوٰى: دَ الله تعالىٰ قول "من او سلوىٰ" یعني ترنجبین او بټیرې (مرزان).

٦٢٤: حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ عَنْ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ زَيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْكَمْأَةُ مِنَ الْمَنِّ وَمَاؤُهَا شِفَاءُ الْعَيْنِ.

٦٢٤: مسلم. شعبه. عبدالملک. عمرو بن حریث. حضرت سعید بن زید نه روایت کوي' ما دَ حضورؐ نه واوریدل چه کهنبي (خریړے) دَ منّ دَ قسم نه دے' خود' رو' دے او دَ دے اُوبه دَ سترګو دَ پاره فائده مندے دي.

بَابٌ ٢٢١: قَوْلِهٖ يٰٓأَيُّهَا النَّاسُ إِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ إِلَيْكُمْ جَمِيْعًا الَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهِ النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ الَّذِيْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَكَلِمٰتِهٖ وَاتَّبِعُوْهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ.

باب ٢٢١: آیت: يٰٓأَيُّهَا النَّاسُ إِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ إِلَيْكُمْ: دَ الله تعالىٰ قول' اے خلقو' زهٔ تاسو ټولوته رسول راغلے یم' دَ هغے الله دَ طرف نه' چه دَ هغهٔ حکومت زمکه او آسمان کښ دے. دَ هغهٔ نه سِوا هیڅوک معبود نشته' هغه ژوندي کول او مړهٔ کول کوي' تاسو په الله او دَ هغهٔ په رسول ایمان راوړئے' چه اُمي دے' او الله او دَ هغهٔ په خبرو یقین لري' دَ هغهٔ اطاعت کوئے' چه نیغه لار بیامومئے.

٦٢٥: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ وَمُوْسَى بْنُ هَارُوْنَ قَالَا حَدَّثَنَا الْوَلِيْدُ بْنُ مُسْلِمٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ الْعَلَاءِ بْنِ زَبْرٍ قَالَ حَدَّثَنِيْ بُسْرُ بْنُ عُبَيْدِ اللّٰهِ قَالَ حَدَّثَنِيْ أَبُوْ إِدْرِيْسَ الْخَوْلَانِيُّ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا الدَّرْدَاءِ يَقُوْلُ كَانَتْ

٦٢٥: عبدالله. سلیمان بن عبدالرحمٰن. موسیٰ بن هارون. ولید بن مسلم. عبدالله بن العلاء بن زبر. بسر بن عبیدالله. ابو ادریس خولاني. حضرت ابو داؤد نه روایت کوي' دَ هغهٔ بیان دے' دَ حضرت ابوبکرؓ او حضرت عمرؓ مینځ کښ بحث اوشو' نو حضرت ابوبکرؓ باندے حضرت عمرؓ غصه اوکړله' او حضرت عمرؓ لرے

بَيْنَ اَبُوْبَكْرٍ وَ عُمَرَ مُحَاوَرَةٌ فَاَغْضَبَ اَبُوْبَكْرٍ عُمَرَ فَانْصَرَفَ عَنْهُ عُمَرُ مُغْضَبًا فَاتَّبَعَهُ اَبُوْ بَكْرٍ يَسْأَلُهُ اَنْ يَسْتَغْفِرَ لَهُ فَلَمْ يَفْعَلْ حَتّٰى اَغْلَقَ بَابَهُ فِيْ وَجْهِهِ فَاَقْبَلَ اَبُوْ بَكْرٍ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَبُو الدَّرْدَاءِ وَ نَحْنُ عِنْدَهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَمَّا صَاحِبُكُمْ هٰذَا فَقَدْ غَامَرَ قَالَ وَ نَدِمَ عُمَرُ عَلٰى مَا كَانَ مِنْهُ فَاَقْبَلَ حَتّٰى سَلَّمَ وَ جَلَسَ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ قَصَّ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْخَبَرَ قَالَ اَبُو الدَّرْدَاءِ وَ غَضِبَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ جَعَلَ اَبُوْ بَكْرٍ يَقُوْلُ وَاللّٰهِ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ لَاَنَا كُنْتُ اَظْلَمَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ اَنْتُمْ تَارِكُوْلِيْ صَاحِبِيْ اِنِّيْ قُلْتُ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا فَقُلْتُمْ كَذَبْتَ وَ قَالَ اَبُوْ بَكْرٍ صَدَقْتَ قَالَ اَبُوْ عَبْدِ اللّٰهِ غَامَرَ سَبَقَ بِالْخَيْرِ.

روان شول، حضرت ابوبکرؓ هم وروسته روان شو. او معافي لپاره اُوخوښتله، خو حضرت عمرؓ معاف نه کړلو، او د کور دروازه ئې بنده کړه. حضرت ابوبکرؓ رسول الله صلي الله عليه وسلم له راغے. حضرت ابو درداء وائي، مونږ هم حضور سره ناست وو، نو حضور صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل. دا ستاسو دوست چا سره جنګ کړے راروان دے. بيا حضرت عمرؓ هم راغے او تول قصه ئې بيان کړله، او نادم شولو. رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل، تا ولې معاف نه کړلو. او رسول الله صلي الله عليه وسلم په غصه شو. حضرت ابوبکرؓ اووے، يا رسول الله، قسم په خدائے قصوروار زه يم، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل څما دا صحابي څما نه جُدا کول غواړئ. حضورؐ دا خبره دوه ځله اوفرمائيله. بيائے ارشاد اوفرمائيلو، هر کله چه ما دا ويلي وو، چه: يا ايها الناس اني رسول الله اليکم جميعًا: الخ يعني اے خلقو، زه تاسو ټولو خلقو ته د الله رسول راغلے يم، نو تاسو ټولو زه دروغجن اوګڼړلم، او صرف يو ابوبکرؓ وو، چه هغه څما تصديق کړے وو. ابو عبدالله امام بخاريؒ وائي غوک چه جنګ اوکړي، او مخکښ معافي اوغواړي، هغه نيکي کولو کښې سبقت اوکړه.

## باب ۲۲۲: قَوْلِهٖ وَ قُوْلُوْا حِطَّةٌ.

## باب ۲۲۲: آيت: وَ قُوْلُوْا حِطَّةٌ. دَ الله تعالٰي قول، چه: مونږ ته معافي اوکړے.

۴۲۲۶: حَدَّثَنَا اِسْحٰقُ اَخْبَرَنَا

۴۲۲۶: اسحٰق. عبدالرزاق. معمر. همام بن منبه.

عَبْدُ الرَّزَّاقِ اَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ اَنَّهُ سَمِعَ اَبَا هُرَيْرَةَ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِيْلَ لِبَنِيْ اِسْرَآءِيْلَ ادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَ قُوْلُوْا حِطَّةٌ نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطَايَاكُمْ فَبَدَّلُوْا فَدَخَلُوْا يَزْحَفُوْنَ عَلٰى اَسْتَاهِهِمْ وَ قَالُوْا حَبَّةٌ فِيْ شَعْرَةٍ.

حضرت ابوهريرةؓ نه روايت كوي، ذ هغهٔ بيان دے، رسول الله صلي الله عليه وسلّم ارشاد اوفرمائيلو، الله بني اسرائيلو ته حكم وركړے وو، چه تاسو ذ بيت المقدس په دروازه عاجزئ سره حطّة وئيلو سره داخل شئ، نو مونږ به ستاسو ګناه معاف كړو. خو بني اسرائيلو دا حكم اونهٔ منلو، او په زمكه كناتو رابنكلو سره داخل شو. او ذ حطة په ځائے "حبة فى شعرة" يعني ذ، غلے دانه، وئيلو سره داخل شو..

بَابُ ۲۲۳: قَوْلِهٖ خُذِ الْعَفْوَ وَاْمُرْ بِالْعُرْفِ وَ اَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِيْنَ اَلْعُرْفُ الْمَعْرُوْفُ.

باب ۲۲۳: آيت: خُذِ الْعَفْوَ وَاْمُرْ بِالْعُرْفِ: ذ الله تعالىٰ قول، اے رسوله، عفوه اختيار كړه، او ذ ښو خبرو حكم كوه، او ذ جاهلانو نه چشم پوشي كوه. ذ "عرف" معني دي "معروف" يعني ښهٔ كار.

۴۲۷: حَدَّثَنَا اَبُو الْيَمَانِ حَدَّثَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ اَخْبَرَنِيْ عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُتْبَةَ اَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ قَدِمَ عُيَيْنَةُ بْنُ حِصْنِ بْنِ حُذَيْفَةَ فَنَزَلَ عَلٰى ابْنِ اَخِيْهِ الْحُرِّ بْنِ قَيْسٍ وَ كَانَ مِنَ النَّفَرِ الَّذِيْنَ يُدْنِيْهِمْ عُمَرُ وَ كَانَ الْقُرَّآءُ اَصْحَابَ مَجَالِسِ عُمَرَ وَ مُشَاوَرَتِهٖ كُهُوْلًا كَانَ اَوْ شُبَّانًا فَقَالَ عُيَيْنَةُ لِابْنِ اَخِيْهِ يَا ابْنَ اَخِيْ لَكَ وَجْهٌ عِنْدَ هٰذَا الْاَمِيْرِ فَاسْتَاْذِنْ لِيْ عَلَيْهِ قَالَ سَاَسْتَاْذِنُ لَكَ عَلَيْهِ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَاسْتَاْذَنَ الْحُرُّ لِعُيَيْنَةَ فَاَذِنَ لَهٗ عُمَرُ فَلَمَّا دَخَلَ عَلَيْهِ قَالَ هِيْ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ فَوَاللّٰهِ مَا تُعْطِيْنَا الْجَزْلَ وَلَا

۴۲۷: ابواليمان. شعيب. زهري. عبيدالله بن عبدالله بن عتبه. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، ذ هغهٔ بيان دے، عيينه بن حِصن بن حذيفه خپل ورارهٔ حر بن قيس له راغے، حر بن قيس هغه خلقو كښې وو، چه ذ حضرت عمرؓ مقرب وو. ذ حضرت عمرؓ دا عادت وو، چه هغه به مقرب هغه خوك جوړولو، چه هغه به عالم او قاري وو. غرض داسے خلق به ذ هغهٔ په مجلس كښې شامليدل. ذ بوډا، ځوان څهٔ پابندي نهٔ وه. عيينه بن حِصن خپل ورارهٔ ته اووے، چه ستا خو حضرت عمرؓ ته رسائي شته. لږ ما هم هغهٔ له بوځه. حر بن قيس ورته اووے، ښهٔ ده، اجازت درته غواړم، آخر حر، عيينه ذ پاره اجازت حاصل كړهٔ، عيينه چه حضرت عمرؓ له راغے نو وئيلے، اے ذ خطاب ځويه، نهٔ خو تهٔ انصاف كوے،

تَحْكُمُ بَيْنَنَا بِالْعَدْلِ فَغَضِبَ عُمَرُ حَتّٰى هَمَّ بِهٖ فَقَالَ لَهُ الْحُرُّ يَا اَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى قَالَ لِنَبِيِّهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُذِ الْعَفْوَ وَاْمُرْ بِالْعُرْفِ وَ اَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِيْنَ وَ اِنَّ هٰذَا مِنَ الْجَاهِلِيْنَ وَاللّٰهِ مَا جَاوَزَهَا عُمَرُ حِيْنَ تَلَاهَا عَلَيْهِ وَ كَانَ وَقَّافًا عِنْدَ كِتَابِ اللّٰهِ.

او نـهٔ مونږ سره ذ سخـاوت نه كـار آخلې. حضرت عمـرؓ دې آوريـدو سـره غُصـه شو. او قـريـب وه، چـه هـغـه ئې وهـلـې وې. دغـه وخـت حُر اووې، اې اميـر الـمـؤمـنيـن، الـلّـه تـعالٰي خپل پيغمبرؐ ته اوفرمائيل "خـذ الـعـفـو و امـر بـالـعـرف واعـرض عن الجـاهلين: او بيشـكـه دې هـم دَ جـاهـلانو نـه دې. دَ حضرت ابن عباسؓ بيان دې، كوم وخت چه "حر" دا آيت تلاوت كړ، نو حضرت عمرؓ سمدستي سوړ شولو.

۴۲۸: حَدَّثَنَا يَحْيٰى حَدَّثَنَا وَكِيْعٌ عَنْ هِشَامٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الزُّبَيْرِ خُذِ الْعَفْوَ وَاْمُرْ بِالْعُرْفِ قَالَ مَا اَنْزَلَ اللّٰهُ اِلَّا فِيْ اَخْلَاقِ النَّاسِ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ بَرَّادٍ حَدَّثَنَا اَبُوْ اُسَامَةَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ اَمَرَ اللّٰهُ نَبِيَّهٗ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يَّاْخُذَ الْعَفْوَ مِنْ اَخْلَاقِ النَّاسِ اَوْ كَمَا قَالَ.

۴۲۸: يـحيٰي. وكيع. هشـام. عـروه. عبداللّـه بـن زبيـرؓ نـه روايـت كـوي، دَ هـغـهٔ بيـان دې، الـلّٰه تعالٰي دا آيـت: (يـعـنـي خـذ الـعـفو الخ) اخلاق انساني دَ پاره نـازل فـرمـائيـلې دې. عبـداللّـه بن براء وائي، مـاتـه دا حـديـث ابـو اسـامـه روايـت كـړ، او وئيلې، هشام دَ خپل پـلار نـه او هغـهٔ دَ ابـن زبيـرؓ پـه ذريـعـه وائـي، اللّٰه تعالٰي خپـل نبـي او ټـولـو انسـانانوته دَ اخلاق دَ درستي دَ پاره دَ عـفـوې اختيـارولـو حكم كړې دې. يا دَ دې قسم څهٔ بله خبره ئې اوكړله.

# سُوْرَةُ الْاَنْفَالِ

# دَ سورهٔ انفال تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

بَابُ ۴۲۴: قَوْلُهُ يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْاَنْفَالِ قُلِ الْاَنْفَالُ لِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَ اَصْلِحُوْا ذَاتَ بَيْنِكُمْ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ اَلْاَنْفَالُ الْمَغَانِمُ قَالَ قَتَادَةُ رِيْحُكُمُ الْحَرْبُ يُقَالُ نَافِلَةٌ

باب ۴۲۴ آيت: يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْاَنْفَالِ: دَ اللّٰه تـعـالٰي قـول، اې رسوله، تانه دَ مال غنيمت متعلق تپوس كـوي، تـهٔ ورته اووايه، چه دَ مال غنيمت تقسيم دَ اللّٰه او رسـول لاس كـښې دې، او تـاسـو دَ الـلّـه نه اويرېږئ، او خپـلـو كـښې صلح اوكړئ. ابن عباسؓ وائي، دَ انفال نه دَ لوټ مال مراد دې. قتاده وائي "ريحكم" نه جنګ مراد

عَطِيَّةٌ.

دے. "نافلة" معني عطیه.

٦٢٩: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيْمِ حَدَّثَنَا سَعِيْدُ بْنُ سُلَيْمَانَ اَخْبَرَنَا هُشَيْمٌ اَخْبَرَنَا اَبُوْ بِشْرٍ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ سُوْرَةُ الْاَنْفَالِ قَالَ نَزَلَتْ فِيْ بَدْرٍ الشَّوْكَةُ الْحَدُّ مُرْدِفِيْنَ فَوْجًا بَعْدَ فَوْجٍ رَدِفَنِيْ وَ اَرْدَفَنِيْ جَآءَ بَعْدِيْ ذُوْقُوْا بَاشِرُوْا وَ جَرِّبُوْا وَ لَيْسَ هٰذَا مِنْ ذَوْقِ الْفَمِ فَيَرْكُمَهُ يَجْمَعَهُ شَرِّدْ فَرِّقْ وَ اِنْ جَنَحُوْا طَلَبُوْا يُثْخِنَ يَغْلِبَ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ مُكَآءً اِدْخَالُ اَصَابِعِهِمْ فِيْ اَفْوَاهِهِمْ وَ تَصْدِيَةً الصَّفِيْرُ لِيُثْبِتُوْكَ لِيَحْبِسُوْكَ.

٦٢٩: محمد بن عبدالرحیم. سعید بن سلیمان. هشیم. ابو بشر. حضرت سعید بن جبیرؒ روایت کوي، ما د حضرت ابن عباسؓ نه تپوس اوکړو، د سورة انفال شان نزول څه دے نو هغه اوفرمائیل، دا سورت جنګ بدر کښې نازل شوے وو. "شوکة" معني تیز دهارا. "مردفین" فوج در فوج. "ردفني" او "اردفني" مانه پس راغے. "ذوقوا" عذاب اوڅکئې. "فیرکمه" معني دي، جمع کړي هغه "شرد" مطلب جدا کړي. "جنحوا" معنے دي، طلب کړي. "یثخن" معني دي، غالب وي. مجاهد وائي "مکاء" معني دي، ګوتے په خوله کښې داخلول. او "تصدیه" معني دي: شپیلے وهل. او "لیثبتوک" معني دي، چه تا قید کړي. بند کړي.

باب ٢٢٥: قَوْلِهٖ اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ عِنْدَ اللّٰهِ الصُّمُّ الْبُكْمُ الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ.

باب ٢٢٥: آیت: اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ عِنْدَ اللّٰهِ الصُّمُّ الْبُكْمُ الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ: د الله تعالیٰ قول، د الله په نزد، د حیواناتو نه هم هغه خلق خراب دي، چه کونګیان او کانړه دي او عقل نه لري.

٦٣٠: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوْسُفَ حَدَّثَنَا وَرْقَآءُ عَنِ ابْنِ اَبِيْ نَجِيْحٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ عِنْدَ اللّٰهِ الصُّمُّ الْبُكْمُ الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ قَالَ هُمْ نَفَرٌ مِّنْ بَنِيْ عَبْدِ الدَّارِ.

٦٣٠: محمد بن یوسف. ورقاء. ابن ابي نجیح. مجاهد. حضرت ابن عباسؓ نه روایت کوي، د هغه بیان دے، اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ عِنْدَ اللّٰهِ الخ الله تعالیٰ د بني عبدالدار د یو ډلې په حق کښې نازل کړے دے. او دے نه بدکردار خلق مراد دي.

باب ٢٢٦: قَوْلِهٖ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اسْتَجِيْبُوْا

باب ٢٢٦: آیت: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اسْتَجِيْبُوْا لِلّٰهِ: د الله تعالیٰ قول، اے ایمان والو، الله ﷻ رسول طرف

لِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ اِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيْكُمْ وَاعْلَمُوْا اَنَّ اللّٰهَ يَحُوْلُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَاَنَّهُ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ اسْتَجِيْبُوْا اَجِيْبُوْا لِمَا يُحْيِيْكُمْ يُصْلِحُكُمْ.

نه راشئ، هر كله چه ستاسو د اصلاح د پاره تاسو اوبلي، او پوه شئ، چه الله د سري او د هغه د زړه تر مينځه حائل دے، او بيشكه تاسو ټول به هغه طرف ته جمع كولے شئ. "اسْتَجِيْبُوْا" معني قبول كړئ. "يُحْيِيْكُمْ" تاسو به ژوندي كړي. "يُصْلِحُكُمْ" چه ستاسو اصلاح اوكړي.

۱۶۳۱ : حَدَّثَنِيْ اِسْحٰقُ اَخْبَرَنَا رَوْحٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ خُبَيْبِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ سَمِعْتُ حَفْصَ بْنَ عَاصِمٍ يُحَدِّثُ عَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُعَلّٰى قَالَ كُنْتُ اُصَلِّيْ فَمَرَّ بِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَعَانِيْ فَلَمْ اٰتِهِ حَتّٰى صَلَّيْتُ ثُمَّ اَتَيْتُهُ فَقَالَ مَا مَنَعَكَ اَنْ تَاْتِيَ اَلَمْ يَقُلِ اللّٰهُ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اسْتَجِيْبُوْا لِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ اِذَا دَعَاكُمْ ثُمَّ قَالَ لَاُعَلِّمَنَّكَ اَعْظَمَ سُوْرَةٍ فِي الْقُرْاٰنِ قَبْلَ اَنْ اَخْرُجَ فَذَهَبَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيَخْرُجَ فَذَكَرْتُ لَهُ وَقَالَ مَعَاذٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ خُبَيْبٍ سَمِعَ حَفْصًا سَمِعَ اَبَا سَعِيْدٍ رَجُلًا مِنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهٰذَا وَقَالَ هِيَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ السَّبْعُ الْمَثَانِيْ.

۱۶۳۱ : اسحٰق. روح بن عباده. شعبه. خبيب بن عبدالرحمٰن. حفص بن عاصم. حضرت ابو سعيد بن معلّي نه روايت كوي، د هغهٔ بيان دے، يو ځل ما مونځ كولو، حضورؐ خما خوا كښ تير شولو، او زهٔ ئے اوبللم، ما بدستور مونځ كولو، چه فارغ شوم، نو خدمت كښ حاضر شوم، او عرض مِ اوكهٔ، زهٔ راغلم، حضورؐ اوفرمائيل، تهٔ څهٔ څيز ماته د راتلو نه منع كړے، آيا د اللّٰه تعالي دا ارشاد تاته معلوم نهٔ دے: يايها الذين استجيبوا للّٰه و للرسول اذا دعاكم: كوم وخت چه تاسو اللّٰه او د اللّٰه رسول اوبلي، نو سمدستي د هغوي حكم منئے. بيا حضورؐ ارشاد اوفرمائيلو، د جمات نه وتلو نه مخكښ به زهٔ تاته يو عظيم الشان سورت اوښائم. كوم وخت چه حضورؐ د جمات نه بهر وتلو، نو ما عرض اوكهٔ او وريادم كړلو. نو حضورؐ اوفرمائيل، هغه سورة الحمد دے. او دے ته سبع مثاني هم وئيلے شي. او يو بل سند كښ د حضرت ابو سعيد نوم هم ددے حديث په آوريدونكو كښ راځي.

بَابُ ۲۲۷ : قَوْلِهِ وَاِذْ قَالُوا

باب ۲۲۷ : آيت: وَ اِذْ قَالُوا اللّٰهُمَّ اِنْ كَانَ هٰذَا

اللّٰهُمَّ اِنْ كَانَ هٰذَا هُوَ الْحَقُّ مِنْ عِنْدِكَ فَاَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ السَّمَآءِ اَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ مَا سَمَّى اللّٰهُ تَعَالٰى مَطَرًا فِي الْقُرْاٰنِ اِلَّا عَذَابًا وَ تُسَمِّيْهِ الْعَرَبُ الْغَيْثَ وَهُوَ قَوْلُهٖ تَعَالٰى يُنَزِّلُ الْغَيْثَ مِنْ بَعْدِ مَا قَنَطُوْا.

هُوَ الْحَقُّ: دَ اللّٰه تعالىٰ قول' (كافرو اووې) اې اللّٰه كه دا قرآن ستا دَ طرف نه حق وي' نو بيا په مونږ كانړي اووروه' يا مونږ له سخت عذاب راكړه. ابن عيينه وائي' چه اللّٰه تعالىٰ قرآن شريف كښې "مطر" نه عذاب مراد اخستې دې. دَ "غيث" معني دَ رحمت باران دې' لكه چه عرب وائي' او دې آيت كښې هم دي: و ينزل الغيث من بعد ما قنطوا.

۶۳۲: حَدَّثَنِيْ اَحْمَدُ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ مُعَاذٍ حَدَّثَنَا اَبِيْ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَبْدِ الْحَمِيْدِ هُوَ ابْنُ كُرْدِيْدٍ صَاحِبُ الزِّيَادِيِّ سَمِعَ اَنَسَ بْنَ مَالِكٍ قَالَ اَبُوْ جَهْلٍ اللّٰهُمَّ اِنْ كَانَ هٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَاَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ السَّمَآءِ اَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ فَنَزَلَتْ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَ اَنْتَ فِيْهِمْ وَمَا كَانَ اللّٰهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ وَمَا لَهُمْ اَنْ لَّا يُعَذِّبَهُمُ اللّٰهُ وَهُمْ يَصُدُّوْنَ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ الْاٰيَةَ.

۶۳۲: احمد. عبيدالله بن معاذ. معاذ بن معاذ. شعبه. عبدالحميد بن كرديد. صاحب الزيادي. حضرت انس بن مالكؓ نه روايت كوي' دَ هغهٔ بيان دې. كوم وخت چه ابو جهل دا اووې' اې اللّٰه' كه دا قرآن ستا دَ طرف نه حق وي' نو په مونږ دَ آسمان كانړي اُو وَروې' يا مونږ له دردناک عذاب راكړې. نو هغه وخت اللّٰه تعالىٰ دا آيت نازل كړلو: وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ الخ: يعني اللّٰه هغوي له عذاب نهٔ وركوي څو پورې چه تاسوُ دوي كښې موجود ئې. او اللّٰه تعالىٰ به عذاب ورنهٔ كړي' څكه چه دوي استغفار كوي او اللّٰه به مشركانو له عذاب ولې ورنهٔ كړي' چه هغوي خو خلق دَ مسجد حرام نه منع كوي.

## بَابُ ۲۲۸: قَوْلُهٗ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَ اَنْتَ فِيْهِمْ وَمَا كَانَ اللّٰهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ.

باب ۲۲۸: آيت: وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ دَ اللّٰه تعالىٰ قول' اللّٰه تعالىٰ به دوي له عذاب نهٔ وركوي' څو پورې چه تاسوُ دوي كښې ئې' او اللّٰه دوي له عذاب نهٔ وركوي' چه هغوي استغفار كوي.

۶۳۳: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ النَّضْرِ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ مُعَاذٍ حَدَّثَنَا اَبِيْ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَبْدِ الْحَمِيْدِ

۶۳۳: محمد بن نضر. عبيدالله بن معاذ. دَ هغهٔ پلار. شعبه. عبدالحميد. صاحب الزيادي. حضرت انس بن مالكؓ نه روايت كوي' دَ هغهٔ بيان دې. ابو جهل چه

صَاحِبِ الزِّيَادِيِّ سَمِعَ اَنَسَ بْنَ مَالِكٍ قَالَ قَالَ اَبُوْ جَهْلٍ اَللّٰهُمَّ اِنْ كَانَ هٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَاَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ السَّمَاءِ اَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ، فَنَزَلَتْ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَ اَنْتَ فِيْهِمْ وَمَا كَانَ اللّٰهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ وَمَا لَهُمْ اَنْ لَّا يُعَذِّبَهُمُ اللّٰهُ وَهُمْ يَصُدُّوْنَ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ الْاٰيَةَ.

كوم وخت دا اووې' اې اللّٰه' كه ستا قرآن ريښتيا وي' او ستا د طرف نه وي' (او مونږ دروغجن كوې) نو بيا خمونږ د پاسه د آسمانه كانړي راو وَروې. يا څۀ لوئې دردناک عذاب په مونږ راوليږې' نو هغه وخت دا آيت نازل شولو' چه الله تعالٰي دوي له عذاب نۀ وركوي' خكه چه تاسو دوي كښې اوسيږې' او الله به دوي عذاب نه راولي' خكه چه استغفار كوي (بښنه غواړي). او الله به هغوي له عذاب ولې ورنۀ كړي' حالانكه هغوي خلق د مسجد حرام نه منع كوي.

بَابُ ۲۲۹: قَوْلُهُ وَ قَاتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ.

باب ۲۲۹: آيت: وَ قَاتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ: د الله تعالٰي قول' دوي سره جنګ كوئې' حتٰي چه فتنه باقي پاتې نشي' او دين خالص د الله پاتې شي.

۶۳۴: حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيْزِ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يَحْيٰى حَدَّثَنَا حَيْوَةُ عَنْ بَكْرِ بْنِ عُمَرَ عَنْ بُكَيْرٍ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ رَجُلًا جَاءَهُ فَقَالَ يَا اَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ اَلَا تَسْمَعُ مَا ذَكَرَ اللّٰهُ فِيْ كِتَابِهِ وَ اِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا اِلٰى اٰخِرِ الْاٰيَةِ فَمَا يَمْنَعُكَ اَنْ لَّا تُقَاتِلَ كَمَا ذَكَرَ اللّٰهُ فِيْ كِتَابِهِ فَقَالَ يَا ابْنَ اَخِيْ اَغْتَرُّ بِهٰذِهِ الْاٰيَةِ وَلَا اُقَاتِلُ اَحَبُّ اِلَيَّ مِنْ اَنْ اَغْتَرَّ بِهٰذِهِ الْاٰيَةِ الَّتِيْ يَقُوْلُ اللّٰهُ تَعَالٰى وَمَنْ يَّقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا اِلٰى اٰخِرِهَا قَالَ فَاِنَّ اللّٰهَ يَقُوْلُ وَ قَاتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ قَالَ

۶۳۴: حسن بن عبدالعزيز. عبدالله بن يحيٰي. حيوة. بكر بن عمرؓ. بكير. نافع. حضرت ابن عمرؓ نه روايت كوي' چه ماله يو سړې راغې' او هغۀ اووې' كوره' دا وخت د مسلمانانو دوه ډلې حضرت عليؓ او امير معاويهؓ جنګيږي' آيا تا د الله دا فرمان نۀ دې آوريدلې' چه د مسلمانانو دوه ډلې جنګيږي' نو هغوي كښې صلح كوئې. او كه هغوي نۀ مني' نو زياتي كونكو سره جنګ او كړئې' او هغوي درست كړئې' نو بيا تاسوته كوم څيز مانع دې' چه تاسو خاموش يئ. ما ورته اووې' اې وراره' كه زۀ د دې حكم تاويل او كړم' مسلمانانو سره او نۀ جنګيږم' نو دا ماته ښۀ لږي د دې خبرې نه' چه زۀ د: ومن يقتل مومنا متعمدا: تاويل او كړم. بيا هغۀ اووې' ښۀ ده' تاسو به دې آيت سره څۀ كوئې وقاتلوهم حتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَة الخ:

ابْنُ عُمَرَ فَعَلْنَا عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا كَانَ الْاِسْلَامُ قَلِيْلًا فَكَانَ الرَّجُلُ يُفْتَنُ فِيْ دِيْنِهٖ اِمَّا يَقْتُلُوْهُ وَ اِمَّا يُوْثِقُوْهُ حَتّٰى كَثُرَ الْاِسْلَامُ فَلَمْ تَكُنْ فِتْنَةٌ فَلَمَّا رَاٰى اَنَّهٗ لَا يُوَافِقُهٗ فِيْمَا يُرِيْدُ قَالَ فَمَا قَوْلُكَ فِيْ عَلِيٍّ وَ عُثْمَانَ قَالَ ابْنُ عُمَرَ مَا قَوْلِيْ فِيْ عَلِيٍّ وَ عُثْمَانَ اَمَّا عُثْمَانُ فَكَانَ اللّٰهُ قَدْ عَفَا عَنْهُ فَكَرِهْتُمْ اَنْ تَعْفُوْا عَنْهُ وَ اَمَّا عَلِيٌّ فَابْنُ عَمِّ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ خَتَنُهٗ وَ اَشَارَ بِيَدِهٖ وَ هٰذِهٖ ابْنَتُهٗ اَوْ بِنْتُهٗ حَيْثُ تَرَوْنَ.

هغوي ورته اووې، دا جنګ خو مونږ ذَ حضورﷺ په زمانه کښې کړې دې. او کوم سړي چه به فتنه رابرسيره کوله، هغه به مونږ وژلو، يا قيد کولو، ترديې چه اسلام خور شولو، او ذَ مسلمانانو تعداد زيات شو. اوس ذَ دې آيت واله فتنه کوم ځائې باقي پاتې ده، هر کله چه هغې سړي خما رائې ذَ خپلې رائې موافق بيانه مونده، نو ذَ حضرت عليؓ او حضرت عثمانؓ متعلق ئې اووې، چه دوي خو ذَ اُحد نه تښتيدلې وو، ذَ دوي متعلق ستاسو څۀ خيال دې. ما ورته اووې، حضرت عثمان ته اللّٰه تعالیٰ معافي ورکړله، خو تاسو ذَ هغۀ معاف کيدل بد ګنړې. پاتې شو حضرت علي، نو هغه ذَ حضورﷺ زوم او ذَ ترۀ ځوئې دې. ذَ راوي بيان دې، دومره وئيلو سره حضرت ابن عمرؓ ذَ لاس اشارې سره اوفرمائيل، ګوره، ذَ هغۀ خو مکان هم ذَ حضورﷺ مکان سره لږيدلې دې.

۴۲۳۵ : حَدَّثَنَا اَحْمَدُ بْنُ يُوْنُسَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا بَيَانٌ اَنَّ وَبُرَةَ حَدَّثَهٗ قَالَ حَدَّثَنِيْ سَعِيْدُ بْنُ جُبَيْرٍ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا اَوْ اِلَيْنَا ابْنُ عُمَرَؓ فَقَالَ رَجُلٌ كَيْفَ تَرٰى فِيْ قِتَالِ الْفِتْنَةِ فَقَالَ وَ هَلْ تَدْرِيْ مَا الْفِتْنَةُ كَانَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَاتِلُ الْمُشْرِكِيْنَ وَ كَانَ الدُّخُوْلُ عَلَيْهِمْ فِتْنَةٌ وَ لَيْسَ كَقِتَالِكُمْ عَلَى الْمُلْكِ.

۴۲۳۵ : احمد بن يونس. زهير. بيان بن بشر. وبره بن عبدالرحمٰن. سعيد بن جبير نه روايت کوي، ذَ هغۀ بيان دې، يو ځل عبداللّٰه بن عمرؓ مونږ ته راغې، نو يو سړي اووې، ګوره، دا فتنه او فساد کيږي، تاسو ذَ دې متعلق څۀ وائې، ابن عمرؓ جواب ورکۀ، تاته څۀ معلومه ده، چه فتنه څۀ ته وائي، فتنه خو ذَ مشرکانو وه، او حضورﷺ هغوي سره جنګيدلو، او ذَ هغوي جنګ کول ستاسو په شان نۀوو، چه مال او حصه باندې وي، بلکه صرف دين ذَ پاره به جنګيدل.

باب ۲۳۰ : قَوْلِهٖ يٰاَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ عَلَى الْقِتَالِ اِنْ

باب ۲۳۰ : آيت: يٰاَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ عَلَى الْقِتَالِ: ذَ اللّٰه تعالیٰ قول، اې نبي، مسلمانانو ته

يَكُنْ مِنْكُمْ عِشْرُوْنَ صَابِرُوْنَ يَغْلِبُوْا مِائَتَيْنِ وَ اِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ مِائَةٌ يَغْلِبُوْا اَلْفًا مِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ.

كافرو سره ذ جنگ كولو ترغيب وركړه' كه تاسو شل ثابت قدم ئې' نو تاسو به دوه دوه سوه كافرو باندې غالب راشې' او كه تاسو سل ثابت قدم ئې' نو په يو زر كافرو به غالب راځې' ځكه چه دغه كافر پوهه نه لري.

۶۳۶: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍؓ لَمَّا نَزَلَتْ اِنْ يَّكُنْ مِنْكُمْ عِشْرُوْنَ صَابِرُوْنَ يَغْلِبُوْا مِائَتَيْنِ فَكُتِبَ عَلَيْهِمْ اَنْ لَّا يَفِرَّ وَاحِدٌ مِنْ عَشَرَةٍ فَقَالَ سُفْيَانُ غَيْرَ مَرَّةٍ اَنْ لَّا يَفِرَّ عِشْرُوْنَ مِنْ مِائَتَيْنِ ثُمَّ نَزَلَتْ اَلْاٰنَ خَفَّفَ اللّٰهُ عَنْكُمْ اَلْاٰيَةَ فَكَتَبَ اَنْ لَّا يَفِرَّ مِائَةٌ مِنْ مِائَتَيْنِ زَادَ سُفْيَانُ مَرَّةً نَزَلَتْ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ عَلَى الْقِتَالِ اِنْ يَّكُنْ مِنْكُمْ عِشْرُوْنَ صَابِرُوْنَ قَالَ سُفْيَانُ وَ قَالَ ابْنُ شُبْرُمَةَ وَ اُرَى الْاَمْرَ بِالْمَعْرُوْفِ وَالنَّهْيَ عَنِ الْمُنْكَرِ مِثْلَ هٰذَا.

۶۳۶: علي بن عبدالله. سفيان. عمرو. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي' كوم وخت چه دا آيت نازل شو' كه شل صبرناك مسلمانان وي' نو ذ دوو سوو كافرو نه دې نه تبنتي' نو بيا هغه وخت دا خبره لازم كړې شوه' كه يو مسلمان وي' نو ذ لسو كافرو نه به نه تبنتي. بيا دې نه پس دا آيت نازل شولو' چه الله اوس ستاسو ذ پاره تخفيف اوكړلو' او هغه ته معلومه ده' چه اوس تاسو څه قدرې كمزورې شوې ئې' نو اووئيلې شو' چه سل دې ذ دوو سوو نه نه تبنتي. سفيان وائي' عبدالله بن شبرمه چه ذ كوفې قاضي وو' وئيل ئې' څما خيال دې' امر بالمعروف او نهي عن المنكر كښې هم دا حكم بيامندې شي.

بَابُ ۲۳۱: قَوْلِهٖ اَلْاٰنَ خَفَّفَ اللّٰهُ عَنْكُمْ وَ عَلِمَ اَنَّ فِيْكُمْ ضَعْفًا اَلْاٰيَةَ اِلٰى قَوْلِهٖ وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ.

باب ۲۳۱: آيت: اَلْئٰنَ خَفَّفَ اللّٰهُ عَنْكُمْ: ذ الله تعالٰي قول' اوس الله تعالٰي په تاسو تخفيف اوكه' او ورته معلومه ده' چه تاسو كښې څه كمزوري پيدا شوې ده' والله مع الصابرين پورې.

۶۳۷: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ السُّلَمِيُّ اَخْبَرَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ الْمُبَارَكِ اَخْبَرَنَا جَرِيْرُ بْنُ حَازِمٍ قَالَ اَخْبَرَنِي الزُّبَيْرُ بْنُ خِرِّيْتٍ عَنْ عِكْرِمَةَ

۶۳۷: يحيي بن عبدالله سلمي. عبدالله بن مبارك. جرير بن حازم. زبير بن خريت. عكرمه. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي' ذ هغه بيان دې' كوم وخت چه الله تعالٰي دا آيت نازل كه:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ اِنْ يَّكُنْ مِنْكُمْ عِشْرُوْنَ صَابِرُوْنَ يَغْلِبُوْا مِائَتَيْنِ شَقَّ ذٰلِكَ عَلَى الْمُسْلِمِيْنَ حِيْنَ فُرِضَ عَلَيْهِمْ اَنْ لَّا يَفِرَّ وَاحِدٌ مِنْ عَشَرَةٍ فَجَاءَ التَّخْفِيْفُ فَقَالَ اَلْاٰنَ خَفَّفَ اللّٰهُ عَنْكُمْ وَ عَلِمَ اَنَّ فِيْكُمْ ضَعْفًا فَاِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ مِائَةٌ صَابِرَةٌ يَغْلِبُوْا مِائَتَيْنِ قَالَ فَلَمَّا خَفَّفَ اللّٰهُ عَنْهُمْ مِنَ الْعِدَّةِ نَقَصَ مِنَ الصَّبْرِ بِقَدْرِ مَا خُفِّفَ عَنْهُمْ.

ان يكن منكم عشرون الخ: يعني كه تاسو كښې شل صبرناک سړي وي، نو په دوه سوه (کافرو) به غالب راځي، نو مسلمانانو باندې دا خبره ډېره ګرانه شوه، چه يو مسلمان دې د لس کافرو ذ مقابلې نه، نهٔ تښتي، نو اللّٰه ذ تخفيف آيت نازل کړلو، يعني: الآن خفف اللّٰه و علم ان فيكم ضعفا الخ: چه اوس اللّٰه آساني پيدا كړه، او هغهٔ ته معلومه وه، چه تاسو كښې كمزوري پيدا شوې ده، اوس كه تاسو كښې سل صبرناک وي، نو په دوه سوه به غالب راځي. حضرت ابن عباس وائي، دې تخفيف سره د مسلمانانو استقلال كښې هم فرق راغې.

## الحمد للّٰه والشكر للّٰه اتلسمه پاره ختمه شوه


تاج
تاج البخاری
پښتو شرح صحیح البخاری
پاره
۱۹
شارح: مولانا ظهورالباری اعظمی فاضل دارالعلوم دیوبند
پښتو ترجمه مولانا محمد امین درانی
نظرثانی: حافظ قاری فضل کریم
اهتمام: دکتور محمد دین البشاوری
ج کتب خانه رجسٹرڈ
قصه خوانی پشاور
فون: 214454

# تاج البخاري پاره ۱۹ دمضامينو فهرست

# نولسمه پاره

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## سُوْرَةُ بَرَاءَةٍ

وَلِيْجَةً كُلُّ شَيْءٍ اَدْخَلْتَهُ فِيْ شَيْءٍ الشُّقَّةُ السَّفَرُ الْخَبَالُ الْفَسَادُ وَالْخَبَالُ الْمَوْتُ وَلَا تَفْتِنِّيْ وَلَا تُوَبِّخْنِيْ كَرْهًا وَكُرْهًا وَاحِدٌ مُدَّخَلًا يَدْخُلُوْنَ فِيْهِ يَجْمَحُوْنَ يُسْرِعُوْنَ وَالْمُؤْتَفِكَاتُ ائْتَفَكَتْ انْقَلَبَتْ بِهَا الْاَرْضُ اَهْوٰى اَلْقَاهُ فِيْ هُوَّةٍ عَدْنٍ خُلْدٍ عَدَنْتُ بِاَرْضٍ اَيْ اَقَمْتُ وَمِنْهُ مَعْدِنٌ وَيُقَالُ فِيْ مَعْدِنِ صِدْقٍ فِيْ مَنْبَتِ صِدْقٍ اَلْخَوَالِفُ الْخَالِفُ الَّذِيْ خَلَفَنِيْ فَقَعَدَ فِي الْغَابِرِيْنَ وَيَجُوْزُ اَنْ يَّكُوْنَ النِّسَآءُ مِنَ الْخَالِفَةِ وَاِنْ كَانَ الْجَمْعُ الذُّكُوْرُ فَاِنَّهُ لَمْ يُوْجَدْ عَلٰى تَقْدِيْرِ جَمْعِهِ اِلَّا حَرْفَانِ فَارِسٌ وَفَوَارِسُ وَهَالِكٌ وَهَوَالِكُ الْخَيْرَاتُ وَاحِدُهَا خَيْرَةٌ وَهِيَ الْفَوَاضِلُ مُرْجَئُوْنَ مُؤَخَّرُوْنَ الشَّفَا شَفِيْرٌ وَهُوَ حَدُّهُ وَالْجُرُفُ مَا تَجَرَّفَ مِنَ السُّيُوْلِ وَالْاَوْدِيَةِ هَارٍ هَائِرٌ يُقَالُ تَهَوَّرَتِ الْبِئْرُ اِذَا انْهَدَمَتْ وَانْهَارَ مِثْلُهُ لَاَوَّاهٌ شَفَقًا

## دَ سورهٔ براءة تفسير

"وليجه" يو څيز بل څيز كښې داخلول. "الشقه" نه مراد سفر دے. "خبال" معني د فساد او مرګ دواړو راځي. "ولا تفتني" پـه ما ملامته مهٔ كوه. "كَرْها و كُرْها" يعني زبردستي د دواړو يو مطلب دے. "مدْخلا" د داخليدو ځائے. "يجمحون" په منډه ځي. "مؤتفكات" هغه بستۍ (كلي) چه عذاب سره واړولے شو. "اهوٰی" كنده كښې ئے ور اُوديكلو. "عدن" د هميشه ځائے، يعني جنتونه چه هغے تـه بهشت هم وائي. معدن د دے نه وتلے دے. د عربو مقوله ده "معدن صدق" كرم ځائے چه صدق پيدا كيږي. معدن نـه منبت هم مراد اخلي. "خوالف" د خالف جمع ده، چـه د هغے معني دي، ورستو كيناستونكے. "يخلفه في الغابرين" دے نه وتے دے، يعني هغه ئے ورستو پاتے كيدونكو كښې پريښودلو. او كه خوالف د خالفه جمع اومنلې شي، نو دے نه به مراد ښځے وي. "خيرات" فائدے. نيكي. ښيګړے. د دے واحد "خيرة" راځي. "مرجون" مهلت وركړے شو، لكه "موخرون" تاخير كښې واچولے شو. ملتوي كړے شو. "الشفا" معني "شفير" دي، يعني كناره، "جُرف" نالے. "هار" غرځيدونكے. "تهوّرت البئر" او انهارت دے نه اُوتے دے، يعني كوهے اوغرځيدلو. "اواه" نرم زړے كيدل. د خدائے د طرف نـه ويريدونكے. آه او زاري

وَ فَرَقًا وَ قَالَ:

اِذَا مَا قُمْتُ اَرْحَلُهَا بِلَيْلٍ
تَأَوَّهُ اٰهَةَ الرَّجُلِ الْحَزِيْنِ ٠

کونکے ' لکه يو شاعر وائي: ترجمه:

ذ شپے چه زهٔ پاسم او خپله اُوبنه کَس کوم
نو هغه ذ غم ژبلے سَرِو په شان آه کوي

باب ۲۳۲ : قَوْلِهٖ بَرَاءَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ اِلَى الَّذِيْنَ عَاهَدْتُّمْ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ اُذُنٌ يُصَدِّقُ تُطَهِّرُهُمْ وَ تُزَكِّيْهِمْ وَ نَحْوُهَا كَثِيْرٌ وَالزَّكَاةُ الطَّاعَةُ وَالْاِخْلَاصُ لَا يُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ لَا يَشْهَدُوْنَ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ يُضَاهِئُوْنَ يُشَبِّهُوْنَ.

باب ۲۳۲ : آيت: بَرَآءَةٌ مِّنَ اللّٰهِ: د اللّٰه تعالي قول' کومو مشرکانو سره چه تاسو عهد کړے وو ۴اوس هغوي ته ذ اللّٰه او رسول ذ طرف نه صاف جواب ورکه. ابن عباسؓ وائي' "اذن" دا دے' چه ذ چا خبره واوري' او هغه ريښتيے اوګنړي. "تطهرهم" او "تزکيهم" يو معني دي' چه هغه پاکوي. د "زکوة" معني اخلاص او طاعت دي. "لا يؤتون الزکوة" يعني د کلمه طيّبه: لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه تصديق نهٔ کوي. "يضاهئون" معني: داسے خبرے کوي' څنګه چه به مخکنو کافرو جوړولے.

۶۳۸ : حَدَّثَنَا اَبُو الْوَلِيْدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ اَبِيْ اِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ يَقُوْلُ اٰخِرُ اٰيَةٍ نَّزَلَتْ يَسْتَفْتُوْنَكَ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيْكُمْ فِى الْكَلَالَةِ وَ اٰخِرُ سُوْرَةٍ نَزَلَتْ بَرَاءَةٌ.

۶۳۸ : ابوالوليد. شعبه. ابي اسحاق. حضرت براء بن عازب نه روايت کوي' ذ هغهٔ بيان دے' ذ ټولو نه آخر کښ دا آيت: يستفتونک قل اللّٰه يفتيکم في الکلالة: نازل شو. دغه شان آخري سورت برأت دے چه ذ ټولونه آخر کښ نازل شولو.

باب ۲۳۳ : قَوْلِهٖ فَسِيْحُوْا فِى الْاَرْضِ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّاعْلَمُوْا اَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِى اللّٰهِ وَ اَنَّ اللّٰهَ مُخْزِى الْكَافِرِيْنَ سِيْحُوْا سِيْرُوْا.

باب ۲۳۳ : ايت: فَسِيْحُوْا فِى الْاَرْضِ: ذ اللّٰه تعالي قول' اے مشرکانو' تاسو څلور مياشتے (ذي قعده' ذي الحجه' محرم او رجب کښ) آمن او امان سره ملک کښ ګرځئے' او ياد ساتئے' چه تاسو خدائے پاک عاجزه کولے نهٔ شئے' او اللّٰه تعالي به کافر ذليل کړي. "فسيحوا" مطلب دے: ګرځي سيل کوئ.

۶۳۹ : حَدَّثَنَا سَعِيْدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِيْ اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِيْ عُقَيْلٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ وَ اَخْبَرَنِيْ

۶۳۹ : سعيد بن عفير. ليث. عقيل. ابن شهاب. حميد بن عبدالرحمن. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت کوي' ذ هغهٔ بيان دے' ۹ ه کښ حج کښ

حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ اَنَّ اَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ بَعَثَنِيْ اَبُوْ بَكْرٍ فِيْ تِلْكَ الْحَجَّةِ فِيْ مُؤَذِّنِيْنَ بَعَثَهُمْ يَوْمَ النَّحْرِ يُؤَذِّنُوْنَ بِمِنًى اَنْ لَّا يَحُجَّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ وَلَا يَطُوْفَ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ قَالَ حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ ثُمَّ اَرْدَفَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَلِيِّ بْنِ اَبِيْ طَالِبٍ وَ اَمَرَهٗ اَنْ يُّؤَذِّنَ بِبَرَاءَةٍ قَالَ اَبُوْ هُرَيْرَةَ فَاَذَّنَ مَعَنَا عَلِيٌّ يَوْمَ النَّحْرِ فِيْ اَهْلِ مِنًى بِبَرَاءَةٍ وَ اَنْ لَّا يَحُجَّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ وَّلَا يَطُوْفَ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ.

حضرت ابوبکرؓ د حاجیانو سالار جوړ کړے شوے وو. او زه په دے خبره مقرر کړے شوے ووم' چه زه یوم نحر کښې د دے امر اعلان او کړم. چه د دے کال د حج نه پس به اوس هیڅ مشرک حج نه کوي. او دغه شان هیڅوک به په بربنډه د کعبے طواف نشي کولے. حمید وائي. حضورؐ حضرت عليؓ اولیږلو' چه ته د سورة برأت د احکاماتو اعلان او کړه' نو هغه هم مونږ سره مني کښې موجود وو' او اعلان ئے کولو' چه هیڅ مشرک اوس حج نشي کولے' او نه په بربنډه طواف کولے شي. (ابو عبدالله وائي' د اعلان غرض دا دے' چه خلق په ښه شان سره خبردار کړے شي).

## باب ۲۳۴: قَوْلِهٖ وَ اَذَانٌ مِّنَ اللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ اِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْحَجِّ الْاَكْبَرِ اَنَّ اللّٰهَ بَرِیْٓءٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ وَ رَسُوْلُهٗ فَاِنْ تُبْتُمْ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَ اِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِى اللّٰهِ وَ بَشِّرِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ اٰذَنَهُمْ اَعْلَمَهُمْ.

باب ۲۳۴: آیت: وَ اَذَانٌ مِّنَ اللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ: د الله تعالٰي قول: د حج اکبر په ورځ خلق د الله او د هغهٔ د رسولؐ د حکم نه آگاه کولے شي' چه الله او د هغه رسولؐ د مشرکانو نه دست بردار دے. که تاسو منع شوئے' نو تاسو د پاره بهتره ده. او که تاسو مخ واړولو (اومونه منله) نو پوهه شئ چه تاسو الله تعالٰي عاجزه کولے نهٔ شئ' او اے پیغمبره' تهٔ کافروته د دردناک عذاب خبر ورکړه. "اذنهم" معني دي' هغوي لره ئے اطلاع ورکړه.

۶۴۰: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوْسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ حَدَّثَنِيْ عُقَيْلٌ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَاَخْبَرَنِيْ حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ اَنَّ اَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ بَعَثَنِيْ اَبُوْبَكْرٍ فِيْ تِلْكَ الْحَجَّةِ فِي الْمُؤَذِّنِيْنَ بَعَثَهُمْ يَوْمَ النَّحْرِ يُؤَذِّنُوْنَ بِمِنًى اَنْ

۶۴۰: عبدالله بن یوسف. لیث. عقیل. ابن شهاب. حمید بن عبدالرحمن. حضرت ابوهریرةؓ نه روایت کوي' د هغهٔ بیان دے. حضرت ابوبکرؓ زهٔ د قرباني په ورځ اعلان کونکو سره اولیږلم. او وئیلے' اعلان او که' چه سخکال نه پس به هیڅ مشرک نهٔ حج کوي' او نه به په بربنډه د

لَا يَحُجُّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ وَلَا يَطُوفُ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ قَالَ حُمَيْدٌ ثُمَّ أَرْدَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ فَأَمَرَهُ أَنْ يُؤَذِّنَ بِبَرَاءَةٍ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ فَأَذَّنَ مَعَنَا عَلِيٌّ فِي أَهْلِ مِنًى يَوْمَ النَّحْرِ بِبَرَاءَةٍ وَأَنْ لَا يَحُجَّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ وَلَا يَطُوفُ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ.

کعبې طواف کوي. حمید وائي حضور صلي الله علیه وسلم حضرت عليؓ ورستو اولیږلو او ارشاد ئې ورته اوفرمائیلو چه لاړ شه کافرو ته د سورهٔ برأت احکام واوروه. حضرت ابوهریرةؓ وائي حضرت عليؓ هم مونږ سره یوم النحر کښې دا اعلان اوکړلو چه دې کال نه پس به هیڅ مشرک نه حج کوي او نه به په بربنډه د کعبې طواف کوي.

بَابُ ۲۳۵: قَوْلُهُ إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدْتُّمْ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ.

باب ۲۳۵: آیت: اِلَّا الَّذِیْنَ عَاهَدْتُّمْ مِّنَ الْمُشْرِكِیْنَ: د الله تعالي قول، نو کومو مشرکانو سره چه تاسو د صلح عهد کړے وو.

۱٦۴۱: حَدَّثَنَا إِسْحٰقُ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا أَبِي عَنْ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ أَنَّ حُمَيْدَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَخْبَرَهُ أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ أَخْبَرَهُ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ بَعَثَهُ فِي الْحَجَّةِ الَّتِي أَمَّرَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهَا قَبْلَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ فِي رَهْطٍ يُؤَذِّنُ فِي النَّاسِ أَنْ لَا يَحُجَّنَّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ وَلَا يَطُوفُ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ فَكَانَ حُمَيْدٌ يَقُولُ يَوْمُ النَّحْرِ يَوْمُ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ مِنْ أَجْلِ حَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ.

۱٦۴۱: اسحٰق. یعقوب بن ابراهیم. صالح. ابن شهاب. حمید بن عبدالرحمن. حضرت ابوهریرةؓ نه روایت کوي، هغهٔ اووے حجة الوداع نه مخکښې واله حج کښې حضور صلي الله علیه وسلم، حضرت ابوبکر صدیقؓ امیر حج جوړ کړے وو، نو ابوبکرؓ زهٔ او څه نور خلق دې اعلان د پاره اولیږلو، چه دې کال نه پس به هیڅ مشرک نه حج له راځي او نه به څوک په بربنډه د بیت الله طواف کوي. حمید بن عبدالرحمن وائي، د حضرت ابوهریرةؓ د حدیث نه ثابتیږي، چه د ذي الحجه لسم ورځ یوم النحر (د قربانۍ ورځ) ده.

بَابُ ۲۳٦: قَوْلُهُ فَقَاتِلُوا أَئِمَّةَ الْكُفْرِ إِنَّهُمْ لَا أَيْمَانَ

باب ۲۳٦: آیت: فَقَاتِلُوْا اَئِمَّةَ الْكُفْرِ اِنَّهُمْ لَا اَيْمَانَ لَهُمْ: د الله تعالي قول، تاسو د کفارو مشرانو سره جنګیږئ، ځکه چه د هغوي د معاهدو هیڅ اعتبار او

لهم.

بهروسه نشته.

۶۴۲ : حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا اِسْمَاعِيلُ حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ وَهْبٍ قَالَ كُنَّا عِنْدَ حُذَيْفَةَ فَقَالَ مَا بَقِيَ مِنْ اَصْحَابِ هٰذِهِ الْاٰيَةِ اِلَّا ثَلٰثَةٌ وَلَا مِنَ الْمُنَافِقِيْنَ اِلَّا اَرْبَعَةٌ فَقَالَ اَعْرَابِيٌّ اِنَّكُمْ اَصْحَابُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُخْبِرُوْنَا فَلَا نَدْرِي فَمَا بَالُ هٰؤُلَاۤءِ الَّذِيْنَ يَبْقُرُوْنَ بُيُوْتَنَا وَ يَسْرِقُوْنَ اَعْلَاقَنَا قَالَ اُولٰٓئِكَ الْفُسَّاقُ اَجَلْ لَمْ يَبْقَ مِنْهُمْ اِلَّا اَرْبَعَةٌ اَحَدُهُمْ شَيْخٌ كَبِيْرٌ لَوْ شَرِبَ الْمَآءَ الْبَارِدَ لَمَا وَجَدَ بَرْدَهٗ.

۶۴۲ : محمد بن مثنى. اسمعيل. زيد بن وهب. حضرت حذيفه نه روايت كوي، دے آيت سره تعلق لرونكي يعني مخاطبينو كښې صرف درے مسلمانان او څلور منافقان ژوندي دي. دے كښې يو ديهاتي (بانډيسي) اووے، تاسو ټول ذ رسول پاک صحابه ئے، مونږ ته ذ هغے خلقو حال اووائے، چه خمونږ ذ كوررونو كنډر به ئے كولو، او ذ ښو ښو څيزونو غلا به ئے كوله، څكه چه مونږ ته ذ هغوي حال نۀ دے معلوم. حضرت حذيفه ورته اوفرمائيل، هغوي ټول فاسق او بدكار دي، او هغوي كښې څلور سړي اوس هم ژوندي دي، زۀ هغوي پيژنم، او هغوي كښې يو خو دومره بوډا شوے دے، چه ذ يخو اُوبو ذ يخوالي هم هغۀ ته احساس نۀ كيږي (يعني ذ بوډا توب په وجه ذ هغۀ عقل بيكاره شوے دے).

باب ۲۳۷ : قَوْلِهٖ وَالَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُوْنَهَا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ.

باب ۲۳۷ : آيت: وَالَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ: ذ الله تعالىٰ قول، كوم خلق چه سرۀ سپين زر جمع كوي، او هغه ذ الله په لار كښې نۀ خرج كوي، نو تۀ هغوي ته ذ دردناک عذاب بشارت واوروه.

۶۴۳ : حَدَّثَنَا الْحَكَمُ بْنُ نَافِعٍ اَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ حَدَّثَنَا اَبُو الزِّنَادِ اَنَّ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ الْاَعْرَجِ حَدَّثَهٗ اَنَّهٗ قَالَ حَدَّثَنِيْ اَبُوْ هُرَيْرَةَ اَنَّهٗ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ يَكُوْنُ كَنْزُ اَحَدِكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ شُجَاعًا اَقْرَعَ.

۶۴۳ : حكم بن نافع. شعيب. ابو الزناد. عبدالرحمٰن اعرج. حضرت ابو هريرهؓ نه روايت كوي، ذ هغۀ بيان دے، حضور صلي الله عليه وسلمؐ اوفرمائيل، ذ قيامت په ورځ به تاسو كښې ذ چا خزانه چه ذ هغے نه ئے زكوة نۀ وي وركړے، ذ ګنجي مار په شان به جوړه شي (ذ كوم مار ذ سر نه چه ويښتۀ اُوغرځيږي، ذ هغۀ زهرو كښې ډيره تيزي پيدا كيږي).

٦٤٤ : حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيْدٍ حَدَّثَنَا جَرِيْرٌ عَنْ حُصَيْنٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ وَهْبٍ قَالَ مَرَرْتُ عَلٰى اَبِيْ ذَرٍّ بِالرَّبَذَةِ فَقُلْتُ مَا اَنْزَلَكَ بِهٰذِهِ الْاَرْضِ قَالَ كُنَّا بِالشَّامِ فَقَرَأْتُ وَ الَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُوْنَهَا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ قَالَ مُعَاوِيَةُ مَا هٰذِهٖ فِيْنَا مَا هٰذِهٖ اِلَّا فِيْ اَهْلِ الْكِتَابِ قَالَ قُلْتُ اِنَّهَا لَفِيْنَا وَ فِيْهِمْ.

باب ٢٣٨ : قَوْلِهٖ عَزَّ وَ جَلَّ يَوْمَ يُحْمٰى عَلَيْهَا فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوٰى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَ جُنُوْبُهُمْ وَ ظُهُوْرُهُمْ هٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِاَنْفُسِكُمْ فَذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَكْنِزُوْنَ وَ قَالَ اَحْمَدُ بْنُ شُبَيْبِ بْنِ سَعِيْدٍ.

٦٤٥ : حَدَّثَنَا اَبِيْ عَنْ يُوْنُسَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ خَالِدِ بْنِ اَسْلَمَ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ فَقَالَ هٰذَا قَبْلَ اَنْ تُنْزَلَ الزَّكَاةُ فَلَمَّا اُنْزِلَتْ جَعَلَهَا اللّٰهُ طُهْرًا لِّلْاَمْوَالِ.

باب ٢٣٩ : قَوْلِهٖ اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ عِنْدَ اللّٰهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِيْ كِتَابِ اللّٰهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ مِنْهَا اَرْبَعَةٌ حُرُمٌ اَلْقَيِّمُ هُوَ الْقَائِمُ.

٦٤٤ : قتيبه بن سعيد. جرير بن حصين. زيد بن وهب نه روايت كوي د هغه بيان دے. ما مقام ربذه كښې د ابو ذر غفاري نه تپوس او كړ چه دلته څنګ كښې څه د پاره آباد شوے؟ زے فرمانيل زه ملك شام كښې ووم او څما معاويه سره جګړه اوشوه نو ما دا آيت اولوست: والذين يكنزون الذهب والفضة الخ نو معاويه اووے. دا آيت څمونږ په حقله نه دے بلكه يهودو نصاري د پاره نازل كړے شوے دے. ما اووے نه، دا ټولو د پاره دے (نو د دے جګړے په وجه ما ټول پريښودل او دلته راغلم).

باب ٢٣٨ : آيت: يوم يحمى عليها في نار جهنم: د الله تعالى قول په كومه ورځ چه جمع شوے چاندي او سره (زر) دوزخ كښې ګرم كړے شي او بيا هغې سره د هغوي آړخونه تندي او شاګانے داغلے شي او هغوي ته به ونيلے شي دا هغه سرمايه ده چه تاسو به خان د پاره جمع كوله نو اوس د هغے مال مزه اوڅكئ.

٦٤٥ : احمد بن شعيب بن سعيد. يونس. ابن شهاب. خالد بن اسلم. حضرت عبدالله بن عمرؓ نه روايت كوي، د هغه بيان دے، دا حكم د زكوٰة نه مخكښې دے. بيا چه د زكوٰة حكم نازل شولو، نو الله تعالى دا زكوٰة د مال د پاكيزګي سبب جوړ كړلو.

باب ٢٣٩ : آيت: ان عدة الشهور عند الله: د الله تعالى قول، د الله په نزد د هغه كتاب كښې د زمكے او آسمان د پيدائش د ورځے نه د مياشتو شمير (ګڼتي) دولس دے. دے كښې څلور حرمت واله مياشتے دي. "قيم" معني قائم. مستقيم يعني د درست او نيغ دي.

۲۴۲ : حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَبْدِ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنِ ابْنِ أَبِي بَكْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الزَّمَانَ قَدِ اسْتَدَارَ كَهَيْئَتِهِ يَوْمَ خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ السَّنَةُ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ثَلٰثٌ مُتَوَالِيَاتٌ ذُو الْقَعْدَةِ وَذُو الْحِجَّةِ وَالْمُحَرَّمُ وَ رَجَبُ مُضَرَ الَّذِي بَيْنَ جُمَادٰى وَ شَعْبَانَ.

۲۴۲ : عبدالله بن عبدالوهاب. حماد بن زيد. ايوب. محمد. ابن ابي بكره. رسول الله صلي الله عليه وسلم نه روايت كوي حضور ارشاد اوفرمائيلو كوري زمانه بيا په هغه نقشه راغله په كومه ورځ چه الله تعالي زمكه او آسمان پيدا كړے وو. يو كال كښې دولس مياشتے وي. دے كښې خلور مياشتے د حرمت دي چه هغے كښې درے مسلسل (پرله پسے) دي يعني ديقعده ذي الحجه محرم. او يوه د رجب مياشت ده چه د جمادي الأخر او ماه شعبان مينځ كښې راځي.

بَابٌ ۲۴۰ : قَوْلِهٖ ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ مَعَنَا نَاصِرُنَا السَّكِينَةُ فَعِيلَةٌ مِنَ السُّكُونِ.

باب ۲۴۰ : آيت: ثاني اثنين اذهما في الغار: د الله تعالي قول: هر كله چه غار كښې د دوو نه يو حضور وو. "معنا" معني ناصرنا يعني الله خمونږ مددګار دے. "سكينة" بر وزن فعيلة په معني د سكون او اطمينان.

۲۴۷ : حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا حَبَّانُ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ حَدَّثَنَا ثَابِتٌ حَدَّثَنَا أَنَسٌ قَالَ حَدَّثَنِي أَبُو بَكْرٍ قَالَ كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْغَارِ فَرَأَيْتُ آثَارَ الْمُشْرِكِينَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ لَوْ أَنَّ أَحَدَهُمْ رَفَعَ قَدَمَهُ رَآنَا قَالَ مَا ظَنُّكَ بِاثْنَيْنِ اللّٰهُ ثَالِثُهُمَا.

۲۴۷ : عبدالله بن محمد. حبان. همام. ثابت. انس. حضرت ابوبكر صديق نه روايت كوي هغه اووے زه نبي صلي الله عليه وسلم سره غار كښې موجود ووم چه د مشركانو د راتلو آثار راته ښكاره شولو ما حضور صلي الله عليه وسلم ته عرض اوكړ كه چا قدم اوچت كړ نو مونږ به اووينى. دغه وخت حضور صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اے ابوبكر ته د هغے دوو سړو متعلق څه خيال كوے چه هغوي سره دريم الله تعالي دے.

۲۴۸ : حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا عُيَيْنَةُ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ

۲۴۸ : عبدالله بن محمد. ابن عيينه. ابن جريج. ابن ابي مليكه نه روايت كوي هغه اووے هر كله چه خما او د ابن عباس مينځ كښې د ابن زبير په بيعت خبرے

عَــنِ ابْــنِ عَبَّــاسٍ أَنَّــهُ قَــالَ حِيْــنَ وَقَــعَ بَيْنَــهُ وَ بَيْــنَ ابْــنِ الزُّبَيْرِ قُلْتُ أَبُــوْهُ الزُّبَيْــرُ وَ أُمُّــهُ أَسْــمَاءُ وَ خَالَتُــهُ عَــائِشَةُ وَ جَــدُّهُ أَبُــوْ بَــكْرٍ وَجَــدَّتُــهُ صَــفِيَّةُ فَــقُــلْتُ لِسُــفْيَــانَ إِسْــنَــادُهُ فَــقَــالَ حَــدَّثَــنَــا فَشَغَلَــهُ إِنْسَــانٌ وَلَمْ يَقُلِ ابْنُ جُرَيْجٍ.

اوشوې. او ما د بيعت نه انكار او كړه نو ابن عباسؓ اووې، هغه ډير ښه سړے دے. د هغه پلار زبير ابن عوام عشره مبشره كښې داخل دے، د هغه مور د حضرت ابوبكر لور او د بي بي عائشې خور ده، چه ذات النطاقين ده او د هغه ترور بي بي عائشهؓ ده، او نيكه ئے ابوبكر رضي الله عنه دے او نيا (دادي) ئے بي بي صفيهؓ ده، چه د عبدالمطلب لور او د حضور صلي الله عليه وسلم ترور ده.

۴۲۹: حَـدَّثَـنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ حَدَّثَنِيْ يَحْيَى بْنُ مَعِيْنٍ حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ قَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ قَالَ ابْنُ أَبِيْ مُلَيْـكَةَ وَ كَــانَ بَيْـنَهُمَـا شَيْءٌ فَغَدَوْتُ عَلَـى ابْـنِ عَبَّاسٍ فَقُلْتُ أَتُـرِيْـدُ أَنْ تُـقَـاتِـلَ ابْنَ الزُّبَيْرِ فَتُحِلَّ حَـرَمَ اللّٰـهِ فَـقَـالَ مَعَاذَ اللّٰهِ إِنَّ اللّٰهَ كَتَبَ ابْنَ الزُّبَيْرِ وَ بَنِيْ أُمَيَّةَ مُحِلِّيْنَ وَ إِنِّيْ وَاللّٰـهِ لَا أُحِلُّـهُ أَبَدًا قَالَ قَالَ النَّـاسُ بَـايِعْ لِابْنِ الزُّبَيْرِ وَ بَنِيْ أُمَيَّةَ مُحِلِّيْـنَ وَ إِنِّـيْ وَاللّٰهِ لَا أُحِلُّهُ أَبَدًا قَــالَ قَــالَ النَّــاسُ بَـايِعْ لِابْنِ الزُّبَيْرِ فَـقُلْتُ وَ أَيْنَ بِهٰذَا الْأَمْرِ عَنْهُ أَمَّا أَبُوْهُ فَـحَـوَارِيُّ النَّـبِـيِّ صَـلَّـى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَـلَّـمَ يُـرِيْـدُ الزُّبَيْـرَ وَ أَمَّـا جَـدُّهُ فَـصَاحِـبُ الْـغَـارِ يُـرِيْدُ أَبَا بَكْرٍ وَ أُمُّهُ فَـذَاتُ الـنِّـطَـاقِ يُرِيْدُ أَسْمَاءَ وَ أَمَّـا خَـالَتُـهُ فَـأُمُّ الْمُؤْمِنِيْنَ يُرِيْدُ عَائِشَةَ وَ أَمَّـا عَـمَّتُـهُ فَـزَوْجُ الـنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ

۴۲۹: عبداللّه بن محمد. يحيى بن معين. حجاج. ابن جريج. ابن ابي مليكه نه روايت كوي، هغه اووې. كوم وخت چه ابن عباسؓ او ابن زبيرؓ كښې د خلافت متعلق اختلاف شو. نو ما ابن عباسؓ سره ملاقات او كړه. او ورته م اووې. آيا ته دا خبره خوښوې چه ابن زبيرؓ سره جنګ او كړے، او دا شان د اللّه د حرم توهين (بے عزتي) اوشي. ابن عباسؓ او فرمائيل. د خدائے پناه غواړم. دا كار خو د ابن زبير او بني اميه په حصه كښې ليكلے شوے دے. زه خو، خدائے ګواه دے. هيڅ كله به دا كار اونه كړم. ابن ابي مليكه وائي. كوم وخت چه خلقو ابن عباسؓ ته اووې. تاسو د ابن زبيرؓ نه بيعت او كړئ. نو هغه اووې. دے كښې څه حرج دے. هغه د دے قابل دے، ځكه چه د هغه پلار د حضور صلي اللّه عليه وسلم معاون (مددګار) وو، او د هغه نيكه د حضور صلي اللّه عليه وسلم د غار يار وو. او د هغه مور ته د ذات النطاقين كيدو شرف حاصل دے، او د هغه ترور (خاله) ام المؤمنين ده، د هغه ترور (پھوپھی) بي بي خديجه د حضور صلي اللّه عليه وسلم بي بي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرِيْدُ خَدِيْجَةَ وَ اَمَّا عَمَّةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَدَّتُهُ يُرِيْدُ صَفِيَّةَ ثُمَّ عَفِيْفٌ فِي الْاِسْلَامِ قَارِئٌ لِلْقُرْاٰنِ وَاللّٰهِ اِنْ وَصَلُوْنِيْ وَصَلُوْنِيْ مِنْ قَرِيْبٍ وَ اِنْ رَبُّوْنِيْ رَبَّنِيْ اَكْفَاءٌ كِرَامٌ فَاٰثَرَ التُّوَيْتَاتِ وَالْاُسَامَاتِ وَالْحُمَيْدَاتِ يُرِيْدُ اَبْطُنًا مِنْ بَنِيْ اَسَدٍ بَنِيْ تُوَيْتٍ وَبَنِيْ اُسَامَةَ وَ بَنِيْ اَسَدٍ اِنَّ ابْنَ اَبِي الْعَاصِ بَرَزَ يَمْشِي الْقُدَمِيَّةَ يَعْنِيْ عَبْدَ الْمَلِكِ بْنِ مَرْوَانَ وَ اِنَّهُ لَوَّى ذَنَبَهُ يَعْنِي ابْنَ الزُّبَيْرِ.

وه. د هغه نیا (دادي) بي بي صفیهؓ بنت عبدالمطلب ده، چه د رسول الله صلي الله عليه وسلم ترور (پھوپھی) ده. بیا هغه خپله هم همیشه پاک دامن پاتے شوے دے او د قرآن قاری دے. قسم په خدائے که هغه مونږ سره ښه سلوک اوکړي او پکار هم دي چه هغه خمونږ نږدے رشته دار دے او که هغه په مونږ حاکم وي، نو خمونږ د برابرۍ دے. خو عبدالله بن زبیر، بني اسد، بني تویت او بني اسامه خمونږ نه زیات خپل مقرب او نږدے جوړ کړے دي. کوره، عبدالملک خپل چال کښې غرور پیدا کړے دے. خو ابن زبیر دا کار ښه نه دے کړے چه بیانے هغه خلق خپل دوست او مقرب جوړ کړے دي.

٤٢٥٠ : حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدِ بْنِ مَيْمُوْنٍ حَدَّثَنَا عِيْسَى بْنُ يُوْنُسَ عَنْ عُمَرَ بْنِ سَعِيْدٍ قَالَ اَخْبَرَنِي ابْنُ اَبِيْ مُلَيْكَةَ دَخَلْنَا عَلَى ابْنِ عَبَّاسٍ فَقَالَ اَلَا تَعْجَبُوْنَ لِابْنِ الزُّبَيْرِ قَامَ فِيْ اَمْرِهِ هٰذَا فَقُلْتُ لَاُحَاسِبَنَّ نَفْسِيْ لَهُ مَا حَاسَبْتُهَا لِاَبِيْ بَكْرٍ وَلَا لِعُمَرَ وَلَهُمَا كَانَ اَوْلٰى بِكُلِّ خَيْرٍ مِّنْهُ وَ قُلْتُ ابْنُ عَمَّةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَابْنُ الزُّبَيْرِ وَابْنُ اَبِيْ بَكْرٍ وَابْنُ اَخِيْ خَدِيْجَةَ وَابْنُ اُخْتِ عَائِشَةَ فَاِذَا هُوَ يَتَعَلّٰى عَنِّيْ وَلَا يُرِيْدُ ذٰلِكَ فَقُلْتُ مَا كُنْتُ اَظُنُّ اَنِّيْ اَعْرِضُ هٰذَا مِنْ نَفْسِيْ فَيَدَعُهُ وَمَا اُرَاهُ يُرِيْدُ خَيْرًا وَ

٤٢٥٠ : محمد بن عبيد بن ميمون، عيسي بن يونس، عمر بن سعيد، ابن ابي مليكه نه روايت كوي، زه ابن عباسؓ سره يوځائے شوم، نو وئيلے، آيا تا اونه ليدل، ابن زبير خلافت د پاره ولاړ دے. ما زړه كښې اووے، زه به غور كوم، چه آيا هغه د دے مستحق دے، يا نه. او ما د ابوبكرؓ او عمرؓ د خلافت معامله كښې هيڅ كله ځه غور نه دے كړے، ځكه چه هغوي هر شان د دے لائق وو، بيا ما زړه كښې سوچ اوكه، چه هغه خو د نبي صلي الله عليه وسلم د ترور (پھوپھی) خوئے او د زبير بن عوام خوئے دے چه عشره مبشره كښې داخل دے. او د حضور صلي الله عليه وسلم د يار غار نوسے دے، او د بي بي خديجے د ورور خوئے (ورارہ) او د بي بي اسماءؓ خوئے دے. دغه وجه ده چه هغه خپل خان خما نه افضل گنړي، او د دے خبرے كوشش نه كوي، چه زه د هغه مقرب جوړ شم. زه

اِنْ كَانَ لَابُدَّ لِاَنْ يُرَبِّنِيْ بَنُوْ عَمِّيْ اَحَبُّ اِلَيَّ مِنْ اَنْ يُرَبَّنِيْ غَيْرُهُمْ.

خپل زړه کښې د هغه نه اعراض نه کوم. خو زبير ما پله توجه نه کوي. زه به اوس بيعت او کړم. خکه چه د غير حاکم کيدو نه دا بهتره ده چه خمونږ عزيز حاکم وي.

بَابُ ۲۴۱: قَوْلِهٖ وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوْبُهُمْ قَالَ مُجَاهِدٌ يَتَأَلَّفُهُمْ بِالْعَطِيَّةِ.

باب ۲۴۱: آيت: وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوْبُهُمْ: د الله تعالى قول چه تاليف قلب د پاره هم خرچ کول پکار دي. مجاهد وائي حضور صلي الله عليه وسلم به تاليف قلب د پاره خرچ کولو.

ف: تاليف قلوب: د زړونو يو خائے کول زړه يا زړونه ساتل نور رضا ساتل.

۱٦۵۱: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيْرٍ اَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنْ اَبِيْهِ عَنِ ابْنِ اَبِيْ نُعْمٍ عَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ بُعِثَ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَيْءٍ فَقَسَمَهُ بَيْنَ اَرْبَعَةٍ وَ قَالَ اَتَأَلَّفُهُمْ فَقَالَ رَجُلٌ مَّا عَدَلْتَ فَقَالَ يَخْرُجُ مِنْ ضِئْضِيءِ هٰذَا قَوْمٌ يَمْرُقُوْنَ مِنَ الدِّيْنِ.

۱٦۵۱: محمد بن کثير. سفيان. د هغه پلار. ابن ابي نعم. حضرت ابو سعيد نه روايت کوي د نبي صلي الله عليه وسلم خدمت کښې څه څيز راوړے شو. حضور صلي الله عليه وسلم هغه څلورو سړو کښې تقسيم کړلو ارشاد ئے اوفرمائيلو ما د هغوي د تاليف قلوب د پاره داسے اوکړل. يو سړي اووے تاسو انصاف اونه کړ. حضور اوفرمائيل د دهٔ د نسل نه به داسے خلق پيدا شي چه دين به پريږدي او به تښتي.

بَابُ ۲۴۲: قَوْلِهٖ اَلَّذِيْنَ يَلْمِزُوْنَ الْمُطَّوِّعِيْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ يَلْمِزُوْنَ يَعِيْبُوْنَ وَ جُهْدَهُمْ وَ جَهْدَهُمْ طَاقَتَهُمْ.

باب ۲۴۲: آيت: اَلَّذِيْنَ يَلْمِزُوْنَ الْمُطَّوِّعِيْنَ: د الله تعالى قول کوم خلق چه خيرات کونکو مؤمنانو ته طعنه ورکوي "يلمزون" معني عيب پرے لږوي. "جهدهم" او "جُهدهم" معني دي: د خپل کوشش او طاقت موافق.

۱٦۵۲: حَدَّثَنِيْ بِشْرُ بْنُ خَالِدٍ اَبُوْ مُحَمَّدٍ اَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ اَبِيْ وَائِلٍ عَنْ اَبِيْ مَسْعُوْدٍ قَالَ لَمَّا اُمِرْنَا بِالصَّدَقَةِ كُنَّا نَتَحَامَلُ فَجَاءَ اَبُوْ عَقِيْلٍ بِنِصْفِ صَاعٍ وَّ

۱٦۵۲: بشر بن خالد. ابو محمد. محمد بن جعفر. شعبه. سليمان. ابو وائل. حضرت ابي مسعود نه روايت کوي د هغهٔ بيان دے. کوم وخت چه د خيرات کولو حکم راغے نو مونږ به مزدوري بوج اوچتولو. بيا ورځے ابو عقيل نيم صاع قجورے راوړے. او يو سړي (يعني عبدالرحمن بن عوف) ډير زيات مال راوړلو. نو

جَاءَ اِنْسَانٌ بِاَكْثَرَ مِنْهُ فَقَالَ الْمُنَافِقُوْنَ اِنَّ اللّٰهَ لَغَنِيٌّ عَنْ صَدَقَةِ هٰذَا وَمَا فَعَلَ هٰذَا الْاٰخَرُ اِلَّا رِيَآءً فَنَزَلَتْ اَلَّذِيْنَ يَلْمِزُوْنَ الْمُطَّوِّعِيْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ فِي الصَّدَقَاتِ وَالَّذِيْنَ لَا يَجِدُوْنَ اِلَّا جُهْدَهُمْ الْاٰيَةَ.

منافقانو ونیلي' الله د دې حقیر (معمولي) خیرات نه بې پروا دې' او دا زیات مال د ښودنې د پاره راوړلې شوې دې. دغه وخت دا آیت نازل شولو' چه منافقان به خیرات کونکو عیب لګوي. څوک چه کم ورکړي هغې ته حقیر واني' او چه زیات ورکړي' نو هغه په ریاکارۍ محمول کوي.

۶۵۳ : حَدَّثَنَا اِسْحٰقُ بْنُ اِبْرٰهِيْمَ قَالَ قُلْتُ لِاَبِيْ اُسَامَةَ اَحَدَّثَكُمْ زَائِدَةُ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ شَقِيْقٍ عَنْ اَبِيْ مَسْعُوْدٍ الْاَنْصَارِيِّ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَاْمُرُ بِالصَّدَقَةِ فَيَحْتَالُ اَحَدُنَا حَتّٰى يَجِيْءَ بِالْمُدِّ وَاِنَّ لِاَحَدِهِمُ الْيَوْمَ مِائَةَ اَلْفٍ كَاَنَّهُ يُعَرِّضُ بِنَفْسِهِ.

۶۵۳ : اسحاق بن ابراهیم. ابو اسامه. زائده. سلیمان. شقیق. حضرت ابي مسعود انصاري نه روایت کوي' د هغه بیان دې' حضور صلي الله علیه وسلم به مونږ ته د خیرات حکم راکولو' نو مونږ به ډیر کوشش سره د غنمو یا وربشو یو مُد راوړلې شو' یعني ډیر کم خیرات به مو کولې شو. لیکن نن مونږ د یو لاکه ورکولو طاقت لرو. یا حضرت ابو مسعودؓ خپل ځان طرف ته اشاره اوکړله.

ف: (۱) صاع: د (۲۳۲) تولو یو وزن (کانړې). کاسه. یوه پیمانه. (۲) مُد: یو پیمانه چه عراق کښې دوه رطل وي (رطل: د نیم سیر پیمانه. نیم سیر وزن دې).

بَابٌ ۲۴۳ : قَوْلُهٗ اِسْتَغْفِرْ لَهُمْ اَوْلَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ اِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِيْنَ مَرَّةً.

باب ۲۴۳ : آیت: اِسْتَغْفِرْ لَهُمْ اَوْلَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ د الله تعالي قول' که ته هغوي د پاره د مغفرت دعا اوکړې یا اونه کړې که اویا ځله هم دعا اوکړې (نو هم الله هغوي نه ښني).

۶۵۴ : حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ اِسْمٰعِيْلَ عَنْ اَبِيْ اُسَامَةَ عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَؓ قَالَ لَمَّا تُوُفِّيَ عَبْدُ اللّٰهِ جَاءَ ابْنُهٗ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

۶۵۴ : عبید بن اسمٰعیل. ابو اسامه. عبیدالله. نافع. حضرت ابن عمرؓ نه روایت کوي' کوم وخت چه عبدالله بن ابي سلول (منافق) مړ شو' نو د هغه ځوئې د حضور صلي الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر شو' او حضور صلي الله علیه وسلم ته ئې عرض اوکړ' چه خپل قمیص د هغه د کفن د پاره راکړئې' حضور صلي

وَسَلَّمَ فَسَأَلَهُ أَنْ يُعْطِيَهُ قَمِيصَهُ يُكَفِّنُ فِيهِ أَبَاهُ فَأَعْطَاهُ ثُمَّ سَأَلَهُ أَنْ يُصَلِّيَ عَلَيْهِ فَقَامَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيُصَلِّيَ فَقَامَ عُمَرُ فَأَخَذَ بِثَوْبِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ تُصَلِّيْ عَلَيْهِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا خَيَّرَنِي اللّٰهُ فَقَالَ اسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْلَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ إِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً وَ سَأَزِيدُهُ عَلَى السَّبْعِينَ قَالَ إِنَّهُ مُنَافِقٌ قَالَ فَصَلَّى عَلَيْهِ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ وَلَا تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَى قَبْرِهِ.

اللّٰه عليه وسلّم قميص ور كړلو، بيا هغهٔ اوورے، تاسو دَ دهٔ دَ جنازے مونځ هم اوكړئے. حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم دَ ورتلو اراده اوكړه. حضرت عمرؓ دَ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم لمن اونيوله، او عرض ئے اوكهٔ، اے د اللّٰه رسولهؐ، تاسوّ دَ منافق (دَ جنازے) مونځ كوئے، او دَ مغفرت دُعا ورته كوئے، اللّٰه تعالٰي خو دَ دے نه منع فرمائيلے ده. حضورؐ ارشاد اوفرمائيلو. خدائے تعالٰي ماله اختيار راكړے دے، چه زهٔ هغهٔ دَ پاره دَ مغفرت دُعا اوغواړم يا اونهٔ غواړم او اللّٰه تعالٰي خو فرمائي، كه دوي دَ پاره اويا خله هم دَ مغفرت (ببښنے) دعاگانے اوكړے شي، نو بيا هم زهٔ دوي نه ببښم. نو زه دَ دهٔ دَ پاره دَ اويا خله نه زيات مغفرت غواړم. حضرت عمرؓ عرض اوكهٔ، هغه خو منافق دے آخر حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم مونځ اوكړلو، نو هغه وخت دا آيت نازل شولو: وَلَا تُصَلِّ عَلٰى اَحَدٍ: الخ يعني اے رسولهؐ، دے منافقانو كښ چه څوك هم مړ شي، نو مهٔ پرے د جنازے مونځ كوهٔ، او مهٔ ئے قبر له ورځه.

**٦٥٥** : حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّهُ قَالَ لَمَّا مَاتَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ أُبَيٍّ بْنِ سَلُولٍ دُعِيَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيُصَلِّيَ عَلَيْهِ فَلَمَّا قَامَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ ثَبْتُ إِلَيْهِ

**٦٥٥** : يحيٰي بن بكير. ليث. عقيل. (دوېم سند) ليث. عقيل. ابن شهاب. عبيداللّٰه بن عبداللّٰه. حضرت ابن عباسؓ. حضرت عمرؓ بن خطاب نه روايت كوي. كوم وخت چه عبداللّٰه بن ابي (دَ منافقانو مشر) مړ شو، نو حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ته دَ جنازے دَ مونځ دَ پاره اووئيلے شو. حضورصلي اللّٰه عليه وسلّم چه مونځ دَ پاره روان شو نو ما (عمرؓ) حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم دَ لمن نه اونيولو، او عرض م اوكهٔ، اے دَ اللّٰه رسولهٔ، تاسو دَ داسے

فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَتُصَلِّيْ عَلٰى ابْنِ اُبَيٍّ وَقَدْ قَالَ يَوْمَ كَذَا كَذَا وَ كَذَا قَالَ اُعَدِّدُ عَلَيْهِ قَوْلَهٗ فَتَبَسَّمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ اَخِّرْ عَنِّيْ يَا عُمَرُ فَلَمَّا اَكْثَرْتُ عَلَيْهِ قَالَ اِنِّيْ خُيِّرْتُ فَاخْتَرْتُ لَوْ اَعْلَمُ اَنِّيْ اِنْ زِدْتُ عَلَى السَّبْعِيْنَ يُغْفَرْ لَهٗ لَزِدْتُ عَلَيْهَا فَصَلّٰى عَلَيْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ انْصَرَفَ فَلَمْ يَمْكُثْ اِلَّا يَسِيْرًا حَتّٰى نَزَلَتِ الْاٰيَتَانِ مِنْ بَرَاءَةٍ وَلَا تُصَلِّ عَلٰى اَحَدٍ مِّنْهُمْ مَاتَ اَبَدًا اِلٰى قَوْلِهٖ وَهُمْ فَاسِقُوْنَ قَالَ فَعَجِبْتُ بَعْدُ مِنْ جُرْاَتِيْ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ.

سړي مونځ کوئې، چه هغۀ يوه ورځ دا دا خبرې کړې وې. غرض ما د هغۀ حرکات حضور صلي الله عليه وسلّم ته راياد کړل، نو حضور صلي الله عليه وسلّم څۀ قدرې مُسکې شولو، او ارشاد ئې اوفرمائيلو، اې عمرؓ، پرېږده چه ورشم، الله تعالٰي ماله اختيار راکړې دې، که ماته دا معلومه شي چه يو سړې به اويا خله نه زيات استغفار سره اوبښلې شي، نو زۀ به هغۀ د پاره د اويا خله نه زيات استغفار اوغواړم، حضورؐ د هغۀ د جنازې مونځ ورکړلو، او واپس ئې تشريف راوړلو، نو سمدستي د سورة برأت دا آيتونه نازل شول، وَلَا تُصَلِّ عَلٰى اَحَدٍ الخ هغوي کښې په هيچا د جنازې مونځ مۀ کوه، چه مړ شي، مۀ ئې قبر له ورځه: هم الفاسقون: پورې. حضرت عمرؓ دې نه پس وئيل، ماته په خپل جرأت حيرت راځي، چه ما حضور صلي الله عليه وسلّم د جنازې د مونځ نه ايسارولو، حالانکه الله تعالٰي او د هغۀ رسول ښۀ پوهيږي.

## بَابُ ۲۴۴: قَوْلِهٖ وَلَا تُصَلِّ عَلٰى اَحَدٍ مِّنْهُمْ مَاتَ اَبَدًا وَّلَا تَقُمْ عَلٰى قَبْرِهٖ.

باب ۲۴۴: آيت: وَلَا تُصَلِّ عَلٰى اَحَدٍ مِّنْهُمْ: د الله تعالٰي قول: که دوي (يعني منافقانو) کښې څوک مړ شي، نو نۀ پرې د جنازې مونځ کول پکار دي، و نه ئې قبرته ورتلل پکار دي (چه دُعا ورته او کړي).

۲۵۶: حَدَّثَنِيْ اِبْرَاهِيْمُ بْنُ الْمُنْذِرِ حَدَّثَنَا اَنَسُ بْنُ عَيَّاضٍ عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ عَنْ نَّافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّهٗ قَالَ لَمَّا تُوُفِّيَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ اُبَيٍّ جَاءَ ابْنُهٗ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

۲۵۶: ابراهيم بن منذر. انس بن عياض. عبيدالله. نافع. حضرت ابن عمرؓ نه روايت کوي، د هغۀ بيان دې، کوم وخت چه عبدالله بن ابي مړ شو، نو د هغۀ خوئې عبدالله، حضور صلي الله عليه وسلّم له راغې او حضور صلي الله عليه وسلّم نه ئې د خپل پلار د کفن کولو د پاره قميص اوغښتلو، حضور صلي الله عليه

فَأَعْطَاهُ قَمِيْصَهُ وَ اَمَرَهُ اَنْ يُكَفِّنَهُ فِيْهِ ثُمَّ قَامَ يُصَلِّيْ عَلَيْهِ فَاَخَذَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ بِثَوْبِهِ فَقَالَ تُصَلِّيْ عَلَيْهِ وَهُوَ مُنَافِقٌ وَقَدْ نَهَاكَ اللّٰهُ اَنْ تَسْتَغْفِرَ لَهُمْ قَالَ اِنَّمَا خَيَّرَنِيَ اللّٰهُ اَوْ اَخْبَرَنِيْ فَقَالَ اسْتَغْفِرْ لَهُمْ اَوْلَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ اِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِيْنَ مَرَّةً فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ فَقَالَ سَاَزِيْدُهُ عَلٰى سَبْعِيْنَ قَالَ فَصَلّٰى عَلَيْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ صَلَّيْنَا مَعَهُ ثُمَّ اَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَلَا تُصَلِّ عَلٰى اَحَدٍ مِّنْهُمْ مَاتَ اَبَدًا وَّلَا تَقُمْ عَلٰى قَبْرِهِ اِنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَ رَسُوْلِهِ وَمَاتُوْا وَهُمْ فَاسِقُوْنَ.

وسلّم قميص ورکړلو، نو حضرت عمرؓ د حضور صلي الله عليه وسلّم لمن اونيوله. او عرض ئے اوکړ، چه هغه خو منافق وو. تاسوؑ د منافق ذ جنازے مانځه له څنګه ځئ (يعني مه ځئ) حالانکه الله تعالي خو منافقانو ته د دُعا کولو نه منع فرمائيلے ده. حضور صلي الله عليه وسلّم ورته اوفرمائيل، اے عمرؓ! الله تعالي ماته اختيار راکړے دے. منع ئے نه ده کړے. يا خبردار کړے يم (راوي ته شک دے حضورؐ کوم لفظ اوفرمائيلو) که زۀ غواړم، نو استغفار به اوکړم يا اونۀ کړم. او الله خو دا فرمائيلے دي. چه اويا خله استغفار نه پس هم منافق نشي بښلے. خو زۀ به د دے نه زيات خله استغفار اوکړم، بيا مونږ حضور صلي الله عليه وسلّم سره ذ هغۀ (عبدالله بن ابي) ذ جنازے مونځ اوکړلو. دے نه پس الله تعالي دا آيت نازل کړلو: وَلَا تُصَلِّ عَلٰى اَحَدٍ الخ.

**باب ۲۴۵ : قَوْلِهٖ سَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ لَكُمْ اِذَا انْقَلَبْتُمْ اِلَيْهِمْ لِتُعْرِضُوْا عَنْهُمْ فَاَعْرِضُوْا عَنْهُمْ اِنَّهُمْ رِجْسٌ وَمَاْوٰهُمْ جَهَنَّمُ جَزَاءً بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ.**

**باب ۲۴۵ :** آيت: سَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ لَكُمْ اِذَا انْقَلَبْتُمْ: ذ الله تعالي قول، کله چه تاسو واپس راشئ، نو هغوي به بهانے کوي او قسمونه به خوري، چه تاسو ترے مخ واړوئ نو مخ ترينه واړوئ، ځکه چه هغوي پليت دي، او ذ هغوي ټيکاونړه جهنم دے. دا ذ هغوي ذ کارونو سزا ده.

۷۵۲ : حَدَّثَنَا يَحْيٰى حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ اَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ سَمِعْتُ كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ حِيْنَ تَخَلَّفَ عَنْ تَبُوْكَ وَاللّٰهِ مَا اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيَّ

۷۵۲ : يحيي. ليث. عقيل. ابن شهاب. عبدالرحمن بن عبدالله. عبدالله بن کعب بن مالک. حضرت کعب بن مالکؓ نه روايت کوي، ذ هغۀ بيان دے، کوم وخت چه زۀ غزوۀ تبوک کښ حاضر نۀ شوم، او حضور صلي الله عليه وسلّم ذ هغے نه واپس راغلو، نو الله تعالي ماته دا نعمت عطا کړلو،

مِنْ نِعْمَةٍ بَعْدَ اِذْ هَدَانِيْ اَعْظَمَ مِنْ صِدْقِيْ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ لَّا اَكُوْنَ كَذَبْتُهُ فَاَهْلِكَ كَمَا هَلَكَ الَّذِيْنَ كَذَبُوْا حِيْنَ اُنْزِلَ الْوَحْيُ سَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ اِذَا انْقَلَبْتُمْ اِلَيْهِمْ اِلَى الْفَاسِقِيْنَ.

چه ذ مسلمانیدو نه پس اوسه پورے راته نه وو حاصل شوے، هغه دا چه حضور صلي الله عليه وسلّم ته مِ دروغ اونه ونیل او ذ هلاک کیدو نه بچ شوم. او نور چه منافق وو، دروغ نے اوونیل، او هلاک شولو، نو الله تعالٰي په دے موقع دا آیت نازل کړلو: سَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ الخ فَاسقين: پورے.

**باب ۲۴۶ : قَوْلِهٖ وَ اٰخَرُوْنَ اعْتَرَفُوْا بِذُنُوْبِهِمْ خَلَطُوْا عَمَلًا صَالِحًا وَّ اٰخَرَ سَيِّئًا عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّتُوْبَ عَلَيْهِمْ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ.**

**باب ۲۴۶ : آیت: وَ اٰخَرُوْنَ اعْتَرَفُوْا بِذُنُوْبِهِمْ:** ذ الله تعالٰي قول: نور هغه خلق دي چه خپلو باندے شرمنده شو. او هغوي خپل نیک کارونه نے بدو کارونو سره یو ځائے کړل، نزدے ده، چه الله تعالٰي ذ هغوي توبه قبوله کړي، بیشکه الله تعالٰي بښونکے او مهربانه دے.

**۲۵۸ :** حَدَّثَنَا مُؤَمَّلٌ هُوَ ابْنُ هِشَامٍ حَدَّثَنَا اِسْمَاعِيْلُ ابْنُ اِبْرٰهِيْمَ حَدَّثَنَا عَوْفٌ حَدَّثَنَا اَبُوْ رَجَاءٍ حَدَّثَنَا سَمُرَةُ بْنُ جُنْدُبٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَنَا اَتَانِي اللَّيْلَةَ اٰتِيَانِ فَابْتَعَثَانِيْ فَانْتَهَيْنَا اِلَى مَدِيْنَةٍ مَّبْنِيَّةٍ بِلَبِنِ ذَهَبٍ وَلَبِنِ فِضَّةٍ فَتَلَقَّانَا رِجَالٌ شَطْرٌ مِّنْ خَلْقِهِمْ كَاَحْسَنِ مَا اَنْتَ رَاءٍ وَ شَطْرٌ كَاَقْبَحِ مَا اَنْتَ رَاءٍ قَالَا لَهُمْ اذْهَبُوْا فَقَعُوْا فِيْ ذٰلِكَ النَّهْرِ فَوَقَعُوْا فِيْهِ ثُمَّ رَجَعُوْا اِلَيْنَا قَدْ ذَهَبَ ذٰلِكَ السُّوْءُ عَنْهُمْ فَصَارُوْا فِيْ اَحْسَنِ صُوْرَةٍ قَالَا لِيْ هٰذِهٖ جَنَّةُ عَدْنٍ وَّ هٰذَاكَ مَنْزِلُكَ قَالَا اَمَّا الْقَوْمُ الَّذِيْنَ

**۲۵۸ :** مؤمل بن هشام. اسمٰعیل بن ابراهیم. عوف. ابو رجاء. حضرت سمره بن جندب نه روایت کوي: ذ هغه بیان دے، حضور صلي الله علیه وسلّم ارشاد اوفرمائیلو. ذ شپے دوه فریښتے راغلے، او زه نے دَ داسے مکان ته بوتلم، چه د سرو او سپینو (زرو) ذ ښختو نه جوړ شوے وو. هلته ما ځنے داسے خلق اولیدل چه ذ هغوي نیم بدن ډیر خوبصورته او نیم بدن ډیر بدصورته وو، داسے چه تاسو به هیڅ کله نه وي لیدلے. هغے فریښتو هغوي ته اوویے. دے نهر کښ ورننوځے، هغوي وردننه شو، بیا بهر ته راووتل، نو ذ هغوي ټوله بدصورتي ختمه شوے وه، او هغوي خوبصورته شوي وو. فریښتو ماته اوویے، دا جنت عدن دے، او ستاسو دا مقام او ټیکاونړه ده. بیا فریښتو اوویے. ذ کومو خلقو چه دے نیم بدن خوبصورته او نیم بدن بدصورته لیدلے وو، دا

كَانُوْا شَطْرٌ مِنْهُمْ حَسَنٌ وَ شَطْرٌ مِنْهُمْ قَبِيحٌ فَأَنَّهُمْ خَلَطُوْا عَمَلًا صَالِحًا وَ اٰخَرَ سَيِّئًا تَجَاوَزَ اللّٰهُ عَنْهُمْ.

هغه خلق دي، چه هغوي دُنيا كښې ښنه او بد دواړه كارونه كړي وو، اللّه تعالي هغوي اوبښل، او هغوي پاک او خوبصورته شو.

ف: اللّٰه پاک دے مونږ هم اوبښي. اللّٰهم آمين.

## بَاب ۲۴۷: قَوْلِهٖ مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اَنْ يَّسْتَغْفِرُوْا لِلْمُشْرِكِيْنَ.

باب ۲۴۷: آيت: ما كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا: دَ اللّه تعالي قول، پيغمبر او ايمانداروله دَ مشركينو دَ پاره استغفار كول نه دي پكار.

۶۵۹: حَدَّثَنَا اِسْحٰقُ بْنُ اِبْرٰهِيْمَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ اَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ لَمَّا حَضَرَتْ اَبَا طَالِبِ الْوَفَاةُ دَخَلَ عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ عِنْدَهٗ اَبُوْ جَهْلٍ وَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ اَبِيْ اُمَيَّةَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَىْ عَمِّ قُلْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اُحَاجُّ لَكَ بِهَا عِنْدَ اللّٰهِ فَقَالَ اَبُوْ جَهْلٍ وَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ اُمَيَّةَ يَا اَبَا طَالِبٍ اَتَرْغَبُ عَنْ مِلَّةِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَاَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ مَالَمْ اُنْهَ عَنْكَ فَنَزَلَتْ مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اَنْ يَّسْتَغْفِرُوْا لِلْمُشْرِكِيْنَ وَلَوْ كَانُوْا اُولِيْ قُرْبٰى مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ اَنَّهُمْ اَصْحَابُ الْجَحِيْمِ.

۶۵۹: اسحٰق بن ابراهيم. عبدالرزاق. معمر. زهري. سعيد بن مسيب خپل پلار نه روايت كوي: كوم وخت چه ابو طالب مړ كيدلو، نو حضور صلي اللّه عليه وسلّم ورغے، دغه وخت هغهٔ سره ابوجهل او عبداللّه بن ابي اُميه هم ناست وو، حضور صلي اللّه عليه وسلّم ورته اوفرمائيل، اے خما تره! ته دا اقرار اوكړه، چه دَ اللّه نه سِوا بل معبود نشته، او زهٔ به دَ هغهٔ بندگي كوم نو زهٔ به دے دَ خدائے نه ښنه اوغوارم. ابوجهل او عبداللّه چه دا واوريدل، نو وے وئيل، اے ابو طالبه: آيا دَ مرگ په وخت دَ خپل پلار نيكه دين پريږدے. حضور صلي اللّه عليه وسلّم ارشاد اوفرمائيلو، زهٔ به ستا دَ پاره دَ خدائے نه استغفار كوم، څو پورے چه هغه ما دَ دے كار نه منع نهٔ كړي، نو هغه وخت دا آيت: مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اَنْ يَّسْتَغْفِرُوْا لِلْمُشْرِكِيْنَ وَلَوْ كَانُوْا اُولِيْ قُرْبٰى مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ اَنَّهُمْ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ نازل شولو.

## بَاب ۲۴۸: قَوْلِهٖ لَقَدْ تَّابَ اللّٰهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ

باب ۲۴۸: آيت: لَقَدْ تَّابَ اللّٰهُ عَلَى النَّبِيِّ: دَ اللّه تعالي قول، اللّه په نبي مهرباني او كړه، او په مهاجرينو

اَلَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ فِيْ سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِنْ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيْغُ قُلُوْبُ فَرِيْقٍ مِّنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ اِنَّهُ بِهِمْ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ.

او انصارو، چه هغوي د نبي مشكل او پريشاني وخت كښې پيروي اوكړله، حالانكه هغوي كښې د يو ډلے زړه كږيدونكے وو، الله تعالى په هغوي خپله مهرباني اوكړله، بيشكه الله تعالى بښونكے مهربانه دے.

۲۶۰: حَدَّثَنَا اَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ قَالَ حَدَّثَنِيْ ابْنُ وَهْبٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ يُوْنُسُ ح قَالَ اَحْمَدُ وَ حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ حَدَّثَنَا يُوْنُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنِ كَعْبٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنِ كَعْبٍ وَ كَانَ قَائِدَ كَعْبٍ مِنْ بَنِيْهِ حِيْنَ عَمِيَ قَالَ سَمِعْتُ كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ فِيْ حَدِيْثِهٖ وَ عَلَى الثَّلٰثَةِ الَّذِيْنَ خُلِّفُوْا قَالَ قَالَ فِيْ اٰخِرِ حَدِيْثِهٖ اِنَّ مِنْ تَوْبَتِيْ اَنْ اَنْخَلِعَ مِنْ مَّالِيْ صَدَقَةً اِلَى اللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَمْسِكْ بَعْضَ مَالِكَ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكَ.

۲۶۰: احمد بن صالح. ابن وهب. يونس. احمد. عنبسه. يونس. ابن شهاب. عبدالرحمن بن كعب. عبدالله بن كعبؓ نه روايت كوي (او دا عبدالله هغه دے، چه كوم وخت حضرت كعبؓ نابينا شو، نو دے به د هغه په سهارا تلو) د هغه بيان دے، ما د خپل پلار نه آوريدلے دي، هغه به دا آيت: وَ عَلَى الثَّلاثَةِ الَّذِيْنَ خُلِّفُوْا: باره كښې بيان كولو. او د ټولونه آخر كښ به ئے دا خبره فرمائيله، ما د خپلے توبے د قبليدو په خوشحالي كښې خپل ټول مال د الله په لار كښې خرچ كول غوښتلے وو. خو حضور صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل، ټول مال مه صدقه كوه، څه صدقه كړه، او څه خان د پاره اوساته. هغه به ستا د پاره مفيد شي.

بَاب ۲۴۹: قَوْلِهٖ وَ عَلَى الثَّلٰثَةِ الَّذِيْنَ خُلِّفُوْا حَتّٰى اِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَ ضَاقَتْ عَلَيْهِمْ اَنْفُسُهُمْ وَ ظَنُّوْا اَنْ لَّا مَلْجَاَ مِنَ اللّٰهِ اِلَّا اِلَيْهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوْبُوْا اِنَّ اللّٰهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ.

باب ۲۴۹: آيت: وَ عَلَى الثَّلٰثَةِ الَّذِيْنَ خُلِّفُوْا: د الله تعالى قول، الله به هغے درے سړو هم مهرباني اوكړله، چه ورستو پاتے شوے وو، تردے چه زمكه پرے باوجود د فراخي تنګه شوے وه، او هغوي باندے خپل خانونه بوج شوے وو، او هغوي ته معلومه شوه، چه بيوا د الله نه بل چرته پناه نشته، نو الله په هغوي مهرباني اوكړه، چه هغوي په خپله توبه قائم پاتے شي، بيشكه الله توبه قبلونكے مهربانه دے.

۱۲۱ : حَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي شُعَيْبٍ حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ أَعْيَنَ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ رَاشِدٍ أَنَّ الزُّهْرِيَّ حَدَّثَهُ قَالَ أَخْبَرَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ وَهُوَ أَحَدُ الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ تِيبَ عَلَيْهِمْ أَنَّهُ لَمْ يَتَخَلَّفْ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةٍ غَزَاهَا قَطُّ غَيْرَ غَزْوَتَيْنِ غَزْوَةِ الْعُسْرَةِ وَغَزْوَةِ بَدْرٍ قَالَ فَأَجْمَعْتُ صِدْقَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضُحًى وَكَانَ قَلَّمَا يَقْدَمُ مِنْ سَفَرٍ سَافَرَهُ إِلَّا ضُحًى وَكَانَ يَبْدَأُ بِالْمَسْجِدِ فَيَرْكَعُ رَكْعَتَيْنِ وَنَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ كَلَامِي وَكَلَامِ صَاحِبَيَّ وَلَمْ يَنْهَ عَنْ كَلَامِ أَحَدٍ مِنَ الْمُتَخَلِّفِينَ غَيْرِنَا فَاجْتَنَبَ النَّاسُ كَلَامَنَا فَلَبِثْتُ كَذَلِكَ حَتَّى طَالَ عَلَيَّ الْأَمْرُ وَمَا مِنْ شَيْءٍ أَهَمَّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَمُوتَ فَلَا يُصَلِّيَ عَلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ يَمُوتَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَكُونَ مِنَ النَّاسِ بِتِلْكَ الْمَنْزِلَةِ فَلَا يُكَلِّمُنِي أَحَدٌ مِنْهُمْ وَلَا يُصَلِّي عَلَيَّ فَأَنْزَلَ اللَّهُ

۱۲۱ : محمد احمد بن ابی شعیب موسی بن اعین اسحق بن راشد زهری عبدالرحمن بن عبدالله بن کعب بن مالک خپل پلار نه او هغه د خپل پلار کعب بن مالک نه روایت کوي. د هغه بیان دے: زه هیڅ غزا کښې د رسول الله صلي الله علیه وسلم نه هیڅ کله وروسته نه یم پاتے شوے سوا د دوو غزاګانو نه یو جنګ بدر او بل جنګ تبوک. کوم وخت چه حضور صلي الله علیه وسلم د جنګ تبوک نه په واپسي د چاشت وخت کښې مدینے ته تشریف راوړلو نو ما د پښتنے کولو په خاطر د رښتیا وئیلو پخه اراده وکړے وه. حضور صلي الله علیه وسلم چه به د سفر نه واپس تشریف راوړلو نو اکثر به ئے د چاشت په وخت تشریف راوړلو او د ټولو نه مخکښې به جمات ته لاړلو، دوه رکعاته (نفل) مونځ به ئے اوکړلو. حضور صلي الله علیه وسلم خلق ما سره او خما نورو دوو ملګرو سره د خبرو کولو نه منع کړے وو. لیکن نورو پاتے کیدونکو سره ئے د خبرو کولو نه، نهٔ وو منع کړے، خلق مونږ درے واړو نه جدا اوسیدل، او خبرے ورسره نه کولے. ما سره د دے خبرے سخت غم وو، چه دے حال کښې چرته مړ نشم او حضور صلي الله علیه وسلم به په ما د جنازے مونځ هم اونهٔ کړي یا خدائے مهٔ کړه (خدانخواسته) چرته حضور صلي الله علیه وسلم خپله د دنیا نه سفر اونهٔ کړي او بیابه ټولو سره دغه سلوک وي، چه نهٔ به راسره څوک خبرے کوي، اونهٔ به رابانلدے د جنازے مونځ کوي.

تُوْبَتِنَا عَلٰى نَبِيِّهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ بَقِيَ الثُّلُثُ الْاٰخِرُ مِنَ اللَّيْلِ وَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ اُمِّ سَلَمَةَ وَ كَانَتْ اُمُّ سَلَمَةَ مُحْسِنَةٌ فِيْ شَاْنِيْ مَعْنِيَةً فِيْ اَمْرِيْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا اُمَّ سَلَمَةَ تِيْبَ عَلٰى كَعْبٍ قَالَتْ اَفَلَا اُرْسِلُ اِلَيْهِ فَاُبَشِّرَهُ قَالَ اِذًا يَحْطِمُكُمُ النَّاسُ فَيَمْنَعُوْنَكُمُ النَّوْمَ سَائِرَ اللَّيْلَةِ حَتّٰى اِذَا صَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلٰوةَ الْفَجْرِ اٰذَنَ بِتَوْبَةِ اللّٰهِ عَلَيْنَا وَ كَانَ اِذَا اسْتَبْشَرَ اسْتَنَارَ وَجْهُهٗ حَتّٰى كَاَنَّهٗ قِطْعَةٌ مِنَ الْقَمَرِ وَ كُنَّا اَيُّهَا الثَّلٰثَةُ الَّذِيْنَ خُلِّفُوْا عَنِ الْاَمْرِ الَّذِيْ قُبِلَ مِنْ هٰٓؤُلَاءِ الَّذِيْنَ اعْتَذَرُوْا حِيْنَ اَنْزَلَ اللّٰهُ لَنَا التَّوْبَةَ فَلَمَّا ذُكِرَ الَّذِيْنَ كَذَبُوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْمُتَخَلِّفِيْنَ وَاعْتَذَرُوْا بِالْبَاطِلِ ذُكِرُوْا بِشَرِّ مَا ذُكِرَ بِهٖ اَحَدٌ قَالَ اللّٰهُ سُبْحَانَهٗ يَعْتَذِرُوْنَ اِلَيْكُمْ اِذَا رَجَعْتُمْ اِلَيْهِمْ قُلْ لَّا تَعْتَذِرُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ لَكُمْ قَدْ نَبَّاَنَا اللّٰهُ مِنْ اَخْبَارِكُمْ وَ سَيَرَى اللّٰهُ عَمَلَكُمْ وَ رَسُوْلُهُ الْاٰيَةَ.

آخر پنځوس ورځے پس الله تعالي په مونږ کرم او کړلو' او يوه ورځ سحر صبا رسول الله صلي الله عليه وسلّم باندے خمونږ ذَ توبے ذَ قبليدو متعلق وحي نازله شوه. په دغه شپه حضور صلي الله عليه وسلّم' بي بي اُم سلمهؓ کره وو. حضورؐ هغے ته اوفرمائيل چه د کعب توبه قبوله شوه. اُم سلمهؓ اووے' زهٔ هغهٔ له څوک اوليږم' چه هغه خبر کړي. حضور صلي الله عليه وسلّم ورته اوفرمائيل' دے وخت به ټول خلق راجمع شي' او بيا به دے ټوله شپه خوب هم نصيب نهٔ شي' نو ذَ سحر ذ مانځه نه پس حضور صلي الله عليه وسلّم خلقوته ذَ دے خبرے خبر ورکړلو. ذَ حضور صلي الله عليه وسلّم مخ مبارک دغسے چمک کولو. مونږ درے واړه سرې ذَ منافقانو نه توبے قبليدو کښې ورستو پاتے شوے وو' خو پورے چه الله تعالي خمونږ توبه قبوله کړے نهٔ وه' نو وحي ئے نهٔ وه نازله کړے. خو الله ذ هغے ټولو (منافقانو) په حقله داسے بد رَد اوونيل' چه بل چا ذَ پاره داسے نهٔ وو ونيلے. او دا آيت ذَ هغوي په حق کښې نازل شولو: يعتذرون اليكم اذا رجعتم اليهم قل لا تعتذروا الخ: يعني کله چه تهٔ هغوي ته واپس ورشے' نو هغوي به ذَ دروغو بهانے جوړے کړي. اے رسوله' تهٔ ورته اووايه' اے منافقانو' عذر مهٔ کوئے مونږ هيڅ کله تاسو رېښتينے نهٔ ګڼړو. الله ستاسو ذَ ټولو خبرو نه مونږ خبر کړي يُو' الله او رسول به اوس ستاسو اعمال ګوري.

## باب ٢٥٠: قَوْلِهٖ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

## باب ٢٥٠: آيت: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَ

اٰمَـنُـوا اتَّـقُـوا الـلّٰـهَ وَ كُـوْنُـوْا مَـعَ الصَّادِقِيْنَ.

كُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ: دَ الله تعالىٰ قول' اے ايمان والو' الله نه ويرېږئ او رېښتينے خلقو سره شئ.

۲۶۶۲: حَـدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَـدَّثَـنَـا الـلَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَـابٍ عَـنْ عَبْـدِ الرَّحْـمٰنِ بْنِ عَبْدِ الـلّٰـهِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ اَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْـنَ كَـعْبِ بْنِ مَالِكٍ وَّ كَانَ قَائِدَ كَعْبِ بْـنِ مَـالِكٍ قَالَ سَمِعْتُ كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ يُحَدِّثُ حِيْنَ تَخَلَّفَ عَنْ قِصَّةِ تَبُوْكٍ فَـوَالـلّٰـهِ مَا اَعْلَمُ اَحَدًا اَبْلَاهُ اللّٰهُ فِيْ صِدْقِ الْحَدِيْثِ اَحْسَنَ مِمَّا اَبْلَانِيْ مَا تَعَمَّدْتُ مُنْذُ ذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰى يَوْمِيْ هٰذَا كَذِبًا وَّ اَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَ جَلَّ عَلٰى رَسُوْلِهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ تَـابَ الـلّٰـهُ عَـلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِيْنَ اِلٰى قَوْلِهٖ وَ كُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ.

۲۶۶۲: يحيي بن بكير. ليث. عقيل. ابن شهاب. عبدالرحمٰن بن عبدالله بن كعب بن مالك. عبدالله بن كعب بن مالكؓ (او دا هغه عبدالله دے' چه دَ كعب بن مالك نابينا كيدو سره به هغهٔ سره ګرځيدلو) دَ خپل پلار نه روايت كوي. هغه غزوه تبوک كښ دَ روستو پاتے كيدو واقعه بيانولو سره اووے' خدائے ګواه دے' چه شايد اللّٰه تعالىٰ په چا دَ رېښتيا وئيلو په بدله دومره لوئے انعام نهٔ وي كړے' څومره چه په مائے عنايت كړے دے. هر كله چه ما حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ته غزوه تبوک كښ دَ ورستو پاتے كيدو ټيک ټيک سبب بيان كهٔ' نو دَ هغے وخت نه واخله ننه پورے دَ دروغ وئيلو قصد مې هم نهٔ دے كړے. تردے چه اللّٰه په خپل رسولؐ دا آيت نازل كړلو: لَقَدْ تَّابَ اللّٰهُ عَلَى النَّبِيِّ الخ كُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ پورے.

بَـــاب ۱۵۲: قَـــوْلِـــهٖ لَـــقَـــدْ جَـــآءَ كُـــمْ رَسُـــوْلٌ مِّـــنْ اَنْــفُـسِـكُـمْ عَـزِيْـزٌ عَـلَـيْـهِ مَـا عَـنِتُّـمْ حَـرِيْـصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَؤُفٌ رَّحِيْـمٌ مِـنَ الرَّاْفَةِ.

باب ۱۵۲: آيت: لَقَدْ جَآءَ كُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ عَزِيْزٌ عَلَيْهِ الخ: دَ اللّٰه تعالىٰ قول' تحقيق سره تاسو ته يو رسول راغلے له جنس ستاسے نه' چه په هغهٔ ستاسو تكليف ګران تيريږي' او هغه ستاسو دَ ښېګړے حريص دے (يعني ستاسو په ښيګړه ډير مين دے). اهل ايمان باندے كچه مهربانه او رحم كونكے دے. "رؤف" رأفة نه وتے دے' معني ډير مهربان.

۲۶۶۳: حَـدَّثَـنَـا اَبُـو الْيَـمَانِ اَخْبَـرَنَـا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَـالَ

۲۶۶۳: ابواليمان. شعيب. زهري. ابن سباق. حضرت زيد بن ثابت انصاري (چه كاتب

أَخْبَرَنِي ابْنُ السَّبَّاقِ أَنَّ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ الْأَنْصَارِيَّ وَ كَانَ مِمَّنْ يَكْتُبُ الْوَحْيَ قَالَ أَرْسَلَ إِلَيَّ أَبُو بَكْرٍ مَقْتَلَ أَهْلِ الْيَمَامَةِ وَ عِنْدَهُ عُمَرُ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ أَنَّ عُمَرَ أَتَانِي فَقَالَ إِنَّ الْقَتْلَ قَدِ اسْتَحَرَّ يَوْمَ الْيَمَامَةِ بِالنَّاسِ وَ إِنِّي أَخْشَى أَنْ يَسْتَحِرَّ الْقَتْلُ بِالْقُرَّاءِ فِي الْمَوَاطِنِ فَيَذْهَبُ كَثِيرٌ مِنَ الْقُرْآنِ إِلَّا أَنْ تَجْمَعُوهُ وَ إِنِّي لَأَرَى أَنْ تَجْمَعَ الْقُرْآنَ قَالَ أَبُو بَكْرٍ قُلْتُ لِعُمَرَ كَيْفَ أَفْعَلُ شَيْئًا لَمْ يَفْعَلْهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عُمَرُ هُوَ وَاللّٰهِ خَيْرٌ فَلَمْ يَزَلْ عُمَرُ يُرَاجِعُنِي فِيهِ حَتّٰى شَرَحَ اللّٰهُ لِذٰلِكَ صَدْرِي وَ رَأَيْتُ الَّذِي رَأَى عُمَرُ قَالَ زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ وَ عُمَرُ عِنْدَهُ جَالِسٌ لَا يَتَكَلَّمُ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ إِنَّكَ رَجُلٌ شَابٌّ عَاقِلٌ وَلَا نَتَّهِمُكَ كُنْتَ تَكْتُبُ الْوَحْيَ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَتَبَّعِ الْقُرْآنَ فَاجْمَعْهُ فَوَاللّٰهِ لَوْ كَلَّفَنِي نَقْلَ جَبَلٍ مِنَ الْجِبَالِ مَا كَانَ أَثْقَلَ عَلَيَّ مِمَّا أَمَرَنِي بِهِ مِنْ جَمْعِ الْقُرْآنِ قُلْتُ كَيْفَ تَفْعَلَانِ شَيْئًا لَمْ يَفْعَلْهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ هُوَ وَاللّٰهِ خَيْرٌ فَلَمْ أَزَلْ أُرَاجِعُهُ حَتّٰى شَرَحَ اللّٰهُ

وحي وو) نه روايت كوي، هغهٔ اووے. حضرت ابوبكرؓ ذ خپل خلافت زمانه كښې ماته خوک راوليږل، هغه وخت جنګ يمامه كيدلو، زهٔ هغه له ورغلم، نو هغه اوفرمائيل، حضرت عمرؓ ماته وئيلے دي، ذ يمامه جنګ په زور دے، داسے نه چه حافظان (حفاظت) شهيدان شي، او ذ قرآن اكثره حصه ضائع شي، نو زهٔ دا مناسب ګڼړم چه قرآن يوځائے راجمع كړے شي، ما دا جواب وركړلو، زهٔ دا كار څنګه اوكړم، هر كله چه حضور صلي الله عليه وسلّم داسے نهٔ دي كړے، خو حضرت عمرؓ اصرار اوكړلو، او وئيلے، راجمع كول ئے پكار دي، آخر خما رائے هم ورسره يو شوه، زيد وائي، حضرت عمرؓ دا تقرير خاموشي سره آوريدلو. دے نه پس حضرت ابوبكرؓ ماته اووے. ګوره. تهٔ ځلمے او عقل واله سړے ئے، مونږ تا ريښتينے ګڼړو، ځكه چه تا ذ نبي صلي الله عليه وسلّم په زمانه كښې هم قرآن ليكلو، نو تهٔ دا كار سرته اُورسوه. په خدائے م دے قسم وي، ماته دا كار دومره ګران معلوم شو، چه يو غر ذ يو ځائے نه بل ځائے ته منتقل كول ذ دے مقابله كښې راته آسانه ښكاره شو، ما جواب كښې اووے، هر كله چه يو كار نبي صلي الله عليه وسلّم نهٔ دے كړے، نو زهٔ ئے څنګه اوكړم. ذ حضرت ابوبكرؓ ذ اصرار كولو نه پس حضرت زيد بن ثابت اووے، ښه ده، اوس دا راز په ما څرګند شولو، او خما هم هغسے رائے شوه، ځكه چه ذ حضرت عمرؓ او ابوبكرؓ ده. بيا زهٔ ذ قرآن

صَدْرِيْ لِلَّذِيْ شَرَحَ اللّٰهُ لَهٗ صَدْرَ
اَبِيْ بَكْرٍ وَ عُمَرَ فَقُمْتُ فَتَتَبَّعْتُ
الْقُرْاٰنَ اَجْمَعُهٗ مِنَ الرِّقَاعِ وَالْاَكْتَافِ
وَالْعُسُبِ وَ صُدُوْرِ الرِّجَالِ حَتّٰى
وَجَدْتُ مِنْ سُوْرَةِ التَّوْبَةِ اٰيَتَيْنِ مَعَ
خُزَيْمَةَ الْاَنْصَارِيِّ لَمْ اَجِدْهُمَا مَعَ اَحَدٍ
غَيْرِهٖ لَقَدْ جَاءَ كُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ
اَنْفُسِكُمْ عَزِيْزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ
حَرِيْصٌ عَلَيْكُمْ اِلٰى اٰخِرِهِمَا وَ كَانَتِ
الصُّحُفُ الَّتِيْ جُمِعَ فِيْهَا الْقُرْاٰنُ عِنْدَ
اَبِيْ بَكْرٍ حَتّٰى تَوَفَّاهُ اللّٰهُ ثُمَّ عِنْدَ
حَفْصَةَ بِنْتِ عُمَرَؓ تَابَعَهٗ عُثْمَانُ بْنُ
عُمَرَ وَاللَّيْثُ عَنْ يُوْنُسَ عَنِ ابْنِ
شِهَابٍ وَ قَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِيْ عَبْدُ
الرَّحْمٰنِ بْنُ خَالِدٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ
مَعَ اَبِيْ خُزَيْمَةَ الْاَنْصَارِيِّ وَ قَالَ
مُوْسٰى عَنْ اِبْرٰهِيْمَ حَدَّثَنَا ابْنُ
شِهَابٍ مَعَ اَبِيْ خُزَيْمَةَ وَ تَابَعَهٗ يَعْقُوْبُ
بْنُ اِبْرٰهِيْمَ عَنْ اَبِيْهِ وَ قَالَ اَبُوْ ثَابِتٍ
حَدَّثَنَا اِبْرٰهِيْمُ وَ قَالَ مَعَ خُزَيْمَةَ اَوْ
اَبِيْ خُزَيْمَةَ.

تلاش پسې اولېږدم، چرته په هډوکي، چرته په
خرمن چرته د ڤجورې د ښاخ په پټ، او چرته د
خلقو زړونو کښې م محفوظ بيامند. بيا تول م
حضرت خزيمه انصاري سره جمع کړ، هغهٔ
سره م د سورهٔ توبه دوه آيتونه ليکلي اوليدل، چه
بل چا سره نهٔ وو، يو خو دا چه: لَقَدْ جَاءَ كُمْ رَسُوْلٌ
مِّنْ اَنْفُسِكُمْ: او دويم دا آيت: فان تولوا فقل حسبى
اللّٰه لَا اله الا هو الخ: او د قرآن جمع کرده
حصه حضرت ابوبکرؓ سره وه چه هغه وفات شونو
بيا د حضرت عمرؓ لور حفصےؓ سره دا صحيفې
موجود وې. شعيب سره دا حديث عثمان بن عمرؓ
او ليث بن سعد هم د يونس نه او هغهٔ د ابن شهاب
نه روايت کړې دې. ليث وائي، ماته عبدالرحمٰن
بن خالد بيان اوکړ، هغهٔ د ابن شهاب نه روايت کړ،
دې کښې د خزيمه په ځائې ابو خزيمه انصاري
دې. او موسىٰ د ابراهيم نه روايت اوکړ، مونږ ته
ابن شهاب بيان کړه. دې کښې هم ابو خزيمه دې.
موسىٰ سره دا يعقوب بن ابراهيم هم د خپل پلار
نه روايت کړه. د ابو ثابت بيان دې، ابراهيم اووې
دې حديث کښې صرف د خزيمه يا ابو خزيمه
شک دې.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# سُوْرَةُ يُوْنُس

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# دَ سورهٔ يُونس تفسير

وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَاخْتَلَطَ فَنَبَتَ
بِالْمَاءِ مِنْ كُلِّ لَوْنٍ.

ابن عباسؓ وائي، د "فاختلط" معني دي، د باران کيدو په
وجه په زمکه د هر قسمه سبزه راټوکيدله.

باب ۲۵۲: وَ قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا سُبْحَانَهُ هُوَ الْغَنِيُّ وَ قَالَ زَيْدُ بْنُ اَسْلَمَ اَنَّ لَهُمْ قَدَمَ صِدْقٍ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ خَيْرٌ يُقَالُ تِلْكَ اٰيَاتُ يَعْنِي هٰذِهِ اَعْلَامُ الْقُرْاٰنِ وَ مِثْلُهُ حَتّٰى اِذَا كُنْتُمْ فِي الْفُلْكِ وَ جَرَيْنَ بِهِمْ الْمَعْنٰى بِكُمْ دَعْوَاهُمْ دُعَاؤُهُمْ اُحِيطَ بِهِمْ دَنَوْا مِنَ الْهَلَكَةِ اَحَاطَتْ بِهِ خَطِيْئَتُهُ فَاتَّبَعَهُمْ وَ اَتْبَعَهُمْ وَاحِدٌ عَدْوًا مِنَ الْعُدْوَانِ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ يُعَجِّلُ اللّٰهُ لِلنَّاسِ الشَّرَّ اسْتِعْجَالَهُمْ بِالْخَيْرِ قَوْلُ الْاِنْسَانِ لِوَلَدِهٖ وَمَالِهٖ اِذَا غَضِبَ اللّٰهُمَّ لَا تُبَارِكْ فِيْهِ وَالْعَنْهُ لَقُضِيَ اِلَيْهِمْ اَجَلُهُمْ لَاُهْلِكَ مَنْ دُعِيَ عَلَيْهِ وَلَاَمَاتَهُ لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوا الْحُسْنٰى مِثْلُهَا حُسْنٰى وَ زِيَادَةٌ مَغْفِرَةٌ وَقَالَ غَيْرُهُ النَّظَرُ اِلٰى وَجْهِهٖ اَلْكِبْرِيَاءُ الْمُلْكُ.

باب ۲۵۲: آیت: وَ قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا سُبْحَانَهُ:

کښې دَ "سُبْحٰنَهٗ" مطلب دے، هغه پاک دے، هغه غني دے. زید بن اسلم وائي "قدم صدق" نه مراد د حضور صلي اللّٰه علیه وسلّم ذات مبارک دے. مجاهد وائي دے نه خیر و فلاح مراد دے. "تلک ایات" یعني دا دَ قرآن نښے، لکه "جرین بهم" معني هغه کشتئ چه تاسو بوخي "دعواهم" معني: دَ هغوي دُعا. "اُحیطَ بهم" مراد هغوي ئے راګیر کړل، یعني هلاکت ته نزدے شو. لکه "احاطت بهم خطیئته" معني دي، چه ګناهونو هغوي دَ هر طرف نه راګیر کړے دي. "فاتبعهم" معني دي، چه شغه هغوي پسے لاړ. "عدوًا" معني دي دَ زیاتے په طور. مجاهد وائي "یجعل اللّٰه للنّاس الشّرَّ استعجالهم بالخیر" نه مراد دا دے، انسان عصه کښې خپل اولاد او مال ته خیرے کوي، چه اے اللّٰه، دے کښې برکت مهٔ اچوے، اوپه ده لعنت اوکړے. "لَقُضِیَ اِلَیهِمْ اَجَلُهُمْ" دَ هغوي میعاد پوره شوے دے، هغه چه چاته خیرے کوي، تباه شي. "للّذین احسنوا الحسنٰی" چا چه نیکي اوکړه، هغوي دَ پاره زیات مغفرت او رضامندي ده، نور وائي، زیات نه مراد دَ اللّٰه تعالي دیدار دے "الکبریاء" نه مراد بزرګي او بدشاهت دے.

باب ۲۵۳: قَوْلُهٗ وَ جَاوَزْنَا بِبَنِيْٓ اِسْرَآئِيْلَ الْبَحْرَ فَاَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ وَ جُنُوْدُهٗ بَغْيًا وَّ عَدْوًا حَتّٰى اِذَا اَدْرَكَهُ الْغَرَقُ قَالَ اٰمَنْتُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا الَّذِيْٓ اٰمَنَتْ بِهٖ بَنُوْٓا اِسْرَآئِيْلَ وَ اَنَا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ نُنَجِّيْكَ نُلْقِيْكَ عَلٰى

باب ۲۵۳: آیت: وَ جَاوَزْنَا بِبَنِيْٓ اِسْرَآئِيْلَ الْبَحْرَ:

دَ اللّٰه تعالي قول: مونږ بني اسرائیل دَ دریاب نه پوریاسل، فرعون او دَ هغهٔ فوځ دَ سرکشئ په طور دَ هغوي تعاقب اُوکهٔ، تردے چه کوم وخت هغه په ډوبیدو شو، نو هغهٔ اووے، ما په هغے یر معبود ایمان راوړلو، چه په هغه بني اسرائیلو ایمان راوړے، او زهٔ دَ فرمانبردارو نه

نَجْوَةٍ مِنَ الْاَرْضِ وَهُوَ النَّشْزُ الْمَكَانِ الْمُرْتَفِعُ.

يم. "ننجيک" معني دي، مونږ ستا لاش په اوچت ځائے اړ دو، چه خلق ئے ويني، او عبرت ترے اخلي.

٦٦٤: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ اَبِيْ بِشْرٍ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِيْنَةَ وَالْيَهُوْدُ تَصُوْمُ عَاشُوْرَآءَ فَقَالُوْا هٰذَا يَوْمٌ ظَهَرَ فِيْهِ مُوْسٰى عَلٰى فِرْعَوْنَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِاَصْحَابِهٖ اَنْتُمْ اَحَقُّ بِمُوْسٰى مِنْهُمْ فَصُوْمُوْا.

٦٦٤: محمد بن بشار. غندر. شعبه. سعيد بن جبير. حضرت ابن عباسؓ نه روايت کوي، حضور صلي الله عليه وسلم چه مدينے ته تشريف راوړلو، نو ټولو يهوديانو دَ عاشورے روژه نيوله، او وجه ئے دا بيانوله، چه حضرت موسیٰ ته په فرعون غلبه حاصله شوه، او فرعون سره دَ لښکره درياب کښې ډوب شو. نو حضور اکرم صلي الله عليه وسلم مونږ ته اوفرمائيل، دَ حضرت موسیٰ معامله کښې تاسو دَ دوي نه زيات مستحق يئ، نو تاسو هم دَ عاشورے روژه اونيسئ.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# سُوْرَةُ هُوْدٍ

# دَ سورۀ هود تفسير

وَ قَالَ اَبُوْ مَيْسَرَةَ لَاَوَّاهٌ الرَّحِيْمُ بِالْحَبْشَةِ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ بَادِيَ الرَّأْيِ مَا ظَهَرَ لَنَا وَ قَالَ مُجَاهِدٌ الْجُوْدِيُّ جَبَلٌ بِالْجَزِيْرَةِ وَ قَالَ الْحَسَنُ اِنَّكَ لَاَنْتَ الْحَلِيْمُ يَسْتَهْزِءُوْنَ بِهٖ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ اَقْلِعِيْ اَمْسِكِيْ عَصِيْبٌ شَدِيْدٌ لَا جَرَمَ بَلٰى وَ فَارَ التَّنُّوْرُ نَبَعَ الْمَآءُ وَ قَالَ عِكْرِمَةُ وَجْهُ الْاَرْضِ.

ابو ميسره وائي. "اواه" معني: حبشي ژبه کښې دَ مهربان دي. ابن عباسؓ اووے. "بادي الرأي" معني، چه مونږ ته ظاهر شو. دَ مجاهد بيان دے، چه "جودی" جزيره کښې دَ يو غر نوم دے. حسنؒ وائي، "لانت الحليم" معني بردبار دا به په طور دَ استهزا کافرو وئيلے. ابن عباسؓ وائي، "اقلعي" معني دي، اودريږه، ايسار شه. او "عصيب" معني دي شديد. "لا جرم" معني دي، ولے نه يعني ضرور. او "فار التنور" معني دي، اوبو جوش اووهلو (جوش کښې راغلے) عکرمه وائي، تنور نه مراد دَ زمکے سطح ده.

باب ٢٥٤: قَوْلِهٖ اَلَا اِنَّهُمْ يَثْنُوْنَ صُدُوْرَهُمْ لِيَسْتَخْفُوْا مِنْهُ

باب ٢٥٤: آيت: اَلَا اِنَّهُمْ يَثْنُوْنَ صُدُوْرَهُمْ: دَ الله تعالي قول، ګوره، دوي خپلے سينے غبرګے کړي،

اَلَا حِيْنَ يَسْتَغْشُوْنَ ثِيَابَهُمْ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ اِنَّهُ عَلِيْمٌ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ وَ قَالَ غَيْرُهُ وَ حَاقَ نَزَلَ يَحِيْقُ يَنْزِلُ يَؤُسٌ فَعُوْلٌ مِنْ يَئِسْتُ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ تَبْتَئِسْ تَحْزَنْ يَثْنُوْنَ صُدُوْرَهُمْ شَكٌّ وَ امْتِرَاءٌ لِيَسْتَخْفُوْا مِنْهُ مِنَ اللّٰهِ اِنِ اسْتَطَاعُوْا.

چه الله نه د راز خبرے پټے کړي، واوره، الله تعالي خو، چه کپړو کښ پټ ئے نو هم ستاسو د پټو خبرو نه خبر دے، او هغه د زړونو په رازونو پو ه دے. نورو خلقو اوو ے "حاق" معني گير ئے کړلو، او "نزول" معني نازل شرلو. "يؤس" بر وزن فعول په معني د نااُميد مجاهد اووے "فلا تبتئس" معني دي افسوس مهٔ کوه. "يثنون صدورهم" مطلب دے، سينے غبرگے کړي. "ليستخفوا منه" يعني که ممکنه وي، نو چه د الله نه ئے پته کړي.

۶۶۵ : حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ صَبَّاحٍ حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ قَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ اَخْبَرَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ عَبَّادِ بْنِ جَعْفَرٍ اَنَّهُ سَمِعَ ابْنَ عَبَّاسٍ يَقْرَأُ اَلَا اِنَّهُمْ يَثْنُوْنِيْ صُدُوْرُهُمْ قَالَ سَاَلْتُهُ عَنْهَا فَقَالَ اُنَاسٌ كَانُوْا يَسْتَحْيُوْنَ اَنْ يَتَخَلَّوْا فَيُفْضُوْا اِلَى السَّمَآءِ وَ اَنْ يُجَامِعُوْا نِسَآءَهُمْ فَيُفْضُوْا اِلَى السَّمَآءِ فَنَزَلَ ذٰلِكَ فِيْهِمْ.

۶۶۵ : حسن بن محمد بن صباح. حجاج. ابن جريج. محمد بن عباد بن جعفر نه روايت کوي، ما د ابن عباسؓ نه داسے لوستل آوريدلے دي: الا انّهم يثنوني صدورهم: نو ما د هغهٔ نه معلومه کړه، چه دا آيت څهٔ سلسله کښ نازل شولو، هغهٔ اووے، څنے خلقو به وارهٔ يا لوئے بول يا د جماع په وخت پرانستے ځائے کښ د آسمان لاندے دا کار کولو، نو ويريدل او شرميدل به د هغے په وجه ئے په ټيټه ټيټه دا تول کارونه کول، نو دا آيت نازل شولو.

۶۶۶ : حَدَّثَنِيْ اِبْرٰهِيْمُ بْنُ مُوْسٰى اَخْبَرَنَا هِشَامٌ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ وَ اَخْبَرَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ عَبَّادِ بْنِ جَعْفَرٍ اَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ قَرَاَ اَلَا اِنَّهُمْ تَثْنُوْنِيْ صُدُوْرُهُمْ قُلْتُ يَا اَبَا الْعَبَّاسِ مَا تَثْنُوْنِيْ صُدُوْرُهُمْ قَالَ كَانَ الرَّجُلُ يُجَامِعُ امْرَاَتَهُ فَيَسْتَحْيِيْ فَنَزَلَتْ اَلَا اِنَّهُمْ تَثْنُوْنِيْ صُدُوْرُهُمْ.

۶۶۶ : ابراهيم بن موسٰي. هشام. ابن جريج. محمد بن عباد بن جعفر نه روايت کوي، حضرت ابن عباسؓ: الا انّهم تثنوني صدورهم: اولوست، ما عرض اوکهٔ، يا ابا العباس ددے مطلب څهٔ دے، هغهٔ اوفرمائيل، څنے خلقو به خپلو ښځو سره د کور والي (صحبت کولو په وخت (يا د ورو بولو او لويو بولو په وخت) بربنډ کيدو کښ شرم کولو. د هغوي خيال وو، چه مونږ ته پروردگار گوري، نو دا آيت دغه وخت نازل شولو.

۶۶۷ : حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ

۶۶۷ : حميدي. سفيان. عمرو نه روايت کوي،

حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا عَمْرٌو قَالَ قَرَأَ ابْنُ عَبَّاسٍ أَلَا إِنَّهُمْ يَثْنُوْنَ صُدُوْرَهُمْ لِيَسْتَخْفُوا مِنْهُ أَلَا حِيْنَ يَسْتَغْشُوْنَ ثِيَابَهُمْ وَ قَالَ غَيْرُهُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ يَسْتَغْشُوْنَ يُغَطُّوْنَ رُؤُسَهُمْ سِيْءَ بِهِمْ سَاءَ ظَنُّهُ بِقَوْمِهِ وَ ضَاقَ بِهِمْ بِأَضْيَافِهِ بِقِطْعٍ مِّنَ اللَّيْلِ بِسَوَادٍ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ أُنِيْبُ أَرْجِعُ.

حضرت ابن عباسؓ دا آیت داسے اولوست: الا انهم يثنون صدورهم ليستخفوا منه الا حين يستغشون ثيابهم. دَ عمرو بن دينار نه علاوه د نورو خلقو بيان دے' ابن عباسؓ دَ "يستغشون" معني د سر پټولو فرمائي' "سيء بهم" دَ خپل قوم نه بدګمانه شو. او "ضاق بهم" يعني خپلو ميلمنو ليدو سره خفه شو. "بقطع من الليل" معني دَ شپے تيارۀ کښې' دَ مجاهد بيان دے "أنيب" رجوع کوم.

## باب ۲۵۵ : قَوْلِهِ وَ كَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَآءِ.

باب ۲۵۵ : آيت: وَ كَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَآءِ: دَ الله تعالٰي قول' دَ الله تعالٰي تخت' حکومت په اوبو باندے وو.

۲۶۸ : حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ عَنِ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ اللّٰهُ عَزَّ وَ جَلَّ أَنْفِقْ أُنْفِقْ عَلَيْكَ وَ قَالَ يَدُ اللّٰهِ مَلْأَى لَا تَغِيْضُهَا نَفَقَةٌ سَحَّآءُ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَ قَالَ أَرَأَيْتُمْ مَا أَنْفَقَ مُنْذُ خَلَقَ السَّمَآءَ وَالْأَرْضَ فَإِنَّهُ لَمْ يَغِضْ مَا فِيْ يَدِهِ وَ كَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ وَ بِيَدِهِ الْمِيْزَانُ يَخْفِضُ وَ يَرْفَعُ اعْتَرَاكَ افْتَعَلْتَ مِنْ عَرَوْتُهُ أَيْ أَصَبْتُهُ وَ مِنْهُ يَعْرُوْهُ وَاعْتَرَانِيْ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهَا أَيْ فِيْ مِلْكِهِ وَ سُلْطَانِهِ عَنِيْدٌ وَّ عَنُوْدٌ وَّ عَانِدٌ وَاحِدٌ هُوَ تَأْكِيْدُ التَّجَبُّرِ

۲۶۸ : ابواليمان. شعيب. ابوالزناد. اعرج. حضرت ابوهريرةؓ نه روايت کوي: حضور صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل' الله تعالي فرمائي' اے خما بنده تۀ ماله راکړه' زۀ به تاله درکړم' ځکه چه دَ الله تعالي خزانه ډکه ده. که شپه او ورځ خرچ کوي' بياهم خالي کيږي نه' آيا تاسو دا نه وينئ' دَ کله نه ئے چه زمکه او آسمان جوړ کړے دي' څومره ئے خرچ کړے دے' خو بيا هم دَ هغۀ هيڅ نعمت کم شوے نه دے' او د الله تعالي عرش (يعني تخت) په اوبو دے' د هغۀ په لاس کښې دَ رزق، تله ده کوم خوا چه غواړي خکته ئے کړي' او چا د پاره چه هغه مناسب خيال کوي' اوچته ئے کړي. "اعتراک" مطلب دے' په تا پريوتل اوشو. "عروته" معني ما هغه بيامند. "يعروه" د مضارع صيغه ده. "بناصيتها" يعني دَ هغۀ حکومت او قبضه کښې دے. "عنيد" "عنود" "عاند" دَ ټولو يو معني دي' يعني سخت تکبر او سرکشي والا "استعمركم" تاسوئے آباد کړئے. عرب وائي: اعمرته

اسْتَعْمَرَكُمْ جَعَلَكُمْ عُمَّارًا أَعْمَرْتُهُ الدَّارَ فَهِيَ عُمْرَى جَعَلْتُهَا لَهُ نَكِرَهُمْ وَأَنْكَرَهُمْ وَاسْتَنْكَرَهُمْ وَاحِدٌ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ كَأَنَّهُ فَعِيْلٌ مِنْ مَاجِدٍ مَحْمُوْدٌ مِنْ حَمِدَ سِجِّيْلٌ الشَّدِيْدُ الْكَبِيْرُ سِجِّيْلٌ وَسِجِّيْنٌ وَاللَّامُ وَالنُّوْنُ أُخْتَانِ وَقَالَ تَمِيْمُ بْنُ مُقْبِلٍ:

وَرَجْلَةٍ يَضْرِبُوْنَ الْبَيْضَ ضَاحِيَةً
ضَرْبًا تَوَاصَى بِهِ الْأَبْطَالُ سِجِّيْنَا

وَإِلَى مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا إِلَى أَهْلِ مَدْيَنَ لِأَنَّ مَدْيَنَ بَلَدٌ وَمِثْلُهُ وَاسْئَلِ الْقَرْيَةَ وَاسْئَلِ الْعِيْرَ يَعْنِيْ أَهْلَ الْقَرْيَةِ وَالْعِيْرِ وَرَآءَكُمْ ظِهْرِيًّا يَقُوْلُ لَمْ تَلْتَفِتُوْا إِلَيْهِ وَيُقَالُ إِذَا لَمْ يَقْضِ الرَّجُلُ حَاجَتَهُ ظَهَرْتَ بِحَاجَتِيْ وَجَعَلْتَنِيْ ظِهْرِيًّا وَالظِّهْرِيُّ هٰهُنَا أَنْ تَأْخُذَ مَعَكَ دَآبَّةً أَوْ وِعَاءً تَسْتَظْهِرُ بِهِ أَرَاذِلُنَا سُقَّاطُنَا إِجْرَامِيْ هُوَ مَصْدَرٌ مِنْ أَجْرَمْتُ وَبَعْضُهُمْ يَقُوْلُ جَرَمْتُ الْفُلْكُ وَالْفُلْكُ وَاحِدٌ أَوْ جَمْعٌ وَهِيَ السَّفِيْنَةُ وَالسُّفُنُ مَجْرَاهَا مَدْفَعُهَا وَهُوَ مَصْدَرُ أَجْرَيْتُ وَأَرْسَيْتُ حَبَسْتُ وَيَقْرَءُ مُرْسَاهَا مِنْ رَسَتْ هِيَ

الدَّارَ فهي عمرى: يعني دا كور ما هغه له تول ژوند د پاره ور كړلو. "نكرهم" "انكرهم" او "استنكرهم" د ټولو يو معني دي، يعني هر ملک واله پرديسي. "حميد مجيد" دا په وزن ذ فعيل دے. ماجد نه په معني ذ كرم كونكے "محمود" معني ستائلے شوے. "سجيل" او سجين يو معني دي. "سجين" كښې لام او نون دواړه راخي، تميم بن مقبل اووے:

و رَجْلَةٍ يَضْرِبُوْنَ الْبَيْض ضَاحِيَةً
ضَرْبًا يَضْرِبُوْنَ بِهِ الْأَبْطَالَ سِجِّيْنَا

بعض پیدل دن دہاڑے خود پر سخت ماریں کرتے ہیں
پہلوان جن کی وصیت کرتے ہیں ایسی لگانا چاہئے

"و الى مدين" معني دي، مدين طرف ته، او دا شان دا ونيلے شوے دي چه "واسئل القرية" يعني بستئ والو نه تپوس اوكړے. او "واسئل العير" معني دي، قافلے والو نه تپوس اوكړے. "ورائكم ظهريا" معني دي، يعني پس پشت ئے اوغورځولو، هغه پله ئے توجه اونه كړله، د چا نه چه د چا مقصد پوره نشي، نو عرب واله وائي "ظهرت بحاجتى" او "جعلنى ظهريا" دلته ذ ظهرى نه هغه څناور مراد دے چه كار د پاره ساتلے شي. "اراذلنا" خمونږ كسينه او رذيل "اجرامى" خما كناه. بعضے وائي، دا د "اجرمت" مصدر دے يا د جرمت چه ثلاثي مجرد دے. "الفلک" واحد او جمع دواړو كښې مستعمل دے، يعني كشتي او كشتيانے. "مجراها" ذ كشتئ تلل. دا مصدر دے ذ اجريتُ. دغه شان "مرسٰها" مصدر دے، ذ ارستُ، يعني ما كشتي لنګرانداز كړله. بعضو "مرسٰها" بفتح ميم لوستے دے، چه "رست" نه جوړ شوے دے. دغه

مَجْرَاهَا مِنْ جَرَتْ هِيَ وَ مُجْرِيْهَا وَ مُرْسِيْهَا مِنْ فُعِلَ بِهَا الرَّاسِيَاتُ ثَابِتَاتٌ.

شان "مجراها" هم "جرت" نه دے بعضو "مجريها" او "مرسيها" لوستے دے. د هغے مطلب دے. چه الله تعالیٰ ذ هغے چلونکے او اُودرونکے دے. "الراسيات" معني دي لنګر انداز او "ثابتات" معني دي. ولاړ. ايسار.

باب ۲۵۶: قَوْلِهٖ وَ يَقُوْلُ الْاَشْهَادُ هٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ كَذَبُوْا عَلٰی رَبِّهِمْ اَلَا لَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَی الظّٰلِمِيْنَ وَاحِدُ الْاَشْهَادِ شَاهِدٌ مِثْلُ صَاحِبٍ وَ اَصْحَابٍ.

باب ۲۵۶: آيت: وَ يقُوْلُ الْاَشْهَادُ: د الله تعالیٰ قول: او ګواهان به وائي. دا هغه خلق دي. چه په الله تعالیٰ ئے دروغ تړلے وو. خبردار شئ. په ظالمانو د الله تعالیٰ لعنت دے. "اشهاد" د "شاهد" جمع ده. څنګه د صاحب جمع اصحاب ده.

۶۶۹: حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَزِيْدُ بْنُ زُرَيْعٍ حَدَّثَنَا سَعِيْدٌ وَ هِشَامٌ قَالَا حَدَّثَنَا قَتَادَةُ عَنْ صَفْوَانَ بْنِ مُحْرِزٍ قَالَ بَيْنَا ابْنُ عُمَرَ يَطُوْفُ اِذَا عَرَضَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا اَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ اَوْ قَالَ يَا بْنَ عُمَرَ سَمِعْتَ النَّبِيَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ يُدْنٰی الْمُؤْمِنُ مِنْ رَّبِّهٖ وَ قَالَ هِشَامٌ يَدْنُوا الْمُؤْمِنَ حَتّٰی يَضَعَ عَلَيْهِ كَنَفَهٗ فَيُقَرِّرُهٗ بِذُنُوْبِهٖ تَعْرِفُ ذَنْبَ كَذَا يَقُوْلُ رَبِّ اَعْرِفُ يَقُوْلُ اَعْرِفُ مَرَّتَيْنِ فَيَقُوْلُ سَتَرْتُهَا فِي الدُّنْيَا وَ اَغْفِرُهَا لَكَ الْيَوْمَ ثُمَّ تُطْوٰی صَحِيْفَةُ حَسَنَاتِهٖ وَ اَمَّا الْاٰخَرُوْنَ اَوِ الْكُفَّارُ فَيُنَادٰی عَلٰی رُؤُسِ الْاَشْهَادِ هٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ كَذَبُوْا عَلٰی [illegible] وَ قَالَ شَيْبَانُ عَنْ قَتَادَةَ

۶۶۹: مسدد. يزيد بن زريع. سعيد. هشام. قتاده. صفوان بن محرز نه روايت دے. يو ورځ ما حضرت ابن عمرؓ سره طواف كولو. يو سړے راغے او ابن عمرؓ ته ئے اووے. اے ابن عمرؓ. يا اے ابا عبدالرحمٰن. آيا تا د حضور صلي الله عليه وسلّم نه د قيامت باره كښې څه آوريدلے دي. حضرت عمرؓ جواب وركړ. او ما آوريدلے دي. حضور صلي الله عليه وسلّم فرمائيل. د قيامت په ورځ به مومن الله تعالیٰ ته دومره نزدے راوستے شي چه الله تعالیٰ به ذ هغه په اوږو لاس كيږدي. د ګناهونو اقرار به پرے اوكړي. هغه به عرض اوكړي. جي. او. زه د خپلو ګناهونو اقرار او اعتراف كوم. بيشكه ما نه ګناه شوے ده. نو دوه ځله به داسے اقرار اوكړي. دے نه پس به الله تعالیٰ ارشاد اوفرمائي. ما دُنيا كښې ستا ګناهونه او قصورونه پټ كړے وو. او نن د ښښم او تاته ستا د نيكو بدله او جزا دركوم (الحمد لله والشكر لله) خو د كافرو د پاره به اوفرمائي. دا هغه خلق دي چه په الله ئے دروغ تړل. دا اعلان به تمام اهل

حَدَّثَنَا صَفْوَانُ.

محشر آوري.

بَابُ ۲۵۷ : قَوْلُهُ وَ كَذٰلِكَ اَخْذُ رَبِّكَ اِذَا اَخَذَ الْقُرٰى وَ هِيَ ظَالِمَةٌ اِنَّ اَخْذَهٗ اَلِيْمٌ شَدِيْدٌ الرِّفْدُ الْمَرْفُوْدُ الْعَوْنُ الْمُعِيْنُ رَفَدْتُهٗ اَعَنْتُهٗ تَرْكَنُوْا تَمِيْلُوْا فَلَوْلَا كَانَ فَهَلَّا كَانَ اُتْرِفُوْا اُهْلِكُوْا وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ زَفِيْرٌ وَ شَهِيْقٌ صَوْتٌ شَدِيْدٌ وَ صَوْتٌ ضَعِيْفٌ.

باب ۲۵۷ : آيت: وَ كَذٰلِكَ اَخْذُ رَبِّكَ اِذَا اَخَذَ الْقُرٰى: دَ اللّٰه تعالٰي قول' دا شان كله چه ستا رب دَ ظالمانو بستي (كلي) اونيسي' نو دَ هغهٔ نيول دردناك او سخت وي. "الرفد المرفود" يعني مدد چه وركړے شي. دَ عربو مقوله ده "رفدته" ما دَ هغهٔ مدد او كړ. "تركنوا" مطلب دے' مائل شه' بنكته شه. "فَلَوْلَا كَانَ" ولے نهٔ شو. "اترفوا" هغوي هلاك شو. حضرت ابن عباسؓ فرمائي "زفير" معني دي تيز آواز. او "شهيق" معني دي سپك آواز (ہلکی آواز).

۶۷۰ : حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ الْفَضْلِ اَخْبَرَنَا اَبُوْ مُعَاوِيَةَ حَدَّثَنَا بُرَيْدُ بْنُ اَبِيْ بُرْدَةَ عَنْ اَبِيْ بُرْدَةَ عَنْ اَبِيْ مُوْسٰى قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ اللّٰهَ لَيُمْلِيْ لِلظَّالِمِ حَتّٰى اِذَا اَخَذَهٗ لَمْ يُفْلِتْهُ قَالَ ثُمَّ قَرَاَ وَ كَذٰلِكَ اَخْذُ رَبِّكَ اِذَا اَخَذَ الْقُرٰى وَ هِيَ ظَالِمَةٌ اِنَّ اَخْذَهٗ اَلِيْمٌ شَدِيْدٌ.

۶۷۰ : صدقه بن فضل. ابو معاويه. بريد بن ابي برده. ابي برده. حضرت ابو موسٰي اشعري روايت كوي' دَ هغهٔ بيان دے' رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم ارشاد اوفرمائيلو' اللّٰه تعالٰي ظالمانو ته مهلت وركوي' خو كله چه هغوي اونيسي' نو بيائے نهٔ پريږدي. دے نه پس حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم دَ دے آيت تلاوت اوفرمائيلو: وَ كَذٰلِكَ اَخْذُ رَبِّكَ الخ: يعني دا شان ستا رب دَ ظالمانو بستئ (كلي) نيسي' او دَ هغهٔ نيول ډير سخت دي.

بَابُ ۲۵۸ : قَوْلُهُ وَ اَقِمِ الصَّلٰوةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَ زُلَفًا مِّنَ اللَّيْلِ اِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذٰلِكَ ذِكْرٰى لِلذّٰكِرِيْنَ وَ زُلَفًا سَاعَاتٍ بَعْدَ سَاعَاتٍ وَ مِنْهُ سُمِّيَتِ الْمُزْدَلِفَةُ الزُّلَفُ مَنْزِلَةٌ بَعْدَ مَنْزِلَةٍ وَ اَمَّا زُلْفٰى فَمَصْدَرٌ

باب ۲۵۸ : آيت: وَ اَقِمِ الصَّلٰوةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ: دَ اللّٰه تعالٰي قول' اے رسوله' دَ ورځے اول او آخر حصو كښ او دَ شپے وخت كښ زيات مونځ كوه' بيشكه نيكئ ګناهونه لرے كوي' دا دَ ياد ساتونكو دَ پاره يو يادګار دے. "زلفا" معني ساعت په ساعت او دَ دے نه ده "مزدلفه" چه خلق هلته دَ شپے په ساعتونو كښ راځي. "زلف" معني دي منزل' او "زلفٰي" مصدر دے قربت.

من الليل [illegible] ساعات بعد ساعة

۴۶۸۷: حدثنا مسدد حدثنا يزيد هو ابن زريع حدثنا سليمان التيمي عن ابي عثمان عن ابن مسعود ان رجلا اصاب من امراة قبلة فاتى رسول الله صلى الله عليه وسلم فذكر ذلك له فانزلت عليه اقم الصلوة طرفي النهار و زلفا من الليل ان الحسنات يذهبن السيئات ذلك ذكرى للذاكرين قال الرجل الي هذه قال لمن عمل بها من امتي.

[illegible] معنی دی جمع شو. "زلفا" معنی موږ جمع کړي شو [illegible] دی.

۴۶۸۷: مسدد، یزید بن زریع، سلیمان تیمي، ابو عثمان، حضرت ابن مسعود نه روایت کوي د هغه بیان دے چه یو سړي یو غیر سړي د یوې ښځې نه بوسه واخسته بیا راغلے دا خبره ئے د حضور صلي الله علیه وسلم مخکښې بیان کړه. او د معافي د پاره ئے خواست اوکړو نو هغه وخت دا ایت نازل شولو: اقم الصلوة طرفي النهار الخ هغه سړي عرض اوکړو یا رسول الله! دا حکم صرف خما د پاره دے یا د ټولو د پاره. حضور صلي الله علیه وسلم ورته ارشاد اوفرمائیلو: خما امت کښې چه کوم نیک خلق دي، د هغوي نیکي د هغوي د ګناهونو کفاره ګرځي، ځکه چه خما په امت کښې دے، هغه ته د پاره دا حکم دے.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ط

## سُوۡرَةُ يُوۡسُفَ

وَ قَالَ فُضَيۡلٌ عَنۡ حُصَيۡنٍ عَنۡ مُجَاهِدٍ مُتَّكَأً اَلۡاُتۡرُجُّ قَالَ فُضَيۡلٌ اَلۡاُتۡرُجُّ بِالۡحَبۡشِيَّةِ مُتۡكًا وَ قَالَ ابۡنُ عُيَيۡنَةَ عَنۡ رَجُلٍ عَنۡ مُجَاهِدٍ مُتۡكًا كُلُّ شَيۡءٍ قُطِعَ بِالسِّكِّيۡنِ وَ قَالَ قَتَادَةُ لَذُوۡ عِلۡمٍ عَامِلٌ بِمَا عَلِمَ وَ قَالَ ابۡنُ جُبَيۡرٍ صُوَاعُ مَكُّوۡكُ الۡفَارِسِيِّ الَّذِيۡ يَلۡتَقِيۡ طَرَفَاهُ كَانَتۡ تَشۡرَبُ بِهِ

بسم الله الرحمن الرحيم ط

## دَ سورهٔ یوسف تفسیر

فضیل، حصین نه او هغه د مجاهد د حوالے نه وائي. د "متکأ" معني د لیمو (نیمبو) دي. او خپله فضیل هم وائي، چه "متکا" حبشي ژبه کښې نیمبو ته وائي. ابن عیینه په واسطه د یو سړي مجاهد نه بیان کوي چه "متکا" هر چاقو سره تراشیدونکي خیز ته وائي. قتاده وائي "لذو علم" نه مراد عالم با عمله دے. ابن جبیر اووے "صواع" ته فارسي کښې مکوک یعني پیالے وائي، او شراب دے کښې څکلے شي، او د دے غاړے جنګیدلے وي. د عجم حلق دے کښې اوبه څکي. ابن

اَلْاَعَاجِمُ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ تُفَنِّدُوْنَ تُجَهِّلُوْنَ وَ قَالَ غَيْرُهُ غَيَابَةٌ كُلُّ شَيْءٍ غَيَّبَ عَنْكَ شَيْئًا فَهُوَ غَيَابَةٌ وَالْجُبُّ الرَّكِيَّةُ الَّتِيْ لَمْ تُطْوَ بِمُؤْمِنٍ لَنَا بِمُصَدِّقٍ اَشُدَّهُ قَبْلَ اَنْ يَاْخُذَ فِي النُّقْصَانِ يُقَالُ بَلَغَ اَشُدَّهُ وَ بَلَغُوْا اَشُدَّهُمْ وَقَالَ بَعْضُهُمْ وَاحِدُهَا شَدٌّ وَالْمُتَّكَأُ مَا اتَّكَأْتَ عَلَيْهِ لِشَرَابٍ اَوْ لِحَدِيْثٍ اَوْ لِطَعَامٍ وَ اَبْطَلَ الَّذِيْ قَالَ الْاُتْرُجُّ وَ لَيْسَ فِيْ كَلَامِ الْعَرَبِ الْاُتْرُجُّ فَلَمَّا احْتُجَّ عَلَيْهِمْ بِاَنَّهُ الْمُتَّكَأُ مِنْ نَمَارِقَ فَرُّوْا اِلٰى شَرٍّ مِنْهُ فَقَالُوْا اِنَّمَا هُوَ الْمُتْكُ سَاكِنَةَ التَّاءِ وَ اِنَّمَا الْمُتْكُ طَرَفُ الْبَظْرِ وَمِنْ ذٰلِكَ قِيْلَ لَهَا مُتْكَاءُ وَابْنُ الْمُتْكَاءِ فَاِنْ كَانَ ثَمَّ اُتْرُجٌّ فَاِنَّهُ بَعْدَ الْمُتَّكَأِ شَغَفَهَا يُقَالُ بَلَغَ اِلٰى شِغَافِهَا وَهُوَ غِلَافُ قَلْبِهَا وَ اَمَّا شَعَفَهَا فَمِنَ الْمَشْعُوْفِ اَصْبُ اَمِيْلُ اَضْغَاثُ اَحْلَامٍ مَا لَا تَاْوِيْلَ لَهُ وَالضِّغْثُ مِلْءُ الْيَدِ مِنْ حَشِيْشٍ وَمَا اَشْبَهَهُ وَ مِنْهُ وَ خُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا لَا مِنْ قَوْلِهِ اَضْغَاثُ اَحْلَامٍ وَاحِدُهَا ضِغْثٌ نَمِيْرُ مِنَ الْمِيْرَةِ

عباسؓ فرمائي "تفندون" مطلب دے، ماته جاهل مه وائيے. بعضے وائي "غيابة" معنې هغه ځیز چه د بل نه ئے پټ ساتي. او "جب" هغے کوهی ته وائي چه کچه وي او بندش ئے نه وے شوے. "بمؤمن لنا" معني دي ته خمونږ خبره ریښتيے ګنړونکے نه ئے. "اشده" هغه عمر چه د انحطاط (زوال) د زمانے نه مخکښې وي. د عربو مقوله ده "بلغ اشده" یا "بلغوا اشدهم" یعني هغه خپلے ځوانے ته اورسید. وائي چه "اشد" د "شد" جمع ده. بعضے وائي "متکا" هغے تکیه یا مسند ته وائي چه د خبرو کولو یا د خوراک څکاک په وخت په هغے سهارا آخستلے شي او د "اترج" معني غلطے دے. څوک چه د دے معني ترنج بنائي، د دے هیڅ دلیل نشته. هغه وائي د تکیه معني ئے دي "متک" یعني "ت" ساکن ده. او د ترنج په معني کښې "ت" مشدد ده. دا خبره ډیره سپکه (بلکل) ده، ځکه چه "ت" ساکن سره د دے معني د فرج دي. په دے وجه د کنځلو په وخت ونیلے شي "ابن المتکا" غرض د مسند معني صحیح دي، ځکه چه زلیخے چه کوم ترنج د ښځو لاس کښې ور کړے وو، هغه به ئے د تکیه لګولو نه ورستو د ښځو لاس کښې ور کړے وو، "شغفها" د هغے زړه پورې لو. "مشغوف" معني د چا زړه چه محبت سوزولے وي. "اصب" مائل به شم. "اضغاث" معني دي: منتشر، پراګنده خیالات. "ضغث" د ډکو موټے چه لاس کښې راشي، لکه چه مخکښې آیت کښې دي "خذ بیدک ضغثا" خپل لاس کښې جارو اونیسه. "نمیر" میرة نه وتلے دے. مطلب دے مونږ به اوخورو. "نزداد کیل بعیر" د یو اوښ وزن یا پیمانه مراد

وَ نَزْدَادُ كَيْلَ بَعِيْرٍ مَا يَحْمِلُ بَعِيْرٌ اٰوٰى اِلَيْهِ ضَمَّ اِلَيْهِ السِّقَايَةَ مِكْيَالٌ تَفْتَأُ لَا تَزَالُ اسْتَيْأَسُوْا يَئِسُوْا لَا تَيْأَسُوْا مِنْ رَوْحِ اللّٰهِ مَعْنَاهُ الرَّجَآءُ خَلَصُوْا نَجِيًّا اعْتَزَلُوْا نَجِيًّا وَالْجَمِيْعُ اَنْجِيَةٌ يَتَنَاجَوْنَ الْوَاحِدُ نَجِيٌّ وَالِاثْنَانِ وَالْجَمِيْعُ نَجِيٌّ وَ اَنْجِيَةٌ حَرَضًا مُحْرَضًا يُذِيْبُكَ الْهَمُّ تَحَسَّسُوْا تَخَبَّرُوْا مُزْجَاةٍ قَلِيْلَةٍ غَاشِيَةٌ مِنْ عَذَابِ عَامَّةٌ مُجَلِّلَةٌ.

ده' "اٰوٰى اِلَيْهِ" خان سره نے خانے ور کړلو يعني خان سره نے اوساتلو. "السقايه" مطلب دے' کټورے' يا لوښے يا ذ غلے ناپ کولو پيمانه. "تفتؤ" هميشه به وينے "تحسسوا" تلاش کړے' جستجو ئو کړے. خبر راوړے. "ولا تيأسوا من روح الله" ذ الله د رحمت نه مهٔ نااميده کيږئے. "خلصوا نجيا" جدا شو' مشوره ئے اوکړه. ذ نجي معني مشوره کونکے. دا تثنيه او جمع دواړو ذ پاره مستعمل کيږي. "حرضا" ويلے کړے شو. "مزجاة" لږ "غاشية من عذاب الله" معني دي' ذ الله تعالٰي عذاب ټول ګيره کښې آخستے دي.

باب ۲۵۹: قَوْلِهٖ وَ يُتِمُّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكَ وَ عَلٰى اٰلِ يَعْقُوْبَ كَمَا اَتَمَّهَا عَلٰى اَبَوَيْكَ مِنْ قَبْلُ اِبْرٰهِيْمَ وَ اِسْحٰقَ.

باب ۲۵۹: آيت: وَ يُتِمُّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكَ وَ عَلٰى اٰلِ يَعْقُوْبَ: ذ الله تعالٰي قول' چه الله په تا خپل نعمت تمامول غواړي' څنګه چه ستا پلار يعقوبؑ او نيکهٔ ابراهيمؑ او اسحقؑ باندے پوره کړے دے.

۴۷۲: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ دِيْنَارٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكَرِيْمُ بْنُ الْكَرِيْمِ بْنِ الْكَرِيْمِ بْنِ الْكَرِيْمِ يُوْسُفُ بْنُ يَعْقُوْبَ بْنِ اِسْحٰقَ بْنِ اِبْرٰهِيْمَ.

۴۷۲: عبدالله بن محمد. عبدالصمد. عبدالرحمٰن بن عبدالله بن دينار. خپل پلار نه' او هغهٔ ذ حضرت عبدالله بن عمرؓ نه روايت کوي' ذ هغهٔ بيان دے' حضورؐ ارشاد اوفرمائيلو عزت واله' ذ عزت واله څوئے' ذ عزت واله نوسے' ذ عزت واله کړوسے' حضرت يوسفؑ دے. ذ هغهٔ پلار يعقوبؑ نيکهٔ اسحاقؑ قرنيکهٔ ابراهيمؑ چه ټول پيغمبران وو.

باب ۲۶۰: قَوْلِهٖ لَقَدْ كَانَ فِيْ يُوْسُفَ وَ اِخْوَتِهٖ اٰيٰتٌ لِّلسَّآئِلِيْنَ.

باب ۲۶۰: آيت: لَقَدْ كَانَ فِيْ يُوْسُفَ وَ اِخْوَتِهٖ: ذ الله تعالٰي قول' بيشکه حضرت يوسفؑ او ذ هغهٔ ذ وروڼړو قصه کښې دريافت کونکو ذ پاره نښے دي.

۴۷۳: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدٌ اَخْبَرَنَا عَبْدَةُ عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ عَنْ

۴۷۳: محمد. عبدة. عبيدالله. سعيد بن ابي سعيد. حضرت ابوهريرةؓ نه روايت کوي' خلقو ذ حضور

سَعِيْدِ بْنِ اَبِىْ سَعِيْدٍ عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ قَالَ سُئِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَىُّ النَّاسِ اَكْرَمُ قَالَ اَكْرَمُهُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقَاهُمْ قَالُوْا لَيْسَ عَنْ هٰذَا نَسْاَلُكَ قَالَ فَاَكْرَمُ النَّاسِ يُوْسُفُ نَبِىُّ اللّٰهِ ابْنِ خَلِيْلِ اللّٰهِ قَالُوْا لَيْسَ عَنْ هٰذَا نَسْاَلُكَ قَالَ فَعَنْ مَعَادِنِ الْعَرَبِ تَسْاَلُوْنِّىْ قَالُوْا نَعَمْ قَالَ فَخِيَارُكُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ خِيَارُكُمْ فِي الْاِسْلَامِ اِذَا فَقُهُوْا تَابَعَهُ اَبُوْ اُسَامَةَ عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ.

صلي اللّه عليه وسلّم نه تپوس او کړو چه د الله په نزد خوک زيات عزت واله دے. حضور صلي الله عليه وسلّم ورته اوفرمائيل، خوک چه زيات متّقي (پرهيزګار) دے. خلقو عرض او کړو، مونږ دا تپوس نه کوو، حضور صلي الله عليه وسلّم ورته اوفرمائيل، نو بيا د خاندان د اعتبار نه د ټولونه زيات صاحب عزت حضرت يوسفؑ دے، د پيغمبر خوئے، د پيغمبر نمسے، د حضرت خليل الله کړوسے. هغوي عرض او کړو، خمونږ دا مطلب نه دے، حضور صلي الله عليه وسلّم ورته اوفرمائيل، خوک چه جاهليت کښې شريف وو، هغوي اسلام کښې شريف دي، هر کله چه صاحب علم وي، او نورو ته فائده رسوي. ابو اسامه هم د ابو عبيدالله نه روايت کوي.

## باب ۱۲۶۱: قَوْلِهٖ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ اَنْفُسُكُمْ اَمْرًا سَوَّلَتْ زَيَّنَتْ.

باب ۱۲۶۱: آيت: بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ اَنْفُسُكُمْ اَمْرًا: د الله تعالي قول، دا تاسو خان د پاره يوه حيله جوړه کړے ده. "سوّلت" معني دي، ښه جوړول او ښکاره کول.

۶۷۴: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيْزِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا اِبْرٰهِيْمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ ح قَالَ وَ حَدَّثَنَا الْحَجَّاجُ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ النُّمَيْرِىُّ حَدَّثَنَا يُوْنُسُ بْنُ يَزِيْدَ الْاَيْلِىُّ قَالَ سَمِعْتُ عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِ وَ سَعِيْدَ بْنَ الْمُسَيَّبِ وَ عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ وَ عُبَيْدَ اللّٰهِ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ حَدِيْثِ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِىِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ قَالَ لَهَا اَهْلُ الْاِفْكِ مَا قَالُوْا فَبَرَّاَهَا اللّٰهُ كُلٌّ حَدَّثَنِىْ

۶۷۴: عبدالعزيز بن عبدالله. ابراهيم بن سعد. صالح. ابن شهاب. ح. حجاج. عبدالله بن عمر نميري. يونس بن يزيد الايلي. زهري. عروه بن زبير او سعيد بن مسيب او علقمه بن وقاص او عبيدالله بن عبدالله نه روايت کوي، هغه اوويے، ما د بي بي عائشہؓ نه هغه حديث چه د افک متعلق دے، پوره نه دے آوريدلے، بلکه د هر يو نه م جدا جدا د هغې څه حصے آوريدلے دي، د هغې يوه حصه دا هم ده، هر کله تهمت ترونکو تهمت اوترلو، نو رسول الله صلي اللّه عليه وسلّم بي بي عائشہؓ ته اوفرمائيل، اے عائشه، که ته بے قصوره ئے، نو الله تعالي به ستا د بري والي

... مِنَ الْحَدِيْثِ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنْ كُنْتِ بَرِيْئَةً فَسَيُبَرِّئُكِ اللّٰهُ وَ اِنْ كُنْتِ اَلْمَمْتِ بِذَنْبٍ فَاسْتَغْفِرِي اللّٰهَ وَ تُوْبِيْ اِلَيْهِ قُلْتُ اِنِّيْ وَاللّٰهِ لَا اَجِدُ مَثَلًا اِلَّا اَبَا يُوْسُفَ فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ وَ اَنْزَلَ اللّٰهُ اِنَّ الَّذِيْنَ جَآءُوْا بِالْاِفْكِ الْعَشْرَ الْاٰيَاتِ.

اعلان او کړي او که تاته دا ګناه شوې وي نو بيا د الله نه توبه او معافي غوښتل پکار دي بي بي عائشې جواب ورکړ والله ماته دې قصې د باره څه مثال په نظر نه راځي سوا د حضرت يعقوب چه هغه دا ونيلي وو او زه هم دا وايم چه فصبر جميل والله المستعان على ما تصفون الخ. آخر الله تعالى حما د بې قصوري په سلسله کښې لس آيتونه نازل کړل چه د هغې ابتدائي آياتونه دادي: ان الذين جاءوا بالافک.

٦٧٥: حَدَّثَنَا مُوْسٰى حَدَّثَنَا اَبُوْ عَوَانَةَ عَنْ حُصَيْنٍ عَنْ اَبِيْ وَائِلٍ قَالَ حَدَّثَنِيْ مَسْرُوْقُ بْنُ الْاَجْدَعِ قَالَ حَدَّثَتْنِيْ اُمُّ رُوْمَانَ وَ هِيَ اُمُّ عَائِشَةَ قَالَتْ بَيْنَا اَنَا وَ عَائِشَةُ اَخَذَتْهَا الْحُمّٰى فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَلَّ فِيْ حَدِيْثٍ تُحُدِّثَ قَالَتْ نَعَمْ وَ قَعَدَتْ عَائِشَةُ قَالَتْ مَثَلِيْ وَ مَثَلُكُمْ كَيَعْقُوْبَ وَ بَنِيْهِ وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ.

٦٧٥: ابو عوانه حصين ابي وائل مسروق بن الاجدع بي بي ام رومان مور د بي بي عائشې نه روايت کوي د هغې بيان دې بي بي عائشه څنګ په کور کښې وه د هغې تبه وه حضور صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل شايد د دې تهمت د غم د وجې تبه راغلې ده. بي بي عائشې اوويل او پاسيده کيناسته اووې ونيل څما او ستاسو مثال بيخې د حضرت يعقوب او د هغه خوى حضرت يوسف عليه السلام په شان دې. (چه د هغه خامنو بهانه جوړه کړه او حضرت يعقوب واوريدله) نو وې فرمائيل: فصبر جميل الخ.

باب ٢٢٢: قَوْلِهٖ وَرَاوَدَتْهُ الَّتِيْ هُوَ فِيْ بَيْتِهَا عَنْ نَّفْسِهٖ وَ غَلَّقَتِ الْاَبْوَابَ وَ قَالَتْ هَيْتَ لَكَ وَ قَالَ عِكْرِمَةُ هَيْتَ لَكَ بِالْحَوْرَانِيَّةِ هَلُمَّ وَ قَالَ ابْنُ جُبَيْرٍ تَعَالَهْ.

باب ٢٢٢: آيت: وراودته التي هو في بيتها: د الله تعالى قول هغې ښځې چا کور کښې يوسف سره فريب اوکړ چه هغه د هغې کور کښې وو هغې دروازې بندې کړې او يوسف نې راوبللو "هيت" معني راځه. دا عکرمه ونيلي دي سعيد هم دا واني "هيت" د حوراني ژبې لفظ دې.

٦٧٦: حَدَّثَنِيْ اَحْمَدُ بْنُ سَعِيْدٍ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا

٦٧٦: احمد بن سعيد. بشر بن عمر. شعبه سليمان ابو وائل. حضرت ابن مسعود نه روايت کوي.

شُعْبَةُ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ اَبِيْ وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ هَيْتَ لَكَ قَالَ وَ اِنَّمَا نَقْرَأُهَا كَمَا عُلِّمْنَاهَا مَثْوَاهُ مَقَامُهُ وَ اَلْفَيَا وَجَدَا اَلْفَوْا اٰبَاءَهُمْ اَلْفَيْنَا وَ عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ بَلْ عَجِبْتَ وَ يَسْخَرُوْنَ.

همغه به "هيت" د "ها" فتح سره لوستلو. ابن مسعود فرمائي چه موږ ته دا لفظ څنګه ښودلے شوے دے همغسے ئے وايو. مثوي "مقام" "الفينا" لګه چه دي او "الفوا اباؤهم" د دے نه دے. دغه شان "بل عجبت او يسخرون" کښې ئے پيش سره بيان شوے دے او لولي ئے.

٦٧٧: حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ مُسْلِمٍ عَنْ مَسْرُوْقٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ اَنَّ قُرَيْشًا لَمَّا اَبْطَؤُا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْاِسْلَامِ قَالَ اَللّٰهُمَّ اكْفِنِيْهِمْ بِسَبْعٍ كَسَبْعِ يُوْسُفَ فَاَصَابَتْهُمْ سَنَةٌ حَصَّتْ كُلَّ شَيْءٍ حَتّٰى اَكَلُوا الْعِظَامَ حَتّٰى جَعَلَ الرَّجُلُ يَنْظُرُ اِلَى السَّمَآءِ فَيَرٰى بَيْنَهُ وَ بَيْنَهَا مِثْلَ الدُّخَانِ قَالَ اللّٰهُ فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَاْتِي السَّمَآءُ بِدُخَانٍ مُّبِيْنٍ قَالَ اللّٰهُ اِنَّا كَاشِفُوا الْعَذَابِ قَلِيْلًا اِنَّكُمْ عَائِدُوْنَ اَفَيُكْشَفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَ قَدْ مَضَى الدُّخَانُ وَ مَضَتِ الْبَطْشَةُ.

٦٧٧: حميدي. سفيان. اعمش. مسلم. مسروق. حضرت ابن مسعود نه روايت کوي کوم وخت چه قريشو د حضور صلي الله عليه وسلم خبره اونه منله نو حضور الله ته عرض اوکه اے الله څنګه چه تا د حضرت يوسف عليه السلام په زمانه کښې اوه کاله قحط راوستے وو، دغسے قحط په دوي هم راولېږے او ما ترے بچ کړے نو همغسے قحط پرے راغے چه هر څيز تباه شولو. خلقو مردار څيزونو پورے اوخوړل. لوږے خلق دومره کمزوري کړل چه آسمان ته به ئے کتل نو بس لوګے لوګے به ورته په نظر راتلو. الله تعالي فرمائي "فارتقب يوم تاتي السماء بدخان مبين" او فرمائيلے دي "انا کاشفوا العذاب الخ" نو عذاب نه دا قحط مراد دے څکه چه د آخرت عذاب د کافرو نه لرے کيدونکے نه دے. او د دخان او بطشه ذکر مخکښې تير شوے دے.

## بَابُ ٢٦٣: قَوْلُهُ فَلَمَّا جَآءَهُ الرَّسُوْلُ قَالَ ارْجِعْ اِلٰى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ مَا بَالُ النِّسْوَةِ اللَّاتِيْ قَطَّعْنَ اَيْدِيَهُنَّ اِنَّ رَبِّيْ بِكَيْدِهِنَّ عَلِيْمٌ قَالَ مَا خَطْبُكُنَّ

## باب ٢٦٣: آيت: فلما جاءه الرسول قال ارجع الي ربک

د الله تعالي قول کوم وخت چه حضرت يوسف ته د بادشاه سړے راغے او ونيلے چه ته د قيد نه خلاصيږے. يوسف ورته اووے اول د بادشاه نه د همغې ښځو حالات معلوم کړه چه هغوي خپل لاسونه

اِذْ رَاوَدْتُّنَّ يُوْسُفَ عَنْ نَّفْسِهٖ قُلْنَ حَاشَا لِلّٰهِ وَ حَاشَ وَ حَاشٰى تَنْزِيْهٌ وَ اِسْتِثْنَاءٌ حَصْحَصَ وَضَحَ.

پريکړي (غس) کړي وو. خما پروردګار ته د هغوي فريب ښه معلوم دے. "حاشا لله" هغه (يعني يوسفؑ) بيخي بے قصوره دے. "حاش" تنزيه او استثناء د پاره هم راځي. "حصحص" واضحه شوه.

٦٧٨ : حَدَّثَنَا سَعِيْدُ بْنُ تَلِيْدٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ الْقَاسِمِ عَنْ بَكْرِ بْنِ مُضَرٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ عَنْ يُوْنُسَ بْنِ يَزِيْدَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ وَ اَبِيْ سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْحَمُ اللّٰهُ لُوْطًا لَقَدْ كَانَ يَأْوِيْ اِلٰى رُكْنٍ شَدِيْدٍ وَّلَوْ لَبِثْتُ فِي السِّجْنِ مَا لَبِثَ يُوْسُفُ لَاَجَبْتُ الدَّاعِيَ وَ نَحْنُ اَحَقُّ مِنْ اِبْرٰهِيْمَ اِذْ قَالَ لَهٗ اَوَلَمْ تُؤْمِنْ قَالَ بَلٰى وَلٰكِنْ لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِيْ.

٦٧٨ : سعيد بن تليد. عبدالرحمن بن قاسم. بکر بن مضر. عمرو بن حارث. يونس بن يزيد. ابن شهاب. سعيد بن مسيب. ابي سلمه بن عبدالرحمن. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت کوي: رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل الله تعالٰي دے په حضرت لوطؑ رحم اوکړي هغه د قوم د دښمني نه مجبور شو، نو د محفوظ کيدو، دعائے غوښتلے وه، او خومره موده چه حضرت يوسفؑ قيد کښ وو، که زهٔ وے، نو د خلاصيدو (رهائي) حکم به م منلے وے، او استازي سره به سمدستي تلے وے، او مونږ له د حضرت ابراهيمؑ نه زيات شک کول مناسب دي هر کله چه الله هغه ته اوفرمائيل آيا ستا په دے يقين نشته چه مونږ مړي ژوندي کوو، هغه اووے يقين م ضرور شته، خو دا د زړه د اطمينان د پاره کوم.

## بَابُ ٢٦٤ : قَوْلِهٖ حَتّٰى اِذَا اسْتَاْيْئَسَ الرُّسُلُ.

باب ٢٦٤ : آيت. حَتّٰى اِذَا سْتَيْاَسَ الرُّسُلُ. د الله تعالٰي قول: تردے چه کوم وخت رسولان نااميده شو.

٦٧٩ : حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيْزِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا اِبْرَاهِيْمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَهٗ وَهُوَ يَسْاَلُهَا عَنْ قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى حَتّٰى اِذَا سْتَيْاَسَ الرُّسُلُ قَالَ قُلْتُ اَكُذِبُوْا اَمْ كُذِّبُوْا قَالَتْ عَائِشَةُ

٦٧٩ : عبدالعزيز بن عبدالله. ابراهيم بن سعد. صالح. ابن شهاب. عمرو بن زبير نه روايت کوي، هغه اووے، ما د بي بي عائشےؓ نه تپوس اوکړ، لفظ "کذبوا" تشديد سره دے، يا بلا تشديد وے فرمائيل، مشدد دے. ما عرض اوکړ، هر کله چه انبيائے کرامو يقين کړے وو، چه اوس به قوم هغوي دروغجن اوګڼي، نو بيا د "ظنوا" څه

كُذِبُوا قُلْتُ فَقَدِ اسْتَيْقَنُوا اَنَّ قَوْمَهُمْ كَذَّبُوْهُمْ فَمَاهُوَ بِالظَّنِّ قَالَتْ اَجَلْ لَعَمْرِيْ لَقَدِ اسْتَيْقَنُوا بِذٰلِكَ فَقُلْتُ لَهَا وَ ظَنُّوْا اَنَّهُمْ قَدْ كُذِبُوْا قَالَتْ مَعَاذَ اللّٰهِ لَمْ تَكُنِ الرُّسُلُ تَظُنُّ ذٰلِكَ بِرَبِّهَا قُلْتُ فَمَا هٰذِهِ الْاٰيَةُ قَالَتْ هُمْ اَتْبَاعُ الرُّسُلِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِرَبِّهِمْ وَصَدَّقُوْهُمْ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْبَلَآءُ وَاسْتَأْخَرَ عَنْهُمُ النَّصْرُ حَتّٰى اِذَا اسْتَيْأَسَ الرُّسُلُ مِمَّنْ كَذَّبَهُمْ مِنْ قَوْمِهِمْ وَ ظَنَّتِ الرُّسُلُ اَنَّ اَتْبَاعَهُمْ قَدْ كَذَّبُوْهُمْ جَآءَهُمْ نَصْرُ اللّٰهِ عِنْدَ ذٰلِكَ.

مطلب دے. وے فرمائیل، او قسم دے، چه هغوي يقين کړے وو، خکه چه ظن د يقين معني ور کوي، ما عرض او کړ، "کذبوا" سره د تشديد معني څه جوړيږي. وے فرمائيل، معاذ الله، رسولانو هيڅ کله الله طرف ته د دروغو ګمان نه کولو. ما اووے، نو بيا دے صورت کښ به معني څه وي هغے اوفرمائيل، کومو خلقو چه د الله رسولان اومنل، او د هغوي د خبرے تصديق ئے او کړ، بيا هغوي ته کافرو تکليف اورسولو، او يوے مودے پورے به هغوي مصيبت راتلو، او د الله مدد راتلو کښ تاخير اوشو، او رسولان د دروغ ګنړونکو د ايمان راوړلو نه نااميده شو، او هغوي سره دا خيال پيدا شو، چه دا ايمان راوړونکي به هم اوس مونږ دروغجن خيال کړي، نو دغه وخت الله تعالیٰ خپل مدد نازل کړلو.

۴۸۰ : حَدَّثَنَا اَبُو الْيَمَانِ اَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ اَخْبَرَنِيْ عُرْوَةُ فَقُلْتُ لَعَلَّهَا كُذِبُوْا مُخَفَّفَةٌ قَالَتْ مَعَاذَ اللّٰهِ.

۴۸۰ : ابواليمان. شعيب. زهري. عروه نه روايت کوي، ما بي بي عائشےؓ ته اووے، چه شايد "کذبوا" مخفف دے. وے فرمائيل، معاذ الله، داسے نه ده، بلکه "کذبوا" يعني ذال مشدد سره دے.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# سُوْرَةُ الرَّعْدِ

# دَ سورهٔ رعد تفسير

وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ مَثَلُ الْمُشْرِكِ الَّذِيْ عَبَدَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا غَيْرَهُ كَمَثَلِ الْعَطْشَانِ الَّذِيْ يَنْظُرُ اِلٰى خَيَالِهِ فِي الْمَآءِ مِنْ بَعِيْدٍ وَهُوَ يُرِيْدُ اَنْ يَتَنَاوَلَهُ وَلَا يَقْدِرُ وَ قَالَ غَيْرُهُ سَخَّرَ ذَلَّلَ مُتَجَاوِرَاتٌ مُتَدَانِيَاتٌ الْمَثُلَاتُ

ابن عباسؓ فرمائي "كباسط كفيه الى الماء" څنګه چه اوبو طرف ته چا لاس وړاندے کړے وي. دا د مشرک مثال دے، چه د الله نه سوا، د بل چا پرستش او عبادت کوي، څنګه چه اوبه، تږي ته نهٔ حاصليږي، دغه شان غير الله د هغهٔ حاجت روائي نشي کولے. د بعضو بيان دے، چه سخر معني مسخر که، تابعدار که. "ذلل" محکوم

وَاحِدُهَا مَثُلَةٌ وَ هِيَ الْاَشْبَاهُ وَالْاَمْثَالُ وَ قَالَ اِلَّا مِثْلَ اَيَّامِ الَّذِيْنَ خَلَوْا بِمِقْدَارٍ بِقَدْرٍ مُعَقِّبَاتٌ مَلَائِكَةٌ حَفَظَةٌ تُعَقِّبُ الْاُوْلٰى مِنْهَا الْاُخْرٰى وَ مِنْهُ قِيْلَ الْعَقِيْبُ يُقَالُ عَقَّبْتُ فِيْ اَثَرِهٖ الْمِحَالُ الْعُقُوْبَةُ كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ اِلَى الْمَآءِ لِيَقْبِضَ عَلَى الْمَآءِ رَابِيًا مِنْ رَبَا يَرْبُوْا اَوْ مَتَاعٍ زَبَدٌ الْمَتَاعُ مَا تَمَتَّعَتَ بِهٖ جُفَاءً اَجْفَأَتِ الْقِدْرُ اِذَا غَلَتْ فَعَلَاهَا الزَّبَدُ ثُمَّ تَسْكُنُ فَيَذْهَبُ الزَّبَدُ بِلَا مَنْفَعَةٍ فَكَذٰلِكَ يُمَيِّزُ الْحَقَّ مِنَ الْبَاطِلِ الْمِهَادُ الْفِرَاشُ يَدْرَءُوْنَ يَدْفَعُوْنَ دَرَأْتُهُ دَفَعْتُهُ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ اَيْ يَقُوْلُوْنَ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ وَ اِلَيْهِ مَتَابِ تَوْبَتِيْ اَفَلَمْ يَيْاَسْ لَمْ يَتَبَيَّنْ قَارِعَةٌ دَاهِيَةٌ فَاَمْلَيْتُ اَطَلْتُ مِنَ الْمَلِيِّ وَالْمِلَاوَةِ وَ مِنْهُ مَلِيًّا وَ يُقَالُ لِلْوَاسِعِ الطَّوِيْلِ مِنَ الْاَرْضِ مَلًى مِنَ الْاَرْضِ اَشَقُّ اَشَدُّ مِنَ الْمَشَقَّةِ مُعَقِّبَ مُغَيِّرَ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ مُتَجَاوِرَاتٌ طَيِّبُهَا وَ خَبِيْثُهَا السِّبَاخُ صِنْوَانٌ النَّخْلَتَانِ اَوْ اَكْثَرُ فِيْ اَصْلٍ وَاحِدٍ وَ غَيْرُ صِنْوَانٍ وَحْدَهَا بِمَاءٍ وَّاحِدٍ كَصَالِحِ بَنِيْ اٰدَمَ وَ خَبِيْثِهِمْ اَبُوْهُمْ وَاحِدٌ السَّحَابُ الثِّقَالُ الَّذِيْ فِيْهِ الْمَآءُ كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ يَدْعُوا الْمَآءَ بِلِسَانِهٖ وَ

جوړ کړلو. "متجاورات" معني يو بل ته قريب شوي. "مثلات" جمع د مثله په معني د نظير، مقدار، آندازه. "عقبات" نګهبان يعني کوم فريښتې چه سحر ماښام څي راځي. "المحال" عذاب. "رابيا" جوړ دے. ربا يربوا نه زياتيدونکے، لکه "زبد" ژګ (جهاګ) "متاع" د فائدے څيز. "جفاء" کټوئ جوش اووهلو. ژګ راغے. او د کټوئ په پخيدو ژګ ختم شو. دغه شان حق د باطل نه جدا شي. "المهاد" بچونړے، بسترے، "يدرءون" لرے کوي. "درانته" جوړ دے، د هغے مطلب دے، هغه نے لرے کړل يعني دفع نے کړل. "السلام عليکم" تاسو سلامت اوسئے. دا قول به د فريښتو د مسلمانانو د پاره وي. "و اليه متاب" زۀ دَ دے نه توبه کوم. "افلم ييأس" آيا هغوي پوه نۀ شو، مايوسه نه شو. "لم يتبيّن" آيا په هغوي ظاهره نه شوه. "قارعة" ويرونکے، زور ورکونکے. "داهية" مصيبت. "فامليت" مهلت م ورکړلو. دا د "مليّ" او "ملاوة" نه جوړ شوے دے. دے نه "مليّا" "اشق" اسم تفضيل دے. ډير سخت. "معقب" بدليدونکے. "متجاورات" متعلق د مجاهد بيان دے، چه د زمکے بعضے قطعات زرخيز وي، او بعضے ناقابل کاشت. "صنوان" جړے يو ځائے شوے د قجورو اُونے. جُدا جدا اُونے. دغه حال د سړو دے. څوک نيک څوک بد، حالانکه ټول د آدم عليه السلام آولاد دے. "السحاب الثقال" د اوبو نه ډکے وريځے. "کباسط کَفَّيه" تږے چه لاس او ژبے سره اشارے سره اوبه غواړي، هغه هميشه محروم وي. "سالت اودية بقدرها" يعني نالے د خپلے اندازے مطابق بهيږي. "قدر"

يَجْرِ إِلَيْهِ بِيَدِهِ فَلَا يَأْتِيهِ أَبَدًا سَالَتْ أَوْدِيَةٌ بِقَدَرِهَا تَمْلَأُ بَطْنَ وَادٍ زَبَدًا رَابِيًا زَبَدَ السَّيْلِ خُبْثُ الْحَدِيدِ وَالْحِلْيَةِ.

اندزه "زبدا رابيا" د زګ نه ډک. د زګ نه پړسيدلے "زبد السيل" د سيلاب زګ. څنګه چه د اوسپنے يا د يو بل دهات ګرم کيدو سره د دننه نه ميل (خيرے) بهر ته راوځي.

باب ٢٦٥ : قَوْلِهِ اَللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ أُنْثَى وَمَا تَغِيضُ الْأَرْحَامُ غِيضَ نُقِصَ.

باب ٢٦٥ : آيت: اَللّٰهُ تحمِلُ كُلُّ أُنثى: د تعالي قول: هره ماده ئے اوچتوي، او چه رَحم نے کم کوي. "غيض" کم شو، کم کړے شو.

۱٦٨١ : حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ ابْنُ الْمُنْذِرِ حَدَّثَنَا مَعْنٌ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ دِينَارٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَفَاتِيحُ الْغَيْبِ خَمْسٌ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا اللّٰهُ لَا يَعْلَمُ مَا فِي غَدٍ إِلَّا اللّٰهُ وَلَا يَعْلَمُ مَا تَغِيضُ الْأَرْحَامُ إِلَّا اللّٰهُ وَلَا يَعْلَمُ مَتَى يَأْتِي الْمَطَرُ أَحَدٌ إِلَّا اللّٰهُ وَلَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ وَلَا يَعْلَمُ مَتَى تَقُومُ السَّاعَةُ إِلَّا اللّٰهُ.

۱٦٨١ : ابراهيم بن منذر. معن بن عيسي. امام مالک. عبداللّٰه بن دينار. حضرت ابن عمرؓ نه روايت کوي. د هغه بيان دے، حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ارشاد اوفرمائيلو، د غيب پنځه خبرے يا قنجيانے دي، چه د اللّٰه تعالي نه سوا بل چاته نه دي معلومے: (۱) يو خو دا چه صبا له څهٔ کيدونکے دي. (۲) دوېم دا چه د ښځو او ځناورو په رحمُونو کښ څهٔ دي، يعني نر دے يا ماده يا بل څهٔ. (۳) دريم دا چه باران به کله کيږي. (۴) څلورم دا چه سړے به کله مري. (۵) پنځم دا چه قيامت به کله راځي. دا خبرے صرف اللّٰه ته معلومے دي.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## سورة إِبْرَاهِيمَ

## دَ سورهٔ ابراهيم تفسير

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ هَادٍ دَاعٍ وَقَالَ مُجَاهِدٌ صَدِيدٌ قَيْحٌ وَقَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ أَيَادِيَ اللّٰهِ عِنْدَكُمْ وَأَيَّامَهُ وَقَالَ مُجَاهِدٌ مِنْ كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ

ابن عباسؓ فرماني "هاد" بلونکے. مجاهد اووئے "صديد" معني دي زوې او ابن عيينه وئيلي، د اللّٰه هغه نعمتونه ياد کړے چه تاسو سره دي، او د قدرت نه چه څهٔ حاصل شوے دي. هغه ياد کړے، چه تاسو څهٔ څهٔ رغبت کړے وو. "تبغونها عوجا" دے کښ کږوالے (کجی)

رَغِبْتُمْ إِلَيْهِ فِيْهِ يَبْغُوْنَهَا عِوَجًا يَلْتَمِسُوْنَ لَهَا عِوَجًا وَ اِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ اَعْلَمَكُمْ اٰذَنَكُمْ رُدُّوْا اَيْدِيَهُمْ فِيْ اَفْوَاهِهِمْ هٰذَا مَثَلٌ كَفُّوْا عَمَّا اُمِرُوْا بِهٖ مَقَامِيْ حَيْثُ يُقِيْمُهُ اللّٰهُ بَيْنَ يَدَيْهِ مِنْ وَّرَآئِهٖ قُدَّامِهٖ لَكُمْ تَبَعًا وَاحِدُهَا تَابِعٌ مِثْلُ غَيْبٍ وَ غَآئِبٍ بِمُصْرِخِكُمْ اسْتَصْرَخَنِيْ اِسْتَغَاثَنِيْ يَسْتَصْرِخُهُ مِنَ الصُّرَاخِ وَلَا خِلَالَ مَصْدَرُ خَالَلْتُهُ خِلَالًا وَ يَجُوْزُ اَيْضًا جَمْعُ خُلَّةٍ وَّ خِلَالٍ اُجْتُثَّتْ اسْتُؤْصِلَتْ.

پيدا كول غواړي. "و اذ تاذن ربكم" ستاسو مالك تاسوته ذ مخكښ نه بنودلے وو. "ردوا ايديهم في افواههم" دا يو عربي مقوله ده. مطلب ئے دادے، چه ذ حكم نه او كرځي، الله به ئے خان ته پيش كړي. "من ورائه" ذ مخے نه "قدامه" وړاندے يا مخكښ. "لكم تبعا" ذ تابع جمع ده، لكه "غيب" ذ غائب جمع ده "بمصرخكم" ستاسو فرياد رسي. عرب والا وائي "استصرخي" هغه خما فرياد واوريدلو. "يستصرخه" ذ هغه فرياد. دا د صُراخ نه جوړ شوے دے "ولا خلال" او نه دوستي او محبت. دا ذ "خاللته" مصدر دے او دا هم كيدے شي، چه "خُله" د "خلال" جمع وي. "اجتثت" د جرړ نه او بنكلے شوے، يا ذ جرړے نه وتلے.

## بَابُ ۲۶۶: قَوْلُهٖ كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ اَصْلُهَا ثَابِتٌ وَ فَرْعُهَا فِي السَّمَآءِ تُؤْتِيْ اُكُلَهَا كُلَّ حِيْنٍ.

**باب ۲۶۶**: آيت: كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ اَصْلُهَا ثَابِتٌ: د الله تعالىٰ قول: هغے پاكيزه اُونے په شان چه ذ هغے جرړے مضبوطے او كلكے وي، او ذ هغے ښاخونه آسمان كښ وي او هغه د خپل رب حكم سره هميشه ميوه كوي.

**ف**: كه په چا سپږنړے وي، نو دا آيت دے پرے هر سحر او مابنام درے خله څف كوي، انشاء الله روغ به شي. دے ذ پاره خما فقير محمد عباس قادريه، كتابونه "دم درُود" او "شفاء للناس" او كورئے.

۷۸۲: حَدَّثَنِيْ عُبَيْدُ بْنُ اِسْمَاعِيْلَ عَنْ اَبِيْ اُسَامَةَ عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كُنَّا عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَخْبِرُوْنِيْ بِشَجَرَةٍ تُشْبِهُ اَوْ كَالرَّجُلِ الْمُسْلِمِ لَا يَتَحَاتُّ وَرَقُهَا وَلَا وَلَا وَلَا تُؤْتِيْ

۷۸۲: عبيد بن اسماعيل. ابي اُسامه. عبيدالله. نافع. حضرت ابن عمرؓ نه روايت كوي، مونږ د حضور صلي الله عليه وسلّم په مجلس كښ ناست وو، حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمانيل، هغه كومه اُونه ده، چه ذ هغے پانړے نه غورځيږي. او هغے كښ ميوه هم هميشه كيږي. ذ مسلمان مثال د هغے اُونے دے، چه داسے هم نه، او داسے هم نه، او داسے هم نه، يعني هميشه ذده

أُكُلَهَا كُلَّ حِيْنٍ قَالَ ابْنُ عُمَرَ فَوَقَعَ فِي نَفْسِي أَنَّهَا النَّخْلَةُ وَ رَأَيْتُ أَبَا بَكْرٍ وَ عُمَرَ لَا يَتَكَلَّمَانِ فَكَرِهْتُ أَنْ أَتَكَلَّمَ فَلَمَّا لَمْ يَقُولُوا شَيْئًا قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هِيَ النَّخْلَةُ فَلَمَّا قُمْنَا قُلْتُ لِعُمَرَ يَا أَبَتَاهُ وَاللّٰهِ لَقَدْ كَانَ وَقَعَ فِي نَفْسِي أَنَّهَا النَّخْلَةُ فَقَالَ مَا مَنَعَكَ أَنْ تَكَلَّمَ قَالَ لَمْ أَرَكُمْ تَكَلَّمُونَ فَكَرِهْتُ أَنْ أَتَكَلَّمَ أَوْ أَقُولَ شَيْئًا قَالَ عُمَرُ لَأَنْ قُلْتَهَا أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ كَذَا وَ كَذَا.

کوي. ذ ابن عمرؓ بيان دے. خما زړه کښې وو، چه اووايم، چه هغه ذ قجورے اُونه ده، خو ما اوليدل چه ابوبکرؓ او عمرؓ ټول خاموش دي، څوک خبره نه کوي، نو زه ځنګه خبره اوکړم. آخر حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم خپله اوفرمائيل، هغه ذ قجورے اُونه ده، بيا چه مجلس ختم شو، او ټول پاسيدل، نو ما خپل پلار حضرت عمرؓ ته اووے، خما زړه کښې راغلي وو، چه اووايم، هغه ذ قجورے اُونه ده، خو ما تاسو ټول خاموش اوليدلے، نو زه هم خاموش پاتے شوم. حضرت عمرؓ اووے، که تا وئيلے وے، نو په اللّٰه ماته به ذ زيات نه زيات مال په حاصليدو دومره خوشحالي نه وه حاصله شوے، څومره چه ستا دا جواب م آوريدلے وے.

## بَابٌ ۲۶۷ : قَوْلِهٖ يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ.

باب ۲۶۷ : آيت: يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا: ذ اللّٰه تعالٰي قول، اللّٰه تعالٰي هغه ايمان واله ثابت قدم ساتي، چه پخه خبره کوي.

۲۸۳ : حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيْدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِيْ عَلْقَمَةُ بْنُ مَرْثَدٍ قَالَ سَمِعْتُ سَعْدَ بْنَ عُبَيْدَةَ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُسْلِمُ إِذَا سُئِلَ فِي الْقَبْرِ يَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُولُ اللّٰهِ فَذٰلِكَ قَوْلُهٗ يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَ فِي الْاٰخِرَةِ.

۲۸۳ : ابوالوليد. شعبه. علقمه بن مرثد. سعد بن عبيده. حضرت براء بن عازب نه روايت کوي، حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ارشاد اوفرمائيلو. قبر کښې چه مسلمان نه کوم وخت سوال کولے شي، نو هغه ګواهي ورکوي، چه: لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحمد رَسول اللّٰه: يعني ذ اللّٰه تعالٰي نه سِوا هيڅوک ذ عبادت لائق نه دے، او محمدؐ ذ اللّٰه رسول دے، نو دے آيت کښې ذ قول ثابت نه دا مراد دے، چه اللّٰه تعالٰي ايمان واله (ايماندار) دُنيا او آخرت دواړو کښې ثابت قدم ساتي.

ف: اللّٰه پاک دے مونږ ټول په ايمان دُنيا او آخرت دواړو کښې ثابت قدم لري. اَللّٰهُمَّ اٰمِيْنَ.

بـاب ۲٦۸ : قَـوْلِـهِ لَمْ تَـر اِلـى الَّـذِيْـنَ بَـدَّلُـوْا نِـعْمَةَ اللّٰهِ كُفْرًا اَلَمْ تَـعْـلَـمْ كَقَوْلِهِ اَلَمْ تَرَ كَيْفَ اَلَمْ تَـرَ اِلـى الَّـذِيْـنَ خَـرَجُـوْا اَلْبَـوَارُ الْهَلَاكُ بَـارَ يَـبُـوْرُ بَـوْرًا قَـوْمًـا بُـوْرًا هَالِكِيْنَ.

باب ۲٦۸ : آيت: الـم تـر الى الّذين بدّلوا نعمة الله: د الله تعالي قول: چا چه د الله نعمت كفر سره بدل كڼ. "الم تر" معني دي: آيا تا اونه ليدل: څنګه چه "الم تر كيف" كښ دي: چه آيا تا اونه ليدل، يا، د "الم تر الى الذين" معني ئې دي. "بوار" معني هلاكت. "باريبور" نه جوړ دے. "قوما بورا" هلاكيدونكي.

٦۸۴ : حَـدَّثَـنَـا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰـهِ حَـدَّثَـنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ عَطَـاءٍ سَـمِعَ ابْنَ عَبَّاسٍ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّـذِيْنَ بَدَّلُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ كُفْرًا قَالَ هُمْ كُفَّارُ اَهْلِ مَكَّةَ.

٦۸۴ : عـلـي بـن عـبـدالـلـه. سفيـان. عـمـرو. عـطـاء. حـضـرت ابـن عبـاسؓ نـه روايت كـوي، ذ هـغـه بيـان دے: دے آيت كښ: الـم تـر الى الّـذين بـدّلـوا نـعـمة الـلّـه كفرا: نـه مـراد د مكې كافر دي.

# سُوْرَةُ الْحِجْرِ

# دَ سورۀ حجر تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۞

وَ قَـالَ مُـجَاهِدٌ صِرَاطٌ عَلَيَّ مُسْتَقِيْمٌ اَلْـحَـقُّ يَـرْجِـعُ اِلَـى الـلّٰـهِ وَ عَلَيْـهِ طَـرِيْـقُـهُ لَبِـاِمَامٍ مُّبِيْنٍ عَلَى الطَّرِيْقِ وَ قَـالَ ابْـنُ عَبَّـاسٍ لَعَمْـرُكَ لَعَيْشُكَ قَـوْمٌ مُّـنْـكَـرُوْنَ اَنْـكَرَهُمْ لُوْطٌ وَ قَالَ غَيْـرُهُ كِتَابٌ مَعْلُوْمٌ اَجَلٌ لَوْ مَا تَأْتِيْنَا هَلَّا تَـاْتِيْـنَا شِيَعٌ اُمَمٌ وَ لِلْاَوْلِيَـاءِ اَيْضًا شِيَـعٌ وَ قَـالَ ابْـنُ عَبَّـاسٍ يُهْـرَعُوْنَ مُسْرِعِيْـنَ لِـلْـمُـتَـوَسِّمِيْنَ لِلنَّاظِرِيْنَ سُـكِّـرَتْ غُشِّيَـتْ بُـرُوْجًـا مَـنَـازِلَ لِلشَّمْـسِ وَالْقَمَرِ لَوَاقِحَ مَلَاقِحَ مُلْقِحَةً حَمَاٍ جَمَاعَةُ حَمْاَةٍ وَهُوَ الطِّيْنُ الْمُتَغَيِّرُ

بسم الله الرّحمن الرّحيم ۞

مجاهد وائي "صراط علىّ مستقيم" مطلب دا دے هغه ريښتينے لاره چه الله ته رسي. "لبامام مبين" په ښكاره لاره. ابن عباس وائي. "لعمرك" ستا په ځان قسم. "قوم منكرون" يعني لوط هغوي اجنبي او ګڼړل. "كتاب معلوم" مطلب مقرر موده "لوما تاتينا" ولے مونږ ته نه راوړې. "شيع" امتونه. او كله دوستانو ته هم وائي. ابن عباس وئيلي دي. "يهرعون" معني هغوي منډې وهې جلتي كوي تادي كوي. "للمتوسمين" ليدونكو د پاره. "سكرت" مست كړے شو. "بروجا" د نمر سپوږمۍ منزلونه "لواقح" ملاقح ملحقه: د دے ټولو يو معني دي يعني بوج اچوونكي "حماء" د "حماة" جمع ده معني د خټو دي "مسنون" قالب كښ اچولے معنے "لا توجل"

وَالْمَسْنُوْنُ الْمَصْبُوْبُ تَوْجَلْ تَخَفْ دَابِرَ اٰخِرَ لَبِاِمَامٍ مُّبِيْنٍ اَلْاِمَامُ كُلُّ مَا ائْتَمَمْتَ وَاهْتَدَيْتَ بِهِ الصَّيْحَةُ الْهَلَكَةُ.

مه ويريږه "دابر" آخري حصه يعني جړ يا لكئ "امام مبين" كښې د امام معني دي چه د هغه پيروي كولے شي چه د هغه نه لار بيا مومي "صيحته" معني هلاكت او بربادي وغيره.

بَابٌ ۲۶۹ : قَوْلِهٖ اِلَّا مَنِ اسْتَرَقَ السَّمْعَ فَاَتْبَعَهٗ شِهَابٌ مُّبِيْنٌ.

باب ۲۶۹ : ايت: اِلَّا مَنِ اسْتَرَقَ السَّمْعَ: ذَ الله تعالىٰ قول: خو هغه شيطان چه ذَ خبرو غلا كوي نو ذَ اُور شغلے هغه پسے شي.

۶۸۵ : حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ عِكْرِمَةَ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا قَضَى اللّٰهُ الْاَمْرَ فِي السَّمَآءِ ضَرَبَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ بِاَجْنِحَتِهَا خُضْعَانًا لِقَوْلِهٖ كَالسِّلْسِلَةِ عَلٰى صَفْوَانٍ قَالَ عَلِيٌّ وَ قَالَ غَيْرُهٗ صَفْوَانٌ يَنْفُذُهُمْ ذٰلِكَ فَاِذَا فُزِّعَ عَنْ قُلُوْبِهِمْ قَالُوْا مَا ذَا قَالَ رَبُّكُمْ قَالُوْا لِلَّذِيْ قَالَ الْحَقَّ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ فَيَسْمَعُهَا مُسْتَرِقُوا السَّمْعِ وَ مُسْتَرِقُوا السَّمْعِ هٰكَذَا وَاحِدٌ فَوْقَ اٰخَرَ وَ وَصَفَ سُفْيَانُ بِيَدِهٖ وَ فَرَّجَ بَيْنَ اَصَابِعِ يَدِهِ الْيُمْنٰى نَصَبَهَا بَعْضَهَا فَوْقَ بَعْضٍ فَرُبَّمَا اَدْرَكَ الشِّهَابُ الْمُسْتَمِعَ قَبْلَ اَنْ يَّرْمِيَ بِهَا اِلٰى صَاحِبِهٖ فَيُحْرِقَهٗ وَ رُبَّمَا لَمْ يُدْرِكْهُ حَتّٰى يَرْمِيْ بِهَا اِلَى الَّذِيْ يَلِيْهِ اِلَى الَّذِيْ هُوَ اَسْفَلَ مِنْهُ حَتّٰى يُلْقُوْهَا اِلَى الْاَرْضِ وَ رُبَّمَا قَالَ

۶۸۵ : علي بن عبدالله. سفيان. عمرو. عكرمه. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت كوي، ذَ هغه بيان دے، حضور صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل، هر كله چه الله تعالىٰ په آسمان فريښتو ته څۀ حكم وركوي، نو هغوي عاجزئ سره خپل پَر وهي، او غور سره آوري. او ذ زنځير په شان آواز (شنړار) كيږي. هر كله چه فريښتے ذَ حكم الٰهي ذَ خوف نه څۀ قدرے بے غمه شي، نو خپلو كښې يو بل نه تپوس كوي، الله تعالىٰ څۀ حكم كړے دے، نورے ورته وائي، څۀ چه فرمائي، هغه حق دي، او الله تعالىٰ لوئے بلند برتر دے. علي وائي، سفيان اووے، ذ فريښتو خبرے شيطانان اوتښتوي، او دا شيطانان داسے لاندے باندے وي، او ذَ ګوتو اشاره كولو سره ئے اوښودل، بيا كله چه فريښتے پرے خبر شي، نو ذَ اُور شعله ور اُولي، او هغه شعله خبرے آوريدونكے قبل ذَ دے نه چه هغه ئے خپل ملګري ته واوروي، اوسوزوي. او كله ذَ هغے شعلے هغه ته ذَ رسيدو نه مخكښې هغه ئے خپل ملګري ته اوښائي، (يعني واوروي) او دا شان خبرے زمكے پورے راورسي. بيا دا خبرے ذَ نجومي په خوله كښې واچولے شي، او هغه

سُفْيٰنُ حَتّٰى تَنْتَهِيَ اِلَى الْاَرْضِ فَتُلْقٰى عَلٰى فَمِ السَّاحِرِ فَيَكْذِبُ مَعَهَا مِائَةَ كَذِبَةٍ فَيُصَدَّقُ فَيَقُوْلُوْنَ اَلَمْ يُخْبِرْنَا يَوْمَ كَذَا وَ كَذَا يَكُوْنُ كَذَا وَ كَذَا فَوَجَدْنَاهُ حَقًّا لِلْكَلِمَةِ الَّتِيْ سُمِعَتْ مِنَ السَّمَآءِ.

ورسره سل نورے دروغ حبرے یو ځائے کړي او خلقونه ئے بیانوي. کله کله خنے خبره د دے نجومي یعني جادوګر ریښتیا اوخيژي نو خلق وائي کوره دے نجومي مونږ ته دا دا حبرے کړے وه د هغه خبره ریښتیا اوختله، حالانکه دا هغه خبره ده چه د آسمان نه ئے غلا شوے ده.

٦٨٦ : حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا عَمْرٌو عَنْ عِكْرِمَةَ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَؓ اِذَا قَضَى اللّٰهُ الْاَمْرَ وَ زَادَ الْكَاهِنَ وَ حَدَّثَنَا سُفْيٰنُ فَقَالَ قَالَ عَمْرٌو سَمِعْتُ عِكْرَمَةَ حَدَّثَنَا اَبُوْ هُرَيْرَةَ قَالَ اِذَا قَضَى اللّٰهُ الْاَمْرَ وَ قَالَ عَلٰى فَمِ السَّاحِرِ قُلْتُ لِسُفْيٰنَ اَنْتَ سَمِعْتَ عَمْرٌو قَالَ سَمِعْتُ عِكْرِمَةَ قَالَ سَمِعْتُ اَبَا هُرَيْرَةَؓ قَالَ نَعَمْ قُلْتُ لِسُفْيٰنَ اِنَّ اِنْسَانًا رَوٰى عَنْكَ عَنْ عَمْرٍو عَنْ عِكْرِمَةَ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَؓ وَ يَرْفَعُهُ اَنَّهُ قَرَاَ فُرِّغَ قَالَ سُفْيٰنُ هٰكَذَا قَرَاَ عَمْرٌو فَلَا اَدْرِيْ سَمِعَهُ هٰكَذَا اَمْ لَا قَالَ سُفْيَانُ وَ هِيَ قِرَاءَ تُنَا.

٦٨٦ : علي بن عبدالله. سفيان. عمرو. عكرمه. حضرت ابوهريرهؓ نه دا حديث داسے روايت کوي چه ساحر نه پس د کاهن لفظ زيات کړے دے. سفيان. عمرو نه، هغه عکرمه نه. هغه حضرت ابوهريرهؓ نه روايت کوي. حضور صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل، هر کله چه الله تعالي څه حکم کوي. او دے روايت کښې "علی فم الساحر" لفظ دے. علي بن عبدالله وائي. ما د سفيان نه تپوس اوکړ. آيا تا عمرو نه واوريدل هغه وئيلے، ما د عکرمه نه واوريدل هغه وئيلے ما د ابوهريرهؓ نه واوريدل، هغه اووے. او علي سفيان ته اووے چه يو سړي تانه داسے روايت اوکړ. عمرو. عکرمه. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت کوي. هغه اووے چه رسول اکرم صلي الله عليه وسلم "فزع" لوستے وو. سفيان وائي، ما د عمرو نه دغسے واوريدل. او س معلومه نه ده، چه هغه د عکرمه نه آوريدلے وو، يا نه، خو زه ئے داسے لولم.

## بَابٌ ٢٧٠ : قَوْلِهٖ وَلَقَدْ كَذَّبَ اَصْحٰبُ الْحِجْرِ الْمُرْسَلِيْنَ.

باب ٢٧٠ : ايت: ولقد كذب اصحٰب الحجر المُرْسَلِيْنَ: د الله تعالي قول. بيشکه حجر والو پيغمبران دروغجن اوګڼړل.

٦٨٧ : حَدَّثَنَا اِبْرٰهِيْمُ بْنُ الْمُنْذِرِ حَدَّثَنَا مَعْنٌ قَالَ حَدَّثَنِيْ مَالِكٌ

٦٨٧ : ابراهيم بن منذر. معني. مالک. عبدالله بن دينار. حضرت عبدالله بن عمرؓ نه روايت کوي.

عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ دِيْنَارٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِاَصْحٰبِ الْحِجْرِ لَا تَدْخُلُوْا عَلٰى هٰٓؤُلَاءِ الْقَوْمِ اِلَّا اَنْ تَكُوْنُوْا بَاكِيْنَ فَاِنْ لَمْ تَكُوْنُوْا بَاكِيْنَ فَلَا تَدْخُلُوْا عَلَيْهِمْ اَنْ يُّصِيْبَكُمْ مِثْلُ مَا اَصَابَهُمْ.

ذ هغه بيان دے' رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم چه د حجر په مقام تيريدلو' نو حضورؐ خپلو صحابهؓ ته اوفرمائيل' دے مقام نه تاسو له ژړا سره تيريدل پكار دي. كه ژړا نه درځي' نو مه ځئ چرته داسے نه وي' چه كوم عذاب په هغوي نازل شوے وو' هغه په تاسو نازل شي.

**باب ۱۷۲ : قَوْلِهٖ وَلَقَدْ اٰتَيْنٰكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِيْ وَالْقُرْاٰنَ الْعَظِيْمَ.**

**باب ۱۷۲ :** وَلَقَدْ اٰتَيْنٰكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِيْ: ذ اللّٰه تعالي قول: مونږ تاته اوه ذهراؤ كيدونكي ايتونه او قرآن عظيم عطا كړے دے.

**۶۸۸ :** حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ خُبَيْبِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ عَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُعَلّٰى قَالَ مَرَّبِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ اَنَا اُصَلِّيْ فَدَعَانِيْ فَلَمْ اٰتِهٖ حَتّٰى صَلَّيْتُ ثُمَّ اَتَيْتُ فَقَالَ مَا مَنَعَكَ اَنْ تَاْتِيَ فَقُلْتُ كُنْتُ اُصَلِّيْ فَقَالَ اَلَمْ يَقُلِ اللّٰهُ يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اسْتَجِيْبُوْا لِلّٰهِ وَ لِلرَّسُوْلِ ثُمَّ قَالَ اَلَا اُعَلِّمُكَ اَعْظَمَ سُوْرَةٍ فِي الْقُرْاٰنِ قَبْلَ اَنْ اَخْرُجَ مِنَ الْمَسْجِدِ فَذَهَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيَخْرُجَ مِنَ الْمَسْجِدِ فَذَكَّرْتُهُ فَقَالَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ هِيَ السَّبْعُ الْمَثَانِيْ وَالْقُرْاٰنُ الْعَظِيْمُ الَّذِيْ اُوْتِيْتُهُ.

**۶۸۸ :** محمد بن بشار. غندر. شعبه. خبيب بن عبدالرحمٰن. حفص بن عاصم. ابي سعيد بن معلٰي نه روايت كوي' حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم څما خوا كښ تير شو' او' ما مونځ كولو' حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم زهٔ اوغوبښتلم. زهٔ لانهٔ رم' مانځه نه پس لاړم' نو حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل' چه ما اوغوښتلے' نو ته ولے رانغلے' ما عرض او كهٔ' ما مونځ كولو' حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل' آيا اللّٰه تعالي دا نهٔ دي فرمائيلے' چه اے ايمان والو' كوم وخت چه تاسو ذ اللّٰه رسول اوبلي' نو ورشئ' دے نه پس حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ارشاد اوفرمائيلو' جُمات نه ذ وتلو نه مخكښ به زهٔ تاته ذ قرآن يو لوئے بزرګ او برتر سورت اوښايم. بيا چه حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم روان شو' ما ورته ياد كړل' حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل' هغه سورهٔ الحمٓد دے. دے كښ اوه آيتونه دي' چه سبع مثاني دي' او قرآن عظيم چه ماته راكړے شوے دے.

۶۸۹: حَدَّثَنَا اٰدَمُ حَدَّثَنَا ابْنُ اَبِيْ ذِئْبٍ حَدَّثَنَا سَعِيْدُ الْمَقْبُرِيُّ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اُمُّ الْقُرْاٰنِ هِيَ السَّبْعُ الْمَثَانِيْ وَالْقُرْاٰنُ الْعَظِيْمُ.

۶۸۹: آدم. ابن ابي ذئب. سعيد مقبري. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت كوي، د هغه بيان دے، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل، اُمّ القرآن چه سورة فاتحه دے. دے ته سبع مثاني او قرآن عظيم وائي.

باب ۲۷۲: قَوْلِهٖ الَّذِيْنَ جَعَلُوا الْقُرْاٰنَ عِضِيْنَ الْمُقْتَسِمِيْنَ الَّذِيْنَ حَلَفُوْا وَمِنْهُ لَا اُقْسِمُ اَيْ اُقْسِمُ وَ تُقْرَأُ لَاُقْسِمُ قَاسَمَهُمَا حَلَفَ لَهُمَا وَلَمْ يَحْلِفَا لَهٗ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ تَقَاسَمُوْا تَحَالَفُوْا.

باب ۲۷۲: آيت: اَلَّذِيْنَ جعلُوا الْقُرْاٰن عِضِيْنَ: د الله تعالي قول، هغه خلق چه قرآن ئے ټکړے ټکړے كړ "مقتسمين" هغه كافر مراد دي، چه هغوي د شپے د حضرت صالح عليه السلام د وژلو قسم خوړلے وو. "مقتسمين" معني حلف او چټونكي. قسم خوړونكي. "لا اقسم" په معني كښې. او "لا" زائد دے. مجاهد وائي. "تقاسموا" معني "تحالفوا" يعني هغوي حلف او چت كړ. قسم ئے اوخوړلو.

۶۹۰: حَدَّثَنِيْ يَعْقُوْبُ بْنُ اِبْرٰهِيْمَ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ اَخْبَرَنَا اَبُوْ بِشْرٍ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ الَّذِيْنَ جَعَلُوا الْقُرْاٰنَ عِضِيْنَ قَالَ هُمْ اَهْلُ الْكِتَابِ جَزَّءُ وْهُ اَجْزَاءً فَاٰمَنُوْا بِبَعْضِهٖ وَ كَفَرُوْا بِبَعْضِهٖ.

۶۹۰: يعقوب بن ابراهيم. هشيم. ابو بشر. سعيد بن جبير. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، د هغه بيان دے، دے ايت اَلَّذِيْن جعلُوا الْقُرْاٰن عِضِيْنَ: نه اهل كتاب يعني يهود مراد دي، هغوي قرآن ټكړے ټكړے كړ، چه د تورات موافق وو، هغه ئے اومنلو، كوم چه مخالف وو، هغه ئے اونه منلو.

۶۹۱: حَدَّثَنِيْ عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ مُوْسٰى عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ اَبِيْ ظَبْيَانَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍؓ كَمَا اَنْزَلْنَا عَلَى الْمُقْتَسِمِيْنَ قَالَ اٰمَنُوْا بِبَعْضٍ وَ كَفَرُوْا بِبَعْضٍ الْيَهُوْدُ وَالنَّصَارٰى.

۶۹۱: عبيدالله بن موسي. اعمش. ابي ظبيان. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، هغه اووے. "كما انزلنا علي المقتسمين" نه مراد يهود او نصاري دي، څه قرآن څو هغوي قبول كړ او څه ئے قبول نه كړ.

باب ۲۷۳: قَوْلِهٖ وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتّٰى يَاْتِيَكَ الْيَقِيْنُ قَالَ سَالِمٌ

باب ۲۷۳: آيت: واعْبد ربّک حتّٰى يأتيک الْيَقِيْنُ: د الله تعالي قول، د مرګه پورے د خپل رب

يَمُوْتُ.

عبادت کوه. سالم وائي "يقين" نه مراد مرگ دے.

# سُوْرَةُ النَّحْلِ

# دَ سورۀ نحل تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

رُوْحُ الْقُدُسِ جِبْرِيْلُ نَزَلَ بِهِ الرَّوْحُ الْاَمِيْنُ فِيْ ضَيْقٍ يُقَالُ اَمْرٌ ضَيْقٌ وَ ضَيِّقٌ مِثْلُ هَيْنٍ وَ هَيِّنٍ وَلَيْنٍ وَّ لَيِّنٍ وَمَيْتٍ وَ مَيِّتٍ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فِيْ تَقَلُّبِهِمْ اِخْتِلَافِهِمْ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ تَمِيْدُ تَكَفَّأُ مُفْرَطُوْنَ مَنْسِيُّوْنَ وَ قَالَ غَيْرُهٗ فَاِذَا قَرَاْتَ الْقُرْاٰنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ هٰذَا مُقَدَّمٌ وَ مُؤَخَّرٌ وَّ ذٰلِكَ اَنَّ الْاِسْتِعَاذَةَ قَبْلَ الْقِرَاَةِ وَ مَعْنَاهَا الْاِعْتِصَامُ بِاللّٰهِ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ تُسِيْمُوْنَ تَرْعَوْنَ شَاكِلَتِهٖ نَاحِيَتِهٖ قَصْدُ السَّبِيْلِ الْبَيَانُ الدِّفْءُ مَا اسْتَدْفَاْتَ تُرِيْحُوْنَ بِالْعَشِيِّ وَ تَسْرَحُوْنَ بِالْغَدَاةِ بِشِقِّ يَعْنِي الْمَشَقَّةَ عَلٰى تَخَوُّفٍ تَنَقُّصٍ الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً وَ هِيَ تُؤَنَّثُ وَ تُذَكَّرُ وَ كَذٰلِكَ النَّعَمُ لِلْاَنْعَامِ جَمَاعَةُ النَّعَمِ سَرَابِيْلَ قُمُصٌ تَقِيْكُمُ الْحَرَّ وَ سَرَابِيْلَ تَقِيْكُمْ بَاْسَكُمْ فَاِنَّهَا الدُّرُوْعُ دَخَلًا بَيْنَكُمْ كُلُّ شَيْءٍ لَمْ يَصِحَّ فَهُوَ دَخَلٌ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ حَفَدَةٌ مِنْ وَلَدِ الرَّجُلِ السَّكَرُ مَا حُرِّمَ مِنْ ثَمَرَتِهَا وَالرِّزْقُ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

"روح القدس" جبرائيل ته وائي. "ضيق" او "ضيّق" معني يو دي، څنګه چه "ميْت" او "ميّت" يا "هيْن" او "هيّن" يا "لين" او "ليّن" ابن عباسؓ وائي، "في تقلبهم" معني دي، ذ هغوي په ګرځيدو کښې. مجاهد وائي "تميد" معني خکته شي (جهک جائے) اونخلي، آړولے شي. او "مفرطون" معني مخکښې کړے شوے بعضو اووے "فاذا قرات القرآن فاستعذ بالله" کښې عبارت مخکښې ورستو شوے دے، څکه چه اعوذ بالله مخکښې لوستل پکار دي. "استعاذه" پناه غوارم. ابن عباسؓ اووے. "تسيمون" خاروي څروئ "شاکلته" په خپله خپله طريقه. "قصد السبيل" ذ ريښتنيے لارے بيان. "الدِّف" هغه څيز چه هغے سره يخني لرے شي. "ماستدفات" هغه څيز چه هغے سره ګرمي حاصليږي. "تريحون" ماښام ته راولئے "تسرحون" سحر کښې ئے څرند ذ پاره بوځئے. "بشق" تکليف او چتولو سره. "تخوف" نقصان. "انعام" ذ نعم جمع ده، او نر او ماده دواړو ذ پاره ونيلے شي. "اکنان" پناګاهونه. "سرابيل تقيکم الحر" نه قميصونه مراد دي او "سرابيل تقيکم باسکم" نه زغرے مراد دي. "دخل" ناجائز خبرے ته وائي، يعني خيانت. حضرت ابن عباسؓ وائي، "حفدة" معني نوسئ يا نوسے، يعني ذ سړي اولاد. "السکر" معني نشته، نشے والا شراب. "رزقًا حسنًا" چه هغه الله حلال کړے وي. ابن عيينه، صدقه نه نقل کوي، ذ

الْحَسَنِ مَا أَحَلَّ اللهُ وَ قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ صَدَقَةَ اَنْكَاثًا هِيَ خَرْقَاءُ كَانَتْ إِذَا اَبْرَمَتْ غَزْلَهَا نَقَضَتْهُ وَ قَالَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ الْأُمَّةُ مُعَلِّمُ الْخَيْرِ وَالْقَانِتُ الْمُطِيعُ.

"انكاثًا" معني تكړے تكړے. دا د مكے معظمے يوه ښځه وه چه ذ سحر به نے سپنړسي اودل، او ذ غرمے به نے تكړے تكړے كول. ابن مسعود واني "الامة" معني منت. امام معلم الخير ته واني، يعني نيكي ښودونكے. "قانت" فرمانبردار.

بَابُ ۴۷۲: قَوْلِهِ وَ مِنْكُمْ مَنْ يُرَدُّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ.

باب ۴۷۲: آيت: و منكم من يُرَدُّ الى اَرْذَلِ الْعُمر: ذ الله تعالى قول، او تاسو كښې بعضے پريوتے عمر طرف ته كرخولے شي.

۴۹۲: حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيْلَ حَدَّثَنَا هَارُوْنُ بْنُ مُوْسَى أَبُوْ عَبْدِ اللهِ الْأَعْوَرُ عَنْ شُعَيْبٍ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَدْعُوْ أَعُوْذُبِكَ مِنَ الْبُخْلِ وَالْكَسَلِ وَ أَرْذَلِ الْعُمُرِ وَ عَذَابِ الْقَبْرِ وَ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ وَ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ.

۴۹۲: موسى بن اسماعيل. هارون بن موسى. ابو عبدالله الاعور. شعيب. حضرت انس بن مالك نه روايت كوي، د هغه بيان دے، حضور صلي الله عليه وسلم به هميشه دا، دُعا كوله "اعوذبک من البخل والكسل و ارذل العمر و عذاب القبر و فتنة الدجال و فتنة المحيا والممات" يا الله زه د بخيلي، سستي، پريوتي عمر نه، د قبر د عذاب نه، ذ دجال ذ فتنے نه او ذ ژوند او مرګ ذ فتنے نه ستا پناه غواړم.

# سُوْرَةُ بَنِي إِسْرَآئِيلَ

# دَ سورهٔ بني اسرآئيل تفسير

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

۴۹۳: حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنِ يَزِيْدَ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ مَسْعُوْدٍ قَالَ فِي بَنِي إِسْرَآئِيلَ وَالْكَهْفِ وَ مَرْيَمَ إِنَّهُنَّ مِنَ الْعِتَاقِ الْأُوَلِ وَ هُنَّ مِنْ

۴۹۳: ادم. شعبه. ابو اسحاق. عبدالرحمٰن بن مسعود فرمائي، چه سورهٔ بني اسرآئيل، كهف او مريم ذ اعلي درجے سورتونه دي. او دا ما ډير مخكښې ياد كړے وو. ابن عباسؓ فرمائي، "فسينغضون" معني دي، چه خپل سر به رقوي. ذ خنو خلقو وينا ده، چه دا ذ "نغضت سنک" نه وتلے دے چه د هغے معني دي، ستا غاښ

يُلَاوِيُ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَسَيُنْغِضُوْنَ
يَهُزُّوْنَ وَ قَالَ غَيْرُهُ نَغَضَتْ سِنُّكَ
اَيْ تَحَرَّكَتْ وَ قَضَيْنَا اِلٰى بَنِيْٓ
اِسْرَآئِيْلَ اَخْبَرْنَاهُمْ اَنَّهُمْ سَيُفْسِدُوْنَ
وَالْقَضَآءُ عَلٰى وُجُوْهٍ وَّ قَضٰى
رَبُّكَ اَمَرَ رَبُّكَ وَ مِنْهُ الْحُكْمُ اِنَّ
رَبَّكَ يَقْضِيْ بَيْنَهُمْ وَ مِنْهُ الْخَلْقُ
فَقَضَاهُنَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ نَفِيْرًا مَنْ
يَنْفِرُ مَعَهُ وَلِيُتَبِّرُوْا يُدَمِّرُوْا مَا
عَلَوْا حَصِيْرًا مَحْبَسًا مَحْصَرًا
حَقَّ وَجَبَ مَيْسُوْرًا لَيِّنًا خِطْأً اِثْمًا
وَهُوَ اِسْمٌ مِنْ خَطِئْتُ وَ الْخَطَاءُ
مَفْتُوْحٌ مَصْدَرُهُ مِنَ الْاِثْمِ
خَطِئْتُ بِمَعْنٰى اَخْطَأْتُ تَخْرِقَ
تَقْطَعَ وَ اِذْهُمْ نَجْوٰى مَصْدَرٌ
مِنْ نَاجَيْتُ فَوَصَفَهُمْ بِهَا وَالْمَعْنٰى
يَتَنَاجَوْنَ رُفَاتًا حُطَامًا وَاسْتَفْزِزْ
اسْتَخِفَّ بِخَيْلِكَ الْفُرْسَانِ
وَالرَّجْلُ وَالرَّجَالَةُ وَاحِدُهَا رَاجِلٌ
مِثْلُ صَاحِبٍ وَ صَحْبٍ وَّ تَاجِرٍ وَّ
تَجْرٍ حَاصِبًا الرِّيْحُ الْعَاصِفُ وَالْحَاصِبُ
اَيْضًا مَا تَرْمِيْ بِهِ الرِّيْحُ وَ مِنْهُ
حَصَبُ جَهَنَّمَ يُرْمٰى بِهٖ فِيْ جَهَنَّمَ
وَهُوَ حَصَبُهَا وَ يُقَالُ حَصَبَ فِي
الْاَرْضِ ذَهَبَ وَالْحَصَبُ مُشْتَقٌّ مِنَ
الْحَصْبَآءِ وَالْحِجَارَةِ تَارَةً مَرَّةً وَ

اوخوزيدلو. "و قضينا الى بنی اسرائيل" او مونږ بني
اسرائيلو ته خبر ورکړے وو چه هغوي به فساد کوي. د
"قضا" ډير معني راغلے دي لکه "و قضا ربک الا
تعبدوا الا اياه" کښې ذحکم معني راخي او د فيصلے
معني هم راخي لکه "انَّ ربَّک يقضى بينهم" يعني د
هغوي په مينځ کښې به فيصله اوکړي. او د پيدا کولو په
معني کښې هم راخي لکه "قضاهنَّ سبع سمٰوٰت" هغه ئے
اوه آسمانونه پيدا کړل. "نفيرا" معني دي لښکر. "من
ينفر منعه" چه چاسره خي. "وليتبروا" معني دي برباد
کړي. "حصيرًا" معني قيد خانه. "فحق" ثابت شو.
"وجب" واجب شو. "ميسورا" معني دي نرم. "خِطأً"
گناه. دا اسم مصدر دے. "خطئت" نه. او "خطا" مصدر
دے. "لن تخرق" نشي شلولے. "لن تقطع" ته هيڅ کله
نه شے پريکولے. "نجوىٰ" خپلو کښې مشوره کوي.
"رفاتا" چوره چوره يا ريزه ريزه کړي. "واستفزز"
سپک کړي بيوقوف جوړ کړي. "بخيلک" خپلو
سوارونه. "رجل" معني پياده. مفرد ئے راجل راخي
لکه "صاحب" او "صحب" او "تاجر" او "تجر"
"حاصبا" سيلئ او "حاصب" هغے هوا ته هم وائي. چه
خيز غرخري نو ددے نه دے "حصبِ جهنم" کښې به
اوغرخولے شي. د عربو مقوله ده چه "حصب فى
الارض" زمکه کښې ننوتلو. دا "حصبا" نه دے. معنی د
کاڼړو دي. "تارة" معني يو وار. ددے جمع "تارات" او
"تيرة" راخي. "لا حتنکن" ذجړ نه به ئے راوکاږم. تباه به
ئے کړم. د عربو مقوله ده "احتنک فلان ما عند فلان"
يعني هغه ته چه څومره خبرے معلومے نه وے هغه ټولے

جمَاعَتُهُ تِمَرَةٌ وَ تَارَتُ لَأَحْتَنِكَنَّ لَأَسْتَأْصِلَنَّهُمْ يُقَالُ احْتَنَكَ فُلَانٌ مَا عِنْدَ فُلَانٍ مِنْ عِلْمٍ اِسْتَقْصَاهُ طَائِرَهُ حَظُّهُ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ كُلُّ سُلْطَانٍ فِي الْقُرْآنِ فَهُوَ حُجَّةٌ وَلِيٌّ مِنَ الذُّلِّ لَمْ يُحَالِفْ اَحَدًا.

هغهٔ معلومے کړے "طائره" معني د هغه نصيبه ده ابن عباسؓ فرماني' قرآن کښ چه کوم ځاې د "سلطان" لفظ راغلے دے نو د هغے معني د دليل او حجت دي. "وليّ من الذل" معني دي' خدائے چاسره داسے دوستي نهٔ ده کړے' چه هغه ذ ذلت نه هغه محفوظ اوساتي' ځکه چه خدائے ذ چا محتاج نهٔ دے.

**باب ۲۷۵:**

**باب ۲۷۵**: (دا باب بے سُرخي دے).

**۶۹۴**: حَدَّثَنَا عَبْدَانُ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ اَخْبَرَنَا يُونُسُ ح وَ حَدَّثَنَا اَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ حَدَّثَنَا يُونُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ ابْنُ الْمُسَيَّبِ قَالَ اَبُوْ هُرَيْرَةَ اُتِيَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةَ اُسْرِيَ بِهٖ بِاِيْلِيَاءَ بِقَدَحَيْنِ مِنْ خَمْرٍ وَلَبَنٍ فَنَظَرَ اِلَيْهِمَا فَاَخَذَ اللَّبَنَ قَالَ جِبْرَئِيْلُ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ هَدَاكَ لِلْفِطْرَةِ لَوْ اَخَذْتَ الْخَمْرَ غَوَتْ اُمَّتُكَ.

**۶۹۴**: عبدان. عبدالله. يونس. (دويم سند) احمد بن صالح. عنبسه. يونس. ابن شهاب. سعيد بن مسيب. حضرت ابوهريرةؓ نه روايت کوي' ذ هغهٔ بيان دے. په کومه شپه چه حضور صلي الله عليه وسلم بيت المقدس ته تشريف يوړلو' نو حضور صلي الله عليه وسلم ته دوه پيالے پيش کړے شوے. يوے کښ شراب وو' او بلے کښ پئے. حضور صلي الله عليه وسلم دواړو ته اوکتل. بيائے ذ پيؤ پيالے واخسته. حضرت جبرئيل عرض اوکهٔ' چه الحمدلله' خدائے تاسو ته پيدائشي لار يعني اسلام اوښودلو' که تاسو ذ شرابو پيالے لاس کښ آخستے وے' نو ستاسو اُمت به ګمراهي کښ آخته شوے وے.

**۶۹۵**: حَدَّثَنَا اَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ يُوْنُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ اَبُوْ سَلَمَةَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَمَّا كَذَّبَنِيْ قُرَيْشٌ قُمْتُ فِي الْحِجْرِ فَجَلَّ اللّٰهُ لِيْ بَيْتَ

**۶۹۵**: احمد بن صالح. ابن وهب. يونس. ابن شهاب. ابو سلمه. حضرت جابر بن عبدالله نه روايت کوي' ذ هغهٔ بيان دے' ما ذ رسول الله صلي الله عليه وسلم نه واوريدل' فرمائيل ئے کوم وخت چه کافرو معراج دروغ اوګڼلو' نو زهٔ کعبه کښ مقام حجر ته ورغلم' الله تعالي بيت المقدس خما مخے ته کړلو' ما هغے ته کتل' نښے مِ ښودلے. يعقوب بن ابراهيم داسے

الْمَقْدِسِ فَطَفِقْتُ أُخْبِرُهُمْ عَنْ آيَاتِهِ وَأَنَا أَنْظُرُ إِلَيْهِ زَادَ يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَخِي ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَمِّهِ لَمَّا كَذَّبَنِي قُرَيْشٌ حِينَ أُسْرِيَ بِي إِلَى بَيْتِ الْمَقْدِسِ نَحْوَهُ قَاصِفًا رِيحٌ تَقْصِفُ كُلَّ شَيْءٍ كَرَّمْنَا وَ أَكْرَمْنَا وَاحِدٌ ضِعْفَ الْحَيَاةِ عَذَابَ الْحَيَاةِ وَ ضِعْفَ الْمَمَاةِ عَذَابَ الْمَمَاةِ خِلَافَكَ وَ خَلْفَكَ سَوَاءٌ وَ نَأَى تَبَاعَدَ شَاكِلَتِهِ نَاحِيَتِهِ وَ هِيَ مِنْ شَكْلِهِ صَرَّفْنَا وَجَّهْنَا قَبِيلًا مُعَايَنَةً وَ مُقَابَلَةً وَ قِيلَ الْقَابِلَةُ لِأَنَّهَا مُقَابِلَتُهَا وَ تَقْبَلُ وَلَدَهَا خَشْيَةَ الْإِنْفَاقِ أَنْفَقَ الرَّجُلُ أَمْلَقَ وَ نَفِقَ الشَّيْءُ ذَهَبَ قَتُورًا مُقَتِّرًا لِلْأَذْقَانِ مُجْتَمَعَ اللَّحْيَيْنِ وَالْوَاحِدُ ذَقَنٌ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ مَوْفُورًا وَافِرًا تَبِيعًا ثَائِرًا وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ نَصِيرًا خَبَتْ طَفِئَتْ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَا تُبَذِّرْ لَا تُنْفِقْ فِي الْبَاطِلِ ابْتِغَاءَ رَحْمَةٍ رِزْقٍ مَثْبُورًا مَلْعُونًا لَا تَقْفُ لَا تَقُلْ فَجَاسُوا تَيَمَّمُوا يُزْجِي الْفُلْكَ يُجْرِي الْفُلْكَ يَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ لِلْوُجُوهِ.

اووے چه حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل' بيت المقدس ته ځما بوتلل چه کافرو دروغ اوګنړل. "قاصفًا" هغه سيلئ چه هر څيز تباه کړي' "ضعف الحيات" معنې د ژوند عذاب. "ضعف الممات" معنې د مرګ عذاب. "کرمنا" او "اکرمنا" د دواړو يو معنې دي. يعنې مونږ بزرګي ورکړه "خلافک" او "خلفک" د دواړو يو معنې دي. يعنې ستا ورستو. "تباعد" معنې لرې شو. "شاکلة" معنې په خپله طريقه. "صرفنا" مونږ واضحه کړه. "قبيلاً" معنې مقابله' يعني د سترګو مخ کښې. "الانفاق" خرچ کول. "قتوراً" تنګ دله. لنډ پارے. "اذقان" د ذقن جمع ده' د دے معنې دي زنه (ٹھوڑی). "موفوراً" ډک (بھرپور) دا' د مجاهد بيان دے. "تبيعًا" بدله اخستونکے. خو حضرت ابن عباسؓ وائي' چه مددګار "خبت" معنې دي' مړ به شي (بجھ جائے گی) د حضرت ابن عباسؓ بيان دے "لا تبذر" معنې دا دي' خرابو کارونو کښې مه خرچ کوے "ابتغاء رحمة" د روزي تلاش کښې. "مثبورًا" معنې لعنت پرے کړے شوے. "لا تقف" ورپسے مه لږه. ورپسے کيږه مه. "لا تقل" مه وايه. "فجاسوا" ورننوتل. قصد ئے اوکه. "يزجي الفلک" کشتي چلوي. "يخرّون لِلاذقانِ" پر مخے اوغرځيږي' دلته د مخ نه مراد زنے (ٹھوڑیاں). دي.

باب ۲۷۶: قَوْلِهِ وَ إِذَا أَرَدْنَا أَنْ نُهْلِكَ قَرْيَةً أَمَرْنَا مُتْرَفِيهَا الْآيَةَ.

باب ۲۷۶: آيت: وَ إِذَا أَرَدْنَا أَنْ نُهْلِكَ قَرْيَةً: د اللّٰه تعالیٰ قول' هر کله چه مونږ يوه بستي هلاکول غواړو' نو د هغے اميرانو ته حکم ورکوو' آخر پورے.

۶۹۶ : حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ أَخْبَرَنَا مَنْصُورٌ عَنْ أَبِيْ وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ كُنَّا نَقُوْلُ لِلْحَيِّ إِذَا كَثُرُوْا فِي الْجَاهِلِيَّةِ أَمِرَ بَنُوْ فُلَانٍ.

۶۹۷ : حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيٰنُ وَ قَالَ أَمِرَ.

بَابُ ۲۷۷ : قَوْلِهِ ذُرِّيَّةَ مَنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوْحٍ إِنَّهُ كَانَ عَبْدًا شَكُوْرًا.

۶۹۸ : حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللّٰهِ أَخْبَرَنَا أَبُوْ حَيَّانَ التَّيْمِيُّ عَنْ أَبِيْ زُرْعَةَ بْنِ عَمْرِو بْنِ جَرِيْرٍ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ أُتِيَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِلَحْمٍ فَرُفِعَ إِلَيْهِ الذِّرَاعُ وَ كَانَتْ تُعْجِبُهُ فَنَهَسَ مِنْهَا نَهْسَةً ثُمَّ قَالَ أَنَا سَيِّدُ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَ هَلْ تَدْرُوْنَ مِمَّ ذٰلِكَ يُجْمَعُ النَّاسُ الْأَوَّلِيْنَ وَالْاٰخِرِيْنَ فِيْ صَعِيْدٍ وَاحِدٍ يُسْمِعُهُمُ الدَّاعِيُ وَ يَنْفُذُهُمُ الْبَصَرُ وَ تَدْنُوا الشَّمْسُ فَيَبْلُغُ النَّاسَ مِنَ الْغَمِّ وَالْكَرْبِ مَا لَا يُطِيْقُوْنَ وَلَا يَحْتَمِلُوْنَ فَيَقُوْلُ النَّاسُ أَلَا تَرَوْنَ مَا قَدْ بَلَغَكُمْ

۶۹۶ : علي بن عبدالله. سفيان. منصور. ابي وائل. حضرت عبدالله بن مسعودؓ نه روايت كوي، هغهٔ اووې، ذ جاهليت زمانه كښې چه ذ يوې قبيلې خلق به زيات شو، نو مونږ به وئيلې، چه چه "اَمِرَ بَنُوْ فُلَان".

۶۹۷ : عبدالله بن زبير حميدي. سفيان نه روايت كوي، چه امر كښې ذ ميم كسره ده.

باب ۲۷۷ : آيت: ذُرِّيَّةَ مَنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوْحٍ. ذ الله تعالي قول، دا ذ هغوي نسل دې، چه مونږ نوحؑ سره كشتئ كښې سواره كړي وو.

۶۹۸ : محمد بن مقاتل. عبدالله. ابو حيان التيمي. ابو زرعه بن عمرو بن جرير. حضرت ابوهريرةؓ نه روايت كوي، ذ هغهٔ بيان دې، يو ځل ذ حضور صلي الله عليه وسلّم خدمت كښې غوښه پيش كړې شوه، نو حضور صلي الله عليه وسلّم ته يو پټون وركړې شو، ځكه چه د پټون غوښه د حضور صلي الله عليه وسلّم ډيره خوښه وه. حضور صلي الله عليه وسلّم هغه او خوړله بيائې ارشاد اوفرمائيلو: زهٔ به ذ قيامت په ورځ ذ ټولو سردار يم، آيا تاسو ته معلومه ده، چه ذ قيامت په ورځ به ټول اولين او آخرين يو ميدان كښې راجمع كړې شي، هغه ميدان به داسې هموار او وسيع وي، چه د يو آواز كونكي آواز به ټول آوريدې شي، او ليدونكې به ټول ليدې شي. نمر به ډير قريب راشي. خلقو ته به داسې تكليف وي چه برداشت كولې به ئې نشي (الله پاک دې ترې مونږ په آمان كړي. اللّٰهم آمين) هغوي به وائي، كورې څومره لوئې تكليف دې څوک

أَلَا تَنْظُرُوْنَ مَنْ يَّشْفَعُ لَكُمْ اِلٰى
رَبِّكُمْ فَيَقُوْلُ بَعْضُ النَّاسِ
لِبَعْضٍ عَلَيْكُمْ بِاٰدَمَ فَيَاْتُوْنَ
اٰدَمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَيَقُوْلُوْنَ لَهُ
اَنْتَ اَبُو الْبَشَرِ خَلَقَكَ اللّٰهُ بِيَدِهٖ وَ
نَفَخَ فِيْكَ مِنْ رُوْحِهٖ وَ اَمَرَ
الْمَلٰٓئِكَةَ فَسَجَدُوْا لَكَ اشْفَعْ لَنَا
اِلٰى رَبِّكَ اَلَا تَرٰى اِلٰى مَا نَحْنُ فِيْهِ
اَلَا تَرٰى اِلٰى مَا قَدْ بَلَغَنَا فَيَقُوْلُ
اٰدَمُ اِنَّ رَبِّيْ قَدْ غَضِبَ الْيَوْمَ
غَضَبًا لَمْ يَغْضَبْ قَبْلَهٗ مِثْلَهٗ
وَلَنْ يَّغْضَبَ بَعْدَهٗ مِثْلَهٗ وَ اِنَّهٗ
نَهَانِيْ عَنِ الشَّجَرَةِ فَعَصَيْتُهٗ نَفْسِيْ
نَفْسِيْ نَفْسِيْ اِذْهَبُوْا اِلٰى غَيْرِيْ
اِذْهَبُوْا اِلٰى نُوْحٍ فَيَاْتُوْنَ نُوْحًا
فَيَقُوْلُوْنَ يَا نُوْحُ اِنَّكَ اَنْتَ اَوَّلُ
الرُّسُلِ اِلٰى اَهْلِ الْاَرْضِ وَقَدْ
سَمَّاكَ اللّٰهُ عَبْدًا شَكُوْرًا اشْفَعْ
لَنَا اِلٰى رَبِّكَ اَلَا تَرٰى اِلٰى مَا نَحْنُ
فِيْهِ فَيَقُوْلُ اِنَّ رَبِّيْ عَزَّ وَ جَلَّ
قَدْ غَضِبَ الْيَوْمَ غَضَبًا لَمْ
يَغْضَبْ قَبْلَهٗ مِثْلَهٗ وَلَنْ يَغْضَبَ
بَعْدَهٗ مِثْلَهٗ وَ اِنَّهٗ قَدْ كَانَتْ لِيْ دَعْوَةٌ
دَعَوْتُهَا عَلٰى قَوْمِيْ نَفْسِيْ
نَفْسِيْ نَفْسِيْ اِذْهَبُوْا اِلٰى اِبْرٰهِيْمَ
فَيَاْتُوْنَ اِبْرٰهِيْمَ فَيَقُوْلُوْنَ يَا

سفارشي تلاش کړئي. د بعضو به دا رائي وي' چه
حضرت آدم علیه السلام له ورشئي' ټول به هغه له
ورشي' ورته به وائي' تاسو ابوالبشر ئي. الله تعالی تاسو
خپل لاس سره جوړ کړے ئي او خپل روح ئے تاسو کښې
پوکلے دے. او په ملائکو ئے تاسوته سجده کړے ده' نو
خمونږ سفارش اوکړے' ګورے کنه' مونږ څومره
تکلیف کښې آخته یو. حضرت آدم علیه السلام به
جواب ورکړي' نن خما رب ډیر غصه کښې دے هغه زه
یوې اُونې ته د نزدې کیدو نه منع کړے ووم' لیکن ما د
هغه نافرماني کړې وه' هغوي به نفسي نفسي وائي او
فرمائي به' تاسو ټول حضرت نوحؑ له ورشئي ټول به
نوحؑ له ورشي ورته به عرض اوکړي تاسو وړومبے نبي
ئي' او خدائے تاسو' د خپل شکر ګزار بنده په نوم یاد
کړے ئي' نو تاسو خمونږ سفارش اوکړئ' ځکه چه
خمونږ حالت ډیر خراب دے. حضرت نوحؑ به ورته
اوفرمائي' نن الله تعالی ډیره غصه کښې دے' چه دے نه
مخکښې چرے داسے غصه شوے نه دے او نه به روستو
داسے غصه شي' هغه ماته یوه دُعا قبوله کړے وه' چه هغه
ما د خپل اُمت د پاره غوښتلے ده. بیا به هغه نفسي نفسي
وائي. او خلقوته به وائي' چه حضرت ابراهیم علیه
السلام له ورشئ' ټول به هغه له ورشي' او ورته به عرض
اوکړي' چه تاسو خلیل الله او د الله پیغمبر ئي' مونږ د
پاره شفاعت اوکړے' هغه به هم دغه جواب ورکړي' نن
الله تعالی سخت غصه دے داسے نۀ مخکښې غصه وو' او
نۀ ورستو او ما دُنیا کښې دا خطا کړے وه' چه درے
دروغ م ونیلي وو ابو حیان د دے درے دروغو هم بیان

ابْرٰهِيْمُ اَنْتَ نَبِيُّ اللّٰهِ وَ خَلِيْلُهٗ
مِنْ اَهْلِ الْاَرْضِ اشْفَعْ لَنَا اِلٰى رَبِّكَ
اَلَا تَرٰى اِلٰى مَا نَحْنُ فِيْهِ فَيَقُوْلُ
لَهُمْ اِنَّ رَبِّىْ قَدْ غَضِبَ الْيَوْمَ
غَضَبًا لَمْ يَغْضَبْ قَبْلَهٗ مِثْلَهٗ
وَلَنْ يَغْضَبَ بَعْدَهٗ مِثْلَهٗ وَ اِنِّىْ
قَدْ كُنْتُ كَذَبْتُ ثَلَاثَ كَذِبَاتٍ
فَذَكَرَهُنَّ اَبُوْ حَيَّانَ فِى الْحَدِيْثِ
نَفْسِىْ نَفْسِىْ اِذْهَبُوْا اِلٰى غَيْرِىْ
اِذْهَبُوْا اِلٰى مُوْسٰى فَيَاْتُوْنَ
مُوْسٰى فَيَقُوْلُوْنَ يَا مُوْسٰى
اَنْتَ رَسُوْلُ اللّٰهِ فَضَّلَكَ اللّٰهُ
بِرِسَالَتِهٖ وَ بِكَلَامِهٖ عَلَى النَّاسِ
اشْفَعْ لَنَا اِلٰى رَبِّكَ اَلَا تَرٰى
اِلٰى مَا نَحْنُ فِيْهِ فَيَقُوْلُ اِنَّ
رَبِّىْ قَدْ غَضِبَ الْيَوْمَ غَضَبًا
لَمْ يَغْضَبْ قَبْلَهٗ مِثْلَهٗ وَلَنْ
يَغْضَبَ بَعْدَهٗ مِثْلَهٗ وَ اِنِّىْ قَدْ
قَتَلْتُ نَفْسًا لَمْ اُوْمَرْ بِقَتْلِهَا
نَفْسِىْ نَفْسِىْ نَفْسِىْ اِذْهَبُوْا اِلٰى
غَيْرِىْ اِذْهَبُوْا اِلٰى عِيْسٰى فَيَاْتُوْنَ
عِيْسٰى فَيَقُوْلُوْنَ يَا عِيْسٰى
اَنْتَ رَسُوْلُ اللّٰهِ وَ كَلِمَتُهٗ اَلْقَاهَا اِلٰى
مَرْيَمَ وَ رُوْحٌ مِّنْهُ وَ كَلَّمْتَ النَّاسَ
فِى الْمَهْدِ صَبِيًّا اشْفَعْ لَنَا اَلَا تَرٰى اِلٰى
مَا نَحْنُ فِيْهِ فَيَقُوْلُ عِيْسٰى اِنَّ رَبِّىْ

کړې دې بیا به هغه هم نفسي ونفسي شروع کړي او
خلقو ته به فرمائي چه تاسو حضرت موسي علیه السلام
له ورشئ، ټول خلق به د موسي علیه السلام خدمت کښې
حاضر شي ورته به عرض اوکړي چه تاسو د الله تعالي
پیغمبر یئ، خدائے تعالي تاسو سره خبرې کړې دي او
تاسو ته ئے په خلقو بزرګي عطا کړې ده تاسو خمونږ
شفاعت اوکړئ او ګورئ مونږ څومره مصیبت کښې
مبتلا یو. موسي علیه السلام به ورته اوفرمائي، نن خو
خما رب ډیر غصه دې دومره نه چرته مخکښې غصه
وو، او نه ورستو. ما نه دُنیا کښې یو خطا شوې وه چه یو
سړې م د لاسه مړ شولو چه د هغه د مړ کولو حکم نه
وو. نن زه خپله نفسي نفسي وایم، تاسو حضرت عیسیٰ
علیه السلام له ورشئ ټول به د عیسي علیه السلام
خدمت کښې حاضر شي عرض به اوکړي چه تاسو د
الله رسول یئ، او د هغه کلمه یئ چه الله مریم ته ورکړې
وه، تاسو د الله روح یئ، تاسو ماشوموالي کښې خلقو سره
خبرې کړې دي، نو خمونږ سفارش اوکړئ اوګورئ
مونږ څومره مصیبت کښې پراته یو، هغه به ورته
اوفرمائي، نن خما رب ډیر غصه دې چه نه داسې
مخکښې وو، او نه ورستو وي، بیا به هغه د دُنیا څه ګناه
بیان نه کړي، صرف نفسي نفسي به اووائي، او فرمائي به
نن تاسو حضرت محمد صلي الله علیه وسلّم له ورشئ
نو خلق به د حضرت محمد صلي الله علیه وسلّم خدمت
کښې حاضر شي، او عرض به ورته اوکړي، اے د الله
رسوله، تاسو خاتم الانبیاء یئ، الله تعالي ستاسو ټول
مخکښي او ورستني ګناهونه معاف کړې دي، تاسو

قَدْ غَضِبَ الْيَوْمَ غَضَبًا لَمْ يَغْضَبْ قَبْلَهُ مِثْلَهُ وَلَنْ يَغْضَبَ بَعْدَهُ مِثْلَهُ وَلَمْ يَذْكُرْ ذَنْبًا نَفْسِي نَفْسِي نَفْسِي اذْهَبُوا إِلَى غَيْرِي اذْهَبُوا إِلَى مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَأْتُونَ مُحَمَّدًا صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَقُولُونَ يَا مُحَمَّدُ أَنْتَ رَسُولُ اللَّهِ وَ خَاتَمُ الْأَنْبِيَاءِ وَقَدْ غَفَرَ اللَّهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ اشْفَعْ لَنَا إِلَى رَبِّكَ أَلَا تَرَى إِلَى مَا نَحْنُ فِيهِ فَأَنْطَلِقُ فَآتِي تَحْتَ الْعَرْشِ فَأَقَعُ سَاجِدًا لِرَبِّي عَزَّ وَ جَلَّ ثُمَّ يَفْتَحُ اللَّهُ عَلَيَّ مِنْ مَحَامِدِهِ وَ حُسْنِ الثَّنَاءِ عَلَيْهِ شَيْئًا لَمْ يَفْتَحْهُ عَلَى أَحَدٍ قَبْلِي ثُمَّ يُقَالُ يَا مُحَمَّدُ ارْفَعْ رَأْسَكَ سَلْ تُعْطَهُ وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ فَأَرْفَعُ رَأْسِي فَأَقُولُ أُمَّتِي يَا رَبِّ فَيُقَالُ يَا مُحَمَّدُ أَدْخِلْ مِنْ أُمَّتِكَ مَنْ لَا حِسَابَ عَلَيْهِمْ مِنَ الْبَابِ الْأَيْمَنِ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ وَهُمْ شُرَكَاءُ النَّاسِ فِيمَا سِوَى ذَلِكَ مِنَ الْأَبْوَابِ ثُمَّ قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّ مَا بَيْنَ الْمِصْرَاعَيْنِ مِنْ مَصَارِيعِ الْجَنَّةِ كَمَا بَيْنَ مَكَّةَ وَ حِمْيَرَ أَوْ كَمَا بَيْنَ مَكَّةَ وَ بُصْرَى.

خمونږ شفاعت اوفرمائے' تاسو وينئے' چه مونږ څومره تکليف کښې يو. دغه وخت به زۀ (محمدؐ) د عرش د لاندې په سجده پريوځم' خدائے تعالي به د خپل حمد و تعريف داسې طريقه ماته څرګنده کړي' چه دې نه مخکښې به چاته نۀ وي ښودلے شوې. نو زۀ به هغه شان د اللّه تعالي حمد په ځائے راوړم بيا به حکم باري اوشي' چه اے محمد (صلي اللّه عليه وسلم) خپل سر اوچت کړه' اوغواړه' څۀ چه غواړې. کوم شفاعت چه کړې هغه به قبليږي. زۀ به د سجدې نه سر اوچت کړم' اُمتي اُمتي به وائم (نور انبياء به نفسي نفسي وائي' او حضور صلي اللّه عليه وسلم به امتي امتي) حکم به اوشي' ے محمدؐ خپل اُمت کښې هغه اويا زره خلق چه هغوي سره به حساب کتاب نۀ وي' د ښي دروازې نه جنت کښې داخل کړه' او هغوي ته هم اختيار دے' په کومه دروازه چه غواړي' داخل دے شي (اللّه پاک دے مونږ هم د دوي نه کړي. اللّٰهم آمين) دے نه پس حضور صلي اللّه عليه وسلم اوفرمائيل د جنت د يوې دروازې پلن والے (چوړائي) دومره دے' لکه د مکې او حمير مينځ کښې فاصله' يا د مکې او بصري مينځ کښې مسافت.

## باب ۲۷۸: قَوْلِهِ وَ آتَيْنَا دَاوُدَ زَبُورًا.

## باب ۲۷۸: آيت: وَ آتَيْنَا دَاوُدَ زَبُورًا: د اللّه تعالي قول' مونږ داؤدؑ ته زبور عطا کړلو.

۶۹۹ : حَدَّثَنِيُ إِسْحَاقُ بُنُ نَصُرٍ حَدَّثَنَا عَبُدُ الرَّزَّاقِ عَنُ مَعُمَرٍ عَنُ هَمَّامٍ عَنُ أَبِيُ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيُهِ وَسَلَّمَ قَالَ خُفِّفَ عَلٰى دَاوُدَ الْقِرَاْةُ فَكَانَ يَأْمُرُ بِدَابَّتِهِ لِتُسْرَجَ فَكَانَ يَقُرَأُ قَبُلَ أَنُ يَفُرُغَ يَعُنِي الْقُرُآنَ.

۶۹۹ : اسحق بن نصر. عبدالرزاق. معمر. همام بن منبه. حضرت ابوهريرةؓ نه روايت كوي، د هغهٔ بيان دے، حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ارشاد اوفرمائيل، حضرت داؤد عليه السلام باندے د زبور قرات دومره آسان كړے شوے وو، چه هغه به د اس د كَس كولو حكم وركړلو، خادم به د كَس كولو نه لا فارغ شوے هم نه وو، چه هغه به زبور لوستو نه فارغ شوے وو.

بَاب ۲۷۹ : قَوُلِهٖ قُلِ ادُعُوا الَّذِيُنَ زَعَمُتُمُ مِّنُ دُوُنِهٖ فَلَا يَمُلِكُوُنَ كَشُفَ الضُّرِّ عَنُكُمُ وَلَا تَحُوِيُلًا.

باب ۲۷۹ : آيت: قُلِ ادعُوا الَّذِيُنَ زَعَمُتُمُ: د اللّٰه تعالٰي قول، اے نبيّ ورته اووايه، تاسو هغه څوک راوغواړے، چه د اللّٰه نه سِوا، مو معبود جوړ كړے دي، نه هغوي تاسو نه دا عذاب لرے كولے شي، او نهٔ ستاسو حالت بدلولے شي.

۷۰۰ : حَدَّثَنِيُ عَمُرُو بُنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا يَحُيٰى حَدَّثَنَا سُفُيَانُ حَدَّثَنِيُ سُلَيُمَانُ عَنُ إِبُرٰهِيُمَ عَنُ أَبِيُ مَعُمَرٍ عَنُ عَبُدِ اللّٰهِ إِلٰى رَبِّهِمُ الْوَسِيُلَةَ قَالَ كَانَ نَاسٌ مِنَ الْإِنُسِ يَعُبُدُوُنَ نَاسًا مِنَ الْجِنِّ فَأَسُلَمَ الْجِنُّ وَ تَمَسَّكَ هٰؤُلَاءِ بِدِيُنِهِمُ زَادَ الْأَشُجَعِيُّ عَنُ سُفُيَانَ عَنِ الْأَعُمَشِ قُلِ ادُعُوا الَّذِيُنَ زَعَمُتُمُ.

۷۰۰ : عمرو بن علي. يحيٰي. سفيان. سليمان. ابراهيم. ابو معمر. حضرت عبداللّٰه بن مسعودؓ نه روايت كوي، د هغهٔ بيان دے، چه دا آيت: الٰي ربهم الوسيلة: د هغے خلقو حق كښې دے، چه د پيريانو عبادت به ئے كولو. جنات مسلمانان شو، خو دوي هم هغسے (بے اسلامه) پاتے شو. اشجعي د سفيان نه او سفيان د اعمش نه چه كوم روايت كړے دے، هغے كښې هغهٔ دومره زيات بيان كوي چه د دے آيت شان نزول هم دغه دے.

بَاب ۲۸۰ : قَوُلِهٖ أُولٰٓئِكَ الَّذِيُنَ يَدُعُوُنَ يَبُتَغُوُنَ إِلٰى رَبِّهِمُ الْوَسِيُلَةَ الْآيَة.

باب ۲۸۰ : آيت: أُولٰئِک الَّذِيُنَ يدعُوُن: د اللّٰه تعالٰي قول، مشرک چه څوک بلي، هغوي خپله اللّٰه سره وسيله لټوي.

۷۰۱ : حَدَّثَنَا بِشُرُ بُنُ خَالِدٍ أَخُبَرَنَا مُحَمَّدُ بُنُ جَعُفَرٍ عَنُ سُلَيُمَانَ

۷۰۱ : بشر بن خالد. محمد بن جعفر. شعبه. سليمان. ابراهيم. ابو معمر. حضرت عبداللّٰه بن مسعود

عَنْ إِبْرٰهِيْمَ عَنْ أَبِيْ مَعْمَرٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ فِيْ هٰذِهِ الْاٰيَةِ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ يَبْتَغُوْنَ إِلٰى رَبِّهِمُ الْوَسِيْلَةَ قَالَ نَاسٌ مِنَ الْجِنِّ يَعْبُدُوْنَ فَأَسْلَمُوْا.

نــه روايـت كـوي' ذ هـغـهٔ بيان دے' چـه دا آيت: الَّـذين يـدعـون الخ: ذ هـغـے چـا حق كـښې دے چـه ذ جنّـاتو (پيريانو) عبادت به ئے كولو. نو جنات مسلمانان شو' او هغه خلق دغـسے پاتے شو.

**بـاب ۲۸۱: قَـوْلِـهٖ وَمَـا جَـعَـلْـنَـا الـرُّؤْيَـا الَّتِـيْ أَرَيْـنَـاكَ إِلَّا فِتْـنَـةً لِلنَّاسِ.**

**بـاب ۲۸۱:** آيـت: وَمَـا جَـعَـلْـنَـا الـرُّؤْيَـا الَّتِـيْ أَرَيْنَاكَ: ذ اللّٰـه تـعـالٰي قول' اے رسوله' كوم خوب چه مـونـږ تـاتـه ښـودلے وو' هغه مونږ خلقو ذ پاره ذ امتحان باعث جوړ كړلو.

۴۷۰۲: حَـدَّثَـنَـا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَـدَّثَـنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ عِكْرِمَةَ عَـنِ ابْـنِ عَبَّاسٍ وَمَا جَعَلْنَا الرُّؤْيَـا الَّتِـيْ أَرَيْنَاكَ إِلَّا فِتْنَةً لِلنَّاسِ قَالَ هِـيَ رُؤْيَا عَيْنٍ أُرِيَهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِهٖ وَالشَّجَرَةَ الْمَلْعُوْنَةَ شَجَرَةُ الزَّقُّوْمِ.

۴۷۰۲: عـلي بن عبدالله. سفيان. عمرو. عكرمه. حـضـرت ابـن عـباسؓ نـه روايت كوي' ذ هغهٔ بيان دے' چـه دا رؤيـا خـوب نـهٔ دے' بـلـكـه دے نـه مراد ستركو سـره ليـدل دي' چـه حـضـور صـلـي اللّٰـه عليه وسلّم ته ذ مـعـراج پـه شپـه ښـودلے شـوے وو. او ذ بيـداري حـالـت كښې وو' او دے آيت كښې شجره ملعونه نه مراد د زقوم اُونه ده.

**بـاب ۲۸۲: قَـوْلِـهٖ إِنَّ قُـرْاٰنَ الْفَجْـرِ كَـانَ مَشْهُـوْدًا قَـالَ مُجَـاهِـدٌ صَلٰوةُ الْفَجْرِ.**

**باب ۲۸۲:** آيت: إِنَّ قُرْاٰنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُوْدًا: ذ اللّٰـه تـعـالٰي قـول' چـه قـرآن د فـجر حـاضر كړے شوے دے. مراد ترے د صبا مونځ دے.

۴۷۰۳: حَـدَّثَـنِـيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَـدَّثَـنَـا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَـرٌ عَـنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ أَبِيْ سَلَمَةَ وَابْـنِ الْـمُـسَيَّـبِ عَـنْ أَبِـيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَـلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَـضْـلُ صَـلٰـوةِ الْجَمِيْعِ عَلٰى صَلٰوةِ الْـوَاحِـدِ خَـمْـسٌ وَّ عِشْرُوْنَ دَرَجَةً وَّ تَجْتَمِعُ مَلَائِكَةُ اللَّيْلِ وَ مَلَائِكَةُ النَّهَارِ

۴۷۰۳: عـبـداللّٰـه بـن محمد. عبدالرزاق. معمر. زهـري. ابـو سـلـمه. سعيد بن مسيب. حضـرت ابوهريرهؓ نـه روايـت كـوي' ذ هـغـهٔ بـيـان دے' رسول اللّٰـه صلي اللّٰـه عـلـيـه وسـلّـم ارشـاد اوفرمـائيلو. جـمـاعت سره مـونـځ كـول ذ يـوازے (خـان لـه) مونځ كـولو نـه پـنـځـويشـت درجـے زيـات فـضيلـت لـري. او ذ سـحـر مـونـځ لـوئـے فـضـيـلـت والـه دے. ځكـه چه دے كـښې ذ ورځـے او شپـے فـريـښتـے جـمـع

فِيْ صَلٰوةِ الصُّبْحِ يَقُوْلُ اَبُوْ هُرَيْرَةَ اِقْرَءُوْا اِنْ شِئْتُمْ وَ قُرْاٰنَ الْفَجْرِ اِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُوْدًا.

کیږي. حضرت ابوهریرهؓ اووے، که تاسو غواړئ نو دا آیت اولولئ: اِنَّ قُرْاٰنَ الفجر كان مشهودًا.

باب ۲۸۳: قَوْلِهٖ عَسٰى اَنْ يَّبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُوْدًا.

باب ۲۸۳: آيت: عَسٰى اَنْ يَّبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُوْدًا: ذَ الله تعالىٰ قول، نزدے ده چه ستا رب تا مقام محمود کښې اُودروي.

۴۰۷: حَدَّثَنِيْ اِسْمَاعِيْلُ بْنُ اَبَانَ حَدَّثَنَا اَبُو الْاَحْوَصِ عَنْ اٰدَمَ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ يَقُوْلُ اِنَّ النَّاسَ يَصِيْرُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ جُثًا كُلُّ اُمَّةٍ تَتْبَعُ نَبِيَّهَا يَقُوْلُوْنَ يَا فُلَانُ اشْفَعْ حَتّٰى تَنْتَهِيَ الشَّفَاعَةُ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذٰلِكَ يَوْمُ يَبْعَثُهُ اللّٰهُ الْمَقَامَ الْمَحْمُوْدَ.

۴۰۷: اسماعيل بن ابان. ابوالاحوص. آدم بن علي. حضرت ابن عمر رضي الله عنه نه روايت کوي، ذَ هغه بيان دے، ذَ قيامت په ورځ به هره ډله خپل خپل پيغمبر له ورشي، نو ټول به جواب ورکړي، او آخر به شفاعت په رسول الله صلي الله عليه وسلم اودريږي. او دا به هغه ورځ وي، په کومه ورځ چه الله تعالىٰ حضور صلي الله عليه وسلم په مقام محمود اودروي.

۴۰۵: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَيَّاشٍ حَدَّثَنَا شُعَيْبُ بْنُ اَبِيْ حَمْزَةَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَالَ حِيْنَ يَسْمَعُ النِّدَآءَ اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلٰوةِ الْقَائِمَةِ اٰتِ مُحَمَّدَنِ الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَّحْمُوْدَا نِالَّذِيْ وَعَدْتَّهُ حَلَّتْ لَهُ شَفَاعَتِيْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ رَوَاهُ حَمْزَةُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ اَبِيْهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

۴۰۵: علي بن عياش. شعيب بن ابي حمزه. محمد بن منکدر. حضرت جابر بن عبداللهؓ نه روايت کوي، ذَ هغه بيان دے، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل، څوک چه آذان واوري، او دا دعا اوکړي: اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ الخ: (اے الله ذَ دے دعوت تامه ربه، او ذَ اوريدونکي مونځ مالکه، محمد صلي الله عليه وسلم ته وسيله او بزرګي عطا کړے، او مقام محمود کښې ئے اودروے، چه ذَ هغے تا هغه سره وعده کړے ده) نو هغه ذَ پاره خما شفاعت حلال شو. دا حديث حمزه بن عبدالله ذَ خپل پلار نه او هغه ذَ نبي صلي الله عليه وسلم نه روايت کړے دے.

باب ۲۸۴: قَوْلُهٗ وَ قُلْ جَآءَ الْحَقُّ وَ زَهَقَ الْبَاطِلُ اِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوْقًا يَزْهَقُ يَهْلِكُ.

باب ۲۸۴: آیت: و قُلْ جَآءَ الْحَقُّ وَ زَهَقَ الْبَاطِلُ: د الله تعالیٰ قول: اے نبي ورته اُووایه حق راغے او باطل لاړ، بیشکه باطل خو د تلو څیز دے. "زهق" معني دي هلاک شو، نابود شو.

۷۰۶: حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ ابْنِ اَبِيْ نَجِيْحٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ اَبِيْ مَعْمَرٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ وَ حَوْلَ الْبَيْتِ سِتُّوْنَ وَ ثَلٰثُ مِائَةِ نُصُبٍ فَجَعَلَ يَطْعَنُهَا بِعُوْدٍ فِيْ يَدِهٖ وَ يَقُوْلُ جَآءَ الْحَقُّ وَ زَهَقَ الْبَاطِلُ اِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوْقًا جَآءَ الْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيْدُ.

۷۰۶: حمیدي. سفیان. ابن ابي نجیح. مجاهد. ابو معمر. حضرت عبدالله بن مسعودؓ نه روایت کوي. د هغه بیان دے، د مکے د فتح په وخت چه حضور صلي الله علیه وسلّم مکے ته راغلو، نو کعبه کښې درے سوه شپیته بُتان پراته وو، د حضور صلي الله علیه وسلّم په لاس کښې یو لرګے وو. حضور صلي الله علیه وسلّم هغې لرګي سره هر یو بُت له ګزار ورکړلو، او پورته ذکر شوے آیت به ئے تلاوت کولو، او دا آیت به ئے هم نوستلو جاء الحق وما یبدئ الباطل وما یعید: حق راغے باطل ورک شو، او اوس به باطل واپس نه راځي.

باب ۲۸۵: وَ يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الرُّوْحِ.

باب ۲۸۵: وَ يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الرُّوْحِ: د الله تعالیٰ قول، چه تانه د روح متعلق پُښتنه کوي.

۷۰۷: حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ حَدَّثَنَا اَبِيْ حَدَّثَنَا الْاَعْمَشُ قَالَ حَدَّثَنِيْ اِبْرٰهِيْمُ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ بَيْنَا اَنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَرْثٍ وَهُوَ مُتَّكِئٌ عَلٰى عَسِيْبٍ اِذْ مَرَّ الْيَهُوْدُ فَقَالَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ سَلُوْهُ عَنِ الرُّوْحِ فَقَالَ مَا رَاْيُكُمْ اِلَيْهِ وَ قَالَ بَعْضُهُمْ لَا يَسْتَقْبِلُكُمْ بِشَيْءٍ

۷۰۷: عمر بن حفص. حفص بن غیاث. اعمش. ابراهیم. علقمه. حضرت عبدالله بن مسعود نه روایت کوي، رسول الله صلي الله علیه وسلّم سره یو پټي (کهیت) کښې موجود ووم. حضور صلي الله علیه وسلّم د قجورے اونے سره ډډه وهلے وه. دے کښې یو څو یهودیان په هغه طرف تیر شو، او وئیلے راځئ چه د دهٔ (حضورؐ) نه د روح متعلق تپوس او کړو، نو بعضو اووے، څهٔ له تپوس کوئے، آیا دے (حضورؐ) به ستاسو موافق جواب در کړي، بعضو اووے چه هسے نه داسے جواب در کړي چه تاسے به بد اوګڼئ. آخر هغوي د حضور

تَكْرَهُونَهُ فَقَالُوْا سَلُوْهُ فَسَأَلُوْهُ عَنِ الرُّوْحِ فَأَمْسَكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِمْ شَيْئًا فَعَلِمْتُ أَنَّهُ يُوْحٰى إِلَيْهِ فَقُمْتُ مَقَامِيْ فَلَمَّا نَزَلَ الْوَحْيُ قَالَ وَ يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الرُّوْحِ قُلِ الرُّوْحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّيْ وَمَا أُوْتِيْتُمْ مِنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيْلًا.

صلي اللّٰه عليه وسلّم نه تپوس او كڼ. حضور صلي الله عليه وسلّم خاموش ناست وو. زۀ پوه شوم، چه وحي به نازليږي. ما انتظار كولو، كوم وخت چه وحي ختم شوه، نو حضور صلي الله عليه وسلّم دا آيت تلاوت كړلو: و يسئلونك عن الروح الخ: اے رسولهٔ خلق تانه دَ روح متعلق تپوس كوي، ورته اووايه، روح خما دَ رب دَ حكم نه دے، او تاسوته دَ علم نه ډيره لږه حصه دركړے شوے ده.

باب ۲۸۶: قَوْلِهٖ وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا.

باب ۲۸۶: آيت: وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ: دَ الله تعالي قول، مونځ مۀ بالكل په زوره كوه، او نۀ بالكل رو، بلكه درمياني آواز سره ئے كوه.

۷۰۸: حَدَّثَنَا يَعْقُوْبُ بْنُ إِبْرٰهِيْمَ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ حَدَّثَنَا أَبُوْ بِشْرٍ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ فِيْ قَوْلِهٖ تَعَالٰى وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا قَالَ نَزَلَتْ وَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُخْتَفٍ بِمَكَّةَ كَانَ إِذَا صَلّٰى بِأَصْحَابِهٖ رَفَعَ صَوْتَهُ بِالْقُرْاٰنِ فَإِذَا سَمِعَ الْمُشْرِكُوْنَ سَبُّوا الْقُرْاٰنَ وَمَنْ أَنْزَلَهُ وَمَنْ جَآءَ بِهٖ فَقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى لِنَبِيِّهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ أَيْ بِقِرَاءَتِكَ فَيَسْمَعُ الْمُشْرِكُوْنَ فَيَسُبُّوا الْقُرْاٰنَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا عَنْ أَصْحَابِكَ فَلَا تُسْمِعُهُمْ وَابْتَغِ بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيْلًا.

۷۰۸: يعقوب بن ابراهيم. هشيم. ابو بشر. سعيد بن جبير. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، دَ هغۀ بيان دے، دا آيت: وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا الخ: مكه كښې هغه وخت نازل شو، چه حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم به مونځ اوچت آواز سره كولو. مشركانو به چه آوريدلو، نو قرآن دَ دے نازونكي او په چا چه نازليدلو، ټولوته به ئے بد رَد وئيلے، نو اللّٰه تعالي په خپل رسول دا آيت نازل كڼ: وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيْلًا الآية دا چه قرأت نه زيات په اوچت آواز پكار دے، چه مشركين ئے واوري او بكواس شروع كړي، او نه دومره رو پكار دے، چه ورسره خلق (يعني مقتديان) ئے هم وانه ريدے شي، بلكه قرأت درمياني آواز سره پكار دے.

۷۰۹: حَدَّثَنِيْ طَلْقُ بْنُ غَنَّامٍ

۷۰۹: طلق بن غنام. زائده. هشام. عروه.

حَدَّثَنَا زَائِدَةُ عَنْ هِشَامٍ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ أُنْزِلَ ذٰلِكَ فِي الدُّعَاءِ.

بي بي عائشې نه روايت کوي، هغې اووې، دا آيت دَ دُعا متعلق نازل شوې دې، چه دُعا درمياني آواز سره پکار ده.

# سُوْرَةُ الْكَهْفِ

# دَ سورهٔ کَهف تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

وَقَالَ مُجَاهِدٌ تَقْرِضُهُمْ تَتْرُكُهُمْ وَكَانَ لَهُ ثَمَرٌ ذَهَبٌ وَّ فِضَّةٌ وَ قَالَ غَيْرُهُ جَمَاعَةُ الثَّمَرِ بَاخِعٌ مُهْلِكٌ اَسَفًا نَدَمًا اَلْكَهْفُ الْفَتْحُ فِي الْجَبَلِ وَالرَّقِيْمُ. اَلْكِتَابُ مَرْقُوْمٌ مَكْتُوْبٌ مِنَ الرَّقْمِ رَبَطْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اَلْهَمْنَا هُمْ صَبْرًا لَوْلَا اَنْ رَبَطْنَا عَلٰى قَلْبِهَا شَطَطًا اِفْرَاطًا مِرْفَقًا كُلُّ شَيْءٍ اِرْتَفَقْتَ بِهِ تَزَاوَرُ تَمِيْلُ مِنَ الزَّوْرِ وَالْاَزْوَرُ الْاَمْيَلُ فَجْوَةٌ مُتَّسَعٌ وَالْجَمِيْعُ فَجَوَاتٌ وَ فِجَآءٌ مِثْلُ زَكْوَةٍ وَزِكَاءُ الْوَصِيْدُ الْفِنَآءُ جَمْعُهُ وَ صَائِدُ وَ وُصُدٌ وَّ يُقَالُ الْوَصِيْدُ الْبَابُ الْمُؤْصَدَةُ مُطْبَقَةٌ اَصَدَ الْبَابَ وَ اَوْصَدَ بَعَثْنَاهُمْ اَحْيَيْنَاهُمْ اَزْكٰى اَكْثَرُ وَ يُقَالُ اَحَلُّ وَ يُقَالُ اَكْثَرُ رَيْعًا قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ اُكُلَهَا وَلَمْ تَظْلِمْ لَمْ تَنْقُصْ وَ قَالَ سَعِيْدٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ الرَّقِيْمُ

مجاهد وائي "تقرضهم" معني، دَ هغوي نه پريکولې شي. "و کان له ثمر" مطلب سرهٔ او سپين (زر) دي. بعضې وائي، مراد ترې ميوه ده. "باخع" معني هلاک کونکې. "اسفا" ندامت. "کهف" غر کښې غار. "الرقيم" مرقوم يعني ليکلې شوې دَ رقم نه دې. "ربطنا علٰى قلوبهم" مونږ دَ هغوي په زړونو کښې صبر اوغرځولو، ځنګه چه "ربطنا علٰى قلبها" دلته هم صبر مراد دې. "شططا" معني دَ حد نه تيريدل. "يرفق" هغه څيز چه په هغې تکيه لږوي. "تزور" زور نه مشتق دې، يعني خکته کيدلو به (جھک جاتا تھا). او دَ دې نه "ازور" جوړ شوې دې، ډير خکته. "فجوة" جمع فجوات ده. "فِجَاء" هم راځي، ځنګه چه دَ "زکوة" "زکاء" ده "وصيد" معني صحن. دې جمع وصاء، او وُصُدّ ده. څنې وائي دَ "وصيد" معني دروازه. "موصد" بنده شوې. عرب وائي "اصد الباب" او "اوصد الباب" يعني دروازه ئې بنده کړه. "بعثناهم" معني مونږ ژوندي کړل. "ازکٰى طعاما" دَ بستي والو عام خوراک، يا هغه چه حلال وي يا چه پوخ شي، نو زيات شي. "اکلها" دَ هغې ميوه دَ ابن عباسؓ قول دې. "لم تظلم" معني دي، ميوه کمه نهٔ شوه. سعيد ابن عباسؓ نه روايت کوي، چه "رقيم" يوه تختي وه، چه دَ تانبې وه، په

اللَّوْحُ مِنْ رَّصَاصٍ كَتَبَ عَامِلُهُمْ اَسْمَاءَ هُمْ ثُمَّ. طَرَحَهُ فِيْ خَزَانَتِهٖ فَضَرَبَ اللّٰهُ عَلٰى اٰذَانِهِمْ فَنَامُوْا. وَ قَالَ غَيْرُهٗ وَ اَلَتْ تَئِلُ تَنْجُوْا وَ قَالَ مُجَاهِدٌ مَوْئِلًا مَحْرِزًا لَّا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَمْعًا لَّا يَعْقِلُوْنَ.

هغې حاكم وخت د اصحاب كهف نومونه كنده كړل او خزانه كښې جمع كړل. "ضرب الله على اذانهم" يعني اوده شو. نور وائي چه "موئلا" ځائې پناه، د پناه ځائې. او دا د آل نيال نه جوړ دے. مجاهد وائي "موئل" محفوظ مقام. "لا يستطيعون سمعا" يعني هغوي د عقل نه كار نه آخلي.

**بَابٌ ۲۸۷: قَوْلِهٖ وَ كَانَ الْاِنْسَانُ اَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا.**

**باب ۲۸۷: آيت: و كان الانسان اكثر شيء جدلا:** د الله تعالى قول، انسان اكثرو څيزونو كښې جګړه كونكې دے.

۱۰ ۷ ۱: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا يَعْقُوْبُ بْنُ اِبْرَاهِيْمَ بْنِ سَعْدٍ حَدَّثَنَا اَبِيْ عَنْ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنٍ اَنَّ حُسَيْنَ بْنَ عَلِيٍّ اَخْبَرَهٗ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَرَقَهٗ وَ فَاطِمَةَ قَالَ اَلَا تُصَلِّيَانِ رَجْمًا بِالْغَيْبِ لَمْ يَسْتَبِنْ فُرُطًا نَدَمًا سُرَادِقُهَا مِثْلُ السُّرَادِقِ وَالْحُجْرَةِ الَّتِيْ تَطِيْفُ بِالْفَسَاطِيْطِ يُحَاوِرُهٗ مِنَ الْمُحَاوَرَةِ لٰكِنَّا هُوَ اللّٰهُ رَبِّيْ اَيْ لٰكِنْ اَنَا هُوَ اللّٰهُ رَبِّيْ ثُمَّ حَذَفَ الْاَلِفَ وَ اَدْغَمَ اِحْدَى النُّوْنَيْنِ فِي الْاُخْرٰى زَلَقًا لَا يَثْبُتُ فِيْهِ قَدَمٌ هُنَالِكَ الْوَلَايَةُ مَصْدَرُ الْوَلِيِّ

۱۰ ۷ ۱: علي بن عبدالله. يعقوب بن ابراهيم بن سعد. صالح. ابن شهاب. علي بن حسين. حسين بن علي. حضرت عليؓ نه روايت كوي، رسول الله صلي الله عليه وسلم ما او بي بي فاطمې پله د د شپې تشريف راوړلو، او وې فرمائيل تاسو د تهجد مونځ نه كوئ. ما عرض او كه، يا رسول الله مونږ الله پانه سولو. دے خبرے آوريدو سره حضور صلي الله عليه وسلم واپس شولو، او دا آيت ئے لوستلو: و كان الانسان اكثر شيء جدلا: "رجما بالغيب" معني دي، ليدلے آوريدلے خبره كول. "فرطا" د حد نه زيات تيرے. "ندما" افسوس. "سرادقها" پردے او قناتونه، ګويا اوربه د پردو او قناتونو په شان ترے چاپيره وي. "يحاوره" محاورے نه مشتق دے. ګفتګو يعني خبرے اترے كول، تكرار كول. "لكنا هو الله ربي" خو خما رب هغه الله دے. د دے اصل دا دے چه "لكن انا هو الله ربي" الف ئے اوغورځولو، او نون ئے نون كښې ادغام كړلو. "زلقا" خويدانړے چه هغې سره قدم او خوبيږي، "هنالك

عُقْبًا عَاقِبَةٌ وَ عُقْبٰى وَ عُقْبَةٌ وَاحِدٌ وَ هِيَ الْاٰخِرَةُ قِبَلًا وَ قُبُلًا قَبَلًا اِسْتِئْنَافًا لِيُدْحِضُوْا لِيُزِيْلُوْا الدَّحْضُ الزَّلَقُ.

الولاية" ولاية د ولي مصدر دے. په معني د وارث "عقبا" عاقبة، عقبى، عقبة د ټولو معني د آخرت دي. "ليدحضو" معني چه وړے غولوي. دا د "دحض" نه وتلے دے يعني د حق نه ئے اخوا کړي.

بَابُ ٢٨٨: قَوْلِهٖ وَ اِذْ قَالَ مُوْسٰى لِفَتٰهُ لَا اَبْرَحُ حَتّٰى اَبْلُغَ مَجْمَعَ الْبَحْرَيْنِ اَوْ اَمْضِيَ حُقُبًا زَمَانًا وَ جَمْعُهُ اَحْقَابٌ.

باب ٢٨٨: آيت: و اذ قال موسى لفته لا ابرح: د الله تعالي قول، کوم وخت چه موسیٰ خپل خادم ته اووے، زۀ به دغسے روان يم، ځو پورے چه د دوو دريابونو سنگهم ته اونۀ رسم يا څه زمانے پورے به دغسے روان يم. "حُقُبًا" اوږده زمانه. "احقاب" د هغے جمع ده.

١١٧٤: حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ دِيْنَارٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ سَعِيْدُ بْنُ جُبَيْرٍ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ نَوْفًا الْبَكَالِيَّ يَزْعَمُ اَنَّ مُوْسٰى صَاحِبَ الْخَضِرِ لَيْسَ هُوَ مُوْسٰى صَاحِبَ بَنِيْ اِسْرَآئِيْلَ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ كَذَبَ عَدُوُّ اللّٰهِ حَدَّثَنِيْ اُبَيُّ كَعْبٍ اَنَّهٗ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اِنَّ مُوْسٰى قَامَ خَطِيْبًا فِيْ بَنِيْ اِسْرَآئِيْلَ فَسُئِلَ اَيُّ النَّاسِ اَعْلَمُ فَقَالَ اَنَا فَعَتَبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ اِذْ لَمْ يَرُدَّ الْعِلْمَ اِلَيْهِ فَاَوْحَى اللّٰهُ اِلَيْهِ اِنَّ لِيْ عَبْدًا بِمَجْمَعِ الْبَحْرَيْنِ هُوَ اَعْلَمُ مِنْكَ قَالَ مُوْسٰى

١١٧٤: حميدي. سفيان. عمرو بن دينار. سعيد بن جبير نه روايت کوي، ما ابن عباسؓ ته اووے، نوف بکالي وائي، چه خضر سره ملاقات کونکے موسي بني اسرائيلو واله موسي نۀ وو ابن عباسؓ وائي، هغه دَ الله دشمن دروغ وائي. ماته ابي بن کعب بيان او کۀ، ما خپله د حضور صلي الله عليه وسلم نه آوريدلے دي، موسیٰ چه د بني اسرائيلو نبي وو د هغه نه تپوس اوشو، چه ټولو خلقو کښ د ټولو نه زيات عالم څوک دے، نو حضرت موسیٰ جواب ورکۀ، زۀ يم، الله دا خبره خوښه نۀ کړه، او عتاب ئے اوفرمانيلو، هغۀ له داسے ونيل پکار وو، چه الله بۀ پوهيږي. بيا الله هغه طرف ته وحي اوليږله، او وے فرمانيل، څمونږ يو بنده د دوو سمندرونو د يرځائے کيدو په مقام دے، هغه تا نه زيات علم لري. موسي عرض اوکۀ، اے مولا، زۀ به هغۀ ته څنګه اورسم. ورته اوفرمانيلے شو، يو کب خپلے تهيلۍ کښ واچوه، کوم ځائے چه دا کب ورک شي نو پوهه شه، چه هغه بنده هلته

يَا رَبِّ فَكَيْفَ لِيْ بِهٖ قَالَ تَأْخُذُ مَعَكَ
حُوْتًا فَتَجْعَلُهٗ فِيْ مِكْتَلٍ فَحَيْثُمَا
فَقَدْتَّ الْحُوْتَ فَهُوَ ثَمَّ فَاَخَذَ حُوْتًا
فَجَعَلَهٗ فِيْ مِكْتَلٍ ثُمَّ انْطَلَقَ وَانْطَلَقَ
مَعَهٗ فَتَاهُ يُوْشَعُ بْنُ نُوْنٍ حَتّٰى اِذَا اَتَيَا
الصَّخْرَةَ وَضَعَا رُءُوْسَهُمَا فَنَامَا
وَاضْطَرَبَ الْحُوْتُ فِي الْمِكْتَلِ فَخَرَجَ
مِنْهُ فَسَقَطَ فِي الْبَحْرِ فَاتَّخَذَ سَبِيْلَهٗ
فِي الْبَحْرِ سَرَبًا وَ اَمْسَكَ اللّٰهُ عَنِ
الْحُوْتِ جِرْيَةَ الْمَاءِ فَصَارَ عَلَيْهِ مِثْلَ
الطَّاقِ فَلَمَّا اسْتَيْقَظَ نَسِيَ صَاحِبُهٗ اَنْ
يُّخْبِرَهٗ بِالْحُوْتِ فَانْطَلَقَا بَقِيَّةَ يَوْمِهِمَا
وَ لَيْلَتَهُمَا حَتّٰى اِذَا كَانَ مِنَ الْغَدِ قَالَ
مُوْسٰى لِفَتَاهُ اٰتِنَا غَدَآءَ نَا لَقَدْ لَقِيْنَا
مِنْ سَفَرِنَا هٰذَا نَصَبًا قَالَ وَلَمْ يَجِدْ
مُوْسَى النَّصَبَ حَتّٰى جَاوَزَ الْمَكَانَ
الَّذِيْ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖ فَقَالَ لَهٗ فَتَاهُ اَرَاَيْتَ
اِذْ اَوَيْنَا اِلَى الصَّخْرَةِ فَاِنِّيْ نَسِيْتُ
الْحُوْتَ وَمَا اَنْسَانِيْهُ اِلَّا الشَّيْطَانُ اَنْ
اَذْكُرَهٗ وَاتَّخَذَ سَبِيْلَهٗ فِي الْبَحْرِ عَجَبًا
قَالَ فَكَانَ لِلْحُوْتِ سَرَبًا وَلِمُوْسٰى وَ
لِفَتَاهُ عَجَبًا فَقَالَ مُوْسٰى ذٰلِكَ مَا كُنَّا
نَبْغِ فَارْتَدَّا عَلٰى اٰثَارِهِمَا قَصَصًا
يَقُصَّانِ اٰثَارَهُمَا حَتَّى انْتَهَيَا اِلَى
الصَّخْرَةِ فَاِذَا رَجُلٌ مُسَجًّى ثَوْبًا فَسَلَّمَ
عَلَيْهِ مُوْسٰى فَقَالَ الْخَضِرُ وَ اَنّٰى

دے. حضرت موسیٰ کَب تهیلۍ کښې کیښودلو، او روان
شولو. هغوي سره يو خلمے يوشع بن نون هم وو، کوم
وخت چه ذ درياب غاړے ته اورسيدل، نو يو کانړي سره
ئے سر اولږولو، اُودهٔ شول. کَب ذ تهيلۍ نه راؤدانګل او
په خويدو خويدو درياب ته لاړلو. موسیٰ چه ذ خوب نه
راپاسيد، نو ملګري ورته هم دا حال اونهٔ وئے، او مخ په
وړاندے روان شو. کَب چه درياب ته تلے وو، الله تعالیٰ
ذ هغے خائے نه ذ درياب اوبه منع کړے، او يوه نالي شان
ئے جوړ کړه. غرض حضرت موسیٰ خپل ملګري سره
يوه ورځ شپه روان وو، په دوئمه ورځ حضرت موسیٰ
يوشع ته اووے، زهٔ ستړے شوم، ناشته خو راوړه. حضور
صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل: کوم حد چه الله ښودلے
وو، هغے خائے پورے ستړے والے ئے نهٔ وو محسوس
کړے. دغه وخت يوشع ته راياد شو، او هغهٔ اووے چه
دے کانړي سره هغه کب ورک شوے دے. خو ما نه
شيطان دا خبره هيره کړله، چه تاته ئے ذکر اوکړم. هغه
په عجيبه طريقه درياب ته ورکډ شو. او خپله لار ئے
جوړه کړه، او هغه نښه ئے ورته اوښودله، چه حضرت
موسیٰ او يوشع ته ډيره تعجب خيزه معلومه شوه، نو
دواړه هغے خائے ته ذ قدم نښه ليدو سره واپس شو. او
کوم وخت چه موسیٰ هغے کانړي ته راورسيدلو، نو وے
ليدل چه يو سړي ذ خان نه کپړا راچاپيره کړے موجود
دے، حضرت موسیٰ هغهٔ ته سلام اوکه، خضرؑ اووے چه
دے خائے کښې سلام د کومه راغے خضرؑ تپوس اوکهٔ، څهٔ
نوم دِ دے، هغهٔ ورته اوفرمائيل، خما نوم موسیٰ دے، هغهٔ
تپوس اوکهٔ، آيا ذ بني اسرائيلو نبي، موسیٰ ئے، حضرت

بِأَرْضِكَ السَّلَامُ قَالَ أَنَا مُوسٰى قَالَ مُوسٰى بَنِيْ إِسْرَآئِيْلَ قَالَ نَعَمْ أَتَيْتُكَ لِتُعَلِّمَنِيْ مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا قَالَ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ مَعِيَ صَبْرًا يَا مُوسٰى إِنِّيْ عَلٰى عِلْمٍ مِنْ عِلْمِ اللّٰهِ عَلَّمَنِيْهِ لَا تَعْلَمُهُ أَنْتَ وَ أَنْتَ عَلٰى عِلْمٍ مِنْ عِلْمِ اللّٰهِ عَلَّمَكَ اللّٰهُ لَا أَعْلَمُهُ فَقَالَ مُوسٰى سَتَجِدُنِيْ إِنْ شَآءَ اللّٰهُ صَابِرًا وَلَا أَعْصِيْ لَكَ أَمْرًا فَقَالَ لَهُ الْخَضِرُ فَإِنِ اتَّبَعْتَنِيْ فَلَا تَسْئَلْنِيْ عَنْ شَيْءٍ حَتّٰى أُحْدِثَ لَكَ مِنْهُ ذِكْرًا فَانْطَلَقَا يَمْشِيَانِ عَلٰى سَاحِلِ الْبَحْرِ فَمَرَّتْ سَفِيْنَةٌ فَكَلَّمُوْهُمْ أَنْ يَحْمِلُوْهُمْ فَعَرَفُوا الْخَضِرَ فَحَمَلُوْهُ بِغَيْرِ نَوْلٍ فَلَمَّا رَكِبَا فِي السَّفِيْنَةِ لَمْ يَفْجَأْ إِلَّا وَالْخَضِرُ قَدْ قَلَعَ لَوْحًا مِنْ أَلْوَاحِ السَّفِيْنَةِ بِالْقَدُوْمِ فَقَالَ لَهُ مُوسٰى قَوْمٌ حَمَلُوْنَا بِغَيْرِ نَوْلٍ عَمَدْتَ إِلٰى سَفِيْنَتِهِمْ فَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا إِمْرًا قَالَ أَلَمْ أَقُلْ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ مَعِيَ صَبْرًا قَالَ لَا تُؤَاخِذْنِيْ بِمَا نَسِيْتُ وَلَا تُرْهِقْنِيْ مِنْ أَمْرِيْ عُسْرًا قَالَ وَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ كَانَتِ الْأُوْلٰى مِنْ مُوسٰى نِسْيَانًا قَالَ وَ جَآءَ عُصْفُوْرٌ فَوَقَعَ عَلٰى حَرْفِ السَّفِيْنَةِ فَنَقَرَ فِيْ

موسٰیؑ ورته اوفرمائیل' او' زهٔ موسٰي د بني اسرائیلو نبي یم. او تاسوله راغلے یم' چه ماته خپل علم اوښائے حضرت خضرؑ ورته اووے' ته به ما سره صبر اونهٔ کړے شے. حضرت موسٰیؑ ورته اوفرمائیل' که خدائے ته منظوره وي' نو تاسو به ما صابره بیا مومنے زهٔ به هیڅ خبره کښې ستاسو خلاف نه کوم. حضرت خضرؑ ورته اوفرمائیل' که ته ماسره پاتے کیدل غواړے نو ګوره' زهٔ چه هر څه کار کوم' ته به هغه پورے تپوس نهٔ کوے' څو پورے چه زهٔ درته خپله اونهٔ وایم' دے نه پس حضرت موسٰیؑ او خضرؑ د دریاب په غاړه غاړه روان شو. یوه کشتئ نے په نظر راغله. خضرؑ ماڼګیانو ته اووئیل' چه مونږ کشتئ کښې کینونے' هغوي خضرؑ اوپیژندلو' کشتئ کښې نے کینول' او څهٔ معاوضه نے ترے وانخسته. هر کله چه حضرت موسٰیؑ او خضرؑ کشتئ کښې کیناستل' نو خضرؑ تبر سره د کشتئ یوه تخته اووهله. موسٰیؑ چه دا کیفیت اولید' نو ورے وئیل' دوي خو مونږ مفت کینولے یو' او تا ورله کشتئ ماته کړه' ټول خلق به ډوب شي دا خو ډیر بدکار اوشولو. خضرؑ ورته اوفرمائیل' ګوره ما درته وئیلے وو' چه زهٔ څهٔ کوم' په هغے صبر کوه' خو تا صبر اونهٔ کړے شو. حضرت موسٰیؑ ورته اوفرمائیل بنهٔ ده. دا ځل معافي راکړه' مخکښې د پاره به داسے نهٔ کوم' مانه هیره اوشوله. رسول اللّٰه صلي اللّٰه علیه وسلّم فرماني' دا خبره د موسٰي علیه السلام نه په هیره اوشوله. دے نه پس یو چړچڼړه راغله' د کشتئ په غاړه کیناستله. او خپلے مښوکے سره نے اوبه اوڅکلے حضرت خضرؑ اووے اے موسٰیؑ' ځما او ستا علم د اللّٰه تعالٰي مخکښې

الْبَحْرِ نَقْرَةً فَقَالَ لَهُ الْخَضِرُ مَا عِلْمِيْ
وَ عِلْمُكَ مِنْ عِلْمِ اللّٰهِ اِلَّا مِثْلُ مَا
نَقَصَ هٰذَا الْعُصْفُوْرُ مِنْ هٰذَا الْبَحْرِ
ثُمَّ خَرَجَا مِنَ السَّفِيْنَةِ فَبَيْنَمَا هُمَا
يَمْشِيَانِ عَلَى السَّاحِلِ اِذْ اَبْصَرَ
الْخَضِرُ غُلَامًا يَلْعَبُ مَعَ الْغِلْمَانِ فَاَخَذَ
الْخَضِرُ رَاْسَهُ بِيَدِهٖ فَقَتَلَهُ فَقَالَ لَهُ
مُوْسٰى اَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةً بِغَيْرِ نَفْسٍ
لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا نُكْرًا قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكَ
اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ مَعِيَ صَبْرًا قَالَ وَ
هٰذَا اَشَدُّ مِنَ الْاُوْلٰى قَالَ اِنْ سَاَلْتُكَ
عَنْ شَيْءٍ بَعْدَهَا فَلَا تُصَاحِبْنِيْ قَدْ
بَلَغْتَ مِنْ لَّدُنِّيْ عُذْرًا فَانْطَلَقَا حَتّٰى
اِذَا اَتَيَا اَهْلَ قَرْيَةِ اسْتَطْعَمَا اَهْلَهَا
فَاَبَوْا اَنْ يُّضَيِّفُوْهُمَا فَوَجَدَا فِيْهَا
جِدَارًا يُّرِيْدُ اَنْ يَّنْقَضَّ قَالَ مَائِلٌ
فَقَامَ الْخَضِرُ فَاَقَامَهُ بِيَدِهٖ فَقَالَ
مُوْسٰى قَوْمٌ اَتَيْنَاهُمْ فَلَمْ يُطْعِمُوْنَا
وَلَمْ يُضَيِّفُوْنَا لَوْ شِئْتَ لَاتَّخَذْتَ
عَلَيْهِ اَجْرًا قَالَ هٰذَا فِرَاقُ بَيْنِيْ وَ
بَيْنِكَ اِلٰى قَوْلِهٖ ذٰلِكَ تَاْوِيْلُ مَالَمْ
تَسْتَطِعْ عَلَيْهِ صَبْرًا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَدِدْنَا اَنَّ
مُوْسٰى كَانَ صَبَرَ حَتّٰى يَقُصَّ اللّٰهُ
عَلَيْنَا مِنْ خَبَرِهِمَا قَالَ سَعِيْدُ بْنُ
جُبَيْرٍ فَكَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَقْرَاُ وَ كَانَ

دومره دے، څومره چه دے مرغني په مخوکه اوبه
واخستلے. دے نه پس ذ کشتئ نه راکوز شولو. او ذ
هغے دریاب په غاړه روان شولو. لار کښې حضرت خضرؑ
يو ماشوم چه نورو ماشومانو سره ئے لوبے کولے
راونيولو، او ذ هغه سر ئے ذ جسم نه جُدا کړلو. موسٰي
عليه السلام ورته اووے، تا بلا وجے يو بچے دا شان قتل
کړلو، دا خو دے ډیر بد کار اوکړو. خضرؑ ورته اووے،
ما خو درته د مخکښې نه ونيلے، چه ته ماسره صبر نه شے
کولے. د دے حديث يو راوي سفيان وائي، چه دا کار ذ
وړمبني کار نه هم زيات سخت وو، موسٰي عليه السلام
ورته اوفرمانيل: بنه ده اوس به زۀ هيڅ تپوس نه کوم،
اوکه اوکړم، نو ما خان سره مۀ ساته، بيشکه تا بنۀ صبر
اوکړلو. دے نه پس دواړه حضرات يو کلي ته ورغلل. ذ
کلي والو نه ئے ډوډئ اوغښتله، خو هغوي ذ څۀ خوړلو
نه انکار اوکه. هغے کلي کښې خضر عليه السلام ته يو
ديوال په نظر راغے. چه غُرځيدو ته نزدے وو. خضر عليه
السلام هغه خپل لاس سره نيغ کړلو، موسٰي عليه السلام
ورته اووے، اول خو کلي والو خسونږ ميلمستيا اونه
کړله. بيا تا ورسره دا ښيګړه اوکړه، چه ذ هغوي ديوال
دے نيغ کړلو، څۀ مزدوري ترے آخستل پکار وو:
ذلک تاويل مالم تستطع عليه صبرًا الخ. حضور صلي
اللّه عليه وسلّم اوفرمانيل. ماته دا بنۀ لږي، چه موسٰي
عليه السلام ذ خضرؑ په کارونو صبر کړے وے، او دا شان
اللّه تعالي ذ هغه نورو کارونو هم خبر راکړے وے. سعيد
بن جبير وائي. حضرت ابن عباسؓ دے آيت کښې: وَ كَانَ
وراهم الخ په ځائے "امامهم" او ذ "سفينه" مخکښې ئے

أَمَامَهُمْ مَلِكٌ يَأْخُذُ كُلَّ سَفِيْنَةٍ صَالِحَةٍ غَصْبًا وَ كَانَ يَقْرَأُ وَ اَمَّا الْغُلَامُ فَكَانَ كَافِرًا وَّ كَانَ اَبَوَاهُ مُؤْمِنِيْنَ.

"صالحه" لوستلو. او دا آيت: و اما الغلام فكان ابواه مومنين الخ دا شان لوستلو: و اما الغلام فكان كافرا و كان ابواه مؤمنين الخ.

بَاب ٢٨٩ : قَوْلِهٖ فَلَمَّا بَلَغَ مَجْمَعَ بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوْتَهُمَا فَاتَّخَذَ سَبِيْلَهٗ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا مَذْهَبًا يَسْرُبُ يَسْلُكُ وَ مِنْهُ سَارِبٌ بِالنَّهَارِ.

باب ٢٨٩ : آيت: فلما بلغ مجمع بينهما: دَ الله تعالي قول' كوم وخت چه مجمع البحرين ته اورسيدل' نو خپل كب ترے هير شولو' او كب درياب كښ دَ خپلو تلو نښه جوړه كړله. "سربا" دَ تلو نښه "يسرب" معني دَ لارے راخي' "سارب بالنهار" دے نه وتے دے' يعني دَ ورځے لار وهونكے.

٤٧١٢: حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيْمُ بْنُ مُوْسٰى اَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ يُوْسُفَ اَنَّ ابْنَ جُرَيْجٍ اَخْبَرَهُمْ قَالَ اَخْبَرَنِيْ يَعْلَى بْنُ مُسْلِمٍ وَعَمْرُو بْنُ دِيْنَارٍ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ يَزِيْدُ اَحَدُهُمَا عَلٰى صَاحِبِهٖ وَ غَيْرُهُمَا قَدْ سَمِعْتُهٗ يُحَدِّثُهٗ عَنْ سَعِيْدٍ قَالَ اَنَا لَعِنْدَ ابْنِ عَبَّاسٍ فِيْ بَيْتِهٖ اِذْ قَالَ سَلُوْنِيْ قُلْتُ اَيْ اَبَا عَبَّاسٍ جَعَلَنِيَ اللّٰهُ فِدَاكَ بِالْكُوْفَةِ رَجُلٌ قَاصٌّ يُقَالُ لَهٗ نَوْفٌ يَزْعَمُ لَيْسَ بِمُوْسٰى بَنِيْ اِسْرَآئِيْلَ اَمَّا عَمْرٌو فَقَالَ لِيْ قَالَ قَدْ كَذَبَ عَدُوُّ اللّٰهِ وَ اَمَّا يَعْلٰى فَقَالَ لِيْ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ حَدَّثَنِيْ اُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ

٤٧١٢: ابراهيم بن موسي. هشام بن يوسف. ابن جريج. يعلي بن مسلم. عمرو بن دينار. سعيد بن جبيرؒ نه روايت كوي. مونږ ابن عباسؓ سره دَ هغه كور كښ ناست وو' هغه اوفرمائيل چه مانه تپوس اوكړئ ما دَ هغهٔ نه تپوس اوكړ' الله دے ما په تاسو قربان كړي' دَ كوفے دَ يو واعظ نوف بيان دے چه موسي دَ بني اسرائيلو نبي بل وو' او كوم چه خضر سره پاتے وو' هغه بل وو' آيا دا درست دے ابن عباسؓ اووے' دَ خدائے دغے دشمن دروغ ونيلے دي. دَ ابن جريج بيان دے' يعلي بن مسلم ماته كوم حديث بيان كړ' هغے كښ دا وو' چه ابن عباسؓ سعيد ته دا اووے' چه دَ خدائے هغے دشمن دروغ اووے' بلكه ابن عباسؓ سعيد ته دا ونيلے وو' چه ابي بن كعب ماته ونيلے وو' حضور صلي الله عليه وسلّم ارشاد اوفرمائيلو' يو ورځے موسي وعظ اوكړ په خلقو دَ هغے اثر اوشو' او ډير په ژړا شو' نو يو سړي عرض اوكړ' اے موسيٰ دَ الله پيغمبره' آيا دے سرزمين كښ ستاسو نه هم زيات پوهيدونكے خوك عالم موجود دے موسي عليه السلام

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُوسٰىؑ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ قَالَ ذَكَّرَ النَّاسَ يَوْمًا حَتّٰى اِذَا فَاضَتِ الْعُيُوْنُ وَرَقَّتِ الْقُلُوْبُ وَلّٰى فَاَدْرَكَهُ رَجُلٌ فَقَالَ اَيْ رَسُوْلَ اللّٰهِ هَلْ فِي الْاَرْضِ اَحَدٌ اَعْلَمُ مِنْكَ قَالَ لَا فَعَتَبَ عَلَيْهِ اِذْ لَمْ يَرُدَّ الْعِلْمَ اِلَى اللّٰهِ قِيْلَ بَلٰى قَالَ اَيْ رَبِّ فَاَيْنَ قَالَ بِمَجْمَعِ الْبَحْرَيْنِ قَالَ اَيْ رَبِّ اجْعَلْ لِّيْ عَلَمًا اَعْلَمُ ذٰلِكَ بِهٖ فَقَالَ لِيْ عَمْرٌو قَالَ حَيْثُ يُفَارِقُكَ الْحُوْتُ وَ قَالَ لِيْ يَعْلٰى خُذْ نُوْنًا مَيِّتًا حَيْثُ يُنْفَخُ فِيْهِ الرُّوْحُ فَاَخَذَ حُوْتًا فَجَعَلَهٗ فِيْ مِكْتَلٍ فَقَالَ لِفَتَاهُ لَا اُكَلِّفُكَ اِلَّا اَنْ تُخْبِرَنِيْ بِحَيْثُ يُفَارِقُكَ الْحُوْتُ قَالَ مَا كَلَّفْتَ كَثِيْرًا فَذٰلِكَ قَوْلُهٗ جَلَّ ذِكْرُهٗ وَ اِذْ قَالَ مُوْسٰى لِفَتَاهُ يُوْشَعَ بْنَ نُوْنٍ لَيْسَتْ عَنْ سَعِيْدٍ قَالَ فَبَيْنَمَا هُوَ فِيْ ظِلِّ صَخْرَةٍ فِيْ مَكَانٍ ثَرْيَانَ اِذْ تَضَرَّبَ الْحُوْتُ وَ مُوْسٰى نَائِمٌ فَقَالَ فَتَاهُ لَا اُوْقِظُهٗ حَتّٰى اِذَا اسْتَيْقَظَ نَسِيَ اَنْ يُّخْبِرَهٗ وَ تَضَرَّبَ الْحُوْتُ حَتّٰى دَخَلَ الْبَحْرَ فَاَمْسَكَ اللّٰهُ عَنْهُ جِرْيَةَ الْبَحْرِ حَتّٰى كَاَنَّ اَثَرَهٗ فِيْ حَجَرٍ وَ حَلَّقَ بَيْنَ اِبْهَامَيْهِ وَاللَّتَيْنِ تَلِيَانِهِمَا

ورته اوفرمائيل' نه' ذَ اللّٰه تعالٰي دا خبره خوښه نهٔ شوه' خکه چه هغهٔ دا اُو' نهٔ وے چه اللّٰه زيات پوهيږي' نو اللّٰه تعالٰي ارشاد اوفرمائيلو اے موسٰیؑ' خمونږ بعضے بندګان ستا نه زيات علم واله دي. موسٰي عليه السلام عرض اوکهٔ' اے مولا' ماته ذَ هغوي پته اوښائے' چه زهٔ ورله ورشم' او علم ترے حاصل کړم. ابن جريج وائي' عمرو بن دينار ماته دا شان اُووے' ذَ اللّٰه ذَ طرف نه ارشاد اوشو' ذَ هغهٔ پته داده' کوم وخت چه ستا کب ورک شي' هلته به تهٔ خضر بياموے' ذَ يعلي بيان دے' اللّٰه تعالٰي داسے فرمائيلے وو' يو مړ کب واخله' کوم ځائے چه هغه ژوندے شي بس هغه ځائے به هغه سړے (يعني خضرؑ) تهٔ بياموے نو موسٰي عليه السلام يو کب تهيلئ کښې واچولو' او خپل خادم يوشع ئے ځان سره کړلو' او هغهٔ ته ئے اووے' تاته صرف دومره تکليف درکوم' چه کوم ځائے دا کب ورک شي' نو ماته ياد کړه. يوشع عرض اوکهٔ' دا څهٔ غټه خبره نهٔ ده. ذَ سعيد روايت کښې ذَ يوشع بن نون نوم نشته. حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل' هر کله چه موسٰي عليه السلام خپل ملګري سره ذَ درياب غاړے سره ذَ کاڼړي يو چتان ته اورسيدلو' نو موسٰیؑ اوده شولو' نو کب درياب ته اودانګل' هغے خلمي ملګري خيال اوکهٔ' چه بيدارول ئے نهٔ دي پکار' چه راپاسي' نو حال به ورته اووائم' خو ذَ هغهٔ ذَ پاسيدو نه پس ترے هير شولو' اللّٰه ذَ کب ذَ تللو په وجه اوبه منع کړلے' او اُوبو کښې ذَ سُرنګ په شان يو خاص نښه جوړه شوه. راوي وائي' عمرو بن دينار دا وئيلے وو' چه هغے کب اُوبو کښې يو سوراخ شان پريښودلو. بيا عمرو' ذَ خپلو دوارو ګتو

لَقَدْ لَقِيْنَا مِنْ سَفَرِنَا هٰذَا نَصَبًا قَالَ قَدْ
قَطَعَ اللّٰهُ عَنْكَ النَّصَبَ لَيْسَتْ هٰذِهٖ
عَنْ سَعِيْدٍ اَخْبَرَهٗ فَرَجَعَا فَوَجَدَا خَضِرًا
قَالَ لِيْ عُثْمَانُ بْنُ اَبِيْ سُلَيْمَانَ
عَلٰى طِنْفِسَةٍ خَضْرَآءَ عَلٰى كَبِدِ
الْبَحْرِ قَالَ سَعِيْدُ بْنُ جُبَيْرٍ مُسَجًّى
بِثَوْبِهٖ قَدْ جَعَلَ طَرَفَهٗ تَحْتَ رِجْلَيْهِ وَ
طَرَفَهٗ تَحْتَ رَاْسِهٖ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ
مُوْسٰى فَكَشَفَ عَنْ وَجْهِهٖ وَ قَالَ هَلْ
بِاَرْضِيْ مِنْ سَلَامٍ مَنْ اَنْتَ قَالَ اَنَا
مُوْسٰى قَالَ مُوْسٰى بَنِيْ اِسْرَائِيْلَ قَالَ
نَعَمْ قَالَ فَمَا شَاْنُكَ قَالَ جِئْتُ
لِتُعَلِّمَنِيْ مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا قَالَ اَمَا
يَكْفِيْكَ اَنَّ التَّوْرَاةَ بِيَدَيْكَ وَ اَنَّ
الْوَحْيَ يَاْتِيْكَ يَا مُوْسٰى اِنَّ لِيْ عِلْمًا
لَا يَنْبَغِيْ لَكَ اَنْ تَعْلَمَهٗ وَ اِنَّ لَكَ عِلْمًا
لَا يَنْبَغِيْ لِيْ اَنْ اَعْلَمَهٗ فَاَخَذَ طَائِرٌ
بِمِنْقَارِهٖ مِنَ الْبَحْرِ وَ قَالَ وَاللّٰهِ مَا
عِلْمِيْ وَمَا عِلْمُكَ فِيْ جَنْبِ عِلْمِ
اللّٰهِ اِلَّا كَمَا اَخَذَ هٰذَا الطَّائِرُ بِمِنْقَارِهٖ
مِنَ الْبَحْرِ حَتّٰى اِذَا رَكِبَا فِي السَّفِيْنَةِ
وَجَدَا مَعَابِرَ صِغَارًا تَحْمِلُ اَهْلَ هٰذَا
السَّاحِلِ اِلٰى اَهْلِ هٰذَا السَّاحِلِ الْاٰخَرِ
عَرَفُوْهُ فَقَالُوْا عَبْدُ اللّٰهِ الصَّالِحُ قَالَ
قُلْنَا لِسَعِيْدٍ خَضِرٌ قَالَ نَعَمْ لَا نَحْمِلُهٗ
بِاَجْرٍ فَخَرَقَهَا وَ وَتَدَ فِيْهَا وَتَدًا قَالَ

کوتو او هغې سره د کوټو نه حلقه جوړه کړله' ورے ښودله (چه دغسے سُرنگ نے جوړ کړلو) دے نه پس دواړه حضرات مخ په وړاندے لاړل' څه مزل نے چه او کړ' نو موسیٰ اوفرمائیل ماته سفر نه ستوماني معلومیږي. یوشع ورته اووے' اللّٰه دے ستا ستوماني لرے کړي. بیا یوشع اووے' کب خو فلاني ځائے کښې ورک شوے دے او مانه هیر شو' چه تاسوته نے یاد کړم' موسیٰ چه واپس هغے چتهان ته نزدے راغے' نو ورے لیدل چه خضرؑ ولاړ دے. ابن جریج اووے. د عثمان بن ابي عثمان قول دے' چه هغه خضرؑ دریاب کښې په شنه بستره ناست اُولیده. سعید واني' چه کپړه نے اغستلے وه' او د کپړے یو څنډه نے د پښو لاندے دباؤ کړے وه. او بله غاړه نے په سَر وه. موسیٰ علیه السلام ورته سلام او کړه. خضرؑ اووے' آیا د بني اسرائیلو موسیٰ نے. موسیٰ اووے' او' خضرؑ اووے. بیا دلته څۀ د پاره راغلے نے. موسیٰ ورته اووے' دے د پاره چه تهٔ ماته خپل علم اوښائے' خضرؑ اووے' آیا تورات او وحي ستا د پاره کافي نهٔ دي. اے موسیٰ' څما علم تاسره نه ښائي' او ستا علم ماسره نه ښائي' خضرؑ دا خبره کوله' چه دے کښې یوے مرغئے د دریاب نه په مخوکه لږے اوبه واخستے خضرؑ ورته اووے' اے موسیٰ' څما او ستا علم د خدائے په مخکښې داسے دے' لکه دا اوبه چه مرغئے مخوکه باندے واخستے. بیا هغوي یوه وړه شان کشتئ کښې کیناستل' چه خلق به نے د دے ځائے نه هلته بوتلل. کشتي والو هغوي اوپیژندل. او بے پیسے (بے کرائے) نے کشتئ کښې کینول. خضرؑ د کشتي یوه تخته ماته کړله' موسیٰ ورته اووے' دا خو دے ډیر بد او کړل'

مُوسٰی اَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ اَهْلَهَا لَقَدْ جِئْتَ شَیْئًا اِمْرًا قَالَ مُجَاهِدٌ مُنْكَرًا قَالَ اَلَمْ اَقُلْ اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِیْعَ مَعِیَ صَبْرًا كَانَتِ الْاُوْلٰی نِسْیَانًا وَ الْوُسْطٰی شَرْطًا وَ الثَّالِثَةُ عَمْدًا قَالَ لَا تُؤَاخِذْنِیْ بِمَا نَسِیْتُ وَلَا تُرْهِقْنِیْ مِنْ اَمْرِیْ عُسْرًا لَقِیَا غُلَامًا فَقَتَلَهٗ قَالَ یَعْلٰی قَالَ سَعِیْدٌ وَجَدَ غِلْمَانًا یَلْعَبُوْنَ فَاَخَذَ غُلَامًا كَافِرًا ظَرِیْفًا فَاَضْجَعَهٗ ثُمَّ ذَبَحَهٗ بِالسِّكِّیْنِ قَالَ اَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِیَّةً بِغَیْرِ نَفْسٍ لَمْ تَعْمَلْ بِالْحِنْثِ وَ كَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ قَرَاَهَا زَكِیَّةً زَاكِیَةً مُسْلِمَةً كَقَوْلِكَ غُلَامًا زَكِیًّا فَانْطَلَقَا فَوَجَدَا جِدَارًا یُرِیْدُ اَنْ یَنْقَضَّ فَاَقَامَهٗ قَالَ سَعِیْدٌ بِیَدِهٖ هٰكَذَا وَ رَفَعَ یَدَهٗ فَاسْتَقَامَ قَالَ یَعْلٰی حَسِبْتُ اَنَّ سَعِیْدًا قَالَ فَمَسَحَهٗ بِیَدِهٖ فَاسْتَقَامَ لَوْ شِئْتَ لَا تَّخَذْتَ عَلَیْهِ اَجْرًا قَالَ سَعِیْدٌ اَجْرًا نَاْكُلُهٗ وَ كَانَ وَرَآءَ هُمْ وَ كَانَ اَمَامَهُمْ قَرَاَهَا ابْنُ عَبَّاسٍ اَمَامَهُمْ مَلِكٌ یَزْعُمُوْنَ عَنْ غَیْرِ سَعِیْدٍ اَنَّهٗ هُدَدُ بْنُ بُدَدٍ وَالْغُلَامُ الْمَقْتُوْلُ اِسْمُهٗ یَزْعُمُوْنَ جَیْسُوْرٌ مَلِكٌ یَّاْخُذُ كُلَّ سَفِیْنَةٍ غَصْبًا فَاَرَدْتُ اِذَا هِیَ مَرَّتْ بِهٖ اَنْ یَدَعَهَا لِعَیْبِهَا فَاِذَا جَاوَزُوْا اَصْلَحُوْهَا فَانْتَفَعُوْا بِهَا وَ مِنْهُمْ مَنْ

دے سره خو به كښتي والـه ډوب شي. خضرؑ اووې: گوره: تاته ما د مخکښې نه وئيلي وو، چه ته به ما سره صبر اونه کړے شے. حقيقت کښې دا وړومبنے اعتراض موسیٰؑ په هيره کړے وو. او په دويم وار موسیٰؑ خپل شرط اولړولو، كه بيا داسے اوشو نو ما خان سره مه ساته او دريم اعتراض ئے عمدًا اوکړلو. موسیٰؑ اووے: مانه هير شولو، په هيره معافي پکار ده. دے نه پس ورمخکښې شو. يو ماشوم ئے اوليد. خضرؑ هغه اووژلو، او سر ئے ترے پريکړلو. موسیٰؑ اووے. دا خو تا بلا وجه يو خون اوکړلو. بے گناه دے اووژلو. ابن عباسؓ دے آيت کښې: نفسا زكية: زاكية: دواړه شان وائي. "زاكية" معني ئې نيک مسلمان. لکه چه وائي: "غلامًا زكيا" دے نه پس دواړه يو ګلي تـه اورسيدل. يو ديوال غرخيدونکے او کوږ وو. خضرؑ هغے باندے لاس راښکلو، نيغ ئے کړلو. سعيد ذ لاس اشارے سره اوښودلو، چه ديوال ئے داسے نيغ کړلو. يعلي وائي. خما خيال دے، سعيد داسے وئيلے وو، چه خضرؑ په ديوال لاس راښکلو، نو هغه نيغ شولو. موسیٰ علیه السلام اعتراض اوکړ، او وے وئيل، که تا غوښتلے، نو ذ دے مزدوري دے اخستلے شوه، او په هغے خوراک څکاک کيدے شو او دا چه: وَ كان وراء هم معني دي "امامهم" ابن عباسؓ دغه شان لوستے دي. ابن جريج اووے. ذ سعيد نه سوا، نورو راويانو بادشاه هُدَد بن بُدَد بيان کړے دے. او هغه هلک چه خضرؑ وژلے وو، جيسور وو. او ذ کشتي ذ ماتولو وجه خضرؑ دا اوښودله چه هغه بادشاه چه ذ درياب بل آړخ ته وو، هغه ظالم وو. او کشتئ ئے بيكار كښې نيولے، چه دا بيكاره او گنړي، نو

يَقُولُ سَدُّوهَا بِقَارُورَةٍ وَ مِنْهُمْ مَنْ يَقُولُ بِالْقَارِ كَانَ اَبَوَاهُ مُؤْمِنَيْنِ وَ كَانَ كَافِرًا فَخَشِينَا اَنْ يُرْهِقَهُمَا طُغْيَانًا وَ كُفْرًا اَنْ يَحْمِلَهُمَا حُبُّهُ عَلَى اَنْ يَتَابِعَاهُ عَلَى دِيْنِهِ فَاَرَدْنَا اَنْ يُبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيْرًا مِنْهُ زَكٰوةً لِقَوْلِهِ اَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةً وَ اَقْرَبَ رُحْمًا هُمَا بِهِ اَرْحَمُ مِنْهُمَا بِالْاَوَّلِ الَّذِي قَتَلَ خِضْرُ وَ زَعَمَ غَيْرُ سَعِيْدٍ اَنَّهُمَا اُبْدِلَا جَارِيَةً وَ اَمَّا دَاوُدُ بْنُ اَبِي عَاصِمٍ فَقَالَ غَيْرُ وَاحِدٍ اَنَّهَا جَارِيَةٌ.

پرے به ئے بردي. كشتي والله به دا ټيک کړي او کاړ به ترے آخلي. بعضو وئيلي دي چه سکه (سيسه) وئيلے کولو سره ئے کشتي مرمت کړه. او بعضو وئيلے دي چه لاک او روغن سره ئے ورؤسته. او هغه هلک کافر وو او مور پلار ئے مؤمنان وو ما سره دا خيال پيدا شو چه د دهٔ محبت د دهٔ مور پلار تباه نه کړي په دے وجه ما هغه او وژلو. اللّه تعالي به د دهٔ بدله کښې ورله نيک اولاد ورکړي، چه د دهٔ نه هر حالت کښې نيک او ښهٔ وي. او بعضو وئيلي دي د دے مطلب دا دے چه د هلک بدله کښې اللّه تعالي يوه نيکه لور ورکړي او داود بن عاصم وائي چه جينۍ ترے مراد ده.

۱ ابن عباس رضي اللّه عنه د هغهٔ متعلق دا لفظ محض د تنبيه او توبيخ په طور وئيلو دا مقصد ئے نه وو چه واقعي هغهٔ د اللّه دښمن دے.

## باب ۲۹۰ : قَوْلِهِ فَلَمَّا جَاوَزَا

قَالَ لِفَتَاهُ اٰتِنَا غَدَآئَنَا لَقَدْ لَقِيْنَا مِنْ سَفَرِنَا هٰذَا نَصَبًا اِلَى قَوْلِهِ عَجَبًا صُنْعًا عَمَلًا حِوَلًا تَحَوُّلًا قَالَ ذٰلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِ فَارْتَدَّا عَلٰى اٰثَارِهِمَا قَصَصًا اِمْرًا وَ نُكْرًا دَاهِيَةً يَنْقَضَّ يَنْقَاضُ كَمَا يَنْقَاضُ السِّنُّ لَتَخِذْتَ وَلَا تَّخَذْتَ وَاحِدٌ رُحْمًا مِنَ الرُّحْمِ وَ هِيَ اَشَدُّ مُبَالَغَةً مِنَ الرَّحْمَةِ وَ نَظُنُّ اَنَّهُ مِنَ الرَّحِيْمِ وَ تُدْعٰى مَكَّةُ اُمَّ رُحْمٍ اَيِ الرَّحْمَةُ تَنْزِلُ بِهَا.

## باب ۲۹۰ : آيت: فلما جاوزا قال لفتهٔ: د اللّه

تعالي قول کوم وخت چه موسیٰ د هغے ځائے نه ورمخکښې شو نو خپل ملګري ته ئے اووے طعام راوړه مونږ خو دے سفر کښې ستړے شو: عجبا: پورے "صنعا" معني دي عمل. "حولا" بدليدل لرے کيدل. "قال ذلک ما کنا نبغ فارتدا علی اثارهما قصصا". "امرا" او "نکرا" د دواړو يو معني دي يعني بد کار. "ينقض" معني اوغرځيږي. "لتخذت" او "اتخذت" د دواړو يو معني دي. مشدد او مخفف دواړه شان معنی ئے يو دي "رحما" رحم نه جوړ دے معني دي ډير زيات رحمت او همدردي. بعضے دا د رحيم نه مشتق ګڼړي. مکے ته "ام رحمة" وائي ځکه چه رحمت هلته نازليږي

۴۱۳ : حَدَّثَنِي قُتَيْبَةُ بْنُ

۴۱۳ : قتيبه بن سعيد. سفيان بن عيينه. عمرو بن

سَعِيدٍ قَالَ حَدَّثَنِي سُفْيَانُ بْنُ
عُيَيْنَةَ عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ عَنْ
سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ قُلْتُ
لِابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ نَوْفَا نِ الْبَكَالِيَّ
يَزْعَمُ اَنَّ مُوسٰى بَنِي اِسْرَآئِيْلَ
لَيْسَ بِمُوسَى الْخَضِرِ فَقَالَ
كَذَبَ عَدُوُّ اللّٰهِ حَدَّثَنَا اُبَيُّ بْنُ
كَعْبٍ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى
اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَامَ
مُوسٰى خَطِيبًا فِي بَنِيْ
اِسْرَآئِيلَ فَقِيلَ لَهُ اَيُّ النَّاسِ
اَعْلَمُ قَالَ اَنَا فَعَتَبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ
اِذْ لَمْ يَرُدَّ الْعِلْمَ اِلَيْهِ وَ اَوْحٰى
اِلَيْهِ بَلٰى عَبْدٌ مِّنْ عِبَادِيْ
بِمَجْمَعِ الْبَحْرَيْنِ هُوَ اَعْلَمُ مِنْكَ
قَالَ اَيْ رَبِّ كَيْفَ السَّبِيْلُ اِلَيْهِ
قَالَ تَأْخُذُ حُوْتًا فِيْ مِكْتَلٍ
فَحَيْثُمَا فَقَدْتَّ الْحُوْتَ فَاتَّبِعْهُ
قَالَ فَخَرَجَ مُوسٰى وَ مَعَهُ فَتَاهُ
يُوْشَعُ بْنُ نُوْنٍ وَ مَعَهُمَا الْحُوْتُ
حَتّٰى اِنْتَهَيَا اِلَى الصَّخْرَةِ فَنَزَلَا عِنْدَهَا
قَالَ فَوَضَعَ مُوسٰى رَاْسَهُ فَنَامَ
قَالَ سُفْيَانُ وَ فِيْ حَدِيْثِ غَيْرِ
عَمْرٍو قَالَ وَ فِيْ اَصْلِ الصَّخْرَةِ
عَيْنٌ يُقَالُ لَهُ الْحَيٰوةُ لَا يُصِيْبُ مِنْ
مَّآئِهَا شَيْءٌ اِلَّا حَيِيَ فَاَصَابَهُ

دینار. سعید بن جبیر نه روایت کوي، ما ابن عباسؓ ته
اووې، نوف بکالي وائي، چه موسیٰ دَ بني اسرائیلو نبي
بل وو. او خضر واله موسیٰ بل. ابن عباسؓ جواب ورکهٔ،
هغه دَ الله دشمن دروغ وائي، ځکه چه دَ ابن کعب بیان
دې، حضور صلي الله علیه وسلّم اوفرمائیل، موسیٰ علیه
السلام خپل اُمت ته وعظ اوکهٔ، نو هغوي ترې تپوس
اوکهٔ، چه ټولو خلقو کښې لوئې عالم څوک دې، موسیٰ
اووې، زهٔ یم، او دائې اونهٔ وې، چه اللّٰه زیات
پوهیدونکې دې، نو الله پاک دا خبره خوښه نهٔ کړله. او
وحي ئې نازله کړه، چه ځما بندیانو کښې یو بنده دې، چه
مجمع البحرین کښې دې، او ستا نه زیات عالم دې
موسیٰ اووې، اې الله، زهٔ به هغهٔ سره څنګه یوځائې شم،
ماته دَ هغهٔ پته اوښائې. ارشاد اوشو، خپلې تهیلئ کښې یو
کب واچوه، او، څه. کوم ځائې چه دا کب ورک شي، نو
بس هغه په هغه ځائې کښې دې. موسیٰ علیه السلام هم
دغسې اوکړل، او خپل خادم یوشع ئې ځان سره کړلو.
او یو چټان سره قریب په کاڼړي ئې سر کیښودلو، اودهٔ
شولو. سفیان وائي، دَ قتاده په روایت کښې دي، دَ دې
چټان په ویخ کښې یو چینه وَه، چه هغې ته ئې چشمهٔ
آب حیات (د همیشه ژوندون چینه) وې، په کوم مړي
چه به هغه اوبه پریوتې، هغه به ژوندې شولو، په دې کب
هم هغه اوبه پریوتې، او هغه ژوندې شولو. او سمندر ته
ئې ورأودانګل. موسیٰ علیه السلام چه دَ خوب نه
راپاسید، نو خپل خادم سره مخ په وړاندې روان شولو.
څه مزل نه پس ئې خپل خادم ته اووې، خمونږ هغه
خوراکه راوړه. دغه وخت موسیٰ ته معلومه شوه، چه

الْحُوْتُ مِنْ مَّاءِ تِلْكَ الْعَيْنِ
قَالَ فَتَحَرَّكَ وَانْسَلَّ مِنَ الْمِكْتَلِ
فَدَخَلَ الْبَحْرَ فَلَمَّا اسْتَيْقَظَ
مُوْسٰى قَالَ لِفَتَاهُ اٰتِنَا غَدَآءَنَا
الْاٰيَةَ وَلَمْ يَجِدِ النَّصَبَ حَتّٰى
جَاوَزَ مَا اُمِرَ بِهٖ قَالَ لَهٗ فَتَاهُ يُوْشَعُ
بْنُ نُوْنٍ اَرَاَيْتَ اِذْ اَوَيْنَا اِلَى الصَّخْرَةِ
فَاِنِّيْ نَسِيْتُ الْحُوْتَ الْاٰيَةَ قَالَ
فَرَجَعَا يَقُصَّانِ فِيْ اٰثَارِهِمَا فَوَجَدَا
فِي الْبَحْرِ كَالطَّاقِ مَمَرَّ الْحُوْتِ
فَكَانَ لِفَتَاهُ عَجَبًا وَلِلْحُوْتِ سَرَبًا
قَالَ فَلَمَّا انْتَهَيَا اِلَى الصَّخْرَةِ
اِذْهُمَا بِرَجُلٍ مُسَجًّى بِثَوْبٍ
فَسَلَّمَ عَلَيْهِ مُوْسٰى قَالَ وَاَنّٰى
بِاَرْضِكَ السَّلَامُ فَقَالَ اَنَا مُوْسٰى
قَالَ مُوْسٰى بَنِيْ اِسْرَائِيْلَ قَالَ
نَعَمْ قَالَ هَلْ اَتَّبِعُكَ عَلٰى اَنْ
تُعَلِّمَنِيْ مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا قَالَ
الْخَضِرُ يَا مُوْسٰى اِنَّكَ عَلٰى عِلْمٍ
مِنْ عِلْمِ اللّٰهِ عَلَّمَكَهُ اللّٰهُ لَا
اَعْلَمُهٗ وَاَنَا عَلٰى عِلْمٍ مِنْ عِلْمِ
اللّٰهِ عَلَّمَنِيْهِ اللّٰهُ لَا تَعْلَمُهٗ قَالَ
بَلْ اَتَّبِعُكَ قَالَ فَاِنِ اتَّبَعْتَنِيْ
فَلَا تَسْئَلْنِيْ عَنْ شَيْءٍ حَتّٰى
اُحْدِثَ لَكَ مِنْهُ ذِكْرًا فَانْطَلَقَا
يَمْشِيَانِ عَلَى السَّاحِلِ فَمَرَّتْ

مونږ ذ خپل مطلوبه ځائے نه مخکښ راغلي يو. نو ذ
قدمونو په نښه واپس راو ګرځيدل. خادم ورته اووے.
مانه تاسو ته يادول هير شو، چه هغے کانړي سره نزدے
کب درياب کښ ورک شوے وو، اوبه کوم ځائے چه
هغه تير شولو هلته ئے ذ تاخ شان نښه جوړه کړے وه.
غرض راواپس شو. اوچه هغے ځائے ته راورسيدل، نو يو
بزرګ ئے اوليدلو، چه کپړے ئے اغستے وے. موسٰي
عليه السلام ورته سلام اوکه، بزرګ اووے. خوک ئے،
او ذ کوم ځائے نه راغلے ئے. هغۀ ورته اووے، زۀ موسٰيؑ
يم. خضرؑ ورته اووے، ذ بني اسرائيلو موسٰيؑ ئے. موسٰيؑ
ورته اووے، جي، او، زۀ ذ بني اسرائيلو موسٰيؑ يم. بيا
موسٰيؑ اووے، آيا زۀ تا سره پاتے کيدے شم، چه تۀ ماته
خپل علم اوښائے. خضرؑ ورته اووے. اے موسٰيؑ، الله
تعالٰي چه تاته کوم علم در کړے دے، په هغے زۀ نشم
پوهيدے، او ماته چه ئے کوم علم راکړے دے، په هغے تۀ
نۀ شے پوهيدلے. خضر عليه السلام ورته اووے په دے
شرط ته ماسره پاتے کيدے شے، چه زۀ څۀ کوم، ذ هغے
بالکل تپوس نۀ کوے، خو پورے چه زۀ ئے خپله درته
اُونۀ ښايم. آخر موسٰيؑ او خضرؑ روان شو. ذ يو درياب په
غاړه غاړه تلل چه يوه کشتۍ ئے اوليده. ماڼو ګيانو
حضرت خضرؑ اوپيژندلو، او بے کيرائے ئے دواړه کشتي
کښ کينول. بيا يوه مرغئ راغله، او هغے خپلے مخوکے
سره ذ درياب نه اوبه راواخستے. حضرت خضرؑ اووے
اے موسٰيؑ ذ الله ذ علم مخکښ څما او ستا علم داسے
حيثيت لري، لکه ذ دې مرغئ ذ مخوکے اوبه. دے نه
پس خضرؑ ذ کشتۍ ذ يو ځائے نه تخته ماته کړه. حضرت

بِهِمَا سَفِيْنَةٌ فَعُرِفَ الْخَضِرُ فَحَمَلُوْهُمْ فِيْ سَفِيْنَتِهِمْ بِغَيْرِ نَوْلٍ يَقُوْلُ بِغَيْرِ اَجْرٍ فَرَكِبَا فِي السَّفِيْنَةِ قَالَ وَ وَقَعَ عُصْفُوْرٌ عَلٰى حَرْفِ السَّفِيْنَةِ فَغَمَسَ مِنْقَارَهُ الْبَحْرَ فَقَالَ الْخَضِرُ لِمُوْسٰى مَا عِلْمُكَ وَ عِلْمِيْ وَ عِلْمُ الْخَلَائِقِ فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ اِلَّا مِقْدَارَ مَا غَمَسَ هٰذَا الْعُصْفُوْرُ مِنْقَارَهٗ قَالَ فَلَمْ يَفْجَأْ مُوْسٰى اِذْ عَمَدَ الْخَضِرُ اِلٰى قَدُوْمٍ فَخَرَقَ السَّفِيْنَةَ فَقَالَ لَهٗ مُوْسٰى قَوْمٌ حَمَلُوْنَا بِغَيْرِ نَوْلٍ عَمَدْتَّ اِلٰى سَفِيْنَتِهِمْ فَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ اَهْلَهَا لَقَدْ جِئْتَ الْاٰيَةَ فَانْطَلَقَا اِذَا هُمَا بِغُلَامٍ يَلْعَبُ مَعَ الْغِلْمَانِ فَاَخَذَ الْخَضِرُ بِرَاْسِهٖ فَقَطَعَهٗ قَالَ لَهٗ مُوْسٰى اَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةً بِغَيْرِ نَفْسٍ لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا نُكْرًا قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَكَ اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ مَعِيَ صَبْرًا اِلٰى قَوْلِهٖ فَاَبَوْا اَنْ يُضَيِّفُوْهُمَا فَوَجَدَا فِيْهَا جِدَارًا يُرِيْدُ اَنْ يَنْقَضَّ فَقَالَ بِيَدِهٖ هٰكَذَا فَاَقَامَهٗ فَقَالَ لَهٗ مُوْسٰى اِنَّا دَخَلْنَا هٰذِهِ الْقَرْيَةَ فَلَمْ يُضَيِّفُوْنَا وَلَمْ يُطْعِمُوْنَا لَوْ شِئْتَ لَاتَّخَذْتَ عَلَيْهِ اَجْرًا قَالَ هٰذَا فِرَاقُ بَيْنِيْ وَ بَيْنِكَ سَاُنَبِّئُكَ بِتَاْوِيْلِ مَا لَمْ تَسْتَطِعْ عَلَيْهِ صَبْرًا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ

موسیٰ ته ډیر تعجب اوشو. او خضرؑ ته ئې اووې: دې خوارانو خو مونږ بې کیرائې کشتئ کښې کینولو او تا ورله هغه ماته کړه. دا خو تا د ټولو د غرق کولو کار اوکړلو. بنه دې اونه کړل حضرت خضرؑ ورته اووې، ما خو درته مخکښې وئیلې وو چه ته ماسره صبر نهٔ شې کولې. بیا روان شو، تردې چه یو هلک له راغلل، چه نورو هلکانو سره ئې لوبې کولې. خضرؑ هغه اونیولو او وې وژلو. او د هغهٔ سر ئې د تن نه جدا کړلو. موسي علیه السلام ورته اووې: دا د بې قصوره ولې قتل کړلو. خضرؑ ورته اووې، ګوره کنه، ما خو تاته مخکښې وئیلې وو: چه ته به ماسره صبر اونهٔ کړې شې. موسي علیه السلام ورته اووې خیر بیا که م درنه تپوس اوکړ نو خان سره م نور مهٔ ساته. بیا یو کلي ته اورسیدل، د هغې خائې د خلقونه ئې طعام طلب کړلو، خو کلي والو د میلمستیا نه انکار اوکړلو. هغې کلي کښې خضرؑ یو دیوال اولید: چه غرخیدونکې وو، خضرؑ پرې خپل لاس راښکلو، او هغه ئې نیغ کړلو. حضرت موسیٰؑ ورته اووې: تا خو ورله دیوال نیغ کړلو، حالانکه هغوي په مونږ ډوډي هم اونه خوړله، که تا غوښتلې نو د هغې اجرت به دې اخستلې وې. خضرؑ دې خل موسیٰؑ ته اووې: بس اوس ته رانه جدا شه، ځکه چه ته خما په خبرو صبر نه شې کولې، او اوس زهٔ تاته د دې خبرو حقیقت بنایم. دې نه پس حضور

صلى اللّٰه عليه وسلّم وددنا انّ موسٰى صبر حتّٰى يقصّ علينا من امرهما قال و كان ابن عبّاس يقرأ و كان امامهم ملك يّأخذ كلّ سفينة صالحة غصبًا وّ امّا الغلام فكان كافرًا.

صلي اللّٰـه عليـه وسلّم اوفرمائيل' ښه به وي' كه موسٰي صبر كړي وي' چه څه نورې خبرې هم ظهـور كـېـږې راغـلـې وې. سعيـد وائي. ابن عباسؓ بـه داسې لوستلو. و كـان امـامهـم ملك يـاخذ كـل سـفـيـنـة صـالـحة غـصـبًا و امـا الـغلام فـكـان كافرًا الخ.

## باب ۲۹۱ : قوله قل هل ننبّئكم بالأخسرين أعمالًا.

باب ۲۹۱ : آيت: قل هل ننبّئكم بالاخسرين اعمالًا الخ: ذ اللّٰـه تعالي قول' ورته اووايه' آيا زهٔ تاسو ته هغه خلق اوښايم' چه ذ عمل د اعتبار نه خساره او تاوان كښې دي.

۴۷۱: حدّثني محمّد بن بشّار حدّثنا محمّد بن جعفر حدّثنا شعبة عن عمرو عن مصعب قال سألت أبي قل هل ننبّئكم بالأخسرين أعمالًا هم الحروريّة قال لا هم اليهود والنّصارٰى امّا اليهود فكذّبوا محمّدًا صلّى اللّٰه عليه وسلّم و امّا النّصارٰى كفروا بالجنّة و قالوا لا طعام فيها ولا شراب والحروريّة الّذين ينقضون عهد اللّٰه من بعد ميثاقه و كان سعد يسمّيهم الفاسقين.

۴۷۱: محمد بن بشار. محمد بن جعفر. شعبه. عمر بن مره. مصعب بن سعد نه روايت كوي' ذ هغه بيان دې' ما ذ خپل پلار نه معلومه كړه' چه آيا ذ كومو خلقو ذكر چه دې آيت كښې دې' قل هل ننبئكم بالاخسرين اعمالًا الخ: هغه ذ حروريه كلي خلق دي' نو هغهٔ اووې' نه' بلكه هغوي يهود ديان او نصاري دي' ځكه چه يهوديانو حضور صلي اللّٰـه عليـه وسلّم دروغجن اوګڼړلو' او نصاري پـه جنـت يقين نه لري' او وائي هلته خو ذ خوراك څـكـاك څـهٔ څيز هم نشته. او حروريه هغه دي چه هغوي عهد شكني كړې وه' او سعد به هغوئ ته فاسق وئيلې.

## باب ۲۹۲ : قوله أولٰئك الّذين كفروا بأيٰت ربّهم و لقآئه فحبطت أعمالهم.

باب ۲۹۲ : آيت: اولٰئك الّذين كفروا بايٰت ربّهم: ذ اللّٰه تعالي قول' دا هغه خلق دي' چه ذ خپل رب ښيے نيے دروغ اوګڼړلے' او ذ هغهٔ ذ ملاقات نه ئے انكار اوكړلو' نو ذ هغوي ټول اعمال برباد شولو.

۴۷۱۵: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سَعِيْدُ بْنُ اَبِيْ مَرْيَمَ اَخْبَرَنَا الْمُغِيْرَةُ قَالَ حَدَّثَنِيْ اَبُو الزِّنَادِ عَنِ الْاَعْرَجِ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّهُ لَيَأْتِيَ الرَّجُلُ الْعَظِيْمُ السَّمِيْنُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا يَزِنُ عِنْدَ اللّٰهِ جَنَاحَ بَعُوْضَةٍ وَ قَالَ اقْرَءُوْا فَلَا نُقِيْمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَزْنًا وَ عَنْ يَحْيَى بْنِ بُكَيْرٍ عَنِ الْمُغِيْرَةِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ اَبِي الزِّنَادِ مِثْلَهُ.

۴۷۱۵: محمد بن عبدالله. سعيد بن ابي مريم. مغيره. ابوالزناد. اعرج. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت كوي، ذ هغه بيان دے. حضور صلي الله عليه وسلّم ارشاد اوفرمائيلو، ذ قيامت په ورځ به يو ډير غټ تازه سړے راوستے شي، خو هغه به ذ الله تعالٰي په نزد ذ ماشي نه هم زيات حقير (سپک) وي، دے نه پس حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، ددے مطلب دادے: فلا نقيم لهم يوم القيٰمة وزنا: الخ مونږ به ذ قيامت په ورځ هغوي ذ پاره وزن قائم نۀ كړو. دا حديث يحيٰي ذ مغيره نه او هغه د ابوالزناد نه دا شان روايت كړے دے.

# سُوْرَةُ كٓهٰيٰعٓصٓ

# دَ سورهٔ مريم تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ اَبْصِرْبِهِمْ وَ اَسْمِعْ اللّٰهُ يَقُوْلُ وَهُمُ الْيَوْمَ لَا يَسْمَعُوْنَ وَلَا يُبْصِرُوْنَ فِيْ ضَلَالٍ مُّبِيْنٍ يَعْنِيْ قَوْلَهُ اَسْمِعْ بِهِمْ وَ اَبْصِرُ الْكُفَّارُ يَوْمَئِذٍ اَسْمَعُ شَيْءٍ وَ اَبْصَرُهُ لَاَرْجُمَنَّكَ لَاَشْتِمَنَّكَ وَرِئْيًا مَنْظَرًا وَّ قَالَ اَبُوْ وَائِلٍ عَلِمَتْ مَرْيَمُ اَنَّ التَّقِيَّ ذُوْ نُهْيَةٍ حَتّٰى قَالَتْ اِنِّيْ اَعُوْذُ بِالرَّحْمٰنِ مِنْكَ اِنْ كُنْتَ تَقِيًّا وَ قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ تَؤُزُّهُمْ اَزًّا تُزْعِجُهُمْ اِلَى الْمَعَاصِيْ اِزْعَاجًا وَّ قَالَ مُجَاهِدٌ اِدًّا عِوَجًا قَالَ

د ابن عباسؓ بيان دے. ''ابصرهم واسمع'' ذ قيامت په ورځ به كافر ښۀ آوري اووينى، دا به هغۀ وي، چه هغوي ذُنيا كښې د رسول اكرمؐ او ذ خدائے خبرے نۀ اوريدے، او نه ئے پرے خان پوهـ كړلو. (بخاري هم دا خيال ظاهر كړے دے). ''لارجمنک'' معني دي، زۀ به دربانديے ذ كنځلو بار اوچلوم. ''ورئيا'' معني منظرا دي، يعني ليدو كښې. ابو وائل وائي، مريم پوهيدله، چه خوک پرهيزګار وي، هغه عقلمند وي، په دے وجه هغے وئيلے وو: اني اعوذ بالرحمٰن منک ان كنت تقيا: سفيان وائي ''تؤزهم'' معني دي، چه شيطان هغوي جوت كړي دي، ذ مجاهد بيان دے: ادًا: معني كرهٔ يعني غلطه خبره. ابن عباسؓ وائي ''وِرْدًا'' معني تږے. ''اثاثا'' معني مال. ''ادًا''

ابْنُ عَبَّاسٍ وِرْدًا عِطَاشًا أَثَاثًا مَالًا إِدًّا قَوْلًا عَظِيْمًا رِكْزًا صَوْتًا غَيًّا خُسْرَانًا بُكِيًّا جَمَاعَةُ بَاكٍ صَلِيًّا صَلِيَ يَصْلَى نَدِيًّا وَالنَّادِيْ مَجْلِسًا.

لويه خبره "ركز" پست آواز. "غَيًّا" خساره. "بكيا" د باک جمع ژړا کونکي. "صِلِيًّا" صلي' يصلى' د دے مصدر دے معني اُور کښې کرځيدل. "نديا" مجلس او محفل.

## باب ۲۹۳: قَوْلِهٖ وَ اَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ.

باب ۲۹۳: آيت: وَ اَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ: د الله تعالىٰ قول' دوي د حسرت د ورځے نه اويروه.

۴۷۱۶: حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ حَدَّثَنَا أَبِيْ حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ حَدَّثَنَا أَبُوْ صَالِحٍ عَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُؤْتٰى بِالْمَوْتِ كَهَيْئَةِ كَبْشٍ أَمْلَحَ فَيُنَادِيْ مُنَادٍ يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ فَيَشْرَئِبُّوْنَ وَ يَنْظُرُوْنَ فَيَقُوْلُ هَلْ تَعْرِفُوْنَ هٰذَا فَيَقُوْلُوْنَ نَعَمْ هٰذَا الْمَوْتُ وَ كُلُّهُمْ قَدْ رَاٰهُ ثُمَّ يُنَادِيْ يَا أَهْلَ النَّارِ فَيَشْرَئِبُّوْنَ وَ يَنْظُرُوْنَ فَيَقُوْلُ هَلْ تَعْرِفُوْنَ هٰذَا فَيَقُوْلُوْنَ نَعَمْ هٰذَا الْمَوْتُ وَ كُلُّهُمْ قَدْ رَاٰهُ فَيُذْبَحُ ثُمَّ يَقُوْلُ يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ خُلُوْدٌ فَلَا مَوْتٌ وَ يَا أَهْلَ النَّارِ خُلُوْدٌ فَلَا مَوْتٌ ثُمَّ قَرَأَ وَ أَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ إِذْ قُضِيَ الْأَمْرُ وَهُمْ فِيْ غَفْلَةٍ وَ هٰؤُلَاءِ فِيْ غَفْلَةٍ أَهْلُ الدُّنْيَا وَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ.

۴۷۱۶: عمر بن حفص بن غياث. غياث. اعمش. ابو صالح. حضرت ابو سعيد خدري نه روايت کوي: حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل' د قيامت په ورځ به مرګ د "کګ" په شکل کښې راوستے شي. او جنتيانو ته به اوونيلے شي. اوګورئے آيا دا تاسو پيژنئے تول به اووائي' او' دا مرګ دے. دا ټولو (د خپل خپل مرګ په وخت) ليدلے وو. دے نه پس به دوزخيانو ته اوونيلے شي. اوګورے. آيا دا تاسو پيژنئے. تول به اووائي' او' دا مرګ دے دے نه پس به هغه ذبح کړے شي. او جنتيانو ته به اوونيلے شي' ے فکره جنت کښې اوسيږے اوس به تاسوته هيڅ کله مرګ نۀ راځي' او دغه شان دوزخيانو ته به اوونيلے شي. بيا حضور صلي الله عليه وسلّم دا آيت تلاوت کړلو: وَ انذرهم يوم الحسرة الخ اے رسوله' دا خلق د حسرت د ورځے نه اويروه' په کومه ورځ چه به ارمان کوي هر کله چه فيصله اوشي' او دا خلق بيا هم په غفلت کښې پراتۀ دي' او ايمان نۀ راوړي.

## باب ۲۹۴: قَوْلِهٖ وَمَا نَتَنَزَّلُ اِلَّا بِاَمْرِ رَبِّكَ.

باب ۲۹۴: آيت: وَمَا نَتَنَزَّلُ اِلَّا بِاَمْرِ رَبِّكَ: د الله تعالىٰ قول' چه ستا د رب د حکم نه بغير مونږ نۀ شُو راتلے.

۱۷ ۷: حَدَّثَنَا اَبُوْ نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ ذَرٍّ قَالَ سَمِعْتُ اَبِيْ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِجِبْرِيْلَ مَا يَمْنَعُكَ اَنْ تَزُوْرَنَا فَنَزَلَتْ وَمَا نَتَنَزَّلُ اِلَّا بِاَمْرِ رَبِّكَ لَهُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْنَا وَمَا خَلْفَنَا.

۱۷ ۷: ابو نعيم. عمر بن ذر. ذر. سعيد بن جبير. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي حضور صلي الله عليه وسلم جبرائيلؑ ته اوفرمائيل اے جبرائيل تۀ څۀ خيز منع كړے چه څومره څله ماله راځے ذ هغے نه زيات څله راځه. نو دا آيت نازل شو: وَمَا نَتَنَزَّلُ اِلَّا بِاَمْرِ رَبِّكَ الخ: يعني زۀ د الله تعالي د حكم او اجازت نه بغير نشم راتلے او كوم وخت چه حكم راكوي نو هغه وخت راځم.

بَاب ۲۹۵: قَوْلِهٖ اَفَرَاَيْتَ الَّذِيْ كَفَرَ بِاٰيٰتِنَا وَ قَالَ لَاُوْتَيَنَّ مَالًا وَّ وَلَدًا.

باب ۲۹۵: آيت: اَفَرَاَيْتَ الَّذِيْ كَفَرَ بِاٰيٰتِنَا: د الله تعالي قول آيا تا اونۀ ليدل چا چه څمونږ د اياتونو نه انكار اوكه او وئيلے ماته به هلته هم مال و اولاد حاصليږي.

۱۸ ۷: حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنِ الضُّحٰى عَنْ مَسْرُوْقٍ قَالَ سَمِعْتُ خَبَّابًا قَالَ جِئْتُ الْعَاصِيَ ابْنَ وَائِلٍ السَّهْمِيَّ اَتَقَاضَاهُ حَقًّا لِيْ عِنْدَهٗ فَقَالَ لَا اُعْطِيْكَ حَتّٰى تَكْفُرَ بِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ لَا حَتّٰى تَمُوْتَ ثُمَّ تُبْعَثَ قَالَ وَ اِنِّيْ لَمَيِّتٌ ثُمَّ مَبْعُوْثٌ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ اِنَّ لِيْ هُنَاكَ مَالًا وَّ وَلَدًا فَاَقْضِيْكَهٗ فَنَزَلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ اَفَرَاَيْتَ الَّذِيْ كَفَرَ بِاٰيَاتِنَا وَ قَالَ لَاُوْتَيَنَّ مَالًا وَّ وَلَدًا رَوَاهُ الثَّوْرِيُّ وَ شُعْبَةُ حَفْصٌ وَ اَبُوْ مُعَاوِيَةَ وَ وَكِيْعٌ عَنِ الْاَعْمَشِ.

۱۸ ۷: حميدي. سفيان. اعمش. ابي الضحي. مسروق. حضرت خبابؓ نه روايت كوي هغۀ اووے زۀ عاص بن ابي وايل سهمي له راغلم او د هغۀ نه مې خپل اجرت طلب ؤ كۀ هغۀ اووے څو پورے چه تۀ محمد (صلي الله عليه وسلم) پرے نۀ ږدے زۀ ستا اجرت نۀ دركوم ما ورته اووے كه تۀ د مرګ نه پس هم ژوندے شے يعني قيامته پورے) نو بيا به هم زۀ كفر اونۀ كړم. هغۀ اووے آيا چه زۀ مړ شم بيا به هم ژوندے كيږم نو هلته به ماته مال و اولاد په لاس راشي نو تاته به ستا حق دركړم نو دا آيت نازل شو. اَفَرَاَيْتَ الَّذِيْ كَفَرَ بِاٰيٰتِنَا وَ قَالَ لَاُوْتَيَنَّ مَالًا وَّ وَلَدًا: دا حديث ثوري شعبه حفص ابو معاويه و كيع اعمش نه روايت كړے دے.

۱. خباب رضي الله عنه به د لرهارئ كار كولو او عاص بن وائل په هغه باندې يوه توره جوړه كړې وه، د هغې مزدوري ورته پاتې وه، د هغې غوښتلو د پاره ورله ورغلې وو، مشهور صحابي عمرو بن عاص رضي الله عنه د هغه خوئې دې. دا واقعه د مكې مكرمې ده.

باب ۲۹۶: قَوْلِهِ اَطَّلَعَ الْغَيْبَ اَمِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا؛ قَالَ مَوْثِقًا.

باب ۲۹۶: آيت: اَطَّلَعَ الْغَيْبَ اَمِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا: دَ الله تعالىٰ قول. آيا هغه په غيب خبردار شوې دې يا هغه الله سره څه عهد كړې دې. "عهدا" معنې مضبوط اقرار دې.

۴۱۹: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيْرٍ اَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ اَبِي الضُّحٰى عَنْ مَسْرُوْقٍ عَنْ خَبَّابٍ قَالَ كُنْتُ قَيْنًا بِمَكَّةَ فَعَمِلْتُ لِلْعَاصِ بْنِ وَائِلِ السَّهْمِيِّ سَيْفًا فَجِئْتُ اَتَقَاضَاهُ فَقَالَ لَا اُعْطِيْكَ حَتّٰى تَكْفُرَ بِمُحَمَّدٍ قُلْتُ لَا اَكْفُرُ بِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى يُمِيْتَكَ اللّٰهُ ثُمَّ يُحْيِيَكَ قَالَ اِذَا اَمَاتَنِيَ اللّٰهُ ثُمَّ بَعَثَنِيْ وَلِيَ مَالٌ وَ وَلَدٌ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ اَفَرَاَيْتَ الَّذِيْ كَفَرَ بِاٰيٰتِنَا وَ قَالَ لَاُوْتَيَنَّ مَالًا وَّ وَلَدًا اَطَّلَعَ الْغَيْبَ اَمِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا قَالَ مَوْثِقًا لَمْ يَقُلِ الْاَشْجَعِيُّ عَنْ سُفْيَانَ سَيْفًا وَلَا مَوْثِقًا.

۴۱۹: محمد بن كثير. سفيان. اعمش. ابوالضحي. مسروق. حضرت خبابؓ نه روايت كوي، هغه اووې، ما مكه كښې د اوسپنې كار كولو. ما عاص بن وائل د پاره يوه توره جوړه كړه. بيا يوه ورځ هغه له ورغلم، او مزدوري مې ترې اوغوښتله، هغه اووې. څو پورې چه ته محمد (صلي الله عليه وسلّم) ته بد نه وائې زه اجرت (مزدوري) نه دركوم. ما ورته اووې. زه خو حضور صلي الله عليه وسلّم سره گستاخي هغه وخته پورې هم نه شم كولې څو پورې چه الله تا مړ كړي او بيا دې ژوندې كړي (يعني حضور صلي الله عليه وسلّم سره خو د گستاخئ كولو سوال نه پيدا كيږي) عاص اووې. آيا الله د مرگ نه پس هم ژوندي كول كوي. او كه داسې اوكړي، نو بيا هلته به هم زه د اولاد او مال خاوند يم. هلته به (مزدوري دې) دركړم. نو دغه وخت دا آيت نازل شو. اشجعي چه سفيان نه كوم روايت كړې دې. هغې كښې د تورې (تلوار) ذكر نشته.

باب ۲۹۷: قَوْلِهِ كَلَّا سَنَكْتُبُ مَا يَقُوْلُ وَ نَمُدُّ لَهُ مِنَ الْعَذَابِ مَدًّا.

باب ۲۹۷: آيت: كَلَّا سَنَكْتُبُ مَا يَقُوْلُ: دَ الله تعالىٰ قول، مونږ ليكو، څه چه هغه وائي، او روزانه به هغه له زيات عذاب وركوو

**۴۲۰ ۷**: حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ سُلَيْمَانَ سَمِعْتُ اَبَا الضُّحٰى يُحَدِّثُ عَنْ مَسْرُوْقٍ عَنْ خَبَّابٍ قَالَ كُنْتُ قَيْنًا فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَ كَانَ لِيْ دَيْنٌ عَلَى الْعَاصِ بْنِ وَآئِلٍ قَالَ فَاَتَاهُ يَتَقَاضَاهُ فَقَالَ لَا اُعْطِيْكَ حَتّٰى تَكْفُرَ بِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ وَاللّٰهِ لَا اَكْفُرُ حَتّٰى يُمِيْتَكَ اللّٰهُ ثُمَّ تُبْعَثُ قَالَ فَذَرْنِيْ حَتّٰى اَمُوْتَ ثُمَّ اُبْعَثُ فَسَوْفَ اُوْتٰى مَالًا وَّ وَلَدًا فَاَقْضِيْكَ فَنَزَلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ اَفَرَاَيْتَ الَّذِيْ كَفَرَ بِاٰيٰتِنَا وَ قَالَ لَاُوْتَيَنَّ مَالًا وَّ وَلَدًا.

**۴۲۰ ۷**: بشر بن خالد. محمد بن جعفر. شعبه. سليمان. ابوالضحي. مسروق. حضرت خبابؓ نه روايت كوي، دَ هغـه بيان دے. دَ جاهليت زمانه كښې ما دَ لوهاري پيشه كوله، عاص بن وائل باندے خما قرض وو. دَ هغے وصولولو دَ پاره زهٔ هغهٔ له ورغلم، هغهٔ ماته اووے، زهٔ ستا واجب الادا رقم هغه وخته پورے نشم دركولے، څو پورے چه ته دَ محمد (صلي الله عليه وسلّم) نه انكار اونهٔ كړے، ما اووے، قسم په خدائے، زهٔ حضور صلي الله عليه وسلّم سره دا معامله هغه وخته پورے نشم كولے، څو پورے چه الله تعالٰي تا مړ كړي او دوباره دے ژوندے نـهٔ كـړي. عـاص اووے. بنهٔ خبره ده، چه زهٔ دوباره راژوندے كړے شم، نو ماسره به ډير مال وي، هغه وخت به زهٔ ستا مطالبه پوره كړم، نو دا آيت نازل شو: اَفَرَاَيْتَ الَّذِى كَفَرَ بِاٰيٰتِنَا: الخ.

**بَابٌ ۲۹۸**: قَوْلِهٖ عَزَّ وَ جَلَّ وَ نَرِثُهٗ مَا يَقُوْلُ وَ يَاْتِيْنَا فَرْدًا وَّ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ الْجِبَالُ هَدًّا هَدْمًا.

**باب ۲۹۸**: آيت: وَ نَرِثُهٗ مَا يَقُوْلُ: دَ الله تعالٰي قول، څه چه دے وائي، هغه مونږ ليكو، او هغه به مونږ ته يوازے راځي. ابن عباسؓ وائي "هدًا" معني دهماكے سره غرځيدل دي، او "هدمًا" معني منهدم كيدو سره غرځيدل.

**۴۲۱ ۷**: حَدَّثَنَا يَحْيٰى حَدَّثَنَا وَكِيْعٌ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ اَبِى الضُّحٰى عَنْ مَسْرُوْقٍ عَنْ خَبَّابٍ قَالَ كُنْتُ رَجُلًا قَيْنًا وَ كَانَ لِيْ عَلَى الْعَاصِ بْنِ وَآئِلٍ دَيْنٌ فَاَتَيْتُهُ اَتَقَاضَاهُ فَقَالَ لِيْ لَا اَقْضِيْكَ حَتّٰى تَكْفُرَ بِمُحَمَّدٍ قَالَ قُلْتُ لَنْ اَكْفُرَ بِهٖ حَتّٰى تَمُوْتَ ثُمَّ تُبْعَثَ

**۴۲۱ ۷**: يحيي. وكيع. اعمش. ابوالضحي. مسروق. حضرت خبابؓ نه روايت كوي. دَ هغهٔ بيان دے، چه ما دَ لوهاري پيشه كوله. عاص بن وائل باندے خما څهٔ قرضه پورے وه دَ هغے وصولولو دَ پاره زهٔ هغهٔ له ورغلم، نو هغهٔ اووے، اے خبابهٔ څو پورے چه ته محمد (صلي الله عليه وسلّم) نه وانهٔ وړے، زهٔ به نے درته ادا نهٔ كړم. ما ورته اووے، داسے هيڅ كله نشي كيدے،

قَالَ وَ اِنِّیْ لَمَبْعُوْثٌ مِنْ بَعْدِ الْمَوْتِ فَسَوْفَ اَقْضِیْكَ اِذَا رَجَعْتُ اِلٰی مَالٍ وَّ وَلَدٍ قَالَ فَنَزَلَتْ اَفَرَاَیْتَ الَّذِیْ كَفَرَ بِاٰیٰتِنَا وَ قَالَ لَاُوْتَیَنَّ مَالًا وَّ وَلَدًا اَطَّلَعَ الْغَیْبَ اَمِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا كَلَّا سَنَكْتُبُ مَا یَقُوْلُ وَ نَمُدُّ لَهٗ مِنَ الْعَذَابِ مَدًّا وَ نَرِثُهٗ مَا یَقُوْلُ وَ یَاْتِیْنَا فَرْدًا.

اګر که ته مړ شے' او بيا هم راژوندے شے. هغۀ جواب راکۀ: ډيره ښۀ ده. زۀ چه مړ شم' نو مال او اولاد طرف ته به واپس شم' هغه وخت به نے ادا کړم' نو دغه وخت دا آيت نازل شو: افرايت الّذی: الخ يعني آيا تا وليدل' چا چه خمونږ د آيتونو نه انکار اوکړ' او وئيلے' چه ماته به مال او اولاد راکړے شي. آيا دۀ ته په غيبو اطلاع ورکړے شوے ده. يا د رحمٰن نه ئے پخه وعده آخستے ده' آخر پورے.

# سُوْرَةُ طٰهٰ

# دَ سورۀ طٰهٰ تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

قَالَ ابْنُ جُبَیْرٍ وَالضَّحَّاكُ بِالنَّبْطِیَّةِ طٰهٰ یَا رَجُلُ یُقَالُ كُلُّ مَالَمْ یَنْطِقْ بِحَرْفٍ اَوْ فِیْهِ تَمْتَمَةٌ اَوْ فَاْفَاَةٌ فَهِیَ عُقْدَةٌ اَزْرِیْ ظَهْرِیْ فَیُسْحِتَكُمْ یُهْلِكَكُمُ الْمُثْلٰی تَانِیْثُ الْاَمْثَلِ ثُمَّ ائْتُوْا صَفًّا یُقَالُ هَلْ اَتَیْتَ الصَّفَّ الْیَوْمَ یَعْنِی الْمُصَلّٰی الَّذِیْ یُصَلّٰی فِیْهِ فَاَوْجَسَ اَضْمَرَ خَوْفًا فَذَهَبَتِ الْوَاوُ مِنْ خِیْفَةً لِكَسْرَةِ الْخَاءِ فِیْ جُذُوْعِ اَیْ عَلٰی جُذُوْعِ خَطْبُكَ بَالُكَ مِسَاسُ مَصْدَرُ مَاسَّهٗ مِسَاسًا لَنَنْسِفَنَّهٗ لَنُذْرِیَنَّهٗ قَاعًا یَعْلُوْهُ الْمَآءُ وَالصَّفْصَفُ الْمُسْتَوِیْ مِنَ الْاَرْضِ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ مِنْ زِیْنَةِ الْقَوْمِ الْحُلِیِّ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

ابن جبير او ضحاک وائي' حبشي ژبه کښې د "طٰه" مطلب' چه اے مرده' يا اے سړيه. د "عقده" معني د غوټے دي' يعني د چا د ژبے نه صحيح لفظ نشي وتلے. "اَلْقی" يعني هغۀ اوغرخوله. "ازری" معني خما شا. "فيسحتکم" معني تاسو به هلاک کړي. "المثلٰی" دا د امثل مؤنث دے' معني دي' بهتره خبره' ښۀ خبره. "ثمّ ائتوا صفا" صف جوړ کړے راشئے' يعني د مونځ په مقام صف کښې راشے' اودريږے "فاوجس" معني دي' اويريدلو. "خيفة" اصل کښې خوفا وو. واو' ياء سره بدل شو. "فی جذوع النخل" د قجورے په بناخونو. دلته "في" د علٰی په معني کښې دے. "خطبک" ستا څۀ حال دے. ستا معامله څنګه ده. "مساس" مس کول. دا مصدر دے. "لننسفنّه" والوخوو. مونږ به هغه تس نس کړو. "قاعا" هغه زمکه چه د هغے د پاسه اوبه راشي. "صفصف" آوارے زمکے ته وائي. د مجاهد بيان دے.

الَّذِي اسْتَعَارُوْا مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ فَقَذَفْتُهَا فَأَلْقَيْتُهَا أَلْقَى صَنَعَ فَنَسِيَ مُوْسٰى هُمْ يَقُوْلُوْنَهُ أَخْطَأَ الرَّبَّ لَا يَرْجِعُ إِلَيْهِمْ قَوْلًا الْعِجْلُ هَمْسًا حِسَّ الْأَقْدَامِ حَشَرْتَنِيْ أَعْمٰى عَنْ حُجَّتِيْ وَقَدْ كُنْتُ بَصِيْرًا فِي الدُّنْيَا قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رض بِقَبَسٍ ضَلُّوا الطَّرِيْقَ وَكَانُوْا شَاتِيْنَ فَقَالَ إِنْ لَمْ أَجِدْ عَلَيْهَا مَنْ يَهْدِي الطَّرِيْقَ آتِكُمْ بِنَارٍ تُوْقِدُوْنَ وَقَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ أَمْثَلُهُمْ أَعْدَلُهُمْ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رض هَضْمًا لَا يُظْلَمُ فَيُهْضَمُ مِنْ حَسَنَاتِهِ عِوَجًا وَادِيًا أَمْتًا رَابِيَةً سِيْرَتَهَا حَالَتَهَا الْأُوْلٰى النُّهٰى التُّقٰى ضَنْكًا الشَّقَاءُ هَوٰى شَقِيَ الْمُقَدَّسِ الْمُبَارَكِ طُوًى اسْمُ الْوَادِيْ بِمَلْكِنَا بِأَمْرِنَا مَكَانًا سُوًى مَنْصَفٌ بَيْنَهُمْ يَبَسًا يَابِسًا عَلٰى قَدَرٍ مَوْعِدٍ لَا تَنِيَا تَضْعُفَا.

"زينة القوم" نه مراد دَ بني اسرائيلو زيبائش دے. "آواز" معني بوج. "فقذفتها" معني دي ما هغه اوغرځولو. "فالقيتها" ما هغه اوغرځولو "فنسی" هغه نه هیر شولو "لا يرجع اليهم قولا" يعني هغه ذ هغوي دَ قول جواب هم نهٔ ورکوي "همسا" ذ پښپے آواز. "حشرتنی اعمٰی" زهٔ دے ړوند ولے پاسولم، دُنیا کښې ماته رنړا معلومیدله ابن عباس رض وائي "بقبس" معني دي، موسیٰ علیه السلام نه لار خطا شوه. سخته یخني وَه. وئیلے، که څوک لار ښودُنکے مو بیا مندلو، نو خیر، ګني لږ غُندے اور به راوړم. ابن عیینه وائي "امثلهم" نه مراد پوه سړے دے. ابن عباس رض وائي ابن عیینه وائي. "هضمًا" نه مراد دے، په هغهٔ به زیاتے نهٔ کیږي. د هغهٔ ثواب به نهٔ کمیږي "عوجًا" معني کوږوالے. "امتا" معني بلندي. "سیرت" حالت. "النهٰی" عقل. "التقی" بچ کیدل، پرهیزګاري. "ضنکا" بدبختي. "هوی" اوغرځید. "شقی" تکلیف کښې پریوت. "مقدس" پاک. "طوی" وادي. "بملکنا" خپل اختیار سره. "مکانا سوی" اوار ځائے. "یبسا" خشک. "علی قدر" په اندازه. "موعد" دَ وخت مطابق. "لاتنیا" سستي مهٔ کوئ، کمزوري مهٔ کوی.

## بَابُ ۲۹۹: قَوْلُهٗ وَاصْطَنَعْتُكَ لِنَفْسِيْ.

باب ۲۹۹: آیت: واصطنعتک لنفسی: دَ الله تعالیٰ قول، اے موسیٰ، ما ته ځان د پاره جوړ کړے ئے.

۴۲۷۰: حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا الصَّلْتُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا مَهْدِيُّ بْنُ مَيْمُوْنٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سِيْرِيْنَ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْتَقٰى

۴۲۷۰: صلت بن محمد. مهدي بن میمون. محمد بن سیرین. حضرت ابوهریرة رض نه روایت کوي، رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، دَ حضرت آدمؑ او حضرت موسیٰؑ ملاقات اوشو، نو حضرت موسیٰؑ حضرت ادمؑ ته اووے، ته هغهٔ آدم ئے، چه هغه ټول خلق

اٰدَمُ وَ مُوْسٰى فَقَالَ مُوْسٰى لِاٰدَمَ اَنْتَ الَّذِىْ اَشْقَيْتَ النَّاسَ وَ اَخْرَجْتَهُمْ مِنَ الْجَنَّةِ قَالَ لَهُ اٰدَمُ اَنْتَ الَّذِىْ اصْطَفَاكَ اللّٰهُ بِرِسَالَتِهٖ وَاصْطَفَاكَ لِنَفْسِهٖ وَ اَنْزَلَ عَلَيْكَ التَّوْرَاةَ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَوَجَدْتَّهَا كُتِبَ عَلَىَّ قَبْلَ اَنْ يَخْلُقَنِىْ قَالَ نَعَمْ فَحَجَّ اٰدَمُ مُوْسٰى اَلْيَمُّ الْبَحْرُ.

دے محنت کښې اوغرځول' او ذ جنت نه دے بهر له راوبښکل حضرت آدمؑ ورته اوفرمائيل' آيا ته هغه موسیٰ نې' چه هغهٔ ته الله تعالٰي پيغمبري عطا کړله خان ذ پاره نې خاص کړلو' او بيائے په تا تورات نازل کړلو. موسٰي عليه السلام جواب ورکه' جي' او' حضرت آدمؑ ورته اووے تا به خما حالات تورات کښې لوستے وي. جواب ئے ورکهٔ' او' آدمؑ اووئيل خما پيدا کيدو نه وړاندے خدائے دا ليکلي وو. حضور صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل' آدمؑ په موسیٰؑ غالب راغے. "يم" معني سمندر يا درياب.

باب ۳۰۰: قَوْلِهٖ وَلَقَدْ اَوْحَيْنَا اِلٰى مُوْسٰى اَنْ اَسْرِ بِعِبَادِىْ فَاضْرِبْ لَهُمْ طَرِيْقًا فِى الْبَحْرِ يَبَسًا لَّا تَخَافُ دَرَكًا وَّلَا تَخْشٰى فَاَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ بِجُنُوْدِهٖ فَغَشِيَهُمْ مِنَ الْيَمِّ مَا غَشِيَهُمْ وَ اَضَلَّ فِرْعَوْنُ قَوْمَهٗ وَمَا هَدٰى.

باب ۳۰۰: آيت: وَلَقَدْ اَوْحَيْنَا اِلٰى مُوْسٰى اَنْ اَسْرِ بِعِبَادِىْ: ذ الله تعالٰي قول' او مونږ موسیٰؑ ته وحي اوکړه' چه ته خمونږ بنديان شپه په شپه اوکاږه. بيا هغوي ذ پاره درياب کښې خشکه (اوچه) لار جوړه کړه او هيڅ خوف او انديښنه مه کوه. فرعون خپل لښکر سره هغوي پسے شو. بيا هغوي ذ درياب موجونو راګير کړل' او فرعون خپل قوم ګمراه کهٔ' ذ هدايت نه ئے لرے کهٔ.

۴۲۳: حَدَّثَنِىْ يَعْقُوْبُ بْنُ اِبْرَاهِيْمَ حَدَّثَنَا رَوْحٌ حَدَّثَنَا اَبُوْ بِشْرٍ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا قَدِمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِيْنَةَ وَالْيَهُوْدُ تَصُوْمُ عَاشُوْرَآءَ فَسَاَلَهُمْ فَقَالُوْا هٰذَا الْيَوْمُ الَّذِىْ ظَهَرَ فِيْهِ مُوْسٰى عَلٰى

۴۲۳: يعقوب بن ابراهيم. روح. شعبه. ابو بشر. سعيد بن جبير. حضرت ابن عباسؓ نه روايت کوي. حضور صلي الله عليه وسلم چه کرم وخت ذ هجرت نه پس مدينے منوّرے ته تشريف راوړلو' نو يهوديان ئے اوليدل' چه ذ عاشورے روژه ئے نيولے وه. ذ هغوي نه ئے ذ دے وجه اوپښتله' نو هغوي ورته اووے دا هغه ورځ ده' چه موسٰي عليه السلام په فرعون غلبه بيامندے وه' نو حضور صلي الله عليه وسلم صحابه ؓ ته اوفرمائيل' ذ

فِرْعَوْنَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْنُ اَوْلٰى بِمُوْسٰى مِنْهُمْ فَصُوْمُوْهُ.

حضرت موسیٰ دَ غالب راتلو مونږ له زیاته خوشحالي پکار ده، تاسو هم دا روژه اونیسئ.

بَابٌ ۱۰۳: قَوْلِهٖ فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ الْجَنَّةِ فَتَشْقٰى.

**باب ۱۰۳:** آیت: فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ الْجَنَّةِ فَتَشْقٰى: دَ الله تعالیٰ قول، چرته شیطان مو دَ جنت نه اونه کاږي.

۴۲۴۷: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا اَيُّوْبُ بْنُ النَّجَّارِ عَنْ يَحْيٰى بْنِ اَبِيْ كَثِيْرٍ عَنْ اَبِيْ سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ حَاجَّ مُوْسٰى اٰدَمَ فَقَالَ لَهٗ اَنْتَ الَّذِيْ اَخْرَجْتَ النَّاسَ مِنَ الْجَنَّةِ بِذَنْبِكَ وَ اَشْقَيْتَهُمْ قَالَ قَالَ اٰدَمُ يَا مُوْسٰى اَنْتَ الَّذِي اصْطَفَاكَ اللّٰهُ بِرِسَالَتِهٖ وَ بِكَلَامِهٖ اَتَلُوْمُنِيْ عَلٰى اَمْرٍ كَتَبَهُ اللّٰهُ عَلَيَّ قَبْلَ اَنْ يَخْلُقَنِيْ اَوْ قَدَّرَهٗ عَلَيَّ قَبْلَ اَنْ يَخْلُقَنِيْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَجَّ اٰدَمُ مُوْسٰى.

۴۲۴۷: قتیبه. ابو بن نجار. یحيٰی بن ابي کثیر. ابي سلمه بن عبدالرحمٰن. حضرت ابوهریرهؓ نه روایت کوي، رسول الله صلي الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو، حضرت موسیٰ حضرت آدمؑ ته اوفرمائیل، آیا ته هغه آدم نه یې، چه هغه ټول خلق پریشاني کښې اوغرځول، او جنت نه یې راوښکل. حضرت آدمؑ حضرت موسیٰ ته اووې، آیا ته هغه موسیٰ نه یې، چه هغه خدائې خپل رسالت او خپل کلام دَ پاره خوښ کړلو، نو آیا ته په ما دَ یو داسې څیز الزام عائد کوې، چه هغه دَ مخکښې نه خدائې تعالیٰ په تقدیر کښې لیکلې وو. حضور صلي الله علیه وسلم فرمائي، چه آدمؑ خپل تقریر کښې په موسیٰ غالب راغلو.

# سُوْرَةُ الْاَنْبِيَآءِ

# دَ سورهٔ انبیاء تفسیر

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

۴۲۵۷: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ اَبِيْ اِسْحٰقَ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

۴۲۵۷: محمد بن بشار. غندر. شعبه. ابو اسحاق. عبدالرحمٰن بن زید. عبدالله بن مسعودؓ نه روایت کوي، دَ هغهٔ بیان دې، سورهٔ بني اسرائیل، کهف

يَزِيْدَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ بَنِيْٓ اِسْرَآئِيْلَ وَالْكَهْفُ وَ مَرْيَمُ وَ طٰهٰ وَالْاَنْبِيَآءُ هُنَّ مِنَ الْعِتَاقِ الْاُوَلِ وَ هُنَّ مِنْ تِلَادِيْ وَ قَالَ قَتَادَةُ جُذٰذًا قَطَّعَهُنَّ وَ قَالَ الْحَسَنُ فِيْ فَلَكٍ مِثْلُ فِلْكَةِ الْمِغْزَلِ يَسْبَحُوْنَ يَدُوْرُوْنَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ نَفَشَتْ رَعَتْ يُصْحَبُوْنَ يُمْنَعُوْنَ اُمَّتُكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً قَالَ دِيْنُكُمْ دِيْنٌ وَّاحِدٌ وَ قَالَ عِكْرِمَةُ حَصَبُ حَطَبُ بِالْحَبْشِيَّةِ وَ قَالَ غَيْرُهُ اَحَسُّوْا تَوَقَّعُوْهُ مِنْ اَحْسَسْتُ خَامِدِيْنَ هَامِدِيْنَ حَصِيْدٌ مُسْتَأْصَلٌ يَقَعُ عَلَى الْوَاحِدِ وَالْاِثْنَيْنِ وَالْجَمِيْعِ لَا يَسْتَحْسِرُوْنَ لَا يُعْيُوْنَ وَ مِنْهُ حَسِيْرٌ وَ حَسَرْتُ بَعِيْرِيْ عَمِيْقٌ بَعِيْدٌ نُكِسُوْا رُدُّوْا صَنْعَةَ لَبُوْسٍ الدُّرُوْعُ تَقَطَّعُوْا اَمْرَهُمْ اخْتَلَفُوْا الْحَسِيْسُ وَالْحِسُّ وَالْجَرْسُ وَالْهَمْسُ وَاحِدٌ وَّهُوَ مِنَ الصَّوْتِ الْخَفِيِّ اٰذَنَّاكَ اَعْلَمْنَاكَ اٰذَنْتُكُمْ اِذَا اَعْلَمْتَهُ فَاَنْتَ وَهُوَ عَلٰى سَوَآءٍ لَمْ تَغْدِرْ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ لَعَلَّكُمْ تُسْئَلُوْنَ تُفْهَمُوْنَ اِرْتَضٰى رَضِيَ التَّمَاثِيْلُ الْاَصْنَامُ السِّجِلُّ الصَّحِيْفَةُ.

**باب ۳۰۲: قَوْلِهٖ كَمَا بَدَاْنَا اَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيْدُهٗ.**

۴۲۶۷: حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ

مريم، طٰهٰ او انبياء، دا مخکني سورتونه دي، چه مکه کښې نازل شوې وو، او ډير ښه او فصيح دي. خما پخواني ياد دي. قتاده وائي. "جذاذا" معنې ټکړې ټکړې دي. حسن بصري وائي "كل فى فلك" او ټول په يو دائره کښې چکر وهي، څنګه چه څرښه ګرځي. حضرت ابن عباسؓ وائي. "نفشت" معني دي، او څريدو. "يسبحون" لرې کړې شي يا منع کړې شي. "امتكم" معني ستاسو دين، مذهب. عكرمه وائي "حصب" معني دي د سوزيدو لرګي. نور وائي. "احسوا" معني توقع ئې بيامنده. دا د احسست نه وتلې دې، يعني آواز ئې بيامند. "خامدين" مړ يا مړاوې شوې. "حصيد" ريبلې فصل. د جرړې نه پريکړې شوې، دا مفرد، تثنيه جمع ټولو د پاره ونيلې شي. "لا يستحسرون" ستړې کيږي نه. "حسير" دې نه وتلې دې، لکه "حسرت بعيرى" ما اوښ ستړې کړلو. "عميق" دراز لرې. "نكسوا" آړولې کړې شو. "صنعة لبوس" ستاسو د لباس صنعت، يعني زغرې. "تقطعوا امرهم" خپل کار ئې پريکړلو. غُس کړلو. حسيس، حس، جرس او همس" د ټولو معني دي، يعني پست آواز. "اذنـاک" تـه ئې آګاه کړې. "اذنتكم" ما تهٔ خبر کړې. "على سواء" برابري باندې. مجاهد وائي "لعلكم تسئلون" معني دي، شايد چه تاسو پوه شې. "ارتضى" راضي شو. "تماثيل" معني صورتونه. "سجل طومار" د کاغذونو پلنده "صحيفه" کتاب. کتابچه.

**باب ۳۰۲: آيت: كَمَا بَدَاْنَا اَوَّلَ خَلْقٍ: د اللّٰه تعالٰى قول، څنګه چه مونږ هغوي پيدا کړل.**

۴۲۶۷: سليمان بن حرب. شعبه. مغيره بن نعمان

حَرْبٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الْمُغِيْرَةِ بْنِ النُّعْمَانِ شَيْخٌ مِنَ النَّخَعِ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ خَطَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اِنَّكُمْ مَحْشُوْرُوْنَ اِلَى اللّٰهِ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا كَمَا بَدَأْنَا اَوَّلَ خَلْقٍ نُعِيْدُهٗ وَعْدًا عَلَيْنَا اِنَّا كُنَّا فَاعِلِيْنَ ثُمَّ اِنَّ اَوَّلَ مَنْ يُكْسٰى يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اِبْرٰهِيْمُ اَلَا اِنَّهٗ يُجَآءُ بِرِجَالٍ مِّنْ اُمَّتِيْ فَيُؤْخَذُ بِهِمْ ذَاتَ الشِّمَالِ فَاَقُوْلُ يَا رَبِّ اُصَيْحَابِيْ فَيُقَالُ لَا تَدْرِيْ مَا اَحْدَثُوْا بَعْدَكَ فَاَقُوْلُ كَمَا قَالَ الْعَبْدُ الصَّالِحُ وَ كُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا مَّا دُمْتُ اِلٰى قَوْلِهٖ شَهِيْدٌ فَيُقَالُ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ لَمْ يَزَالُوْا مُرْتَدِّيْنَ عَلٰى اَعْقَابِهِمْ مُنْذُ فَارَقْتَهُمْ.

شیخ نخعي. سعید بن جبیر. حضرت ابن عباسؓ نه روایت کوي، رسول الله صلي الله علیه وسلّم ارشاد اوفرمائیلو. ذ قیامت په ورځ به تاسو ذ الله مخکښ داسې بربنډ جسم سره جمع شئې. څنګه چه تاسو ذ پیدائش په وخت بربنډ وئې. بیا به ذ ټولو نه مخکښ ابراهیم علیه السلام ته جامې واغستولې شي. خبردار شئې. څما ذ امت څۀ خلق به راوستلې شي. فریښتې به هغوي ونیسي او دوزخ ته به ئې بوځي. زۀ به اووایم پروردګاره، دا خو څما ذ اُمت خلق دي. رب تعالي به فرمائي، دوي ستاته وروستو قسم قسم نوې خبرې راوښکلې وې. دغه وخت به زۀ عرض او کړم، کوم چه ذ الله نیک بنده حضرت عیسیٰؑ کړې وو، یعني چه څو پورې زۀ هغوي کښې ووم، ذ هغوي نګران ووم. خو څما نه پس ته ذ هغوي ګواه ئې. ارشاد به اوشي. اې محمدؐ، کوم وخت چه ته ذ دوي نه جدا شوې، نو دوي په پوندو واپس اوګرځیدل (یعني لار خطا شو).

# سُوْرَةُ الْحَجِّ

# ذ سورۀ حج تفسیر

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ الْمُخْبِتِيْنَ الْمُطْمَئِنِّيْنَ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍؓ فِيْ اُمْنِيَّتِهٖ اِذَا حَدَّثَ اَلْقَى الشَّيْطَانُ فِيْ حَدِيْثِهٖ فَيُبْطِلُ اللّٰهُ مَا يُلْقِي الشَّيْطَانُ وَ يُحْكِمُ اٰيَاتِهٖ وَ يُقَالُ اُمْنِيَّتُهٗ قِرَاءَتُهٗ اِلَّا اَمَانِيَّ يَقْرَءُوْنَ وَلَا يَكْتُبُوْنَ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ مَشِيْدٌ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

ابن عیینه وائي "مخبتین" عاجزي کونکي. په الله بهروسه کونکي. ابن عباسؓ وائي "امنیته" یعني کله چه پیغمبر یوه خبره کوي، نو شیطان ذ هغۀ په خبره کښې خپل آواز یوځائې کړي څۀ خبرې کوي. بیا الله ذ شیطان خبره لرې کړي او خپل آیتونه محکم کړي. بعضې وائي. "امنیته" نه ذ نبي قرآن مراد دې "الا امانی" یعني لولي، لیکي نه. مجاهد وائي "مشید" چونې

بِالْقَصْعَةِ وَ قَالَ غَيْرُهُ يَسْطُوْنَ يَفْرُطُوْنَ مِنَ السَّطْوَةِ وَ يُقَالُ يَسْطُوْنَ يَبْطِشُوْنَ وَهُدُوْا إِلَى الطَّيِّبِ مِنَ الْقَوْلِ أُلْهِمُوْا قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ بِسَبَبٍ بِحَبْلٍ إِلَى سَقْفِ الْبَيْتِ تَذْهَلُ تُشْغَلُ.

سره نے مضبوط کړه. نور وائي چه "يسطون" معنی ذ زیادتے بعضے وائي، ذ دے ذ سخت نیولو دي. "و هدوا الی الطیب من القول" زړه کښ بنه خبره واچولے شوه. ابن عباس "بسبب" معنی ذ رسئ دي، چه چهت سره لړیدلے وي. "تذهل" معنی مشغول شي.

۱. علامه انور شاه صاحب کشمیري رحمة الله علیه د آیت ترجمه په دا شان کړے ده "هیڅ نبي پښته چا چه دا اُمید نه وي تړلے د خپل اُمت متعلق چه هدایت به ورته اوشي، نو شیطان د دغه خلقو په زړونو کښے کوګوالي پیدا کولو سره د هغه پیغمبر آرزو پوره کولو ته نه وي پریښے او په هغے کښے نے کهوټ نه وي اچولے".

## بَابُ ٣٠٣: قَوْلِهِ وَتَرَى النَّاسَ سُكَارَى.

## باب ۳۰۳: آیت: وَ تَرَى النَّاسَ سُكْرَى: ذ الله تعالی قول. ذ محشر په ورځ به تاسوته (خلق) داسے په نظر راځي، لکه مدهوش او نشه کښ بدمست.

٤٢٧: حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا أَبِي حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ حَدَّثَنَا أَبُوْ صَالِحٍ عَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اللّٰهُ عَزَّ وَ جَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَا آدَمُ يَقُوْلُ لَبَّيْكَ رَبَّنَا وَ سَعْدَيْكَ فَيُنَادِيْ بِصَوْتٍ إِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُكَ أَنْ تُخْرِجَ مِنْ ذُرِّيَّتِكَ بَعْثًا إِلَى النَّارِ قَالَ يَا رَبِّ وَمَا بَعْثُ النَّارِ قَالَ مِنْ كُلِّ أَلْفٍ أُرَاهُ قَالَ تِسْعَ مِائَةٍ وَّ تِسْعَةً وَّ تِسْعِيْنَ فَحِيْنَئِذٍ تَضَعُ الْحَامِلُ حَمْلَهَا وَيَشِيْبُ الْوَلِيْدُ وَ تَرَى النَّاسَ سُكَارَى وَمَا هُمْ بِسُكَارَى وَلٰكِنَّ عَذَابَ اللّٰهِ شَدِيْدٌ فَشَقَّ ذٰلِكَ عَلَى النَّاسِ حَتّٰى تَغَيَّرَتْ وُجُوْهُهُمْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى

٤٢٧: عمر بن حفص. حفص. اعمش. ابو صالح. حضرت ابو سعید خدري نه روایت کوي، حضور صلي الله علیه وسلّم ارشاد اوفرمائیلو. ذ قیامت په ورځ به الله تعالی حضرت آدمؑ اوبلي، هغه به: لبیک ربنا و سعدیک: ونیلو سره راشي، ذ خدائے په حکم به فرښته آواز اوکړي. اے آدمهٔ، ذ خپل اولاد نه دوزخ ذ پاره راوله. حضرت آدمؑ به وائي، څومره سړي راولم. فرښته به وائي زرو کښ یو کم زر (یعني هزار کښ ۹۹۹). دا وخت به داسے وي، چه ذ حامله ښځو حمل به اوغرځیږي، ځلمي به بوډاګان شي. دے نه پس حضور صلي الله علیه وسلّم دا آیت تلاوت کړلو: وَ تَرَى النَّاسَ سُكْرَى وَمَا هُمْ بِسُكَارَى وَلٰكِنَّ عَذَابَ اللّٰهِ شَدِيْدٌ. حضور صلي الله علیه وسلّم نه دے خبرے آوریدو سره د صحابهٔ مخونه د خوف نه زیړ شول حضور صلي الله علیه وسلّم ذ هغوي تسکین کولو سره اوفرمائیل. تاسو

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ يَاجُوْجَ وَ مَاجُوْجَ تِسْعَ مِائَةٍ وَّ تِسْعَةً وَّ تِسْعِيْنَ وَ مِنْكُمْ وَاحِدٌ ثُمَّ اَنْتُمْ فِي النَّاسِ كَالشَّعْرَةِ السَّوْدَاءِ فِيْ جَنْبِ الثَّوْرِ الْاَبْيَضِ اَوْ كَالشَّعْرَةِ الْبَيْضَآءِ فِيْ جَنْبِ الثَّوْرِ الْاَسْوَدِ وَ اِنِّيْ لَاَرْجُوْ اَنْ تَكُوْنُوْا رُبُعَ اَهْلِ الْجَنَّةِ فَكَبَّرْنَا ثُمَّ قَالَ ثُلُثَ اَهْلِ الْجَنَّةِ فَكَبَّرْنَا ثُمَّ قَالَ شَطْرَ اَهْلِ الْجَنَّةِ فَكَبَّرْنَا قَالَ اَبُوْ اُسَامَةَ عَنِ الْاَعْمَشِ تَرَى النَّاسَ سُكَارٰى وَمَاهُمْ بِسُكَارٰى وَ قَالَ مِنْ كُلِّ اَلْفٍ تِسْعَ مِائَةٍ وَّ تِسْعَةً وَّ تِسْعِيْنَ وَ قَالَ جَرِيْرٌ وَ عِيْسٰى ابْنُ يُوْنُسَ وَ اَبُوْ مُعَاوِيَةَ سَكْرٰى وَمَاهُمْ بِسَكْرٰى.

ولې دومره ويرېږې دا مقدار به د ياجوج ماجوج د سړو وي، تاسو کښې څو به زرو کښې يو دوزخي وي، لکه د سپين غوئ (بيل) اړخ کښې چه يو ويښته تور وي. او خما اُميد دے، چه تاسو به ټولو جنتيانو کښې څلورمه حصه ئې. او باقي درے حصو کښې نور ټول اُمتونه وي. دے آوريدو سره مونږ الله اکبر اووے. حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، نه، بلکه تاسو به دريمه حصه ئې مونږ بيا تکبير اووے. حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، نه، نصف (نيم) به تاسو ئې. مونږ بيا تکبير اووے. ابو اسامه، اعمش نه دا شان روايت کوي چه دا مشهور روايت دے، چه هر هزار کښې ۹۹۹، اوکارے، نو دا د حفص د روايت مطابق کيږي. د ابو معاويه روايت کښې سکارى مفرد راغلے دے. او قرآن کښې بسکارى دے. (او دا د حمزه او کسائي قرأت دے).

باب ۳۰۴: قَوْلِهٖ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّعْبُدُ اللّٰهَ عَلٰى حَرْفٍ شَكٍّ فَاِنْ اَصَابَهٗ خَيْرُ ٰنِاطْمَأَنَّ بِهٖ وَ اِنْ اَصَابَتْهُ فِتْنَةُ ٰنِانْقَلَبَ عَلٰى وَجْهِهٖ خَسِرَ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةَ ذٰلِكَ هُوَ الضَّلٰلُ الْبَعِيْدُ اَتْرَفْنٰهُمْ وَسَّعْنَاهُمْ.

باب ۳۰۴: آيت: وَ مِنَ النَّاسِ مَنْ يَّعْبُدُ اللّٰهَ عَلٰى حَرْفٍ: د الله تعالي قول، څۀ خلق داسے دي، چه د الله عبادت د تذبذب حالت کښې کوي، دا شان که هغوي ته څۀ فائده وي. نو مطمئن شي، او که نقصان وي، نو د دين نه اوګرځي (واوړي) هغوي ته دنيا او آخرت دواړو کښې نقصان دے. "اترفناهم" مونږ د هغوي روزي زياته کړې ده.

۴۲۸۷: حَدَّثَنِيْ اِبْرٰهِيْمُ بْنُ الْحَارِثِ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ اَبِيْ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اِسْرَآئِيْلُ عَنْ اَبِيْ حُصَيْنٍ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ وَ مِنَ النَّاسِ مَنْ يَّعْبُدُ اللّٰهَ عَلٰى حَرْفٍ

۴۲۸۷: ابراهيم بن حارث. يحيي بن بکير. اسرائيل. ابو حصين. سعيد بن جبير. حضرت ابن عباسؓ نه روايت کوي. د هغۀ بيان دے. يو سړے مدينه کښې اوسيدلو. او هغه داسے وو، چه د هغۀ د ښځې به هلک پيدا شو. او څناور به ئې نر راوړلو، نو دۀ به وئيل، اسلام

قَالَ كَانَ الرَّجُلُ يَقْدَمُ الْمَدِيْنَةَ فَاِنْ وَلَدَتِ امْرَاَتُهُ غُلَامًا وَ نُتِجَتْ خَيْلُهُ قَالَ هٰذَا دِيْنٌ صَالِحٌ وَ اِنْ لَمْ تَلِدِ امْرَاَتُهُ وَلَمْ تُنْتَجْ خَيْلُهُ قَالَ هٰذَا دِيْنُ سُوْءٍ.

ډير ښـهٔ مـذهـب دے. او کـه ذ دے برعکس به اوشو' نو وئيـل به ئے' دا دين ډير خراب او سپيرهٔ دے' (چه ما کره مـادے (ښـځـے) پـيـدا کـيـږي. او د ذکر شوے آيت شان نزول هم دغه دے).

## بـاب۵ ٣٠٥: قَـوْلِـهٖ هٰـذَانِ خَـصْـمَـانِ اخْتَـصَـمُـوْا فِـيْ رَبِّهِمْ.

باب۵ ٣٠٥: آيت: هـٰذٰن خَـصْمَانِ اخْتَصَمُوْا فِيْ رَبِّهِمْ: ذَ اللّٰـه تـعـالـٰي قول' دا دوه ډلے دي' چـه ذَ خپل پروردګار باره کښ جنګ کوي.

٤٢٩: حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ اَخْبَرَنَا اَبُوْ هَاشِمٍ عَنْ اَبِيْ مِجْلَزٍ عَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ عَنْ اَبِيْ ذَرٍّ اَنَّهُ كَانَ يُقْسِمُ فِيْهَا اَنَّ هٰذِهِ الْاٰيَةَ هٰذَانِ خَصْمَانِ اخْتَصَمُوْا فِيْ رَبِّهِمْ نَزَلَتْ فِيْ حَمْزَةَ وَ صَاحِبَيْهِ وَ عُتْبَةَ وَ صَاحِبَيْهِ يَوْمَ بَرَزُوْا فِيْ يَوْمِ بَدْرٍ رَوَاهُ سُفْيَانُ عَنْ اَبِيْ هَاشِمٍ وَ قَالَ عُثْمَانُ عَنْ جَرِيْرٍ عَنْ مَنْصُوْرٍ عَنْ اَبِيْ هَاشِمٍ عَنْ اَبِيْ مِجْلَزٍ قَوْلَهُ.

٤٢٩: حـجـاج بـن مـنـهـال' ابـو هـاشـم. ابـو مـجـلـز. قـيـس بـن عـبـاد. حضـرت ابوذرؓ نـه روايـت کـوي' هـغـه قسم سره اووے' دا آيت: هـٰذٰن خـصـمان اخـتـصـمـوا فـي ربهـم الخ: ذَ حـضـرت عـلـيؓ او حـضـرت حـمـزهؓ او ذَ هـغوي مقابل شيبه او وليد متعلق ذَ جـنـګ بـدر پـه ورځ هـغـه وخـت نـازل شولو' کـوم وخـت چـه دوي ذَ جـنـګ ذَ پـاره روان وو. دا حـديث سـفـيـان ثـوري ذَ ابـو هـاشـم نـه او عثمـان ذَ جرير نـه او هـغـه ذَ مـنـصـور نـه او هـغـه ذَ ابـو هـاشـم نه او هغه ذَ ابو مجلز نه روايت کوي.

٤٣٠: حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرُ بْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ سَمِعْتُ اَبِيْ قَالَ حَدَّثَنَا اَبُوْ مِجْلَزٍ عَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ عَنْ عَلِيِّ بْنِ اَبِيْ طَالِبٍ قَالَ اَنَا اَوَّلُ مَنْ يَّجْثُوْا بَيْنَ يَدَيِ الرَّحْمٰنِ لِلْخُصُوْمَةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ قَيْسٌ وَ فِيْهِمْ نَزَلَتْ هٰذَانِ خَصْمَانِ اخْتَصَمُوْا فِيْ رَبِّهِمْ قَالَ هُمُ الَّذِيْنَ بَارَزُوْا يَوْمَ بَدْرٍ عَلِيٌّ وَ حَمْزَةُ

٤٣٠: حـجـاج بـن مـنـهـال. مـعتمر بن سليمان. ذَ هـغـهٔ پـلار. ابـو مـجـلـز. قـيـس بن عباد. حضرت علي بـن ابـي طـالـبؓ نـه روايـت کـوي' ذَ هغهٔ بيـان دے. ذَ قـيـامـت پـه ورځ بـه زهٔ وړمبـنـے سـرے يم' چه اللّٰه تعالٰي سـره بـه پـه جـګـړه شـم' يعني خپله مقدمه به پيش کړم. ذَ قـيـس بيـان دے. دا آيت: هـٰذٰن خـصـمـان اختصموا فـي ربهم الخ: ذَ هغـے خـلـقـو پـه حق کـښ نازل شوے دے' چـه ذَ بـدر پـه ورځ جـنـګ ذَ پـاره مـيـدان تـه وتـلـے وو' يـعـنـي حـضـرت عـليؓ او حضرت حمزهؓ

وَ عُبَيْدَةُ وَ شَيْبَةُ بْنُ رَبِيْعَةَ وَ عُتْبَةُ بْنُ رَبِيْعَةَ وَالْوَلِيْدُ بْنُ عُتْبَةَ.

ذَ مسلمانانو د طرف نه او ذَ كافرو ذ طرف نه عتبه، شيبه او وليد وتلي وو.

# سُوْرَةُ الْمُؤْمِنُوْنَ

# دَ سورۀ مؤمنون تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ سَبْعَ طَرَائِقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ لَهَا سَابِقُوْنَ سَبَقَتْ لَهُمُ السَّعَادَةُ قُلُوْبُهُمْ وَجِلَةٌ خَائِفِيْنَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ بَعِيْدٌ بَعِيْدٌ فَاسْئَلِ الْعَآدِّيْنَ الْمَلٰٓئِكَةَ لَنَاكِبُوْنَ لَعَادِلُوْنَ كَالِحُوْنَ عَابِسُوْنَ مِنْ سُلَالَةٍ اَلْوَلَدُ وَالنُّطْفَةُ السُّلَالَةُ وَالْجِنَّةُ وَالْجُنُوْنُ وَاحِدٌ وَالْغُثَآءُ الزَّبَدُ وَمَا ارْتَفَعَ عَنِ الْمَآءِ وَمَا لَا يُنْتَفَعُ بِهٖ يَجْأَرُوْنَ يَرْفَعُوْنَ اَصْوَاتَهُمْ كَمَا تَجْأَرُ الْبَقَرَةُ عَلٰى اَعْقَابِكُمْ رَجَعَ عَلٰى عَقِبَيْهِ سَامِرًا مِنَ السَّمَرِ وَالْجَمِيْعُ السُّمَّارُ وَالسَّامِرُ هٰهُنَا فِيْ مَوْضِعِ الْجَمْعِ تُسْحَرُوْنَ تَعْمُوْنَ مِنَ السِّحْرِ.

ذَ ابن عيينه بيان دے چه "سبع طرائق" نه اوه آسمانه مراد دي. "لها سابقون" معني دي چه پيش پيش (مخكښ مخكښ) وي. "وجلة" ويريدونكي دَ حضرت ابن عباسؓ بيان دے دَ "هيهات هيهات" مطلب دے، لرے دے، لرے دے. "فاسئل العادين" گنتي (شمير) كونكو نه تپوس اوكۀ. "لناكبون" دَ نيغے لارے نه كرخيدونكي. "كالحون" ترشرو خلق. بعضے "سلاله" معني دي بچے او نطفه. "جنة" او "جنون" ديوانگي، ليونتوب، پاګل پن. "غثاء" زګ، چه ذ هغے نه نفع نشي اخستے. "يجارون" آواز به بلند ترې، لكه دَ غوا (گاے) هغه آواز چه دَ تكليف په وخت اوځي. "على اَعْقَابِكُمْ" په پوندو واپس اوكرخيدئ. دَ عربو مقوله ده "رجع على عقبيه" مخ په شا روان شو. "سامرًا" قصه كو، فسانه كو، دا دَ "سمر" جمع ده، "تسحرون" دَ جادو نه ړنديدل.

# سُوْرَةُ النُّوْرِ

# دَ سورۀ نور تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

مِنْ خِلَالِهٖ مِنْ بَيْنِ اَضْعَافِ السَّحَابِ سَنَا بَرْقِهٖ الضِّيَاءُ مُذْعِنِيْنَ يُقَالُ لِلْمُسْتَخْذِئِ مُذْعِنٌ اَشْتَاتًا وَّ شَتّٰى وَ شَتَاتٌ

"يخرج من خلاله" ذ وريځو دَ مينځ نه اوځي. "سنابرقه" ذَ هغے د بجلي رڼا. "مذعنين" عاجزي كونكے. دا دَ مذعن جمع ده. "اشتاتًا" شي، شتات، شت، دَ ټولو معني دي. ابن عباسؓ وائي، "سورة انزلنها" معني، مونږ هغه

وَ شَيْءٌ وَاحِدٌ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ سُوْرَةٌ اَنْزَلْنَاهَا بَيَّنَّاهَا وَ قَالَ غَيْرُهُ سُمِّيَ الْقُرْاٰنُ لِجَمَاعَةِ السُّوَرِ وَ سُمِّيَتْ السُّوْرَةُ لِاَنَّهَا مَقْطُوْعَةٌ مِنَ الْاُخْرٰى فَلَمَّا قُرِنَ بَعْضُهَا اِلٰى بَعْضٍ سُمِّيَ قُرْاٰنًا وَ قَالَ سَعْدُ بْنُ عِيَاضٍ الثُّمَالِيُّ الْمِشْكٰوةُ الْكُوَّةُ بِلِسَانِ الْحَبَشَةِ وَ قَوْلُهُ تَعَالٰى اِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَ قُرْاٰنَهُ تَاْلِيْفَ بَعْضِهِ اِلٰى بَعْضٍ فَاِذَا قَرَاْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَهُ اَيْ مَا جُمِعَ فِيْهِ فَاعْمَلْ بِمَا اَمَرَكَ وَانْتَهِ عَمَّا نَهَاكَ اللّٰهُ وَ يُقَالُ لَيْسَ لِشِعْرِهِ قُرْاٰنٌ اَيْ تَاْلِيْفٌ وَ سُمِّيَ الْفُرْقَانَ لِاَنَّهُ يُفَرِّقُ بَيْنَ الْحَقِّ وَالْبَاطِلِ وَ يُقَالُ لِلْمَرْاَةِ مَا قَرَاَتْ بِسَلًا قَطُّ اَيْ لَمْ تَجْمَعْ فِيْ بَطْنِهَا وَلَدًا وَ قَالَ فَرَّضْنَاهَا اَنْزَلْنَا فِيْهَا فَرَائِضَ مُخْتَلِفَةً وَمَنْ قَرَاَ فَرَضْنَاهَا يَقُوْلُ فَرَضْنَا عَلَيْكُمْ وَ عَلٰى مَنْ بَعْدَكُمْ قَالَ مُجَاهِدٌ اَوِ الطِّفْلِ الَّذِيْنَ لَمْ يَظْهَرُوْا لَمْ يَدْرُوْا لِمَا بِهِمْ مِنَ الصِّغَرِ وَ قَالَ الشَّعْبِيُّ اُوْلِي الْاِرْبَةِ مَنْ لَيْسَ لَهُ اَرَبٌ وَ قَالَ طَاوٗسٌ هُوَ الْاَحْمَقُ الَّذِيْ لَا حَاجَةَ لَهُ فِي النِّسَآءِ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ لَا يُهِمُّهُ اِلَّا بَطْنُهُ وَلَا يُخَافُ عَلَى النِّسَآءِ.

بيان كړلو . او ذ نورو خلقو وينا ده چه ذ سورتونو مجموعے ته قرآن وائي. او سورت ته سورت ځكه وائي چه هغه ذ بل نه جدا وي او كوم چه يو ځائے وي هغے ته قرآن وائي. ذ سعد بن عياض ثمالي بيان دے چه دا ابن شاهين وصل كړے دے. "مشكاة" ذ ډيوے ايښودلو ځائے. دا ذ حبشي ژبے لفظ دے. "ان علينا جمعه و قرانه" بيشكه ذ قرآن لولول خمونږ په ذمه دي. "تاليف" يو ځائے كول. "فاذا قراناه فاتّبع قرانه" كوم وخت چه مونږ اووايو، نو ته ذ هغے پيروي كوه. "قراناه" معني مونږ اولولو. "الفناه" دا راجمع كړو. او قرآن ته فرقان هم وائي ځكه چه دا حق او باطل جُدا جُدا كوي. او اهل عرب ذ ښځو، د پاره وائي. "ما قرأت بسَلا قطُّ" يعني هغے خپلے خيټه كښ بچے هيڅ كله نۀ دے ساتلے. او څوک چه "فرضنها" تشديد سره لولي، نو د هغے دا معني دي، چه مونږ مختلف فرائض راكوز كړل. او څوک چه "فرضنها" بلا تشديد لولي، نو ذ هغے دا معني دي، چه مونږ په تاسو باندے او د قيامت ذ ورځے پورے په راتلونكو فرض كړل. مجاهد وائي، "او الطفل الّذين لم يظهروا على عورات النساء" نه مراد هغه بچي دي، چه لا ذ ښځو ذ پردے ذ خبرو نه آگاه نۀ دي. شعبي او طاؤس وائي، دے نه هغه احمق بيوقوف، مراد دي، چه د ښځو نه بے پروا وي، يعني دے طرف ته ئے څۀ خيال نۀ وي طاؤس دے سره وصل كوي. څو ذ مجاهد بيان دے "اولى الاربة" دے ته وائي، چه ذ خوراک څكاک نه سوا بل څه غرض نۀ لري، د ښځو باره كښ د هغوئ نه څه ويره نه وي.

باب ۳۰۶: قَوْلِهِ وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ اَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ شُهَدَآءُ اِلَّا اَنْفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ اَحَدِهِمْ اَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللّٰهِ اِنَّهُ لَمِنَ الصّٰدِقِيْنَ.

۱۳۷: حَدَّثَنَا اِسْحٰقُ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوْسُفَ حَدَّثَنَا الْاَوْزَاعِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي الزُّهْرِيُّ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ اَنَّ عُوَيْمِرًا اَتٰى عَاصِمَ بْنَ عَدِيٍّ وَ كَانَ سَيِّدَ بَنِيْ عِجْلَانَ فَقَالَ كَيْفَ تَقُوْلُوْنَ فِيْ رَجُلٍ وَجَدَ مَعَ امْرَاَتِهٖ رَجُلًا اَيَقْتُلُهُ فَتَقْتُلُوْنَهُ اَمْ كَيْفَ يَصْنَعُ سَلْ لِيْ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذٰلِكَ فَاَتٰى عَاصِمٌ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَكَرِهَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَسَائِلَ فَسَاَلَهُ عُوَيْمِرٌ فَقَالَ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَرِهَ الْمَسَائِلَ وَ عَابَهَا قَالَ عُوَيْمِرٌ وَاللّٰهِ لَا اَنْتَهِيْ حَتّٰى اَسْاَلَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذٰلِكَ فَجَاءَ عُوَيْمِرٌ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ رَجُلٌ وَجَدَ مَعَ امْرَاَتِهٖ رَجُلًا اَيَقْتُلُهُ

باب ۳۰۶: آیت: وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ اَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ شُهَدَآءُ: د اللّٰه تعالٰي قول' او کوم خلق چه په خپلو بيبيانو تهمت اولږوي. خو ذ هغوي نه سوا ذ هغوي بل څوک ګواه نه وي' نو هغوي کښې ذ يو ګواهي دا پکار ده' چه هغه به د اللّٰه قسم خوري' او څلور ځله به دا اووائي' چه زهٔ ريښتنے يم' او په پنځم ځل به دا اووائي' که زهٔ دروغجن يم' نو په ما دے ذ اللّٰه لعنت وي.

۱۳۷: اسحاق. محمد بن يوسف. اوزاعي. زهري. حضرت سهل بن سعدؓ نه روايت کوي' ذ هغهٔ بيان دے' عويمر بن حارث' عاصم بن عدي له راغے' چه د بني عجلان سردار وو' او وے ورتيل دا راته اووايه' که يو سړے بل سړے خپلے ښځے سره په زنا کولو اووينې' نو څهٔ به کوي' آيا په هغهٔ به قصاص وي' يا نهٔ دے وژني نو بيا به څهٔ کوي. دا خبره ته ذ نبي صلي اللّٰه عليه وسلم نه اوپښته' عاصم حضور صلي اللّٰه عليه وسلم له راغے' او تپوس ئے اوکړ' نو حضور صلي اللّٰه عليه وسلم ذ داسے مسائلو پښتل ناخوښه کړل' عاصم لاړ' او عويمر ته ئے دغسے بيان اوکړ' خو عويمر اووے' په خدائے م دے قسم وي' زهٔ هيڅ کله دے خبرے نه منع کيدے نشم' څو پورے چه ذ دے مسئلے ذ حضور صلي اللّٰه عليه وسلم نه تپوس اونه کړم. بيا هغه نبي صلي اللّٰه عليه وسلم له راغے' او ذ حضور نه ئے تپوس اوکړ' يا رسول اللّٰه' که يو سړے خپلے ښځے سره بل سړے په زنا اووينې' نو څهٔ ورله کول پکار دي. نو تاسو به بيا دغه سړے وژنئ او که

تَقْتُلُوْنَهُ اَمْ كَيْفَ يَصْنَعُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ اَنْزَلَ اللّٰهُ الْقُرْاٰنَ فِيْكَ وَ فِيْ صَاحِبَتِكَ فَاَمَرَهُمَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمُلَاعَنَةِ بِمَا سَمَّى اللّٰهُ فِيْ كِتَابِهٖ فَلَا عَنَهَا ثُمَّ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنْ حَبَسْتُهَا فَقَدْ ظَلَمْتُهَا فَطَلَّقَهَا فَكَانَتْ سُنَّةً لِمَنْ كَانَ بَعْدَهُمَا فِي الْمُتَلَاعِنَيْنِ ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْظُرُوْا فَاِنْ جَاءَتْ بِهٖ اَسْحَمَ اَدْعَجَ الْعَيْنَيْنِ عَظِيْمَ الْاَلْيَتَيْنِ خَدَلَّجَ السَّاقَيْنِ فَلَا اَحْسَبُ عُوَيْمِرًا اِلَّا قَدْ صَدَقَ عَلَيْهَا وَ اِنْ جَاءَتْ بِهٖ اُحَيْمِرَ كَاَنَّهٗ وَحَرَةٌ فَلَا اَحْسَبُ عُوَيْمِرًا اِلَّا قَدْ كَذَبَ عَلَيْهَا فَجَاءَتْ بِهٖ عَلَى النَّعْتِ الَّتِيْ نَعَتَ بِهٖ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ تَصْدِيْقِ عُوَيْمِرٍ فَكَانَ بَعْدُ يُنْسَبُ اِلٰى اُمِّهٖ.

څه به کوي حضور صلي اللّه عليه وسلم ورته ارشاد اوفرمائيلو اللّه ستاسو او ستاسو ذ ښځو په حق کښې د قرآن آيت نازل کړے دے.ا او ذ لعان حکم ئے کړے دے. نو عويمر د حضورؐ حکم سره ښځې سره لعان اوکړه. يا رسول اللّه، که اوس زۀ دا خان سره ساتم، نو ګويا په دے ظلم کوم. په دے زجه هغې له ئے طلاق ورکړه. دے نه پس ذ سړي او ښځې ترمينځه دا طريقه رائج شوه. بيا حضور صلي اللّه عليه وسلم اوفرمائيل ذ دے خبرے خيال ساته او ګوره چه ذ دے ښځې بچې ذ کوم شکل پيدا کيږي که سکنړ رنګ واله، تورے سترګے او غټو پندو واله وي، نو ماته به پته اولږي چه د عويمر خيال د ښځې متعلق ټيک وو، او که سور رنګ واله، خنګه چه ذ عويمر رنګ دے، پيدا شو، نو ماته به پته اولږي چه عويمر به ښځه ذ دروغے تهمت لږولے دے. آخر چه ذ ښځې بچے پيدا شو او اوکتلے شو، نو معلومه شوه، چه تورے سترګے، سکنړ رنګ او غټ کوناټو واله دے نو بچے د مور نسب سره منسوب کړے شو.

۱. که چرے خاوند خپله ښځه چا سره په زنا کښې مبتلا اُويني نو ظاهره ده چه هغه به ئے نورو ته ښودل خوښ نه کړي. د يخوا په شريعت کښې د زنا احکام ډير سخت دي، ددے سزا هم ههه هومره سخته ده خومره چه ثبوت خانے نه رسول. د زنا شرعي سزا هغه وخت ورکيدے شي کله چه څلور رښتيني او عادلان ګواهان عين په حالت د زنا کښې سړے او ښځه په خپلو سترګو سره د ليدلو په صفا لفظونو کښې ګواهي ورکړي. که چرے چا په چا باندے د زنا الزام اولګولو او ذ اسلامي قانون مطابق ګواهان ئے پيش نه کړے شو نو د هغه سزا هم ډيره سخته ده.

اوس که چرے يو غيرتي خاوند خپله ښځه په دے عظيمه ګناه کښې مبتلا اُويني نو هغه د پاره غبر ک مصيبت دے. ظاهره ده چه نۀ هغه ته دومره مهلت ملاويدے شي چه څلور ګواهان راولي او ورنه ئے اوښائي

اوس سے بحیله کولای کولے شي په داسے صورت کښے که چرے هغه په خپله ښځه باندے د زنا الزام لګوي نو د حد قذف (یعني د زنا د الزام سزا) مستحق ګرځي او که چرے خاموش پاتے کیږي نو دا هم د هغه د پاره ناقابل برداشت خبره ده. او که چرے قانون په خپل لاس کښے واخلي او پخپله څه اقدام او کړي نو هغه نه به بیا د قانون ماتولو سزا زغمل وي.

همدغه شان یو صورت حال د حضور اکرم صلي الله علیه وسلم په مبارکه زمانه کښے هم پیښ شوے وو او قرآن مجید د دغے مشکل حل دا اوښودلو چه که چرے داسے یو صورت پیښ شي نو خاوند له اسلامي عدالت ته راتلل پکار دي او خپلے ښځے سره لعان کول پکار دي. د لعان طریقه داده چه خاوند به په عدالت کښے اودریږي او دا به اووائي چه "زه په الله باندے قسم خورم چه ما په خپله ښځه باندے د زنا کوم الزام لګولے دے په هغے کښے زه ریښتینے یم". دا الفاظ به دے څلور ځلے وائي. اوپه پنځم ځل به اووائي چه "که چرے زه په دے خپل الزام کښے دروغژن یم نو په ما د الله لعنت وي".

اوس که چرے ښځه د خپل خاوند دے الزام نه انکار کوي نو هغے ته به هم اوویلے شي چه څلور ځلے د په الله باندے قسم اوخوري او اووائي چه "بیشکه خما خاوند د زنا په دے الزام لګولو کښے دروغژن دے". اوپه پنځم ځل به اووائي چه "که چرے دے رشتینے وي نو په ما د الله غضب وي".

که چرے هغے په دے ذکر شوے طریقے سره د خاوند د الزام تردید او کړو نو په هغے باندے به د زنا حد نشي لګولے. همدا هغه طریقه ده کومه چه په دے صورت حال کښے قرآن مجید ښودلے ده. د لعان نه پس به د خاوند او ښځے تر مینځه جدائي راوستے شي.

**باب ۳۰۷: قَوْلِهٖ وَالْخَامِسَةُ اَنَّ لَعْنَةَ اللّٰهِ عَلَيْهِ اِنْ كَانَ مِنَ الْكَاذِبِيْنَ.**

باب ۳۰۷: آیت: وَالْخَامِسَةُ اَنَّ لَعْنَةَ اللّٰهِ عَلَيْهِ: د الله تعالي قول: که په پنځم ځل (تهمت لږونکے) دا اووائي: که زهٔ دروغجن یم، نو په ما دے د الله لعنت وي.

۴۳۷۲: حَدَّثَنِيْ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ اَبُو الرَّبِيْعِ حَدَّثَنَا فُلَيْحٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ اَنَّ رَجُلًا اَتٰى رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَرَاَيْتَ رَجُلًا رَاٰى مَعَ امْرَاَتِهٖ رَجُلًا يَقْتُلُهٗ فَتَقْتُلُوْنَهٗ اَمْ كَيْفَ يَفْعَلُ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ فِيْهِمَا مَا ذُكِرَ فِي الْقُرْاٰنِ مِنَ التَّلَاعُنِ فَقَالَ لَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ قُضِيَ

۴۳۷۲: سلیمان بن داؤد. ابو ربیع. فلیح. زهري. سهل بن سعد نه روایت کوي، یو سړے حضور صلي الله علیه وسلم له راغے، او وئیلے، یا رسول الله، په دے م پوه کړه، که یو سړے خپله ښځه بل سړي سره په زنا کولو اووینی، او هغه، هغه مړ کړي، نو آیا په هغه به قصاص وي. او که څه به کوي؟ هغه وخت د خدائے د طرف نه د هغوي د ملاعنه آیت نازل شولو. نو حضور صلي الله علیه وسلم ورته اووے چه الله تعالي ستا او ستا د ښځے معامله کښ د لعنت کولو حکم نازل کړے دے. نو عویمر د حضور صلي الله علیه وسلم مخکښ ملاعنه

Maktaba Tul Ishaat. com



فِيكَ وَ فِيْ اِمْرَاَتِكَ قَالَ فَتَلَاعَنَا وَ اَنَا شَاهِدٌ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَفَارَقَهَا فَكَانَتْ سُنَّةً اَنْ يُفَرَّقَ بَيْنَ الْمُتَلَاعِنَيْنِ وَ كَانَتْ حَامِلًا فَاَنْكَرَ حَمْلَهَا وَ كَانَ ابْنُهَا يُدْعٰى اِلَيْهَا ثُمَّ جَرَتِ السُّنَّةُ فِي الْمِيْرَاثِ اَنْ يَّرِثَهَا وَ تَرِثَ مِنْهُ مَا فَرَضَ اللّٰهُ لَهَا.

اوكړله. او زه هم هغه وخت موجود ووم. خو بيا عويمر اووې چه دې سره حما تسلي اونه شوه. حضور صلي اللّه عليه وسلّم د طلاق حكم وركړلو. ښځه هغه وخت حامله وه. عويمر اووې. دا حما نطفه نه ده. آخر هلک پيدا شو. نو خلقو هغه مور طرف ته منسوب كړلو. دے نه پس ميراث كښې مور د خوی وارثه شوه. او مورته به مقرره حصه حاصليده. كومه چه كتاب اللّه كښې ده.

## بَابٌ ٣٠٨: قَوْلِهٖ وَ يَدْرَؤُا عَنْهَا الْعَذَابَ اَنْ تَشْهَدَ اَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللّٰهِ اِنَّهٗ لَمِنَ الْكٰذِبِيْنَ.

باب ٣٠٨: آيت: و يدرأ عنها العذاب: د اللّه تعالي قول: د ملزمه (هغه ښځه چه الزام پرے لږيدلے وي) نه دا شان سزا لرے كيدے شي، چه هغه څلور خله د اللّه قسم اوخوري، او دا اووائي، چه د هغے خاوند دروغجن دے، او په پنځم خل دا اووائي، كه هغه ريښتنے وي نو په ما دے د اللّه لعنت وي.

٤٣٣٧: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا ابْنُ اَبِيْ عَدِيٍّ عَنْ هِشَامِ بْنِ حَسَّانٍ حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ هِلَالَ ابْنَ اُمَيَّةَ قَذَفَ امْرَاَتَهٗ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَرِيْكِ بْنِ سَحْمَاءَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَيِّنَةَ اَوْ حَدٌّ فِيْ ظَهْرِكَ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِذَا رَاٰى اَحَدُنَا عَلٰى امْرَاَتِهٖ رَجُلًا يَنْطَلِقُ يَلْتَمِسُ الْبَيِّنَةَ فَجَعَلَ النَّبِيُّ

٤٣٣٧: محمد بن بشار. ابن ابي عدي. هشام بن حسان. عكرمه. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، يو خل هلال بن اميه په ښځے شريک بن سحماء سره د زنا كولو د حضور صلي اللّه عليه وسلّم په مخكښې تهمت اولږولو. نبي صلي اللّه عليه وسلّم اوفرمائيل. هلاله! ګواه راوله، كني به تا به د تهمت لږولو حد جاري كړے شي. هغه اووے: اے د اللّه رسولهؐ! مونږ كښې چه څوک خپله ښځه چاسره په زنا كولو اوويني، نو ګواه به كوم خائے ګوري. دا خو ډيره ګرانه ده خو حضور صلي اللّه عليه وسلّم به ورته هم دغه فرمائيل، چه ګواه راوله، كني حد قذف به جاري كولے شي. هلال اووے، په هغه خدائے م دے قسم وي، چه تاسو نے په حقه نبي راليږلے

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ الْبَيِّنَةَ وَ اِلَّا حَدٌّ فِيْ ظَهْرِكَ فَقَالَ هِلَالٌ وَ الَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ اِنِّيْ لَصَادِقٌ فَلَيُنْزِلَنَّ اللّٰهُ مَا يُبَرِّئُ ظَهْرِيْ مِنَ الْحَدِّ فَنَزَلَ جِبْرِيْلُ وَ اَنْزَلَ عَلَيْهِ وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ اَزْوَاجَهُمْ فَقَرَاَ حَتّٰى بَلَغَ اِنْ كَانَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ فَانْصَرَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَرْسَلَ اِلَيْهَا فَجَآءَ هِلَالٌ فَشَهِدَ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ اَنَّ اَحَدَكُمَا كَاذِبٌ فَهَلْ مِنْكُمَا تَائِبٌ ثُمَّ قَامَتْ فَشَهِدَتْ فَلَمَّا كَانَتْ عِنْدَ الْخَامِسَةِ وَقَّفُوْهَا وَ قَالُوْا اِنَّهَا مُوْجِبَةٌ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَتَلَكَّاَتْ وَ نَكَصَتْ حَتّٰى ظَنَنَّا اَنَّهَا تَرْجِعُ ثُمَّ قَالَتْ لَا اَفْضَحُ قَوْمِيْ سَائِرَ الْيَوْمِ فَمَضَتْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَبْصِرُوْهَا فَاِنْ جَآءَتْ بِهٖ اَكْحَلَ الْعَيْنَيْنِ سَابِغَ الْاَلْيَتَيْنِ خَدَلَّجَ السَّاقَيْنِ فَهُوَ لِشَرِيْكِ بْنِ سَحْمَآءَ فَجَآءَتْ بِهٖ كَذٰلِكَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْلَا مَا مَضٰى مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ لَكَانَ لِيْ وَلَهَا شَاْنٌ.

نے' زۀ ريښتينے يم. او الله به ضرور څما معامله كښې څه حكم راوليږي. دغه وخت جبرائيلؑ دے ايت: وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ اَزْوَاجَهُمْ. صَادِقِيْنَ الخ: سره راغلو. دے نه پس حضور صلي الله عليه وسلّم متوجه شولو. هغه ښځه ئے راوغښتله هلال هم راغے' او لعان ئے اوكۀ. حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل' الله ښه پوهيږي' چه تاسو دواړو كښې ريښتنے څوک دے. او دَ يو كَس خبره ضرور دروغ ده. بيا تاسو كښې څوک شته' چه توبه اوكاږي. بيا هغه ښځه اُودريده او څلور خله ئے داسے لعان اوكۀ' او ونيلے' زۀ الله كواه كوم' او وائم' چه زۀ ريښتنے يم او په پنځم ځل چه دائے ونيلے' كه زۀ دروغجنه يم' په ما دے د الله لعنت وي' نو خلقو ورته اووے' چه دا لويه او سخته خبره ده' داسے مه وايه' ځكه كه دروغ وي' نو دَ عذاب باعث ده' ابن عباسؓ وائي. دے آوريدو سره هغه ساه نيولے غندے شوه' او څټ ئے خكته كړلو' مونږ سوچ اوكۀ' شايد چه دا رجوع اوكړي. خو هغے په پنځم ځل دا اووے آيا زۀ په خپل قوم داغ اولږوم' دا جمله ئے ادا كړله. نو حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل' كورے' كه بچے تورے ستركے' غټ كوناتي او غټو پنډو واله وي' نو پوهه شئے' چه دَ شريک بن سحماء ځوئے دے' نو ښځے هم دغه شان بچے راوړلو. حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل' كه د خدائے دَ طرفه دَ لعان حكم نۀ وے راغلے' نو تاسو به ليدلے وو' چه ما دے له څنګه سزا وركوئے.

## باب ۳۰۹: قَوْلُهٗ وَالْخَامِسَةُ

## باب ۳۰۹: آيت: وَالْخَامِسَةُ اَنَّ غَضَبَ اللّٰهِ

أَنَّ غَضَبَ اللّٰهِ عَلَيْهَا إِنْ كَانَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ.

عليها: د الله تعالى قول: په ښځه خو دې ښځه دا سې اووائي: كه الزام او تهمت لږونكې ريښتنې وي: نو په ما دې د خدائې لعنت وي.

٤٧٣٤: حَدَّثَنَا مُقَدَّمُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيٰى حَدَّثَنَا عَمِّي الْقَاسِمُ بْنُ يَحْيٰى عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ وَقَدْ سَمِعَ مِنْهُ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَجُلًا رَمٰى امْرَأَتَهُ فَانْتَفٰى مِنْ وَلَدِهَا فِيْ زَمَانِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَ بِهِمَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَلَاعَنَا كَمَا قَالَ اللّٰهُ ثُمَّ قَضٰى بِالْوَلَدِ لِلْمَرْأَةِ وَ فَرَّقَ بَيْنَ الْمُتَلَاعِنَيْنِ.

٤٧٣٤: مقدم بن محمد. يحيي. قاسم بن يحيي. عبيدالله. نافع. حضرت عبدالله بن عمرَ نه روايت كوي، د هغهٔ بيان دې، يو سړي عويمر په خپله ښځه ذَ زنا تهمت اولږولو او د هغې د حمل متعلق ئې اُووې: چه دا خما نطفه نه ده. او دا د حضور صلي الله عليه وسلم ذ زمانې واقعه ده: نو حضور صلي الله عليه وسلم ذ هغې متعلق حكم اوفرمائيلو، چه لعان دې اوكړې شي. دواړو لعان اوكړلو دې نه پس ئې بچې ښځې له وركړلو، او د سړي او ښځې مينځ كښې ئې جدائي راوسته (يعني هغې له ئې طلاق وركړه).

باب ٣١٠: قَوْلِهِ إِنَّ الَّذِيْنَ جَآءُوْا بِالْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِّنْكُمْ لَا تَحْسَبُوْهُ شَرًّا لَّكُمْ بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ مَّا اكْتَسَبَ مِنَ الْإِثْمِ وَالَّذِيْ تَوَلّٰى كِبْرَهُ مِنْهُمْ لَهُ عَذَابٌ عَظِيْمٌ. أَفَّاكٌ كَذَّابٌ.

باب ٣١٠: آيت: إِنَّ الَّذِيْنَ جَآءُوْا بِالْإِفْكِ الخ: ذَ الله تعالي قول، كومو خلقو چه دا دروغ رابرسيره كړې دي، هغه تاسو كښې يوه ډله ده. ذَ هغوي دا تهمت خپل حق كښې بد مهٔ گڼئ: بلكه دا ستاسو ذَ پاره مفيد دې. او دې دروغ ويونكو كښې به هر يو له ذَ هغوي ذ گناه موافق سزا وركيږي. آخر آيت پورې. "افاک" دروغجن.

٤٧٣٥: حَدَّثَنَا أَبُوْ نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيٰنُ عَنْ مَعْمَرٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ وَالَّذِيْ تَوَلّٰى كِبْرَهُ قَالَتْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ أُبَيِّ ابْنُ سَلُوْلٍ.

٤٧٣٥: ابو نعيم. سفيان. معمر. زهري. عروه. بي بي عائشې نه روايت كوي. ذَ هغې بيان دې: ذَ ټولونه وړمبې چه چا ذَ دې تهمت ابتدا اوكړله، هغه سړې عبدالله بن ابي بن سلول دې، دا ذكر شوې آيت ذَ هغه حق كښې نازل شوې وو.

**باب ١١٣: قَوْلُهُ وَلَوْلَا اِذْ سَمِعْتُمُوْهُ قُلْتُمْ مَا يَكُوْنُ لَنَا اَنْ نَتَكَلَّمَ بِهٰذَا سُبْحٰنَكَ هٰذَا بُهْتَانٌ عَظِيْمٌ لَوْلَا جَآءُوْا عَلَيْهِ بِاَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ فَاِذْ لَمْ يَاْتُوْا بِالشُّهَدَآءِ فَاُولٰٓئِكَ عِنْدَ اللّٰهِ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ.**

٤٧٣٦: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يُوْنُسَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ وَ سَعِيْدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ وَ عَلْقَمَةُ بْنُ وَقَّاصٍ وَ عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُوْدٍ عَنْ حَدِيْثِ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ قَالَ لَهَا اَهْلُ الْاِفْكِ مَا قَالُوْا فَبَرَّاَهَا اللّٰهُ مِمَّا قَالُوْا وَ كُلٌّ حَدَّثَنِيْ طَائِفَةً مِنَ الْحَدِيْثِ وَ بَعْضُ حَدِيْثِهِمْ يُصَدِّقُ بَعْضًا وَّ اِنْ كَانَ بَعْضُهُمْ اَوْعٰى لَهُ مِنْ بَعْضٍ الَّذِيْ حَدَّثَنِيْ عُرْوَةُ عَنْ عَائِشَةَ اَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اَرَادَ اَنْ يَخْرُجَ اَقْرَعَ بَيْنَ اَزْوَاجِهٖ فَاَيَّتُهُنَّ خَرَجَ سَهْمُهَا خَرَجَ بِهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَهٗ قَالَتْ عَائِشَةُ فَاَقْرَعَ بَيْنَنَا فِيْ غَزْوَةٍ غَزَاهَا فَخَرَجَ سَهْمِيْ فَخَرَجْتُ مَعَ

**باب ١١٣: آيت: ولولا اذ سمعتموه قلتم ما يكون لنا:** د الله تعالى قول، هر كله چه تاسو دا خبره آوريدلې ده نو مومن سړو او ښځو خپلو كښې دا ګمان ولې او نكړ، او دائې ولې اونه وې، چه دا خو ښكاره دروغ دي. دې خلقو په خپل قول څلور ګواهان ولې رانه وستل. او كه دوي ګواه رانه وستلې شو، نو د خدائې په نزد دروغجن هم دوي دي.

٤٧٣٦: يحيي بن بكير. ليث. يونس. ابن شهاب. عروه بن زبير نه هغه د بي بي عائشې نه روايت كوي چه حضور صلي الله عليه وسلم به غزا له تلو، نو د خپلو بيبيانو په نوم به ئې قرعه اچوله. د چا نوم به چه راووتلو، نو هغه به ئې خان سره بوتله. غزوهٔ بني مصطلق كښې د تللو په وخت چه قرعه واچولې شوه نو څما په نوم راووتله. او زهٔ حضور صلي الله عليه وسلم سره لاړمه. دا واقعه د پردې د حكم نازليدو نه وروستو ده. زهٔ په يوه كجاوه كښې سوره ووم. كه د كوزيدو ضرورت به پيښ شو، نو كجاوې سره به كوزولې شوم. غرض مونږ دغه شان سفر كولو. تردې چه حضور صلي الله عليه وسلم د جنګ نه فارغ شو، واپس راتلو. كوم وخت چه مونږ مدينې ته نزدې راورسيدو، نو يوه شپه داسې اتفاق اوشو، چه حضور صلي الله عليه وسلم د روانګۍ حكم اوكړلو، ما چه دا حكم واوريدلو، نو راپاسيدم، او د لښكر نه لرې رفع حاجت د پاره لاړم. فارغ كيدو نه پس چه واپس راغلم، نو خيال راغې، چه څما نه خو د غاړې هار چرته غورځيدلې دې ما هغې پسې تلاش شروع كړه. تلاش كښې وخت اولږيد. دې دوران كښې هغه خلق راغلل،

رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ مَا نَزَلَ الْحِجَابُ فَاَنَا اُحْمَلُ فِيْ هَوْدَجِيْ وَ اُنْـزَلُ فِيْهِ فَسِرْنَا حَتّٰى اِذَا فَرَغَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَزْوَتِهٖ تِلْكَ وَ قَفَلَ وَ دَنَوْنَا مِنَ الْمَدِيْنَةِ قَافِلِيْنَ اٰذَنَ لَيْلَةً بِالرَّحِيْلِ فَقُمْتُ حِيْنَ اٰذَنُوْا بِالرَّحِيْلِ فَمَشَيْتُ حَتّٰى جَاوَزْتُ الْجَيْشَ فَلَمَّا قَضَيْتُ شَاْنِيْ اَقْبَلْتُ اِلٰى رَحْلِيْ فَاِذَا عِقْدٌ لِّيْ مِنْ جَزْعِ ظَفَارِ قَدِ انْقَطَعَ فَالْتَمَسْتُ عِقْدِيْ وَ حَبَسَنِيْ اِبْتِغَآءُهٗ وَ اَقْبَلَ الرَّهْطُ الَّذِيْنَ كَانُوْا يَرْحَلُوْنَ لِيْ فَاحْتَمَلُوْا هَوْدَجِيْ فَرَحَلُوْهُ عَلٰى بَعِيْرِيَ الَّذِيْ كُنْتُ رَكِبْتُ وَهُمْ يَحْسَبُوْنَ اَنِّيْ فِيْهِ وَ كَانَ النِّسَآءُ اِذْ ذَاكَ خِفَافًا لَمْ يُثْقِلْهُنَّ اللَّحْمُ اِنَّمَا تَاْكُلُ الْعُلْقَةَ مِنَ الطَّعَامِ فَلَمْ يَسْتَنْكِرِ الْقَوْمُ خِفَّةَ الْهَوْدَجِ حِيْنَ رَفَعُوْهُ وَ كُنْتُ جَارِيَةً حَدِيْثَةَ السِّنِّ فَبَعَثُوا الْجَمَلَ وَ سَارُوْا فَوَجَدْتُّ عِقْدِيْ بَعْدَ مَا اسْتَمَرَّ الْجَيْشُ فَجِئْتُ مَنَازِلَهُمْ وَ لَيْسَ بِهَا دَاعٍ وَّلَا مُجِيْبٌ فَاَمَمْتُ مَنْزِلِي الَّذِيْ كُنْتُ بِهٖ وَ ظَنَنْتُ اَنَّهُمْ سَيَفْقِدُوْنِيْ فَيَرْجِعُوْنَ اِلَيَّ فَبَيْنَا اَنَا جَالِسَةٌ فِيْ مَنْزِلِيْ غَلَبَتْنِيْ عَيْنِيْ فَنِمْتُ وَ كَانَ

کومو چه به خما سورلي کجاوه د اوښ د پاسه ایښودله. هغوي کجاوه اوچته کړه د اوښ د پاسه ئې کیښودله، او دا خیال ئې اوکړ، چه زۀ په کجاوه کښې ناسته یم، هغه زمانه کښې زنانه سپکې او وړې (ډنگرې) وې. خکه چه کم خوراک به ئې کولو، نو هغوي ته به د کجاوې د دروندوالي یا سپکوالی هډو احساس اونۀ شولو او بله خبره دا هم وه، چه زۀ هغه وخت ډیره وړه ووم. غرض هغوي کجاوه د اوښ د پاسه کېښودله، او روان شو. د هار تلاش کښې په ما دوسره وخت تیر شولو. چه واپس راغلم، نو هلته د لښکر نوم نشان هم نۀ وو. نۀ څوک انسان وو، چه هغه سره څۀ خبره شوې وې. نو زۀ هغه خائې، چه کوم خائې م شپه تیره کړې وه، په دې خیال کیناستم، چه حضورؐ ما اونۀ ویني، نو ضرور به دې خائې ته تلاش ذ پاره راځي. په ناسته ناسته ماله خوب راغې. او ما جوتې خوړلې. لښکر نه ورستو یو سړې د پریوتې څیزونو خبر اخستلو ذ پاره هم وو، چه هغۀ نوم صفوان بن معطل سلمي وو. هغه چکر کښې په دغه خائې راغې، کوم خائې چه زۀ موجوده ووم، هغه زه اوپيژندلم خکه چه د پردې د حکم نه مخکښې هغۀ زۀ لیدلې ووم، نو هغه اوچت آواز سره: انّا للّٰه و انّا الیه راجعون: وئیل شروع کړل. ذ هغۀ آواز سره زۀ رابیداره شوم او سمدستي م په خپل څادر مخ پټ کړلو. په خدائې م دې قسم وي، هغۀ ماسره خبره قدرې هم اونۀ کړله، او نۀ ما د هغۀ د خولې نه سوا د: انّا للّٰه و انا الیه راجعون: بله څۀ کلمه واوریده. دې نه پس هغۀ خپله اوښه کینوله. او ذ هغې پښې ئې خپلو پښو سره دبانو اوساتلې. زۀ په اوښه سوره شوم.

صَفْوَانُ بْنُ الْمُعَطَّلِ السُّلَمِيُّ ثُمَّ الذَّكْوَانِيُّ مِنْ وَّرَآءِ الْجَيْشِ فَاَدْلَجَ فَاَصْبَحَ عِنْدَ مَنْزِلِيْ فَرَاٰى سَوَادَ اِنْسَانٍ نَائِمٍ فَاَتَانِيْ فَعَرَفَنِيْ حِيْنَ رَاٰنِيْ وَ كَانَ يَرَانِيْ قَبْلَ الْحِجَابِ فَاسْتَيْقَظْتُ بِاسْتِرْجَاعِهٖ حِيْنَ عَرَفَنِيْ فَخَمَّرْتُ وَجْهِيْ بِجِلْبَابِيْ وَاللّٰهِ مَا كَلَّمَنِيْ كَلِمَةً وَّلَا سَمِعْتُ مِنْهُ غَيْرَ اِسْتِرْجَاعِهٖ حَتّٰى اَنَاخَ رَاحِلَتَهٗ فَوَطِئَ عَلٰى يَدَيْهَا فَرَكِبْتُهَا فَانْطَلَقَ يَقُوْدُ بِيَ الرَّاحِلَةَ حَتّٰى اَتَيْنَا الْجَيْشَ بَعْدَ مَا نَزَلُوْا مُوْغِرِيْنَ فِيْ نَحْرِ الظَّهِيْرَةِ فَهَلَكَ مَنْ هَلَكَ وَ كَانَ الَّذِيْ تَوَلَّى الْاِفْكَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ اُبَيِّ ابْنِ سَلُوْلٍ فَقَدِمْنَا الْمَدِيْنَةَ فَاشْتَكَيْتُ حِيْنَ قَدِمْتُ شَهْرًا وَّالنَّاسُ يُفِيْضُوْنَ فِيْ قَوْلِ اَصْحٰبِ الْاِفْكِ لَا اَشْعُرُ بِشَيْءٍ مِّنْ ذٰلِكَ وَهُوَ يُرِيْبُنِيْ فِيْ وَجَعِيْ اَنِّيْ لَا اَعْرِفُ مِنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللُّطْفَ الَّذِيْ كُنْتُ اَرٰى مِنْهُ حِيْنَ اَشْتَكِيْ اِنَّمَا يَدْخُلُ عَلَيَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيُسَلِّمُ ثُمَّ يَقُوْلُ كَيْفَ تِيْكُمْ ثُمَّ يَنْصَرِفُ فَذَاكَ الَّذِيْ يُرِيْبُنِيْ وَلَا اَشْعُرُ حَتّٰى خَرَجْتُ بَعْدَ مَا نَقَهْتُ فَخَرَجَتْ مَعِيَ اُمُّ مِسْطَحٍ قِبَلَ

هغه غريب پياده تلو' او اُوښه ئے شړله. آخر زهٔ لښكر ته هغه وخت اورسيدم' چه نمر ښهٔ تيز شوے وو. او سخته ګرمي وَه. دَ قافلے بعضے خلقو په ما الزام اولږولو او خپل عاقبت ئے خراب کړلو. دوي کښې ورمبے سړے عبدالله بن ابي سلول وو. زهٔ چه مدينے ته راورسيدم' نو ناروغه شوم' او برابر يو مياشت پورے ناروغه ووم. او خلقو دا خبر برابر مشهوررولو او ماته دَ دے واقعے متعلق هيڅ علم نهٔ وو. البته دا څيز ضرور تكليف ده وو' چه حضور صلي الله عليه وسلّم دَ مخكښې په شان محبت ماسره نهٔ كولو. صرف دومره وه چه حضور صلي الله عليه وسلّم خما ليدو او حال معلومولو دَ پاره تشريف راوړلو' حال به ئے دريافت كولو' او بيا به سمدستي واپس تللو. دَ حضور صلي الله عليه وسلّم دَ دے طرز عمل نه ما دا خيال اوكړ' چه حضور صلي الله عليه وسلّم مانه ناراضه دے. يو مياشت پس زهٔ روغه شوم' نو يوه ورځ اُم مسطح سره رفع حاجت دَ پاره مناصع طرف ته لاړم' ځکه چه مونږ خلق به رفع حاجت دَ پاره ځنګل ته تللو. او دَ شپے وخت به بهر وتلو. دا دَ هغے زمانے خبره ده چه كورونو كښې دَ لوئے اودس ماتي ځايونه لا نهٔ وو جوړ شوے. او دَ بدبوئي دَ وجے نه به ئے نهٔ جوړول' دا رسم عربو كښې دَ مودے نه راروان وو. غرض واپسي كښې لار كښې دَ اُم مسطح پښه څادر كښې اونښليده او هغه غُرخيدو ته قريب شوه. او وئيلے' مسطح دے مړ شي. ما ورته اووے. دا څهٔ وائے مسطح خو دَ بدر غزا كښې شريک وو. او ته هغهٔ ته بد وائے. اُم مسطح اووے' تهٔ خو ډيره ساده ئے' تاته څهٔ معلومه ده' چه هغه څهٔ څهٔ

الْمَنَاصِعِ وَهُوَ مُتَبَرَّزُنَا وَ كُنَّا لَا نَخْرُجُ إِلَّا لَيْلًا إِلَى لَيْلٍ وَ ذٰلِكَ قَبْلَ اَنْ نَتَّخِذَ الْكُنُفَ قَرِيبًا مِنْ بُيُوتِنَا وَ اَمْرُنَا اَمْرُ الْعَرَبِ الْأُوَلِ فِي التَّبَرُّزِ قِبَلَ الْغَائِطِ فَكُنَّا نَتَأَذَّى بِالْكُنُفِ اَنْ نَتَّخِذَهَا عِنْدَ بُيُوتِنَا فَانْطَلَقْتُ اَنَا وَ اُمُّ مِسْطَحٍ وَ هِيَ اِبْنَةُ اَبِيْ رُهْمِ بْنِ عَبْدِ مَنَافٍ وَ اُمُّهَا بِنْتُ صَخْرِ بْنِ عَامِرٍ خَالَةُ اَبِيْ بَكْرٍ الصِّدِّيقِ وَ ابْنُهَا مِسْطَحُ بْنُ اُثَاثَةَ فَاَقْبَلْتُ اَنَا وَ اُمُّ مِسْطَحٍ قِبَلَ بَيْتِيْ قَدْ فَرَغْنَا مِنْ شَأْنِنَا فَعَثَرَتْ اُمُّ مِسْطَحٍ فِيْ مِرْطِهَا فَقَالَتْ تَعِسَ مِسْطَحٌ فَقُلْتُ لَهَا بِئْسَ مَا قُلْتِ اَتَسُبِّيْنَ رَجُلًا شَهِدَ بَدْرًا قَالَتْ اَيْ هَنْتَاهُ اَوَلَمْ تَسْمَعِيْ مَا قَالَ قَالَتْ قُلْتُ وَمَا قَالَ فَاَخْبَرَتْنِيْ بِقَوْلِ اَهْلِ الْإِفْكِ فَازْدَدْتُ مَرَضًا عَلٰى مَرَضِيْ فَلَمَّا رَجَعْتُ اِلٰى بَيْتِيْ وَ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعْنِيْ سَلَّمَ ثُمَّ قَالَ كَيْفَ تِيْكُمْ فَقُلْتُ اَتَأْذَنُ لِيْ اَنْ اٰتِيَ اَبَوَيَّ قَالَتْ وَ اَنَا حِيْنَئِذٍ اُرِيْدُ اَنْ اَسْتَيْقِنَ الْخَبَرَ مِنْ قِبَلِهِمَا قَالَتْ فَاَذِنَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجِئْتُ اَبَوَيَّ فَقُلْتُ لِاُمِّيْ يَا اُمَّتَاهُ مَا يَتَحَدَّثُ النَّاسُ قَالَتْ يَا بُنَيَّةُ هَوِّنِيْ عَلَيْكِ فَوَاللّٰهِ لَقَلَّمَا كَانَتِ

وائي' ما ورتـه اووے' اووايـه' هغه څۀ خبرے کوي. هغه وخت اُم مسطح ماته هغه دروغ' بُهتان او دَ تُهمت ټولے خبرے اوکړلے. يو خو زۀ دَ مخکښ نه ناروغه ووم' بيا چه دا خبره م واوريده' نو نوره هم ناروغه شوم. واپس کورته راغلم' حضور صلي الله عليه وسلّم چه ليدو له راغے' نو دَ لرے نه ئے سلام اوکه' حال ئے اوپښتلو. ما عرض اوکه' تاسو ماته اجازت راکړئے' زۀ دَ مور پلار کور ته تلل غواړم. خما خيال وو' چه زۀ لاړه شم' نو دَ هغوي نه به تپوس اوکړم' چه دا څۀ مصيبت دے. او دا څنګه طوفان راپورته شوے دے. حضور صلي الله عليه وسلّم ماله اجازت راکړلو' او زۀ دَ مور پلار کور ته لاړم او دَ مور نه م تپوس اوکه' چه دا خلق څۀ وائي. مور جواب راکه' اے خما لورے' تۀ دومره غم مۀ کوه' قسم په خدائے اکثر داسے معامله پيښيږي' چه دَ يو سړي ښکلے ښځه وي' او دَ خاوند خوښه وي' نو دَ هغۀ نورے ښځے دغه شان خبرے کوي. ما اووے' سبحان الله' څۀ خبره ده' چه خلقو دومره لوئے لوئے خبرے کړے دي' او تاسو هغه معمولي ګڼړے. ما په هغه شپه برابر ژړل' نۀ خوب راغے' نۀ م اُوښکے اودريدے. حضور صلي الله عليه وسلّم' حضرت عليؓ او حضرت اسامهؓ راوبلل' چه خما دَ پريښودو مشوره ورسره اوکړي' ځکه چه وحي راتلو کښ تاخير کيدلو حضرت اسامهؓ چه اهل بيت سره محبت لرلو' ونيلے' اے دَ الله رسولهؐ بي بي عائشهؓ ډيره نيکه ده' او مونږ ترے هيڅ کله داسے خبره نۀ ده ليدلے' چه خرابه وي. خو حضرت عليؓ اووے. اے دَ الله رسولهؐ' تاسو ولے فکر کوئے' الله تعالي خو به تاسو څۀ

اَمْرًا قَطُّ وَضِيئَةً عِنْدَ رَجُلٍ يُحِبُّهَا وَلَهَا ضَرَائِرُ إِلَّا كَثُرْتُ عَلَيْهَا قَالَتْ فَقُلْتُ سُبْحَانَ اللهِ وَلَقَدْ تَحَدَّثَ النَّاسُ بِهٰذَا قَالَتْ فَبَكَيْتُ تِلْكَ اللَّيْلَةَ حَتّٰى أَصْبَحْتُ لَا يَرْقَأُ لِيْ دَمْعٌ وَلَا أَكْتَحِلُ بِنَوْمٍ حَتّٰى أَصْبَحْتُ أَبْكِيْ فَدَعَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِيَّ بْنَ أَبِيْ طَالِبٍ وَ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ حِيْنَ اسْتَلْبَثَ الْوَحْيُ يَسْتَأْمِرُهُمَا فِيْ فِرَاقِ أَهْلِهٖ قَالَتْ فَأَمَّا أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ فَأَشَارَ عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالَّذِيْ يَعْلَمُ لَهُمْ فِيْ نَفْسِهٖ مِنَ الْوُدِّ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَهْلَكَ وَمَا نَعْلَمُ إِلَّا خَيْرًا وَّ أَمَّا عَلِيُّ بْنُ أَبِيْ طَالِبٍ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ لَمْ يُضَيِّقِ اللهُ عَلَيْكَ وَالنِّسَاءُ سِوَاهَا كَثِيْرٌ وَّ إِنْ تَسْأَلِ الْجَارِيَةَ تَصْدُقْكَ قَالَتْ فَدَعَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَرِيْرَةَ فَقَالَ أَيْ بَرِيْرَةُ هَلْ رَأَيْتِ مِنْ شَيْءٍ يُرِيْبُكِ قَالَتْ بَرِيْرَةُ لَا وَالَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ إِنْ رَأَيْتُ عَلَيْهَا أَمْرًا أَغْمِصُهُ عَلَيْهَا أَكْثَرَ مِنْ أَنَّهَا جَارِيَةٌ حَدِيْثَةُ السِّنِّ تَنَامُ عَنْ عَجِيْنِ أَهْلِهَا فَتَأْتِي الدَّاجِنُ فَتَأْكُلُهُ فَقَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَعْذَرَ

تنګسيا نه ده راوستے. نورے ډيرے نيکے ښځے موجود دي. تاسو دے معامله کښې د بريره' وينځے نه هم تپوس اوکړئے رسول الله صلي الله عليه وسلم بريره راوغوښتله' او دريافت ئے ترے اوکړلو. چه اے بريرهٔ' تاته د بي بي عائشے باره کښې داسے څهٔ خبره معلومه ده چه په هغے ستا څهٔ شک شبه راغلے وي. بريرے جواب کښې اووے. په خدائے م دے قسم وي' چه هغهٔ تاسو نبي برحق راليږلے ئے' ما هيڅ خبره داسے نه ده ليدلے' چه هغه پټه کړم. او دومره ضرور ده' چه بي بي عائشه کم عمره او ساده ده' ترديے چه اوړهٔ واغږي دغسے ترے پاتے شي' او اودهٔ شي. او چيلے راشي' هغه اوړهٔ اوخوري. دے نه پس حضور صلي الله عليه وسلم په منبر تشريف فرما شولو' او وے فرمائيل' څوک شته چه عبدالله بن ابي سلول نه د دے خبرے بدله واخلي' هغهٔ تهمت لږولو سره ماته تکليف اورسولو. او خما اهل بيت ئے هم تکليف کښې اچولے ده. خدائے ګواه دے چه زهٔ د بي بي عائشے په حقله د نيکي نه سوا نوره څه بدي نه پيژنم. او تهمت لږونکو هغه چا باندے تهمت لږولے دے چه د هغه بدي هيڅ کله چا نهٔ ده ليدلے. او هغه سړے به هميشه خما ملګرتيا کښې ماسره کور ته تلو د کوم چه دا خلق ذکر کوي. آخر حضرت سعد بن معاذ انصاريؓ اودريدلو. او وے وئيل اے د الله

يَوْمَئِذٍ مِنْ عَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ أُبَيِّ ابْنِ سَلُوْلَ قَالَتْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِيْنَ مَنْ يَّعْذِرُنِيْ مِنْ رَجُلٍ قَدْ بَلَغَنِيْ أَذَاهُ فِيْ أَهْلِ بَيْتِيْ وَاللّٰهِ مَا عَلِمْتُ عَلٰى أَهْلِيْ إِلَّا خَيْرًا وَلَقَدْ ذَكَرُوْا رَجُلًا مَا عَلِمْتُ عَلَيْهِ إِلَّا خَيْرًا وَمَا كَانَ يَدْخُلُ عَلٰى أَهْلِيْ إِلَّا مَعِيَ فَقَامَ سَعْدُ بْنُ مُعَاذِ الْأَنْصَارِيُّ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَنَا أَعْذِرُكَ مِنْهُ إِنْ كَانَ مِنَ الْأَوْسِ ضَرَبْتُ عُنُقَهُ وَ إِنْ كَانَ مِنْ إِخْوَانِنَا مِنَ الْخَزْرَجِ أَمَرْتَنَا فَفَعَلْنَا أَمْرَكَ قَالَتْ فَقَامَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ وَهُوَ سَيِّدُ الْخَزْرَجِ وَ كَانَ قَبْلَ ذٰلِكَ رَجُلًا صَالِحًا وَلٰكِنِ احْتَمَلَتْهُ الْحَمِيَّةُ فَقَالَ لِسَعْدٍ كَذَبْتَ لَعَمْرُ اللّٰهِ لَا تَقْتُلُهُ وَلَا تَقْدِرُ عَلٰى قَتْلِهِ فَقَامَ أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ وَهُوَ ابْنُ عَمِّ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ كَذَبْتَ لَعَمْرُ اللّٰهِ لَنَقْتُلَنَّهُ إِنَّكَ مُنَافِقٌ تُجَادِلُ عَنِ الْمُنَافِقِيْنَ فَتَثَاوَرَ الْحَيَّانِ الْأَوْسُ وَالْخَزْرَجُ حَتّٰى هَمُّوْا أَنْ يَّقْتَتِلُوْا وَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَائِمٌ عَلَى الْمِنْبَرِ فَلَمْ يَزَلْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخَفِّضُهُمْ حَتّٰى سَكَتُوْا وَ سَكَتَ

رسولهﷺ زۀ به د هغه نه بدله واخلم. که هغه قبيله اوس سره هم تعلق لري، بيا به هم زۀ هغه په تيغ کړم، او که خمونږ د قبيلهٔ خزرج نه دے، نو بيا څۀ سزا چه تاسو تجويز کونے، هغه به ورکړے شي. بي بي عائشهؓ فرمائي. بيا د قبيلهٔ خزرج سردار سعد بن عبادهؓ اودريدلو. حالانکه دے د نن نه مخکښ ډير نيک او صالح وو. خو د خزرج نوم آوريدو سره قومي جوش پرے غالب شو. او سعد بن معاذ ته ئے اووے، چه تا دروغ ونيلي دي. په الله م دے قسم وي، ته هغه نۀ شے وژلے. دے نه پس د سعد د ترۀ خوئے اسيد بن حضير اودريدلو. او سعد بن عباده ته ئے اووے چه تا دروغ اووے. مونږ به ضرور هغه وژنو، ته منافق معلوميږے، په دے وجه ته د منافق مرسته کوے. غرض د دواړو طرف نه سخت کلامي شروع شوه. ممکنه وه چه د جنګ نوبت راغلے وے، حضور صلي الله عليه وسلم په منبر اودريدلو، او خلق ئے خاموش کړل آخر ټول خاموش شول. بي بي عائشهؓ وائي زۀ په هغه ورځ ژړيدم، او خوب نۀ راتلو زۀ دوه ورځے او يوه شپه برابر ژړيدم. سحر ته خما پلار ابوبکرؓ ماله راغے، په دے خيال چه چرته په ژړا ژړا خما زړۀ اونۀ چوي، هغه لا ماسره ناست وو، چه يو انصاريه ښځے دننه د راتلو اجازت اوغوښتلو. ما دننه راوغوښتله، هغه راغله،

قَالَتْ فَمَكَثْتُ يَوْمِيْ ذٰلِكَ لَا يَرْقَأُ لِيْ دَمْعٌ وَلَا اَكْتَحِلُ بِنَوْمٍ قَالَتْ فَاَصْبَحَ اَبَوَايَ عِنْدِيْ وَقَدْ بَكَيْتُ لَيْلَتَيْنِ وَ يَوْمًا لَا اَكْتَحِلُ بِنَوْمٍ وَّلَا يَرْقَأُ لِيْ دَمْعٌ يَظُنَّانِ اَنَّ الْبُكَاءَ فَالِقٌ كَبِدِيْ قَالَتْ فَبَيْنَمَا هُمَا جَالِسَانِ عِنْدِيْ وَ اَنَا اَبْكِيْ فَاسْتَأْذَنَتْ عَلَيَّ اِمْرَاَةٌ مِّنَ الْاَنْصَارِ فَاَذِنْتُ لَهَا فَجَلَسَتْ تَبْكِيْ مَعِيَ قَالَتْ فَبَيْنَا نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ دَخَلَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمَ ثُمَّ جَلَسَ قَالَتْ وَلَمْ يَجْلِسْ عِنْدِيْ مُنْذُ قِيْلَ مَا قِيْلَ قَبْلَهَا وَقَدْ لَبِثَ شَهْرًا فَتَشَهَّدَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ جَلَسَ ثُمَّ قَالَ اَمَّا بَعْدُ يَا عَائِشَةُ فَاِنَّهُ قَدْ بَلَغَنِيْ عَنْكِ كَذَا وَ كَذَا فَاِنْ كُنْتِ بَرِيْئَةً فَسَيُبَرِّئُكِ اللّٰهُ وَ اِنْ كُنْتِ اَلْمَمْتِ بِذَنْبٍ فَاسْتَغْفِرِي اللّٰهَ وَ تُوْبِيْ اِلَيْهِ فَاِنَّ الْعَبْدَ اِذَا اعْتَرَفَ بِذَنْبِهٖ ثُمَّ تَابَ اِلَى اللّٰهِ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِ قَالَتْ فَلَمَّا قَضٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَقَالَتَهٗ قَلَصَ دَمْعِيْ حَتّٰى مَا اُحِسُّ مِنْهُ قَطْرَةً فَقُلْتُ لِاَبِيْ اَجِبْ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْمَا قَالَ قَالَ وَاللّٰهِ مَا اَدْرِيْ مَا اَقُوْلُ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او ماسره هغه هم په ژړا شوه. دے نه پس سمدستي حضور صلي الله عليه وسلّم تشريف راوړلو، او ماسره قريب كيناستلو، حالانكه د تهمت لړولو د ورځے نه نه پورے ماسره ناست نه وو. او يو مياشت تيره شوے وه. چه څه وحي هم څما معامله كښ حضور صلي الله عليه وسلّم ته نه وه راغلے. رسول الله صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل. اشهد ان لا اله الا الله (يعني زه د يو الله د معبود كيدو ګواهي وركوم) بيا حضورؐ ارشاد اوفرمائيلو، اے عائشهؓ ستا په وجه ماته ډير تكليف رسيدلے دے. كه ته بے قصوره ئے نو ستا د برئ كيدو او صفائي د پاره به الله تعالٰي ضرور څه نه څه حكم نازل كړي. او كه ته نه واقعي غلطي شوے وي، نو د الله تعالٰي نه معافي اوغواړه، او هغه ته توبه اوكاږه، ځكه چه بنده په خپل قصور نادم شي. او توبه او استغفار اوكړي. نو الله تعالٰي پرے مهرباني اوكړي. رسول الله صلي الله عليه وسلّم چه خاموش شولو، او خپله خبره ئے پوره كړله، نو ما خپل پلار (ابوبكرؓ) ته اووے چه تاسو رسول الله صلي الله عليه وسلّم له جواب وركړئ داسے حال كښ چه څما اوښكے بالكل خشكے شوے وے. څما پلار جواب راكه، زه نه پوهيږم چه حضورؐ له څه جواب وركړم. بيا ما خپلے مور ته اووے، چه ته رسول الله صلي الله عليه وسلّم له جواب وركه. خو هغے هم

فَقُلْتُ لِأُمِّيْ اَجِيْبِيْ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ مَا اَدْرِيْ مَا اَقُوْلُ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ فَقُلْتُ وَ اَنَا جَارِيَةٌ حَدِيْثَةُ السِّنِّ لَا اَقْرَأُ كَثِيْرًا مِّنَ الْقُرْاٰنِ اِنِّيْ وَاللّٰهِ لَقَدْ عَلِمْتُ لَقَدْ سَمِعْتُمْ هٰذَا الْحَدِيْثَ حَتّٰى اسْتَقَرَّ فِيْ اَنْفُسِكُمْ وَ صَدَّقْتُمْ بِهٖ فَلَئِنْ قُلْتُ لَكُمْ اِنِّيْ بَرِيْئَةٌ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اَنِّيْ بَرِيْئَةٌ لَا تُصَدِّقُوْنِيْ بِذٰلِكَ وَلَئِنِ اعْتَرَفْتُ لَكُمْ بِاَمْرٍ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اَنِّيْ مِنْهُ بَرِيْئَةٌ لَتُصَدِّقُنِّيْ وَاللّٰهِ مَا اَجِدُ لَكُمْ مَثَلًا اِلَّا قَوْلَ اَبِيْ يُوْسُفَ قَالَ فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ وَ اللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ قَالَتْ ثُمَّ تَحَوَّلْتُ فَاضْطَجَعْتُ عَلٰى فِرَاشِيْ قَالَتْ وَ اَنَا حِيْنَئِذٍ اَعْلَمُ اَنِّيْ بَرِيْئَةٌ وَّ اَنَّ اللّٰهَ مُبَرِّئِيْ بِبَرَآءَتِيْ وَلٰكِنْ وَاللّٰهِ مَا كُنْتُ اَظُنُّ اَنَّ اللّٰهَ مُنْزِلٌ فِيْ شَاْنِيْ وَحْيًا يُّتْلٰى وَ لَشَاْنِيْ فِيْ نَفْسِيْ كَانَ اَحْقَرَ مِنْ اَنْ يَّتَكَلَّمَ اللّٰهُ فِيَّ بِاَمْرٍ يُّتْلٰى وَلٰكِنْ كُنْتُ اَرْجُوْ اَنْ يَّرٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي النَّوْمِ رُؤْيَا يُبَرِّئُنِي اللّٰهُ بِهَا قَالَتْ فَوَاللّٰهِ مَا رَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا خَرَجَ اَحَدٌ مِّنْ اَهْلِ

اووے، زهٔ نـهٔ پوهیږم چه رسول اللّٰه صلي اللّٰه علیه وسلّم لـه څـهٔ جواب ورکړم (یعني هیڅ جواب نشم ورکولے) آخر ما خپله اووے، حالانکه زهٔ کم عمره ووم، او قرآن هم راته ښهٔ یاد نهٔ وو. ما اووے، دَ خلقو په وینا چه ستاسو زړونو کښې کومه خبره ناسته ده، هغه تاسو رښتیا ګڼړلے ده، اوس که زهٔ دا اووایم، چه زهٔ بے قصوره یم، نو ستاسو پرے یقین نـهٔ راځي، او که اقرار او کړم نو اللّٰه پوهیږي، چه زهٔ بے قصوره یم، خو تاسو به نے رښتیا اوګڼړئے. په خدائے مِ دے قسم وي ماته سِوا دَ دے مثال نه بل مثال نهٔ یادیږي، چه دَ حضرت یوسف علیه السلام دَ پلار مثال دے چه هغهٔ فرمائیلے وو: فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ. یعني زهٔ به ښهٔ صبر کوم. او اللّٰه تعالٰي مددګار دے، څه چه تاسو بیان کوئے. دے نه پس ما مخ خپل بل طرف ته کړلو، او په خپله بستره سملاستم. او دا خیال مِ او کهٔ، چه زهٔ دَ دے تهمت نه پاکه یم. او اللّٰه به ضرور خما دَ نجات او برأت حکم اوفرمائي. ورسره به دا خیال هم راتلو، چه زهٔ دَ دے قابله چرته یم، چه ما دَ پاره دے وحي نازلے شي. خو دا به وي چه اللّٰه تعالٰي به خوب کښې حضور صلي اللّٰه علیه وسلّم ته دَ دے معاملے نجات او برأت اوښائي. خدائے ګواه دے، چه حضور صلي اللّٰه علیه وسلّم دَ تلو لا قصد هم نهٔ وو کړے. او دَ کور نور خلق لا هغسے ناست وو، چه په حضور

الْبَيْتِ حَتّٰى اُنْزِلَ عَلَيْهِ فَاَخَذَهٗ مَا كَانَ يَاْخُذُهٗ مِنَ الْبُرَحَاءِ حَتّٰى اِنَّهٗ لَيَتَحَدَّرُ مِنْهُ مِثْلُ الْجُمَانِ مِنَ الْعَرَقِ وَهُوَ فِيْ يَوْمٍ شَاتٍ مِنْ ثِقَلِ الْقَوْلِ الَّذِيْ يُنْزَلُ عَلَيْهِ قَالَتْ فَلَمَّا سُرِّيَ عَنْهُ وَهُوَ يَضْحَكُ فَكَانَتْ اَوَّلُ كَلِمَةٍ تَكَلَّمَ بِهَا يَا عَائِشَةُ اَمَّا اللّٰهُ عَزَّ وَ جَلَّ فَقَدْ بَرَّأَكِ فَقَالَتْ اُمِّيْ قُوْمِيْ اِلَيْهِ قَالَتْ فَقُلْتُ وَاللّٰهِ لَا اَقُوْمُ وَلَا اَحْمَدُ اِلَّا اللّٰهَ عَزَّ وَ جَلَّ وَ اَنْزَلَ اللّٰهُ اِنَّ الَّذِيْنَ جَآءُوْا بِالْاِفْكِ عُصْبَةٌ مِنْكُمْ لَا تَحْسَبُوْهُ الخ الْعَشْرَ اٰيَاتٍ كُلَّهَا فَلَمَّا اَنْزَلَ اللّٰهُ هٰذَا فِيْ بَرَاءَتِيْ قَالَ اَبُوْ بَكْرٍ الصِّدِّيْقُ وَ كَانَ يُنْفِقُ عَلٰى مِسْطَحِ بْنِ اُثَاثَةَ لِقَرَابَتِهٖ مِنْهُ وَ فَقْرِهٖ وَاللّٰهِ لَا اُنْفِقُ عَلٰى مِسْطَحٍ شَيْئًا اَبَدًا بَعْدَ الَّذِيْ قَالَ لِعَائِشَةَ مَا قَالَ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ وَلَا يَاْتَلِ اُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَ السَّعَةِ اَنْ يُّؤْتُوْا اُولِي الْقُرْبٰى وَ الْمَسَاكِيْنَ وَالْمُهَاجِرِيْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلْيَعْفُوْا وَلْيَصْفَحُوْا اَلَا تُحِبُّوْنَ اَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَكُمْ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ قَالَ اَبُوْ بَكْرٍ بَلٰى وَاللّٰهِ اِنِّيْ اُحِبُّ اَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لِيْ فَرَجَعَ اِلٰى مِسْطَحٍ النَّفَقَةَ الَّتِيْ كَانَ يُنْفِقُ عَلَيْهِ وَ قَالَ وَاللّٰهِ لَا اَنْزِعُهَا مِنْهُ اَبَدًا قَالَتْ عَائِشَةُ وَ كَانَ

صلي اللّٰه عليه وسلّم وحي نازله شوه. خوله تري څڅيدله. او د وحي پوره كيفيت پري خور شوي وو، اګر كه د يخني ورځي وي، خو د وحي د بوج نه د ملغلرو په شان د خولي قطري د حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم د مخ مبارك نه څڅيدلي. كوم وخت چه وحي ختمي شوي، نو حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم مسكي شولو، او د ټولو نه مخكښي ئي دا خبره اوكړله، اي عائشي، اللّٰه تهٔ دَ دي ګناه دَ الزام نه بري كړلي. خما مور اووي، ورشه، او حضورٌ ته سلام اوكه، او شكريه ئي ادا كړه. ما ورته اووي، زهٔ خو صرف دَ اللّٰه شكريه ادا كوم، دي نه پس حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم دا آيتونه اولوستل: اِنَّ الَّذِيْنَ جاء وا بالافكِ الخ: نه رؤف رحيم: يعني لس آيتونو پوري. بيا خما پلار ابوبكر صديقٌ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ته عرض اوكړ. ما به د مسطح بن اثاثه د غربت او قرابت په وجه هغهٔ ته نفقه وركوله، خو اوس زهٔ داسي نشم كولي، خكه چه هغهٔ عائشهٔ بدنامه كړله، نو هغه وخت دا آيتونه نازل شول: ولا ياتل اولوا الفضل: نه غفور رحيم: پوري، يعني صاحب مال خلقو له نهٔ دي پكار، چه هغوي په څهٔ وجه د دي خبري قسم اوخوري، چه هغوي به خپل غريب رشته دارانو او محتاجانو ته نان نفقه نه وركوي، بلكه هغوي له پكار دي، چه د هغوي خطا معاف كړي. آيا هغوي دا نهٔ خوښوي، چه اللّٰه هغوي اوبښي، او اللّٰه تعالٰي ښبونكي مهربان دي. حضرت ابوبكرٌ اووي، قسم په خداني، زهٔ دا غواړم، چه خداني ما اوبښي. اوس

رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُ زَيْنَبَ بِنْتَ جَحْشٍ عَنْ اَمْرِي فَقَالَ يَا زَيْنَبُ مَاذَا عَلِمْتِ اَوْ رَاَيْتِ فَقَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَحْمِيْ سَمْعِيْ وَ بَصَرِيْ مَا عَلِمْتُ اِلَّا خَيْرًا قَالَتْ وَ هِيَ الَّتِيْ كَانَتْ تُسَامِيْنِيْ مِنْ اَزْوَاجِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَصَمَهَا اللّٰهُ بِالْوَرَعِ وَطَفِقَتْ اُخْتُهَا حَمْنَةُ تُحَارِبُ لَهَا فَهَلَكَتْ فِيْمَنْ هَلَكَ مِنْ اَصْحَابِ الْاِفْكِ.

به آینده نان نفقه زهٔ نهٔ بندوم. بي بي عائشهٔ فرمائي. رسول الله صلي الله عليه وسلّم به دَ زينب بنت جحش نه هم تپوس کولو، چه عائشهٔ څنګه ده، هغې به دا وئیلې، اې دَ الله رسولهٔ، زهٔ خپل غوږونه او سترګې بنهٔ احتیاط سره ساتم. ما خو عائشې کښې هیڅ خرابي نهٔ ده لیدلې. عائشهٔ وائي، دَ حضورؐ په بیبیانو کښې بي بي زینبؓ څما دَ برابرئ وه، او څما نه ئې زیات ښهٔ اوسیدل غوښتل، خو الله دَ هغې دَ پرهیزګاري په وجه مغه بچ کړله، او دَ هغې خور حمنه بنت جحش دَ خپلې خور دَ پاره جګړه کوله. بیا څنګه چه نور بُهتان تړونکي هلاک شو. دا هم هلاکت کښې پریوتله.

باب ۲ ۱ ۳: قَوْلِهِ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَ رَحْمَتُهُ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ لَمَسَّكُمْ فِيْمَا اَفَضْتُمْ فِيْهِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ تَلَقَّوْنَهُ يَرْوِيْهِ بَعْضُكُمْ عَنْ بَعْضٍ تُفِيْضُوْنَ تَقُوْلُوْنَ.

باب ۲ ۱ ۳: آیت: وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَ رَحْمَتُهُ دَ الله تعالٰي قول، دَ الله فضل او دَ هغهٔ رحمت که دُنیا او آخرت کښې په تاسو نهٔ وې، نو په تاسوبه سخت عذاب وې، دَ هغه څیز په بدله کښې چه هغې کښې پریوتې وئې. مجاهد وائي، "تلقونه" معني دي، چه تاسو د یو بل نه نقل کولو. "تفیضون" تاسو وئیلې.

۷۳٦: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيْرٍ اَخْبَرَنَا سُلَيْمَانُ عَنْ حُصَيْنٍ عَنْ اَبِيْ وَائِلٍ عَنْ مَسْرُوْقٍ عَنْ اُمِّ رُوْمَانَ اُمِّ عَائِشَةَ اَنَّهَا قَالَتْ لَمَّا رُمِيَتْ عَائِشَةُ خَرَّتْ مَغْشِيًّا عَلَيْهَا.

۷۳٦: محمد بن کثیر. سلیمان. حصین. ابو وائل. مسروق. اُم رومان (دَ بي بي عائشې مور) نه روایت کوي، دَ هغې بیان دې، کوم وخت چه په بي بي عائشې تهمت اولږیدلو، نو هغه بیهوشه راوغرځیدله.

باب ۳ ۱ ۳: قَوْلِهِ اِذْ تَلَقَّوْنَهُ بِاَلْسِنَتِكُمْ وَ تَقُوْلُوْنَ بِاَفْوَاهِكُمْ مَا لَيْسَ لَكُمْ بِهِ عِلْمٌ وَ تَحْسَبُوْنَهُ هَيِّنًا وَّهُوَ عِنْدَ اللّٰهِ

باب ۳ ۱ ۳: آیت: اِذْ تَلَقَّوْنَهُ بِاَلْسِنَتِكُمْ: دَ الله تعالٰي قول، هر کله چه تاسو خپلې خولې سره داسې خبره کوله، چه دَ هغې درته ذره قدرې هم علم نه وو، او تاسو دا خبره معمولي ګڼړله، حالانکه دا خبره دَ الله په

غضبه .

نزد ډيره لويه وه.

۴۳۸ : حَدَّثَنَا اِبْرٰهِيْمُ بْنُ مُوْسٰى حَدَّثَنَا هِشَامٌ اَنَّ ابْنَ جُرَيْجٍ اَخْبَرَهُمْ قَالَ ابْنُ اَبِىْ مُلَيْكَةَ سَمِعْتُ عَائِشَةَ تَقْرَاُ اِذْ تَلِقُوْنَهٗ بِاَلْسِنَتِكُمْ .

۴۳۸ : ابراهيم بن موسى. هشام. ابن جريج. حضرت ابن ابي مليكه نه روايت كوي. د هغهٔ بيان دے. ما د بي بي عائشے نه: اذ تلقونه" لوستل آوريدلے دي.

باب ۴۱۴ : قَوْلِهٖ وَلَوْلَا اِذْ سَمِعْتُمُوْهُ قُلْتُمْ مَا يَكُوْنُ لَنَا اَنْ نَتَكَلَّمَ بِهٰذَا سُبْحٰنَكَ هٰذَا بُهْتَانٌ عَظِيْمٌ .

باب ۴۱۴ : آيت: ولولا اذ سمعتموه قلتم ما يكون لنا: د الله تعالي قول. هر كله چه تاسو هغه دروغ خبره واوريده، نو آوريدو سره مو دا ولے اُونه وے، مونږ په خبره يقين اوكړو. او څنګه ئے په ژبه راوړو. معاذ الله دا خو څرګند دروغ دي.

۴۳۹ : حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنّٰى حَدَّثَنَا يَحْيٰى عَنْ عُمَرَ بْنِ سَعِيْدِ بْنِ اَبِىْ حُسَيْنٍ قَالَ حَدَّثَنِىْ ابْنُ اَبِىْ مُلَيْكَةَ قَالَ اسْتَاْذَنَ ابْنُ عَبَّاسٍ قَبْلَ مَوْتِهَا عَلٰى عَائِشَةَ وَ هِىَ مَغْلُوْبَةٌ قَالَتْ اَخْشٰى اَنْ يُّثْنِىَ عَلَىَّ فَقِيْلَ ابْنُ عَمِّ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمِنْ وُجُوْهِ الْمُسْلِمِيْنَ قَالَتِ ائْذَنُوْا لَهٗ فَقَالَ كَيْفَ تَجِدِيْنَكِ قَالَتْ بِخَيْرٍ اِنِ اتَّقَيْتُ قَالَ فَاَنْتِ بِخَيْرٍ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ زَوْجَةُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَنْكِحْ بِكْرًا غَيْرَكِ وَ نَزَلَ عُذْرُكِ مِنَ السَّمَآءِ وَ دَخَلَ ابْنُ الزُّبَيْرِ خِلَافَهٗ فَقَالَتْ دَخَلَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَاَثْنٰى عَلَىَّ وَ وَدِدْتُ اَنِّىْ كُنْتُ نَسْيًا مَّنْسِيًّا .

۴۳۹ : محمد بن مثني. يحيي. عمر بن سعيد بن ابي حسين. ابن ابي مليكه نه روايت كوي. هغهٔ اووے. د بي بي عائشے حالت ډير خرابيدلو. يعني د نزع حالت وو. چه حضرت ابن عباسؓ د ملاقات اجازت اوغوښتلو. بي بي عائشے څهٔ ډيل اوكهٔ، د دے خوف نه، چه هغه به خما تعريف كوي. آخر تنولو اووے، اجازت وركول پكار دي. دا تبول د حضور صلي الله عليه وسلّم د ترهٔ خامن دي او ډير نيک دي. ابن عباسؓ راغے، او د حال تپوس ئے اوكهٔ. بي بي عائشےؓ اوفرمائيل، كه زهٔ نيكه يم، نو ښهٔ يم. ابن عباسؓ اووے، تهٔ ضرور ښهٔ ئے ځكه چه د رسول پاک صلي الله عليه وسلّم ښځه ئے. حضورؐ بغير ستا نه هيڅ پيغلے سره واده نه دے كړے. ستا حق كښې الله آيات نازل كړل. دے نه پس حضرت ابن زبيرؓ ليدوله راغے. نو عائشےؓ هغهٔ ته اوفرمائيل. ابن عباسؓ راغلے وو او خما ډير تعريف ئے كولو. خو ماته دا ښهٔ معلوميږي چه زهٔ ګمنامه او تيره هيره وے.

۱. د خنکدن حالت وو دے د پاره هغې دا خوښه نه کړه چه په داسے حالت کښے حما تعریف وکړے شي.

۴۷۰: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنّٰى حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ عَبْدِ الْمَجِيْدِ حَدَّثَنَا ابْنُ عَوْنٍ عَنِ الْقَاسِمِ اَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ اسْتَأْذَنَ عَلٰى عَائِشَةَ نَحْوَهُ وَلَمْ يَذْكُرْ نَسْيًا مَّنْسِيًّا.

۴۷۰: محمد بن مثنى. عبدالوهاب بن عبدالمجيد. ابن عون. حضرت قاسم بن محمد نه روایت کوی: د هغه بیان دے. حضرت ابن عباس د بي بي عائشے اجازت اوغوښتلو. او د مخکښ په شان ئے اوکړ. او د "نسيا منسيا" لفظ ئے ذکر نه کړلو.

باب ۳۱۵: قَوْلِهٖ يَعِظُكُمُ اللّٰهُ اَنْ تَعُوْدُوْا لِمِثْلِهٖ اَبَدًا الْاٰيَة.

باب ۳۱۵: آیت: يعظكم الله ان تعودوا لمثله ابدا: د الله تعالي قول. الله تعالي تاسو ته نصيحت کوي چه داسے کار بیا هیڅ کله مه کوئے.

۴۷۱: حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوْسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ اَبِي الضُّحٰى عَنْ مَسْرُوْقٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ جَآءَ حَسَّانُ بْنُ ثَابِتٍ يَسْتَأْذِنُ عَلَيْهَا قُلْتُ اَتَأْذَنِيْنَ لِهٰذَا قَالَتْ اَوَلَيْسَ قَدْ اَصَابَهُ عَذَابٌ عَظِيْمٌ قَالَ سُفْيَانُ تَعْنِيْ ذَهَابَ بَصَرِهٖ فَقَالَ:

حَصَانٌ رَزَانٌ مَا تُزَنُّ بِرِيْبَةٍ
وَتُصْبِحُ غَرْثٰى مِنْ لُحُوْمِ الْغَوَافِلِ

قَالَتْ لٰكِنْ اَنْتَ.

۴۷۱: محمد بن یوسف. سفیان. اعمش. ابي الضحي. مسروق. بي بي عائشے نه روایت کوي: د هغے بیان دے. حضرت حسان شاعر بي بي عائشے نه دننه د راتللو اجازت اوغوښتلو. ما ورے ته دا سړے ولے پرېږدے. هغے اووے: آیا دے په لوئے عذاب نه دے. سفیان اووے. یعني په سترګو ړوند شو ۱. بیا حضرت حسان دا شعر اووے: ترجمه: عاقله ده پاکدامنه. هر عیب نه پاکه او نیک بخته ده. هغه سحر کوی په لوږه. خو د بے ګناه غوښه نه خوري. بي بي عائشے اووے لیکن ته خو داسے نه ئے.

۱. حضرت حسان بن ثابت انصاري به آخر عمر کښے نابینا شوے وو

باب ۳۱۶: قَوْلِهٖ وَيُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ.

باب ۳۱۶: آیت: د الله تعالي قول: چه الله تاسو د پاره خپل آیتونه بیان کوي. او الله پوهیدونکے او حکمت والا دے.

۴۷۲: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ

۴۷۲: محمد بن بشار. ابن ابي عدي. شعبه.

بْشِيْرٍ حَدَّثَنَا ابْنُ اَبِيْ عَدِيٍّ اَنْبَانَا شُعْبَةُ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ اَبِي الضُّحٰى عَنْ مَسْرُوْقٍ قَالَ دَخَلَ حَسَّانُ بْنُ ثَابِتٍ عَلٰى عَائِشَةَ فَشَبَّبَ وَ قَالَ:

حَصَانٌ رَزَانٌ مَا تُزَنُّ بِرِيْبَةٍ
وَ تُصْبِحُ غَرْثٰى مِنْ لُحُوْمِ الْغَوَافِلِ

قَالَتْ لَسْتَ كَذٰلِكَ قُلْتُ تَدَعِيْنَ مِثْلَ هٰذَا يَدْخُلُ عَلَيْكِ وَقَدْ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَالَّذِيْ تَوَلّٰى كِبْرَهُ مِنْهُمْ فَقَالَتْ وَ اَيُّ عَذَابٍ اَشَدُّ مِنَ الْعَمٰى وَ قَالَتْ وَقَدْ كَانَ يَرُدُّ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

اعمش. ابي الضحي. مسروق. بي بي عائشےؓ نه روايت كوي. حضرت حسان شاعر' بي بي عائشےؓ نه دننه دَ راتلو اجازت اوغوښتلو' نو دَ بي بي عائشےؓ تعريف کښې ئے دا شعر اووے: (ترجمه) يعني عاقله ده' پاكدامنه' دَ هر عيب نه پاكه او نيک بخته ده. هغه سحر كوي په لوږه' خو دَ بے گناه غوښه نهٔ خوري¹. بي بي عائشےؓ ورته اووے' چه تهٔ خو داسے نهٔ ئے. ما عرض اوكهٔ' تهٔ ولے داسے سړے رادننه كوے' چه هغهٔ دَ پاره الله تعالىٰ دا آيت نازل كړے دے: وَالَّذِى تَوَلّٰى كِبره منهم: آخر آيت پورے. بي بي عائشےؓ اووے' دَ ړنديدو نه به زيات عذاب نور څه وي' او دهٔ به دَ نبي صلي الله عليه وسلّم دَ طرف نه كفارو ته جواب وركولو.

۱. په دے مصرعه کښے د قرآن مجيد هغه آيت طرفته تلميح ده كوم کښے چه غيبت كول د خپل مړ رور غوښے خوړلو سره تعبير كړے شوے دے. يعني كومے ښځے چه غافلے او ناخبره وي' د هغوي ددے عادت په وجے سره دوئ د نورو په مخكښے دَ هغوئ هيڅ قسمه بدوالے نه بيانوي' ځكه چه دا غيبت دے او غيبت كول د خپل مړ رور د غوښے خوړلو مُرادِف دے.

بَاب۷ ۱ ۳: قَوْلِهِ اِنَّ الَّذِيْنَ يُحِبُّوْنَ اَنْ تَشِيْعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَ اَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَ رَحْمَتُهُ وَ اَنَّ اللّٰهَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ تَشِيْعُ تَظْهَرُ.

باب۷ ۱ ۳: آيت: اِنَّ الَّذِيْنَ يُحِبُّوْنَ اَنْ تَشِيْعَ الْفَاحِشَةُ: دَ الله تعالىٰ قول' كوم خلق چه دَ بے حيائي خبرے خورول خوښوي' هغوي له دُنيا او آخرت دواړو کښې دردناک عذاب دے. او الله تعالىٰ ښهٔ پوهيږي' او تاسو په هيڅ نهٔ پوهيږئے. او كه په تاسو دَ الله رحمت او فضل نهٔ وے' نو څهٔ به وو' الله ډير مهربان او رحم واله دے. "تشيع" معني خواره' ظاهر شي.

بَاب۸ ۱ ۳: قَوْلِهِ وَلَا يَاْتَلِ اُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ اَنْ يُّؤْتُوْا اُولِي الْقُرْبٰى وَالْمَسَاكِيْنَ وَالْمُهَاجِرِيْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

باب۸ ۱ ۳: آيت: وَلَا يَاْتَلِ اُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ: دَ الله تعالىٰ قول' كوم خلق چه تاسو کښې مالدار او وسعت واله دي' هغوي دے دَ دے خبرے قسم نهٔ خوري' چه هغوي به رشته دارانو او محتاجانو او دَ الله

وَلْيَعْفُوْا وَلْيَصْفَحُوْا اَلَا تُحِبُّوْنَ اَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَكُمْ وَ اللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ.

په لار كښې هجرت كونكو ته نفقه نۀ وركوي. هغوي له د معافئ نه كار اخستل پكار دي آيا تاسو دا نۀ غواړئ چه الله تاسو اوبښي، الله خو ښونكے مهربان دے.

۷۴۳: حَدَّثَنَا اَبُوْ اُسَامَةَ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ قَالَ اَخْبَرَنِىْ اَبِىْ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا ذُكِرَ مِنْ شَانِىَ الَّذِىْ ذُكِرَ وَمَا عَلِمْتُ بِهٖ قَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِىَّ خَطِيْبًا فَتَشَهَّدَ فَحَمِدَ اللّٰهَ وَ اَثْنٰى عَلَيْهِ بِمَا هُوَ اَهْلُهٗ ثُمَّ قَالَ اَمَّا بَعْدُ اَشِيْرُوْا عَلَىَّ فِىْ اُنَاسٍ اَبَنُوْا اَهْلِىْ وَ اَيْمُ اللّٰهِ مَا عَلِمْتُ عَلٰى اَهْلِىْ مِنْ سُوْءٍ وَ اَبَنُوْهُمْ بِمَنْ وَاللّٰهِ مَا عَلِمْتُ عَلَيْهِ مِنْ سُوْءٍ قَطُّ وَلَا يَدْخُلُ بَيْتِىْ قَطُّ اِلَّا وَ اَنَا حَاضِرٌ وَّلَا غِبْتُ فِىْ سَفَرٍ اِلَّا غَابَ مَعِىَ فَقَامَ سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ فَقَالَ ائْذَنْ لِّىْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَنْ نَضْرِبَ اَعْنَاقَهُمْ وَ قَامَ رَجُلٌ مِنْ بَنِى الْخَزْرَجِ وَ كَانَ اُمُّ حَسَّانِ بْنِ ثَابِتٍ مِنْ رَهْطِ ذٰلِكَ الرَّجُلِ فَقَالَ كَذَبْتَ اَمَا وَاللّٰهِ اِنْ لَّوْ كَانُوْا مِنَ الْاَوْسِ مَا اَحْبَبْتَ اَنْ تُضْرَبَ اَعْنَاقُهُمْ حَتّٰى كَادَ اَنْ يَّكُوْنَ بَيْنَ الْاَوْسِ وَالْخَزْرَجِ شَرٌّ فِى الْمَسْجِدِ وَمَا عَلِمْتُ فَلَمَّا كَانَ مَسَاءُ ذٰلِكَ الْيَوْمِ خَرَجْتُ لِبَعْضِ حَاجَتِىْ وَ مَعِىَ اُمُّ مِسْطَحٍ فَعَثَرَتْ وَ

۷۴۳: ابو اسامه. هشام بن عروه. عروه. بي بي عائشےؓ نه روايت كوي، ذ هغے بيان دے، كوم وخت چه خلقو ځما متعلق ذ دروغے الزام مشهور كړلو، او ماته ذ هغے صحيح حال معلوم نه وو، نو يوه ورځ حضور صلي الله عليه وسلّم خطبه اولوسته. كلمهٔ تشهد نه پس ئے ذ الله حمد و ثنا بيان كۀ. دے نه پس حضورؐ خلقوته اوفرمائيل، تاسو ماته ذ هغے خلقو متعلق مشوره راكړئے، چه هغوي ځما په كوروالا تور لږولے دے. خدائے گواه دے، چه ما عائشهؓ كښې هيڅ خرابي نۀ ده ليدلے. او ذ چا سره چه ئے بدنامه وي ما په هغه سړي كښے څه بد نه دي ليدلي. هغه هميشه ماسره كورته ځي راځي. سفر كښې هم ماسره سلگرے وي. دے آوريدو سره ذ قبيلهٔ اوس سردار سعد بن معاذ اودريدلو، او عرض ئے اوكۀ، يا رسول الله، حكم راكړئے، چه ذ تهمت كونكو كردن اووهم. دے نه پس د قبيلهٔ خزرج سردار سعد بن عباده راپاسيد، او وے وئيل، چه تا غلطه خبره كړے ده كه تهمت لږونكي ذ قبيلهٔ اَوس خلق وے نو تا به د هغوئ قتلول نه وو خوښ كړي. دے نه پس دواړو قبيلو كښې تكرار شروع شولو. او ماته هيڅ پته نۀ وه دے نه پس ما ښام ته زۀ اُم مسطح سره رفع حاجت ذ پاره ځنگل (صحرا) ته لاړمه. لار كښې ذ مسطح ذ مور پښه كښې خادر اونښليدلو. هغے اووے. مسطح دے هلاک شي. ما ورته اووے، ځېل خوئے ته ولے خيرے كوے. هغے بيا

قَالَتْ تَعِسَ مِسْطَحٌ فَقُلْتُ أَيْ أُمِّ تَسُبِّيْنَ ابْنَكِ وَ سَكَتَتْ ثُمَّ عَثَرَتِ الثَّانِيَةَ فَقَالَتْ تَعِسَ مِسْطَحٌ فَقُلْتُ لَهَا تَسُبِّيْنَ ابْنَكِ ثُمَّ عَثَرَتِ الثَّالِثَةَ فَقَالَتْ تَعِسَ مِسْطَحٌ فَانْتَهَرْتُهَا فَقَالَتْ وَاللّٰهِ مَا أَسُبُّهُ إِلَّا فِيْكِ فَقُلْتُ فِيْ أَيِّ شَأْنِيْ قُلْتُ فَنَقَرَتْ لِيْ الْحَدِيْثَ فَقُلْتُ وَقَدْ كَانَ هٰذَا قَالَتْ نَعَمْ وَاللّٰهِ فَرَجَعْتُ إِلَى بَيْتِيْ كَانَ الَّذِيْ خَرَجْتُ لَهُ لَا أَجِدُ مِنْهُ قَلِيْلًا وَلَا كَثِيْرًا وَ وُعِكْتُ فَقُلْتُ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْسِلْنِيْ إِلَى بَيْتِ أَبِيْ فَأَرْسَلَ مَعِيَ الْغُلَامَ فَدَخَلْتُ الدَّارَ فَوَجَدْتُ أُمَّ رُوْمَانَ فِي السُّفْلِ وَ أَبَا بَكْرٍ فَوْقَ الْبَيْتِ يَقْرَأُ فَقَالَتْ أُمِّيْ مَا جَاءَ بِكِ يَا بُنَيَّةُ فَأَخْبَرْتُهَا وَ ذَكَرْتُ لَهَا الْحَدِيْثَ وَ إِذَا هُوَ لَمْ يَبْلُغْ مِنْهَا مِثْلَ مَا بَلَغَ مِنِّيْ فَقَالَتْ يَا بُنَيَّةُ خَفِّضِيْ عَلَيْكِ الشَّأْنَ فَإِنَّهُ وَاللّٰهِ لَقَلَّمَا كَانَتِ امْرَأَةٌ حَسْنَاءُ عِنْدَ رَجُلٍ يُحِبُّهَا لَهَا ضَرَائِرُ إِلَّا حَسَدْنَهَا وَ قِيْلَ فِيْهَا وَ إِذَا هُوَ لَمْ يَبْلُغْ مِنْهَا مَا بَلَغَ مِنِّيْ قُلْتُ وَقَدْ عَلِمَ بِهِ أَبِيْ قَالَتْ نَعَمْ قُلْتُ وَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ نَعَمْ وَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاسْتَعْبَرْتُ وَ بَكَيْتُ

په دوېم او دريم ځل هم دغسې خيرې ورته وکړلې. ما ترې لږ تو کلو سره وجه اوپښتله، نو هغې اووې: زه ستا په وجه هغه ته خيرې کوم. ما ورته اووې: څما په وجه څه مطلب؟ هغې اووې: هغه هم تهمت لږونکو کښې شامل دے. ما تپوس اوکړ: آيا دا خبره مشهوره شوې دے. هغې اووې: ډيره زياته. زه تادي سره په ويره کور ته راغلم، او دا رانه هم هير شو، چه چرته تلې ووم، او د کوم خانے نه راغلې يم. بس ناروغه شوم. ما د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه اجازت اوغښتلو، چه زه د خپل پلار کورته تلل غواړم، نو حضور صلي الله عليه وسلم يو ماشوم ماسره کړلو. کوم وخت چه زه کور ته راغلم، نو خما مور ام رومان لاندې وه، او خما پلار حضرت ابوبکر د کور د پاسه څه لوستو کښې مشغول وو. مور رانه تپوس اوکړ: لورې څنګه راغلې. ما ورته د بهتان ټوله واقعه بيان کړله. خو هغې ته هم خما په شان ډيره زياته صدمه اونه رسيده. اووې وئيل: اے خما لورې ته دومره فکر ولې کوې. داسې خو اکثر کيږي، چه هر کله د يو سړي خوبصورته ښځه وي، چه هغې سره خاوند محبت کوي، او د هغې بنې (سوکنيں) هم وي، نو دهغوي سره حسد کوي، او قسم قسم خبرې پرې تړي. غرض خما مور ته د هغې طوفان صدمه اونه شوه، څومره صدمه چه مانه شوې وه. ما تپوس اوکړ: آيا د دې قصې خبر بابا جان (ابوبکرؓ) ته هم شوې دے. هغې اووې: او. ما اووې: او رسول الله صلي الله عليه وسلم ته هم؟ هغې اووې: او. حضور صلي الله عليه وسلم ته هم پته ده. دے نه پس زه به ژړا شوم، خما آواز آوريدو سره بابا

فسمع ابوبكر صوتي وهو فوق البيت يقرأ فنزل فقال لامي ما شأنها قالت بلغها الذي ذكر من شأنها ففاضت عيناه قال اقسمت عليك اي بنية الا رجعت الى بيتك فرجعت ولقد جاء رسول الله صلى الله عليه وسلم بيتي فسأل عني خادمتي فقالت لا والله ما علمت عليها عيبا الا انها كانت ترقد حتى تدخل الشاة فتأكل خميرها او عجينها وانتهرها بعض اصحابه فقال اصدقي رسول الله صلى الله عليه وسلم حتى اسقطوا لها به فقالت سبحان الله والله ما علمت عليها الا ما يعلم الصائغ على تبر الذهب الاحمر و بلغ الامر الى ذلك الرجل الذي قيل له فقال سبحان الله والله ما كشفت كنف انثى قط قالت عائشة فقتل شهيدا في سبيل الله قالت و اصبح ابواي عندي فلم يزالا حتى دخل علي رسول الله صلى الله عليه وسلم وقد صلى العصر ثم دخل وقد اكتنفني ابواي عن يميني و عن شمالي فحمد الله و اثنى عليه ثم قال اما بعد يا عائشة ان كنت قارفت سوءا او ظلمت فتوبي الى

حان هم [illegible] راغې او د [illegible] [illegible] ورسره اوري د دې [illegible] [illegible] اوري [illegible] حالونه [illegible] نه [illegible] راغلم: يا رسول الله [illegible] راوړلو او [illegible] د [illegible] نه [illegible] د حالاتو [illegible] او كړله هغې جواب ورکړ [illegible] به الله قسم وي ما هغې (عائشې) كښې هيڅ خرابي نه ده ليدلې دا ساده ده اخلي اوړه پريږدي چيلې راشي او هغه اوخوري. د حضور صلى الله عليه وسلم د اصحابو نه څنو هغه اوتوكله او ورته يې اووې چه ته رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ريښتيا ريښتيا ولې نه وائې. نو هغې اووې سبحان الله: زه هغه (عائشه) داسې پيژنم څنګه چه زرګر سره زر پيژني. دا خبر صفوان ته هم اورسيد نو هغه اووې سبحان الله. ما چرې هم د چا (پردۍ) ښځې جامه نه ده پرانستې. بي بي عائشة فرمائي صفوان جنګ بدر كښې شريک وو. په دويمه ورځ خما مور پلار خما كورته راغلل او ناست وو ترڅو چه حضور صلى الله عليه وسلم تشريف راوړلو. د ماز يګر مونځ شوې وو. خما مور پلار زه (د بيمارۍ او ژړا په وجه) نيولې ووم. يو انصاريه ښځه هم راغلې وه او ناسته وه. حضور صلى الله عليه وسلم د الله پاک د حمد ثنا نه پس اوفرمائيل اې عائشې كه تا نه ګناه شوې وي نو الله نه توبه اوكاره الله د خپلو بنديانو توبه قبلوي ما اووې تاسو د دې ښځې په مخكښې ماته داسې خبره كوئې د داسې خبرې خو تاسو له خيال سانل پكار وو دې نه پس حضور ماته نصيحت اوكړلو ما خپل پلار

اللّٰهِ فَاِنَّ اللّٰهَ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ مِنْ عِبَادِهٖ
قَالَتْ وَقَدْ جَآءَتِ امْرَاَةٌ مِّنَ الْاَنْصَارِ
فَهِيَ جَالِسَةٌ بِالْبَابِ فَقُلْتُ اَلَا
تَسْتَحْيِيْ مِنْ هٰذِهِ الْمَرْاَةِ اَنْ تَذْكُرَ
شَيْئًا فَوَعَظَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَالْتَفَتُّ اِلٰى اَبِيْ فَقُلْتُ
اَجِبْهُ قَالَ فَمَا ذَا اَقُوْلُ فَالْتَفَتُّ اِلٰى
اُمِّيْ فَقُلْتُ اَجِيْبِيْهِ فَقَالَتْ مَاذَا اَقُوْلُ
فَلَمَّا لَمْ يُجِيْبَاهُ تَشَهَّدْتُ فَحَمِدْتُ
اللّٰهَ وَ اَثْنَيْتُ عَلَيْهِ بِمَا هُوَ اَهْلُهٗ ثُمَّ
قُلْتُ اَمَّا بَعْدُ فَوَاللّٰهِ لَئِنْ قُلْتُ لَكُمْ
اِنِّيْ لَمْ اَفْعَلْ وَاللّٰهُ عَزَّ وَ جَلَّ يَشْهَدُ
اِنِّيْ لَصَادِقَةٌ مَا ذَاكَ بِنَافِعِيْ عِنْدَكُمْ
لَقَدْ تَكَلَّمْتُمْ بِهٖ وَ اُشْرِبَتْهُ قُلُوْبُكُمْ وَ
اِنْ قُلْتُ اِنِّيْ فَعَلْتُ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِنِّيْ
لَمْ اَفْعَلْ لَتَقُوْلُنَّ لَقَدْ بَاءَتْ بِهٖ عَلٰى
نَفْسِهَا وَ اِنِّيْ وَاللّٰهِ مَا اَجِدُ لِيْ وَلَكُمْ
مَثَلًا وَ الْتَمَسْتُ اسْمَ يَعْقُوْبَ فَلَمْ
اَقْدِرْ عَلَيْهِ اِلَّا اَبَا يُوْسُفَ حِيْنَ قَالَ
فَصَبْرٌ جَمِيْلٌ وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى
مَا تَصِفُوْنَ وَ اُنْزِلَ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ سَاعَتِهٖ
فَسَكَتْنَا فَرُفِعَ عَنْهُ وَ اِنِّيْ لَاَتَبَيَّنُ
السُّرُوْرَ فِيْ وَجْهِهٖ وَهُوَ يَمْسَحُ جَبِيْنَهٗ
وَ يَقُوْلُ اَبْشِرِيْ يَا عَائِشَةُ فَقَدْ اَنْزَلَ
اللّٰهُ بَرَاءَتَكِ قَالَتْ وَ كُنْتُ اَشَدَّ مَا

طرف ته اوکتل، ذ هغې مطلب دا وو، چه تاسو خما ذ
طرف نه حضور صلي الله عليه وسلّم له جواب ورکړئ،
نو هغهٔ اووې، زهٔ څهٔ جواب ورکرم (يعني هيڅ جواب
نشم ورکولې. زهٔ او ذ خدائې رسول له جواب ورکول)
بيا ما خپلې مور طرف ته اوکتل، هغې هم دغسې اووې،
چه زهٔ څهٔ جواب کولې شم؟ آخر ما ذ الله تعالٰي ذ حمد
و ثنا نه پس عرض اُوکهٔ، په خدائې م دې قسم وي که زهٔ
دا اووايم، چه دا کار ما نهٔ دې کړې او خدائې گواه کړم،
نو بيا هم تاسو خلق را باندې يقين نهٔ کوئې، ځکه چه
ستاسو زړونو کښې ذ خلقو خبرو ځائې کړې دې. او که
زهٔ دا اووايم، چه ما داسې کړې دي او الله تعالٰي ته علم
دې، چه ما داسې نهٔ دي کړې. ليکن تاسو به ټول يقين
اوکړئې او اوبه وايئې، چه او اوس دې اقرار اوکړلو.
حقيقت کښې خما او ستاسو مثال داسې دې لکه ذ
يوسف عليه السلام ذ پلار، چه هغهٔ وئيلې وو: فصبرٌ
جميل والله المستعان على ما تصفون: يعني زهٔ به په ښهٔ
شان صبر کوم، او الله تعالٰي مددگار دې، څهٔ چه تاسو
بيانوئې. دې نه پس سمدستي په حضور صلي الله عليه
وسلّم وحي نازله شوه. او مونږ ټول خاموش شرلو. وحي
نه پس حضور صلي الله عليه وسلّم خوشحالي سره
اوفرمائيل: اې عائشې، تاله خوشحاليدل پکار دي، چه
الله تعالٰي ستا ذ برأت او نجات حکم نازل کړلو. دغه
وخت دې خيال سره ماته ډير افسوس اوشو، چه گوره
خما په خبره هغوي يقين اونهٔ کړلو. بيا خما مور پلار
ماته اووې، پاسه او ذ رسول اکرم صلي الله عليه وسلّم
شکريه ادا کړه. ما اووې، والله، زهٔ به حضورٌ له

كُنْتُ غَضْبَى فَقَالَ لِيْ أَبَوَايَ قُوْمِيْ إِلَيْهِ فَقُلْتُ وَاللّٰهِ لَا أَقُوْمُ إِلَيْهِ وَلَا أَحْمَدُهُ وَلَا أَحْمَدُكُمَا وَلٰكِنْ أَحْمَدُ اللّٰهَ الَّذِيْ أَنْزَلَ بَرَاءَتِيْ لَقَدْ سَمِعْتُمُوْهُ فَمَا أَنْكَرْتُمُوْهُ وَلَا غَيَّرْتُمُوْهُ وَكَانَتْ عَائِشَةُ تَقُوْلُ أَمَّا زَيْنَبُ ابْنَةُ جَحْشٍ فَعَصَمَهَا اللّٰهُ بِدِيْنِهَا فَلَمْ تَقُلْ إِلَّا خَيْرًا وَأَمَّا أُخْتُهَا حَمْنَةُ فَهَلَكَتْ فِيْمَنْ هَلَكَ وَكَانَ الَّذِيْ يَتَكَلَّمُ فِيْهِ مِسْطَحٌ وَحَسَّانُ بْنُ ثَابِتٍ وَالْمُنَافِقُ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ أُبَيٍّ وَهُوَ الَّذِيْ كَانَ يَسْتَوْشِيْهِ وَيَجْمَعُهُ وَهُوَ الَّذِيْ تَوَلّٰى كِبْرَهُ مِنْهُمْ هُوَ وَحَمْنَةُ قَالَتْ فَحَلَفَ أَبُوْ بَكْرٍ أَنْ لَّا يَنْفَعَ مِسْطَحًا بِنَافِعَةٍ أَبَدًا فَأَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ وَلَا يَأْتَلِ أُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ إِلٰى آخِرِ الْآيَةِ يَعْنِيْ أَبَا بَكْرٍ وَالسَّعَةِ أَنْ يُؤْتُوْا أُولِي الْقُرْبٰى وَالْمَسَاكِيْنَ يَعْنِيْ مِسْطَحًا إِلٰى قَوْلِهِ أَلَا تُحِبُّوْنَ أَنْ يَغْفِرَ اللّٰهُ لَكُمْ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ حَتّٰى قَالَ أَبُوْ بَكْرٍ بَلٰى وَاللّٰهِ يَا رَبَّنَا إِنَّا لَنُحِبُّ أَنْ تَغْفِرَ لَنَا وَعَادَ لَهُ بِمَا كَانَ يَصْنَعُ.

وربانسم، او نه به نے شکریه ادا کړم زه خو د خپل ټه شکریه ادا کوم چه هغه ما ته خما د برئ کېدو سرت (خوشخبري) واورولـه، کـې تاسو خو اوریدلے وو او دیرو بالدے یقین کرے وو. بي بي عائشهٔ فرماني الله پاک دے قصه کښې بي بي زینب بنت جحش چه د حضور صلي اللّٰه علیه وسلم بي بي وه، محفوظ اوساتله. هغے خما متعلق بغیر د خیر نه نور هیڅ اونه وے خو د هغے خور حمنه بنت جحش تهمت کونکو سره هلاکه شوه. تهمت لږونکو کښې دا خلق شامل وو. (۱) مسطح (۲) حسان بن ثابت (۳) عبدالله بن ابي بن سلول، او دا هغه سړے دے، چه دروغ به ئے جوړول. او د دے بهتان ابتدا د هغهٔ او د حمنه د طرف نه اوشوه، هر کله چه وحي راغله، خما پلار ابوبکرؓ اووے، اوس به زهٔ مسطح ته نان نفقه وغیره نه ورکوم، نو هغه وخت دا آیت نازل شولو: وَلَا يَأْتَلِ اولوا الفضل منكم والسعة الخ: صاحب مال او استطاعت خلق (یعني ابوبکرؓ) دے قسم نه خوري، چه مونږ به مسکینانو او قرابت دارو (یعني مسطح) ته څهٔ نهٔ ورکوو. آخر آیت غفور رحیم پورے. نو حضرت ابوبکرؓ اوفرمائیل، مونږ خو دا غواړو، چه اللّٰه مونږ اوبښي. دے نه پس هغهٔ مسطح ته د مخکښې په شان نفقه ورکوله.

## بَابٌ ۳۱۹: قَوْلِهٖ وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلٰى جُيُوْبِهِنَّ

باب ۳۱۹: آیت: وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلٰى جُيُوْبِهِنَّ: د اللّٰه تعالي قول، مسلمانو ښځو له پکار دي چه په خپلو سینو پړولي اچوي.

وَقَالَ أَحْمَدُ بْنُ شَبِيْبٍ حَدَّثَنَا أَبِيْ

احمد بن شبیب، د هغه

عَنْ يُونُسَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَ يَرْحَمُ اللّٰهُ نِسَآءَ الْمُهَاجِرَاتِ الْأُوَلِ لَمَّا أَنْزَلَ اللّٰهُ وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلٰى جُيُوْبِهِنَّ شَقَقْنَ مُرُوطَهُنَّ فَاخْتَمَرْنَ بِهٖ.

پلار یونس، ابن شهاب، عروه، بي بي عائشه نه روایت کوي، هغې اووې، اللّٰه تعالٰي دې په هغې ښځو رحم اوکړي، چه هغوي هجرت کړے وو. کوم وخت چه اللّٰه تعالٰي دا آیت نازل کړلو چه خپل پړوني په خپلو سینو ساتلې لړئې (چه سینه وغیره په نظر رانشي) نو هغوي خپل څادرونه اوشلول، او پړوني ئې ترې جوړ کړل[۱].

۱. د جاهلیت دور په عربو کښې په سینه باندې د لوپټې اچولو رواج نه وو او د موجوده فیرنګي تمدن په شان د جاهلیت زمانې عربو کښې هم ښځو به داسې جامې اچولې چه د خیټې څه حصه خو به ئې پټه وه لیکن د سینې حصه به ئې بربنډه ساتله او که چرې د لوپټې د قسم څه څیز به وو نو هغه به ئې په سینه باندې نه اچولو په څائې همداسې په اوګدو کښې اچولې وو.

۷۴۴: حَدَّثَنَا أَبُوْ نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا إِبْرٰهِيْمُ بْنُ نَافِعٍ عَنِ الْحَسَنِ بْنِ مُسْلِمٍ عَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا كَانَتْ تَقُوْلُ لَمَّا نَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلٰى جُيُوْبِهِنَّ أَخَذْنَ أُزُرَهُنَّ فَشَقَّقْنَهَا مِنْ قِبَلِ الْحَوَاشِيْ فَاخْتَمَرْنَ بِهَا.

۷۴۴: ابو نعیم. ابراهیم بن نافع. حسن بن مسلم. صفیه بنت شیبه نه روایت کوي. دَ هغې بیان دې. بي بي عائشې فرمائیل، کوم وخت چه دا آیت نازل شو: وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلٰى جُيُوْبِهِنَّ: یعني مسلمانو ښځوله پکار دي، چه خپلې سینې په پړونو کښې پټې ساتي، نو د مهاجرینو ښځو د خپلو ته بندونو غاړې اوشلولې، او خپلې سینې ئې پرې پټې کړلې.

# سُوْرَةُ الْفُرْقَانِ

# دَ سورۀ فرقان تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ هَبَآءً مَّنْثُوْرًا مَا تَسْفِيْ بِهِ الرِّيْحُ مَدَّ الظِّلِّ مَا بَيْنَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ سَاكِنًا دَآئِمًا عَلَيْهِ دَلِيْلًا طُلُوْعِ الشَّمْسِ خِلْفَةً مَنْ فَاتَهُ مِنَ اللَّيْلِ عَمَلٌ أَدْرَكَهُ بِالنَّهَارِ أَوْفَاتَهُ

ابن عباس واني "هباء مَنْثُورا" معني دي، هغه څیز چه هوا سره راشي، لکه ګرد غبار. "مدالظل" صبح صادق نه طلوع آفتاب پورې وخت. "ساکنا" همیشه. "علیه دلیلا" معني د نمر راختل "خلفة" هغه کار چه د شپې پاتې شي، او د ورځې پوره کړے شي، او که د ورځې نیمګړې پاتې شي، نو د شپې پوره کړے شي. حسن

بِالنَّهَارِ اَدْرَكَهُ بِاللَّيْلِ وَ قَالَ نَحْنُ هَبْ لَنَا مِنْ اَزْوَاجِنَا فِي طَاعَةِ اللّٰهِ وَمَا شَيْءٌ اَقَرَّ لِعَيْنِ الْمُؤْمِنِ اَنْ يَّرٰى حَبِيْبَهُ فِيْ طَاعَةِ اللّٰهِ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ ثُبُوْرًا وَّيْلًا وَّ قَالَ غَيْرُهُ السَّعِيْرُ مُذَكَّرٌ وَالتَّسَعُّرُ وَالْاِضْطِرَامُ التَّوَقُّدُ الشَّدِيْدُ تُمْلٰى عَلَيْهِ مِنْ اَمْلَيْتُ وَ اَمْلَلْتُ الرَّسُّ الْمَعْدِنُ جَمْعُهُ رِسَاسٌ مَا يَعْبَاُ يُقَالُ مَا عَبَأْتُ بِهٖ شَيْئًا لَا يُعْتَدُّ بِهٖ غَرَامًا هَلَاكًا وَ قَالَ مُجَاهِدٌ وَّ عَتَوْا طَغَوْا وَ قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ عَاتِيَةٌ عَتَتْ عَنِ الْخُزَّانِ.

وائي "قرة اعين" د سترګو یخ والے په شان بیایے اولاد وغیره. ابن عباس وائي "ثبورا" معنی د هلاکت او بربادي دي. د خنے خلقو وینا ده چه "سعیر" مذکر دے. او "تسعر" نه وتلے دے. "اضطرام" د اور لمبېدل بنه کرمیدل. "تملی علیه" معنی دي چه هغه لوستو آوروله شي. دا لفظ "املیت" یا "امللت" نه جوړ شوے دے. "الرس" کان معدن د دے جمع رساس دے خنے خلقو اووے چه "رس" کوهي ته وائي. عرب خلق وائي "ما عبأت به شیئا" یعني ما د هغے هیڅ پروا اونه کړله. په هیڅ حقیقت ئے پوهه نه شوم. "غراما" هلاکت. د مجاهد بیان دے "عتوا" معني دي شرارت. ابن عیینه وائي "عاتیه" معني دي د حد نه تیریدل. دا د "عتو" نه جوړ شوے دے. د دے نه مراد هغه هوا ده کومه چه په هوا باندے مؤکل فرشتو چلولے وي.

## بَاب ۳۲۰: قَوْلِهٖ اَلَّذِيْنَ يُحْشَرُوْنَ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ اِلٰى جَهَنَّمَ اُولٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَّ اَضَلُّ سَبِيْلًا.

باب ۳۲۰: آیت: الذین یحشرون علی وجوههم: د الله تعالی قول: کوم خلق چه د قیامت په ورځ په مخے دوزخ ته اوغرځولے شي. هغوي مکان او مرتبه کښ خراب دي او د لارے نه ګمراه دي.

۴۷۴۵: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا يُوْنُسُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْبَغْدَادِيُّ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ قَتَادَةَ حَدَّثَنَا اَنَسُ بْنُ مَالِكٍ اَنَّ رَجُلًا قَالَ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ يُحْشَرُ الْكَافِرُ عَلٰى وَجْهِهٖ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ قَالَ اَلَيْسَ الَّذِيْ اَمْشَاهُ عَلَى الرِّجْلَيْنِ فِي الدُّنْيَا قَادِرًا عَلٰى اَنْ يُّمْشِيَهُ عَلٰى وَجْهِهٖ

۴۷۴۵: عبدالله بن محمد. یونس بن محمد البغدادي. شیبان. قتاده. حضرت انس بن مالک روایت کوي یو سړي د رسول الله صلی الله علیه وسلم خدمت کښ عرض اوکه یا رسول الله د قیامت په ورځ به کافر په مخ باندے دوزخ ته بوتلے شي. حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل کوم ذات چه دنیا کښ خلق په پښو چلولے شي هغه ئے د قیامت په ورځ په مخ بوتلو باندے هم قادر دے (یعني د پښو په ځائے به په مخ بوتلے

يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ قَتَادَةُ بَلٰى وَ عِزَّةِ رَبِّنَا.

شي) قتاده وائي' بيشكه الله به دے قادر دے' خما دے ذ هغهٔ په عزت او جلال قسم وي.

بَابُ ۱۳۲۱: قَوْلِهِ وَالَّذِيْنَ لَا يَدْعُوْنَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰـهًا اٰخَرَ وَلَا يَقْتُلُوْنَ النَّفْسَ الَّتِىْ حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُوْنَ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ يَلْقَ اَثَامًا الْعُقُوْبَةَ.

باب ۱۳۲۱: آيت: اَلَّذِيْنَ لَا يَدْعُوْنَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ: ذَ اللّٰه تعالىٰ قول' څوک چه الله سره څوک نهٔ شريکوي' او خون نهٔ کوي' چه الله حرام کړے وي' خو حق سره' او نه زنا کوي' او څوک چه داسے اوکړي' نو عذاب کښ به کيوځي. "اثامًا" معني عذاب' عقوبت.

۴۶ ۲۷: حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيٰى عَنْ سُفْيَانَ قَالَ حَدَّثَنِىْ مَنْصُوْرٌ وَ سُلَيْمَانُ عَنْ اَبِىْ وَائِلٍ عَنْ اَبِىْ مَيْسَرَةَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ وَ حَدَّثَنِىْ وَاصِلٌ عَنْ اَبِىْ وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ سَاَلْتُ' اَوْ سُئِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَىُّ الذَّنْبِ عِنْدَاللّٰهِ اَكْبَرُ قَالَ اَنْ تَجْعَلَ لِلّٰهِ نِدًّا وَّهُوَ خَلَقَكَ قُلْتُ ثُمَّ اَىٌّ قَالَ ثُمَّ اَنْ تَقْتُلَ وَلَدَكَ خَشْيَةَ اَنْ يَّطْعَمَ مَعَكَ قُلْتُ ثُمَّ اَىٌّ قَالَ اَنْ تَزْنِىَ بِحَلِيْلَةِ جَارِكَ قَالَ وَ نَزَلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ تَصْدِيْقًا لِّقَوْلِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِيْنَ لَا يَدْعُوْنَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ وَلَا يَقْتُلُوْنَ النَّفْسَ الَّتِىْ حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ.

۴۶ ۲۷: مسدد. يحيىٰ. سفيان. منصور او سليمان. ابو وائل. ابو ميسره. حضرت عبدالله بن مسعودؓ (دويم سند) واصل. ابي وائل. حضرت عبدالله مسعودؓ روايت کوي' ذ هغهٔ بيان دے' ما يا بل چا حضور صلي الله عليه وسلّم نه تپوس اوکهٔ' ټولو نه لويه گناه کومه يوه ده' حضورؐ ارشاد اوفرمائيلو' ذَ الله نه سِوا بل څوک ذَ هغهٔ ذات يا څهٔ صفت کښ شريکول' حالانکه هغه ستا پيدا کونکے دے. ما اووے' بيا کومه گناه لويه ده' حضورؐ اوفرمائيل' اولاد په دے خيال وژل' چه دے به راسره روزئ کښ شريک شي' او مونږ به ورله خوراک ذَ کوم ځائے نه پيدا کوو' او دے نه پس ذَ خپل دوست يا گوانډي ښځے سره زِنا کول' دے نه پس ذَ دے په تصديق کښ حضور صلي الله عليه وسلّم د آيت اولوست: والّذين لا يدعون مع الله الٰهًا اٰخر الخ.

۴۷ ۲۷: حَدَّثَنَا اِبْرٰهِيْمُ بْنُ مُوْسٰى اَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ يُوْسُفَ اَنَّ ابْنَ جُرَيْجٍ اَخْبَرَهُمْ قَالَ اَخْبَرَنِى الْقَاسِمُ بْنُ اَبِىْ بَزَّةَ اَنَّهٗ سَاَلَ سَعِيْدَ بْنَ جُبَيْرٍ هَلْ لِّمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا

۴۷ ۲۷: ابراهيم بن موسيٰ. هشام بن يوسف. ابن جريج. قاسم بن ابي بزه. سعيد بن جبير نه روايت کوي' ما ذَ هغهٔ نه تپوس اوکهٔ آيا څوک چه يو مؤمن قصدًا قتل کړي' نو ذَ هغهٔ توبه قبليږي. بيا ما دا آيت اولوست: ولا يقتلون النفس آخر پورے:

مِنْ تَوْبَةٍ فَقَرَأْتُ عَلَيْهِ وَلَا يَقْتُلُوْنَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ فَقَالَ سَعِيْدٌ قَرَأْتُهَا عَلَى ابْنِ عَبَّاسٍ كَمَا قَرَأْتَهَا عَلَيَّ فَقَالَ هٰذِهٖ مَكِّيَّةٌ نَسَخَتْهَا اٰيَةٌ مَدَنِيَّةٌ الَّتِي فِيْ سُوْرَةِ النِّسَآءِ.

نو سعید بن جبیر اووے، ما ذ ابن عباسؓ مخکښ دا آیت لوستے وو، څنګه چه تا خما مخکښ اولوستو، نو هغه اووے، دا آیت مکي دے، خو مدني آیت، دا منسوخ کړے دے، او هغه دا دے، وَمَنْ يقتل مؤمنا متعمدا فجزاء ه جهنم خالدًا فيها آخر پورے[1].

۱. د ابن عباس رضي الله عنه دا مسلک د جمهور اُمت نه خلاف دے. ممکنه ده چه هغوئ د سدِّباب په طور دا حکم بیان کړے وي.

۴۲۸: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الْمُغِيْرَةِ بْنِ النُّعْمَانِ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ اخْتَلَفَ اَهْلُ الْكُوْفَةِ فِيْ قَتْلِ الْمُؤْمِنِ فَرَحَلْتُ فِيْهِ اِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ فَقَالَ نَزَلَتْ فِيْ آخِرِ مَا نَزَلَ وَلَمْ يَنْسَخْهَا شَيْءٌ.

۴۲۸: محمد بن بشار. غندر. شعبه. مغیره بن نعمان. سعید بن جبیر نه روایت کوي، ذ اهل کوفه په دے خبره کښ اختلاف دے، چه د مومن ذ قاتل توبه قبلیږي یا نه، نو ابن عباسؓ اووے، ذ مؤمن ذ قتل متعلق دا آیت: وَمَنْ يقتل مومنا الخ: ذ ټولو نه آخري دے، دا ناسخ دے، او دا هیڅ نه دے منسوخ کړے.

۴۲۹: حَدَّثَنَا اٰدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا مَنْصُوْرٌ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ سَاَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ عَنْ قَوْلِهٖ تَعَالٰى فَجَزَآءُهٗ جَهَنَّمُ قَالَ لَا تَوْبَةَ لَهٗ وَ عَنْ قَوْلِهٖ جَلَّ ذِكْرُهٗ لَا يَدْعُوْنَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ قَالَ كَانَتْ هٰذِهٖ فِي الْجَاهِلِيَّةِ.

۴۲۹: آدم. شعبه. منصور. سعید بن جبیر نه روایت کوي. ذ هغه بیان دے. ما ذ ابن عباسؓ نه ذ دے آیت متعلق دریافت اوکړ، نو هغه جواب کښ اووے، ذ هغه توبه قبوله نه ده. دے نه پس ما والذين لا يدعون مع الله الخ: مطلب معلوم کړلو، نو وے فرمائیل، ذ دے دا معني دي، چه ذ جاهلیت زمانه کښ ئے دغسے اوکړل. خو ذ مسلمانیدو نه پس ئے توبه اوکړله، نو توبه ئے قبوله ده[1].

۱. یعني کومو خلقو چه د جاهلیت زمانه کښے قتل کړے وي او بیائے اسلام راوړے وي نو د هغوئ حکم په دے آیت کښے بنودلے شوے دے لیکن که چرے څوک مسلمان خپل مسلمان رور په ناحقه اوروژني نو د ابن عباس رضي الله عنه په نزد د هغه سزا جهنم دے، ددے ګناه نه د هغه توبه قبوله نه ده.

باب ۳۲۲: قَوْلِهٖ یُضٰعَفْ لَهُ الْعَذَابُ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ وَ یَخْلُدْ فِیْهٖ مُهَانًا.

باب ۳۲۲: آیت: یضاعف له العذاب یوم القیمة د الله تعالی قول: چه د هغوی د پاره عذاب زیاتوی او همیشه کښی به همیشه ذلیل اوسی.

۷۵۰: حَدَّثَنَا سَعْدُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا شَیْبَانُ عَنْ مَنْصُوْرٍ عَنْ سَعِیْدِ بْنِ جُبَیْرٍ قَالَ قَالَ ابْنُ اَبْزٰی سُئِلَ ابْنُ عَبَّاسٍ عَنْ قَوْلِهٖ تَعَالٰی وَمَنْ یَّقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآءُهٗ جَهَنَّمُ وَ قَوْلِهٖ وَلَا یَقْتُلُوْنَ النَّفْسَ الَّتِیْ حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ حَتّٰی بَلَغَ اِلَّا مَنْ تَابَ فَسَاَلْتُهٗ فَقَالَ لَمَّا نَزَلَتْ قَالَ اَهْلُ مَکَّةَ فَقَدْ عَدَلْنَا بِاللّٰهِ وَ قَتَلْنَا النَّفْسَ الَّتِیْ حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ وَ اَتَیْنَا الْفَوَاحِشَ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ اِلَّا مَنْ تَابَ وَ اٰمَنَ وَ عَمِلَ صَالِحًا اِلٰی قَوْلِهٖ غَفُوْرًا رَّحِیْمًا.

۷۵۰: سعد بن حفص. شیبان. منصور. سعید بن جبیر. ابن ابزی نه روایت کوی. د هغه بیان دے. حضرت ابن عباس نه ددے آیتونو باره کښی تپوس اوشو: ومن یقتل مؤمنا متعمدا الخ. او دویم. ولا یقتلون النفس التی حرم الله الخ او دریم: الا من تاب و امن الخ. چه دا آیتونه کله نازل شو. نو هغه جواب کښی اوفرمائیل چه دا آیت هغه وخت نازل شو. چه مکے والو دا اووے مونږ خو شرک هم کولو. او په ناحقه خون مو هم کړے دي او د بے حیائی کارونه هم کوو. نو دغه وخت الله تعالی دا آیت نازل کړلو: الا من تاب و امن و عمل صلحا غفورا رحیما پورے.

باب ۳۲۳: قَوْلِهٖ اِلَّا مَنْ تَابَ وَ اٰمَنَ وَ عَمِلَ صَالِحًا فَاُولٰٓئِكَ یُبَدِّلُ اللّٰهُ سَیِّاٰتِهِمْ حَسَنٰتٍ وَ کَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِیْمًا.

باب ۳۲۳: آیت: الا من تاب و امن و عمل صالحا: د الله تعالی قول: نو هغه خلق چه توبه گار شي او ایمان راوړی او نیک عمل اوکړی نو الله تعالی به داسے خلقو به د بدی په ځائے نیکی عطا کړی بیشکه الله تعالی بښونکے مهربان دے.

۷۵۱: حَدَّثَنَا عَبْدَانُ اَخْبَرَنَا اَبِیْ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ مَنْصُوْرٍ عَنْ سَعِیْدِ بْنِ جُبَیْرٍ قَالَ اَمَرَنِیْ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ اَبْزٰی اَنْ اَسْاَلَ ابْنَ عَبَّاسٍ عَنْ هَاتَیْنِ الْاٰیَتَیْنِ وَمَنْ

۷۵۱: عبدان. شعبه. منصور. حضرت سعید بن جبیر نه روایت کوی. د هغه بیان دے عبدالرحمن بن ابزی ما نه اووے نه د حضرت ابن عباس نه د دے دوو آیتونو مطلب اوپښتمه. (۱) ومن یقتل مؤمنا متعمدا الخ

بِقَتْلِ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ لَمْ يَنْسَخْهَا شَيْءٌ وَ عَنْ وَالَّذِيْنَ لَا يَدْعُوْنَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ قَالَ نَزَلَتْ فِيْ اَهْلِ الشِّرْكِ.

(٢) والذين لا يدعون مع الله الها اخر الخ. نو هغه جواب كښې اوفرمائيل: چې دا آيت منسوخ شوے نه دے، او دويم آيت د مشركانو باره كښې نازل شوے دے.

بَابُ ٣٢٤: قَوْلِهِ فَسَوْفَ يَكُوْنُ لِزَامًا هَلَكَةً.

باب ٣٢٤: آيت: فسوف يكون لزاما: الله تعالي قول عنقريب ستاسو دا عمل وبال شي "لزاما" معني د هلاكت دي.

٤٥٢: حَدَّثَنَا حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ حَدَّثَنَا أَبِيْ حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ قَالَ حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ عَنْ مَسْرُوْقٍ قَالَا قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ خَمْسٌ قَدْ مَضَيْنَ الدُّخَانُ وَالْقَمَرُ وَالرُّوْمُ وَالْبَطْشَةُ وَاللِّزَامُ فَسَوْفَ يَكُوْنُ لِزَامًا.

٤٥٢: عمر بن حفص بن غياث. حفص بن غياث. اعمش. مسلم. مسروق. عبدالله بن مسعودؓ نه روايت كوي. د قيامت پنځه لوئے نښې ذكر شوي دي. (١) لوګے (٢) شق القمر (٣) غلبه روم (٤) بطشه يعني نيوكه (پكړ) (٥) هلاكت او بربادي يعني لزام. بيا هغه: فسوف يكون لزاما آيت اولوستلو.

## سُوْرَةُ الشُّعَرَاءِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ تَعْبَثُوْنَ تَبْنُوْنَ هَضِيْمٌ يَتَفَتَّتُ اِذَا مُسَّ مُسَحَّرِيْنَ الْمَسْحُوْرِيْنَ لَيْكَةَ وَالْاَيْكَةُ جَمْعُ اَيْكَةٍ وَهِيَ جَمْعُ شَجَرٍ يَوْمِ الظُّلَّةِ اِظْلَالُ الْعَذَابِ اِيَّاهُمْ مَوْزُوْنٍ مَعْلُوْمٍ كَالطَّوْدِ الْجَبَلِ الشِّرْذِمَةُ طَائِفَةٌ قَلِيْلَةٌ فِي السَّاجِدِيْنَ الْمُصَلِّيْنَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُوْنَ كَاَنَّكُمْ الرِّيْعُ الْاَيْفَاعُ مِنَ الْاَرْضِ وَ جَمْعُهُ رِيَعَةٌ وَ

## دَ سورۀ شعراء تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

مجاهد وائي "تَعْبَثُوْنَ" معني تاسو جوړوے. "هضيم" هغه خيز چه ورے ورے تكړے شي. "مسحرين" چه جادو پرے شوے وي. "ليكة" او "ايكة" ځنګل ته وائي. "يوم الظلة" هغه ورځ چه عذاب به په هغوي سورے كړي "موزون" معلوم. "كالطود" د غر په شان. "شرذمة" وړه ډله. "في الساجدين" سجده كونكو كښې د ابن عباسؓ بيان دے. "لعلكم تخلدون" معني دا دي: چه هميشه به اوسئے. "ريع" ډهيرى. د هغے جمع "ارياع" هم راځي او "ريع" هم راځي. "مصانع" محل وغيره عمارات.

اَرْيَاعٌ وَاحِدُهُ الرِّيْعَةُ مَصَانِعَ كُلُّ بِنَاءٍ. فَهُوَ مَصْنَعَةٌ فَرِهِيْنَ مَرِحِيْنَ فَارِهِيْنَ بِمَعْنَاهُ وَ يُقَالُ فَارِهِيْنَ حَاذِقِيْنَ تَعْثَوْ اَشَدَّ الْفَسَادِ عَاثَ يَعِيْثُ عَيْثًا الْجِبِلَّةُ الْخَلْقُ جُبِلَ خُلِقَ وَ مِنْهُ جُبُلًا وَ جِبِلًا وَ جُبْلًا يَعْنِى الْخَلْقَ.

"فرهين" كبر سره تلل. او دَ "فارهين" هم دغه معني دي. خښو نورو خلقو وئيلے دي' "فارهين" هوښيار كاريگر ته وئيلے شي. "تعثوا" معني دي' ډير سخت. دا دَ "عثو" نه مشتق دے. غاث' يغيث' غيثا. "جبلة" معني دي خلقت. مخلوق' پيدا كړے شوے. "جُبْلًا" جِبِلًا" جُبُلًا" دَ ټولو يو معني دي.

باب ۳۲۵: قَوْلِهٖ وَلَا تُخْزِنِىْ يَوْمَ يُبْعَثُوْنَ.

باب ۳۲۵: آيت: وَلَا تُخْزِنِىْ يَوْمَ يُبْعَثُوْنَ: دَ الله تعالىٰ قول' دَ خلقو دَ پاسولو په ورځ م رُسوا مهٔ كړے.

۴۷۵۳: وَ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ بْنُ طَهْمَانَ عَنِ ابْنِ اَبِىْ ذِئْبٍ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ اَبِىْ سَعِيْدِ الْمَقْبُرِىِّ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِىِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ رَاٰى اَبَاهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَلَيْهِ الْغَبَرَةُ وَالْقَتَرَةُ الْغَبَرَةُ هِىَ الْقَتَرَةُ.

۴۷۵۳: ابراهيم بن طهمان. ابن ابي ذئب. سعيد بن ابي سعيد المقبري. حضرت ابوهريرةؓ نه روايت كوي. حضور صلي الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو' حضرت ابراهيم عليه السلام به خپل پلار دَ قيامت په ورځ دَ رسوائي او ذلت په حالت كښ اويني. "غبرة" او "قترة" يو معني دي.

۴۷۵۴: حَدَّثَنَا اِسْمَاعِيْلُ حَدَّثَنَا اَخِىْ عَنِ ابْنِ اَبِىْ ذِئْبٍ عَنْ سَعِيْدِ الْمَقْبُرِىِّ عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِىِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَلْقَى اِبْرٰهِيْمُ اَبَاهُ فَيَقُوْلُ يَا رَبِّ اِنَّكَ وَعَدْتَنِىْ اَلَّا تُخْزِنِىْ يَوْمَ يُبْعَثُوْنَ فَيَقُوْلُ اللّٰهُ اِنِّىْ حَرَّمْتُ الْجَنَّةَ عَلَى الْكَافِرِيْنَ.

۴۷۵۴: اسمٰعيل. برادر اسمٰعيل. ابن ابي ذئب. سعيد المقبري. حضرت ابوهريرةؓ نه روايت كوي' دَ قيامت په ورځ به حضرت ابراهيم عليه السلام خپل پلار خراب حالت كښ اوويني' نو وائي به' اے الله' تا ماسره وعده كړے وه چه زهٔ به تا نهٔ رُسوا كوم. بيا خما پلار ولے دے حالت كښ دے. دا خو هم خما ذلت دے الله تعالىٰ به ورته اوفرمائي' مونږ جنت په كافرو حرام كړے دے.

باب ۳۲۶: قَوْلِهٖ وَ اَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْاَقْرَبِيْنَ وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ

باب ۳۲۶: آيت: و اَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْاَقْرَبِيْنَ: دَ الله تعالىٰ قول' خپل رشته دار اويروه' وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ

يَنْ جَانِبَكَ.

معني دي، چه ته هغوي سره مهرباني سره پيش راشه.

۷۵۵: حَدَّثَنَا عُمَرُ وبْنُ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ حَدَّثَنَا اَبِيْ حَدَّثَنَا الْاَعْمَشُ قَالَ حَدَّثَنِيْ عَمْرُو بْنُ مُرَّةَ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ وَ اَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْاَقْرَبِيْنَ صَعِدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الصَّفَا فَجَعَلَ يُنَادِيْ يَا بَنِيْ فِهْرٍ يَا بَنِيْ عَدِيٍّ لِبُطُوْنِ قُرَيْشٍ حَتّٰى اجْتَمَعُوْا فَجَعَلَ الرَّجُلُ اِذَا لَمْ يَسْتَطِعْ اَنْ يَّخْرُجَ اَرْسَلَ رَسُوْلًا لِيَنْظُرَ مَا هُوَ فَجَآءَ اَبُوْ لَهَبٍ وَّ قُرَيْشٌ فَقَالَ اَرَاَيْتُكُمْ لَوْ اَخْبَرْتُكُمْ اَنَّ خَيْلًا بِالْوَادِيْ تُرِيْدُ اَنْ تُغِيْرَ عَلَيْكُمْ اَكُنْتُمْ مُصَدِّقِيَّ قَالُوْا نَعَمْ مَا جَرَّبْنَا عَلَيْكَ اِلَّا صِدْقًا قَالَ فَاِنِّيْ نَذِيْرٌ لَّكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيْدٍ فَقَالَ اَبُوْ لَهَبٍ تَبًّا لَكَ سَائِرَ الْيَوْمِ اَلِهٰذَا جَمَعْتَنَا فَنَزَلَتْ تَبَّتْ يَدَا اَبِيْ لَهَبٍ وَّتَبَّ مَا اَغْنٰى عَنْهُ مَالُهٗ وَمَا كَسَبَ.

۷۵۵: عمر بن حفص بن غياث. حفص. حفص بن غياث. اعمش. عمرو بن مره. سعيد بن جبير. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي. د هغه بيان دے، كووم وخت چه دا آيت نازل شو: و انذر عشيرتك الاقربين: اے رسوله، خپل رشته داران اويروه، نو رسول الله صلي الله عليه وسلّم كوه صفا ته اوختلو، او په اوچت آواز، ئے نعرے كړے اے بني فهر، اي بني عدي، د قريشو ټول خلق ئے راوغبتل. كوم وخت چه راغلل، او څوك چه رانغے، هغه خپل نمائنده راوليږلو. ابولهب او قريش هم راغلے وو. حضور صلي الله عليه وسلّم ارشاد اوفرمائيلو، كه زه تاسو ته دا اووايم، چه يو ډير لوئے لښكر په تاسو حملے كولو ته تيار ولاړ دے، نو آيا تاسو به خما په خبره يقين اوكړئ. ټولو اووے. ضرور به يقين كوو، ځكه چه مونږ ستاسو ټولے خبرے ريښتيا ليدلے دي. بيا حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، زه وينم، كه تاسو، د خپل شرك او كفر نه منع نه شوے، نو په تاسو يو دروند عذاب راتلونكے دے ابولهب اووے، ته هلاك شے، تا مونږ دے د پاره دلته رابللے وو، نو هغه وخت سورت: تبت يدا الخ نازل شولو.

۷۵۶: حَدَّثَنَا اَبُو الْيَمَانِ اَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ اَخْبَرَنِيْ سَعِيْدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ وَ اَبُوْ سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ اَنَّ اَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ قَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

۷۵۶: ابواليمان. شعيب. زهري. سعيد بن مسيب او ابو سلمه بن عبدالرحمٰن. حضرت ابوهريرةؓ نه روايت كوي، د هغه بيان دے، كوم وخت چه رسول الله صلي الله عليه وسلّم د دے آيت: و انذر عشيرتك الاقربين

وَسَلَّمَ حِيْنَ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَ اَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْاَقْرَبِيْنَ قَالَ يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ اَوْ كَلِمَةً نَحْوَهَا اِشْتَرُوْا اَنْفُسَكُمْ لَا اُغْنِيْ عَنْكُمْ مِنَ اللّٰهِ شَيْئًا يَا بَنِيْ عَبْدِ مُنَافٍ لَا اُغْنِيْ عَنْكُمْ مِنَ اللّٰهِ شَيْئًا يَا عَبَّاسُ ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ لَا اُغْنِيْ عَنْكَ مِنَ اللّٰهِ شَيْئًا وَ يَا صَفِيَّةُ عَمَّةُ رَسُوْلِ اللّٰهِ لَا اُغْنِيْ عَنْكِ مِنَ اللّٰهِ شَيْئًا وَ يَا فَاطِمَةُ بِنْتُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَلِيْنِيْ مَا شِئْتِ مِنْ مَالِيْ لَا اُغْنِيْ عَنْكِ مِنَ اللّٰهِ شَيْئًا تَابَعَهُ اَصْبَغُ عَنِ ابْنِ وَهْبٍ عَنْ يُوْنُسَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ.

(يعني اے رسوله خپل قريبي رشته داران اويروه) ذ نزول نه پس اودريدلو نو ارشاد ئے اوفرمائيلو اے ذ قريشو ډلے (يا دا شان څه بله كلمه ئے اوفرمائيله) ذ الله اطاعت كوئے خكه چه الله تعالي سره زه ستاسو په هيڅ كار نشم راتلے. اے بني عبدمناف الله سره زه ستاسو په هيڅ كار نشم راتلے. اے عباس بن مطلب زه الله سره ستا په هيڅ كار نشم راتلے. اے فاطمے بنت محمد تهٔ خما ذ مال نه هر څه اخستے شے خو څو پورے چه نيك عمل اونه كړے نو خدائے سره زه ستا په هيڅ كار نشم راتلے اصبغ ذ ابن وهب نه هغهٔ ذ يونس نه او هغهٔ د ابن شهاب نه د دے متابع روايت كړے دے.

# سُوْرَةُ النَّمْلِ

# دَ سورهٔ نمل تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَالْخَبْءُ مَا خَبَأْتَ لَا قِبَلَ لَا طَاقَةَ الصَّرْحُ كُلُّ مِلَاطٍ اُتُّخِذَ مِنَ الْقَوَارِيْرِ وَالصَّرْحُ الْقَصْرُ وَ جَمَاعَتُهُ صُرُوْحٌ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَلَهَا عَرْشٌ سَرِيْرٌ كَرِيْمٌ حُسْنُ الصَّنْعَةِ وَ غَلَاءُ الثَّمَنِ مُسْلِمِيْنَ طَائِعِيْنَ رَدِفَ اقْتَرَبَ جَامِدَةً قَائِمَةً اَوْزِعْنِيْ اِجْعَلْنِيْ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ نَكِّرُوْا غَيِّرُوْا وَ اُوْتِيْنَا الْعِلْمَ

"الخبء" معني پټ څيز. "لا قبل" معني دي طاقت. "الصرح" ذ شيشے محل. ذ دے جمع "صروح" راځي ابن عباس وائي. "ولها عرش عظيم" معني دي چه ذ هغے تخت بيش قيمته او كاريګري بهترينه نمونه ده. "مسلمين" معني تابعدار. "ردف" نزدے. "جامدة" په خپل ځائے قايم. "اوزعنى" ما كړے. ذ مجاهد بيان دے. "نكروا" معني ذ هغے شكل او رنګ بدل كړئے. "اوتينا العلم" دا حضرت سليمان وئيلے وو. ذ هغهٔ مقوله ده. بعضو دے ته ذ بلقيس مقوله وئيلے ده. "صرح" ذ اوبو

وَقَوْلُهُ سُلَيْمَانُ الصَّرْحُ بِرْكَةُ مَآءٍ ضَرَبَ عَلَيْهَا سُلَيْمَانُ قَوَارِيْرَ اَلْبَسَهَا اِيَّاهُ.

حوض وو' چه هغه سليمان عليه السلام په شيشو بټ کړے وو. او کتلو کښې داسے معلوميدلو' چه د اُوبو ډک دے.

# اَلْقَصَصُ

# دَ سورۂ قصص تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ اِلَّا وَجْهَهُ اِلَّا مُلْكَهُ وَ يُقَالُ اِلَّا مَا اُرِيْدُ بِهِ وَجْهُ اللّٰهِ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ اَلْاَنْبَآءُ الْحُجَجُ.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

"كل شى هالک الّا وجهه": "وجهه" نه دَ الله سلطنت يا د هغه ذات مراد دے. بعضے وائي' هغه اعمال مراد دي' چه د هغه دَ رضا دَ پاره اوکړے شي. مجاهد وائي. "انباء" نه مراد دليلو نه دي.

## بَابُ ۳۲۷: قَوْلُهُ اِنَّكَ لَا تَهْدِيْ مَنْ اَحْبَبْتَ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَهْدِيْ مَنْ يَشَآءُ.

## باب ۳۲۷: آيت: اِنَّکَ لَا تَهْدِیْ مَنْ اَحْبَبْتَ: دَ الله تعالي قول' ته چه څوک غواړے' هغه ته هدايت نه شے کولے بلکه الله چه څوک غواړي هدايت ورته کوي.

۷۵۷: حَدَّثَنَا اَبُو الْيَمَانِ اَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ اَخْبَرَنِيْ سَعِيْدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ لَمَّا حَضَرَتْ اَبَا طَالِبِ الْوَفَاةُ جَآءَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَجَدَ عِنْدَهُ اَبَا جَهْلٍ وَ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ اَبِيْ اُمَيَّةَ بْنِ الْمُغِيْرَةِ فَقَالَ اَيْ عَمِّ قُلْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ كَلِمَةً اُحَاجُّ لَكَ بِهَا عِنْدَ اللّٰهِ فَقَالَ اَبُوْ جَهْلٍ وَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ اَبِيْ اُمَيَّةَ اَتَرْغَبُ عَنْ مِلَّةِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَلَمْ يَزَلْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى

۷۵۷: ابو اليمان. شعيب. زهري. سعيد بن مسيب. حضرت مسيبؓ نه روايت کوي. څهٔ وخت چه ابو طالب مړ کيدلو' نو حضور صلي الله عليه وسلّم ورله ورغے. ابو جهل او عبدالله بن اُميه وغيره هم ابو طالب سره موجود وو. حضور صلي الله عليه وسلّم ابو طالب ته اوفرمائيل' اے کاکا جي' تهٔ يو خل کلمهٔ اووايه' چه الله يو دے او محمدؐ دَ هغهٔ ريښتنے رسول دے' نو بيا به زهٔ الله ته ستا باره کښې (بِښِنے په حقله) اووايم. دے نه پس ابو جهل او عبدالله' ابو طالب ته اووے' آيا تهٔ دَ عبدالمطلب دين پريږدے. رسول اکرم صلي الله عليه وسلّم ورته دا ونيل' خو هغوي دواړو به ورته خپله خبره په بيا بيا کوله' تردے چه ابو طالب په خپل پښتواني دين

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْرِضُهَا عَلَيْهِ
وَ يُعِيْدَانِهِ بِتِلْكَ الْمَقَالَةِ حَتّٰى قَالَ
اَبُوْ طَالِبٍ اٰخِرَ مَا كَلَّمَهُمْ عَلٰى
مِلَّةِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ وَ اَبٰى اَنْ يَقُوْلَ
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللّٰهِ
لَاَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ مَا لَمْ اُنْهَ عَنْكَ
فَاَنْزَلَ اللّٰهُ مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ
وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اَنْ يَّسْتَغْفِرُوْا
لِلْمُشْرِكِيْنَ وَ اَنْزَلَ اللّٰهُ فِيْ
اَبِيْ طَالِبٍ فَقَالَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّكَ لَا تَهْدِيْ
مَنْ اَحْبَبْتَ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَهْدِيْ مَنْ
يَّشَآءُ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ اُولِي الْقُوَّةِ لَا
يَرْفَعُهَا الْعُصْبَةُ مِنَ الرِّجَالِ لَتَنُوْءُ
لَتُثْقِلُ فَارِغًا اِلَّا مِنْ ذِكْرِ مُوْسٰى
اَلْفَرِحِيْنَ الْمَرِحِيْنَ قُصِّيْهِ اتَّبِعِيْ اَثَرَهٗ
وَقَدْ يَكُوْنُ اَنْ يَقُصَّ الْكَلَامَ نَحْنُ
نَقُصُّ عَلَيْكَ عَنْ جُنُبٍ عَنْ بُعْدٍ عَنْ
جَنَابَةٍ وَاحِدٌ وَ عَنِ اجْتِنَابٍ اَيْضًا
نَبْطِشُ وَ نَبْطُشُ يَاْتَمِرُوْنَ
يَتَشَاوَرُوْنَ الْعُدْوَانُ وَالْعَدَآءُ
وَالتَّعَدِّيْ وَاحِدٌ اٰنَسَ اَبْصَرَ الْجَذْوَةُ
قِطْعَةٌ غَلِيْظَةٌ مِنَ الْخَشَبِ لَيْسَ
فِيْهَا لَهَبٌ وَالشِّهَابُ فِيْهِ لَهَبٌ
وَالْحَيَّاتُ اَجْنَاسٌ اَلْجَانُّ وَالْاَفَاعِيْ

مړ شو. او كلمه: لا اله الا الله: ئې او نه وئيله. حضور
صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل: والله زه به هغه
(ابو طالب) د پاره برابر استغفار كوم: څو پورې چه الله
تعالي ما د دې نه منع نه كړي. نو هغه وخت دا آيت نازل
شولو: ما كان للنبيّ والذين امنوا الخ: يعني نبي او ايمان
والو. له پكار نه دي، چه مشركانو د پاره استغفار
اوغواړي، او الله تعالي، حضور صلي الله عليه وسلّم ته د
ابو طالب باره كښې اوفرمائيل چه: انک لا تهدى الخ:
يعني دا ستا خوښه نه ده: چه چانه غواړې. هدايت دې
اوكړې، دا د الله په خوښه ده، چه چا ته غواړي. هدايت
ورته كوي. ابن عباسؓ وائي. "لتنوء بالعصبة اولى القوة"
معني دا دي، چه يو لوئې جماعت د هغه قنجيانې نه شوې
اوچتولې، هغه به په هغوي هم درنې وې. "لتنوء" بوج
دې. "فارغا" مطلب دا دې. چه د موسىؑ د مور په زړه
كښې سوا د موسيٰ نه بل څه خيال پاتې نه شو، "فرحين"
خوشحاله. "قصيه" معني دي، هغه پسې ورستو ورستو
څه. د بيانونو معني هم راځي. "عن جنب" د لرې نه او
دا معني دي. د "عن جنابة" او د "عن اجتناب" هم دا
معني دي. "نبطش نبطُش" دواړه شان لوستې شي.
"ياتمرون" مشوره ئې كوله. "عدوان، عداء، تعدى" د
تولو معني دي، د حد نه تيريدل. "انس" وې ليدل.
"جذوة" د غټ لركي هغه سر چه په هغې اور لګيدلې
وي. او "شهاب" لپټ والا ته وائي. "جان" نرې مار.
"افعى" اژدها "ردا" مددگار. ابن عباسؓ به د "يصدقني"
په قاف پيش ونيلو. د بعضو وينا ده، د "سنشد" معني،
مونږ به ستا مدد كوو. عرب د مدد وركولو په موقع

وَالْاَسَاوِدُ رِدْاً مُعِيناً قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ يُصَدِّقُنِيْ وَ قَالَ غَيْرُهُ سَنَشُدُّ سَنُعِيْنُكَ كُلَّمَا عَزَّزْتَ شَيْئاً فَقَدْ جَعَلْتَ لَهُ عَضُداً مَقْبُوحِيْنَ مُهْلَكِيْنَ وَصَّلْنَا بَيَّنَّاهُ وَ اَتْمَمْنَاهُ يُجْبَى يُجْلَبُ بَطِرَتْ اَشِرَتْ فِيْ اُمِّهَا رَسُوْلاً اُمُّ الْقُرٰى مَكَّةُ وَمَا حَوْلَهَا تُكِنُّ تُخْفِيْ اَكْنَنْتُ الشَّيْءَ اَخْفَيْتُهُ وَ كَنَنْتُهُ اَخْفَيْتُهُ وَ اَظْهَرْتُهُ وَيْكَاَنَّ اللّٰهَ مِثْلُ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَ يَقْدِرُ يُوَسِّعُ عَلَيْهِ وَ يُضَيِّقُ عَلَيْهِ.

وائي چه [illegible] [illegible] [illegible] کړے [illegible] [illegible] [illegible] که [illegible] که [illegible] په رابنکلو نے راولي [illegible] حضرت [illegible] دی هغه [illegible] سرکشي اوکړه. "[illegible] رسولا" [illegible] د مکے خوا وشا نه ونیلے شي [illegible] "تکن" پټيږي. عرب وائي "اکننت الشئ" ما هغه پټ کړلو. د "کننة" هم دغه معني راځي. "ويکان الله" مطلب دے. آيا تا هغه اونه ليدلو. "ان الله يبسط الرزق لمن يشيء و يقدر" الله چه چاله غواړي فراخه رزق ورکوي او چا ته چه غواړي لنډه تنګه روزي ورکوي.

بَابُ ٣٢٨: قَوْلُهُ اِنَّ الَّذِيْ فَرَضَ عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ اَلْاٰيَةَ.

باب ٣٢٨: آيت: ان الذي فرض عليک القرٰان: د الله تعالٰي قول: چا چه په تا قران فرض کړے دے. هغه به تا دوباره د واپس کيدو ځائے ته راولي.

٧٥٨: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ اَخْبَرَنَا يَعْلٰى حَدَّثَنَا سُفْيَانُ الْعُصْفُرِيُّ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ لَرَادُّكَ اِلٰى مَعَادٍ قَالَ اِلٰى مَكَّةَ.

٧٥٨: محمد بن مقاتل. يعلي. سفيان عصفري. عکرمه. حضرت ابن عباسؓ نه روايت کوي. د هغه بيان دے "لرادک الي معاد" مطلب دا دے. چه الله تعالٰي به بيا تا مکے ته راولي.

# اَلْعَنْكَبُوْتُ

# دَ سورۀ عنکبوت تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قَالَ مُجَاهِدٌ وَ كَانُوْا مُسْتَبْصِرِيْنَ ضَلَلَةً فَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ عَلِمَ اللّٰهُ ذٰلِكَ اِنَّمَا هِيَ بِمَنْزِلَةِ فَلِيَمِيْزَ اللّٰهُ الْخَبِيْثَ اَثْقَالاً مَعَ اَثْقَالِهِمْ اَوْزَارِهِمْ.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د مجاهد بيان دے. "و کانوا مستبصرين" او هغے خلقو به بنه بد ليدل. "فليعلمن الله" مطلب دا دے. چه الله تعالٰي به خپل علم ظاهر کړي. "ليميز الله الخبيث" چه الله ګنده د ستهره نه جدا کړي "اثقالا مع اثقالهم" خپل بوج سره د نورو بوج.

# الٓمٓ غُلِبَتِ الرُّوْمُ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

فَلَا يَرْبُوْا مَنْ اَعْطٰى يَبْتَغِيْ اَفْضَلَ فَلَا اَجْرَ لَهٗ فِيْهَا قَالَ مُجَاهِدٌ يُحْبَرُوْنَ يُنَعَّمُوْنَ يَمْهَدُوْنَ يُسَوُّوْنَ الْمَضَاجِعَ الْوَدْقُ الْمَطَرُ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ هَلْ لَكُمْ مِمَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ فِي الْاٰلِهَةِ وَ فِيْهِ تَخَافُوْنَهُمْ اَنْ يَّرِثُوْكُمْ كَمَا يَرِثُ بَعْضُكُمْ بَعْضًا يَصَّدَّعُوْنَ يَتَفَرَّقُوْنَ فَاصْدَعْ وَ قَالَ غَيْرُهٗ ضُعْفٌ وَ ضَعْفٌ لُغَتَانِ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ السُّوْآٰى الْاِسَآءَةُ جَزَاءُ الْمُسِيْئِيْنَ.

۷۵۹: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيْرٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا مَنْصُوْرٌ وَالْاَعْمَشُ عَنْ اَبِي الضُّحٰى عَنْ مَسْرُوْقٍ قَالَ بَيْنَمَا رَجُلٌ يُحَدِّثُ فِيْ كِنْدَةَ فَقَالَ يَجِيْءُ دُخَانٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَاْخُذُ بِاَسْمَاعِ الْمُنَافِقِيْنَ وَ اَبْصَارِهِمْ وَ يَاْخُذُ الْمُؤْمِنَ كَهَيْئَةِ الزُّكَامِ فَفَزِعْنَا فَاَتَيْتُ ابْنَ مَسْعُوْدٍ وَ كَانَ مُتَّكِئًا فَغَضِبَ فَجَلَسَ فَقَالَ مَنْ عَلِمَ فَلْيَقُلْ وَمَنْ لَّمْ

# دَ سُورهٔ روم تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

"فلا يربوا" معني دي چه څوک په سود قرض ورکړي هغه ته به هيڅ ثواب نشي ورکيدے. د مجاهد وينا ده. د "يحبرون" معني نعمتونه به ورکړے شي. "يمهدون" خان د پاره بستره وغيره غوړوي. "الودق" معني د باران دي. ابن عباسؓ وائي "هل لكم ممّا ملكت ايمانكم" الله تعالي او د بتانو مثال کښې نازل شوے دے. "تخافونهم" آيا تاسو د خپلو غلامانو او وينزو نه خوف کوئې چه هغوي ستاسو جدا جدا وارث جوړ شي. "يصدعون" جدا جدا شي. "فاصدع" پرانستے بيان کړي. بعضے خلق وائي چه "ضُعف" او "ضَعف" يو معني دي. مجاهد وائي چه "سُوأى" او "اسآءة" معني دا دي چه بدي کونکو ته به برابر بدله رسيږي.

۷۵۹: محمد بن كثير. سفيان. منصور. اعمش. ابوالضحي. حضرت مسروق نه روايت کوي، يو سړي کِنده کښې بيان کولو د قيامت په ورځ به لوګے شان پيدا شي چه د منافقانو په غوږونو او سترګو کښې به ننوځي او ايماندارو ته به زکام شان شي. دے آوريدو سره زهٔ اويريدم، بيا عبدالله بن مسعود له راغلم، هغهٔ بالښت ته ډډه وهلے وهٔ ناست وو. ما هغهٔ ته دا واقعه بيان کړهٔ نو هغه په غصه شولو، اووئيلے، سړي له پکار دي چه کومه خبره ورته معلومه وي، هغه بيان کړي، کني اُو دے وائي چه الله ښهٔ پوهيږي. ځکه چه دا هم يو قسم علم دے چه کوم خيز معلوم نه وي، د هغې په حقله اووائي، چه ماته نهٔ

يَعْلَمْ فَلْيَقُلِ اللّٰهُ أَعْلَمُ فَإِنَّ اللّٰهَ قَالَ لِنَبِيِّهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْ مَا أَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ وَّمَا أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِيْنَ وَ إِنَّ قُرَيْشًا أَبْطَئُوْا عَنِ الْإِسْلَامِ فَدَعَا عَلَيْهِمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اللّٰهُمَّ أَعِنِّيْ عَلَيْهِمْ بِسَبْعٍ كَسَبْعِ يُوْسُفَ فَأَخَذَتْهُمْ سَنَةٌ حَتّٰى هَلَكُوْا فِيْهَا وَ أَكَلُوا الْمَيْتَةَ وَالْعِظَامَ وَ يَرَى الرَّجُلُ مَا بَيْنَ السَّمَآءِ وَالْأَرْضِ كَهَيْئَةِ الدُّخَانِ فَجَآءَهٗ أَبُوْ سُفْيَانَ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ جِئْتَ تَأْمُرُنَا بِصِلَةِ الرَّحِمِ وَ إِنَّ قَوْمَكَ قَدْ هَلَكُوْا فَادْعُ اللّٰهَ فَقَرَأَ فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَآءُ بِدُخَانٍ مُّبِيْنٍ إِلٰى قَوْلِهٖ عَائِدُوْنَ أَفَيُكْشَفُ عَنْهُمْ عَذَابُ الْآخِرَةِ إِذَا جَآءَ ثُمَّ عَادُوْا إِلٰى كُفْرِهِمْ فَذٰلِكَ قَوْلُهٗ تَعَالٰى يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرٰى يَوْمَ بَدْرٍ وَّ لِزَامًا يَوْمَ بَدْرٍ الٓمّٓ غُلِبَتِ الرُّوْمُ إِلٰى سَيَغْلِبُوْنَ وَالرُّوْمُ قَدْ مَضٰى.

ده معلومه. الله خپل رسول ته فرمائي: ته ورته اووايه: چه زه په خپل تبليغ او نصيحت تاسو نه څه صله (بدله) نه غواړم، او نه زه تاسو ته بناوټي خبرې کوم. اصل خبره داده، چه د اهل مکه په ايمان راوړلو کښې تاخير اوشو، نو حضور صلي الله عليه وسلّم الله ته عرض اوکړ، اے الله! ته په دوي د حضرت يوسف عليه السلام د زمانې په شان قحط راولې. دُعا قبوله شوه. قحط راغې سړي او خناور به مړه کيدل. خلقو مرداره غوښه خوړل شروع کړل. او د خلقو ستر کو کښې لوګې لوګې شان په نظر راتلو. نو ابوسفيان، حضور صلي الله عليه وسلّم له راغې، او ونيلې، اے محمدﷺ! تاسو خو مونږ ته د همدردي او صله رحمي تعليم راکوې. ګورې، ستاسو د قوم خلق مړه شو. تاسو دُعا اوکړئ، رسول اکرم صلي الله عليه وسلّم دُعا اوکړله. بيانې دا آيت اولوست: فارتقب يوم تاتي السّماء بدخان مبين. عائدون پورې. دې آيت کښې د عذاب د لرې کيدو ذکر دې، چه هغه صرف دُنياوي عذاب کيدې شي، ځکه چه د آخرت عذاب لرې کيدونکې نه دې، او نه هلته کافر خپل کفر طرف ته واپس کيدې شي. نو د لوګي نه مراد قحط سالي واله لوګې دې. او "البطشة" نه مراد د بدر جنګ دې. او د لزام، مطلب بدر کښې قيد کيدل دي. جنګ بدر او واقعه روم هم تير شولو.

**بَابٌ ۳۲۹: قَوْلُهٗ لَا تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ لِدِيْنِ اللّٰهِ، خُلُقُ الْأَوَّلِيْنَ دِيْنُ الْأَوَّلِيْنَ وَالْفِطْرَةُ**

**باب ۳۲۹:** آيت: لا تبديل لخلق الله: د الله تعالي قول، د الله تعالي جوړ کړې فطرت کښې څه تبديلي نشي راتلې. "خلق الله" نه مراد د الله دين دې، لکه "خلق الاولين" نه مراد "دين الاولين" دې. فطرت نه

الْاِسْلَامُ.

مراد اسلام دے.

٤٧٦٠: حَدَّثَنَا عَبْدَانُ اَخْبَرَنَا عَبْدُ اللّٰهِ اَخْبَرَنَا يُوْنُسُ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ اَخْبَرَنِيْ اَبُوْ سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ اَنَّ اَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ مَوْلُوْدٍ اِلَّا يُوْلَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ فَاَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهٖ اَوْ يُنَصِّرَانِهٖ اَوْ يُمَجِّسَانِهٖ تُنْتَجُ الْبَهِيْمَةُ بَهِيْمَةً جَمْعَاءَ هَلْ تُحِسُّوْنَ فِيْهَا مِنْ جَدْعَاءَ ثُمَّ يَقُوْلُ فِطْرَةَ اللّٰهِ الَّتِىْ فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لَا تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ.

٤٧٦٠: عبدان. عبدالله. یونس. زهري. ابو سلمه. حضرت ابوهریرهؓ نه روایت کوي، حضورؐ اوفرمائیل. هر بچے په اسلامي فطرت پیدا کیږي. هغے نه پس ذ هغهٔ مور پلار هغه یهودي یا نصراني یا مجوسي جوړ کړي، څنګه چه ذ څناورو بچي تندرست او سالم پیدا کیږي، خو ورستو دا کافر دَ هغوي غوږونه وغیره کټ کړي. دغه شان دَ انسانانو ټول بچي په اسلامي فطرت پیدا کیږي. دے نه پس حضور صلي الله علیه وسلّم دا آیت تلاوت کړلو: فطرت الله التی الخ: هغه فطرت چه په هغے ئے انسانان پیدا کړل. دَ الله دین بدلیږي نه. دا ټیک دین دے.

# اللُّقْمَانُ

# دَ سورهٔ لقمان تفسیر

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

بَابٌ ٣٣٠: قَوْلِهٖ لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ اِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ.

باب ٣٣٠: آیت: لا تشرک بالله: دَ الله تعالیٰ قول، الله سره شرک مه کوه، بیشکه شرک لوئے ظلم دے.

٤٧٦١: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيْدٍ حَدَّثَنَا جَرِيْرٌ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ اِبْرٰهِيْمَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَمْ يَلْبِسُوْا اِيْمَانَهُمْ بِظُلْمٍ شَقَّ ذٰلِكَ عَلٰى اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ قَالُوْا اَيُّنَا لَمْ يَلْبِسْ اِيْمَانَهٗ بِظُلْمٍ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى

٤٧٦١: قتیبه بن سعید. جریر. اعمش. ابراهیم. علقمه. حضرت ابن مسعودؓ نه روایت کوي، ذ هغهٔ بیان دے. کوم وخت چه دا آیت نازل شو: الذین امنوا ولم یلبسوا ایمانهم الخ: کومو خلقو چه ایمان راوړلو، او بیا خپل ایمان کښې ئے څهٔ ظلم اونه کهٔ، نو هغه وخت خلقو سره ډیره پریشاني پیدا شوه. او ټولو حضور صلي الله علیه وسلّم ته عرض اوکهٔ، یا رسول الله، داسے به څوک وي، چه هغه خپل ایمان کښې څهٔ ظلم نهٔ وي کړے، نو

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّهُ لَيْسَ بِذَاكَ اَلَا تَسْمَعُ اِلٰى قَوْلِ لُقْمَانَ لِابْنِهِ اِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ.

نبي صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل' دلته ذ ظلم نه مراد شرک دے. آيا تاسو نۀ دي آوريدلے چه لقمان خپل ځوي ته فرمائيلي وو. ان الشرک لظلم عظيم.

## باب ۱۳۳۱: قَوْلِهِ اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ.

باب ۱۳۳۱: آيت: اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ: د الله تعالي قول' ذ قيامت علم صرف الله تعالي ته معلوم دے.

۴۷۶۲: حَدَّثَنِيْ اِسْحَاقُ عَنْ جَرِيْرٍ عَنْ اَبِيْ حَيَّانَ عَنْ اَبِيْ زُرْعَةَ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَوْمًا بَارِزًا لِلنَّاسِ اِذْ اَتَاهُ رَجُلٌ يَمْشِيْ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا الْاِيْمَانُ قَالَ الْاِيْمَانُ اَنْ تُؤْمِنَ بِاللّٰهِ وَ مَلٰئِكَتِهٖ وَ رُسُلِهٖ وَ لِقَائِهٖ وَ تُؤْمِنَ بِالْبَعْثِ الْاٰخِرِ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا الْاِسْلَامُ قَالَ الْاِسْلَامُ اَنْ تَعْبُدَ اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكَ بِهٖ شَيْئًا وَّ تُقِيْمَ الصَّلٰوةَ وَ تُؤْتِيَ الزَّكٰوةَ الْمَفْرُوْضَةَ وَ تَصُوْمَ رَمَضَانَ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا الْاِحْسَانُ قَالَ الْاِحْسَانُ اَنْ تَعْبُدَ اللّٰهَ كَاَنَّكَ تَرَاهُ فَاِنْ لَّمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَاِنَّهٗ يَرَاكَ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَتَى السَّاعَةُ قَالَ مَا الْمَسْئُوْلُ عَنْهَا بِاَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ وَلٰكِنْ سَاُحَدِّثُكَ عَنْ اَشْرَاطِهَا اِذَا وَلَدَتِ الْمَرْاَةُ رَبَّتَهَا فَذَاكَ مِنْ اَشْرَاطِهَا وَ اِذَا كَانَ الْحُفَاةُ الْعُرَاةُ رُءُوْسَ النَّاسِ فَذَاكَ مِنْ

۴۷۶۲: اسحاق. جرير. ابي حيان. ابي زرعه. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت کوي' يو ورځ رسول الله صلي الله عليه وسلم خلقو کښ اودريدلو. يو سړے راغے' او عرض ئے اوکړۀ' يا رسول اللّٰه' ايمان څۀ ته وائي' حضورؐ اوفرمائيل' ايمان دا دے' چه تۀ په الله پوره يقين لرے' ذ هغۀ په فريښتو' کتابونو او رسولانو ايمان لرے' او ذ اللّٰه تعالٰي په ملاقات يقين لرے' قيامت او حشر پوره طور سره منے. بيا هغۀ تپوس اوکۀ' اسلام څۀ ته وائي' حضورؐ ورته اوفرمائيل' صرف ذ الله تعالي عبادت کول' شرک نه محفوظ کيدل' مونځ ادا کول' زکوة ورکول' ذ رمضان روژے نيول. دے نه پس هغۀ تپوس اوکۀ' احسان څۀ ته وائي' حضور صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل' احسان دا دے' چه تۀ ذ اللّٰه عبادت داسے اوکړے' لکه چه تۀ هغه وينے' او که داسے نشي کيدے' نو دومره يقين اوساتے' چه هغه تا ويني. دے نه پس ئے تپوس اوکۀ. قيامت به کله راځي' حضور صلي اللّٰه عليه وسلم ورته اوفرمائيل' دا ستا نه زيات نۀ پيژنم. او دا درته بنايم. چه ذ هغے ذ علامتونو نه يو دا دے' چه ښځے نه به خپله خاوند؛ پيدا شي' (يعني ځونے چه لونے شي' نو ذ هغے خاوند او مالک به جوړ شي) کمينه او واړۀ خلق به بادشاهان جوړ شي. دے نه پس ئے

اَشْرَاطِهَا فِيْ خَمْسٍ لَا يَعْلَمُهُنَّ اِلَّا اللّٰهُ اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ وَ يُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَ يَعْلَمُ مَا فِي الْاَرْحَامِ ثُمَّ انْصَرَفَ الرَّجُلُ فَقَالَ رُدُّوْا عَلَيَّ فَاَخَذُوْا لِيَرُدُّوْا فَلَمْ يَرَوْا شَيْئًا فَقَالَ هٰذَا جِبْرِيْلُ جَاءَ لِيُعَلِّمَ النَّاسَ دِيْنَهُمْ.

اوفرمائيل پنځه خبرے دي. چه هغه صرف الله ته معلومے دي. (۱) دا چه قيامت به کله راځي (۲) دا چه باران به کله کيږي (۳) د ښځے په رحم کښ څه دي دے نه پس هغه سړے لاړ. حضورؐ اوفرمائيل هغه سړے لږ واپس راولے. مونږ اوکتلو، خو بيا مو نه مندلو، حضورؐ اوفرمائيل: دا جبرائيلؑ وو چه خلقو ته دين ښودلو د پاره راغلے وو.

۴۷۶۳: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ حَدَّثَنِيْ ابْنُ وَهْبٍ قَالَ حَدَّثَنِيْ عَمْرُو بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَفَاتِيْحُ الْغَيْبِ خَمْسٌ ثُمَّ قَرَاَ اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ.

۴۷۶۳: يحيي بن سليمان. ابن وهب. عمر بن محمد بن زيد بن عبدالله بن عمرؓ. حضرت عبدالله بن عمرؓ نه روايت کوي، د هغه بيان دے. رسول الله صلي الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو. د غيب د خزانو پنځه قنجيانے دي. دے نه پس حضور صلي الله عليه وسلم دا آيت تلاوت کړلو. انّ الله عنده علم الساعة الخ: آخر آيت پورے.

# تَنْزِيْلُ السَّجْدَةِ

# د سورۀ تنزيل السجدة تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ قَالَ مُجَاهِدٌ مَهِيْنٌ ضَعِيْفٌ نُطْفَةُ الرَّجُلِ ضَلَلْنَا هَلَكْنَا وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ اَلْجُرُزُ الَّتِيْ لَا تُمْطَرُ اِلَّا مَطَرًا لَا يُغْنِيْ عَنْهَا شَيْئًا نَهْدِ نُبَيِّنْ.

د مجاهد بيان دے. "مهين" کمزوري ته وائي. او مراد ترے د سړي نطفه ده "ضللنا" مونږ تباه شو. ابن عباس وائي "جرز" هغه زمکه چه هلته باران ډير کم کيږي، يا سخته او خشکه زمکه. "نهد" معني هغوي ته نے هدايت ورکه.

بَابٌ ۳۳۲: قَوْلُهٗ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا اُخْفِيَ لَهُمْ.

باب ۳۳۲: آيت: فلا تعلم نفس ما اُخفي لهم: د الله تعالي قول: هيڅوک ته نه ده معلومه چه د هغه د پاره ئے څنګه د سترګو يخ والے سبب اينبے دے.

۴۷۶۴: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ

۴۷۶۴: علي بن عبدالله. سفيان. ابي

اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ اَبِي الزِّنَادِ عَنِ الْاَعْرَجِ عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ اللّٰهُ وَ تَبَارَكَ وَ تَعَالٰى اَعْدَدْتُ لِعِبَادِيَ الصَّالِحِيْنَ مَا لَا عَيْنٌ رَاَتْ وَلَا اُذُنٌ سَمِعَتْ وَلَا خَطَرَ عَلٰى قَلْبِ بَشَرٍ قَالَ اَبُوْ هُرَيْرَةَ اِقْرَءُ وْا اِنْ شِئْتُمْ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا اُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ اَعْيُنٍ.

الزناد. اعرج. حضرت ابوهريرهٓ نه روايت كوي، حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل، خما رب ارشاد فرمائي، ما ذ خپلو بنديانو د پاره داسے خيزونه تيار كړي دي، چه نه يو ستر كے ليدلے دي، نه يو غوږ آوريدلے دي، او نه ذ چا وهم و كمان كښ راغلے دي. ذ دے راوي اووے، كه تاسو غواړئے، نو دا آيت اولولئے: فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا اُخْفِيَ مِنْ قُرَّةِ اَعْيُنٍ. خكه چه دے كښ ذ دے بيان دے.

۴۷۶۵: حَدَّثَنَا عَلِيٌّ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ اَبِي الزِّنَادِ عَنِ الْاَعْرَجِ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ اللّٰهُ مِثْلَهُ قِيْلَ لِسُفْيَانَ رِوَايَةً قَالَ فَاَيُّ شَيْءٍ قَالَ اَبُوْ مُعَاوِيَةَ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ اَبِيْ صَالِحٍ قَرَاَ اَبُوْ هُرَيْرَةَ قُرَّاتِ.

۴۷۶۵: علي. سفيان. ابوالزناد. حضرت ابوهريرهٓ نه روايت كوي، ذ هغهٔ بيان دے. اللّٰه تعالٰي ارشاد فرمائي، بيائے هغه بيان اوكهٔ، كوم چه مخكښ تير شوے دے. سفيان نه تپوس اوشهٔ، چه تا دا حديث ذ حضورٌ نه روايت كړے دے، نور څهٔ. ابو معاويه ذ اعمش نه په واسطه ذ صالح نقل كړے دے، چه حضرت ابوهريرهٓ "قرات اعين" اووے.

۴۷۶۶: حَدَّثَنِيْ اِسْحَاقُ بْنُ نَصْرٍ حَدَّثَنَا اَبُوْ صَالِحٍ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اللّٰهُ تَعَالٰى اَعْدَدْتُ لِعِبَادِيَ الصَّالِحِيْنَ مَالَا عَيْنٌ رَاَتْ وَلَا اُذُنٌ سَمِعَتْ وَلَا خَطَرَ عَلٰى قَلْبِ بَشَرٍ ذُخْرًا بَلْهَ مَا اُطْلِعْتُمْ عَلَيْهِ ثُمَّ قَرَاَ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا اُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ اَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ.

۴۷۶۶: اسحاق بن نضر. ابو اسامه. اعمش. ابو صالح. حضرت ابوهريرهٓ نه روايت كوي، حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ارشاد اوفرمائيلو، خما رب فرمائي، ما ذ خپلو نيكو او متقيانو بنديانو ذ پاره داسے داسے نعمتونه تيار كړے دي، چه نهٔ به يو ستر كے ليدلے وي، نه به يو غوږ آوريدلے وي، او نه ذ چا زړهٔ كښ ذ هغے خيال تير شوے دے، د اللّٰه دغه نعمتونو نه واقف والے خو ډيره لرے خبره ده دے نه پس ذكر شوے آيت حضورٌ تلاوت كړلو.

ف: اللّٰه پاک دے دغه نعمتونه خمونږ هم نصيب كړي. اللّٰهمَّ آمين.

# الْاَحْزَاب

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
وَ قَالَ مُجَاهِدٌ صَيَاصِيْهِمْ قُصُوْرِهِمْ.

بَابُ ۳۳۳: قَوْلِهٖ النَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ.

۷۶۷: حَدَّثَنَا اِبْرَاهِيْمُ بْنُ الْمُنْذِرِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُلَيْحٍ حَدَّثَنَا اَبِيْ عَنْ هِلَالِ بْنِ عَلِيٍّ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ اَبِيْ عَمْرَةَ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ مُؤْمِنٍ اِلَّا وَ اَنَا اَوْلَى النَّاسِ بِهٖ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ اِقْرَاُوْا اِنْ شِئْتُمْ النَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ فَاَيُّمَا مُؤْمِنٌ تَرَكَ مَالًا فَلْيَرِثْهُ عَصَبَتُهٗ مَنْ كَانُوْا فَاِنْ تَرَكَ دَيْنًا اَوْ ضِيَاعًا فَلْيَاْتِنِيْ وَ اَنَا مَوْلَاهُ.

بَابُ ۳۳۴: قَوْلِهٖ اُدْعُوْهُمْ لِاٰبَائِهِمْ.

۷۶۸: حَدَّثَنَا مُعَلَّى بْنُ اَسَدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيْزِ بْنُ الْمُخْتَارِ حَدَّثَنَا مُوْسَى بْنُ عُقْبَةَ قَالَ حَدَّثَنِيْ سَالِمٌ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ اَنَّ زَيْدَ بْنَ حَارِثَةَ مَوْلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

# دَ سورۀ احزاب تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

مجاهد وائي "صياصيهم" معني دي محل، قلعه وغيره.

باب ۳۳۳: آيت: النَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ: دَ الله تعالٰي قول، چه نبي په مؤمنانو دَ هغوي دَ خانونونه هم زيات حق لري.

۷۶۷: ابراهيم بن منذر. محمد بن فليح. هلال بن علي. عبدالرحمٰن بن ابي عمره. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت کوي. دَ هغۀ بيان دے. حضور صلي الله عليه وسلّم ارشاد اوفرمائيلو، دَ هر ايمان والـه زۀ دَ ټولونه زيات دے دُنيا او آخرت کښې خير خواه يم، که تاسو غواړئ، نو دا آيت اولولئ: النَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ الخ: يعني نبي دَ ايمان والو، دَ هغوي خانونو نه هم زيات حقدار دے. حضورؐ اوفرمائيل. کوم مومن چه مال پريښے دے، دَ هغۀ وارث دَ هغۀ رشته دار دي. او که دَ چا قرض دَ هغۀ په ذمه راخي، يائے اولاد پريښے وي نو هغه دے ماله راشي، زۀ دَ هغوئ ذمه وار يم.

باب ۳۳۴: آيت: اُدْعُوْهُمْ لِاٰبَائِهِمْ: دَ الله تعالٰي قول، چه هغوي (يعني متبني) دَ هغوي دَ پلارانو په نومونو بلئ.

۷۶۸: معلي بن اسد. عبدالعزيز. موسي بن عقبه. سالم بن عبدالله. حضرت عبدالله بن عمرؓ نه روايت کوي، دَ هغۀ بيان دے. حضور صلي الله عليه وسلّم، زيد بن حارثه متبني (خوئے) جوړ کړلو. او مونږ خلقو به زيد ته زيدؓ بن محمدؐ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا كُنَّا نَدْعُوْهُ اِلَّا زَيْدَ بْنَ مُحَمَّدٍ حَتّٰى نَزَلَ الْقُرْاٰنُ اُدْعُوْهُمْ لِاٰبَاۤئِهِمْ هُوَ اَقْسَطُ عِنْدَ اللّٰهِ.

ونبلے دے سلسله کښې: [illegible] اُدْعُوْهُمْ لِاٰبَاۤئِهِمْ هُوَ اَقْسَطُ عِنْدَ اللّٰهِ [illegible] دغسے بللو.

**بـــاب ۳۳۵: قَـــوْلُـــهٗ فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰى نَحْبَهٗ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوْا تَبْدِيْلًا** نَحْبَهٗ عَهْدَهٗ اَقْطَارِهَا جَوَانِبِهَا الْفِتْنَةَ لَاٰتَوْهَا لَاَعْطَوْهَا.

**باب ۳۳۵: آيت: فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰى نَحْبَهٗ** د الله تعالي قول: مؤمنانو کښې داسے هم شته چه هغوي الله سره کوم عهد کړے وو هغه ئے پوره کړلو او بعضے د وخت منتظر دي. او هغوي کښې هيڅ تبديلي نه ده شوے "نحبه" ذ هغه عهد "اقطارها" ذ غاړو (کنارو) "لاتوها" دوئ به ورله ور کړے وه.

۷۶۹: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ الْاَنْصَارِيُّ قَالَ حَدَّثَنِيْ اَبِيْ عَنْ ثُمَامَةَ عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ نُرٰى هٰذِهِ الْاٰيَةَ نَزَلَتْ فِيْ اَنَسِ بْنِ النَّضْرِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا اللّٰهَ عَلَيْهِ.

۷۶۹: محمد بن بشار. محمد بن عبدالله انصاري. ذ هغه پلار. ثمامه بن عبدالله. حضرت انس بن مالک نه روايت کوي، ذ هغه بيان دے دا آيت ذ انس بن نضر په حق کښې نازل شوے دے. ايماندارو کښې هغه سړي دي، چه هغوي الله سره کړے لوظ پوره کړلو.

۷۷۰: حَدَّثَنَا اَبُو الْيَمَانِ اَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ اَخْبَرَنِيْ خَارِجَةُ بْنُ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ اَنَّ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ قَالَ لَمَّا نَسَخْنَا الصُّحُفَ فِي الْمَصَاحِفِ فَقَدْتُ اٰيَةً مِّنْ سُوْرَةِ الْاَحْزَابِ كُنْتُ اَسْمَعُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَءُ هَا لَمْ اَجِدْهَا مَعَ اَحَدٍ اِلَّا مَعَ خُزَيْمَةَ الْاَنْصَارِيِّ الَّذِيْ جَعَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَهَادَتَهٗ

۷۷۰: ابواليمان. شعيب. زهري. خارجه بنت زيد بن ثابت. حضرت زيد بن ثابت نه روايت کوي، ذ هغه بيان دے. هر کله چه مونږ قرآن په يو ځائے اوليکه، نو ذ سورت احزاب يو آيت چه ما به ذ رسول الله صلي الله عليه وسلم نه آوريدلو، هغه ماته ذ چانه حاصل نه شو. آخر خزيمه انصاري نه راته حاصل شولو، او هغه ته حضور صلي الله عليه وسلم داسے ربتنے فرمايلے وو، چه د هغه يوازے شهادت ئے د دوو مسلمانانو ذ شهادت برابر فرمائيلے وو. هغه

شَهَادَةَ رَجُلَيْنِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا اللّٰهَ عَلَيْهِ.

دا دي مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا اللّٰهَ عَلَيْهِ. آخر آيت پورې

بَاب ٣٣٦: قَوْلِهٖ قُلْ لِّأَزْوَاجِكَ إِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَ زِيْنَتَهَا فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَ أُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيْلًا التَّبَرُّجُ أَنْ تُخْرِجَ مَحَاسِنَهَا سُنَّةَ اللّٰهِ اسْتَنَّهَا جَعَلَهَا.

باب ٣٣٦: آيت: قُلْ لِّأَزْوَاجِكَ إِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا: ذ الله تعالیٰ قول: اے نبيّ خپلو بيبيانو ته اووايه، كه تاسو ذ دُنيا عيش و عشرت غواړئ، نو راځئ، چه زهٔ مال دركړم، او په خوشئ مو رخصت كړم. "تبرج" معني ډول سنګار كول. "سنة الله استنها" خپله طريقه.

١٧٧: حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِيْ أَبُوْ سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبَرَتْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَ هَا حِيْنَ أَمَرَ اللّٰهُ أَنْ يُخَيِّرَ أَزْوَاجَهٗ فَبَدَأَ بِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّيْ ذَاكِرٌ لَّكِ أَمْرًا فَلَا عَلَيْكِ أَنْ تَسْتَعْجِلِيْ حَتّٰى تَسْتَأْمِرِيْ أَبَوَيْكِ وَقَدْ عَلِمَ أَنَّ أَبَوَيَّ لَمْ يَكُوْنَا يَأْمُرَانِيْ بِفِرَاقِهٖ قَالَتْ ثُمَّ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ قَالَ يٰأَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّأَزْوَاجِكَ إِلٰى تَمَامِ الْآيَتَيْنِ فَقُلْتُ لَهٗ فَفِيْ أَيِّ هٰذَا أَسْتَأْمِرُ أَبَوَيَّ فَإِنِّيْ أُرِيْدُ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ وَ الدَّارَ الْآخِرَةَ.

١٧٧: ابواليمان. شعيب. زهري. ابو سلمه بن عبدالرحمٰن. بي بي عائشې تېر ذ نبي عليه السلام نه روايت كوي. كوم وخت چه دا آيت (آيت تخيير) نازل شولو، نو حضور صلي الله عليه وسلم ذ ټولونه مخكښې ماله تشريف راوړلو، او وې فرمائيل، زهٔ تاسته يو خبره كوم، خو جواب كښې تادي مهٔ كوه. او ذ خپل مور پلار نه په بنهٔ شان تپوس اُوكه، بيا جواب راكه. بي بي عائشهٔ وائي، حضور صلي الله عليه وسلم ته بنهٔ معلومه وه، چه خما مور پلار د حضور صلي الله عليه وسلم جدائي او ذ مال محبت نهٔ خوښوي. بيا حضور صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل، الله پاک فرمائي: يايها النبی قل لازواجک الخ: بي بي عائشهٔ وائي، ما خدمت كښې عرض اوكه، يا رسول الله، زهٔ ذ مور پلار نه څه تپوس اوكړم، زهٔ خو ذ آخرت عيش او الله او رسول خوښوم، نه چه مال.

بَاب ٣٣٧: قَوْلِهٖ وَ إِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ وَالدَّارَ الْآخِرَةَ

باب ٣٣٧: آيت: وَ إِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ: ذ الله تعالیٰ قول، كه تاسو الله رسول او آخرت

فَإِنَّ اللّٰهَ اَعَدَّ لِلْمُحْسِنٰتِ مِنْكُنَّ اَجْرًا عَظِيْمًا وَ قَالَ قَتَادَةُ وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلٰى فِيْ بُيُوْتِكُنَّ مِنْ اٰيَاتِ اللّٰهِ وَالْحِكْمَةِ الْقُرْاٰنُ وَالسُّنَّةُ.

خوښوي، نو اللـه تاسو کښې نيکو بيبيانوله لوئے ثواب مقرر کړے دے. حضرت قتاده فرمائي: واذكرن ما يتلى في بيوتكن من آيات الله والحكمة الخ: کښې آيات نه مراد قرآن او "الحكمة" نه مراد سنت رسول دے.

۴۷۷۲: حَدَّثَنَا اللَّيْثُ حَدَّثَنِيْ يُوْنُسُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ اَبُوْ سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ اَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا اُمِرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتَخْيِيْرِ اَزْوَاجِهٖ بَدَاَ بِيْ فَقَالَ اِنِّيْ ذَاكِرٌ لَّكِ اَمْرًا فَلَا عَلَيْكِ اَنْ لَّا تَعْجَلِيْ حَتّٰى تَسْتَاْمِرِيْ اَبَوَيْكِ قَالَتْ وَقَدْ عَلِمَ اَنَّ اَبَوَيَّ لَمْ يَكُوْنَا يَاْمُرَانِّيْ بِفِرَاقِهٖ قَالَتْ ثُمَّ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ جَلَّ ثَنَاءُهٗ قَالَ يٰاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ اِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَ زِيْنَتَهَا اِلٰى اَجْرًا عَظِيْمًا قَالَتْ فَقُلْتُ فَفِيْ اَيِّ هٰذَا اَسْتَاْمِرُ اَبَوَيَّ فَاِنِّيْ اُرِيْدُ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ وَ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ قَالَتْ ثُمَّ فَعَلَ اَزْوَاجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ مَا فَعَلْتُ تَابَعَهٗ مُوْسَى بْنُ اَعْيَنَ عَنْ مَعْمَرٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ اَخْبَرَنِيْ اَبُوْ سَلَمَةَ وَ قَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ وَاَبُوْ سُفْيَانَ الْمَعْمَرِيُّ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ.

۴۷۷۲: ليث. يونس. ابن شهاب. ابو سلمه بن عبدالرحمن. بي بي عائشےؓ نه روايت کوي: کوم وخت چه د اللـه تعالى دا حکم حضور صلي الله عليه وسلّم له راغے، نو حضورؐ د ټولو نه مخکښې ماته اوفرمائيل، زهٔ تاته يوه خبره کوم. جواب کښې تادي مهٔ کوه: بلکه د خپل مور پلار نه تپوس اوکه. (دا خبره حضور صلي الله عليه وسلّم په دے غرض اوفرمائيله: چه چرته زهٔ مال خوښ نهٔ کړم، ځکه چه مور پلار خو م آخرت او رسول الله صلي اللـه عليه وسلّم خوښوي). دے نه پس حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، اے عائشےؓ، که ته د دنيا مال متاع خوښوے نو بيا به دے زهٔ ډير سامان سره رخصت کړم، او که تهٔ اللــه، رسول او آخرت خوښوے، نو خدائے ستاسو د پاره لوئے اجر مقرر کړے دے. خو په دے شرط چه تاسو په نيکئے قائمے ئے. بي بي عائشهٔ فرمائي، ما حضور صلي الله عليه وسلّم ته عرض اوکهٔ. زهٔ دے کښې د مور پلار نه څهٔ تپوس اوکړم، زهٔ خو اللهٔ، رسول، او آخرت خوښوم. بيا هم دا خبرد حضور صلي الله عليه وسلّم د نورو بيبيانو نه هم اوتپوسله، او هغوي ټولو هم دغه جواب ورکړلو. موسي بن اعين، معمر، زهري، ابو سلمه، عبدالرزاق، ابوسفيان نه د دے متابع حديث روايت کهٔ. او زهري د عروه نه او هغه د بي بي عائشے صديقےؓ نه هم دا حديث روايت کړے دے.

باب۳۳۸: قَوْلُهُ وَ تُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللّٰهُ مُبْدِيهِ وَ تَخْشَى النَّاسَ وَاللّٰهُ أَحَقُّ أَنْ تَخْشَاهُ.

۴۷۷۳: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ حَدَّثَنَا مُعَلَّى بْنُ مَنْصُورٍ عَنْ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ حَدَّثَنَا ثَابِتٌ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ هٰذِهِ الْآيَةَ وَ تُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللّٰهُ مُبْدِيهِ نَزَلَتْ فِي شَأْنِ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ وَ زَيْدِ بْنِ حَارِثَةَ.

باب۳۳۹: قَوْلِهِ تُرْجِي مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ وَ تُؤْوِي إِلَيْكَ مَنْ تَشَاءُ وَ مَنِ ابْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ تُرْجِي تُؤَخِّرُ أَرْجِئْهُ أَخِّرْهُ.

۴۷۷۴: حَدَّثَنَا زَكَرِيَّا بْنُ يَحْيٰى حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ قَالَ هِشَامٌ حَدَّثَنَا عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَغَارُ عَلَى اللَّاتِي وَهَبْنَ أَنْفُسَهُنَّ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ أَقُولُ أَتَهَبُ الْمَرْأَةُ نَفْسَهَا فَلَمَّا أَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالَى تُرْجِي مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ وَ تُؤْوِي إِلَيْكَ مَنْ تَشَاءُ وَمَنِ ابْتَغَيْتَ

باب۳۳۸: آيت: وَ تُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللّٰهُ مُبْدِيهِ: دَ اللّٰه تعالي قول' تا خپل زړهٔ کښې هغه خبره پټه ساتله' کومه چه اللّٰه ظاهرونکے وو. تهٔ دَ خلقونه ويريدلے' حالانکه اللّٰه دَ دے زيات حقدار دے' چه تهٔ دَ هغهٔ نه اوېرېږے.

۴۷۷۳: محمد بن عبدالرحيم. معلي بن منصور. حماد بن زيد. حضرت انس بن مالکؓ نه روايت کوي' دَ هغهٔ بيان دے' چه دا آيت: وَ تُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللّٰهُ مُبْدِيهِ: الخ تا خپل زړهٔ کښې هغه خبره پټه ساتله' کومه چه اللّٰه ظاهرونکے وو. (يعني دا آيت) زينب بنت جحش او د زيد بن حارثه په حق کښې نازل شو.

باب۳۳۹: آيت: تُرْجِي مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ: دَ اللّٰه تعالي قول' تهٔ خپلو بيبيانو کښې چه کومه غواړے' او کومې پورے غواړے' جدا ساته' او کومه چه غواړے' خان سره نے ساته' او کومې چه جدا وي' که غواړے' نو هغوي هم طلب کړه. په تا هيڅ ګناه نشته. ابن عباسؓ وائي "ترجي" ډيل ورکه. "ارجئه" ددے نه دے.

۴۷۷۴: زکريا بن يحيي. ابو اسامه. هشام. عروه. بي بي عائشےؓ نه روايت کوي' دَ هغې بيان دے' چه کومو ښځو خپل خان حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ته هبه کړے وو' ما به دَ هغوي مقابله کښې غيرت او شرم کولو. دے نه پس دا آيت نازل شولو: تُرْجِي مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ وَ تُؤْوِي إِلَيْكَ مَنْ تَشَاءُ وَمَنِ ابْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكَ: نو ما خدمت شريف کښې عرض اوکه' اے دَ اللّٰه

مِمَّنْ عَزَلْتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكَ قُلْتُ مَا أَرَى رَبَّكَ إِلَّا يُسَارِعُ فِي هَوَاكَ.

رسوله، زه وينم، چه الله ستاسو د مرضۍ موافق كوي، اوس چه مو څنگه خوښوي، هغسې كوي.

١. په طبري كښې د ابن عباس رضي الله عنه يو روايت په اسناد حسن سره موجود دې چه كومو ښځو خپل ځان رسول الله صلي الله عليه وسلّم ته هبه كړې وو په هغوى كښې هيڅ يوه هم حضورﷺ خپل ځان سره نه وه ساتلې. اگر چه الله تعالى هغوى د پاره دا مباح كړې وه. ليكن بهرحال دا د حضور په منا باندې موقوف وه. حضورﷺ ته دا مخصوص اجازت وو چه كه چرې څوک مؤمنه ښځه د مهر نه بغير خپل ځان د هغوى په نكاح كښې وركول غواړي نو دا صرف د حضورﷺ د پاره جائز دي، نورو مسلمانانو ته ددې اجازت نيشته. دا واقعه د همدې سره متعلق ده.

٤٧٧٥: حَدَّثَنَا حِبَّانُ بْنُ مُوسَى أَخْبَرَنَا عَاصِمٌ الْأَحْوَلُ عَنْ مُعَاذَةَ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَسْتَأْذِنُ فِي يَوْمِ الْمَرْأَةِ مِنَّا بَعْدَ أَنْ أُنْزِلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ تُرْجِي مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ وَتُؤْوِي إِلَيْكَ مَنْ تَشَاءُ وَمَنِ ابْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكَ فَقُلْتُ لَهَا مَا كُنْتِ تَقُولِينَ قَالَتْ كُنْتُ أَقُولُ لَهُ إِنْ كَانَ ذَلِكَ إِلَيَّ فَإِنِّي لَا أُرِيدُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنْ أُوثِرَ عَلَيْكَ أَحَدًا تَابَعَهُ عَبَّادُ بْنُ عَبَّادٍ سَمِعَ عَاصِمًا.

٤٧٧٥: حبان بن موسى. عبدالله. عاصم الاحول. بي بي معاذه. بي بي عائشې نه روايت كوي، د هغې بيان دې. رسول الله صلي الله عليه وسلّم به د وار د ورځې بي بي نه بلې بي بي له ورتلو، نو د وار د بي بي نه به ئې اجازت غوښتلو د دې آيت د نازليدو نه پس يعني: تُرْجِي مَنْ تَشَاءُ مِنْهُنَّ وَتُؤْوِي إِلَيْكَ مَنْ تَشَاءُ الخ: بي بي معاذه وائي. ما د بي بي عائشې نه تپوس اوكړ، چه حضور صلي الله عليه وسلّم به تاسو نه اجازت غوښتلو، نو تا به څه جواب وركولو هغې اوفرمائيل، ما خو به ورته وئيلې، زه خو دا غواړم، چه تاسو ماسره پاتې شئ. دا حديث عباد بن عباد، عاصم نه هم روايت كړې دې.

باب ٣٤٠: قَوْلِهِ لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلَّا أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَى طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ وَلَكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوا وَلَا مُسْتَأْنِسِينَ لِحَدِيثٍ إِنَّ ذَلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ

باب ٣٤٠: لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلَّا أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ: د الله تعالي قول، اې مسلمانانو، تاسو د نبي كور ته مه ځئ، خو داسې صورت كښې چه تاسو طعام د پاره اوغوښتلې شئ. او تاسو له د هغې د پخيدو هم انتظار نه دې پكار. او كوم وخت چه اوبللې شئ. او طعام خوړلو نه پس خبرو كولو د پاره مه كينئ. ستاسو دا

فَيَسْتَحْيِيْ مِنْكُمْ وَاللّٰهُ لَا يَسْتَحْيِيْ مِنَ الْحَقِّ وَ اِذَا سَاَلْتُمُوْهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوْهُنَّ مِنْ وَّرَآءِ حِجَابٍ ذٰلِكُمْ اَطْهَرُ لِقُلُوْبِكُمْ وَ قُلُوْبِهِنَّ وَمَا كَانَ لَكُمْ اَنْ تُؤْذُوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَلَا اَنْ تَنْكِحُوْا اَزْوَاجَهُ مِنْ بَعْدِهِ اَبَدًا اِنَّ ذٰلِكُمْ كَانَ عِنْدَ اللّٰهِ عَظِيْمًا يُقَالُ اِنَاهُ اِدْرَاكُهُ اَنَا يَاْنِيْ اَنَاةً لَعَلَّ السَّاعَةَ تَكُوْنُ قَرِيْبًا اِذَا وَصَفْتَ صِفَةَ الْمُؤَنَّثِ قُلْتَ قَرِيْبَةً وَ اِذَا جَعَلْتَهُ ظَرْفًا وَّ بَدْلًا وَلَمْ تُرِدِ الصِّفَةَ نَزَعْتَ الْهَاءَ مِنَ الْمُؤَنَّثِ وَ كَذٰلِكَ لَفْظُهَا فِي الْوَاحِدِ وَالْاِثْنَيْنِ وَالْجَمِيْعِ لِلذَّكَرِ وَالْاُنْثٰى.

عمل نبيّ ذ پاره د تکليف باعث دے' او هغه تاسو نه شرميږي' خو اللّٰه د حقے خبرے کولو باندے نه شرميږي. او کله چه د هغوي نه څه طلب کوئ' نو د پردے په شا ترے غواړئ. دا خبره ستاسو او ذ هغوي (بيبيانو) ذ دواړو د زړونو د پاکيزګئ سبب دے. ستاسو دا کار نه دے' چه نبيّ له تکليف ورکړئ. او ذ هغه بيبيانوّ سره هيڅ کله نکاح مه کوئ. بيشکه ستاسو دا عمل د خدائے په نزد ډيره لويه ګناه ده. "اناه" معني دي: طعام چه تياريږي. دا لفظ "انا" يا ني' اناة" نه جوړ شوے دے. "لعلّ الساعة تکون قريبا" شايد قيامت عنقريب شي. که "قريبا" ذ قيامت د "ساعة" صفت اوګرځولے شي' نو "قريبة" پکار دے. او که ظرف او بدل ئے اومنو' نو تائے تانيث لرے کولو سره به ئے "قريبا" وايو. داسے حالت کښ دا واحد' تثنيه' جمع' ټولو د پاره به وي.

۶۷۷: حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ عَنْ يَحْيٰى عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ يَدْخُلُ عَلَيْكَ الْبَرُّ وَ الْفَاجِرُ فَلَوْ اَمَرْتَ اُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِيْنَ بِالْحِجَابِ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ اٰيَةَ الْحِجَابِ.

۶۷۷: مسدد. يحيي. حميد. انس. حضرت عمرؓ نه روايت کوي' د هغه بيان دے' ما د حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم خدمت کښ عرض اوکړ' تاسوّ له خو هر قسم خلق راځي' که تاسو خپلو بيبيانو د پردے حکم ورکړئ' نو ډير به ښه وي دغه وخت اللّٰه تعالي د پردے آيت نازل کړلو.

۷۷۷: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ الرَّقَاشِيُّ حَدَّثَنَا مُعْتَمِرُ بْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ سَمِعْتُ اَبِيْ يَقُوْلُ حَدَّثَنَا اَبُوْ مِجْلَزٍ عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ لَمَّا تَزَوَّجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَيْنَبَ ابْنَةَ جَحْشٍ دَعَا

۷۷۷: محمد بن عبداللّٰه رقاشي. معتمر بن سليمان. د هغه پلار' ابو مجلز. حضرت انس بن مالک نه روايت کوي. د هغه بيان دے' حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم چه زينب بنت جحش سره وادهٔ اوکړ' نو د وليمے دعوت ئے اوکه. خلقو د وادهٔ ډوډئ اوخوړله. بيا ناست وو. حضورؐ دننه د

الْقَوْمَ فَطَعِمُوْا ثُمَّ جَلَسُوْا يَتَحَدَّثُوْنَ وَ اِذْهُوَ كَاَنَّهُ يَتَهَيَّأُ لِلْقِيَامِ فَلَمْ يَقُوْمُوْا فَلَمَّا رَاٰى ذٰلِكَ قَامَ فَلَمَّا قَامَ قَامَ مَنْ قَامَ وَ قَعَدَ ثَلٰثَةُ نَفَرٍ فَجَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيَدْخُلَ فَاِذَا الْقَوْمُ جُلُوْسٌ ثُمَّ اِنَّهُمْ قَامُوْا فَانْطَلَقْتُ فَجِئْتُ فَاَخْبَرْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُمْ قَدِ انْطَلَقُوْا فَجَآءَ حَتّٰى دَخَلَ فَذَهَبْتُ اَدْخُلُ فَاَلْقَى الْحِجَابَ بَيْنِيْ وَ بَيْنَهٗ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتَ النَّبِيِّ الْاٰيَةَ.

تلو فکر کښې وو. خو هغې خلقو د پاسیدو نوم نه اخستلو. کوم وخت چه حضورﷺ سره ډیر خلق پاسیدل. خو درې سړي بیا هم ناست وو. خبرې ئې کولې. حضور صلي الله علیه وسلّم چه بهر ته لاړ او دوباره دننه راغې، نو وې لیدل، چه هغه سړي لا اوسه پورې ناست دي. بیا څه وخت پس هغه سړي هم پاسیدل. ما حضور صلي الله علیه وسلّم له خبر ورکهٔ. چه ټول سړي لاړل، هغه وخت حضور صلي الله علیه وسلّم دننه تشریف راوړلو. ما هم ورتلل اوغوښتل، خو حضور صلي الله علیه وسلّم پرده اُوغرخوله، دې نه پس اللّه تعالي د حجاب (پردې) دا آیت نازل کړلو: يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتَ النَّبِيِّ الخ.

۸۴۴: حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ اَيُّوْبَ عَنْ اَبِيْ قِلَابَةَ قَالَ اَنَسُ بْنُ مَالِكٍ اَنَا اَعْلَمُ النَّاسِ بِهٰذِهِ الْاٰيَةِ اٰيَةِ الْحِجَابِ لَمَّا اُهْدِيَتْ زَيْنَبُ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَتْ مَعَهٗ فِي الْبَيْتِ صَنَعَ طَعَامًا وَ دَعَا الْقَوْمَ فَقَعَدُوْا يَتَحَدَّثُوْنَ فَجَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ ثُمَّ يَرْجِعُ وَهُمْ قُعُوْدٌ يَتَحَدَّثُوْنَ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتَ النَّبِيِّ اِلَّا اَنْ يُّؤْذَنَ لَكُمْ اِلٰى طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِيْنَ اِنٰهُ اِلٰى قَوْلِهٖ مِنْ وَّرَآءِ حِجَابٍ فَضُرِبَ

۸۴۴: سلیمان بن حرب. حماد بن زید. ایوب. ابو قلابه. حضرت انس بن مالک نه روایت کوي، هغه اوفرمائیل د پردې د آیت نه زهٔ ښه واقف یم. حضور صلي اللّه علیه وسلّم چه بي بي زینبؓ سره نکاح اوکړله. او د حضور صلي اللّه علیه وسلّم کور ته راغله، نو حضور صلي الله علیه وسلّم ولیمه اوکړه. او خلقوته ئې دعوت ورکړلو. خلق راغلل او طعام نه پس خبرو کولو د پاره ناست وو. رسول اللّه صلي الله علیه وسلّم دننه لاړ. بیا بهر راغې، چه خلق لاړ شي. خو هغوي ناست وو. دغه وخت اللّه تعالي دا آیت نازل کړلو. یایها الذین امنوا لا تدخلوا بیوت النبی الا ان یؤذن لکم: آخر آیت پورې. حضورﷺ تشریف یوړلو. او ما هم د ورتلو قصد اوکهٔ. خو حضورﷺ پرده راوغرخوله

الْحِجَابُ وَ قَامَ الْقَوْمُ.

۴۷۷۹: حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ صُهَيْبٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ بُنِيَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِزَيْنَبَ ابْنَةِ جَحْشٍ بِخُبْزٍ وَ لَحْمٍ فَأُرْسِلْتُ عَلَى الطَّعَامِ دَاعِيًا فَيَجِيءُ قَوْمٌ فَيَأْكُلُونَ وَ يَخْرُجُونَ ثُمَّ يَجِيءُ قَوْمٌ فَيَأْكُلُونَ وَ يَخْرُجُونَ فَدَعَوْتُ حَتَّى مَا أَجِدُ أَحَدًا أَدْعُو فَقُلْتُ يَا نَبِيَّ اللَّهِ مَا أَجِدُ أَحَدًا أَدْعُوهُ قَالَ ارْفَعُوا طَعَامَكُمْ وَ بَقِيَ ثَلَاثَةُ رَهْطٍ يَتَحَدَّثُونَ فِي الْبَيْتِ فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَانْطَلَقَ إِلَى حُجْرَةِ عَائِشَةَ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ وَ رَحْمَةُ اللَّهِ فَقَالَتْ وَ عَلَيْكَ السَّلَامُ وَ رَحْمَةُ اللَّهِ كَيْفَ وَجَدْتَ أَهْلَكَ بَارَكَ اللَّهُ لَكَ فَتَقَرَّى حُجَرَ نِسَائِهِ كُلِّهِنَّ يَقُولُ لَهُنَّ كَمَا يَقُولُ لِعَائِشَةَ وَ يَقُلْنَ لَهُ كَمَا قَالَتْ عَائِشَةُ ثُمَّ رَجَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا ثَلَاثَةُ رَهْطٍ فِي الْبَيْتِ يَتَحَدَّثُونَ وَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَدِيدَ الْحَيَاءِ فَخَرَجَ مُنْطَلِقًا نَحْوَ حُجْرَةِ عَائِشَةَ فَمَا أَدْرِي أَخْبَرْتُهُ أَوْ أُخْبِرَ أَنَّ الْقَوْمَ

بیا زۀ واپس راغلم.

۴۷۷۹: ابو معمر. عبدالوارث. عبدالعزیز بن صهیب. حضرت انس بن مالک نه روایت کوي: د هغه بیان دے' حضور صلي الله علیه وسلم چه بي بي زینب سره نکاح اوکړه. او بیائے د ولیمے د طعام خوړلو د پاره د خلقو رابللو د پاره زۀ اولیږلم' نو ما هغه سرې راوستل' هغوي د خوراک نه پس لاړل. بیا م نور راوستل' هغوي هم لاړل. آخر ما عرض اوکۀ' چه ټول لاړل' حضور صلي الله علیه وسلم د طعام اوچتولو حکم اوکه' خو درے سړي ناست وو' خبرے ئے کولے. حضور صلي الله علیه وسلم بهرته راغے. بیا د بي بي عائشے حجرے ته ورغے (حجرے نه مطلب کوټکئ) هغے ته ئے سلام اوکه' او وئیلے' السّلام علیکم اهل البیت و رحمة الله. بي بي عائشے هم ورته جواب کښ: و علیک السلام و رحمة الله: اوورے. او تپوس ئے اوکۀ' چه تاسو خپله بي بي څنګه بیامنده' الله تعالي دے په تاسو مبارک کړي. دے نه پس حضور صلي الله علیه وسلم ټولو بیبیانو له تشریف یوړلو. ټولوته ئے السلام علیکم اوورے. او ټولو د بي بي عائشے په شان جواب ورکړلو. بیاحضور بهرته تشریف. راوړلو' هغه سړي لا هغسے په خبرو ناست وو. حضور صلي الله علیه وسلم چه هغوي اولیدل' نو شرم شان ئے محسوس کړلو' او څۀ ئے اونه وئیلے شو' بیا د بي بي عائشے پله ورغے' کرخیدو راګرخیدو. بیا چه هغه خلق لاړل' نو ما یا بل چا حضور صلي الله علیه وسلم خبر کړلو. حضور صلي

خَرَجُوْا فَرَجَعَ حَتّٰى اِذَا وَضَعَ رِجْلَهٗ فِيْ اُسْكُفَّةِ الْبَابِ دَاخِلَةً وَّ اُخْرٰى خَارِجَةً اَرْخَى السِّتْرَ بَيْنِيْ وَ بَيْنَهٗ وَ اُنْزِلَتْ اٰيَةُ الْحِجَابِ.

٧٨٠: حَدَّثَنَا اِسْحٰقُ بْنُ مَنْصُوْرٍ اَخْبَرَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ بَكْرٍ السَّهْمِيُّ حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ عَنْ اَنَسٍ قَالَ اَوْلَمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ بَنٰى بِزَيْنَبَ ابْنَةِ جَحْشٍ فَاَشْبَعَ النَّاسَ خُبْزًا وَّ لَحْمًا ثُمَّ خَرَجَ اِلٰى حُجَرِ اُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِيْنَ كَمَا كَانَ يَصْنَعُ صَبِيْحَةَ بِنَائِهٖ فَيُسَلِّمُ عَلَيْهِنَّ وَ يَدْعُوْ لَهُنَّ وَ يُسَلِّمْنَ عَلَيْهِ وَ يَدْعُوْنَ لَهٗ فَلَمَّا رَجَعَ اِلٰى بَيْتِهٖ رَاٰى رَجُلَيْنِ جَرٰى بِهِمَا الْحَدِيْثُ فَلَمَّا رَاٰهُمَا رَجَعَ عَنْ بَيْتِهٖ فَلَمَّا رَاَى الرَّجُلَانِ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجَعَ عَنْ بَيْتِهٖ وَ ثَبَا مُسْرِعِيْنَ فَمَا اَدْرِيْ اَنَا اَخْبَرْتُهٗ بِخُرُوْجِهِمَا اَمْ اُخْبِرَ فَرَجَعَ حَتّٰى دَخَلَ الْبَيْتَ وَ اَرْخَى السِّتْرَ بَيْنِيْ وَ بَيْنَهٗ وَ اُنْزِلَتْ اٰيَةُ الْحِجَابِ وَ قَالَ ابْنُ اَبِيْ مَرْيَمَ اَخْبَرَنَا يَحْيٰى حَدَّثَنِيْ حُمَيْدٌ سَمِعَ اَنَسًا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

٧٨١: حَدَّثَنِيْ زَكَرِيَّاءُ بْنُ

اللّٰه عليه وسلّم تشريف راوړلو. خو اوس ئې چو كټ كښې دننه يو قدم لا ايښے وو، چه حضور پرده راوغړخوله او دننه ورغے. دغه وخت اللّٰه تعالي د پردے آيت نازل كړلو.

٧٨٠: اسحٰق بن منصور. عبداللّٰه بن بكر سهمي. حميد. حضرت انسؓ نه روايت كوي، د هغه بيان دے، حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم بى بي زينبؓ سره د نكاح نه پس شب زفاف (د وادهٔ د شپے) نه چه فارغ شولو، نو وليمه ئے اوكړله. خلق به تلل راتلل، د خوراك نه پس به رخصتيدل. حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم دے دوران كښې د خپلو دوو بيبيانو كوټكو (حجرو) ته تشريف يوړلو. هغوي نه ئے سلام اوكهٔ. هغے ټولو هم د سلام جواب وركړلو. او حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ته ئے د وادهٔ مباركي وركړله. بيا حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم واپس د بي بي زينبؓ مكان ته راغلو، نو وے ليدل چه درے سړي ناست دي، او سره پورے خبرے كوي. حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم چه هغوي اوليدل، نو واپس ئے تشريف يوړلو. هر كله چه هغوي حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم اوليدلو، نو هغوي هم پاسيدل، بهر ته لاړل. دے نه پس ماته ياد نهٔ دي، چه د هغے سړو د تلو نه پس ما حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ته خبر وركړلو، يا بل چا. غرض حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم تشريف راوړلو، او خما او خپل مينځ كښې ئے پرده راوغړخوله. دے نه پس د پردے آيت: يايّها الذين امنوا لا تدخلوا بيوت النّبي الخ: نازل شولو.

٧٨١: زكريا بن يحيي. ابو اسامه. هشام.

يَحْيٰى حَدَّثَنَا اَبُوْ اُسَامَةَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ خَرَجَتْ سَوْدَةُ بَعْدَمَا ضُرِبَ الْحِجَابُ لِحَاجَتِهَا وَ كَانَتْ امْرَاَةً جَسِيْمَةً لَا تَخْفٰى عَلٰى مَنْ يَعْرِفُهَا فَرَاٰهَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فَقَالَ يَا سَوْدَةُ اَمَا وَاللّٰهِ مَا تَخْفَيْنَ فَانْظُرِيْ كَيْفَ تَخْرُجِيْنَ قَالَتْ فَانْكَفَاَتْ رَاجِعَةً وَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ بَيْتِيْ وَ اِنَّهُ لَيَتَعَشّٰى وَ فِيْ يَدِهٖ عَرْقٌ فَدَخَلَتْ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنِّيْ خَرَجْتُ لِبَعْضِ حَاجَتِيْ فَقَالَ لِيْ عُمَرُ كَذَا وَ كَذَا قَالَتْ فَاَوْحَى اللّٰهُ اِلَيْهِ ثُمَّ رُفِعَ عَنْهُ وَ اِنَّ الْعَرْقَ فِيْ يَدِهٖ مَا وَضَعَهُ فَقَالَ اِنَّهُ قَدْ اُذِنَ لَكُنَّ اَنْ تَخْرُجْنَ لِحَاجَتِكُنَّ.

عروه. بي بي عائشې نه روايت کوي. د هغې بيان دې، د پردې د آيت نازليدو نه پس بي بي سوده رفع حاجت د پاره پرونې په سر بهرته لاړه. هغه ډيره جسيمه وه. په دې وجه باوجود د څادر به پيژندې شوه. يوه ورځ چه هغه بهرته لاړه، نو حضرت عمرؓ اوپيژندله، او ورته ئې اووې، ته باوجود د څادر مونږ نه پټه نه ئې. پوهې شه، چه څه د پاره وتلې ئې. بي بي سودې چه د عمرؓ خبرې واوريدې، نو واپس راغله. حضور صلي الله عليه وسلّم خما کور کښې موجود وو، ډوډئ ئې خوړله. يو هډوکې د حضورؐ په لاس کښې وو. بي بي سوده عرض اوکه، يا رسول الله، زه بهرته (رفع حاجت د پاره) تلې ووم، نو عمرؓ ماته دا خبرې کړې دي. حضورؐ چه دا واوريدل، وحي پرې نازله شوه، نو هډوکې ئې لاس کښې وو، چه حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، الله تاسو له اجازت درکوي چه ضرورت د پاره بهر وتلې شې.

**بَابُ ١٣٤١: قَوْلِهٖ اِنْ تُبْدُوْا شَيْئًا اَوْ تُخْفُوْهُ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا لَا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ فِيْ اٰبَائِهِنَّ وَلَا اَبْنَائِهِنَّ وَلَا اِخْوَانِهِنَّ وَلَا اَبْنَاءِ اِخْوَانِهِنَّ وَلَا اَبْنَاءِ اَخَوَاتِهِنَّ وَلَا نِسَائِهِنَّ وَلَا مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُنَّ وَاتَّقِيْنَ اللّٰهَ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدًا.**

**باب ١٣٤١:** آيت: اِنْ تُبْدُوْا شَيْئًا اَوْ تُخْفُوْهُ: د الله تعالٰي قول، که تاسو څۀ څيز پټ کړئ، يا ظاهر کړې، خو الله تعالٰي ته هر څۀ معلوم دي، په دې ښځو، د اولاد، مور پلار او ورور او وريرونو او خوريونو او نورو تولو ښځو او وينځو نه پرده نه کولو کښې څۀ حرج نشته. او هغوی له پکار دی، چه الله نه ويره کوي، ځکه چه هر څيز د خدائے مخکښې دے. (يعني ظاهر دے ورته).

٤٨٢: حَدَّثَنَا اَبُو الْيَمَانِ اَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ حَدَّثَنِيْ

٤٨٢: ابو اليمان. شعيب. زهري. عروه. بي بي عائشې نه روايت کوي، د هغې بيان دے

عُـرْوَةُ ابْـنُ الـزُّبَـيْـرِ اَنَّ عَائِشَةَ قَالَتِ اسْتَأْذَنَ عَلَيَّ اَفْلَحُ اَخُوْ اَبِي الْقُعَيْسِ بَعْدَ مَا اُنْزِلَ الْحِجَابُ فَقُلْتُ لَا اٰذَنُ لَهٗ حَتّٰى اَسْتَـأْذِنَ فِيْهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاِنَّ اَخَاهُ اَبَا الْقُعَيْسِ لَيْـسَ هُـوَ اَرْضَعَنِيْ وَلٰـكِنْ اَرْضَعَتْنِيْ امْـرَاَةُ اَبِـي الْـقُـعَـيْـسِ فَدَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَـا رَسُوْلَ الـلّٰـهِ اِنَّ اَفْلَحَ اَخَـا اَبِـي الْقُعَيْـسِ اسْتَـأْذَنَ فَـاَبَيْـتُ اَنْ اٰذَنَ حَتّٰى اَسْتَـأْذِنَكَ فَـقَـالَ الـنَّبِيُّ صَلَّى اللّٰـهُ عَـلَيْــهِ وَسَلَّمَ وَمَـا مَنَعَكِ اَنْ تَاْذَنِيْنَ عَمَّكِ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ الرَّجُـلَ لَيْـسَ هُـوَ اَرْضَعَنِيْ وَلٰـكِنْ اَرْضَعَتْـنِـيْ امْرَاَةُ اَبِي الْقُعَيْسِ فَقَالَ ائْذَنِيْ لَهٗ فَاِنَّهٗ عَمُّكِ تَرِبَتْ يَمِيْنُكِ قَالَ عُـرْوَةُ فَـبِـذٰلِكَ كَانَتْ عَائِشَةُ تَقُوْلُ حَرِّمُوْا مِنَ الرَّضَاعَةِ مَا تُحَرِّمُوْنَ مِنَ النَّسَبِ.

ذ ايـوب ورور افـلـح مـاسـره ذ ملاقـات اجـازت اوغـوبنتـلـو. مـا ورتـه جـواب كـښ اووے، څو پورے چـه ذ حـضـور صـلـي الـلّـه عـلـيـه وسـلّم اجازت نـه وي زه ذ خپلـه خـانـه اجـازت نشـم وركـولے. او مـا پـه دے خيـال اجـازت ورنـه كـه، چـه ذ هـغـه د ورور ابـوالقيـس خـو مـا پـئے نـه دي ښكلي، البته ذ هـغـه ذ ښـځـے پـئـے مِ ښكلے دي. دے نـه پـس حضور صـلـي الـلّـه عـلـيـه وسـلّم تشريف راوړلو. نو ما عرض اوكـه، يـا رسـول الـلّـه، افـلـح مـانـه ذ راتـلـو اجـازت طـلـب كـه، نـو مـا ورتـه انـكـار اوكـړلو، تـردے چـه تـاسـو نـه اجـازت وانـخـلـم. حـضـور صلي اللّه عـلـيـه وسـلّم ورتـه اوفـرمـائيل، تـا خپل تـرهٔ (چچا) لـه ولے د راتـلـو اجـازت ورنـهٔ كـهٔ. مـا عـرض اوكـهٔ، يـا رسـول الـلّـه، مـاتـه خـو سړي پئے نـهٔ دي راكـړي، بـلـكـه ښـځـے پـئـے راكـړے دي. حـضـور صلي اللّه عـلـيـه وسـلّم اوفـرمـائيـل، نـه، هغـهٔ ستا تره (چچا) دے د عـروه بيـان دے. بـي بـي عـائشـےؓ پـه دے بنا ونيلے چه نسـبـا كـومـه رشتـه حـرام ده. رضـاعـا هـم هغـه حرامـه كنړئے.

بـــاب ۲ ۳ ۴ ۳: قَـوْلُـــهٗ اِنَّ اللّٰـهَ وَ مَـلٰـئِـكَـتَـهٗ يُـصَلُّوْنَ عَلَـي النَّبِـيِّ يـٰـاَيُّهَـا الَّـذِيْـنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَـلَيْــهِ وَ سَـلِّـمُـوْا تَسْـلِيْـمًـا قَـالَ اَبُو الْـعَـالِيَةِ صَـلٰـوةُ اللّٰهِ ثَنَاءُهٗ عَلَيْهِ عِنْدَ الْـمَـلٰـئِـكَةِ وَ صَـلٰـوةُ الْمَلَائِكَةِ الـدُّعَـــاءُ قَـــالَ ابْـنُ عَبَّـــاسٍ

باب ۲ ۳ ۴ ۳: آيت: ان اللّٰه و ملئكته يصلّون على النّبيّ: د الـلّـه تـعـالـي قـول، بيشـكـه اللّٰه تعالي او د هغه فـريـښتـے پـه نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم درود ليږي. نو اے ايـمان والو، تاسو پرے هم درود، رحمت او سلام ليږے. او د سلامتي ذعا كوے. ابو العاليه واني، صلوة نه مراد دا دے، چـه الـلّـه د فريښتو مخكښ ذ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم تعريف كوي، او د فريښتو د صلوة نه مراد ذعا ده

يُصَلُّوْنَ يُبَرِّكُوْنَ لَنُغْرِيَنَّكَ لَنُسَلِّطَنَّكَ.

ابن عباس وائي. "يصلون" د بركت دعا كوي. "لنغرينك" مونږ به تاسو غالب كړو.

۷۸۳: حَدَّثَنِيْ سَعِيْدُ بْنُ يَحْيٰى حَدَّثَنَا اَبِيْ حَدَّثَنَا مِسْعَرٌ عَنِ الْحَكَمِ عَنِ ابْنِ اَبِيْ لَيْلٰى عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ قِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَمَّا السَّلَامُ عَلَيْكَ فَقَدْ عَرَفْنَاهُ فَكَيْفَ الصَّلٰوةُ قَالَ قُوْلُوْا اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرٰهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرٰهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ.

۷۸۳: سعيد بن يحيي. د هغه پلار. مسعر. حكم. ابن ابي ليلي. حضرت كعب بن عجره نه روايت كوي: د حضور صلي الله عليه وسلم خدمت كښې چا عرض اوكه: يا رسول الله! په تاسو سلام ليږل خو مونږ ته معلوم دي خو دا راته نه ده معلومه: چه درود او رحمت څنګه اوليږو. حضور ورته اوفرمائيل: داسې وائې: اللهم صل الخ: يعني اے الله! ته محمد او د هغه په آل رحمت اوليږے، څنګه چه تا ابراهيم او د هغه په آل درود ليږلے وو. اے الله! ته محمد او د هغه په آل بركت نازل كړے، څنګه چه تا ابراهيم او د هغه په آل بركت نازل كړے وو، بيشكه ته د تعريف لائق او بزرګ ئې.

۷۸۴: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوْسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِيْ ابْنُ الْهَادِ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ خَبَّابٍ عَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قُلْنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ هٰذَا التَّسْلِيْمُ فَكَيْفَ نُصَلِّيْ عَلَيْكَ قَالَ قُوْلُوْا اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَ رَسُوْلِكَ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اٰلِ اِبْرٰهِيْمَ وَ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرٰهِيْمَ قَالَ اَبُوْ صَالِحٍ عَنِ اللَّيْثِ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اٰلِ اِبْرٰهِيْمَ.

۷۸۴: عبدالله بن يوسف. ليث. ابن هاد. عبدالله بن خباب. حضرت ابو سعيد خدريؓ نه روايت كوي. مونږ د حضور صلي الله عليه وسلم خدمت كښې عرض اوكه: يا رسول الله! مونږ سلام ليږل خو پيژنو، خو د درود ليږلو طريقه راته نه ده معلومه: حضور اوفرمائيل: تاسو صلوة داسې ليږئې: اللهم صل: الخ. يعني اے الله رحمت اوليږے، محمد بانديے چه ستا بنده او ستا رسول دے. څنګه چه تا ابراهيم او ال ابراهيم بانديے رحمت ليږلے وو. او محمد او د هغه په آل بانديے بركت نازل كړے څنګه چه تا ابراهيم او د هغه په آل بركت نازل كړے وو. دا حديث ابو صالح د ليث په روايت كښې داسې وائي: چه آخر كښې د على ابراهيم په ځائے على آل ابراهيم راغلے دے.

۴۸۵: حَدَّثَنَا اِبْرٰهِيْمُ بْنُ حَمْزَةَ حَدَّثَنَا ابْنُ اَبِيْ حَازِمٍ وَالدَّرَاوَرْدِيُّ عَنْ يَزِيْدَ وَ قَالَ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرٰهِيْمَ وَ اٰلِ اِبْرٰهِيْمَ.

۴۸۵: ابراهيم بن حمزه. ابن ابي حازم او' الدراوردي. يزيد بن حماد نه داسے روايت كوي' چه ذ دے حديث الفاظ داسے دي: كما صليت على ابراهيم و بارک على محمد و ال محمد كما باركت على ابراهيم و على آل ابراهيم.

بَاب ۳۴۳: قَوْلِهٖ لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اٰذَوْا مُوْسٰى.

باب ۳۴۳: آيت: لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اٰذَوْا مُوْسٰى: ذ الله تعالي قول' چه ذ هغے خلقو په شان مه كيږئے' چه هغوي موسىٰ ته تكليف اورسولو.

۴۸۶: حَدَّثَنَا اِسْحٰقُ بْنُ اِبْرٰهِيْمَ حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ حَدَّثَنَا عَوْفٌ عَنِ الْحَسَنِ وَ مُحَمَّدٍ وَ خِلَاسٍ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ مُوْسٰى كَانَ رَجُلًا حَيِيًّا وَ ذٰلِكَ قَوْلُهُ تَعَالٰى يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اٰذَوْا مُوْسٰى فَبَرَّاَهُ اللّٰهُ مِمَّا قَالُوْا وَ كَانَ عِنْدَ اللّٰهِ وَجِيْهًا.

۴۸۶: اسحاق بن ابراهيم. روح بن عباده. عوف. حسن او محمد او خلاص. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت كوي. ذ هغه بيان دے' حضور صلي الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو' موسى عليه السلام ډير حياناک شرم كير' وو (تردے چه ذ چا مخكښې به ئے نه لامبل) دے آيت كښې دے قصے طرف ته اشاره شوے ده چه: يا ايها الذين امنوا لا تكونوا كالذين اذوا موسى فبراه الله مما قالوا و كان عندالله وجيها.

# سُوْرَةُ السَّبَا

# دَ سورهٔ سبا تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يُقَالُ مُعَاجِزِيْنَ مُسَابِقِيْنَ بِمُعْجِزِيْنَ بِفَائِتِيْنَ سَبَقُوْا فَاتُوْا لَا يُعْجِزُوْنَ لَا يَفُوْتُوْنَ يَسْبِقُوْنَا يُعْجِزُوْنَا قَوْلُهُ بِمُعْجِزِيْنَ بِفَائِتِيْنَ وَ مَعْنٰى مُعَاجِزِيْنَ مُغَالِبِيْنَ يُرِيْدُ

"معاجزين" په مخه تلونكے. "معجزين" د لاس نه وركونكي. "سبقوا" مخكښې لاړل. "لا يعجزون" خمونږ د لاسه نشي وتلے. خمونږ نه به مخكښې شي. مونږ به په ورستو كړي. "بمعجزين" ورستو كونكي پريښودلے شوے. "معاجزين" غالب راتلونكي. يو

كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا اَنْ يُظْهِرَ عَجْزَ صَاحِبِهِ مِعْشَارَ عُشْرَ الْاُكُلُ الثَّمَرُ بَاعِدْ وَ بَعِّدْ وَاحِدٌ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ لَا يَعْزُبُ لَا يَغِيْبُ الْعَرِمُ السُّدُّ مَآءٌ اَحْمَرُ اَرْسَلَهُ اللّٰهُ فِي السَّدِّ فَشَقَّهُ وَ هَدَمَهُ وَ حَفَرَ الْوَادِيَ فَارْتَفَعَتَا عَنِ الْجَنْبَيْنِ وَ غَابَ عَنْهُمَا الْمَآءُ فَيَبِسَتَا وَلَمْ يَكُنِ الْمَآءُ الْاَحْمَرُ مِنَ السَّدِّ وَلٰكِنْ كَانَ عَذَابًا اَرْسَلَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِنْ حَيْثُ شَآءَ وَ قَالَ عَمْرُو بْنُ شُرَحْبِيْلَ الْعَرِمُ الْمُسَنَّاةُ بِلَحْنِ اَهْلِ الْيَمَنِ وَ قَالَ غَيْرُهُ الْعَرِمُ الْوَادِيُ السَّابِغَاتُ الدُّرُوْعُ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ يُجَازِيْ يُعَاقَبُ اَعِظُكُمْ بِوَاحِدَةٍ بِطَاعَةِ اللّٰهِ مَثْنٰى وَ فُرَادٰى وَاحِدًا وَّاثْنَيْنِ التَّنَاوُشُ الرَّدُّ مِنَ الْاٰخِرَةِ اِلَى الدُّنْيَا وَ بَيْنَ مَا يَشْتَهُوْنَ مِنْ مَّالٍ اَوْ وَلَدٍ اَوْ زَهْرَةٍ بِاَشْيَاعِهِمْ بِاَمْثَالِهِمْ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ كَالْجَوَابِ كَالْجَوْبَةِ مِنَ الْاَرْضِ الْخَمْطُ الْاَرَاكُ وَ الْاَثْلُ الطَّرْفَآءُ الْعَرِمُ الشَّدِيْدُ.

مطلب ئې دا هم دې، چه هر یو د خپل ملګري کمزوري ظاهره کړي. "معشار" لسمه حصه. "اکل" معني میوه. "باعد" او "بعد" یو معني دي، یعني لرې کړې. مجاهد وائي "لا یعزب" غائبیږي نه. "العرم" د اوبو بند یو. سرې (لال سرخ) اوبه وې چه هغې کښې د الله په حکم سیلاب راغلې. او بند مات شو. میدان کښې کنده شوه. او باغ دواړو طرفه نه اوچت شو. او بیا اوبه غائبې شوې، نو باغ خشک شو. دا اوبه د بند نه په بهیدلو نه دې راغلې، بلکه د الله عذاب وو. هغه چه د کوم ځائې نه غوښتل، د هغې ځائې نه ئې راولیږلو. د عمرو بن شرحبیل بیان دې. د یمن والو په ژبه کښې "العرم" بند ته وائي، بعضې خلق د "عرم" معني ناله بیان کوي. "السابغات" معني دي زغرې. مجاهد وائي "یجازی" معني دي، عذاب ورکولې شي. بدله یا جزا ورکوي یا وربه کړي. "اعظکم بواحدة" نه مراد د الله اطاعت دې. "مثنی" او "فرادی" معني دي، دوه، دوه، او، یو یو. "التناوش" معني آخرت نه دنیا ته واپس راتلل، چه ناممکنه ده. "ما یشتهون" معني د هغوي خواهشات، مال و اولاد یا د دنیا زیب و زینت. "باشیاعهم" معني دي د هغوي جوړ واله. د ابن عباسؓ بیان دې چه "جواب" معني دي تالاب. کنده. "خمط" تریخ، بدمزه. مراد د پیلو اونه ده. "اثل" د (غز) اونې ته وائي. "عرم" سخت او شدید څیز ته وائي.

## بَاب ۳۴۴: قَوْلِهٖ حَتّٰى اِذَا فُزِّعَ عَنْ قُلُوْبِهِمْ قَالُوْا مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ

**باب ۳۴۴:** آیت: حتّٰی اذا فُزِّعَ عَنْ قُلُوْبِهِمْ: د الله تعالی قول، تر دې چه د هغوي د زړونو نه ویره لرې کړې شي نو وائي چه ستاسو رب څه اووې. پورته واله

قَالُوا الْحَقَّ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ.

جواب ورکوي: حقه خبره. او هغه بلند و برتر او اعلى دے.

٤٨٧: حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا عَمْرُو قَالَ سَمِعْتُ عِكْرَمَةَ يَقُوْلُ سَمِعْتُ اَبَا هُرَيْرَةَ يَقُوْلُ اِنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا قَضَى اللّٰهُ الْاَمْرَ فِي السَّمَآءِ ضَرَبَتِ الْمَلَائِكَةُ بِاَجْنِحَتِهَا خُضْعَانًا لِقَوْلِهِ كَاَنَّهُ سِلْسِلَةٌ عَلٰى صَفْوَانٍ فَاِذَا فُزِّعَ عَنْ قُلُوْبِهِمْ قَالُوْا مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ قَالُوْا لِلَّذِيْ قَالَ الْحَقَّ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ فَيَسْمَعُهَا مُسْتَرِقُ السَّمْعِ وَ مُسْتَرِقُ السَّمْعِ هٰكَذَا بَعْضُهُ فَوْقَ بَعْضٍ وَ وَصَفَ سُفْيَانُ بِكَفِّهِ فَحَرَّفَهَا وَ بَدَّدَ بَيْنَ اَصَابِعِهِ فَيَسْمَعُ الْكَلِمَةَ فَيُلْقِيْهَا اِلٰى مَنْ تَحْتَهُ ثُمَّ يُلْقِيْهَا الْاٰخَرُ اِلٰى مَنْ تَحْتَهُ حَتّٰى يُلْقِيَهَا عَلٰى لِسَانِ السَّاحِرِ اَوِ الْكَاهِنِ فَرُبَّمَا اَدْرَكَ الشِّهَابُ قَبْلَ اَنْ يُلْقِيَهَا وَ رُبَّمَا اَلْقَاهَا قَبْلَ اَنْ يُدْرِكَهُ فَيَكْذِبُ مَعَهَا مِائَةَ كَذْبَةٍ فَيُقَالُ اَلَيْسَ قَدْ قَالَ لَنَا يَوْمَ كَذَا وَ كَذَا كَذَا وَ كَذَا فَيُصَدَّقُ بِتِلْكَ الْكَلِمَةِ الَّتِيْ سَمِعَ مِنَ السَّمَآءِ.

٤٨٧: حميدي. سفيان. عمرو. عكرمه.
حضرت ابوهريرةؓ نه روايت كوي حضور صلى الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو هر كله چه الله آسمانونو كښې خپل څه حكم ليږي نو فريښتې عاجزئ سره خپلے وزرے وهي. او د الله تعالي ارشاد داسے وي، لكه په صفا كانړي چه زنځير وهلے شي. هر كله چه د فريښتو ويره لرے شي، نو هغوي د يو بل نه تپوس كوي چه الله تعالي څه ارشاد اوفرمائيلو. نو بله عرض كوي، چه څه نے اوفرمائيل، حق ئے اوفرمائيل. دغه وخت شيطانان هم د زمكے نه پورته آسمان طرف ته خي. او دے حكم الهي آوريدو سره د پاسه واله، لاندے واله ته بنائي، او دا شان دوي د يو بل نه خبرے آلوخوي. سفيان په دے موقع خپل تلے (تلي) راغونډه كړه او بيائے گوتے يوځائے كړے، اوښودلے، چه شيطانان دغسے يو بل سره يوځائے وي. او د پاسه واله، لاندے واله ته، او هغه خپل لاندے واله ته، او بيا دغه شان دا اطلاع په زمكه ساحرانو (جادوگرو) او كاهنانو ته راځي. او كله داسے هم كيږي، چه فريښتے، شيطانان د اُور په كروړو وهي، نو كله د خبرے پتهولو (ځرائے) نه مخكښې او كله ورستو پرے هغوي اولږي او هغه خپل لاندے واله خبروي. بيا دا كاهن يوه خبرے سره سل دروغ خبرے يوځائے كړي، او خلقوته ئے بيانوي. او د يوے رښتنے خبرے په سبب ټولے خبرے رښتنے گڼړلے شي.

بَابٌ ٣٤٥: قَوْلُهُ اِنْ هُوَ

باب ٣٤٥: آيت: ان هو الا نذير لكم بين يدي


اِلَّا نَذِيْرٌ لَّكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيْدٍ.

عذابٍ شَدِيْدٍ: ذ الله تعالي قول دا رسول هغه دے چه تاسو ذ راتلونكي قيامت ذ عذاب نه ويروي.

۴۸۷: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ خَازِمٍ حَدَّثَنَا الْاَعْمَشُ عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ صَعِدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّفَا ذَاتَ يَوْمٍ فَقَالَ يَا صَبَاحَاهُ فَاجْتَمَعَتْ اِلَيْهِ قُرَيْشٌ قَالُوْا مَالَكَ قَالَ اَرَاَيْتُمْ لَوْ اَخْبَرْتُكُمْ اَنَّ الْعَدُوَّ يُصَبِّحُكُمْ اَوْ يُمَسِّيْكُمْ اَمَا كُنْتُمْ تُصَدِّقُوْنِيْ قَالُوْا بَلٰى قَالَ فَاِنِّيْ نَذِيْرٌ لَّكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيْدٍ فَقَالَ اَبُوْ لَهَبٍ تَبًّا لَكَ اَلِهٰذَا جَمَعْتَنَا فَاَنْزَلَ اللّٰهُ تَبَّتْ يَدَا اَبِيْ لَهَبٍ.

۴۸۷: علي بن عبدالله. محمد بن حازم. اعمش. عمره بن مره. سعيد بن جبير. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، په كومه ورځ چه دا آيت نازل شو، نو حضور صلي الله عليه وسلّم په كوه صفا خلقوته آواز اوكه، راوړے بلل. اهل قريش چه راجمع شو، نو تپوس ئے اوكه، څه خبره ده، حضور صلي الله عليه وسلّم ورته اوفرمائيل، اے اهل قريش كه زهٔ تاسوته دا اووايم، چه يو دشمن سحر او مابنام په تاسو دَ حملے كولو اراده كوي، نو آيا تاسو به خما دا خبره رينبتنے او ګنړئے. ټولو جواب وركه، بيشكه. بيا حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، بنه ده، نو زهٔ تاسو دَ هغے عذاب نه ويروم، كوم چه راتلونكے دے. دے آوريدو سره ابولهب اووے، تهٔ هلاك شے، آيا تا مونږ دے دَ پاره راوغوښتلے وو، نو دغه وخت الله تعالي سورة: تبت يدا ابى لهب وتب: الخ نازل كړلو.

## الحمدلله والشكر لله، نورلسمه پاره ختمه شوه



تاج

# تاج البخاری

پښتو شرح صحیح البخاری

پاره ۲۰

شارح: مولانا ظهورالباری اعظمی فاضل دارالعلوم دیوبند

پښتو ترجمه مولانا محمد امین درانی

نظرثانی: حافظ قاری فضل کریم

اهتمام: دکتور محمد دین البشاوری

تاج کتب خانه رجسټرډ

قصه خوانی پشاور
فون: 214454

C-21

# تاج البخاري پاره ۲۰ دمضامينو فهرست

# شلمه پاره

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## سُوْرَةُ الْمَلٰٓئِكَةِ

قَالَ مُجَاهِدٌ اَلْقِطْمِيْرُ لِفَافَةُ النَّوَاةِ مُثْقَلَةٌ مُثَقَّلَةٌ وَ قَالَ غَيْرُهُ اَلْحَرُوْرُ بِالنَّهَارِ مَعَ الشَّمْسِ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ اَلْحَرُوْرُ بِاللَّيْلِ وَالسَّمُوْمُ بِالنَّهَارِ وَ غَرَابِيْبُ اَشَدُّ سَوَادِ الْغِرْبِيْبُ اَشَدُّ السَّوَادِ.

## دَ سورهٔ ملائکه تفسیر

مجاهد اووې. "قطمير" معني دي دَ قجورې دَ هډوکي پوستکې. 'مثقلة" بار کړې. وګ. او ددې نه علاوه نورو اُووې. "حرور" دَ ورځې وخت دَ نمر ګرمئ ته وائي' او ابن عباسؓ اووې. "حرور" دَ شپې ګرمي او "سموم" دَ ورځې ګرمي ده. "غرابيب" ډير تور تورواله. او "غربيب" ډير زيات تور.

## سُوْرَةُ يٰسٓ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ قَالَ مُجَاهِدٌ فَعَزَّزْنَا شَدَّدْنَا يَا حَسْرَةً عَلَى الْعِبَادِ كَانَ حَسْرَةً عَلَيْهِمْ اسْتِهْزَآءُهُمْ بِالرُّسُلِ اَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ لَا يَسْتُرُ ضَوْءُ اَحَدِهِمَا ضَوْءَ الْاٰخَرِ وَلَا يَنْبَغِيْ لَهُمَا ذٰلِكَ سَابِقُ النَّهَارِ يَتَطَالَبَانِ حَثِيْثَيْنِ نَسْلَخُ نُخْرِجُ اَحَدَهُمَا مِنَ الْاٰخَرِ وَ يَجْرِيْ كُلُّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِنْ مِّثْلِهٖ مِنَ الْاَنْعَامِ فَكِهُوْنَ مُعْجَبُوْنَ جُنْدٌ مُّحْضَرُوْنَ عِنْدَ الْحِسَابِ وَ يُذْكَرُ عَنْ عِكْرَمَةَ الْمَشْحُوْنُ الْمُوْقَرُ وَ قَالَ

## دَ سورهٔ يٰسٓ تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

او مجاهد اووې "فعززنا" يعني مونږ قوت ورکړ. "يا حسرة على العباد" په هغه خلقو افسوس دې' چه رسولانو پورې يې ټوقې مسخرې اوکړلې. "اَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ" هغې کښې دَ يو رڼرا دَ بل رڼرا نه پټوي' او نه هغوئ دَ پاره دا مناسب دي. "سابق النهار" دواړه يو بل طلب کوي او مخکښې منډې وهي. "نسلخ" مونږ هغوي کښې يو دَ بل نه راوکاږو. او هغې دواړو کښې هر يو روان وي. "من مثله" يعني دَ چارپايه په شان. "فكهون" خوشحاله. "جند محضرون" دَ حساب په وخت به فوځ حاضر کړې شي. عکرمه نه منقول دي چه "مشحون" ډک ته وائي. ابن عباسؓ اووې "طائركم" نه مراد ستاسو مصيبتونه "ينسلون" بهرته به راوځي. "مرقدنا" خمولږ

ابن عباس طائركم مصائبكم ينسلون يخرجون مرقدنا مخرجنا احصيناه حفظناه مكانتهم و مكانهم واحد.

دوتلو هائيے. "احصيناه" مونږ هغه محفوظ کړلو. او "مکانتهم" او "مکانهم" يو معني دي. او نمر په خپل مقرره لاره ګردش کوي. دا د هغه مقرر کړے اندازه ده، چه قوي او پوهيدونکے دے.

باب ۳۴۶: قَوْلِهِ وَالشَّمْسُ تَجْرِىْ لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا ذٰلِكَ تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ.

باب ۳۴۶: آيت: وَالشَّمْسُ تَجْرِىْ لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا: دَ اللّٰه تعالٰي قول، او نمر خي هغه ځائے دَ قرارئ ددهٔ ته، دا حکم دَ غالب عالم خدائے دے.

۷۸۹: حَدَّثَنَا اَبُوْ نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا الْاَعْمَشُ عَنْ اِبْرٰهِيْمَ التَّيْمِيِّ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ اَبِىْ ذَرٍّ قَالَ كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِى الْمَسْجِدِ عِنْدَ غُرُوْبِ الشَّمْسِ فَقَالَ يَا اَبَا ذَرٍّ اَتَدْرِىْ اَيْنَ تَغْرُبُ الشَّمْسُ قُلْتُ اَللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ قَالَ فَاِنَّهَا تَذْهَبُ حَتّٰى تَسْجُدَ تَحْتَ الْعَرْشِ فَذٰلِكَ قَوْلُهٗ تَعَالٰى وَالشَّمْسُ تَجْرِىْ لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا ذٰلِكَ تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ.

۷۸۹: ابو نعيم. اعمش. ابراهيم تيمي. دَ خپل پلار نه روايت کوي، دَ هغهٔ بيان دے. زهٔ دَ نمر پريوتلو په وخت جمات کښې نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم سره ووم، حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل، اے ابوذر آيا تاته معلومه ده، چه نمر کوم ځائے پريوځي ما عرض اوکهٔ، اللّٰه تعالٰي او دَ هغه رسولؐ بنهٔ پوهيږي. حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل هغه روان وي، تردے چه دَ عرش لاندے سجده کوي، دَ اللّٰه تعالٰي دَ قول "وَالشَّمْسُ تَجْرِىْ لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا ذٰلِكَ تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ" دا معني دي.

۷۹۰: حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا وَكِيْعٌ حَدَّثَنَا الْاَعْمَشُ عَنْ اِبْرٰهِيْمَ التَّيْمِيِّ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ اَبِىْ ذَرٍّ قَالَ سَاَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَوْلِهٖ تَعَالٰى وَالشَّمْسُ تَجْرِىْ لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا قَالَ مُسْتَقَرُّهَا تَحْتَ الْعَرْشِ.

۷۹۰: حميدي. وکيع. اعمش. ابراهيم تيمي دَ خپل پلار نه، هغهٔ دَ حضرت ابوذرؓ نه روايت کوي، هغهٔ اووے. ما دَ نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم نه: وَالشَّمْسُ تَجْرِىْ لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا: متعلق تپوس اوکهٔ، نو حضورؐ اوفرمائيل، دَ دهٔ مستقر دَ عرش دَ لاندے دے.

## سُوْرَةُ وَالصَّافَّات

## دَ سورهٔ والصافات تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ قَالَ مُجَاهِدٌ وَّ يَقْذِفُوْنَ بِالْغَيْبِ

او مجاهد اووے "ويقذفون من كل مكان بعيد" مراد

مِنْ مَكَانٍ بَعِيْدٍ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ وَيُقْذَفُوْنَ مِنْ كُلِّ جَانِبٍ يُرْمَوْنَ وَاصِبٌ دَائِمٌ لَازِبٌ لَازِمٌ تَأْتُوْنَنَا عَنِ الْيَمِيْنِ يَعْنِي الْحَقَّ الْكُفَّارُ تَقُوْلُهُ لِلشَّيْطٰنِ غَوْلٌ وَجَعُ بَطْنٍ يُنْزَفُوْنَ لَا تَذْهَبُ عُقُوْلُهُمْ قَرِيْنٌ شَيْطٰنٌ يُهْرَعُوْنَ كَهَيْئَةِ الْهَرْوَلَةِ يَزِفُّوْنَ النَّسَلَانُ فِي الْمَشْيِ وَ بَيْنَ الْجِنَّةِ نَسَبًا قَالَ كُفَّارُ قُرَيْشٍ الْمَلٰئِكَةُ بَنَاتُ اللّٰهِ وَ أُمَّهَاتُهُمْ بَنَاتُ سَرَوَاتِ الْجِنِّ وَ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَلَقَدْ عَلِمَتِ الْجِنَّةُ اِنَّهُمْ لَمُحْضَرُوْنَ سَتُحْضَرُ لِلْحِسَابِ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَنَحْنُ الصَّآفُّوْنَ الْمَلٰئِكَةُ صِرَاطِ الْجَحِيْمِ سَوَآءِ الْجَحِيْمِ وَ وَسَطِ الْجَحِيْمِ لَشَوْبًا يُخْلَطُ طَعَامُهُمْ وَ يُسَاطُ بِالْحَمِيْمِ مَدْحُوْرًا مَطْرُوْدًا بَيْضٌ مَكْنُوْنٌ اللُّؤْلُؤُ الْمَكْنُوْنُ وَ تَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْاٰخِرِيْنَ يُذْكَرُ بِخَيْرٍ يَسْتَسْخِرُوْنَ يَسْخَرُوْنَ بَعْلًا رَبًّا اَلْأَسْبَابُ السَّمَآءُ.

دے، ذَ هر خائے نه. او "يقذفون من كل جانبٍ" كښې ذَ "يقذفون" معني دي هغه غرځولے شي. "واصب" معني هميشه. "لازب" په معني ذَ لازم. "تاتوننا عن اليمين" كښې "يمين" نه مراد حق دے. دا الفاظ، كفار شيطانانو ته وائي. "غول" نه مراد ذَ خيټے تكليف دے. "ينزفون" ذَ هغوي عقلونه به زائل شي. "قرين" نه مراد شيطان دے. "يهرعون" تيز منډے به وهي. "يزفون" تيز رفتاري سره به خي "و بين الجنة نسبا" كفار قريش اووے، چه ملائكے ذَ اللّٰه لونړه دي، او ذَ هغوي ميندے ذَ سردار جنّاتو لونړه دي. او اللّٰه تعالٰي اوفرمائيل جنّاتو ته معلومه ده، چه هغوي به حاضرولے شي، يعني عنقريب به حساب ذَ پاره حاضر كړے شي. او ابن عباسؓ اووے. "لنحن الصافون" كښې "صافون" نه فريښتے مراد دي. او "صراط الجحيم" نه مراد "سواءِ الجحيم" او "وسطِ الجحيم" يعني ذَ دوزخ درمياني حصه مراد ده. "لشوبًا" ذَ هغوي په خوراك كښې به آميزش (گډون) وي، او كرمے اوبه به ورسره يوځائے كولے شي. "مدحورًا" تښتولے شوے (بھگایاہوا). "بيض مكنون" نه مراد پټه ملغلره ده. "و تركنا عليه فى الأخرين" نه مراد دا دے، چه ذَ هغوي ذكر خير كيږي. "يستسخرون" هغوي مذاق كوي. "بعلًا" نه مراد "ربًا" دے، يعني سردار.

## بَابُ ٣٤٧: قَوْلُهٗ وَ اِنَّ يُوْنُسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ.

باب ۳۴۷: آيت: وَ اِنَّ يُوْنُسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ: ذَ اللّٰه تعالٰي قول، او بيشكه يونس عليه السلام ذَ پيغمبرانو نه وو.

۱۹۷: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيْدٍ حَدَّثَنَا جَرِيْرٌ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ اَبِيْ

۱۹۷: قتيبه بن سعيد. جرير. اعمش. ابو وائل. حضرت عبداللّٰه نه روايت

وَائِلٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يَنْبَغِيْ لِاَحَدٍ اَنْ يَّكُوْنَ خَيْرًا مِّنَ ابْنِ مَتّٰى.

کوي، دَ هغه بيان دے. رسول الله صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، هيچا دَ پاره مناسب نهٔ دي، چه هغه دے ابن متي نه بهتر وي.

۷۹۲: حَدَّثَنِيْ إِبْرَاهِيْمُ بْنُ الْمُنْذِرِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُلَيْحٍ قَالَ حَدَّثَنِيْ اَبِيْ عَنْ هِلَالِ بْنِ عَلِيٍّ مِنْ بَنِيْ عَامِرِ بْنِ لُوَيٍّ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَالَ اَنَا خَيْرٌ مِّنْ يُوْنُسَ بْنِ مَتّٰى فَقَدْ كَذَبَ.

۷۹۲: ابراهيم بن منذر. محمد بن فليح. فليح. هلال بن علي (دَ بني عامر بن لوئي يو فرد) عطاء. يسار. حضرت ابوهريرهؓ حضور صلي الله عليه وسلّم نه روايت کوي، حضورؐ اوفرمائيل، کوم سړي چه اووے، چه زهٔ (حضور صلي الله عليه وسلّم) دَ يونس بن متي نه بهتر يم، نو هغهٔ دروغ اووے.

# سُوْرَةُ صٓ

# دَ سورهٔ صٓ تفسير

۷۹۳: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الْعَوَّامِ قَالَ سَأَلْتُ مُجَاهِدًا عَنِ السَّجْدَةِ فِيْ صٓ قَالَ سُئِلَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَقَالَ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ وَكَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَسْجُدُ فِيْهَا.

۷۹۳: محمد بن بشار. غندر. شعبه. عوام نه روايت کوي، دَ هغهٔ بيان دے. ما دَ مجاهد نه سورهٔ صٓ کښې دَ سجدے متعلق تپوس اوکړو، هغهٔ اووے، دَ دے متعلق چا دَ ابن عباسؓ نه تپوس اوکړو، نو هغهٔ اووے، چه "اُولٰٓئِکَ الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ" او ابن عباسؓ به دے سورت کښې سجده کوله.

۷۹۴: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ الطَّنَافِسِيُّ عَنِ الْعَوَّامِ قَالَ سَأَلْتُ مُجَاهِدًا عَنْ سَجْدَةِ صٓ فَقَالَ سَأَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ مِنْ اَيْنَ سَجَدْتَ فَقَالَ اَوَمَا تَقْرَأُ

۷۹۴: محمد بن عبدالله. محمد بن عبيد طنافسي. عوام نه روايت کوي، دَ هغهٔ بيان دے، ما دَ مجاهد نه دَ سورهٔ صٓ دَ سجدے متعلق تپوس اوکړو، هغهٔ اووے، آيا تهٔ دا آيت نهٔ لولے، چه داؤد او سليمان دَ هغهٔ دَ اولاد نه دي، دا هغه خلق دي، چه الله ورته هدايت کړے دے، نو دَ هغوي دَ هدايت پيروي کوه، نو داؤد دَ هغے

وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِ دَاوُدَ وَ سُلَيْمَانَ أُولَـٰئِكَ الَّذِينَ هَدَى اللّٰهُ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ فَكَانَ دَاوُدُ مِمَّنْ أُمِرَ نَبِيُّكُمْ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُجَابٌ أَنْ يَقْتَدِيَ بِهِ فَسَجَدَهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَجِيبٌ الْقِطُّ الصَّحِيفَةُ هُوَ هٰهُنَا صَحِيفَةُ الْحَسَنَاتِ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ فِي عِزَّةٍ مُعَازِّينَ الْمِلَّةِ الْآخِرَةِ مِلَّةُ قُرَيْشٍ الْاِخْتِلَاقُ الْكَذِبُ الْأَسْبَابُ طُرُقُ السَّمَاءِ فِي أَبْوَابِهَا جُنْدٌ مَا هُنَالِكَ مَهْزُومٌ يَعْنِي قُرَيْشًا أُولٰئِكَ الْأَحْزَابُ الْقُرُونُ الْمَاضِيَةُ فَوَاقٍ رُجُوعٍ قِطَّنَا عَذَابَنَا اتَّخَذْنَاهُمْ سُخْرِيًّا أَحَطْنَا بِهِمْ أَتْرَابٌ أَمْثَالٌ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ الْأَيْدُ الْقُوَّةُ فِي الْعِبَادَةِ الْأَبْصَارُ الْبَصَرُ فِي أَمْرِ اللّٰهِ حُبَّ الْخَيْرِ عَنْ ذِكْرِ رَبِّي مِنْ ذِكْرِ طَفِقَ مَسْحًا يَمْسَحُ أَعْرَافَ الْخَيْلِ وَ عَرَاقِيبَهَا الْأَصْفَادُ الْوَثَاقُ.

خلقونه دي' چه د هغه د پيروي نبي صلي الله عليه وسلم ته حکم شوی دی. نو رسول الله صلي الله عليه وسلم دی کښې سجده او کړه. "عجاب" معني عجيب. "قط" معني صحيفه دلته ترې د نيکو صحيفه مراد ده. مجاهد اووې "في عزة" نه مراد' معازين (سرکشي کونکي) دي "الملة الآخرة" نه مراد ملت قريش دی. "اختلاق" معني دروغ. "اسباب" نه مراد د آسمان لارې دي' د آسمان لارې دي' د هغې دروازو کښې. "جند ما هنالک مهزوم" کښې "جند" نه مراد قريش دي. "اولئک الاحزاب" نه مراد تير هير خلق دي. "فواق" معني دي' دوباره واپس راتلل. "قطنا" معني خمونږ عذاب. "اتخذناهم سخريا" يعني مونږ هغوي گير کړل. "اتراب" معني دي يو قسم خلق. او ابن عباسؓ اووې. "ايد" نه مراد د عبادت قوت. "ابصار" معني د الله معامله کښې ليدل دي. حُبَّ الخير عن ذکر ربّي' کښې "من ذکر ربی" نه مراد (يعني عَن په معني د مِنْ دې) "طفق مسحًا" يعني د اسونو په پښو او گردنونوئې لاس وهلو. "اصفاد" معني دي بيړۍ (بيڑياں) ماله داسې ملک عطا کړې' چه ماته پس هيچا د پاره مناسب نهٔ وي' بيشکه ته ډير زيات بښونکې ئې.

باب ۳۴۸: قَوْلُهُ هَبْ لِي مُلْكًا لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِي إِنَّكَ أَنْتَ الْوَهَّابُ.

باب ۳۴۸: آيت: هَبْ لِيْ مُلْكًا لَا يَنْبَغِيْ لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِيْ الخ' د الله تعالى قول' چه اې خما پروردگاره' ماله داسې ملک راکړې' چه ماله پس د هيچا لائق نهٔ وي.

۴۹۵: حَدَّثَنَا إِسْحٰقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَنَا رَوْحٌ وَ مُحَمَّدُ بْنُ

۴۹۵: اسحاق بن ابراهيم. روح. محمد بن زياد. ابوهريرهؓ نبي صلي الله عليه وسلم

جَعْفَرٍ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ زِيَادٍ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ عِفْرِيْتًا مِّنَ الْجِنِّ تَفَلَّتَ عَلَيَّ الْبَارِحَةَ أَوْ كَلِمَةً نَحْوَهَا لِيَقْطَعَ عَلَيَّ الصَّلٰوةَ فَأَمْكَنَنِيَ اللّٰهُ مِنْهُ وَ أَرَدْتُّ أَنْ أَرْبِطَهُ إِلٰى سَارِيَةٍ مِّنْ سَوَارِي الْمَسْجِدِ حَتّٰى تُصْبِحُوْا وَ تَنْظُرُوْا إِلَيْهِ كُلُّكُمْ فَذَكَرْتُ قَوْلَ أَخِيْ سُلَيْمَانَ رَبِّ هَبْ لِيْ مُلْكًا لَّا يَنْبَغِيْ لِأَحَدٍ مِّنْ م بَعْدِيْ قَالَ رَوْحٌ فَرَدَّهُ خَاسِئًا.

نه روايت كوي، حضورؐ اوفرمائيل، تيره شپه ذ پيريانو يو سردار راغے (يا دغه شان څهٔ الفاظ حضورؐ اوفرمائيل) چه خما مونځ قطع (مات) كړي، نو اللّٰه تعالٰي ماله په هغهٔ قدرت راكهٔ، او ما اراده اوكړه، چه هغه د جُمات ستنو كښې يو ستنے سره اوتړم، تردے چه صبا شي، او تاسو ټول هغه اووينئے، خو ماته ذ خپل ورور سليمانؑ قول راياد شو، چه اے خما پروردګاره، ماته داسے ملک راكړے، چه ماسره پس ذ هيچا لائق نه وي، ذ روح بيان دے چه حضورؐ هغه (جن سردار) ذليل كړے واپس كړلو.

## باب ۳۴۹: قَوْلِهٖ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِيْنَ.

باب ۳۴۹: آيت: وَمَا أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِيْنَ: ذ اللّٰه تعالٰي قول.

۴۷۹۶: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا جَرِيْرٌ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ أَبِي الضُّحٰى عَنْ مَسْرُوْقٍ قَالَ دَخَلْنَا عَلٰى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ مَنْ عَلِمَ شَيْئًا فَلْيَقُلْ بِهٖ وَمَنْ لَّمْ يَعْلَمْ فَلْيَقُلِ اللّٰهُ أَعْلَمُ فَإِنَّ مِنَ الْعِلْمِ أَنْ يَّقُوْلَ لِمَا لَا يَعْلَمُ اللّٰهُ أَعْلَمُ قَالَ اللّٰهُ عَزَّ وَ جَلَّ لِنَبِيِّهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْ مَا أَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ وَّمَا أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِيْنَ وَ سَأُحَدِّثُكُمْ عَنِ الدُّخَانِ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

۴۷۹۶: قتيبه. جرير. اعمش. ابو الضحي. مسروق نه روايت كوي، ذ هغهٔ بيان دے. مونږ عبداللّٰه بن مسعود له ورغلو، هغهٔ اووے، اے خلقو، كوم سړے چه څهٔ خبره پيژني، نو هغه دے بيان كړي، اوپه كومه چه نه پوهيږي، نو هغهٔ له ونيل پكار دي، چه اللّٰه بنهٔ پوهيږي، ځكه چه دا ذ علم خبره ده چه څوک په كومه خبره نهٔ پوهيږي، ذ هغے متعلق دے اووائي، چه اللّٰه بنهٔ پوهيږي اللّٰه بزرګ و برتر خپل نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم ته اوفرمائيل، تهٔ ورته اووايه، چه زهٔ تاسو خلقونه څهٔ اجر نهٔ غواړم او نهٔ زه بنوتي كونكے يم. او عنقريب زهٔ به تاسوته ذ دُخان (لُوګے) معني بيان كړم. رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم قريش اسلام طرف ته اوبلل، او هغے خلقو تاخير اوكهٔ، نو حضور صلي اللّٰه عليه وسلم

وَسَلَّمَ دَعَا قُرَيْشًا اِلَى الْاِسْلَامِ فَأَبْطَئُوْا عَلَيْهِ فَقَالَ اللّٰهُمَّ أَعِنِّيْ عَلَيْهِمْ بِسَبْعٍ كَسَبْعِ يُوْسُفَ فَأَخَذَتْهُمْ سَنَةٌ فَحَصَّتْ كُلَّ شَيْءٍ حَتّٰى أَكَلُوا الْمَيْتَةَ وَالْجُلُوْدَ حَتّٰى جَعَلَ الرَّجُلُ يَرَى بَيْنَهُ وَ بَيْنَ السَّمَآءِ دُخَانًا مِّنَ الْجُوْعِ قَالَ اللّٰهُ عَزَّ وَ جَلَّ فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَآءُ بِدُخَانٍ مُّبِيْنٍ يَغْشَى النَّاسَ هٰذَا عَذَابٌ اَلِيْمٌ قَالَ فَدَعَوْا رَبَّنَا اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ اِنَّا مُؤْمِنُوْنَ اَنّٰى لَهُمُ الذِّكْرٰى وَقَدْ جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ مُّبِيْنٌ ثُمَّ تَوَلَّوْا عَنْهُ وَ قَالُوْا مُعَلَّمٌ مَّجْنُوْنٌ اِنَّا كَاشِفُوا الْعَذَابِ قَلِيْلًا اِنَّكُمْ عَآئِدُوْنَ اَفَيُكْشَفُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ قَالَ فَكُشِفَ ثُمَّ عَادُوْا اِلٰى كُفْرِهِمْ فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ يَوْمَ بَدْرٍ قَالَ اللّٰهُ يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرٰى اِنَّا مُنْتَقِمُوْنَ.

او فرمائيل، يا الله ذ يوسف عليه السلام ذ قحط سالئ په شان ذ قحط سالي په ذريعه ذ دوي خلاف څما مدد اوکړے، نو په خلقو قحط راغے، او هر څيز ختم شو، تردے چه هغے خلقو مردارے او څرمنے خوړل شروع کړل، حالت دے ته اورسيد، چه آسمان ته به چا کتل، نو ذ لوږے ذ وجے نه به ورته لوګے په نظر راتلو. الله عزّ و جلّ اوفرمائيل، ذ هغے ورځے انتظار کوه؛ په کومه ورځ چه به ذ آسمان نه پرانستے لوګے په خلقو خور شي. دا به دردناک عذاب وي، ذ ابن مسعودؓ بيان دے. خلقو دُعا اوکړه، اے څمونږ خدايه مونږ نه عذاب لرے کړے. مونږ ايمان راوړو، هغوي ته نصيحت څۀ وو، حالانکه هغوي ته بيان کونکے رسول راغلو. بيا هغوي ذ هغۀ نه اوګرځيدل، او وئيل ئے، چه پو هـ کړے شوے ليونے دے. بيشکه مونږ به لږو ورځو ذ پاره عذاب لرے کړو. ابن مسعودؓ اووے، آيا قيامت کښ به هم عذاب لرے کړے شي؟[1]. د ابن مسعود بيان دے، چه عذاب لرے کړے شو، هغوي بيا خپل کفر طرف ته اوګرځيدل، نو الله هغوي ذ بدر په ورځ اونيول. الله اوفرمائيل، په کومه ورځ چه مونږ ئے په سخته نيوکه اونيسو، نو مونږ به په هغه ورځ بدله واخلو.

[1]. دا آخري جمله د ابن مسعود رضي الله عنه ده. مطلب دادے چه که چرے نن د دنيا عذاب کوم چه د قحط په شکل کښے په دوئ باندے نازل شوے دے د دوئ نه لرے کړے شي نو آيا قيامت کښ هم داسے ممکن دي (چه ترينه واپس کړے شي) هلته خو به د دوئ راتيول ډير سخت وي او هيڅ يو څيز ورله د الله د دائمي عذاب نه نجات نشي ورکولے.

## سُوْرَةُ الزُّمَرِ

## دَ سُورۀ زُمر تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ قَالَ مُجَاهِدٌ اَفَمَنْ يَّتَّقِيْ

او مجاهد اووے "افمن يتقى بوجهه" معني دي، آيا هغه

بِوَجْهِهٖ يُجَرُّ عَلٰى وَجْهِهٖ وَهُوَ قَوْلُهٗ تَعَالٰى اَفَمَنْ يُّلْقٰى فِى النَّارِ خَيْرٌ اَمْ مَّنْ يَّاْتِىْٓ اٰمِنًا ذِىْ عِوَجٍ لُبْسٍ وَّ رَجُلًا سَلَمًا لِرَجُلٍ مَثَلُ لِاٰلِهَتِهِمُ الْبَاطِلِ وَالْاِلٰهِ الْحَقِّ وَيُخَوِّفُوْنَكَ بِالَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖ بِالْاَوْثَانِ خَوَّلْنَا اَعْطَيْنَا وَالَّذِىْ جَآءَ بِالصِّدْقِ الْقُرْاٰنُ وَصَدَّقَ بِهِ الْمُؤْمِنُ يَجِيْءُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَقُوْلُ هٰذَا الَّذِىْ اَعْطَيْتَنِىْ عَمِلْتُ بِمَا فِيْهِ مُتَشَاكِسُوْنَ الشَّكِسُ الْعَسِرُ لَا يَرْضٰى بِالْاِنْصَافِ وَرَجُلًا سَلَمًا وَّيُقَالُ سَالِمًا صَالِحًا اشْمَاَزَّتْ نَفَرَتْ بِمَفَازَتِهِمْ مِنَ الْفَوْزِ حَآفِّيْنَ اَطَافُوْا بِهٖ مُطِيْفِيْنَ بِحِفَافَيْهِ بِجَوَانِبِهٖ مُتَشَابِهًا لَيْسَ مِنَ الْاِشْتِبَاهِ وَلٰكِنْ يُّشْبِهُ بَعْضُهٗ فِى التَّصْدِيْقِ.

چه په مخ به اُور کښې راښکلے شي، او دا دَ الله تعالٰي دَ هغې قول په شان دے آیا هغه سړے چه اُور کښې اُوغورځولے شي، هغه بهتر دے، یا هغه چه آمن او سلامتي سره راشي. "ذی عوج" په معني د "لَبْس" (مشتبه کړېږ) "و رجلا سلما لرجل" دے کښې دَ هغوي دَ باطلُ معبودانو او معبود برحق مثال دے "یخوفونک بالّذین من دونه" کښې "الذین من دونه" نه مراد بُتان دي. "خولنا" مونږ ورکړلو. "والّذی جآءَ بالصدق" نه مراد قرآن او "صدّق به" نه مراد مؤمن دے، چه دَ قیامت په ورځ به راشي او وائي به، دا هغه څیز دے، چه تا مونږ ته راکړلو، او مونږ ددے مطابق عمل او کړلو، چه دے کښې دے "متشاکسون" "شکس" سخت خویه، انصاف باندے رضامند نهٔ وي. "رجلا سلمًا" او "سالمًا" نه مراد صالح دے. "اشمازت" نفرت کوي. "بمفازتهما" فوز" نه مشتق دے. "حافین" څلور طرفه حلقه جوړه کړے تاویږي. "بحفافیه" "بجوانبه" (دَ دے څلور طرفه). "متشابها" "اشتباه" نه ماخوذ نهٔ دے، بلکه دَ دے دا معني دي، چه تصدیق کښې بعضے دَ بعضے مشابه دے.

**بَابٌ ٣٥٠: قَوْلِهٖ يٰعِبَادِىَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ.**

**باب ٣٥٠:** آیت: یَا عِبَادِیَ الَّذِیْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰی اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ الخ: دَ اللّٰه تعالٰي قول، اے څما بندیانو، چا چه په خپلو ځانونو ظلم کړے دے، دَ اللّٰه دَ رحمت نه دے نااُمید کیږي نه، بیشکه اللّٰه ټول گناهونه ښنونکے دے، بیشکه هغه ښنونکے مهربانه دے.

٧٩٧: حَدَّثَنِىْ اِبْرٰهِيْمُ ابْنُ مُوْسٰى اَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ يُوْسُفَ اَنَّ ابْنَ جُرَيْجٍ اَخْبَرَهُمْ قَالَ يَعْلٰى اِنَّ

٧٩٧: ابراهیم بن موسٰي. هشام بن یوسف. ابن جریج. یعلٰي. سعید بن جبیر. ابن عباسؓ نه روایت کوي، مشرکینو کښې څنو ډیر قتلونه او

سَعِيْدَ ابْنَ جُبَيْرٍ اَخْبَرَهُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ نَاسًا مِنْ اَهْلِ الشِّرْكِ كَانُوْا قَدْ قَتَلُوْا وَ اَكْثَرُوْا وَ زَنَوْا وَ اَكْثَرُوْا فَاَتَوْا مُحَمَّدًا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوْا اِنَّ الَّذِىْ تَقُوْلُ وَ تَدْعُوْا اِلَيْهِ لَحَسَنٌ لَوْ تُخْبِرُنَا اَنَّ لِمَا عَمِلْنَا كَفَّارَةً فَنَزَلَ وَالَّذِيْنَ لَا يَدْعُوْنَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ وَلَا يَقْتُلُوْنَ النَّفْسَ الَّتِىْ حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُوْنَ وَ نَزَلَ قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰى اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ.

زناګانے کړے وے' نو هغه خلق ذ رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم خدمت کښې حاضر شو' او ونيلے' څۀ چه تاسو وائيے' او دَ چا طرف ته چه مو بلئے' ډير ښۀ دي' که تاسو اوښائيے' څۀ چه مونږ کړے دي' هغه به راته معاف کړے شي' نو په دے خبره دا آيت نازل شو. او کوم خلق چه اللّٰه سره بل معبود نۀ بلي' او نۀ يو خان (نفس) چه هغه اللّٰه تعالىٰ حرام کړے دي' ناحق قتلوي' او نه زنا کوي. او دا آيت نازل شو' تۀ ورته اووايه' اے خما بنديانو' چا چه په خپل خان ظلم کړے دے' دَ اللّٰه ذ رحمت نه دے نااُميده کيږي نه.

## باب ۱۳۵۱: قَوْلُهٗ وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ.

## باب ۱۳۵۱: آيت: وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ: دَ اللّٰه تعالىٰ قول' او دے خلقو دَ اللّٰه دَ قدرت پوره طور سره اندازه اونۀ کړله.

۷۹۸: حَدَّثَنَا اٰدَمُ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ مَنْصُوْرٍ عَنْ اِبْرٰهِيْمَ عَنْ عُبَيْدَةَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ جَآءَ حِبْرٌ مِّنَ الْاَحْبَارِ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ اِنَّا نَجِدُ اَنَّ اللّٰهَ يَجْعَلُ السَّمٰوٰتِ عَلٰى اِصْبَعٍ وَالْاَرْضِيْنَ عَلٰى اِصْبَعٍ وَالشَّجَرَ عَلٰى اِصْبَعٍ وَالْمَآءَ وَالثَّرٰى عَلٰى اِصْبَعٍ وَ سَائِرَ الْخَلَائِقِ عَلٰى اِصْبَعٍ فَيَقُوْلُ اَنَا الْمَلِكُ فَضَحِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى بَدَتْ نَوَاجِذُهٗ تَصْدِيْقًا لِقَوْلِ الْحِبْرِ ثُمَّ قَرَاَ

۷۹۸: آدم. شيبان. منصور. ابراهيم. عبيده. عبداللّٰهؓ نه روايت کوي' ذ هغۀ بيان دے' ذ تورات عالمانو کښې يو عالم دَ رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم خدمت کښې حاضر شو' او عرض ئے اوکۀ' اے محمد (صلي اللّٰه عليه وسلّم) مونږ تورات کښې وينو' چه اللّٰه تعالىٰ به آسمانونه په يوه ګوته' زمکے په يوه ګوته او اُونے په يوه ګوته او اوبه او خاوره په يوه ګوته او ټول مخلوقات په يوه ګوته اوچت کړي. بيا به فرمائي' زۀ بادشاه يم' نو نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم په خندا شو' تردے چه ذ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم غاښونه مبارک ظاهر شو' ګويا ذ هغے يهودي عالم ذ خبرے تصديق ئے اوکۀ. بيا رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم دا آيت تلاوت

رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ وَالْاَرْضُ جَمِيْعًا قَبْضَتُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَالسَّمٰوٰتُ مَطْوِيّٰتٌ بِيَمِيْنِهٖ سُبْحَانَهٗ وَ تَعَالٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ.

كهٔ "او دے خلقو دَ اللّٰه دَ قدرت پوره طور سره اندازه اونهٔ كړله او زمكه به تړوله دَ قيامت په ورځ دَ هغه يو موټي كښې' او آسمان به دَ هغهٔ ښي لاس كښې راغنډ كړے شوے وي. اللّٰه تعالىٰ دَ هغے نه' چه هغوي شرك كوي' پاك او برتر دے.

بَابٌ ٣٥٢: قَوْلِهٖ وَالْاَرْضُ جَمِيْعًا قَبْضَتُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَالسَّمٰوٰتُ مَطْوِيّٰتٌ بِيَمِيْنِهٖ.

باب ٣٥٢: آيت: وَالْاَرْضُ جَمِيْعًا قَبْضَتُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ الخ: دَ اللّٰه تعالىٰ قول' او زمكه به تړوله دَ قيامت په ورځ دَ هغهٔ يو موټي كښې' او آسمان به دَ هغهٔ ښي لاس كښې راغنډ كړے شوے وي.

٧٩٩: حَدَّثَنَا سَعِيْدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِيْ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ خَالِدِ بْنِ مُسَافِرٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ اَبِيْ سَلَمَةَ اَنَّ اَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ يَقْبِضُ اللّٰهُ الْاَرْضَ وَ يَطْوِى السَّمٰوٰتِ بِيَمِيْنِهٖ ثُمَّ يَقُوْلُ اَنَا الْمَلِكُ اَيْنَ مُلُوْكُ الْاَرْضِ.

٧٩٩: سعيد بن عفير. ليث. عبدالرحمٰن بن خالد بن مسافر. ابن شهاب. ابو سلمه. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت كوي' ما دَ رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم نه واوريدل' اللّٰه تعالىٰ به زمكه موټي كښې واخلي' او آسمانونه به خپل ښي لاس كښې راغنډ كړي. بيا به فرمائي' زهٔ بادشاه يم. دَ زمكے هغه بادشاهان چرته دي.

بَابٌ ٣٥٣: قَوْلِهٖ وَ نُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰهُ ثُمَّ نُفِخَ فِيْهِ اُخْرٰى فَاِذَا هُمْ قِيَامٌ يَّنْظُرُوْنَ.

باب ٣٥٣: آيت: وَ نُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ الخ: دَ اللّٰه تعالىٰ قول' او شپيلئ به اووهلے شي' نو زمكه او آسمانونو كښې چه كوم خلق وي' هغوي به بيهوشه شي' خو هغه چه اللّٰه تعالىٰ ئے غواړي بيا به په دوئم وار شپيلئ اووهلے شي' نو هغه وخت به ولاړ وي گوري به.

٨٠٠: حَدَّثَنِي الْحَسَنُ حَدَّثَنَا اِسْمٰعِيْلُ ابْنُ خَلِيْلٍ اَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّحِيْمِ عَنْ زَكَرِيَّآءَ بْنِ اَبِيْ زَائِدَةَ

٨٠٠: حسن. اسمٰعيل بن خليل. زكريا بن ابي زائده. عامر. حضرت ابوهريرهؓ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم نه روايت كوي' حضورؐ

عَنْ عَامِرٍ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنِّيْ أَوَّلُ مَنْ يَرْفَعُ رَأْسَهُ بَعْدَ النَّفْخَةِ الْآخِرَةِ فَإِذَا أَنَا بِمُوْسٰى مُعَلَّقٌ بِالْعَرْشِ فَلَا أَدْرِيْ أَكَذٰلِكَ كَانَ أَمْ بَعْدَ النَّفْخَةِ.

اوفرمائيل، په دوئيم وار شپيلئ پُوكلونه پس ذَ تولونه ورمبے سر اوچتونكے به زهٔ يم، نو زهٔ به اووينم، چه موسیٰ به هغه وخت عرش سره لړيدلے ولاړ وي. زهٔ نه پوهيږم، چه هغه به ذَ مخكښ نه دغسے وي، يا ذَ شپيلئ پُوكلو نه پس به هوش كښ راغلے وي.

۱۸۰۱: حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا أَبِيْ قَالَ حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا صَالِحٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَ النَّفْخَتَيْنِ أَرْبَعُوْنَ قَالُوْا يَا أَبَا هُرَيْرَةَ أَرْبَعُوْنَ يَوْمًا قَالَ أَبَيْتُ قَالَ أَرْبَعُوْنَ سَنَةً قَالَ أَبَيْتُ قَالَ أَرْبَعُوْنَ شَهْرًا قَالَ أَبَيْتُ وَيَبْلٰى كُلُّ شَيْءٍ مِنَ الْإِنْسَانِ إِلَّا عَجْبَ ذَنْبِهِ فِيْهِ يُرَكَّبُ الْخَلْقُ.

۱۸۰۱: عمر بن حفص. حفص. اعمش. حضرت ابوهريرهؓ نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم نه روايت كوي. حضورؐ اوفرمائيلو، ذَ دواړو شپيلو پوكلو مينځ كښ به ذَ څلويښتو موده وي. خلقو تپوس اوكړهٔ، آيا څلويښت ورځے؟ هغهٔ انكار اوكړهٔ. راوي اووے، آيا څلويښت كاله. هغه انكار اوكړهٔ راوي اووے، څلويښت مياشتے. هغهٔ ذَ دے نه هم انكار اوكړهٔ، او ونيلے، چه ذَ انسان هر څيز ذَ ملا ذَ تير ذَ هډوكي نه سِوا فنا شي، چه هغے سره به ذَ انسان تول جسم وَروَستے شي.

# سُوْرَةُ الْمُؤْمِنُ

# ذَ سورهٔ مؤمن تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قَالَ مُجَاهِدٌ حٰمٓ مَجَازُهَا مَجَازُ أَوَائِلِ السُّوَرِ وَيُقَالُ بَلْ هُوَ اِسْمٌ لِقَوْلِ شُرَيْحِ بْنِ أَبِيْ أَوْفٰى الْعَبْسِيِّ:

يُذَكِّرُنِيْ حَامِيْمَ وَالرُّمْحُ شَاجِرٌ
فَهَلَّا تَلَا حَامِيْمَ قَبْلَ التَّقَدُّمِ

الطَّوْلُ التَّفَضُّلُ دَاخِرِيْنَ خَاضِعِيْنَ وَقَالَ مُجَاهِدٌ إِلَى النَّجَاةِ الْإِيْمَانِ

مجاهد اووے، دا (حم) داسے دے، لكه ذَ نورو سورتونو ورومبني حروف چه وي. او ذَ بعضے قول دے، چه دا نوم دے په قول ذَ شريح بن ابي اوفٰي عبسي:

ماته حاميم ياد وي، داسے حال كښ چه نيزے چليږي
چه وړاندے كيدونه مخكښ دے ولے حاميم اونهٔ ونيلے.

"طول" په معني ذَ احسان قدرت "داخرين" په معني ذَ خكته كيدونكو، ذليل او خوار. او مجاهد اووے "الى

لَيْسَ لَهُ دَعْوَةٌ يَعْنِي الْوَثَنَ يُسْجَرُوْنَ تُوْقَدُ بِهِمُ النَّارُ تَمْرَحُوْنَ تَبْطَرُوْنَ وَ كَانَ الْعَلَاءُ ابْنُ زِيَادٍ يُذَكِّرُ النَّارَ فَقَالَ رَجُلٌ لِمَ تُقَنِّطُ النَّاسَ قَالَ وَ اَنَا اَقْدِرُ اَنْ اُقَنِّطَ النَّاسَ؟ وَاللّٰهُ عَزَّ وَ جَلَّ يَقُوْلُ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰى اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ وَ يَقُوْلُ وَ اِنَّ الْمُسْرِفِيْنَ هُمْ اَصْحٰبُ النَّارِ وَلٰكِنَّكُمْ تُحِبُّوْنَ اَنْ تُبَشَّرُوْا بِالْجَنَّةِ عَلٰى مَسَاوِئِ اَعْمَالِكُمْ وَ اِنَّمَا بَعَثَ اللّٰهُ مُحَمَّدًا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُبَشِّرًا بِالْجَنَّةِ لِمَنْ اَطَاعَهُ وَ مُنْذِرًا بِالنَّارِ مَنْ عَصَاهُ.

النجاة" نه مراد ايمان دے. "ليس له دعوة" كښې بُتان مراد دي. "يسجرون" په هغوي به اُور گرم كړے شي. "تمرحون" كبر به مو كولو. علاء بن زياد' ذ جهنّم ذكر كولو' نو يو سړي اووے' تهٔ ولے خلق نااُميده كوے' هغهٔ اووے' آيا زهٔ قدرت لرم' چه خلق نااُميده كړم' حالانكه الله بزرگ و برتر فرمائي' اے خما بنديانو' چا چه په خان ظلم كړے دے' ذَ اللّٰه ذَ رحمت نه دے نااُميده كيږي نه' او الله تعالىٰ فرمائي. مسرفين دوزخ واله دي' ليكن تاسو خوښوئے' چه ذَ خپلو بدو عملو باوجود تاسوته ذَ جنت خوشخبري دركړے شي' حالانكه الله تعالىٰ محمد صلي اللّٰه عليه وسلّم صرف دے ذَ پاره مبعوث كړلو' چه هغهٔ چا ته ذَ جنت خوشخبري واوروي' چاچه ذَ حضور صلي الله عليه وسلّم اطاعت اوكهٔ' او هغه څوك ذَ جهنّم نه اويروي' چا چه ذَ حضورؐ نافرماني اوكړله.

۲۰۸: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا الْوَلِيْدُ بْنُ مُسْلِمٍ حَدَّثَنَا الْاَوْزَاعِيُّ قَالَ حَدَّثَنِيْ يَحْيَى بْنُ اَبِيْ كَثِيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ اِبْرٰهِيْمَ التَّيْمِيُّ قَالَ حَدَّثَنِيْ عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ قَالَ قُلْتُ لِعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ اَخْبِرْنِيْ بِاَشَدِّ مَا صَنَعَ الْمُشْرِكُوْنَ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ بِفِنَاءِ الْكَعْبَةِ اِذْ اَقْبَلَ عُقْبَةُ بْنُ اَبِيْ مُعَيْطٍ وَ اَخَذَ بِمَنْكِبِ رَسُوْلِ اللّٰهِ

۲۰۸: علي بن عبدالله. وليد بن مسلم. اوزاعي. يحيٰي بن ابي كثير. محمد بن ابراهيم تيمي. عروه بن زبير نه روايت كوي. ذَ هغهٔ بيان دے. ما عبدالله بن عمرو بن العاص ته اووے' ما ته ذَ ټولو نه هغه زيات حركت بيان كړه' چه مشركانو رسول الله صلي الله عليه وسلّم سره كړے وو. هغهٔ اووے' يو ځلے رسول الله صلي الله عليه وسلّم ذَ كعبے په صحن كښې مونځ كولو. نو عقبه بن ابي معيط راغے' رسول الله صلي الله عليه وسلّم ئے ذَ اوږے مباركے نه اونيولو' خپله كپړه ئے ذَ حضور صلي الله عليه وسلّم په گردن كښې واچوله' او تاوهله ئے' او مړهٔ ئے

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ لَوٰى ثَوْبَهُ فِیْ عُنُقِهٖ فَخَنَقَهٗ خَنْقًا شَدِيْدًا فَاَقْبَلَ اَبُوْبَكْرٍ فَاَخَذَ بِمَنْكِبِهٖ وَ دَفَعَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ اَتَقْتُلُوْنَ رَجُلًا اَنْ يَّقُوْلَ رَبِّیَ اللّٰهُ وَقَدْ جَآءَ كُمْ بِالْبَيِّنَاتِ مِنْ رَّبِّكُمْ.

ورلـه خـفـه كـرلـه. دغـه وخـت ابـوبكـرؓ راغـے، ذ هغـه اوكـه نـے اونيـولـه، او ذ رسـول الـلّـه صلي اللّٰه عليه وسلّم نه ئے لرے كړلو. او ورته ئے وئيلے، آيا تاسو دا سړے په دے وجه قتلونے، چه هغه دا وائي، چه خـمـا رب الـلّـه دے، او ستـاسـو ذ رب خـر كـنـد دليلونو سره راغلے دے (يعني حضرت محمد صلي اللّٰه عليه وسلّم).

## سُوْرَةُ حٰمٓ السَّجْدَةَ

## ذ سورهٔ حٰمٓ السّجده تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَقَالَ طَاوُسُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ائْتِيَا طَوْعًا اَعْطِيَا قَالَتَا اَتَيْنَا طَآئِعِيْنَ اَعْطَيْنَا وَ قَالَ الْمِنْهَالُ عَنْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَجُلٌ لِابْنِ عَبَّاسٍ اِنِّیْ اَجِدُ فِی الْقُرْاٰنِ اَشْيَآءَ تَخْتَلِفُ عَلَیَّ قَالَ فَلَا اَنْسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَّلَا يَتَسَآءَ لُوْنَ وَ اَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَّتَسَآءَ لُوْنَ وَلَا يَكْتُمُوْنَ اللّٰهَ حَدِيْثًا رَبَّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِيْنَ فَقَدْ كَتَمُوْا فِیْ هٰذِهِ الْاٰيَةِ وَ قَالَ اَمِ السَّمَآءُ بَنَاهَا اِلٰى قَوْلِهٖ دَحَاهَا فَذَكَرَ خَلْقَ السَّمَآءِ قَبْلَ خَلْقِ الْاَرْضِ ثُمَّ قَالَ اَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُوْنَ بِالَّذِیْ خَلَقَ الْاَرْضَ فِیْ يَوْمَيْنِ اِلٰى طَآئِعِيْنَ فَذَكَرَ فِیْ هٰذِهٖ خَلْقَ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

طاؤس ذ ابن عباسؓ نه نقل اوكړ، چه "ائْتِيَا طَوْعًا" معني "اعطيا" يعني تاسو دواړه وركړئ. "قالتا اتينا طائعين" كښې "اتينا" نه مراد "اعطينا" يعني مونږ وركړے دے او منهال ذ سعيد نه نقل كړے دے. ذ هغهٔ بيان دے. يو سړي ابن عباسؓ ته اووے. قرآن كښې داسے خبرے ېامومم، چه ماته ذ يو بل خلاف معلوميږي. "په هغه ورځ به ذ هغوي مينځ كښې رشتے ناطے (خپلولي) نهٔ وي، او نه به يو بل نه تپوس كوي" او يو بل ته به متوجّه شي خپلو كښې به تپوس كوي" او "هغوي به ذ اللّٰه نه هيڅ خبره نه پټوي" او "اے خمونږ ربه مونږ مشرك نهٔ وو (دے آيتونو كښې اختلاف ظاهر دے) او آيت: اَمِ السَّمَآء بناها الخ: كښې ذ آسمان پيدائش ذ زمكے نه مخكښې بيان كړے دے بيا اللّٰه: اَئِنَّكُمْ لتكفرون بالّذی الخ كښې ذ زمكے پيدائش ذ آسمان ذ پيدائش نه ورستو ښودلے دے. او اللّٰه تعالي اوفرمائيل، "وَ كَانَ اللّٰه غفورًا رّحيما" "عزيزًا حكيمًا" سميعًا بصيرًا (يعني اللّٰه ښنونكے

الْاَرْضِ قَبْلَ السَّمَآءِ وَ قَالَ وَ كَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا عَزِيْزًا حَكِيْمًا سَمِيْعًا بَصِيْرًا فَكَاَنَّهٗ كَانَ ثُمَّ مَضٰى فَقَالَ فَلَا اَنْسَابَ بَيْنَهُمْ فِى النَّفْخَةِ الْاُوْلٰى يُنْفَخُ فِى الصُّوْرِ فَصَعِقَ مَنْ فِى السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِى الْاَرْضِ اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰهُ فَلَا اَنْسَابَ بَيْنَهُمْ عِنْدَ ذٰلِكَ وَلَا يَتَسَآءَلُوْنَ ثُمَّ فِى النَّفْخَةِ الْاٰخِرَةِ اَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَّتَسَآءَلُوْنَ وَ اَمَّا قَوْلُهٗ مَا كُنَّا مُشْرِكِيْنَ وَلَا يَكْتُمُوْنَ اللّٰهَ فَاِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ لِاَهْلِ الْاِخْلَاصِ ذُنُوْبَهُمْ وَ قَالَ الْمُشْرِكُوْنَ تَعَالَوْا نَقُوْلُ لَمْ نَكُنْ مُشْرِكِيْنَ فَخُتِمَ عَلٰى اَفْوَاهِهِمْ فَتَنْطِقُ اَيْدِيْهِمْ فَعِنْدَ ذٰلِكَ يُعْرَفُ اَنَّ اللّٰهَ لَا يُكْتَمُ حَدِيْثًا وَ عِنْدَهٗ يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا الْاٰيَةَ خَلَقَ الْاَرْضَ فِىْ يَوْمَيْنِ ثُمَّ خَلَقَ السَّمَآءَ ثُمَّ اسْتَوٰى اِلَى السَّمَآءِ فَسَوّٰهُنَّ فِىْ يَوْمَيْنِ اٰخَرَيْنِ ثُمَّ دَحَا الْاَرْضَ وَ دَحْوُهَا اَنْ اَخْرَجَ مِنْهَا الْمَآءَ وَالْمَرْعٰى وَ خَلَقَ الْجِبَالَ وَالْجِمَالَ وَالْاٰكَامَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِىْ يَوْمَيْنِ اٰخَرَيْنِ فَذٰلِكَ قَوْلُهٗ دَحَاهَا وَ قَوْلُهٗ خَلَقَ

مهربان وو، زبردست حکمت واله، آوريدونکے، ليدونکے وو) گويا مخکښې (دے صفاتو سره متصف وو) چه تير شو (او اوس نه دے)، نو هغه اووے چه "فلا انساب بينهم" تعلق نفخ اول سره دے، نو کوم خلق چه آسمانونو او زمکه کښې دي، بيهوشي به شي، سوا دَ هغوي نه چه اللّٰه ئے غواړي، نو هغه وخت به دَ هغوي مينځ کښې نهٔ خپلولے وي، او نهٔ به دَ يو بل" نه تپوس کوي. بيا په دوئيم وار شپيلۍ وهلو سره، هغوي کښې به بعضے دَ بعضو نه تپوس کوي. او دَ اللّٰه تعالٰي قول "ما کنا مشرکين" او "لا يکتمون اللّٰه" الخ دَ دمے صورت صرف دا دے، چه اللّٰه تعالٰي به دَ اخلاص والو گناه اوبښي، او مشرکين به وائي چه مونږ مشرک نهٔ وو، نو دَ هغوئ په خوله به مُهر اولږوي، او دَ هغوي لاس وغيره به خبرے کوي، دغه وخت به معلومه شي، چه دَ اللّٰه تعالٰي نه هيڅ خبره نشي پټيدے. او زمکه ئے دوه ورځے کښې پيدا کړه، بيائے آسمان پيدا کهٔ، بيا آسمان طرف ته متوجّه شولو، او هغه ئے دوو ورځو کښې برابر کړل. بيائے زمکه اوغوړوله او دَ زمکے غوړول دادي، چه دَ هغے دَ اوبو اوخرند ځائے ئے راښکلو، او غرونه او ډهيرئ وغيره او څهٔ چه دَ آسمان او زمکے په مينځ کښې دي، نورو دوو ورځو کښې پيدا کړل. دَ اللّٰه تعالٰي دَ قول "دحاها" دغه مطلب دے. او دَ اللّٰه تعالٰي دَ قول چه "زمکه ئے دوو ورځو کښې پيدا کړه" دَ دے صورت دادے، چه زمکه او دے کښې ټول څيزونه ئے څلور ورځو کښې پيدا کړے شو (يعني اول دَ زمکے تخليق اوشو. دے نه پس دَ آسمان. بيا دَ زمکے آبادي اوشوه،

الْاَرْضَ فِيْ يَوْمَيْنِ فَجُعِلَتِ الْاَرْضُ وَمَا فِيْهَا مِنْ شَيْءٍ فِيْ اَرْبَعَةِ اَيَّامٍ وَّ خُلِقَتِ السَّمٰوٰتُ فِيْ يَوْمَيْنِ وَ كَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا سَمّٰى نَفْسَهُ ذٰلِكَ وَ ذٰلِكَ قَوْلُهُ اَيْ لَمْ يَزَلْ كَذٰلِكَ فَاِنَّ اللّٰهَ لَمْ يُرِدْ شَيْئًا اِلَّا اَصَابَ بِهِ الَّذِيْ اَرَادَ فَلَا يَخْتَلِفُ عَلَيْكَ الْقُرْاٰنُ فَاِنَّ كُلًّا مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ وَ قَالَ اَبُوْ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنِيْ يُوْسُفُ بْنُ عَدِيٍّ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ عَمْرٍو عَنْ زَيْدِ بْنِ اَبِيْ اُنَيْسَةَ عَنِ الْمِنْهَالِ بِهٰذَا وَ قَالَ مُجَاهِدٌ مَمْنُوْنٌ مَحْسُوْبٌ اَقْوَاتَهَا اَرْزَاقَهَا فِيْ كُلِّ سَمَآءٍ اَمْرَهَا مِمَّا اُمِرَ بِهِ نَحِسَاتٍ مَشَائِيْمَ وَ قَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَآءَ قَرَنَاهُمْ بِهِمْ تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةُ عِنْدَ الْمَوْتِ اهْتَزَّتْ بِالنَّبَاتِ وَ رَبَتْ اِرْتَفَعَتْ وَ قَالَ غَيْرُهُ مِنْ اَكْمَامِهَا حِيْنَ تَطْلُعُ لَيَقُوْلَنَّ هٰذَا لِيْ اَيْ بِعَمَلِيْ اَنَا مَحْقُوْقٌ بِهٰذَا سَوَآءً لِّلسَّائِلِيْنَ قَدَّرَهَا سَوَآءً فَهَدَيْنَاهُمْ دَلَلْنَاهُمْ عَلَى الْخَيْرِ وَالشَّرِّ كَقَوْلِهٖ وَ هَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْنِ وَ كَقَوْلِهٖ هَدَيْنَاهُ السَّبِيْلَ وَالْهُدَى الَّذِيْ هُوَ الْاِرْشَادُ بِمَنْزِلَةِ اَصْعَدْنَاهُ مِنْ ذَالِكَ قَوْلُهُ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ

نو ذَ آسمان تخليق ذ زمکے ذَ تخليق نه پس او ذ زمکے ذَ آبادي نه مخکښ اوشو). باقي پاتے شو "کان اللّٰه غفورًا رحيما" نو اللّٰـه تعالٰي خپل نوم دا ايښے دے، ذَ هغے مفهوم دا دے، چه هغه ذَ هميشه نه داسے دے. اللّٰه تعالٰي چه ذَ کوم څيز هم اراده کوي، هغه کيږي، نو قرآن کښ تاله اختلاف ګنړل نهٔ دي پکار، چه دا ټول کلام ذَ اللّٰه ذَ طرف نه دے، او مجاهد اووے "ممنون" په معني ذَ "محسوب" (شمير کړے شوے) دے، "اقواتها" يعني ذَ هغهٔ روزي ده. "في کل سماءٍ امرها" يعني هغه کار چه ذَ هغے ذ اللّٰـه ذَ طرف نه حکم شوے دے. "نحسات" نامبارک، سپيرهٔ. "قَيَّضنا لهم قرناء" "تتنزل عليهم الملائکة" (مونږ ذَ هغوي همنشين مقرر کړلو، په هغوي فريښتے نازليږي) يعني ذَ مرګ په وخت. "اهْتَزَّت" سرسبز شو. "رَبَتْ" بلند شو. نورو اووے، چه "من اکمامها" نه دا مراد دے، چه کوم وخت ذَ خپل غلاف نه اوخي "ليقولنّ هٰذا لِيْ" نه دا مراد دے، هغوي به وائي، چه دا خما ذَ عمل بدله ده، او زهٔ ذَ دے سزاوار يم. "سواء للسائلين" يعني تپوس کونکو ذَ پاره ئے ذَ دے پوره اندازه مقرر کړله. "فهديناهم" نه مراد دے، مونږ هغه ته ذَ نيکي بدي لار اوښودله لکه چه ذَ اللّٰه تعالٰي قول "هديناه نجدين" او "هديناه السبيل" او ذَ هدايت معني منزل مقصود طرف ته ذَ رهنمائي هم دي. ذَ اللّٰه قول، "اولٰٓئک الذين هَدَى اللّٰه فبهداهم اقتده" کښ دغه مراد دے. "يوزعون" منع کولے به شي. "من اکمامها" د "کُمّ" جمع ده. ذَ غوټۍ (کلۍ) ذَ پاسه پوستکي ته وائي. "ولیّ حميم" قريبي دوست. "من محيص" (ذَ تښتيدو

يُوزَعُونَ يُكَفُّونَ مِنْ اَكْمَامِهَا قِشْرُ الْكُفُرّٰى هِيَ الْكُمُّ وَ قَالَ غَيْرُهُ وَ يُقَالُ لِلْعِنَبِ وَ اَخْرَجَ اَيْضًا كَافُوْرٌ وَّ كُفُرّٰى وَلِيٌّ حَمِيْمٌ الْقَرِيْبُ مِنْ مَّحِيْصٍ حَاصَ حَادَ مِرْيَةٍ وَ مُرْيَةٍ وَّاحِدٌ اَىُ اِمْتِرَاءٌ وَّ قَالَ مُجَاهِدٌ اِعْمَلُوْا مَا شِئْتُمْ الْوَعِيْدُ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ الَّتِىْ هِيَ اَحْسَنُ الصَّبْرُ عِنْدَ الْغَضَبِ وَالْعَفْوُ عِنْدَ الْاِسَاءَةِ فَاِذَا فَعَلُوْهُ عَصَمَهُمُ اللّٰهُ وَ خَضَعَ لَهُمْ عَدُوُّهُمْ كَاَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيْمٌ.

خاتے) "حاص" (اوتښتيد) نه مشتق دے. "مريه" او "مُريه" يو معني دي، يعني شک او شبهه. او مجاهد اووے "اعملوا ما شئتم" (څۀ چه غواړئے، کوئے) وعيد دے. او ابن عباسؓ اووے، "الّتى هى احسن" نه مراد دے، دَ غصے په وخت صبر کول، او دَ بدي په وخت معاف کول. هر کله چه هغوي داسے اوکړي، نو اللّٰه به هغوي محفوظ کړي، او دَ هغوي دشمن به دَ هغوي دَ پاره نرم شي، ګويا چه هغه قريبي دوستان دي، او تاسو دَ هغۀ نه پرده نه کوله، چه تاسو باندے به ستاسو غوږونه، ستاسو سترګے او ستاسو څرمنے ګواهي کوي، بلکه تاسو ګمان کولو، چه اللّٰه ته ستاسو ډير کارونه معلوم نۀ دي.

## باب ۳۵۴: قَوْلِهٖ وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُوْنَ اَنْ يَّشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَآ اَبْصَارُكُمْ وَلَا جُلُوْدُكُمْ وَلٰكِنْ ظَنَنْتُمْ اَنَّ اللّٰهَ لَا يَعْلَمُ كَثِيْرًا مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ.

## باب ۳۵۴: آيت: وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُوْنَ الخ: دَ اللّٰه

تعالٰي قول، اونۀ وي تاسو پټولو بم دا كار، چه شاهدي به وائي په تاسے باندے غوږونه ستاسے اونۀ سترګے ستاسے اونۀ څرمنے ستاسے، ولٰکن ګمان کړے وو تاسے چه اللّٰه نۀ پوهيږي په ډيرو دَ هغے کارونو چه کولو به تاسو.

۸۰۳: حَدَّثَنَا الصَّلْتُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا يَزِيْدُ بْنُ زُرَيْعٍ عَنْ رَّوْحِ بْنِ الْقَاسِمِ عَنْ مَنْصُوْرٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ اَبِىْ مَعْمَرٍ عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ وَّمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُوْنَ اَنْ يَّشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ الْاٰيَةَ كَانَ رَجُلَانِ مِنْ قُرَيْشٍ وَّ خَتَنٌ لَّهُمَا مِنْ ثَقِيْفٍ اَوْ رَجُلَانِ مِنْ ثَقِيْفٍ وَّ خَتَنٌ لَّهُمَا مِنْ قُرَيْشٍ فِىْ بَيْتٍ فَقَالَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ اَتَرَوْنَ اَنَّ اللّٰهَ يَسْمَعُ

۸۰۳: صلت بن محمد. يزيد بن زريع. روح بن قاسم. منصور. مجاهد. ابو معمر. ابن مسعود نه روايت کوي، هغۀ دَ آيت: وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُوْنَ اَنْ يَّشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ الخ: په تفسير کښې اووے، دَ قريشو دوه سړي او دَ هغے دواړو يو زُوم (داماد) چه ثقفي وو، يا (راوي ته شک دے) دَ ثقيف دوه سړي او دَ هغے دواړو يو زوم چه قريشي وو، يو کور کښې وو، هغوي کښې يو بل ته اووے، آيا ته دا خيال کوے، چه اللّٰه تعالٰي خمونږ خبرے آوري. هغوي کښې

حَدِيْثَنَا قَالَ بَعْضُهُمْ يَسْمَعُ بَعْضَهُ وَ قَالَ بَعْضُهُمْ لَئِنْ كَانَ يَسْمَعُ بَعْضَهُ لَقَدْ يَسْمَعُ كُلَّهُ فَأُنْزِلَتْ وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُوْنَ اَنْ يَّشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَا اَبْصَارُكُمْ (الْاٰيةَ).

بعضے اووے، چـه هغه بعضے خبره آوري، نو هغوي كښې يو اووے، كه اللّٰه بعضے خبرے آوري، نو ټولے خبرے به آوري، نو دا آيت: وَمَا كُنْتُمْ تستترون ان يشهد عليكم سمعكم الخ نازل شولو.

بـــاب ۳۵۵: قَـــوْلــــه وَ ذٰلِـــكُـــمْ ظَـــنُّـــكُـــمْ الْاٰيةَ.

باب ۳۵۵: آيت: وَ ذٰلِكُمْ ظَنُّكُمْ: دَ اللّٰه تعالىٰ قول، دا ستاسو گمان دے، چه ستاسو دَ خپل رب متعلق كولو.

۴۰۴: حَـدَّثَـنَـا الْـحُـمَيْـدِيُّ حَدَّثَـنَـا سُـفْيَانُ حَدَّثَنَا مَنْصُوْرٌ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ اَبِيْ مَعْمَرٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ اجْتَمَعَ عِنْدَ الْبَيْتِ قُرَشِيَّانِ وَ ثَقَفِيٌّ اَوْ ثَقَفِيَّانِ وَ قُرَشِيٌّ كَثِيْرَةٌ شَحْمُ بُطُوْنِهِمْ قَلِيْلَةٌ فِقْهُ قُلُوْبِهِمْ فَقَالَ اَحَدُهُمْ اَتَرَوْنَ اَنَّ اللّٰهَ يَسْمَعُ مَا نَقُوْلُ قَالَ الْاٰخَرُ اِنْ كَانَ يَسْمَعُ اِنْ جَهَرْنَا وَلَا يَسْمَعُ اِنْ اَخْفَيْنَا وَ قَالَ الْاٰخَرُ اِنْ كَانَ يَسْمَعُ اِذَا جَهَرْنَا فَاِنَّهُ يَسْمَعُ اِذَا اَخْفَيْنَا فَاَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَ جَلَّ وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُوْنَ اَنْ يَّشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَا اَبْصَارُكُمْ وَلَا جُلُوْدُكُمْ الْاٰيَةَ وَ كَانَ سُفْيَانُ يُحَدِّثُنَا بِهٰذَا فَيَقُوْلُ حَدَّثَنَا مَنْصُوْرٌ اَوِ ابْنُ اَبِيْ نَجِيْحٍ اَوْ حُمَيْدٌ اَحَدُهُمْ اَوِ اثْنَانِ مِنْهُمْ ثُمَّ ثَبَتَ عَلٰى مَنْصُوْرٍ وَ تَرَكَ ذٰلِكَ مِرَارًا غَيْرَ

۴۰۴: حميدي. سفيان. منصور. مجاهد. ابومعمر. عبداللّٰه نه روايت كوي، دَ هغهٔ بيان دے، چه خانه كعبے سره دوه قريشي او يو ثقفي يا دوه ثقفي او قريشي ناست وو، دَ هغوي دَ خيټے چربي ډيره وه (يعني غټ وو) خو دَ هغوي پوهه كمه وه. هغوي كښې يو اووے آيا تهٔ دا خيال كوے، چه مونږ څهٔ وايو، هغه اللّٰه تعالىٰ آوري. دويم اووے، كه مونږ اوچت آواز سره وايو، نو هغه آوري، او كه رو آواز سره وايو، نو هغه نهٔ آوري، بل سړي اووے، كه هغه خمونږ اوچت آواز آوريدے شي، نو خمونږ رو خبره هم آوريدے شي، نو اللّٰه تعالىٰ دا آيت نازل كړلو: وما كنتم تستترون ان يشهد عليكم: او سفيان چه مونږ ته دا حديث بيانولو، نو وئيل ئے، مونږ ته منصور، يا ابن ابي نجيح، يا حميد، دوي كښې يو يا دوو روايت كړ. بيا په منصور قائم شو، او دَ يو نه زيات متعدد ځل ئے هغه

وَاحِدَةٍ.

باب ۳۵٦: قَوْلِهٖ فَاِنْ يَّصْبِرُوْا فَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ الْاٰيَةَ.

۵ ۰ ۸: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ قَالَ حَدَّثَنِيْ مَنْصُوْرٌ عَنْ مُّجَاهِدٍ عَنْ اَبِيْ مَعْمَرٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بِنَحْوِهٖ.

پرېښودلو.

باب ۳۵٦: آيت: فَاِنْ يَّصْبِرُوْا فَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ، دَ اللّٰه تعالىٰ قول، نو كه هغوي صبر اوكړي نو اُور دَ هغوي ځائے دے، آخر پورے.

۵ ۰ ۸: عمرو بن علي. يحيٰي. سفيان ثوري. منصور. مجاهد. ابو معمر. حضرت عبدالله نه په مثل دَ سابق حديث روايت كوي.

# سورة حٰمٓ عٓسٓقٓ

# دَ سورهٔ حٰمٓ عٓسٓقٓ تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ يُذْكَرُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَقِيْمًا لَا تَلِدُ رُوْحًا مِنْ اَمْرِنَا الْقُرْاٰنُ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ يَذْرَؤُكُمْ فِيْهِ نَسْلٌ بَعْدَ نَسْلٍ لَا حُجَّةَ بَيْنَنَا لَا خُصُوْمَةَ طَرْفٍ خَفِيٍّ ذَلِيْلٍ وَّ قَالَ غَيْرُهٗ فَيَظْلَلْنَ رَوَاكِدَ عَلٰى ظَهْرِهٖ يَتَحَرَّكْنَ وَلَا يَجْرِيْنَ فِي الْبَحْرِ شَرَعُوا ابْتَدَعُوْا.

او ابن عباسؓ نه منقول دي، "عقيما" نه مراد هغه ښځه ده، چه بچے نهٔ راوړي. "روحا من امرنا" نه مراد قرآن دے. او مجاهد اووے "يذرؤكم فيه" نه مراد دے، چه تاسو دے كښې نسل در نسل زياتوي. "لا حجة بَيْنَنَا" خمونږ مينځ كښې هيڅ جګړه نشته. "طرف خفى" ذليل (ټيټو ستركو سره). دَ دے نه علاوه نورو اووے. "فيظللن رواكد علىٰ ظهره" حركت كوي، خي نه. "شرعوا" نوے لار ئے راوښكله.

باب۳۵۷: قَوْلِهٖ اِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبٰى.

۶ ۰ ۸: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ مَيْسَرَةَ قَالَ سَمِعْتُ طَاوُسًا عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّهٗ سُئِلَ عَنْ قَوْلِهٖ اِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبٰى فَقَالَ سَعِيْدُ بْنُ جُبَيْرٍ قُرْبٰى اٰلُ مُحَمَّدٍ

باب۳۵۷: آيت: اِلَّا المودة فى القربىٰ: دَ الله تعالىٰ قول، صرف دَ قرابت دَ محبت خواهان يم.

۶ ۰ ۸: محمد بن بشار. محمد بن جعفر. عبدالملک بن ميسره. طاؤس. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، دَ هغه نه دَ آيت: الا المودة فى القربىٰ: متعلق تپوس اوشو، نو سعيد بن جبير اووے، "القربىٰ" نه مراد آلِ محمد صلي الله عليه وسلم دے. حضرت

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ عَجِلْتَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكُنْ بَطْنٌ مِّنْ قُرَيْشٍ اِلَّا كَانَ لَهُ فِيهِمْ قَرَابَةٌ فَقَالَ اِلَّا اَنْ تَصِلُوْا مَا بَيْنِي وَ بَيْنَكُمْ مِنَ الْقَرَابَةِ.

ابن عباسؓ اووے، تا تادي اوكړه، څكه چه قريش آل محمدؐ نه دي، خو دا چه د حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل، زۀ تاسو نه صرف دومره غواړم، چه خما او ستاسو مينځ كښې كوم قرابت دے، هغه يوخائے كړئے.

## سُوْرَةُ حٰمٓ الزُّخْرُفُ

## دَ سورۀ حٰمٓ زخرف تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ عَلٰى اُمَّةٍ عَلٰى اِمَامٍ وَقِيْلِهِ يَا رَبِّ تَفْسِيْرُهُ اَيَحْسَبُوْنَ اَنَّا لَا نَسْمَعُ قِيْلَهُمْ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَلَوْلَا اَنْ يَّكُوْنَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً لَوْلَا اَنْ جَعَلَ النَّاسَ كُلَّهُمْ كُفَّارًا لَجَعَلْتُ لِبُيُوْتِ الْكُفَّارِ سُقُفًا مِّنْ فِضَّةٍ وَ مَعَارِجَ مِنْ فِضَّةٍ وَّ هِيَ دَرَجٌ وَّ سُرُرَ فِضَّةٍ مُقْرِنِيْنَ مُطِيْعِيْنَ اٰسَفُوْنَا اَسْخَطُوْنَا يَعْشُ يَعْمٰى وَ قَالَ مُجَاهِدٌ اَفَنَضْرِبُ عَنْكُمُ الذِّكْرَ اَيْ تُكَذِّبُوْنَ بِالْقُرْاٰنِ ثُمَّ لَا تُعَاقَبُوْنَ عَلَيْهِ وَ مَضٰى مَثَلُ الْاَوَّلِيْنَ سُنَّةُ الْاَوَّلِيْنَ مُقْرِنِيْنَ يَعْنِي الْاِبِلَ وَالْخَيْلَ وَ الْبِغَالَ وَالْحَمِيْرَ يَنْشَاُ فِي الْحِلْيَةِ الْجَوَارِيْ جَعَلْتُمُوْهُنَّ لِلرَّحْمٰنِ وَلَدًا فَكَيْفَ لَوْ شَاءَ الرَّحْمٰنُ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

او مجاهد اووے چه "على امة" نه مراد "على امام" دے. او آيت: قيله يا رب تفسير دا دے چه آيا هغه خلق گمان كوي، چه مونږ ذ هغوي رازونه او سركوشي نۀ آورو، او نۀ د هغوي خبرے آورو. او ابن عباسؓ اووے. "و لولا ان يكون للنّاس اُمة واحدة" تفسير دا دے، كه دا خبره نه وے، چه ټول خلق به كافر شي، لو كافرو ذ پاره ذ چاندي چهت، ذ چاندي سيړهي او ذ چاندي تختونه به جوړ شوے وو. "مقرنين" معني طاقت لرونكي. "اسفونا" هغوي مونږ ناراض كړلو، "ومن يعش" او كوم سړے چه ړوند جوړيږي. او مجاهد اووے "افنضرب عنكم الذكر صفحا" يعني آيا مونږ به ذ نصيحت نه ډډه كوو، چه تاسو قرآن دروغ گنړے، نو آيا بيا به په تاسو ذ هغۀ عذاب نۀ وي. "و مضٰى مثل الاولين" ذ هغوي خلقو طريقه تيره شوه. "مقرنين" اوبښ، آس، قچر او خرونه تابع كونكي. "ينشأ في الحلية" ذ چا نشوونما چه زيورات كښې شوے وي، يعني جينكۍ چه تاسو هغوي ته ذ اللّٰه اولاد وائے. تاسو ولے حكم لږوے. "لَوْ شاء الرحمٰن ما عَبَدناهم" كه

مَا عَبَدْنَاهُمْ يَعْنُوْنَ الْاَوْثَانَ يَقُوْلُ اللّٰهُ تَعَالٰى مَا لَهُمْ بِذٰلِكَ مِنَ الْعِلْمِ الْاَوْثَانُ اِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ فِيْ عَقِبِهٖ وَلَدِهٖ مُقْتَرِنِيْنَ يَمْشُوْنَ مَعًا سَلَفًا قَوْمُ فِرْعَوْنَ سَلَفًا لِكُفَّارِ اُمَّةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ مَثَلًا عِبْرَةً يَصِدُّوْنَ يَضِجُّوْنَ مُبْرِمُوْنَ مُجْمِعُوْنَ اَوَّلُ الْعَابِدِيْنَ اَوَّلُ الْمُؤْمِنِيْنَ اِنَّنِيْ بَرَآءٌ مِّمَّا تَعْبُدُوْنَ الْعَرَبُ تَقُوْلُ نَحْنُ مِنْكَ الْبَرَآءُ وَالْغَلَاءُ وَالْوَاحِدُ وَالْاِثْنَانُ وَالْجَمِيْعُ مِنَ الْمُذَكَّرِ وَالْمُؤَنَّثِ يُقَالُ فِيْهِ بَرَآءٌ لِاَنَّهُ مَصْدَرٌ وَلَوْ قَالَ بَرِيْءٌ لَقِيْلَ فِي الْاِثْنَيْنِ بَرِيْئَانِ وَ فِي الْجَمِيْعِ بَرِيْئُوْنَ وَ قَرَاَ عَبْدُ اللّٰهِ اِنَّنِيْ بَرِيْءٌ بِالْيَآءِ وَالزُّخْرُفُ الذَّهَبُ مَلٰٓئِكَةٌ يَخْلُفُوْنَ يَخْلُفُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا.

الله غوښتي نو مونږ به ذ دے بتانو عبادت کولے. "هم" نه مراد بُتان دي. الله فرمائي "مالهم بذلک من علم" (هغوي ته ذ دے علم نشته) کښې "لهم" ضمير، او ثان ته راجع دے، يعني هغه بُتان نهٔ پوهيږي. "في عقبه" نه مراد دے خپل هلک "مقرنين" يوځائے ځي. "سلفا" نه مراد ذ محمد صلي الله عليه وسلّم ذ اُمت ذ کافرو نه مخکښې تير شوے ذ فرعون قوم دے، او "مثلا" نه مراد عبرت دے. "يصدون" چغے وهي. "مبرمون" اتفاق کونکي "اول العابدين" نه "اول المؤمنين" مراد دي. يعني ذ ټولونه مخکښې ايمان راوړونکي. "انّي براءٌ ممّا تعبدون" زهٔ ذ هغے نه بيزاره يم، ذ څهٔ چه تاسو عبادت کوئے. عرب "نحن منک البراء والخلاء" (مونږ تانه بيزاره او جدا يُو) وائي. واحد تثنيه، جمع، مذکر او مؤنث کښې "براء" استعماليږي، ځکه چه دا مصدر دے. او که "برئ" اووئيلے شي، نو تثنيه کښې به "بريئان" او جمع کښې "بريئون" وئيلے شي. و عبدالله "انني برئ" ياء سره قرات کړے دے. "زخرف" معني دي سرهٔ زر (سونا) "ملائکة يخلفون" معني دي، چه هغے فريښتے ذ يو بل خليفه وي.

بَابُ ٣٥٨: قَوْلِهٖ وَ نَادَوْا يَا مَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ الْاٰيَةَ.

باب ٣٥٨: آيت: وَ نَادَوْا يَا مَالِکُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّکَ: ذ الله تعالي قول، او هغه خلق به په چغه وائي، چه اے مالکه، پکار دي، چه ستا رب مونږ له مرګ راولي الخ.

٨٠٧: حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ عَمْرٍو عَنْ عَطَاءٍ

٨٠٧: حجاج بن منهال. سفيان بن عيينه. عمرو. عطاء. صفوان بن يعلي ذ خپل پلار نه روايت کوي، ذ هغهٔ بيان دے. ما ذ نبي صلي الله عله وسلّم نه په

عَنْ صَفْوَانَ بْنِ يَعْلَى عَنْ أَبِيهِ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ عَلَى الْمِنْبَرِ وَنَادَوْا يَا مَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ وَ قَالَ قَتَادَةُ مَثَلًا لِلْآخِرِيْنَ عِظَةً وَقَالَ غَيْرُهُ مُقْرِنِيْنَ ضَابِطِيْنَ يُقَالُ فُلَانٌ مُقْرِنٌ لِفُلَانٍ ضَابِطٌ لَهُ وَالْأَكْوَابُ الْأَبَارِيْقُ الَّتِيْ لَا خَرَاطِيْمَ لَهَا أَوَّلُ الْعَابِدِيْنَ أَيْ مَا كَانَ فَأَنَا أَوَّلُ الْآنِفِيْنَ وَهُمَا لُغَتَانِ رَجُلٌ عَابِدٌ وَّ عَبِدٌ وَقَرَأَ عَبْدُ اللّٰهِ وَ قَالَ الرَّسُوْلُ يَا رَبِّ وَ يُقَالُ أَوَّلُ الْعَابِدِيْنَ الْجَاحِدِيْنَ مِنْ عَبِدَ يَعْبَدُ وَ قَالَ قَتَادَةُ فِيْ أُمِّ الْكِتَابِ أَفَنَضْرِبُ عَنْكُمُ الذِّكْرَ صَفْحًا أَنْ كُنْتُمْ قَوْمًا مُسْرِفِيْنَ مُشْرِكِيْنَ وَاللّٰهِ لَوْ أَنَّ هٰذَا الْقُرْآنَ رُفِعَ حَيْثُ رَدَّهُ أَوَائِلُ هٰذِهِ الْأُمَّةِ لَهَلَكُوْا فَأَهْلَكْنَا أَشَدَّ مِنْهُمْ بَطْشًا وَّ مَضٰى مَثَلُ الْأَوَّلِيْنَ عُقُوْبَةُ الْأَوَّلِيْنَ جُزْءًا عِدْلًا.

منبر دا آیت: وَ نَادَوْا یَا مالکُ لیقضِ علینا ربک: واوریدلو. او قتاده اووے "مثلًا للاٰخرین" کښې مثل نه مراد نصیحت دے. او دَ دے نه علاوه نورو اووے' چه "مقرنین" نه مراد "ضابطین" (قبضه کونکے) دے' لکه چه وائي "فلان مقرن لفلان" یعني هغه قابو کونکے دے. او "اکواب" نه مراد لوټے دي' چه هغے کښې سُنت (سوخرت) نهٔ وي. "اول العابدین" نه مراد "ما کان" دے (ان نافیه دے) یعني دَ الله هیڅ اولاد نشته' زهٔ ورمبنے نفرت کونکے یم. دے کښې دوه لغت دي' لکه چه وائي "و رجل عابدو عبد" عبادت کونکے او نفرت کونکے سړے. او عبدالله دا شان اووے "و قال الرسول یا رب" او رسول اووے اے خما ربه' او دَ بعضے قول دے' چه "اول العابدین" نه مراد دے' ورومبني انکار کونکي. عَبِدَ يَعْبَدُ نه. او قتاده اووے چه "فِيْ أُمِّ الكتاب" نه مراد جمله کتاب دراصل کتاب دے. "افنضرب عنکم الذکر صفحا ان کنتم قوما مسرفین" کښې مسرفین نه مراد مشرکین دي. په خدائے چه که دا قرآن هغه وخت اوچت کړے شوے وے' کوم وخت چه دَ دے اُمت ابتدائي خلقو دَ دے نه انکار اوکړ' نو دا امت به هلاک شوے وے. "فاهلکنا اشد منهم بطشا و مضٰی مثل الاولین" کښې "مثل الاولین" نه مراد "عقوبة الاولین" (دَ ورومبنو خلقو انجام) دے. "جزءًا" نه مراد عِدلاً (هم پله) دے.

## سُوْرَةُ الدُّخَانُ

## دَ سورهٔ دُخان تفسیر

وَقَالَ مُجَاهِدٌ رَهْوًا طَرِيْقًا يَابِسًا عَلَى الْعٰلَمِيْنَ عَلٰى

او مجاهد اووے. "رهوا" نه مراد ده خشکه لاره. "علی العالمین" نه مراد هغه خلق دي' چه دَ هغوي مخکښې وو.

مَنْ بَيْنَ ظَهْرَيْهِ فَاعْتِلُوْهُ ادْفَعُوْهُ وَ زَوَّجْنَاهُمْ بِحُوْرٍ اَنْكَحْنَاهُمْ حُوْرًا عِيْنًا يُحَارُ فِيْهَا الطَّرْفُ تَرْجُمُوْنَ الْقَتْلُ وَ رَهْوًا سَاكِنًا وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ كَالْمُهْلِ اَسْوَدَ كَمُهْلِ الزَّيْتِ وَ قَالَ غَيْرُهُ تُبَّعٍ مُلُوْكُ الْيَمَنِ كُلُّ وَاحِدٍ مِّنْهُمْ يُسَمّٰى تُبَّعًا لِاَنَّهُ يَتْبَعُ صَاحِبَهُ وَالظِّلُّ يُسَمّٰى تُبَّعًا لِاَنَّهُ يَتْبَعُ الشَّمْسَ.

"فاعتلوه" هغه له دهکے ورکړه "و زوجناهم بحورعين" مونږ به ذ هغوي نکاح غټو سترګو واله حورو سره اوکړو، چه ذ هغوي ليدو سره به سترګے حيرت زده شي. "ترجمون" نه مراد قتل کول دي. "رهوا" په معني ذَ "ساکنا" ايسار (ولاړ) دے. او ابن عباسؓ اووے "کالمهل" نه مراد داسے تور چه ذَ تيلو ذَ خيري په شان وي. او نورو اووے، چه "تبع" نه مراد ملوک يمن (ذَ يمن بادشاهان) دي. هغوي کښ به ئے هر يو ته "تبع" وئيلے، ځکه چه هغه ذَ خپل ملګري نه پس راځي. او سوري (سايه) ته هم "تبع" وائي چه هغه ذَ نمر نه پس راځي.

بَابٌ ٣٥٩: قَوْلُهُ يَوْمَ تَاْتِي السَّمَآءُ بِدُخَانٍ مُّبِيْنٍ. قَالَ قَتَادَةُ فَارْتَقِبْ فَانْتَظِرْ.

باب ٣٥٩: آيت: يَوْمَ تَاْتِي السَّمَآءُ بِدُخَانٍ مُّبِيْنٍ. ذَ اللّٰه تعالىٰ قول، په کومه ورځ چه په آسمان ښکاره لوګے راشي. قتاده اووے. "فارتقب" نه مراد "فانتظر" (انتظار کوه) دے.

٨٠٨: حَدَّثَنَا عَبْدَانُ عَنْ اَبِيْ حَمْزَةَ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ مُسْلِمٍ عَنْ مَسْرُوْقٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ مَضٰى خَمْسٌ الدُّخَانُ وَالرُّوْمُ وَ الْقَمَرُ وَالْبَطْشَةُ وَاللِّزَامُ.

٨٠٨: عبدان. ابو حمزه. اعمش. مسروق. عبداللّٰه نه روايت کوي، ذَ هغهٔ بيان دے. پنځه خبرے تيرے شوے دي: (١) لوګے (قحط) (٢) ذَ اهل روم غلبه (٣) ذَ سپوږمۍ دوه ټکړے کيدل (٤) بطشه (د يوم بدر ګرفت)(٥) لزام (هلاکت).

بَابٌ ٣٦٠: قَوْلُهُ يَغْشَى النَّاسَ هٰذَا عَذَابٌ اَلِيْمٌ.

باب ٣٦٠: آيت: يَغْشَى النَّاسَ هٰذَا عَذَابٌ اَلِيْمٌ: ذَ اللّٰه تعالىٰ قول، په خلقو به خور شي دا دردناک عذاب دے.

٨٠٩: حَدَّثَنَا يَحْيٰى حَدَّثَنَا اَبُوْ مُعَاوِيَةَ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ مُسْلِمٍ عَنْ مَسْرُوْقٍ قَالَ قَالَ

٨٠٩: يحيي. ابو معاويه. اعمش. مسلم. مسروق. عبداللّٰه نه روايت کوي، ذَ هغهٔ بيان دے، دا صرف په دے سبب اوشو، چه قريشو کښ وخت ذَ نبي

عَبْدُ اللّٰهِ اِنَّمَا كَانَ هٰذَا لِاَنَّ قُرَيْشًا لَمَّا اسْتَعْصَوْا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعَا عَلَيْهِمْ بِسِنِيْنَ كَسِنِي يُوْسُفَ فَاَصَابَهُمْ قَحْطٌ وَّ جَهْدٌ حَتّٰى اَكَلُوا الْعِظَامَ فَجَعَلَ الرَّجُلُ يَنْظُرُ اِلَى السَّمَآءِ فَيَرٰى مَا بَيْنَهُ وَ بَيْنَهَا كَهَيْئَةِ الدُّخَانِ مِنَ الْجُهْدِ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَاْتِي السَّمَآءُ بِدُخَانٍ مُّبِيْنٍ يَّغْشَى النَّاسَ هٰذَا عَذَابٌ اَلِيْمٌ قَالَ فَاُتِيَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اسْتَسْقِ اللّٰهَ لِمُضَرَ فَاِنَّهَا قَدْ هَلَكَتْ قَالَ لِمُضَرَ اِنَّكَ لَجَرِيْءٌ فَاسْتَسْقٰى فَسُقُوْا فَنَزَلَتْ اِنَّكُمْ عَائِدُوْنَ فَلَمَّا اَصَابَتْهُمُ الرَّفَاهِيَةُ عَادُوْا اِلٰى حَالِهِمْ حِيْنَ اَصَابَتْهُمُ الرَّفَاهِيَةُ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرٰى اِنَّا مُنْتَقِمُوْنَ قَالَ يَعْنِيْ يَوْمَ بَدْرٍ.

صلي الله عليه وسلّم نافرماني اوكړه، نو حضور صلي الله عليه وسلّم ذ هغې خلقو په حق كښې ذ يوسف عليه السلام ذ قحط سالۍ په شان بددُعا اوكړه، نو هغه خلق قحط سالي او ذ لوږې تكليف كښې آخته شو، تردې چه هغې خلقو هډوكي خوړل شروع كړل. او حال دا شو، چه كوم سړي به آسمان طرف ته كتل، نو ذ هغهٔ او ذ آسمان مينځ كښې به ذ لوګي په شان په نظر راتلو (يعني پورته به ورته بس لوګے لوګے ښكاريدلو) نو الله تعالٰي دا آيت نازل كړلو، تهٔ ذ هغے ورځے انتظار كوه، چه آسمان خركند لوګي سره راشي، په خلقو به خور شي. دا دردناک عذاب دے ذ راوي بيان دے، څوک سړے ذ رسول الله صلي الله عليه وسلّم په خدمت كښې حاضر شو، او عرض ئے اوكه، يا رسول الله ذ الله نه ذ مضر په حق كښې ذ باران دُعا اوغواړے، ځكه چه هغوي تباه شو. حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، آيا ذ مضر په حق كښې، بيشكه تهٔ زړوَر ئې، حضور صلي الله عليه وسلّم ذ باران ذ پاره دُعا اوكړله، نو باران اوشه لو، په دے دا آيت نازل شولو، چه: انكم عائدون: بيشكه تاسو واپس كيدونكے ئې. بيا چه په هغوي خوشحالي راغله، نو هغه خلق خپل ورمبني حالت ته اوكرځيدل، نو الله پاک دا آيت نازل كړلو: يوم نبطش البطشة الكبرىٰ انا منتقمون: ذ راوي بيان دے، دے نه مراد جنګ بدر دے.

**باب ۱۳۶۱: قَوْلِهٖ رَبَّنَا اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ اِنَّا مُؤْمِنُوْنَ.**

**باب ۱۳۶۱:** آيت: رَبَّنَا اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ اِنَّا مُؤْمِنُوْنَ: ذ الله تعالٰي قول، اے خمونږ پروردګاره مونږ نه عذاب لرے كړے، بيشكه مونږ ايمان راوړونكے يُو.

۴۸۱۰: حَدَّثَنَا يَحْيٰى حَدَّثَنَا

۴۸۱۰: يحيي. وكيع. اعمش. ابوالضحي.

وَكِيعٌ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ اَبِي الضُّحٰى عَنْ مَسْرُوْقٍ قَالَ دَخَلْتُ عَلٰى عَبْدِ اللّٰهِ فَقَالَ اِنَّ مِنَ الْعِلْمِ اَنْ تَقُوْلَ لِمَا لَا تَعْلَمُ اَللّٰهُ اَعْلَمُ اِنَّ اللّٰهَ قَالَ لِنَبِيِّهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْ مَا اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ وَمَا اَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِيْنَ اِنَّ قُرَيْشًا لَمَّا غَلَبُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاسْتَعْصَوْا عَلَيْهِ قَالَ اَللّٰهُمَّ اَعِنِّيْ عَلَيْهِمْ بِسَبْعٍ كَسَبْعِ يُوْسُفَ فَاَخَذَتْهُمْ سَنَةٌ اَكَلُوْا فِيْهَا الْعِظَامَ وَالْمَيْتَةَ مِنَ الْجُهْدِ حَتّٰى جَعَلَ اَحَدُهُمْ يَرٰى مَا بَيْنَهٗ وَبَيْنَ السَّمَآءِ كَهَيْئَةِ الدُّخَانِ مِنَ الْجُوْعِ قَالُوْا رَبَّنَا اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ اِنَّا مُؤْمِنُوْنَ ○ فَقِيْلَ لَهٗ اِنْ كَشَفْنَا عَنْهُمْ عَادُوْا فَدَعَا رَبَّهٗ فَكَشَفَ عَنْهُمْ فَعَادُوْا فَانْتَقَمَ اللّٰهُ مِنْهُمْ يَوْمَ بَدْرٍ فَذٰلِكَ قَوْلُهٗ تَعَالٰى يَوْمَ تَاْتِي السَّمَآءُ بِدُخَانٍ مُّبِيْنٍ اِلٰى قَوْلِهٖ جَلَّ ذِكْرُهٗ اِنَّا مُنْتَقِمُوْنَ.

مسروق نه روايت کوي، ذ هغهٔ بيان دے، زهٔ عبدالله له ورغلم، نو هغهٔ اووے ذ علم خبره داده، چه ذ کوم څيز متعلق تاته علم نهٔ وي، نو تهٔ اووايه، چه الله بنهٔ پوهيږي. الله خپل نبي صلي الله عليه وسلّم ته اوفرمائيل، تهٔ ورته اووايه، چه زهٔ تاسونه ذ څهٔ اجر سوال نهٔ کوم، او نهٔ ذ خانه (خودساخته) خبرے کوم. قريشو چه ذ رسول الله صلي الله عليه وسلّم خبره اونهٔ منله. او سرکشي ئے اوکړله، نو حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، يا الله، ذ يوسف عليه السلام ذ قحط سالي په ذريعه ذ دوي خلاف خمونږ مدد اوکړے، نو هغه خلق قحط کښِ گرفتار شو. او لوږے نه ئے هډوکي او مُردارے ئے خوړلے، تردے چه ذ لوږے په سبب به سرِي ته ذ هغهٔ او آسمان مينځ کښِ بس لوگے لوگے په نظر راتلو. هغے خلقو اووے. اے خمونږ پروردگاره خمونږ نه عذاب لرے کړے، بيشکه مونږ ايمان راوړونکے يو. ددے په جواب کښِ اووئيلے شو، که مونږ ذ دوي نه عذاب لرے کړو، نو دا خلق به بيا هغسے شي. حضور صلي الله عليه وسلّم خپل پروردگار نه دُعا اوغوښتله، نو ذ هغوي نه عذاب لرے کړے شو. بيا هغه خلق په خپل زوړ حالت شو، نو الله تعالیٰ ذ هغوي نه جنگ بدر کښِ بدله واخسته. ذ الله قول "يوم تاتي السّماء بدخان مبين" نه دغه مراد دے.

## بَاب ۲۶۲: قَوْلِهٖ اَنّٰى لَهُمُ الذِّكْرٰى وَقَدْ جَآءَ هُمْ رَسُوْلٌ مُّبِيْنٌ اَلذِّكْرُ وَالذِّكْرٰى وَاحِدٌ.

باب ۲۶۲: آيت: اَنّٰى لَهُمُ الذِّكْرٰى وَقَدْ جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ مُّبِيْنٌ: ذ الله تعالیٰ قول، هغوي ذ پاره نصيحت کله مفيد دے، حالانکه هغوي ته رسول پرانستے بيان سره راغلے دے. "ذکر" او "ذکریٰ" يو معني دي.

۸۱۱: حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ

۸۱۱: سليمان بن حرب. جرير بن حازم.

حَرْبٍ حَدَّثَنَا جَرِيْرُ بْنُ حَازِمٍ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ اَبِي الضُّحٰى عَنْ مَسْرُوْقٍ قَالَ دَخَلْتُ عَلٰى عَبْدِ اللّٰهِ ثُمَّ قَالَ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا دَعَا قُرَيْشًا كَذَّبُوْهُ وَاسْتَعْصَوْا عَلَيْهِ فَقَالَ اللّٰهُمَّ اَعِنِّيْ عَلَيْهِمْ بِسَبْعٍ كَسَبْعِ يُوْسُفَ فَاَصَابَتْهُمْ سَنَةٌ حَصَّتْ يَعْنِيْ كُلَّ شَيْءٍ حَتّٰى كَانُوْا يَاْكُلُوْنَ الْمَيْتَةَ فَكَانَ يَقُوْمُ اَحَدُهُمْ فَكَانَ يَرٰى بَيْنَهُ وَبَيْنَ السَّمَآءِ مِثْلَ الدُّخَانِ مِنَ الْجَهْدِ وَالْجُوْعِ ثُمَّ قَرَاَ فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَاْتِي السَّمَآءُ بِدُخَانٍ مُّبِيْنٍ يَغْشَى النَّاسَ هٰذَا عَذَابٌ اَلِيْمٌ حَتّٰى بَلَغَ اِنَّا كَاشِفُوا الْعَذَابِ قَلِيْلًا اِنَّكُمْ عَآئِدُوْنَ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ اَفَيُكْشَفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ قَالَ وَالْبَطْشَةُ الْكُبْرٰى يَوْمَ بَدْرٍ.

اعمش. ابوالضحي. مسروق نه روایت کوي. ذ هغهٔ بیان دے، زهٔ عبدالله له ورغلم نو هغهٔ اووے. نبي صلي الله چه ذ قریشو په حق کښې بددعا اوکړله (هغوي حضور صلي الله علیه وسلم دروغجن ګڼړلے وو، او ذ حضورﷺ نافرماني ئے کړے وه) نو حضورﷺ اوفرمائیل، یا الله، د یوسف علیه السلام ذ قحط سالي په ذریعه ذ دے کافرو خلاف خمونږ مدد اوکړے، نو هغه خلق قحط سالي کښې آخته شو، او ټول څیزونه ختم شو، تردے چه هغوي مُردارے خوړلے، که یو سړے به اودریدلو، نو ذ لوږے او تکلیف په سبب به ذ هغه او آسمان په مینځ کښې بس لوګے لوګے په نظر راتلو. بیائے دا آیت اولوست: ذ هغې ورځے انتظار کوه چه اسمان څرګند لوګے ظاهر کړي. په خلقو به خور شي دا دردناک عذاب دے، تردے چه دے آیت ته راورسیدلو: بیشکه مونږ به څو ورځے د پاره عذاب لرے کړو، خو تاسو به بیا خپل زوړ حالت ته راوګرځئ. عبدالله اووے، آیا د قیامت په ورځ به د هغوي نه عذاب لرے کړے شي. او وئیلے چه د "بطشة الکبریٰ" نه مراد یوم بدر دے.

باب ۳۶۳: قَوْلُهُ ثُمَّ تَوَلَّوْا عَنْهُ وَ قَالُوْا مُعَلَّمٌ مَّجْنُوْنٌ.

باب ۳۶۳: آیت: ثُمَّ تَوَلَّوْا عَنْهُ وَ قَالُوْا مُعَلَّمٌ مَّجْنُوْنٌ: ذ الله تعالٰي قول، دے خلقو دین نه مخ واړولو. او وئیلے، چه تعلیم ورکړے شوے لیونے دے.

۴۸۱۲: حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ خَالِدٍ اَخْبَرَنَا مُحَمَّدٌ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ سُلَيْمَانَ وَ مَنْصُوْرٍ عَنْ اَبِي الضُّحٰى عَنْ مَسْرُوْقٍ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ اِنَّ اللّٰهَ بَعَثَ مُحَمَّدًا

۴۸۱۲: بشر بن خالد. محمد. شعبه. سلیمان او منصور. ابوالضحي. مسروق نه روایت کوي عبدالله اووے الله تعالي محمد صلي الله علیه وسلّم مبعوث کړلو، او وئیلے، ته ورته اووایه چه زهٔ ستاسو نه څهٔ اَجر نهٔ غواړم او نه ذ خانه خبرے جوړوم. رسول الله صلي الله

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ قَالَ قُلْ مَا اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ وَّمَا اَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِيْنَ فَاِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا رَاٰى قُرَيْشًا اسْتَعْصَوْا عَلَيْهِ فَقَالَ اللّٰهُمَّ اَعِنِّىْ عَلَيْهِمْ بِسَبْعٍ كَسَبْعِ يُوْسُفَ فَاَخَذَتْهُمُ السَّنَةُ حَتّٰى حَصَّتْ كُلَّ شَىْءٍ حَتّٰى اَكَلُوا الْعِظَامَ وَالْجُلُوْدَ فَقَالَ اَحَدُهُمْ حَتّٰى اَكَلُوا الْجُلُوْدَ وَالْمَيْتَةَ وَ جَعَلَ يَخْرُجُ مِنَ الْاَرْضِ كَهَيْئَةِ الدُّخَانِ فَاَتَاهُ اَبُوْسُفْيَانَ فَقَالَ اَىْ مُحَمَّدُ اِنَّ قَوْمَكَ قَدْ هَلَكُوْا فَادْعُ اللّٰهَ اَنْ يَّكْشِفَ عَنْهُمْ فَدَعَا ثُمَّ قَالَ تَعُوْدُوْا بَعْدَ هٰذَا فِىْ حَدِيْثِ مَنْصُوْرٍ ثُمَّ قَرَاَ فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَاْتِى السَّمَآءُ بِدُخَانٍ مُّبِيْنٍ اِلٰى عَآئِدُوْنَ اَفَيُكْشَفُ عَذَابُ الْاٰخِرَةِ فَقَدْ مَضَى الدُّخَانُ وَالْبَطْشَةُ وَاللِّزَامُ وَقَالَ اَحَدُهُمُ الْقَمَرُ وَ قَالَ الْاٰخَرُ الرُّوْمُ.

عليه وسلّم چه اوليدل، چه قريشو نافرماني او کړه، نو حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل دَ يوسف عليه السلام دَ قحط سالئ په ذريعه دَ دے کافرو خلاف څمونږ مدد او کړے، نو هغه خلق قحط سالي کښې کيوتل، ترديے چه ټول څيزونه ختم شو، او نوبت دے ته اورسيد چه هډوکي او څرمنے خوړل ئے شروع کړل. هغوي نه يو سړي بيان او کۀ، دے پورے، چه څرمنے او مردارے به ئے خوړلے. او دَ زمکے نه لوګے شان ختل شروع شو، نو حضور صلي الله عليه وسلم له ابوسفيان راغے، او عرض ئے او کۀ، اے محمد (صلي اللّٰه عليه وسلّم) ستا قوم هلاک شولو. اللّٰه نه دُعا اوغواړه چه دَ هغوي نه مصيبت لرے کړي، حضور صلي الله عليه وسلّم دُعا او کړله. بيا حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل، دا خلق به بيا په خپل زوړ حالت شي. دَ منصور حديث کښې، چه بيا عبدالله بن مسعود آيت: فارتقب يوم تاتى السماء بدخان مبين. عائدون پورے تلاوت کۀ. آيا دَ آخرت عذاب به لرے کړے شي. لوګے، بطشه (يوم بدر) لزام (دَ بدر دَ ورځے هلاکت) تير شولو. بعضو دَ شق قمر تذکره او کړه. او چا دَ اهل روم فتح.

## بَابٌ ٣٦٣: قَوْلِهٖ يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرٰى اِنَّا مُنْتَقِمُوْنَ.

## باب ٣٦٣: آيت: يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ الْكُبْرٰى اِنَّا مُنْتَقِمُوْنَ: دَ اللّٰه تعالي قول، په کومه ورځ چه مونږ لوئے نيول او کړو، بيشکه مونږ بدله اخستونکے يُو.

٣٨١٣: حَدَّثَنَا يَحْيٰى حَدَّثَنَا وَكِيْعٌ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ مُّسْلِمٍ عَنْ مَّسْرُوْقٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ خَمْسٌ قَدْ مَضَيْنَ اللِّزَامُ وَالرُّوْمُ وَالْبَطْشَةُ وَالْقَمَرُ

٣٨١٣: يحيٰي. وکيع. اعمش. مسلم. مسروق. حضرت عبداللّٰه نه روايت کوي، هغۀ اووے، پنځه څيزونه تير شو، يعني لزام (هلاکت) دَ اهل روم فتح بطشه (ګرفت دَ بدر دَ ورځے) شق القمر (دَ سپوږمۍ

وَالدُّخَانُ.

چاز دل) لوګے.

# سُوْرَةُ الْجَاثِيَةِ

# دَ سورهٔ جاثيه تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

مُسْتَوْفِزِيْنَ عَلَى الرُّكَبِ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ نَسْتَنْسِخُ نَكْتُبُ نَنْسَاكُمْ نَتْرُكُكُمْ.

بسم الله الرحمن الرحيم

"جاثيه" په ګنډو ناست. او مجاهد اووے. "نستنسخ" معني دي مونږ ليکو "ننساکم" مونږ به تاسو پريږدو، هير کړو.

## باب ۳٦۵: قَوْلِهٖ وَمَا يُهْلِكُنَا اِلَّا الدَّهْرُ.

## باب ۳٦۵: آيت: وَمَا يُهْلِكُنَا اِلَّا الدَّهْرُ: دَ الله تعالي قول، او مونږ زمانه هلاک کړي.

۴۸۱۴: حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللّٰهُ عَزَّ وَ جَلَّ يُؤْذِيْنِي ابْنُ اٰدَمَ يَسُبُّ الدَّهْرَ وَ اَنَا الدَّهْرُ بِيَدِيَ الْاَمْرُ اُقَلِّبُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ.

۴۸۱۴: حميدي. سفيان. زهري. سعيد بن مسيب. حضرت ابوهريرة نه روايت کوي، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل، الله تعالي فرمائي، ابن آدم ماته تکليف رسوي، زمانے ته کنځل کوي. حالانکه زمانه خو زهٔ يم، ټول اُمور خما په قبضه قدرت کښې دي او زهٔ شپے او ورځ له ګردش ورکوم.

# سُوْرَةُ الْاَحْقَافِ

# دَ سورهٔ احقاف تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ قَالَ مُجَاهِدٌ تُفِيْضُوْنَ تَقُوْلُوْنَ وَ قَالَ بَعْضُهُمْ اَثَرَةٍ وَّ اُثْرَةٍ وَّ اَثَارَةٍ بَقِيَّةُ عِلْمٍ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ لَسْتُ بِاَوَّلِ الرُّسُلِ وَ قَالَ غَيْرُهٗ اَرَءَيْتُمْ هٰذِهِ الْاَلِفُ اِنَّمَا هِيَ تَوَعُّدٌ اِنْ صَحَّ مَا تَدَّعُوْنَ لَا يَسْتَحِقُّ اَنْ يُعْبَدَ

بسم الله الرحمن الرحيم

او مجاهد اووے "تفيضون" په معني د "تقولون" (تاسو وائے) او بعضو اووے "اَثَرَةٍ" "اُثْرَة" او "اَثَارَةٍ" نه مراد بقيه علم دے. او ابن عباسؓ اووے چه "ما کنت بدعا من الرُسُل" نه مراد دا دے، چه زهٔ د ټولو نه وړمبے رسول نه يم، او نورو اووے، چه "اَرأيتم" کښې همزه د استفهام وعيد په طور دے، يعني څهٔ چه تاسو وائے، که هغه صحيح وي، نو هغه د عبادت کولو مستحق نه دے. او

وَ لَيْسَ قَوْلُهُ أَرَءَيْتُمْ بِرُؤْيَةِ الْعَيْنِ إِنَّمَا هُوَ أَتَعْلَمُونَ أَبَلَغَكُمْ أَنَّمَا تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ خَلَقُوا شَيْئًا.

"ارايتم" نه ذ سترګې ليدل مقصود نهٔ دي، بلكه ذ دے نه مراد علم دے، يعني آيا تاسو پوهيږئ، آيا تاسو ته خبر راغلے دے چه ذ الله نه سوا، چه تاسو څوک بلئ، هغوي څهٔ څيز پيدا كړے دے.

باب ۳۶۶: قَوْلِهِ وَالَّذِي قَالَ لِوَالِدَيْهِ أُفٍّ لَّكُمَا أَتَعِدَانِنِي أَنْ أُخْرَجَ وَقَدْ خَلَتِ الْقُرُونُ مِنْ قَبْلِي وَهُمَا يَسْتَغِيثَانِ اللَّهَ وَيْلَكَ آمِنْ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ فَيَقُولُ مَا هَٰذَا إِلَّا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ.

باب ۳۶۶: آيت: وَالَّذِي قَالَ لِوَالِدَيْهِ أُفٍّ لَّكُمَا الخ: او چا چه خپل مور پلار ته اووے، ستاسو ذ پاره اُف دے، آيا تاسو ما ذ دے خبرے نه ويروئے چه زهٔ به دوباره راوښكلے شم، حالانكه څما نه مخكښې ډير قومونه تير شو. او هغوي ذ هغهٔ ذ دے كلماتو نه پناه غوښتله، آخر آيت پورے.

۸۱۵: حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَعِيلَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ أَبِي بِشْرٍ عَنْ يُوسُفَ بْنِ مَاهَكَ قَالَ كَانَ مَرْوَانُ عَلَى الْحِجَازِ اسْتَعْمَلَهُ مُعَاوِيَةُ فَخَطَبَ فَجَعَلَ يَذْكُرُ يَزِيدَ بْنَ مُعَاوِيَةَ لِكَيْ يُبَايَعَ لَهُ بَعْدَ أَبِيهِ فَقَالَ لَهُ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ شَيْئًا فَقَالَ خُذُوهُ فَدَخَلَ بَيْتَ عَائِشَةَ فَلَمْ يَقْدِرُوا فَقَالَ مَرْوَانُ إِنَّ هَٰذَا الَّذِي أَنْزَلَ اللَّهُ فِيهِ وَالَّذِي قَالَ لِوَالِدَيْهِ أُفٍّ لَّكُمَا أَتَعِدَانِنِي فَقَالَتْ عَائِشَةُ مِنْ وَرَاءِ الْحِجَابِ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ فِينَا شَيْئًا مِنَ الْقُرْآنِ إِلَّا أَنَّ اللَّهَ أَنْزَلَ عُذْرِي.

۸۱۵: موسي بن اسمٰعيل. ابو عوانه. ابو بشر. يوسف بن مالک نه روايت كوي، ذ هغهٔ بيان دے، مروان ذ حجاز حاكم وو، چه حضرت معاويهؓ مقرر كړے وو. هغهٔ خطبه اولوسته، نو ذ يزيد بن معاويه ذكر ئے شروع كهٔ، چه ذ پلار نه پس ذ هغهٔ بيعت اوكړے شي. نو عبدالرحمٰن بن ابي بكر هغهٔ ته څهٔ اووے، مروان اُوے چه راوے نيسئ. نو هغهٔ د بي بي عائشے كورته ننوتو هغوئ پرے قدرت بيانه موندو نو مروان اووے، دا هغه سړے دے، چه ذ هغهٔ باره كښې الله تعالٰي دا آيت نازل كړلو: والّذى قال لوالديه اف لكما الخ: نو بي بي عائشےؓ ذ پردے ذ شا، نه جواب وركړلو، چه الله تعالٰي څمونږ متعلق هيڅ آيت نهٔ دے نازل كړے، بغير ذ دے نه چه اللّٰه تعالٰي څما ذ برأت (بري كيدو) په حقله آيتونه نازل كړے دي.

باب ۳۶۷: قَوْلِهِ فَلَمَّا رَأَوْهُ عَارِضًا مُّسْتَقْبِلَ أَوْدِيَتِهِمْ قَالُوا هَٰذَا عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا بَلْ هُوَ مَا اسْتَعْجَلْتُمْ

باب ۳۶۷: آيت: فَلَمَّا رَأَوْهُ عَارِضًا مُّسْتَقْبِلَ أَوْدِيَتِهِمْ قَالُوا هَٰذَا عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا بَلْ هُوَ مَا اسْتَعْجَلْتُم بِهِ رِيحٌ فِيهَا عَذَابٌ

بِهٖ رِيْحٌ فِيْهَا عَذَابٌ اَلِيْمٌ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ عَارِضٌ السَّحَابُ.

اَلِيْمٌ: ابن عباسؓ اووئي چه "عارض" نه مراد وريځ ده.

٤٨١٦: حَدَّثَنَا اَحْمَدُ حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ اَخْبَرَنَا عَمْرٌو اَنَّ اَبَا النَّضْرِ حَدَّثَهٗ عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ مَارَاَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَاحِكًا حَتّٰى اَرٰى مِنْهُ لَهَوَاتِهٖ اِنَّمَا كَانَ يَتَبَسَّمُ قَالَتْ وَكَانَ اِذَا رَاٰى غَيْمًا اَوْ رِيْحًا عُرِفَ فِيْ وَجْهِهٖ قَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ النَّاسَ اِذَا رَاَوُا الْغَيْمَ فَرِحُوْا رِجَآءَ اَنْ يَّكُوْنَ فِيْهِ الْمَطَرُ وَاَرَاكَ اِذَا رَاَيْتَهٗ عُرِفَ فِيْ وَجْهِكَ الْكَرَاهِيَةُ فَقَالَ يَا عَائِشَةُ مَا يُؤْمِنِّيْ اَنْ يَّكُوْنَ فِيْهِ عَذَابٌ عُذِّبَ قَوْمٌ بِالرِّيْحِ وَقَدْ رَاٰى قَوْمٌ الْعَذَابَ فَقَالُوْا هٰذَا عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا.

٤٨١٦: احمد. ابن وهب. عمرو. ابوالنضر. سليمان بن يسار بي بي عائشےؓ د نبي صلي الله عليه وسلّم تپبر نه روايت كوي، هغې اووے، ما رسول الله صلي الله عليه وسلّم په داسے خندا نه دے نيدلے، چه هغے سره حلق بنكاره شي، حضور صلي الله عليه وسلّم به صرف مُسكے كيدلو، د بي بي عائشےؓ بيان دے. كله چه به حضور صلي الله عليه وسلّم هوا، يا وريخ اوليده، نو دَ حضور صلي الله عليه وسلّم دَ مخ مبارك نه به فكر ظاهريدلو، هغې عرض اوكه، يا رسول الله، خلق چه وريخ اوويني، نو په دے اُميد خوشحاله شي، چه شايد دے كښې باران وي او زه تاسو وينم، چه ستاسو د مخ مبارك نه دَ ناگواري آثار بنكاره كيږي. حضور صلي الله عليه وسلّم ورته اوفرمائيل، ماته د دے خبرے نه اطمينان نهٔ وي كه دے كښې عذاب وي، كوم څيز ما، دے كښې د عذاب دَ طرف نه مطمئن كولے شي. يو قوم ته دَ هوا (سيلي) په ذريعه عذاب وركړے شو. يو جماعت عذاب اوليدلو، او وئيل ئې، چه دا، وريځ ده، چه په مونږ به باران اُووروي.

## اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا

## دَ سُورۂ محمد صلى الله عليه وسلم تفسير (اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَوْزَارَهَا اٰثَامَهَا حَتّٰى لَا يَبْقٰى اِلَّا مُسْلِمٌ عَرَّفَهَا بَيَّنَهَا وَقَالَ مُجَاهِدٌ مَوْلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

"اوزارها" دَ هغوي گناه دے پورے، ترديے چه سوا دَ مسلم نه به هيڅوك باقي پاتے نشي. "عرفها" دا ئے بيان كړے دے. او مجاهد اووے چه "مولى الذين امنوا"

وَلُمُّهُمْ عَزْمَ الْأَمْرِ جَدَّ الْأَمْرُ فَلَا تَهِنُوا لَا تَضْعُفُوا وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ اَضْغَانَهُمْ حَسَدَهُمْ آسِنٍ مُتَغَيِّرٍ.

نه مراد د هغوی ولي دي. "عزم الامر" بخپل ارادې واله. "فلا تهنوا" تاسو کمزور او سست کيږئ مه. او ابن عباسؓ اووې "اضغانهم" نه مراد د هغوي حسد دې. "آسن" په معني د بد ليدونکي.

## باب ۳۶۸: قَوْلِهِ وَ تُقَطِّعُوا اَرْحَامَكُمْ.

باب ۳۶۸: آيت: و تقطعوا ارحامكم: د الله تعالى قول، او تاسو خپلې رشتې پريکړې.

۸۱۷: حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ مَخْلَدٍ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ قَالَ حَدَّثَنِيْ مُعَاوِيَةُ بْنُ اَبِيْ مُزَرِّدٍ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَلَقَ اللّٰهُ الْخَلْقَ فَلَمَّا فَرَغَ مِنْهُ قَامَتِ الرَّحِمُ فَاَخَذَتْ بِحَقْوِ الرَّحْمٰنِ فَقَالَ لَهُ مَهْ قَالَتْ هٰذَا مَقَامُ الْعَائِذِ بِكَ مِنَ الْقَطِيْعَةِ قَالَ اَلَا تَرْضَيْنَ اَنْ اَصِلَ مَنْ وَصَلَكِ وَ اَقْطَعَ مَنْ قَطَعَكِ قَالَتْ بَلٰى يَا رَبِّ قَالَ فَذَاكِ قَالَ اَبُوْ هُرَيْرَةَؓ اِقْرَءُوْا اِنْ شِئْتُمْ فَهَلْ عَسَيْتُمْ اِنْ تَوَلَّيْتُمْ اَنْ تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ وَ تُقَطِّعُوْا اَرْحَامَكُمْ.

۸۱۷: خالد بن مخلد. سليمان. معاويه بن ابي مزرد. سعيد بن يسار. ابوهريرهؓ نبي صلي الله عليه وسلم نه روايت کوي، حضور صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل، الله تعالي مخلوق پيدا کړلو، چه ددې نه فارغ شو، نو رحم اودريدلو، او د الله تعالي لمن ئې اونيوله. الله تعالي ورته اوفرمائيل صبر شه، هغه اووې، آيا دا د دې مقام دې، چه ما پريکړي او ستا پناه کښې راشي. الله تعالي اوفرمائيل، آيا ته په دې خبرد راضي نه ئې، چه زه هغې چاسره يوځائې شم، چه تاسره جوړ راولي، او د هغې چانه جدا شم، چه تاسره شلاؤن اوکړي. هغه (رحم) عرض اوکه. او، پروردګاره ولې نه. الله تعالي ورته اوفرمائيل، تاسره به داسې کيږي. ابوهريرهؓ اووې، که تاسو غواړئ، نو دا آيت اولولئ: فهل عسيتم ان توليتم ان تفسدوا في الارض و تقطعوا ارحامكم.

ف: رحم: رشته داري.

۸۱۸: حَدَّثَنَا اِبْرٰهِيْمُ بْنُ حَمْزَةَ حَدَّثَنَا حَاتِمٌ عَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ حَدَّثَنِيْ عَمِّيْ اَبُو الْحُبَابِ سَعِيْدُ بْنُ يَسَارٍ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَؓ بِهٰذَا ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

۸۱۸: ابراهيم بن حمزه. حاتم. معاويه. ابوالحباب. سعيد بن يسار. حضرت ابوهريرهؓ نه دا حديث روايت کوي، هغې کښې دا مذکور دي. رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل، که تاسو غواړئ، نو دا آيت اولولئ: فهل عسيتم:

اقْرَءُوا اِنْ شِئْتُمْ فَهَلْ عَسَيْتُمْ.

آخر پورے.

۴۸۱۹: حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ مُحَمَّدٍ اَخْبَرَنَا عَبْدُ اللّٰهِ اَخْبَرَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ اَبِي الْمُزَرِّدِ بِهٰذَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاقْرَءُوْا اِنْ شِئْتُمْ فَهَلْ عَسَيْتُمْ.

۴۸۱۹: بشر بن محمد. عبدالله. معاويه بن ابي المزرد نه دا حديث روايت كوي. رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل: كه تاسو غواړئے، نو آيت: فهل عسيتم: آخر پورے اولولئے.

# سُوْرَةُ الْفَتْحِ

# دَ سُورۀ فتح تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قَالَ مُجَاهِدٌ بُوْرًا هَالِكِيْنَ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ سِيْمَاهُمْ فِيْ وُجُوْهِهِمْ السَّحْنَةُ وَ قَالَ مَنْصُوْرٌ عَنْ مُجَاهِدٍ التَّوَاضُعُ شَطْأَهُ فِرَاخَهُ فَاسْتَغْلَظَ سُوْقِهِ السَّاقُ حَامِلَةُ الشَّجَرِ وَ يُقَالُ دَآئِرَةُ السَّوْءِ كَقَوْلِكَ رَجُلُ السَّوْءِ وَ دَائِرَةُ السَّوْءِ الْعَذَابُ تُعَزِّرُوْهُ تَنْصُرُوْهُ شَطْأَهُ شَطْأُ السُّنْبُلِ تُنْبِتُ الْحَبَّةُ عَشْرًا اَوْ ثَمَانِيًا وَ سَبْعًا فَيَقْوٰى بَعْضُهُ بِبَعْضٍ فَذَاكَ قَوْلُهُ تَعَالٰى فَاٰزَرَهُ قَوَّاهُ وَلَوْ كَانَتْ وَاحِدَةً لَمْ تَقُمْ عَلٰى سَاقٍ وَهُوَ مَثَلٌ ضَرَبَ اللّٰهُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذْ خَرَجَ وَحْدَهُ ثُمَّ قَوَّاهُ بِاَصْحَابِهِ كَمَا قَوَّى الْحَبَّةَ بِمَا يَنْبُتُ مِنْهَا.

او مجاهد اووے، چه "سيماهم في وجوههم" كښې "سيما" نه مراد ذ مخ نرمي او هيئت دے. او منصور په واسطه ذ مجاهد نقل كړے دے، چه د دے نه مراد تواضع ده. "شطاه" خپله تيغه "فاستغلط" غټه شوه. "سوق" ذ ساق جمع يعني بناخ، چه اونه اوچتونكے وي. او "دائرة السوء" د "رجل السوء" په شان دے. يعني خراب كردش. "دائرة السوء" نه مراد عذاب دے. "تعزروه" تاسو ذ هغۀ مدد كوئے. "شطاه" وږے چه يوے دانے نه لس، اته يا اوه وړي كيږي، چه يو بل ته تقويت رسوي. ذ الله تعالي ذ دے قول نه دا مراد دے، چه "آزره" يعني هغے ته ئے تقويت اورسوو. او كه هغه يو، وے نو په شاخ به قائم نه شو پاتے كيدے. د الله د نبي صلي الله عليه وسلم ذ پاره ذ مثال په طور بيان فرمائيلے دے، ځكه چه حضور صلي الله عليه وسلم يوازے اووتلو، بيا ذ اصحابو په ذريعه ورته تقويت اورسيدلو، څنګه چه يوے دانے ته ذ دے په ذريعه قوت رسوي، چه ذ دے نه نور كيږي.

باب ۳۶۹: قَوْلِهِ اِنَّا فَتَحْنَا لَكَ

باب ۳۶۹: آيت: اِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِيْنًا: ذ

فَتْحًا مُّبِينًا.

اللّٰه صلي قول "موږ تاله ښكاره فتحه درکړې".

۴۸۲۰: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَسِيرُ فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ وَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ يَسِيرُ مَعَهُ لَيْلًا فَسَأَلَهُ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ عَنْ شَيْءٍ فَلَمْ يُجِبْهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ سَأَلَهُ فَلَمْ يُجِبْهُ ثُمَّ سَأَلَهُ فَلَمْ يُجِبْهُ فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ ثَكِلَتْكَ أُمُّ عُمَرَ نَزَرْتَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ كُلُّ ذَلِكَ لَا يُجِيبُكَ قَالَ عُمَرُ فَحَرَّكْتُ بَعِيرِي ثُمَّ تَقَدَّمْتُ أَمَامَ النَّاسِ وَ خَشِيتُ أَنْ يُنْزَلَ فِيَّ الْقُرْآنُ فَمَا نَشِبْتُ أَنْ سَمِعْتُ صَارِخًا يَصْرُخُ بِي فَقُلْتُ لَقَدْ خَشِيتُ أَنْ يَكُونَ نَزَلَ فِيَّ قُرْآنٌ فَجِئْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَقَالَ لَقَدْ أُنْزِلَتْ عَلَيَّ اللَّيْلَةَ سُورَةٌ لَهِيَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ ثُمَّ قَرَأَ إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا.

۴۸۲۰: عبدالله بن مسلمه. زيد بن اسلم. ذ خپل پلار نه روايت کوي، رسول الله صلي الله عليه وسلم په سفر کښې روان وو، او حضرت عمر بن خطاب هم ورسره وو. ذ شپې وخت وو، حضرت عمرؓ بن خطاب ذ حضور صلي الله عليه وسلم نه ذ څه څيز متعلق تپوس اوکړ، رسول الله صلي الله عليه وسلم جواب ورنهٔ کړلو. عمرؓ اووې، ذ عمرؓ مور دې ذ اولاد نه محرومه شي، تا ذ رسول الله صلي الله عليه وسلم نه درې ځله تپوس اوکړ، حضور صلي الله عليه وسلم ستا ذ خبرې جواب اونهٔ کړ. ذ حضرت عمرؓ بيان دې، ما خپل اوښ روان کړو، او ذ خلقو نه مخکښې شوم. او ما سره انديښنه شوه، چه چرته خما متعلق ذ قرآن څهٔ آيت نازل نشي، اوس لا لږ ساعت هم نهٔ وو تير شوې، چه ما ذ يو آواز کونکي آواز واوريدلو، ماته ئې آواز کولو. ماسره ويره شوه، چرته خما متعلق قرآن نازل شوې نهٔ وي. زهٔ ذ رسول الله صلي الله عليه وسلم خدمت کښې حاضر شوم، ما حضورؐ ته سلام اوکړ، حضورؐ اوفرمائيل نن شپه په ما يو سورت نازل شو، چه ماته ذ هغې تولو څيزونو نه محبوب دې، چه په هغې نمر راخيژي. بيا حضورؐ آيت: انا فتحنا لک الخ: اولوست.

۴۸۲۱: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ سَمِعْتُ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا

۴۸۲۱: محمد بن بشار. غندر. شعبه. قتاده. حضرت انسؓ نه روايت کوي، هغهٔ اووې، انا فتحنا لک فتحا مبينا: نه مراد

مُبِهِمًا قَالَ الْحُدَيْبِيَّةُ.

صلح حديبيه ده.

۸۲۲: حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرٰهِيمَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ قُرَّةَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ قَرَءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ سُوْرَةَ الْفَتْحِ فَرَجَعَ فِيْهَا قَالَ مُعَاوِيَةُ لَوْ شِئْتُ اَنْ اَحْكِيَ لَكُمْ قِرَآءَةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَفَعَلْتُ.

۸۲۲: مسلم بن ابراهيم. شعبه. معاويه بن قره. عبدالله بن مغفل نه روايت كوي. ذ هغه بيان دے، نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم ذ مكے ذ فتح په ورځ سورة فتح اولوست، او خوش آوازي سره نے اولوست. ذ معاويه بيان دے، كه تاسو غواړئے، نو زۀ به تاسو ته ذ حضورﷺ ذ قرات په شان واوروم.

باب ۳۷۰: قَوْلِهٖ لِيَغْفِرَ لَكَ اللّٰهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَاَخَّرَ وَ يُتِمَّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكَ وَ يَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُسْتَقِيْمًا.

باب ۳۷۰: آيت: لِيَغْفِرَ لَكَ اللّٰهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَاَخَّرَ الخ: ذ اللّٰه تعالىٰ قول، چه اللّٰه تعالىٰ ستا راتلونكي او ورستني ګناه اوبښي، او خپل نعمت په تا پوره كړي، او تاته ذ نيغے لارے هدايت اوكړي.

۸۲۳: حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ الْفَضْلِ اَخْبَرَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ حَدَّثَنَا زِيَادٌ اَنَّهٗ سَمِعَ الْمُغِيْرَةَ يَقُوْلُ قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى تَوَرَّمَتْ قَدَمَاهُ فَقِيْلَ لَهٗ غَفَرَ اللّٰهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَاَخَّرَ قَالَ اَفَلَا اَكُوْنَ عَبْدًا شَكُوْرًا.

۸۲۳: صدقه بن فضل. ابن عيينه. زياد. مغيره نه روايت كوي، ذ هغه نه ئے بيان واوريدلو، چه نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم به ذ شپے دومره قيام كولو، چه دواړه پښے به ئے اوپړسيدے. چا حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ته اووے، اللّٰه تعالىٰ ستاسو مخكښ ورستو ګناهونه معاف كړے دي. حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ورته اوفرمائيل ايا زۀ دے شكر ګزار بنده جوړ نشم (يعني هر كله چه ستاسو ګناهونه معاف دي نو بيا دومره زيات عبادت ولے كوئے) حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ورته اوفرمائيل، چه ګناهونه راته معاف دي، نو بيا خو ماله زيات شكر ګزار يعني عبادت ګزار كيدل په كار دي).

۸۲۴: حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيْزِ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يَحْيٰى

۸۲۴: حسن بن عبدالعزيز. عبدالله بن يحيٰى. حيوة. ابوالاسود. عروه بي بي عائشےؓ نه روايت كوي،

اَخْبَرَنَا حَيْوَةُ عَنْ اَبِى الْاَسْوَدِ سَمِعَ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ اَنَّ نَبِىَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُوْمُ مِنَ اللَّيْلِ حَتّٰى تَتَفَطَّرَ قَدَمَاهُ فَقَالَتْ عَائِشَةُ لِمَ تَصْنَعُ هٰذَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَقَدْ غَفَرَ اللّٰهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَاَخَّرَ قَالَ اَفَلَا اُحِبُّ اَنْ اَكُوْنَ عَبْدًا شَكُوْرًا فَلَمَّا كَثُرَ لَحْمُهُ صَلّٰى جَالِسًا فَاِذَا اَرَادَ اَنْ يَّرْكَعَ قَامَ فَقَرَاَ ثُمَّ رَكَعَ.

حضور صلي الله علیه وسلّم به د شپې دومره (عبادت د پاره) اودریدلو چه پښې مبارکې به ئې وچاؤدې. بي بي عائشې ورته عرض او کړ، یا رسول الله، تاسو دومره تکلیف ولې کوئې، حالانکه الله تعالي ستاسو مخکني او ورستني ګناهونه معاف کړې دي. حضور ورته اوفرمائیل، آیا زهٔ دې دا خوښه نه کړم، چه شکر ګزار بنده دې جوړ شم. بیا چه د حضور جسم کښې غوښه زیاته شوه، نو حضور به (د شپې) په ناسته مونځ کولو. او د رکوع اراده چه به ئې کوله، نو په ولاړه به ئې څهٔ قدرې قرأت کولو. بیا به ئې رکوع کوله.

## بَاب ۱۷۳: قَوْلِهِ اِنَّا اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّ مُبَشِّرًا وَّ نَذِيْرًا.

**باب ۱۷۳:** آیت: اِنَّا اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّ مُبَشِّرًا وَ نَذِيْرًا: د الله تعالي قول، بیشکه مونږ تهٔ شاهد، مبشر او نذیر لیږلې ئې.

**۸۲۵:** حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيْزِ بْنُ اَبِىْ سَلَمَةَ عَنْ هِلَالِ بْنِ اَبِىْ هِلَالٍ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ اَنَّ هٰذِهِ الْاٰيَةَ الَّتِىْ فِى الْقُرْاٰنِ يٰاَيُّهَا النَّبِىُّ اِنَّا اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّ مُبَشِّرًا وَّ نَذِيْرًا قَالَ فِى التَّوْرٰىةِ يٰاَيُّهَا النَّبِىُّ اِنَّا اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّ مُبَشِّرًا وَّ حِرْزًا لِّلْاُمِّيِّيْنَ اَنْتَ عَبْدِىْ وَ رَسُوْلِىْ سَمَّيْتُكَ الْمُتَوَكِّلَ لَيْسَ بِفَظٍّ وَّلَا غَلِيْظٍ وَّلَا سَخَّابٍ بِالْاَسْوَاقِ وَلَا يَدْفَعُ السَّيِّئَةَ بِالسَّيِّئَةِ وَلٰكِنْ يَّعْفُوْ وَ يَصْفَحُ وَلَنْ يَّقْبِضَهُ اللّٰهُ حَتّٰى يُقِيْمَ بِهِ

**۸۲۵:** عبدالله. عبدالعزیز بن ابي سلمه. هلال بن ابي هلال. عطاء بن یسار. عبدالله بن عمرو بن عاص نه روایت کوي، دا آیت چه قرآن کښې دې: یا ایها النبي انا اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّ مُبَشِّرًا و نذیرا: تورات کښې داسې دې، چه اې نبي مونږ ته ګواهي او خوشخبري ورکونکې لیږلې ئې. او د امیانو د پناه ځائې مو لیږلې، تهٔ زما بنده ئې او زما رسول ئې. ما ستا نوم متوکل ایښې دې. هغه به نهٔ سخت خو او سخت قلب وي، او نهٔ به بازارونو کښې شور کونکې وي، او نهٔ به بدي بدئ سره دفع کوي، بلکه معافي او درګزر به کوي. او الله تعالي به هغه د هغه وخته پورې نهٔ آخلي څو پورې چه د دین کوږ والې هغه نیغ نهٔ کړي، په دا

الْمِلَّةَ الْعَوْجَآءَ بِاَنْ يَّقُوْلُوْا لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ فَيَفْتَحُ بِهَا اَعْيُنًا عُمْيًا وَّ اٰذَانًا صُمًّا وَّقُلُوْبًا غُلْفًا.

شان چه خلق اووائي: چه د الله نه سوا بل معبود نشته. او د هغه په ذريعه به ړندې سترګې، کانړه غوږونه او غلاف کښې پټ زړونه پرانزي.

بَابُ ۳۷۲: قَوْلِهٖ هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ.

باب ۳۷۲: آيت: هُوَ الَّذِیْٓ اَنْزَلَ السَّکِیْنَةَ: د الله تعالٰي قول، هغه دے چا چه سکينه نازله کړه.

۸۲۶: حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ مُوْسٰي عَنْ اِسْرَآئِيْلَ عَنْ اَبِيْٓ اِسْحٰقَ عَنِ الْبَرَآءِ قَالَ بَيْنَمَا رَجُلٌ مِّنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ وَ فَرَسٌ لَّهٗ مَرْبُوْطٌ فِي الدَّارِ فَجَعَلَ يَنْفِرُ فَخَرَجَ الرَّجُلُ فَنَظَرَ فَلَمْ يَرَ شَيْئًا وَ جَعَلَ يَنْفِرُ فَلَمَّا اَصْبَحَ ذَكَرَ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ تِلْكَ السَّكِيْنَةُ تَنَزَّلَتْ بِالْقُرْاٰنِ.

۸۲۶: عبيدالله بن موسي. اسرائيل. ابو اسحاق. براء نه روايت کوي، يو ځل د رسول الله صلي الله عليه وسلم يو صحابي قرات کولو. او د هغه اس کور کښې تړلے وو، چه هغه په تيښته شو، بهر ته چه اووتلو نو هيڅ ورته په نظر رانغلو. هغه اس په ټوپونو وو. کوم وخت چه سحر شو، نو دا واقعه ئے نبي عليه السلام ته بيانه کړه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل، دا هغه سکينه ده، چه د قرأت په وخت نازليږي[1].

۱. د دے متعلق د عالمانو مختلف اقوال نقل شوي دي. امام نووي رحمة الله عليه فرمائيلي دي چه مختار قول دا دے چه دا په مخلوقاتو کښے څه څيز دے کوم کښے چه طمانيت او رحمت وي او همدے سره ملائکے هم وي. دا آيت د صلح حديبيے په موقع باندے نازل شوے وو او د مسلمانانو صبر او ثبات او دهغوئ طمانيت پکښې بيان کړے شوے دے.

بَابُ ۳۷۳: قَوْلِهٖ اِذْ يُبَايِعُوْنَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ.

باب ۳۷۳: آيت: اِذْ يُبَايِعُوْنَکَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ: د الله تعالٰي قول، هغه وخت راياد کړه، چه خلقو درنه د اُونے لاندے بيعت کولو.

۸۲۷: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيْدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو عَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ اَلْفًا وَّ اَرْبَعَ مِائَةٍ.

۸۲۷: قتيبه بن سعيد. سفيان. عمرو. حضرت جابرؓ نه روايت کوي، د هغه بيان دے، مونږ خلق د صلح حديبيه په ورځ يو زر خلور سوه سړي وو.

۸۲۸: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ

۸۲۸: علي بن عبدالله. شبابه. شعبه. قتاده.

اللّٰهِ حَدَّثَنَا شَبَابَةُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ قَالَ سَمِعْتُ عُقْبَةَ بْنَ صُهْبَانَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ مُغَفَّلٍ الْمُزَنِيِّ اِنِّيْ مِمَّنْ شَهِدَ الشَّجَرَةَ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْخَذْفِ وَ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ صُهْبَانٍ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنِ الْمُغَفَّلِ الْمُزَنِيِّ فِي الْبَوْلِ فِي الْمُغْتَسَلِ.

عقبه بن صهبان. عبدالله بن مُغفل مزني نه روايت كوي دَ هغه بيان دے' زهٔ هغے خلقو كښ ووم چه بيعت رضوان كښ شريک وو. نبي صلي الله عليه وسلّم دَ گټكي ويشتلو نه منع فرمائيلے وه. او عقبه بن صهبان نه منقول دي' دَ هغهٔ بيان دے. ما دَ عبدالله بن مُغفل مزني نه واوريدل چه دَ غسل كولو په ځائے كښ دَ ورو بَولو كولو نه حضور صلي الله عليه وسلّم منع فرمائيلے ده.

ف: كوم ځائے كښ چه واړه بَول كول ښهٔ نهٔ وي' هلته لوئے بول كول خو يقيناً ښه نه وي.

٨٢٩: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْوَلِيْدِ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ خَالِدٍ عَنْ اَبِيْ قِلَابَةَ عَنْ ثَابِتِ بْنِ الضَّحَّاكِ وَ كَانَ مِنْ اَصْحَابِ الشَّجَرَةِ.

٨٢٩: محمد بن وليد. محمد بن جعفر. شعبه. خالد. ابو قلابه. ثابت بن ضحاک نه روايت كوي' چه هغه بيعت رضوان كښ دَ شريكو نه وو.

٨٣٠: حَدَّثَنَا اَحْمَدُ بْنُ اِسْحٰقَ السُّلَمِيُّ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيْزِ بْنُ سِيَاهٍ عَنْ حَبِيْبِ بْنِ اَبِيْ ثَابِتٍ قَالَ اَتَيْتُ اَبَا وَائِلٍ اَسْاَلُهُ فَقَالَ كُنَّا بِصِفِّيْنَ فَقَالَ رَجُلٌ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ يُدْعَوْنَ اِلٰى كِتَابِ اللّٰهِ فَقَالَ عَلِيٌّ نَعَمْ فَقَالَ سَهْلُ بْنُ حُنَيْفٍ اتَّهِمُوْا اَنْفُسَكُمْ فَلَقَدْ رَاَيْتُنَا يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ يَعْنِي الصُّلْحَ الَّذِيْ كَانَ بَيْنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْمُشْرِكِيْنَ وَلَوْ نَرٰى قِتَالًا لَقَاتَلْنَا

٨٣٠: احمد بن اسحاق سلمي. ليلٰي. عبدالعزيز بن سياه. حبيب بن ثابت نه روايت كوي' دَ هغهٔ بيان دے' زهٔ ابو وائل نه ځهٔ پښتنے دَ پاره راغلے ووم' نو هغهٔ اووے' مونږ جنگ صفين كښ شريک وو' نو يو سړي اووے' آيا تاسو هغے خلقوته نهٔ گورئے چه دَ الله كتاب پله بللے شي' نو حضرت عليؓ اوفرمائيل' او سهل بن حنيف اووے' تاسو خپل ځان متهم كړئے (يعني دَ جنگ رائے مناسب نهٔ ده) مونږ د حديبيے دَ صلح په ورځے اوليدل' چه دَ نبي صلي الله عليه وسلّم او مشركينو په مينځ كښ اوشوه كه مونږ خلقو دا جنگ ليدلے وے' نو ضرور به جنګيدلے وے' نو حضرت عمرؓ راغے' او عرض ئے اوكهٔ' آيا مونږ خلق په حقه نهٔ يو' او هغه خلق

فَجَآءَ عُمَرُ فَقَالَ اَلَسْنَا عَلَى الْحَقِّ وَهُمْ عَلَى الْبَاطِلِ اَلَيْسَ قَتْلَانَا فِي الْجَنَّةِ وَ قَتْلَاهُمْ فِي النَّارِ قَالَ بَلٰى قَالَ فَفِيمَ اُعْطِي الدَّنِيَّةَ فِي دِيْنِنَا وَ نَرْجِعُ وَلَمَّا يَحْكُمِ اللّٰهُ بَيْنَنَا فَقَالَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ وَلَنْ يُضَيِّعَنِي اللّٰهُ اَبَدًا فَرَجَعَ مُتَغَيِّظًا فَلَمْ يَصْبِرْ حَتّٰى جَآءَ اَبَا بَكْرٍ فَقَالَ يَا اَبَا بَكْرٍ اَلَسْنَا عَلَى الْحَقِّ وَهُمْ عَلَى الْبَاطِلِ قَالَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ اِنَّهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَنْ يُضَيِّعَهُ اللّٰهُ اَبَدًا وَّ نَزَلَتْ سُوْرَةُ الْفَتْحِ.

په باطل نۀ دي' آيا زمونږ مقتولان جنت ته او د هغوي مقتولان به دوزخ ته نۀ ځي. حضورؐ اوفرمائيل' او' حضرت عمرؓ عرض اوکړ' نو بيا ولې مونږ دې خپل دين کښې ذلت راولو. او راغلې مسلمانان دې واپس کړو' حالانکه الله تعالیٰ زمونږ مينځ کښې (د دې قسم د صلح) حکم نۀ دې فرمائيلې' حضور صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اې ابن خطاب' زۀ د الله رسول يم' او الله به ما هيڅ کله ضائع نۀ کړي. عمرؓ د غصې په حالت کښې واپس شو' او هغه صبر نۀ شو حتي چه ابوبکرؓ له ورغې' ورته ئې اووې' اې ابوبکرهؓ' مونږ په حقه او مشرکان په باطله نۀ دي. حضرت ابوبکرؓ ورته اووې' اې ابن خطاب' هغه د الله رسول دې' او الله به هغه هيڅ کله ضائع نۀ کړي' نو سُوره فتح نازل شولو.

# سورة الحجرات

# د سورۀ حجرات تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ لَا تُقَدِّمُوْا لَا تَفْتَاتُوْا عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى يَقْضِيَ اللّٰهُ عَلٰى لِسَانِهٖ اِمْتَحَنَ اَخْلَصَ تَنَابَزُوْا يُدْعٰى بِالْكُفْرِ بَعْدَ الْاِسْلَامِ يَلِتْكُمْ يَنْقُصْكُمْ اَلَتْنَا نَقَصْنَا.

او مجاهد اووې "لا تقدموا" نه مراد دا دې چه فتویٰ يا جواب کښې په رسول الله صلي الله عليه وسلم سبقت مه کوئې' څو پورې چه الله تعالیٰ د خپل رسول په ژبه اونه وائي. "امتحن" خالص کړې دې "تنابزوا" د اسلام راوړلو نه پس کافر مه وائې "يلتكم" کم کړي. "التنا" مونږ کم کړلو.

بَابُ ۳۷۴: قَوْلِهٖ لَا تَرْفَعُوْا اَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ الْاٰيَةَ تَشْعُرُوْنَ تَعْلَمُوْنَ وَ مِنْهُ الشَّاعِرُ.

باب ۳۷۴: ايت: لَا تَرْفَعُوْا اَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ الخ: د الله تعالیٰ قول' خپل آوازونه د نبيؐ د آواز نه مه اوچتوې الخ. "تشعرون" په معني د "تعلمون" (تاسو پوهيږئ) او شاعر دې نه ماخوذ دې.

ف: "شاعر" د "تشعرون" نه ماخوذ دے.

**۴۸۳۱**: حَدَّثَنَا يَسَرَةُ بْنُ صَفْوَانَ بْنِ جَمِيلٍ اللَّخْمِيُّ حَدَّثَنَا نَافِعُ بْنُ عُمَرَ عَنِ ابْنِ اَبِيْ مُلَيْكَةَ قَالَ كَادَ الْخَيِّرَانِ اَنْ يَّهْلِكَا اَبَا بَكْرٍ وَّ عُمَرَ رَفَعَا اَصْوَاتَهُمَا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ قَدِمَ عَلَيْهِ رَكْبُ بَنِيْ تَمِيْمٍ فَاَشَارَ اَحَدُهُمَا بِالْاَقْرَعِ بْنِ حَابِسٍ اَخِيْ بَنِيْ مُجَاشِعٍ وَّ اَشَارَ الْاٰخَرُ بِرَجُلٍ اٰخَرَ قَالَ نَافِعٌ لَا اَحْفَظُ اِسْمَهُ فَقَالَ اَبُوْبَكْرٍ لِعُمَرَ مَا اَرَدْتَ اِلَّا خِلَافِيْ قَالَ مَا اَرَدْتُ خِلَافَكَ فَارْتَفَعَتْ اَصْوَاتُهُمَا فِيْ ذٰلِكَ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَرْفَعُوْا اَصْوَاتَكُمْ الْاٰيَةَ قَالَ ابْنُ الزُّبَيْرِ فَمَا كَانَ عُمَرُ يُسْمِعُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ هٰذِهِ الْاٰيَةِ حَتّٰى يَسْتَفْهِمَهُ وَلَمْ يَذْكُرْ ذٰلِكَ عَنْ اَبِيْهِ يَعْنِيْ اَبَا بَكْرٍ.

**۴۸۳۱**: يسره بن صفوان بن جميل لخمي. نافع بن عمر. ابن ابي ملكه نه روايت كوي. د هغهٔ بيان دے، چه دوه ذ ټولونه بهتر سړي قريب وو، چه هلاک شي، يعني حضرت ابوبكرؓ او حضرت عمرؓ خپل آوازونه د نبي صلي الله عليه وسلّم په مخكښې اوچت كړل، كوم وخت چه حضور صلي الله عليه وسلّم له ذ بني تميم سوارهٔ راغلل، نو هغوي كښې يو د اقرع بن حابس د مشركولو مشوره وركړه او بل كس بل سړي باره كښې رائے وركړه. نافع اووے، ماته د هغهٔ نوم ياد نهٔ دے. حضرت ابوبكرؓ، حضرت عمرؓ ته اووے، تا صرف څما ذ مخالفت قصد كړے وو هغهٔ اووے، څما اراده ستا ذ مخالفت نهٔ وه. دے خبرو اترو كښې آوازونه اوچت شو. نو الله پاک دا آيت نازل كړلو: اے ايمان والو، خپل آوازونه مهٔ اوچتوئے الخ: ابن زبير اووے. د دے ايت د نازليدونه پس حضرت عمرؓ به نبي صلي الله عليه وسلّم سره دومره رو خبرے كولے، چه څو به حضور صلي الله عليه وسلّم دوباره تپوس نه وو كړے، نو آوريدے به نه شو، او دا خبره ئے د حضرت ابوبكرؓ متعلق نه ده بيان كړے.

**۴۸۳۲**: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا اَزْهَرُ بْنُ سَعْدٍ اَخْبَرَنَا ابْنُ عَوْنٍ قَالَ اَنْبَاَنِيْ مُوْسَى بْنُ اَنَسٍ عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ افْتَقَدَ ثَابِتَ ابْنَ قَيْسٍ فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَنَا اَعْلَمُ لَكَ عِلْمَهُ فَاَتَاهُ فَوَجَدَهُ جَالِسًا

**۴۸۳۲**: علي بن عبدالله. ازهر بن سعد. ابن عون. موسٰي بن انس. حضرت انس بن مالکؓ نه روايت كوي، يو ځل نبي صلي الله عليه وسلّم، ثابت بن قيس اونه ليدلوؤ، نو (ذ حضور صلي الله عليه وسلّم په دريافت) يو سړي اووے، زهٔ ذ هغه خبر راوړم، هغه سړے ورغے، نو هغه ئے داسے حال كښې بيامند، چه خپل كور كښې سر ټيټ كړے ناست وو،

فِيْ بَيْتِهٖ مُنْكِسًا رَأْسَهٗ فَقَالَ لَهٗ مَا شَأْنُكَ فَقَالَ شَرٌّ كَانَ يَرْفَعُ صَوْتَهٗ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهٗ فَهُوَ مِنْ اَهْلِ النَّارِ فَاَتَى الرَّجُلُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَخْبَرَهٗ اَنَّهٗ قَالَ كَذَا وَ كَذَا فَقَالَ مُوْسٰى فَرَجَعَ اِلَيْهِ الْمَرَّةَ الْاٰخِرَةَ بِبِشَارَةٍ عَظِيْمَةٍ فَقَالَ اذْهَبْ اِلَيْهِ فَقُلْ لَهٗ اِنَّكَ لَسْتَ مِنْ اَهْلِ النَّارِ وَلٰكِنَّكَ مِنْ اَهْلِ الْجَنَّةِ.

تپوس ئې تـرې اوکـه ستـا څـه حال دې' ونيلې ډير خراب حال م دې' ذ نبي صلي الله عليه وسلّم ذ آواز نه نې خپل آواز اوچتولو' ذ هغه ټول اعمال تباه شو' او دوزخي دې' هغـه سړې ذ حضور صلي الله عليه وسلّم خدمت کښې واپس راغې. او بيان ئې اوکـه' چـه هغـه داسې داسې ونيلې دي. ذ موسي بيان دې' هغـه پـه دوئم ځل خوشخبري يوړلـه. حضور صلي الله عليه وسلّم ورته اوفرمائيل' لاړ شـه' هغـه تـه اووايـه' چـه تـه دوزخي نـه ئې' بلکه ذ جنتيانو نه ئې.

۱. دې د انصـارو خطيب وو. د ده آواز ډير اوچت وو. کله چه پورته ذکر شوې آيت نازل شو او مسلمانان د نبي کريم صلي الله عليه وسلّم په وړاندې په اوچت آواز سره د خبرو کولو نه منع کړې شول نو دې دومـره غمژن شو چه د کور نه به بهرته نه وتلو. حضور چه کله دې اونه ليدلو نو دده باره کښې ئې پوښتنه اوکړه.

بَابُ ۳۷۵۵: قَوْلِهٖ اِنَّ الَّذِيْنَ يُنَادُوْنَكَ مِنْ وَّرَآءِ الْحُجُرَاتِ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ.

باب ۳۷۵۵: آيت: اِنَّ الَّذِيْنَ يُنَادُوْنَكَ مِنْ وَّرَآءِ الْحُجُرَاتِ الخ: ذ الله تعالٰي قول' بيشکه کوم خلق چه تا ذ حجرو ذ شا' نه بلي (درته آوازونه کوي) هغوي کښې اکثر بې عقله دي.

۸۳۳: حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ ابْنُ اَبِيْ مُلَيْكَةَ اَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ ابْنَ الزُّبَيْرِ اَخْبَرَهُمْ اَنَّهٗ قَدِمَ رَكْبٌ مِّنْ بَنِيْ تَمِيْمٍ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَبُوْبَكْرٍ اَمِّرِ الْقَعْقَاعَ بْنَ مَعْبَدٍ وَ قَالَ عُمَرُ بَلْ اَمِّرِ الْاَقْرَعَ بْنَ حَابِسٍ فَقَالَ اَبُوْبَكْرٍ مَا اَرَدْتَ اِلَيَّ اَوْ اِلَّا خِلَافِيْ فَقَالَ عُمَرُ مَا

۸۳۳: حسن بن محمد. حجاج. ابن جريج. ابن ابي مليکه. عبدالله بن زبير نه روايت کوي ذ هغـه بيان دې' ذ بني تميم څو سوارهٔ ذ نبي صلي الله عليه وسلّم خدمت کښې (ذ امير جوړولو ذ پاره) راغلل. حضرت ابوبکرؓ اووې' قعقاع بن معبد امير مقرر کړئې. حضرت عمرؓ اووې' بلکه اقرع بن حابس امير مقرر کړئې. حضرت ابوبکرؓ ورته اووې' تا صرف څما ذ مخالفت قصد کړې دې' حضرت عمرؓ ورته اووې.

أَرَدْتُ خِلَافَكَ فَعَمَلَ يَا خَفِي لِرَبِّهِمَا أَصْوَاتُهُمَا فَنَزَلَ فِي ذٰلِكَ يٰأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا لَا تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ حَتّٰى انْقَضَتِ الْاٰيَةُ.

عمدا تواهه ۀ مخالفت نۀ وه' نو دواړه په جګړه شو' تردې چه ۀ دواړو آوازونه اوچت شو' نو دې باره کښې دا آيت نازل شو: يا ايها الذين امنوا لا تقدموا الخ.

باب ۳۷۶: قَوْلُهُ وَلَوْ اَنَّهُمْ صَبَرُوْا حَتّٰى تَخْرُجَ اِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ.

۳۷۶: آيت: وَلَوْ اَنَّهُمْ صَبَرُوْا حَتّٰى تَخْرُجَ اِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ: دَ الله تعالىٰ قول' او كه هغوئ خلق صبر او كړي' تردې چه ته هغې خلقو ته بهر تشريف راوړې' نو دا به هغوي دَ پاره بهتره وه.

# سُوْرَةُ قٓ

# دَ سورۀ قٓ تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

رَجْعٌ بَعِيْدٌ رَدٌّ فُرُوْجٍ فُتُوْقٍ وَاحِدُهَا فَرْجٌ وَرِيْدٌ فِيْ حَلْقِهٖ وَالْحَبْلُ حَبْلُ الْعَاتِقِ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ مَا تَنْقُصُ الْاَرْضُ مِنْ عِظَامِهِمْ تَبْصِرَةً بَصِيْرَةً حَبَّ الْحَصِيْدِ الْحِنْطَةُ بَاسِقَاتٍ الطِّوَالُ اَفَعَيِيْنَا اَفَاَعْيَا عَلَيْنَا وَ قَالَ قَرِيْنُهُ الشَّيْطٰنُ الَّذِيْ قُيِّضَ لَهٗ فَنَقَّبُوْا ضَرَبُوْا اَوْ اَلْقَى السَّمْعَ لَا يُحَدِّثُ نَفْسَهٗ بِغَيْرِهٖ حِيْنَ اَنْشَاَكُمْ وَ اَنْشَاَ خَلْقَكُمْ رَقِيْبٌ عَتِيْدٌ رَصَدٌ سَآئِقٌ وَّ شَهِيْدٌ الْمَلَكَانِ كَاتِبٌ وَّ شَهِيْدٌ شَاهِدٌ بِالْقَلْبِ لُغُوْبٌ النَّصَبُ وَ قَالَ غَيْرُهٗ نَضِيْدٌ الْكُفُرّٰى مَادَامَ فِيْ اَكْمَامِهٖ وَ مَعْنَاهُ مَنْضُوْدٌ

"رجع بعيد" واپس كيدل لرې دي. "فروج" چوند' سورې. دَ دې واحد "فرج" دې. "وريد" نه هغه رګ مراد دې' چه حلق كښې وي. "حبل" نه مراد دَ ګردن رګ دې. او مجاهد اوويې' "مَا تَنْقُصُ الْاَرْضُ مِنْهُمْ" كښې "منهم" نه مراد دې "مِنْ عِظَامِهِمْ" (دَ هغوي دَ هډوكو نه) "تَبْصِرَةً" نه مراد بصيرت دې. "حَبُّ الْحَصِيْدِ" غنم. "بَاسِقَاتٍ" اوږده. "اَفَعَيِيْنَا" ايا مونږ عاجز يو. "وَ قَالَ قَرِيْنُهٗ" كښې "قَرِيْنَ" نه مراد شيطان دې' چه دې د پاره مقرر شوې دې. "فَنَقَّبُوْا" ښاروښوته لاړل. "وَ اَلْقَى السَّمْعَ" نه مراد دا دې' چه غوږ اولږوي (كيدي) خپل نفس سره دې علاوه بله هيڅ خبره اونۀ كړي. "حِيْنَ اَنْشَاَكُمْ" هر كله چه تاسو' ئې پيدا كړئې' او ستاسو پيدائش ئې ظاهر كۀ. "رَقِيْبٌ عَتِيْدٌ" نګهبان تاک لږوونكې. "سَآئِقٌ وَّ شَهِيْدٌ" دوه فريښتې يوه ليكونكې بله ګواه. "شَهِيْدٌ" دې ته وائي' چه زړۀ سره ګواهي

بَعْضُهُ عَلٰى بَعْضٍ فَاِذَا خَرَجَ مِنْ اَكْمَامِهٖ فَلَيْسَ بِنَضِيْدٍ فِيْ اِدْبَارِ النُّجُوْمِ وَ اَدْبَارِ السُّجُوْدِ كَانَ عَاصِمٌ يَفْتَحُ الَّتِيْ فِيْ قٓ وَ يَكْسِرُ الَّتِيْ فِي الطُّوْرِ وَ يُكْسَرَانِ جَمِيْعًا وَ يُنْصَبَانِ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَوْمَ الْخُرُوْجِ يَخْرُجُوْنَ مِنَ الْقُبُوْرِ.

ور كوونكي وي. "لُغُوْبٌ" ستړي والے. او نورو اووے "نَضِيْدٌ" غوټے، چه خپل غلاف كښې وي. دَ دے معني دا دي، چه بعضے په بعضو تهٔ شوے وي، كوم وخت چه هغه دَ خپل غلاف نه اووځي، نو "نَضِيْدٌ" نه دے. "اَدْبَارِ النُّجُوْمِ" او "اَدْبَارِ السُّجُوْدِ" كښې عاصم، سورة قٓ كښې دَ الف فتح سره او سورة طور كښې د الف كسره سره لوستلو، حالانكه دَ دواړو كسره او نصب لوستے شي. او ابن عباسؓ اووے چه "يَوْمَ الْخُرُوْجِ" نه مراد هغه ورځ ده، چه هغوي به د قبرونو نه اوبښكلے شي.

باب۳۷۷: قَوْلِهٖ وَ تَقُوْلُ هَلْ مِنْ مَّزِيْدٍ.

باب۳۷۷: آيت: وَ تَقُوْلُ هَلْ مِنْ مَّزِيْدٍ: دَ الله تعالٰي قول، او جهنم به وائي، آيا څه نور هم شته.

۸۳۴: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ اَبِي الْاَسْوَدِ حَدَّثَنَا الْحَرَمِيُّ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ اَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يُلْقٰى فِي النَّارِ وَ تَقُوْلُ هَلْ مِنْ مَّزِيْدٍ حَتّٰى يَضَعَ قَدَمَهٗ فَتَقُوْلُ قَطْ قَطْ.

۸۳۴: عبدالله بن ابي الاسود. حرمي. شعبه. قتاده. حضرت انسؓ. نبي صلي الله عليه وسلّم نه روايت كوي، حضورؐ اوفرمائيل، خلق به جهنم كښې اچولے شي، نو هغه به وائي، آيا نور هم څه شته، تردے چه الله تعالٰي به هغے باندے خپله پښه كيږدي، نو هغه به وائي، بس بس.

۸۳۵: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُوْسَى الْقَطَّانُ حَدَّثَنَا اَبُوْسُفْيَانَ الْحِمْيَرِيُّ سَعِيْدُ بْنُ يَحْيٰى بْنِ مَهْدِيٍّ حَدَّثَنَا عَوْفٌ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَفَعَهٗ وَ اَكْثَرُ مَا كَانَ يُوْقِفُهٗ اَبُوْ سُفْيَانَ يُقَالُ لِجَهَنَّمَ هَلِ امْتَلَاْتِ وَ تَقُوْلُ هَلْ مِنْ مَّزِيْدٍ فَيَضَعُ الرَّبُّ تَبَارَكَ وَ تَعَالٰى قَدَمَهٗ عَلَيْهَا فَتَقُوْلُ قَطْ قَطْ.

۸۳۵: محمد بن موسي قطان. ابوسفيان حميري. سعيد بن يحيٰي بن مهدي. عوف. محمد. حضرتؓ نه مرفوعًا روايت كوي. او ابوسفيان هغه اكثر موقوفًا روايت كوي، دَ هغهٔ بيان دے جهنم ته به اوونيلے شي، آيا تهٔ ډك شوے، نو هغه به وائي، ولے نور څهٔ شته، نو الله تبارک و تعالٰي به خپله پښه هغے باندے كيږدي، نو هغه به وائي، چه بس بس.

۴۸۳۶: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ اَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ هَمَّامٍ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحَاجَّتِ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ فَقَالَتِ النَّارُ اُوْثِرْتُ بِالْمُتَكَبِّرِيْنَ وَالْمُتَجَبِّرِيْنَ وَ قَالَتِ الْجَنَّةُ مَالِيْ لَا يَدْخُلُنِيْ اِلَّا ضُعَفَآءُ النَّاسِ وَ سَقَطُهُمْ قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَ تَعَالٰى لِلْجَنَّةِ اَنْتِ رَحْمَتِيْ اَرْحَمُ بِكِ مَنْ اَشَآءُ مِنْ عِبَادِيْ وَ قَالَ لِلنَّارِ اِنَّمَا اَنْتِ عَذَابٌ اُعَذِّبُ بِكِ مَنْ اَشَآءُ مِنْ عِبَادِيْ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِلْؤُهَا فَاَمَّا النَّارُ فَلَا تَمْتَلِئُ حَتّٰى يَضَعَ رِجْلَهٗ فَتَقُوْلُ قَطٍ قَطٍ قَطٍ فَهُنَالِكَ تَمْتَلِئُ وَ يُزْوٰى بَعْضُهَا اِلٰى بَعْضٍ وَلَا يَظْلِمُ اللّٰهُ عَزَّ وَ جَلَّ مِنْ خَلْقِهٖ اَحَدًا وَ اَمَّا الْجَنَّةُ فَاِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَ جَلَّ يُنْشِئُ لَهَا خَلْقًا.

۴۸۳۶: عبدالله بن محمد. عبدالرزاق. معمر. همام. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت کوي، ذ هغهٔ بيان دے، نبي صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل، جنت او دوزخ به خپلو کښې جګړه کوي. دوزخ به وائي زهٔ ذ متکبر او ظالمانو خلقو ذ پاره مخصوص کړے شوے يم. او جنت به وائي، په ما څهٔ شوي دي، چه ما کښې صرف کمزورے او حقير خلق داخليږي الله تعالٰي به ورته اوفرمائي، تهٔ خما رحمت ئے، زهٔ به ستا په ذريعه خپلو بنديانو کښې چه څوک غواړم، رحمت به پرے اوکړم. او جهنم ته به فرمائي، تهٔ عذاب ئے، زهٔ به ستا په ذريعه چه کوم بنديان غواړم، عذاب ورکوم. او دے دواړو کښې هر يو د پاره د ډکيدو يو حد مقرر دے. ليکن دوزخ به نه ډکيږي، تر دے چه الله تعالٰي به خپله پښه هغے باندے کيږدي، نو هغه به وائي، چه بس بس بس. دغه وخت به دوزخ ډک شي او يوه حصه به بلے حصے سره يوځائے کيدو سره راغونډه شي. او الله بزرګ و برتر خپل مخلوق کښې په هيچا ظلم نه کوي. او جنت د پاره به الله تعالٰي يو بل مخلوق پيدا کړي. (په هغوئ به ئے ډک کړي).

بَابُ ۳۷۸: قَوْلِهٖ وَ سَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَ قَبْلَ الْغُرُوْبِ.

باب ۳۷۸: آيت: وَ سَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَ قَبْلَ الْغُرُوْبِ. ذ الله تعالٰي قول، او د نمر ذ طلوع او غروب نه مخکښې د خپل رب ذ حمد تسبيح کوه.

۴۸۳۷: حَدَّثَنَا اِسْحٰقُ بْنُ اِبْرَاهِيْمَ عَنْ جَرِيْرٍ عَنْ اِسْمٰعِيْلَ عَنْ قَيْسِ بْنِ اَبِيْ حَازِمٍ عَنْ جَرِيْرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ كُنَّا جُلُوْسًا لَيْلَةً مَعَ

۴۸۳۷: اسحٰق بن ابراهيم. جرير. اسماعيل. قيس بن ابي حازم. جرير بن عبدالله نه روايت کوي، د هغهٔ بيان دے، مونږ خلق نبي صلي الله عليه وسلم سره يو شپه ناست وو. حضور صلي الله عليه وسلم سپوږمۍ

النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَظَرَ إِلَى الْقَمَرِ لَيْلَةَ أَرْبَعَ عَشْرَةَ فَقَالَ إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ كَمَا تَرَوْنَ هٰذَا لَا تُضَامُّوْنَ فِي رُؤْيَتِهِ فَإِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ لَّا تُغْلَبُوْا عَلٰى صَلٰوةٍ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَ قَبْلَ غُرُوْبِهَا فَافْعَلُوْا ثُمَّ قَرَأَ وَ سَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَ قَبْلَ الْغُرُوْبِ.

طرف تـه او کتـل، هـغـه ذ څوارلسمے شپے وَه. حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، عنقريب تاسو به خپل رب اووينئے، څنګه چه تاسو دا سپوږمي وينئے. او ددے متعلق تاسوتـه څه شبهه نشته. نو څومره چه تاسو نه کيدے شي. د نمر ذ طلوع او غروب نه مخکښ مونځ مه پريږدئے. بيا حضور صلي الله عليه وسلّم دا آيت تلاوت کړلو، وَ سَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّکَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَ قَبْلَ الْغُرُوْبِ.

۸۳۸: حَدَّثَنَا اٰدَمُ حَدَّثَنَا وَرْقَآءُ عَنِ ابْنِ نَجِيْحٍ عَنْ مُّجَاهِدٍ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ اَمَرَهٗ اَنْ يُّسَبِّحَ فِيْ اَدْبَارِ الصَّلَوَاتِ كُلِّهَا يَعْنِيْ قَوْلَهٗ وَ اَدْبَارَ السُّجُوْدِ.

۸۳۸: آدم، ورقاء، ابن ابي نجيح. مجاهد نه روايت کوي، ابن عباسؓ بيان او کړ، چه حضور صلي الله عليه وسلّم هغوي ته حکم او کړ، چه ټولو مونځونو نه پس تسبيح لولے. دے نه مقصد "ادبار السجود" مطلب بيانول وو (سجدو يعني مونځونو نه پس تسبيح لولے).

# سُوْرَةُ وَ الذَّارِيَات

# دَ سورهٔ والذاريات تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قَالَ عَلِيٌّ عَلَيْهِ السَّلَامُ الرِّيَاحُ وَ قَالَ غَيْرُهٗ تَذْرُوْهُ تُفَرِّقُهٗ وَ فِيْ اَنْفُسِكُمْ تَأْكُلُ وَ تَشْرَبُ فِيْ مَدْخَلٍ وَّاحِدٍ وَّ يَخْرُجُ مِنْ مَّوْضِعَيْنِ فَرَاغَ فَرَجَعَ فَصَكَّتْ فَجَمَعَتْ اَصَابِعَهَا فَضَرَبَتْ جَبْهَتَهَا وَ الرَّمِيْمُ نَبَاتُ الْاَرْضِ اِذَا يَبِسَ وَ دِيْسَ لَمُوْسِعُوْنَ اَيْ لَذُوْ سَعَةٍ وَ كَذٰلِكَ عَلَى الْمُوْسِعِ قَدَرُهٗ يَعْنِي الْقَوِيَّ زَوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَ الْاُنْثٰى وَاخْتِلَافُ الْاَلْوَانِ حُلْوٌ وَّ حَامِضٌ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

حضرت عليؓ اووے. "ذاريات" نه مراد هواګانے دي. او نورو اووے "تذروه" په معني ذ "تفرقه" (دا پراګنده کوي) "و في انفسکم افلا تبصرون" آيا تاسو خپل خانونوته نه ګورئے، چه په يوه لاره خورئے، څکئے. او دَ دوو خايونو نه اُوځي. "فراغ" نو واپس شو. "فصکت" خپلے ګوتے يے راغونډے کړے، اوپه خپل مخ يے اووهلے. "رميم" دَ زمکے سبزي هر کله چه اُوچه شي اوپښو کښ ميده شي. "لموسعون" يعني قوت وسعت واله دي. دغه شان "على الموسع قدره" کښ "موسع" نه مراد قوي دے "زوجين" نر او ښځه، او دَ رنګونو

فَهُمَا زَوْجَانِ فَفِرُّوْا إِلَى اللهِ مِنَ اللهِ إِلَيْهِ إِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ مَا خَلَقْتُ أَهْلَ السَّعَادَةِ مِنْ أَهْلِ الْفَرِيْقَيْنِ إِلَّا لِيُوَحِّدُوْنِ وَ قَالَ بَعْضُهُمْ خَلَقَهُمْ لِيَفْعَلُوْا فَفَعَلَ بَعْضٌ وَ تَرَكَ بَعْضٌ وَ لَيْسَ فِيْهِ حُجَّةٌ لِأَهْلِ الْقَدْرِ وَالذَّنُوْبُ الدَّلْوُ الْعَظِيْمُ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ صَرَّةٍ صَيْحَةٍ ذَنُوْبًا سَبِيْلًا الْعَقِيْمُ الَّتِيْ لَا تَلِدُ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَالْحُبُكُ اِسْتِوَاؤُهَا وَ حُسْنُهَا فِيْ غَمْرَةٍ فِيْ ضَلَالَتِهِمْ يَتَمَادَوْنَ وَ قَالَ غَيْرُهُ تَوَاصَوْا تَوَاطَئُوْا وَ قَالَ مُسَوَّمَةٌ مُعَلَّمَةٌ مِنَ السِّيْمَا قُتِلَ الْخَرَّاصُوْنَ لُعِنُوْا.

مختلف کيدل، خوږ او تريو کيدل. دغه شان دا دوه جوړې دي "فَفِرُّوا الى الله" ذ الله طرف نه الله طرف ته اوزغلئ. "الا ليعبدون" ما ذ فريقين خلق صرف دې ذ پاره پيدا کړل، چه هغوي ما يو اُومني، او بعضو اووې، چه هغوي ئې پيدا کړل. چه هغوي دغسې او کړي نو بعضې اوکړل او بعضې پريښودلو. او دې کښې اهل قدر ذ پاره حجت نشته. "ذنوب" لوئې ډول او مجاهد اووې، چه "صره" نه مراد چغه ده. "ذنوب" لاره. "عقيم" هغه ښځه چه بچې نۀ راوړي. (شنډه) او ابن عباسؓ اووې. "حبک" معنې ذ هغې برابر کيدل او خوبصورتي ده "فی غمرة" خپلې ګمراهي کښې رانښکلې شي. او نورو اووې، چه "تواصوا" "تواطاؤا" يعني ذ يو بل موافقت کوي، او وئيلې چه "مسومه" معني نښه کړې شوې. "سيما" نه ماخوذ دې.

# سُوْرَةُ وَالطُّوْرِ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۞

وَ قَالَ قَتَادَةُ مَسْطُوْرٍ مَكْتُوْبٍ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ الطُّوْرُ الْجَبَلُ بِالسُّرْيَانِيَّةِ رَقٍّ مَنْشُوْرٍ صَحِيْفَةٍ وَالسَّقْفِ الْمَرْفُوْعِ سَمَاءٌ الْمَسْجُوْرِ الْمُوْقَدِ وَ قَالَ الْحَسَنُ تُسْجَرُ حَتّٰى يَذْهَبَ مَاؤُهَا فَلَا يَبْقٰى فِيْهَا قَطْرَةٌ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ اَلَتْنَاهُمْ نَقَصْنَا وَ قَالَ غَيْرُهُ تَمُوْرُ تَدُوْرُ أَحْلَامُهُمْ الْعُقُوْلُ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ الْبَرُّ اللَّطِيْفُ كِسْفًا قِطَعًا الْمَنُوْنُ

# ذَ سورۀ والطور تفسير

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۞

او قتاده اووې چه "مسطور" معني ليکلې شوې. او مجاهد اووې، چه "طور" سريانئې ژبه کښې غر ته وائي "رق منشور" کتاب. "سقف مرفوع" آسمان. "المسجور" په غَر غروشوې. او حسن اووې، هغه به په غَر غروشي، تردې چه ذ هغه اوبه به اُوچې (خشکې) شي. او هغې کښې به يوه قطره اوبه هم پاتې نشي. او مجاهد اووې. "التناهم" مونږ کم کړلو. او نورو اووې چه "تمور" تاويږي به. "احلامهم" ذ هغوي عقلونه ابن عباسؓ اووې. "البر" معني مهربان "کسفا" معني ټکړې

الْمَوْتُ وَ قَالَ غَيْرُهُ يَتَنَازَعُوْنَ يَتَعَاطَوْنَ.

تېكړې. "المنون" معنې مرګ. او بعضو اوونې چه "يتنازعون" نه مراد دې، يو بل له به ور كوي.

۸۳۹: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوْسُفَ اَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ نَوْفَلٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ زَيْنَبَ ابْنَةِ اَبِيْ سَلَمَةَ عَنْ اُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ شَكَوْتُ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنِّيْ اَشْتَكِيْ فَقَالَ طُوْفِيْ مِنْ وَّرَآءِ النَّاسِ وَ اَنْتِ رَاكِبَةٌ فَطُفْتُ وَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ اِلٰى جَنْبِ الْبَيْتِ يَقْرَأُ بِالطُّوْرِ وَ كِتَابٍ مَّسْطُوْرٍ.

۸۳۹: عبدالله بن يوسف. مالک. محمد بن عبدالرحمٰن بن نوفل. عروه. زينب بنت ابي سلمه. بي بي أم سلمةً نه روايت كوي، ذ هغې بيان دې، ما رسول الله صلي الله عليه وسلّم ته شكايت اوكړ، چه زهٔ ناروغه يم، نو حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، ذ خلقو ورستو سوره شه، او طواف اوكه، نو ما طواف اوكړلو. دغه وخت رسول الله صلي الله عليه وسلّم ذ خانه كعبې يو ګُټ كښې سورة "والطُّور و كتاب مسطور" لوستلو.

۸۴۰: حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثُوْنِيْ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْمَغْرِبِ بِالطُّوْرِ فَلَمَّا بَلَغَ هٰذِهِ الْاٰيَةَ اَمْ خُلِقُوْا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ اَمْ هُمُ الْخَالِقُوْنَ اَمْ خَلَقُوا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بَلْ لَّا يُوْقِنُوْنَ اَمْ عِنْدَهُمْ خَزَآئِنُ رَبِّكَ اَمْ هُمُ الْمُسَيْطِرُوْنَ كَادَ قَلْبِيْ اَنْ يَطِيْرَ قَالَ سُفْيَانُ فَاَمَّا اَنَا فَاِنَّمَا سَمِعْتُ الزُّهْرِيَّ يُحَدِّثُ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ عَنْ اَبِيْهِ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

۸۴۰: حميدي. سفيان. زهري. محمد بن جبير مطعم. جبير بن مطعم نه روايت كوي، ذ هغهٔ بيان دې. ما ذ نبي صلي الله عليه وسلّم نه ماښام كښې سورهٔ "طور" لوستل واوريدل. كوم وخت چه حضور صلي الله عليه وسلّم دې آيت ته راورسيدلو، چه: اَمْ خُلِقُوْا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ اَمْ هم الْخَالِقُوْن اَمْ خلقوا السمٰوٰتِ وَالارضَ بل لا يوقنون اَمْ عِنْدهم خزائن ربّک اَمْ هم المسيطرون: قريب وه، چه خما زړهٔ والوځي. ذ سفيان بيان دې، چه ما زهري نه په واسطه ذ محمد بن جبير بن مطعم نه نقل كول واوريدل، چه ما ذ حضور صلي الله عليه وسلّم نه ماښام (يعني ذ ماښام مونځ كښې) سورهٔ طور لوستل واوريدل. ليكن هغې كښې

وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْمَغْرِبِ بِالطُّوْرِ لَمْ اَسْمَعْهُ زَادَ الَّذِيْ قَالُوْا لِيْ.

دا زيـاتـے نــۀ وو' چــه قــريــب وَه' چــه خــمـا زړۀ والوځي.

# سورة والنجم

# دَ سورۀ والنجم تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ قَالَ مُجَاهِدٌ ذُوْ مِرَّةٍ ذُوْ قُوَّةٍ قَوْسَيْنِ حَيْثُ الْوَتَرُ مِنَ الْقَوْسِ ضِيْزٰى عَوْجَاءُ وَ اَكْدٰى قَطَعَ عَطَاءَهٗ رَبُّ الشِّعْرٰى هُوَ مِرْزَمُ الْجَوْزَاءِ الَّذِيْ وَفّٰى وَفّٰى مَا فُرِضَ عَلَيْهِ اَزِفَتِ الْاٰزِفَةُ اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ سَامِدُوْنَ الْبَرْطَمَةُ وَ قَالَ عِكْرِمَةُ يَتَغَنَّوْنَ بِالْحِمْيَرِيَّةِ وَ قَالَ اِبْرَاهِيْمُ اَفَتُمَارُوْنَهٗ اَفَتُجَادِلُوْنَهٗ وَمَنْ قَرَاَ اَفَتَمْرُوْنَهٗ يَعْنِيْ اَفَتَجْحَدُوْنَهٗ مَا زَاغَ الْبَصَرُ بَصَرُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا طَغٰى وَلَا جَاوَزَ مَا رَاٰى فَتَمَارَوْا كَذَّبُوْا وَ قَالَ الْحَسَنُ اِذَا هَوٰى غَابَ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ اَغْنٰى وَ اَقْنٰى اَعْطٰى فَاَرْضٰى.

او مـجـاهـد اووے "ذومـرة" معني دي قوت واله "قاب قـوسـيـن" خپـل بخشش ئے بند کړلو. "رب الشعرىٰ" دَ شـعـريٰ پـروردګار. شعريٰ يو ستورے دے دَ جوزا شاته طلوع کيدونکے. "الّذی وفّٰی" څۀ چه په هغۀ فرض وو' هغـه ئے پوره کړلو. "ازفت الأزفة" قيامت قريب شو. "سـامـدون" بـرطـمـه' چه يوه لوبه ده. او عکرمه اووے' حـمـيـري ژبـه کښ دَ دے معني دَ "ګانے" سندرو وئيلو دي. او ابـراهـيـم اووے. "افـتـمـارونه" آيا تاسو هغۀ سره جګړه کوئے. او حسن "افتُمرونه" اووے. دے نه مراد دا دے' چه آيا تاسو انکار کوئے. "مازاغ الْبَصَر" دَ محمد صـلـي الـلّـه عليه وسلّم نظر "وما طغٰی" او نـۀ دَ هغے نه وړاندے لاړ' چه هغۀ اوليدلو' "فتماروا" دروغ اوګڼړلو. او حسـن اووے چه "اذا هوٰی" کـوم وخـت چـه غائب کيـدو' غـروب کيـدو. او ابن عباسؓ اووے چه "اغنٰی و اقنٰی" ورئے کړو او خوشحاله ئے کړو.

۱۸۴۱: حَدَّثَنَا يَحْيٰى حَدَّثَنَا وَكِيْعٌ عَنْ اِسْمٰعِيْلَ بْنِ اَبِيْ خَالِدٍ عَنْ عَامِرٍ عَنْ مَسْرُوْقٍ قَالَ قُلْتُ لِعَائِشَةَ يَا اُمَّتَاهُ هَلْ رَاٰى مُحَمَّدٌ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَبَّهٗ فَقَالَتْ لَقَدْ

۱۸۴۱: يـحيٰي. اسـمٰعيـل بـن ابـي خـالد عامر. مسروق نه روايت کوي' د هغه بيان دے ما بي بي عائشےؓ تـه اووے اے مـور بي بي' آيا محمد صلي الله عليه وسلّم خپـل پـروردګـار ليـدلے دے' نو هغے اووے' ستا دے خبـرے سـره خما ويښته اودريدل (يعني غونے م زيږ زيږ شولو) آيا تـاتـه دَ دے درے خبرو خبر شته. که څوک

قَفَّ شَعْرِيْ مِمَّا قُلْتَ اَيْنَ اَنْتَ مِنْ ثَلَاثٍ مَنْ حَدَّثَكَهُنَّ فَقَدْ كَذَبَ مَنْ حَدَّثَكَ اَنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَاٰى رَبَّهٗ فَقَدْ كَذَبَ ثُمَّ قَرَاَتْ لَا تُدْرِكُهُ الْاَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الْاَبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيْفُ الْخَبِيْرُ وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنْ يُّكَلِّمَهُ اللّٰهُ اِلَّا وَحْيًا اَوْ مِنْ وَّرَاءِ حِجَابٍ وَمَنْ حَدَّثَكَ اَنَّهٗ يَعْلَمُ مَا فِيْ غَدٍ فَقَدْ كَذَبَ ثُمَّ قَرَاَتْ وَمَا تَدْرِيْ نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَنْ حَدَّثَكَ اَنَّهٗ كَتَمَ فَقَدْ كَذَبَ ثُمَّ قَرَاَتْ يٰاَيُّهَا الرَّسُوْلُ بَلِّغْ مَا اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ الْاٰيَةَ وَلٰكِنَّهٗ رَاٰى جِبْرِيْلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِيْ صُوْرَتِهٖ مَرَّتَيْنِ.

سړے دے کښې څۀ خبره اوکړي، نو هغه دروغجن دے کـه يو سړے تاته اووائي، چه محمد صلي الله عليه وسلم خپل پروردګار ليدلے دے، نو هغه دروغجن دے. بيا هغې دا آيت تلاوت کړلو، سترګے هغه نشي ليدے، او هغه سترګے ويني هغه مهربان خبر واله دے، او هيڅ بشر ذ دے جوګه نۀ دے، چه الله هغه سره کلام اوکړي، خو د وحي په طور، يا ذ پردے ذ شانه، او کوم سړے چه تاته اووائي چه هغه په دے پوهيږي) چه سباله به څۀ کيږي، نو هغه دروغجن دے. بيا ئے دا آيت اولوست: هيڅا ته نه ده معلومه، چه سباله به څه کوي او کوم سړے چه تاته بيان اوکړي، چه حضور صلي الله عليه وسلم څنے خبره پټه ساتلے ده، نو هغه دروغجن دے بيائے دا آيت اولوست: يٰاَيُّهَا الرَّسُوْلُ بَلِّغْ مَا اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ الخ. ليکن حضور صلي الله عليه وسلم، جبرائيل عليه السلام د هغه خپل صورت کښې دوه ځله اوليدلو. (يا ليدلے دے).

**ف**: دے حديث نه درے خبرے واضحه شوے. يو دا چه هيڅ بشر دے مادي دُنيا کښې خپل پروردګار ليدلے نشي، دويم دا چه هيڅ بشر مخ په مخ خپل پروردګار سره خبرے نشي کولے (ځکه چه د هغۀ د ليدو او په مخامخ ورسره د خبرو کولو هيڅوک تاب نشي راوړے، موسٰي عليه السلام چه ليدو ذ پاره خواست اوکه، نو ورته اوښودلے شو، چه هر کله يو غر ذ تجلي تاب نشي راوړے، نو تۀ به ذ ليدو څنګه تاب راوړے شے) دريم دا چه هيچا ته نۀ ده معلومه، چه صباله به څۀ کيږي.

## باب ۳۷۹: قَوْلِهٖ فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ اَوْ اَدْنٰى حَيْثُ الْوَتَرُ مِنَ الْقَوْسِ.

## بـاب ۳۷۹: ايت: فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ اَوْ اَدْنٰى حَيْثُ الْوَتَرُ مِنَ الْقَوْسِ.

۸۴۲: حَدَّثَنَا اَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ حَدَّثَنَا الشَّيْبَانِيُّ قَالَ سَمِعْتُ زِرًّا عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ فَكَانَ

۸۴۲: ابوالنعمان. عبدالواحد. شيباني. زر. حضرت عبدالله نه روايت کوي. ذ هغه بيان دے، د آيت: فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ اَوْ اَدْنٰى

قَابَ قَوْسَيْنِ اَوْ اَدْنٰى فَاَوْحٰى اِلٰى عَبْدِهٖ مَا اَوْحٰى قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ مَسْعُوْدٍ اَنَّهٗ رَاٰى جِبْرِيْلَ لَهٗ سِتُّ مِائَةِ جَنَاحٍ.

فاوحى الى عبده ما اوحى: ضمن كښې حضرت ابن مسعودؓ اووے چه حضورؐ جبرائيلؑ اوليد، چه ذ هغه شپږ سوه وزرے وے.

باب ۳۸۰: قَوْلِهٖ فَاَوْحٰى اِلٰى عَبْدِهٖ مَا اَوْحٰى.

باب ۳۸۰: آيت: فاوحى الى عبده ما اوحى.

۸۴۳: حَدَّثَنَا طَلْقُ بْنُ غَنَّامٍ حَدَّثَنَا زَائِدَةُ عَنِ الشَّيْبَانِيِّ قَالَ سَأَلْتُ زِرًّا عَنْ قَوْلِهٖ تَعَالٰى فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ اَوْ اَدْنٰى فَاَوْحٰى اِلٰى عَبْدِهٖ مَا اَوْحٰى قَالَ اَخْبَرَنَا عَبْدُ اللّٰهِ اَنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَاٰى جِبْرِيْلَ لَهٗ سِتُّ مِائَةِ جَنَاحٍ.

۸۴۳: طلق بن غنام. زائده. شيباني نه روايت كوي، هغهٔ اووے، ما ذ زر نه ذ اللّٰه تعالٰي قول: فكان قاب قوسين او ادنٰى فاوحى الٰى عبده ما اوحى: متعلق تپوس اوكهٔ، نو هغهٔ اووے. ماته عبداللّٰه بيان اوكهٔ، محمد صلي اللّٰه عليه وسلم جبرائيلؑ اوليد. چه ذ هغهٔ شپږ سوه وزرے وے.

باب ۳۸۱: قَوْلِهٖ لَقَدْ رَاٰى مِنْ اٰيٰتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى.

باب ۳۸۱: آيت: لَقَدْ رَاٰى مِنْ اٰيٰتِ رَبِّهِ الكبرٰى: ذ اللّٰه تعالي قول.

۸۴۴: حَدَّثَنَا قَبِيْصَةُ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ اِبْرٰهِيْمَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ لَقَدْ رَاٰى مِنْ اٰيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى قَالَ رَاٰى رَفْرَفًا اَخْضَرَ قَدْ سَدَّ الْاُفُقَ.

۸۴۴: قبيصه. سفيان. اعمش. ابراهيم. علقمه. عبداللّٰهؓ نه روايت كوي: لقد راٰى من اٰيات ربّه الكبرٰى: (حضورؐ ذ خپل رب لوئے لوئے نښے اوليدے) نه مراد دادے، چه حضورؐ شين رفرف ليدلے، چه ټول افق باندے خور شوے وو.

باب ۳۸۲: قَوْلِهٖ اَفَرَءَيْتُمُ اللَّاتَ وَالْعُزّٰى.

باب ۳۸۲: آيت: افرءيتم اللّاتَ وَالْعُزّٰى: ذ اللّٰه تعالي قول، آيا تاسو لات او عزي ليدلے دي.

۸۴۵: حَدَّثَنَا مُسْلِمٌ حَدَّثَنَا اَبُو الْاَشْهَبِ حَدَّثَنَا اَبُو الْجَوْزَاءِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ فِيْ قَوْلِهِ اللَّاتِ وَالْعُزّٰى كَانَ اللَّاتُ رَجُلًا يَلُتُّ سَوِيْقَ الْحَاجِّ.

۸۴۵: مسلم. ابوالاشهب. ابوالجوزاء. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، چه، لات هغے سړي ته وئيلے شو، چه حاجيانو ذ پاره به ئے ستوان سولول (گهس كول).

٨٤٦: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ يُوْسُفَ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَلَفَ فَقَالَ فِيْ حَلْفِهِ وَاللَّاتِ وَالْعُزّٰى فَلْيَقُلْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَمَنْ قَالَ لِصَاحِبِهِ تَعَالَ أُقَامِرْكَ فَلْيَتَصَدَّقْ.

٨٤٦: عبداللّٰه بن محمد. هشام بن يوسف. معمر. زهري. حميد بن عبدالرحمٰن. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت کوي. ذ هغهٔ بيان دے. رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل. څوک چه قسم اوخوري، او قسم کښې په لات و عزيٰ قسم اوخوري، نو هغه له ونيل پکار دي، چه د اللّٰه نه سوا بل معبود نشته. او کوم سړے چه خپل ملګري ته اووائي، راځه، چه جواري اوکړو، نو هغهٔ له پکار دي چه صدقه ورکړي.

١. په اصل کښې دا حکم د هغه سړي د پاره دے کوم چه د عربو نه نوے نوے په اسلام کښې داخل شوے وي. چونکه د مخکښې نه ئې په ژبه باندے دا کلمات ختلي وو، دے د پاره ئې اوفرمائيل چه که چرے به غلطئ سره په ژبه باندے دا قسمه کلمات راشي نو فوراً د هغې مُکافات کول پکار دي.

## باب ٣٨٣: قَوْلِهِ وَ مَنَاةَ الثَّالِثَةَ الْأُخْرٰى.

باب ٣٨٣: ايت: وَ مَنَاةَ الثَّالِثَةَ الْأُخْرٰى.

٨٤٧: حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ سَمِعْتُ عُرْوَةَ قُلْتُ لِعَائِشَةَ فَقَالَتْ إِنَّمَا كَانَ مَنْ أَهَلَّ بِمَنَاةَ الطَّاغِيَةِ الَّتِيْ بِالْمُشَلَّلِ لَا يَطُوْفُوْنَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللّٰهِ فَطَافَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْمُسْلِمُوْنَ قَالَ سُفْيَانُ مَنَاةُ بِالْمُشَلَّلِ مِنْ قُدَيْدٍ وَ قَالَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ خَالِدٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ عُرْوَةُ قَالَتْ عَائِشَةُ نَزَلَتْ فِي الْأَنْصَارِ كَانُوْا هُمْ وَ غَسَّانُ قَبْلَ

٨٤٧: حميدي. سفيان. زهري. عروه نه روايت کوي، ذ هغهٔ بيان دے. ما ذ بي بي عائشېؓ نه تپوس اوکهٔ، نو هغهٔ اووے، چه کومو خلقو به مناة طاغيه کښې چه مشلل کښې دے، احرام تړلو، نو د صفا او مروه مينځ کښې به ئې طواف نه کولو، نو اللّٰه تعالي دا آيت: إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ الخ نازل کړلو. بيا رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم او مسلمانانو طواف اوکه. سفيان اووے، چه مناة، مشلل کښې قديد سره دے، او عبدالرحمٰن بن خالد په واسطه ذ ابن شهاب، عروه ذ بي بي عائشېؓ قول نقل کړے دے، چه دا ايت: إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللّٰهِ الخ: د انصارو باره کښې نازل شوے دے. انصارو، او غسانيانو به د اسلام نه مخکښې د مناة نه احرام تړلو، او

اَنْ يُسْلِمُوْا يُهِلُّوْنَ لِمَنَاةَ مِثْلَهُ وَ قَالَ مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عَائِشَةَ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ الْاَنْصَارِ مِمَّنْ كَانَ يَهِلُّ لِمَنَاةَ وَ مَنَاةُ صَنَمٌ بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِيْنَةِ قَالُوْا يَا نَبِيَّ اللّٰهِ كُنَّا لَا نَطُوْفُ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ تَعْظِيْمًا لِمَنَاةَ نَحْوَهُ.

معمر په واسطه دَ زهري، عروه، بي بي عائشےؓ نه روايت کوي، چه د انصارو څنو خلقو به منات نه احرام تړلو. او منات د مکے او مدينے مينځ کښ يو بت وو، نو هغے خلقو عرض اوکه، چه اے د اللّٰه رسوله، مونږ به د صفا او مروه مينځ کښ دَ منات د تعظيم په غرض طواف نه کولو.

باب ۳۸۴: قَوْلِهِ فَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ وَاعْبُدُوْا.

باب ۳۸۴: ايت: فَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ وَاعْبُدُوْا تفسير. دَ اللّٰه سجده او عبادت کوے.

۸۴۸: حَدَّثَنَا اَبُوْ مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ حَدَّثَنَا اَيُّوْبُ عَنْ عِكْرَمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍؓ قَالَ سَجَدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنَّجْمِ وَ سَجَدَ مَعَهُ الْمُسْلِمُوْنَ وَالْمُشْرِكُوْنَ وَالْجِنُّ وَالْاِنْسُ تَابَعَهُ ابْنُ طَهْمَانَ عَنْ اَيُّوْبَ وَلَمْ يَذْكُرِ ابْنُ عُلَيَّةَ ابْنَ عَبَّاسٍؓ.

۸۴۸: ابو معمر. عبدالوارث. ايوب. عکرمه. حضرت ابن عباسؓ نه روايت کوي، د هغه بيان دے. نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم سورة والنجم کښ سجده اوکړه. او حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم سره مسلمانانو او مشرکانو او جن و انس سجده اوکړه. ابن طهمان ددے متابعت کښ ايوب نه روايت اوکه. او ابن عليه د حضرت ابن عباسؓ ذکر نه دے کړے.

۸۴۹: حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ اَخْبَرَنِيْ اَبُوْ اَحْمَدَ حَدَّثَنَا اِسْرَاءِيْلُ عَنْ اَبِيْ اِسْحٰقَ عَنِ الْاَسْوَدِ بْنِ يَزِيْدَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ اَوَّلُ سُوْرَةٍ اُنْزِلَتْ فِيْهَا سَجْدَةُ النَّجْمُ قَالَ فَسَجَدَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ سَجَدَ مَنْ خَلْفَهُ اِلَّا رَجُلًا رَّاَيْتُهُ اَخَذَ كَفًّا مِّنْ تُرَابٍ فَسَجَدَ عَلَيْهِ فَرَاَيْتُهُ بَعْدَ ذٰلِكَ قُتِلَ كَافِرًا وَهُوَ اُمَيَّةُ بْنُ خَلَفٍ.

۸۴۹: نصر بن علي. ابو احمد. اسرائيل. ابو اسحاق. اسود بن يزيد. عبداللّٰه نه روايت کوي، دَ هغهٔ بيان دے، رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم سجده اوکړه. او حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم پسے ټولو خلقو سجده اوکړه سوا، د يو سړي نه، هغه ما اوليدلو، چه يو موټے خاوره ئے لاس کښ واخسته، په هغے ئے سجده اوکړه، دے نه پس ما اوليدل، چه هغه سړے د کفر حالت کښ مړ شو. د هغه نوم اميه بن خلف وو.

## سُوْرَةُ اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ

## دَ سورهٔ اقتربت الساعة تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قَالَ مُجَاهِدٌ مُّسْتَمِرٌّ ذَاهِبٌ مُزْدَجَرٌ مُتَنَاهٍ وَازْدُجِرَ فَاسْتُطِيْرَ جُنُوْنًا دُسُرٍ اَضْلَاعُ السَّفِيْنَةِ لِمَنْ كَانَ كُفِرَ يَقُوْلُ كُفِرَ لَهُ جَزَاءٌ مِّنَ اللّٰهِ مُحْتَضَرٌ يَحْضُرُوْنَ الْمَآءَ وَ قَالَ ابْنُ جُبَيْرٍ مُهْطِعِيْنَ النَّسَلَانُ الْخَبَبُ السِّرَاعُ وَ قَالَ غَيْرُهُ فَتَعَاطٰى فَعَاطَهَا بِيَدِهٖ فَعَقَرَهَا الْمُحْتَظِرِ كَحِظَارٍ مِنَ الشَّجَرِ مُحْتَرِقٍ اُزْدُجِرَ افْتُعِلَ مِنْ زَجَرْتُ كُفِرَ فَعَلْنَا بِهٖ وَ بِهِمْ مَّا فَعَلْنَا جَزَآءً لِّمَا صُنِعَ بِنُوْحٍ وَّ اَصْحَابِهٖ مُسْتَقِرٌّ عَذَابٌ حَقٌّ يُقَالُ الْاَشَرُ الْمَرَحُ وَالتَّجَبُّرُ.

مجاهد اووې. "مستمر" معني تيريدونکے "مزدجر" معني حد ته رسيدونکے. "وازدجر" ليونے مشهور کړے شو "دُسُر" دَ کشتي ميخونه. "لمن کان کفر" دَ هغے بدله اخستو دَ پاره چه هغے سره کفر کړے شوے وو. "محتضر" اوبوته به حاضريدل. او ابن جبير اووے. "مهطعين" نه مراد تيز منډے وهونکے. "خبب" تيز چال سره تلل. او نورو اووے. "فتعاطى" خپل لاس سره ئے په هغے ګزار اوکه، بيائے ذبح کړه. "المحتظر" دَ اونو سوزيدلے شپول، "ازدجر" باب افتعال نه دے. "زجر" نه مشتق دے "کفر" مونږ چه هغه سره او هغے خلقو سره چه څه اوکړل، هغه، دهغے بدله کښ چه حضرت نوح عليه السلام او د هغه ملګرو سره شوے وو. "مستقر" عذاب حق. "اشر" په معني د کبر کول دي.

### بَاب ۳۸۵: قَوْلِهٖ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ وَ اِنْ يَّرَوْا اٰيَةً يُّعْرِضُوْا.

### باب ۳۸۵: ايت: وَانْشَقَّ الْقَمَرُ وَ اِنْ يَّرَوْا اٰيَةً يُّعْرِضُوْا تفسير.

۰ ۸۵: حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيٰى عَنْ شُعْبَةَ وَ سُفْيَانُ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ اِبْرَاهِيْمَ عَنْ اَبِيْ مَعْمَرٍ عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ انْشَقَّ الْقَمَرُ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِرْقَتَيْنِ فِرْقَةٌ فَوْقَ الْجَبَلِ وَ فِرْقَةٌ دُوْنَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشْهَدُوْا.

۰ ۸۵: مسدد. يحيٰي. شعبه. او سفيان. اعمش. ابراهيم. ابو معمر. حضرت ابن مسعودؓ نه روايت کوي. د رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم زمانه کښ سپوږمي دوه ټکړے شوه، يوه ټکره د غر د پاسه او بله ټکره د غر نه اخوا، وه نو رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم (ټولوته مخاطب شو) او فرمائيل چه ګواه اوسئے.

۱۸۵۱: حَدَّثَنَا عَلِيٌّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ أَخْبَرَنَا ابْنُ أَبِي نَجِيحٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ أَبِي مَعْمَرٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ انْشَقَّ الْقَمَرُ وَنَحْنُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَارَ فِرْقَتَيْنِ فَقَالَ لَنَا اشْهَدُوا اشْهَدُوا.

۱۸۵۱: علي. سفيان. ابن ابي نجيح. مجاهد. ابو معمر. حضرت عبداللّٰهؓ نه روايت كوي' چه سپوږمي دوه ټکړے شوه. دغه وخت مونږ رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم سره وو' نو حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم خلقوته اوفرمائيل' ګواه اوسئے' ګواه اوسئے.

۱۸۵۲: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنِي بَكْرٌ عَنْ جَعْفَرٍ عَنْ عِرَاكِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُودٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ انْشَقَّ الْقَمَرُ فِي زَمَانِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

۱۸۵۲: يحيي بن بكير. بكر. جعفر. عراک بن مالک. عبيداللّٰه بن عتبه بن مسعود. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي' د هغه بيان دے' دَ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم په زمانه کښ سپوږمي دوه ټکړے شوه.

۱۸۵۳: حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ شُعْبَةَ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍؓ قَالَ انْشَقَّ الْقَمَرُ فِرْقَتَيْنِ.

۱۸۵۳: مسدد. يحيي. شعبه. قتاده. حضرت انسؓ نه روايت كوي' دَ هغهٔ بيان دے' چه سپوږمۍ دوه ټکړے شوه.

بَابُ ۳۸۶: قَوْلِهِ تَجْرِي بِأَعْيُنِنَا جَزَآءً لِمَنْ كَانَ كُفِرَ وَلَقَدْ تَرَكْنَاهَا آيَةً فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ قَالَ قَتَادَةُ أَبْقَى اللّٰهُ سَفِينَةَ نُوحٍ حَتَّى أَدْرَكَهَا أَوَائِلُ هٰذِهِ الْأُمَّةِ.

باب ۳۸۶: آيت: تَجْرِيْ بِاَعْيُنِنَا جَزَاءً لِمَنْ كَانَ كُفِرَ وَلَقَدْ تَرَكْنَاهَا اٰيَةً فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ: دَ قتاده بيان دے اللّٰه تعالٰي دَ حضرت نوحؑ كشتۍ باقي اوساتله' تردے چه دَ دے اُمت مخکنو خلقو هغه بيامنده.

۱۸۵۴: حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحٰقَ عَنِ الْأَسْوَدِ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ.

۱۸۵۴: حفص بن عمر. شعبه. ابواسحاق. اسود. حضرت عبداللّٰه نه روايت كوي. دَ هغهٔ بيان دے' نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم به فهل من مدكر: (دال سره) لوستلو.

بَابُ ۳۸۷: قَوْلِهِ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا

باب ۳۸۷: آيت: وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ

الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ قَالَ مُجَاهِدٌ يَسَّرْنَا هَوَّنَّا قِرَاءَتَهُ.

فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ: مجاهد اووې "يسرنا" معني دادي چه مونږ د هغې قرات آسان کړلو.

۸۵۵: حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ عَنْ يَحْيٰى عَنْ شُعْبَةَ عَنْ اَبِىْ اِسْحٰقَ عَنِ الْاَسْوَدِ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهٗ كَانَ يَقْرَاُ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ.

۸۵۵: مسدد. يحيي. شعبه. ابو اسحاق. حضرت عبدالله نه روايت كوي. چه حضور صلي الله عليه وسلم به "فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ" لوستلو.

بَاب ۳۸۸: قَوْلِهٖ اَعْجَازُ نَخْلٍ مُّنْقَعِرٍ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِىْ وَنُذُرِ.

باب ۳۸۸: آيت: اَعْجَازُ نَخْلٍ مُّنْقَعِرٍ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِىْ وَ نُذُرِ، يعني گويا چه هغه د قجورو غورځيدلي تنې وې، نو څنګه دې څما عذاب او څما يرونه.

۸۵۶: حَدَّثَنَا اَبُوْ نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ عَنْ اَبِىْ اِسْحٰقَ اَنَّهٗ سَمِعَ رَجُلًا سَاَلَ الْاَسْوَدَ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ اَوْ مُّذَّكِرٍ فَقَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللّٰهِ يَقْرَءُ وَهَا فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ قَالَ وَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَءُ وْهَا فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ دَالًا.

۸۵۶: ابونعيم. زهير. ابو اسحق نه روايت كوي، هغه يو سړې د اسود، نه په تپوس كولو اوليدلو، چه "فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ" دې. يا "مُذَّكِرٍ" دې (يعني دال سره دې يا ذال سره دې) نو هغه اووې، ما د عبدالله نه "فَهَل مِنْ مُّدَّكِرٍ" لوستل آوريدلي دي. او هغه اووې. ما د نبي صلي الله عليه وسلم نه "فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ" دال سره لوستل آوريدلي دي.

بَاب ۳۸۹: قَوْلِهٖ فَكَانُوْا كَهَشِيْمِ الْمُحْتَظِرِ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ.

باب ۳۸۹: ايت: فَكَانُوْا كَهَشِيْمِ الْمُحْتَظِرِ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ.

۸۵۷: حَدَّثَنَا عَبْدَانُ اَخْبَرَنَا اَبِىْ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ اَبِىْ اِسْحٰقَ عَنِ الْاَسْوَدِ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَءَ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ. الْاٰيَةَ.

۸۵۷: عبدان. د عبدان پلار. شعبه. ابو اسحاق. اسود. حضرت عبدالله نبي صلي الله عليه وسلم نه روايت كوي چه حضور صلي الله عليه وسلم "فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ" لوستې دې.

بَاب ۳۹۰: قَوْلِهٖ وَلَقَدْ

باب ۳۹۰: ايت: وَلَقَدْ صَبَّحَهُمْ بُكْرَةً عَذَابٌ

صَبَّحَهُمْ بُكْرَةً عَذَابٌ مُّسْتَقِرٌّ فَذُوْقُوْا عَذَابِىْ وَ نُذُرِ.

مُّسْتَقِرٌّ فَذُوْقُوْا عَذَابِىْ وَ نُذُرِ" په هغوي سحر وختي يقيني عذاب راغے، نو څما عذاب او څما يرونه او څکئے.

**٨٥٨**: حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ اَبِىْ اِسْحٰقَ عَنِ الْاَسْوَدِ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَاَ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ.

**٨٥٨**: محمد. غندر. شعبه. ابو اسحاق. اسود. حضرت عبدالله. نبي صلي الله عليه وسلّم نه روايت كوي، چه حضورؐ "فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ" اووے.

**باب ١٣٩١**: قَوْلُهٖ وَلَقَدْ اَهْلَكْنَا اَشْيَاعَكُمْ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ.

**باب ١٣٩١**: آيت: وَلَقَدْ اَهْلَكْنَا اَشْيَاعَكُمْ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ: مونږ ستاسو ډير ملګري هلاک کړل، نو څوک نصيحت قبلونکے شته.

**٨٥٩**: حَدَّثَنَا يَحْيٰى حَدَّثَنَا وَكِيْعٌ عَنْ اِسْرَآئِيْلَ عَنْ اَبِىْ اِسْحٰقَ عَنِ الْاَسْوَدِ بْنِ يَزِيْدَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ قَرَاْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ.

**٨٥٩**: يحيٰي. وكيع. اسرائيل. ابو اسحاق. اسود بن يزيد. حضرت عبدالله نه روايت كوي، دَ هغهٔ بيان دے، ما دَ نبي صلي الله عليه وسلّم مخکښ "فهل من مدكر" اولوست (نو نبي صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل چه "فهل من مدكر" وايه).

**باب ١٣٩٢**: قَوْلُهٖ سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَ يُوَلُّوْنَ الدُّبُرَ.

**باب ١٣٩٢**: آيت: سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَ يُوَلُّوْنَ الدُّبُرَ: عنقريب دَ كفارو جماعت به شكست اوخوري، او هغه خلق به مخ په شا اوتښتي.

**٨٦٠**: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ حَوْشَبٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ عِكْرَمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍؓ ح وَ حَدَّثَنِىْ مُحَمَّدٌ حَدَّثَنَا عَفَّانُ بْنُ مُسْلِمٍ عَنْ وُهَيْبٍ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ عِكْرَمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَهُوَ فِىْ قُبَّةٍ يَوْمَ

**٨٦٠**: محمد بن عبدالله. حوشب. عبدالوهاب. خالد. عكرمه. حضرت ابن عباسؓ (دويم سند) محمد. عفان بن مسلم. وهيب. خالد. عكرمه. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، رسول الله صلي الله عليه وسلّم د جنګ بدر په ورځ چه حضور صلي الله عليه وسلّم يوه خيمه كښ وو، دا دُعائے اوکړله: اے الله زه تاته ستا د عهد او وعدے واسطه در کوم، اے الله، که ته غوارے، چه د نن نه پس دے ستا عبادت نه وي. دے كښ حضرت ابوبكرؓ دَ حضور

بَدْرٍ اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَنْشُدُكَ عَهْدَكَ وَ وَعْدَكَ اَللّٰهُمَّ اِنْ تَشَاءُ لَا تُعْبَدُ بَعْدَ الْيَوْمِ فَاَخَذَ اَبُوْ بَكْرٍ بِيَدِهٖ فَقَالَ حَسْبُكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَلْحَحْتَ عَلٰى رَبِّكَ وَهُوَ يَثِبُ فِي الدِّرْعِ فَخَرَجَ وَهُوَ يَقُوْلُ سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَ يُوَلُّوْنَ الدُّبُرَ.

صلي الله عليه وسلّم لاس اونيولو' او ونيلے' بس يا رسول الله تاسو خپل رب نه ډيره دُعا اوغبنتله. دغه وخت حضور صلي الله عليه وسلّم زغره اغوستے وه' جوش کښې وو. نو حضور صلي الله عليه وسلّم دے ايت لوستو سره راووتلو' عنقريب دَ کافرو جماعت به شکست اوخوري' او هغه خلق به مخ په شا اوتښتي.

## باب ۳۹۳: قَوْلِهٖ بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ اَدْهٰى وَ اَمَرُّ يَعْنِي مِنَ الْمَرَارَةِ.

باب ۳۹۳: ايت: بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ اَدْهٰى وَ اَمَرُّ. "امرّ" مراره (تريخ) نه ماخوذ دے.

۱۸۶۱: حَدَّثَنَا اِبْرَاهِيْمُ بْنُ مُوْسٰى حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ يُوْسُفَ اَنَّ ابْنَ جُرَيْجٍ اَخْبَرَهُمْ قَالَ اَخْبَرَنِيْ يُوْسُفُ بْنُ مَاهِكٍ قَالَ اِنِّيْ عِنْدَ عَائِشَةَ اُمِّ الْمُؤْمِنِيْنَ قَالَتْ لَقَدْ اُنْزِلَ عَلٰى مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ وَ اِنِّيْ لَجَارِيَةٌ اَلْعَبُ بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ اَدْهٰى وَ اَمَرُّ.

۱۸۶۱: ابراهيم بن موسٰي. هشام بن يوسف. ابن جريج. يوسف بن مالک نه روايت کوي. د هغه بيان دے' زه د مؤمنانو مور' بي بي عائشے سره ووم' نو هغے اووے' چه ايت: بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ اَدْهٰى وَ اَمَرُّ: په محمد صلي الله عليه وسلّم مکه کښې نازل شولو' هغه وخت زه جينئ ووم' او لوبے به م کولے.

۱۸۶۲: حَدَّثَنِيْ اِسْحٰقُ حَدَّثَنَا خَالِدٌ عَنْ خَالِدٍ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَهُوَ فِيْ قُبَّةٍ لَّهٗ يَوْمَ بَدْرٍ اَنْشُدُكَ عَهْدَكَ وَ وَعْدَكَ اَللّٰهُمَّ اِنْ شِئْتَ لَمْ تُعْبَدْ بَعْدَ الْيَوْمِ اَبَدًا فَاَخَذَ اَبُوْبَكْرٍ بِيَدِهٖ وَ قَالَ حَسْبُكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَقَدْ اَلْحَحْتَ عَلٰى رَبِّكَ وَهُوَ فِي الدِّرْعِ فَخَرَجَ وَهُوَ يَقُوْلُ

۱۸۶۲: اسحاق. خالد. عکرمه. حضرت ابن عباسؓ نه روايت کوي' دَ جنګ بدر په ورځ نبي صلي الله عليه وسلّم يوه خيمه کښې وو. حضور صلي الله عليه وسلّم دا دُعا اوکړله' اے الله' زهٔ تاته ستا عهد او وعده يادَوم اے الله که تهٔ غوارے' نو دَ نن نه پس به ستا عبادت چرے اونشي' نو دے کښې حضرت ابوبکرؓ دَ حضور صلي الله عليه وسلّم لاس مبارک اونيولو او ونيلے' بس کافي ده' يا رسول الله' تاسو خپل رب نه ډيره دُعا اوغبنتله دغه وخت حضورؐ زغره اغستے وه. حضور

سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَ يُوَلُّوْنَ الدُّبُرَ بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ اَدْهٰى وَ اَمَرُّ.

بهرته تشريف راوړلو' نو دا آيت ئې لوستلو: سَيُهْزَمُ الجمع و يولّون الدّبر' بل الساعة ادهى و امرّ: عنقريب دَ كافرو ډله به ماتې اوخوري.

# سُوْرَةُ الرَّحْمٰن

# دَ سورهٔ الرحمٰن تفسير

وَ قَالَ مُجَاهِدٌ بِحُسْبَانٍ كَحُسْبَانِ الرَّحٰى وَ قَالَ غَيْرُهٗ وَ اَقِيْمُوا الْوَزْنَ يُرِيْدُ لِسَانَ الْمِيْزَانِ وَالْعَصْفُ بَقْلُ الزَّرْعِ اِذَا قُطِعَ مِنْهُ شَيْءٌ قَبْلَ اَنْ يُّدْرِكَ فَذٰلِكَ الْعَصْفُ وَالرَّيْحَانُ وَرَقُهٗ وَالْحَبُّ الَّذِيْ يُؤْكَلُ مِنْهُ وَالرَّيْحَانُ فِيْ كَلَامِ الْعَرَبِ الرِّزْقُ وَ قَالَ بَعْضُهُمْ وَالْعَصْفُ يُرِيْدُ الْمَاْكُوْلَ مِنَ الْحَبِّ وَالرَّيْحَانُ النَّضِيْجُ الَّذِيْ لَمْ يُؤْكَلْ وَ قَالَ غَيْرُهُ الْعَصْفُ وَرَقُ الْحِنْطَةِ وَ قَالَ اَبُوْ مَالِكٍ الْعَصْفُ اَوَّلُ مَا يَنْبُتُ تُسَمِّيْهِ النَّبَطُ هَبُوْرًا وَّ قَالَ مُجَاهِدٌ الْعَصْفُ وَرَقُ الْحِنْطَةِ وَالرَّيْحَانُ الرِّزْقُ وَالْمَارِجُ اللَّهَبُ الْاَصْفَرُ وَالْاَخْضَرُ الَّذِيْ يَعْلُوا النَّارَ اِذَا اُوْقِدَتْ وَ قَالَ بَعْضُهُمْ عَنْ مُجَاهِدٌ رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ لِلشَّمْسِ فِيْ الشِّتَآءِ مَشْرِقٌ وَ مَشْرِقٌ فِيْ الصَّيْفِ وَ رَبُّ

"وَ اَقِيْمُوا الْوَزْنَ" نه مراد' د تلې (ترازو) ډنډئ ده (ډنډي د تلې لرګي چه په دواړو سرونو کښې ئې د تلې چابړې تړلې وي) "عَصْفُ" کچه فصل ته وائي' چه د پخيدونه مخکښې د هغې نه څه اوريبلې شي. نو دا "عَصْفُ" دې "وَالرَّيْحَانُ" په معنٰي دَ روزي' او هغه دا نه چه خوړلې شي او ريحان د عربو کلام کښې رزق ته وائي. او بعضو اووې. چه "عَصْفُ" نه مراد هغه دانې دي. چه لانه وي خوړلې شوې. او نورو خلقو اووې چه "عَصْفُ" د غنمو پاڼرو ته وائي. او ضحاک اووې. "عَصْفُ" په معنٰي دا اوچ وابنهٔ دې. ابو مالک اووې. "عَصْفُ" دې ته وائي. چه د ټولونه مخکښې اوټوکيږي. نبطي ژبه کښې دې ته "هبور" وائي. او مجاهد اووې. "عَصْفُ" معنٰي د غنمو پاڼره ده. او "ريحان" په معنٰي د رزق دې. "مَارِجُ" زيړې او شنې شغلې چه اور بلولو سره اوچتيږي. او بعضو د مجاهد نه نقل کړې دې. چه "رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ" نه ژمي کښې د نمر د طلوع کيدو ځائې او ګرمي کښې د نمر دَ طلوع کيدو ځائې مراد دې. "رب المغربين" ژمي يا يخني کښې دَ نمر پريوتو ځائې او ګرمي کښې دَ نمر دَ غروب کيدو ځائې ته وائي. "لا يبغيان" دواړه يوځائې کيږي نه. "منشاٰت" هغه جهاز چه د هغې بادبان بلند کړې شوې وي' او د کومو بادبان چه بلند کړې شوې

الْمَغْرِبَيْنِ مَغْرِبُهَا فِي الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ لَا يَبْغِيَانِ لَا يَخْتَلِطَانِ الْمُنْشَآتُ مَا رُفِعَ قِلْعُهُ مِنَ السُّفُنِ فَأَمَّا مَالَمْ يُرْفَعْ قِلْعُهُ فَلَيْسَ بِمُنْشَاةٍ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ كَالْفَخَّارِ كَمَا يُصْنَعُ الْفَخَّارُ الشُّوَاظُ لَهَبٌ مِنَ نَّارٍ وَنُحَاسٌ الصُّفْرُ يُصَبُّ عَلَى رُؤُوسِهِمْ يُعَذَّبُوْنَ بِهِ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ يَهُمُّ بِالْمَعْصِيَةِ فَيُذْكَرُ اللّٰهَ عَزَّ وَ جَلَّ فَيَتْرُكُهَا مُدْهَآمَّتَانِ سَوْدَاوانِ مِنَ الرِّيِّ صَلْصَالٍ طِيْنٌ خُلِطَ بِرَمْلٍ فَصَلْصَلَ كَمَا يُصَلْصِلُ الْفَخَّارُ وَ يُقَالُ صَلْصَالُ كَمَا يُقَالُ صَرَّ الْبَابُ عِنْدَ الْإِغْلَاقِ وَ صَرْصَرَ مِثْلُ كَبْكَبْتُهُ يَعْنِيُ كَبَبْتُهُ فَاكِهَةٌ وَ نَخْلٌ وَ رُمَّانٌ وَ قَالَ بَعْضُهُمْ لَيْسَ الرُّمَّانُ وَالنَّخْلُ بِالْفَاكِهَةِ وَ اَمَّا الْعَرَبُ فَاِنَّهَا تَعُدُّهَا فَاكِهَةً كَقَوْلِهِ عَزَّ وَ جَلَّ حَافِظُوْا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى فَاَمَرَهُمْ بِالْمُحَافَظَةِ عَلٰى كُلِّ الصَّلَوَاتِ ثُمَّ اَعَادَ الْعَصْرَ تَشْدِيْدًا لَهَا كَمَا اُعِيْدَ النَّخْلُ وَالرُّمَّانُ وَ مِثْلُهَا اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يَسْجُدُ لَهُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ ثُمَّ قَالَ وَ كَثِيْرٌ مِّنَ

نه وي، هغه "منشات" نه دي، او مجاهد اووے. "نحاس" نه مراد هغه تانبه چه ويلے کړے شي او د هغوي په سرونو به واچولے شي او هغوي ته به دے سره عذاب ورکيږي. "خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ" ډ خه گناه قصد کوي، بيا اللّٰه تعالىٰ ياد کړي، نو ډ هغے اراده ترک کړي. "شُوَاظُ" ډ اور شغلے. "مُدْهَآمَّتَان" ډوب شين مائل توروالي ته "طِيْنٌ" هغه خاوره چه شېره (ريت) ورسره يوځائے شوے وي، چه لکه د تيکري تنګيږي. او بعضے وائي، چه ددے معني دي سخا شوے (سڑا ہوا)۔ ددے "صل" مراد اخلي "صَلْصَالٍ" ورته وئيلے شي، څنګه چه ډ دروازے د بندولو په وخت وائي "صَرَّ الْبَابُ" او "صَرْصَرَ" ددے مثال داسے دے، لکه "كَبْكَبْتُهُ" وئيلو سره "كَبَبْتُهُ" ترے مراد اخلي. "فاكهة و نخل و رمّان" بعضو وئيلے دي، چه رمان او نخل (آنار او قجورے) فواكه کښې نه دي. ليکن عرب دا فاکه شميري، لکه ډ اللّٰه تعالىٰ قول، ډ ټولو مونځونو او ډ مينځني مونځ حفاظت کوئے نو اللّٰه تعالىٰ ډ ټولو مونځونو ډ حفاظت حکم اوکړلو بيا ډ مينځني مونځ ئے صرف ډ دے ډ اهميت ظاهرولو ډ پاره دوباره ذکر اوکړ. دغه شان ډ نخل او رمان ئے دوباره ذکر اوکړ. او ډ دے په مثل دا آيت دے، چه آيا تا اونه ليدل چه کوم خلق آسمانونو او زمکه کښې دي، او اکثر خلق اللّٰه ته سجده کوي. بيائے اوفرمائيل، او ډير خلق چه په هغوي عذاب ثابت شوے دے. "من في السمٰوٰت ومن في الارض" په ضمن کښې ډ ټولو خلقو ذکر شوے دے. ليکن "كثير من الناس" ئے جدا اووے. "افنان" نه مراد شاخونه (بناخونه) دي "وجنا الجنتين دان" هغه ميوه چه

النَّاسِ وَ كَثِيْرٌ حَقَّ عَلَيْهِ الْعَذَابُ وَقَدْ ذَكَرَهُمْ فِيْ اَوَّلِ قَوْلِهٖ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ وَ قَالَ غَيْرُهٗ اَفْنَانٍ اَغْصَانٍ وَ جَنَا الْجَنَّتَيْنِ مَا يُجْتَنٰى قَرِيْبٌ وَ قَالَ الْحَسَنُ فَبِاَيِّ اٰلَاءِ نِعَمِهٖ وَ قَالَ قَتَادَةُ رَبِّكُمَا يَعْنِي الْجِنَّ وَالْاِنْسَ وَ قَالَ اَبُو الدَّرْدَاءِ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِيْ شَاْنٍ يَغْفِرُ ذَنْبًا وَ يَكْشِفُ كَرْبًا وَّ يَرْفَعُ قَوْمًا وَّ يَضَعُ اٰخَرِيْنَ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍؓ بَرْزَخٌ حَاجِزٌ الْاَنَامُ الْخَلْقُ نَضَّاخَتَانِ فَيَّاضَتَانِ ذُو الْجَلَالِ ذُو الْعَظَمَةِ وَ قَالَ غَيْرُهٗ مَارِجٌ خَالِصٌ مِنَ النَّارِ يُقَالُ مَرَجَ الْاَمِيْرُ رَعِيَّتَهٗ اِذَا خَلَّاهُمْ يَعْدُوْ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ مَرَجَ اَمْرُ النَّاسِ مَرِيْجٍ مُلْتَبِسٍ مَرَجَ اخْتَلَطَ الْبَحْرَانِ مِنْ مَرَجْتَ دَابَّتَكَ تَرَكْتَهَا سَنَفْرُغُ لَكُمْ سَنُحَاسِبُكُمْ لَا يَشْغَلُهٗ شَيْءٌ عَنْ شَيْءٍ وَهُوَ مَعْرُوْفٌ فِيْ كَلَامِ الْعَرَبِ يُقَالُ لَا تَفَرَّغَنَّ لَكَ وَمَا بِهٖ شُغْلٌ يَقُوْلُ لَاٰخُذَنَّكَ عَلٰى غِرَّتِكَ.

چنې کولے به شي' قريب به وي. حسن اووے "فباىّ الاء" کښې "آلاء" نه مراد ذَ هغه نعمتونه دي. او قتاده اووے "ربکما" کښې د "کما" مرجع جن و انس دي. او ابو الدرداء اووے. "کلّ يوم في شان" گناه ببښي مصيبت لرے کوي' يو قوم اوچتوي' بل پست کوي (غرځوی) او ابن عباسؓ اووے. "برزخ" نه مراد حاجز (منع کونکے) دے. "انام" خلق. "نضاختان" جوش کونکي. "ذوالجلال" عظمت واله' او نورو اووے. "مارج" خالص اُور (چه هغے کښې لوګے نه وي). "مرج الامير رعيته" هغه وخت وائي' هر کله چه امير ذَ هغوي مينځ کښې تخليه (جداوالے) اوکړي' داسے حال کښې چه هغوي په يو بل ذَ حملے په غرض ورمنډه کوي. "مرج امر الناس" ذَ خلقو معامله مشتبه شوه. "مريج" يوځائے شوے. "مرج" دوه دريابونه ئے يوځائے کړل. "مرجت دابتک" (تا خپل خناور پريښودل) نه ماخوذ دے. "سنفرغ لکم" عنقريب به مونږ ستاسو محاسبه اوکړو. هغه هيڅ څيز' هيڅ څيز طرف نه مشغول کولے نشي' دا اصطلاح کلام عربو کښې مشهوره ده' وئيلے شي "لَا تَفَرَّغَنَّ لَکَ" زهٔ به ستا ذَ پاره فارغ يم' حالانکه ذَ هغهٔ هيڅ کار نشته' وائي' ستا په غفلت به ستا مواخذه اوکړم.

## بَاب ۳۹۴: قَوْلِهٖ وَمِنْ دُوْنِهِمَا جَنَّتَانِ.

## باب ۳۹۴: آيت: وَمِنْ دُوْنِهِمَا جَنَّتَانِ: ذَ الله تعالٰي ذَ قول تفسير.

۸۶۳: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ اَبِي الْاَسْوَدِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيْزِ بْنُ عَبْدِ الصَّمَدِ الْعَمِّيُّ حَدَّثَنَا اَبُوْ عِمْرَانَ

۸۶۳: عبدالله بن ابي الاسود. عبدالعزيز بن عبدالصمد عمي. ابو عمران جوني. ابوبکر بن عبدالله بن قيس. ذَ خپل پلار نه روايت کوي. رسول الله صلي

الْجَوْنِيُّ عَنْ أَبِيْ بَكْرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ قَيْسٍ عَنْ أَبِيْهِ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ جَنَّتَانِ مِنْ فِضَّةٍ اٰنِيَتُهُمَا وَمَا فِيْهِمَا وَ جَنَّتَانِ مِنْ ذَهَبٍ اٰنِيَتُهُمَا وَمَا فِيْهِمَا وَمَا بَيْنَ الْقَوْمِ وَ بَيْنَ أَنْ يَّنْظُرُوْا إِلٰى رَبِّهِمْ إِلَّا رِدَآءُ الْكِبْرِ عَلٰى وَجْهِهٖ فِيْ عَدْنٍ.

اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل دوه باغونه به وي، چه د هغے لوښي او د هغے ټول څيزونه به د چاندۍ وي، او دوه باغونه به وي، چه د هغے لوښي او ټول څيزونه به د سرو زرو وي. او د خلقو مينځ کښې او ددے امر مينځ کښې چه هغه خلق به خپل رب جنت عدن کښې اووينې، بيوا، ذَ عظمت ذَ پردے هيڅ څيز ذَ هغه په مخ به نهٔ وي.

بَابٌ ۳۹۵: قَوْلُهٗ حُوْرٌ مَّقْصُوْرَاتٌ فِي الْخِيَامِ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ حُوْرٌ سُوْدُ الْحَدَقِ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ مَقْصُوْرَاتٌ مَحْبُوْسَاتٌ قُصِرَ طَرْفُهُنَّ وَ اَنْفُسُهُنَّ عَلٰى أَزْوَاجِهِنَّ قَاصِرَاتٌ لَا يَبْغِيْنَ غَيْرَ أَزْوَاجِهِنَّ.

باب ۳۹۵: ايت: حُوْرٌ مَّقْصُوْرَاتٌ فِي الْخِيَامِ (داسے حورے چه خيمو کښې پټے دي). او ابن عباسؓ اووے، چه "حُوْرٌ" تورو سترګو واله ښځے ته وائي. او مجاهد اووے چه "مَقْصُوْرَاتٌ" په معني دَ "مَحْبُوْسَاتٌ" بند کړے شوے. ايسارے کړے شوے. د هغوي سترګے او خواهشات به خپلو خاوندانو باندے موقوف دي "قَاصِرَاتٌ" د خپلو خاوندانو نه علاوه دَ بل چا تلاش نه کوي.

۸۶۴: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنّٰى قَالَ حَدَّثَنِيْ عَبْدُ الْعَزِيْزِ بْنُ عَبْدِ الصَّمَدِ حَدَّثَنَا أَبُوْ عِمْرَانَ الْجَوْنِيُّ عَنْ أَبِيْ بَكْرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ قَيْسٍ عَنْ أَبِيْهِ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ خَيْمَةً مِّنْ لُؤْلُؤَةٍ مُّجَوَّفَةٍ عَرْضُهَا سِتُّوْنَ مِيْلًا فِيْ كُلِّ زَاوِيَةٍ مِّنْهَا أَهْلٌ مَا يَرَوْنَ الْاٰخَرِيْنَ يَطُوْفُ عَلَيْهِمُ الْمُؤْمِنُوْنَ وَ جَنَّتَانِ مِنْ فِضَّةٍ اٰنِيَتُهُمَا وَمَا فِيْهِمَا وَ جَنَّتَانِ مِنْ كَذَا اٰنِيَتُهُمَا

۸۶۴: محمد بن مثنٰي. عبدالعزيز بن عبدالصمد. ابو عمران جوني. ابوبکر بن عبداللّٰه بن قيس. د خپل پلار نه روايت کوي. د هغهٔ بيان دے. رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل. جنت کښې دَ ډډے ملغلرے يوه خيمه ده، چه د هغے پلنوالے شپيته ميله دے ددے په هر ګُټ کښې به بيبيانے وي. د يو ګُټ واله به دَ بل ګټ واله نشي ليدے. او مؤمنان به په هغوي چکر لګوي. او دوه باغونه دي، چه دَ هغے لوښي او د هغے ټول څيزونه دَ چاندي دي. او دوه داسے باغونه دي، چه دَ هغے لوښي او ټول څيزونه دَ سرو زرو دي. او جنت

وَمَا فِيهِمَا وَمَا بَيْنَ الْقَوْمِ وَ بَيْنَ اَنْ يَّنْظُرُوا اِلٰى رَبِّهِمْ اِلَّا رِدَآءُ الْكِبْرِ عَلٰى وَجْهِهٖ فِىْ جَنَّةِ عَدْنٍ.

عدن کښې (چه د جنت د يو حصے نوم دے) د خلقو او د هغوي د رب د ديدار مينځ کښې به هيڅ څيز بغير د عظمت د پردے نه به وي.

# سُوْرَةُ الْوَاقِعَةِ

# د سورۀ واقعه تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ قَالَ مُجَاهِدٌ رُجَّتْ زُلْزِلَتْ بُسَّتْ فُتِّتَتْ لُتَّتْ كَمَا يُلَتُّ السَّوِيْقُ الْمَخْضُوْدُ الْمُوْقَرُ حَمْلًا وَّ يُقَالُ ايضًا لَا شَوْكَ لَهُ مَنْضُوْدٍ اَلْمَوْزُ وَالْعُرُبُ الْمُحَبَّبَاتُ اِلٰى اَزْوَاجِهِنَّ ثُلَّةٌ اُمَّةٌ يَحْمُوْمٍ دُخَانٍ اَسْوَدَ يُصِرُّوْنَ يُدِيْمُوْنَ الْهِيْمُ الْاِبِلُ الظِّمَاءُ لَمُغْرَمُوْنَ لَمُلْزَمُوْنَ رَوْحٌ جَنَّةٌ وَ رَخَاءٌ وَّ رَيْحَانٌ الرِّزْقُ وَ نُنْشِاَكُمْ فِىْ اَىِّ خَلْقٍ نَشَآءُ وَ قَالَ غَيْرُهٗ تَفَكَّهُوْنَ تَعْجَبُوْنَ عُرُبًا مُثَقَّلَةً وَاحِدُهَا عَرُوْبٌ مِثْلُ صَبُوْرٍ وَّ صُبُرٍ يُسَمِّيْهَا اَهْلُ مَكَّةَ الْعَرِبَةَ وَ اَهْلُ الْمَدِيْنَةِ الْغَنِجَةَ وَاَهْلُ الْعِرَاقِ الشَّكِلَةَ وَ قَالَ فِىْ خَافِضَةٌ لِقَوْمٍ اِلَى النَّارِ وَ رَافِعَةٌ اِلَى الْجَنَّةِ مَوْضُوْنَةٍ مَنْسُوْجَةٍ وَ مِنْهُ وَضِيْنَ النَّاقَةِ وَالْكُوْبُ لَا اٰذَانَ لَهٗ وَلَا عُرْوَةَ وَالْاَبَارِيْقُ ذَوَاتُ الْاٰذَانِ وَالْعُرٰى

او مجاهد اووے "رجت" په معنٰي د اوخوزولے شي. "بست" مات او ميده کړے شي، څنګه چه ستوان ميده کولے شي. "المخضود" چه بوج شوے وي. او هغے څيز ته هم وئيلے شي، چه هغے کښې ازغي نۀ وي. "منضود" کيلا "عُرُب" چه خپلو خاوندانو سره به محبت کونکے وو. "ثلةٌ" جماعت. ډله. "يحموم" تور لوګے. "يصرون" هميشه ئے کوي. "هيم" تږے اوښ. "لمغرمون" الزام کړے شوے. "روح" جنت او خوش حالي. "ريحان" رزق. "و ننشاکم" کوم صورت کښې چه مونږ غواړو، پيدا کړو. او نورو اووے "تفکهون" تاسو تعجب کوئے. "عربا" مثقله دے يعني عين متحرک او مضمون دے. د دے واحد "عروب" دے لکه صبور او صبر اهل مکه دے ته "عربه" او اهل مدينه "غنجه" او اهل عراق "شکله" وائي. "خافضة" يو قوم د جهنم پستي ته بوتلونکے، او جنت طرف ته پورته بوتلونکے. "موضونة" جوړ شوے. دے نه. "وضين الناقة" ماخوذ دے. او "کوب" هغه لوښے دے، چه هغے کښې دسته نه وي. "اباريق" هغه وي چه هغې کښې دستے وي. "مسکوب" بهيدونکے "وَ فُرُشٍ مَّرْفُوْعَةٍ" يو بل د پاسه به غوړېدلے وي. "مُتْرَفِيْنَ" فائده اوچتونکي "ما

مَكْوُبٍ جَارٍ وَّ فُرُشٍ مَّرْفُوْعَةٍ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ مُتْرَفِيْنَ مُتَمَتِّعِيْنَ مَا تُمْنُوْنَ هِيَ النُّطْفَةُ فِيْ اَرْحَامِ النِّسَآءِ لِلْمُقْوِيْنَ لِلْمُسَافِرِيْنَ وَالْقِيُّ الْقَفْرُ بِمَوَاقِعِ النُّجُوْمِ بِمُحْكَمِ الْقُرْاٰنِ وَ يُقَالُ بِمَسْقِطِ النُّجُوْمِ اِذَا سَقَطْنَ وَ مَوَاقِعُ وَ مَوْقِعٌ وَاحِدٌ مُّدْهِنُوْنَ مُكَذِّبُوْنَ مِثْلُ لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُوْنَ فَسَلَامٌ لَّكَ اَيْ مُسَلَّمٌ لَكَ اِنَّكَ مِنْ اَصْحَابِ الْيَمِيْنِ وَ اُلْغِيَتْ اِنَّ وَهُوَ مَعْنَاهَا كَمَا تَقُوْلُ اَنْتَ مُصَدَّقٌ مُسَافِرٌ عَنْ قَلِيْلٍ اِذَا كَانَ قَدْ قَالَ اِنِّيْ مُسَافِرٌ عَنْ قَلِيْلٍ وَقَدْ يَكُوْنُ كَالدُّعَآءِ لَهُ كَقَوْلِكَ فَسَقْيًا مِّنَ الرِّجَالِ اِنْ رَفَعْتَ السَّلَامَ فَهُوَ مِنَ الدُّعَآءِ تُوْرُوْنَ تَسْتَخْرِجُوْنَ اَوْرَيْتُ اَوْقَدْتُ لَغْوًا بَاطِلًا تَاْثِيْمًا كَذِبًا.

"تمنون" نطفه چه د ښځې په رحم کښې توېږي "لِلْمُقْوِيْنَ" مسافرو د پاره "قِيٌّ" نه ماخوذ دے. په معني د اوچ کرس میدان. "بِمَوَاقِعِ النُّجُوْمِ" د ستورو ځائے يعني د قرآن د محکم ايتونو قسم خورم. او بعضے خلقو اووے، چه دے نه مراد، د ستورو د ډوبيدو ځائے دے. او "مَوَاقِع" او "مَوْقِعٌ" يو دي. "مُدْهِنُوْن" دروغجن کونکے دي، لکه "لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُوْنَ" چه دي. "فَسَلَامٌ لَكُمْ" يعني ته تسليم کړے شوے ئے. ته د اصحاب اليمين نه ئے. او دے کښې د "ان" لفظ نه دے راوړے. او ددے مثال داسے دے، لکه چه تاسو چاته اووائے "اَنْتَ مُصَدَّقٌ مُسَافِرٌ عَنْ قَلِيْلٍ" يعني ستا تصديق کولے شي، چه ته عنقريب سفر کوونکے ئے، هر کله چه هغه خپله وئيلے وي، چه زه عنقريب سفر کوونکے يم. او کله د دُعا په طور هم مستعمليږي، لکه فَسَقْيًا مِّنَ الرِّجَالِ (خلق به سيراب شي) او سلام چه حالت رفع کښې وي، نو دُعا د پاره وي. "تُوْرُوْنَ" تاسو اوکاږئے. "اَوْرَيْتُ" اُوبارولے شو. "لَغْوًا" باطل. "تَاْثِيْمًا" دروغ.

### باب ۳۹۶: قَوْلِهٖ وَ ظِلٍّ مَّمْدُوْدٍ.

### باب ۳۹۶: ايت: وَ ظِلٍّ مَّمْدُوْدٍ، د الله تعالیٰ قول (او خور شوے سورے).

۸۲۵: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ اَبِي الزِّنَادِ عَنِ الْاَعْرَجِ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ فِي الْجَنَّةِ شَجَرَةً يَسِيْرُ الرَّاكِبُ فِيْ ظِلِّهَا مِائَةَ عَامٍ لَا يَقْطَعُهَا وَاقْرَءُوْا اِنْ شِئْتُمْ وَ

۸۲۵: علي بن عبدالله. سفيان. ابوالزناد. اعرج. حضرت ابوهريرةؓ نه روايت کوي، او هغه دا حضور صلي الله عليه وسلّم ته رسوي. حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل. جنت کښې يوه اُونه ده، چه د هغے په سوري کښې به سور (سوار) سل کاله پورے ځي، او هغه به طے نهٔ کړے شي. که تاسو غواړئے، نو دا آيت "و ظل

ظِلٍّ مَمْدُوْدٍ.

ممدود" اولولے.

# سُوْرَةُ الْحَدِيْدِ

# دَ سورۂ حديد تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قَالَ مُجَاهِدٌ جَعَلَكُمْ مُسْتَخْلَفِيْنَ مُعَمَّرِيْنَ فِيْهِ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ مِنَ الضَّلَالَةِ اِلَى الْهُدٰى وَ مَنَافِعُ لِلنَّاسِ جُنَّةٌ وَ سِلَاحٌ مَوْلَاكُمْ اَوْلٰى بِكُمْ لِئَلَّا يَعْلَمَ اَهْلُ الْكِتَابِ لِيَعْلَمَ اَهْلُ الْكِتَابِ يُقَالُ الظَّاهِرُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا وَالْبَاطِنُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا اُنْظُرُوْنَا اُنْتَظِرُوْنَا.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

مجاهد اووے "جعلكم مستخلفين" يعني تاسو ئے جوړ كړئے، او هغے كښې آباديدونكي "من الظلمات الى النور" ګمراهي نه هدايت طرف ته. "و منافع للناس" ډهال او وسله. "مولاكم" ستاسو رونق هغه دے. "لئلا يعلم اهل الكتاب" چه اهل كتاب پوه شي. وئيلے شي چه هغه دَ علم دَ اعتبار نه په هر څيز ظاهر دے. او دَ علم دَ اعتبار نه دَ هر څيز نه پټ دے. "انظرونا" څمونږ انتظار كوئے.

# سُوْرَةُ الْمُجَادَلَةِ

# دَ سورۂ مجادله تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ قَالَ مُجَاهِدٌ يُحَادُّوْنَ يُشَاقُّوْنَ اللّٰهَ كُبِتُوْا اُخْزُوْا مِنَ الْخِزْيِ اِسْتَحْوَذَ غَلَبَ.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

او مجاهد اووے "يحادون" دَ اللّٰه مخالفت كوي. "كبتوا" ذليل كړے شو. "خزى" نه ماخوذ دے. "استحوذ" غالب شولو.

# سُوْرَةُ الْحَشْرِ

# د سورۂ حشر تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْجَلَاءُ الْاِخْرَاجُ مِنْ اَرْضٍ اِلٰى اَرْضٍ.

٨٦٦: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيْمِ حَدَّثَنَا سَعِيْدُ بْنُ سُلَيْمَانَ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ اَخْبَرَنَا اَبُوْ بِشْرٍ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

دَ جلاء معني دَ يو ملک نه بل ملک ته اوبنكل.

٨٦٦: محمد بن عبدالرحيم. سعيد بن سليمان. هشيم. ابوبشر. سعيد بن جبير نه روايت كوي. د هغه بيان دے ما د ابن عباسؓ نه د سورۂ توبه متعلق تپوس او كه نو هغه اووے، دا سورت

عَبَّاسٍ سُوْرَةُ التَّوْبَةِ قَالَ التَّوْبَةُ هِيَ الْفَاضِحَةُ مَا زَالَتْ تَنْزِلُ وَ مِنْهُمْ وَ مِنْهُمْ حَتَّى ظَنُّوْا اَنَّهَا لَمْ تُبْقِ اَحَدًا مِنْهُمْ اِلَّا ذُكِرَ فِيْهَا قَالَ قُلْتُ سُوْرَةُ الْاَنْفَالِ قَالَ نَزَلَتْ فِيْ بَدْرٍ قَالَ قُلْتُ سُوْرَةُ الْحَشْرِ قَالَ نَزَلَتْ فِيْ بَنِي النَّضِيْرِ.

د کافرو فضیحت (رسو) کوونکے دے "وَ مِنْهُمْ وَ مِنْهُمْ" ایتونه نازلیدل' تر دے چه خلقو گمان اوکړ' چه هیڅوک به باقي پاتے نشي' چه د هغه ذکر نه وي. ما د سورة انفال متعلق تپوس اوکړ' نو ونیلے چه دَ بدر متعلق نازل شوے ما وے سورة حشر نو وے فرمائیل دَ بني نضیر متعلق نازل شوے دے.

۸۶۷: حَدَّثَنَا حَسَنُ بْنُ مُدْرِكٍ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَمَّادٍ اَخْبَرَنَا اَبُوْ عَوَانَةَ عَنْ اَبِيْ بِشْرٍ عَنْ سَعِيْدٍ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ سُوْرَةُ الْحَشْرِ قَالَ قُلْ سُوْرَةُ النَّضِيْرِ.

۸۶۷: حسن بن مدرک. یحیٰي بن حماد. ابو عوانه. ابو بشر. حضرت سعید نه روایت کوي' د هغه بیان دے. ما د حضرت ابن عباسؓ نه د سورة حشر باره کښ تپوس اوکړ' هغه اووے دے ته "سُوْرَةُ النَّضِيْرِ" وایه.

باب ۳۹۷: قَوْلِهِ مَا قَطَعْتُمْ مِنْ لِيْنَةٍ نَخْلَةٍ مَالَمْ تَكُنْ عَجْوَةً اَوْ بَرْنِيَّةً.

باب ۳۹۷: ایت: مَا قَطَعْتُمْ مِنْ لِيْنَةٍ: "لِيْنَةٍ" هر هغے اونے ته وائي' چه "عَجْوَةً" یا "بَرْنِيَّةً" نه وي.

۸۶۸: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا لَيْثٌ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَرَّقَ نَخْلَ بَنِي النَّضِيْرِ وَ قَطَعَ وَ هِيَ الْبُوَيْرَةُ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى مَا قَطَعْتُمْ مِنْ لِيْنَةٍ اَوْ تَرَكْتُمُوْهَا قَائِمَةً عَلٰى اُصُوْلِهَا فَبِاِذْنِ اللّٰهِ وَلِيُخْزِيَ الْفَاسِقِيْنَ.

۸۶۸: قتیبه. لیث. نافع. حضرت ابن عمرؓ نه روایت کوي. رسول اللّٰه صلي اللّٰه علیه وسلّم دَ بني نضیر اُونے اوسوزولے' او پریکړلے دے ته بویره ونیلے شي. او اللّٰه تعالیٰ دا ایت "مَا قَطَعْتُمْ مِنْ لِيْنَةٍ" تاسو چه کومے اُونے اووهلے' یا هغه مو د هغے په جرړو ولاړے پریښودلے' نو دا دَ اللّٰه حکم وو' او څکه چه فاسقان رسوا کړي.

باب ۳۹۸: قَوْلِهِ مَا اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهِ.

باب ۳۹۸: ایت: "مَا اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهِ" (چه اللّٰه خپل رسول ته بغیر جنگ نه عطاء کړلو[1]).

[1]. د فقے په اصطلاح کښے "فَيْ" هغه مال دے کوم چه د اهل حربو نه بغیر د جنگ نه حاصل شي.

د بنو نضير يهودو خلاف د حضورؐ كارروائي د هغوئ د مسلسل معاندانه روش په وجه سره وه. بهرحال په حالت جنګ كښې د مخالف قلعه ماتولو، باغونو او ښتو ويجاړلو ضرورت هم پيښيږي. لو ددې اسلام اجازت وركړې دې. په ډېرو حالاتو كښې كه چرې دا قسمه كاروائي اونه كړې شي نو د هغې نتيجه شكست هم كېدې شي. د فقهاؤ په دې باندې اتفاق دې چه دا قسمه كاروائي په حالت جنګ كښې جائز ده.

۸۶۹: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ غَيْرَ مَرَّةٍ عَنْ عَمْرٍو عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ مَّالِكِ بْنِ اَوْسِ بْنِ الْحَدَثَانِ عَنْ عُمَرَ قَالَ كَانَتْ اَمْوَالُ بَنِي النَّضِيْرِ مِمَّا اَفَاءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّا لَمْ يُوْجِفِ الْمُسْلِمُوْنَ عَلَيْهِ بِخَيْلٍ وَّلَا رِكَابٍ فَكَانَتْ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاصَّةً يُنْفِقُ عَلٰى اَهْلِهٖ مِنْهَا نَفَقَةَ سَنَتِهٖ ثُمَّ يَجْعَلُ مَا بَقِيَ فِي السِّلَاحِ وَالْكُرَاعِ عُدَّةً فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ.

۸۶۹: علي بن عبدالله. سفيان. عمرو. زهري. مالک بن اوس بن حدثان. حضرت عمرؓ نه روايت كوي، دَ هغه بيان دې. دَ بني نضير مال دَ هغې مالونو نه وو، چه اللّٰه تعالٰي خپل رسول ته په طور دَ "فئ" عطا كړې وو. مسلمانانو په هغې دَ اسونو او سورلو په ذريعه حمله نه وه كړې نو دا صرف دَ اللّٰه دَ رسول دَ پاره وو، چه دَ هغې نه به حضورؐ دَ يو كال خرچ دَ خپل اهل و عيال دَ پاره اخستلو. او باقي به ئې وسله او سپاهيانو كښې دَ اللّٰه په لاره كښې دَ سامانِ جنګ دَ تياري دَ پاره تقسيم كړو.

## بَابٌ ۳۹۹: قَوْلِهٖ وَمَا اٰتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ.

باب ۳۹۹: آيت: وَمَا اٰتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ: او رسول چه تاسوله څۀ دركړي، نو هغه واخلئې.

۸۷۰: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوْسُفَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ مَنْصُوْرٍ عَنْ اِبْرَاهِيْمَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ لَعَنَ اللّٰهُ الْوَاشِمَاتِ وَالْمُوْتَشِمَاتِ وَالْمُتَنَمِّصَاتِ وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللّٰهِ فَبَلَغَ ذٰلِكَ امْرَاَةً مِّنْ بَنِيْ اَسَدٍ يُقَالُ

۸۷۰: محمد بن يوسف. سفيان. منصور. ابراهيم. علقمه. حضرت عبدالله نه روايت كوي. هغه اووې، اللّٰه تعالٰي په هغې ښځو لعنت كړې دې، چه بدن باندې خال يا نښنه جوړوي (خواه خان له وي يا بل چاله) او دَ مخ نه ويښتهٔ شوكوي. او حُسن د پاره غابښونه كُشاده كوي، او د الله تعالٰي جوړ شوې صورت بدلوي. د بني اسد يوه ښځه چه دَ هغې نوم اُم يعقوب وو. هغه چه دې نه خبر شوه، راغله، او وئيلې، ماته معلومه شوې ده،

لَهَا أُمُّ يَعْقُوبَ فَجَاءَتْ فَقَالَتْ إِنَّهُ بَلَغَنِي أَنَّكَ لَعَنْتَ كَيْتَ وَكَيْتَ فَقَالَ وَمَا لِيَ لَا أَلْعَنُ مَنْ لَعَنَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ هُوَ فِي كِتَابِ اللّٰهِ فَقَالَتْ لَقَدْ قَرَأْتُ مَا بَيْنَ اللَّوْحَيْنِ فَمَا وَجَدْتُ فِيهِ مَا تَقُولُ قَالَ لَئِنْ كُنْتِ قَرَأْتِيهِ لَقَدْ وَجَدْتِيهِ أَمَا قَرَأْتِ وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا قَالَتْ بَلَى قَالَ فَإِنَّهُ قَدْ نَهَى عَنْهُ قَالَتْ فَإِنِّي أَرَى أَهْلَكَ يَفْعَلُونَهُ قَالَ فَاذْهَبِي فَانْظُرِي فَذَهَبَتْ فَنَظَرَتْ فَلَمْ تَرَ مِنْ حَاجَتِهَا شَيْئًا فَقَالَ لَوْ كَانَتْ كَذٰلِكَ مَا جَامَعْتُنَا.

چه تا دا شان لعنت کړے دے، نو هغه ورته اووے، زه ولے په هغے لعنت اونه کړم، چه رسول الله صلي الله عليه وسلم پرے لعنت ونيلے دے او چه کتاب الله کښ هم دي. هغے ښځے اووے، ما هغه لوستے دے، چه دَ دوو لوحو مينځ کښ دے (يعني پوره قران مِ لوستے دے) ليکن دا تهٔ چه څهٔ وائے هغه مِ په کښ نهٔ دي لوستے، نو هغهٔ ورته اووے که تا لوستے، نو ضرور به دے په کښ بيامندلے وے. آيا تا دا آيت نهٔ دے لوستے، رسول چه څهٔ تاسو ته درکړي، نو هغه اَخلئے، او دَ څهٔ نه چه مو منع کړي، دَ هغے نه منع شئے. هغے اووے، او، عبدالله اووے. حضورؐ دَ دے نه يعني په بدن خالونو او نښو کولو نه) منع فرمائيلے ده. هغے ښځے اووے ستا ښځه خو دغسے کوي، هغه ورته اووے، لاړه شه، اوګوره، نو هغه ورغله چه وے کتل نو هيڅ ئے بيانهٔ مندل. عبدالله ورته اووے که هغے داسے کولے نو ما سره به نهٔ اوسيدله.

۱۸۷۱: حَدَّثَنَا عَلِيٌّ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمٰنِ عَنْ سُفْيَانَ قَالَ ذَكَرْتُ لِعَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَابِسٍ حَدِيثَ مَنْصُورٍ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ لَعَنَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْوَاصِلَةَ فَقَالَ سَمِعْتُهُ مِنْ امْرَأَةٍ يُقَالُ لَهَا أُمُّ يَعْقُوبَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ مِثْلَ حَدِيثِ مَنْصُورٍ.

۱۸۷۱: علي. عبدالرحمٰن. سفيان. نه روايت کوي، دَ هغهٔ بيان دے. ما عبدالرحمٰن بن عابس ته دَ منصور دَ حديث ذکر اوکهٔ چه په واسطه دَ ابراهيم، علقمه، حضرت عبدالله نه ئے روايت کوي، هغهٔ اووے، رسول الله صلي الله عليه وسلّم په هغے لعنت ونيلے دے، چه خپل ويښتهٔ دَ بل ويښتو سره وَروَلي (يعني مصنوعي ويښتهٔ لګروي) نو هغهٔ اووے، ما دا حديث دَ يوے ښځے نه آوريدلے دے، چه دَ هغے نوم اُم يعقوب وو، هغه ښځه دَ عبدالله نه دَ منصور دَ حديث په شان روايت کوي.

## بَابُ ۴۰۰: قَوْلِهِ وَالَّذِينَ تَبَوَّؤُا الدَّارَ وَالْإِيمَانَ.

## باب ۴۰۰: آيت: وَالَّذِيْنَ تَبَوَّأُ الدَّارَ وَالْإِيْمَانَ:

او چا چه دار (مدينه) او ايمان ټيکاونړه جوړ کړل.

۸۷۲: حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ حَدَّثَنَا أَبُوبَكْرٍ عَنْ حُصَيْنٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ قَالَ قَالَ عُمَرُ أُوصِي الْخَلِيفَةَ بِالْمُهَاجِرِيْنَ الْأَوَّلِيْنَ أَنْ يَعْرِفَ لَهُمْ حَقَّهُمْ وَ أُوصِي الْخَلِيفَةَ بِالْأَنْصَارِ الَّذِيْنَ تَبَوَّؤُا الدَّارَ وَالْإِيْمَانَ مِنْ قَبْلِ أَنْ يُهَاجِرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَقْبَلَ مِنْ مُحْسِنِهِمْ وَ يَعْفُوَ عَنْ مُسِيئِهِمْ.

۸۷۲: احمد بن يونس. ابوبكر. حصين. عمرو بن ميمون نه روايت كوي. دَ هغه بيان دے. حضرت عمرؓ اووے، زهٔ خليفه ته دَ مهاجرين اولين متعلق وصيت كوم، چه هغه دَ هغوي حق اوپيژني، او دَ انصارو متعلق چه هغوي دَ نبي صلي اللّه عليه وسلّم د هجرت نه مخكښ مدينه او ايمان خپل تيكاؤنړه جوړ كړل خليفه ته وصيت كوم، چه دَ هغوي د نيكو كار نه نيكي قبوله كړي او د هغوي د بدونه در گزر اوكړي.

باب ۴۰۱: قَوْلِهِ وَ يُؤْثِرُوْنَ عَلٰى أَنْفُسِهِمُ الْآيَةَ الْخَصَاصَةُ الْفَاقَةُ الْمُفْلِحُوْنَ الْفَائِزُوْنَ بِالْخُلُوْدِ الْفَلَاحُ الْبَقَاءُ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ عَجِّلْ وَ قَالَ الْحَسَنُ حَاجَةً حَسَدًا.

باب ۴۰۱: ايت: وَ يُؤْثِرُوْنَ عَلٰى أَنْفُسِهِمْ: او هغه خلق چه خپل ځان ترجيح وركوي الخ. "خَصَاصَةٌ" لوږه، فاقه. "مُفْلِحُوْنَ" جنت كښ هميشه فلاح بيامندونكي. "الفلاح" بقا. باقي پاتے كيدل. "حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ" تادئ سره خلاصي طرف ته راشے. او حسن اووے "حاجة" نه مراد حسد دے.

۸۷۳: حَدَّثَنِي يَعْقُوْبُ بْنُ إِبْرَاهِيْمَ بْنِ كَثِيْرٍ حَدَّثَنَا أَبُوْ أُسَامَةَ حَدَّثَنَا فُضَيْلُ بْنُ غَزْوَانَ حَدَّثَنَا أَبُوْ حَازِمٍ الْأَشْجَعِيُّ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ أَتَى رَجُلٌ رَسُوْلَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللَّهِ أَصَابَنِي الْجَهْدُ فَأَرْسَلَ إِلَى نِسَائِهِ فَلَمْ يَجِدْ عِنْدَهُنَّ شَيْئًا فَقَالَ رَسُوْلُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا رَجُلٌ يُضَيِّفُ هٰذِهِ اللَّيْلَةَ يَرْحَمُهُ اللَّهُ فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ

۸۷۳: يعقوب بن ابراهيم بن كثير. ابو اسامه. فضل بن غزوان. ابو حازم اشجعي. حضرت ابو هريرهؓ نه روايت كوي، د هغه بيان دے، يو سړے دَ رسول اللّه صلي اللّه عليه وسلّم خدمت كښ حاضر شو. او عرض ئے اوكه، يا رسول اللّه زهٔ سخت اوږے شوے يم. حضور صلي اللّه عليه وسلّم خپلو بيبيانو طرف ته اوليږلو، نو هلته هيڅ څيز نه وو، نو رسول اللّه صلي اللّه عليه وسلّم اوفرمائيل، څوک شته، چه نن شپه دده ميلمستيا اوكړي. اللّه به په هغه رحم اوكړي. انصارو كښ يو سړے اودريدلو، او عرض ئے اوكه يا رسول اللّه دے به زه ميلمه كړم، نو خپل كورته ئے بوتلو، او خپلے ښځے نه

الْأَنْصَارِ فَقَالَ أَنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَذَهَبَ إِلَى أَهْلِهِ فَقَالَ لِامْرَأَتِهِ ضَيْفُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَدَّخِرِيْهِ شَيْئًا قَالَتْ وَاللّٰهِ مَا عِنْدِيْ إِلَّا قُوْتُ الصِّبْيَةِ قَالَ فَإِذَا أَرَادَ الصِّبْيَةُ الْعَشَاءَ فَنَوِّمِيْهِمْ وَ تَعَالَيْ فَاطْفِئِي السِّرَاجَ وَ نَطْوِيْ بُطُوْنَنَا اللَّيْلَةَ فَفَعَلَتْ ثُمَّ غَدَا الرَّجُلُ عَلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَقَدْ عَجِبَ اللّٰهُ عَزَّ وَ جَلَّ أَوْضَحِكَ مِنْ فُلَانٍ وَ فُلَانَةٍ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَ جَلَّ وَ يُؤْثِرُوْنَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ.

لے اووے، دا دَ رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم ميلمه دے. ده نه دَ خوراک څه څيز پټول نه دي په کار، ښځے ورته اووے. قسم په خدائے 'بيا' دَ بچو د طعام نه نور هيڅ نشته. هغه ورته اووے، چه بچي د شپے ډوډئے اوغواړي نو په څه چل ئے اُوده کړه. اوته راشه ډيوه مړه کړه، او مونږ به دا شپه په نهاره تيره کړو. نو ښځے هم دغسے اوکړل. بيا هغه سړے سحر وخت دَ رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم په خدمت کښ حاضر شو، حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل اللّٰه بزرګ و برتر خوښ کړلو، يا وے فرمائيل چه فلاني سړي او فلانے ښځے پورے خندا ورغله نو اللّٰه بزرګ و برتر دا ايت نازل کړلو، چه هغوي په خان نورو له ترجيح ورکوي، اګر که خپله اوږے وي.

# سُوْرَةُ الْمُمْتَحِنَةِ

# دَ سورة ممتحنه تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لَا تُعَذِّبْنَا بِأَيْدِيْهِمْ فَيَقُوْلُوْنَ لَوْ كَانَ هٰؤُلَاءِ عَلَى الْحَقِّ مَا أَصَابَهُمْ هٰذَا بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ أُمِرَ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِفِرَاقِ نِسَائِهِمْ كُنَّ كَوَافِرَ بِمَكَّةَ.

او مجاهد اووے "لا تجعلنا فتنه" معني دا دي، چه مونږ دَ هغوي دَ لاسه په عذاب کښ آخته مۀ کړے چه هغوئ اووائي، که دوي په حقه وي، نو دا مصيبت به ورته نه رسيدلو. "بعصم الكوافر" دَ نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم اصحابو ته حکم ورکړے شوے وو، چه هغه ښځے جدا کړي، چه حالت کفر کښ مکه کښ پاتے شوے وے.

### بَابُ ۴۰۲: قَوْلُهُ لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّيْ وَ عَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ.

### باب ۴۰۲: آيت: لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّيْ وَ عَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ: اے ايمان والو، څما دشمنان او خپل دشمنان خپل دوستان مۀ جوړوئے.

۸۷۴: حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا

۸۷۴: حميدي. سفيان. عمرو بن دينار.

سُفْيَانُ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ دِيْنَارٍ قَالَ حَدَّثَنِيْ الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيّ أَنَّهُ سَمِعَ عُبَيْدَ اللهِ بْنِ اَبِيْ رَافِعٍ كَاتِبَ عَلِيٍّ يَقُوْلُ سَمِعْتُ عَلِيًّا يَقُوْلُ بَعَثَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَا وَالزُّبَيْرَ وَالْمِقْدَادَ فَقَالَ انْطَلِقُوْا حَتّٰى تَأْتُوْا رَوْضَةَ خَاخٍ فَاِنَّ بِهَا ظَعِيْنَةً مَعَهَا كِتَابٌ فَخُذُوْهُ مِنْهَا فَذَهَبْنَا تَعَادٰى بِنَاخَيْلُنَا حَتّٰى اَتَيْنَا الرَّوْضَةَ فَاِذَا نَحْنَ بِالظَّعِيْنَةِ فَقُلْنَا اَخْرِجِي الْكِتَابَ فَقَالَتْ مَا مَعِيَ مِنْ كِتَابٍ فَقُلْنَا لَتُخْرِجِنَّ الْكِتَابَ اَوْ لَنُلْقِيَنَّ الثِّيَابَ فَاَخْرَجَتْهُ مِنْ عِقَاصِهَا فَاَتَيْنَا بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاِذَا فِيْهِ مِنْ حَاطِبِ بْنِ اَبِيْ بَلْتَعَةَ اِلٰى اُنَاسٍ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ مِمَّنْ بِمَكَّةَ يُخْبِرُهُمْ بِبَعْضِ اَمْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا هٰذَا يَا حَاطِبُ قَالَ لَا تَعْجَلْ عَلَيَّ يَا رَسُوْلَ اللهِ اِنِّيْ كُنْتُ امْرَأً مِنْ قُرَيْشٍ وَلَمْ اَكُنْ مِنْ اَنْفُسِهِمْ وَ كَانَ مِمَّنْ مَعَكَ مِنَ الْمُهَاجِرِيْنَ لَهُمْ قَرَابَاتٌ يَحْمُوْنَ بِهَا اَهْلِيْهِمْ وَ اَمْوَالَهُمْ بِمَكَّةَ فَاَحْبَبْتُ اِذْ فَاتَنِيْ مِنَ النَّسَبِ فِيْهِمْ اَنْ اَصْطَنِعَ اِلَيْهِمْ يَدًا يَحْمُوْنَ قَرَابَتِيْ وَمَا فَعَلْتُ

حسن بن محمد بن علي. عبيدالله بن ابي رافع نه روايت کوي، د هغه بيان دے، ما د حضرت عليؓ نه واوريدل، زهٔ زبيرؓ او مقدادؓ چه رسول الله صلي الله عليه وسلم ليږلو، نو وے فرمائيل، ځئ لاړ شئ، تردے چه تاسو روضه خاخ ته اورسئ نو يوه سوره ښځه به بيامومئ. هغے سره به يو خط وي، هغه ترے واخلئ، مونږ خپل آسونه زغلولو سره روضه خاخ ته اورسيدو، نو مونږ هغه سوره ښځه رالاندے کړه. مونږ ورته اووے، هغه خط راوکاږه، هغے اووے، ما سره خو څهٔ خط نشته، مونږ ورته اووے، خط راوکاږه، گنني کپړے درنه اوکاږو، نو هغے د سر د کمسو نه هغه خط راوښکلو، مونږ هغه واخستو او د نبي صلے الله عليه وسلم په خدمت کښ حاضر شو. هغه خط د حاطب بن ابي بلتعه د طرف نه د مشرکين مکه په نوم ليکلے وو، چه هغے کښ د حضور صلي الله عليه وسلم د بعضے امر متعلق خبر ورکړے شوے وو. حضور صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل، اے حاطبه، دا خبره څنګه ده، هغهٔ عرض اوکهٔ، يا رسول الله، تاسوٌ په ما تادي مهٔ کوے، زهٔ قريشي نهٔ ووم، بلکه د هغوي د دوستانو ووم، او تاسوٌ سره چه کوم مهاجرين دي، د هغوي هغوي سره رشته دارئ دي، چه د هغے په سبب هغوي د هغوي د کورونو او مال حفاظت کوي، او د نسب د لحاظ نه خما هغوي سره هيڅ تعلق نهٔ وو، په دے وجه ما اوغوښتل، چه په هغوي څهٔ احسان اوکړم، چه خما د قرابت حفاظت اوکړي، او ما د کفر په بنا يا

ذَالِكَ كُفْرًا وَّلَا ارْتِدَادًا عَنْ دِيْنِيْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّهُ قَدْ صَدَقَكُمْ فَقَالَ عُمَرُ دَعْنِيْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَاَضْرِبَ عُنُقَهُ فَقَالَ اِنَّهُ شَهِدَ بَدْرًا وَمَا يُدْرِيْكَ لَعَلَّ اللّٰهَ عَزَّ وَ جَلَّ اطَّلَعَ عَلٰى اَهْلِ بَدْرٍ فَقَالَ اعْمَلُوْا مَا شِئْتُمْ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ قَالَ عَمْرٌو وَّ نَزَلَتْ فِيْهِ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّيْ وَ عَدُوَّكُمْ قَالَ لَا اَدْرِيْ الْاٰيَةَ فِي الْحَدِيْثِ اَوْ قَوْلُ عَمْرٍو.

ذَ دين نه ذَ آوړېدو په بنا داسې نه دي كړي. نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم ورته اوفرمائيل تا رېښتيا اووې. حضرت عمرؓ عرض اوكړ، يا رسول اللّٰه ماته اجازت راكړئې، چه ذَ دهٔ كردن والوځوم. حضورؐ ورته اوفرمائيل، دې په بدر كښ شريک وو، او تاته معلومه ده، چه شايد اللّٰه تعالٰي اهل بدر ته اوكتل، نو وې فرمائيل، څه چه كوئې، ما تاسو بښلي يئې. عمرو اووې، هغه وخت دا آيت نازل شو: اې ايمان والو، څما دشمنان او خپل دشمنان خپل دوستان مهٔ جوړوئې. سفيان اووې، چه دا آيت حديث كښ دې، يا ذَ عمرو قول دې.

۸۷۵: حَدَّثَنَا عَلِيٌّ قِيْلَ لِسُفْيَانَ فِيْ هٰذَا فَنَزَلَتْ لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّيْ قَالَ سُفْيَانُ هٰذَا فِيْ حَدِيْثِ النَّاسِ حَفِظْتُهُ مِنْ عَمْرٍو مَا تَرَكْتُ مِنْهُ حَرْفًا وَّمَا اُرٰى اَحَدًا حَفِظَهُ غَيْرِيْ.

۸۷۵: مونږ ته علي (ابن مديني) بيان اوكړ، چه ما ذَ سفيان نه آيت: لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّيْ الخ: متعلق تپوس اوكړ، چه ذَ حاطب باره كښ نازل شوې وو، نو هغهٔ اووې، چه دا ذَ خلقو په حديث كښ دي، ما ذَ عمرو نه ياد كړې دې. هغې نه ما يو حرف هم نهٔ دې پرېښې. او نهٔ زهٔ پوهيږم، چه څما نه سوا بل چا دا ياد كړې وي.

## بَابُ ۴۰۳: قَوْلُهُ اِذَا جَآءَكُمُ الْمُؤْمِنٰتُ مُهَاجِرَاتٍ.

باب ۴۰۳: آيت: اِذَا جَآءَكُمُ الْمُؤْمِنٰتُ مُهَاجِرَاتٍ: كوم وخت چه مؤمنې مهاجرې ښځې تاته بيعت ذَ پاره راشي.

۸۷۶: حَدَّثَنَا اِسْحٰقُ حَدَّثَنَا يَعْقُوْبُ بْنُ اِبْرَاهِيْمَ حَدَّثَنَا ابْنُ اَخِي ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عَمِّهٖ اَخْبَرَنِيْ عُرْوَةُ اَنَّ عَآئِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَمْتَحِنُ مَنْ هَاجَرَ اِلَيْهِ مِنَ

۸۷۶: اسحاق. يعقوب بن ابراهيم. ذَ ابن شهاب برادر زاده. ابن شهاب. عروه. ذَ نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم ذَ ټبر، بي بي عائشې نه روايت كوي، ذَ هغه بيان دې، رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم به په هغې ښځو، چه حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ته به په هجرت راتلې، ذَ دې آيت "يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا جَآءَكَ الْمُؤْمِنٰتُ يُبَايِعْنَكَ

الْـمُـؤْمِـنَـاتِ بِهٰـذِهِ الْاٰيَةِ بِـقَـوْلِ اللّٰـهِ يٰـٓاَيُّهَـا النَّبِـيُّ اِذَا جَـآءَ كَ الْمُؤْمِنٰـاتُ يُـبَـايِعْنَكَ اِلٰـى قَوْلِهِ غَـفُـوْرٌ رَّحِيْمٌ قَالَ عُرْوَةُ قَالَتْ عَائِشَةُ فَـمَـنْ اَقَرَّ بِهٰذَا الشَّرْطِ مِنَ الْمُؤْمِنَاتِ قَـالَ لَهَـا رَسُوْلُ الـلّٰـهِ صَلَّى اللّٰهُ عَـلَيْـهِ وَسَـلَّـمَ قَـدْ بَـايَعْتُكِ كَلَامًا وَلَا وَالـلّٰـهِ مَـا مَسَّتْ يَدُهُ يَدَ امْرَاَةٍ قَطُّ فِـي الْـمُبَـايَـعَةِ مَـا يُبَـايِعُهُنَّ اِلَّا بِقَوْلِهِ قَـدْ بَـايَـعْتُكِ عَـلٰى ذَالِكِ تَابَعَهُ يُوْنُسُ وَ مَـعْـمَـرٌ وَ عَبْـدُ الـرَّحْـمٰـنِ بْـنُ اِسْحٰـقَ عَـنِ الـزُّهْـرِيِّ وَ قَالَ اِسْحٰقُ بْـنُ رَاشِـدٍ عَـنِ الـزُّهْرِيِّ عَنْ عُرْوَةَ وَ عَمْرَةَ.

اِلٰى قَوْلِهٖ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ" الخ په بنا په هغوي ازمينت كولو. ذ عروه بيان دي. بي بي عائشې اوفرمائيل، مؤمنو ښځو كښ به چه كومې يوې ذ دې شرط اقرار اوكړلو، نو هغې ته به رسول الله صلي الله عليه وسلّم فرمائيل، تۀ ما بيعت كړلې. حضور صلي الله عليه وسلّم به صرف گفتكو (خبرو اترو) په ذريعه بيعت كولو. او په خدائې م دې قسم وي بيعت كښ هيڅ كله حضور صلي الله عليه وسلّم ذ يوې ښځې لاس له خپل لاس نه دې وراوړې. حضور صلي الله عليه وسلّم به هغه ښځې صرف زباني بيعت كولې، او ورته به ئې فرمائيل، چه ته ما په دې بيعت كړې. يونس معمر او عبدالرحمٰن بن اسحاق ذ زهري نه ددې متابعت كښ روايت كړې دې. او اسحاق بن راشد په واسطه ذ زهري، عروه او عمره نه نقل كړې دې.

باب ۴۰۴: قَـوْلِـهٖ اِذَا جَـآءَ كَ الْـمُـؤْمِـنَـاتُ يُبَايِعْنَكَ.

باب ۴۰۴: آيت: اِذَا جَـاءَكَ الْـمُـؤْمِـنَـاتُ يُبَايِعْنَكَ: كوم وخت چه مؤمنې ښځې تاته بيعت ذ پاره راشي.

۸۷۷: حَـدَّثَنَا اَبُوْ مَعْمَرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ حَدَّثَنَا اَيُّوْبُ عَنْ حَفْصَةَ بِـنْـتِ سِيْـرِيْـنَ عَـنْ اُمِّ عَطِيَّةَ قَـالَتْ بَـايَـعْنَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَـلَّـمَ فَـقَـرَاَ عَـلَيْـنَا اَنْ لَّا يُشْرِكْنَ بِـالـلّٰـهِ شَيْئًـا وَ نَهَانَـا عَنِ النِّيَاحَةِ فَـقَبَضَتِ امْرَاَةٌ يَدَهَا فَقَالَتْ اَسْعَدَتْنِيْ فُلَانَةُ اُرِيْـدُ اَنْ اَجْـزِيَهَـا فَمَـا قَـالَ لَهَـا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا

۸۷۷: ابو معمر. عبدالوارث. ايوب. حفصه بنت سيرين. اُم عطيهؓ نه روايت كوي، ذ هغې بيان دې، مونږ ذ رسول الله صلي الله عليه وسلّم نه بيعت اوكۀ، نو حضورؐ خمونږ مخكښ آيت: "لا يشركن بالله" اولوست، او مونږ ئې ذ ساندې وئيلو (وير كولو) نه منع كړلو. نو يوې ښځې خپل لاس راغنډ كړلو، او وئيلې چه فلانئې ښځې خما مدد كړې وو. زۀ غواړم، چه ذ هغې بدله وركړم، نو هغې ته نبي صلي الله عليه وسلّم هيڅ اونۀ فرمائيل، نو هغه ښځه لاړه بيا واپس راغله. نو

فَانْطَلَقَتْ وَ رَجَعَتْ فَبَايَعَهَا.

حضور صلي الله عليه وسلّم بيعت كړله.

۸۷۸: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا اَبِيْ قَالَ سَمِعْتُ الزُّبَيْرَ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ فِيْ قَوْلِهٖ تَعَالٰى وَلَا يَعْصِيْنَكَ فِيْ مَعْرُوْفٍ قَالَ اِنَّمَا هُوَ شَرْطٌ شَرَطَهُ اللهُ لِلنِّسَآءِ.

۸۷۸: عبدالله بن محمد. وهب بن جرير. جرير. زبير. عكرمه. حضرت ابن عباسؓ نه ايت: "وَلَا يَعْصِيْنَكَ فِيْ مَعْرُوْفٍ" بعاره كښ روايت كوي، هغه اووې، دا شرط دے، چه الله تعالٰي ښځو د پاره مقرر كړے دے.

۸۷۹: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ الزُّهْرِيُّ حَدَّثَنَاهُ قَالَ حَدَّثَنِيْ اَبُوْ اِدْرِيْسَ سَمِعَ عُبَادَةَ بْنَ الصَّامِتِؓ قَالَ كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَتُبَايِعُوْنِيْ عَلٰى اَنْ لَّا تُشْرِكُوْا بِاللهِ شَيْئًا وَلَا تَزْنُوْا وَلَا تَسْرِقُوْا وَ قَرَاَ اٰيَةَ النِّسَآءِ وَ اَكْثَرُ لَفْظِ سُفْيَانَ قَرَاَ الْاٰيَةَ فَمَنْ وَفٰى مِنْكُمْ فَاَجْرُهٗ عَلَى اللهِ وَمَنْ اَصَابَ مِنْ ذَالِكَ شَيْئًا فَعُوْقِبَ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهٗ وَمَنْ اَصَابَ مِنْهَا شَيْئًا مِنْ ذَالِكَ فَسَتَرَهُ اللهُ فَهُوَ اِلَى اللهِ اِنْ شَآءَ عَذَّبَهٗ وَ اِنْ شَآءَ غَفَرَ لَهٗ تَابَعَهٗ عَبْدُ الرَّزَّاقِ عَنْ مَعْمَرٍ فِي الْاٰيَةِ.

۸۷۹: علي بن عبدالله. سفيان. زهري. ابو ادريس. عباده بن صامتؓ نه روايت كوي، هغه اووے، مونږ نبي صلي الله عليه وسلّم سره وو، حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، آيا تاسو مانه په دے خبره بيعت كوئے، چه الله سره به هيڅوک شريک نه جوړوئے. او نه به زنا كوئے، او نه به غلا (چوری) كوئے. او حضور صلي الله عليه وسلّم ښځو واله ايت اولوست. او سفيان اكثر صرف بيان كړلو، چه حضورؐ آيت اولوست، د ښځو ذكر ئے اونۀ كۀ. بيا حضورؐ اوفرمائيل، تاسو كښ چه چا دا خبرے پوره كړے، نو اجر ئے په الله دے او څوک چه دے كښ د څۀ څيز مرتكب شي، او سزا وركړے شوه، نو دا كفاره ده. او څوک چه دے كښ د څۀ څيز مرتكب شو، او الله هغه پټ اوساتلو، نو دا د الله اختيار كښ ده، كه غواړي سزا به وركړي، او كه غواړي، بښنه به ورته اوكړي. عبدالرزاق د معمر نه د دے آيت متعلق د دے متابعت كښ روايت كړے دے.

۸۸۰: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيْمِ حَدَّثَنَا هَارُوْنُ بْنُ مَعْرُوْفٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ وَهْبٍ وَ اَخْبَرَنِيْ

۸۸۰: محمد بن عبدالرحيم. هارون بن معروف. عبدالله بن وهب. ابن جريج. حسن بن مسلم. طاؤس. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، د هغۀ بيان

ابْنُ جُرَيْجٍ اَنَّ الْحَسَنَ بْنَ مُسْلِمٍ اَخْبَرَهُ عَنْ طَاوُسٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ شَهِدْتُ الصَّلٰوةَ يَوْمَ الْفِطْرِ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ اَبِيْ بَكْرٍ وَ عُمَرَ وَ عُثْمَانَ فَكُلُّهُمْ يُصَلِّيْهَا قَبْلَ الْخُطْبَةِ ثُمَّ يَخْطُبُ بَعْدُ فَنَزَلَ نَبِيُّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَاَنِّيْ اَنْظُرُ اِلَيْهِ حِيْنَ يُجَلِّسُ الرِّجَالَ بِيَدِهٖ ثُمَّ اَقْبَلَ يَشُقُّهُمْ حَتّٰى اَتَى النِّسَآءَ مَعَ بِلَالٍ فَقَالَ يٰاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا جَآءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ عَلٰى اَنْ لَّا يُشْرِكْنَ بِاللّٰهِ شَيْئًا وَلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِيْنَ وَلَا يَقْتُلْنَ اَوْلَادَهُنَّ وَلَا يَاْتِيْنَ بِبُهْتَانٍ يَفْتَرِيْنَهٗ بَيْنَ اَيْدِيْهِنَّ وَ اَرْجُلِهِنَّ حَتّٰى فَرَغَ مِنَ الْاٰيَةِ كُلِّهَا ثُمَّ قَالَ حِيْنَ فَرَغَ اَنْتُنَّ عَلٰى ذَالِكَ وَ قَالَتِ امْرَاَةٌ وَّاحِدَةٌ لَمْ يُجِبْهُ غَيْرُهَا نَعَمْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ لَا يَدْرِيْ الْحَسَنُ مَنْ هِيَ قَالَ فَتَصَدَّقْنَ وَ بَسَطَ بِلَالٌ ثَوْبَهٗ فَجَعَلْنَ يُلْقِيْنَ الْفَتَخَ وَالْخَوَاتِيْمَ فِيْ ثَوْبِ بِلَالٍ.

دے' زهٔ رسول الله صلي الله عليه وسلّم حضرت ابوبکرؓ سره دِ وړوکي اختر په مونځونو کښ شريک شوے يم. دے ټولو به دَ خطبے نه مخکښ مونځ کولو. بيا دَ هغے نه پس به ئے خطبه لوستله نبي صلي الله عليه وسلّم چه مونځ اوکه' فارغ شو' نو ګويا هغه منظر څما د ستر ګو مخکښ دے کوم وخت چه حضور صلي الله عليه وسلّم سړو ته دَ لاس اشارے سره دَ کيناستلو حکم اوکه' دَ هغوي دَ صفونو نه تير شو' زنانه ؤ ته حضرت بلالؓ سره اودريدلو' او دا' آيت ئے اولوست چه' اے نبي کوم وخت چه تاته مؤمنے ښځے راشي' او په دے خبره بيعت اوکړي' چه هغوي به الله سره څوک شريک نه جوړوي' غلا' به نهٔ کوي' زنا به نهٔ کوي' نهٔ به خپل اولاد قتلوي' او نهٔ به څه تهمت لږوي' چه هغه به ئے دَ خپلو لاسونو او پښو تر مينځه دَ ځانه جوړ کړے وي' تردے چه پوره آيت ئے اولوست' فارغ شو' نو وے فرمائيل' آيا تهٔ په دے بيعت کوے. يوے ښځے' جواب ورکهٔ' او' يا رسول الله. دَ هغے نه سِوا هيچا جواب ورنهٔ کهٔ. حسن ته معلومه نه ده' چه هغه ښځه څوک وه. حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل خيرات اوکړئے. او بلالؓ خپله کپړه خوره کړه ښځو به دَ بلالؓ په کپړه کښ (دَ سرو) ګوتے (وغيره) غُرځولے.

## سُوْرَةُ الصَّفِّ

## دَ سورهٔ صف تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ قَالَ مُجَاهِدٌ مَنْ اَنْصَارِيْ اِلَى اللّٰهِ مَنْ يَّتَّبِعُنِيْ اِلَى اللّٰهِ وَ قَالَ ابْنُ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

او مجاهد اووے "مَنْ اَنْصَارِیْ اِلَی اللّٰهِ" معني دي څوک د الله دَ پاره څما پيروئ ته تيار دے' او ابن عباسؓ اووے

عباسؓ مَرْصُوصٌ مُلْصَقٌ بَعْضُهُ بِبَعْضٍ وَ قَالَ غَيْرُهُ بِالرَّصَاصِ.

"مرصوص" يوه حصه بلے سره جراړ شوے. نورو اووے، چه سيسے (سکے) سره وروستے شوے.

باب ۴۰۵: قَوْلِهِ مِنْ م بَعْدِى اسْمُهُ اَحْمَدُ.

باب ۴۰۵: آيت: مِنْ م بَعْدِى اسْمُهُ اَحْمَدُ: څما نه پس چه ذَ هغه نوم به احمد وي.

۱۸۸۱: حَدَّثَنَا اَبُوْ الْيَمَانِ اَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ اَخْبَرَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اِنَّ لِيْ اَسْمَآءً اَنَا مُحَمَّدٌ وَ اَنَا اَحْمَدُ وَ اَنَا الْمَاحِيُ الَّذِيْ يَمْحُوا اللّٰهُ بِيَ الْكُفْرَ وَ اَنَا الْحَاشِرُ الَّذِيْ يُحْشَرُ النَّاسُ عَلٰى قَدَمَيَّ وَ اَنَا الْعَاقِبُ.

۱۸۸۱: ابواليمان. شعيب. زهري. محمد بن جبير بن مطعم. ذَ خپل پلار نه روايت کوي، ذَ هغه بيان دے، ما ذَ رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم نه واوريدل، فرمائيل ئے، څما ډير نومونه دي، زهٔ محمد يم، زهٔ احمد يم، او زهٔ ماحي يم چه اللّٰه تعالٰي به څما په ذريعه کفر نيست و نابود کري. او زهٔ حاشر يم، چه څما په قدمونو به خلق پاسېږلے شي. او څما نوم عاقب (ذَ ټولونه ورستو راتلونکے) دے.

## سُوْرَةُ الْجُمُعَةِ

## . ذَ سوره جُمعه تفسير

باب ۴۰۶: قَوْلِهِ وَ اٰخَرِيْنَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوْا بِهِمْ وَ قَرَأَ عُمَرُ فَامْضُوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ.

باب ۴۰۶: آيت: وَ آخَرِيْنَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوْا بِهِمْ: او نور چه لا اوس هغوي کبن نهٔ دي شامل شوے. او حضرت عمرؓ ذَ "فاسعوا الٰى ذکر اللّٰه" په ځائے "فامضوا الٰى ذکر اللّٰه" لوستلو.

۱۸۸۲: حَدَّثَنِيْ عَبْدُ الْعَزِيْزِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ حَدَّثَنِيْ سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ عَنْ ثَوْرٍ عَنْ اَبِى الْغَيْثِ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَؓ قَالَ كُنَّا جُلُوْسًا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاُنْزِلَتْ عَلَيْهِ سُوْرَةُ الْجُمُعَةِ وَ اٰخَرِيْنَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوْا بِهِمْ قَالَ قُلْتُ مَنْ

۱۸۸۲: عبدالعزيز بن عبداللّٰه. سليمان بن بلال. ثور. ابوالغيث. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت کوي، ذَ هغهٔ بيان دے. مونږ نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم سره ناست وو، نو حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم باندے سورۀ جُمعه نازل شولو. کوم وخت چه آيت: "وَ اٰخرين منهم لمّا يلحقوا بهم" نازل شو، نو ما تپوس اوکهٔ، يا رسول اللّٰه، هغه کوم خلق دي، حضورؐ څهٔ جواب رانهٔ کړلو، تردے چه درے

هُمْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَلَمْ يُرَاجِعْهُ حَتّٰى سَأَلَ ثَلَاثًا وَ فِيْنَا سَلْمَانُ الْفَارِسِيُّ وَضَعَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهٗ عَلٰى سَلْمَانَ ثُمَّ قَالَ لَوْ كَانَ الْاِيْمَانُ عِنْدَ الثُّرَيَّا لَنَالَهٗ رِجَالٌ اَوْ رَجُلٌ مِنْ هٰؤُلَآءِ.

خلـه م تپوس اوکۀ او مونږ کښې سلمان فارسيؓ هم موجود وو، نو حضور صلي الله عليه وسلّم خپل لاس مبارک په حضرت سلمانؓ کيښودلو. بيائے اوفرمائيل که ايمان ثُريّا سره هم قريب وي، نو به ئے د دوئ د قوم خنـے سړي يا (وے فرمائيل) يو سړے به هغه لره حاصل کړي.

۸۸۳: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَبْدِ الْوَهَّابِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيْزِ اَخْبَرَنِيْ ثَوْرٌ عَنْ اَبِي الْغَيْثِ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَنَالَهٗ رِجَالٌ مِّنْ هٰؤُلَآءِ.

۸۸۳: عبدالله بن عبدالوهاب. عبدالعزيز. ثور. ابوالغيث. حضرت ابوهريرهؓ نبي صلي الله عليه وسلّم نه روايت کوي، په دوئ کښې به څنو خلقو هغه بيامُندے وو.

باب۴۰۷: قَوْلِهٖ وَ اِذَا رَاَوْا تِجَارَةً.

باب۴۰۷: ايت: وَ اِذَا رَاَوْا تِجَارَةً: او هر کله چه هغه خلق دَ تجارت مال اوويني.

۸۸۴: حَدَّثَنِيْ حَفْصُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا حُصَيْنٌ عَنْ سَالِمِ بْنِ اَبِي الْجَعْدِ وَ عَنْ اَبِيْ سُفْيَانَ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ اَقْبَلَتْ عِيْرٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَ نَحْنُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَثَارَ النَّاسُ اِلَّا اثْنَا عَشَرَ رَجُلًا فَاَنْزَلَ اللّٰهُ وَ اِذَا رَاَوْا تِجَارَةً اَوْ لَهْوَا نِ انْفَضُّوْا اِلَيْهَا.

۸۸۴: حفص بن عمر. خالد بن عبدالله. حصين. سالم بن ابي الجعد او ابوسفيان. حضرت جابر بن عبدالله نه روايت کوي، دَ هغۀ بيان دے. يوه قافله دَ جُمعے په ورځ راغله، او دَغه وخت مونږ حضور صلي الله عليه وسلّم سره وو، نو دَ دولس کسانو نه علاوه نور ټول خلق ورَاُوزغيدل. هغه وخت دَا آيت نازل شو: هر کله چه دغه خلق دَ تجارت مال يا د لوبو څيز اوويني، نو هغے پله ور اُوزغلي.

# سُوْرَةُ الْمُنَافِقُوْنَ

# دَ سورۀ منافقون تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

باب۴۰۸: قَوْلِهٖ اِذَا جَآءَكَ

باب۴۰۸: آيت: اِذَا جَآءَكَ الْمُنَافِقُوْنَ قَالُوْا

الْمُنَافِقُوْنَ قَالُوْا نَشْهَدُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ (اِلٰى الْكَاذِبُوْنَ).

نَشْهَدُ اِنَّکَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ' هغه خلق وائي' چه بیشکه ته ذ الله رسول ئې الخ.

۸۸۵: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ رَجَاءٍ حَدَّثَنَا اِسْرَآئِيْلُ عَنْ اَبِيْ اِسْحٰقَ عَنْ زَيْدِ بْنِ اَرْقَمَ قَالَ كُنْتُ فِيْ غَزَاةٍ فَسَمِعْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ اُبَيٍّ يَقُوْلُ لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ حَتّٰى يَنْفَضُّوْا مِنْ حَوْلِهٖ وَلَوْ رَجَعْنَا مِنْ عِنْدِهٖ لَيُخْرِجَنَّ الْاَعَزُّ مِنْهَا الْاَذَلَّ فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِعَمِّيْ اَوْ لِعُمَرَ فَذَكَرَهٗ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَعَانِيْ فَحَدَّثْتُهٗ فَاَرْسَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اُبَيٍّ وَ اَصْحَابِهٖ فَحَلَفُوْا مَا قَالُوْا فَكَذَّبَنِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ صَدَّقَهٗ فَاَصَابَنِيْ هَمٌّ لَمْ يُصِبْنِيْ مِثْلُهٗ قَطُّ فَجَلَسْتُ فِي الْبَيْتِ فَقَالَ لِيْ عَمِّيْ مَا اَرَدْتُّ اِلٰى اَنْ كَذَّبَكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ مَقَتَكَ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى اِذَا جَآءَكَ الْمُنَافِقُوْنَ فَبَعَثَ اِلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَرَاَ فَقَالَ اِنَّ اللّٰهَ قَدْ صَدَّقَكَ يَا زَيْدُ.

۸۸۵: عبدالله بن رجآء. اسرائیل. ابو اسحاق. حضرت زید بن ارقمؓ نه روایت کوي' ذ هغه بیان دے' زهٔ یو جنګ کښې وُم' ما ذ عبدالله بن اُبي نه واوریدل' چه په دے خلقو مه خرچ کوئے کوم چه رسول الله صلي الله علیه وسلّم ته نزدے دي' تردے چه هغوي خواره واره شي. چه ذ حضورؐ نه ګیر چاپیره دي' او که مونږ ذ دوي نه واپس شو' نو غرتمند به ذلیل ذ دے نه بهر اوکاږي. ما دا خبره خپل ترهٔ یا حضرت عمرؓ ته بیان کړه' هغه نبي صلي الله علیه وسلّم ته اوکړله' نو حضور صلي الله علیه وسلّم زه راوغبنتلم' ما ورته بیان اوکه. رسول الله صلي الله علیه وسلّم عبدالله بن اُبي او ذ هغه ملګري راوغبنتل' نو هغے خلقو قسم اوخوړ' چه مونږ داسے نه دي ونیلے' رسول الله صلي الله عایه وسلّم زه دروغجن اوګنړلم' او هغه ئې ریښتنے اوګنړلو. ماته ذ دے دومره صدمه اوشوه' چه دے نه مخکښې دومره صدمه راته چرته نه وه شوے. زه خپل کور کښې کیناستم' ماته څما تره (چچا) اووے' څما دا خیال نه وو' چه رسول الله صلي الله علیه وسلّم به تا دروغجن اوګنړي او تانه به ناراضه شي. نو الله تعالي دا آیت نازل کړلو: اِذَا جَآءَکَ الْمُنَافِقُوْنَ الخ: نبي صلي الله علیه وسلّم هغوي راوغبنتل' او دا آیت ئې اولوست. بیائے اوفرمائیل' اے زیدٌ' الله تعالي ستا ذ خبرے تصدیق اوکه.

باب ۴۰۹: قَوْلُهٗ اِتَّخَذُوْا اَيْمَانَهُمْ جُنَّةً يَجْتَنُّوْنَ

باب ۴۰۹: آیت: اَتَّخَذُوْا اَیْمَانَهُمْ جُنَّةً یَجْتَنُّوْنَ بِهَا: دے خلقو خپل قسمونه ډهال کړل' چه هغے سره

بِهَا.

۸۸۶: حَدَّثَنَا اٰدَمُ بْنُ اَبِيْ اِيَاسٍ حَدَّثَنَا اِسْرَآئِيْلُ عَنْ اَبِيْ اِسْحٰقَ عَنْ زَيْدِ بْنِ اَرْقَمَ قَالَ كُنْتُ مَعَ عَمِّيْ فَسَمِعْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ اُبَيِّ ابْنَ سَلُوْلٍ يَقُوْلُ لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ حَتّٰى يَنْفَضُّوْا وَ قَالَ اَيْضًا لَئِنْ رَّجَعْنَا اِلَى الْمَدِيْنَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْاَعَزُّ مِنْهَا الْاَذَلَّ فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِعَمِّيْ فَذَكَرَ عَمِّيْ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَرْسَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ اُبَيٍّ وَ اَصْحَابِهٖ فَحَلَفُوْا مَا قَالُوْا فَصَدَّقَهُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ كَذَّبَنِيْ فَاَصَابَنِيْ هَمٌّ لَمْ يُصِبْنِيْ مِثْلُهٗ فَجَلَسْتُ فِيْ بَيْتِيْ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَ جَلَّ اِذَا جَآءَكَ الْمُنَافِقُوْنَ اِلٰى قَوْلِهٖ هُمُ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ اِلٰى قَوْلِهٖ لَيُخْرِجَنَّ الْاَعَزُّ مِنْهَا الْاَذَلَّ فَاَرْسَلَ اِلَيَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَرَاَهَا عَلَيَّ ثُمَّ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ قَدْ صَدَّقَكَ.

باب ۴۱۰: قَوْلُهٗ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا فَطُبِعَ

څهل حالت پتهوي.

۸۸۶: ادم بن ابي اياس. اسرآئيل. ابو اسحاق. حضرت زيد بن ارقمؓ نه روايت كوي، ذ هغه بيان دے، زه خپل تره (چچا) سره ووم، نو ما ذ عبدالله بن ابي بن سلول (ذ منافقانو مشر) نه واوريدل، چه دے خلقو بانديے خرچ مه كوئے، كوم چه رسول الله صلي الله عليه وسلم سره دي، تردے چه دا خلق منتشر شي، كوم چه ذ حضور صلي الله عليه وسلم نه چار چاپيره دي. ~~او دائے هم اووے كه~~ مونږ مدينے ته واپس لاړ شو، نو عزت واله به ذليل بهر اوكاړي. ما دا خبره خپل ترهٔ (چچا) ته بيان كړه. بيا څما تره رسول الله صلي الله عليه وسلم ته بيان كړه، نو رسول الله صلي الله عليه وسلم عبدالله بن ابي او ذ هغه ملګري راوغبنتل، نو هغے خلقو په قسم اووے، چه مونږ داسے نه دي وئيلے. رسول الله صلي الله عليه وسلم ذ هغوي ذ خبرے تصديق اوكه، او زه ئے دروغجن اوګڼړلم. ماته ذ دے داسے صدمه اورسيده، چه دے نه مخكښ راته هيڅ كله نه وه رسيدلے. نو زهٔ خپل كور كښ كيناستم. الله تعالٰي دا آيت نازل كړلو: اِذَا جَآءَكَ الْمُنَافِقُوْنَ هُمُ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ الخ: نازل شولو، نو حضور صلي الله عليه وسلم زهٔ راوغبنتلم او څما مخكښ ئے دا آيت اولوست. بيائے اوفرمائيل، الله تعالٰي ستا تصديق اوكه.

باب ۴۱۰: آيت: ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا فَطُبِعَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُوْنَ: دا په دے سبب چه

عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُوْنَ.

هغې خلقو ايمان راوړلو. بيائے کفر اوکړ، ذ هغوي په زړونو مُهر اولږولے شو هغه خلق نۀ پوهيږي.

۴۸۸۷: حَدَّثَنَا اٰدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الْحَكَمِ قَالَ سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ كَعْبِ الْقُرَظِيَّ قَالَ سَمِعْتُ زَيْدَ بْنَ اَرْقَمَ قَالَ لَمَّا قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ اُبَيٍّ لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ وَ قَالَ اَيْضًا لَئِنْ رَّجَعْنَا اِلَى الْمَدِيْنَةِ اَخْبَرْتُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَامَنِى الْاَنْصَارُ وَ حَلَفَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ اُبَيٍّ مَا قَالَ ذٰلِكَ فَرَجَعْتُ اِلَى الْمَنْزِلِ فَنِمْتُ فَدَعَانِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَتَيْتُهُ فَقَالَ اِنَّ اللّٰهَ قَدْ صَدَّقَكَ وَ نَزَلَ هُمُ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ لَا تُنْفِقُوْا الْاٰيَةَ وَ قَالَ ابْنُ اَبِيْ زَائِدَةَ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ عَمْرٍو عَنِ ابْنِ اَبِيْ لَيْلٰى عَنْ زَيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

۴۸۸۷: آدم. شعبه. حکم. محمد بن کعب. قرظيؒ نه روايت کوي، ذ هغۀ بيان دے، ما ذ زيد بن ارقم نه واوريدل، کوم وخت چه عبداللّٰه بن أبي اووے، چه: لا تنفقوا على من عند رسول اللّٰه الخ: او دائے هم اووے، چه: لئن رجعنا الى المدينة الخ ما حضور صلي الله عليه وسلّم ته ذ دے بيان اوکۀ، نو انصارو ماته بد رد اووے، او عبدالله بن ابي په قسم اووے، چه هغه داسے نۀ دي وئيلے. نو زۀ خپل کور ته لارم، او اودۀ شوم. رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم زۀ راوغبتلم. زۀ حاضر شوم، حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل، اللّٰه ستا تصديق اوکړلو. او آيت: هم الذين يقولون لا تنفقوا نازل شولو. او ابن ابي زائده په واسطه ذ اعمش، عمرو. ابن ابي ليلي. حضرت زيد. نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم نه روايت کوي.

## بَاب ۴۱۱: قَوْلُهٗ وَ اِذَا رَاَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ اَجْسَامُهُمْ وَ اِنْ يَّقُوْلُوْا تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ كَاَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ يَحْسَبُوْنَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ هُمُ الْعَدُوُّ فَاحْذَرْهُمْ قَاتَلَهُمُ اللّٰهُ اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ.

باب ۴۱۱: آيت: وَ اِذَا رَاَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ اَجْسَامُهُمْ الخ: او هر کله چه تاسو دا خلق اووينئے، نو ذ هغوي جسمونه تاسوته ښه معلوميږي، او که هغوي خبره اوکړي، نو تاسو ذ هغوي خبره آورئے، ګويا هغوي لرګي دي، چه سهارے سره لږيدلے دي. دوئ هره چغه د خپل خان خلاف ګنړي، هغوي دشمنان دي، خان ترے بچ کړئے. اللّٰه تعالي دے هغوي هلاک کړي، هغوي کوم خوا غليدلے ګرځي.

٨٨٨: حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ مُعَاوِيَةَ حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحٰقَ قَالَ سَمِعْتُ زَيْدَ بْنَ أَرْقَمَ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ سَفَرٍ أَصَابَ النَّاسَ فِيْهِ شِدَّةٌ فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ أُبَيٍّ لِأَصْحَابِهٖ لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ حَتّٰى يَنْفَضُّوْا مِنْ حَوْلِهٖ وَ قَالَ لَئِنْ رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِيْنَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ فَأَرْسَلَ إِلٰى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أُبَيٍّ فَسَأَلَهُ فَاجْتَهَدَ يَمِيْنَهُ مَا فَعَلَ قَالُوْا كَذَبَ زَيْدٌ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَقَعَ فِيْ نَفْسِيْ مِمَّا قَالُوْا شِدَّةٌ حَتّٰى أَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَ جَلَّ تَصْدِيْقِيْ فِيْ إِذَا جَآءَكَ الْمُنَافِقُوْنَ فَدَعَاهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيَسْتَغْفِرَ لَهُمْ فَلَوَّوْا رُءُوْسَهُمْ وَ قَوْلُهٗ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ قَالَ كَانُوْا رِجَالًا أَجْمَلَ شَيْءٍ.

٨٨٨: عمرو بن خالد. زهير بن معاويه. ابو اسحاق. حضرت زيد بن ارقم نه روايت كوي، دَ هغه بيان دے مونږ نبي صلي الله عليه وسلّم سره په يو سفر اووتلو، هغے كښې خلقوته سخت تكليف اوشو، نو عبدالله بن اُبي خپلو ملګروته اووے: لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ حَتّٰى يَنْفَضُّوْا مِنْ حَوْلِهٖ: اووئيلے، چه: لَئِنْ رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِيْنَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ: زه دَ نبي صلي الله عليه وسلّم خدمت كښې حاضر شوم، او حضور صلي الله عليه وسلّم ته مې بيان اوكه. حضور صلي الله عليه وسلّم عبدالله بن اُبي راوغښتلو، او هغه نه ئے تپوس اوكه، نو هغه زوردار قسم خوړلو سره اووے، چه هغه داسے نه دي وئيلے، خلقو اووے، چه زيد، رسول الله صلي الله عليه وسلّم ته دروغ وئيلے دي. د هغے خلقو دے خبره سره ځما زړه ته ډيره صدمه اورسيده تردے چه الله بزرګ و برتر ځما تصديق اوكه، او دَا آيت نازل شولو: إِذَا جَآءَكَ الْمُنَافِقُوْنَ الخ: حضور صلي الله عليه وسلّم هغه خلق راوغښتل، چه هغوي د پاره دَ بښنے دُعا اوكړي، نو هغے خلقو خپل سرونه تاؤ كړل، او دَ الله تعالٰي قول: خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ: (ديوال سره لږيدلے لرګي) نه مراد دَا دے، چه هغه خلق ډير خوبصورته وو.

بَابُ ٤١٢: قَوْلُهٗ وَ إِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ لَوَّوْا رُءُوْسَهُمْ وَ رَأَيْتَهُمْ يَصُدُّوْنَ وَهُمْ مُّسْتَكْبِرُوْنَ حَرَّكُوْا اسْتَهْزَءُوْا بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

باب ٤١٢: آيت: وَ إِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ الخ: او هر كله چه هغوي ته اووئيلے شي، راځے، چه رسول الله صلي الله عليه وسلّم تاسو دَ پاره دَ مغفرت دُعا اوكړي، نو هغوي خپل سرونه اوكرخوي او تاسوبه هغوي وينئے، چه هغوي تكبر او بے رُخي كوي. هغے خلقو نبي صلي الله عليه وسلّم سره

وَسَلَّمَ وَ يُقْرَأُ بِالتَّخْفِيْفِ مِنْ لَوَيْتُ.

مذاق او کړلو او "لووا" تشديد او بلا تشديد هم لوستے شي. "لويت" نه ماخوذ دے

٨٨٩: حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ مُوْسٰى عَنْ اِسْرَآئِيْلَ عَنْ اَبِيْ اِسْحٰقَ عَنْ زَيْدِ بْنِ اَرْقَمَ قَالَ كُنْتُ مَعَ عَمِّيْ فَسَمِعْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ اُبَيِّ ابْنَ سَلُوْلٍ يَقُوْلُ لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ حَتّٰى يَنْفَضُّوْا وَلَئِنْ رَّجَعْنَا اِلَى الْمَدِيْنَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْاَعَزُّ مِنْهَا الْاَذَلَّ فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِعَمِّيْ فَذَكَرَ عَمِّيْ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ صَدَّقَهُمْ فَاَصَابَنِيْ غَمٌّ لَمْ يُصِبْنِيْ مِثْلُهُ قَطُّ فَجَلَسْتُ فِيْ بَيْتِيْ وَ قَالَ عَمِّيْ مَا اَرَدْتَّ اِلٰى اَنْ كَذَّبَكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ مَقَتَكَ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى اِذَا جَآءَكَ الْمُنَافِقُوْنَ قَالُوْا نَشْهَدُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ وَ اَرْسَلَ اِلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَرَأَهَا وَ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ قَدْ صَدَّقَكَ.

٨٨٩: عبدالله بن موسى. اسرائيل. ابو اسحق حضرت زيد بن ارقم نه روايت کوي: د هغه بيان دے، زهٔ خپل تره (چچا) سره ووم. ما د عبدالله بن ابي بن سلول (دَ منافقانو مشر) نه واوريدل: چه کوم خلق رسول الله صلي الله عليه وسلم سره دي، په هغوي هيڅ خرچ مهٔ کوے، ترديے چه تس نس شي او که مونږ اوس مديني ته واپس لاړ شو، نو عزت واله به دَ هغے ځائے نه ذلت واله بهر او کاږي. ما دا خبره خپل تره ته او کړه، هغهٔ نبي صلي الله عليه وسلم ته او کړه، او حضور صلي الله عليه وسلم هغوي رابنتنے او کنړل، ما سره دَ دے داسے غم شو، چه هيڅ کله ددے نه مخکښ راته نه وو شوے. زهٔ خپل کور کښ کيناستم. خما تره راته اووے، خما دا خيال نه وو چه رسول الله صلي الله عليه وسلم به تا دروغجن او کنړي او تانه به ناراضه شي په دے خبره الله تعالٰي دا آيت نازل کړلو: اِذَا جَآءَكَ الْمُنَافِقُوْنَ قَالُوْا نَشْهَدُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ: نبي صلي الله عليه وسلم زهٔ راوغبتلم. او دا آيت ئے اولوست او وے فرمائيل، الله تعالٰي ستا تصديق او کړلو.

بَابُ ١٣١٣: قَوْلِهٖ سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ اَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ اَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ لَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْفَاسِقِيْنَ.

باب ١٣١٣: آيت: سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ اَسْتَغْفَرْتَ الخ: دَ هغوي حق کښ برابره خبره ده، خواه تهٔ دَ هغوي حق کښ دَ مغفرت دُعا او کړے يا اونهٔ کړے، الله تعالٰي دا خلق هيڅ کله نه بښي. بيشکه الله بدکار قوم ته هدايت نه کوي.

٨٩٠: حَدَّثَنَا عَلِيٌّ حَدَّثَنَا

٨٩٠: علي. سفيان. عمرو. حضرت جابر

سُفْيَانُ قَالَ كُنَّا فِيْ غَزَاةٍ قَالَ سُفْيَانُ مَرَّةً فِيْ جَيْشٍ فَكَسَعَ رَجُلٌ مِّنَ الْمُهَاجِرِيْنَ رَجُلًا مِّنَ الْاَنْصَارِ فَقَالَ الْاَنْصَارِيُّ يَا لَلْاَنْصَارِ وَ قَالَ الْمُهَاجِرِيُّ يَا لَلْمُهَاجِرِيْنَ فَسَمِعَ ذَاكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا بَالُ دَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ كَسَعَ رَجُلٌ مِنَ الْمُهَاجِرِيْنَ رَجُلًا مِّنَ الْاَنْصَارِ فَقَالَ دَعُوْهَا فَاِنَّهَا مُنْتِنَةٌ فَسَمِعَ بِذٰلِكَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ اُبَيٍّ فَقَالَ فَعَلُوْهَا اَمَا وَاللّٰهِ لَئِنْ رَّجَعْنَا اِلَى الْمَدِيْنَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْاَعَزُّ مِنْهَا الْاَذَلَّ فَبَلَغَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عُمَرُ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ دَعْنِيْ اَضْرِبْ عُنُقَ هٰذَا الْمُنَافِقِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعْهُ لَا يَتَحَدَّثُ النَّاسُ اَنَّ مُحَمَّدًا يَقْتُلُ اَصْحَابَهُ وَ كَانَتِ الْاَنْصَارُ اَكْثَرَ مِنَ الْمُهَاجِرِيْنَ حِيْنَ قَدِمُوا الْمَدِيْنَةَ ثُمَّ اِنَّ الْمُهَاجِرِيْنَ كَثُرُوْا بَعْدُ قَالَ سُفْيَانُ فَحَفِظْتُهُ مِنْ عَمْرٍو قَالَ عَمْرٌو سَمِعْتُ جَابِرًا كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

بن عبداللّٰه نه روايت كوي. ذ هغهٔ بيان دے مونږ يو جنګ كښې وو' او سفيان يو خلے بيان اوكړ' چه مونږ يو لښكر كښې وو' نو مهاجرينو كښې يو كس يو انصاري اووهلو' انصاري چغې كړے' چه اے ذ انصارو ډلے' او مهاجر نعرے كړے' اے مهاجرينو' رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم چه دا واوريدل' نو وے فرمائيل' دا ذ جاهليت چغے څنګه دي' خلقو عرض اوكړ' يا رسول اللّٰه' يو مهاجر لړيدلے دے يو انصاري ئے وهلے دے. حضورؐ اوفرمائيل' ذ جاهليت دا نعرے پريږدئې. دا ډيره خرابه كلمه ده عبداللّٰه بن ابي چه واوريدل' نو هغهٔ اووے. ښه معامله دے ته اورسيده قسم په خدائے' كه مونږ مدينے ته دوباره واپس شو' نو عزت واله به ذلت واله ذ هغے خائے نه بهر اوكاږي. نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم ته چه دا خبره اورسيده' نو حضرت عمرؓ اودريد' او عرض ئے اوكه' يا رسول اللّٰه' ماته اجازت راكړئې' چه ددے مُنافق (عبداللّٰه بن اُبي) كردن والوځوم. نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم ورته اوفرمائيل' دے پريږده چرته خلق داسے اونه وائي چه محمد صلي اللّٰه عليه وسلّم خپل ملګري قتلوي. په شروع كښې انصار زيات وُو او بيا مهاجرين زيات شو. سفيان اووے. ما دا عمرو نه ياد كړے دي. عمرو اووے' ما ذ جابر نه اوريدلے دي چه مونږ نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم سره وو.

بَابُ ٤١٤: قَوْلِهِ هُمُ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ حَتّٰى يَنْفَضُّوْا وَ

باب ٤١٤: آيت: هُمُ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ الخ ذ اللّٰه تعالٰي قول دا هغه خلق دي چه وائي كوم خلق چه رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم سره دي په هغوي خرچ مه

يَنْفَضُّوْا وَ لِلّٰهِ خَزَآئِنُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلٰكِنَّ الْمُنَافِقِيْنَ لَا يَفْقَهُوْنَ.

كوږے حتٰي چه هغوي خپله نس نس شي. او د آسمان او ځمكے ټولے خزانے دَ اللّٰه دي ليكن منافقان په دے نه پوهيږي.

۱ ۸ ۹ ۱: حَدَّثَنَا اِسْمَاعِيْلُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ حَدَّثَنِيْ اِسْمٰعِيْلُ بْنُ اِبْرَاهِيْمَ بْنِ عُقْبَةَ عَنْ مُوْسَى بْنِ عُقْبَةَ قَالَ حَدَّثَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ الْفَضْلِ اَنَّهُ سَمِعَ اَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُوْلُ حَزِنْتُ عَلٰى مَنْ اُصِيْبَ بِالْحَرَّةِ فَكَتَبَ اِلَيَّ زَيْدُ بْنُ اَرْقَمَ وَبَلَغَهُ شِدَّةُ حُزْنِيْ يَذْكُرُ اَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْاَنْصَارِ وَلِاَبْنَآءِ الْاَنْصَارِ شَكَّ ابْنُ الْفَضْلِ فِيْ اَبْنَآءِ اَبْنَاءِ الْاَنْصَارِ فَسَاَلَ اَنَسًا بَعْضُ مَنْ كَانَ عِنْدَهُ فَقَالَ هُوَ الَّذِيْ يَقُوْلُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰذَا الَّذِيْ اَوْفَى اللّٰهُ لَهُ بِاُذُنِهِ.

۱ ۸ ۹ ۱: اسماعيل بن عبداللّٰه. اسماعيل بن ابراهيم بن عقبه. موسٰي بن عقبه. عبداللّٰه بن فضل. انس بن مالكؓ نه روايت كوي، د هغه نه ئے واوريدل، چه حَرّه كښ (د يزيد قتل عام كښ) چه كوم مُصيبت رسيدلے وو. په هغے ماته ډيره صدمه اوشوه. حضرت زيد بن ارقم خما د سخت غم نه خبر شو، نو هغه ماته اوليكل، چه ما دَ رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم نه اوريدلے دي، چه يا اللّٰه انصار او دَ هغوي ځامن اوبښے. او ابن فضل شك اوكه، چه شايد، حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم دَ انصارو، د ځامنو ځامنو متعلق هم اوفرمائيل. كوم خلق چه هلته وو، هغوي كښ چا د حضرت انسؓ نه دَ حضرت زيدؓ متعلق تپوس اوكه نو انسؓ اووے، دا هغه سړے دے، چه دَ هغهٔ ور كړے خبر اللّٰه تعالٰي پوره كړلو، يعني دَ هغے تصديق ئے اوكړلو.

باب ۵ ۱ ۴: قَوْلِهٖ يَقُوْلُوْنَ لَئِنْ رَّجَعْنَا اِلَى الْمَدِيْنَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْاَعَزُّ مِنْهَا الْاَذَلَّ وَ لِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَ لِرَسُوْلِهٖ وَ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَلٰكِنَّ الْمُنَافِقِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ.

باب ۵ ۱ ۴: ايت: يَقُوْلُوْنَ لَئِنْ رَّجَعْنَا اِلَى الْمَدِيْنَةِ الخ: هغه خلق وائي، كه مونږ اوس مدينے ته واپس لاړو، نو عزت واله به ذلت واله بهر اوكاږي، حالانكه عزت اللّٰه او دَ هغه رسول او مؤمنانو د پاره دے. ليكن منافقان پوهيږي نه.

۲ ۸ ۹ ۱: حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَفِظْنَاهُ مِنْ عَمْرِو بْنِ دِيْنَارٍ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ يَقُوْلُ كُنَّا فِيْ غَزَاةٍ فَكَسَعَ رَجُلٌ

۲ ۸ ۹ ۱: حميدي. سفيان. عمرو بن دينار. حضرت جابر بن عبداللّٰه نه روايت كوي، دَ هغهٔ نه ئے واوريدل، مونږ يو جنگ كښ وو، يو مهاجر اولږيد، يو انصاري ئے اووهلو. انصاري (مدد د پاره) چغے كړے،

مِنَ الْمُهَاجِرِيْنَ رَجُلًا مِنَ الْاَنْصَارِ فَقَالَ الْاَنْصَارِيُّ يَا لَلْاَنْصَارِ وَ قَالَ الْمُهَاجِرِيُّ يَا لَلْمُهَاجِرِيْنَ فَسَمَّعَهَا اللّٰهُ رَسُوْلَهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا هٰذَا فَقَالُوْا كَسَعَ رَجُلٌ مِنَ الْمُهَاجِرِيْنَ رَجُلًا مِنَ الْاَنْصَارِ فَقَالَ الْاَنْصَارِيُّ يَا لَلْاَنْصَارِ وَ قَالَ الْمُهَاجِرِيُّ يَا لَلْمُهَاجِرِيْنَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعُوْهَا فَاِنَّهَا مُنْتِنَةٌ قَالَ جَابِرٌ وَ كَانَتِ الْاَنْصَارُ حِيْنَ قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَكْثَرَ ثُمَّ كَثُرَ الْمُهَاجِرُوْنَ بَعْدُ فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ اُبَيٍّ اَوَ قَدْ فَعَلُوْا وَاللّٰهِ لَئِنْ رَّجَعْنَا اِلَى الْمَدِيْنَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْاَعَزُّ مِنْهَا الْاَذَلَّ فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ دَعْنِيْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَضْرِبُ عُنُقَ هٰذَا الْمُنَافِقِ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعْهُ لَا يَتَحَدَّثُ النَّاسُ اَنَّ مُحَمَّدًا يَقْتُلُ اَصْحَابَهٗ.

چه اے ذَ انصارو جماعته، او مهاجر هم نعرے کړے، چه اے ذَ مهاجرينو ډلے راورسئے، نو الله تعالیٰ خپل رسول ته دا واورول، حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل دا څه دي، خلقو ورته اووے يو مهاجر لړيدلے دے يو انصاري ئے وهلے دے نو انصاري مدد ذَ پاره اواز اوکړ، چه اے انصارو او مهاجر هم مدد ذَ پاره مهاجرينو ته نعرے کړے نو حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل دا قسم نعرے پريږدئے. دا خرابه کلمه ده. حضرت جابرؓ اووے حضور صلي الله عليه وسلّم چه مدينے ته تشريف راوړے وو، نو هغه وخت ذَ انصارو تعداد زيات وو، دے نه پس بيا ذَ مهاجرينو تعداد زيات شو. عبدالله بن ابي اووے، دے مهاجرينو داسے کړے دي، قسم په خدائے که اوس مونږ مدينے ته واپس لاړلو، نو عزت واله به ذَ هغے ځائے نه ذلت واله بهر اوکاږي. حضرت عمر بن خطاب عرض اوکړ، يا رسول الله، ماته اجازت راکړئے چه ذَ دے منافق (عبدالله بن اُبي) ګردن والوځوم، نبي صلي الله عليه وسلّم ورته اوفرمائيل، دے پريږده، چرته خلق بيا داسے اونه وائي، چه محمد (صلي الله عليه وسلّم) خپل ملګري قتلوي.

# سُوْرَةُ التَّغَابُنِ

# ذَ سورۀ تغابن تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ قَالَ عَلْقَمَةُ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ يَهْدِ قَلْبَهٗ هُوَ الَّذِيْ اِذَا اَصَابَتْهُ مُصِيْبَةٌ رَضِيَ وَ عَرَفَ اَنَّهَا مِنَ اللّٰهِ.

او علقمه ذَ عبدالله نه نقل اوکړ، چه کوم سړے په الله ايمان راوړي، ذَ هغۀ قلب ته هدايت ورکوي، دے نه مراد هغه سړے دے، چه کوم وخت هغۀ ته مصيبت اورسي نو هغه راضي وي، او پوهيږي، چه دا ذَ الله ذَ طرف نه دے.

# سُوْرَةُ الطَّلَاقِ

# دَ سورهٔ طلاق تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ التَّغَابُنُ غَبْنُ اَهْلِ الْجَنَّةِ اَهْلَ النَّارِ اِنِ ارْتَبْتُمْ اِنْ لَّمْ تَعْلَمُوْا اَتَحِيْضُ اَمْ لَا تَحِيْضُ فَاللَّاتِيْ قَعَدْنَ عَنِ الْمَحِيْضِ وَاللَّائِيْ لَمْ يَحِضْنَ بَعْدُ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلٰثَةُ اَشْهُرٍ وَ بَالَ اَمْرِهَا جَزَآءَ اَمْرِهَا.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

او مجاهد اووے چه "تغابن" معني داده چه جنتيان به دَ دوزخيانو جائيداد لوټ کړي "اِنِ ارْتَبْتُمْ" که تاته دا معلومه نهٔ وي چه هغے ته حيض راځي يا نهٔ راځي، غرض دادے چه کومے ښځے بوډئ شي، حيض نه مايوسه شوے وي، همدا رنګ کومو ښځو ته چه حيض نه وي راغلے (کم عمره وي) نو دَ هغوي عدت به درے مياشتے وي. "وبال امرها" نه مراد دَ هغے کار بدله ده.

۴۸۹۳: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِيْ عُقَيْلٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ سَالِمٌ اَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اَخْبَرَهُ اَنَّهُ طَلَّقَ امْرَاَتَهُ وَ هِيَ حَائِضٌ فَذَكَرَ عُمَرُ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَغَيَّظَ فِيْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ لِيُرَاجِعْهَا ثُمَّ يُمْسِكْهَا حَتّٰى تَطْهُرَ ثُمَّ تَحِيْضَ فَتَطْهُرَ فَاِنْ بَدَالَهٗ اَنْ يُّطَلِّقَهَا فَلْيُطَلِّقْهَا طَاهِرًا قَبْلَ اَنْ يَّمَسَّهَا فَتِلْكَ الْعِدَّةُ كَمَا اَمَرَهُ اللّٰهُ.

۴۸۹۳: يحيٰي بن بکير. ليث. عقيل. ابن شهاب. سالم. حضرت عبدالله بن عمرؓ نه روايت کوي، دَ هغهٔ بيان دے، چه هغهٔ خپلے ښځے له طلاق ورکړهٔ، هر کله چه هغه حائضه وه. حضرت عمرؓ دا رسول الله صلي الله عليه وسلّم ته بيان کړه، نو رسول الله صلي الله عليه وسلّم په دے دَ غصے اظهار اوکړهٔ، بيائے اوفرمائيل، دا دے واپس کړي، بيا دے اوساتي، تردے چه پاکه شي، بيا ورته حيض راشي، او پاکه شي، بيا که هغے ته دَ طلاق ورکولو خواهش وي، نو هغے ته دے دَ جماع (کوروالي يا صحبت) نه مخکښ دَ پاکي په حالت کښ طلاق ورکړي. دا هغه عدّت دے، چه دَ هغے الله تعالٰي حکم کړے دے.

باب ۴۱۶: قَوْلِهٖ وَ اُوْلَاتُ الْاَحْمَالِ اَجَلُهُنَّ اَنْ يَّضَعْنَ حَمْلَهُنَّ وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مِنْ اَمْرِهٖ يُسْرًا وَ اُوْلَاتُ الْاَحْمَالِ وَاحِدُهَا ذَاتُ

باب ۴۱۶: آيت: وَ اُوْلَاتُ الْاَحْمَالِ اَنْ يَّضَعْنَ حَمْلَهُنَّ الخ: او حمل واله ښځے، دَ هغوي عدّت دادے چه بچے راوړي، او کوم سړے چه دَ الله نه اويريږي، نو الله تعالٰي دَ هغهٔ کار آسان کړي. "و اولات الاحمال" دَ

حَمْلٍ.

۸۹۴: حَدَّثَنَا سَعْدُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ عَنْ يَحْيَى قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو سَلَمَةَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ وَ أَبُو هُرَيْرَةَ جَالِسٌ عِنْدَهُ فَقَالَ أَفْتِنِي فِي امْرَأَةٍ وَلَدَتْ بَعْدَ زَوْجِهَا بِأَرْبَعِينَ لَيْلَةً فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ آخِرُ الْأَجَلَيْنِ قُلْتُ أَنَا وَ أُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَنْ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ أَنَا مَعَ ابْنِ أَخِي يَعْنِي أَبَا سَلَمَةَ فَأَرْسَلَ ابْنُ عَبَّاسٍ غُلَامَهُ كُرَيْبًا إِلَى أُمِّ سَلَمَةَ يَسْأَلُهَا فَقَالَتْ قُتِلَ زَوْجُ سُبَيْعَةَ الْأَسْلَمِيَّةِ وَ هِيَ حُبْلَى فَوَضَعَتْ بَعْدَ مَوْتِهِ بِأَرْبَعِينَ لَيْلَةً فَخُطِبَتْ فَأَنْكَحَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ كَانَ أَبُو السَّنَابِلِ فِيمَنْ خَطَبَهَا وَ قَالَ سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ وَّ أَبُو النُّعْمَانِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ أَيُّوبَ عَنْ مُحَمَّدٍ قَالَ كُنْتُ فِي حَلْقَةٍ فِيهَا عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ أَبِي لَيْلَى وَ كَانَ أَصْحَابُهُ يُعَظِّمُونَهُ فَذَكَرَ آخِرَ الْأَجَلَيْنِ فَحَدَّثْتُ بِحَدِيثِ سُبَيْعَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ قَالَ فَضَمَّزَنِي بَعْضُ أَصْحَابِهِ قَالَ مُحَمَّدٌ فَفَطِنْتُ لَهُ فَقُلْتُ إِنِّي إِذًا لَجَرِيءٌ إِنْ

دے واحد "ذات حمل" (حمل واله ښځه) ده.

۸۹۴: سعد بن حفص. شيبان. يحيٰي نه روايت كوي، ذ هغه بيان دے، ابو سلمه وائي يو سړے ابن عباسؓ له راغے، دغه وخت ابوهريرةؓ هغهٔ سره ناست وو. هغهٔ اووے، ماته دَ هغے ښځے متعلق مسئله اوښائے، چه دَ خپل خاوند دَ مرګ نه څلويښت ورځے پس بچے راوړي. ابن عباس اووے، چه دواړو عدتونو کښې آخري عدت دے. ما اووے، دَ حمل واله ښځے عدت خو وضع حمل دے. ابوهريرةؓ اووے زه خپل وراره يعني ابوسلمه سره يووم، نو ابن عباس خپل غلام کريب، بي بي اُم سلمةؓ ته دے تپوس کولو دَ پاره اوليږلو نو هغے اووے چه د سُبيعه اسلميه خاوند قتل شو، هغه وخت هغه حامله وه دَ خاوند دَ مرګ نه څلويښت ورځے پس ئے بچے راوړلو. بيا هغے ته دَ نکاح پيغام اوليږلے شو. نو رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم دَ هغے نکاح اوکړله. او د نکاح پيغام استوونکو کښې ابوالسنابل هم وو. او سليمان بن حرب او ابوالنعمان په واسطه د حماد بن زيد، ايوب، د محمد (بن سيرين) قول نقل که، زه هغے مجلس کښې ووم، چه هغے کښې عبدالرحمٰن بن ابي ليلٰي وو. د هغه ملګرو دَ هغه تعظيم کولو. هغه د آخر الاجلين (آخر کښې د نازليدو واله عدت) ذکر اوکه، نو ما د سُبيعه بنت حارث حديث د عبداللّٰه بن عتبه واسطے سره بيان که. دَ محمد بيان دے زه د هغه بعضے ملګرو منع کړم. زهٔ پوهه شوم، چه خما حديث دروغ ګنړي. ما اووے که ما په عبداللّٰه بن عتبه

كَذَبْتُ عَلٰى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُتْبَةَ وَهُوَ فِيْ نَاحِيَةِ الْكُوْفَةِ فَاسْتَحْيَا وَ قَالَ لٰكِنْ عَمَّهُ لَمْ يَقُلْ ذَاكَ فَلَقِيْتُ اَبَا عَطِيَّةَ مَالِكَ بْنَ عَامِرٍ فَسَأَلْتُهُ فَذَهَبَ يُحَدِّثُنِيْ حَدِيْثَ سُبَيْعَةَ فَقُلْتُ هَلْ سَمِعْتَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ فِيْهَا شَيْئًا فَقَالَ كُنَّا عِنْدَ عَبْدِ اللّٰهِ فَقَالَ اَتَجْعَلُوْنَ عَلَيْهَا التَّغْلِيْظَ وَلَا تَجْعَلُوْنَ عَلَيْهَا الرُّخْصَةَ لَنَزَلَتْ سُوْرَةُ النِّسَآءِ الْقُصْرٰى بَعْدَ الطُّوْلٰى وَ اُوْلَاتُ الْاَحْمَالِ اَجَلُهُنَّ اَنْ يَّضَعْنَ حَمْلَهُنَّ.

دروغ اووے، نو زه ډير زيات زړور (دلير) يم، او هغه دا وخت د کوفه په علاقه کښې موجود دے عبدالرحمٰن اوشرميدلو. او ونيلے چه ذ هغهٔ تره (چچا) دا بيان اونهٔ کهٔ نو زهٔ ابو عطيه مالک بن عامر سره يوځائے شوم. ما ذ هغهٔ نه تپوس اوکهٔ، نو هغهٔ ماته ذ سُبيعه حديث بيان کهٔ. ما تپوس اوکهٔ، آيا تا ذ عبدالله بن مسعود نه ذ دے متعلق آوريدلے دي، هغه اووے مونږ عبدالله بن مسعود سره وو، هغهٔ اووے آيا تاسو په دے ښځو سختي نهٔ کونے چه هغوي لـه رخصت نه ورکوئے، حالانکه کم عدت واله آيت (يعني وضع حمل) زيات عدت واله آيت (يعني څلور مياشتے لس ورځے) نه پس نازل شوے دے[۲].

۱. دا يوه عامه عربي محاوره ده. په ابو سلمه بن عبدالرحمٰن بن عوف او ابوهريره رضي الله عنه کښے څه خپلولي نه وه: دلته هغوئ د عربو عام دستور مطابق هغه ته ابن اخي (يعني ورارهٔ) اوويلو.

۲. حمل داره او د چا چه خاوند وفات شوے وي د هغوئ د عدت متعلق د آيتونو په سلسله کښے د سلفو اختلاف راغلے دے. د جمهورو همدا مسلک دے چه ذ ماشوم پيدا کيدل د هغے عدت دے او د هغے نه پس هغه بله نکاح کولے شي خواه که موده اوګده وي او که مختصره وي. د ابن مسعود رضي الله عنه همدا مسلک وو.

# سُوْرَةُ التَّحْرِيْمِ

# دَ سورهٔ تحريم تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

بابٌ ۱۴۷: قَوْلِهٖ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ تَبْتَغِيْ مَرْضَاةَ اَزْوَاجِكَ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

باب ۱۴۷: آيت: يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ الخ: اے نبيّ، ذ خپلو بيبيانو ذ رضا ځوئي ذ پاره هغه څيز په ځان ولے حرام کوے، چه هغه الله تا ذ پاره حلال کړے دے او الله تعالي ښښونکے مهربانه دے.

۸۹۵: حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ فُضَالَةَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ يَحْيٰى بْنِ حَكِيْمٍ عَنْ سَعِيْدِ ابْنِ جُبَيْرٍ اَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ

۸۹۵: معاذ بن فضاله. هشام. يحيٰي ابن حکيم. سعيد بن جبير نه روايت کوي. حضرت ابن عباسؓ اووے، چه حرام (يعني ته په ما حرام ئے، يا دا په ما حرام

رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ فِي الْحَرَامِ يُكَفِّرُ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ.

دي) ونيلو كښې به كفاره وركولے شي. او حضرت ابن عباسؓ اووې، بيشكه تاسو د پاره رسول الله صلي الله عليه وسلّم كښې ډيره ښه نمونه ده.

۸۹۶: حَدَّثَنَا اِبْرَاهِيْمُ بْنُ مُوْسٰى اَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ يُوْسُفَ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ عَنْ عَطَاءٍ عَنْ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَشْرَبُ عَسَلًا عِنْدَ زَيْنَبَ ابْنَةِ جَحْشٍ وَ يَمْكُثُ عِنْدَهَا فَوَاطَئْتُ اَنَا وَ حَفْصَةُ عَنْ اَيَّتُنَا دَخَلَ عَلَيْهَا فَلْتَقُلْ لَهُ اَكَلْتَ مَغَافِيْرَ فَاِنِّيْ اَجِدُ مِنْكَ رِيْحَ مَغَافِيْرَ قَالَ لَا وَلٰكِنِّيْ كُنْتُ اَشْرَبُ عَسَلًا عِنْدَ زَيْنَبَ ابْنَةِ جَحْشٍ فَلَنْ اَعُوْدَ لَهُ وَقَدْ حَلَفْتُ لَا تُخْبِرِيْ بِذَالِكِ اَحَدًا.

۸۹۶: ابـراهيم بـن موسٰي. هشام بن يوسف. ابـن جـريـج. عـطـاء. عبيـد بـن عـمير. بي بي عائشےؓ نه روايـت كـوي، هـغـے اووې، رسـول الـلّٰه صلي اللّٰه عليه وسـلّـم بـه بـي بـي زيـنـب بنت جحش سره شهَد (شات) څـكـل او هـلـتـه بـه ډير وخته پورې وو. نو ما او حفصےؓ خپلو كښې مشوره اوكړه چه مونږ كښې كومې له حضور صـلـي الـلّٰـه عليه وسلّم تشريف راوړي، نو حضور صلي الـلّٰـه عـلـيـه وسـلّـم ته به وائي چه آيا تاسو مغافير خوړلے دي. ستاسـو ذَ خـولـے نه خو ذَ مغافير بوئي راځي (نو ما ذَغسے اوكړل) حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل، نه، بـلـكـه مـا بـه زيـنـب بـنـت جحش كره شات (شهد) څـكـل. او قَسم سره وائم، چه بيا به هيڅ كله نه څكم، دا خبره چاته مه كوه.

باب۴۱۸: قَوْلِهٖ تَبْتَغِيْ مَرْضَاةَ اَزْوَاجِكَ قَدْ فَرَضَ اللّٰهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ اَيْمَانِكُمْ.

باب۴۱۸: آيت: تَبْتَغِيْ مَرْضَاةَ اَزْوَاجِكَ الخ ته ذَ خپلو بيبيانو رضا غواړې. او اللّٰه تعالٰي ستاسو ذَ پاره ذَ قسمونو كفاره مقرر كړے ده.

ف: مغافير: ذَ جاولے په شان يو بدبوداره خيز.

۸۹۷: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيْزِ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ عَنْ يَحْيٰى عَنْ عُبَيْدِ بْنِ حُنَيْنٍ اَنَّهُ سَمِعَ ابْنَ عَبَّاسٍ يُحَدِّثُ اَنَّهُ قَالَ مَكَثْتُ سَنَةً اُرِيْدُ اَنْ اَسْاَلَ عُمَرَ بْنَ

۸۹۷: عبدالعزيز بن عبداللّٰه. سليمان بن بلال. يحيٰي. عبيد بن حنين نه روايت كوي، هغه ذَ ابن عباسؓ نه واوريـدل، زه يـو كـال پـورې دې انـتـظار كښې ووم، چه د حضـرت عمر بن خطاب نه ذَ يو آيت متعلق تپوس اوكړم ليكن ما د هغهٔ ذَ هيبت ذَ وجې نه ذَ هغهٔ نه تپوس اونهٔ كړې شو، تردې چه هغه ذَ حج په اراده اووتلو نو زهٔ هم ورسره

اووتلم. کوم وخت چه زۀ واپس شوم، او مونږ خلق لار
کښې وو، نو هغه ډ پيلو اُونې ته رفع حاجت ډ پاره ورغے
(پيلو: يوه اُونه چه ډ جرړو او څانګو نه ئې مسواکونه
جوړولے شي. او ميوه ئې سره او خوږ لاړي وي، او خلق
ئې خوري) ډ حضرت ابن عباسؓ بيان دے چه زۀ د هغوي
په انتظار کښې ولاړ ووم، حتي چه هغوي فارغ شولو، بيا زۀ
ورسره روان شوم نو ما اووے، اے امير المؤمنين. ډ نبي
صلي الله عليه وسلّم په بيبيانو کښې هغه کومے دوه بيبيانے
وے، چه هغوي ډ حضور صلي الله عليه وسلّم متعلق اتفاق
کړے وو، حضرت عمرؓ اووے، هغه حفصهؓ او عائشهؓ وے
ډ ابن عباسؓ بيان دے. ما اووے، قسم په خدائے، ما د يو
کال نه دا اراده کوله، چه ددے متعلق تاسو نه تپوس
اوکړم، خو ستاسو ډ ويرے نه مِ درنه تپوس نه شو کولے
هغوي (حضرت عمرؓ) ورته اووے داسے مه کوه. ډ کوم
خيز متعلق چه تاته معلومه وي، چه ماته ډ هغے علم دے نو
مانه تپوس کوه که ماته علم وي، نو زۀ به ئې ضرور درته
ښايم. ډ ابن عباسؓ بيان دے. بيا حضرت عمرؓ اووے، په
خدائے مونږ به ډ جاهليت زمانه کښې ډ ښځو هيڅ حق نه
ګنړلو، تردے چه الله تعالٰي ډ هغوي حق کښې نازل کړل،
څه چه ئې نازلول. او هغوي ډ پاره مقرر کول وو، څه چه
ئې مقرر کړل. حضرت عمرؓ اووے، يوه ورځ ما څپله
معامله کښې ډ سوچ کولو، ډغه وخت څما ښځے اووے،
کاش چه تا داسے او داسے کولے. ما ورته اووے، چه تۀ
ولے څما معامله کښې دخل کوے، څه چه زۀ کول غوارم.
هغے اووے اے ابن خطاب ماته په تا تعجب دے، تۀ نۀ
غوارے چه ستا ډ خبرو جواب درکړے شي، حالانکه ستا

ـا اَسۡتَطِيۡعُ
حَتّٰى خَرَجَ
عَهُ فَلَمَّا
ن الطَّرِيۡقِ
ـاجَةٍ لَّهُ
ى فَرَغَ ثُمَّ
تُ يَا اَمِيۡرَ
نِ تَظَاهَرَتَا
اللّٰهُ عَلَيۡهِ
فَقَالَ تِلۡكَ
الَ فَقُلۡتُ
اَنۡ اَسۡاَلَكَ
ـا اَسۡتَطِيۡعُ
مَا ظَنَنۡتَ
خَبَرۡتُكَ بِهٖ
وَاللّٰهِ اِنۡ
نَعُدُّ لِلنِّسَآءِ
هُ فِيۡهِنَّ مَا
قَسَمَ قَالَ
اَتَاَمَّرُهٗ اِذۡ
نَعۡتَ كَذَا
مَالَكِ وَلِمَا
فُكِ فِيۡ اَمۡرٍ
عَجَبًا لَكَ يَا
يۡدُ اَنۡ تُرَاجَعَ
اجِعُ رَسُوۡلَ

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى يَظَلَّ يَوْمَهُ غَضْبَانَ فَقَامَ عُمَرُ فَأَخَذَ رِدَآئَهُ مَكَانَهُ حَتّٰى دَخَلَ عَلٰى حَفْصَةَ فَقَالَ لَهَا يَا بُنَيَّةُ اِنَّكِ لَتُرَاجِعِيْنَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى يَظَلَّ يَوْمَهُ غَضْبَانَ فَقَالَتْ حَفْصَةُ وَاللّٰهِ اِنَّا لَنُرَاجِعُهُ فَقُلْتُ تَعْلَمِيْنَ اَنِّيْ اُحَذِّرُكِ عُقُوْبَةَ اللّٰهِ وَغَضَبَ رَسُوْلِهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ (وَ اٰلِهٖ) وَسَلَّمَ يَا بُنَيَّةُ لَا تَغُرَّنَّكِ هٰذِهِ الَّتِيْ اَعْجَبَهَا حُسْنُهَا حُبُّ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِيَّاهَا يُرِيْدُ عَائِشَةَ قَالَ ثُمَّ خَرَجْتُ حَتّٰى دَخَلْتُ عَلٰى اُمِّ سَلَمَةَ لِقَرَابَتِيْ مِنْهَا فَكَلَّمْتُهَا فَقَالَتْ اُمُّ سَلَمَةَ عَجَبًا لَكَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ دَخَلْتَ فِيْ كُلِّ شَيْءٍ حَتّٰى تَبْتَغِيْ اَنْ تَدْخُلَ بَيْنَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ اَزْوَاجِهٖ فَاَخَذَتْنِيْ وَاللّٰهِ اَخْذًا كَسَرَتْنِيْ عَنْ بَعْضِ مَا كُنْتُ اَجِدُ فَخَرَجْتُ مِنْ عِنْدِهَا وَ كَانَ لِيْ صَاحِبٌ مِنَ الْاَنْصَارِ اِذَا غِبْتُ اَتَانِيْ بِالْخَبَرِ وَ اِذَا غَابَ كُنْتُ اَنَا اٰتِيْهِ بِالْخَبَرِ وَ نَحْنُ نَتَخَوَّفُ مَلِكًا مِنْ

لور، دَ رسول الله صلي الله عليه وسلّم دَ خبرو جواب ورکوې، تردې چه ټوله ورځ به حضور صلي الله عليه وسلّم غصه وو. حضرت عمرؓ څادر ځان نه تاؤ کړو او بي بي حفصےؓ کره راغے او دے باره کښې ئے ترې باز پُرس او کړو نو حفصےؓ اووے، قسم په خدائے تعالٰي مونږ دَ حضور صلي الله عليه وسلّم دَ خبرو جواب کولو. ما اووے پوهه شه چه ته دَ الله تعالٰي دَ سزا او دَ رسول الله صلي الله عليه وسلّم دَ غضب نه ويرَوم. اے لُورے، تا دے هغه دهوکه کښې اونه غُرځوي چه هغے دَ هغے حُسن دَ رسول الله صلي الله عليه وسلّم دَ محبت په سبب مغروره کړے ده. دے نه بي بي عائشهؓ مراد ده. دَ حضرت عمرؓ بيان دے. بيا زهٔ دَ هغه ځائے نه راووتم، تردې چه دَ قرابت په سبب بي بي اُم سلمهؓ له ورغلم. ما هغے سره خبرے او کړے، نو هغے اووے اے ابن خطاب، تهٔ هر څيز کښې دخل ورکوے حتي چه دَ رسول الله صلي الله عليه وسلّم او دَ هغوي دَ بيبيانو معامله کښې هم دخل ورکوے نو هغے په خدائے دومره سختي سره ځما ګرفت او کهٔ، چه ځما غصه لاړله. بيا زهٔ دَ هغې نه بهر ته اووتم. او انصارو کښې ځما يو دوست وو کله چه به زهٔ حضور صلي الله عليه وسلّم سره موجود نه ووم، نو هغهٔ به ماته راتهٔ او حالات به ئے بيانول او کله چه به هغه نه وو نو ما به هغهٔ ته حالات بيانول. او هغه زمانه کښې مونږ ته دَ غسان بادشاهانو کښې دَ يو بادشاه دَ حملے خطره وه. مونږ ته بيان اوشو، چه هغه په مونږ دَ حملے په غرض راروان دے نو ځمونږ سينے دَ خوف نه ډکے وے. يوه ورځ ځما انصاري دوست دروازه او ټکوله، او وئيلے دروازه پرانزه، دروازه پرانزه ما ټپوس

مُلُوْكِ غَسَّانَ ذُكِرَ لَنَا اَنَّهُ يُرِيْدُ اَنْ يَّسِيْرَ اِلَيْنَا فَقَدِ امْتَلَاَتْ صُدُوْرُنَا مِنْهُ فَاِذَا صَاحِبِيَ الْاَنْصَارِيُّ يَدُقُّ الْبَابَ فَقَالَ افْتَحْ افْتَحْ فَقُلْتُ جَآءَ الْغَسَّانِيُّ فَقَالَ بَلْ اَشَدُّ مِنْ ذٰلِكَ اعْتَزَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَزْوَاجَهُ فَقُلْتُ رَغِمَ اَنْفُ حَفْصَةَؓ وَ عَآئِشَةَؓ فَاَخَذْتُ ثَوْبِيَ فَاَخْرُجُ حَتّٰى جِئْتُ فَاِذَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ مَشْرُبَةٍ لَهُ يَرْقٰى عَلَيْهَا بِعَجَلَةٍ وَ غُلَامٌ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَسْوَدُ عَلٰى رَأْسِ الدَّرَجَةِ فَقُلْتُ لَهُ قُلْ هٰذَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فَاَذِنَ لِيْ قَالَ عُمَرُ فَقَصَصْتُ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰذَا الْحَدِيْثَ فَلَمَّا بَلَغْتُ حَدِيْثَ اُمِّ سَلَمَةَ تَبَسَّمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ اِنَّهُ لَعَلٰى حَصِيْرٍ مَا بَيْنَهُ وَ بَيْنَهُ شَيْءٌ وَ تَحْتَ رَأْسِهِ وِسَادَةٌ مِنْ اَدَمٍ حَشْوُهَا لِيْفٌ وَ اِنَّ عِنْدَ رِجْلَيْهِ قَرَظًا مَصْبُوْبًا وَ عِنْدَ رَأْسِهِ اَهَبٌ مُعَلَّقَةٌ فَرَاَيْتُ اَثَرَ الْحَصِيْرِ فِيْ جَنْبِهِ فَبَكَيْتُ فَقَالَ مَا يُبْكِيْكَ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ كِسْرٰى وَ قَيْصَرَ فِيْمَا هُمَا فِيْهِ وَ اَنْتَ رَسُوْلُ اللّٰهِ فَقَالَ اَمَا تَرْضٰى اَنْ

او کهٔ' آیا غسانیان راغلل' هغهٔ اووے ذ دے نه هم زیاته سخته معامله ده' نبي صلي الله علیه وسلّم د خپلو ټولو بیبیانو نه جدائي اختیار کړے ده. ما اووے ذ عائشےؓ او حفصےؓ پوزے دے په خاورو ککړے شي. بیا ما خپلے کپړے واخستے روان شوم. حتي چه زهٔ راغلم' او حضور صلي الله علیه وسلّم دغه وخت یوه بالا خانه کښ وو' چه هغ ته ختو ذ پاره یوه سیړهي لږیدلے وه. او ذ حضور صلي الله علیه وسلّم یو تور غلام ذ سیړهي په سر وو. ما هغه ته اووے لاړ شه او وایه چه عمرؓ بن خطاب راغلے دے نو ماته اجازت راکړے شو. ذ حضرت عمرؓ بیان دے' دننه چه ورغلم' نو ما حضور صلي الله علیه وسلّم ته دا قصه بیان کړه ذ بي بي اُم سلمهؓ خبره مِ ورته اوکړه' نو حضور صلي الله مُسکے شولو دغه وخت حضور صلي الله علیه وسلّم په یو پوزِ ملاست وو. ذ حضور صلي الله علیه وسلّم ذ جسم او پوزِ مینځ کښ هیڅ نه وو. او ذ حضور صلي الله علیه وسلّم ذ سر لاندے ذ څرمنے یوه تکیه وه' چه ذ قجورو ذ پوستکو نه ډکه وه' او پښو سره ئے ذ قَرَظ ذ پانړو ډهیر لږیدلے وو (قرظ: یوه اُونه ده چه ذ هغے پانړو سره ذ څرمنے د باغت کوي' یعني پخوي) او سر سره ئے څه څرمنے اویزاندے وے ما ذ حضور صلي الله علیه وسلّم ارخ کښ ذِ پوزِ (یا بوریا) نښه اولیده (خاپ اولیدو) نو زهٔ په ژړا شوم' حضور صلي الله علیه وسلّم اوفرمائیل تهٔ ولے ژاړے ما اووے یا رسول اللّٰه' قیصر او کسري خو دومره آرام کښ دي' او تاسو ذ اللّٰه تعالیٰ رسول ئے او دے حالت کښ ئے. حضور صلي الله علیه وسلّم اوفرمائیل آیا تهٔ دا نهٔ خوښوے' چه هغوي ذ پاره

تَكُوْنَ لَهُمُ الدُّنْيَا وَ لَنَا الْاٰخِرَةُ.

دنيا وي او مونږ ډپاره آخرت.

بَابٌ ۴۱۹: قَوْلُهٗ وَ اِذْ اَسَرَّ النَّبِيُّ اِلٰى بَعْضِ اَزْوَاجِهٖ حَدِيْثًا فَلَمَّا نَبَّأَتْ بِهٖ وَ اَظْهَرَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ عَرَّفَ بَعْضَهٗ وَ اَعْرَضَ عَنْ بَعْضٍ فَلَمَّا نَبَّأَهَا بِهٖ قَالَتْ مَنْ اَنْبَأَكَ هٰذَا قَالَ نَبَّأَنِيَ الْعَلِيْمُ الْخَبِيْرُ فِيْهِ عَائِشَةُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

باب ۴۱۹: آيت: وَ اِذْ اَسَرَّ النَّبِيُّ اِلٰى بَعْضِ اَزْوَاجِهٖ الخ: او هر كله چه پيغمبر صلي الله عليه وسلم خپلے يوے بي بي ته پټه يوه خبره او كړه. بيا چه هغے ډ هغه خبره اوښودله' او پيغمبرؐ پرے الله تعالي خبر كړلو. نو پيغمبر لږه غندے خبره اوښودله' او څه ئے اونه ښودله. هر كله چه پيغمبر هغے ښځے ته هغه خبره اوښودله نو هغے اووے' تاسو چا خبر كړئے حضور صلي الله عليه وسلم ورته اُفرمائيل' زۀ لوئے پوهيدونكي خبردار كړم. دے خبره كښ ډ عائشےؓ حديث ډ حضور صلي الله عليه وسلّم نه روايت دے.

۸۹۸: حَدَّثَنَا عَلِيٌّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيْدٍ قَالَ سَمِعْتُ عُبَيْدَ ابْنَ حُنَيْنٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا يَقُوْلُ اَرَدْتُّ اَنْ اَسْأَلَ عُمَرَ فَقُلْتُ يَا اَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ مَنِ الْمَرْاَتَانِ اللَّتَانِ تَظَاهَرَتَا عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا اَتْمَمْتُ كَلَامِيْ حَتّٰى قَالَ عَائِشَةُ وَ حَفْصَةُ.

۸۹۸: علي. سفيان. يحيٰي بن سعيد. عبيد بن حنين. ابن عباسؓ نه روايت كوي' هغه نه ئے بيان واوريدلو' چه ما د حضرت عمرؓ نه تپوس كول غوښتل' نو ما اووے اے امير المؤمنين هغه دوه كومے بيبيانے وے چه هغوي د حضور صلي الله عليه وسلّم متعلق اتفاق كړے وو' ما خبره لا ختمه كړے هم نۀ وه' چه هغوي (حضرت عمرؓ) اوفرمائيل هغه عائشهؓ او حفصهؓ وے.

بَابٌ ۴۲۰: قَوْلُهٗ اِنْ تَتُوْبَا اِلَى اللّٰهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوْبُكُمَا صَغَوْتُ وَ اَصْغَيْتُ مِلْتُ لِتَصْغٰى لِتَمِيْلَ وَ اِنْ تَظَاهَرَا عَلَيْهِ فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ مَوْلَاهُ وَ جِبْرِيْلُ وَ صَالِحُ الْمُؤْمِنِيْنَ

باب ۴۲۰: ايت: اِنْ تَتُوْبَا اِلَى اللّٰهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوْبُكُمَا: كه تاسو دواړه ډ الله مخكښ توبه كړئے نو ستاسو زړونه مائل شوي دي. او كه ډ پيغمبر مقابله كښ تاسو دواړه كار وائي كوئے نو الله تعالي د پيغمبر ملګرے دے او جبرائيلؑ ئے ملګرے دے او نيک مسلمانان ئے ملګري دي. او ډ دوي نه علاوه فريښتے ئے مددګارے دي.

وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَعْدَ ذَالِكَ ظَهِيْرٌ عَوْنٌ تَظَاهَرُوْنَ تَعَاوَنُوْنَ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ قُوْا اَنْفُسَكُمْ وَ اَهْلِيْكُمْ اَوْصُوْا اَنْفُسَكُمْ وَ اَهْلِيْكُمْ بِتَقْوَى اللّٰهِ وَ اَدِّبُوْهُمْ.

"صغوت" او "اصغيت" زۀ مائل شوم. "لتصغى" چه نۀ مائل شي "ظهير" معني مددګار. "تظاهرون" تاسو مدد کونکي' او مجاهد اووے. چه خپل ځانونه او کور واله بچ کړئ خپل ځانونه او کور والوته ذ اللّٰه د ويرے نه وصيت اوکړئ. او هغوي ته ادب اوښايئ.

۸۹۹: حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيْدٍ قَالَ سَمِعْتُ عُبَيْدَ بْنَ حُنَيْنٍ يَقُوْلُ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ يَقُوْلُ اَرَدْتُّ اَنْ اَسْاَلَ عُمَرَ عَنِ الْمَرْاَتَيْنِ اللَّتَيْنِ تَظَاهَرَتَا عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَكَثْتُ سَنَةً فَلَمْ اَجِدْ لَهُ مَوْضِعًا حَتّٰى خَرَجْتُ مَعَهُ حَآجًّا فَلَمَّا كُنَّا بِظَهْرَانَ ذَهَبَ عُمَرُ لِحَاجَتِهِ فَقَالَ اَدْرِكْنِيْ بِالْوَضُوْءِ فَاَدْرَكْتُهُ بِالْاِدَاوَةِ فَجَعَلْتُ اَسْكُبُ عَلَيْهِ وَ رَاَيْتُ مَوْضِعًا فَقُلْتُ يَا اَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ مَنِ الْمَرْاَتَانِ اللَّتَانِ تَظَاهَرَتَا قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَمَا اَتْمَمْتُ كَلَامِيْ حَتّٰى قَالَ عَآئِشَةُ وَ حَفْصَةُ.

۸۹۹: حميدي. سفيان. يحيي بن سعيد. عبيد بن حُنين. حضرت ابن عباسؓ نه روايت کوي' ذ هغه نه ئے بيان واوريدو' چه ما د حضرت عمرؓ نه ذ هغے دوه بيبيانو متعلق تپوس کول غوښتل چه هغوي ذ نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم متعلق اتفاق کړے وو. يو کال زه ايسار ووم خو موقع مِ نه بيامنده تردے چه زه حضرت عمرؓ سره د حج په اراده اووتم. کوم وخت چه ظهران ته اورسيدو نو حضرت عمرؓ قضائے حاجت ذ پاره لاړلو' او وئيلے ما د پاره اُوبه راوړه. ما لوښے راوړلو' او هغوي ته مِ اوبه اچولے. ما موقع مناسب اوګنړله' نو ما اووے اے امير المؤمنين' هغه کومے دوه بيبيانے وے چه هغوي منصوبه جوړه کړے وه. ذ ابن عباسؓ بيان دے ما لا خپله خبره ختمه کړے نه وه چه هغوي اووے هغه عائشهؓ او حفصهؓ وے.

باب ۴۲۱: قَوْلِهٖ عَسٰى رَبُّهٗ اِنْ طَلَّقَكُنَّ اَنْ يُّبْدِلَهٗ اَزْوَاجًا خَيْرًا مِّنْكُنَّ مُسْلِمٰتٍ مُّؤْمِنٰتٍ قٰنِتٰتٍ تٰٓئِبٰتٍ عٰبِدٰتٍ سٰٓئِحٰتٍ ثَيِّبٰتٍ وَّ اَبْكَارًا.

باب ۴۲۱: آيت: عَسٰى رَبُّهٗ اِنْ طَلَّقَكُنَّ الخ که پيغمبر تاسو ښځو له طلاق درکړي' نو ذ هغه پروردګار به ډير زر ستاسو په بدله کښې هغه ته ښے بيبيانے ورکړي' چه اسلام واله' ايمان واله' فرمانبرداري کوونکے' توبه کوونکے عبادت کونکے روژه نيونکے به وي' څه کُنډے او څه پيغلے.

۹۰۰ : حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ عَنْ حُمَيْدٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ عُمَرُ اجْتَمَعَ نِسَآءُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْغَيْرَةِ عَلَيْهِ فَقُلْتُ لَهُنَّ عَسَى رَبُّهُ إِنْ طَلَّقَكُنَّ أَنْ يُبْدِلَهُ أَزْوَاجًا خَيْرًا مِنْكُنَّ فَنَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ.

۹۰۰ : عمرو بن عون. هُشيم. حميد. حضرت انسؓ نه روايت کوي، ذ حضرت عمرؓ بيان دے، د نبي صلي الله عليه وسلّم بيبيانے حضور صلي الله عليه وسلّم ته غيرت مخکښې کولو د پاره جمع شوے، نو ما هغې بيبيانو ته اووے که حضور صلي الله عليه وسلّم تاسو له طلاق درکړي، نو ډيره ممکنه ده، چه ستاسو بدله کښې ستاسو نه ښې بيبيانے حضورؐ له ورکړي، نو الله تعالیٰ دا آيت نازل کړلو.

# سُورَةُ تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ

# دَ سورهٔ مُلک تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

التَّفَاوُتُ الْاِخْتِلَافُ وَالتَّفَاوُتُ وَالتَّفَوُّتُ وَاحِدٌ تَمَيَّزُ تَقَطَّعُ مَنَاكِبِهَا جَوَانِبِهَا تَدَّعُوْنَ وَ تَدْعُوْنَ مِثْلُ تَذَّكَّرُوْنَ وَ تَذْكُرُوْنَ وَ يَقْبِضْنَ يَضْرِبْنَ بِأَجْنِحَتِهِنَّ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ صَافَّاتٍ بُسُطِ أَجْنِحَتَهُنَّ وَ نُفُوْرِ الْكُفُوْرُ.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

"التفاوت" اختلاف، تفاوت او تفوت يو معني دي. "تميز" ټکړے ټکړے به شي. "مناکبها" ذ هغے اطراف. "تَدَّعُون" او "تدعون" "تذکرّون" او "تذکرون" په شان دے. "يقبضن" خپل وزر وهي. او مجاهد اووے "صافات" نه مراد ذ هغوي ذ وزرو خوروول دي. "نفور" په معني ذ "کفور" (کفر کونکے) دے.

# سُوْرَةُ نٓ وَالْقَلَمِ

# دَ سورهٔ نٓ والقلم تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ قَالَ قَتَادَةُ حَرْدٍ جِدٌّ فِيْ أَنْفُسِهِمْ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ يَتَخَافَتُوْنَ يَنْتَجُوْنَ السِّرَارَ وَالْكَلَامَ الْخَفِيَّ وَ قَالَ قَتَادَةُ حَرْدٍ جِدٍّ فِيْ أَنْفُسِهِمْ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَضَالُّوْنَ أَضْلَلْنَا مَكَانَ جَنَّتِنَا

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

او قتاده اووے "حرد" خپل زړهٔ کښې کوشش کول. او ابن عباسؓ اووے. "لضالون" مونږ نه ذ خپل باغ ځائے هير شولو. او نورو اووے "کالصريم" يعني ذ هغے سحر په شان چه ذ شپے نه کټ شي، او هغه شپه چه ذ

وَقَالَ غَيْرُهُ كَالصَّرِيْمِ كَالصُّبْحِ انْصَرَمَ مِنَ اللَّيْلِ وَاللَّيْلُ انْصَرَمَ مِنَ النَّهَارِ وَهُوَ اَيْضًا كُلُّ رَمْلَةٍ انْصَرَمَتْ مِنْ مُعْظَمِ الرَّمْلِ وَالصَّرِيْمِ اَيْضًا الْمَصْرُوْمُ مِثْلُ قَتِيْلٍ وَ مَقْتُوْلٍ.

ورځے نـه کټ شي. اوړ ورو ورو ريکونو ټوپکو ته هم وائي، چه ډ ريګ ډ لويو لويو ټوپکو نه کټ شوے وي. او "صريم" په معنے ډ "مصروم" هم راځي، لکه "قتيل" او "مقتول".

بَابُ ٤٢٢: قَوْلِهِ عُتُلٍّ بَعْدَ ذٰلِكَ زَنِيْمٍ.

باب ٤٢٢: آيت: عُتُلٍّ بَعْدَ ذٰلِکَ زَنِيْمٍ: سخت خويه دے، ډ دے نه علاوه کمينه دے.

٩٠١: حَدَّثَنَا مَحْمُوْدٌ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ عَنْ اِسْرَائِيْلَ عَنْ اَبِيْ حُصَيْنٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍؓ عُتُلٍّ بَعْدَ ذٰلِكَ زَنِيْمٍ قَالَ رَجُلٌ مِّنْ قُرَيْشٍ لَهٗ زَنَمَةٌ مِثْلُ زَنَمَةِ الشَّاةِ.

٩٠١: محمود. عبيدالله. اسرائيل. ابو حصين. مجاهد. حضرت ابن عباسؓ نه روايت کوي، ډ هغۀ بيان دے چه "عتل بعد ذٰلک زنيم" کښې ډ قريش ډ يو سړي داسے نښه ده، لکه ډ چيلئے چه يو خاص نښه وي.

٩٠٢: حَدَّثَنَا اَبُوْ نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ مَعْبَدِ بْنِ خَالِدٍ قَالَ سَمِعْتُ حَارِثَةَ بْنَ وَهْبٍ الْخُزَاعِيَّ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اَلَا اُخْبِرُكُمْ بِاَهْلِ الْجَنَّةِ كُلُّ ضَعِيْفٍ مُتَضَعَّفٍ لَوْ اَقْسَمَ عَلَى اللّٰهِ لَاَبَرَّهٗ اَلَا اُخْبِرُكُمْ بِاَهْلِ النَّارِ كُلُّ عُتُلٍّ جَوَّاظٍ مُسْتَكْبِرٍ.

٩٠٢: ابو نعيم. سفيان. معبد بن خالد. حارثه بن وهب خزاعه نه روايت کوي، ډ هغۀ بيان دے. ما ډ نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم نه واوريدل، آيا زۀ تاسو ته ډ اهل جنت خبر درنۀ کړم، هغه هر کمزورے او حقير دے، که اللّٰه باندے څه قسم اوخوري، نو اللّٰه هغه پوره کړي، آيا زۀ تاسو ته ډ دوزخ والو خبر درنۀ کړم، هغه شرير، مغرور او تکبر واله خلق دي.

بَابُ ٤٢٣: قَوْلِهٖ يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ.

باب ٤٢٣: آيت: يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ: په کومه ورځ چه پنډئ (پنڈلی) څرګنده کړے شي.

٩٠٣: حَدَّثَنَا اٰدَمُ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ خَالِدِ بْنِ يَزِيْدَ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ اَبِيْ هِلَالٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ اَسْلَمَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ

٩٠٣: آدم. ليث. خالد بن يزيد. سعيد بن ابي هلال. زيد بن اسلم. عطاء بن يسار. حضرت ابوسعيد خدريؓ نه روايت کوي، ډ هغۀ بيان دے، ما حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم نه واوريدل څمونږ

سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ يَكْشِفُ رَبُّنَا عَنْ سَاقِهٖ فَيَسْجُدُ لَهٗ كُلُّ مُؤْمِنٍ وَ مُؤْمِنَةٍ وَّ يَبْقٰى مَنْ كَانَ يَسْجُدُ فِي الدُّنْيَا رِئَاءً وَّ سُمْعَةً فَيَذْهَبُ لِيَسْجُدَ فَيَعُوْدُ ظَهْرُهٗ طَبَقًا وَّاحِدًا.

پروردګار به پنډۍ پرانزي، نو هر ایماندار سړے او ښځه به هغے ته سجده اوکړي، او هغه به باقي پاتے شي، چه دُنیا کښې ئے ریا او دَ شهرت په غرض سجده کوله. هغه به سجدے کولو له ورځي (یعني خکته کیږي به) او دَ هغهٔ شا به دَ یو تخت په شان شي (یعني تاویدے به نشي).

# سُوْرَةُ الْحَاقَّةِ

## دَ سورۀ الحاقة تفسیر

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

عِيْشَةٍ رَّاضِيَةٍ يُرِيْدُ فِيْهَا الرِّضَا الْقَاضِيَةَ الْمَوْتَةَ الْاُوْلٰى الَّتِيْ مُتُّهَا لَمْ اُحْيَ بَعْدَهَا مِنْ اَحَدٍ عَنْهُ حَاجِزِيْنَ اَحَدٌ يَكُوْنُ لِلْجَمْعِ وَ لِلْوَاحِدِ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ الْوَتِيْنُ نِيَاطُ الْقَلْبِ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ طَغٰى كَثُرَ وَ يُقَالُ بِالطَّاغِيَةِ بِطُغْيَانِهِمْ وَ يُقَالُ طَغَتْ عَلَى الْخُزَّانِ كَمَا طَغَى الْمَاءُ عَلٰى قَوْمِ نُوْحٍ.

"عیشة راضیة" داسے عیش چه دَ هغے نه راضي وي، القاضیة، وړمبنے مرګ داسے وړے، چه دَ هغے نه پس بیا قیامت کښې نۀ ژوندے کیدے. "من احد عن حاجزین" احد، جمع او واحد دواړو دَ پاره وئیلے شي. او ابن عباس اووے "و تین" نه مراد دَ زړۀ رګ دے. ابن عباس اووے. "طغٰی" په معني دَ کثر (زیاتے اوشو). "بالطّاغیة" "بطغیانهم" او "طغت علی الخزان" وائي، یعني دَ سرکشي په سبب هلاک کړے شو، ځنګه چه "طغی الماء علی قوم نوح" وائي.

# سُوْرَةُ الْمَعَارِجِ

## دَ سورۀ معارج تفسیر

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الْفَصِيْلَةُ اَصْغَرُ آبَائِهِ الْقُرْبٰى اِلَيْهِ يَنْتَمِيْ مَنِ انْتَمٰى لِلشَّوٰى الْيَدَانِ وَالرِّجْلَانِ وَالْاَطْرَافُ وَ جِلْدَةُ الرَّأْسِ يُقَالُ لَهَا شَوَاةٌ وَّمَا كَانَ غَيْرُ مَقْتَلٍ فَهُوَ شَوًى وَالْعِزُوْنَ الْجَمَاعَاتُ وَ

"الفصیله" قریبي رشته دار چه هغۀ طرف ته منسوب کیږي. "للشوی" دواړه لاسونه، او دواړه پښے او اطراف بدن او دَ سر څرمن مراد ده. دے ته "شواة" وائي او چه دَ قتل ځائے نۀ وي، هغے ته "شوی" وائي او "عزون" نه مراد جماعتونه دي، دَ دے واحد "عزه"

وَاحِدُهَا عِزَةٌ.

دے

# إِنَّا اَرْسَلْنَا

# دَ سورهٔ نوح تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

أَطْوَارًا طَوْرًا كَذَا وَ طَوْرًا كَذَا يُقَالُ طَوْرَهُ أَىْ قَدْرَهُ وَالْكُبَّارُ اَشَدُّ مِنَ الْكُبَارِ وَ كَذٰلِكَ جُمَّالٌ وَ جَمِيْلٌ لِاَنَّهَا اَشَدُّ مُبَالَغَةً وَ كُبَّارًا لْكَبِيْرُ وَ كُبَارًا أَيْضًا بِالتَّخْفِيْفِ وَالْعَرَبُ تَقُوْلُ رَجُلٌ حُسَّانٌ وَ جُمَّالٌ وَ حُسَانٌ مُخَفَّفٌ وَ جُمَالٌ مُخَفَّفٌ دَيَّارًا مِّنْ دَوْرٍ وَّلٰكِنَّهُ فَيْعَالٌ مِّنَ الدَّوَرَانِ كَمَا قَرَأَ عُمَرُ اَلْحَيُّ الْقَيَّامُ وَ هِيَ مِنْ قُمْتُ وَ قَالَ غَيْرُهُ دِيَارًا اَحَدًا تَبَارًا هَلَاكًا وَّ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ مِدْرَارًا يَتْبَعُ بَعْضُهَا بَعْضًا وَقَارًا عَظَمَةً.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

"اطوارًا" كله داسے او كله داسے اروانې "عداطوره" يعني هغه د خپلے مرتبے نه تجاوز او كړ. او "كُبَّارٌ" د "كُبَار" نه زياته مبالغه ده. او دا شان "جُمَّالٌ" او "جميلٌ" دي، چه دے كښ مبالغه زياته ده او "كُبَّارٌ" نه مراد كبير دے. او "كُبَار" تخفيف سره هم مستعمل دے او عرب "رَجُلٌ حُسَّانٌ وَ جُمَّالٌ وَ حُسَانٌ" تخفيف سره او جمال تخفيف سره وائي "دَيَّارًا" دور نه ماخوذ دے. ليكن دا "دَوَرَانَ" نه ماخوذ دے. او بعضو اووے چه "دَيَّارًا" نه مراد دادے چه څوک سړے "تَبَارًا" په معني د هلاكت، او ابن عباسؓ اووے. "مِدْرَارًا" چه يو بل پسے راشي، متواتر په شيبو (موسلادهار) "وَقَارًا" نه مراد عظمت دے.

### بَابٌ ۴۲۴: قَوْلِهٖ وَدًّا وَّلَا سُوَاعًا وَّلَا يَغُوْثَ وَ يَعُوْقَ.

### باب ۴۲۴: آيت: "وَدًّا وَّلَا سُوَاعًا وَّلَا يَغُوْثَ وَ يَعُوْقَ" تفسير.

۴۰۹: حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيْمُ بْنُ مُوْسٰى اَخْبَرَنَا هِشَامٌ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ وَقَالَ عَطَاءٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ صَارَتِ الْاَوْثَانُ الَّتِيْ كَانَتْ فِيْ قَوْمِ نُوْحٍ فِي الْعَرَبِ بَعْدُ اَمَّا وَدٌّ كَانَتْ لِكَلْبٍ بِدَوْمَةِ الْجَنْدَلِ وَ اَمَّا سُوَاعٌ كَانَتْ لِهُذَيْلٍ وَ اَمَّا يَغُوْثُ فَكَانَتْ لِمُرَادٍ ثُمَّ لِبَنِيْ غُطَيْفٍ بِالْجَوْفِ عِنْدَ سَبَا و اَمَّا

۴۰۹: ابراهيم بن موسي. هشام. ابن جريج. عطاء. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، چه هغه بُتان چه قوم نوحؑ كښ وو، هغه عربو كښ د هغه نه پس عبادت به ئے كيدلو، "وَدّ" د قوم كلب بُت وو، چه دومة الجندل كښ وو. "سواع" د "هُذيل" وو. او "يغوث" د مراد قوم. بيا د بني غطيف چه سبا سره جوف كښ وو. او "يَعُوْق" د همدان. او "نَسْرٌ" د حسير قوم، چه د ذي الكلاع د خاندان نه وو. دا د قوم

يَغُوْقُ فَكَانَتْ لِهَمْدَانَ وَ اَمَّا نَسْرٌ فَكَانَتْ لِحِمْيَرَ لِاٰلِ ذِى الْكَلَاعِ اَسْمَاءُ رِجَالٍ صَالِحِيْنَ مِنْ قَوْمِ نُوْحٍ فَلَمَّا هَلَكُوْا اَوْحَى الشَّيْطَانُ اِلٰى قَوْمِهِمْ اَنِ انْصِبُوْا اِلٰى مَجَالِسِهِمُ الَّتِىْ كَانُوْا يَجْلِسُوْنَ اَنْصَابًا وَّ سَمُّوْهَا بِاَسْمَائِهِمْ فَفَعَلُوْا فَلَمْ تُعْبَدْ حَتّٰى اِذَا هَلَكَ اُولٰئِكَ وَ تَنَسَّخَ الْعِلْمُ عُبِدَتْ.

نو دا د نيکانو خلقو نومونه وو. کوم وخت چه دا نيکان خلق وفات شو، نو شيطان د هغوي په زړونو کښ دا خبره راچوله، چه دَ هغوي د ناستے په ځائے کښ کوم ځائے چه به کيناستلو، بُت نصب کړئ، او د هغے نوم دَ هغے بزرگانو په نوم کيږدئ. نو دغے خلقو دغسے اوکړل. ليکن دَ هغے عبادت ئے نه وو کړے، تردے چه هغه خلق هم مړه شو، او علم ختم شو، نو دَ هغے عبادت شروع شو.

# قُلْ اُوْحِىَ اِلَيَّ

# دَ سورهٔ جن تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لِبَدًا اَعْوَانًا.

ابن عباسؓ اووے چه "لِبَدًا" نه مراد "اعوان" يعني مددګار دي.

۹۰۵ : حَدَّثَنَا مُوْسَى بْنُ اِسْمٰعِيْلَ حَدَّثَنَا اَبُوْ عَوَانَةَ عَنْ اَبِىْ بِشْرٍ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ انْطَلَقَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِىْ طَائِفَةٍ مِّنْ اَصْحَابِهٖ عَامِدِيْنَ اِلٰى سُوْقِ عُكَاظٍ وَقَدْ حِيْلَ بَيْنَ الشَّيَاطِيْنِ وَ بَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ وَ اُرْسِلَتْ عَلَيْهِمُ الشُّهُبُ فَرَجَعَتِ الشَّيَاطِيْنُ فَقَالُوْا مَالَكُمْ فَقَالُوْا حِيْلَ بَيْنَنَا وَ بَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ وَ اُرْسِلَتْ عَلَيْنَا الشُّهُبُ قَالَ مَا حَالَ بَيْنَكُمْ وَ بَيْنَ خَبَرِ السَّمَاءِ اِلَّا مَا

۹۰۵ : موسي بن اسمٰعيل. ابو عوانه. ابو بشر. سعيد بن جبير. حضرت ابن عباسؓ نه روايت کوي، دَ هغهٔ بيان دے. رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم دَ صحابهؓ يو جماعت سره دَ عکاظ بازار په قصد روان شو. دَ شيطانانو او آسمان دَ خبر مينځ کښ حجاب شوے وو (يعني دَ آسمانونو خبرونه راوړل موقوف شوي وو) او په هغوي (يعني په شيطانانو) شغلے غورځيدل شروع شوے وو. کوم وخت چه شيطانان خپل قوم ته واپس راغلل، نو هغے خلقو تپوس اوکهٔ، څهٔ خبره ده، هغوي جواب ورکهٔ، خمونږ او دَ آسمان خبرونو مينځ کښ څه څيز حائل شوے دے، او په مونږ شغلے غورځولے شي، وئيلے ستاسو او دَ آسمان خبر مينځ کښ څه څيز حائل شوے دے، نو د زمکے، مشرق او مغرب کښ لاړ شئ،

حَدَثَ فَاضْرِبُوْا مَشَارِقَ الْاَرْضِ وَ مَغَارِبَهَا فَانْظُرُوْا مَا هٰذَا الْاَمْرُ الَّذِيْ حَدَثَ فَانْطَلَقُوْا فَضَرَبُوْا مَشَارِقَ الْاَرْضِ وَ مَغَارِبَهَا يَنْظُرُوْنَ مَا هٰذَا الْاَمْرُ الَّذِيْ حَالَ بَيْنَهُمْ وَ بَيْنَ خَبَرِ السَّمَآءِ قَالَ فَانْطَلَقَ الَّذِيْنَ تَوَجَّهُوْا نَحْوَ تِهَامَةَ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَخْلَةَ وَهُوَ عَامِدٌ اِلٰى سُوْقِ عُكَاظٍ وَّهُوَ يُصَلِّيْ بِاَصْحَابِهٖ صَلٰوةَ الْفَجْرِ فَلَمَّا سَمِعُوْا الْقُرْاٰنَ تَسَمَّعُوْا لَهٗ فَقَالُوْا هٰذَا الَّذِيْ حَالَ بَيْنَكُمْ وَ بَيْنَ خَبَرِ السَّمَآءِ فَهُنَالِكَ رَجَعُوْا اِلٰى قَوْمِهِمْ فَقَالُوْا يَا قَوْمَنَا اِنَّا سَمِعْنَا قُرْاٰنًا عَجَبًا يَّهْدِيْ اِلَى الرُّشْدِ فَاٰمَنَّا بِهٖ وَلَنْ نُّشْرِكَ بِرَبِّنَا اَحَدًا وَ اَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَ جَلَّ عَلٰى نَبِيِّهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْ اُوْحِيَ اِلَيَّ اَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ وَ اُوْحِيَ اِلَيْهِ قَوْلُ الْجِنِّ.

او ګورے چه کومه نوے خبره ظهور کښې راغلې ده، نو هغه خلق روان شو، او دَ زمکې مشرق او مغرب کښې تلل، کتل ئے، چه کومه نوے خبره د هغوي او د آسمان دَ خبر مينځ کښې حائله شوے ده. د ابن عباسؓ بيان دے، چه هغه خلق چه هغوي د تهامه رُخ کړے وو رسول الله صلي الله عليه وسلّم ته نخله ته اورسيدل، چه هغه وخت ئے دَ عکاظ بازار ته دَ تلو قصد کولو. حضور صلي الله عليه وسلّم صحابه ؤ ته دَ سحر مونځ ورکولو کوم وخت چه هغوي قرآن واوريدلو، نو هغے ته ئے غوږ کيښودلو. دے خلقو خپلو کښې اووے هغه دا دے چه ستاسو او آسمان د خبر مينځ کښې حائل دے. ددے ځائے نه دا خلق خپل قوم ته واپس راغلل. او وئيلے اے ځمونږ قومه مونږ يو عجيبه قرآن اوريدلے دے چه نيکئ طرف ته هدايت کوي. نو مونږ په هغے ايمان راوړے دے او مونږ خپل رب سره هيڅوک شريک نه جوړوو. او الله عز و جل خپل نبي صلي الله عليه وسلّم باندے ايت: قُلْ اُوْحِيَ اِلَيَّ اَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ: نازل کړلو. نبي صلي الله عليه وسلّم ته دَ پيريانو دَ قول دَ وحي په ذريعه اطلاع ورکړے شوه.

# سُوْرَةُ الْمُزَّمِّلِ

# دَ سُورهٔ مزّمّل تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ قَالَ مُجَاهِدٌ وَ تَبَتَّلْ اَخْلِصْ وَ قَالَ الْحَسَنُ اَنْكَالًا قُيُوْدًا مُنْفَطِرٌ بِهٖ مُثْقَلَةٌ بِهٖ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ

او مجاهد اووے. "تَبَتَّلْ" په معني دَ "اَخْلِصْ" (عبادت کښې مخلص وي). او حسن اووے "اَنْكَالًا" په معني د "قُيُوْدًا" (بيړيانې: بيړئ) "مُنْفَطِرٌ بِهٖ" په معني دَ "مُثْقَلَةٌ بِهٖ" (آسمان به هغے سره درووند شي) دے او ابن عباسؓ اووے

كَثِيْبًا مَهِيْلًا اَلرَّمْلُ السَّائِلُ وَ وَبِيْلًا شَدِيْدًا.

"كثيبا مهيلا" په معني دَ "رمل سائل" (ريګِ روان) دے "وبيلا" په معني دَ "شديدا" (سخت) دے.

# سُوْرَةُ الْمُدَّثِّرِ

# دَ سُورهٔ مدثر تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ عَسِيْرٌ شَدِيْدٌ قَسْوَرَةٌ رِكْزُ النَّاسِ وَ اَصْوَاتُهُمْ وَ قَالَ اَبُوْ هُرَيْرَةَ الْاَسَدُ وَ كُلُّ شَدِيْدٍ قَسْوَرَةٌ مُسْتَنْفِرَةٌ نَافِرَةٌ مَذْعُوْرَةٌ.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

ابن عباسؓ اووے. "عسير" په معني دَ شديد (سخت دشوار) "قسورة" معني دي' دَ سرو شور او غوغا. او ابوهريرهؓ اووے' دَ دے معني دَ امزري دي. او هر څيز "قسورة" د. "مستنفره" خوف زده شوے تښتيدونکے.

٩٠٦ : حَدَّثَنَا يَحْيٰى حَدَّثَنَا وَكِيْعٌ عَنْ عَلِيِّ بْنِ الْمُبَارَكِ عَنْ يَحْيٰى بْنِ اَبِيْ كَثِيْرٍ سَاَلْتُ اَبَا سَلَمَةَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ اَوَّلِ مَا نَزَلَ مِنَ الْقُرْاٰنِ قَالَ يٰاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُلْتُ يَقُوْلُوْنَ اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِيْ خَلَقَ فَقَالَ اَبُوْ سَلَمَةَ سَاَلْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ ذٰلِكَ وَ قُلْتُ لَهٗ مِثْلَ الَّذِيْ قُلْتَ فَقَالَ جَابِرٌ لَا اُحَدِّثُكَ اِلَّا مَا حَدَّثَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ جَاوَرْتُ بِحِرَاءٍ فَلَمَّا قَضَيْتُ جِوَارِيْ هَبَطْتُ فَنُوْدِيْتُ فَنَظَرْتُ عَنْ يَّمِيْنِيْ فَلَمْ اَرَ شَيْئًا وَّ نَظَرْتُ عَنْ شِمَالِيْ فَلَمْ اَرَ شَيْئًا وَ نَظَرْتُ اَمَامِيْ فَلَمْ اَرَ شَيْئًا وَ نَظَرْتُ خَلْفِيْ فَلَمْ اَرَ شَيْئًا فَرَفَعْتُ رَاْسِيْ فَرَاَيْتُ شَيْئًا فَاَتَيْتُ خَدِيْجَةَؓ فَقُلْتُ

٩٠٦ : يحيٰي. وكيع. علي بن مبارک. يحيٰي بن ابي كثير نه روايت كوي. دَ هغهٔ بيان دے ما دَ ابو سلمه بن عبدالرحمٰن نه تپوس اوکهٔ' چه دَ ټولونه مخکښ دَ قرآن کريم آيت نازل شولو' نو هغهٔ اووے "يا ايها المدثر" (لوستلے شولو). ما اووے خلق وائي' چه "اقرأ باسم ربک الذي خلق" دَ ټولو نه مخکښ نازل شوے دے. ابو سلمه اووے' ما دَ دے متعلق دَ جابر بن عبدالله نه تپوس اوکهٔ. او ما هم هغه اووے' څهٔ چه تا اووے. حضرت جابر اووے' زهٔ تاته هغه بيان کوم' چه مونږ ته رسول الله صلي الله عليه وسلّم بيان کړے دے حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل زهٔ غار حرا کښ ګوشه نشين (چيله) ووم' کوم وخت چه ما هغه پوره کړه' نو زهٔ دَ هغے نه راکوزيدم' نو يو آواز مِ واوريدلو. ما خپل ښي طرف ته اوکتل' نو هيڅ مِ په نظر رانغلل. بيا مِ خپل ګس طرف ته اوکتل' نو هم مِ څهٔ په نظر رانغلل' ما سر اوچت کهٔ' نو يو څيز مِ اوليد. بيا زهٔ بي بي خديجےؓ له راغلم. نو ما اووے' ما باندے کمبل واچوئے' او په ما يخے اوبه

دَثِّرُوْنِيْ وَ صُبُّوْا عَلَيَّ مَآءً بَارِدًا قَالَ فَدَثَّرُوْنِيْ وَصَبُّوْا عَلَيَّ مَآءً بَارِدًا قَالَ فَنَزَلَتْ يٰٓاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُمْ فَاَنْذِرْ وَ رَبَّكَ فَكَبِّرْ.

توڼے کړے. حضورٌ بيان اوکړ، په ما کمبل واچولے شوه. او په ما يخے اوبه توئے کړے شوے. بيا آيت: يا اَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُمْ فَاَنْذِرْ وَ رَبَّکَ فَكَبِّرْ (ته اودرېږه او اويروه) نازل شولو.

بَابُ ۴۲۵: قَوْلُهٗ قُمْ فَاَنْذِرْ.

باب ۴۲۵: آيت: قُمْ فَاَنْذِرْ: ته اودرېږه او اويروه).

۷۰۹: حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ مَهْدِيٍّ وَغَيْرُهٗ قَالَا حَدَّثَنَا حَرْبُ بْنُ شَدَّادٍ عَنْ يَّحْيَى بْنِ اَبِيْ كَثِيْرٍ عَنْ اَبِيْ سَلَمَةَ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ جَاوَرْتُ بِحِرَآءٍ مِثْلَ حَدِيْثِ عُثْمَانَ بْنِ عُمَرَ عَنْ عَلِيِّ بْنِ الْمُبَارَكِ.

۷۰۹: محمد بن بشار. عبدالرحمٰن بن مهدي او يو بل سړے حرب بن شداد. يحيٰي بن ابي كثير. ابو سلمه. حضرت جابر بن عبداللّٰهؓ نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم نه روايت کوي، حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل، زهٔ غار حرا کښ گوشه نشين ووم. او دَ عثمان بن عمر دَ حديث په مثل چه علي بن مبارک نه بيان دے، روايت ئے کړے دے.

بَابُ ۴۲۶: قَوْلُهٗ وَ رَبَّكَ فَكَبِّرْ.

باب ۴۲۶: آيت: وَ رَبَّکَ فَكَبِّرْ: (او دَ خپل رب لوئي بيان کړه).

۸۰۹: حَدَّثَنَا اِسْحٰقُ بْنُ مَنْصُوْرٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ حَدَّثَنَا حَرْبٌ حَدَّثَنَا يَحْيٰى قَالَ سَاَلْتُ اَبَا سَلَمَةَ اَيُّ الْقُرْاٰنِ اُنْزِلَ اَوَّلُ فَقَالَ يٰٓاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ فَقُلْتُ اُنْبِئْتُ اَنَّهٗ اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِيْ خَلَقَ فَقَالَ اَبُوْ سَلَمَةَ سَاَلْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ اَيُّ الْقُرْاٰنِ اُنْزِلَ اَوَّلُ فَقَالَ يٰٓاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ فَقُلْتُ اُنْبِئْتُ اَنَّهٗ اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ فَقَالَ لَا اُخْبِرُكَ اِلَّا بِمَا قَالَ رَسُوْلُ

۸۰۹: اسحٰق بن منصور. عبدالصمد. حرب. يحيٰي نه روايت کوي، دَ هغهٔ بيان دے، ما دَ ابو سلمه نه تپوس اوکړ، چه دَ قرآن کوم آيت مخکښ نازل شوے دے، نو هغهٔ اووے: يا ايّها المدثر: ما اووے، ما ته خبر راکړے شوے دے، چه: اقرا باسم ربّک الّذی خلق: دَ ټولو نه مخکښ نازل شوے دے، نو ابو سلمه اووے، ما دَ حضرت جابر بن عبداللّٰه نه تپوس اوکړ، چه د قرآن کوم آيت دَ ټولونه مخکښ نازل شوے دے، نو هغهٔ اووے "يا ايّها المدثّر" ما اووے، زهٔ خبر شوے يم، چه هغه آيت: اقرا باسم ربّک الّذی خلق:

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاوَرْتُ فِيْ حِرَآءٍ فَلَمَّا قَضَيْتُ جِوَارِيْ هَبَطْتُ فَاسْتَبْطَنْتُ الْوَادِيَ فَنُوْدِيْتُ فَنَظَرْتُ اَمَامِيْ وَ خَلْفِيْ وَ عَنْ يَمِيْنِيْ وَ عَنْ شِمَالِيْ فَاِذَا هُوَ جَالِسٌ عَلٰى عَرْشٍ بَيْنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ فَاَتَيْتُ خَدِيْجَةَ فَقُلْتُ دَثِّرُوْنِيْ وَ صُبُّوْا عَلَيَّ مَآءً بَارِدًا وَّ اُنْزِلَ عَلَيَّ يٰٓاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُمْ فَاَنْذِرْ وَ رَبَّكَ فَكَبِّرْ.

دے. هغهٔ اووے' زهٔ تاته هغه بيان کوم' چه ماته رسول الله صلي اللّٰه عليه وسلّم بيان کړے دے حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل' زهٔ حِراء کښې ګوشه نشين ووم' چه ګوشه نشيني مِ ختمه کړه' نو دَ هغې ځائے نه راکوزيدم' کوم وخت چه دَ وادي لاندے ته راورسيدم' نو يو آواز راغے' ما مخکښې ورستو ښي او ګس طرف ته اوکتل' نو هغه فريښته دَ آسمان او زمکے مينځ کښې په تخت ناسته په نظر راغله. زهٔ بي بي خديجې ؓ له راغلم' ورته مِ اووے' کمبل رابانديے واچوه او په ما اوبه اوبهيوه. او په ما دا آيت: يا ايها المدثر' قم فانذر و ربک فکبر نازل شولو.

## بَاب ۴۲۷: قَوْلِهٖ وَ ثِيَابَكَ فَطَهِّرْ.

## باب ۴۲۷: آيت: وَ ثِيَابَکَ فَطَهِّرْ: (او خپلې کپړے پاکې ساته).

۹۰۹: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ ح وَ حَدَّثَنِيْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ اَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ فَاَخْبَرَنِيْ اَبُوْ سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُحَدِّثُ عَنْ فَتْرَةِ الْوَحْيِ فَقَالَ فِيْ حَدِيْثِهٖ فَبَيْنَا اَنَا اَمْشِيْ اِذْ سَمِعْتُ صَوْتًا مِّنَ السَّمَآءِ فَرَفَعْتُ رَاْسِيْ فَاِذَا الْمَلَكُ الَّذِيْ جَآءَنِيْ بِحِرَآءٍ جَالِسٌ عَلٰى كُرْسِيٍّ بَيْنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ فَجُئِثْتُ مِنْهُ رُعْبًا

۹۰۹: يحيي بن بکير. ليث. عقيل. ابن شهاب. (دويم سند) عبداللّٰه بن محمد. عبدالرزاق. معمر. زهري. ابو سلمه بن عبدالرحمٰن. حضرت جابر بن عبداللّٰه نه روايت کوي' دَ هغهٔ بيان دے' ما دَ رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم نه واوريدل' کوم وخت چه حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم دَ وحي دَ ايساريدلو حال بيانولو' نو حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل دے دوران کښې چه زهٔ روان ووم' ما دَ آسمان نه يو آواز واوريدلو' سر مِ اوچت کهٔ' نو هغه فريښته په نظر راغله' چه ماته حراء کښې راغلے وه. دَ آسمان او زمکے په مينځ کښې په کرسي ناسته وه. په ما دَ هغې نه خوف خور شولو' زه واپس راغلم' نو ما اووے په ما کمبل واچوئے'

فَرَجَعْتُ فَقُلْتُ زَمِّلُوْنِیْ زَمِّلُوْنِیْ فَدَثَّرُوْنِیْ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰی يٰٓاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ اِلٰی وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ قَبْلَ اَنْ تُفْرَضَ الصَّلٰوةُ وَ هِیَ الْاَوْثَانُ.

په ما کمبل واچوئ، خلقو په ما کمبل واچولو، نو الله تعالیٰ دا آيت نازل کړلو: يٰٓاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ الخ: دا د مونځ د فرض کيدونه د مخکښې واقعه ده او "رجز" نه مراد بُتان دي.

**باب ۴۲۸: قَوْلِهٖ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ يُقَالُ الرِّجْزُ وَالرِّجْسُ الْعَذَابُ.**

**باب ۴۲۸: آيت: وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ:** کښې د بعضے په نزد "رجز" او "رجس" عذاب ته وئيلے شي.

**۴۹۱۰:** حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوْسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ سَمِعْتُ اَبَا سَلَمَةَ قَالَ اَخْبَرَنِیْ جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ اَنَّهٗ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحَدِّثُ عَنْ فَتْرَةِ الْوَحْیِ فَبَيْنَا اَنَا اَمْشِیْ سَمِعْتُ صَوْتًا مِّنَ السَّمَآءِ فَرَفَعْتُ بَصَرِیْ قِبَلَ السَّمَآءِ فَاِذَا الْمَلَكُ الَّذِیْ جَآءَنِیْ بِحِرَآءٍ قَاعِدٌ عَلٰی كُرْسِیٍّ بَيْنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ فَجَئِثْتُ مِنْهُ حَتّٰی هَوَيْتُ اِلَی الْاَرْضِ فَجِئْتُ اَهْلِیْ فَقُلْتُ زَمِّلُوْنِیْ زَمِّلُوْنِیْ فَزَمَّلُوْنِیْ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰی يٰٓاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ اِلٰی قَوْلِهٖ فَاهْجُرْ قَالَ اَبُوْ سَلَمَةَ وَالرِّجْزَ الْاَوْثَانَ ثُمَّ حَمِیَ الْوَحْیُ وَ تَتَابَعَ.

**۴۹۱۰:** عبدالله بن يوسف. ليث. عقيل. ابن شهاب. ابو سلمه. حضرت جابر بن عبدالله‌ؓ نه روايت کوي. د هغهٔ بيان دے، ما د رسول الله صلي الله عليه وسلّم نه د وحي د ايساريد (بنديده) متعلق بيان واوريدلو، يو خل زهٔ روان ووم، چه ما د آسمان نه يو آواز واوريدلو. ما آسمان پله نظر اُوچت کهٔ، نو فريښته م اوليده چه ما ته حراء کښې راغلے وه هغه د آسمان او زمکے مينځ کښې په کُرسي ناسته وه. د هغې په وجه په ما رُعب پريوتلو، تردے چه زهٔ په زمکه راپريوتم، زهٔ خپلے ښځے بي بي خديجےؓ له راغلم ورته م اووے په مَا کمبل واچوه، په ما کمبل وچوه نو هغې خلقو په ما کمبل واچولو، نو الله تعالیٰ دا آيت نازل کړلو: يٰٓاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ الخ: ابو سلمه اووے، رجز نه مراد بُت دے، بيا د وحي د راتلو سلسله ګرمه شوه. او مسلسل وحي راتله.

## سُوْرَةُ الْقِيَامَةِ

## د سورهٔ قيامة تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**باب ۴۲۹: وَ قَوْلُهٗ**

**باب ۴۲۹: آيت: لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ**

لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ سُدًى هَمَلًا لِيَفْجُرَ اَمَامَهُ سَوْفَ اَتُوْبُ سَوْفَ اَعْمَلُ لَا وَزَرَ لَا حِصْنَ.

لِتَعْجَلَ بِهٖ: دے سره ژبه مۀ خوزه وه، چه زر درته ياد شي. او ابن عباسؓ اووے. "سدًا" په معني دَ مهمل "ليفجر امامه" نه مراد دا دے، چه عنقريب به توبه کړم. عنقريب به عمل اوکړم. "لا وزر" په معني دَ "لاحصن" (دَ هيڅ بچاؤ صورت نشته) دے.

۹۱۱: حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا مُوْسَى بْنُ اَبِيْ عَائِشَةَ وَ كَانَ ثِقَةً عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا نَزَلَ عَلَيْهِ الْوَحْيُ حَرَّكَ بِهٖ لِسَانَهُ وَ وَصَفَ سُفْيَانُ يُرِيْدُ اَنْ يَحْفَظَهُ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهٖ.

۹۱۱: حميدي. سفيان. موسٰي بن ابي عائشه. سعيد بن ابي جبير. حضرت ابن عباسؓ نه روايت کوي، دَ هغۀ بيان دے، په حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم چه به وحي نازليده، نو حضورؐ به خپلے ژبے له حرکت ورکولو، او سفيان بيان اوکۀ، دے نه دَ حضورؐ مقصد دا وو، چه حضورؐ دا ياد کړي، نو اللّٰه تعالٰي آيت: لا تحرّک به لسانک لتعجل به. نازل کړو.

باب ۴۳۰: قَوْلِهٖ اِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَ قُرْاٰنَهُ.

باب ۴۳۰: آيت: اِنَّ عَلَيْنَا جُمُعَهُ وَ قُرْاٰنَهُ: بيشکه په مونږ دَ دے جمع کول اولولول دي.

۹۱۲: حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ بْنُ مُوْسٰى عَنْ اِسْرَآئِيْلَ عَنْ مُوْسَى بْنِ اَبِيْ عَائِشَةَ اَنَّهُ سَاَلَ سَعِيْدَ بْنَ جُبَيْرٍ عَنْ قَوْلِهٖ تَعَالٰى لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ قَالَ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ كَانَ يُحَرِّكُ شَفَتَيْهِ اِذَا اُنْزِلَ عَلَيْهِ فَقِيْلَ لَهُ لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ يَخْشٰى اَنْ يَنْفَلِتَ مِنْهُ اِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَ قُرْاٰنَهُ اَنْ يَجْمَعَهُ فِيْ صَدْرِكَ وَ قُرْاٰنَهُ اَنْ تَقْرَاَهُ فَاِذَا قَرَاْنَهُ يَقُوْلُ اُنْزِلَ عَلَيْهِ فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَهُ

۹۱۲: عبيداللّٰه بن موسٰي. اسرائيل موسٰي بن ابي عائشه نه روايت کوي، هغه دَ سعيد بن جبير: دَ اللّٰه تعالٰي دَ قول: لا تحرک به لسانک متعلق تپوس اوکۀ، نو هغۀ اووے، حضرت ابن عباسؓ بيان اوکۀ، کوم وخت چه په حضورؐ قرآن نازليدلو، نو حضورؐ به خپلو دواړو شونډو له حرکت ورکولو، نو ورته اووئيلے شو، چه تۀ دَ هيريدو دَ خوف نه خپلے ژبے له حرکت مۀ ورکوه (ځکه چه) دَ دے جمع کول او لولول په مونږ دي (يعني دا خمونږ کار دے، چه تاته ئے ياد پاتے کړو) دَ جمع کولو نه مراد سينه کښ جمع کول، او لولول دا چه، چه ته به لولے، نو هر کله چه مونږ دا اولولو، يعني ايت نازل کړے

ثُمَّ اِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ اَنْ نُّبَيِّنَهُ عَلٰى لِسَانِكَ.

شي، نو ذ جبرائيلؑ ذ قرأت اتباع کوه. بيا ذ دے بيانول په مونږ دي يعني مونږ به ئے ستا په ژبه بيان کړو.

**باب ۱۴۳۱: قَوْلِهٖ فَاِذَا قَرَاْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَهٗ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ قَرَاْنَاهُ بَيَّنَّاهُ فَاتَّبِعْ اِعْمَلْ بِهٖ.**

**باب ۱۴۳۱: ايت: فَاِذَا قَرَاْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَهٗ:** ابن عباسؓ اووے، ذ "قَرَاْنَاهُ" نه مراد دا دے چه مونږ دا بيان کړو، او "فَاتَّبِعْ" نه مراد دا دے چه تهٔ په دے عمل کوه.

۹۱۳: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيْدٍ حَدَّثَنَا جَرِيْرٌ عَنْ مُوْسَى بْنِ اَبِيْ عَائِشَةَ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ فِيْ قَوْلِهٖ لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهٖ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا نَزَلَ جِبْرِيْلُ بِالْوَحْيِ وَكَانَ مِمَّا يُحَرِّكُ بِهٖ لِسَانَهُ وَ شَفَتَيْهِ فَيَشْتَدُّ عَلَيْهِ وَ كَانَ يُعْرَفُ مِنْهُ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ الْاٰيَةَ الَّتِيْ فِيْ لَا اُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهٖ اِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَ قُرْاٰنَهُ قَالَ عَلَيْنَا اَنْ نَّجْمَعَهُ فِيْ صَدْرِكَ وَ قُرْاٰنَهُ فَاِذَا قَرَاْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْاٰنَهُ فَاِذَا اَنْزَلْنَاهُ فَاسْتَمِعْ ثُمَّ اِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ عَلَيْنَا اَنْ نُّبَيِّنَهُ بِلِسَانِكَ قَالَ فَكَانَ اِذَا اَتَاهُ جِبْرِيْلُ اَطْرَقَ فَاِذَا ذَهَبَ قَرَاَهُ كَمَا وَعَدَهُ اللّٰهُ اَوْلٰى لَكَ فَاَوْلٰى تَوَعُّدٌ.

۹۱۳: قتيبه بن سعيد. جرير. موسٰي بن ابي عائشه. سعيد بن جبير. حضرت ابن عباسؓ نه ذ ايت: لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهٖ: متعلق بيان کوي، چه جبرائيلؑ به وحي راوړه، او حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم به خپلے ژبے او شونډو له حرکت ورکولو نو حضور صلي الله عليه وسلّم ته به تکليف وو. او دا به ذ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم ذ شونډو ذ حرکت نه معلوميده نو اللّٰه تعالٰي دا آيت نازل کړلو: لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهٖ اِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَ قُرْاٰنَهُ: چه سورت لَا اُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيَامَةِ: کښ دے. اللّٰه تعالي اوفرمائيل، چه ستا په سينه کښ ذ دے جمع کول خمونږ په ذمه دي، او ذ دے لولول. بيا چه مونږ اولولو، نو هغه وخت تهٔ هم هغه شان ذ دے ذ لوستو اتباع کوه، يعني کوم وخت چه مونږ دا نازل کړو، نو تهٔ ئے غور سره آوره، بيا بيشکه په مونږ ذ دے بيانول دي، يعني ستا په ژبه به مونږ دا بيان کړو. ذ ابن عباسؓ بيان دے. دے نه پس چه به جبرائيلؑ راتلو، نو حضورؐ به خپل سر مبارک ښکته کړلو. او کله چه به هغه لاړ، نو حضورؐ به هغه لوستلو، څنګه چه اللّٰه تعالي وعده کړے وه: آيت: اولٰى لک فاولٰى: وعيد دے.

# هَلْ اَتٰى عَلَى الْاِنْسَانِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يُقَالُ مَعْنَاهُ هَلْ اَتٰى عَلَى الْاِنْسَانِ وَهَلْ تَكُوْنُ جَحْدًا وَ تَكُوْنُ خَبَرًا وَ هٰذَا مِنَ الْخَبَرِ يَقُوْلُ كَانَ شَيْئًا فَلَمْ يَكُنْ مَذْكُوْرًا وَ ذٰلِكَ مِنْ حِيْنِ خَلَقَهُ مِنْ طِيْنٍ اِلٰى اَنْ يُنْفَخَ فِيْهِ الرُّوْحُ اَمْشَاجٍ اَلْاَخْلَاطُ مَاءُ الْمَرْاَةِ وَ مَاءُ الرَّجُلِ الدَّمُ وَالْعَلَقَةُ وَ يُقَالُ اِذَا خَلَطَ مَشِيْجٌ كَقَوْلِكَ خَلِيْطٌ وَّ مَمْشُوْجٌ مِثْلُ مَخْلُوْطٍ وَ يُقَالُ سَلَاسِلًا وَّ اَغْلَالًا وَلَمْ يُجْزِهٖ بَعْضُهُمْ مُسْتَطِيْرًا مُمْتَدًّا الْبَلَاءُ وَالْقَمْطَرِيْرُ الشَّدِيْدُ يُقَالُ يَوْمٌ قَمْطَرِيْرٌ وَّ يَوْمٌ قُمَاطِرٌ وَّالْعَبُوْسُ وَالْقَمْطَرِيْرُ وَالْقُمَاطِرُ وَالْعَصِيْبُ اَشَدُّ مَا يَكُوْنُ مِنَ الْاَيَّامِ فِي الْبَلَاءِ وَ قَالَ مَعْمَرٌ اَسْرَهُمْ شِدَّةُ الْخَلْقِ وَ كُلُّ شَيْءٍ شَدَدْتَّهٗ مِنْ قَتَبٍ فَهُوَ مَاسُوْرٌ.

# دَ سورهٔ دهر تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

"هَلْ اَتٰى عَلَى الْاِنْسَانِ" (آيا په انسان داسې زمانه تيره شوې ده) يعني تيره شوې ده. او "هَلْ" كلمه دَ انكار دَ پاره او كلمه دَ خبر د پاره استعماليږي دلته خبر دَ پاره دې. اللّٰه تعالىٰ فرمائي، هغه يو څيز خو وو ليكن قابلِ ذكر نه وو، دا وخت دَ خاورې نه دَ پيدا كيدو نه واخله هغې كښې دَ رُوح پُوكلو دَ وخته پورې دې. "اَمْشَاجٍ" دَ ښځې دَ منې دَ سړي منې سره يوځائې كيدل. "دَم او عَلَقَه" يعني وينه (خون) او چكه وينه. او دَ بعضو قول د. چه هر كله هغه يو ځائې شي، نو هغه "مشيج" دې. لكه چه "خليط" وئيلې شي. او "مَمْشُوْجٌ" دَ مخلوط په شان دې. او "سَلَاسِلًا وَّ اَغْلَالًا" هم وائي او بعضې (تنوين سره) دا جائز نه ګنړي. "مُسْتَطِيْرًا" لوئې اوږود مصيبت واله. "قَمْطَرِيْرٌ" سخت لكه چه "يَوْمٌ قَمْطَرِيْرٌ" او "يَوْمٌ قُمَاطِرٌ" وئيلې شي. او "عَبُوْسٌ، قمطريرٌ قماطرٌ" او "عصيب" دَ مصيبت دَ ټولونه زياتې سختې ورځې ته وئيلې شي. معمر اووې، چه "اسرهم" نه مراد دَ پيدائش مضبوطي، او هر هغه څيز چه دَ اوښ كټې (پالان) سره مضبوطولې شي. هغې ته "ماسور" وائي.

# سُوْرَةُ الْمُرْسَلٰتِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ قَالَ مُجَاهِدٌ جِمَالَاتٌ حِبَالٌ ارْكَعُوْا صَلُّوْا لَا يَرْكَعُوْنَ لَا يُصَلُّوْنَ وَ سُئِلَ

# دَ سورهٔ والمرسلات تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

او مجاهد اووې. "جِمَالَاتٌ" په معني دَ غټو مزو دي. "ارْكَعُوْا" مونځ كوې. "لَا يُصَلُّوْنَ" هغوي به مونځ نه

ابْنِ عَبَّاسٍ لَا يَنْطِقُوْنَ وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِيْنَ اَلْيَوْمَ نَخْتِمُ فَقَالَ اِنَّهٗ ذُوْ اَكْوَانٍ مَرَّةً يَنْطِقُوْنَ وَ مَرَّةً يُخْتَمُ عَلَيْهِمْ.

کولو. او ابن عباسؓ نه دَ "لَا يَنْطِقُوْنَ" او "وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِيْنَ" او "اَلْيَوْمَ نَخْتِمُ" دَ مطلب تپوس اوشولو، نو هغهٔ اووے، چه هغوي به مختلف حالتونو کښې وي کله خو به هغه خلق خبرے کوي، کله به پرے مُهر لږولے شي.

۹۱۴: حَدَّثَنَا مَحْمُوْدٌ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللّٰهِ عَنْ اِسْرَآئِيْلَ عَنْ مَنْصُوْرٍ عَنْ اِبْرَاهِيْمَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ اُنْزِلَتْ عَلَيْهِ وَالْمُرْسَلَاتُ وَ اِنَّا لَنَتَلَقَّاهَا مِنْ فِيْهِ فَخَرَجَتْ حَيَّةٌ فَابْتَدَرْنَاهَا فَسَبَقَتْنَا فَدَخَلَتْ جُحْرَهَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وُقِيَتْ كُمْ كَمَا وُقِيْتُمْ شَرَّهَا.

۹۱۴: محمود. عبيدالله. اسرائيل. منصور. ابراهيم. علقمه. حضرت عبدالله نه روايت کوي، دَ هغهٔ بيان دے، مونږ رسول الله صلي الله عليه وسلّم سره وو، چه حضورؐ باندے سورهٔ والمرسلات نازل شولو، او مونږ هغه دَ حضورؐ دَ خولے مبارکے نه حاصلولو (زده کولو) دے کښې يو مار راووتلو. مونږ خلقو تادي اوکړه، هغه خمونږ نه مخکښې شو، او خپله سُوړه کښې ننوتلو، نو حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، هغه ستاسو دَ شر نه محفوظ شولو، څنګه چه تاسو دَ هغهٔ دَ شر نه محفوظ شوئے.

۹۱۵: حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ اَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ اٰدَمَ عَنْ اِسْرَائِيْلَ عَنْ مَنْصُوْرٍ بِهٰذَا وَ عَنْ اِسْرَآئِيْلَ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ اِبْرَاهِيْمَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ مِثْلَهٗ وَ تَابَعَهٗ اَسْوَدُ بْنُ عَامِرٍ عَنْ اِسْرَائِيْلَ وَ قَالَ حَفْصٌ وَ اَبُوْ مُعَاوِيَةَ وَ سُلَيْمَانُ بْنُ قَرْمٍ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ اِبْرٰهِيْمَ عَنِ الْاَسْوَدِ قَالَ يَحْيَى بْنُ حَمَّادٍ اَخْبَرَنَا اَبُوْ عَوَانَةَ عَنْ مُغِيْرَةَ عَنْ اِبْرٰهِيْمَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ وَ قَالَ ابْنُ اِسْحٰقَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ

۹۱۵: عبده بن عبدالله. يحيي بن آدم. اسرائيل. منصور نه دا حديث روايت کوي او په واسطه دَ اسرائيل. اعمش. ابراهيم. علقمه. حضرت عبدالله نه دَ دے په مثل روايت دے. او اسود بن عامر دَ اسرائيل نه دَ دے متابعت کښې روايت کړے دے او حفص او ابو معاويه، اسود نقل کړلو. يحيي بن حماد اووے، چه ماته ابو عوانه، هغهٔ دَ مغيره نه، هغهٔ دَ ابراهيم نه، هغهٔ دَ علقمه نه، او هغهٔ دَ حضرت عبدالله نه روايت اوکړهٔ. او ابن اسحاق په واسطه دَ عبدالرحمٰن بن الاسود، اسود حضرت عبدالله نه

الْاَسْوَدِ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ.

نقل كړ.

۹۱۶: حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا جَرِيْرٌ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ اِبْرٰهِيْمَ عَنِ الْاَسْوَدِ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بَيْنَمَا نَحْنُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَارٍ اِذَا نَزَلَتْ عَلَيْهِ وَالْمُرْسَلٰتِ فَتَلَقَّيْنَاهَا مِنْ فِيْهِ وَ اِنَّ فَاهُ لَرَطْبٌ بِهَا اِذْ خَرَجَتْ حَيَّةٌ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْكُمْ اقْتُلُوْهَا فَابْتَدَرْنَاهَا فَسَبَقَتْنَا قَالَ فَقَالَ وُقِيَتْ شَرَّكُمْ كَمَا وُقِيْتُمْ شَرَّهَا.

۹۱۶: قتيبه. جرير. اعمش. ابراهيم. اسود نه روايت كوي، ذ هغهٔ بيان دے، يو ځل مونږ رسول الله صلي الله عليه وسلّم سره يو غار كښې وو، دغه وخت په حضور صلي الله عليه وسلّم سورة والمرسلات نازل شولو. مونږ د حضور صلي الله عليه وسلّم ذ خولے مباركے نه زده كولو، ذ حضور صلي الله عليه وسلّم خله مباركه ذ هغې نه تر، وه چه ناساپه يو مار، راووتلو، رسول اللّٰه صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، ذ دے وژل واجب دي چه دا قتل كړئے. ذ عبداللّٰه بيان دے، مونږ تادي اوكړه، نو هغه مار خمونږ نه مخكښې شو، (او سوړه كښې ننوتلو) حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، هغه ستاسو ذ شر نه محفوظ شو، ځنكه چه تاسو ذ هغهٔ ذ شر نه محفوظ شوئے.

باب ۴۳۲: قَوْلِهٖ اِنَّهَا تَرْمِيْ بِشَرَرٍ كَالْقَصْرِ.

باب ۴۳۲: ايت: ذ، اِنَّهَا تَرْمِيْ بِشَرَرٍ كَالْقَصْرِ: تفسير.

۹۱۷: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيْرٍ اَخْبَرَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَابِسٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ اِنَّهَا تَرْمِيْ بِشَرَرٍ كَالْقَصْرِ قَالَ كُنَّا نَرْفَعُ الْخَشَبَ بِقَصَرٍ ثَلَاثَةَ اَذْرُعٍ اَوْ اَقَلَّ فَنَرْفَعُهُ لِلشِّتَاءِ فَنُسَمِّيْهِ الْقَصَرَ.

۹۱۷: محمد بن كثير. سفيان. عبدالرحمٰن بن عابس. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي. هغه ذ: اِنَّهَا تَرْمِيْ بِشَرَرٍ كَالْقَصْرِ: متعلق بيان اوكړ، چه مونږ به لركي درے كزه يا ددے نه كم اُودرول، او هغه به مو ژمي (يخني) كښې سوزولو ذ پاره بلند كول، او دے ته به ئے قصر وئيلے.

باب ۴۳۳: قَوْلِهٖ كَاَنَّهٗ جِمَالَاتٌ صُفْرٌ.

باب ۴۳۳: آيت: كَاَنَّهٗ جِمَالَاتٌ صُفْرٌ. كويا هغه ذ ريړ رنګ اوښان دي.

۹۱۸: حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا يَحْيٰى اَخْبَرَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنِيْ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَابِسٍ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍؓ تَرْمِيْ بِشَرَرٍ كُنَّا نَعْمِدُ اِلَى الْخَشَبَةِ ثَلَاثَةَ اَذْرُعٍ وَ فَوْقَ ذَالِكَ فَنَرْفَعُهُ لِلشِّتَآءِ فَنُسَمِّيْهِ الْقَصَرَ كَاَنَّهُ جِمَالَاتٌ صُفْرٌ حِبَالُ السُّفُنِ تُجْمَعُ حَتّٰى تَكُوْنَ كَاَوْسَاطِ الرِّجَالِ.

۹۱۸: عمرو بن علي. يحيٰي. سفيان. عبدالرحمٰن بن عابس. ابن عباسؓ نه روايت كوي، د هغه نه ئے د "تَرْمِيْ بِشَرَرٍ كَالْقَصْرِ" متعلق بيان واوريدلو، چه مونږ به لرګي درے ګزه يا د دے نه زيات يوخائے كول، او ژمي (يخني) د پاره به مو بلند كول، او دے ته به قصر وئيلے شو. "كَاَنَّهُ جِمَالَاتٌ صُفْرٌ" د كِشتو رسئ، چه جمع كړے شي، تردے چه هغه د اوسط سړي برابر شي.

## بَاب ۴۳۴: قَوْلِهٖ هٰذَا يَوْمُ لَا يَنْطِقُوْنَ.

## باب ۴۳۴: ايت: هٰذَا يَوْمُ لَا يَنْطِقُوْنَ الخ: دا هغه ورځ ده، چه خلق به خبرے نشي كولے.

۹۱۹: حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا اَبِيْ حَدَّثَنَا الْاَعْمَشُ حَدَّثَنِيْ اِبْرَاهِيْمُ عَنِ الْاَسْوَدِ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَارٍ اِذْ نَزَلَتْ عَلَيْهِ وَالْمُرْسَلَاتِ فَاِنَّهُ لَيَتْلُوْهَا وَ اِنِّيْ لَاَتَلَقَّاهَا مِنْ فِيْهِ وَ اِنَّ فَاهُ لَرَطْبٌ بِهَا اِذْ وَ ثَبَتْ عَلَيْنَا حَيَّةٌ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْتُلُوْهَا فَابْتَدَرْنَاهَا فَذَهَبَتْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وُقِيَتْ شَرَّكُمْ كَمَا وُقِيْتُمْ شَرَّهَا قَالَ عُمَرُ حَفِظْتُهُ مِنْ اَبِيْ فِيْ غَارٍ بِمِنًى.

۹۱۹: عمر بن حفص. حفص. اعمش. ابراهيم. اسود. حضرت عبدالله نه روايت كوي، دے دوران كښ مونږ حضور صلي الله عليه وسلّم سره يو غار كښ وو، په حضور صلي الله عليه وسلّم سورة والمرسلات نازل شولو، حضور صلي الله عليه وسلّم دا تلاوت كولو، او ما د حضور صلي الله عليه وسلّم د خُلے مبارك نه زده كولو، او اوس لا د حضور صلي الله عليه وسلّم خُله مباركه تر، وه چه ناسابه يو مار څمونږ مخكښ راووتلو. نبي صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، دا مړ كړئے مونږ ورمنډه كړله، ليكن هغه اوتښتيدلو، حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، هغه ستاسو د شر نه محفوظ شو، څنګه چه تاسو د هغهٔ د شر نه محفوظ شوئے. عمر بن حفص اووے، ما دا د خپل پلار نه ياد كړے دے، هغے كښ دا هم دي، چه د منٰي يو غار كښ مونږ حضور صلي الله عليه وسلّم سره وو.

## سُوْرَةُ عَمَّ يَتَسَآءَلُوْنَ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قَالَ مُجَاهِدٌ لَا يَرْجُوْنَ حِسَابًا لَا يَخَافُوْنَهُ لَا يَمْلِكُوْنَ مِنْهُ خِطَابًا لَا يُكَلِّمُوْنَهُ اِلَّا اَنْ يَأْذَنَ لَهُمْ صَوَابًا حَقًّا فِي الدُّنْيَا وَ عَمِلَ بِهٖ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَ هَّاجًا مُضِيْئًا وَ قَالَ غَيْرُهُ غَسَّاقًا غَسَقَتْ عَيْنُهُ وَ يَغْسِقُ الْجُرْحُ يَسِيْلُ كَاَنَّ الْغَسَّاقَ وَالْغَسِيْقَ وَاحِدٌ عَطَاءً حِسَابًا جَزَآءً كَافِيًا اَعْطَانِيْ مَا اَحْسَبَنِيْ اَيْ كَفَانِيْ.

## دَ سوره عمّ يتسآءلون تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

مجاهد اووې چه "لا يرجون حسابا" يعني هغوي دَ هغه نه، نهٔ ويريږي "لا يملكون منه خطابا" هغوي به بغير دَ هغه دَ اجازت نه هغهٔ سره خبرې نهٔ كوي. او ابن عباسؓ اووې "وهاجا" نه مراد روښانه دې. "عطاء حسابا" پوره پوره بدله. "اعطاني ما احسبني" وئيلو نه دا مراد اخلي، چه هغهٔ ماله دومره راكړل چه كافي دي.

**باب ۴۳۵: قَوْلِهٖ يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ فَتَأْتُوْنَ اَفْوَاجًا زُمَرًا.**

**باب ۴۳۵:** آيت: يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ الخ: په كومه ورځ چه شپيلۍ پُوك وهلې شي. الخ.

**۹۲۰:** حَدَّثَنِيْ مُحَمَّدٌ اَخْبَرَنَا اَبُوْ مُعَاوِيَةَ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ اَبِيْ صَالِحٍ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَيْنَ النَّفْخَتَيْنِ اَرْبَعُوْنَ قَالَ اَرْبَعُوْنَ يَوْمًا قَالَ اَبَيْتُ قَالَ اَرْبَعُوْنَ شَهْرًا قَالَ اَبَيْتُ قَالَ اَرْبَعُوْنَ سَنَةً قَالَ اَبَيْتُ قَالَ ثُمَّ يُنْزِلُ اللّٰهُ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَيَنْبُتُوْنَ كَمَا يَنْبُتُ الْبَقْلُ لَيْسَ مِنَ الْاِنْسَانِ شَيْءٌ اِلَّا يَبْلٰى اِلَّا عَظْمًا وَاحِدًا وَّهُوَ عَجْبُ الذَّنَبِ وَ مِنْهُ يُرَكَّبُ الْخَلْقُ يَوْمَ

**۹۲۰:** محمد. ابو معاويه. اعمش. ابو صالح. ابوهريرهؓ نه روايت كوي، دَ هغهٔ بيان دې رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل دَ دوؤ شپيلو پُوكلو مينځ كښې څلويښت دي. ابو هريرهؓ نه ملګرو تپوس اوكړ، آيا دې نه څلويښت ورځې مراد دي، ابوهريرهؓ انكار اوكړ، خلقو تپوس اوكړ، آيا څلويښت مياشتې ترې مراد دي، هغهٔ انكار اوكړ، بيا ترې تپوس اوشو، آيا څلويښت كاله، هغهٔ انكار اوكړ. بيائې اووې، چه اللّٰه به دَ آسمان نه باران اُورَوي، نو هغې سره به مړي راژوندي شي، څنګه چه سبزه باران سره راټوكيږي دَ انساني جسم ټولې حصې اودوړيږي، خو دَ ملا هډوكې باقي پاتې وي او دې سره به دَ قيامت په ورځ دَ هغه

الْقِيَامَةِ. ترکيب وي.

# سُوْرَةُ وَالنَّازِعَاتِ

# دَ سورهٔ والنّازعات تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ اَلْاٰيَةُ الْكُبْرٰى عَصَاهُ وَيَدُهُ يُقَالُ النَّاخِرَةُ وَالنَّخِرَةُ سَوَآءٌ مِثْلُ الطَّامِعِ وَالطَّمِعِ وَالْبَاخِلِ وَالْبَخِلِ وَقَالَ بَعْضُهُمُ النَّخِرَةُ الْبَالِيَةُ وَالنَّاخِرَةُ الْعَظْمُ الْمُجَوَّفُ الَّذِىْ يَمُرُّ فِيْهِ الرِّيْحُ فَيَنْخَرُ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ الْحَافِرَةُ الَّتِىْ اَمْرُنَا الْاَوَّلُ اِلَى الْحَيَاةِ وَقَالَ غَيْرُهُ اَيَّانَ مُرْسٰهَا مَتٰى مُنْتَهٰهَا وَمُرْسَى السَّفِيْنَةِ حَيْثُ تَنْتَهِىْ.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

او مجاهد اووے چه "اية الكبرى" نه مراد دَ موسىٰ عليه السلام همسا او دَ هغهٔ لاس دے. او وئيلے شي، دَ "ناخره" او "نخره" يو معني دي، لکه "طامع" او "طمع" او دَ "باخل" او "بخيل" يو معني دي، او بعضے اووے، "نخره" معني بوسيده. او "ناخره" هغے دړه هډوکي ته وئيلے شي، چه دَ هغے دننه هوا ورشي، نو آواز ترے پيدا کيږي. او ابن عباسؓ اووے، "حافره" نه مراد دَ ژوند سابقه حالات دے. او نورو اووے "اَيَّان مرسٰها" نه مراد دے، چه کله دَ هغهٔ دَ انتها وخت دے، او "مرسى السفينه" هغے خائے ته وائي، کوم خائے چه جهاز لنګر انداز وي.

۹۲۱: حَدَّثَنَا اَحْمَدُ بْنُ الْمِقْدَامِ حَدَّثَنَا الْفُضَيْلُ بْنُ سُلَيْمَانَ حَدَّثَنَا اَبُوْ حَازِمٍ حَدَّثَنَا سَهْلُ بْنُ سَعْدٍ قَالَ رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بِاِصْبَعَيْهِ هٰكَذَا بِالْوُسْطٰى وَالَّتِىْ تَلِى الْاِبْهَامَ بُعِثْتُ اَنَا وَالسَّاعَةَ كَهَاتَيْنِ.

۹۲۱: احمد بن مقدام. فضيل بن سليمان. ابو حازم. حضرت سهل بن سعدؓ نه روايت کوي، دَ هغهٔ بيان دے، ما رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم اوليدلو، چه حضورؐ دَ مينځ او قتيے کوتے سره نزدے کوتے سره اشاره اوفرمائيله چه زهٔ او قيامت دا شان راليږلے شوے يوځ[1].

ا. يعني په قيامت کښے او دَ حضورؐ په بعثت کښے صرف دومره فاصله ده څومره چه په دوؤ ګوتو کښے ده. محدّثينو ددے مختلف توجيهات بيان کړي دي. ددے دا توجيه زياته مناسبه ده چه د دنيا دَ اول نه تر آخره دَ وجود تشبيه ګوتو سره ورکړے شوے ده او مراد دادے چه اکثره موده تيره شوے ده او څومره موده چه باقي پاتے ده هغه د هغے مودے په مقابله کښے ډيره کمه ده کومه چه تيره شوے ده.

# سُوْرَةُ عَبَسَ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

عَبَسَ كَلَحَ وَ اَعْرَضَ وَ قَالَ غَيْرُهُ مُطَهَّرَةٌ لَا يَمَسُّهَا اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ وَهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَ هٰذَا مِثْلُ قَوْلِهٖ فَالْمُدَبِّرَاتِ اَمْرًا جَعَلَ الْمَلٰٓئِكَةَ وَ الصُّحُفَ مُطَهَّرَةً لِاَنَّ الصُّحُفَ يَقَعُ عَلَيْهَا التَّطْهِيْرُ فَجَعَلَ التَّطْهِيْرَ لِمَنْ حَمَلَهَا اَيْضًا سَفَرَةٌ اَلْمَلٰٓئِكَةُ وَاحِدُهُمْ سَافِرٌ سَفَرْتُ اَصْلَحْتُ بَيْنَهُمْ وَ جُعِلَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ اِذَا نَزَلَتْ بِوَحْيِ اللّٰهِ وَ تَادِيَتِهٖ كَالسَّفِيْرِ الَّذِىْ يُصْلِحُ بَيْنَ الْقَوْمِ وَ قَالَ غَيْرُهُ تَصَدّٰى تَغَافَلَ عَنْهُ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ لَمَّا يَقْضِ لَا يَقْضِىْ اَحَدٌ مَّا اُمِرَ بِهٖ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ تَرْهَقُهَا تَغْشَهَا شِدَّةٌ مُسْفِرَةٌ مُشْرِقَةٌ بِاَيْدِىْ سَفَرَةٍ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ كَتَبَةٍ اَسْفَارًا كُتُبًا تَلَهّٰى تَشَاغَلَ يُقَالُ وَاحِدُ الْاَسْفَارِ سِفْرٌ.

# دَ سوره عبس تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

"عَبَسَ" مخ ئے واړولو' او روګرداني ئے اوکړه او "مطهرة" نه مراد دا دے' چه هغه صرف پاک خلق يعني فريښتے مَس کوي' دا داسے دے لکه چه "فالمدبرات امرا (د کارونو تدبير کونکو والو) کښې ملائکے او صحيفے "مطهره" ګرځولے شوے دي' ځکه تطهير په صحيفو واقع کيږي (يعني تطهير دَ صحيفو صفت دے) نو دَ هغے دَ اوچتونکو هم صفت ګرځولے شوے دے. "سفره" نه مراد فريښتے دي. واحد ئے "سافر" دے. "سفرت" ما دَ هغوي مينځ کښې صلح اوکړه' او فريښتے وحي الٰهي سره نازليږي' او هغه رسوي' په مثل دَ سفير دي' چه دَ خلقو مينځ کښې صلح کوي. او نورو اووے "تصدّٰى" نه مراد دا دے' چه هغهٔ غفلت اوکهٔ. او مجاهد اووے "لَمَّا يقض" چه دَ هغے حکم ورکړے شو' هغه هيڅوک نهٔ پوره کوي او ابن عباسؓ اووے "ترهقها قتره" هغه به سختي راګير کړي. "سفرة" چمک کونکے. ابن عباسؓ اووے "بايدى سفره" "سفره" نه مراد ليکونکے او "اسفار" نه مراد کتابونه دي. "تلهّٰى" هغه مشغول شو' وئيلے شي' چه دَ "اسفار" واحد "سفر" دے.

٩٢٢ : حَدَّثَنَا اٰدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ قَالَ سَمِعْتُ زُرَارَةَ بْنَ اَوْفٰى يُحَدِّثُ عَنْ سَعْدِ بْنِ هِشَامٍ عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ

٩٢٢ : آدم. شعبه. قتاده. زراره بن اوفي. سعد بن هشام. بي بي عائشهؓ نبي صلي الله عليه وسلّم نه روايت کوي' حضورؐ اوفرمائيل' دَ هغے سړي مثال چه قرآن لولي' او هغه حافظ وي' نو

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَثَلُ الَّذِىْ يَقْرَأُ الْقُرْاٰنَ وَهُوَ حَافِظٌ لَهٗ مَعَ السَّفَرَةِ الْكِرَامِ وَ مَثَلُ الَّذِىْ يَقْرَأُ وَهُوَ عَلَيْهِ شَدِيْدٌ فَلَهٗ اَجْرَانِ.

سفره كرام (بزرګو فريښتو) سره به وي، او ذهغې سړي مثال چه قرآن لولي، او هغه حفظ كوي، او حفظ كول (يادول) هغه ته ګران وي نو هغه د پاره دوه اجرونه دي.

## سُوْرَةُ اِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ

## دَ سورۀ اذا الشّمسُ كُوّرت تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اِنْكَدَرَتِ انْتَثَرَتْ وَ قَالَ الْحَسَنُ سُجِّرَتْ ذَهَبَ مَآؤُهَا فَلَا يَبْقٰى قَطْرَةٌ وَ قَالَ مُجَاهِدُ اَلْمَسْجُوْرُ الْمَمْلُوْءُ قَالَ غَيْرُهٗ سُجِّرَتْ اَفْضٰى بَعْضُهَا اِلٰى بَعْضٍ فَصَارَتْ بَحْرًا وَّاحِدًا وَالْخُنَّسُ تَخْنُسُ فِيْ مَجْرَاهَا تَرْجِعُ وَ تَكْنِسُ تَسْتَتِرُ كَمَا تَكْنِسُ الظِّبَاءُ تَنَفَّسَ ارْتَفَعَ النَّهَارُ وَالظَّنِيْنُ الْمُتَّهَمُ الضَّنِيْنُ يَضِنُّ بِهٖ وَقَالَ عُمَرُ النُّفُوْسُ زُوِّجَتْ يُزَوَّجُ نَظِيْرُهٗ مِنْ اَهْلِ الْجَنَّةِ وَ النَّارِ ثُمَّ قَرَأَ اُحْشُرُوا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا وَ اَزْوَاجَهُمْ عَسْعَسَ اَدْبَرَ.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

"انكدرت" په معنې د "انتثرت" (تس نس به شي) او حسن اووے "سجرت" ذ هغې اوبه به اوچے شي، دا شان چه يوه قطره به باقي پاتے نشي. او مجاهد اووے، "مسجور" معني "مملو" (ډک) دے. او نورو اووے، "سجرت" دا معني دي، چه يو بل سره به داسے يوځائے شي، چه يو درياب به شي. او "خنس" معني دي: خپل مقام يا لار ته واپس كيدونكے. او "تكنس" معني پټيدل دي، لكه چه أوسئ پټه شي "تنفس" ورځ راوختله. "ظنين" متهم او "ضنين" ذ بخيل په معني كښ دے. حضرت عمرؓ اووے، چه "النفوس زوجت" نه مراد دا دے، چه خپل مثل سره به جنت او دوزخ كښ يوځائے كړے شي. بيائے دا آيت اولوست: احشروا الذين ظلموا و ازواجهم" "عسعس" په معني ذ ادبر (شاكول) دي.

## اِذَا السَّمَآءُ انْفَطَرَتْ

## دَ سورۀ اذا السّمآء انفطرت تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَقَالَ الرَّبِيْعُ بْنُ خُثَيْمٍ فُجِّرَتْ فَاضَتْ وَ قَرَأَ الْاَعْمَشُ وَعَاصِمٌ فَعَدَلَكَ بِالتَّخْفِيْفِ

او ربيع بن خثيم اووے، چه "فجرت" په معني ذ "فاضت" (قليدو سره ذ بهيدو) دي. او اعمش او عاصم "فعدلك" تخفيف سره ونيلے دے. او اهل حجاز دا

وَ قَرَأَهُ أَهْلُ الْحِجَازِ بِالتَّشْدِيْدِ وَ أَرَادَ مُعْتَدِلَ الْخَلْقِ وَمَنْ خَفَّفَ فِيْ أَيِّ صُوْرَةٍ شَاءَ إِمَّا حَسَنٌ وَ إِمَّا قَبِيْحٌ وَّ طَوِيْلٌ وَ قَصِيْرٌ.

تشديد سره وئيلے دے. او دَ دے نه ئے مراد آخستے دے معتدل صورت واله. او چا چه تخفيف سره لوستے دے، هغوي ترے مراد اخلي، چه كوم صورت كښې ئے اوغبنتلو، خوبصورت وي يا بدصورت، او اوږود وي يا كم قدے (پس قدے).

# وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِيْنَ

# دَ سُورهٔ للمطفّفين تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ قَالَ مُجَاهِدٌ رَانَ ثَبْتَ الْخَطَايَا ثُوِّبَ جُوْزِيَ وَ قَالَ غَيْرُهُ الْمُطَفِّفُ لَا يُوَفِّي غَيْرَهُ.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

او مجاهد اووے "ران" دَ گناهونو جم كيدل، زنگ ختل دي. "ثوب" بدله وركړے شوه، او نورو اووے "مطفف" هغه دے، چه نورو له پوره بدله ورنهٔ كړي.

۹۲۳: حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيْمُ بْنُ الْمُنْذِرِ حَدَّثَنَا مَعْنٌ قَالَ حَدَّثَنِيْ مَالِكٌ عَنْ نَافِعٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ يَقُوْمُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ حَتّٰى يَغِيْبَ أَحَدُهُمْ فِيْ رَشْحِهِ إِلٰى أَنْصَافِ أُذُنَيْهِ.

۹۲۳: ابراهيم بن منذر. معن. مالك. نافع. حضرت عبدالله بن عمرؓ نه روايت كوي، دَ هغهٔ بيان دے، نبي صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل په كوم ورځ چه خلق دَ جهانونو دَ پروردگار مخكښې اودريږي، نو هغوي كښې به يو سړے خپله خوله (پينه) كښې دِ غوږونو دَ نرمو پورے غرق وي.

# إِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْ

# دَ سورهٔ اذا السّماء انشقّت تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قَالَ مُجَاهِدٌ كِتَابَهُ بِشِمَالِهِ يَأْخُذُ كِتَابَهُ مِنْ وَّرَآءِ ظَهْرِهِ وَسَقَ جَمَعَ مِنْ دَآبَّةٍ ظَنَّ أَنْ لَّنْ يَّحُوْرَ أَنْ لَّنْ يَّرْجِعَ إِلَيْنَا.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

مجاهد اووے "كتابه بِشِمَالِهِ" نه مراد دا دے چه هغه به خپل كتاب (دَ حساب) دَ خپلے شا دَ ورستو نه واخلي، "وسق" خناور جمع كوي. "ظن ان لن يحور" هغهٔ گمان اوكړ، چه مونږ له به واپس نهٔ راځي.

باب ۴۳۶: قَوْلِهِ فَسَوْفَ

باب ۴۳۶: آيت: فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا

يُحَاسَبُ حِسَابًا يَّسِيرًا.

۹۲۴ : حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا يَحْيٰى عَنْ عُثْمَانَ بْنِ الْاَسْوَدِ قَالَ سَمِعْتُ بْنَ اَبِيْ مُلَيْكَةَ سَمِعْتُ عَائِشَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ عَنْ اَيُّوْبَ عَنِ ابْنِ اَبِيْ مُلَيْكَةَ عَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ عَنْ يَحْيٰى عَنْ اَبِيْ يُوْنُسَ حَاتِمِ بْنَ اَبِيْ صَغِيْرَةَ عَنِ ابْنِ اَبِيْ مُلَيْكَةَ عَنِ الْقَاسِمِ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ اَحَدٌ يُحَاسَبُ اِلَّا هَلَكَ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ جَعَلَنِيَ اللّٰهُ فِدَآءَكَ اَلَيْسَ يَقُوْلُ اللّٰهُ عَزَّ وَ جَلَّ فَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتَابَهٗ بِيَمِيْنِهٖ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَّسِيْرًا قَالَ ذَاكِ الْعَرْضُ يُعْرَضُوْنَ وَمَنْ نُوْقِشَ الْحِسَابَ هَلَكَ.

يسيرًا: تفسير.

۹۲۴ : عمرو بن علي. يحيي. عثمان بن اسود. ابن ابي مليكه. بي بي عائشېؓ نه روايت كوي ذ هغې بيان دې' ما ذ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم نه آوريدلې دي. دويم سند سليمان بن حرب. حماد. بن زيد. ابن ابي مليكه. بي بي عائشې نه روايت كوي' ذ هغې بيان دې' ما ذ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم نه آوريدلې دي. دريم سند مسدد. يحيي. ابي يونس. حاتم بن ابي صغيره. ابن ابي مليكه. قاسم. بي بي عائشېؓ نه روايت كوي' ذ هغې بيان دې رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل' ذ كوم سړي چه حساب اوشو' نو هغه هلاک شو. ذ بي بي عائشې بيان دې' ما اووې' يا رسول اللّٰه' اللّٰه دې ما په تاسو قربان كړي' آيا اللّٰه عز و جل دا' نه فرمائي' چه چاته اعمال نامه په ښي لاس كښې وركړې شوه' نو ذ هغهٔ نه به خفيف حساب اخستې شي. حضورؐ اوفرمائيل' دا ذ نامهٔ اعمال ذ پيش كولو بيان دې' چه هغوي ته به پيش كولې شي' او ذ چا په حساب كښې چه تفتيش اوشي' هغه به هلاک شي.

## بَاب ۴۳۷ : قَوْلِهٖ لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَنْ طَبَقٍ.

## باب ۴۳۷ : آيت: لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَنْ طَبَقٍ تفسير.

۹۲۵ : حَدَّثَنَا سَعِيْدُ بْنُ النَّضْرِ اَخْبَرَنَا هُشَيْمٌ اَخْبَرَنَا اَبُوْ بِشْرٍ جَعْفَرُ بْنُ اَيَاسٍ عَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَنْ طَبَقٍ حَالًا

۹۲۵ : سعيد بن نضر. هشيم. ابو بشر جعفر بن اياس. مجاهد نه روايت كوئي ابن عباس د "لتركبن طبقا عن طبق" متعلق اووې' دې نه ذ يو حالت نه پس بل حالت مراد دې.

بَعْدَ خَالٍ قَالَ هٰذَا نَبِيُّكُمْ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ستاسو نبي صلي الله عليه وسلّم دغسې فرمائيلي دي.

## سُوْرَةُ الْبُرُوْجِ

## دَ سورهٔ بُروج تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ الْاُخْدُوْدِ شَقٌّ فِي الْاَرْضِ فَتَنُوْا عَذَّبُوْا.

او مجاهد اووې "اُخْدُوْدِ" معنٰي "شَقٌّ فِي الْاَرْضِ" (دَ زمکې درزونه، چوندونه) دي. "فَتَنُوْا" معني "عَذَّبُوْا" (عذاب ورکړې شو) دي.

## سُوْرَةُ الطَّارِقِ

## دَ سورهٔ طاق تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ ذَاتِ الرَّجْعِ سَحَابٌ يَرْجِعُ بِالْمَطَرِ ذَاتِ الصَّدْعِ تَتَصَدَّعُ بِالنَّبَاتِ.

او مجاهد اووې چه "ذَاتِ الرَّجْعِ" نه مراد، هغه وريځ ده، چه باران سره واپس راځي "ذَاتِ الصَّدْعِ" زمکه چه دَ سبزه دَ تهو کيدو د ځائې نه چوي (پهٹ جاتی ہے).

## سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰى

## دَ سوره سبّح اسم ربّک الاعلٰی تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

٩٢٦: حَدَّثَنَا عَبْدَانُ قَالَ اَخْبَرَنِيْ اَبِيْ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ اَبِيْ اِسْحٰقَ عَنِ الْبَرَآءِ قَالَ اَوَّلُ مَنْ قَدِمَ عَلَيْنَا مِنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ وَابْنُ اُمِّ مَكْتُوْمٍ فَجَعَلَا يُقْرِئَانِنَا الْقُرْاٰنَ ثُمَّ جَآءَ عَمَّارٌ وَبِلَالٌ وَسَعْدٌ ثُمَّ جَآءَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فِيْ عِشْرِيْنَ ثُمَّ جَآءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

٩٢٦: عبدان. د عبدان پلار. شعبه. ابو اسحاق. حضرت براء نه روايت کوي، دَ هغه بيان دې، د نبي صلي الله عليه وسلّم اصحابو کښې چه دَ ټولونه مخکښې مونږ ته راورسيدل، هغه مصعب بن عميرؓ او ابن اُمّ مکتومؓ وو. هغې دواړو مونږ ته قران ښودلو. بيا عمارؓ، بلالؓ او سعدؓ راغلل. بيا حضرت عمر بن خطاب شل صحابهؓ ؤ سره راغې. بيا حضور صلي الله عليه وسلّم تشريف راوړلو. مونږ اهل مدينه اوليدل، چه هغوي دَ دې نه مخکښې دومره هيڅ څيز

لَمَّا رَاَيْتُ اَهْلَ الْمَدِيْنَةِ فَرِحُوْا بِشَيْءٍ فَرَحَهُمْ بِهٖ حَتّٰى رَاَيْتُ الْوَلَآئِدَ وَالصِّبْيَانَ يَقُوْلُوْنَ هٰذَا رَسُوْلُ اللّٰهِ قَدْ جَآءَ فَمَا جَآءَ حَتّٰى قَرَاْتُ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰى فِيْ سُوَرٍ مِّثْلِهَا.

سره نۀ وو خوشحاله شوي ترديے چه ماشومانو هلكانو جينكو نـه م واوريدل' چه دا دے ذَ الله رسول تشريف راوړلو. او ذَ حضورٌ ذَ تشريف راوړلو نه مخكښ ما "سبح اسم ربك الاعلٰى" او ذَ دے پـه شان واړۀ واړۀ سورتونه زده كړے وو.

## هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ الْغَاشِيَةِ

## ذَ سورۀ هَل اتٰـک حديث الغاشيه تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ النَّصَارٰى وَ قَالَ مُجَاهِدٌ عَيْنٌ اٰنِيَةٌ بَلَغَ اِنَاهَا وَ حَانَ شُرْبُهَا حَمِيْمٌ اٰنٍ بَلَغَ اِنَاهُ لَا تَسْمَعُ فِيْهَا لَاغِيَةً شَتْمًا الضَّرِيْعُ نَبْتٌ يُقَالُ لَهُ الشِّبْرِقُ يُسَمِّيْهِ اَهْلُ الْحِجَازِ الضَّرِيْعَ اِذَا يَبِسَ وَهُوَ سَمٌّ بِمُسَيْطِرٍ بِمُسَلَّطٍ وَ يُقْرَاُ بِالصَّادِ وَالسِّيْنِ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ اِيَابَهُمْ مَرْجِعَهُمْ.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

ابن عباسؓ اووے "عاملة ناصبة" (كار كونكي ستړے شوي) نـه مراد نصاري دي. او مجاهد ذَ "عين آنية" ډير ګرمه او جنے ترجنے ډكه چينه مراد آخستے ده. "حميم ان" ذَ هغے لوښي به ډير ګرم وي "لا يسمع فيها لاغيه" لاغيه نه مراد كنځل دي. "ضريع" يو واښۀ دے' چه هغے تـه شبرق وائي' چه اُوچ شي' نو اهل حجاز هغے ته ضريع وائي. او دا ي و زهر دي' "مسيطر" معني "مسلط" دے. صاد او سين دواړو سره لوستے شي. او ابن عباسؓ اووے "ايابهم" نه مراد ذَ هغوي واپس كيدل دي.

## سُوْرَةُ وَالْفَجْرِ

## ذَ سورۀ والفجر تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَقَالَ مُجَاهِدٌ اَلْوَتْرُ اللّٰهُ اِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ الْقَدِيْمَةِ وَالْعِمَادُ اَهْلُ عَمُوْدٍ لَا يُقِيْمُوْنَ يَعْنِيْ اَهْلَ خِيَامٍ سَوْطَ عَذَابٍ الَّذِيْ عُذِّبُوْا بِهٖ اَكْلًا لَّمًّا السَّفُّ وَ جَمًّا الْكَثِيْرُ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ كُلُّ شَيْءٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

او مجاهد اووے "وتر" نه مراد الله تعالٰي دے "ارم ذات العماد" نه قديم قومونه مراد دي' او عماد نه ستنو واله' چه پـه يو ځائے قيام نـۀ كولو. "سوط عذاب" نه مراد عذاب دے' چـه ذَ هغے پـه ذريعه عذاب وركړے شو' "اكلا لما" حلال او حرام جمع كړے. او "جما" نه مراد كثير دے. او مجاهد اووے' هر څيز جوړا پيدا كړے

خَلْفَهُ فَهُوَ شَفْعٌ السَّمَآءُ شَفْعٌ وَالْوَتْرُ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَ تَعَالٰى وَ قَالَ غَيْرُهُ سَوْطَ عَذَابٍ كَلِمَةٌ تَقُوْلُهَا الْعَرَبُ لِكُلِّ نَوْعٍ مِّنَ الْعَذَابِ يَدْخُلُ فِيْهِ السَّوْطُ لَبِالْمِرْصَادِ اِلَيْهِ الْمَصِيْرُ تَحَاضُّوْنَ تُحَافِظُوْنَ وَ تَحُضُّوْنَ تَأْمُرُوْنَ بِاِطْعَامِهِ الْمُطْمَئِنَّةُ الْمُصَدِّقَةُ بِالثَّوَابِ وَ قَالَ الْحَسَنُ يٰاَيَّتُهَا النَّفْسُ اِذَا اَرَادَ اللّٰهُ عَزَّ وَ جَلَّ قَبْضَهَا اطْمَاَنَّتْ اِلَى اللّٰهِ وَاطْمَاَنَّ اللّٰهُ اِلَيْهَا وَ رَضِيَتْ عَنِ اللّٰهِ وَ رَضِيَ عَنْهَا فَاَمَرَ بِقَبْضِ رُوْحِهَا وَ اَدْخَلَهَا اللّٰهُ الْجَنَّةَ وَ جَعَلَهُ مِنْ عِبَادِهِ الصَّالِحِيْنَ وَ قَالَ غَيْرُهُ جَابُوْا نَقَبُوْا مِنْ جِيْبَ الْقَمِيْصُ قُطِعَ لَهُ جَيْبٌ يَجُوْبُ الْفَلَاةَ يَقْطَعُهَا لَمًّا لَمَمْتُهُ اَجْمَعَ اَتَيْتَ عَلٰى اٰخِرِهٖ.

شو، نو آسمان هم جفت دے، او وتر الله تعالٰي دے او نورو اووے "سوط عذاب" يو داسے كلمه ده، چه عرب ئے هر قسم عذاب ذَ پاره استعمالوي دے كښې "سوط" هم داخل دے "لبالمرصاد" هغه پله كرځيدل دي. "تحاضون" تاسو حفاظت كوئ. او "يحضون" هغه خلق ذَ خوراك حكم وركوي. "المطمئنة" ذَ ثواب تصديق كونكے او حسن اووے، چه آيت "ايتها النفس" نه مراد دا دے، چه كله اللّٰه تعالٰي ذَ هغے ذَ قبض كولو اراده كوي، نو هغه نفس اللّٰه طرف ته او اللّٰه هغه طرف ته مطمئن شي. او هغه نفس ذَ اللّٰه نه راضي شي، او اللّٰه ذَ هغے نفس نه راضي شي، نو ذَ هغهٔ ذَ روح ذَ قبض كولو حكم وركوي. او هغه جنت كښې داخل كړي، نيكو بنديانو كښې ئے شامل كړي. او نورو اووے چه "جابوا" معني "نقبوا" سورے (سوراخ) ئے او كړهٔ "جيب القميص" نه ماخوذ دے، يعني ذَ قميص كريوان او څيرلے شو. "يجوب الفلاة" ميدان طے كوي. "لما" ما ټول ختم كړل، يعني زهٔ ذَ هغے آخر ته اورسيدم.

# سُوْرَةُ لَآ اُقْسِمُ

# دَ سُورهٔ لا اُقْسِمُ تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ قَالَ مُجَاهِدٌ بِهٰذَا الْبَلَدِ مَكَّةَ لَيْسَ عَلَيْكَ مَا عَلَى النَّاسِ فِيْهِ مِنَ الْاِثْمِ وَ وَالِدٍ اٰدَمَ وَمَا وَلَدَ لُبَدًا كَثِيْرًا وَّالنَّجْدَيْنِ الْخَيْرُ وَالشَّرُّ مَسْغَبَةٌ مَجَاعَةٍ مَتْرَبَةٍ السَّاقِطُ فِى التُّرَابِ يُقَالُ فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

مجاهد اووے "بهٰذا البلد" نه مراد مكه ده، يعني په تاسو هغه ګناه نشته، كومه چه په نوروده. "و والد" نه مراد آدم عليه السلام او ذَ هغهٔ اولاد دے. "لبدا" معني كثير "نجدين" نه مراد خير و شر "مسغبة" لوګه "متربة" خاورو كښې غرخيدلے. وئيلے شي چه "فلا اقتحم العقبة" معني داده، چه دُنيا كښې دُشوار ګزار ګهاټي

فَلَمْ يَقْتَحِمِ الْعَقَبَةَ فِي الدُّنْيَا ثُمَّ فَسَّرَ الْعَقَبَةَ فَقَالَ وَمَا اَدْرٰىكَ مَا الْعَقَبَةُ فَكُّ رَقَبَةٍ اَوْ اِطْعَامٌ فِيْ يَوْمٍ ذِيْ مَسْغَبَةٍ.

کښې داخل نه شو. بیا الله تعالي دَ گهاټي (عقبه) تفسیر اوکړ او وئیلے، چه ته ته څهٔ خبر اوښودلو، چه "عقبه" څهٔ خیز دے، هغه دَ غلام آزادول، یا دَ لوږے حالت کښې خوړول دي.

## وَالشَّمْسِ وَ ضُحٰهَا

## دَ سورهٔ والشمس وضحٰها تفسیر

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ قَالَ مُجَاهِدٌ بِطَغْوَاهَا بِمَعَاصِيْهَا وَلَا يَخَافُ عُقْبٰهَا عُقْبَى اَحَدٍ.

او مجاهد اووے "بطغواها" نه مراد دے، دَ خپلو گناهونو په سبب. او "لا یخاف عقباها" معني دي، چه هغه دَ چا دَ بدلے اخستلو نه، نهٔ ویریږي.

۹۲۷ : حَدَّثَنَا مُوْسَى بْنُ اِسْمٰعِيْلَ حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ اَبِيْهِ اَنَّهٗ اَخْبَرَهٗ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ زَمْعَةَ اَنَّهٗ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ وَ ذَكَرَ النَّاقَةَ وَالَّذِيْ عَقَرَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذِ انْبَعَثَ اَشْقٰهَا انْبَعَثَ لَهَا رَجُلٌ عَزِيْزٌ عَارِمٌ مَنِيْعٌ فِيْ رَهْطِهٖ مِثْلُ اَبِيْ زَمْعَةَ وَ ذَكَرَ النِّسَآءَ فَقَالَ يَعْمِدُ اَحَدُكُمْ يَجْلِدُ امْرَاَتَهٗ جَلْدَ الْعَبْدِ فَلَعَلَّهٗ يُضَاجِعُهَا مِنْ اٰخِرِ يَوْمِهٖ ثُمَّ وَعَظَهُمْ فِيْ ضِحْكِهِمْ مِنَ الضَّرْطَةِ وَ قَالَ لِمَ يَضْحَكُ اَحَدُكُمْ مِمَّا يَفْعَلُ وَ قَالَ اَبُوْ مُعَاوِيَةَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ زَمْعَةَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

۹۲۷ : موسٰي بن اسمٰعیل. وهیب. هشام. دَ خپل پلار نه، هغهٔ دَ عبدالله بن زمعه نه روایت کوي، هغهٔ دَ نبي صلي الله علیه وسلّم نه خطبه کښې واوریدل، چه حضور صلي الله علیه وسلّم دَ اوښے او هغے سړي ذکر اوکهٔ، چه هغهٔ دَ اُوښے پښے پریکړے وے. رسول الله صلي الله علیه وسلّم اوفرمائیل، هغے دَ پاره هغه بدبخت پاسید، چه خپل قوم کښې مفسد او دَ ابو زمعه په شان قوي وو، او حضور صلي الله علیه وسلّم دَ ښځو تذکره اوکړه، او وے فرمائیل، تاسو کښې یو سړے دَ خپلے ښځے دَ غلام په شان په کوړه دَ وهلو وهل کوي، او بیا په هغه ورځ مابنام ته هغے سره هم بستر کیږي. بیا حضور صلي الله علیه وسلّم خلقو ته دا نصیحت اوکهٔ چه په تیز (گوز) اچولو پوزے مهٔ خاندئ، اووے فرمائیل تاسو کښې ولے سړے په هغه خیز پوزے خاندي، چه خپله ئے کوي، او ابو معاویه اووے، مونږ دَ هشام نه، هغهٔ دَ خپل پلار نه او هغهٔ دَ عبدالرحمٰن بن زمعه نه روایت

وَسَلَّمَ مِثْلُ اَبِيْ زَمْعَةَ عَمِّ الزُّبَيْرِ ابْنِ الْعَوَّامِ.

او كۀ نبي صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل' دَ ابو زمعه په شان' چه دَ زبير بن العوام تره (چچا) وو.

# وَاللَّيْلِ اِذَا يَغْشٰى

# دَ سوره والليل اذا يغشٰى تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ بِالْحُسْنٰى بِالْخَلَفِ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ تَرَدّٰى مَاتَ وَ تَلَظّٰى تَوَهَّجَ وَ قَرَأَ عُبَيْدُ بْنُ عُمَيْرٍ تَتَلَظّٰى.

او ابن عباسؓ اووے چه "حسنٰى" معني خلف (ثواب) دے. او مجاهد اووے' "تردٰى" معني "مَاتَ" (مړ شوے) دے. او "تلظّٰى" معني "توهّج" (جوش وهي) دے او عبيدالله بن عمير "تتلظّٰى" لوستے دے.

باب ۴۳۸: قَوْلِهٖ وَالنَّهَارِ اِذَا تَجَلّٰى.

باب ۴۳۸: آيت: وَالنَّهَارِ اِذَا تَجَلّٰى تفسير.

۹۲۸: حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ بْنُ عُقْبَةَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ اِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ دَخَلْتُ فِيْ نَفَرٍ مِّنْ اَصْحَابِ عَبْدِ اللّٰهِ الشَّامَ فَسَمِعَ بِنَا اَبُو الدَّرْدَاءِ فَاَتَانَا فَقَالَ اَفِيْكُمْ مَنْ يَقْرَأُ فَقُلْنَا نَعَمْ قَالَ فَاَيُّكُمْ اَقْرَأُ فَاَشَارُوْا اِلَيَّ فَقَالَ اقْرَأْ فَقَرَأْتُ وَاللَّيْلِ اِذَا يَغْشٰى وَالنَّهَارِ اِذَا تَجَلّٰى وَالذَّكَرِ وَالْاُنْثٰى قَالَ اَنْتَ سَمِعْتَهَا مِنْ فِيْ صَاحِبِكَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ وَ اَنَا سَمِعْتُهَا مِنْ فِيْ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ هٰؤُلَاءِ يَاْبُوْنَ عَلَيْنَا.

۹۲۸: قبيصه بن عقبه. سفيان. اعمش. ابراهيم. علقمه نه روايت كوي' دَ هغۀ بيان دے' زۀ دَ عبدالله څو ملګرو سره شام ته اورسيدم' ابو درداء چه څمونږ خلقو دَ راتلو خبر واوريدلو' نو هغه مونږ له راغے. او وئيلے' تاسو کښې څوک شته' چه قرآن لولي' مونږ اووے او' هغۀ اووے' تاسو کښې څوک زيات لوستونکے دے. خلقو ما طرف ته اشاره اوکړه. هغۀ اووے لوله (پړهه) نو ما سورۀ "والليل اذا يغشٰى والنّهار اذا تجلّٰى والذكر والانثٰى": اولوست هغه تپوس اوكۀ آيا تا دَ خپل ملګري نه آوريدلے دي. ما اووے' او' هغۀ اووے' ما دا دَ نبي صلي الله عليه وسلّم دَ خولے مبارکے نه آوريدلے دے. او دَ شام خلق ئے نۀ مني.

باب ۴۳۹: قَوْلِهٖ وَمَا خَلَقَ الذَّكَرَ وَالْاُنْثٰى.

باب ۴۳۹: آيت: وَمَا خَلَقَ الذَّكَرَ وَالْاُنْثٰى: او نر او ماده ئے نۀ دي پيدا کړے.

۹۲۹ : حَدَّثَنَا عُمَرُ حَدَّثَنَا اَبِيْ حَدَّثَنَا الْاَعْمَشُ عَنْ اِبْرٰهِيْمَ قَالَ قَدِمَ اَصْحَابُ عَبْدِ اللّٰهِ عَلٰى اَبِي الدَّرْدَاءِ فَطَلَبَهُمْ فَوَجَدَهُمْ فَقَالَ اَيُّكُمْ يَقْرَأُ عَلٰى قِرَآءَةِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ كُلُّنَا قَالَ فَاَيُّكُمْ يَحْفَظُ فَاَشَارُوْا عَلْقَمَةَ قَالَ كَيْفَ سَمِعْتَهُ يَقْرَأُ وَاللَّيْلِ اِذَا يَغْشٰى قَالَ عَلْقَمَةُ وَ الذَّكَرِ وَالْاُنْثٰى قَالَ اَشْهَدُ اَنِّيْ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ هٰكَذَا وَ هٰؤُلَآءِ يُرِيْدُوْنِيْ عَلٰى اَنْ اَقْرَأَ وَمَا خَلَقَ الذَّكَرَ وَالْاُنْثٰى وَاللّٰهِ لَا اُتَابِعُهُمْ.

۹۲۹ : عمر. دَ عمر پلار. اعمش. ابراهیم نه روایت کوي، دَ عبدالله ملګري ابوالدرداء له ورغلل، ابو درداء دَ هغوي په تلاش کښ هغوي له ورغے. او وئیلے تاسو کښ څوک دَ عبدالله دَ قرات مطابق وئیلے شي هغوي علقمه پله اشاره اوکړله، هغه تپوس اوکړه "واللیل اذا یغشٰی" لوستل دے څنګه آوریدلے دي، علقمه اووے "والذکر والانثٰی" ابوالدرداء اووے، زهٔ ګواهي کوم، چه ما دَ نبي صلي الله علیه وسلّم نه داسے لوستل آوریدلے دي. او دا خلق (شام والا) غواړي، چه زهٔ "ما خلق الذکر والانثٰی" اولولم، قسم په خدائے، زهٔ به دَ دوي پیروي اونهٔ کړم.

## بَابُ ۴۴۰ : قَوْلِهٖ فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰى وَاتَّقٰى.

## باب ۴۴۰ : آیت: فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰى وَاتَّقٰى: نو کوم سړي چه ورکړل او پرهیزګاري لے اوکړله.

۹۳۰ : حَدَّثَنَا اَبُوْ نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ عَنْ اَبِيْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ السُّلَمِيِّ عَنْ عَلِيٍّ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ بَقِيْعِ الْغَرْقَدِ فِيْ جَنَازَةٍ فَقَالَ مَا مِنْكُمْ مِنْ اَحَدٍ اِلَّا وَقَدْ كُتِبَ مَقْعَدُهٗ مِنَ الْجَنَّةِ وَ مَقْعَدُهٗ مِنَ النَّارِ فَقَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَفَلَا نَتَّكِلُ فَقَالَ اعْمَلُوْا فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ ثُمَّ قَرَأَ فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰى وَاتَّقٰى وَ صَدَّقَ بِالْحُسْنٰى اِلٰى قَوْلِهٖ لِلْعُسْرٰى.

۹۳۰ : ابو نعیم. سفیان. اعمش. سعد بن عبیده. ابو عبدالرحمٰن سلمي. حضرت عليؓ نه روایت کوي، دَ هغه بیان دے، مونږ نبي صلي الله علیه وسلّم سره بقیع الغرقد کښ یو جنازه کښ شریک وو، نو حضور صلي الله علیه وسلّم اوفرمائیل، داسے سړے نشته، چه دَ هغهٔ ټکاڼونړه جنت یا جهنم نهٔ وي لیکلے شوے. خلقو عرض اوکړه، یا رسول الله بیا مونږ دے بهروسه ولے اونهٔ کړو. حضورؐ اوفرمائیل عمل کوئے، ځکه چه هر سړي دَ پاره هغه عمل آسانولے شي، کوم دَ پاره چه هغه پیدا کړے شوے دے. بیا حضورؐ دا آیت اولوست: فاما من اعطٰی واتقٰی و صدق بالحسنٰی ...... للعسرٰی پورے.

باب ۴۴۱: قَوْلِهٖ وَ صَدَّقَ بِالْحُسْنٰى.

۹۳۱: حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ حَدَّثَنَا الْاَعْمَشُ عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ عَنْ اَبِيْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ عَلِيٍّ قَالَ كُنَّا قُعُوْدًا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ الْحَدِيْثَ.

باب ۴۴۱: آيت: وَ صَدَّقَ بِالْحُسْنٰى: تفسير او نيکۍ ئې ريښتيا اوګڼله.

۹۳۱: مسدد. عبدالواحد. اعمش. سعد بن عبيده. ابو عبدالرحمٰن. حضرت علي نه روايت کوي، ذ هغهٔ بيان دے، مونږ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم سره ناست وو، بيائے دغسے حديث بيان کهٔ.

باب ۴۴۲: قَوْلِهٖ فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْيُسْرٰى.

۹۳۲: حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ خَالِدٍ اَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ عَنْ اَبِيْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ السُّلَمِيِّ عَنْ عَلِيٍّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهٗ كَانَ فِيْ جَنَازَةٍ فَاَخَذَ عُوْدًا يَنْكُتُ فِي الْاَرْضِ فَقَالَ مَا مِنْكُمْ مِنْ اَحَدٍ اِلَّا وَقَدْ كُتِبَ مَقْعَدُهٗ مِنَ النَّارِ اَوْ مِنَ الْجَنَّةِ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَفَلَا نَتَّكِلُ قَالَ اعْمَلُوْا فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰى وَاتَّقٰى وَ صَدَّقَ بِالْحُسْنٰى الْاٰيَةَ قَالَ شُعْبَةُ وَ حَدَّثَنِيْ بِهٖ مَنْصُوْرٌ فَلَمْ اُنْكِرْهُ مِنْ حَدِيْثِ سُلَيْمَانَ.

باب ۴۴۲: آيت: فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْيُسْرٰى: مونږ به هغهٔ ته آساني ذ پاره آسان کړو.

۹۳۲: بشر بن خالد. محمد بن جعفر. شعبه. سليمان. سعد بن عبيده. ابو عبدالرحمٰن. حضرت عليؓ. حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم نه روايت کوي، حضورؐ يو جنازه کښې شريک وو، نو حضورؐ زمکه ګرول شروع کړل، او وې فرمائيل، تاسو کښې هيڅ سړے داسے نشته، چه ذ هغهٔ ټکاونړه جهنم يا جنت کښې نهٔ وي ليکلے شوے. خلقو عرض اوکهٔ اے ذ اللّٰه رسوله، بيا مونږ دے ولے په هغې بهروسه اونهٔ کړو. حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل، عمل کوئے، هر سړے آسان کړے شوے دے، هغے څيز ذ پاره، کوم ذ پاره چه پيدا کړے شوے دے، نو حضورؐ دا آيت اولوست: فاما من اعطٰى واتّقٰى و صدق بالحسنٰى، آخر پورے. ذ شعبه بيان دے. ماته منصور دا بيان اوکهٔ، نو ما ذ سليمان ذ حديث نه ذدے انکار اونهٔ که.

باب ۴۴۳: قَوْلِهٖ وَ اَمَّا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنٰى.

باب ۴۴۳: آيت: وَ اَمَّا مَنْ بَخِلَ وَاسْتَغْنٰى: او کوم سړي چه بخل اوکهٔ، او بے نيازه شو.

٩٣٣ : حَدَّثَنَا يَحْيٰى حَدَّثَنَا وَكِيْعٌ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ عَنْ اَبِيْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا جُلُوْسًا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ اِلَّا وَقَدْ كُتِبَ مَقْعَدُهٗ مِنَ الْجَنَّةِ وَ مَقْعَدُهٗ مِنَ النَّارِ فَقُلْنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَفَلَا نَتَّكِلُ قَالَ لَا اِعْمَلُوْا فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ ثُمَّ قَرَاَ فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰى وَاتَّقٰى وَ صَدَّقَ بِالْحُسْنٰى فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْيُسْرٰى اِلٰى قَوْلِهٖ فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْعُسْرٰى.

٩٣٣ : يحيي. وكيع. اعمش. سعد بن عبيده. ابو عبدالرحمٰن. حضرت عليؓ نه روايت كوي، ذ هغهٔ بيان دے، مونږ نبي صلي الله عليه وسلّم سره ناست وو. حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، تاسو كښ هيڅ سړے داسے نشته، چه ذ هغهٔ ټكاونړه جنت يا دوزخ كښ نهٔ وي ليكلے شوے. مونږ خلقو عرض اوكهٔ، يا رسول الله، بيا مونږ خلق دے په دے بهروسه ولے اونهٔ كړو. حضورؐ اوفرمائيل، بلكه عمل كوئے ځكه چه هر سړي ته هغے څيز كښ آساني وي ذ كوم ذ پاره چه پيدا كړے شوے وي، بيا حضورؐ آيت: فامّا من اعطٰى واتقٰى و صدق بالحسنٰى فسنيسّره لليسرٰى ...... فسنيسره للعسرٰى پورے اولوست.

باب ٤٤٤: قَوْلِهٖ وَ كَذَّبَ بِالْحُسْنٰى.

باب ٤٤٤: آيت: وَ كَذَّبَ بِالْحُسْنٰى: او نيكي نے دروغ اوګڼړله.

٩٣٤ : حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ اَبِيْ شَيْبَةَ حَدَّثَنَا جَرِيْرٌ عَنْ مَنْصُوْرٍ عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ عَنْ اَبِيْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ السُّلَمِيِّ عَنْ عَلِيٍّ قَالَ كُنَّا فِيْ جَنَازَةٍ فِيْ بَقِيْعِ الْغَرْقَدِ فَاَتَانَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَعَدَ فَقَعَدْنَا حَوْلَهٗ وَ مَعَهٗ مِخْصَرَةٌ فَنَكَسَ فَجَعَلَ يَنْكُتُ بِمِخْصَرَتِهٖ ثُمَّ قَالَ مَا مِنْكُمْ مِنْ اَحَدٍ اَوْ مَا مِنْ نَفْسٍ مَنْفُوْسَةٍ اِلَّا كُتِبَ مَكَانُهَا مِنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ وَ اِلَّا قَدْ كُتِبَتْ شَقِيَّةً اَوْ سَعِيْدَةً قَالَ رَجُلٌ

٩٣٤ : عثمان بن ابي شيبه. جرير. منصور. سعد بن ابي عبيده. ابو عبدالرحمٰن سلمي. حضرت عليؓ نه روايت كوي، ذ هغهٔ بيان دے مونږ خلق بقيع الغرقد كښ يو جنازه كښ شريك وو، چه مونږ پله رسول الله صلي الله عليه وسلّم تشريف راوړلو، او كيناستلو، نو مونږ ترے هم چار چاپيره كيناستلو. حضورؐ سره يوه لخته (چهڑی) وه. حضورؐ سر مبارك خكته كړلو. او هغے لختے سره ئے زمكه كرول شروع كړل. بيائے اوفرمائيل، تاسو كښ هيڅ سړے او مخلوق نشته، چه ذ هغهٔ ټيكاونړه جنت او دوزخ كښ او بدبخت او نيك بخت كيدل نهٔ وي ليكلے. يو سړي عرض اوكهٔ، يا رسول الله، بيا دے مونږ په خپل تقدير بهروسه ولے اونهٔ

يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَفَلَا نَتَّكِلُ عَلٰى كِتَابِنَا وَ نَدَعُ الْعَمَلَ فَمَنْ كَانَ مِنَّا مِنْ اَهْلِ السَّعَادَةِ فَسَيَصِيْرُ اِلٰى اَهْلِ السَّعَادَةِ وَمَنْ كَانَ مِنَّا مِنْ اَهْلِ الشَّقَاءِ فَسَيَصِيْرُ اِلٰى عَمَلِ اَهْلِ الشَّقَاوَةِ قَالَ اَمَّا اَهْلُ السَّعَادَةِ فَيُيَسَّرُوْنَ لِعَمَلِ اَهْلِ السَّعَادَةِ وَ اَمَّا اَهْلُ الشَّقَاوَةِ فَيُيَسَّرُوْنَ لِعَمَلِ اَهْلِ الشَّقَاءِ ثُمَّ قَرَاَ فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰى وَاتَّقٰى وَ صَدَّقَ بِالْحُسْنٰى اَلْاٰيَةَ.

کړو او عمل کول دے ولے پرے نۀږدو' نو کوم سړے چه مونږ کښې دَ اهل سعادت نه وي' هغه به اهل سعادت طرف ته لاړ شي' او مونږ کښې چه څوک دَ بدبختو نه وي' هغه به دَ بدبختانو په شان عمل کوي' حضورؐ اوفرمائيل اهل سعادت ته به دَ نيک بختانو عمل کښې آساني پيدا کړے شي' او اهل شقاوت ته به دَ بدبختانو اعمال آسان کړے شي. بيا حضورؐ دا آيت اولوست: فاما من اعطٰى واتّقٰى و صدق بالحسنٰى آخر پورے' يعني چا چه ورکړل' او اويريدلو' او دَ نيکو تصديق ئے اوکۀ: الخ.

باب ۴۴۵: قَوْلِهٖ فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْعُسْرٰى.

باب ۴۴۵: آيت: فَسَنُيَسِّرُهٗ لِلْعُسْرٰى: بيا به مونږ په هغۀ د سختي لار آسانه کړو.

۹۳۵: حَدَّثَنَا اٰدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الْاَعْمَشِ قَالَ سَمِعْتُ سَعْدَ بْنَ عُبَيْدَةَ يُحَدِّثُ عَنْ اَبِيْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ السُّلَمِيِّ عَنْ عَلِيٍّ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ جَنَازَةٍ فَاَخَذَ شَيْئًا فَجَعَلَ يَنْكُتُ بِهِ الْاَرْضَ فَقَالَ مَا مِنْكُمْ مِنْ اَحَدٍ اِلَّا وَقَدْ كُتِبَ مَقْعَدُهٗ مِنَ النَّارِ وَ مَقْعَدُهٗ مِنَ الْجَنَّةِ فَقَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَفَلَا نَتَّكِلُ عَلٰى كِتَابِنَا وَ نَدَعُ الْعَمَلَ قَالَ اعْمَلُوْا فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ لِمَا خُلِقَ لَهٗ اَمَّا مَنْ كَانَ مِنْ اَهْلِ السَّعَادَةِ فَيُيَسَّرُ لِعَمَلِ اَهْلِ

۹۳۵: آدم. شعبه. اعمش. سعد بن عبيده. ابو عبدالرحمٰن سلمي. حضرت عليؓ نه روايت کوي' دَ هغۀ بيان دے' نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم يو جنازه کښې شريک وو. حضورؐ يو څيز واخست' او هغے سره ئے زمکه ګرول شروع کړل. بيائے اوفرمائيل تاسو کښې هيڅوک داسے نشته' چه دَ هغۀ ټيکاونړه دوزخ او جنت کښې نۀ وي ليکلے شوے. خلقو عرض اوکۀ' يا رسول اللّٰه' بيا دے مونږ په خپل ليکلے شوے (تقدير) بهروسه ولے اونۀ کړو' او عمل دے ولے پرے نۀ ږدو. حضورؐ ورته اوفرمائيل' عمل کوئے ځکه چه هر سړي ته هغے څيز کښې آساني وي' کوم دَ پاره چه پيدا کړے شوے وي. کوم سړے چه اهل سعادت نه وي' هغۀ ته به دَ نيک بختانو عمل کښې آساني وي. او کوم سړے چه اهل شقاوت نه وي هغۀ ته به دَ بدبختانو عمل کښې

السَّعَادَةِ وَ اَمَّا مَنْ كَانَ مِنْ اَهْلِ الشَّقَآءِ فَيُيَسَّرُ لِعَمَلِ اَهْلِ الشَّقَاوَةِ ثُمَّ قَرَاَ فَاَمَّا مَنْ اَعْطٰى وَاتَّقٰى وَ صَدَّقَ بِالْحُسْنٰى اَلْاٰيَةَ.

آساني وي. بيا حضور صلي الله عليه وسلّم آيت: فامّا من اعطٰى واتقٰى و صدق بالحسنٰى آخر پورے اولوستلو (يعني چا چه ور كړه او كړه او پرهيز گاري ئے اوكړه، او دَ نيكو تصديق ئے اوكړه.

# سُوْرَةُ وَالضُّحٰى

# دَ سورهٔ والضُّحٰى تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ قَالَ مُجَاهِدٌ اِذَا سَجٰى اِسْتَوٰى وَ قَالَ غَيْرُهٗ اَظْلَمَ وَ سَكَنَ عَآئِلًا ذُوْ عِيَالٍ.

مجاهد اووے "اذا سجٰى" كوم وخت چه برابر شي، او نورو اووے، دَ دے معنے دادي، چه شپه تاريكه او پرسكون شي. "عائلًا" بچو واله.

## بَابٌ ۴۴٦: قَوْلِهٖ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى.

## باب ۴۴٦: آيت: مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى:

ستا رب تهٔ نهٔ ئے پريښے، او نهٔ درنه ناراضه شوے دے.

۹۳٦: حَدَّثَنَا اَحْمَدُ بْنُ يُوْنُسَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا الْاَسْوَدُ بْنُ قَيْسٍ قَالَ سَمِعْتُ جُنْدُبَ بْنَ سُفْيَانَ قَالَ اشْتَكٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَقُمْ لَيْلَتَيْنِ اَوْ ثَلَاثًا فَجَآءَتْ اِمْرَاَةٌ فَقَالَتْ يَا مُحَمَّدُ اِنِّيْ لَاَرْجُوْ اَنْ يَّكُوْنَ شَيْطَانُكَ قَدْ تَرَكَكَ لَمْ اَرَهٗ قَرِبَكَ مُنْذُ لَيْلَتَيْنِ اَوْ ثَلَاثًا فَاَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَ جَلَّ وَ الضُّحٰى وَاللَّيْلِ اِذَا سَجٰى مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى.

۹۳٦: احمد بن يونس. زهير. اسود بن قيس. جندب بن سفيان نه روايت كوي، دَ هغهٔ بيان دے. رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم ناروغه شو، نو دوه يا درے شپے (تهجد) دَ پاره اونه دريدلو يوه ښځه راغله، او وئيلے، محمد (صلي اللّٰه عليه وسلّم) زهٔ اميد كوم، چه ستا شيطان تهٔ پريښودلے. ما هغه دَ دوه درے شپو نه تاته راتلونكے نهٔ دے ليدلے. نو اللّٰه تعالٰي دا آيت نازل كړلو: والضُّحٰى والليل اذا سجٰى ما ودعك ربك وما قلٰى.

## بَابٌ ۴۴٧: قَوْلِهٖ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى

## باب ۴۴٧: آيت: مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى:

يُقْرَاُ بِالتَّشْدِيْدِ وَالتَّخْفِيْفِ بِمَعْنًى وَاحِدٍ مَا تَرَكَكَ

تشديد او بلا تشديد سره يو معني دي. دَ دے معني دادي، چه تهٔ ستا رب نهٔ ئے پريښے. او ابن عباسؓ دَ دے

رَبُّكَ وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ مَا تَرَكَكَ وَمَا أَبْغَضَكَ.

تفسير دا بيان كڼ، چه ته ئې نه ئې پريښې. نه ئې تاسره دشمني اوكړه.

۴۹۳۷ : حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ سَمِعْتُ جُنْدُبًا الْبَجَلِيَّ قَالَتِ امْرَأَةٌ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا أَرَى صَاحِبَكَ إِلَّا أَبْطَاكَ فَنَزَلَتْ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى.

۴۹۳۷ : محمد بن بشار. محمد بن جعفر. غندر. شعبه. اسود بن قيس نه روايت كوي، ما ذ جندب بجلي نه واوريدل يوې ښځې اووې، يا رسول الله، زۀ ستا ملګرې وينم، چه قرآن راوړلو كښې ئې تاخير راخستې دې، نو دا آيت نازل شو، چه تۀ خپل رب نه ئې پريښې، او نۀ ئې درسره دشمني كړې ده.

# سُوْرَةُ اَلَمْ نَشْرَحْ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ قَالَ مُجَاهِدٌ وِزْرَكَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ أَنْقَضَ أَثْقَلَ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ أَيْ مَعَ ذٰلِكَ الْعُسْرِ يُسْرًا آخَرَ كَقَوْلِهٖ هَلْ تَرَبَّصُوْنَ بِنَا إِلَّا إِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ وَلَنْ يَغْلِبَ عُسْرٌ يُسْرَيْنِ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ فَانْصَبْ فِيْ حَاجَتِكَ إِلٰى رَبِّكَ وَ يُذْكَرُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَلَمْ نَشْرَحْ شَرَحَ اللّٰهُ صَدْرَهٗ لِلْإِسْلَامِ.

# ذَ سورۀ الم نشرح تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

مجاهد اووې "وزرک" نه مراد ذَ نبوت نه مخكښې كارونه دي "انقض" مات ئې كړلو، دروند ئې كړلو. "مع العسر يسرا" په تفسير كښې ابن عيينه اووې، چه ذَ سختئ سره بله آساني ده، لكه ذَ الله قول "هل تربّصون بنا الا احدى الحسنين" او حديث "لن يغلب عسر يسرين" معني دغه دي. او مجاهد اووې، "فانصب" نه مراد دا دې، چه خپل ضرورياتو كښې خپل رب ته التجا كوې. او ابن عباسؓ نه د "اَلَمْ نَشْرَحْ" تفسير كښې منقول دي، چه الله تعالي ستا سينه ذَ اسلام ذَ پاره پرانستله.

# سُوْرَةُ وَالتِّيْنِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ قَالَ مُجَاهِدٌ هُوَ التِّيْنُ وَالزَّيْتُوْنُ الَّذِيْ يَأْكُلُ النَّاسُ يُقَالُ فَمَا

# ذَ سورۀ والتين تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

مجاهد اووې، چه "تين" (انځر) او "زيتون" نه هغه مراد دې، چه خلق ئې خوري "فما يكذبک" معني دا

يُكَذِّبُكَ فَمَا الَّذِي يُكَذِّبُكَ بِأَنَّ النَّاسَ يُدَانُونَ بِأَعْمَالِهِمْ كَأَنَّهُ قَالَ وَمَنْ يَقْدِرُ عَلَى تَكْذِيبِكَ بِالثَّوَابِ وَ الْعِقَابِ.

بيانيږي، چه څوک شته، چه تا دروغجن کړي، چه خلق به به ذ خپلو اعمالو بدله ورکيږي ګويا دائي 'اوفرمائيل' چه ذ ثواب او عقاب متعلق کوم سړے د دے قدرت لري، چه تا دروغجن کړي.

۹۳۸: حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي عَدِيٌّ قَالَ سَمِعْتُ الْبَرَاءَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي سَفَرٍ فَقَرَأَ فِي الْعِشَاءِ فِي إِحْدَى الرَّكْعَتَيْنِ بِالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ تَقْوِيمِ الْخَلْقِ.

۹۳۸: حجاج بن منهال. شعبه. عدي. حضرت براءؓ نه روايت کوي، ذ هغه بيان دے، حضور صلي الله عليه وسلّم يو سفر کښ وو، نو حضورؐ د ماسختن دوو رکعاتو کښ يو رکعت کښ سورت "والتين والزيتون" اولوستلو "تقويم" نه مراد جوړښت دے.

## اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ — دَ سورهٔ علق (اقرأ) تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَقَالَ قُتَيْبَةُ حَدَّثَنَا حَمَّادٌ عَنْ يَحْيَى بْنِ عَتِيقٍ عَنِ الْحَسَنِ قَالَ اكْتُبْ فِي الْمُصْحَفِ فِي أَوَّلِ الْإِمَامِ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ وَاجْعَلْ بَيْنَ السُّورَتَيْنِ خَطًّا وَقَالَ مُجَاهِدٌ نَادِيَهُ عَشِيرَتَهُ الزَّبَانِيَةُ الْمَلَائِكَةُ وَقَالَ مَعْمَرٌ الرُّجْعَى الْمَرْجِعُ لَنَسْفَعًا قَالَ لَنَأْخُذَنْ وَلَنَسْفَعَنْ بِالنُّونِ وَهِيَ الْخَفِيفَةُ سَفَعْتُ بِيَدِهِ أَخَذْتُ.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قتيبه په واسطه ذ حماد، يحيي بن عتيق. ذ حسن قول نقل کړ، چه مصحف (قرآن) کښ ذ سورهٔ فاتحه شروع کښ: بسم الله الرحمن الرحيم: اوليکه او ذ دوو سورتونو مينځ کښ ذ خط په طور (يعني امتياز ذ پاره) دے وي. او مجاهد اووے "ناديه" نه مراد ذ هغهٔ قبيله ده. "زبانيه" معني ملائکه، فريښته ده. او وئيلے، چه "رجعي" معني واپس کيدل دي. "لنسفعن" معني دا دي، چه مونږ به ضرور نيسو "لنسفعن" نون خفيفه سره دے. "سفعت بيده" وئيلو نه مراد دے، چه ما اونيولو.

باب ۴۴۸: حَدَّثَنَا يَحْيَى حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ ح حَدَّثَنِي سَعِيدُ

باب ۴۴۸: حديث: يحيي. ليث. عقيل. ابن شهاب (دويم سند) سعيد بن مروان. محمد بن عبدالعزيز بن ابي رزمه. ابو صالح سلمويه. عبدالله.

بْنُ مَرْوَانَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ
عَبْدِ الْعَزِيْزِ بْنِ اَبِيْ رِزْمَةَ اَخْبَرَنَا
اَبُوْ صَالِحٍ سَلْمُوْيَةَ قَالَ حَدَّثَنِيْ
عَبْدُ اللّٰهِ عَنْ يُوْنُسَ بْنِ يَزِيْدَ
قَالَ اَخْبَرَنِيْ ابْنُ شِهَابٍ اَنَّ عُرْوَةَ
ابْنَ الزُّبَيْرِ اَخْبَرَهُ اَنَّ عَائِشَةَ
زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ قَالَتْ كَانَ اَوَّلُ مَا بُدِئَ
بِهٖ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرُّؤْيَا الصَّادِقَةُ
فِي النَّوْمِ فَكَانَ لَا يَرٰى رُؤْيَا اِلَّا
جَاءَتْ مِثْلَ فَلَقِ الصُّبْحِ ثُمَّ
حُبِّبَ اِلَيْهِ الْخَلَاءُ فَكَانَ يَلْحَقُ
بِغَارِ حِرَاءٍ فَيَتَحَنَّثُ فِيْهِ قَالَ
وَالتَّحَنُّثُ التَّعَبُّدُ اللَّيَالِيَ ذَوَاتِ
الْعَدَدِ قَبْلَ اَنْ يَرْجِعَ اِلٰى اَهْلِهٖ
وَيَتَزَوَّدُ لِذٰلِكَ ثُمَّ يَرْجِعُ اِلٰى
خَدِيْجَةَ فَيَتَزَوَّدُ بِمِثْلِهَا حَتّٰى
فَجِئَهُ الْحَقُّ وَهُوَ فِيْ غَارِ حِرَاءٍ
فَجَاءَهُ الْمَلَكُ فَقَالَ اقْرَاْ فَقَالَ
رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ
وَسَلَّمَ مَا اَنَا بِقَارِئٍ قَالَ فَاَخَذَنِيْ
فَغَطَّنِيْ حَتّٰى بَلَغَ مِنِّي الْجُهْدُ
ثُمَّ اَرْسَلَنِيْ فَقَالَ اِقْرَاْ قُلْتُ
مَا اَنَا بِقَارِئٍ فَاَخَذَنِيْ فَغَطَّنِي
الثَّانِيَةَ حَتّٰى بَلَغَ مِنِّي الْجُهْدُ

يونس بن يزيد. ابن شهاب. عروه بن زبير. د نبي صلي
الله عليه وسلّم تبر' بي بي عائشےؓ نه روايت کوي' دَ
هغے بيان دے. رسول الله صلي الله عليه وسلّم باندے دَ
تولو نه مخکښ دَ رويائے صادقه (دَ ريښتنے خوبونو) په
خوب کښ شروع اوشوه. کوم خوب چه به حضورؐ
ليدلو دَ سحر کيدونه مخکښ به هغه ظهور کښ راتللو'
بيا دَ تنهائي (گوشه نشيني) محبت دَ حضورؐ زړهٔ کښ
کيناستلو. حضور صلي الله عليه وسلّم به غار حرا ته
تشريف اُوړلو' (تن تنها) تحنث به ئے کولو. او تحنث نه
مراد دا دے' چه متعدد شپے به ئے عبادت کولو. بيا به
خپلے ښځے بي بي خديجےؓ ته واپس راتلو او توښه به ئے
ځان سره آخستله' تردے چه حضور صلي الله عليه
وسلّم ته دفعةً حق راغے. دغه وخت حضورؐ غار حرا
کښ وو' حضورؐ ته فريښته راغله' ورته ئے وئيلے. اولوله
(پړه) رسول الله صلي الله عليه وسلّم ورته اوفرمائيل'
زهٔ په لوستلو نهٔ پوهيږم. حضورؐ اوفرمائيل' ماله ئے زور
راکړ (ځان ته رانزدے کولو سره) تردے چه ماته سخت
تکليف محسوس شو. بيائے زهٔ پريښودم. او وئيلے
اولوله (پړه) ما ورته اووے' زهٔ نشم لوستے' نو هغے
فريښتے په دويم ځل اونيولم' او زور' ئے راکړلو' چه
هغے سره ماته تکليف اورسيدلو. بيائے زهٔ پريښودلم' او
وئيلے' چه اولوله (پړه) ما ورته اووے' زهٔ لوستے نشم.
بيا هغے فريښتے زهٔ په دريم ځل اونيولم' او زور سره ئے
دباؤ کړم' هغے سره ماته تکليف اورسيد. بيائے زهٔ
پريښودم' او وئيلے' اولوله (پړه) دَ خپل رب نوم سره'
چه هغه پيدا کړلو' چه هغه انسان دَ چکه وينے نه پيدا

ثُمَّ اَرْسَلَنِيْ فَقَالَ اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِيْ خَلَقَ خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ اِقْرَأْ وَ رَبُّكَ الْاَكْرَمُ الَّذِيْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ الْاٰيَاتُ اِلٰى قَوْلِهٖ عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَالَمْ يَعْلَمْ فَرَجَعَ بِهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَرْجُفُ بَوَادِرُهٗ حَتّٰى دَخَلَ عَلٰى خُدَيْجَةَ فَقَالَ زَمِّلُوْنِيْ زَمِّلُوْنِيْ فَزَمَّلُوْهُ حَتّٰى ذَهَبَ عَنْهُ الرَّوْعُ قَالَ لِخَدِيْجَةَ اَيْ خَدِيْجَةُ مَالِيْ لَقَدْ خَشِيْتُ عَلٰى نَفْسِيْ فَاَخْبَرَهَا الْخَبَرَ قَالَتْ خَدِيْجَةُ كَلَّا اَبْشِرْ فَوَاللّٰهِ لَا يُخْزِيْكَ اللّٰهُ اَبَدًا فَوَاللّٰهِ اِنَّكَ لَتَصِلُ الرَّحِمَ وَ تَصْدُقُ الْحَدِيْثَ وَ تَحْمِلُ الْكَلَّ وَ تَكْسِبُ الْمَعْدُوْمَ وَ تَقْرِي الضَّيْفَ وَ تُعِيْنُ عَلٰى نَوَآئِبِ الْحَقِّ فَانْطَلَقَتْ بِهٖ خَدِيْجَةُ حَتّٰى اَتَتْ بِهٖ وَرَقَةَ بْنَ نَوْفَلٍ وَّهُوَ ابْنُ عَمِّ خَدِيْجَةَ اَخِيْ اَبِيْهَا وَ كَانَ امْرَاً تَنَصَّرَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَ كَانَ يَكْتُبُ الْكِتَابَ الْعَرَبِيَّ وَ يَكْتُبُ مِنَ الْاِنْجِيْلِ بِالْعَرَبِيَّةِ مَا شَاءَ اللّٰهُ اَنْ يَّكْتُبَ وَ كَانَ شَيْخًا كَبِيْرًا قَدْ عَمِيَ فَقَالَتْ خَدِيْجَةُ يَا عَمِّ اسْمَعْ مِنِ ابْنِ اَخِيْكَ قَالَ وَرَقَةُ يَا ابْنَ اَخِيْ مَاذَا تَرٰى فَاَخْبَرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَبَرَ مَا رَاٰى فَقَالَ

کړلو، اولوله او ستا رب بزرګ دے، چه ذ قلم په ذريعه لے ښودنه اوکړه. "علم الانسان ما لم يعلم" پورے نے ورته اوښودل، نو رسول الله صلي الله عليه وسلّم ذ هغے خائے نه دیے حالت کښې واپس شولو، چه حضورؐ رپيدلو، تردے چه بي بي خديجےؓ پله ئے تشريف راوړلو، او، وے فرمائيل، "زمّلوني، زمّلوني" په ما کمبل (شړئے) واچوئے، په ما کمبل واچوئے، نو خلقو پرے کمبل واچولو څۀ وخت چه ذ خوف اثر ترے لاړلو، نو حضورؐ بي بي خديجےؓ ته اوفرمائيل، اے خديجےؓ څۀ چل دے چه ما سره ذ خپل ځان ويره ده. او ټول حال ئے ورته بيان کړلو، بي بي خديجےؓ ورته عرض اوکۀ هيڅ کله داسے نۀ ده، تاسو خوشحاله شئے، په خدائے مِ دے قسم وي، اللّٰه تعالٰی به هيڅ کله تاسوؐ رسوا نۀ کړي، تاسو خو قسم په خدائے، صله رحمي کوئے، ريښتيا خبره کوئے. ذ عاجزانو ذ قرضے بوج اوچتوئے. مفلسانو ذ پاره کسب کوئے. او ذ ميلمنو ميلمستيا کوئے، او ذ حق په لار کښې په پيښيدونکو مصيبتونو مدد کوئے. بي بي خديجهؓ حضورؐ سره روانه شوه، تردے چه ورقه بن نوفل له راغله چه ذ بي بي خديجےؓ ذ تره (چچا) خوئے وو، هغه جاهليت کښې نصراني شوے وو. او عربۍ کښې ئے ليکل کول، او انجيل ئے هم عربۍ کښې، اللّٰه ته چه څومره منظوره وو، ليکلو، او هغه ډير بوډا شوے وو. ذ سترګو ړنړا ئے ختميدونکے وه. بي بي خديجےؓ ورته اووے، اے تره (چچا) ذ خپل وراره خبره واوره. ورقه تپوس اوکۀ، وراره څۀ خبره ده، نبي صلي الله عليه وسلّم چه څه ليدلے وو، ذ هغے نه ئے خبر کۀ، ورقه ورته اووے، دا هغه ناموس

وَرَقَةُ هٰذَا النَّامُوْسُ الَّذِيْ اُنْزِلَ عَلٰى مُوْسٰى لَيْتَنِيْ فِيْهَا جَذَعًا لَيْتَنِيْ اَكُوْنُ حَيًّا ذَكَرَ حَرْفًا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَوَ مُخْرِجِيَّ هُمْ قَالَ وَرَقَةُ نَعَمْ لَمْ يَأْتِ رَجُلٌ بِمَا جِئْتَ بِهٖ اِلَّا اُوْذِيَ وَ اِنْ يُدْرِكْنِيْ يَوْمُكَ حَيًّا اَنْصُرْكَ نَصْرًا مُؤَزَّرًا ثُمَّ لَمْ يَنْشَبْ وَرَقَةُ اَنْ تُوُفِّيَ وَ فَتَرَ الْوَحْيُ فَتْرَةً حَتّٰى حَزِنَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ شِهَابٍ فَاَخْبَرَنِيْ اَبُوْ سَلَمَةَ اَنَّ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ الْاَنْصَارِيَّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُحَدِّثُ عَنْ فَتْرَةِ الْوَحْيِ قَالَ فِيْ حَدِيْثِهٖ بَيْنَا اَنَا اَمْشِيْ سَمِعْتُ صَوْتًا مِّنَ السَّمَآءِ فَرَفَعْتُ بَصَرِيْ فَاِذَا الْمَلَكُ الَّذِيْ جَآءَنِيْ بِحِرَآءٍ جَالِسٌ عَلٰى كُرْسِيٍّ بَيْنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ فَفَرِقْتُ مِنْهُ فَرَجَعْتُ فَقُلْتُ زَمِّلُوْنِيْ زَمِّلُوْنِيْ فَدَثَّرُوْهُ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى يٰۤاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُمْ فَاَنْذِرْ وَ رَبَّكَ فَكَبِّرْ وَ ثِيَابَكَ فَطَهِّرْ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ قَالَ اَبُوْ سَلَمَةَ وَ هِيَ الْاَوْثَانُ الَّتِيْ كَانَ اَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ يَعْبُدُوْنَ قَالَ ثُمَّ تَتَابَعَ الْوَحْيُ.

(فريښته) ده، چه په حضرت موسیٰ نازله شوې وه. کاش چه زهٔ هغه وخت ځلمې وې. کاش چه زهٔ ژوندې وې. بيا څهٔ نور، ئې اووې. رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل آيا دا خلق به ما او کاږي، ورقه ورته اووې، او څوک چه داسې څيز راوړي، کوم چه تا راوړې دې، نو هغهٔ ته تکليف رسولې شوې دې. که زهٔ ستا هغې زمانه کښې ژوندې پاتې شوم، نو ما به ستا مستحکم مدد کولې. بيا چه څو ورځې تيرې شوې ورقه وفات شولو. او دَ وحي سلسله بنده شوه نو نبي صلي الله عليه وسلم سره سخت غم شو محمد بن شهاب په واسطه دَ ابو سلمه، حضرت جابرؓ بن عبدالله انصاري بيان اوکهٔ (چه يو ځل) رسول الله صلي الله عليه وسلم دَ وحي دَ بنديدو ذکر کولو، نو حضورؐ اوفرمائيل، زهٔ يو ځل تلم، نو ما دَ آسمان نه يو آواز واوريدلو، ما پورته اوکتل، نو هغه فريښته مِ اوليده، چه ماته غار حرا کښې راغلې وه، او هغه دَ آسمان او زمکې مينځ کښې په کُرسئ ناسته وه، زهٔ دَ هغې نه اويريدمه، کورته واپس راغلم، او اومِ وئيلې، په ما کمبل واچوئې. په ما کمبل واچوئې. نو خلقو په ما کمبل واچولو. په دې الله تعالي دا آيت نازل کړلو. يا ايها المدثر قم فانذر و ربک فکبر و ثيابک فطهر، والرجز فاهجر: يعني اې کمبل اغوستونکيه اودريږه، ته خلق اويروه، او دَ خپل رب لويي بيان کړه الخ: او ابو سلمه اووې چه "رجز" نه مراد بُتان دي، چه جاهليت کښې به ئې خلقو عبادت کولو. بيا دَ هغې نه پس برابر وحي راتلل شروع شو.

## بَابُ ۴۴۹: قَوْلِهٖ خَلَقَ

## باب ۴۴۹: آيت: خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ط الله

الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ.

تعالي انسان ذ چكه وينے نه پيدا كرے دے.

۹۳۹ : حَدَّثَنَا ابْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ اَنَّ عَائِشَةَ قَالَتْ اَوَّلُ مَا بُدِئَ بِهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ فَجَآءَهُ الْمَلَكُ فَقَالَ اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِيْ خَلَقَ خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ اِقْرَأْ وَ رَبُّكَ الْاَكْرَمُ.

۹۳۹ : ابن بكير. ليث. عقيل. ابن شهاب. عروه. بي بي عائشےؓ نه روايت كوي' ذ هغے بيان دے' ذ تهولونه مخكښې نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم باندے ذ رويالے صالحه ابتدا اوشوه بيا حضورؐ له فريښته راغله' او ورته ئے وئيلے "اولوله" (پڑھ) ذ خپل رب نوم سره' چه هغه انسان ذ چكه وينے نه پيدا كړلو. اولوله' او ستا رب لوئے كريم دے.

باب ۴۵۰ : قَوْلِهٖ اِقْرَأْ وَ رَبُّكَ الْاَكْرَمُ.

باب ۴۵۰ : آيت: اِقْرَأْ وَ رَبُّكَ الْاَكْرَمُ. اولوله' او ستا رب لوئے كريم دے.

۹۴۰ : حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ اَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ ح وَ قَالَ اللَّيْثُ حَدَّثَنِيْ عُقَيْلٌ قَالَ مُحَمَّدٌ اَخْبَرَنِيْ عُرْوَةُ عَنْ عَائِشَةَ اَوَّلُ مَا بُدِئَ بِهٖ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرُّؤْيَا الصَّادِقَةُ جَآءَهُ الْمَلَكُ فَقَالَ اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِيْ خَلَقَ خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ اِقْرَأْ وَ رَبُّكَ الْاَكْرَمُ الَّذِيْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ.

۹۴۰ : عبداللّٰه بن محمد. عبدالرزاق. معمر. زهري. ح. ليث. عقيل. محمد. عروه. بي بي عائشےؓ نه روايت كوي' ذ هغے بيان دے' ذ تهولونه مخكښې رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم باندے ذ رويائے صالحه په ذريعه شروع اوشوه. حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم له فريښته راغله او ورته ئے اووے' ذ خپل رب نوم سره اولوله' چه هغه انسان ذ چكه وينے (خون) نه پيدا كړ' اولوله' او ستا رب كريم دے' چه هغه ذ قلم په ذريعه ښودنه اوكړله.

باب ۴۵۱ : قَوْلِهِ الَّذِيْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ.

باب ۴۵۱ : آيت: اَلَّذِيْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ: چه هغهٔ ذ قلم په ذريعه ښودنه اوكړه.

۹۴۱ : حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوْسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ عُقَيْلٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ سَمِعْتُ عُرْوَةَ قَالَتْ

۹۴۱ : عبداللّٰه بن يوسف. ليث. عقيل. ابن شهاب. عروه. بي بي عائشےؓ نه روايت كوي' ذ هغے بيان دے' حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم بي بي خديجے ته

عَائِشَةَ فَرَجَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى خَدِيْجَةَ فَقَالَ زَمِّلُوْنِيْ زَمِّلُوْنِيْ فَذَكَرَ الْحَدِيْثَ.

واپس راغے، نو حضورٌ اوفرمائيل په ما شړے واچوئے. په ما شړے (كمبل) واچوئے، بيائے پوره حديث بيان كړ.

باب ۴۵۲: قَوْلِهِ كَلَّا لَئِنْ لَمْ يَنْتَهِ لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ.

باب ۴۵۲: آيت: كَلَّا لَئِنْ لَّمْ يَنْتَهِ لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ. هيڅ كله نه، داسے به نۀ كيږي، كه هغوي منع نۀ شي، نو مونږ به ئے ذ تندي ذ ويښتو نه نيولے راكاږو، داسے تندے چه دروغجن دے. خطاكار دے.

۹۴۲: حَدَّثَنَا يَحْيٰى حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ عَنْ مَعْمَرٍ عَنْ عَبْدِ الْكَرِيْمِ الْجَزَرِيِّ عَنْ عِكْرَمَةَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ قَالَ اَبُوْ جَهْلٍ لَئِنْ رَأَيْتُ مُحَمَّدًا يُصَلِّيْ عِنْدَ الْكَعْبَةِ لَاَطَأَنَّ عَلٰى عُنُقِهٖ فَبَلَغَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَوْ فَعَلَهٗ لَاَخَذَتْهُ الْمَلٰٓئِكَةُ تَابَعَهٗ عَمْرُو بْنُ خَالِدٍ عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ عَنْ عَبْدِ الْكَرِيْمِ.

۹۴۲: يحيٰي. عبدالرزاق. معمر. عبدالكريم جزري. عكرمه ابن عباسؓ نه روايت كوي، ذ هغۀ بيان دے، ابوجهل اووے، كه زۀ محمد (صلي اللّٰه عليه وسلّم) كعبے سره په مونځ كولو اووينم، نو ذ هغۀ څټ به مات كړمه، نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم ته دا خبر اُورسيد، نو حضورٌ اوفرمائيل، كه هغه داسے كوي، نو هغه به فريښته اونيسي. عمرو بن خالد په واسطه ذ عبيداللّٰه، عبدالكريم ددے متابعت كښ روايت اوكړ.

# اِنَّا اَنْزَلْنٰهُ

# ذ سورۀ قدر (انا انزلنٰه) تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يُقَالُ الْمَطْلَعُ هُوَ الطُّلُوْعُ وَالْمَطْلِعُ الْمَوْضِعُ الَّذِيْ يَطْلُعُ مِنْهُ اَنْزَلْنَاهُ الْهَاءُ كِنَايَةٌ عَنِ الْقُرْاٰنِ اَنْزَلْنَاهُ مَخْرَجَ الْجَمِيْعِ وَالْمُنْزِلُ هُوَ اللّٰهُ وَالْعَرَبُ تُوَكِّدُ بِفِعْلِ الْوَاحِدِ فَتَجْعَلُهٗ بِلَفْظِ الْجَمِيْعِ لِيَكُوْنَ اَثْبَتَ وَ اَوْكَدَ.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

ذ "مطلع" معني طلوع بيانيږي. او "مطلع" ذ طلوع كيدو ځائے ته هم وائي. "انزلناه" كښ ذ "ه" ضمير مرجع قرآن دے. صيغه جمع په منزله ذ واحد دے، ځكه چه نازل كونكے اللّٰه دے. او عرب فعل واحد موكد كوي، او لفظ جمع استعمالوي، چه ذ ثبوت زياتے او تاكيد وي.

# لَمْ يَكُنِ الَّذِيْنَ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

مُنْفَكِّيْنَ زَآئِلِيْنَ قَيِّمَةٌ اَلْقَائِمَةُ دِيْنُ الْقَيِّمَةِ اَضَافَ الدِّيْنَ اِلَى الْمُؤَنَّثِ.

۹۴۳ : حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ سَمِعْتُ قَتَادَةَ عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِاُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ اِنَّ اللّٰهَ اَمَرَنِيْ اَنْ اَقْرَاَ عَلَيْكَ لَمْ يَكُنِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا قَالَ وَ سَمَّانِيْ قَالَ نَعَمْ فَبَكٰى.

۹۴۴ : حَدَّثَنَا حَسَّانُ بْنُ حَسَّانٍ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِاُبَيٍّ اِنَّ اللّٰهَ اَمَرَنِيْ اَنْ اَقْرَاَ عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ قَالَ اُبَيٌّ آللّٰهُ سَمَّانِيْ لَكَ قَالَ اَللّٰهُ سَمَّاكَ لِيْ فَجَعَلَ اُبَيٌّ يَبْكِيْ قَالَ قَتَادَةُ فَاُنْبِئْتُ اَنَّهُ قَرَاَ عَلَيْهِ لَمْ يَكُنِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتَابِ.

۹۴۵ : حَدَّثَنَا اَحْمَدُ بْنُ اَبِيْ دَاوُدَ اَبُوْ جَعْفَرٍ الْمُنَادِيْ حَدَّثَنَا سَعِيْدُ بْنُ اَبِيْ عَرُوْبَةَ عَنْ اَنَسِ بْنِ

# دَ سورة بيّنه (لم يكن الذين) تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

"منفكين" لرے كيدونكے. "قيمة" قائميدونكے. "دين القيمه" دين مؤنث طرف ته مضاف كرے شوے دے.

۹۴۳ : محمد بن بشار. غندر. شعبه. قتاده. حضرت انس بن مالک نه روايت كوي، ذ هغه بيان دے، نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم حضرت اُبي ته اوفرمائيل، اللّٰه تعالٰي ماته حكم راكړے دے چه زهٔ ستا مخكښ قرآن اووايم، اُبيؓ تپوس اوكړ، آيا اللّٰه تعالٰي خما نوم آخستے دے. حضورؐ اوفرمائيل اللّٰه تعالٰي ماته ستا نوم واخست، نو اُبيؓ په ژړا شو. (قتاده اووے، ماته بيان اوشو، چه حضورؐ ذ هغه مخكښ "لمن يكن الذين كفروا من اهل الكتاب" اولوست).

۹۴۴ : حسان بن حسان. همام. قتاده. حضرت انسؓ نه روايت كوي، ذ هغه بيان دے، نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم حضرت ابي ته اوفرمائيل اللّٰه تعالٰي ماته حكم راكړے دے، چه زهٔ ستا مخكښ قرآن واورم، ابيؓ تپوس اوكړ، اللّٰه تعالٰي خما نوم تاسو ته آخستے دے؟ حضورؐ اوفرمائيل، اللّٰه تعالٰي ماته ستا نوم واخست، نو اُبيؓ په ژړا شو. قتاده اووے، ماته بيان اوشو، چه حضورؐ ذ هغهٔ مخكښ "لم يكن الذين كفروا من اهل الكتاب" اولوست.

۹۴۵ : احمد بن داؤد. ابو جعفر منادي. سعيد بن ابي عروبه. قتاده. حضرت انس بن مالکؓ نه روايت كوي، چه نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم ابي بن كعبؓ ته

مَالِكٍ اَنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِاُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ اِنَّ اللّٰهَ اَمَرَنِيْ اَنْ اُقْرِئَكَ الْقُرْاٰنَ قَالَ آللّٰهُ سَمَّانِيْ لَكَ قَالَ نَعَمْ قَالَ وَقَدْ ذُكِرْتُ عِنْدَ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ قَالَ نَعَمْ فَذَرَفَتْ عَيْنَاهُ.

اوفرمائيل، الله تعالىٰ ماته حکم راکړے دے، چه زۀ تاته قرآن واوروم. تهوس نے اوکړ، آيا الله تعالىٰ خما نوم تاسوته آخستے دے، حضورؐ ورته اوفرمائيل چه او، تهوس نے اوکړ، چه آيا پروردګار عالم سره خما ذکر اوشو حضورؐ ورته اوفرمائيل، او، نو د هغه دواړه سترګے د اوښکو نه ډکے شوے.

۱. د آيت مضمون دا دے چه "کوم خلق کافران وو د اهل کتابو او مشرکانو نه هغوئ باز راتلونکي نه وُو تر څو پورے چه هغوئ ته واضحه دليل راغلے وے (يعني) د الله يو رسول څوک چه هغوئ ته پاکے صحيفے واؤروي کومو کښے چه درست مضامين درج وي". د حضور اکرم په ژبه د الله رب العزت په بارګاه کښے د خپلے تذکرے اوريدلو سره د اُبي بن کعب رضي الله عنه د سترګو نه د خوشالئ نه اوښکے روانے شوے. يقيناً دغه وخت به د هغوئ زړه ډیرے او خشوع نه هم ډک شوے وي چه چرته د الله د نعمتونو شکر ادا کولو کښے کوتاهي اونه شي.

## اِذَا زُلْزِلَتِ الْاَرْضُ

## دَ سورۀ اذا زلزلت الارض تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

باب ۴۵۳: قَوْلِهٖ فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ يُقَالُ اَوْحٰى لَهَا وَ اَوْحٰى اِلَيْهَا وَ وَحٰى لَهَا وَ وَحٰى اِلَيْهَا وَاحِدٌ.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

باب ۴۵۳: آيت: فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ: پس هر چا چه ذره قدرے نيکي اوکړه، نو هغه به اووينى. ونيلے شي، چه "اوحى لها" "اوحى اليها" "وحى لها" "وحى اليها" دَ ټولو يو معني دي.

۹۴۶: حَدَّثَنَا اِسْمٰعِيْلُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا مَالِكٌ عَنْ زَيْدِ بْنِ اَسْلَمَ عَنْ اَبِيْ صَالِحِ السَّمَّانِ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْخَيْلُ لِثَلَاثَةٍ لِرَجُلٍ اَجْرٌ وَ لِرَجُلٍ سِتْرٌ وَ عَلٰى رَجُلٍ وِزْرٌ فَاَمَّا الَّذِيْ لَهٗ اَجْرٌ فَرَجُلٌ رَبَطَهَا

۹۴۶: اسمٰعيل بن عبدالله. مالک. زيد بن اسلم. ابو صالح سمان. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت کوي، دَ هغۀ بيان دے. رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل، آسونه درے قسمه خلقو سره وي. يو سړي دَ پاره دَ اجر باعث دوئم دَ پاره پرده پوشي او دريم هغه دَ پاره دَ ګناه سبب دے، هغه سړے چه هغۀ دَ پاره دَ اجر سبب دے، نو هغه، هغه سړے دے، چه هغه دَ الله لار کښې تړلے وي، او هغه نے يو ورشو (چراګاه) يا باغ کښې

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَاَطَالَ لَهَا فِيْ مَرْجٍ اَوْ رَوْضَةٍ فَمَا اَصَابَتْ فِي طِيَلِهَا ذٰلِكَ فِي الْمَرْجِ وَالرَّوْضَةِ كَانَ لَهٗ حَسَنَاتٌ وَلَوْ اَنَّهَا قَطَعَتْ طِيَلَهَا فَاسْتَنَّتْ شَرَفًا اَوْ شَرَفَيْنِ كَانَتْ اٰثَارُهَا وَ اَرْوَاثُهَا حَسَنَاتٍ لَهٗ وَلَوْ اَنَّهَا مَرَّتْ بِنَهْرٍ فَشَرِبَتْ مِنْهُ وَلَمْ يُرِدْ اَنْ يُسْقِيَ بِهٖ كَانَ ذٰلِكَ حَسَنَاتٍ لَهٗ فَهِيَ لِذٰلِكَ الرَّجُلِ اَجْرٌ وَّ رَجُلٌ رَّبَطَهَا تَغَنِّيًا وَّ تَعَفُّفًا وَّلَمْ يَنْسَ حَقَّ اللّٰهِ فِيْ رِقَابِهَا وَلَا ظُهُوْرِهَا فَهِيَ لَهٗ سِتْرٌ وَّ رَجُلٌ رَّبَطَهَا فَخْرًا وَّ رِئَآءً وَّ نِوَآءً فَهِيَ عَلٰى ذٰلِكَ وِزْرٌ فَسُئِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْحُمُرِ قَالَ مَا اَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيَّ فِيْهَا اِلَّا هٰذِهِ الْاٰيَةَ الْفَاذَّةَ الْجَامِعَةَ فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ.

اوږدې رسۍ سره تړلے وي دغے ورشو او باغ کښې ذ هغے رسۍ طول کښې چه کوم خائے پورے رسي، هغهٔ ته به ثواب ورکيږي او که هغے اَس رسۍ اوشلوله، يو يا دوه اوچت خايونو بالدے ټوپ کړلو، نو ذ هغه ذ قدم او ټوپ په بدله کښې به ورته ثواب رسي. او که هغه به يو نهر پوريوتلو، او ذ هغے نه ئے اوبه اوڅکلے، حالانکه ذ هغے نه ئے ذ اوبو څکلو قصد نهٔ وو، نو دے کښې هغهٔ ذ پاره نيکئ دي. دا اَس ذ هغهٔ ذ پاره ذ اجر باعث دے. او کوم سړي چه تجارت کښې ذ نفع حاصلولو ذ پاره او سوال نه بچ کيدو ذ پاره اَس اوتړلو (يعني اوساتلو) او ذ هغهٔ څټ او کردن کښې ئے ذ الله تعالیٰ حق هير نهٔ کړلو (يعني ذ هغے زکوٰة ئے ورکهٔ) نو دا هغهٔ ذ پاره پرده پوشي ده. او کوم سړي چه دا ذ فخر او غرور او ريا ذ پاره اوساتلو، نو دا په هغهٔ گناه ده. رسول الله صلي الله عليه وسلّم نه ذ خرونو متعلق تپوس اوشو، نو حضورؐ اوفرمائيل، ذ دے متعلق په ما سِوا ذ دے جامع آيت نه بل څهٔ آيت نهٔ دے نازل شوے: چه چا ذره قدرے نيکي اوکړه، نو هغه به هغه اووينې، او چا چه ذره قدرے بدي اوکړه، نو هغه به هم اووينې.

## بــــاب ۴۵۴: قَــوْلُــــهٗ وَمَــنْ يَّــعْــمَلْ مِـثْـقَـالَ ذَرَّةٍ شَـرًّا يَّرَهٗ.

## باب ۴۵۴: آيت: وَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ: او چا چه ذره قدرے بدي اوکړه، نو هغه به هم اووينې.

۴۶۷ ۹: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ حَدَّثَنِيْ ابْنُ وَهْبٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ مَالِكٌ عَنْ زَيْدِ بْنِ اَسْلَمَ عَنْ اَبِيْ صَالِحٍ السَّمَّانِ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ

۴۶۷ ۹: يحيي بن سليمان. ابن وهب. مالک. زيد بن اسلم. ابو صالح سمان. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت کوي، ذ هغهٔ بيان دے. حضور صلي الله عليه وسلّم نه ذ

سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْحُمُرِ فَقَالَ لَمْ يُنْزَلْ عَلَيَّ فِيهَا شَيْءٌ إِلَّا هٰذِهِ الْآيَةُ الْجَامِعَةُ الْفَاذَّةُ فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ.

خـرونـو بـاره كـښې تپوس اوشـو، نـو حضـورﷺ اوفـرمـائـيل، مـا بـانـدې ذ دې جامع او مانع آيت نه بـيـرا دې بـاره كـښې بـل څـه څيـز نـه دې نـازل شـوې چـه: فـمـن يـعـمـل مثـقـال ذرة خيـرا يـره ومن يعمل مثقال ذرة شرا يره.

# سُورَةُ وَالْعَادِيَاتِ

# دَ سورهٔ والعاديات تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ قَالَ مُجَاهِدٌ لَكَنُوْدٌ اَلْكَفُوْرُ يُقَالُ فَاَثَرْنَ بِهٖ نَقْعًا رَفَعْنَ بِهٖ غُبَارًا لِحُبِّ الْخَيْرِ مِنْ اَجْلِ حُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيْدٌ لَبَخِيْلٌ وَ يُقَالُ لِلْبَخِيْلِ شَدِيْدٌ حُصِّلَ مُيِّزَ.

مـجـاهـد اووې "كـنـود" نه مراد ناشكري كونكے دے. "فـاثـرن بـه نـقـعًا" معني بيانيږي، چه ددې په ذريعه غبار آلـوخـوي. "لـحـب الـخيـر" ذَ خير ذَ محبت ذَ سبب نه. "لشـديـد" بـخيل. او بخيل ته شديد وئيلے شي "حصل" معني ميز (جُدا جُدا به كړے شي) دي.

# سُوْرَةُ الْقَارِعَةِ

# دَ سورهٔ القارعه تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوْثِ كَغَوْغَاءِ الْجَرَادِ يَرْكَبُ بَعْضُهُ بَعْضًا كَذٰلِكَ النَّاسُ يَجُوْلُ بَعْضُهُمْ فِيْ بَعْضٍ كَالْعِهْنِ كَاَلْوَانِ الْعِهْنِ وَ قَرَاَ عَبْدُ اللّٰهِ كَالصُّوْفِ.

"كـالـفـراش الـمبثـوث" دَ مـلـخانو دَ سيل پـه شان، چه پـه يـو بـل بـه غـرخيـږي، دغـه شـان بـه سـړي هم پـه يـو بـل غـرخيـږي "كـالـعهـن" ډانـډت شـوے رنګ پـه رنګـې دَ مـالـوچـو پـه شـان. او عبداللّٰه "كالصوف" لوستے دے.

# سُوْرَةُ اَلْهٰكُمُ التَّكَاثُرُ

# دَ سُورهٔ الهٰكم التَّكاثر تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ التَّكَاثُرُ مِنَ الْاَمْوَالِ وَالْاَوْلَادِ.

حضـرت ابن عباسؓ اووې چه "تكاثر" نه دَ مال او اولاد كثرت مراد دے.

# سُوْرَةُ الْعَصْرِ

# دَ سورۀ والعصر تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ قَالَ يَحْيَى الْعَصْرُ الدَّهْرُ اَقْسَمَ بِهٖ.

يحيي اووے "عصر" نه مراد زمانه ده' چه په هغے قسم خوړلے شوے دے.

# وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ

# دَ سورۀ ويل لكل هُمَزَة تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحُطَمَةُ اسْمُ النَّارِ مِثْلُ سَقَرَ وَ لَظٰى.

"حطمه" دَ اُور نوم دے' څنګه چه "سقر" او "لظٰی" دے.

# سُوْرَةُ اَلَمْ تَرَ كَيْفَ

# دَ سورۀ الم تر كيف تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قَالَ مُجَاهِدٌ اَبَابِيْلَ مُتَتَابِعَةً مُجْتَمِعَةً وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ مِّنْ سِجِّيْلٍ هِيَ سَنْكِ وَ كِلْ.

مجاهد اووے. "ابابيل" لګاتار او جُند دَ جُند (سيلونه) او ابن عباسؓ اووے "سجيل" "معرب" سنګ و ګِل دے.

# سُوْرَةُ لِاِيْلٰفِ قُرَيْشٍ

# دَ سورۀ لِاِيْلاف قريش تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ قَالَ مُجَاهِدٌ لِاِيْلٰفِ اَلِفُوْا ذٰلِكَ فَلَا يَشُقُّ عَلَيْهِمْ فِي الشِّتَآءِ وَ الصَّيْفِ وَ اٰمَنَهُمْ مِنْ كُلِّ عَدُوِّهِمْ فِيْ حَرَمِهِمْ قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ لِاِيْلَافِ لِنِعْمَتِيْ عَلٰى قُرَيْشٍ.

مجاهد اووے "لِاِيْلٰف" معني دا دي' چه دَ هغوي په زړونو کښې مينه محبت واچولو. په دے وجه يخني او ګرمي کښې هغوي ته سفر کول ګران نۀ وي "و اٰمنهم" هغوي ته حرم کښې دَ هر دشمن نه په امان کړل. ابن عيينه اووے "لايلاف" معني دا دي' په قريشو خما دَ نعمت دَ سبب نه.

# سُوْرَةُ اَرَءَيْتَ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ قَالَ مُجَاهِدٌ يَدُعُّ يَدْفَعُ عَنْ حَقِّهٖ يُقَالُ هُوَ مِنْ دَعَعْتُ يُدَعُّوْنَ يُدْفَعُوْنَ سَاهُوْنَ لَاهُوْنَ وَالْمَاعُوْنَ الْمَعْرُوْفُ كُلُّهٗ وَ قَالَ بَعْضُ الْعَرَبِ الْمَاعُوْنُ الْمَاءُ وَ قَالَ عِكْرَمَةُ اَعْلَاهَا الزَّكَاةُ الْمَفْرُوْضَةُ وَ اَدْنَاهَا عَارِيَةُ الْمَتَاعِ.

# دَ سورهٔ ارءيت تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

مجاهد اووے چه "يدع" دَ هغهٔ دَ حقه دهكے وركوي. او وئيلے شي چه دا "دععت" نه ماخوذ دے، "يدعون" دهكے وركولے شي. "ساهون" لوبے كونكے. او "ماعون" نه مراد هره ښهٔ خبره ده. او بعضے عربو اووے، چه ماعون نه مراد اوبه دي. او عكرمه وائي دَ دے بلند ترين درجه خو فرض زكوٰة دے. او ادنٰي مرتبه ئے دَ سامان عاريت وركول دي.

# اِنَّا اَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍؓ شَانِئَكَ عَدُوَّكَ.

# دَ سورهٔ كوثر تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

ابن عباسؓ اووے چه شانئک معني عدوک (ستا دشمن) دے.

٩٤٨: حَدَّثَنَا اٰدَمُ حَدَّثَنَا شَيْبَانُ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ عَنْ اَنَسٍؓ قَالَ لَمَّا عُرِجَ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السَّمَآءِ قَالَ اَتَيْتُ عَلٰى نَهْرٍ حَافَتَاهُ قِبَابُ اللُّؤْلُوءِ مُجَوَّفًا فَقُلْتُ مَا هٰذَا يَا جَبْرِئِيْلُ قَالَ هٰذَا الْكَوْثَرُ.

٩٤٨: آدم. شيبان. قتاده. حضرت انسؓ نه روايت كوي، دَ هغهٔ بيان دے، نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم آسمان ته اوخيژولے شو، يعني معراج اوشو، نو حضورؐ اوفرمائيل، زهٔ يو نهر ته اورسيدم، دَ هغے په دواړو غاړو دَ ډډو ملغلرو خيمے وے. ما تپوس اوكهٔ، اے جبرائيل، دا څهٔ دي هغهٔ اووے، دا (حوض) كوثر دے.

٩٤٩: حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ يَزِيْدَ الْكَاهِلِيُّ حَدَّثَنَا اِسْرَائِيْلُ عَنْ اَبِيْ اِسْحٰقَ عَنْ اَبِيْ عُبَيْدَةَ عَنْ عَآئِشَةَ قَالَ سَاَلْتُهَا عَنْ قَوْلِهٖ تَعَالٰى اِنَّا

٩٤٩: خالد بن يزيد كاهلي. اسرائيل. ابو اسحاق. ابو عبيده. بي بي عائشےؓ نه روايت كوي، دَ هغے بيان دے، ما دَ هغے نه دَ دے آيت انا اعطيناک الكوثر: متعلق تپوس اوكهٔ، نو هغے اووے، دا يو نهر دے،

أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ قَالَتْ نَهْرٌ أُعْطِيَهُ نَبِيُّكُمْ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَاطِئَاهُ عَلَيْهِ دُرٌّ مُجَوَّفٌ اٰنِيَتُهُ كَعَدَدِ النُّجُوْمِ رَوَاهُ زَكَرِيَّاءُ وَ اَبُو الْاَحْوَصِ وَ مُطَرِّفٌ عَنْ اَبِيْ اِسْحٰقَ.

چه ستاسو نبي صلي الله عليه وسلم ته عطا کړے شوے دلے. ددے په دواړو غاړو ددے ملغلرے دي (چې د ملغلرو ګنبدونه دي) د دے لوښي د ستورو په شان بيشماره دي. زکريا او ابوالاحوص او مطرف دا د ابو اسحاق نه روايت کوي.

**٩٥٠** : حَدَّثَنَا يَعْقُوْبُ بْنُ اِبْرٰهِيْمَ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ حَدَّثَنَا اَبُوْ بِشْرٍ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّهُ قَالَ فِي الْكَوْثَرِ هُوَ الْخَيْرُ الَّذِيْ اَعْطَاهُ اللّٰهُ اِيَّاهُ قَالَ اَبُوْ بِشْرٍ قُلْتُ لِسَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ فَاِنَّ النَّاسَ يَزْعُمُوْنَ اَنَّهُ نَهْرٌ فِي الْجَنَّةِ فَقَالَ سَعِيْدُ النَّهْرُ الَّذِيْ فِي الْجَنَّةِ مِنَ الْخَيْرِ الَّذِيْ اَعْطَاهُ اللّٰهُ اِيَّاهُ.

**٩٥٠** : يعقوب بن ابراهيم. هشيم. ابو بشر. سعيد بن جبير. حضرت ابن عباسؓ نه روايت کوي، چه د کوثر متعلق اووے، هغه خير دے، چه الله تعالي، حضور صلي الله عليه وسلم له ور کړے دے. ابو بشر اووے، ما سعيد بن جبير ته اووے، خلق ګمان کوي، چه دا جنت کښ يو نهر دے، نو سعيد اووے، نهر چه جنت کښ دے، هغه منجمله خير دے، چه الله تعالي حضور صلي الله عليه وسلم ته عطا کړے دے.

## قُلْ يٰۤاَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ

## دَ قل يَاَيُّهَا الكافرون تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يُقَالُ لَكُمْ دِيْنُكُمُ الْكُفْرُ وَلِيَ دِيْنِ الْاِسْلَامُ وَلَمْ يَقُلْ دِيْنِيْ لِاَنَّ الْاٰيَاتِ بِالنُّوْنِ فَحُذِفَتِ الْيَاءُ كَمَا يَهْدِيْنِ وَ يَشْفِيْنِ وَ قَالَ غَيْرُهُ لَا اَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ الْاٰنَ وَلَا اُجِيْبُكُمْ فِيْمَا بَقِيَ مِنْ عُمْرِيْ وَلَا اَنْتُمْ عَابِدُوْنَ مَا اَعْبُدُ وَهُمُ الَّذِيْنَ قَالَ وَلَيَزِيْدَنَّ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

ستاسو دَ پاره ستاسو دين (يعني کفر) دے، او ما دَ پاره دين اسلام دے. او ديني ئے اونۀ وے، ځکه ددے سورت آيات نون سره دي، نو "يا" حذف کړے شو، لکه چه "يهدين و يشفين" کښ دے او نورو اُوونيلے "لا اعبد ما تعبدون" نه مراد دا دے چه زۀ دَ هغه څۀ عبادت نۀ کوم، دَ کوم چه تاسو دا وخت کوئے، او نۀ ستاسو دعوت زۀ بقيه ژوند کښ منظوروم، او نۀ تاسو دَ هغے چا عبادت کونکي ئے، دَ چا چه زۀ عبادت کوم. او دا هغه خلق دي، چه دَ دوي متعلق الله اوفرمائيل. دوي کښ به دَ ډيرو

كَثِيْرًا مِّنْهُمْ مَّا اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَّ كُفْرًا.

سر كشي زياته كړي، چه، ستا دَ رب دَ جانب نه نازل كړے شوے دے.

# اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ

# دَ سورهٔ اذا جآء نصر اللّٰه تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

۱ ۹ ۵ : حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الرَّبِيْعِ حَدَّثَنَا اَبُو الْاَحْوَصِ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ اَبِي الضُّحٰى عَنْ مَسْرُوْقٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا صَلَّى النَّبِيُّ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةً بَعْدَ اَنْ نَزَلَتْ عَلَيْهِ اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ اِلَّا يَقُوْلُ فِيْهَا سُبْحٰنَكَ رَبَّنَا وَ بِحَمْدِكَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ.

۱ ۹ ۵ : حسن بن ربيع. ابوالاحوص. اعمش. ابوالضحي. مسروق. بي بي عائشےؓ نه روايت كوي، دَ هغے بيان دے، دَ سورة: اذا جاء نصر اللّٰه: نه وروستو چه كله به حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم مونځ كولو، نو فرمائيل به ئے: سبحانک ربّنا و بحمدک اللهم اغفرلي: يعني اے اللّٰه ته پاک ئے، تاله حمد و ثنا ده، يا اللّٰه ما اوبښے. (يا اللّٰه دَ دے دُعا په خاطر مونږ هم اوبښے. اللهم آمين)

۲ ۹ ۵ : حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ اَبِيْ شَيْبَةَ حَدَّثَنَا جَرِيْرٌ عَنْ مَنْصُوْرٍ عَنْ اَبِي الضُّحٰى عَنْ مَسْرُوْقٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكْثِرُ اَنْ يَّقُوْلَ فِيْ رُكُوْعِهٖ وَ سُجُوْدِهٖ سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَ بِحَمْدِكَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ يَتَاَوَّلُ الْقُرْاٰنَ.

۲ ۹ ۵ : عثمان بن ابي شيبه. جرير. منصور. ابوالضحي. مسروق. بي بي عائشےؓ نه روايت كوي، دَ هغے بيان دے، رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم به خپله ركوع او سجود كښې اكثر دا الفاظ فرمائيل: سبحانک اللّٰهم ربّنا وبحمدک اللّٰهم اغفرلي: او دَ قرآن مجيد آيت: فسبّح بحمد ربّک واستغفره: نه اخذ كولو سره به دے به ئے عمل كولو.

## بَابُ ۴۵۵: قَوْلِهٖ وَ رَاَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُوْنَ فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ اَفْوَاجًا.

## باب ۴۵۵: آيت: وَ رَاَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُوْنَ فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ اَفْوَاجًا: او ته به خلق اووينے، چه دَ اللّٰه دين كښې به ډلے ډلے داخليږي.

۳ ۹ ۵ : حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ اَبِيْ شَيْبَةَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمٰنِ عَنْ

۳ ۹ ۵ : عبداللّٰه بن ابي شيبه. عبدالرحمٰن. سفيان. حبيب بن ابي ثابت. سعيد بن جبير. حضرت

سُفْيَانَ عَنْ حَبِيْبِ بْنِ اَبِيْ ثَابِتٍ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ عُمَرَ سَاَلَهُمْ عَنْ قَوْلِهٖ تَعَالٰى اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ قَالُوْا فَتْحُ الْمَدَآئِنِ وَالْقُصُوْرِ قَالَ مَا تَقُوْلُ يَا ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ اَجَلٌ اَوْ مَثَلٌ ضُرِبَ لِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نُعِيَتْ لَهٗ نَفْسُهٗ.

ابن عباسؓ نه روایت کوي. حضرت عمرؓ خلقونه د آيت: اذا جآء نصر الله والفتح. متعلق تپوس وکړو خلقو اووې: دې نه مراد د ښهرونو او محلونو فتح کول دي. هغه اووې: اې ابن عباسؓ په دې حقله ته څه وائې؟ هغه اووې: موده ده يا مثال دې چه محمد صلي الله عليه وسلم د پاره بيان کړے شو. او د حضور صلي الله عليه وسلم د وفات خبر ورکړے شوے دے.

باب ۴۵۶: قَوْلُهٗ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ اِنَّهٗ كَانَ تَوَّابًا تَوَّابٌ عَلَى الْعِبَادِ وَالتَّوَّابُ مِنَ النَّاسِ التَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ.

باب ۴۵۶: آيت: فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ اِنَّهٗ كَانَ تَوَّابًا: او د خپل رب تسبيح بيان کړه، او د هغه نه مغفرت اوغواړه. بيشکه هغه توبه قبلونکے دے. او "توّاب" که د سړو صفت وي، نو معني ئې د ګناه نه توبه کونکي دي.

۹۵۴: حَدَّثَنَا مُوْسَى بْنُ اِسْمٰعِيْلَ حَدَّثَنَا اَبُوْ عَوَانَةَ عَنْ اَبِيْ بِشْرٍ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ عُمَرُ يُدْخِلُنِيْ مَعَ اَشْيَاخِ بَدْرٍ فَكَاَنَّ بَعْضَهُمْ وَجَدَ فِيْ نَفْسِهٖ فَقَالَ لِمَ تُدْخِلُ هٰذَا مَعَنَا وَلَنَا اَبْنَآءٌ مِثْلُهٗ فَقَالَ عُمَرُ اِنَّهٗ مِنْ حَيْثُ عَلِمْتُمْ فَدَعَا ذَاتَ يَوْمٍ فَاَدْخَلَهٗ مَعَهُمْ فَمَا رُئِيْتُ اَنَّهٗ دَعَانِيْ يَوْمَئِذٍ اِلَّا لِيُرِيَهُمْ قَالَ مَا تَقُوْلُوْنَ فِيْ قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰى اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ فَقَالَ بَعْضُهُمْ اُمِرْنَا نَحْمَدُ اللّٰهَ وَ نَسْتَغْفِرُهٗ

۹۵۴: موسي بن اسمٰعيل. ابو عوانه. ابوبشر. سعيد بن جبير. حضرت ابن عباسؓ نه روايت کوي، حضرت عمرؓ به زۀ د بدر په بوډا ګانو کښې کينولم. هغوي کښې د بعضو زړۀ کښې خيال پيدا شو. او وئيلې، چه دې تاسو خمونږ برابر کينوئې، حالانکه خمونږ خلقو خو دَدۀ په شان خامن دي. حضرت عمرؓ ورته اووې، په دې وجه چه تاسو پوهيږئې، نو يوه ورځ ئې راوغوښتلو، او ابن عباسؓ د هغې خلقو په مجلس کښې شريک کړلو، د ابن عباسؓ بيان دے په هغه ورځ ئې زۀ صرف دے د پاره راغوښتلے ووم، چه هغوي ته معلومه شي. حضرت عمرؓ اووې د الله د قول: اذا جآء نصر الله والفتح" متعلق تاسو څۀ وائې. بعضو اووې مونږ ته حکم دے چه د الله حمد بيان کړو. او مغفرت طلب کړو، چه خمونږ مدد او کړے شي، او فتح اوشي.

اِذَا نُصِرْنَا وَ فُتِحَ عَلَيْنَا وَ سَكَتَ بَعْضُهُمْ فَلَمْ يَقُلْ شَيْئًا فَقَالَ لِيْ اَكَذٰلِكَ تَقُوْلُ يَا ابْنَ عَبَّاسٍ فَقُلْتُ لَا قَالَ فَمَا تَقُوْلُ قُلْتُ هُوَ اَجَلُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَعْلَمَهُ لَهُ قَالَ اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ وَ ذٰلِكَ عَلَامَةُ اَجَلِكَ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ اِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا فَقَالَ عُمَرُ مَا اَعْلَمُ مِنْهَا اِلَّا مَا تَقُوْلُ.

بعضے خاموش پاتے شو' او هیڅ ئے اونهٔ وئیلے' نو حضرت عمرؓ ماته اووے ابن عباسؓ ته هم داسے وائے' ما اووے' نه هغه اووے' بیا ته څهٔ وائے. ما اووے' دا دَ رسول الله صلي الله علیه وسلّم وفات ته اشاره ده' چه دَ هغے خبر الله حضورؑ له ورکړلو. الله اوفرمائیل اذا جآء نصر الله والفتح: دا دَ حضور صلي الله علیه وسلّم دَ وفات علامت دے: فسبّح بحمد ربک واستغفره انّه کان توّابا: حضرت عمرؓ اووے' زهٔ دَ دے متعلق دَ دے نه زیات نهٔ پوهیږم' څنګه چه ته وائے.

## تَبَّتْ يَدَآ اَبِيْ لَهَبٍ

## دَ سورهٔ تبّت یدا ابی لهب تفسیر

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

تَبَابٌ خُسْرَانٌ تَتْبِيْبٌ تَدْمِيْرٌ.

"تباب" معني خسران او "تتبیب" معني تدمیر (هلاک کول) دي.

٩٥٥: حَدَّثَنَا يُوْسُفُ بْنُ مُوْسٰى حَدَّثَنَا اَبُوْ اُسَامَةَ حَدَّثَنَا الْاَعْمَشُ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ مُرَّةَ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ وَ اَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْاَقْرَبِيْنَ وَ رَهْطَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِيْنَ خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى صَعِدَ الصَّفَا فَهَتَفَ يَا صَبَاحَاهُ فَقَالُوْا مَنْ هٰذَا فَاجْتَمَعُوْا اِلَيْهِ فَقَالَ ءَ رَاَيْتُمْ اِنْ اَخْبَرْتُكُمْ اَنَّ خَيْلًا تَخْرُجُ مِنْ سَفْحِ هٰذَا الْجَبَلِ اَكُنْتُمْ مُصَدِّقِيَّ قَالُوْا مَا جَرَّبْنَا عَلَيْكَ كَذِبًا قَالَ فَاِنِّيْ

٩٥٥: یوسف بن موسٰي. ابو اسامه. اعمش. عمرو بن مره. سعید بن جبیر. حضرت ابن عباسؓ نه روایت کوي' دَ هغهٔ بیان دے' هر کله چه دا آیت نازل شولو: و انذر عشیرتک الاقربین (خپل قریبي رشته داران او هغوي کښې خاص خلق اویروه) نو رسول الله صلي الله علیه وسلّم بهر تشریف راوړلو. او کوهِ صفا ته اوختلو. "یا صباحاه" ئے وئیلو سره ئے نعرے کړے' خلقو اووے' دا څوک دے. او حضورؑ سره جمع شو. حضورؑ ورته اوفرمائیل. اُووایئے' که زهٔ تاسو ته خبر درکړم' چه دَ دے غر دَ لمن نه یو لښکر راوتونکے دے' نو آیا تاسو به ما ریښتنے اوګڼئے. خلقو اووے' مونږ تا نه دروغ نهٔ دي آوریدلے' نو حضور صلي الله علیه وسلّم اوفرمائیل' چه

نَذِيْرٌ لَّكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيْدٍ قَالَ اَبُوْ لَهَبٍ تَبًّا لَّكَ مَا جَمَعْتَنَا اِلَّا لِهٰذَا ثُمَّ قَامَ فَنَزَلَتْ تَبَّتْ يَدَا اَبِيْ لَهَبٍ وَّ تَبَّ وَقَدْ تَبَّ هٰكَذَا قَرَاَهَا الْاَعْمَشُ يَوْمَئِذٍ.

زه تاسو ذ سخت عذاب نه ويروم. ابولهب اووے "تبالک" (ته هلاک شے) آيا تا مونږ دے ذ پاره راجمع کړے وو، بيا هغه پاسيد' لاړ. نو آيت: تبت يدا ابی لهب وتب" نازل شولو. اعمش به هغه ورځ داسے ولوستلے وو "ما اغنٰی عنه ماله وما کسب".

١. د دشمن ذ حملې خطرے وخت کښے به عربو خپل قوم له خبرداري ورکولو د پاره دا چغه وهله. نبي عليه السلام هم د هغوئ د کفر او شرک او جهالت خلاف هغوئ له خبردارے ورکول اوپړل وو دے د پاره نبي عليه السلام هغوئ ته هغه شان چغه اووهله څرنګ به چه د دشمن د خطرے وخت کښے وهلے کيده.

## بَاب ۴۵۷: قَوْلِهٖ وَتَبَّ مَا اَغْنٰى عَنْهُ مَالُهٗ وَمَا كَسَبَ.

## باب ۴۵۷: آيت: مَا اَغْنٰی عَنه ماله وما کسب تفسير.

۹۵۶: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَامٍ اَخْبَرَنَا اَبُوْ مُعَاوِيَةَ حَدَّثَنَا الْاَعْمَشُ عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ اِلَى الْبُطْحَاءِ فَصَعِدَ اِلَى الْجَبَلِ فَنَادٰى يَا صَبَاحَاهُ فَاجْتَمَعَتْ اِلَيْهِ قُرَيْشٌ فَقَالَ اَرَاَيْتُمْ اِنْ حَدَّثْتُكُمْ اَنَّ الْعَدُوَّ مُصَبِّحُكُمْ اَوْ مُمَسِّيْكُمْ اَكُنْتُمْ تُصَدِّقُوْنِيْ قَالُوْا نَعَمْ قَالَ فَاِنِّيْ نَذِيْرٌ لَّكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيْدٍ فَقَالَ اَبُوْ لَهَبٍ اَلِهٰذَا جَمَعْتَنَا تَبًّا لَّكَ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَ جَلَّ تَبَّتْ يَدَا اَبِيْ لَهَبٍ الخ.

۹۵۶: محمد بن سلام. ابو معاويه. اعمش. عمرو بن مره. سعيد بن جبير. حضرت ابن عباسؓ نه روايت کوي' حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم بطحاء طرف ته تشريف يوړلو. غر ته اوختلو' نعرے ئے کړے "يا صباحاه" قريش ورته راجمع شو' نو حضورؐ ورته اوفرمائيل' اووائے' که زۀ تاسو ته بيان کړم' چه دشمن سحر يا ماښام په تاسو حمله کونکے دے' نو آيا تاسو به ما ريښتنے اوګڼړئے. خلقو اووے' او' نو حضورؐ ورته اوفرمائيل' زۀ تاسو ذ سخت عذاب نه ويروم' ابولهب اووے' آيا مونږ دِ دے ذ پاره راجمع کړے يو' تۀ هلاک شے' نو اللّٰه تعالٰي سورۂ تبت يدا ابی لهب وتب: آخر پورے نازل کړلو.

## باب ۴۵۸: قَوْلِهٖ سَيَصْلٰى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ.

## باب ۴۵۸: ايت: سَيَصْلٰی نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ: عنقريب هغه به شعلے کونکي اور کښ داخل شي.

۴۹۵۷ : حَدَّثَنَا عُمَرُو بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا اَبِيْ حَدَّثَنَا الْاَعْمَشُ حَدَّثَنِيْ عَمْرُو بْنُ مُرَّةَ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ اَبُوْ لَهَبٍ تَبًّا لَكَ اَلِهٰذَا جَمَعْتَنَا فَنَزَلَتْ تَبَّتْ يَدَا اَبِيْ لَهَبٍ.

۴۹۵۷ : عمرو بن حفص. اعمش. عمرو بن مره. سعيد بن جبير. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي، چه ابولهب اووے تنه هلاک شے، آيا تا مونږ دے خبرے دَ پاره راټول کړے وو، نو: تبت يدا ابي لهب: نازل شولو.

باب ۴۵۹: قَوْلُهٗ وَامْرَاَتُهٗ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ وَ قَالَ مُجَاهِدٌ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ تَمْشِيْ بِالنَّمِيْمَةِ فِيْ جِيْدِهَا حَبْلٌ مِّنْ مَّسَدٍ يُقَالُ مِنْ مَّسَدٍ لِيْفِ الْمُقْلِ وَهِيَ السِّلْسِلَةُ الَّتِيْ فِي النَّارِ.

باب ۴۵۹: آيت: وَامْرَاَتُهٗ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ: او دَ هغهٔ ښځه به داخله شي، چه لرګي راوړي. مجاهد اووے "حمالة الحطب" نه مراد دا دے، چه چغلي به ئے خوړله. "في جيدها حبل من مسد" (دَ هغے په غاړه کښې به دَ مونجو رسئ وي)[1] متعلق وئيلے شي، چه "مسد" نه مراد دَ قجورے دَ ريشے نه مضبوطه غښتلے شوے رسئ. دلته ترے مراد هغه زنځير دے، چه دوزخ کښې به دَ هغے په غاړه کښې وي.

[1] . يعني په کومے رسئ سره به ئے چه دَ خشاکو کيلوے تړلو او دَ ځنګل نه به ئے راوړلو يوه ورځ همدغه شان هغے کيلوے راوړلو، رسئ د هغے مرئي ته پريوتے وه، چه ستړے شوه نو په يو کاڼړي باندے دَمے د پاره کيناسته. يوه فرشته د روستو نه راغله او د هغے رسئ ئے راښکله او مرئي ئے ورله خپه کړه، مطلب دادے چه په آيت کښے همغه رسئ مراد ده.

# قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ

# دَ سوره قُل هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يُقَالُ لَا يُنَوَّنُ اَحَدٌ اَيْ وَاحِدٌ.

بعضے وائي، چه "احد" سره تنوين نشته. دے نه مراد واحد دے.

۴۹۵۸ : حَدَّثَنَا اَبُو الْيَمَانِ حَدَّثَنَا شُعَيْبٌ حَدَّثَنَا اَبُو الزِّنَادِ عَنِ الْاَعْرَجِ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ

۴۹۵۸ : ابواليمان. شعيب. زهري. ابو الزناد. اعرج. حضرت ابوهريرهؓ نبي صلي الله عليه وسلّم نه روايت کوي، حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل، الله فرمائي، زهٔ ابن آدم دروغجن کړم حالانکه هغهٔ دَ پاره

اَللّٰهُ كَذَّبَنِي ابْنُ اٰدَمَ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ ذٰلِكَ وَ شَتَمَنِي وَلَمْ يَكُنْ لَهُ ذٰلِكَ فَاَمَّا تَكْذِيْبُهُ اِيَّايَ فَقَوْلُهُ لَنْ يُعِيْدَنِي كَمَا بَدَاَنِيْ وَ لَيْسَ اَوَّلُ الْخَلْقِ بِاَهْوَنَ عَلَيَّ مِنْ اِعَادَتِهِ وَ اَمَّا شَتْمُهُ اِيَّايَ فَقَوْلُهُ اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا وَ اَنَا الْاَحَدُ الصَّمَدُ لَمْ اَلِدْ وَلَمْ اُوْلَدْ وَلَمْ يَكُنْ لِيْ كُفُوًا اَحَدٌ.

دا مناسب نه وو، څما دروغجن كول، څو هغه دا قول دے، چه وائي چه ما به دوباره نه راژوندے كوي، څنګه چه زۀ ئے شروع كښ پيدا كړم، حالانكه دَ ورمبي ځل پيدا كول په ما دَ هغۀ دَ دوباره پيدا كولو نه آسان نه دي[1] (يعني په دوباره پيدا كول ئے دَ ورمبني ځل نه هم اسان دي) او دَ هغۀ ماته كنځل كول دَ هغه دا قول دے، چه اللّٰه تعالٰي څوے جوړ كړے دے، حالانكه زۀ يو، يم، بے نيازه يم، نۀ مانه څوک پيدا دي او نۀ زۀ دَ چا نه پيدا يم، او نۀ څما څوک همسر شته.

[1] يعني اللّٰه د پاره دواړه برابر دي او د هر څيز عدم او وجود صرف د هغه په اشارے او حکم باندے موقوف دے. ليكن دا واقعه د انساني فهم مطابق خبره كيږي چه كوم اللّٰه د څه نمونے نه بغير انسان پيدا كړے دے، نو آيا د وژلو نه پس دوباره ده لره پيدا كولے نشي.

## بَاب ۴۶۰: قَوْلِهِ اللّٰهُ الصَّمَدُ

وَالْعَرَبُ تُسَمِّيْ اَشْرَافَهَا الصَّمَدَ قَالَ اَبُوْ وَائِلٍ هُوَ السَّيِّدُ الَّذِيْ اِنْتَهٰى سُوْدَدُهُ.

## باب ۴۶۰: آيت: اَللّٰهُ الصَّمَدُ:

اللّٰه بے نيازه دے. عرب خپل سردار ته "صمد" وائي. او ابو وائل اووے. "صمد" هغے سردار ته وائي، چه په هغۀ سرداري ختم وي.

۹۵۹: حَدَّثَنَا اِسْحٰقُ بْنُ مَنْصُوْرٍ قَالَ وَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ اَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ هِشَامٍ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللّٰهُ كَذَّبَنِيْ ابْنُ اٰدَمَ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ ذٰلِكَ وَ اَمَّا تَكْذِيْبُهُ اِيَّايَ وَ اَمَّا شَتْمُهُ اِيَّايَ اَنْ يَقُوْلَ اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا وَّ اَنَا الصَّمَدُ الَّذِيْ لَمْ اَلِدْ وَلَمْ

۹۵۹: اسحاق بن منصور. عبدالرزاق. معمر. هشام. حضرت ابوهريرهؓ نه روايت كوي، رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم اوفرمائيل اللّٰه تعالٰي فرمائي، زۀ ابن اٰدم دروغجن كړم حالانكه هغۀ دَ پاره دا مناسب نه وو. او ماته ئے كنځل اوكړل، حالانكه هغۀ دَ پاره دا مناسب نۀ وو. او دَ هغۀ څما دروغجن كول څو، دَ هغه دا وينا وه، چه زه به هغه دوباره نه ژوندے كوم، څرنګ چه ما په ورمبني ځل پيدا كړلو، او ماته دَ هغۀ كنځل كول دا دي، چه اللّٰه تعالٰي څوے جوړ كړے دے. حالانكه زۀ بے نيازه بادشاه يم نۀ

أَوْلَدُ وَلَمْ يَكُنْ لِيْ كُفُوًا اَحَدٌ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُوْلَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا اَحَدٌ كُفُوًا وَ كَفِيْئًا وَ كِفَاءٌ وَاحِدٌ.

مالـه څوک پيدا دے او نـه زهٔ چا نه پيدا يم' او نهٔ څما څوک همسر شته. (آيت) نهٔ هغهٔ نه څوک پيدا دے' او نـه هغه چا نـه پيدا دے' او نهٔ د هغهٔ څوک برابر شته. "كفوًا" كفيئًا" "كفاء" يو معني دي.

# قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ

# دَ سورهٔ قل اعوذ بربّ الفلق تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ قَالَ مُجَاهِدٌ غَاسِقُ اللَّيْلِ اِذَا وَقَبَ غُرُوْبُ الشَّمْسِ يُقَالُ اَبْيَنُ مِنْ فَرَقِ الصُّبْحِ وَ فَلَقِ الصُّبْحِ وَقَبَ اِذَا دَخَلَ فِيْ كُلِّ شَيْءٍ وَّ اَظْلَمَ.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

مجاهد اووے "غاسق" نه مراد شپه ده. "اِذا وقب" مراد دَ نمر غروب كيدل دي. "ابين من فرق و فلق الصُّبحِ" (دَ سحر دَ نمودار كيدو نه زيات واضحه دے) دَ فرق او فلق يو معني دي "وقب" هر كله چه هر څيز كښې داخل شو' او تاريكي خوره شوه.

٩٦٠ : حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيْدٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَاصِمٍ وَّ عَبْدَةَ عَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ قَالَ سَأَلْتُ اُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ عَنِ الْمُعَوِّذَتَيْنِ فَقَالَ سَأَلْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ قِيْلَ لِيْ فَقُلْتُ فَنَحْنُ نَقُوْلُ كَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

٩٦٠ : قتيبه بن سعيد. سفيان. عاصم او عبده. زر بن جبيش نه روايت كوي' دَ هغهٔ بيان دے' ما دَ حضرت ابي بن كعبؓ نه معوذتين باره كښې تپوس اوكړو' نو هغهٔ اووے ماته ښودلے شوے دي' چه (دا دَ قرآن نه دي) زهٔ هم دغسې وايم' نو مونږ هم هغه وايو' څهٔ چه رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم فرمائيلي دي.

# قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ

# دَ سورهٔ قل اعوذ بربّ النّاس تفسير

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَ يُذْكَرُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ الْوَسْوَاسُ اِذَا وُلِدَ خَنَسَهُ الشَّيْطَانُ فَاِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ عَزَّ وَ جَلَّ ذَهَبَ وَ اِذَا لَمْ يُذْكَرِ اللّٰهُ ثَبَتَ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

او ابن عباسؓ نه دَ "وسواس" په تفسير كښې منقول دي' چه بچے پيدا كيږي' نو شيطان هغه مَس كوي' كه دَ اللّٰه تعالي ذكر كيږي' نو شيطان تښتي' اوكه دَ اللّٰه ذكر نهٔ

عَلٰى قَلْبِهٖ.

كېږي، نو د هغهٔ په زړه کلک شي.

۱۶۹: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ أَبِيْ لُبَابَةَ عَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ وَ حَدَّثَنَا عَاصِمٌ عَنْ زِرٍّ قَالَ سَأَلْتُ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ قُلْتُ يَا أَبَا الْمُنْذِرِ إِنَّ أَخَاكَ ابْنَ مَسْعُوْدٍ يَقُوْلُ كَذَا وَ كَذَا فَقَالَ أُبَيٌّ سَأَلْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لِيْ قِيْلَ لِيْ فَقُلْتُ قَالَ فَنَحْنُ نَقُوْلُ كَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

۱۶۹: علي بن عبدالله. سفیان. عبده بن لبابه. زر بن جبیش نه او عاصم زر نه روایت کوي، د هغهٔ بیان دے. ما ابي بن کعب ته اُووے چه اے ابوالمنذر، ستاسو وررور ابن مسعود داسے داسے وائي (یعني دا چه معوذتین د قرآن نه نهٔ دي) نو اُبي اووے، ما رسول الله صلي الله علیه وسلّم نه تپوس کړے وو، نو حضور صلي الله علیه وسلّم ماته اوفرمائیل، ماته وئیلے شوے دي (چه دا د قرآن نه دي) نو زهٔ هم هغه وایم. ابي اووے. او مونږ هم دغسے وایو، کوم چه رسول الله صلي الله علیه وسلّم فرمائیلي دي[۱].

۱. ابن مسعود رضي الله عنه طرفته دا خبره منسوب کېږي چه هغوئ فرمائیل چه "معوّذتین" د قرآن نه ندي بلکه د هغوئ دا خیال وو چه دا آیتونه د وقتي ضرورت د پاره نازل شوي وو څنګه چه أعوذُ بالله ده. دے د پاره دا په قرآن کښے داخلول صحیح نه دي. هغوئ به وئیل چه پخپله د معوذتینو ابتداء دَ قُلْ نه شوے ده (یعنې ته اووایه) ددے نه معلومېږي چه د نورو دعاګانو پشان ددے هم هغوئ ته تعلیم ورکړے شوے وو.

ډیرو عالمانو ابن مسعود رضي الله عنه طرفته ددے قول نسبت دَ سره غلط ګرځولے دے او ددے سند ئې کمزورے وئیلے دے. نوويؒ خو تردے پورے لیکلي دي چه د ټولو مسلمانانو په دے باندے اتفاق دے چه معوّذتین او سورت فاتحه د قرآن مجید جز دي. که چرے د اُمت ددے اجماع نه خلاف څوک دا نهٔ مني او په دے کښے د یو سورت نه هم انکار کوي نو دا کفر دے. هغوئ دا هم لیکلي دي چه ابن مسعود رضي الله عنه طرفته ددے قول نسبت باطل او بے بنیاد دے. ابن حزم هم دا خبره په ابن مسعود رضي الله عنه باندے یو تهمت ګرځولے دے.

عالمانو په تفصیل سره د ابن مسعود رضي الله عنه قرات نقل کړے دے، د هغوئ ټولو شاګردانو څوک چه د قرآن د قرات امامان دي او د هغوئ نه قرات نقل کوي هغوئ ټول معوذتین د قرآن جز مني، ابن مسعود رضي الله عنه به هر کال په مسجد نبوي کښے تراویح ورکولے. ظاهره ده چه هغوئ به معوذتین هم لوستل، لیکن د ابن مسعود رضي الله عنه نه په هیڅ موقعه کښے دا ثابته نه ده چه هغوئ ددے د قرآن والي نه انکار کړے وي، په دے وجه ابن مسعود رضي الله عنه طرفته ددے قول نسبت قطعاً لغوه او بے بنیاده دے. په کوم سند سره چه دا قول نقل کړے شوے دے د هغے بعضے راویان محدثینو کمزوري لیکلي دي. ددے نه هم قطع نظر د ټول اُمت په دے باندے اتفاق دے چه معوذتین هم د قرآن جز دي. ابن مسعود رضي

اللّٰه عنه طرفته که چرې د انکار نسبت صحیح هم اومنلې شي نو د کومو روایتونو نه چه دا ثابتیږي په هغې کښې دا چرته نشته چه ابن مسعود رضي الله عنه ددې د وحي الٰهي او تالیف سماوي نه انکار کړې وي، صرف دومره خبره معلومیږي چه د هغوئ په نزد معوذتین د قرآن مجید نه ممتاز او بو بیل څیز دې . بالکل همدا صورت د احنافو او بعضو نورو امامانو په نزد د بسم الله ځوندې دې چه وحي منزل خو دا د ټولو په نزد ده، صرف د احنافو په نزد ددې هغه حکم نه دې کوم چه د قرآن مجید د نورو ټولو سورتونو دې . یعني احناف دا مني چه بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ هم د قرآن مجید یو آیت دې لیکن ددې باوجود یو حیثیت سره دا خارجه هم ګڼړي او د قرآن مجید نورو ټولو سورتونو او په دې کښې په بعضو احکامو کښې فرق کوي. مثلاً دا چه په جهري مونځونو کښې د احنافو په نزد بسم الله جهر سره لوستل نه دي پکار. همدا قسمه رائې به (که چرې دغه نسبت صحیح اومنلې شي) د ابن مسعود رضي الله عنه د معوذتینو په باره کښې وي.

# فَضَائِلُ الۡقُرۡاٰنِ

# (دَ قراٰن دَ فضائلو بیان)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

**بـــاب ۱۲۶۱: كَيۡفَ نُـزُوۡلُ الۡـوَحۡيِ وَ اَوَّلُ مَا نَزَلَ قَالَ ابۡنُ عَبَّاسٍ الۡـمُهَيۡمِنُ الۡاَمِيۡنُ الۡقُرۡاٰنُ اَمِيۡنٌ عَلٰى كُلِّ كِتَابٍ قَبۡلَهٗ.**

**باب ۱۲۶۱:** دَ وحي دَ نازلیدو کیفیت او دَ ټولو نه مخکښې څهٔ نازل شولو. ابن عباسؓ اووې "مهیمن" معني آمین ده، یعني قرآن دَ ځان نه دَ مخکښې کتابونو حفاظت کونکې دې.

**۹۶۲ :** حَـدَّثَـنَـا عُبَيۡدُ اللّٰهِ بۡنُ مُـوۡسٰى عَـنۡ شَيۡبَانَ عَنۡ يَحۡيٰى عَنۡ اَبِـیۡ سَلَـمَةَ قَـالَ اَخۡبَـرَتۡنِیۡ عَـآئِشَةُ وَابۡـنُ عَبَّـاسٍؓ قَـالَا لَبِثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰـهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ عَشۡرَ سِنِيۡنَ يُنۡزَلُ عَلَيۡهِ الۡقُرۡاٰنُ وَ بِالۡمَدِيۡنَةِ عَشۡرًا.

**۹۶۲ :** عبداللّٰه بن موسٰي. شیبان. یحیٰي. ابو سلمه. بي بي عائشېؓ او حضرت ابن عباسؓ نه روایت کوي، ددې دواړو بیان دې، حضور صلي الله علیه وسلّم مکه کښې لس کاله او مدینه کښې لس کاله پاتې شو، داسې حال کښې چه په حضور صلي الله علیه وسلّم قرآن نازلیدو.

**۹۶۳ :** حَـدَّثَـنَـا مُـوۡسَى بۡـنُ اِسۡمٰعِيۡلَ حَـدَّثَنَا مُعۡتَمِرٌ قَالَ سَمِعۡتُ اَبِـیۡ عَـنۡ اَبِـیۡ عُثۡمَانَؓ قَالَ اُنۡبِئۡتُ اَنَّ جِبۡـرِيۡلَ اَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ وَ عِـنۡـدَهٗ اُمُّ سَلَـمَةَؓ فَجَعَلَ

**۹۶۳ :** موسٰي بن اسمٰعیل. معتمر. دَ معتمر پلار. ابو عثمان نه روایت کوي، دَ هغهٔ بیان دې زهٔ خبر کړې شوم، چه جبرائیلؑ دَ نبي صلي الله علیه وسلّم خدمت کښې حاضر شو، دغه وخت حضورؐ سره اُم سلمهؓ هم وه، هغوي خبرې کولې. نبي صلي الله علیه وسلّم اُم سلمهؓ ته

يَتَحَدَّثُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِاُمِّ سَلَمَةَ مَنْ هٰذَا اَوْ كَمَا قَالَ قَالَتْ هٰذَا دِحْيَةُ فَلَمَّا قَامَ قَالَتْ وَاللّٰهِ مَا حَسِبْتُهُ اِلَّا اِيَّاهُ حَتّٰى سَمِعْتُ خُطْبَةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخْبِرُ خَبَرَ جِبْرِيْلَ اَوْ كَمَا قَالَ قَالَ اَبِيْ قُلْتُ لِاَبِيْ عُثْمَانَ مِمَّنْ سَمِعْتَ هٰذَا قَالَ مِنْ اُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ.

اوفرمائيل دا څوک دے. يا دغه شان حضورؐ څه اوفرمائيل اُمّ سلمهؓ اووے، دا دِحيهؓ دے. كوم وخت چه جبرئيل عليه السلام پاسيدلو، نو اُم سلمهؓ اووے څما په خيال دا دِحيهؓ دے، حتى چه ما دَ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم خطبه واوريده، چه حضورؐ دَ جبرئيلؑ خبر ور كوي، يا دغسے حضورؐ څه اوفرمائيل دَ معتمر بيان دے؛ څما پلار اووے. ما دَ ابو عثمان نه تپوس اوكړ، چه تا دا حديث دَ چا نه آوريدلے دے، نو هغهٔ اووے، دَ اسامه بن زيد نه.

۹۶۴ : حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ ابْنُ يُوْسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ حَدَّثَنَا سَعِيْدُ الْمَقْبُرِيُّ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنَ الْاَنْبِيَآءِ نَبِيٌّ اِلَّا اُعْطِيَ مَا مِثْلُهُ اٰمَنَ عَلَيْهِ الْبَشَرُ وَ اِنَّمَا كَانَ الَّذِيْ اُوْتِيْتُ وَحْيًا اَوْحَاهُ اللّٰهُ اِلَيَّ فَارْجُوْ اَنْ اَكُوْنَ اَكْثَرَهُمْ تَابِعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ.

۹۶۴ : عبداللّٰه بن يوسف. ليث. سعيد مقبري دَ خپل پلار نه، هغه دَ حضرت ابوهريرهؓ نه روايت كوي، دَ هغهٔ بيان دے، حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم فرمائيلے دي، هر نبي ته دَ هغه مثل (معجزات) وركړے شوے دي، څومره خلقو چه په هغهٔ ايمان راوړلو، او ماته قرآن راكړے شوے دے، هغه وحي ده، چه اللّٰه تعالٰي ماته راليږلے ده. په دے وجه زهٔ اُميد كوم، چه دَ قيامت په ورځ به څما پيروي كونكي دَ ټولونه زيات وي.

۹۶۵ : حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ مُحَمَّدٍ حَدَّثَنَا يَعْقُوْبُ بْنُ اِبْرٰهِيْمَ حَدَّثَنَا اَبِيْ عَنْ صَالِحِ بْنِ كَيْسَانَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ اَنَسُ بْنُ مَالِكٍ اَنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى تَابَعَ عَلٰى رَسُوْلِهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ وَفَاتِهِ حَتّٰى تَوَفَّاهُ اَكْثَرَ مَا كَانَ الْوَحْيُ ثُمَّ تُوُفِّيَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

۹۶۵ : عمر بن محمد. يعقوب بن ابراهيم. صالح بن كيسان. ابن شهاب. حضرت انس بن مالكؓ نه روايت كوي، دَ هغهٔ بيان دے اللّٰه تعالٰي په خپل رسول صلي اللّٰه عليه وسلّم دَ وفات نه مخكښې متواتر وحي اوليږلے تر دے چه دَ حضورؐ آخري عمر كښې دَ مخكښې دَ اعتبار نه وحي كثرت سره راتلے. بيا دے نه پس رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم وفات

وَسَلَّمَ بَعْدُ.

شو.

۹۶۶: حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ سَمِعْتُ جُنْدُبًا يَقُوْلُ اشْتَكَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَقُمْ لَيْلَةً أَوْ لَيْلَتَيْنِ فَأَتَتْهُ امْرَأَةٌ فَقَالَتْ يَا مُحَمَّدُ مَا أُرٰى شَيْطَانَكَ إِلَّا قَدْ تَرَكَكَ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَ جَلَّ وَالضُّحٰى وَاللَّيْلِ إِذَا سَجٰى مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى.

۹۶۶: ابو نعیم. سفیان. اسود بن قیس نه روایت کوي، ذ هغه بیان دے، ما ذ جندب نه واوریدل نبي صلي اللّٰه علیه وسلّم ناروغه شو، نو یوه یا دوه شپے حضور صلي اللّٰه علیه وسلّم تهجد ذ پاره اونه دریدے شو. یوه ښځه ذ حضورؐ خدمت کښې حاضره شوه. او، وئیلے، اے محمد (صلي اللّٰه علیه وسلّم) زهٔ وینم، چه ستا شیطان تهٔ پریښے ئے، نو اللّٰه تعالٰي آیت: والضحٰی واللّیل اذا سجٰی ما ودّعک وما قلٰی: نازل کړلو.

بَابٌ ۴۶۲: نَزَلَ الْقُرْآنُ بِلِسَانِ قُرَيْشٍ وَالْعَرَبِ قُرْآنًا عَرَبِيًّا بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُبِيْنٍ.

باب ۴۶۲: قرآن ذ قریشو او عربو په ژبه کښې نازل شو. "قرآنًا عَرَبِيًّا" نه مراد دا دے، چه قرآن واضحه عربي ژبه کښې نازل شوے دے.

۹۶۷: حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ حَدَّثَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ وَ أَخْبَرَنِيْ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ فَأَمَرَ عُثْمَانُ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ وَ سَعِيْدَ بْنَ الْعَاصِ وَ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ الزُّبَيْرِ وَ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ أَنْ يَّنْسَخُوْهَا فِي الْمَصَاحِفِ وَ قَالَ لَهُمْ إِذَا اخْتَلَفْتُمْ أَنْتُمْ وَ زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ فِيْ عَرَبِيَّةٍ الْقُرْآنِ فَاكْتُبُوْهَا بِلِسَانِ قُرَيْشٍ فَإِنَّ الْقُرْآنَ أُنْزِلَ بِلِسَانِهِمْ فَفَعَلُوْا.

۹۶۷: ابوالیمان. شعیب. زهري. حضرت انس بن مالکؓ نه روایت کوي، حضرت عثمانؓ. زید بن ثابت او سعید بن عاصؓ او عبداللّٰه بن زبیرؓ او عبدالرحمٰن بن حارث بن هشامؓ ته حکم اوکهٔ، چه قرآن مصاحف کښې اولیکي، او هغوي ته ئے اووے، هر کله چه ستاسو او ذ زید بن ثابت مینځ کښې ذ قرآن عربیت کښې اختلاف راشي، نو هغه ذ قریشو ژبه کښې لیکئے. ځکه چه قرآن ذ دوي په محاوره کښې نازل شوے دے. نو هغے خلقو دغسے اوکړل.

۹۶۸: حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ حَدَّثَنَا عَطَاءٌ وَّ قَالَ مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيٰى عَنِ

۹۶۸: ابو نعیم. همام. عطاء. (دویم سند) مسدد. یحیٰي. ابن جریج. عطاء. صفوان بن یعلي بن امیه نه روایت کوي، یعلٰي به وئیلے کاش چه ما هغه وخت

ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ أَخْبَرَنِيْ عَطَاءٌ قَالَ أَخْبَرَنِيْ صَفْوَانُ بْنُ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ أَنَّ يَعْلَى كَانَ يَقُوْلُ لِعُمَرَ أَرِنِيْ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ يَنْزِلُ عَلَيْهِ الْوَحْيُ فَلَمَّا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ بِالْجِعِرَّانَةِ عَلَيْهِ ثَوْبٌ قَدْ أُظِلَّ عَلَيْهِ وَ مَعَهُ نَاسٌ مِّنْ أَصْحَابِهِ إِذْ جَاءَهُ رَجُلٌ مُّتَضَمِّخٌ بِطِيْبٍ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ كَيْفَ تَرَى فِيْ رَجُلٍ أَحْرَمَ فِيْ جُبَّةٍ بَعْدَ مَا تَضَمَّخَ بِطِيْبٍ فَنَظَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاعَةً فَجَاءَهُ الْوَحْيُ فَأَشَارَ عُمَرُ إِلَى يَعْلَى أَنْ تَعَالَ فَجَاءَ يَعْلَى فَأَدْخَلَ رَأْسَهُ فَإِذَا هُوَ مُحْمَرُّ الْوَجْهِ يَغِطُّ كَذٰلِكَ سَاعَةً ثُمَّ سُرِّيَ عَنْهُ فَقَالَ أَيْنَ الَّذِيْ يَسْأَلُنِيْ عَنِ الْعُمْرَةِ آنِفًا فَالْتُمِسَ الرَّجُلُ فَجِيْءَ بِهِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَمَّا الطِّيْبُ الَّذِيْ بِكَ فَاغْسِلْهُ ثَلٰثَ مَرَّاتٍ وَ أَمَّا الْجُبَّةُ فَانْزِعْهَا ثُمَّ اصْنَعْ فِيْ عُمْرَتِكَ كَمَا تَصْنَعُ فِيْ حَجِّكَ.

رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم اولېدلے کوم وخت چه پرے وحي نازلېږي. رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم مقام جعرانه کښې وو. يوه کپړه په حضورؐ پرته وه' چه په حضورؐ لے سورے کړے وو. او حضورؐ سره صحابهؓ هم وو' دے کښې يو سړے دَ حضورؐ په خدمت کښې حاضر شو' چه خوشبوئي لړے ختله. هغهٔ عرض اوکهٔ' يا رسول اللّٰه' دَ هغے سړي باره کښې تاسو څهٔ فرمائے چه هغه جُبّه کښې دَ حج احرام تړلے وي' او هغهٔ نه خوشبوئي خېژي' نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم لږ ساعت انتظار اوکړلو' نو حضورؐ بالدے وحي راغلے' حضرت عمرؓ يعلیٰ طرف ته اشاره اوکړه' چه دلته راشه يعلیٰ راغے' او خپل سر لے دننه داخل کهٔ (نو وے ليدل چه) هغه وخت دَ حضورؐ مخ مبارک سُر (سرخ) وو. او دَ خَرِ خَرِ' آواز ترے راختلو (لکه خوب کښې چه سړے خَرا کوي) لږ ساعت دَ حضورؐ دغه حالت وو. بيا دغه کيفيت دَ حضورؐ نه لرے شو. نو حضورؐ اوفرمائيل' هغه سړے چرته دے' چه اوس نے دَ عمرے متعلق تپوس کولو. يو سړي دَ هغه تلاش اوکړلو' او دَ نبي صلي اللّٰه عليه وسلّم خدمت کښې حاضر کړے شو. حضورؐ ورته اوفرمائيل' کومه خوشبوئي چه تا پورے ده' هغه درے خله اووينځه. او جُبّه کوزه کړه. بيا عمره کښې هغه اعمال اوکړه' کوم چه حج کښې کوے.

## باب ۴۶۳: جَمْعِ الْقُرْاٰنِ.

## باب ۴۶۳: دَ قرآن دَ جمع کولو بيان.

۹۶۹: حَدَّثَنَا مُوْسَى بْنُ إِسْمٰعِيْلَ عَنْ إِبْرَاهِيْمَ بْنِ سَعْدٍ حَدَّثَنَا ابْنُ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ بْنِ السَّبَّاقِ أَنَّ

۹۶۹: موسٰي بن اسمٰعيل. ابراهيم بن سعد. ابن شهاب. عبيد بن سباق. حضرت زيد بن ثابت نه روايت کوي' دَ هغه بيان دے' دَ يمامه دَ

زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍؓ قَالَ اَرْسَلَ اِلَيَّ اَبُوْ بَكْرٍ مَقْتَلَ اَهْلِ الْيَمَامَةِ فَاِذَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ عِنْدَهٗ قَالَ اَبُوْ بَكْرٍ اِنَّ عُمَرَؓ اَتَانِيْ فَقَالَ اِنَّ الْقَتْلَ قَدِ اسْتَحَرَّ يَوْمَ الْيَمَامَةِ بِقُرَّاءِ وَ اِنِّيْ اَخْشٰى اَنْ يَّسْتَحِرَّ بِالْقُرَّاءِ بِالْمَوَاطِنِ فَيَذْهَبُ كَثِيْرٌ مِّنَ الْقُرْاٰنِ وَ اِنِّيْ اَرٰى اَنْ تَاْمُرَ بِجَمْعِ الْقُرْاٰنِ قُلْتُ لِعُمَرَ كَيْفَ تَفْعَلُ شَيْئًا لَّمْ يَفْعَلْهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عُمَرُ هٰذَا وَاللّٰهِ خَيْرٌ فَلَمْ يَزَلْ عُمَرُؓ يُرَاجِعُنِيْ حَتّٰى شَرَحَ اللّٰهُ صَدْرِيْ لِذٰلِكَ وَ رَاَيْتُ فِيْ ذٰلِكَ الَّذِيْ رَاٰى عُمَرُؓ قَالَ زَيْدٌ قَالَ اَبُوْ بَكْرٍ اِنَّكَ رَجُلٌ شَابٌّ عَاقِلٌ لَّا نَتَّهِمُكَ وَقَدْ كُنْتَ تَكْتُبُ الْوَحْيَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَتَبَّعِ الْقُرْاٰنَ فَاجْمَعْهُ فَوَاللّٰهِ لَوْ كَلَّفُوْنِيْ نَقْلَ جَبَلٍ مِّنَ الْجِبَالِ مَا كَانَ اَثْقَلَ عَلَيَّ مِمَّا اَمَرَنِيْ بِهٖ مِنْ جَمْعِ الْقُرْاٰنِ قُلْتُ كَيْفَ تَفْعَلُوْنَ شَيْئًا لَّمْ يَفْعَلْهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ هُوَ وَاللّٰهِ خَيْرٌ فَلَمْ يَزَلْ اَبُوْ بَكْرٍ يُرَاجِعُنِيْ حَتّٰى شَرَحَ اللّٰهُ صَدْرِيْ لِلَّذِيْ شَرَحَ لَهٗ صَدْرَ اَبِيْ بَكْرٍ وَّ عُمَرَ فَتَتَبَّعْتُ الْقُرْاٰنَ اَجْمَعُهٗ مِنَ الْعُسُبِ وَاللِّخَافِ وَ صُدُوْرِ الرِّجَالِ حَتّٰى

خونړیزۍ زمانه کښې زهٔ حضرت ابوبکرؓ راوغوښتلم هغه وخت حضرت عمرؓ هم ورسره ناست وو حضرت ابوبکر اووې، حضرت عمر ماله راغے، او وئیلے، جنګ یمامه کښې ډیر قرآن خوانان شهیدان شو. او ما سره ویره ده، چه نورو ډیرو جنګونو کښې به هم قاریان اووژلے شي دَ حضرت ابوبکرؓ بیان دے. ما حضرت عمرؓ ته اووې تهٔ هغه کار څنګه کوې، کوم چه رسول الله صلي الله علیه وسلّم نهٔ دے کړے. حضرت عمرؓ اووې قسم په خدائے دا کار ډیر بهتر دے، او عمرؓ ماته بار بار اصرار کولو، تر دے چه الله تعالیٰ دے کار دَ پاره څما سینه پرانسته. او ما هم دَ دے کار مناسب خیال اوکړ، څنګه چه دَ عمرؓ خیال وو. دَ زید بیان دے. حضرت ابوبکر ماته اووې، تهٔ یو ځلمے سړے ئې، مونږ تا متهم کولے هم نهٔ شو. او تا به رسول الله صلي الله علیه وسلّم دَ پاره وحي لیکله، نو قرآن تلاش کړه او راجمع ئې کړه. په خدائے مِ دے قسم وي، که ماته ئې دَ یو غر دَ اوچتولو تکلیف راکړے وے، نو دَ قرآن دَ جمع کولو مقابله کښې به ماته زیات وزني نهٔ وے. ما اووې، هغه کار تاسو څنګه کوئې، کوم چه رسول الله صلي الله علیه وسلّم نهٔ دے کړے. حضرت ابوبکرؓ اووې، قسم په خدائے دا خیر دے. او بار بار اصرار سره ئې ماته وئیلے، تر دے چه دے کار دَ پاره الله تعالیٰ څما سینه پرانسته کوم دَ پاره چه دَ حضرت ابوبکرؓ او حضرت عمرؓ سینے پرانستے شوے وے. نو ما قرآن دَ قجورو دَ پڼو او دَ کاڼرو دَ ټکړو او دَ خلقو دَ سینو (حافظے) نه تلاش کهٔ، او جمع کول مِ شروع کړل، تر دے چه دَ سورت توبه

وَجَدْتُ اٰخِرَ سُوْرَةِ التَّوْبَةِ مَعَ اَبِیْ خُزَیْمَةَ الْاَنْصَارِیِّ لَمْ اَجِدْهَا مَعَ اَحَدٍ غَیْرِهٖ لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ عَزِیْزٌ عَلَیْهِ مَا عَنِتُّمْ حَتّٰی خَاتِمَةِ بَرَآءَةٍ فَكَانَتِ الصُّحُفُ عِنْدَ اَبِیْ بَكْرٍ حَتّٰی تَوَفَّاهُ اللّٰهُ ثُمَّ عِنْدَ عُمَرَ حَیَاتَهٗ ثُمَّ عِنْدَ حَفْصَةَ بِنْتِ عُمَرَ.

آخري آيت ما ابو خزيمه انصاري سره بيا موند چه بل هيڅ چرته مې بيا نه موند او هغه آيت دا وو: لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ عَزِيْزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ، سورة براءت (توبه) آخر پورې دغه صحيفې ابوبكرؓ سره وې تر څو چې الله تعالىٰ هغه واخستو (يعني وفات شو) بيا د حضرت عمرؓ ژوند كښې هغه سره وې بيا بي بي حفصې بنت حضرت عمرؓ (يعني د نبي صلى الله عليه وسلم بي بي) [illegible] سره وې.

٩٧٠: حَدَّثَنَا مُوْسٰی حَدَّثَنَا اِبْرٰهِیْمُ حَدَّثَنَا ابْنُ شِهَابٍ اَنَّ اَنَسَ بْنَ مَالِكٍ حَدَّثَهٗ اَنَّ حُذَیْفَةَ بْنَ الْیَمَانِ قَدِمَ عَلٰی عُثْمَانَ وَكَانَ یُغَازِیْ اَهْلَ الشَّامِ فِیْ فَتْحِ اَرْمِیْنِیَّةَ وَالْاَذْرَبِیْجَانَ مَعَ اَهْلِ الْعِرَاقِ فَاَفْزَعَ حُذَیْفَةَ اخْتِلَافُهُمْ فِی الْقِرَآءَةِ فَقَالَ حُذَیْفَةُ لِعُثْمَانَ یَا اَمِیْرَ الْمُؤْمِنِیْنَ اَدْرِكْ هٰذِهِ الْاُمَّةَ قَبْلَ اَنْ یَّخْتَلِفُوْا فِی الْكِتَابِ اخْتِلَافَ الْیَهُوْدِ وَالنَّصَارٰی فَاَرْسَلَ عُثْمَانُ اِلٰی حَفْصَةَ اَنْ اَرْسِلِیْ اِلَیْنَا بِالصُّحُفِ نَنْسَخُهَا فِی الْمَصَاحِفِ ثُمَّ نَرُدُّهَا اِلَیْكِ فَاَرْسَلَتْ بِهَا حَفْصَةُ اِلٰی عُثْمَانَ فَاَمَرَ زَیْدَ بْنَ ثَابِتٍ وَعَبْدَ اللّٰهِ بْنَ الزُّبَیْرِ وَسَعِیْدَ بْنَ الْعَاصِ وَعَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ فَنَسَخُوْهَا فِی الْمَصَاحِفِ وَقَالَ عُثْمَانُ لِلرَّهْطِ الْقُرَشِیِّیْنَ الثَّلٰثَةِ اِذَا اخْتَلَفْتُمْ اَنْتُمْ

٩٧٠: موسىٰ، ابراهيم، ابن شهاب، حضرت انس بن مالكؓ نه روايت كوي چه حضرت حذيفه بن يمانؓ حضرت عثمانؓ له وراغے هغه ورځ هغه اهل شام و عراق سره جهاد كړے وو او د آرمينيا او آذربائيجان د فتح په حقله ئې جنګ كولو قرأت كښې د اهل عراق او شام اختلاف حضرت حذيفه ئې آرامه كړلو نو حضرت حذيفهؓ حضرت عثمانؓ ته اووئيل اے امير المؤمنينه! ددې امت خبر واخله مخكښې ددې نه چه هغوی د يهود او نصارىٰ په شان كتاب كښې اختلاف اوكړي. حضرت عثمانؓ بي بي حفصېؓ له خبر اوكړو چه ته هغه صحيفې ماته راوليږه، مونږ به دا مُصحفونو كښې نقل كړو او بيا به ئې تاته واپس كړو بي بي حفصې هغه صحيفې حضرت عثمانؓ ته اوليږلې. حضرت عثمانؓ حضرت زيد بن ثابتؓ، عبدالله بن زبيرؓ، سعيد بن عاص، عبدالرحمٰن بن حارث بن هشام ته حكم اوكړو، هغوی هغه مصاحفو كښې نقل كړل او حضرت عثمانؓ هغه درې واړو قريشو ته اووې، هر كله چه ستاسو او د زيد بن ثابت مينځ كښې د قرآن قرأت كښې څه اختلاف راشي نو هغه قريشي ژبه

وَ زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ فِيْ شَيْءٍ مِّنَ الْقُرْاٰنِ فَاكْتُبُوْهُ بِلِسَانِ قُرَيْشٍ فَاِنَّمَا نَزَلَ بِلِسَانِهِمْ فَفَعَلُوْا حَتّٰى اِذَا نَسَخُوا الصُّحُفَ فِي الْمَصَاحِفِ رَدَّ الصُّحُفَ اِلٰى حَفْصَةَ وَ اَرْسَلَ اِلٰى كُلِّ اُفُقٍ بِمُصْحَفٍ مِمَّا نَسَخُوْا وَ اَمَرَ بِمَا سِوَاهُ مِنَ الْقُرْاٰنِ فِيْ كُلِّ صَحِيْفَةٍ اَوْ مُصْحَفٍ اَنْ يُّحْرَقَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَ اَخْبَرَنِيْ خَارِجَةُ بْنُ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍؓ سَمِعَ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ قَالَ فَقَدْتُ اٰيَةً مِّنَ الْاَحْزَابِ حِيْنَ نَسَخْنَا الْمُصْحَفَ قَدْ كُنْتُ اَسْمَعُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ بِهَا فَالْتَمَسْنَاهَا فَوَجَدْنَاهَا مَعَ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ الْاَنْصَارِيِّ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا اللّٰهَ عَلَيْهِ فَاَلْحَقْنَا فِيْ سُوْرَتِهَا فِي الْمُصْحَفِ.

کښې اولیکئے' ځکه چه قرآن ذ هغوي ژبه کښې نازل شوے دے. هغوي هم دغسے او کړل' تر دے چه هغه صحیفے ئے مصاحِفو کښې نقل کړلے. نو حضرت عثمانؓ هغه صحیفے بي بي حفصے ته واپس اولیږلے. او نقل شوے مصاحِفو کښې ئے یو یو ټولو علاقوته اولیږلو. او حکم ئے اوکړلو چه ذ دے نه سِوا کوم قرآن صحیفه یا مصحف کښې دے هغه دے اوسوزولے شي. ذ ابن شهاب بیان دے. ماته خارجه بن زید بن ثابتؓ ذ حضرت زید بن ثابتؓ قول بیان که' چه ما ذ مصاحفو نقل کولو په وخت ذ سورت احزاب یو آیت بیانهٔ مندلو' حالانکه ما ذ رسول اللّٰه صلي اللّٰه علیه وسلّم نه ذ دے آیت لوستل آوریدلے وو. مونږ دا آیت تلاش کهٔ' نو حضرت خزیمه بن ثابت انصاري سره مو بیامندلو (هغه آیت دادے): من المؤمنین رجال صدقوا ما عاهدوا اللّٰه علیه الخ (یعني ایماندارو نه سړي دي چه هغوي اللّٰه سره کړے وعده ریښتنے اونبودله) نو مونږ دا آیت خپل سورت کښې داخل کړلو.

بَابُ ۴۶۴: كَاتِبِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

باب ۴۶۴: ذ حضور صلي اللّٰه علیه وسلّم ذ ټولو نه ذ مشهور کاتب بیان.

۱۷۹: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يُوْنُسَ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ اَنَّ ابْنَ السَّبَّاقِ قَالَ اِنَّ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ قَالَ اَرْسَلَ اِلَيَّ اَبُوْ بَكْرٍ قَالَ اِنَّكَ كُنْتَ تَكْتُبُ الْوَحْيَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاتَّبِعِ الْقُرْاٰنَ فَتَتَبَّعْتُ حَتّٰى وَجَدْتُ اٰخِرَ سُوْرَةِ

۱۷۹: یحیي بن بکیر. لیث. یونس. ابن شهاب. ابن سباق نه روایت کوي' ذ هغهٔ بیان دے حضرت زید بن ثابت اووے' زهٔ حضرت ابوبکرؓ راوغبنتلم' او وئیلے' چه تا رسول اللّٰه صلي اللّٰه علیه وسلّم ذ پاره وحي لیکله' نو قرآنؒ تلاش کړه' ما تلاش کړلو دے پورے چه ذ سورهٔ توبه دوه آخري آیتونه مِ ذ حضرت ابو خزیمه انصاري

التَّوْبَةِ أَيْتَيْنِ مَعَ أَبِي خُزَيْمَةَ الْأَنْصَارِيِّ لَمْ أَجِدْهُمَا مَعَ أَحَدٍ غَيْرِهِ لَقَدْ جَآءَ كُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ إِلَى آخِرِهِ.

سره بيا مندل' چه ذ هغه نه ما بوا بل هيڅچا سره نۀ وو (هغه دوه ايتونه دادي) لقد جاء كم رسول من انفسكم عزيز عليه ما عنتم آخر سورة براءة (توبه) رؤف رحيم پورے.

۴۷۲ : حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ مُوسٰى عَنْ إِسْرَآئِيلَ عَنْ أَبِي إِسْحٰقَ عَنِ الْبَرَآءِ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُجَاهِدُوْنَ فِي سَبِيْلِ اللهِ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ادْعُ لِيْ زَيْدًا وَلْيَجِيْءُ بِاللَّوْحِ وَالدَّوَاةِ وَالْكَتِفِ أَوِ الْكَتِفِ وَالدَّوَاةِ ثُمَّ قَالَ اكْتُبْ لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُوْنَ وَ خَلْفَ ظَهْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَمْرُو بْنُ أُمِّ مَكْتُوْمٍ الْأَعْمٰى قَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ فَمَا تَأْمُرُنِيْ فَإِنِّيْ رَجُلٌ ضَرِيْرُ الْبَصَرِ فَنَزَلَتْ مَكَانَهَا لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُجَاهِدُوْنَ فِي سَبِيْلِ اللهِ غَيْرُ أُوْلِي الضَّرَرِ.

۴۷۲ : عبيدالله بن موسٰي. اسرائيل. ابو اسحاق. حضرت براءؓ نه روايت کوي' ذ هغۀ بيان دے' کوم وخت چه دا آيت نازل شو: لا يستوى القاعدون من المومنين والمجاهدون فى سبيل الله: نو حضور صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل' ماته زيد (بن ثابت) راوغواړئ' نو هغۀ تختئ مشوانړے او ذ شانه هډوکي سره راغے (راوي ته شک دے) چه حضور صلي الله عليه وسلّم "الدواة والكتف" يا "الكتف والدواة" فرمائيلے وو. بيا حضورؐ اوفرمائيل' چه آيت: لا يستوى القاعدون الخ: اوليکه. هغه وخت ذ نبي صلي الله عليه وسلّم شاته عمرو بن ام مکتومؓ ناست وو' هغۀ عرض اوکۀ' يا رسول الله' خما متعلق تاسو څۀ فرمائے' زۀ خو نابينا يم' نو په دے خبره دا آيت دا شان نازل شو: لا يستوى القاعدون من المؤمنين فى سبيل الله غير اولى الضرر.

## بَاب ۴۶۵ : أُنْزِلَ الْقُرْاٰنُ عَلٰى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ.

## باب ۴۶۵ : قرآن شريف په اوو طريقو نازل شوے دے.

۴۷۳ : حَدَّثَنَا سَعِيْدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِيْ عُقَيْلٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ حَدَّثَنِيْ عُبَيْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ اللهِ أَنَّ ابْنَ

۴۷۳ : سعيد بن عفير. ليث. عقيل. ابن شهاب. عبيدالله بن عبدالله. حضرت ابن عباسؓ نه روايت کوي' ذ هغۀ بيان دے. رسول الله صلي الله عليه وسلّم اوفرمائيل'

عَبَّاسٍ حَدَّثَهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَقْرَاَنِيْ جِبْرِيْلُ عَلٰى حَرْفٍ فَرَاجَعْتُهُ فَلَمْ اَزَلْ اَسْتَزِيْدُهُ وَ يَزِيْدُنِيْ حَتّٰى انْتَهٰى اِلٰى سَبْعَةِ اَحْرُفٍ.

جبرائيل عليه السلام به ماته قرآن په يو طريقه ښودلو، او ما به وليلے چه څهٔ بله طريقه شته، نو ما دے پورے ذ هغهٔ نه ذ زياتے مطالبه كوله، چه نوبت اوو طريقو نه اورسيدلو.

۴۷۶ : حَدَّثَنَا سَعِيْدُ بْنُ عُفَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنِي اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِيْ عُقَيْلٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ حَدَّثَنِيْ عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ اَنَّ الْمِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ وَ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ عَبْدِ الْقَارِيَّ حَدَّثَاهُ اَنَّهُمَا سَمِعَا عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ يَقُوْلُ سَمِعْتُ هِشَامَ بْنَ حَكِيْمٍ يَقْرَاُ سُوْرَةَ الْفُرْقَانِ فِيْ حَيَاةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَمَعْتُ لِقِرَآءَتِهٖ فَاِذَا هُوَ يَقْرَاُ عَلٰى حُرُوْفٍ كَثِيْرَةٍ لَمْ يُقْرِئْنِيْهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكِدْتُ اُسَاوِرُهُ فِي الصَّلٰوةِ فَتَصَبَّرْتُ حَتّٰى سَلَّمَ فَلَبَّبْتُهُ بِرِدَآئِهٖ فَقُلْتُ مَنْ اَقْرَاَكَ هٰذِهِ السُّوْرَةَ الَّتِيْ سَمِعْتُكَ تَقْرَاُ قَالَ اَقْرَاَنِيْهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ كَذَبْتَ فَاِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ اَقْرَاَنِيْهَا عَلٰى غَيْرِ مَا قَرَاْتَ فَانْطَلَقْتُ بِهٖ اَقُوْدُهُ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ اِنِّيْ

۴۷۶ : سعيد بن عفير. ليث بن سعد. عقيل. ابن شهاب. عروه بن زبير. مسور بن مخرمه او عبدالرحمٰن بن عبدالقاري نه روايت كوي، ذ دے دواړو بيان دے، مونږ حضرت عمر بن خطابؓ نه واوريدل، چه ما هشام بن حكيم نه ذ حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم په ژوند كښ سورة فرقان لوستل واوريدل، ما چه ذ هغهٔ قرأت واوريدلو، نو او م ليدل، چه هغه ئے په څهٔ بله طريقه وائي ذ هغے نه، چه رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم ماته ښودلے وهٔ، قريب وهٔ، چه ما په مانځه كښ په هغهٔ حمله كړے وے، ليكن ما صبر اوكهٔ، تردے چه هغهٔ سلام او كړخولو ما ذ هغهٔ څادر ذ هغهٔ په كردن كښ واچولو، او تپوس مې ترے اوكهٔ، تاته چا دا سورت ښودلے دے كوم چه ما درنه واوريدلو. هغهٔ اووے، ماته رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم ښودلے دے. ما ورته اووے چه ماته خو ئے په بله طريقه ښودلے دے. نو هغه ما په راښكلو ذ رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلّم خدمت كښ حاضر كړلو. او ما عرض اوكهٔ (يا رسول اللّٰه) ما دهٔ نه سورت فرقان

سَمِعْتُ هٰذَا يَقْرَأُ بِسُوْرَةِ الْفُرْقَانِ عَلٰى عَلٰى حُرُوْفٍ لَمْ تُقْرِأْنِيْهَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْسِلْهُ اِقْرَأْ يَا هِشَامُ فَقَرَأَ عَلَيْهِ الْقِرَاءَةَ الَّتِيْ سَمِعْتُهُ يَقْرَأُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَذٰلِكَ اُنْزِلَتْ ثُمَّ قَالَ اِقْرَأْ يَا عُمَرُ فَقَرَأْتُ الْقِرَاءَةَ الَّتِيْ اَقْرَأَنِيْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَذٰلِكَ اُنْزِلَتْ اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ اُنْزِلَ عَلٰى سَبْعَةِ اَحْرُفٍ فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ.

په هغه طریقه لوستل واوریدل' چه تاسو ماته نه ده ښودلے. رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل دے پریږده. بیائے اوفرمائیل' اے هشامه وایه هشام په هغه طریقه لوستل شروع کړل' څنګه چه ترے ما آوریدلے وو' رسول الله صلي الله علیه وسلّم اوفرمائیل' چه داسے هم نازل شوے دے. بیائے اوفرمائیل اے عمرهٔ' ته اووایه' نو هغه قرات ما اوکړلو کوم چه رسول الله صلي الله علیه وسلّم ماته ښودلے وو' نو رسول الله صلي الله علیه وسلّم اوفرمائیل' چه داسے هم نازل شوے دے. بیشکه دا قرآن په اوو طریقو نازل شوے دے' نو کومه چه درته آسانه وي' په هغه طریقه ئے وایئے.

## باب ۴۶۶: تَالِيْفِ الْقُرْاٰنِ.

## باب ۴۶۶: دَ قرآن دَ ترتیب بیان.

۹۷۵: حَدَّثَنَا اِبْرَاهِيْمُ بْنُ مُوْسٰى اَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ يُوْسُفَ اَنَّ ابْنَ جُرَيْجٍ اَخْبَرَهُمْ قَالَ وَ اَخْبَرَنِيْ يُوْسُفُ بْنُ مَاهَكٍ قَالَ اِنِّيْ عِنْدَ عَائِشَةَ اُمِّ الْمُؤْمِنِيْنَؓ اِذْ جَاءَهَا عِرَاقِيٌّ فَقَالَ اَيُّ الْكَفَنِ خَيْرٌ قَالَتْ وَيْحَكَ وَمَا يَضُرُّكَ قَالَ يَا اُمَّ الْمُؤْمِنِيْنَ اَرِيْنِيْ مُصْحَفَكِ قَالَتْ لِمَ قَالَ لَعَلِّيْ اُوَلِّفُ الْقُرْاٰنَ عَلَيْهِ فَاِنَّهُ يُقْرَأُ غَيْرَ مُؤَلَّفٍ قَالَتْ وَمَا يَضُرُّكَ اَيَّهُ قَرَأْتَ قَبْلُ اِنَّمَا نَزَلَ اَوَّلَ مَا نَزَلَ مِنْهُ سُوْرَةٌ مِّنَ الْمُفَصَّلِ فِيْهَا ذِكْرُ

۹۷۵: ابراهیم بن موسٰي. هشام بن یوسف. ابن جریج. یوسف بن مالک نه روایت کوي' دَ هغهٔ بیان دے زهٔ اُم المؤمنین بي بي عائشےؓ سره ووم' یو عراقي راغے او تپوس ئے اوکهٔ' کوم کفن بهتر دے. هغے ورته اووے' په تا افسوس دے' تاته څهٔ څیز تکلیف درکوي هغهٔ اووے. اے اُمّ المؤمنین' ماته خپل مصحف لږ اوښائے. هغے تپوس اوکهٔ' ولے' هغهٔ اووے' په دے چه زهٔ قرآن دَ دے دَ ترتیب موافق کړم خکه چه بعضے خلق دَ دے دَ ترتیب خلاف لولي. هغے ورته اووے' هیڅ حرج نشته کوم آیت چه غواړے مخکښ ئے لوله' سورهٔ مفصل کښ دَ ټولو نه مخکښ هغه سورت نازل شوے دے' چه هغے کښ دَ جنت او جهنم ذکر دے' تردے چه کوم وخت خلق اسلام طرف ته مائل شو' نو دَ حلال او حرام آیتونه

الْجَنَّةِ وَالنَّارِ حَتَّى إِذَا ثَابَ النَّاسُ إِلَى الْإِسْلَامِ نَزَلَ الْحَلَالُ وَالْحَرَامُ وَلَوْ نَزَلَ أَوَّلَ شَيْءٍ لَا تَشْرَبُوا الْخَمْرَ لَقَالُوا لَا نَدَعُ الْخَمْرَ أَبَدًا وَلَوْ نَزَلَ لَا تَزْنُوا لَقَالُوا لَا نَدَعُ الزِّنَا أَبَدًا لَقَدْ نَزَلَ بِمَكَّةَ عَلَى مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِنِّي لَجَارِيَةٌ أَلْعَبُ بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ أَدْهَى وَأَمَرُّ وَمَا نَزَلَتْ سُورَةُ الْبَقَرَةِ وَالنِّسَاءِ إِلَّا وَأَنَا عِنْدَهُ قَالَ فَأَخْرَجَتْ لَهُ الْمُصْحَفَ فَأَمْلَتْ عَلَيْهِ آيَ السُّورَةِ.

نازل شول کله چه مخکښې دا آیت نازل شوې وې چه شراب مه څکئ نو خلقو به وئیلې چه مونږ هیڅ کله شراب نه پرېږدو او که دا آیت نازل شوې وې چه زنا مه کوئ نو خلقو به وئیلې چه مونږ هیڅ کله زنا نه پرېږدو او کوم وخت چه زه کم عمره بچۍ ووم او لوبې به مې کولې نو هغه زمانه کښې په حضور صلي الله علیه وسلّم په مکه کښې دا آیت نازل شولو: بل الساعة موعدهم والساعة ادهی و امرّ (چه سورة قمر کښې دې) او سورة بقره او سورة نساء هغه وخت نازل شو کله چه زه حضورﷺ سره موجوده ووم (یعني مدینه کښې) خیر ذ هغې نه پس بي بي عائشې‌رضي الله عنها مصحف را اوویستلو او د هر سورت آیتونه ئې هغهٔ ته اولیکل (چه دې سورت کښې دومره آیتونه دي، دې کښې دومره).

۹۷۶ : حَدَّثَنَا آدَمُ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنِ يَزِيدَ سَمِعْتُ بْنَ مَسْعُودٍ يَقُولُ فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ وَالْكَهْفِ وَمَرْيَمَ وَطٰهٰ وَالْأَنْبِيَاءِ إِنَّهُنَّ مِنَ الْعِتَاقِ الْأَوَّلِ وَهُنَّ مِنْ تِلَادِي.

۹۷۶ : آدم بن ابي ایاس. شعبه. هغهٔ ابو اسحاق ته اووې، ما د عبدالرحمٰن بن یزید نه واورېدل هغهٔ اووې ما د ابن مسعودؓ نه، هغهٔ اووې، سورة بني اسرائیل او کهف او مریم او طٰه او انبیاء خو د اول درجې فصیح سورتونه دي او ما پخوا یاد کړي دي.

۹۷۷ : حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ أَنْبَأَنَا أَبُو إِسْحٰقَ سَمِعَ الْبَرَاءَ قَالَ تَعَلَّمْتُ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ قَبْلَ أَنْ يَقْدَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

۹۷۷ : ابوالولید. شعبه. ابو اسحاق بیان دې، هغهٔ براء بن عازب نه واورېدل هغهٔ اووې، ما خو سورة سبح اسم ربک الاعلیٰ د حضور صلي الله علیه وسلّم مدینې ته د تشریف راوړلو نه مخکښې یاد کړې وو.

۹۷۸ : حَدَّثَنَا عَبْدَانُ عَنْ أَبِي

۹۷۸ : عبدان. ابو حمزه. اعمش. شقیق،

حَمْزَةَ عَنِ الْاَعْمَشِ عَنْ شَقِيْقٍ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ قَدْ عَلِمْتُ النَّظَائِرَ الَّتِيْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَؤُهُنَّ اثْنَيْنِ اثْنَيْنِ فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ فَقَامَ عَبْدُ اللّٰهِ وَ دَخَلَ مَعَهُ عَلْقَمَةُ وَ خَرَجَ عَلْقَمَةُ فَسَاَلْنَاهُ فَقَالَ عِشْرُوْنَ سُوْرَةً مِّنْ اَوَّلِ الْمُفَصَّلِ عَلَى تَالِيْفِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ اٰخِرُهُنَّ الْحَوَامِيْمُ حٰمٓ الدُّخَانِ وَ عَمَّ يَتَسَآءَلُوْنَ.

هغه اووې ذ عبدالله بن مسعودؓ بیان دې چه زهٔ هغه جوړه سورتونه پیژنم کوم چه به حضور صلي الله علیه وسلّم هر رکعت کښې دوه دوه لوستل' دائې اووې عبدالله پاسیدهٔ (کور ته لاړو) علقمه هم هغهٔ سره لاړو. بیا علقمه بهر راووتو' نو مونږ ذ هغهٔ نه ذ هغه سورتونو متعلق تپوس اوکړو' هغهٔ اووې' دا ذ مفصل ذ شروع شل سورتونه دي. ذ هغې آخري سورتونه هغه دي چه په اول کښې ئې حٰمٓ دې' حٰمٓ دخان او عمّ یتساء لون.

باب ۴۶۷: كَانَ جِبْرِيْلُ يُعْرِضُ الْقُرْاٰنَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ قَالَ مَسْرُوْقٌ عَنْ عَائِشَةَؓ عَنْ فَاطِمَةَ عَلَيْهَا السَّلَامُ اَسَرَّ اِلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ جِبْرِيْلَ يُعَارِضُنِيْ بِالْقُرْاٰنِ كُلَّ سَنَةٍ وَ اِنَّهُ عَارَضَنِيَ الْعَامَ مَرَّتَيْنِ وَلَا اَرَاهُ اِلَّا حَضَرَ اَجَلِيْ.

باب ۴۶۷: حضرت جبرئیلؑ به ذ حضور صلي الله علیه وسلّم نه ذ قرآن دوره کوله. مسروق ذ بي بي عائشېؓ نه روایت کوي' هغې ذ بي بي فاطمېؓ نه' هغې ذ حضور صلي الله علیه وسلّم نه چه حضور صلي الله علیه وسلّم څما غوږ کښې دا اوفرمائیل' هر کال به جبرئیلؑ ذ قرآن یوه دوره ماسره کوله دې کال ئې دوه ځله دوره اوکړه. زهٔ پوهیږم څما ذ مرګ وخت را اورسیدو.

۹۷۹: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ قَزَعَةَ حَدَّثَنَا اِبْرَاهِيْمُ بْنُ سَعْدٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍؓ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَجْوَدَ النَّاسِ بِالْخَيْرِ فَاَجْوَدَ مَا يَكُوْنُ فِيْ شَهْرِ رَمَضَانَ لِاَنَّ جِبْرِيْلَ كَانَ يَلْقَاهُ فِيْ كُلِّ لَيْلَةٍ فِيْ شَهْرِ رَمَضَانَ حَتّٰى

۹۷۹: یحیٰي بن قزعه. ابراهیم بن سعد. زهري. عبیدالله بن عبدالله. هغهٔ ذ ابن عباسؓ نه' هغهٔ اووې. حضور صلي الله علیه وسلّم خلقو ته په نیکي رسولو کښې زیات سخي وو' او ذ رمضان میاشته کښې خو به نور زیات سخي شو' ځکه چه رمضان کښې به هره شپه جبرائیلؑ حضورؐ سره ملاقات کولو. رمضان ختمیدو پورې به رسول الله صلي الله علیه وسلّم هغهٔ ته قرآن آورولو. بیا کله چه به حضرت جبرئیلؑ' حضور صلي الله

يَنْسَلِخَ يَعْرِضُ عَلَيْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقُرْاٰنَ فَاِذَا لَقِيَهُ جِبْرِيْلُ كَانَ اَجْوَدُ بِالْخَيْرِ مِنَ الرِّيْحِ الْمُرْسَلَةِ.

عليه وسلّم سره ملاويدو' نو هغه وخت خو به حضور صلي اللّه عليه وسلّم سره ملاويدو' نو هغه وخت خو به حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم د روانے هوا نه هم زيات سخي شو' خلقوته به ئے فائده رسوله.

۹۸۰: حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ يَزِيْدُ حَدَّثَنَا اَبُوْ بَكْرٍ عَنْ اَبِيْ حُصَيْنٍ عَنْ اَبِيْ صَالِحٍ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ يَعْرِضُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقُرْاٰنَ كُلَّ عَامٍ مَرَّةً فَعَرَضَ عَلَيْهِ مَرَّتَيْنِ فِي الْعَامِ الَّذِيْ قُبِضَ وَ كَانَ يَعْتَكِفُ كُلَّ عَامٍ عَشْرًا فَاعْتَكَفَ عِشْرِيْنَ فِي الْعَامِ الَّذِيْ قُبِضَ.

۹۸۰: خالد بن يزيد. ابوبكر بن عياش. ابو حصين. ابو صالح. هغه د ابو هريرةؓ نه د هغهٔ بيان دے' حضرت جبرئيلؑ هر كال د حضورصلي اللّٰه عليه وسلّم نه د قرآن دوره كوله' بيا كوم كال چه د هغويؑ وفات اوشو' نو هغه كال هغهٔ دوه ځلے دور اوكه. او حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم به هر كال (د رمضان په آخر كښ) لس ورځے اعتكاف كولو. په كوم كال چه وفات كيدو نو په هغه كال ئے شل ورځے اعتكاف اوكهٔ.

## بَابُ ۴۶۸: اَلْقُرَّاءِ مِنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

باب ۴۶۸: د حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم اصحابو كښ د قرآن قاريان (حافظان) څوك څوك وو.

۹۸۱: حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ اِبْرَاهِيْمَ عَنْ مَسْرُوْقٍ ذَكَرَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَمْرٍو عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ مَسْعُوْدٍ فَقَالَ لَا اَزَالُ اُحِبُّهُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ خُذُوا الْقُرْاٰنَ مِنْ اَرْبَعَةٍ مِنْ عَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ وَّ سَالِمٍ وَّ مُعَاذٍ وَّ اُبَيِّ بْنِ كَعْبٍؓ.

۹۸۱: حفص بن عمر. شعبه. عمرو بن مره. ابراهيم نخعي. هغهٔ د مسروق نه' د هغهٔ بيان دے' عبداللّٰه بن عمرو بن عاص د عبداللّٰه ابن مسعود ذكر اوكهٔ' وے وئيلے زهٔ هغهٔ سره د هغه ورځ نه مينه لرم كله نه چه ما د حضور صلي اللّٰه عليه وسلّم نه دا واوريدل' چه قرآن د څلورو سړو نه زده كړئ' له عبداللّٰه بن مسعودؓ' سالمؓ مولي ابي حذيفهؓ' معاذ بن جبلؓ او ابي بن كعبؓ نه.

۹۸۲: حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ حَدَّثَنَا اَبِيْ حَدَّثَنَا الْاَعْمَشُ حَدَّثَنَا شَقِيْقُ بْنُ سَلَمَةَ فَقَالَ خَطَبَنَا

۹۸۲: عمرو بن حفص. هغه د پلار نه. اعمش. هغهٔ د شفيق بن سلمه نه. هغهٔ اووے عبداللّٰه بن مسعودؓ مونږ ته خطبه واوروله نو وے وئيل' په خدائے م دے قسم

عَبۡدُ اللّٰهِ فَقَالَ وَاللّٰهِ لَقَدۡ اَخَذۡتُ مِنۡ فِيۡ رَسُوۡلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ بِضۡعًا وَّ سَبۡعِيۡنَ سُوۡرَةً وَّاللّٰهِ لَقَدۡ عَلِمَ اَصۡحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ اَنِّيۡ مِنۡ اَعۡلَمِهِمۡ بِكِتَابِ اللّٰهِ وَمَا اَنَا بِخَيۡرِهِمۡ قَالَ شَقِيۡقٌ فَجَلَسۡتُ فِي الۡحِلَقِ اَسۡمَعُ مَا يَقُوۡلُوۡنَ فَمَا سَمِعۡتُ رَادًّا يَّقُوۡلُ غَيۡرَ ذٰلِكَ.

وي چه ما ذ اويا نه زيات سورتونه ذ رسول الله صلي الله عليه وسلّم ذ خولے مبارکے نه حاصل کړے دي. په خدائے م دے قسم وي، ذ حضور صلي الله عليه وسلم اصحابو ته دا معلومه ده، چه زهٔ به کتاب الله ذ هغوي تولونه زيات پوهيدونکے يم، ليکن دا صحيح ده چه زهٔ ذ هغوي تولونه بهتر نه يم. ذ شفيق بيان دے، زهٔ ډيرو مجلسونو کښ کيناستم، او ذ هغوي خبرے م واوريدے، په هغوي کښ م ذ هيچا نه ذ دے خبرے ترديد کونکے اونهٔ ليدلو (يعني ذ ابن مسعود خبره نے تسليموله).

۹۸۳ : حَدَّثَنِيۡ مُحَمَّدُ بۡنُ كَثِيۡرٍ اَخۡبَرَنَا سُفۡيَانُ عَنِ الۡاَعۡمَشِ عَنۡ اِبۡرٰهِيۡمَ عَنۡ عَلۡقَمَةَ قَالَ كُنَّا بِحِمۡصَ فَقَرَاَ ابۡنُ مَسۡعُوۡدٍ سُوۡرَةَ يُوۡسُفَ فَقَالَ رَجُلٌ مَّا هٰكَذَا اُنۡزِلَتۡ قَالَ قَرَاۡتُ عَلٰى رَسُوۡلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَحۡسَنۡتَ وَ وَجَدَ مِنۡهُ رِيۡحَ الۡخَمۡرِ فَقَالَ اَتَجۡمَعُ اَنۡ تُكَذِّبَ بِكِتَابِ اللّٰهِ وَ تَشۡرَبَ الۡخَمۡرَ فَضَرَبَهُ الۡحَدَّ.

۹۸۳ : محمد بن کثير. سفيان. اعمش. ابراهيم. علقمه نه روايت کوي، ذ هغهٔ بيان دے، مونږ حمص کښ وو، هلته ابن مسعودؓ سورهٔ يوسف تلاوت کهٔ، يو سړي اووے، چه دا شان دا سورت نهٔ دے نازل شوے، عبدالله بن مسعودؓ اووے ماخو دا سورت ذ رسول الله صلي الله عليه وسلّم مخکښ تلاوت کهٔ، نو حضورؐ اوفرمائيل، ډير ښهٔ، ذ هغے سړي ذ خولے نه (منه) ذ شرابو بوي راتهٔ، حضرت مسعودؓ اووے، تهٔ کتاب الله دروغجن کوے، او شراب هم څکے، نو هغهٔ باندے ئے حد جاري کړلو.

۹۸۴ : حَدَّثَنَا عُمَرُوۡ بۡنُ حَفۡصٍ حَدَّثَنَا اَبِيۡ حَدَّثَنَا الۡاَعۡمَشُ حَدَّثَنَا مُسۡلِمٌ عَنۡ مَّسۡرُوۡقٍ قَالَ قَالَ عَبۡدُ اللّٰهِ وَاللّٰهِ الَّذِيۡ لَا اِلٰهَ غَيۡرُهٗ مَا اُنۡزِلَتۡ سُوۡرَةٌ مِّنۡ كِتَابِ اللّٰهِ اِلَّا اَنَا اَعۡلَمُ اَيۡنَ اُنۡزِلَتۡ وَلَا اُنۡزِلَتۡ اٰيَةٌ مِّنۡ كِتَابِ اللّٰهِ اِلَّا اَنَا اَعۡلَمُ

۹۸۴ : عمرو بن حفص. حفص. اعمش. مسلم. مسروق ذ حضرت عبدالله (بن مسعودؓ) قول نقل کهٔ، هغهٔ اووے، په خدائے م دے قسم وي، چه ذ هغهٔ نه سِوا بل معبود نشته. ذ قرآن شريف کوم سورت چه نازل شو، نو زهٔ ذ هغے متعلق پوهيږم (يعني ماته ئے معلومات شته) چه هغه کوم ځائے نازل شو. او کوم آيت چه نازل شو، ذ هغے متعلق زهٔ دا هم پوهيږم، چه ډ چا باره کښ نازل

فِيمَ اُنْزِلَتْ وَلَوْ اَعْلَمُ اَحَدًا اَعْلَمُ مِنِّيْ بِكِتَابِ اللّٰهِ تَبْلُغُهُ الْاِبِلُ لَرَكِبْتُ اِلَيْهِ.

شوي دي' او كه زهٔ دَ چا متعلق (په دي خبره) پو ه شم' چه هغه په كتاب الله څما نه زيات پوهيږي' نو په اوښ به سور هغهٔ له ورځم.

۹۸۵ : حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ حَدَّثَنَا هَمَّامٌ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ قَالَ سَأَلْتُ اَنَسَ بْنَ مَالِكٍ مَنْ جَمَعَ الْقُرْاٰنَ عَلٰى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَرْبَعَةٌ كُلُّهُمْ مِنَ الْاَنْصَارِ اُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ وَّ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ وَّ زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ وَ اَبُوْ زَيْدٍ تَابَعَهُ الْفَضْلُ عَنْ حُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ عَنْ ثُمَامَةَ عَنْ اَنَسٍ.

۹۸۵ : حفص بن عمر. همام. قتاده نه روايت كوي' دَ هغهٔ بيان دي' ما دَ حضرت انس بن مالكؓ نه دَ حضور صلي الله عليه وسلّم زمانه كښ دَ قرآن جمع كولو متعلق تپوس اوكهٔ نو هغهٔ جواب راكهٔ' څلورو سړو راجمع كړلو' چه ټول انصاري وو. (۱) حضرت ابي بن كعبؓ (۲) حضرت معاذ بن جبلؓ (۳) حضرت زيد بن ثابتؓ او (۴) حضرت ابو زيد وو. فضل په واسطه دَ دَ حسين بن واقد' ثمامه' حضرت انسؓ دَ دي متابعت كښ روايت كړي دي.

۹۸۶ : حَدَّثَنَا مُعَلَّى بْنُ اَسَدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ الْمُثَنّٰى قَالَ حَدَّثَنِيْ ثَابِتٌ الْبُنَانِيُّ وَ ثُمَامَةُ عَنْ اَنَسٍ قَالَ مَاتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَجْمَعِ الْقُرْاٰنَ غَيْرُ اَرْبَعَةٍ اَبُو الدَّرْدَاءِ وَ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ وَّ زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ وَ اَبُوْ زَيْدٍ قَالَ وَ نَحْنُ وَرِثْنَاهُ.

۹۸۶ : معلي بن اسد. عبدالله بن مثني. ثابت بناني او ثمامه. حضرت انسؓ نه روايت كوي' دَ هغهٔ بيان دي' رسول الله صلي الله عليه وسلّم وفات شولو' نو سِوا دَ څلورو سړو نه بل چا قرآن نهٔ وو جمع كړي' او هغه كسان دا وو (۱) حضرت ابو درداءؓ (۲) حضرت معاذ بن جبلؓ (۳) حضرت زيد بن ثابتؓ (۴) حضرت ابو زيدؓ. حضرت انسؓ اووي' چه مونږ دَ ابو زيدؓ وارثان شولو.

۹۸۷ : حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ الْفَضْلِ اَخْبَرَنَا يَحْيٰى عَنْ سُفْيَانَ عَنْ حَبِيْبِ ابْنِ اَبِيْ ثَابِتٍ عَنْ سَعِيْدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ عُمَرُ عَلِيٌّ اَقْضَانَا وَ اُبَيٌّ اَقْرَؤُنَا وَ اِنَّا لَنَدَعُ مِنْ لَحْنِ اُبَيٍّ وَ اُبَيٌّ يَقُوْلُ اَخَذْتُهُ مِنْ

۹۸۷ : صدقه بن فضل. يحيي. سفيان. حبيب بن ابي ثابت. سعيد بن جبير. حضرت ابن عباسؓ نه روايت كوي' حضرت عمرؓ اووي' مونږ كښ دَ ټولونه ښه فيصله كونكي عليؓ دي او ابيؓ مونږ كښ دَ ټولونه لوئي قاري دي. او مونږ دَ ابيؓ بعضي قرأت پريږدو. ليكن ابيؓ وائي' چه ما دا دَ رسول الله صلي الله عليه وسلّم نه خولي

بِيَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَا اَتْرُكُهٗ لِشَيْءٍ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى مَا نَنْسَخْ مِنْ اٰيَةٍ اَوْ نُنْسِهَا نَأْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَا اَوْ مِثْلِهَا.

مبارک نه آوریدلے دے، په دے وجه ما هغه په هیڅ وجه پریښودے نه شه، حالانکه اللّٰه تعالیٰ فرمائیلے دي، چه کوم آیت مونږ منسوخ کړو یا هیر کړو، نو د هغے نه بهتر یا د هغے په مثل راوړو.

# الحمدللّٰه والشکر للّٰه "صحیح بخاري شریف شلمه پاره ختمه شوه"